بسم الله الرحمن الرحيم

أنوار المعاني
شرح
مختصر المعاني

تأليف

جامع المعقول والمنقول

حضرت مولانا نور الحق صاحب

الكوهستاني

تحت اهتمام: مولوي نقيب الله حنيف

أنوار القرآن كتب خانه

محلہ جنگی پشاور

0300-5722681

مكتبة الإشاعة

جماعت اشاعت التوحید والسنہ کے علماء کی
تصانیف کو سکین کرکے PDF فارمیٹ میں
علماء، طلباء اور عوام کو پیش کرنا ہمارا مشن اور
محنت ہے لہٰذا کتاب کا مطالعہ کرتے وقت ہمیں
دعاؤں میں یاد رکھیں شکریہ



منتظم اعلیٰ: ابو معاذ خٹک

معاونین:
مولانا عبدالکریم
مولانا اکرام گل
مفتی ابو عتبان فداء الرحمان عابد

رابطہ نمبر: 03149958550

أنوار المعاني

شرح

مختصر المعاني

الاول

تاليف:

جامع المعقول والمنقول

حضرت مولانا نورالحق صاحب

الكوهستاني

مكتبة الإشاعة

محله جنگي پشاور

زير اهتمام: مولوي نقيب الله حنيف

0345-9459209

ټول حقوق محفوظ دي

د کتاب نوم : **أنوار المعاني شرح مختصر المعاني**

افادات: جامع المعقول والمنقول

حضرت مولانا **نورالحق صاحب** الكوهستاني

جمع او ترتیب: حضرت مولانا **عمران الدین** صاحب

کمپوزنگ: تحت اشراف مولانا **نقیب الله** حنیف

تعداد : **1100**

مطبعه: مکتبة الإشاعة پشاور

خپروونکی: **مکتبة الإشاعة** محله جنکي پشاور

زیر اهتمام: مولانا **نقیب الله حنیف**

0345-9459209

03005875425

بسم الله الرحمن الرحيم

رب يسر علينا هذا الكتاب ولا تعسر علينا هذا الكتاب وتممه لي بالخير يا فتاح وبك نستعين. رب سهل ويسر علينا ولا تعسر علينا يا ربي.

نحمدك:

نحمدك بكسر الميم ووايئ که د ضرب يضرب نه شي او نحمَدك بفتح الميم ووايئ که د علم يعلم نه شي، اوس په دي مقام کې د يو څو خبرو تحقيق ضروري دی: ۱ يو دا چې شارح تصدير د خپل کتاب په نفس حمد سره ولې وکړو. ۲ دويم دا چې په جمله فعليه سره يې ولې وکړو، اسميه يې را نه وړه. ۳ او دريم دا چې په فعليه کې مضارع يې ذکر کړه ماضي يې ذکر نکړه. ۴ څلورم دا چې په مضارع کې يې بيا صيغه متکلم مع الغير ذکر کړه، واحد متکلم يې ذکر نکړه. ۵ او پنځم دا چې په حرف خطاب سره يې ذکر کړه، غيبت ضمير سره يې ضمير غائب ذکر نه کړه، نحمده يې ونه ويل، نو د اول لپاره نکته دا ده چې نفس حمد سره تصدير وکړو شارح لپاره د موافقات ثلاثه ؤ، يعني موافقت د کتاب الله سره، دويم موافقت د حديث مشهور سره، چې کل امر ذي بال لم يبدأ ببسم الله... ۳ او دريم موافقت د کتبو د سلفو صالحينو سره، ځکه هغوی تصدير په حمد سره کولو نو شارح هم وکړو، دويمې خبرې لپاره نکته څه شی شو يعني جمله اسميه يې ذکر نه کړه، بلکه فعليه يې ذکر کړه نو د دې لپاره نکته دا ده چې دي کې شارح اشاره وکړه خپل عجز ته، ځکه جمله اسميه دلالت کوي په دوام او استمرار باندې نو شارح اشاره وکړه چې يا الله مونږه دائمي او مستمراً ستا حمد نه شو کولی کما حقهُ خو وقتاً فوقتاً کوو، **لا احصي ثناء عليك انت كما اثنيت على نفسك** او جمله فعليه دلالت کوي په تجدد تحدث باندې، دويمه نکته چې مضارع يې ذکر کړه په فعل کې او ماضي يې ذکر نه کړه؟ حمدتك يې ونه ويل؟ وائي دي کې يې اشاره وکړه استمرار تجددي ته، ځکه ماضي صرف په تجدد حدوث باندې دلالت کوي، استمرار باندې نه کوی؟ او مضارع دلالت کوي په استمرار تجددي باندې، حاصل چې مونږه ستا حمد وقتاًفوقتاً وايو خو هميشه يې وايو، نو د دې د وجهې نه يې تعبير په مضارع سره وکړو، لکه **لو يطيعكم في كثير من الامر لعنتم**. او څلورمه نکته چې مضارع متکلم مع الغير يې وويل حالانکه شارح يو دی، اوکه ته ووايې چې تعظيم لپاره يې صيغه جمع متکلم مع الغير راوړی، نو دا مقام د تعظيم دی که د عجز دی؟ نو شارح خپل عظمت خو نه بيانوي ځکه دا مقام د عجز دی، نو تعظيم لپاره خو نه شي کيدی نو شارح متکلم مع الغير ولې راوړو، نو تاسو وايئ چې په دي کې هم شارح اشاره وکړه خپل عجز ته، چې الله زه يواځې ستا حمد کما حقه نه شم ويلی، تر څو پورې چې ماسره نور مؤمنان موحدان شريك شوي نه وي. يا دې تشريك مع الغير سره حمد اقرب الى الاجابت دی، ځکه چې د ټولو په شرکت سره چې حمد ووايئ، نو يا د دې ټولو حمد به الله رد کړي يا به د ټولو قبول کړي، يا د بعضو به قبلوي او د بعضو به نه قبلوي، نو د ټولو حمد رد کول خو متصور نه دي ځکه بعضې په کې نيک خلک وي د

هغوی دعا الله قبلوي، او د بعضو نه قبلول او د بعضو رد کول، دا د شان رحیمي سره لایناسب دی، او بل تفریق د صفقي هم راځي او تفریق د صفقي قبل التمام جائز نه دی نو شق ثالث متعین شو چې الله د ټولو قبلوي، خو دا تشریك اقرب الی الاجابت دی په هغه ځای کې چې مسموع من الشارع وي، ګورئ، او چې د شارع نه مسموع نه وي نو بیا اقرب الی الاجابت نه دی، ابعد عن الاجابت دی، پنځمه نکته چې کاف خطابي یې ولې ذکر کړو؟، ضمیر د غائب یې رانه وړو، حالانکه لفظ الله، اسم د الله د غائباتو نه ندی؟ نو تاسو وایئ په دي کې شارح اشاره وکړه مقام شهودي ته، چې مونږه ستا حمد وایو الله په داسې طور سره چې مونږ تا په ځان باندې حاضر ناظر ګڼو، چې مونږه تا وینو، او که نحمده یې ویلی وو نو مقام غیبوبتي ته اشاره کیدله، حالانکه مقام شهودي اعلی وارفع دی د مقام غیبوبتي نه، لکه دیته اشاره په حدیث جبریل علیه السلام کې چې شوی ده، جبریل نبي علیه الصلاة والسلام نه تپوس وکړو چې **ماالاحسان** نو رسول الله ﷺ وویل: **ان تعبد الله کانك تراه وان لم تکن تراه فانه یراك** نو ان تعبد الله کانك تراه، کې یې مقام شهودي ته اشاره وکړه، چې ته الله براه راست وینې، او که دیته ته نه یې رسیدلی نو دا به ته فرض کوي چې **فانه یراك** چې الله ما وینې، دا مقام د غیبوبت شو، نو شارح هغه مقام اعلی وارفع ته اشاره کولو لپاره کاف خطابي ذکر کړو.

یا من شرح صدورنا لتلخیص البیان: د دې نه غرض د شارح څه دی؟ بیان د محمود علیه کوي، محمود علیه عبارت دی د باعث علی الحمد نه دلته کې، چې مونږه ستا حمدولي کوو باعث څه دی؟ نو وائي چې تا زمونږ د سینو شرحه کړي ده لپاره د تلخیص البیان.

اوس که څوك شبه وکړي چې یا خو لپاره د نداء بعید نه راځي؟ او الله تعالی خو اقرب دی من حبل الورید؟ نو تاسو په جواب کې ووایئ تیك ده دلته کې الله قریب وو خو په اعتبار د علم او قدرت سره، خو لیکن رتبي لحاظ سره بعید ووکه نه وو؟ (یعني وو نو) دا بُعد رتبي نازل کړی شو په منزله د بُعد مسافتي مکاني کې نو یا د بعید لپاره راوړه، دي وایي معترض چې نحمدك کې (خطاب کې) خو تا اشاره کړي چې الله قریب دی حاضرناظر دی، تاسو ووایي د علم په لحاظ قریب دی او د رتبي په لحاظ سره بعید نه دی؟ بعید دی.

یا **من** معنی ای هغه ذات، د مبهماتو اطلاق په الله باندې صحیح دی نو **من** موصول مبهم دی، دا اطلاق صحیح دی لکه په بعضې اثارو کې راځي **یا من لایزال ملکه ارحم علی من زال ملکه** عمر بن عبد العزیز دا ویلي وو، خلیفة المسلمین وو، چې کله د هغۀ زنکدن شروع شو حاضرینو ته یې وویل چې زما د دې کټ لاندې ایره خوره کړئ، ایره یې خوره کړه، بیا یې وویل د دې کټ نه ما کوز کړئ، هغه یې کوز کړو، نو هغه ویل **یا من لایزال ملکه ارحم علی من زال ملکه** د هغۀ بادشاهي تر نن ورځي پورې وه نن ختم شوه، نو اطلاق د مبهماتو په الله باندې جائز شو.

قوله **شرح صدورنا** صدور جمع د صدر دی، صدر په معنی د قلب سره دی، نو دا یو مجاز مرسل راغی، څکه چې د قلب محل صدر دی که نه دی؟ د قلب محل صدر دی نو ذکر د محل شو مراد ترینه حال شو او بیا د قلب نه روح مراد شو، نو دا بل مجاز مرسل شو، څکه قلب نه هغه مضغة هغه توټه د غوښې مراد دی؟ نه دی مراد روح تري مراد شو، یعنې نفس ناطقه زمونږه، قوله: **لتلخيص البيان** لام متعلق دی د دې شرح پورې نسه، یعنې کولاؤول چې کړی دی نو لپاره د هغه بیان ملخص، نو دا اضافت ددی تلخیص بیان ته دا د قبیلي د اضافت د صفت نه دی موصوف ته یعنې هغه بیان چې هغه خالي دي د حشو او تطویل نه، اوس بیان نه مراد څه دی؟ بیان نه مراد **النطق الفصيح المعرب عما في الضمير** یعنې تا زمونږ هغه نفس ناطقه د ګویایی لپاره کولاو کړي دي، چې مونږ داسی کلام او خبره کولی شو چې هغه د حشو او تطویل نه خالي وي، نو مونږ ستا حمد څکه کوو باعث په مونږ دغه دی.

قوله **في ايضاح المعاني** دا في په معنی د مع سره، یا په خپله معنی سره، تلخیص پورې یا بیان پورې متعلق دی، دا تلخیص د حشو او تطویل نه په څه کې دی؟ في ایضاح المعاني په واضح کولو د معانیو کې، یا دا بیان **النطق الفصيح** په څه کې دی په ایضاح المعاني کې معاني نه مراد مقتضیات د احوالو دی، حاصل دا چې مونږه هر کلام چې کوو نو هغه مطابق د حال د مخاطب سره، چې حال د مخاطب څه غواړي نو هغه شان مونږه ورسره کلام کوو، داسې بیان مونږ ته راکړی شوي دی، یا داسې تلخیص او ملخص کلام مونږ ته نصیب شوی دی، نو معاني نه مراد مقتضیات الاحوال شو، که حال د مخاطب خلو د تاکید نه غوښته نو مونږه په کلام کې خلو د تاکید کوو، کلام خالي د تاکید نه ذکر کوو، دارنګه که یو تاکید یې غوښتلو، نو یو تاکید ذکر کوو، که ډیر تاکیدونه یې غوښتل نو ډیر ذکر کوو، که حال د مخاطب حذف د مسند الیه غوښته نو حذف کوو، که ذکر غوښتل نو ذکر کوو، دا مقتضیات د احوالو دي، به هر حال په دي بیان او معاني کې براعة الاستهلال ته اشاره وشوه، براعة الاستهلال د مفرداتو معنی څه ده؟ براعة ویلی شي تفوق ته، برع الرجل اذا تفوق علی اقرانه، او استهلال ویلی شي صوت د صبي ته په حین د ولادت کې، لکه استهل الصبي اذا صوت، اوس دا براعة الاستهلال مجموعه نوم ګرځیدلی دی، او عبارت دی د ایراد د الفاظو نه چې مشعر وي مقاصد اتیو باندې، نو دلته کې ده بیان لفظ او معاني لفظ ذکر کړه، نو اشاره یې وکړه، چې راتلونکي کتاب کې مسائل د علم البیان او مسائل د علم المعاني به بیانیږي.

قوله ونور قلوبنا: و نور دا عطف دی په شرح باندې دي نه غرض د شارح دریم محمود علیه ذکر کول دي، قانون دا دی چې ما قبل د معطوف علیه نه کالمعاد وي په معطوف کې، نو هلته کې نحمدك یا من شرح وو، یَامَن وو نو دلته کې هم را اوباسئ، نو دتقدیر به داسې شي نحمدك یا من نور قلوبنا، نو عطف د صلې په صلې باندې شو، نور د تنویر نه ماخوذ مشتق دی، تنویر ویلی شي **ادخال النور في القلب**

ته، نو معنی دا شوه چې رښا يې زمونږ په زړونو کې داخله کړي ده، قلوبنا ذکر د قلب مراد ترینه روح او نفوس دی، نو د دې وجې نه مونږ د الله حمد بیانوو.

قوله بلوامع التبیان بلوامع التبیان کې جار و مجرور خو متعلق دی په دې نور قلوبنا کې **نور** پورې، خو د دې **بلوامع التبیان** په اضافت کې دوه احتمالین دي، یا اضافت د دې د قبیلي د اضافت د مشبه به نه دی مشبه ته، نو تقدیر بیا دا شو، ونور قلوبنا بالتبیان ای بالبیان الکامل کالانجم اللوامع، نو لوامع لپاره موصوف محذوف شو، نو دا تبیان مشبه شو، تبیان: کامل ظهور ته وائي، الانجم اللوامع مشبه به شو او کاف په کې اله د تشبیه محذوف شو او وجه د شبه اضاءت شو، رښا شوه، یو احتمال شو، او دویم احتمال یا دا کیدای شي، اضافت د موصوف دی صفت ته، دا لوامع په اصل کې موصوف او تبیان صفت وو، هغه موصوف اوس مضاف شو صفت ته، معترض به شبه وکړي چې یا هلکه صفت خو محمول وي په موصوف باندې او تبیان حمل په لوامع باندې کیدی شي؟ (یعني نه شي کیدای) نو جواب وکړئ چې تبیان په معنی د مبینة سره دی، نو بیا معنی دا شوه چې رښا کړي یې دی ارواح زمونږه په پرکیدونکو مسائلو سره هسې پرکیدل چې کامل ظاهر کیدونکي دي، یا ظاهر کړی شوی دی ای **مبینة** نو بیا لوامع نه مراد مسائل شو، چې هغه مسائل زمونږ په زړونو کې کامل ظاهروي او کامل مونږه ته معلوم دي، ځکه تبیان دا مبالغه ده په بیان کې، تبیان یې ځکه ذکر کړی دی چې مزید کې مبالغه وي هغه چې هغه په مجردو کې نه وي، ځکه زیادت د حروفو دلالت په زیادت د معنی باندې کوي.

قوله من مطالع المثاني اوس من مطالع المثاني کې دوه احتمالین دی، یا دا حال کوئ د تبیان نه، او حال د مضاف الیه د فاعل او مفعول نه صحیح دی، کله چې حذف د هغه فاعل او مفعول وشي، او هغه مضاف الیه د هغې په ځای باندې قائم کړی شي، نو دلته کې تبیان دا مضاف الیه د مفعول دی چې لوامع دی او حذف د هغه مفعول او اقامت د تبیان د هغې په ځای صحیح دی، نو حال هم صحیح شو، یا دا من مطالع المثاني صفت جوړ کړی د دې تبیان لپاره، او مِن په دې من مطالع المثاني کې په معنی د باء سببیه سره شو، نو تقدیر دا شو چې حال کون ذلك التبیان کائناً بسبب مطالع المثاني، او که صفت شي نو ترجمه به داشي، چې هسې تبیان چې الکائن بسبب مطالع المثاني **والتقدیر ای التبیان الکائن بسبب مطالع المثاني**، خو دا مِن سببیه هله کیږي چې تبیان په خپله معنی مصدري باندې پاتې شي، او که تبیان په معنی د مبینة سره واخلي نو بیا په **من مطالع المثاني** کې د ا مِن بیانیه دی، حاصل: هغه بیان کړی شوی څه دی؟ مطالع المثاني دی، اوس مطالع نه څه مراد دی او مثاني نه څه مراد دی؟ نو مطالع جمع د مطلع ده، او مطلع ویلی شي هغه محل د راوتو د ستورو ته او د سپوږمۍ او نمر ته، او مثاني جمع د مثنی دی، مثنی مکرر ته ویلی شي، نو اوس دې مثاني نه مراد قران دی، ځکه چې مثاني اطلاق په قران باندې شوی دی ﴿وَ

لَقَدْ اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ وَ الْقُرْاٰنَ الْعَظِيْمَ ﴾ نو القران العظيم چې که تفسير د مثاني شي، نو مثاني اطلاق په تول قران باندې ونه شو؟ اوشو نو مثاني نه مراد قران شو، مطالع نه مراد الفاظ د قران دی، نو د دې مطالع اطلاق په الفاظو د قران باندې مجازاً وشو، لفظ موضوعه د مشبه به مستعمل شو په مشبه کې، ځکه مطالع جمع د مطلع ده او مطلع خو هغه ځای د ختو د نمر او سپوږمۍ ته ویلی شي، نو الفاظ د قران مشابه شو د هغه ځای د ختو د ستورو، سپوږمۍ او د نمر سره، او هغه مطلع مشبه به شو، جامع په دواړو کې اضاءت دی، مطلع د نجم، قمر او د کوکب نه رڼا ښیږي، الفاظو د قران کریم نه معاني د قران کریم معلومیږي، نو بیا ذکر د لفظ موضوعه د مشبه به شو او مراد ترینه مشبه شو نو دیته استعاره مصرحه وائي نو دلته دي کې استعاره مصرحه شوه، نو معنی دا شوه چې الله زمونږ زړونه رڼا کړي دي په الفاظو د قران سره داسې الفاظ د قران چې د هغې نه مونږ د معانیو تدبر کولی شو، نو دا لوی نعمت نه شو؟ دا باعث شو په حمد د الله باندې.

قوله **ونصلي على نبيك** دی سره صلوة ذکر کوي په رسول الله ﷺ باندې (غرض صلوة ذکر کوي) او صلوة ځکه ذکر کوي چې رسول الله ﷺ زمونږه محسن دی، ځکه چې اتباع د رسول الله ﷺ سبب د فیضان د مسائلو دي، چې اتباع د رسول الله ﷺ مونږه وکړو، الله به په مونږ باندې فیضان د مسائلو کوي، نو رسول الله ﷺ محسن شو، نو محسن سره سړی احسان کوي، **هل جزاء الاحسان الا الاحسان** نو د شارح د طرف نه احسان وو تحفه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صلوة وه نو هغه ذکر کړه نو نصلي ونږ افاضه د خیر کوو ،دعا د خیر کووستا په نبی باندی ۔شبه هلکه نبي خو ټولو انبیاؤ ته شامل دی، نو بیان یې وکړو چې محمد ﷺ ته، داسې **محمد المؤيد** دا لفظ د الموید په صیغه د اسم فاعل سره هم صحیح کیږي، چې تائید کوونکی دی دغه محمد بیا **دلائل اعجازه** منصوب ولولئ، یعنې تائید کوونکي دي د دلائلو د اعجاز خپلو باسرار البلاغة په هغه نکاتو د بلاغت سره، او چې الموید شي په صیغه د اسم مفعول سره نو بیا معنی ده چې داسې محمد چې تائید یې کړی شوی دی دلائل اعجازه بیا دلائل اعجازه مرفوع ولولئ، بنا په دي چې دا بیا نائب فاعل شو د الموید لپاره. الخ، دلائل د اعجاز د رسول الله ﷺ قران دی، او سُور قرانیه دي، یعنې دي داسې کلام کوي داسې کلام بیانوي چې خصم د هغې د مثل راوړو نه عاجز دی، او ولې عاجز دی؟ وائي ځکه چې ددې په کلام کې داسې نکات دي چې هغه د طاقت بشری نه بهر دی.

قوله **وعلى اله واصحابه** اوس دا صلوة ذکر کوي په ال و اصحاب باندې، ځکه چې دوی معاونین د محمد ﷺ وو په تنفیذ د احکام شرعیه ؤ کې، دارنګه په تبلیغ د احکام شرعیه ؤ کې، نو چې معاونین شو نو د معاونینو لپاره هم دعا کوي، نو وې ویل او مونږه افاضه د خیر کوو دعا د خیر کوو په ال او په اصحابو باندې داسې الاصحاب **المحرزين**: دا صفت مادحه دی، چې دوی جمع کوونکي دي

ساتونکي دي ضم کوونکي دي **قصبات السبق**: هغه نيزې د مخکې والي **في مضمار الفصاحة والبلاغة** په هغه ميدان د فصاحت او بلاغت کې، قصبات جمع د قصبة ده، قصبه ويلی شي هغه وړوکې نيزې ته چې هغه د يو دشتې يو ميدان په سر کې ښخولی کيږي او د دې بل طرف نه بيا په اسونو سره مقابله کوي نو چې د چا اس هغه نيزې ته مخکې ورسيدو نو د هغه لپاره انعام وی او هغه ته به عربو انعام ورکولو، ديته په عربی کې مسابقت وائي، او دا په دې بره چلاس علاقه کې ډير وي، هغوی ورته بُولَه وائي، دارنګه ګلګت علاقه کې ډير وي، نو معنی دا چې صحابه د فصاحت او بلاغت په ميدان کې د ټولو خلکو نه مخکې دي او اسلام ته رسيدلی دی، نو دا قصبة هغه نيزه چې پورې ښخه شوي ده هغه دين او اسلام شو او صحابه مسابقين شو او نور خلک هم، او دا فصاحت او تفوق په کمال کې دا د هغه ميدان په شاتنې شو، نو صحابه دي دين او اسلام ته د ټولو خلکو نه دي فصاحت و اوچت والي کې مخکې رسيدلی دی.

قوله: وبعد: د بعد نه وروستو د شارح ځلور غرضه دي، يو غرض د شارح باعث ذکر کوي، چې ما مطول نه مختصر ولې جوړ کړو، دويم غرض د شارح باعث په نفس تصنيف باندې بيانوي، چې تصنيف د مختصر ما ولې وکړو، دريم شرافت فني بيانوي، چې ما په دي فن کې تصنيف وکړه نو بل فن کې ما ولې نه کولو، ځلورم غرض شرافت متنی بيانوي، چې ما په دي متن، تلخيص باندې شرح وکړو په بل متن باندې ولې نه کوو، نو ويې ويل چې وبعد يعني پس د جمل ثلاثه ؤ نه چې حمد او صلوة او تسميه دی.

قوله فيقول العبد: اوس فيقول العبد کې التفات راغلو د تکلم نه غيبت ته، ځکه نحمدك کې تکلم وو او العبد کې غيبت شو، ديته وائي التفات دتکلم نه غيبت ته، دا لپاره د تنشيط د سامعينو لان کل جديد لذيذ او شارح په عبد سره ځان نه تعبير وکړو ځکه چې عبوديت لوی مقام دی په انسان کې، چې ځان د الله مرئي ګنل غلام ګنل دا په انسان کې لوی مقام دی، د دې وجې نه الله په عباد الرحمن سره تعبير کوي، مريان د رحمن هغه کسان دي چې هغې کې دغه اته صفات اتيه موجود وي، د دې وجې نه په لوی مقاماتو کې چې هلته توهم د شرك وی، نو الله رسول الله ﷺ نه تعبير په عبد سره کوي، لکه اوس په مقام د اسراء کې، لوی مقام دی ﴿سُبْحٰنَ الَّذِیْٓ اَسْرٰی بِعَبْدِهٖ﴾ دارنګه په مقام د تبليغ کې ﴿وَّاَنَّهٗ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللّٰهِ يَدْعُوْهُ كَادُوْا يَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِ لِبَدًا﴾ امر بالمعروف لوی مقام نه دی؟ دارنګه په مقام د مونځ کې، مونځ لوی مقام دی ﴿اَرَءَيْتَ الَّذِیْ يَنْهٰى ۝ عَبْدًا اِذَا صَلّٰى﴾ مونځ مناجات مع الرب دی، دارنګه نزول د وحي لوی مقام دی ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَنْزَلَ عَلٰى عَبْدِهِ الْكِتٰبَ﴾ نو عبوديت انسان کې لوی مقام وو نو شارح ځان نه په عبد سره تعبير وکړو، لقب خپل عبد وګرځول، قوله: **الفقير الى الله الغني** محتاج دی الله ته

او هسې الله چې هغه بې پرواه دی، فقر صفت یې خان ته ثابت کړو، او د غني صفت یې الله ته ثابت کړو ځکه چې فقر صفت ذاتي د انسان دی او غنی صفت ذاتي د الله دی، او قران پرې ګواه دی ﴿يَاأَيُّهَا النَّاسُ أَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ إِلَى اللَّهِ ۖ وَاللَّهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ﴾ هغې ته یې اشاره وکړه، نو فقر ،احتیاجي دا صفت ذاتي د ممکن دی او استغناء داصفت ذاتي د الله دی د دې وجې شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله وائي

الفقر لي وصف ذات دانما ابدا كما ان الغنى وصف له ذاتي

قوله مسعود بن عمر المدعو بسعد التفتازاني: یا هلکه هغه فقیر څه دی ای؟ څوک دی وائي هغه مسعود دی چې زوی د عمر دی، المدعو، المسمی چې تفتازاني یې لقب دی، او د ده ولادت شوی وو په ۷۱۲هـ کې او وفات شوي وو په ۷۹۱ کې کل عمر یې ۷۹ کاله شو، تفتازان دده د کلي نوم وو، **قوله: هداه الله سواء الطريق و اذاقه حلاوة التحقيق:** شارح اوس جمله دعائیه راوړي، او دی ښائي الله ده ته هغه برابره لار الطريق السوي چې الله ته رسي، یا ودې رسوي ده لره الله سواء الطريق ته، او ودې څکوئي الله ده ته خوند د تحقیق، تحقیق څه ته وائي؟ اثبات الدعوی بالدلیل، مسئله چې ثابته بالدلیل شي دومره خوږه وي چې د شهدو نه هم زیاته خوږه وي.

قوله: قد شرحت فيما مضى تلخيص المفتاح قد شرحت دا مقوله د یقول ده، چې فقیر څه وائي یعنې قد شرحت، فیما مضی وائي تحقیق سره ما وضاحت کړی وو په ما مضی کې د تلخیص المفتاح، مطول ما لیکلی وو ښه وضاحت ښه طوالت ما کړی وو، که څوک شبه وکړي چې یا هلکه چې ذکر د فیما مضی وروستود شرحت نه مستدرك شو، ځکه شرحت ماضي ده، هغې نه مضی فهمیږي نو فیما مضی ذکر کول مستدرك شو که مفید شو؟ مستدرك شو، نو تاسو ووایئ چې دا فیما مضی تاکید دی د شرحت لپاره، داې تاکید ذکر کړی دی، بیا شبهه راغله چې یا هلکه تاکید کې څه نکته وي، نو تاکید یې څه لپاره وکړو فیما مضی د شرحت لپاره، نو تاسو ووایئ چې تاکید یې لپاره د دفع د توهم کړی دی، اوس داتوهم په دوو طریقو سره راتلل یا طریقه د توهم دا وه چې یا هلکه کله کله ماضي په معنی د مضارع سره راځي ابتداء کې نو دلته کې شرحت په معنی د أشرحُ سره به وي لکه ﴿اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ﴾ نو تجوز ، توهم راغلو، نو ده تاکید وکړو چې نه نه، فیما مضی، شرحت په خپله معنی د ماضی دی په معنی د أشرحُ سره نه دی، دویمه طریقه د توهم دا ده چې شَرَحْتُ، ماضي د قریب لپاره هم راځي او بعید لپاره هم راځي، یعنې قریب او بعید دواړو کې شریك وو، نو دا شرحه په نږدې زمانه کې وه او که نه لرې زمانه کې وه نو ویل نه نه، فیمامضی، لرې وو، د مطول په تصنیف او د مختصر په تصنیف کې پوره وخت تیر شوی وو.

قوله: واغنيته بالاصباح عن المصباح: اغنیته، دا صفت د مطول ذکر کوي، ما بې پروا کړی وو دې تلخیص

المفتاح لره په صبا ختلو سره د ډيوې نه، نو د تلخيص مسائل يو تيارۀ شوه، د موليانو طالبانو نه د دې مسائل د راويستُو نَه پټ وو، د تلخيص مسائلو باندې نه پوهيدل، او زما د مطول مثال د صبا وو، او د نورو شروحو په تلخيص باندې مثال د ډيوي وو، او صبا چې وخيژي نو ډيوي ته حاجت وي؟ نه وي نو ما چې په تلخيص مطول جوړ کړو نو هغه نورې شرحې ټولې غير مشهورې او ختمې شوې، چا په لاس کې هم نه اخستې، ځکه چې صبا وخيژي نو ډيوې ته بيا ضرورت وي؟ هيڅ ضرورت نه وي وائي چې ما بې پرواهي راوسته د فهم د مسائلو د تلخيص نه د ډيوي نه په صبا راختلو سره.

قوله: واودعته غرائب نكت سمحت به الانظار. او ما اينبسی دی غريبې نكتي (نكت غريبه قال استاذهكذا) د غرائب اضافت، اضافت د صفت موصوف ته دی؟ نكتي غريبي، نكت، جمع د نكتة دی، نكته په لغت کې حفرده ارض ته وائي بالاصبع يا بالخشب، يا په ګوته يا په لرګي او په اصطلاح کې نكته څه ته وائي، يو امر دقيق ته چې کولی شي په نظر دقيق سره يعني نا اشنا نكتي ما په کې اينبسی دی چې هغه چا ته د سره معلومې نه وي.

قوله: سمحت به الانظار، جوانمردي کړې وه، سخا کړې وه، په دې نكتو باندې نظرونو د خلکو، انظار جمع د نظر دی، نظر اوفکر يو شی دی، ترتيب د امورو معلومولو لپاره د تحصيل د مجهول ته وائي.

قوله: ووشحته بلطائف فقر سبكتها يد الافكار... او ما ښايسته کړی وو دې مطول لره په هغه باريکو فقرو سره، اضافت د صفت دی موصوف ته، فقره اصل کې ويلی شي هغه کالي ته چې هغه جوړولی شي په شكل د فقرة الظهر باندې، د دې پښتورُګي په شان، پښتو کې ورته اوګی وائي، د سپينو زرو نه جوړوي او ښځې يې غاړه کې اچوي، مونږه ورته ګهيره وايو کوهستانی ژبه کې فارسي کې ورته څه وايي؟ ښه طوق ورته وايئ؟ ښه، د پوختی غوندې کوږ کالي وي، او پوختی هم کړه وي، دلته کې د فقرې نه مراد باريك كلام يعني باريك مسائل ذكر کړی وو، **سبكتها:** چې اخيستی وو هغه لره لاسونه د فکرمندو خلکو، يعني مفتی به او حق مسئله ما ذکر کړې وه، ضعيفي خبرې په کې ما پريښې وي.

قوله: ثم رايت كثيراً من الفضلاء والجم الغفير من الاذكياء: دا مخکې شارح تمهيد ذکر کړو، چې ما مطول نه مختصر ولې جوړ کړو، اوس باعث ذکر کوي د مطول نه د مختصر جوړولو، نو وائي: **ثم رايت كثيراً** عطف يې په ثُم سره وکړو او دا عطف په شرحت باندې دی، نو اشاره يې وکړه ديته چې د مطول او د مختصر په تصنيف کې پوره فاصله وه، يو حد پورې د طالبانو مطول معمول وو، خو وروستو بيا د موليانو طالبانو همتونه کم شو نو ما مختصر جوړ کړو.

ترجمه: نو بيا ما وليدل ډيرو لره، که رؤيت نه مراد رؤيت بصري شي، نو هغه يو مفعول غواړي نو كثيراً د هغې مفعول شو، او بنا په دې باندې **يسئلونني** وروستو را روان دي دا حال شو معنې دا په حال کون د دې کثير کې چې سوال يې کولو مانه طلب يې کولو ما نه، او که د رؤيت نه مراد رؤيت علمي شي

نو بيا كثيراً مفعول اول شو او يسئلونتي قائم مقام د مفعول ثاني ده **من الفضلاء** دا حال دی، په حال کون د دې کثير کې چې دا د علماؤ نه وو، يعنې فاضلان وو، طالبان داسې وو، يعنې چې قريب وو، عالم درجې ته رسيدلی وو، نو فضلاء لوی لوی خلک وو جمع د فاضل شو کنه، معنی فارغ التحصيل ووايي، والجم الغفير من الاذكياء، دا تفسير شو د دې کثير لپاره، او من الاذكياء تفسير شو د فضلاء لپاره، شبه دي وائي چې هلکه تفسير کې خو څه غرض وي، غرض څه دی؟ د دې تفسير نه څه غرض دی (جواب) نو تاسو ووايئ غرض مبالغه دی څنګه مبالغه ده، ځکه د کثير نه خو نفس کثرت معلوم شو، او د جم الغفير نه هغه جماعت، غفير، هغه جماعت ته وائي چې مخ د زمکې يې پټ کړی وي، نو جم جماعت ته وائي، او غفير د غفر نه دی ستر ته وائي، يعنې دومره زيات جماعت وو چې مخ د زمکې يې پټ کړی وو، او زما دماغ يې وشلول، وائي سړي پسې (مولا) ولګي چې مونږ ته سبق ووايه، چې غُل يې نه وي ايستلی نو پريږدي يې نه بيا، هر څنګه چې وی ويل وائي مونږ ته به وائي، نو دې کې مبالغه رانغله؟ ځکه مخکې نه نفس ډيروالی فهم شو، او وروستو په ډيروالي کې مبالغه وشوه، او من الاذكياء کې هم مبالغه وشوه، مخکې نه دا معلومه شوه چې هسې نفسِ فارغ التحصيل وو، او وروستو يې وويل چې ذكيان وو په کې، كامل العقل سريع الفهم علماء وو.

قوله: يسئلونني صرف الهمة نحو اختصاره والاقتصار على بيان معانيه وكشف استاره...: غوښتل زما نه اړولو د قصد طرف د لنډوالي د دې شرحي ته ووايل مونږه اوزګار نه يو واده زمونږه تيار دی يا کړی دی، (قال الشيخ ذلك مذاقاً) مونږ مطول ته اوزګار نه يو دا لنډوه، دا نه پکاريږي، ګران هم دی او مونږ اوزګار هم نه يو مونږ کور ته خو څان نور فارغه کوو، توهم راغی چې الفاظ کم کړه معاني دې هغه شانتې وي، نو بيا څه فايده راغله، ځکه د اختصار به دا معنی وي چې الفاظ کم کړه او معاني په خای پريږده، ايجاز وکړه الفاظو کې، نو ويل نه نه، **الا قتصار على بيان معانيه وكشف استاره** (يعنې دا عبارت جواب د سوال دی، ای سوال مذکور) يعنې او کوتاهي کول په بيان د معاني خفيه د دې تلخيص او کشف، بس مقصودي مقصودي خايونو حل مونږ ته وکړه، کشف کول د پردې د هغه مستورو څيزونو يعنې ګران او مشکل مسئله مونږ ته حل کړه.

قوله: لما شاهدوا من ان المحصلين قد تقاصرت هممهم عن استطلاع طوالع انواره...: يسئلونتي لپاره وجه وائي، چې دا سوال دوی ولې کولو، نو اوس لِمابکسر اللام صحيح دی او لَما شاهدوا بفتح اللام هم صحيح دی، که لما بکسر اللام شي نو دا به جار مجرور شي متعلق به شي په يسئلونتي پورې او علت به شي د يسئلونتي لپاره، او که نه لَما شاهدوا شي بفتح اللام نو ظرف به شي د يسئلوني لپاره په معنی د علت کې به شي، نو چې لِمابکسر اللام شي نو علت به لفظاً شي د يسئلونتي لپاره، او چې لَما شاهدوا شي نو

ظرف په معنی د علت به شي، وائي دا سوال دوی کولو د هغه وجې نه چې دوی معلوم کړی وو په علم مشاهدي، په علم محسوس سره چې **من ان دا خبره ان المحصلين قد تقاصرت**، چې کوتاه شوي وو همتونه ارادي د دوی، نو معترض شبه وکړه چې محصلين خو هغه چاته وائي چې فارغ التحصيل وي، نو هغوی همت څه کوي؟ ځکه همت خو د طالب کمزوری کيږي، ځکه هغه خو مطول ويلی وي، نو د مطول ويلو نه وروستو د هغه همت قاصر کيدی نشي، ځکه فارغ التحصيل خو دا معنی چې تولو علومو نه فارغ شوی وي، مطول يې ويلی وي، نو چې هغه ويلی وي نو د هغه همت قاصر کيدای شي؟ وايه نه، نو تاسو جواب وکړئ چې دلته محصلين نه مراد دا دي چې اراده د تحصيل کوونکي وي ، يعني قريب وو فراغت ته معنی ده، او فارغه شوي لا نه وو، يا محصلين نه بالقوة محصلين شو ، څو توجيه شوې؟ دوه، يا محصلين نه مراد شو محصلين د مطول نه، نور کتابونو نه فارغ التحصيل وو خو مطول يې نه وو ويلی، نو قد تقاصرت هممهم، نو کوتاه شوي وو همتونه د دوی. **عن استطلاع طوالع انواره**: د استطلاع په دې سين او تاء کې دوه احتمالونه دي، او اضافت د دی طوالع دی انوارو ته، اضافت د صفت دی موصوف ته، نو سين او تا کې اول احتمال دا چې دا د طلب لپاره شي، نو بيا ترجمه دا شوه، عن طلب ادراك انواره الطالعة، (**الظاهرة**) يعني هغوی ويل چې مونږ د دې شرحې په ظاهري مسائلو باندې نه پوهيدو، او دا ډيره اوږده ده، زمونږ وخت په کې خرچ کيږي، يا سين او تاء د تحسين د لفظ لپاره دی يعني زائد شو، نو عن ادراك انواره الطالعة، د معلومولو د مسائلو د دې شرحې نه چې ظاهر دی، يعني ظاهر مسائل دي خو اوږده دي ډير، مونږ سره دومره وخت نشته دی.

قوله: وتقاعدت عزائمهم عن استكشاف خبيات اسراره، او ناسته وه اراده، نيت د دوی د ظاهرولو د اسرارو د دې شرحې نه چې هغه پټ دي، خبيات جمع د خبية په معنی د پټ والي سره، او اضافت د خبيات هم اضافت د صفت شو موصوف ته، يعني د ظاهرولو د اسرارو د دغه پټ نکاتو د دې شرحې چې کامل پټ والی سره پټ دی، هر سړی پرې نه پوهيږي، ويل مونږ د دې مطول په دي نکاتو باندې نه پوهيږو، نو دوه خبرې شوې نبه، يو وخت هم مونږ سره نشته دی، او دويم پوهيږو پرې هم نه، يو علت داشو د دې يسئلونتي لپاره، او دويم علت ذکر کوي.

قوله: وان المنتحلين قد قلبوا احداق الاخذ والانتهاب، ومدوا اعناق المسخ على ذلك الكتاب، المنتحلين جمع د منتحل ده، منتحل هغه چا ته وائي چې هغه د بل چا کلام واخلي او وائي دا ما وويل، نو خلکو به طالبانو ته تلخيص ويل، نو خبره به يې د مطول نه واخيسته او ويل به يې چې دا زما له خواصو نه ده، دا بل چا نه ده کړي، نو د مطول نسبت وی هم علامه التفتازاني رحمة الله عليه ته نه کولو ځانته به يې کوو، نو دويمه وجه ،علت دا وو چې منتحلينو دا مطول مسخ کړی وو علامه ته يې هډو نسبت کولو نه، نو وائي يقيناً هغه اخيستونکي د مطول او نسبت کوونکي ځانته يقيناً هغې اړولی وو هغه کسی د اخستو او د لوټ

کولو، یعنې هغوی علامه تفتازاني مطول لوټ کړی وو. او رابښکلي وو دوی څټونه د بدلولو علی ذلك الکتاب، یعنې په دې کتاب چې داشرحه وو، د سر نه یې ماته نسبت بدل کړی وو، بلکه نسبت یې خانته کول، نو مونږ ویل چې خلکو بلکل ستامطول ختم کړو، نو بل کتاب جوړ کړه مختصر.

قوله: وكنت اضرب عن هذا الخطب صفحا واطوي دون مرامهم كشحا: وکنت: سره دفع د اعتراض کوي، چې هلکه دغه باعث جوړی کافي وو لپاره د مختصر؟ وائي نه نه دا کوم ځای کې کافي وو، یعنې دا تقاصر او تقاعد او دا انتحال کافي وو؟ ویل نه، **وكنت اضرب**: او وم زه چې ما اعراض کولو د دغه لوی کار نه په اعراض کولو سره چې زه نور تصنیفونه نشم کولی، **واطوی**: نو بیا به طالبان چې د دې طرف نه راغلل نو ما به تیهګاه دې طرف ته کړه چې هغه طرف نه به راغلل نو ما به تیهګاه دی طرف ته کړه، **واطوی**: او راتاوول ما مخکې د مقصود دوی نه تشي لره، چې دې طرف ته به طالبان راغلل چې جي مطول نه مختصر جوړ کړئ نو زه به دې خوا طرف ته شوم چې دې طرف ته به راغلل نو زه به داسې شوم بل خوا به مې مخ کړو ویل دا ولې؟

قوله: علما مني بان مستحسن الطباع باسرها ومقبول الاسماع عن اخرها، علماً: د اطوی لپاره مفعول له دی، یا **اضرب** لپاره دی، د وجې دعلم یقیني زما نه یقینا اتیان په یو مصنف باندې چې هغه ټولي طباع ښه وګني یاذوالطباع هغه ښه وګني، یعنې ټول خلك ومني، مسلم **باسرها** بتمامها.

او **مقبول الاسماع**: او اتیان په یو مصنف باندې چې هغه د ټولو اوریدونکو په نزد باندې مقبول وي، **عن اخرها**، عن په معنی د الی سره کوي، او مقابل محذوف واخلئ، یعنې من اولها الی اخرها، چې د اول نه ونیسه د وروکي چنې نه تر لوی عالم پورې چې ټول یې مني، نو دغسې مصنف چې مستحسن الطباع وي باسرها او مقبول الاسماع وي من اولها الی اخرها.

قوله: امر لا يسعه مقدرة البشر وانما هو شان خالق القوي والقدر...، دا یو اَمر دی چې طاقت نه لري په دې قدرت بشري، ځکه خامخا هغې کې نقصان به په کې وي (او که نه به وي؟ یو مولا او عالم به وائي) طالب چې دې کې دا خطائي ده، دې کې دا خطائي ده. **وانما هو شان.....الخ**: وائي دا شان د خالق القوي والقدر دی، چې هغه د الله دی د هغه کتاب کې غلطي نه شي راتللی، نو ویل ما ویل چې یو وجه ده، ما یو کتاب لیکلی دی بل نه شم لیکلی، بس دی.

قوله: وان هذا الفن قد نضب اليوم ماؤه فصار جدالا بلا اثر...: اوس ګوره وکنت اضرب لپاره شارح دویم علت ذکر کوي، یو علت علماً مني شو، اوس دویم علت ذکر کوي، **ان هذا الفن نضب اليوم ماؤه**، وائي ما اعراض ځکه کولو د دې امر عظیم نه چې تصنیف او شرح د مختصر دی، چې د غه فن په دغو ورځو کې یعنې کومو ورځو کې چې زه یم د دې رسم رواج او شهرت ختم دی، نو ما ویل چې کتاب ولیکم مختصر او څوك ویونکی به نه وي، نو څه له خان کړومه؟ څه فایده یې نشته نوځکه ما اضراب کولو.

نو وائي **وان هذا الفن قد نضب اليوم ماوَه، يعني علمأمني ان هذا الفن قدنضب...**: وائي په تحقيق سره ډوبي شوي دي اوبه د دي، کناية ده يعنی د دې شهرت او تعلم ، تدريس ختم وو چا ويلو نه، نو **فصار جدلاً بلا اثر**: د صار په ضمير کې دوه احتمالين دي، بلکه درې احتمالين دي، يا ضمير راجع دی تکلم ته، وائي پس ګرځيدلی دي خبري کول په دي فن کې جګړه بې د څه فايدې نه، هسې خبرې کيدې، هسې جګړه وه، چا ايزده کولو نه، يا دې فن ته راجع کوي، او بره خبر کې تقدير وکړئ، يعنې پس ګرځيدلی وو دغه فن جدلاً يعنې محل جدال بغير د څه فائدې نه، يعنې طالبانو او مولبانو به هسې معارضې کولې، او خان يې په مغز باندې نه پوهه کولو، يا دا حمل مبالغةً دی تقدير ته حاجت نشته، يعنې ګرځيدلی وو دا فن عين جدال، څه فايده په کې نه وه.

وذهب رواؤه فعاد خلافاً بلا ثمر، پس تللی وو هغه ښائست د دغه فن، نو ګرځيدلی وو دا خلاف بې د څه فايدې نه، يعنې د دې علم تشبيه داسې وه لکه وُنه بِلا ميوي، او بلا ميوي وُنه کې څه وي؟ بغير د لرګو د سوزولو نه، خوراک فايده په کې نه وي، نو دغه رنګ دي فن کې هيڅ فائده نه وه.

قوله: حتى طارت بقية اثار السلف ادراج الرياح، حتى: دا غايه ده د دې ذهب لپاره، يعنې د دې فن رسم او رواج او ښايست چې کوم وو دومره ختم شوی وو، حتى طارت...، حتى که چې الوتلی وو، الوتل څکه وويل چې ژر ختم شوی وو، هغه پاتې شوي اثار د سلفو، ادراج الرياح په لاړو د بادونو کې، يعنې د سلفو چې کوم مکتوبات وو، کوم فوائد وو يا د هغوی د شاګردانو کوم نوټونه وو په هغه باد راغله او هغه يې والوزوول کندو او دريابونو ته، ادراج جمع د درج دی، لاړې ته وائي، يعنې په هغه لاړو د بادونو کې چې د سره د هغې مکتوبات، فوائد ، نوټونه پاتې نه شو.

قوله: وسالت باعناق مطايا تلك الاحاديث البطاح، او وبهيدلی په هغه څټونو د اوښانو سره د دغه خبرو کندې، بطاح جمع د البطح دی، دا هغه لختي ته وائي چې هغې کې اوبه رواني وي او په کې نرۍ نرۍ ګيټې وي، اوس د **سالت** اسناد بطاح ته دا مجاز عقلي دی، څکه د سالت لپاره ما هوله مطايا دی، يعنې مطايا په کنده کې د سيلاب په شان روان وو، او کنده روانيږي؟ او دا مجاز عقلي يې د مبالغې لپاره وکړو، چې دغه فوائد د سلفو او اثار د سلفو ورسره ژر ختميده چې ته به وائي چې عين کنده روانه وه، دا علامه د اوومې پيړۍ خبرې کوي، او نن سبا څوارلسمې ته وګورئ چې نن څه دي؟ لکه عرب وائي سال الوادي نو د سال اسناد وادي ته مبالغه ده اوبه په وادي کې څي خو ويل دا اوبه دومره ډيرې وي او دومره ژر تللي چې دا کنده ګويا چې ورسره روانه ده، او اعناق يې ولې زيات کړو، څکه چې د اوښ سرعت او بطوءت د څټ نه معلوميږي، د قدم څخه نه معلوميږي، قدم د اوښ يو شانتې وي، خو دا چې کله دا اوښ څټ ډير خوځوي نو پوهه شه چې دا اوښ تيز دی، او چې ست دومره نه خوزوي نو بيا دا دومره تيز نه دی، نو اعناق يې څکه زيات کړو.

قوله: واما الاخذ والانتهاب فامر يرتاح له اللبيب فللارض من كاس الكرام نصيب، اوس شارح مخكې لاړو، دفع د توهم کوي دې سره، چې دې سائلينو چې تا نه سوال کړی وو نو د هغې د سوال لپاره دوه علتونه يې بيان کړي وو، يو علت چې زمونږ تقاصر او تقاعد، چې مطول اوږد دی مونږه دا ايزده کولی نه شو، دويم علت دا وو چې منتحلينو مطول ختم کړو، تا نه يې نسبت ختم کړو او ځان ته يې نسبت وکړو نو ايا دا دواړه علتين باعث شو ستا لپاره د مختصر جوړولو له؟ وائي نه نه، دا وروستني په ما باندې هيڅ باعث نه دی شوی، صرف دا اولنی خبره په ما باندې باعث شوی دی، دفع د توهم وشوه چې منتحلين ځان ته نسبت کوي نو کوي دې کنه، ځکه ما د الله د رضا لپاره ليکلی وو، ځان ته نسبت کوي، الله ته خو معلومه ده ثواب به ما ته راکوي، نو وائي: **واما الاخذ والانتهاب**: هر چې دي اخستل او لوټ کول زما د مطول د نورو شراحو، دا يو امر دی چې عقل مند سړی په دې خوشحاليږي، کامل العقل، يو د دې وجې نه چې ستا شهرت په خلکو کې به رانه شي، او حديث کې راځي چې: **ان الله يحب العبد التقي الغني الخفي** الله مينه کوي د هغه بنده سره چې هغه ويريدونکی وي د الله نه د خلکو نه بې پرواه وي، خپل حاجت خلکو ته نه څرګندوي الله ته څرګندوي، او خپل شهرت نه غواړي الخفي دا نه غواړي چې ما ته علامه صاحب ووائي، شيخ القران صاحب ووايي، شيخ الحديث صاحب ووائي، شيخ الحديث صاحب مولانا صاحب حضرت صاحب، دا هسې القاب دي فضول دا بنده په دي شهرت خفه کيږي خوشحاليږي نه نو **يرتاح له اللبيب** لپاره يو علت خو دا شو چې پيغمبر ﷺ وويل: ان الله ...الخ دويم دا چې دی سره سړی سخي کيږي چې د يو سړي کلام بل سړی واخلي او ده ته نسبت ونه کړي، او دا سړی خفه نه شو نو سخي شو، نو وائي: **فللارض**: دا فاء لپاره د علت ده، وائي د زمکي لپاره د پيالي د سخيانو نه هم حصه وي، چې کله شراب څکښي نو څه په کې تويږي او څه څکښي، نو زما د مطول مثال د شرابو د پيالې دی، او زما مثال د سخي دی، نو که زما مطول نه بل څوک نفع اخلي او ځان ته نسبت کوي، کوي دي ځان له باک بګړ په دې کې نشته دی، د دې شعر مخکې نيم بيت دا دی:

شربنا شراباً طيباً عند طيب — كذلك شراب الطيبين يطيب

شربنا واهرقنا على الارض جرعة — وللارض من كاس الكرام نصيب

هلته شعر کې واو دی نو شارح واو بدل کړو په فاء ځکه د علت په ځای کې يې ذکر کړی، نو شارح وائي زه يو سخی سړی يم او زما مطول باچا ګله پيالې ده د شرابو، او منتحلين زمکه دی، نو د دې پيالې نه به څه ځولې ته غورځوم او څه به لاندې ترينه غورځوم.

قوله: وكيف ينهر عن الانهار السائلون ومثل هذا فليعمل العاملون، وائي او څنګه به شړلی شي او منع کولی شي د غټو ولو نه سائلين، يعنې دا نور شراح ما نه سوال کوي او زما د مطول مثال د درياب دی، نو چې د درياب نه څوک اوبه اخلي نو څوک يې منع کوي؟ اقتباس يې وکړو د قران نه **ومثل هذا**.....: وائي د دغه

اقتباس او اخذ لپاره عمل دې وکړي عمل کوونکې، يعنې خپل شهرت دې ختم کړي خکه کتاب خو تا ليکلی دی، دې لپاره دې عمل وکړي، ولمثل هذا، دا اقتباس اوشو د ايت کريمه نه، وائي چې کار کوئ نو د الله د رضا لپاره به کوئ، په هغې کې مد نظر د الله رضا ساتئ خپل شهرت مه ساتئ، حديث دی دارمي والانقل کوي، حضرت عائشة رضي الله عنها نه: **من التمس رضى الناس بسخط الله، سخط الله عليه واسخط الناس، ومن التمس رضى الله بسخط الناس رضى الله عنه وارضاهم** اقتباس په لغت کې، لږ اور اخستل د ډير اور نه، نَقْتَبِسْ مِنْ نُوْرِكُمْ، او په اصطلاح کې اخذ د يو کلام دی د قران يا د حديث نه او جعل دی د خپل کلام بې دنسبت کولو نه الله او رسول ته، قال الله او قال الرسول ونه وائي، نو دلته شارح ولمثل هذا.... د قران حصه نقل کړه او نسبت يې الله ته ونه کړو.

قوله: ثم ما زادتهم مدافعتي الا شغفاً وغراماً وظماً في هواجر الطلب و اواماً: ثم ما زادتهم سره شارح دفع د توهم کوي، چې دا اخذ او انتهاب په ما باندې باعث نه شو د تصنيف نو بيا باعث څه شی شو؟ يعنې بيا تا مختصر ولې وليکلو؟ نو شارح وائي چې ما باندې باعث علی التصنيف مکرر سوال د دوی وو، مکرر طلب د دوی وو، يواځې په سوال ما تصنيف نه کولو او يواځې تقاصر او تقاعد باندې هم ما تصنيف نه کولو، ليکن د دوی همېشه طلب زه مجبور کړم نو ما پرې شروع وکړه، نو وائي **ما زادتهم** ای المحصلين تيله درکولو خما مګر نهايت مينه ـ شغف هغه مينی ته وائی چه دزړه کځوړی ته دننه شوی وی "قد شغفها حبا" يقيناً د زليخې زړه ته نتووتې وه مينه د يوسف عليه السلام، **وغراما** او نهايت حرص او نهايت تنده، **في هواجر الطلب** هواجر اضافت طلب ته د مشبه به دی مشبه ته ای وظما في الطلب کالهواجر، يعنې دا تنده په طلب کې په شان د تکنده غرمي وو، هواجر نصف النهار ته وائي چې بلکل نمر په خط استواء باندې وي، نو تشبيه په صعوبت کې شوه، مشقت کې، تکنده غرمه کې سړی باندې تکليف وي، خولۀ بهيږي، خوب نه راځي ګرمی کې، نو دغسې دوی دا طلب داسې شروع کړو چې ځان باندې خولۀ، منتونه، ژړا او زاري، چې الله ته وګوره، و اواماً او نهايت تنده، اوام هغه تندي ته وائي چې سړی خُلي ته ګټ اوبه ونه غورځوي نو سړی مړ کيږي، نو چې دوی داسې شروع وکړه نو فانتصبتُ

قوله: فانتصبت لشرح الكتاب على وفق مقترحهم ثانياً ولعنان العناية نحو اختصار الاول ثانياً

نو بس ما ځان تيار کړو ګوډه مې ووهله، اودرولې لپاره د تشريح د تلخيص، هلکه تشريح د تلخيص خو تا کړې کنه مطول سره اوس څه تشريح کوي؟ وائي نه نه **على وفق مقترحهم** په موافقت د مطلوب د دوی سره چې لنډول مې ثانياً: دا صفت د مصدر محذوف دی،

يعنې انتصاباً ثانياً، يا شرحاً ثانياً، يا په حذف د جار سره ظرف دی د انتصبت لپاره ای انتصبت لشرح الكتاب في زمن ثان، خکه د مطول زما نه اول وو نو دا دويمه شوه. **ولعنان العناية:** دا د دې وروستو ثانياً پورې متعلق دی، دا وروستی ثانياً حال دی د انتصبت د دې ضمير نه، حال کوني چې زه

اړونکی وومه هغه واګو د قصد او ارادی طرف د اختصار د اول ته نو ثانیاً په معنی د صارفاً سره شو ﴿ ثَانِيَ عِطْفِهِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللهِ ﴾.

قوله: مع جمود القريحة بصر البليات وخمود الفطنة بصرصر النكبات وترامي البلدان بي والاقطار ونبو الاوطان عن الاوطار: دا عبارت جواب د اعتراض دی یا هلکه مطول چې تا لیکلو نو هغه وخت خو تا باندې تکلیفات وو نو مختصر کې راحت حاصل وو؟ نو وائي نه نه راحت نه وو هغسې تکلیفات وو **مع جمود القريحة** سره د مړوالي د طبیعت زما نه، او زما طبیعت مړ او یخ یخ وو خوشحاله نه وووم، په تکالیفو، مصائبو غمونو سره چې په شان د تند باد وو، ای کالصر، نو اضافت د مشبه به دي مشبه ته، صر ویلی شي هغې سیلی ته چې په کوم شي راشي هغه ختمویصرٌ اَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ) **وخمود:** او سره د مړه کیدو د پوهوالي زما نه، ځکه چې په سړي باندې پریشاني زیاته وي، نو څه سړی له ورځي، پوهوالي نو هغه هیر شي، **خمد:** ویلی شي مړوالي د اور ته، زما پوهوالي، ذکاوت، فطانت بالکل ختم شوي وو، ځکه چې مصائب ډیر شي نو ذکاوت د سړي نه ختمیږي **بصرصر النكبات** په مصائبو سره په شان د صرصر باد، صرصر هغه باد ته وائي چې اواز وي په کې، طوفان وي غټ اواز په کې وي هیبت ناک لکه سړی وائي چې زلزله وشوه **وترامي:** او ویشتل د کلو کلو ما لره او طرفونو، کله به یو کلي کې ځان له وم کله به ځان له بل کلي کې وم، کله به پیښور ته لاړم کله پینډی ته، کله کوهستان کله ګلګت ته، نو سودائي وم، **ونبو الاوطان** او سره د لرې والي د وطن زما نه، او وطن چیرته پاتې شوی؟ زما خیال هم نه وو **والاوطار** او سره د لرې والي د حاجت نه، کله به ویل زما پیزار نه وو، کله جامه نه وه، کله برستن نه وه، کله تلائي په کې نه وه، او کله د شپې ځای نه وو، ځکه مسافر سړي باندې مختلف حالتونه راځي.

قوله: حتى طفقت اجوب كل اغبر قانم الارجاء واحرر كل سطر منه في شطر من الغبراء ويل تر دي چې زه شروع شوم چې ما پریکولو هره دور ناکه زمکه هسې دوړې چې تیاره وو اطراف د هغې دهغې نه دوړې پورته شوي وي نو په دوړو کې به روان وومه او ما لیکله هره کربنه د دې شرحې په یو حصه کې د دوړناکي زمکې، نو حال زما په شان د دې شاعر وو:

فيوما بجزوى ويوما بالعقيق وبالعذيب يوما ويوما بالخليصاء

قوله: ثم لما وفقت بعون الله وتاييده للاتمام وقوضت عنه خيامه بالاختتام بعد ما كشفت عن وجوه خرائده اللثام ووضعت كنوز الفرائد على طرف الثمام، د دې نه وروستو اوس د خپل مختصر صفت کوي، وائي پس د دې نه هر کله چې توفیق راکړی شوی ما ته په امداد د الله تعالی سره او په محکمتیا د الله سره لپاره د تامولو د دې شرحې، او ما مات کړو د دې شرحې نه هغه تانبو د دي، دا شرحه مشابه شوه د یو قسم خلکو سره چې هغه په تانبو، ابادی کې دننه وي، پټ په ذهن کې یې تشبیه ورکړه، جامع استتار شو، یعنې دا شرحه د مولیانو او طالبانو نه پټه وه، لکه خلک په تانبو، ابادی کې پټ وي، نو دا استعاره مکنیه

شوه، او لازم د هغه خلکو سره چې دننه دي خيام دي، نو دا تخيليه شوه، او چې هغه کور او تانبو تا وغورځولو نو هغه خلک ښکاره کيږي، نو دغه شان ځما شرحه هم پتيه وه، نو ما بهرته راوويسته، **بالاختتام**: په سبب د حصول د اختتام بالفعل سره، نو په اتمام او اختتام کې څوك وائي فرق نشته دی يو شی دی؟ بيا شبه راځي چې وفقت بعون الله تعالى وتاييده للاتمام، الاتمام خو دا معنی چې والناس پوري ختم کړه اخر پوري او بيا دا وروستو سبب وقوضت بالاختتام، بيا نو چې يو ځل اتمام ته ورسيده نو بيا اختتام سبب جوړيدی شي؟ نو که اتمام او اختتام يو وي کنه، نو بيا تاسو وايئ مراد د اتمام نه بالقوة چې يعني قريب وم، او اختتام نه مراد الاختتام بالفعل دی، نو اختتام بالفعل سبب شو لپاره د ښکاره کولو، بالقوة سبب نه وو ځکه هغه تمام شوی نه وو، نو يعني چې تام شي نو بيا يې طالبانو ته ښکاره کوم، هغه ستر ترينه لرې کوم، او څوك وائي چې اتمام او اختتام کې فرق دی، اتمام ديته وائي چې د يو کار نه ته بس کړي، اخوا بيا په اثناء کې بس کړي، يا په اخر کې بس کړي، عام دی، او اختتام ديته وائي چې والناس ته ورسي، **لكن بعد ما كشفت**، ليکن پس د هغه نه، بعد ما قوضت پوري متعلق دی، يعني دا مات کړه خو پس د هغه نه **كشفت عن وجوه خرائده اللثام**: پس د هغه چې ما لرې کړه د مخ د هغه ښايسته شرم ناکي جينې نه هغه پرده او څادر، لثام غټ څادر ته وايي، دلته کې هم تشبيه شوه، د دې خپل مختصر تشبيه يې ورکړه، يو ښايسته حياناکي جينې سره پټ په ذهن کې دا مکنيه شوه په جامع د ميلان کې، لازم د هغه جينې سره مخ وو، هغه يې ثابت کړو دي شرحي ته، نو دا تخيليه شوه، او ملائم د هغه جينې سره لثام وو، دا ترشحيه شوه، نو مطلب دا شو چې زما دې شرحې ته د مولیانو طالبانو انتظار وو ميلان وو، لکه څنګه چې ښايسته شرم ناکي حياناکي جينې ته هر څوك ګوري.

قوله: ووضعت كنوز الفرائد على طرف الثمام فجاء بحمد الله كما يروق النواظر و يجلو صدا الاذهان ويرهف البصائر ويضيئ الباب ارباب البيان: ويل ما اينبی دی خزانی د ملغلرو په طرف د ثمام بوټي باندې، ثمام يو بوټی دی چې هغه ډير پوست دی، پښتو کې ورته بُرج وائي، مونږ ورته ذوذ وايو، او په عربي کې ورته ثمام وائي، هغه برج وونه باندې داسې کاغذ غوندې وي، په هغې باندې الف الف ليکلی وي، هغه کاغذ ډير پوست وي، پخوا به دې اخونانو او مولیانو په هغې باندې تعويذونه او ساختونه کول، بره په چلاس علاقه کې ډير زيات دي، کنوز الفرائد نه مراد مسائل د دې مختصر شو، او سهل الماخذ دی مطول په شان ما نه دی ګران کړی، داسې دی لکه برج په لاس کې واخلي، هغه څومره پاسته وي، نو دا هم دغسې دی، نو وائي پس راغله دغه شرحه د الله په ستائينې سره لکه چې خوشحاليږي، نظر کوونکي خلک، هر څوك چې ورته ګوري خوشحاله شي، او واقعي چې خوشحاله شي، ځکه چې فن معاني کې دا مختصر د يوې فتاوی مرتبه لري، فن معاني دي سره ايزده کيږي، او لرې کوي هغه خيری د ذهنونو يعني د طالبانو او مولیانو په ذهن کې د تلخيص په حل کې څه خيری وي، نو هغه خيری دې لرې کړی دی، لرې کوي او

تيزوي نظر لره، البصائر بصيرت د سړي پيدا کوي، او پرقوي عقلونه د خاوندانو د علم البيان

قوله: ومن الله التوفيق والهداية وعليه التوكل في البداية والنهاية وهو حسبي ونعم الوكيل، خو دا ټولې خبرې وي فانتصبت دي که قوضت دي، ويل دا ټول **ومن الله التوفيق والهداية**، د الله نه توفيق د جوړولو د دې شرحې غواړم، او راه يافتني غواړم حق مسئلې ته او په الله باندې ځان سپارل دي په ابتداء او انتهاء ددې شرحې کې، هغه به توفيق راکوي، ځکه الله کافي دی زما او ښه متصرف دی.

قوله: الحمد هو الثناء باللسان هو الثناء سره غرض د شارح تصور او تعريف د محکوم عليه کوي، ځکه الحمد په قول د ماتن کې محکوم عليه دی، او د محکوم عليه تصور، تعريف ضروري دی، د دې لپاره چې حکم په مجهول باندې رانشي، دويم غرض د شارح تعريف دشکر کوي ځکه شکر ضد د حمد دی، وبضدها تتبين الاشياء، نو تعريف د شکر کوي چې د حمد ښه وضاحت راشي او فرق راشي د شکر نه، او دا دويم غرض بيانوي والشکر سره دريم غرض د شارح دفع د اعتراض ته اشاره کوي، اعتراض د وارد شو چې يا هلکه ماتن الحمد لله وويل نو الشکر لله يې ولې نه ويل؟ شکر ښه وو، نو الحمدلله يې ولې وويل ځکه شکر په مقابله د نعمت کې وي او حمد عام دی چې په مقابله د نعمت کې وي او که نه نوي، او کوم حمد چې په مقابله د نعمت کې وي نو هغه قوي وي، ځکه باعث موجود وي، او کوم چې په مقابله د نعمت کې نه وي نو هغه دومره قوي حمد نه وي، دل نخواسته غوندې وي، نو شکر ويل په کار وو، نو شارح د هغې نه جواب کوي **والشکر** سره جواب ته اشاره کوي، اشاره په دې سره داسې کوي چې دلته کې دا حمد په ماده د شکر کې دی، ځکه چې حمد په مقابله د نعمت کې دی، **على ما انعم** يعني الله لره حمد دی على ما انعم او حمد په مقابله د نعمت کې په ماده د شکر کې وي، نو الحمدويل اوالشکر لله ويل يو دي، څه فرق نشته شبه هلکه چې څه فرق نه وو نو الشکر لله به يې ويلی وی الحمد لله يې ولې وويل؟ جواب هلکه حمد لپاره د مطابقت د کتاب الله سره ځکه هلته الحمدلله وو الشکر لله نه وو، نو دا مخالفت عنواني يې د دې وجې نه وکړو، ځلورم نسبت بيانوي په مينځ د شکر او د حمد کې نو نسبت شارح داسې بيانوي چې ګوره چې د متعلق په لحاظ سره په دې شکر د حمد کې نو نسبت شارح داسې بيانوي چې ګوره چې د متعلق په لحاظ سره په دې عکس د متعلقينو سره، مورد د شکر ما يورد منه الشکر، هغه عام دی، دريو قسمونو ته شامل دی:

۱. چې باللسان وي لکه خلي باندې ته ووايي چې الله عالم.

۲. يا بالارکان وي لکه رکوع، سجده، طواف ته کوي.

۳. بالجنان وي لکه ته عقيده ساتي د الله د علم او د وحدت، او مورد د حمد خاص دی صرف لسان دی، نو مورد د حمد اخص مطلق شو، او مورد د شکر اعم مطلقا شو دريو قسمو ته شامل دی، او

حمد د مورد په لحاظ سره یو قسم دی چې باللسان دی، او د مفهوم په لحاظ سره په دې حمد او شکر کې عموم خصوص من وجه دی، ماده د اجتماع لکه ته په خُله ووایي الله عالم په مقابله د نعمت کې چې الله په تا باندې څه نعمت کړی وي او ته دا اووائي نو دا شکر هم شو او حمد هم شو، ماده دافتراق چې حمد وي شکر نه وي لکه ته الله عالم ووائي بې د نعمت نه، نو دا حمد شو او شکر نه شو ماده د افتراق دجانب د شکر نه چې شکر وي او حمد نه وي لکه ته رکوع کوي سجده کوي الله ته یا عقیده ساتي د الله دعلم د وحدت او د قدرت او د سمع او بَصر، نو دا شکردی او حمدنه دی ځکه لسان په کې نشته دی، نو څلور غرضونه شو.

نو وائي **هو الثناء باللسان** حمد څه ته وائي؟ ستاینې ته وائي باللسان په ژبې سره، اوس ثناء کې دوه احتمالین دي، یو ثناء په معنی د ذکر الخیر باللسان سره، او دویم ثناء معنی ذکر الخیر مطلقاً، نو اوس که ثناء معنی ذکر الخیر باللسان شي، نو بیا ذکر د باللسان مستدرك نه دی؟ مستدرك دی ځکه، لسان خو ثناء نه معلوم شو ځکَه هغه ذکر الخیر باللسان ته وائي، او که ثناء عبارت شي د ذکر الخیر مطلقاً نه نو بیا د باللسان ذکر مفید دی مستدرك نه دی، ځکه **ذکر الخیر** مطلق عام وو کنه په باللسان سره یې غیر لسان خارج کړو، نو تاسو جواب وکړئ که د ثناء نه مراد معنی اول شي نو بیا ثناء کې تجرید دی، اګر که ثناء ذکر الخیر باللسان ته وائي مونږ به تجرید وکړو چې ذکر الخیر فقط، او تجرید دیته وائي چې استعمال د لفظ دی په بعضې معنی کې او انسلاخ د بعضې معنی نه، **علی قصد التعظیم** دې سره دفع د اعتراض ده، چې یا هلکه تعریف د حمد مانع نه شو د دخول د غیر نه داخل شو په دې کې سخریه او استهزاء، چې ته جاهل زید ته وائي چې زید علامة، شوم زید ته وائي چې زید جواد نو دا ثناء باللسان نه شوه؟ او دیته څوك حمد وائي؟ که سخریه او استهزاء وائي؟ سخریه او استهزاء، جواب نو ده ورسره قید علی قصد التعظیم ټل کړو، علی په معنی د مع سره کوي، یعنې سره د قصد د تعظیم باطني نه، او سخریه او استهزاء کې تعظیم باطني نشته دی ځکه تعظیم باطني څه ته وائي؟ بزرګ در دل داشتن، او دا مستهزء چې کوم دی هغه مستهزء به بزرګ در دل داشتن نکوي صرف تعظیم ظاهري کرتې شته دی باطن کې د هغه اهانت دی

سواء تعلق بالنعمة او بغیرها: سواء سره غرض د شارح فرق بیانی د حمد او د شکر په اعتبار د متعلق سره، ترجمه: **والشکر فعل**، هغه دویم غرض بیانوي، فعل دلته کې مقابل د اعتقاد او ارکان او جوارح نه دی، ځکه فعل که مقابل د ارکان او دجوارحو شي نو بیا د شکر تعریف جامع کیږي؟ وایي نه، تاسو وایئ دلته کې فعل په معنی د أمر او د شان سره دی نو معنی فعل یو صفت دی یو حال دی **ینبئ عن تعظیم المنعم**. شبه: تعظیم د منعِم نه خو حمد کې هم خبرداری وه کنه، جواب یې وکړو چې **لکونه منعماً** یا هلکه په دې اعتبار سره چې دې انعام بالفعل کړی دی، او حمد کې انعام بالفعل شرط دی؟ وایي نه، **سواء کان** کې

اشاره کوي هغه اقسام ثلاثه ؤ د شکر ته، ۱ يَو، ۲ دويم اشاره کوي فرق ته په اعتبار د مورد سره **باللسان او بالجنان او بالارکان.** نو دا هغه څلورم غرض شو، تفريع پرې کوي نسبت بيانوي. **فمورد الحمد لا يكون الا اللسان ومتعلقه يكون النعمة وغيرها ومتعلق الشكر لايكون الاالنعمة.** او مورد نه معنی ما يورد منه الشكر و مورده **يكون اللسان وغيره** نو دا په تفريع باندې تفريع شو نو فالحمد اعم من الشكر باعتبار المتعلق و اخص باعتبار المورد و الشكر بالعكس خو دا په متعلقينو کې په موردينو کې فقط نسبت شو، او مفهومينو کې د دوی نسبت عموم خصوص من وجه شو. **لله:** لله نه وروستو د شارح يو څو غرضونه دي، يو تعريف د محکوم به کوي، د لفظ الله تصور کوي تعريف کوي دي لپاره چې حکم په مجهول سره را نه شي، نو هغه ته يې اشاره وکړه په **اسم للذات الواجب الوجود.**

دويم غرض د شارح رد کوي په بعضې خلکو باندې، بعضې خلکو اسم الله مشتقي ويلی وو، د اَلٰهَ يالِهُ الهاً نه، ضرب يضرب نه، په معنی د عبد يعبد عبادةً سره، دليل هغوی دا ويلي وو چې لفظ د الله مشتقي ځکه دی چې په دې پورې تعلق د جارمجرور راغلی دی، او تعلق د جارمجرور يا فعل پورې کيږي يا شبه فعل پورې، نو که لفظ د الله جامد شي نو تعلق د جارمجرور به ورسره څنګه راشي، اوس تعلق د جارمجرور په کوم ځای کې شوی دی نو په دې قول د الله تعالی کې **وهو الله في السماء والارض** نو دا في السماء والارض په الله پورې متعلق دی، نو دينه معلومه شوه، چې دلته الله په معنی د عبادةً سره دی او عبادت په معنی د معبود سره، نو معنی **وهو معبود في السماء والارض** نو شارح په هغوی باندې رد وکړو چې نه لفظ د الله مشتقي نه دی، دا اسم جامد دی علم دی د هغه ذات چې واجب الوجود دی او مستحق دی د جميع محامدو، رد يې په دې لفظ د اسم للذات سره وکړو، دليل د دوی (شارح وامثاله) لپاره چې که الله اسم علمي نه شي بلکه مشتقي شي نو کلمه التوحيد به مفيد لپاره د توحيد نه شي، تالي باطل دی، مقدم يې مثل دی وجه د بطلان التالي خو اتفاقاً ده ځکه د لااله الاالله اتفاقاً وضع لپاره د توحيد ده، وجه د ملازمي دا ده، لااله هم متعدد وو او الاالله ته تا مشتقي وويل د عبادة په معنی سره، دا هم متعدد شو او استثناء د متعدد د متعدد نه مفيد لپاره د وحدت نه وي، نو بيا خو توحيد ثابت نه شو، ځکه د لااله الاالله معنی خو دا شوه چې څوک معبود نشته مګر معبود شته دی، بغير د معبود نه ځکه نبکته اله هم کلي او الاالله هم کلي شو، د ضارب او مضروب په شان، نو استثناء د متعدد د متعدد نه خو مفيد لپاره د وحدة نه دی، او که تاسو وايئ چې تعلق د جارمجرور نو د هغه دليل نه جواب کوو، متعلق د جارمجرور په اعتبار د صفت لازمه سره دی، د الله سره لازم معبود دی، نو معنی دا شوه چې وهو الله معبود في السماء والارض.

دريم غرض د شارح دفع د يو اعتراض کوي وروستو د **والعدول** سره هغه داسې چې يا هلکه اصل کې الحمد لله حمدت الله حمداً وو، نو بيا هغه فعل سره دفاعل نه حذف شو، نو الله حمداً پاتې شو، نو الله

حمداً کې څه مناسبت نشته، نو مونږه په حمداً کې عدول وکړه د نصب نه رفع ته او مقدم مو کړو او الف لام مو پرې داخل کړلو مبتداء مو وګرځوله او لله کې لام جاره مو پرې داخل کړو، نو الحمد لله شو، جمله اسمیه جوړه شوه، مبتداء او خبر جوړ شو نو مناسبت په کې پیدا شو، نو دا عدول د جمله فعلیه نه اسمیه ته ولې وکړو ماتن؟ حالانکه معدول عنه اولی دی د معدول نه، نو شارح جواب وکړو **للدلالة على الدوام والثبات**: والعدول الى الجملة الاسمية کې اشاره اعتراض ته وشوه، او للدلالة على الدوام والثبات کې اشاره جواب ته وشوه، اوس دا الثبات عطف تفسیر دی د دې على الدوام لپاره، نو که څوک اعتراض وکړي چې یا هلکه عطف تفسیر کې خو څه نکته وي نو د څه نکتې لپاره یې عطف تفسیر راوړلو، نو تاسو ووایئ چې دوام باندې شبه راغله چه دوام باندې دلالت خو مضارع هم کوي، نو بیا داسې په کار دی چې مضارع دلالت په دوام باندې کوي خو په دوام تجددي باندې کوي، او جمله اسمیه دلالت په دوام باندې کوي خو ثبوتي په ثباتي استمراري باندې.

ونحمدالله نو ده جواب وکړو چې **الثبات** ځلورم غرض د شارح د فع د یو بل اعتراض کوي، چې یا هلکه حمد وصف دی، او لفظ د الله ذات شو، قانون دا دي چې ذات مقدم وي په وصف باندې، نو دلته کې لله الحمد ویل په کار وو، او ماتن الحمدلله ویلی دی، نو ده خلاف وکړو د قانون نه ځکه صفاتو او ذات کې اشرف ذات وي، او اشرف مقدم کول په کار وو په غیر اشرف باندې، نو شارح جواب وکړو **وتقديم الحمد** سره حاصل د جواب دا چې دلته کې دوه مرجح راغلي دي، یو اقتضاء مقامي او بل اقتضائ ذاتي، نو دي دواړو کې تعارض راغلو، نو اقتضائي مقامي غواړي چې حمد دي مقدم شي، ځکه دا مقام د حمدالله دی، د الله د ستاینې کولو مقام دی، د ماتن نه حال د مخاطب دا غواړي چې په ابتداء د تصنیف کې د الله ستاینه وکړه، د الله صفات کمالیه بیان کړه، چې تا باندې فیضان د مسائلو وکړي، نو اقتضاء مقامي دا وغوښتل چې الحمدلله ووایه، او دویم اقتضاء ذاتي غواړي چې لله الحمد ووایه، نو مونږ اقتضاء مقامي له ترجیح ورکړه په اقتضاء ذاتي باندې، ځکه چې بلاغت موافقت د کلام د مقتضي الحال والمقام ته وائي نو ځکه یې وویل چې **وتقديم الحمد باعتبار انه اهم نظراً الى كون المقام مقام الحمد**، ځکه چې ماتن لوی کار کې شروع کوي او لوی کار کې شروع بغیر د ستاینې د الله نه نه کیږي، دا وروستو عبارت دي مخکې سره لګوئ، چې **لكان ذكر الله اهم نظرا الى ذاته** لیکن چې دا اقتضاء مقامي او اقتضاء ذاتي تعارض راشي نو ترجیح به اقتضاء مقامي ته ورکوو، ځکه بلاغت په دی کې دی، چې مطابقت د کلام د مقتضي الحال سره دیته وائي، معترض راغلو شبه یې وکړه چې یا هلکه دوی لپاره نظیر شته دی چیرته، ما ته نظیر وښایه چې اقتضاء مقامي او اقتضاء ذاتي کې تعارض راغلی وي، او بیا ترجیح یې ورکړی وي اقتضاء مقامي ته په ذاتي باندې وائي **وكما ذهب اليه صاحب الكشاف في تقديم الفعل في قوله تعالى: اقراء باسم ربك الذي الى ما سيجيئ**، نو دلته قراءة وصف دی اسم ربك ذات دی، نو قراءة

يې مقدم کړو ځکه چې دلته کې مقام مقام د قراءة دی، اګر چې اسم د الله مقدم دی ذاتاً، لیکن مقاماً قراءة مقدم دی، ځکه چې د مقام په لحاظ سره قراءة مقصود دی، نو ځکه یې وویل چې اقراء باسم ربك، او باسم ربك اقراء یې ونه ویل دا څلور غرضونه ختم شول

ترجمه او تشریح: هو یعنې دا اسم د الله (في قوله لله) **اسم** اسم علم دی دلته مقابل د اسم کنیه او لقب دی، او مقابل د فعل او د حرف نه دی، **للذات الواجب الوجود**، واجب الوجود یعنې ضروري الوجود دی، ضروري الوجود دا معنی چې ذات کې محتاج غیر ته نه دی، وجود یې د غیر نه مستفاد نه دی، په خپله ضروري الوجود دی. او **المستحق لجمیع المحامد** چې لائق دی په استحقاق ذاتي سره د ټولو صفاتو کمالیه ؤ لپاره، محامد، جمع د محمده په معنی د حمد مراد صفات کمالیه، د ټولو ستاینو لایق الله دی.

ماتن وویل: **قوله علی ما انعم**: شارح ورسره لګیږ ای علی انعامه دي کې شارح اشاره وکړه دوو دعوو ته، یو دی دعوې ته چې دی ما انعم کې ما مصدریه دی، دویم دي دعوي ته اشاره وکړه چې ما موصوله نه ده، یو دعوی ایجابي شوه بله دعوی سلبي شوه، اوس دلیل په دعوی سلبیه باندې ځه دی چې ما موصوله نه ده، نو دلیل دا دی چې یا هلکه که ما موصوله شي نو دا فاسده ده لفظا هم او معناً هم، لفظاً څنګه فاسد دی؟ ځکه چې موصول په صله کې عائد غواړي، نو بیا احتیاجي حذف دعائد ته راځي، نو (بیا) به ته وایې چې علی الذي انعم به، دبه حذف ته حاجت راځي، نو که معترض شبه وکړي والعائد المفعول یجوز حذفه، نو دا خو څه فساد نه دی، دا فساد فساد دی، نو دی وائي چې یا هلکه دلته خو فساد نشته خو وروسته معطوف کې فساد راځي، ځکه چې **وعلم** معطوف دی په انعم باندې، نو دلته چې حذف د عائد وشو نو هلته به هم ته حذف کوي محذوف به مني وعلمه به وائي، او هلته کې حذف نه صحیح کیږي، ځکه هلته کې مفعول ثاني صراحةً ذکر دی چه علم ما لم نعلم او مفعول اول نا دی، **علمنا ما لم نعلم** او قانون دا دی چې معطوف په حکم د معطوف علیه کې وي فیما یجوز وفیما یمتنع نو اوس ښکته په معطوف علیه کې خو حذف صحیح کیږي خو بره په معطوف کې نه صحیح کیږي، نو دافاسد شو، او دریم په دي کې فساد معنوي دی، ځکه که ما موصوله شي، نو حَمَد به په نعمت باندې راشي، یعنې ستاینه ثابت ده الله ته علی الذي انعم به یعنې د وجې د هغې شي نه چې هغه شی نعمت دی، او نعمت اثر د انعام دی، انعام صفت د الله دی نعمت کول، او قانون دا دی چې حمد په نعمت باندې په واسطي دانعام سره کیږي، او حمد د الله انعام سره یعنې د انعام د وجې نه یې کوي نو بالذات رحمت کیږي او قانون دا دی چې حمد بالذات اولی دی د حمد بالواسطه نه، حمد بالذات او بلا واسطه اولی دی د بالواسطې نه، نو دا دعوی سلبي ثابته شوه چې ما موصوله نه شي کیدلی. اوس هر چې ده دعوی ایجابي چې ما مصدریه ولې متعین شو، حالانکه ما لس قسمه نه راځي؟ تاسو ووایئ چې ما مصدریه ځکه متعین شوه، چې نوري نه صحیح کیږي، ما موصوفه نه صحیح کیږي، ځکه د

هغې حکم او موصولي حکم یو دی، ما استفهامیه نه صحیح کیږي، فساد د معنی راځي، ما نافیه نه صحیح کیږي د هغې په مقابله کې الا راځي، یا لما راځي، ما شرطیه نه صحیح کیږي ځکه وروسته جزا نشته دی، ما تامه نه صحیح کیږي ځکه فساد د معنی راځي، هغې نه تعبیر په شئ سره کیږي، ما صفتیه نه صحیح کیږي، ځکه هغه ښکته موصوف غواړي، اوموصوف دلته نشته دی (۱)، نو چې نورې صحیح نه شوې نو مصدریه پاتې شوه.

شارح شبه کوي او د شبهې نه وروسته جواب کوي، وائي: **ولم یتعرض** وائي ماتن تعرض ونه کړو لپاره د «منعم به» دې کې یې اشاره وکړه اعتراض ته، چې یا هلکه په مقام د نعمت کې مُنعِم او نعمت او منعم به د دې ذکر ضروري وي، نو منعم خو الله شو او نعمتونه د الله لاتعد ولاتحصی شو، او منعم به لپاره یې تعرض نه دی کړی، ولي ته یې تعرض ونه کړو دا ولې؟ نو که اوس په دې شبهې باندې څوک شبه وکړي، چې یا هلکه منعم به ته ماتن تعرض کړی دی، ځکه دا علم منعم به دی کنه، او دارنګه ایتاء الحکمة منعم به دی، علم الشرائع الله مونږ ته راکړی دی، فصل الخطاب منعم به دی، نو دا خو دی منعم به نو ته څنګه وائي تعرض یې نه دی کړی چې لم یتعرض، نو دینه تاسو جوابونه وکړئ، یو دا چې صراحة مراد دی یعني **ولم یتعرض للمنعم به صراحة وتفصیلاً** نه دی کړی، تعلیم البیان اجمالاً او اشاره کیږي چې دا منعم به دی، صراحة نه دي ویلي، یا دویم جواب وکړئ چې دلته د منعم به نه مراد منعم علیه دی، لکه مطول کې دغسې دي چې **ولم یتعرض للمنعم علیه**، نو دلته ذکر د منعم به سهوه ده د کاتب نه چې منعم علیه تري مراد دی، ایهاما: سره جواب کوي شارح چې یا هلکه زه منعم به یا منعم علیه ذکر کوم، نو ذکر لپاره دري طریقې دي، یا منعم علیه یا منعم به ذکر کوم تفصیلاً یا به ذکر کوم اجمالاً یا به بعضې ذکر کوم او بعضې به نه ذکر کوم، نو که تفصیلاً ذکر کومه نو **لقصور العبارة عن الاحاطة به** ماسره داسې عبارت نشته دی چې هغه ټول منعم به ته شامل شي ځکه الله وائي: وان تعدوا نعمة الله لا تحصوها او که اجمالا ذکر کوو نه نو بیا لقصور العبارة عن الاحاطة به بیا هم قاصر کیږي، ځکه اجمال کې قصور وي، نو بیا هم قصور راځي عبارت کې تفصیلا نه شو، او که بعضې ذکر کوم او بعضې نه ذکر کوم نو بیا **للا یتوهم اختصاصه بشئ دون شئ** بیا به دا توهم کوي چې یا هلکه کوم مذکور دی، نو هغه منعم به دی، او غیر مذکوي منعم به به نه وي.

قول الماتن وعلم: ګوره اوس دلته کې مفعول اول مقدر دی یعني اصل کې داسې دی وعَلَّمَنا، او فاعل، ضمیر الله ته راجع دی، معترض راغی هغه شبه وکړه، یو شبه دا چې یا هلکه تعلیم البیان ای الماخوذ

---

۱ - تر دې ټولې اته قسمه شوي. ۱: مصدریه ۲: موصوله ۳: موصوفه ۴: استفهامیه ۵: نافیه ۶: شرطیه ۷: تامه ۸: صفتیه ۹: زائده ۱۰: کافه. مرتب

من قوم وعلم من البيان خو دا خل وو په انعم کې، نو ذکر د **علم** وروستو د **انعم** نه مستدرك شو، دويمه شبه دا چې تعليم البيان داخل وو په انعم کې نو عطف د علم په انعم عطف د شئ په خپل نفس باندې راغلو او **معطوف معطوف عليه** مغايرت غواړي، نو ده شارح جواب وکړو (**بقوله**) **من عطف الخاص على العام**، چې دا د قبيلي د عطف د خاص نه دی په عام باندې، نو مستدرك نه شو، او عطف د شي په خپل نفس باندې هم نه شو، ځکه قانون د نحوي دا دی چې خاص عطف شي په عام باندې نو عام نه مراد علاوه د دغه خاص نه وي، نو استدراك رانغلو، نو عطف الشئ على نفسه هم رانغلو، اوس معترض اعتراض وکړه چې نبه زه عطف د خاص شو په عام باندې نو استدارك لازم نه شو عطف الشئ على نفسه رانغلو، نو عطف د خاص په عام باندې په دې کې خو څه نکته وي کنه، نو دلته د څه نکتې لپاره شو؟ نو شارح جواب کوي **رعاية لبراعة الاستهلال** وائي لپاره د رعايت کولو د براعت استهلال **وتنبيهاً على فضيلة نعمة البيان**: وائي نکتې دوه شوي، يو براعة الاستهلال ته اشاره وکړه، چې راتلونکي کتاب کې مسائل د علم البيان به بيانيږي، د براعة الاستهلال د مفرداتو لغة تشريح او اصطلاحاً بيان مخکې شوی دی[1] او دويمه نکته **وتنبيهاً على** ....الخ، او لپاره د خبر داری ورکولو په فضيلت د نعمت البيان باندې، ځکه چې عطف د خاص په عام باندې لپاره د شرافت د خاص وي، يا هلکه رعايةً او تنبيهاً منصوب دی نصب بنا بر څه دی؟ سائل سوال وکړو، نو تاسو جواب وکړئ چې دا منصوب دی بنابر مفعول له، او مفعول له دی د دې عطف لپاره، يعنې عطف د خاص په عام باندې رعايةً دی او تنبيهاً دی، او فاعل د فعل معلل او د مفعول له يو دی، ځکه چې د عطف فاعل هم ماتن دی، او رعاية فاعل هم ماتن دی نو حذف د لام يې د مفعول له نه ځکه وکړو، که بيا څوك سائل سوال وکړي چې بيا دې راوړو کې څه فرق شته دی؟ نو تاسو ووايئ چې فرق شته دی، رعاية لبراعة الاستهلال د ضربت تاديباً د قبيلي نه دی او تنبيهاً على فضيلة البيان دا د قبيلي د قعدت عن الحرب جبناً د قبيلي نه دی، نو ضربت تاديباً کې تاديب د ضرب نه وروستو راځي، نو رعاية د براعت الاستهلال د عطف نه وروستو راځي، او مخکې نه راځي، او فضيلة د نعمت البيان د عطف نه مخکې هم وو، او عطف سره هم اشعار وشو، تنبيهاً.

قوله: من البيان: بيان لقوله دا تعيين مصداقي د مِن کوي چې مِن خو د ډيرو معانيو لپاره راځي دلته د څه لپاره دی نو وائي چې **بيان**، وائي بيان مبين غواړي نو وائي چې لقوله ما لم نعلم. يا هلکه مبين د مبين نه وروستو نه وي؟ نو **قدم عليه**، دا شبهې ته اشاره وشوه، حالانکه مبين د مبين نه وروستو وي، جواب: **رعاية للسجع**، سجع: حرف اخر ته وائي، ځکه دواړو کې اخر کې ميم وو نو على ما انعم او علم

۱۔ وانظر صفحه تحت قول الشارح في ايضاح المعاني في الخطبه.

من البيان ما لم نعل کې سجع په میم باندې راغله، اوس سائل سوال وکړو چې بیان څه شي ته وائي؟ نو وېي ویل چې **والبيان هو المنطق الفصيح المعرب عما في الضمير** بیان هغه منطوق فصیحه دی چې ظاهروونکی وي، مظهر وي د عما في الضمير نه ظاهرونکی وي د هغه څه نه چې په زړه کې وي.

قوله: والصلاة والسلام على سيدنا محمد خير من نطق بالصواب وافضل من اوتي الحكمة.

شارح ورسره ولګول چې ای علم الشرائع (د اوتي الحكمة) سره دې کې غرض د شارح تفسیر د حکمت کوي، حکمت عبارة دی د علم نه په شرائع باندې، اوس شرائع عام دی عملیات وي که اعتقادیات وي، الله واحد، الله سمیع، الله بصیر، عذاب القبر حق، وزن الاعمال حق، دي باندې علم دی ته هم حکمت وائي او که نه شرائع د قبیلي د اعمالو نه وي، لکه الصلوة فرض، الزكوة فرض الحج فرض الصوم فرض، دي باندې هم علم راوستو ته حکمت وائي، نو یو غرض د شارح دا چې تعین مصداقي یې د حکمت وکړو، چې د حکمت نه مراد علم په شرائعو باندې دی، حکمت نه مراد هغه حکمت د حکماءُ نه دی مراد، دویم غرض د شارح وجه د تخصیص بیانوي چې نعمتونه د الله خو نور هم ډیر وو، نو ماتن دا حکمت ولې خاص کړو، نو شارح وویل حکمت علم الشرائع ته وائي، علم الشرائع قوانین کلیة ته وائي، ځکه جزئیاتو انضباط نه شو کیدای، نو نعمت الحكمة یې ځکه خاص کړو، دویم شارح ورسره ولګول چې **وكل ما وافق الحق** دویم تفسیر د حکمت کوي، چې دویم حکمت وائي هر هغه څه ته چې هغه موافق وي د واقع سره حق سره، اوس دې دواړو تفسیرینو کې فرق څه دی، فرق دې کې دا دی چې دا اولنی تفسیر خاص وو، او دویم تفسیر عام دی، ځکه مخکښینی تفسیر "الفاعل مرفوع" دارنګه "ويشترط في الشكل الاول ايجاب الصغرى" دیته شامل نه وو، ځکه دا الفاعل مرفوع او ويشترط... الخ شرائع دي؟ شرائع نه دی او دا دویم علم للشرائع ته هم شامل دی، او الفاعل مرفوع ته هم شامل دی، او دارنګه ويشترط في الشكل الاول ايجاب الصغرى ته هم شامل دی، نو دا عطف د عام اوشو په خاص باندې **كل كلام وافق الحق** ته حکمت وائي، نو الفاعل مرفوع، المفعول منصوب، نو دا کلام موافق نفس الامر سره دی، نو دیته هم حکمت وائي.

قول الشارح، وترك فاعل الايتاء، دې نه غرض د شارح اعتراض کوي، اعتراض ته شارح اشاره وکړه چې ماتن فاعل د ایتاء پریښودو یعنې په اُوتي کې اتی یې ونه ویل اُوتي یې وویل مجهول او چې اتی یې ویلی وی نو ضمیر به په کې الله ته راجع وو، نو ولې یې فاعل د ایتاء پریښودلو او عدول یې وکړو مجهول ته، حالانکه معلوم اشرف دی په نسبت سره مجهول ته، نو جواب کوي **لان هذا الفعل لا يصلح الا لله:** ځکه چې دغه فعل د ورکولو د علم الشرائع دا صالح نه دی مګر د الله لپاره نو دلته کې ترک د فاعل د ایتاء د وجې د شهرت نه، او تعیین د وجې نه شوی دی، او تاسو هداية النحو کې ویلي دي، چې کوم وخت کې فاعل مشهور شي کنه، او متعین وي نو هلته کې فاعل پریښودلی کیږي، او هلته

کې عدول کیږي د معلوم نه مجهول ته.

قوله: وفصل الخطاب: شارح ورسره ولګول چې ای الخطاب المفصول دي کې یې اشاره وکړه چې اضافت د فصل خطاب ته دا اضافت د صفت دی موصوف ته، نو ګوره په تفسیر کې خطاب موصوف شو او فصل صفت شو، نو اوس شبه راغله چې یا هلکه فصل خوصفت نه شي واقع کیدای د خطاب، ځکه فصل تمیز ته وائي او خطاب خو تمیز ته نه وائي، او صفت موصوف کې صفت حمل وي په موصوف باندې، نو د فصل حمل خو په خطاب باندې نه دی صحیح، نو دینه ده دوه جوابونه وکړل، یوئي په المفصول سره وکړو، او دویم جواب وروستو راځي چې **او الخطاب الفاصل بين الحق والباطل** چې یا هلکه دلته کې فصل په معنی د مفعول سره دی، معنی دا چې هغه خطاب چې جدا کړی شوی دی، د یو بل نه جدا کړی شوی دی، او د مفصول حمل په خطاب باندې صحیح دی، دا ورسره شارح ولګول چې **البين الذي يتبينه** البين الذي سره دفع د اعتراض کوي، اعتراض دا وارد شو، چې یا هلکه خطاب خو توجیه الکلام الی الغیر ته وائي، نو هغه مفصول کیدای شي؟ هغه خو بسیط وي، او مفصول مرکب غواړي، ځکه توجیه خو معنی مصدري ده بسیط ده، هغه مفصول نه وي، مفصول خو ترکیب غواړي، نو ده جواب وکړو چې **البين الذي** یا هلکه خطاب په معنی د توجیه الکلام الی الغیر سره نه دی، خطاب په معنی د کلام موجه سره دی، ځکه بین څوک دی، کلام موجه وي توجیه نه وي.

يتبينه من يخاطب به: نه غرض دفع الاعتراض یا هلکه کلام مفصوله، کلام موجه مفصوله دا خو هر یو خطاب ته ورتللی شي، دا مختصر المعاني هم کلام موجه مفصوله دی،شرح جامي هم دی کافیه هم دی، سلم هم دی، او حالانکه تاسو د کلام مفصوله مصداق قران ګرځوئ، نو دا مصداق ګرځول صحیح شو؟ نو ده جواب وکړو یتبینه، چې مومي دې لره یعني الذي لره بین هغه څوک چې هغه خطاب کوي په دې الذي سره، نو د من یخاطب به، نه متکلم مراد شو(الذي یجده بیناً من یخاطب به) یا الذي یتبنه، چې مومي دې لره بین من یخاطب به، یعني مومي دې لره بین هغه څوک چې خطاب کولی شي هغه سره په دې باندې، نو مراد تري مخاطب شو، شبه یا هلکه مبین خو دغه مختصر المعاني هم دی، شرح جامي او سلم ټول بین دی، مخاطب ته هم او متکلم ته هم، نو وائي: **ولا يلتبس عليه:** (دي عبارة سره شارح دفعه د دغه مخکې کلام نه چې کوم اعتراض فهم شو جواب کوي) یعني هیڅ ګډوډوالی په دې باندې نه وي، تعارض تناقص، فصاحت بلاغت په اعتبار سره هیڅ اشتباه او التباس پرې نه وي، نو دغسې د بل چا کتاب کیدای شي بغیر د قران نه، وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا دویم جواب کوي د هغه اصل اعتراض نه چې فصل صفت د خطاب نه شي کیدلی نو دي دویم جواب کوي **او الخطاب الفاصل...الخ** او حق او باطل کې جدائي راوستل منحصر چا کې دي جي؟ قران کې

قول الماتن، وعلى آله: او افاضه د خیر دې وی په ال د محمد باندې، سائل سوال وکړو چې یا هلکه دا ال

اسم برأسه دی که نه منقلب دی، نو ده (شارح) جواب وکړو چې **اصله اهل** یعنې دا اسم براسه نه دی بلکه منقلب دی، اهل، یا هلکه دلیل پرې څه دی؟ وائي بدلیل، تصغیر دی اهیل راغلی دی، اوس که چرې دا لفظ براسه وي، نو تصغیر د دې اویل به راغلی وو، او تصغیر دلیل جوړېږي د اصل لپاره ځکه وایي چې تصغیر رد کوي اشیاءُ لره خپل اصل ته، د جمعې نه تصغیر چې راوړي نو اول به رد مفرد ته کوي بیا به تصغیر جوړوي تثنیه نه چې راوړي نو اول به رد کوي واحد ته نو بیا به تصغیر جوړوي، او تصغیر ولې اشیاءُ لره خپل اصل ته رد کوي؟ وائي د دې لپاره چې لازم نه شي اجتماع د فرعیتینو ځکه چې منقلب عنه اصل وي د منقلب، مفرد اصل وي د تثنیې اوجمع، او منقلب او تثنیه او جمع د منقلب منه او مفرد فرعه وي، او تصغیر هم فرع دی د مکبر، نو که اوس تثنیه او جمع مفرد رد واحد ته نه شي او منقلب رد منقلب عنه ته نه شي او تصغیر راوړي نو اجتماع د فرعیتینو به راشي، او اجتماع د فرعیتینو لایجوز دی، نو دی وائي هلکه په دې منقلب او منقلب عنه کې فرق بیا څه دی؟ نو فرق ته دې اشاره کوي، **وخص استعماله في الاشراف** او خاص کړی شوی دی استعمال د دې ال په اشرافو ذوی العقول کې، ذوی العقول قید په کې کیدئ، نو اوس آل المسجد وآل الحرم نه شي ویلی، آل الکعبة نه شي ویلی، ځکه که ال دی خو ذوی العقول نه دی، نو آل په اشرافو کې وي، نو اوس شبه راغله چې ستا قاعده منقوضه شوه په ﴿وَاَغۡرَقۡنَآ اٰلَ فِرۡعَوۡنَ﴾ باندې فرعون خو اشرافو نه ندی، تاسو ووایئ چې شرافت عام دی که دنیوي او که اخروي وي، نو هغه ته اګر که شرافت اخروي نه وو خو دنیوي وو، او په خلاف د اهل نه هغه په اشراف او غیر ذوی العقول کې هم مستعملیږي، نو اوس اهل الحائك واهل الحجام ویلی شي، اشراف دی؟ دارنګه اهل الکعبة اهل الحرم ویلی شي، اهل مسجد اهل القریة ویلی شي، او دویم فرق دا دی. **واولی الخطر** یعنې خاص شوی دی استعمال د ال په اولی الخطر کې، امور عظامو کې مستعملیږي، نو ال الحجام وغیره نه شي ویلی او اهل الحجام وغیره ویلی شي.

قول الماتن الاطهار: وقال الشارح جمع طاهر، شارح په اطهار کې تحقیق صیغې کوي، چې اطهار مفرد دی که نه جمع دی، چې جمع شي نو مفرد د طاهر دی که طاهرة دی، اول نه جواب وکړو چې **جمع**، جمع دی او مفرد نه دی، بیا چې جمع شو نو جمع د طاهر دی د طاهرة نه دی، معترض شبه وکړه چې یا هلکه فاعل چیرته په افعال باندې جمع شوی دی؟ نظیر یې چیرته شته؟ ویل هو، کصاحب واصحاب.

قول الماتن: وصحابته الاخیار: او افاضه د خیر دې وي په صحابه ؤ د محمد باندې چې چونې کړی شوی دی، **جمع خیر**، هلکه اخیار جمع ده که مفرد؟ تحقیق د صیغې کوي، او چې جمع شي نو جمع د خیّر ده او که د خیّر ده، نو دې جواب وکړو چې جمع ده مفرد نه دی، او جمع د خیر دی د خیْر نه ده، خو خیّر او خیر کې تجنیس وو نو ویې ویل چې بالتشدید، خیّر، اوس دا خبره چې اخیار د خیر بالتخفیف لپاره جمع ولې نه ده؟ نو وائي ځکه چې خیر شي نو خیر اسم تفضیل دی، او اسم تفضیل نه جمع تکسیر نه شي

راتللی، او اظهار خو جمع تکسیر دی او د اسم تفضیل نه خو جمع مذکر سالم راځي او تکسیر نه شي راتللی، نو خیر بالتشدید صفت مشبه شو، او د صفت مشبه نه جمع تکسیر راتلی شي، دویمه وجه دا ده چې که اخیار جمع د خیر بالتخفیف سره شي، نو دا د اسم تفضیل صیغه شوه مخفف شو د اخیر مِن نه، نو د دې مفضل علیه یا به صحابه وائي یا به غیر وائي نو که صحابه وائي نو بیا خیریت د شئ په خپل نفس باندې راغلو او که خیریت په غیر وائي نو بیا نفس خیریت په غیر کې هم موجود دی، نو نفس خیریت کې صحابه او غیر شریك شو، او صحابه ؤ سره خیریت د غیر په نفس خیریت کې جائز نه دی، نو خیر بالتخفیف نه کیدو، دا دویمه وجه شوه، دریمه وجه دا ده، چې تخفیف سره شي نو هغه جمال ظاهري ته وائي چې ظاهري په حُلیه په لباس کې غوره وي، او خیر چې بالتشدید شي نو هغه جمال باطني ته وائي، باطن یې پاك وي تقوی وي، زُهد وي، او کمال باطني تقوی کې دی ظاهري کې نه دی، د دې د وجې نه خیر بالتشدید ځکه شو، او بالتشدید سره باطني کمال او تقوی ته وائي ځکه زیادة د حروفو دلالت په زیادة د معنی باندې کوي.

قول الماتن: اما بعد: ماتن وویل اما بعد. شارح ورسره لګوي **وهو من الظروف الزمانیه**، د دې ځای نه تر وروستو فلما پورې څو اغراض دي، یو غرض د شارح یو حالت د بَعدُ بیانوي د احوالو ثلاثه ؤ نه ځکه د بَعدُ لپاره درې حالات دي، یو دا چې د دې مضاف الیه په لفظ کې ذکر شي نو دا معرب دی، دویم حالت دا دی چې د دې مضاف الیه حذف شي نسیا منسیا، د لفظ نه هم او د نیت نه هم نو بیا دا معرب دی، لکه **فصاغ لي الشراب وکنت قبلاً** دریم حالت دا دی چې د دې مضاف الیه دي لفظ نه حذف شي او نیت کې مراد وي، په دغه وخت کې دی مبني بر ضمه به وي، نو شارح دا دریم حالت بیانوي، چې دلته کې د دې مضاف الیه د لفظ نه غورځیدلی دی او نیت کې مراد دی، نو دا مبني شو، اوس نفسِ بناء ولې راغله؟ وائي ځکه چې دي د حرف سره مشابه شو په احتیاجي کې لکه حرف محتاج دی ضم د ضمیمي ته نو دي محتاج دی مضاف الیه معنوي ته، او حرکت باندې بنا ولې شو ځکه بنا عارضي راغله، مبني الاصل نه دی، او په ضمه باندې مبني ولې شو، ځکه وائي دا حرکت قویه دی، نو دي به جبیره وګرځي، لپاره د هغه ما فات په حذف د مضاف الیه باندې، یو غرض د شارح دا شو، دې غرض ته یې اشاره وکړه په دې تکي سره چې **هو من الظروف الزمانیة المبنیة** چې دا د حروف زمانیه ؤ مبنیه ؤ نه، **المنقطعة عن الاضافة**، دا صفت تعلیلیه دی، د دې مبني لپاره، یعني مبني ولې دی؟ ځکه چې منقطع دی د اضافت نه، لفظ کې اضافت نه منقطع شو اګر چې نیت کې مراد دی، دویم غرض د شارح تعیین د هغه مضاف الیه معنوي کوي، چې یا هلکه هغه څه دی، هغې ته اشاره وکړه په **بعد الحمد والصلوة** سره، دریم غرض د شارح څه دی؟ بیان د عامل د بَعدُ کوي، چې یا هلکه د بعد عامل څه دی؟ ځکه چې دا د ظروفو زمانیه ؤ نه شو، نو د ده عامل څوك دی ځکه دا عامل غواړي هغې ته یې اشاره وکړه **والعامل فیه اما** وایي عامل په دې کې اما دی، نو شبهه

راغله چې يا هلکه اما خو چيرته په عواملو کې نه دی شمار شوی، نو اما ته عامل ويل صحيح شو که خطاء؟ ځکه دا په حروف معانيو عاملو کې شمار شوی دی؟ ځکه اما خو يو تفصيليه راځي او بله اما استينافيه راځي، هغه خو عامل نه وي، نو دي جواب وکړو **لنيابتها عن الفعل** يعنې يا هلکه اما عامل اصالةً نه دی خو نيابةً کيدای شي، ويل ځکه دا نائب دی د فعل نه، ځلورم غرض د شارح دهغه فعل محذوفه اظهار ته اشاره کوي، يعنې اصل د دې کلام ته اشاره کوي، چې اما عامل نيابةً شو، نو اصل کلام څنګه شو، نو هغې ته يې اشاره وکړه **مهما يكن من شئ بعد الحمد والصلوة** هر يو وقت د اوقاتو نه چې موجود شي پس د حمد او صلوة نه نو علم البلاغة او توابع اجل او ادق به وي، او يو شی د اشياءُ نه خو بعد الحمدوالصلوة موجود دی که بل څه نه وي نو ذات د الله خو موجود دی کنه، نو د علم البلاغة او توابع اجل او ادق کيدل هم يقيني شو، پنځم غرض د شارح ترکيب کوي د اصل، هغې ته يې اشاره وکړه. **ومهما ههنا** ههنا کې يې اشاره وکړه چې هر ځای کې نه کله مهما ظرف معمول واقع کيږي مبتدا نه شي واقع کيدی لکه: **وقالوا مهما تاتنا به من اية لتسحرنا** نو دلته ظرف دی مبتداء نه ده، نو وائي چې مهما دلته کې مبتداء دی، **والاسمية لازمة للمبتداء** او اسميت لازم دی د مبتداء سره، ځکه مبتداء څه ته وائي؟ هو الاسم المجرد عن العوامل، نو اسميت لازم شو، **ويكن شرط** او يکن فعل شرط دی په معنی يوجد سره، **والفاء لازمة له**، او فاء لازم وي د جواب د شرط سره، له: کې حذف د مضاف دی ای لجوابه، يا هلکه کله کله د فاء په ځای خو اذا مفاجاتيه راځي، لکه **اذا هم يقنطون** کې، جواب يې وکړو چې **غالبا**، ځکه غالب فاء لازم دی او کله کله د هغه فاء په ځای په اذا: باندې اکتفاء اوشي، نو فاء ته بيا ضرورت نشته دی، نو ترکيب يې وکړو.

شپږم غرض د شارح سراو لم وائي لپاره د زيادت د بَعدُ پس د اما نه، چې يا هلکه دا بَعدُ يې دا اما نه پس ولې ذکر کړو ديته څه حاجت وو، نو ديته يې اشاره وکړه په **فحين تضمنت اما**، سراولم وائي دا دی چې کله چې متضمن شو اما، يعنې ونيول دی اما په ضمن کې معنی د ابتداء لره، اما متضمن شوه او معنی د ابتداء متضمن شوه، **والشرط**، او دارنګه دې ونيول په ځان کې ضمن کې معنی د شرط هم، نو بيا اما متضمن او معنی د شرط متضمن شوه، نو د دې تضمن د وجې نه **لزمتها الفاء** دا ولګوئ د **حين تضمنت اما معنى الشرط** سره ځکه د شرط سره فاء لازم وي، او **ولصوق الاسم** ولګوئ، د **تضمنت اما معنى الابتداء** سره، يعنې چې کله دا اما متضمَن شوه معنی د ابتداء لره نو لازم شوددی سره لصوق د اسم، دا لصوق يې ولې وويل؟ ځکه عين اسم خو مونږه اما ته ويلی نه شو، ځکه اما خو د مهما په ځای قائم شو، نو اما خو حرف دی، نو عين اسم مونږ نه شو ويلی، مونږ د اما سره لصوق د اسم وکړو چې بعدُ دی، نو مبتداء خوعين اسم وي نو عين اسم خو مونږ نه شو موندلی، ځکه اما خو حرف شو، نو لصوق د اسم ورسره مونږ زيات کړو، **اقامة**، دا مفعول له دی د دې لزمتها: لپاره، لازم شو د دې اما سره فاء او لصوق

د اسم، **اقامة اللازم** لپاره د اقامت د لازم چې فاء او اسمیت دی په مقام د ملزوم کې چې مبتداء د شرط دی، معترض راغی شبه یې وکړه چې یا هلکه اقامة د لازم خو په ځای د ملزوم کې ونه شو، ځکه د مبتداء په ځای خو اما راغله او بعدُ خو د دې نه وروستو راغلو نو اسمیت خو قائم په ځای د مبتداء کې نه شو او د شرط په ځای قائم شوه اما فاء خو وروستو په لما کې راغلې ده، یعنې فلما ویلی شوي ده نو دا خو اقامة د لازم په ځای د ملزوم کې رانغلی، نو ده جواب وکړو چې **ابقاء لاثره في الجملة** وائي هغه اثر دملزوم پاتی شو چه هغه اسمیت او فآ دی هغه پاتی شو او اقامت حقیقیي نشته دی۔ شبه: یا هلکه اثر خو هم پاتې نه شو کنه، اثر خو به هله وو چې دغه اسمیت د مهما په ځای راغلی وی، او دغه فاء د یکنْ په ځای راغلی وی، نو ویې ویل: چې **في الجملة** په دې یې جواب وکړو دا في الجملة اقامة او ابقاء دواړو سره ولګوئ، یعنې دا اقامت دی کې ابقاء ده، دا دواړه في الجملة راغلو، في الجملة دا معنی چې کامل را نغلو خو بونځ د ملزوم په کې راغلو.

قول الماتن: فلما: اوس لما دري قسمه دی، یو لما په معنی د الاسره راځي لکه **ان كل نفس لما عليها حافظ.** دویم: لما جازم للمضارع راځي لکه کلا لما یقض ما امره، دریم: لما په معنی د اذا شرطیه راځي، او ظرف راځي، نو اوس پته ونه لګیده چې په دې فلما کې دا لما د څه لپاره شوه؟ ځکه کې د الا په معنی سره کوي نو هغه مخکې نفي غواړي او دلته مخکې نفي نشته دی، او جازم للمضارع کوي نو هغه مضارع غواړي او دلته کې. کان خو ماضي ده مضارع خو نه ده، نو شارح جواب وکړو، چې **هو ظرف** چې دا ظرف دی، شبه یا هلکه لما خو حقیقةً ظرف نه دی ځکه د ظروفو نه خو چیرته لما نه دی شمار شوی، نو ده وویل نه په معنی کې ظرف دی **بمعنى اذا** دی، ظرف معنوي دی په معنی د اذا سره دی او لفظي ظرف نه دی، شبه یا هلکه ظروف خو دوه قسمه دي، یو هغه دی چې هغه ظرف محضه وي لکه مذ منذ شو او یو هغه دي چې هغه متضمن وي شرط لره، نو دغه لما په معنی د اذا سره شو، نو اوس ظرف متضمن شرط لره دی او که شرط محضه دی، ویل نه نه، **يستعمل استعمال الشرط**، دا استعمالیږي په شان د استعمال د شرط، یا متضمن شرط لره کیږي، شبه یا هلکه مونږ ته به قرینه څه وي؟ چې دلته کې لما ظرف دی او دلته کې جازم للمضارع دی، او دلته کې په معنی د الاسره دی، وائي قرینه به دا وي چې **يليه فعل ماض لفظاً او معناً** یعنې چې نږدې دي سره وروستو د دې نه فعل ماضي لفظاً یا معناً راغلی وو، نو پوهه شه چې دلته کښ لما په معنی د اذا سره دی، او متضمن ده معنی د شرط لره، معنوي مضارع دیته وائي چې مضارع باندې لم داخل شي نو هغه په معنی د ماضي معنوي سره وي، صرف بهائي کې تاسو ویلي دي، نو دلته کې کان راغلو او دا ماضي ده لفظاً نو پته ولګیده چې دلته کې لما په معنی اذا سره شرطیه ده.

قول الماتن: كان علم البلاغة: تعیین مصداقي د علم بلاغت کوي چې بلاغت څه شی دی او څو قسمه

دی۔نو وي ویل هوالمعانی والبیان وتوابعها شارح ورسره مخکې علم راوویستو دې سره یې اشاره وکړه چې وتوابعها په جر سره عطف دی، په والبلاغة باندې، هغې نه مخکې علمُ وو، نو دینه مخکې هم علمُ مراد شو، د توابع د بلاغت تعیین مصداقي کوي، **وهو البدیع**: چې بدیع دی، څه دی؟ **من اجل العلوم قدراً وادقها سراً**: لوی د علومو نه په اعتبار د مرتبې سره او باریك د دې علومو نه په اعتبار د نکاتو سره،اوس **اذبه** سره دلیل وائي د ادقها سراً لپاره، لف نشر غیر مرتب دی، او لف نشر غیر مرتب یې څکه وکړو لپاره دقرب د دلیل د مدعی سره، څکه ادقها سراً دعوی قریبه وه نو د دې دلیل یی هم ورسره نزدې ذکر کړو، اوس ماتن وویل چې **اذبه** نو شارح تعیین د مرجع کوي چې ای بعلم البلاغة وتوابعها. دویم دفع د اعتراض یې وکړه چې ضمیر دمفرد دی او بلاغت او توابع خو دوه دي، راجع او مرجع کې مطابقت رانغلی؟ نو جواب یې وکړو، چې دا به ضمیر علم ته راجع دی، او دا البلاغة او دا توابعها دا قید د مرجع دی، او قید د مرجع د مرجع نه خارج وی، اوس بهر نه معترض شبه وکړه چې **اذبه** ظرف دی د دې متعلق څوك دی؟ نو تاسو جواب وکړئ بهر نه چې دا متعلق دی وروستو **یعرف** پورې نو ظرف لغوي شو، نو بیا بهر نه شبه راغله چې دا وروستو متعلق شو **یعرف** پورې نو دا معمول د یعرف شو نو معمول مؤخر وي د عامل نه نو دا مقدم ولې شو؟ نو ده جواب وکړو چې **لا بغیره** چې یا هلکه تقدیم دلته کې د حصر او د قصر لپاره شوی دی یعنې خاص په دي علم البلاغة سره **یعرف دقائق العربیة واسرارها** دی، معترض شبه وکړه چې حصر خو نه صحیح کیږي، څکه کله دقائق العربیة او اسرار سړی په سلیقه سره معلوموي نه په علم البلاغة سره لکه عرب العرباء شو، نو حصر په دې پورې صحیح شو نو ده جواب وکړو **من العلوم** یا هلکه حصر اضافي دی حصر حقیقي نه دی، او سلیقه او ذوق د علومو نه نه دی، یعنې زه په اعتبار سره نورو علومو ته وایم چې خاص په دي علم سره دقائق او اسرار معلومیږي، نه په بل علم سره معترض شبه وکړه چې یا هلکه علومو نه کل علوم مراد شو، ویل نه نه، علوم نه مراد علوم ادبیه مراد دي، **کاللغة والنحو والصرف**، یعرف دقائق العربیة واسرارها، دا صغری شوه، او هر هغه شی چې دغه رنګه وي نو ادق سراً وي، نو دا نتیجه راووتله چې **فیکون من ادق العلوم سراً**.

قول الماتن: ویکشف عن وجوه الاعجاز في نظم القران استارها: شارح ورسره لګوي، چې **ای به یعرف** په دې کې یې اشاره وکړه چې دا یکشف عطف دی په یعرف باندې، د هغې نه مخکې به، او، اذا وو، نو دلته هم شارح اذا او به راوویستل، څکه چې ما قبل د معطوف علیه نه کالمعاد وي په معطوف کې یعرف سره یې ترجمه د یکشف وکړه، اشاره یې وکړه چې یکشف په معنی د یعرف سره دی، او دا یې چې وویل چې **ان القران معجز** نو دا یې حاصل المعنی ته اشاره وکړه، چې: **عن وجوه الاعجاز في نظم القران استارها** د دې تول عبارت حاصل المعنی دا ده چې قران معجز دی، **لکونه**: دا دلیل وائي لپاره د اعجاز القران چې

قران معجز دی، عاجز کوونکی دی خصم او مقابل لره د اتیان نه په مثل خپل باندې، څکه چې **لكونه في اعلى مراتب البلاغة**: د وجې د کیدو د قران نه په اعلی مراتبو د بلاغت باندې، دا صغری شوه، او هر هغه کلام چې شان یې دارنګه وي، کبری مطوی ده نو هغه اجل العلوم وي، نو نتیجه دا راغله چې قران معجز شو، یا دا ووایئ چې هر هغه کلام چې دارنګه وی نو هغه اجل العلوم وي، نو قران اجل العلوم شو، نو د اوّل دعوی لپاره دلیل شو، اوس هر چې دی دلیل د صغری چې قران په اعلی مراتبو د بلاغت باندې ولې دی؟ نو دلیل د صغری دا چې **لاشتماله على الدقائق والاسرار الخارجة عن طوق البشر وهذا وسيلة الى تصديق النبي عليه السلام** او دا معرفت د اعجاز القران وسیله ده تصدیق د نبي علیه السلام ته، **وهو وسيلة الى الفوز بجميع السعادات** او دغه تصدیق النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وسیلة ده د کامیابی لپاره په ټولو کامیابیو باندې دنیوي او اخروي لپاره، او کوم شی چې هغه وسیله وي د ټولوسعاداتو د نیویو او اخرویو لپاره نو هغه اجل العلوم وي، نو فیکون من اجل العلوم، ولې؟ لکون معلومه وغایته من اجل المعلومات والغایات دا لکون معلومه...الخ دلیل د کبری شو، څکه معلوم د دې اعجاز القران شو، څکه چې معلوم د دې او غایة د دې، غایه د دې سعادت دنیوي او اخروي، نو دا من اجل المعلومات والغایات شو، اوس شارح په دې متن کې تشبیه ذکر کوي په دوو طریقو سره، تحقیق المقام کوي په بیان د دوه طریقو د تشبیه سره په متن کې، اوس دا اول طریقه د تشبیه شارح مخکې کړه په دویمي باندې، سره د دې نه چې په اوله طریقه کې دوه استعاري راځي، او په دویمه طریقه کې دري راځي، او کوم کلام کې چې څومره استعاري زیاتې وي نو دومره په هغې کې لذت زیات وي، نو دا دویمه بنه ده نو په کار وه چې دا یې مقدم کړی وی نو شارح دا دویمه ولې مقدم کړه؟ **جواب**: دا دی چې شارح دیته نظر کړی دی چې دې اوله طریقه کې دوه استعاري راغلي نو دا بمنزلة المفرد ده، او په دویمه طریقه کې دري استعاري دي، نو هغه بمنزلة المرکب شوه او قانون دا دی چې مفرد مقدم وي په مرکب باندې طبعاً نو بمنزلة المفرد یې مقدم ذکر کړه د بمنزلة المرکب نه وضعاً د دې لپاره چې وضع د طبعي سره موافق شي، نو اول وائي: **وتشبيه وجوه الاعجاز بالاشياء المحتجبة تحت الاستار**: تشبیه ورکول پټ په نفس کې د وجوه الاعجاز د هغه اشیاء سره چې هغه پټ کړی شوی وي لاندې د رومال نه لکه پیاله په مجمه کې کیده دپاسه پرې کپړې وغورځوه نو وجوه الاعجاز مشبه شوه او اشیاء محتجبة تحت الاستار مشبه به شوه، دا پټ په ذهن کې دیته استعاره بالکنایة وائي، څکه د ماتن په رایې باندې شارح تللی دی، اوس لازم د مشبه به چې اشیاء محتجبة دي **استاروو** نو **واثبات الاستار لها** ای للوجوه تخییلیة، شبه: یا هلکه نو وجوه بیا څه شی شو، نو وې ویل **وذكر الوجوه ايهام** د ذکر د وجوهو نه مراد ایهام دی، ایهام هغه لفظ چې هغه ذي المعنین وي، یو معنی قریب وي او بله معنی بعید، متکلم اراده کړي وي معنی بعید او مخاطب پرې ګمان د معنی قریبي کوي، نو اوس دلته کې وجوه ذي المعنین دی، یو معنی چې عضو

مخصوص مخ او معنی بعید چې طرق، نو دلته کې ماتن اراده کړي ده معنی بعید چې طرق دی او مخاطب پرې ګمان د معنی قریبي کوي، نو طرق د اعجاز مراد دی.

دویمه طریقه ذکر کوي **اوتشبیه الاعجاز بالصور الحسنة** وجوه پریږده، صرف تشبیه د اعجاز اوکه په صور حسنو پورې، یعني یو جینی ښایسته سره، تشبیه د اعجاز ورسره وکړه په جامع د میلان کې، نو دا استعارة بالکنایة شوه، او لازم د صورت حسنه سره وجه وي، **واثبات الوجوه له تخیلیة** شو، ځکه لازم د مشبه به یې ثابت کړه مشبه ته ملائم د هغه صور حسنه سره استار دی چې هغې پرې پټوي ځان دننه په کور کې یا ځادر کې نو اثبات د دې یې اعجاز ته وکړو نو دا ترشیح شو، **وذکر الاستار ترشیح**.

قوله: ونظم القران تالیف کلماته مترتبة المعاني متناسقة الدلالات علی حسب ما یقتضیه العقل: ونظم القران، اوس د دې نه یو غرض د شارح دفع د اعتراض کوي، اعتراض دا وارد شو چې یا هلکه د نظم اضافت قران ته نه صحیح کیږي ځکه قران په معنی مصدري سره په معنی د قراءت سره دی، لکه په دې قول د الله تعالی کې: **فاذا قرانه فاتبع قرانه ای فاتبع قراءته**، نو نظم خو د قرات لپاره نه وي نظم خو د مقروؤ لپاره وي، نو ده جواب وکړو چې **تالیف کلماته** چې یا هلکه قران نه مراد تالیف د کلماتو د قران دی، او تالیف د کلماتو مقرؤ دی نو قران په معنی د مقرؤ سره شو او د مقرؤ لپاره نظم وي نو اضافت صحیح شو، یو غرض دا شو- دویم غرض د شارح دا دی چې نظم په ډیرو معانیو سره راځي، نظم مقابل د نثر هم راځي، او نظم ادخال د لؤلؤ في السلك ته هم وائي او نظم په معنی د تالیف سره هم راځي یعني تالیف د کلماتو سره، نو دلته اوله معنی نه صحیح کیږي ځکه بیا معنی دا شوه چې قران ټول شعر دی، او دا صحیح نه ده دویمه معنی هم نه صحیح کیږي ځکه د هغې اضافت قران ته نه صحیح کیږي، هغه خو لؤلؤ ته کیږي، نو ده دا دریم معنی واخیسته، نو دویم غرض د شارح دا شو چې تعیین د ما هو المراد کوي چې دا دریمه معنی مراد شوه. دریم غرض د شارح دفع د اعتراض کوي چې یا هلکه تا **في نظم القران** وویل نو في لفظ القران دي ولې نه ویل؟ ځکه لفظ کې توهم د خلاف هم نه وو، یعني د نورو معانیو احتمال په کې نه وو، نو شارح جواب کوي په **ونظم القران** سره چې لفظ په لغت کې رمی ته وائي او په اصطلاح کې **ما یتلفظ به الانسان** ته وائي، نو که اوس ته معنی لغوي سره اضافت د لفظ قران ته کوي نو هغې کې سوء ادب دی، یعني په رمي د قران کې او که معنی ثاني اصطلاحي مراد کوي چې ما یتلفظ به الانسان دی، نو هغې کې ترتب او تناسق نه راځي، رعایت په کې د دې نه راځي، په خلاف د نظم ځکه نظم هغه تالیف ته وائي چې هغې کې د ترتیب او تناسق لحاظ وي، نو د دې وجې نه نظم یې وویل اولفظ یې ونه ویل، ځکه ما یتلفظ به الانسان خو توالي في النطق ته وائي او ضم د بعضو بعضو ته کیف ما اتفق، نو هغې کې تناسق او ترتب نشته دی، او نظم کې دا تناسق اوترتب شته دی، او څلورم

غرض دا چې تعريف د نظم کوي، نو وائي[۱] ونظم القران تاليف کلماته نظم د قران وائي چې دا جمع کول د کلماتو د قران دی، داسې کلمات چې مترتبة المعاني چې مرتب وي معاني د هغې، معاني نه مراد مقتضيات د احوالو دي، معاني نه مراد معنی د لفظ مراد نه ده چې هغه تقديم دی تاخير دی، تاکيد دی حذف دی ذکر دی، او ترتب نه مراد چې دغه مقتضيات د احوالو مطابق به وي د حال د مخاطب سره، نو که اوس حال د مخاطب دا وي، چې هغه خالي الذهن وي نو کلام خالي د تاکيد نه راوړه، نو دا ترتيب راغلو، او که حال د مخاطب انکار وو، نو تاکيد ذکر کوو، که حال د حذف د مسندالیه وو نو حذف کوه که ذکر وو، نو ذکر کوه يعنې چې دغه مقتضيات د احوالو مترتب وي په احوالو باندې، ځکه چې مخاطب کې خلو د ذهن راغله نو دي باندې خلو د کلام د تاکيد نه مرتب کيږي، مخاطب حال کې انکار راغلو نو په دي باندې تاکيد مرتب کيږي، مخاطب کې حال د حذف راغلو نو دې باندې مرتب حذف د مسندالیه شو، په کلام کې مخاطب حال د ذکر راغلو نو په دې باندې مرتب ذکر د مسندالیه شو په کلام کې، دويم تکی يې ذکر کړو **متناسبة الدلالات** يعنې متناسبة الدلالات وي، دلالتو نه مراد دلالت مطابقي، تضمني التزامي دی، که مخاطب دلالت مطابقتي غوښتو او مخاطب غبي وو نو د هغه لپاره لفظ داسې ذکر کوه چې هغه دال وي په دلالت مطابقي سره، او که مخاطب ذکي وو د هغه حال دلالت تضمني او التزامي غوښتو نو هغه ذکر کوه، ليکن **على حسب ما يقتضيه العقل** حسبُ په معنی قدرُ سره او په مايقتضيه کې ما مصدريه ده، معنی دا په قدر د غوښتلو د عقل سره، چې عقل څنګه غواړي هغه شاتې به ته ذکر کوي، نو اوس مثلاً چې مخاطب خالي الذهن وي، نو عقل غواړي چې کلام ذکر کړی شي خالي د تاکيد نه، او چې مخاطب خالي الذهن وي او ته کلام مؤکد ذکر کړي نو دا خلاف د عقل نه شو **لا توالیها** دا په نظم الحروف او نظم الکلمات کې فرق کوي، نظم الکلام او نظم الحروف کې فرق کوي، نظم الکلمات ديته وائي چې دا مخکې تير شو، او نظم الحروف وائي توالي في النطق ضم د بعضو بعضو ته، لکه زيد کې ز سره متصل يا او ياء سره متصل دال دی، کيف ما اتفق څه د حال رعايت په کې نشته دی، يعنې (ترجمه) نه راتلل پرله پسې د دې کلماتو په نُطق کې د پرله پسې څه معنی ای **وضم بعضها الى بعض كيف ما اتفق** يعنې څنګه چې د دې کلماتو په نُطق کې د پرله پسې څه معنی ای **وضم بعضها الى بعض كيف ما اتفق** يعنې څنګه چې د دې ضم اتفاق راغلو يا څنګه چې نطق کې اتفاق وشي، اتفق کې ضمير يا نطق ته راجع دی، يا ضم ته، دواړو ته صحيح دی، ځکه ديته **لا توالیها...الخ** نظم الحروف وائي او نظم الکلمات، الکلام ورته نه وائي، لکه اوس د ضرب په ځای باندې تا ربَضَ وويل نو دا بلاغت سره څه مخل نه ده، معنی کې تهيک ده

۱۔ تنبيه: دا اول غرض دی، دارنګه نورو اغراضو ته نمبرې بدلې کړئ، نو اول به دويم او دويم به دريم شي...الخ.
محترم استاد داسې ويلي وو نو ما داسې وليکل. مرتب.

فرق راځي نو بلاغت ته څه مخل او نقصان نه رسوي، دواړه بليغ دي خوکه خالي الذهن ته تا کلام مؤکد ذکر کړو نو دا مخل بالبلاغة دی، يا منکر لپاره تا کلام خالي د تاکيد نه ذکر کړو نو دا مخل بالبلاغة دی.

قول الماتن: وكان القسم الثالث: غرض د ماتن په دي عبارت سره تمهيد ايږدي د تلخيص جوړولو لپاره د مفتاح العلوم نه ـ نو وائي **وكان القسم الثالث من مفتاح العلوم الذي صنفه الفاضل العلامه** : فاضل ترجمه: فارغ التحصيل، كثير العلم كنيه د هغه ابو يعقوب وه، اسم محضه يوسف سكاكي وو، قول الشارح، **تغمده الله بغفرانه**، غرض د شارح په دي باندې دعا کوي مصنف ته، ترجمه: پټ دي کړي الله ده لره په پټوالي خپل سره، اوس دلته شارح تشبيه ورکړه پټه په ذهن کې د علامه د توري سره په جامع د حدت کې تيزوالی کې لکه څنګه چې تُوره تيزه وي تيره وي هر شی پريکوي، نو دغه رنګه د علامه ذهن هم تيره وو، هرې مسئلې ته نتووتلو، يعنې هره مسئله يې حل کولی شوه ـ نو دا استعاره مکنيه شوه، بيا لازم د تُوري سره غمد وي، دَ غَمد نه دی، غمد کسوړي د توري ته وائي هغه غلاف ته وائي چې توره په کې دننه کيږدي ـ نو غمد د توري سره لازم وي، نو لازم د مشبه به يې ثابت کړو مشبه ته دا استعاره تخيليه شوه، او توري سره ملائم په وخت د عدم حرب او د جنګ کې ستر وي چې دننه په غمد کې پرته وي، چې زنګ ونه نيسي، دوړې پرې رانه شي، نو هغه يې ثابت کړو مشبه ته نو دا استعاره ترشيحيه شوه، غفران کې اوس شبهه راغله چې يا هلکه تغمد هم ستر ته وائي او غفران هم ستر ته وائي د غَفَر نه ماخوذ دی نو دا خو سببيت د شئ خپل نفس ته راغلو با په بغفرانه کې سببيت لپاره ده، او شئ سبب دخپل نفس نه شي کيدی، نو تاسو جواب وکړئ چې تغمد نه مراد ستر دی خو عام دی چې په فضل الهي سره وي او که په توبي سره وي، او د غفران نه مراد ستر دی خو محض په فضل د الله سره بې د توبې نه، نو دا سببيت د خاص شو لپاره د عام اودا جائز دی ـ يعنې پرده دې وغورځوي الله په ده باندې، پټ دې کړي الله ګناهونه د ده چې په توبي سره وي او که نه محض په خپل فضل او کرم سره وي اګر که ده توبه نه وی ويستلی.

قول الماتن: اعظم ما صنف فيه.....: ای في ... ای سره غرض د شارح تعيين د مرجع کوي ای في علم البلاغة وتوابعها دويم غرض دفعه د اعتراض کوي چې يا هلکه فيه کې ضمير خو علم البلاغة او توابع ته راجع دی، (**البلاغة والتوابع**) او هغه دوه دي او فيه ضمير د مفرد مذکر دی نو راجع او مرجع کې مطابقت رانغلو، نو شارح جواب وکړو چې فيه ضمير علم ته راجع دی او د البلاغة او وتوابع دا قيود د دې مرجع دی او قيود د مرجع خارج وي د مرجع نه.

من الكتب المشهورة: قال الشارح: **بيان**، بيان سره غرض د شارح تعيين مصداقي د **من** کوي، چې يا هلکه من بياني هم راځي ابتدائيه هم راځي او تبعيضيه هم راځي، نو دي **من الكتب المشهورة** کې دا من څه شی

دی؟ نو جواب تعیین مصداقي کوي د مِنْ چې دا مِنْ بیانیه دی، د چا لپاره بیان دی؟ نو وائي **لما صنف** لپاره، یعني هغه ماصنف څه وو نو وائي هغه کتب مشهوره وو ،نفعاً، **تمیز** سره غرض د شارح تعیین د نصب کوي چې نفعاً منصوب دی او منصوبات خو دوولس قسمه دي نو دا نصب بنا بر څه شو؟ نو وائي چې **تمیز من اعظم** چې دا تمیز دی، دا تمیز دی د هغه نسبت د اعظم نه هغه ضمیر ته چې راجع دی قسم ثالث ته، چې کوم تمیز محول عن الفاعل وي نو هغه تمیز په حقیقت کې فاعل وي، او هغه فاعل مضاف الیه د دې وي لکه ته وائي طاب زید نفساً نو دا نفساً تمیز د دې نسبت د دې فعل نه دی خپل فاعل ته د (طاب نسبت زید ته) نو حقیقت کې دا نفساً فاعل دی، او زید مضاف الیه دی، نو هلته مونږ دا تقدیر را وباسو چې طاب نفس زید نو دلته کې هم هماغه قانون دی چې دا نفعاً په حقیقت کې فاعل دی او هغه ضمیر د اعظم چې راجع دی قسم ثالث ته هغه مضاف الیه د دې نفعاً دی، نو تقدیر اعظم نفعُه شو، یعني د دې قسم ثالث نفعه اعظم وه د **ما صنف فیه** نه، اوس **لکونه** سره ماتن دلائل ثلاثه وائي د اعظم نفعاً لپاره، وقال الشارح **ای القسم الثالث** تعیین د مرجع کوي.

قال الماتن **احسنها**، **ای احسن الکتب** دې سره شارح تعیین د مرجع کوي، **ترتیباً**: د حیثیت د ترتیب نه، د ترتیب تعریف کوي شارح چې ترتیب څه ته وائي لغة واصطلاحاً؟ چې هغه وضع کل شئ في مرتبته ته وائي، ترجمه وضع کول د هر شي په مرتبه د هر شي کې ـ اوس په دې باندې هغه مشهوره شبه راغله، چې په في مرتبته کې ضمیر به یا ته راجع کوي **کل** ته یا به **شئ** ته، بل څه خو نشته، که کل ته راجع کوي نو معنی دا شوه چې ترتیب وضع د هر شي ده په هر یو کې، نو وضع د شئ خو په خپله مرتبه کې وي او وضع د شئ په مرتبه د هر شي کې نه شي کیدای، او که شئ ته راجع کوي نو هغه خو نکره ده نو معنی داشوه، چې ترتیب وضع د هر شئ دی په مرتبه د شئ ما کې، او ترتیب وضع د هر شي په مرتبه د شئ ما کې نه دې ـ په مرتبه د خپل نفس کې دی ـ نو تاسو په اختیار د شق اول سره جواب وکړئ چې مرتبته کې ضمیر کل ته راجع دی خو دا کل په معنی کې جمع دی او د مرتبته ضمیر چې هم کل ته راجع شو نو جمع شوه، او جمع چې مقابل د جمع راشي نو هلته کې تقسیم د احادو په اُحادو باندې کیږي، وضع د هر شئ دی معنی دا چې هر شی په خپله مرتبه کې دی، نو دا د قبیلې د رکبوا دوابهم لبسوا ثیابهم نه شو، یا ورته ووایي چې في مرتبته کې ضمیر راجع دی شئ ته، خو دا ارجاع د ضمیر مقدم ده په دخول د کل باندې ترجمه کې اګر چې ذکر کې کل مخکې داخل دی، نو تقدیر دا شو چې ترتیب وضع د هر شئ ده په مرتبه خپله کې خو دا قانون په هر شئ کې دی یعني وضع د شئ ده په مرتبه خپله کې د هر شئ، نو دخول د کل مو د ارجاع د ضمیر نه وروستو معتبر کړو.

قال الماتن: وقال الشارح لکونه **ای ولکونه انتهی تحریراً**، **هو تهذیب** سره شارح د تحریر تعریف کوي او دویم غرض د شارح دفع د اعتراض کوي چې یا هلکه تحریر خو ترمیم ته وائي لیکلو ته او لیکل

دقسم ثالث او د کتب مشهور وو خو یو شانتي دی چې د یو کاتب لاس نه قسم ثالث هم ولیکلی شي او کتب مشهوره هم ولیکلی شی نو بیا قسم ثالث څنګه **اتمها تحریرا** شو؟ نو ده جواب وکړو چې تحریر معنی لغوي سره نه دی ـ تحریر معنی اصطلاحي دی، نو وائي: **وهو تهذیب الکلام** پاکول د کلام دی د حشو او د تطویل نه نو معنی دا چې قسم ثالث کې حشو او تطویل نه وو او کتب مشهوره ؤ کې وو.

دریم دلیل وائي: **واکثرها للاصول جمعاً** قواعد او ضوابطو لپاره، کوم قواعد اوضوابط چې په قسم ثالث کې وو هغه په کتب مشهورؤ کې نه وو، شبه: یا هلکه للاصول جارمجرور دي، متعلق غواړي د دې متعلق څوک دی، او دا ظرف لغوي دی که مستقر دی؟ نو شارح جواب وکړو، هو متعلق بمحذوف چې دا للاصول محذوف پورې متعلق دی نو ظرف مستقر شو ـ شبه: راغله چې یا هلکه محذوف باندې قرینه څه ده؟ وائي **یفسره قوله جمعاً**، چې دا وروستي جمعاً پرې قرینه ده، اوس **لان معمول المصدر** مخکې متن کې دوه دعوې شوې، ۱ یو دعوی دا چې دا للاصول متعلق دی په جمعاً محذوف پورې، دا دعوی ایجابي شوه، او دا شارح په خپله ذکر کړه، دویمه دعوی دا چې دا للاصول متعلق نه دی په دي جمعاً مذکور پورې، دا دعوی سلبي شوه، دا شارح نه ده ذکر کړي، نو دا **لان معمول المصدر** دا دلیل دی دعوی سلبي لپاره چې دا للاصول جمعاً مذکور پورې متعلق نه دی **لان معمول المصدر لا یتقدم علیه**، څکه معمول د مصدر، څکه جمعاً مصدر دی ،دا نه مقدم کیږي په مصدر باندې ـ اوس دلیل لپاره دلیل تاسو بهر نه ووایئ، تدقیق بهر نه وکړئ، یعني معمول د مصدر نه مقدم کیږي په مصدر باندې، د دوو وجو نه یو د دې وجې نه چې مصدر ضعیف العمل دی، څکه دا چې عمل کوي نو د مشابهت اشتقاقي د وجې نه عمل کوي، او د مشابهت د حرکاتو او سکناتو د وجې نه عمل کوي، نو دی عمل په معمول متاخره کې کولی شي او په متقدم کې نه شي کولی، یعني سره د ترتیب نه عمل کولی شی بغیر د ترتیب نه عمل نشی کولی ـ دویمه وجه دا ده چه معمول د مصدر نه مقدم کیږی په مصدر باندې څکه چې مصدر په حین د عمل کې مؤول دی په تاویل د انْ مع الفعل سره، نو چې جمعاً عامل شي په **اصول** کې نو په **ان یجمع** سره به یې تاویل وشي، او انْ موصول حرفي دی، په دي معنی سره چې موصول حقیقي اسمي چې په اول د جملې کې راشي نو هغه جمله مؤول په تاویل د مفرد سره ګرځئ، نو هغه جمله جمله نه وي پاتې بلکه هغه یا مسند وي یا مسند الیه شي، نو چې دغسې دغه انْ په صدر د جملې کې شي نو جمله مؤوله کوي په تاویل د مفرد سره نو دا موصول حرفي په دې اعتبار سره دی ـ او تقدیم د صلې په موصول حرفي باندې جائز نه دی نوتقدیم د معمول د صلي په طریق اولی سره جائز نه شو څکه چې د متبوع تقدیم جائز نه شو نو د تابع خو نه شي کیدای، او معمول خو تابع وي د صلې ـ نو دا دوه دلیلین شو نو دعوی سلبي ثابته شوه، چې د دې للاصول تعلق په جمعاً مذکور پورې صحیح نه دی ـ نو دعوی ایجابي خود بخود ثابته شوه چې د دې مذکور پورې متعلق نه شو نو خامخا محذوف به

را اوباسي نو دعوی ایجابي لپاره دلیل ته حاجت نه وو.

والحق سره شارح رد کوي په دې مخکې خبره چې دا ما چې اوس کومه خبره وکړه دا حق نه ده دا هسې مشهور په اقوال القوم کې ده، نو وائي **والحق جواز ذلك** چې حق جواز د تقدیم د معمول د مصدر دی په مصدر باندې. که ته وائي چې مصدر ضعیف العمل دی، دي عمل په معمول متاخره کې کولی شي په متقدمه کې نه شي کولی، نو د هغې نه جواب کوي چې **في الظروف** چې یا هلکه دا قانون په فاعل د مصدر او مفعول به بالذات د مصدر کې دی، او په ظروفو کې که د ده معمول مخکې شي که وروستو شي، دواړو کې دی عمل کولی شي دا ولې؟ ځکه **لانها مما تكفيه** کافي دی د دې لپاره **رائحة من الفعل** او مصدر کې رائحه د فعل شته دی ځکه دی مشابه دی د فعل سره **اشتقاقاً** مشتق منه د فعل دی، نو ظروفو کې ادنی رائحه کافي ده، او دا خو ظروف دي، او ظروف چې کوم ځای کې هم واقع شي نو هغه محل وي. دا د اول دلیل نه جواب وشو. دویم دلیل نه جواب: چې ته وائي چې دا مأوّل دی په تاویل د أنْ مع الفعل سره، نو د هغې نه جواب دا دی چې یا هلکه حکم د مأوّل او د مأوّل به ټولو احکامو کې یو نه وي، مصدر باندې الف لام داخلیدی شي، او تا تاویل وکړه په فعل سره نو بیا پرې الف لام نه داخلیږي، مصدر معرفه او نکره کیدای شي، او چې تا تاویل وکړو په فعل سره نو هغې ته نکره او معرفه نه شي ویلی، مصدر باندې اعراب لفظي جاري کیدای شي، او چې تا ماول کړو په أنْ مع الفعل سره نو په هغې باندې اعراب نه شي جاري کیدای، نو دا رنګه چې کله تاویل نه وي شوی نو تقدیم دي جائز وي او چې تاویل وکړو نو اوس ستا خُله نه خوښیږي دغسې وایه چې **واكثر ان يجمع للاصول** نو تاویل نه وروستو معمول وروستو کوه، او تاویل نه مخکې مقدم د وی، او کومه خبره چې قران کې راشي نو هغه حق وي قران کې راځي ﴿فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ﴾ نو دا معه ظرف دی مقدم شوی دی او متعلق دی په السعي پورې، او السعي مصدر دی، ځکه دلته مقصود د الله سعي معه ده، او بلوغ معه مراد نه دی، ځکه بلوغ معه خو نه دی ځکه ابراهیم علیه السلام په شام کې وو او حضرت اسماعیل علیه السلام په مکه کې وو، نو بلوغ معه نه وو، بلکه السعي معه وو، دارنګه ﴿وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ﴾ نو دا بهما ظرف دی متعلق دی وروستو رافة پورې او رافة مصدر دی او بهما مقدم شوی دی او دغه ولا تاخذکم پورې متعلق نه دی ځکه چې عدم اخذ بهما مراد نه دی، عدم رافة بهما مقصود دی، چې ترس او رحمدلي په دې زاني او زانیي باندې مه کوئ بلکه د الله حد ښه پرې جاري کړئ او د حد په دې جریان کې ترس پرې مه کوئ، سل کوړې یې ووهئ.

قول الماتن: ولكن كان قال الشارح القسم الثالث: دې کې اشاره وکړه تعیین د مرجع ته چې کان کې ضمیر قسم ثالث ته راجع دی، **غير مصون** شارح د غیر مصون تفسیر کوي په ای **غير محفوظ** په دې کې اشاره

کوي تفسیر د غیر مشهور ته په مشهور سره ـ او ماتن وویل چې **عن الحشو** نو شارح وروستو وریسې وویل: **وهو الزائد المستغنی عنه**، دینه غرض د شارح اشاره کوي تفسیر و تعریف د حشو ته، یعنی حشو هغه زائد ته وائي چې بې پرواهي ترینه شوې وي یعنې حاجت ورله نه وي، اوس مستغنی عنه عام دی چې فائده په کې وي او که نه نوي، **والتطویل**: او د تطویل تفسیر شارح وکړو چې: **وهو الزیادة علی اصل المراد بلا فائدة**، اوس سائل سوال وکړو د شارح نه چې یا هلکه دا کوم فرق چې تا وکړو په حشو او تطویل کې او دا کوم تعریفونه چې تا وکړل هغه به کافي وي لپاره د فرق په دي دواړو کي؟ نو شارح جواب وکړو چې نه دا کافي نه دی **وستعرف الفرق بینهما في بحث الاطناب** نو معترض شبه وکړه چې دا دلته چې تا فرق وکړو نو بیا بل فرق ته څه ضرورت دی، نو تاسو وواییځ چې دلته عبارت کې لږ غوندې حذف دی **ای وستعرف الفرق المعتد به بینهما في بحث الاطناب**، اوس دوه خبرې ضروري شوې، ۱ یو دا چې هغه راتلونکی فرق په بحث د اطناب کې هغه څه دی؟

دویمه دا خبره چې دلته دا فرق غیر معتدبه شو او هلته هغه فرق ولې معتدبه دی؟ نو اوس اوله خبره چې بحث د اطناب کې کوم فرق دی، نو هغه دا دی چې حشو وائي هغه زائد ته په مراد باندې خو دا زائد به معین وي او تطویل ویلی شي زاید ته خو لاعلی التعین ته. نوحشو کې هغه زائد متعین وي او تطویل کې متعین نه وي خو یو په کې لاعلی التعین زائد علی المراد وي، لکه اول مثال د حشو، لکه: اعلم علمَ الیوم والامس قبله، نو دلته کې دا قبله حشو غیر مفسده دی، ځکه قبلیت د امس نه معلوم شو، نو دا قبله زائد دی په اصل مراد باندې البته مفسد للمعنی نه دی، او د تطویل مثال لکه، والفی قولها کذبا ومینا، نو کذب هم درغو ته وائي او مین هم درغو ته وائي، نو دې کې لاعلی التعین یو په کې په اصل مراد باندې زائد دی، اوس دویمه خبره، هغه فرق معتدبه شو او دا غیر معتدبه شو، دا ولې؟ نو تاسو وواییځ چې هغه فرق معتدبه ځکه دی، ځکه په هغې باندې نسبت تبائن راغلو، ځکه په حشو کې تعین شرط شو او په تطویل کې تعین شرط نه شو، او بنا په دي فرق باندې دلته چې ذکر دی عموم او خصوص مطلق راغلو ځکه حشو اعم مطلق شو چې فائده په کې وي او که نه وي ـ او د عموم خصوص فرق کامل نه دی، نو د دې وجې نه هغه معتدبه شو او دا غیر معتدبه شو.

والتعقید: او نه وو دا قسم ثالث محفوظ د تعقید نه، معترض شبه وکړه چې یا هلکه تعقید دا خو مصدر د باب تفعیل دی په معنی د ګرانولو سره، نو دا خو صفت د متکلم دی ځکه ګرانول خو متکلم کوي، نو دا ته د قسم ثالث څنګه صفت ګرځوی قسم ثالث خو د کتاب نوم دی، نو هغې کې متکلم تعقید کولی شي؟ نو تا توصیف د یو مبائن وکړو په صفت د مبائن اخر سره، توصیف د قسم ثالث تا وکړو په صفت د متکلم سره، چې قسم ثالث محفوظ نه وو د تعقید نه، یعنې د ګرانولو د متکلم نه، نو ده جواب وکړو چې دلته تعقید مصدر په معنی د اسم مفعول سره، چې: **وهو کون الکلام مغلقاً** نو دا صفت د

قسم ثالث کیدای شي، د مغلقا څه معنی؟ یعني **لایظهر معناه بسهولة** دا تفسیر د مغلقاً دی

قابلاً: یا هلکه قابلاً خو منصوب دی نصب خو په دوولس قسمه دی، دا نصب بنا بر څه شو؟ نو دی راغلو شارح جواب یې وکړو چې **خبر بعد خبر** دا خبر د کان دی پس د بل خبر نه، نو غیر مصون یو خبر شو. **قابلاً**: دویم خبر شو، ای کان، دې سره شارح قاعدې ته اشاره کوي چې ما قبل د معطوف الیه نه کالمعاد في المعطوف وي، نو قابلاً: عطف شو په غیر باندې د هغې نه مخکې کان وو هماغه کان دلته کې را اوباسي ای کان قابلاً د چا لپاره قابل وو، **للاختصار** یا هلکه دا للاختصار به د حشو سره لګي؟ ځکه چې حشو ښکته په لف کې وه، نو دا اوس نشر دی نو دا للاختصار به د حشو سره لګي، نو شارح جواب وکړو چې نه **لما فیه من التطویل** چې دا د تطویل سره لګي، **مفتقراً**: ای محتاجاً، دا شارح تفسیر د غیر مشهور په مشهور سره وکړو **الی الایضاح** یا هلکه ایضاح به د دې حشو سره لګي؟ ویل نه د تعقید سره لګي په لُف کې د اخر سره لګي **لما فیه من التعقید** ـ او **والی التجرید** دا حشو سره لګي، عما فیه من الحشو، نو دا لُف نشرِ غیر مرتب شو، دا لُف نشر غیر مرتب یې د دې لپاره وکړو چې دې کې یې اشاره دیته وکړه چې تطویل په نسبت سره تعقید ته فصیح دی، او تعقید په نسبت سره حشو ته فصیح دی، ځکه تطویل صرف اختصار ته محتاج دی ـ او تعقید بغیر د وضاحت نه پرې هسې نه شي پوهیدی، او حشو بغیر د تجرید نه هسې پرې نه شي پوهیدی ـ بلکه حذف به کوي، نو د مرتبه د شرافت د وجې نه یې لف نشر غیر مرتب وکړو، چې کوره تطویل په نسبت سره تعقید ته قریب الی الفصاحة دی، او تعقید په نسبت سره حشو ته قریب الی الفصاحة دی، او حشو په نسبت سره دي دواړو ته بعید عن الفصاحة دی، نو **الفت**، شبه: یا هلکه الفت په ترکیب کې څه واقع دی؟ نو شارح یې جواب کوي، **لما** ښکته **لما کان علم البلاغة** وو، نو دا د هغې لپاره جواب دی د لما په شرط کې دا قانون دی چې هغه سبب لپاره د جزا وي نو دلته کې هم دا سبب صحیح کیږي، ځکه سببونه دوه شو، ماتن ذکر کړو، یو شرافت د علم البلاغة او دویم عدم محفوظیت د قسم ثالث د حشوي او تطویل او تعقید نه ـ نو دا دواړه سببونه شو د تالیف د مختصر لپاره، **مختصراً** ما مختصر جوړ کړو.

یتضمن ما فیه اوس د دې ځای نه دا صفات د مختصر (تلخیص) ذکر کوي ترجمه هسې مختصر چې دی نیونکی دی هغه شي لره چې دی هغه په قسم ثالث کې معترض شبه وکړه چې یا هلکه مختصر تول مسائل قسم ثالث نیولی دی، نو بیا خو دا مختصر نه شو نو شارح جواب وکړو چې **من القواعد** یعني کوم مسائل کلیه چې د قسم ثالث وو هغه مې په کې راوستي دي، **جمع قاعدة** د قواعدو صیغي تحقیق کوي چې قواعد جمع ده که مفرد دی او چې جمع شو نو مفرد یې قاعد دی که قاعدة ده؟ نو شارح جواب وکړو **جمع**، چې جمع دی او مفرد نه دی، او چې جمع شو نو جمع د قاعدة ده ـ معترض راغلی هغه شبه وکړه چې یا هلکه قواعد خو اساس البیت ته وائي لکه ﴿وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرٰهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ﴾ او ،

قواعد هغه ښځو ته هم وائي، چې د حيض نه مايوسه وي. نو دلته خو دواړه معنى نه صحيح کيږي ځکه معنى به دا شي چې داسې مختصر چې د ه نيولى وو هغه څه چې په دي قسم ثالث کې وو د بنيادونو د ابادۍ نه نو قسم ثالث کې خو بنياد د ابادۍ نه وو يا د هغه ښځو نه چې هغه مايوسه وي د حيض نه، نو دا توهم په قسم ثالث کې نه وو، نو دى راغلى جواب يې وکړو په **وهي حكم كلي** سره، چې يا هلکه دلته کې دقاعدې دا دواړه معاني مراد نه دي، دلته کې معنى ثالث مراد ده، هغه معنى ثالث دا ده چې **وهي حكم كلي** دلته کې حکم کې دوه احتمالين دي، د حکم نه يا محکوم به ده، يعنې دا قاعده محکوم به دى په موضوع کلي باندې د کلي نه مراد موضوع کلي لکه کل فاعل مرفوع. نو اوس دا مرفوع يو محکوم به شو په موضوع کلي باندې چې فاعل دى. نو بنا په دي باندې ينطبق صفت شو د دې کلي لپاره يعنې هسې کلي موضوع چې منطبق وي په خپلو ټولو افرادو باندې. نو موضوع سره تا حکم وکړو په کل فاعل باندې، او دا کل فاعل د تمامي دنيا فاعلانو ته ورغلى دى، شامل دى او د دې نه يو فرد د افرادو د فاعل پاتې نه دى نو **على جميع جزياته** شو دويم احتمال دا دى چې د حکم نه قضيه مراد ده ځکه اطلاق د حکم په قضيه باندې کيږي نو معنى دا شوه چې دا قاعده يو قضيه ده، اوس قضيه کله کلي وي او کله جزئي وي لکه کل انسان حيوان قضيه ده خوکلى ده او بعض الحيوان انسان هم قضيه ده خو جزئيه ده. خو دا جزى يا کليه به وي ؟ نو ويل **كلي**، نو بيا دا ينطبق صفت د دې حکم شو، او صفت يې د مجموع لپاره کوي يعنى **حكم كلي** ينطبق صادقيږي. **ليتعرف** کې دا لام لپاره د عاقبت دى، چې يا هلکه د دې انطباق او صدق په جميع جزئياتو انجام به څه وي؟ نو ويل **ليتعرف** نو دا د قبيلي د لدوا للموت وابنوا للخراب د قبيلي نه شو او ﴿فَالْتَقَطَهُ آلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُوْنَ لَهُمْ عَدُوًّا وَّ حَزَنًا﴾ د قبيلي نه شو ځکه ﴿لِيَكُوْنَ لَهُمْ﴾ کې لام عاقبت لپاره دى، نو د دې انطباق انجام به دا وي **ليتعرف احكامها منه** چې معلوم کړي احکام د دې جزئيات د دې کلي نه، نو انجام به دا شي چې دجزئياتو محمولات به تاته معلوم شي د دې حکم کلي نه، اوس د دې تعرف طريقه دا ده چې يو جزئي به ته راوړي هغه به موضوع کړو او موضوع د دې حکم کلي به ته ورباندې محمول کوي. لکه تا دعوى کښوده چې زيد په ضَرَبَ زَيْدٌ، کې مرفوع دى دا دعوى شوه. اوس د دې دليل دا دى چې لاته فاعل، لاته، موضوع دى ځکه ضمير زيد ته راجع دى، او فاعل ورباندې محمول شو، او فاعل موضوع د قاعدې کليې وو، هغه تا به په دې جزئي باندې محمول کړو نو دا اوس مجموعه صغرى ترې جوړه شوه چې لاته فاعل، اوس هغه قاعده کليه کبرى کړه چې وکل فاعل مرفوع نو نتيجه دا راووته چې زيد مرفوع، نو د زيد يو حکم تا ته معلوم شو، مرفوعيت دلته کې اوس څنګه به وي؟ کقولنايعنى علم بلاغة کې، چې **كل كلام مع منكر يجب توكيده** يعنې هر حکم يا هره قضيه يا هر اسناد چې د منکر سره

وي نو يجب توكيده . نودا په علم البيان كې يو قاعده كليه شوه . نو اوس ته يو جزئي به راوړي هغه به موضوع كړي او د دې قاعده كليه موضوع به په هغې باندې محمول كړي، بيا هغه به صغرى كړي او دا قاعده كليه كبرى به ورسره تل كړي نو يو حكم جزئي به راوځي، لكه ته اوس وائي چې **ان زيداً لقائم كلام موكد** دا مدعى شوه كلام او كلم يو شي دى لاته كلام مع منكرلاته كې ضمير **ان زيدا لقائم** ته راجع شو او هغه يو جزئي دى او كلام مع منكر دا موضوع د قاعده كليه وو هغه تا په دې باندې محمول كړو، نو تا ووېل **لانه كلام مع منكر** دا صغرى شوه، او دا كبرى ورسره تل كړه **وكل كلام مع منكر يجب توكيده** نو يو حكم جزئي تا ته معلوم شو چې **ان زيداً لقائم** يجب توكيده . **ويشتمل على ما يحتاج اليه من الامثلة** دا اوس دويم صفت مادحه ذكر كوي د مختصر (تلخيص) دى كې ماتن بل تعريض وكړو په سكاكي باندې چې قسم ثالث د سكاكي ما لايحتاج اليه باندې مشتمل وو او مختصر په ما يحتاج اليه باندې مشتمل دى، د امثله ؤ تعريف شارح كوي، **وهي الجزئيات المذكورة لايضاح القواعد** ترجمه: هو اثبات مقصود نه وي په (مثال كې اثبات د ممثل مقصود نه وي) **والشواهد** د شواهد تعريف كوي چې **وهي الجزئيات المذكورة لاثبات القواعد** اعتراض چې يا هلكه په امثلو او شواهد كې فرق څه دى، نسبت څه دى؟ نو وائي **فهي اخص من الامثلة** نو وائي چې دا شواهد خاص دي د امثلو نه او امثله عام دى . نو هر شاهد مثال كيداى شي او هر مثال شاهد نه شي كيداى، ځكه امثلهُ عام دى چې اثبات وي او كه نه صرف ايضاح وي، او شواهد كې مقصود دا دى چې دا به مثبت وي، د دې وجې نه شواهد د قران او د حديث او فصحاءُ او د بلغاءُ د عربونه پيش كيداى شي او مثالونه زما ستا د كلام نه هم پيش كيداى شي.

قال الماتن ولم الـ: نو ال په اصل كې اَلْوٌ وو، همزه اول د متكلم وو او همزه ثاني فا كلمه وه، نو همزه ثاني بدل شو په الف باندې په قانون د اَمنَ سره نو د اَلْوَنه لُو شو، نو **لم** جازمه پرې داخل شو نو واو ئ ترې وغورځولو، نو لم الُ ترې جوړ شو، نو دا د واحد متكلم صيغه شوه، نو دا مشتقي دى او هر مشتقي مشتق منه او ماخوذ منه غواړي، نو شارح بيان وكړو چې **من الالوذ الَوْنه** ماخوذ دى يا د اَلْوَنه ماخوذ دى دا دواړه صحيح دي او دا چې شارح وويل چې **وهو التقصير** نو اشاره يې وكړه معنى لغوي ته چې اَلْوَ او اَلْو كوتاهي ته ويلى شي په يو كار كې لكه قران كې راځي ﴿لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا﴾ كمى نكويي په تاسو كښې د فساد" **جهدا** شارح ورسره لګوي اى اجتهاد دې كې شارح ديته اشاره وكړه چې دا دواړه مترادفين دي دا مصدر د مجرد و چې **جهدا** دى او مصدر د مزيدو چې اجتهاداً دى دا مترادفين دى، طاقت ته ويلى شي.

دويم غرض (د دې نه د شارح دوه غرضونه دي)، ١ رد كوي په فراء باندې، فراء په دوى كې فرق كړى وو چې يو جُهد او بل جَهد دى، نو جُهد ويلى شي طاقت او جهد ويلى شي مشقت ته، نو شارح پرې رد

وکړو چې يا هلکه چې جَهد شي او که جُهد شي دواړه عبارت دي د اجتهاد نه، د کوشش کولو نه. او په دې کې چې ته فرق کوي نو دا صحيح نه ده.

وقد استعمل الالو ههنا نه غرض د شارح يو اعتراض کوي او بيا جواب کوي، اعتراض دا چې **الو** خو دلته متعدي دی دوو مفعولينو ته، نو يو مفعول خو جهداً شو خو بل مفعول چيرته لاړو، ځکه **الو** دلته کښ په معنی د منع سره دی او منع دوو مفعولينو ته متعد کيږي. نو شارح **والمعني** سره جواب کوي چې يا هلکه مفعول اول دلته کې محذوف دی نو تقدير دا شو چې **لم امنعك جهدا** او مفعول اول يې حذف کړی ولې دی؟ وائي د وجې د عدم مقصوديت نه، دلته کې مخاطب دون مخاطب مقصود نه وو بلکه دلته کې مقصود عدم منع د طاقت وو، مخاطب هر يو کس هر طالب چې وي، دا مقصود نه دی چې زيد وي نو د هغه نه ما خپل طاقت نه دی منع کړی او عمر نه منع کړی. دويم غرض د شارح، رد کوي په مذاهب ثلثه وو اُخر باندې، يو مذهب دا وو چې دلته کې الُ په معنی لغوي سره ده، لم الُ په معنی د لم اقصر سره دی، يعنې ما نه دی کم کړی جهداً، نو دي مذهب باندې شبه راغله چې يا هلکه لم الُ په معنی د لم اقصر سره شي نو هغه مفعول نه غواړي، ځکه هغه خو لازمي دی نو بيا جهداً څنګه منصوب شو؟ نو هغه بيا جوابونه کوي، او الُ په معنی د تقصير سره په قران کې مستعمل دی، نو دلته کې هم مراد شو، نو هغه جوابونه کوي چې ۱ چې دا د جهداً نصب بنا بر حال دی د لم ال د ضمير فاعل نه، يعنې حال کوني مجتهداً جهداً په تاويل د مجتهداً سره ځکه هسې حمل نه صحيح کيږي، يعنې چې زه کوشش کوونکی يم، ۲ يا منصوب بنا بر تميز دی او محول عن الفاعل دی يعنې ما کمی نه دی کړی د حيثيت د کوشش نه نواصل کلام داسې شو چې **لم ال اجتهادي** يا جهدي شو، ځکه تميز محول عن الفاعل حقيقت کې فاعل وي او فاعل حقيقي مضاف اليه وي. يا هغه جواب کوي چې دا نصب په نزع د خافض سره شو يعنې **لم ال في الاجتهاد**. دويم مسلك دا دی، چې لم الُ په معنی د لم اترك سره دی نو معنی دا چې لم اترك جهداً في تحقيقه نو هغه ترك يو مفعول غواړي نو هغه ذکر شو. دريم مسلك دا دی چې الُ د افعال ناقصه ؤ غير مشهوره ؤ نه دی په معنی د لم ازل سره نو دا جهداً د دې خبر شو او ضمير په ازل کې اسم شو، نو معنی دا چې هميشه يم زه جهداً کوشش کوونکی **في تحقيقه** په تحقيق د مختصر کې. نو شارح دلته په دې **وقد استعمل الالو** سره په دې دري واړو باندې رد وکړو، چې دلته کې الُ په معنی د مَنَعَ سره دی اوپه دې دريو معانيو سره ندی، اوس وجه د رد څه ده، هغه شارح نه ده ويلي نو وجه د رد شهرت او عدم شهرت دی ځکه چې **لم الُ** په معنی د منع سره مشهور الاستعمال د او لم ال په دي معانيو ثلاثه ؤ اُولو کې غير مشهور الاستعمال دی، او اصل په الفاظو کې حمل دی په معانيو مشهورة الاستعمال باندې، دويم غرض د شارح د **وقد استعمل الالو** نه بيان د معنی مرادي کوي پس د معنی لغوي نه وهو التقصير سره يې معنی لغوي بيان کړه نو وقد استعمل سره معنی مراد بيانو چې

کوره دلته کې دا خو معنی لغوي ده خو دلته کې دا مراد نه ده.

قال الماتن **في تحقيقه**: ای المختصر قاله الشارح، دي سره يې تعيين د مرجع وکړو يعنې في تحقيق ما ذکر فيه من الابحاث غرض د دې عبارة نه دفع د اعتراض دی، چې يا هلکه تحقيق خو اثبات المسئله بالدليل ته وائي او مسئله خو قضيه وي، او مختصر خو مفرد دی، نو د هغې تحقيق کيدای شي؟ مفرد يعنې مختصر دليل غواړي؟ نو ده (شارح) جواب وکړو چې ذکر د مختصر او مراد ترينه نه مافي المختصر دی، او ما في المختصر قضايا او مسائل دي او هغې کې تحقيق کيدای شي **وتهذيبه**: قال الشارح **وتنقيحه** دي سره غرض تفسير د غير مشهور يې وکړو، يعنې پاکول د مختصر د حشو او تطويل نه **ورتبته** شارح تعيين د مرجع کوي ای المختصر ماتن وائي ما مرتب کړی دی مختصر لره په **ترتيبا** په ترتيب ورکولو سره داسې ترتيب **اقرب تناولا** شارح ورسره لګوي ای **اخذا** په اخيستو کې دا شارح تعين د معنی مراد دی اوکړو، اوپه اصل لغت کې **تناول** څه ته وائي؟ مداليد لاخذ الشئ، نو دا تفسير باللازم شو، ځکه چې اخذ د مد اليد، سره لازم دی، نو دلته کې دا لازمي معنی مراد شوه او ملزومه معنی نه ده مراد، ځکه مد اليه لاخذ الشئ، دا خو په محسوساتو کې راځي، د مختصر مسائل خو څه محسوسات نه دي، فهم مراد دی، **من ترتيبه**: شارح ای ورسره لګوي، غرض د دې نه بيان د احتمالينو کوي په مرجع د دې ضمير د ترتيبه کې، نو اول احتمال ته يې اشاره وکړه په ای ترتيب السکاکي سره، چې ضمير سکاکي ته راجع شو، او دويم ته يې اشاره وکړه په **او القسم الثالث** سره، ضمير قسم ثالث ته راجع شو، شبه يا هلکه دا احتمالين په دې مرجع د ترتيبه کې دا احتمالين ابتدائي شو که بنائي شو؟ سائل سوال وکړو، نو شارح جواب وکړو، چې دا ابتدائي نه دي بلکه دا بنائي دي، نورو دوو احتمالينو باندې بنا دی، او هغه نوردوه دا دي چې دا ترتيب به خالي نه وي، يعنې اضافت د ترتيب دی ضمير ته به خالي نه وي، که ته دا اضافت د مصدر کوي فاعل ته نو بيا ضمير سکاکي ته راجع دی او مفعول محذوف شو، يعنې د ترتيب د سکاکي نه قسم ثالث لره، او که دغه ترتيب ته مصدر مضاف مفعول ته وائي نو بيا احتمال ثاني شو، نو بيا ضمير قسم ثالث ته راجع شو او فاعل محذوف شو يعنې ترتيب د سکاکي نه چې ورکړی يې دی، دې قسم ثالث لره، نو دا دواړه احتمالي بنائي شو ابتدائي نه شو ـ بل صفت کوي ماتن د مختصر ای التلخيص ترغيباً للطلاب، وائي: **ولم ابالغ في اختصار لفظه تقريبا** ترجمه: سائل راغلو، معترض هغه سوال وکړو چې تقريبا منصوب دی د نصب لپاره دوولس طريقې دي نصب د دې تقريباً بنا بر څه دی؟ شارح جواب وکړو **مفعول له**، چې دا مفعول له دی. معترض بله شبه وکړه چې يا هلکه مخکې دوه څيزونه دي، نفي ده **لم** او منفي ده **ابالغ** نو ته دا مفعول د لم لپاره وائي او که د ابالغ لپاره وائي؟ بل احتمال خو نشته دی که د لم لپاره وائي نو هغه خو حرف دی مفعول له نه غواړي، ځکه مفعول له علت ما قبل لپاره او حرف معلول کيدای شي؟ ولې که حرف معلول شي نو معلول خو مقصود بالعلة وي، نو شئ واحد به هم مقصود او هم غير مقصود شي، حرف مرءة دي طرفينو ته نو

غير مقصود شو او چې معلول بالعلة يې کړی نو مقصود شو، نو حرف خو معلول نه شي کيدای ـ او ک د منفي لپاره يې کوي نو فساد د معنی راځي د قاعدې د وجې نه، قاعده دا ده چې نفي داخل شي په کلام مقيده باندې نو نفي متوجه کيږي قيد ته نو ابالغ مقيد شو په قيد د تقريباً سره او لم پرې وروستو داخل شو، نو نفي متوجه تقريب ته شوه نو معنی دا چې مبالغه د تقريب لپاره نه ده شوي او د امر اخر لپاره به شوي وي، نو دا معنی فاسده ده ـ ځکه مبالغه د تقريب لپاره شوي ده د امر اخر لپاره نه ده شوي نو دا بالکل عکس فائده کوي، نو شارح راغلی او د دې جواب کوي په اختيار د شق ثالث سره چې يا هلکه دا تقريبا نه مفعول له د دې ابالغ لپاره وايمه او نه د دې لم لپاره بلکه دا مفعول له وايمه د يو بل فعل لپاره چې هغه مستفاد يږي د دې نفي او منفي دواړو نه چې هغه ترکت دی ـ نو وائي مفعول له لما تضمنه معنی لم ابالغ، نو وائي چې د هغه فعل لپاره چې نيولی دی دي ما لره معنی دلم ابالغ نو معنی د لم ابالغ متضمن شواو هغه فعل متضمَن شو، هغه متضمن فعل څوك دی وائي ای ترکت المبالغة في الاختصار تقريباً، **لتعاطيه**: تفسير د غير مشهور کوي په مشهور سره وائي ای تناوله يعني لپاره د اخستلو د دې مختصر **وطلبا** عطف دی په تقريباً باندې جوابا او سوالاً، **لتسهيل فهمه على طالبيه** ترجمه اسانه ده والضمائر، دا ضمائر څلور واړه په لفظه کې لتعاطيه، فهمه، طالبيه کې **للمختصر**دا مختصر ته راجع دی.

اوس په **وفي وصف مؤلفه** سره غرض د شارح دا دی چې غرض د ماتن بيانوي چې د الفت مختصراً نه وروستو د تر و اضفت پورې د ماتن غرض دا دی چې ده د خپل مختصر صفت وکړو. يو داسې چې دا مختصر دی چې دادالفت مختصراً نه معلوم شو، او د **لم ابالغ في اختصار لفظه** نه هم معلوم شو، دويم صفت چې **منقح** نو هغه في تحقيقه او تهذيبه نه معلوم شو، او دريم صفت سهل الماخذ هغه طلبا لتسهيل فهمه نه معلوم شو، نو دې دري واړو اوصافو کې تعريض، اشاره ده، تعريض په معنی د اشارې سره، چې **با نه لا تطويل فيه** چې په دې مختصر کې اوږدوالی نشته دی ځکه دا مختصر دی. دا **لاتطويل** مختصر سره ولګيدو، **ولاحشو** او حشوه نشته دی ځکه منقح دی، او **لاتعقيد** ځکه سهل الماخذ دی، **كما في القسم الثالث**، دا د منفي سره ولګوئ، لکه دغه تطويل او حشوه او تعقيد چې قسم ثالث کې شته دی. نو دا تعريض شو په سکاکي باندې، نو شبه راغله چې يا هلکه بيا خو ماتن غيبت وکړو د سکاکي او غيبت خو جائز نه دی. چې زما مختصر بنه دی، او د سکاکي قسم ثالث بنه نه دی نو دا غيبت شو که سکاکي ژوندی وی نوپه دې خفه کيدو. او که نه طالب مولالپاره جائز دي دا مستثنی دی

منم ملا اگر کردیم گنا هی مشو حیران که کفر ندهم معاف است

چلاسي بابا وائي: ملا وائي چې ما ته بدعت او کفر ټول معاف دي.

ازو پرمی که غیبت نیست عصیان که غیبت از برائی او رواهست (۱)

د ملا نه تپوس وکړه چې غیبت ګناه نه دی؟ تا لپاره جائز، ته کوه ته ملا ئي.

نو په ممبر باندې خاص یو کس مطعون کول دا نشته، دا غیبت کې داخل دی، بس حکم عامه بیانوه په خپله چسپان کیږي، چې **کل من اتصف بهذه الصفة فحکمه هکذا**، هغه زید وي که عمرو وي که بکروي، هغه په خپله چسپان کیږي ځکه پښتانه وائي د غل په سر اور بلیږي، نو تاسو ووایئ چا ماتن دلته کې دا کار د غرض صحیح لپاره وکړو، یعني ترغیباً للطلاب، ځکه ماتن په تلخیص جوړولو کې پوره کوشش کړی وو، چې علماء طلباء یې ووایي زما کتاب دوی مدرس کړي.

قال الماتن رحمه الله **واضفت الی ذالك**: معترض اعتراض وکړو چې یا هلکه **ذلك** کې خو اشاره ده اَمثِلو شواهدو او قواعدو ته نو هغه خو متعدد دی او ذلك خو اسم اشاره مفرد لپاره راځي نو اسم اشاره او مشار الیه کې مطابقت رانغلو نو شارح یې جواب وکړو چې المذکور چې یا هلکه هغه مؤول دی په تاویل د مذکور سره او مذکور هم مفرد دی نو اسم اشاره مفرد هم صحیح شو. بیا معترض شبه وکړه چې یا هلکه مذکور خو د دې ځای نه واخلي تر بسم الله پورې ټول مذکور دی نو هغې ته خواشاره نه صحیح کیږي، نو شارح جواب وکړو **من القواعد وغیرها** چې یا هلکه مذکور نه مراد مطلق مذکور نه دی، بلکه دا قریب مراد دی چې قواعد امثله او شواهد دی. ماتن څه ضم کړی دی **فوائد، عثرت** شارح ورسره **اطلعت** ولګولو دا یې تفسیر د غیر مشهور په مشهور سره وکړو، معنی خبر شوی یم زه. او بل د دې لپاره که **عثرت** د عثار نه شي نو خویدلو ته هم وائي، او هغه دلته کې نه صحیح کیږي نو ځکه یې په اطلعت سره تفسیر وکړو **في بعض کتب القوم علیها** تعین د مرجع کوي ای علی تلك الفوائد سره. **وزوائد** او ما هم ضم کړي دي د دې مذکور سره زائد مسائل **لم اظفر** تفسیر د غیر مشهور په مشهور سره کوي چې ای **لم اظفر** زه نه ووم کامیاب شوی **في کلام احد بالتصریح بها** قال الشارح ای بتلك الزوائد دی سره یې تعیین د مرجع وکړو **ولابالاشاره الیها** دې زوائدو ته (ضمیر والیها زوائد ته راجع دی من الجامع والکاتب) دا قوم نه اشارة ویلی وو او نه یې تصریح کړي وه بلکه ما خپلې قریحې نه دغه زوائد ضم کړي دي معترض راغلی شبه یې وکړه چې یا هلکه مقابله داشاري د **تصریح** سره نه صحیح کیږي، ځکه چې دواړه عبارت دی د دلالة الکلام نه په مقصود باندې خو صرف په تصریح او صریح کې سوق شوی وي او په اشاره کې سوق نه وی شوی، باقي دلالت خو دواړه په معنی مراده باندې کوي، نو دا مقابله خو د دوی په مینځ کې صحیح نه شوه مقابله داسې چې ذکر د نفي د اشاري وروستو د تصریح نه مستدرك شو ځکه یو شی دی، نو دې (شارح) راغلو جواب کوي په **بان یکون** سره چې د تصریح نه مراد قصداً

۱- کلیات چلاسي: ۴۶

دی او اشاري نه مراد تبعاً دی. هغه صریح اصولي او اشاره اصولي نه دی مراد. ځکه چې تصریح اصولي عبارة النص ته وائي او اشاره اصولي اشارة النص ته وائي. نو مطلب دا شو چې دي فوائدو ته دي قوم نه قصداً اشاره کړي ده او نه تبعاً. نو ځکه وائي **بان یکون کلامهم علی وجه یمکن تحصیلها** ای الزوائد **منه** ای الکلام **بالتبعیة**، چې دا کلام قصداً دلالت په یو معنی باندې کوي خو دا زوائد ترینه بالتبع فهمیږي، داسې هم نه وه **وان لم یقصدوها** ای الزوائد. او وائي **وسمیته** ای المختصر **تلخیص المفتاح** نو شبه راغله چې دا خو تلخیص د ټول مفتاح نه دی بلکه صرف د قسم ثالث دی نو بیادِ ورته تلخیص المفتاح نوم څنګه کېښودو؟ نو څوک وائي چې دلته کې حذف د مضاف دی یعنې تلخیص قسم الثالث من المفتاح. او څوک وائي چې دا نسبت ټول مفتاح ته مجازاً دی. یعنې دا خو تلخیص د قسم ثالث وو، خو قسم ثالث په ټول مفتاح کې اشرف وو. نو ګویا که دا تلخیص د ټول مفتاح شو هلکه دا تلخیص المفتاح نوم دي ولې کېښود؟ نو وائي **لیطابق اسمه معناه** ځکه چې معنی د دې تلخیص مختصر وو ای (الفت المختصر) او نوم ورته ما تلخیص المفتاح کېښودو نو خلاصه د مفتاح مختصر وي، یعنې مطابق شي اسم علمي د دې معنی د ده سره شبه راغله چې مخکې تا نسبتونه وکړل ځان ته، چې رتبتُ، اضفتُ، سمیتُ، دارنګه الفتُ، ځلور نسبتونه شو، نو دې کې خو علو راغله، نو دي وائي چې **وانا اسئل الله** چې یا هلکه تالیف دی که اضافت که ترتیب دی او که تسمیه ده مقارن دی په سوال زما سره د الله نه. شارح شبه کوي چې **قدم المسندالیه** چې مقدم کړو، ماتن مسند علیه دا ټول چې انا دی په مسند فعلي باندې چې اسئل الله دی او مسند فعلي حرف نفي ته یلی نه دی. او تقدیم د مسندالیه په مسند فعلي باندې چې حرف نفي نه وي نو دا دوو فائدو لپاره کیږي: ۱ تخصیص لپاره. ۲ او یا د تقویت لپاره تخصیص لپاره لکه انا سعیت في حاجتك شو. اوس که زما دا خیال وو چې زما دی حاجت کې زید او عمرو دواړو سعي کړي ده، زید وویل انا سعیت في حاجتك نو قصر افراد شو، چې ما کړی دی او عمرو ماسره ټل نه دی، یا زما دا خیال وو چې زما حاجت کې عمرو سعي کړي ده او زید نه ده کړي نو زید ما ته وویل چې **انا سعیت في حاجتك** نو قصر قلب شو. نو اوس که دلته کې **انا اسئل الله** کې که د تخصیص لپاره شي نو معنی به دا شي چې خاص زه سوال کوم د الله نه او نور خلک سوال نه کوي، ما سره شریك نه دی. نو دې سره دوه بدی راغلې: ۱یو خو د ماتن بد ظني راڅې په نورو مؤمنانو موحدینو باندې. هر مؤمن او موحد د الله نه سوال کوي. او پیغمبر ﷺ وائي: ظنوا المؤمنین خیراً. او دویم دا بدي راغله چې زه یواځې سوال کوم نور څوک ځان سره دې کې نه پریږدم نو ولې یې نه پریږدي نو نور پریږده چې شرکت سره دعا اوشي چې منصوص وي، نو هغې کې احتمال د اجابت شته

دی او چې ځانته کئي نو هلته کې احتمال د اجابت او عدم اجابت دواړو شته دی[1] او یا د تقویت لپاره کیږي. نو هغه هم نه صحیح کیږي ځکه هغه مخکې انکار غواړي لکه زید قام کې شو. **زید قام** کې تقدیم د مسند الیه شوی دی په مسند فعلي باندې نو دلته کې تاکید راغلو، یو ځل اسناد د قام ضمیر ته شو بیا مجموعه مسند زید ته شو. نو د تکرر د اسناد د وجې نه تاکید راغلو. نو تاکید خو انکار غواړي او مخاطبینو کې داسې منکر څوک نه وو چې هغه وایي چې ماتن سوال د الله نه نه کوي نو تقدیم د تقویت لپاره هم صحیح نه شو. نو شارح جواب وکړو **قصداً** وائي لپاره د قصد کولو د ماتن جعل د واو للحال. وائي چې تقدم د مسند الیه د دې وجې نه وشو چې ماتن قصد وکړو لپاره د ګرځولو د واو لپاره د حال. او دا ولې؟ وائي ځکه چې که ته جمله فعلیه ذکر کوي اسئل الله نو یا به سره د واو نه ذکر کوي یا بغیر د واو نه. نو که سره د واوْ نه ذکر کوي نو دوه بدی راځي. یو دا چې هلته کې (ای في الواو) احتمال د استیناف او عطف دواړو دی نو خدا نه خواسته که مستانفه شي نواقتران د سوال د ترتیب، تالیف، اضافت، او تسمیې سره راغی؟ نه. او د ماتن غرض څه وو؟ اقتران وو. او دویمه بدي دا راغله که حالیه یې ګرځوي نو چې مضارع حال واقع شي نو هلته کې خو واو نه وي چې مثبت وي، بلکه ضمیر باندې اکتفا کیږي، واو په کې نه وي. او که نه ته دا جمله اسمیه ذکر کوي بغیر د واو نه نو هغه خو بیا نص شو په استیناف کې. نو چې استیناف کې نص شوه نو اقتران مخکې سره رانغلی. تالیف ،ترتیب ،اضافت او تسمیې سره .دې سره اقتران رانغلی ځکه اقتران خو د واو حالي د وجه نه وو او هغه تا رانه وړو نو بالضرور اسمیه به ذکر کوي سره د واو نه. د دې لپاره چې احتمال د استیناف کټ شي احتمال د عطف کټ شي نو حالیه متعین شو. نو د استیناف احتمال خو کټ شو د واو حالي د وجې نه او احتمال د عطف کټ شو ځکه چې د اسمیې عطف په فعلي باندې کیدای شي؟ ځکه حسن نه دی نو حالیت پاتې شو. او حال مقارن دی او مقارنت راغلو. اوس دا جواب د شارح خو صرف په دې باندې شو دې لپاره شو، چې جمله اسمیه یې مختاره کړه په فعلیه باندې اوبیا جمله اسمیه یې مختاره کړه بالواو په بغیر الواو باندې. نو جواب خو صرف دومره کرتې شو. او هغه بل سوال چې تقدیم د مسند الیه په مسند فعلي باندې کیږي د دوو غرضونو لپاره د هغې خو جواب ونه شو. نو د هغې نه جواب دا د شارح والانه صحیح کیږي د هغې نه جواب د بَهر نه دی چې یا هلکه زه دلته کې تقدیم د تخصیص لپاره دی خو دلته کې تخصیص و قصر په سوال کې قصر حقیقي نه دی اضافي دیږ په نظر سره حاسدینو ته. چې زه سوال د الله نه د نفع د مختصر کوم او زما حاسدین نه کوي. یا په نسبت سره آمین ته دی چې سوال خو مونږ تول کوو خو امین کې ما پورې سوال مقصور دی. سوال سره د امین نه صرف څه کوم حاسدین

۱- نو تخصیص صحیح نه شو.

هسې سوال کوي خو امين ورسره نه وائي. يا ووائي چې دلته کې تقديم د تقويت لپاره دی، خو دلته کې دا انکار عام دی، چې تحققاً وي او که توهماً وي، نو دلته کې اګر چې انکار محقق خو نشته دی خو توهم يې شته دی، متوهم دا توهم وکړو چې ماتن ځانته دا ځلور نسبتونه وکړه نو په دې کې دي به سوال د الله نه نه کوي؟ نو ده (ماتن) وويل چې زه سوال د الله نه کومه، نو تاکيد وشو. او يا ورته ووائي چې يا هلکه هر ځای کې تقويت او تاکيد د حکم انکار نه غواړي بلکه کله کله متکلم تاکيد د حکم کوي چې دغه حکم د اسناد مرغوب د متکلم وي. نو دلته کې سوال د ماتن د الله نه مرغوب وو نو تاکيد سره يې ذکر کړو، لکه: ﴿وَإِذَا خَلَوْا إِلَىٰ شَيَاطِينِهِمْ قَالُوا إِنَّا مَعَكُمْ﴾ دی.

قال الماتن **من فضله**، شارح ترکيب کوي وائي: **حال**، دا په اعتبار د متعلق سره حال دی د **من ان ينفع به** نه، او ان ينفع به د دې اسئل لپاره مفعول ثاني دی نو دا من فضله د هغې نه حال دی. خو فرق صرف دا شو چې حال مقدم شو په ذوالحال باندې. او حال مجروره په ذوالحال باندې مقدم کيدای شي، جائز وي. اوس که ځوک شبه وکړي چې يا هلکه اَن خو موصول حرفي دی او په موصول حرفي باندې صله نه شي مقدم کيدای نو معمول د صلې څنګه مقدم شو چې من فضله بيا مقدم شو؟ نو تاسو ووايئ چې يا هلکه عامل په دې کې **ان ينفع به** خو نه دی، عامل اسئل دی. ذوالحال **ان ينفع به** دی. عامل **ان ينفع** نه دی. نو تقديم د معمول د صلې په موصول باندې نه کيږي او دا خو معمول د اَن نه دی، ذوالحال کړتې دی. **به** تعيين د مرجع کوي ای بهذا المختصر **کما نفع باصله** اصل ځوک دی؟ دوه احتمالين ذکر کوي. يا د اصل نه مراد اصل مجازي دی، مفتاح دی. يا د اصل نه مراد اصل حقيقي دی او القسم الثالث منه د مفتاح نه. نو دا اصل حقيقي شو.

قال الماتن **انه**: شارح تعيين د مرجع کوي، ای الله تعالی، **ولی ذلك**: شارح تعيين د مشارالیه کوي **النفع** متصرف د دې نفع دی. اوس مخکې دوه دعوی وي، يو نفس سوال د الله نه کوم او دويمه دعوی دا ده چې د غير الله نه نه کوم. دا دويمه دعوی د مقام نه معلوميده، نفس سوال ولې د الله نه کوم وائي؟ ځکه دا الله متصرف د دې نفعي دی، نو قانون دا دی چې سوال سړی د مالك نه کوي او که نه د غير مالك نه کوي؟ نو مالك د نفعې الله دی نو سوال د هغه نه ځکه کوم، دا دويمه دعوی چې د غير الله نه نه کوم، ولې؟ ويل ځکه **وهو حسبي** ځکه الله زما کافي دی. **سوال**: هلکه د **حسبي** حمل **هو** باندې نه صحيح کيږي، ځکه حسب خو صرف وصف دی او هو ذات د الله دی، نو حمل نه صحيح کيږي. نو ده جواب وکړو ای محسبي چې حسب مصدر مبني للفاعل سره دی. يا هلکه حسب خو هغه چاته وائي چې هغه حساب د دراهم او دنانيرو کوي، نو دا معنی نه صحيح کيږي، جواب يې وکړو چې **وکافي** چې محسبي په معنی د حساب د دراهم او دنانيرو سره نه دی کافي په معنی سره دی.

ونعم الوكيل اوس شارح د عَطف يا د عُطِفَ نه وروستو، دواړه صحيح کيږي، که عَطفٌ شي نو خبر د مبتداء محذوفي به شي چې هذا عطف، خو عطف په معنى د معطوف سره، اوس د شارح غرض دا دى چې يا اعتراض کوي په ماتن باندې او ځان له ځي، چې ته نعم الوكيل عطف کوي دا عطف نه صحيح کيږي؟ نو جوابونه بهر نه دي. اوس په دي باندې شبه راغله چې شارح خو دا عطف په شرح العقائد کې په خپله کړې دى نو اعتراض په ماتن باندې کول دا خو اعتراض په ځان باندې شو، نو تاسو ووايئ چې شارح کړې ده په شرح العقائد کې ليکن هلته اعتراض مجاب وو، او قانون دا دى چې اعتراض مجابه کلا اعتراض وي، نو شرح عقائد باندې اعتراض وو ليکن جوابونه ترينه وو. نو دارنګه دي اعتراض کوي په ماتن باندې جوابونه ترينه وو بهر نه، خو ده پريښې دي، نو ګويا که دا اعتراض په ځان باندې نه شو. او يا ورته ووايه چې شارح بيان د واقع کوي. په ماتن باندې اعتراض کول مقصد نه دى، نو وائي، عطف اما على جملة **وهو حسبي** يا هلکه نعم الوكيل خو مخصوص بالمدح غواړي هغه چيرته دى نو وائي **والمخصوص محذوف** چې هغه محذوف دى. نو تقدير دا شو چې **ونعم الوكيل** هو واما على حسبي يا به دا عطف وي په حسبي باندې په حسبي باندې عطف کولو کې دوه احتماله دي: يا عطف دى بې د تاويل نه، نو بيا عطف د جملې راځي په مفرد باندې، او يا به عطف کوي حسبي باندې سره د تاويل نه، چې حسبي په معنى د **يحسبني** سره واخلي، نو بيا عطف د انشاء په خبر باندې راغلو، ځکه يحسبني خبر دى، ونعم الوكيل انشاء ده نو سائل سوال وکړو چې مخصوص بالمدح به بيا هم محذوف وي؟ ويل نه نه **وهو نعم الوكيل** چې مخصوص بالمدح همدغه هو دى، هو کوم چې هو **حسبي** کې دى، **فالمخصوص هو الضمير المتقدم** يا هلکه مخصوص بالمدح چيرته مخکښې کيداې شي په فعل مدح باندې، نو ده جواب وکړو چې آو، على ما صرح به صاحب المفتاح وغيره، (**به** په دي کون د مخصوص بالمدح باندې ضمير متقدم) ترجمه: **في نحو زيد نعم الرجل** نو د نعم الرجل لپاره زيد مخصوص بالمدح دى، او مقدم شوى دى. اوس شبه کوي چې **وعلى كلا التقديرين قد عطف الانشاء على الاخبار** ځکه نعم الوكيل انشاء ده او هغه معطوف شوه په اخبار باندې، او اخبار هله کيږي چې **حسبي** په معنى د يحسبني سره شي، او که حسبي مفرد بغير د تاويل نه پاتې کړي نو بيا دا اخبار نه دى هغه خو مفرد دى نو شارح حسبي نه مراد مع تاويل اخستى دى او بلا تاويل نه دى اخيستى. او د قد عطف الانشاء على الاخبار نه معلومه شوه.

اوس تاسو جوابونه وکړئ بهر نه، يو جواب دا وکړئ چې يا هلکه دا **وهو حسبي** اګر که صورة خبر دى خو معنى دا انشاء دى، ځکه دلته کې ماتن اخبار د کفايت الله ته نه کوي بلکه ايجاد د کفايت الله کوي. دا خبر مونږ ته نه راکوي چې اى مولينو طالبانو تاسو خبر شئ چې الله زما کافي دى بلکه ايجاد د کفايت الله کوي. اخبار ولې نه ورکوي، ځکه اخبار کې خو دوه فائدي وي: يا فائدة الخبر او يا لازم د

فائدة الخبر وي. نو فائدة الخبر نشته ځکه مونږ او تاسو خبر یو چې الله کافي دی، ماتن هم او مونږه هم، نو فائدة الخبر خو رانغلو او لازم د فائدة الخبر په کې هم نشته، ځکه زمونږ او ستاسو علم وو چې ماتن عالم دی په کفایت الله باندې، نو بالضرور دا ایجاد د کفایت الله شو. نو معنی کې دا انشاء شوه نو دا عطف د انشاء په انشاء دی. دویم جواب دا وکړئ چې دلته کې دا ونعم الوکیل خبر د مبتداء محذوفي دی نو تقدیر دا شو چې وهو نعم الوکیل نو **هونعم الوکیل** هم جمله خبریه شوه، غایة ما في الباب خبر یې صرف انشاء شو. یا دریم جواب چې دا عطف د قصه علی القصه دی. عطف القصه علی القصه دیته وائي چې عطف د یو جملي وکړي چې هغه مسوق لغرض وي په بله جمله باندې چې هغه مسوق لغرض اخر وي. قطع لحاظ د انشائیت او اخباریت نه. نو تاعطف د یوې جملې وکړو چې **ونعم الوکیل** دی چې هغه مسوق لغرض ده. چې هغه نبه تعرف د الله دی په بله جمله باندې چې هغه مسوق لغرض ده چې هغه کفایت الله دی. او د انشائیت او اخباریت لحاظ دي نه دي کړی. څلورم یا جواب دا وکړئ چې دا عطف دی په وهو حسبي باندې خو هغه حسبي چې هغه متضمن معنی د یحسبني لره دی، او دغه درې جوابونه کوئ، یا ورته ووایي. پنځم جواب: چې دا یواځې په حسبي باندې عطف دی بغیر د تاویل نه. او که ته وائي چې عطف د جملې په مفرد باندې راغلو؟ نو وائي چې یا هلکه عطف د جملي په مفرد باندې هلته کې ناجائز دی.

چې د جملې لپاره محل من الاعراب نه وي، او د کومې جملې لپاره چې محل من الاعراب وي نو د هغې عطف په مفرد باندې جائز دی. نو دلته کې **ونعم الوکیل** عطف شو په حسبي باندې او حسبي خبر دی د مبتداء چې هو دی نو نعم الوکیل هم خبر د هو شو. ځکه معطوف علی الخبر څه وي؟ خبر وي. نو دغه ونعم الوکیل په ځای د مفرد کې واقع شو او قانون دا دی چې یو شی چې واقع شي په محل د غیر کې نو هغې لپاره حکم د دغه غیر وي. نو دغه جمله ګویا که حکماً مفرد شوه. نو دا عطف د مفرد په مفرد باندې راغی او د جملې په مفرد باندې رانغلی. یعنې عطف د مفرد حکمي راغی په مفرد حقیقي باندې او دا جائز دی.

مقدمة

ماتن وويل: **مقدمة**: د شارح غرض د **رتب المختصر** نه تر اخر الفصاحة پورې څو اغراض دي. بيان د اجزاؤ مختصراً کوي. **اولاً**: يعنى تلخيص چې رتب المختصر على مقدمة وثلاثة فنون او دليل د حصر وائي. **ثانياً**: په دې قول سره چې لان المذكور فيه او رد کوي په بعضو باندې. **ثالثاً**: بقوله وجعل الخاتمة خارجة عن الفن الثالث وهم او وجه د بيان د تنكير د مقدمې او د تعريف د فنون ثلاثه ؤ کوي. **رابعاً**: ولما اخبر كلامه سره، چې مقدمة نكره ذكر شوه او فنون ثلاثه معرفه ولې؟ او بيان د خلاف کوي په تنوين د مقدمة کې. **خامساً**: سره د رد نه په مخالفينو باندې لكه هغې ته يې اشاره وکړه په والخلاف سره، او ورته يې اشاره وکړه په مما لاينبغي سره. او معنى لغوي د مقدمي بيانوي. **سادساً**: **والمقدمة ماخوذة من مقدمة الجيش** سره او دفع د اعتراض کوي، **سابعاً**: من قدم بمعنى تقدم سره. او تقسيم د مقدمي کوي قسمينوته چې مقدمة العلم او مقدمة الكتاب دي. **ثامناً**: **يقال مقدمة العلم لما يتوقف عليه الشروع...** او **مقدمة الكتاب لطائفة** سره. او بيان د ما في المقدمة کوي. **تاسعاً**: په دې قول سره چې وهي ههنا لبيان معنى الفصاحة والبلاغة وانحصار علم البلاغة في علمي المعاني والبيان. او رد کوي په بعضو خلکو باندې چې هغوي فرق په مقدمة العلم او مقدمة الكتاب کې نه دى کړى په دې قول سره چې والفرق بين مقدمة العلم ومقدمة الكتاب ، رد پرې کوي چا باندې چې فرق خفي دى. **عاشراً**: نو اول وائي (ترجمه ليكم او متن به پريږدم، مرتب) مرتب کړى دى ماتن مختصر لره تلخيص لره په يو مقدمة او فنون ثلاثه ؤباندې. نو اجزاء د مختصر څلور شو، دويم غرض بيانوي دليل د حصر، وائي څكه چې مذكور په دې مختصر کې يا د مقاصدو نه به وي په دغه فن کې **اولا** يا د قبيلي د مقاصدو نه به نه وي بلكه دوسائلو نه به وي. نو اوس ښكته په اجمال کې مقاصد يې مقدم کړل د شرافت د وجې نه اوتفصيل کې يې **اولا** مقدم کړى وى الثاني المقدمة ،د اختصار د وجې نه. **والاول**، دا اول به خالي نه وي چې مقاصدو نه وي، كه چيرته وو غرض د دې نه احتراز د خطاء نه په تادية د معنى مراده کې نو **فهو الفن الاول**، **والا** او كه غرض د دې نه احتراز د خطاء نه په تادية د معنى مراده کې نه وو، نو بيا به خالي نه وي، پس كه وو غرض د دې نه احتراز د تعقيد معنوي نه نو دا فن ثاني شو. او كه نه غرض د تعقيد معنوي نه نه وو بلكه بيان د وجوه محسنه وو نو **فهو الفن الثالث**. اوس هغه دريم غرض بيانوي، چې يا هلكه اجزاء د مختصر څلور نه دي پنځه دي، يو خاتمه د تلخيص هم را روانه ده چې خاتمة في السرقات الشعرية. نو اجزاء پينځه شو يو په کې خاتمه ده. نو شارح په دې رد کوي، جواب کوي نو وائي وجعل الخاتمة...، اوګرځول د خاتمې خارج د فن ثالثه نه او جزء مستقل د كتاب نه ګرځول. **وهم**، دا وهم دى، دا خاتمه د كتاب جزء نه دى بلكه د فن ثالث جزء دى. اعتراض : اوس يا هلكه ستا لپاره څه دليل دى چې دا جزء

مستقل نه د بلکه جز دی د فن ثالث نه او داخل دی په دې کې، نو وائي دلیل به مونږه هلته کې ان شاءالله شرحه کې بیانوو چې دا خاتمة جزء د فن ثالث دی او جزء مستقله د کتاب نه نه دی. ځکه صاحب البیت ادری بما فیه دی. هلته کې شارح نقل کړی دی کلام د ماتن د ایضاح ن چې ماتن هلته کې ایضاح کې ویلې دي په اخر د بحث د محسنات لفظیو او معنیو کې هذا ما تیسر لي باذن الله تعالی جمعه وتحریره من اصول الفن الثالث وبقیت اشیاء یذکرها **في علم البدیع بعض المصنفین**. نو في الکتاب یې نه دی ویلی، خو علم البدیع نه دا جزء دی، نو دا جزء د کتاب نه شو بلکه د فن ثالث شو.

اوس هغه څلورمه خبره کوي چې **ولا انجر کلامه** او هر کله چې رابنکلی شو کلام د ماتن په اخر د مقدمه کې انحصار د مقصود ته په فنون ثلاثه ؤ کې، نو د فنون ثلاثه ؤ لپاره معهود پیدا شو، نو مناسب ذکر د ددې فنون ثلاثه وو په طریقې د تعریف عهدي، څکه معهود په مقدمه کې پیدا شو، نو الفن الاول والفن الثاني والثالث معرف باللام ویل صحیح شو اوپه خلاف د مقدمي نه، څکه د دې نه مخکې چیرته د مقدمي بحث نه دی شوی، یعني د مقدمي نه مخکې د مقدمي بحث چیرته نه دی شوی چې معهود پیدا شي نو نشته دی مقتضی لپاره د ایراد د مقدمي په لفظ د معرفي سره، څکه معرفه چې ته مقدمه راوړي نو هغې کې الف لام عهدي خارجي به وي، نو مخکې چیرته د مقدمې تذکره خو نه ده شوي، نو **نکرها** نو نکره یې کړه مقدمي لره او وائي ویل مقدمة او المقدمة یې ونه ویل. اوس هغه پنځمه خبره کوي چې بیان د خلاف دې سره د رد نه، نو وائي چې او خلاف په دې کې چې تنوین په دې مقدمه کې لپاره د تعظیم دی او څوك وائي د تقلیل لپاره دی، نو څوك چې د تعظیم لپاره وائي نو هغه فائدې ته نظر کوي، څکه فائده په مقدمة کې زیاته ده، او څوك چې د تقلیل لپاره وائي نو هغه حجم ته نظر کوي، څکه حجم د مقدمې وړوکی دی. نو شارح وویل چې **مما لاینبغي** چې دا خلاف د هغې قبیلې نه دی چې مناسب نه دی چې واقع شي په مینځ د علماؤ کې، څکه چې په دې اختلاف باندې څه فائده نه مرتب کیږي، څکه څوك چې وائي تعظیم لپاره ده نو د کثرت د فائدې د وجې نه او چې څوك وائي تقلیل لپاره ده نو د قلت د حجم د وجې نه.

اوس که څوك اعتراض وکړي چې یا هلکه د تعظیم مقابل خو تحقیر راځي، او د تقلیل مقابل خو تکثیر راځي او تا للتعظیم او التقلیل ویلی دی؟ نو تاسو ووایئ چې دلته کې کلام د شارح په صنعة الاحتیاك باندې بنا دی، صنعة الاحتباك، یعني هغه کار د جُولا، پخوا به د کپړو دا کارخانې نه وي دا کپړې چې به یې وودلې نو یو مُوګی به جُولا دلته کې تك وَهُو او بل مُوګی هلته کې، او تارونه، سپنړسی به ئ موګو پوري اوترل. نو بیا د تار هغه ګوچه، هغه به ئ پکښې لاندې اودله. نو چه دی موګی سره به وه نو اکتفاء به یې پورې موګي باندې کوله او چې هغه ګوچي او غوټه به هغه موګي ته لاړه نو اکتفاء به یې په دي موګي باندې کوله. نو دیته د جُولا کار وائي. اوس په اصطلاح د علم البدیع

کې صنعة الاحتباك ديته وائي چې د يو فقري نه ته يو کلمه حذف کړی او اکتفاء په لاحق باندې وکړي، او د لاحق نه حذف کړی اکتفاء په سابق باندې وکړي، نو دلته کې مخکې للتعظيم والتكثير وو والتكثير يې حذف کړو، ځکه مقابل د تکثير وروستو ذکر وو چې تقليل دی. او وروستو په مقابل کې په تقليل کې تحقير حذف وو ځکه چې د هغې مقابل مخکې ذکر وو چې تعظيم دی، نو په هغې اکتفاء اوشوه نو اصل عبارت دا شو چې **ان تنوينها للتعظيم والتكثير او التقليل والتحقير**.

اوس شارح وويل **والمقدمة**، دا هغه بل غرض ذکر کوي، معنی لغوي د مقدمې، وائي مقدمه **ماخوذة من مقدمة الجيش**. که د ماخوذة ترجمه تاسو په مشتقه سره وکړي نو دا نه صحيح کيږي ځکه مقدمه مفرد دی، او مقدمة الجيش مرکب دی، او مفرد د مرکب نه نشي مشتق کيدای، نو د ماخوذة ترجمه وکړي په: منقولة سره چې دا مقدمة منقول ده د **مقدمة الجيش** نه، دا هغه مخکې حصې د جيش ته ويلی شي. يا هلکه مقدمة الجيش د څه لپاره وضع شوی ده، نوای موضوعة للجماعة المتقدمة منها، وضع کړی شوی ده لپاره د هغه جماعت چې متقدم وي د دې جيش نه. يعنې هغه مخکې حصه چې هغه د جيش لپاره د اوبو انتظام او دارنګ د څاروو د وانښو انتظام اود ډوډۍ او د شپې د ځای انتظام کوي. يو د جيش هغه حصه ده چې هغه اخر کې روانه وي. چې د چا نه سامان پاتې شي يا څوک بيمار شي د هغه د حفاظت لپاره هغی ته خلف الجيش وائي. يوه هغه حصه ده چې هغه ښي طرف د جيش ته روانه وي هغې ته **ميمنة الجيش** وائي، او يو هغه ده چې هغه کين طرف ته روانه وي هغې ته **مسيرة الجيش** وائي. او يو هغه وي چې هغه بالکل په مينځ کې روانه وي هغې ته قلب الجيش وائ. من قدم سره اشاره کوي دفع د اعتراض ته، چې يا هلکه ته مقدمة يا به په صيغه د اسم فاعل سره وائي يا په اسم مفعول سره، دواړه نه دي صحيح. که په صيغه د اسم فاعل سره وائي نو بيا معنی دا شوه چې دا مخکې کوونکي ده بل شي لره، ځکه باب تفعيل متعدي راځي. حالانکه دا بل شی نه مخکې کوي بلکه په خپله مخکې ده او که په صيغه د اسم مفعول سره راځي نو بيا معنی دا چې مخکې کړی شوي، نو تقدم جعلي معلوم شو او تقدم رتبې معلوم نه شو. چې جعل کې مخکې کړی شوی او په رتبه کې مخکې وي او که نه وي. نو شارح راغی جواب يې وکړو په اختيار د شق اول سر چې دا مقدمة په صيغه د اسم فاعل سره ده، خو دا باب تفعيل په معنی د باب تفعل سره د. نو دا قدم په معنی د تقدم سره شو. نو مقدمة په معنی د متقدمة سره شوه. او باب تفعل لازمي راځي. معنی خپله مخکې کيدونکی، مخکې کوونکی بل شي لره نه شوه. دا شارح يو جواب وکړو. دويم جواب يا دا وکړئ چې زه داپه صيغه د اسم فاعل ده او باب تفعيل هم په خپله معنی دی خو مطلب دا چې دا مخکې کوونکي ده عالم لره په مسائلو د تصديق باندې په جاهل باندې په بصيرة کې. يا دا مخکې کوونکي ده طالب لره د مسائلو د تصديق په قاعد باندې د طلب نه په بصيرة کې، اويا ووايئ چې دا مقدمة په صيغه د اسم مفعول سره ده. او که ته وائي

تقدم جعلي معلوم شو او تقدم رتبي معلوم نه شو؟ نو تاسو ووايئ چې دلته کې تقدم جعلي مستلزم دی، تقدم رتبي لره. ځکه ماتن څه ادنی سړی نه وو چې ده په جعل کې دا مخکې ذکر کوله نو دا ځکه ذکر کوي چې د دې رتبه مخکې وه. ځکه چې د یو شي رتبه وروستو وي او مخکې ذکر کولی شي نو دا د جاهل کار دی د عالم کار نه دی. **یقال** سره هغه بل غرض ذکر کوي چې تقسیم د مقدمې دی قسمینو ته، چې یو مقدمه د علم ده او بله مقدمه د کتاب ده، نو وائي. **یقال** الخ **ای یطلق: مقدمة العلم الخ**. اطلاق کولی شي د مقدمة العلم د هغه شي لپاره چې موقوف وي په دې باندې شروع کول په مسائلو د علم کې. هغه موقوف علیه څه شی دی چې هغه موقوف علیه في مسائله دی؟ هغه تعریف د علم مشروعه او دویم تصدیق په موضوع د علم مشروعه به وي او دریم تصدیق په غایه د علم مشروع باندې، خو دلته کې توقف یا په معنی د وجې د بصیرت کامله سره دی که دغه امور ثلاثه تا وپیژندل، نو مسائلو کې شروع کولو سره بصیرت کامله درته حاصلیږي او که نه دا دري واړه ځیزونه تا ونه پیژندل نو شروع خو په مسائلو کې صحیح ده خو بصیرت کامله نه پیدا کیږي یا ورته ووایه چې دلته کې توقف په معنی د اِنْ وَجَدَ فَوَجَدَ سره دی، لولاه لامتنع سره نه دی. یعني که چیرته معرفت د دغه امور ثلاثه ؤ راشي نو وَجَدَ الشروع في مسائله او که معرفت د امور ثلاثه ؤ را نه شي نو بیا هم شروع په مسائلو کې کولی شي ځکه چې **ان وجد فوجد** کې موقوف علیه علت ناقص وي. دویم مقدمة الکتاب: مقدمة الکتاب څه ته وائي؟ **لطائفة من کلامه** یعني موضوعة، وضع کړی شوې ده لپاره د یو حصې د کلام د دې کتاب نه داسې حصه **قدمت** چې ذکر کړی شوی وي دغه حصه مخکې د مقصود نه، نو **قدمت** مونږ متضمن کړه **ذکرت** لره، نو ذکر د امام وروستو د قدمت نه مستدرك نه شو، او دا حصه د کلام مخکې د مقصود نه ولې ذکر کوي نو شارح وائي د دوو غرضونو لپاره **لارتباط له بها** د وجې د ارتباط د دې مقصود نه د دې طائفې سره، او دویمه **فائده: وانتفاع بها فیه** او د وجې د انتفاع نه په دې طائفې سره په دې مقصود کې. ځکه چې دغه مقصود مرتبط وي د دې طائفې سره او نافع وي دغه طائفه په دې مقصود کې. نو مقدمة الکتاب کې توقف رانغلو. اوس هغه بل غرض ذکر کوي چې دلته کې هغه ما في المقدمة څه دی؟ یعني دې مقدمة کې څه دی، او دا مقدمه د کتاب شوه او که د علم؟ نو شارح تعیین کوي چې دا مقدمه د کتاب ده وهي ههنا لبیان معنی الفصاحة والبلاغة وانحصار علم البلاغة في علمي المعاني والبیان وما یلائم ذلك لکه بدیع شو، دارنګه نسبت په فصاحت او بلاغت کې شو بیان د موصوف د بلاغت کوي وغیره. اعتراض: اوس دی وائي چې یا هلکه دا مقدمه د کتاب شوه نو هغې کې ارتباط د مقصود او نفع معتبر نه دی؟ نو دلته دا شته که نام نو دي وائي چې دلته شته، ولا یخفی وجه ارتباط المقاصد بذلك نو مقاصد فنون ثلثه دي او هغه فنون ثلاثه ؤ کې هم دغه فصاحت او بلاغت بیانیږي. او په علم البدیع کې محسنات بدیعه بیانیږي نو نافع شو. اوس هغه بل غرض

بيانوي، **والفرق بين مقدمة العلم و مقدمة الكتاب، مما:** دا فرق د هغه قبيلي نه دی **خفی علی کثیر من الناس** خو دې کې فرق شته دی. څنګه فرق؟ څکه دې کې فرق په اعتبار د مفهوم سره هم شته دی او فرق په اعتبار د مصداق سره هم شته دی. په مفهوم د دې کې فرق دا دی چې مقدمة العلم کې توقف معتبر دی، ما يحتمل العلم دی، نو احتمالات په علم مدونه کې دري دي، ۱ مسائل کليه، ۲، تصديق په مسائلو کليّو باندې۳ ملکه حاصله د تصديق نه په مسائلو کليّو باندې. او مقدمة د کتاب ما يحتمل الکتاب دی، او په کتاب کې هم احتمالات ثلثه دی، ۱ الفاظ داله په معانيو مخصصو باندې ۲ معاني مدلوله لپاره د الفاظ خاصو، معاني او مسائل يو شی دی. ۳ مجموعه د الفاظو او معانيو، نو علم کې هم دري احتمالونه شول او په کتاب کې هم دري احتمالونه شول، نو دري چې په دري کې ضرب کړي نو نهه احتمالات تري جوړيږي، نو نهه احتمالات شو، اوس په دې نهو واړو احتمالاتو باندې فرق شته دی، په مقدمة الکتاب او مقدمة العلم کې، لکه د مقدمة الکتاب نه الفاظ واخله، نو دري په کې جوړيږي او مقدمة العلم نه مسائل واخله، نو الفاظ او مسائلو کې فرق شته دی، فرق ذاتي دی، اوس د مقدمة الکتاب نه هم هغسې الفاظ واخله او د مقدمة العلم نه تصديق بالمسائل واخله، نو الفاظ او تصديق بالمسائل کې فرق ذاتي دی، بيا د مقدمة الکتاب نه الفاظ واخله او مقدمة العلم نه، ملکه حاصله د تصديق بالمسائل، نو الفاظ او مسائلو کې فرق دی، فرق ذاتي راغلو، دري احتمالات لاړل، اوس مقدمة الکتاب نه معاني واخله، معاني او مسائل يو شی دی کما سبق منه، او مقدمة العلم نه هم معاني او مسائل واخله، نو دې کې اوس فرق اعتباري دی، او فرق ذاتي نه دی، څکه چې دغه معاني او مسائل ته په مرتبه د قيام کې واخلي نو دا مقدمة العلم ده، او چې دغه مسائل په مرتبه د من حيث هي کې واخلي، نو دا مقدمه د کتاب ده، نو په دي احتمال باندې اتحاد ذاتي او فرق اعتباري غوندې راغلو په مصداق کې، اوس د مقدمه د کتاب نه معاني واخله او مقدمة العلم نه تصديق بالمسائل، نو بيا فرق ذاتي راغی، څکه علم او معلوم شو، اوس مقدمه د کتاب نه معاني واخله او مقدمة العلم نه ملکه حاصله نو بيا فرق ذاتي راغلی، نو شپږ احتمالات لاړه، اوس مقدمه د کتاب نه واخله مجموعة الفاظو او معاني او مقدمة العلم نه صرف معاني، نو مغايرت راغلی د کل او د جزء، او کل او جزء کې مغايرة بالذات وي، او مقدمة الکتاب نه واخله مجموعه او مقدمة العلم نه تصديق بالمسائل، نو بيا فرق ذاتي دی. د علم او د معلوم، اوس د مقدمة الکتاب نه واخله مجموعه او مقدمة العلم نه واخله ملکه حاصله نو فرق ذاتي دی، نو به هر حال په دي کې مقدمة العلم والکتاب کې فرق راغلی مفهوم سره هم او په اعتبار د مصداق سره هم. خو په مصداق کې په يو احتمال کې فرق اعتباري راغلو فرق ذاتي په کې نشته او په باقي اتو واړو احتمالاتو باندې فرق ذاتي دی.

قال الماتن الفصاحة: شارح ورسره لګوي، هي في الاصل، د دې نه غرض د شارح معنی لغوي بيانوي نو

وي ويل چې دغه فصاحت په لغت کې **تنبئ عن الابانة والظهور** دا تنبئ يې ولې زيات کړو، او داسې يې ولې نه ويل چې الفصاحة في اللغة عبارة عن الابانة والظهور؟ نو تاسو وايئ چې تنبئ کې اشاره ده ديته چې د فصاحت ډيرې معاني دي: فصاحت نزع الرغوة ته هم وائي، د يو شي نه پردې لرې کولو ته، او فصاحت ذهاب اللبان من اللبن ته هم وائي، دپيو نه پيروی لري کول، او فصاحت انطلاق اللسان ته هم وائي، او فصاحت ظهور د ضوء د صبح ته هم وائي، اوس شارح اشاره وکړه ديته چې ما ته پته نشته دی چې فصاحت په دې ټولو معانيو کې حقيقت دی او که نه ټولو کې مجاز دی او که نه بعضو کې حقيقت او بعضو کې مجاز دی. خو دا ټولې معنی خبر ورکوي د ابانة او د ظهور نه. اوس دا **والظهور** عطف تفسير شو د دې **ابانة** لپاره. نو معترض شبه وکړه چې د عطف تفسير نه خو څه غرض وي، نو غرض څه دی ولې عطف تفسير کوي، تاسو ووايئ چې عطف تفسير د دې لپاره وشو چې په دې کې يې اشاره وکړه چې دا فصاحت لازمي هم راځي او متعدي هم راځي، نو الابانة کې تعديت ته اشاره وشوه او ظهور کې لازميت ته اشاره وشوه. نو اوس بيا شبه راغله چې يا هلکه نو بيا دا عطف تفسير څنګه جوړ شو؟ ځکه د فعل لازمي او د فعل متعدي مصداق خو يَو نه وي او د مفسر او معنی مصداق خو يو وی، نو دا عطف تفسير خو بيا نه جوړيږي. نو تاسو جواب وکړئ چې دا **الظهور** چې عطف تفسير د ابانت لپاره کوو نو بالذات يې عطف تفسير نه کوو بلکه ابانة به بمعنی البيان واخلو نو بيا والظهور سره تفسير کوو، لکه ناکت چې ليکلی دی. نو دا عطف تفسير بالذات د ابانت لپاره نه شو، بلکه بمعنی البيان لپاره عطف تفسير شو، او بيان لازمي دی. او اصطلاح کې فصاحت درې قسمه دی: **يوصف بها المفرد** مثال ښايي **مثل کلمة فصيحة والکلام** مثل کلام فصيح دا په کلام نثري کې وقصيدة فصيحة، دا په کلام نظمي کې نو دا دوه مثالونه يې وښودل، **قيل** د قيل نه بعد د شارح څلور غرضونه دي: ۱ اعتراض واردیږي په ماتن باندې. ۲ او دويم نقل د جواب د بعضو کوي د ماتن د طرف نه، ثانياً، ۳ او رد کوي شارح په دې جواب د بعضو باندې ثالثاً وفيه نظر سره، او جواب کماحقه کوي د اصل اعتراض نه رابعاً علی ان الحق سره نو څلور اغراض شو، ورود الاعتراض اولاً علی المصنف ونقل جواب بعض الشارحين عن هذا الاعتراض ثانياً، والرد علی هذا الجواب ثالثاً بقوله وفيه نظر والجواب عن اصل الاعتراض رابعاً بقوله **علی ان الحق** اوس دا دري وروستی خبرې په کتاب کې دی (شرحه کې) او اعتراض په مصنف باندې هغه د بهر نه دی. اوس اعتراض په مصنف باندې بهر نه داسې وارد شو چې يا هلکه حصر د فصاحت په اقسام ثلاثو کې نه صحيح کيږي، مفرد او کلام او متکلم کې ځکه چې کله کله موصوف د فصاحت مرکب ناقص واقع کيږي، چې هغه مرکب اضافي او توصيفي دی، لکه ويلی کيږي چې **مرکب فصيح** او هغه مرکب اضافي او توصيفي خو په مفرد کې داخل نه دی، ځکه مفرد ديته وائي چې جزء د لفظ دلالت په جزء د معنی باندې نه کوي، هغه مرکب

اضافي اوتوصيفي خو دلالت كوي، او دغه مركب توصيفي او اضافي خو په كلام كې هم داخل نه دى، خكه په كلام كې خو اسناد وي، **الكلام ما تضمن كلمتين بالاسناد** نو په مركب اضافي او توصيفي كې خو اسناد نشته دى، نو حصر د فصاحت په اعتبار د موصوف سره په اقسام ثلاثۀ كې صحيح نه شو، خكه چې موصوف د فصاحت مركب ناقص هم واقع كيږي، او حالانكه هغه نه په مفرد كې داخل دى او نه په كلام كې داخل دى، او په متكلم كې خو نه دى نه دى، نو حصر د فصاحت په اعتبار د موصوف سره اقسام ثلاثۀ ؤ كې صحيح نه شو، بلكه قسم رابع هم راغلو چې مركب اضافي او توصيفي دى، نو اوس خلخالي د دې اعتراض نه جواب وكړو چې يا هلكه دغه مركب اضافي او توصيفي په كلام كې داخل دى، خكه مراد د كلام نه زمونږ **ما ليس بكلمة** دى، اوما ليس بكلمة عام دى نو دا مركب ناقصه ته هم شامل دى، او مركب تامه كلام ته هم شامل دى، نو **قيل المراد بالكلام ما ليس بكلمة**، او دا خكه مراد شو، **ليعم المركب الاسنادي وغيره**، چې مركب ناقصه دى، معترض شبه وكړه چې ته دا مركب ناقص ولې شاملوي جائز ده چې مركب ناقص موصوف د فصاحت دي نه واقع كيږي كنه، نو چې موصوف واقع نه شو نو شمول ته حاجت رانغلى، نو **فانه** سره قيل والادليل وائي چې مركب ناقص موصوف د فصاحت واقع كيداى شي، نو چې واقع شو نو تعميم ته حاجت راغلى، نو وائي: **فانه قد يكون بيت من القصيدة غير مشتمل على اسناد يصح السكوت عليه** يعني مركب توصيفي ناقصه يا اضافي وي، **مع انه يتصف بالفصاحة** نو چې مركب ناقص موصوف واقع كيږي نو تعميم ته حاجت راغلو، چې هغه هم داخل شي اوس شارح راځي په دې جواب د قيل باندې شبه كوي چې **وفيه نظر** په دې ما قال د قيل كې اعتراض دى، اعتراض د ده په اصل مدعى كې هم شته دى او په دليل كې هم شته دى، فانه كې چې دا د ده دليل وو، او مدعى دا ده چې كلام نه مراد ما ليس بكلمة دى، اوس په مدعى كې داسې نظر دى چې دا خو هله صحيح كيږي، چې د عربو نه چيرته نقل شوي وي، اطلاق د كلام په دغه مركب ناقصه باندې، او د عربو نه دا چيرته نه دى نقل شوى هغوى د كلام اطلاق چيرته په مركب ناقص ندى كړى ولاتۀ انما يصح ذلك واما قال وقيل ومركب ناقصه دى په كلام كښى ، كله **لو اطلقوا على مثل هذا المركب انه كلام فصيح** نو لو اطلقوا على مثل هذا المركب انه كلام فصيح دا مقدم د قياس شو او يصح دا تالي د قياس شو، نو تحرير د قياس داسې شو لو اطلقوا على مثل هذا المركب انه كلام فصيح يصح ذلك لكن التالي باطل فالمقدم مثله، اوس تالي ولې باطل دى دليل د بطلان التالي دا دى چې **ولم ينقل عنهم ذلك** او دليل د ملازمي دا دى چې په اطلاق د الفاظو كې احتياج عربو ته دى. اوس د **اتصافه** سره د ده په دليل باندې رد كوي چې كه ته وائي چې د مركب ناقصه توصيف په فصاحت سره كيږي نو هلكه هلته كې فصاحت، ذات د مركب ناقصه فصيح نه دى، فصاحت په اعتبار د مفرداتو سره دې وي كنه، نو دليل يې هم خراب شو، نو وائي: **واتصافه** اى اتصاف د دې مركب ناقص په **بالفصاحة يجوز ان يكون باعتبار**

فصاحة المفردات، على ان الحق: نو اوس گوره دا **على** په مختصر المعاني کې ډير راځي، يعنې کله د دې متعلق محذوف وی کله مبتداء وغيره وی چې دا په اعتبار د متعلق سره کله خبر جوړيږي. نو دلته کې دا ووايه چې دا على جار سره د مجرور نه په اعتبار د متعلق سره خبر دی او د دې مبتداء محذوف ده، نو تقدير دا شو چې **التحقيق ثابت على** نو معنی دا شوه چې دا مخکښينی خبره غير تحقيق وو، او تحقيقي جواب دا دی، يا دا **على** په معنی د **لكن** استدراکيه سره دی نو مخکې نه توهم راغلو چې يا هلکه اتصاف د مرکب ناقصه په اعتبار د فصاحت د مفرداتو سره، دا خبره به صحيح وي؟ نو شارح دفع وکړه چې نه، **لكن ان الحق** چې حق دا دی چې دا مرکب ناقص په مفرد کې داخل دی، نو على په معنی د لکن استدراکيه سره شو. دريم دا چې **على** يا په معنی د **مع** سره کوئ چې **مع ان الحق** نو معنی دا شوه په دې وارو احتمالونو باندې چې مخکښی خبره غير تحقيقي ده او تحقيقي خبره دا راتلونکي خبره ده. نو مخکښی خبره دا وه چې اتصاف د مرکب ناقصه په فصاحت سره په اعتبار د فصاحت د مفرداتو سره دی، دا تحقيقي نه شوه بلکه تحقيقي دا ده چې د مرکب ناقصه اتصاف په فصاحت سره بذاته کيږي او دا په مفرد کې داخل دی، نو وائي: **على ان الحق** انه دا مرکب **داخل في المفرد** اوس مفرد کې څنګه داخل دی مفرد خو ديته وائي چې جزء د لفظ دلالت په جزء د معنی باندې نه کوي، او مرکب خو ديته وائي چې جزء د لفظ دلالت په جزء د معنی باندې کوي نو دا خو نه شي داخليدی، نو وائي مفرد خو يواځې د يو شي مقابله کې نه راځي، مفرد خو ډيرو معانيو سره راځي، نو وائي، **لانه** يعنې دا مفرد **يقال على ما يقابل المركب** نو دا مفرد څه ته وايئ چې جزء د لفظ دلالت په جزء د معنی باندې نه کوي، او مرکب ديته وائي چې کوي **وعلى ما يقابل المثنى والمجموع** او مفرد مقابل د تثنيې او د جمعې هم راځي، نو دا مفرد په معنی د واحد سره شو. نو معنی دا چې يو دې دوه نه دي دري نه دي. **وعلى ما يقابل الكلام** نو کوم مفرد چې مقابل د کلام دی، نو دا هغه ته وائي چې هغه مشتمل په اسناد باندې نه وي. نو دلته کې د مفرد نه دا اخر شو چې مقابل د کلام دي، او کوم مفرد چې مقابل د کلام دی نو هغه مرکب ناقصه ته هم شامل دی، ځکه مرکب ناقصه هم مشتمل په اسناد باندې نه دی، شبه دي وائي چې قرينه څه ده چې دلته کې مفرد مقابل د کلام اخلي او د مرکب او د مثنی و مجموعه نه اخلي؟ نو وائي قرينه شته چې **ومقابلته بالكلام ههنا قرينة على انه اريد به المعنى الاخير اعني ما ليس بكلام** دا اعني ما ليس بكلام يې ولې وويل، دا ځکه چې دا معنی ثاني هم اخير دی په نسبت سره اول ته، نو ده جواب وکړو چې د اخير نه مراد اخير حقيقي دی چې هغه دريم دی، نو وائې ځکه وويل. که اخير اضافي شي نو ثاني هم اخير دی بالنسبة الى الاول نو شبه دي څوک ونه کړي چې اخير خو مونږ ته معلوم وو نو تفسير يې څه ته وکړو؟...، **ويوصف بها المتكلم ايضاً يقال كاتب فصيح**، دا مثال په ناثر کې شو او **شاعر فصيح** په نظم کې شو. او دلته کې کاتب نه مراد ذات من له الكتابة نه دی، کاتب نه مراد من يؤلف الكلام المنثور دي، او د

شاعر نه ذات من له الشعر نه دی، بلکه شاعر نه مراد من یولف الکلام المنظوم دې نو دا دواړه متکلم شو. او که ذات من له الکتابة یا ذات من له الشعر شي نو هغه متکلم نه دی. نو دا تقسیم وشو په فصاحت کې په اعتبار د موصوف سره، ذات د فصاحة دري قسمه نه دی خکه هغه خو معنی مصدري انتزاعي بسیط دی، نو تقسیم وشو په اعتبار د موصوف سره.

قال الماتن، والبلاغة: وهي: سره غرض د شارح یو معنی لغوي د بلاغت بیانوي، او دویم غرض دا دی چې بلاغت په معنی د نهایت سره هم راځي، او نهایت لازمي دی او بلاغت په معنی د بلوغ الرجل الی جد التکلیف باندې هم راځي، خو دې ټولو معانیو کې وې وائې ما ته پته نشته دی چې بلاغت په کې حقیقت دی او که نه ټولو کې مجاز دی او که نه په بعضو کې حقیقت دی او په بعضو کې مجاز دی؟ خو دا ټولې معاني **مبنی عن الاصول والانتهاء** دي او په اصطلاح د علم معاني کې بلاغت منقسم دی قسمینو ته په اعتبار د موصوف سره، **یوصف بها الاخیران فقط** د اخیرانو تعیین مصداقي کوي **ای الکلام والمتکلم، دون المفرد** کې یې اشاره وکړه د **فقط** معنی ته چې د فقط معنی څه ده؟ یعني دون المفرد، مفرد موصوف د بلاغت نه شي واقع کیدای. **اذ** سره غرض د شارح دا دی چې دلیل د متن لپاره وائي، متن کې دوه دعوې شوي، یو ایجابي چې بلاغة سره موصوف کیږي اخیران، او یو دعوی سلبیه دون المفرد یعني د بلاغت موصوف مفرد نه شي واقع کیدای، **اذ لم یسمع** سره دلیل د دعوی سلبي دی، وائي چې مفرد ولې نه موصوف کیږي؟ ځکه **اذ لم یسمع کلمة بلیغة** سمع نه ده شوي، او پاتې شو د دعوی اول دلیل، هغه شارح پریښې ده د ظهور د وجې نه. چې په دې باندې کلام او متکلم موصوف کیږي ولې؟ **اذ یسمع کلام بلیغ والقصیدة بلیغة والمتکلم بلیغ**، دا ئې پریښې ده، والتعلیل نه غرض د شارح دا دی چې د دې فقط لپاره بعضې خلکو دلیل ویلی دی، شارح هغه دلیل نقلي کوي اولاً او بیا پرې رد کوي ثانیاً په وهم سره، چې دا چې چا ویلي نو دا وهم دی. او ما چې کوم دلیل اووې چې **اذ لم یسمع** دی دا نبه دلیل دی. دویم غرض د شارح دفع د اعتراض کوي د څان نه چې یا هلکه تا دلیل د مفرد لپاره دا وویل چې **اذ لم یسمع کلمة بلیغة** او خلکو دا ویلي چې مفرد موصوف د بلاغت نه واقع کیږي ځکه چې بلاغت په اعتبار د مطابقت سره وی د مقتضی الحال سره، او مطابقت په مفرد کې نه شي راتللی، نو هغه دلیل تا ولې ونه ویل چې تا دا دلیل وویل چې **اذ لم یسمع**؟ نو شارح جواب وکړو چې هغه دلیل وهم وو او زما دلیل صحیح دی. نو ځکه ما دا وویل یعني هغه دلیل مقتضی د قوة واهمه وو او زما دلیل مقتضی د قوة عاقله دی، نو زما هغه دلیل نبه شو نو ځکه ما د هغې نه عدول وکړو، نو وهمي دلیل مردود وي، نو ځکه وائي: والتعلیل، او دلیل بیانوول او ذکر کول د دې لپاره چې د بلاغت موصوف مفرد نه واقع کیږي، چې بلاغت متحقق کیږي په اعتبار د مطابقت ذکر کول د مقتضي الحال سره، او مطابقت د مقتضي الحال سره نه مستحق کیږي په مفرد کې، نو دا هم دی، اوس دا د **وهم** لپاره دلیل

وائي شارح **لان ذلك** وائي څکه چې دي معلل باندې خلط راغلی دی، وائي چې مطابقت د مقتضي الحال سره دا خو په بلاغت المتکلم والکلام کې راځي، او مفرد دي موصوف شي د بلاغت په بله یو معنی سره، دلیل تام شو؟ دی وایي دا خو خاص دی خو په بلاغة الکلام او متکلم کې خاص دی، او مفرد کې معنی اخر دې وي کنه، یعني دا خو په کلام او متکلم کې وي کنه.

وانما قسم کلا من الفصاحة والبلاغة دي سره شارح دفع د اعتراض کوي، چې یا هلکه تا ابتداء تقسیم د فصاحت وکړو په اعتبار د موصوف سره اقسام ثلاثه وو ته، دارنګه بلاغت تا په اعتبار دموصوف سره تقسیم کړلو قسمینو ته، او قانون دا دی چې اول د مقسم تعریف کیږي او بیا تقسیم کیږي، نو اول د فصاحت تعریف کول په کار وو. او بیا تقسیم کول په کار وو، او اول د بلاغت تعریف کول په کار وو. بیا تقسیم کول په کار وو، نو تا خو هغه ونه کړل، نو اول شبهي ته اشاره کوي چې **انما قسم کلاً من الفصاحة والبلاغة** نو که څوک شبه وکړي چې تقسیم خو یې نه دی کړی، صرف د موصوف د فصاحت تعیین یې کړی دی، او دا رنګه د بلاغت د موصوف، جواب: تاسو وایئ چې د بلاغت د موصوف چې تعیین وشو نو دا ضمناً تقسیم شو. فصاحت په اعتبار د موصوف سره درې قسمه شو، نو څکه ناکت ورسره ویلی دی چې ضمناً لاصراحةً، صراحةً خو یې موصوف د فصاحت او بلاغت ښودلی دی، تقسیم یې نه دی کړی، خو دا ښودل د موصوف د فصاحت او بلاغت دا ضمناً تقسیم دی، نو دا د قانون نه خلاف دی اول تعریف کول په کار دی او بیا تقسیم کول په کار دی. دا **التعذر جمع المعاني المختلفة** دا جواب دی، چې د وجې د تعذر د جمع کولو د معانیو مختلفو غیر مشترکو نه په یو مفهوم کې، داسې مفهوم چې **یعمها** شامل وي دي معانیو مختلفو غیر مشترکه ؤ ته، د دې په تعذر کې څه شك نشته، څکه داسې یو تعریف نشته چې انسان او فرس دواړو ته شامل شي، او مفهوم غواړي اشتراك په اشتراك معنوي سره، هغه دوی کې نشته، نو تعریف ممکن نه شو، نو ما تقسیم وکړو بیا د هر یو قسم ما ځان ته تعریف وکړو. معترض راغلو شبه یې وکړه چې یا هلکه د دې لپاره چیرته نظیر شته دی؟ جواب: ویل هو، نظیر شته دی، زه په دې کې متفرد نه یم **کما قسم ابن الحاجب** لکه تقسیم کړې ده ابن حاجب مستثنی متصل او منقطع ته، هلته کې **المستثنی منقطع او منفصل** یې ویلی دی، بیا د هر یوې تعریف یې کړی دی، جدا جدا، نو دا زما لپاره یو لوی دلیل شو نظیر شو څکه د مستثنی لپاره یو مفهوم په اشتراك معنوي سره نه وو، نو تعریف هم ممکن نه وو، نو اول یې تقسیم وکړو او بیا یې تعریف وکړو.

ماتن وویل: **فالفصاحة في المفرد**، نو دا فاء فصیحیه شوه، د دې شرط محذوف دی چې **اذا عرفت الاقسام الثلثة فالفصاحة في المفرد کذا وفي المتکلم کذا** شارح ورسره لګي چې **قدم الفصاحة علی البلاغة** دي کې شارح اشاره وکړه اعتراض ته چې یا هلکه ماتن فصاحت مقدم کړو په بلاغت باندې او وجه د تقدیم نه وه، نو ترجیح بلا مرجع لازم شوه بلکه ترجیح د مرجوح لازم شوه څکه کل بلیغ فصیح ولاعکس دی، نو

بلاغت مخکې کول په کار وو، ځکه چې بلاغت موقوف علیه د فصاحت دی او فصاحت موقوف علیه د بلاغت نه دی، نو بلیغ خاص شو او فصیح عام شو، بلاغت خاص شو او فصاحت عام شو او خاص مقدم وي په عام باندې. شارح جواب وکړو لتوقف معرفة البلاغة على معرفة الفصاحة، ویل ځکه یې فصاحت مقدم کړو بلاغت باندې چې معرفة د بلاغت موقوف دی په معرفة د فصاحت باندې، تتمه د جواب شارح نه ده کړې، تتمه د بهر نه وکړئ، ځکه دا د شارح جواب پوره جواب نه جوړیږي، داسې چې بلاغت موقوف شو او فصاحت موقوف علیه شو، نو موقوف علیه مقدم وي په موقوف باندې، نو فصاحت یې مقدم کړو په بلاغت باندې، ای فکانت الفصاحة موقوفاً علیها والبلاغة موقوفاً و الموقوف علیه مقدم علی الموقوف فقدم الفصاحة علی البلاغة، نو تتمه وشوه، اوس دا مقدم په کې نظري وو چې معرفت د بلاغت موقوف دی تر معرفت د فصاحت پورې نو شارح د دې لپاره دلیل وائي چې **لکونها ای الفصاحة ماخوذة** ملحوظ کړی شوی **في تعریفها ای البلاغة**، ځکه چې فصاحت ماخوذ دې په تعریف د بلاغت کې، او قانون دا دی چې ماخوذ موقوف علیه وي د ماخوذ فیها لپاره نو فصاحت موقوف علیه شو د بلاغت لپاره.

اوس فصاحت په بلاغت الکلام کې څنګه ماخوذ دی؟ داسې، بلاغة الکلام څه ته وائي؟ مطابقة الکلام لمقتضي الحال مع فصاحته، نو فصاحة ماخوذ شو په تعریف د بلاغت کې او فصاحت ماخوذ په بلاغة المتکلم کې څنګه دی؟ بلاغة المتکلم دیته وائي چې: **ملکة یقتدر بها علی تالیف کلام بلیغ** نو بلاغة المتکلم موقوف شو بلاغة الکلام پورې، او بلاغة الکلام کې خو فصاحت ماخوذ وو، نو بلاغة المتکلم کې هم ماخوذ شو بالواسطة، ځکه شئ ماخوذ په ماخوذ د شئ کې ماخوذ په دغه شئ کې وي. فصاحت ماخوذ شو په بلاغة الکلام کې او بلاغة الکلام ماخوذ وو په بلاغة المتکلم کې، نو فصاحت ماخوذ شو په بلاغة المتکلم کې، ځکه ماخوذ د ماخوذ د شئ ماخوذ د دغه شئ وي.

ثم: ثم سره شارح بلي شبهې ته اشاره کوي چې ثم قدم **الماتن فصاحة المفرد علی فصاحة الکلام والمتکلم** او ثم: ثم سره شارح بلي شبهې ته اشاره کوي چې ثم قدم **الماتن فصاحة المفرد علی فصاحة الکلام والمتکلم** او تقدیم لپاره وجه نه وه نو ترجیح بلا مرجح لازم شوه، دا یو شبه: بلکه ترجیح المرجوح لازم شوه، ځکه فصاحت المفرد کې افاده او استفاده نشته دی، او په فصاحت الکلام او متکلم کې افاده او استفاده شته دی. نو شارح جواب وکړو **لتوقفهما علیها**، د وجې د توقف د دې فصاحة الکلام والمتکلم نه په دې فصاحت المفرد پورې. فصاحة المفرد یې مقدم کړلو په فصاحت الکلام والمتکلم باندې، اوس دا فصاحة الکلام والمتکلم په فصاحة المفرد موقوف دی داسې ځکه فصاحة الکلام وائي: **خلوصه من ضعف التالیف وتنافر الکلمات والتعقید مع فصاحتها** نو فصاحت د کلماتو ماخوذ شو په فصاحت الکلام کې نو فصاحت الکلام موقوف شو په فصاحة المفرد باندې او فصاحة المتکلم، ځکه هغه وائي: ملکة یقتدر بها علی التعبیر عن المقصود بلفظ فصیح نو لفظ فصیح مفرد او مرکب دواړو ته شامل دی،

نو دواړو کې یعنی **فصاحة الکلام والمتکلم** کښی توقف بالذات راغلو.
فصاحت المفرد دیته وائي **خلوصه** تعیین د مرجع کوي،خلوص المفرد خالي کیدل د مفرد دی، **من تنافر الحروف والغرابة ومخالفة القیاس** (متن دومره دی اللغوي شرح ده) متوهم توهم وکړو چې هلکه د قیاس نه مراد به قیاس منطقي وي چې هو مؤلف من قضایا یستلزم لذاته قولااخر، نو د هغې نه خو دلته کې بحث نه کیږي، یا به قیاس فقهي مراد وي، نو د قیاس فقهي اصولي نه هم دلته کې بحث نه کیږي، نو ده جواب وکړو **اللغوي** چې د قیاس نه مراد قیاس لغوي دی، شارح چې ورسره دا لګوي چې **ای المستنبط من استقراء اللغة** دی کې یې یو اشاره وکړه مناسبت ته په مینځ د منسوب او منسوب الیه کې چې اللغوي کې یاء نسبتیه ده، یعني هغه قیاس چې منسوب دی لغت ته، نو قیاس منسوب شو او لغت منسوب الیه شو نو منسوب او منسوب الیه کې مناسبت په کار دی، نو ده وویل دې کې مناسبت دمستنبط او د مستنبط عنه دی، دغه قانون او قیاس مستنبط دی د لغت د صرف نه ،اللغة نه مراد صرفي قانون دی ، دا علاقه شوه، نو دا د قبیلي دنسبت د مستنبط نه شو مستنبط منه ته، دویم غرض د شارح دفع د اعتراض کوي، اعتراض دا وارد شو چې یا هلکه د قیاس خو نسبت قائس ته کیږي او تا دلته کې لغوي ته وکړو، ځکه قیاس صفت د قائس دی، نو دا نسبت لغوي ته خطاء شو نو دې راغلو جواب یې وکړو چې دا نسبت د وجې د ادنی ملابست نه دی، صدوراً نسبت د قیاس کیږي قائس ته لیکن استنباطاً نسبت لغت ته کیږي. نو دلته نسبت په اعتبار د استنباط سره دی.
وتفسیر الفصاحة: شارح شبه کوي خان له ځې، وائي: **وتفسیر الفصاحة بالخلوص لا یخلو عن تسامح** یعني تفسیر د فصاحة بالخلوص کوم چې ماتن وکړو دا خالي نه دی د مجاز نه، تسامح چشم پوشي ته وائي په لغت کې او اصطلاح کې مجاز ته وائي. او تسامح او مجاز کې فرق دا دی، چې مجاز ویلی شي استعمال د لفظ په غیر موضوع له کې لقرینة او تسامح ویلی شي استعمال د لفظ په غیر موضوع له کې لالقرینة، قریني ته حاجت نه وي بلکه د شهرت د وجې نه.
اوس دې تسامح په دوو طریقو سره بیان نورو شروحو کړی دی. یو طریقه دا ده چې فصاحة د دوی په نزد باندې کون الکلمة جاریة علی القوانین المستنبطة من استقراء کلام العرب دی. یعني د دې **کون** نه عبارة دی او **کون** صفت وجودي دی، او تا تفسیر د هغه کون په خلوص سره وکړو نو دا خو تفسیر بالمبائن شو، ځکه کون صفت وجودي دی او خلوص صفت عدمي دی، او وجود او عدم کې مبائنت دی.
دویمه طریقه د تسامح: چې یا هلکه فصاحة المفرد دا صفت وجودي دی او **خلوص** عدم ته وائي، سلب ته، نو لازم شو تفسیر د وجودي په عدمي سره او دا ناروا دی نو شارح جواب نه دی کړی، جواب تاسو بهر نه وکړئ. اول نه دا جواب وکړئ چې یا هلکه دا خلوص د دې **کون** سره لازم دی. ځکه چې **کون الکلمة جاریة علی....الخ**، دي سره لازم دغه خلوص دی. ځکه دغه کون الکلمة جاریة... دا هله کیږي چې

خلوص د دې درې څيزونونه راغلي وي، نو دا تفسير باللازم شو. او تفسير باللازم ته څوك تفسير بالمبائن نه وائي او دا تفسير باللازم يې څكه وكړو للاختصار والتسهيل، څكه دغه كون ډير اوږد وو، نو چې په خلوص سره يې وكړو نو دې كې اختصارهم راغې او اساني هم راغله او دا لازم هم وو د هغه كون سره. او تفسير با لازم جائز دى. اختصاراً وتسهيلاً للامر. دويم نه جواب دا وكړئ چې ګوره تفسير د وجودي په عدمي سره هله ناروا دى چې دغه وجودي رافع لپاره د دغه عدمي وي عدمي رافع لپاره د دغه وجودي وى، او دلته كې دغه خلوص عدمي ملائم دى، د دې وجودي سره رافع نه دى.

اوس مخلات د فصاحت المفرد درې شو، نو په دي دريو كې د حصر لپاره وجه دا ده چې په مفرد كې درې څيزونه دي: ١ وضع، ٢ دلالت ٣ استعمال دى، نو كه وضع كې قصور راشي نو هغې ته تنافر الحروف وائي او چې دلالت كې قصور راشي نو هغې ته غرابت وائي او چې په استعمال كې هيئت كې يې راشي نو هغه ته مخالفة القياس وائي. نو په مفرد كې درې څيزونه وو نو مخلات هم درې شو، اوس د هر يو مخل تفسير كوي ماتن، نو وائي **فالتنافر**.

اوس هر كله چې مخلات دفصاحت درې شو نو ماتن د هر يو تشريح كوي نو وائي **فالتنافر** اوس د تنافر تعريف ماتن نه وو كړى يا د اختصار د وجې نه او يا يې اكتفابالمثال كړي وه نو شارح د تنافر الحروف تعريف كوي نو وائي: **وصف في الكلمة** توجب ثقلها على اللسان، شبه هلكه ثقل خو دروندوالي ته وائي چې دا بار دروند دى او دا بار سپك دى او دروند والى او سپك والى خو په اجسامو كې راځي دلته كې دا تنافر خو څه جسم نه دى؟ نو جواب يې وكړو چې **وعسر النطق بها** يا هلكه ثقل دلته په معنى د دروندوالي سره نه دي ثقل په معنى د ګران والي سره دي، چې تلفظ كول پرې ګران وي **نحو**شارح ورسره **مستشزرات** كښنوده لپاره ددفع د اعتراض، چې يا هلكه قانون دا دى چې مضاف اليه د نحو او د مثل مقصود بالمثال وي او دلته خو ټول شعر مقصود بالمثال نه دى؟ او حالانكه تا خو نحو مضاف كړى دي ټول شعر ته. نو شارح جواب وكړو چې د نحو مضاف اليه محذوف دى چې هغه **مستشزرات** دى. في **قول امرء القيس** كې يې قائل ته اشاره وكړه چې امرء القيس دى. دويم دفع د اعتراض يې وكړه چې نبه د نحو مضاف اليه محذوف شو چې مستشزرات دى نو ټول شعر بيا تركيب كې څه واقع شو؟ نو شارح جواب وكړو چې ټول شعر مقوله د قول محذوفه دى چې **قول امرء القيس** او قول د امرء القيس څه دى؟ شعر نو ټول مقوله د قول محذوفه شوه وائي: **غدائره** شارح تفسير وكړو په اى ذوائبه سره، دې كې يو يې اشاره وكړه تفسير دغير مشهور ته په مشهور سره څكه ذوائب مشهور وو او غدائر غير مشهور وو. او بل اشاره يې وكړه ديته چې غدائر او ذوائب او دارنګې وروستو را روان دى چې عقاص دا ټول يو شى دى يعني دلته كې، اګر كه د لغت په اعتبار سره په كې فرق شته دى.

جمع سره تحقيق صيغې كوي په غدائر كې چې دا جمع دې كه مفرد او چې جمع شو نو جمع د غدير دې

او که **دغديرة** دي، نو شارح جواب وکړو چې دا جمع دي مفرد نه دي او چې جمع شو نو د غدير نه دي بلکه د غديرة دي، شبه يا هلکه دي غدائرة کې دا ضمير چاته راجع دی، که مرجع وي نو کوم ده او که نه وی نو بيا اضمار قبل الذکر راغلی اودا جائز نه دي؟ نو ده جواب وکړو چې والضمير عائد الی الفرع، ويښتو ته چې هغه مخکې شعر کې دي چې **فرع يزين المتن اسود فاحم** چې ويښته د محبوب ښايسته کوي شا لره چې تک تور دی، **مستشزرات**: کې شارح دوه احتمالين بيانوي، چې دا مستشزرات صيغه د اسم فاعل ده ای مرتفعات پورته کيدونکي او دويم احتمال او **مرفوعات** پورته کړی شوی، يقال سره غرض د شارح دا دی چې مستشزرات کې چې کوم دوه احتمالين چې مرتفعات يا مرفوعات دي دا اصالةً و ابتداء دی او که بناء دی؟ نو شارح **يقال** سره جواب وکړو چې دا بناء دی. يعنې که دا باب لازمي شي نو بيا دا مستشزرات په معنی د اسم فاعل سره دی، ځکه دوی نه مفعول نه راځي. او که دا باب متعدي شي نو بيا دا په معنی د اسم مفعول سره دی. نو دا دواړه احتمالين بنائي شو اصالتي نشو، نو وائي يقال استشزره ای رفعه، نو متعدي شو هُ ضمير مفعول ته راجع شو. او استشزر اي ارتفع نو لازمي نشو. نو لف نشر غير مرتب سره ولګيدو چې استشزر لازمي شو نو په اسم فاعل سره شو او استشزر په معنی د رفعه سره نو متعدي شو، نو بيا مفعول سره شو، نو معنی **بناء على اسم الفاعل** پورته کيدونکي دي کمځۍ د دې يا پورته کړی شوی وي **الى العلى** سائل تپوس وکړو چې يا هلکه دويمه مصرع کوم ده؟ شارح وويل چې دغه ده چې: **تضل العقاص في مثنى ومرسل**، معترض اعتراض وکړو چې يا هلکه **تضل** د ضلالة نه دی، د ضال نه دی، او ضال خو ګمراه کيدو ته وائي هغه خو مکلفينو کې راځي او عقاص خو مکلف نه دی؟ نو جواب يې وکړو چې ای تغيب، چې دلته کې تضل په معنی د تغيب سره دی، نو د دې نه تائيد معلوم شو چې ﴿فَفَرَرْتُ مِنكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ وَأَنَا مِنَ الضَّالِّينَ﴾ چې زه د ورکيدونکو نه ووم ستاسو نه چې مدين ته لاړم، غائب شوم، يا ﴿أَنْ تَضِلَّ إِحْدَاهُمَا﴾ دا معنی نه ده چې ګمراه شي يو په دې ښځو کې، يعنې ورکه نه شي ګواهي د يوې نه، ځکه ښځو کې نسيان زيات دی، نو که يو نه هير هم شي نو بله به ورته يادوي. عقاص کې تحقيق صيغې کوي چې يا هلکه عقاص جمع دی که مفرد دی؟ ويل جمع دی او بيا جمع دی نو د عقيص دی. که د عقيصة دی؟ ويل د عقيصة دی. وهي سره د عقاص تفسير کوي د غير مشهور په مشهور سره چې وهي الخصلة المجموعة من الشعر دا هغه مُوټي ته ويلی شي چې جمع کړی شوي وي د ويښتو نه، چې دا د سر ويښته جمع کړی شوی وي او بيا بره په سر په مزي باندې ترلی شوی وي او بره د سر دپاسه يې اينبودی وي، دا دجاجة المخلات ښځې کوي بيا پرې د پاسه لوپټه وغورځوي او بيا بازار ته ووځي چه خلک يې تماشه کوي چې يره د دې سر کې ګوره پندوسکی ښکاره کيږي. د مثنى تفسير کوي چې والمثنى المفتول، چې مثنى هغه اُودلی شوی

وينبتو ته وائي **والمرسل خلاف المثنى** چې هسې زورند يې پريښې وي، اُودلی يې نه وي، يعنې **ان ذوالنبه** نه غرض د شارح يو دفع د اعتراض دی، اعتراض دا وارد شو چې يا هلکه تا وويل چې دغه وينبسته پورته کيدوونکي وو، بره طرف ته يا پورته کړی شوي وو بره طرف ته، نو وينبتو کې خو ثقل دی نو ثقيل شي خو بره طرف ته نه خي بلکه ثقيل شي خو بنکته راځي، نو وينبسته څنګه پورته کيدونکي وو يا پورته کړی شوي وو، نو شارح جواب وکړو چې د قاسر د وجې نه لکه ګټه بنکته راځي خو تا ګذار وکړو، نو هغه يو حد پورې بره خي، نو د دې وينبتو بره والي حرکت کسری شو طبعي شو، چې مزي سره ترلی شوي وي او بره کړی شوی وي، دويم غرض د شارح د دې نه دفع د توهم کوي چې هلکه د دې شعر نه معلوم شو چې د دې محبوب وينبسته څلور قسمه وو يو غدائر بل عقاص، بل مثنی او څلورم مرسل؟ نو شارح دا توهم دفع کړو چې نه نه، وينبسته څلور قسمه نه وو بلکه درې قسمه وو. او دلته غدائر او ذوائب او عقاص يو شی دی، لکه ما تاسو ته مخکې وويل. دريم غرض د شارح د يعنې نه دفع د بل اعتراض دي چې يا هلکه د شعر نه خو يا مدحه مقصد وي يا ذم، نو مونږ پوهه نه شو چې دا مدحه کوي که ذم کوي، شارح جواب وکړو چې **والغرض بيان كثرة الشعر**، او کثرة د وينبتو دا د محسناتو نه شمارولي کيږي، د سر وينبسته په بنځه کې. نو څکه وائي: يعنې **ان ذوائبه مشدودة على الراس بخيوط**، دا اول اعتراض دفع ته يې اشاره وکړه، اوس هغه دفع د توهم ته اشاره کوي چې **وان شعره ينقسم الى عقاص ومثنى ومرسل والاول يغيب في الاخرين** او دريم ته اشاره کوي، **والغرض بيان كثرة الشعر** چې وينبسته يې زيات وو.

والضابطة: سره غرض د شارح يو تطبيق د مثال کوي د ممثل سره چې يا هلکه مستشزرات کې څه تناؤ او ثقل راغلو چې دا مخل بالفصاحة شو؟ دويم غرض رد کوي په بعضو باندې چې خلخالي دي، چې هغه وائي چې دلته کې سبب د تنافر د بُعد المخارج حروفو جمع کيدل دي. دريم غرض رد کوي په زوزني باندې چې هغه ويلي وو چې قرب المخارج سبب د تنافر دي. اګر که دلته کې قريب المخارج حروف نه دي جمع شوي په شعر کې خو مذهب د هغه دغه وو نو د هغه په مذهب باندې رد کوي.

نو اول غرض ذکر کوي، تطبيق د مثال د مثل سره کوي چې **والضابطة:** چې قانون کلي ههنا په دې تنافر د حروفو کې دا دی، چې **ان كل ما يعده الذوق الصحيح ثقيلاً متعسر النطق فهو متنافر**، نو مونږ چې خپل ذوق ته رجوع وکړو نو مونږ ته مستشزرات دواړو صيغو سره ثقيل لږي، او مرتفعات او مرفوعات ثقيل نه لګي، نو هغه متنافر شو او دا متنافر نه شو **سواء كان من قرب المخارج** دا رد دی په زوزني باندې، **او بعدها** دا رد دی په خلخالي باندې او غير ذلك لکه توسط دشين شو په مينځ د تاء او زاء کې شبه يا هلکه په دې باندې ستا لپاره دليل څه دی؟ ويل دليل زما لپاره يو خو ضابطه شوه، چې دا دليل عقلي وو، دريم دليل زما لپاره د ابن الاثير قول دی، **على ما صرح به ابن الاثير في المثل السائر** وائي چې ابن الاثير امام اللغة دی هغه په مثل سائر، دا د هغه کتاب دی هغه کې هغه په دې باندې تصريح کړې ده، نو دا دليل

نقلي شو.

اوس تفصيلي رد کوي په خلخالي باندې اول د هغه مذهب نقل کوي، او بيا په هغه باندې تفصيلي رد کوي، وائي، **زعم بعضهم ان منشا الثقل في مستشزرات هو توسط الشين المعجمة** چې په هغې باندې درې ټکي ليکلی کيږي **التي هي من المهموسة**، يو کش غوندې سره ادا کيږي، **الرخوة** نرم ادا کيږي په مخرج کې ورته د زورحاجت نشته دی، **بين التاء التي من المهموسة**، نو په دې صفت کې شين خو د تاء سره موافق شو، خو رخوة صفت کې بعيد شو، هلته کې رخوة وو دلته کې شدة دی، **والزاء المعجمة التی هي من المهجورة**، او شين د مهموسو نه وو، نو دا زاء ضد د مهموسه شوه، نو بعيد المخرج حروف شو. بيا خلخالي ويلي دي، **ولو قال مستشرفات لزال ذلك الثقل**، اوس **وفيه نظر** سره شارح په دې باندې رد کوي، چې ته وائي چې که مستشرفات يې ويلی وی نو ثقل به زائل شوی وی، دا ته خطاء وائي، خکه **لان الراء المهملة ايضاً من المجهورة**، نو بيا خو مستشرف هم ستا په نزد باندې ثقيل شو. **وقيل** سره د زوزني مذهب نقل کوي، او رد پرې کوي، خو دده دا مذهب شارح دلته کې هسې طرداً للباب ذکر کړی دی، په مثال کې ده له څه دخل نشته دی، **وقيل ان قرب المخارج سبب للثقل المخل بالفصاحة**. نو معترض راغلی په زوزني باندې يې شبه وکړه چې يا هلکه بيا خو **الم اعهد** په سورة ياسين کې غير فصيح ش ځکه قريب المخرج حروف جمع شوي دي، حروف حلقيه، نو ټول سورة ياسين غير فصيح شو، او ټول سورة ياسين ته غير فصيح ويل کفر دی که اسلام؟ کفر دی. نو دی جواب کوي چې **وان في قوله تعالى الم اعهد ثقلا قريبا من حد التنافر فيخل بفصاحة الكلمة**، نو هلکه بيا خو ټول سورة ياسين غير فصيح شو، نو دی راغلی جواب يې وکړو چې **لكن الكلام الطويل المشتمل على كلمة غير فصيحة لا يخرج عن الفصاحة**، وائي چې ټول سورة ياسين غير فصيح کيږي نه، او وائي قياس په دې باندې زما دليل دی، نو ګوره کلام طويله چې مشتمل دی په کلمه غير فصيح باندې، دا مقيس شو، او مقيس عليه کما لايخرج الكلام الطويل المشتمل على كلمة غير عربية عن ان يكون عربياً، لکه قران ته الله عربي ويلی دی او ډير کلمات په کې غير عربي دی، ليکن هغه قران د عربيت نه نه ووځي، لکه مشکوة شو قسطاط شو سجيل شو تنور شو دا الفاظ غير عربيه دی. او علت اشتمال په خلاف الجنس باندې او حکم عدم خروج شو په دوارو کې. هغه دفصاحت نه نه خارجيږي او دا د عربيت نه نه خارجيږي، نو شارح د ده مذهب نقل کړو، اوس پرې رد کوي، **وفيه نظر** ليکن د دې صاحب قيل دوه دعوی وي او يو دليل وو، اول دعوی د ده دا وه چې قرب المخارج حروف راتلل سبب لپاره د ثقل دی، دويمه دعوی د ده دا وه چې کلام طويله مشتمل په کلمه غير فصيحة باندې د فصاحت نه نه خارجيږي، دريم د ده دليل وو د دعوی ثاني لپاره، قياس وو کمالا يخرج سره، نو شارح په دعوی اول باندې رد ونه کو، خکه هغه ظاهر وو، نو پاتې شوه دعوی ثاني او دليل نو اول په دعوی باندې رد کوي بلکه دعوی باندې دوه ردونه کوي، اول رد منعي کوي او دويم رد

تسليمي کوي. درد منعي حاصل دا دی چې يا هلکه ته وائي چې کلام طويله مشتمل وي په کلمه غير فصيحه باندې هغه د فصاحت نه نه ووځي دا زه نه منم، سند او منع دا دی چې **ان فصاحة الكلمات ماخوذة في تعريف فصاحة الكلام**، او قانون دا دی چې ماخوذ موقوف عليه د ماخوذ فيه لپاره وي، نو فصاحة الكلمات موقوف عليه شو د فصاحت الكلام لپاره، نو چې يو کلمه غير فصيح شي نو بيا کلام کله فصيح کيداى شي. او دغه فصاحة الكلمات ماخوذ کيدل په فصاحة الكلام کې **من غير تفرقة دي بين طويل و قصير** دا رد منعي تحقيقي وشو په دعوى باندې.

على ان هذا سره غرض د شارح رد منعي کوي خو الزامي رد کوي چې يا هلکه ستا په نزد باندې خو فصاحت د کلماتو يواځې په مرکب تام کې شرط نه دی، ستا په نزد خو په مرکب ناقص ،مرکب اضافي او توصيفي کې هم فصاحت د کلماتو شرط دی. چې مخکې دي د کلام تفسير په **ما ليس بكلمة** سره کړی دی. نو تا مرکب ناقصه په کلام کې داخل کړی، او زمونږ په نزد خو صرف فصاحت د کلماتو د مرکب تام لپاره شرط دی. نو دا رد منعي الزامي شو نو وائي **على ان هذا القائل فسر الكلام بماليس بكلمة** دا وروستو عبارت د مخکې سره ولګوئ: چې **ولو سلم** دی دا رد تسليمي کوي په دعوى باندې، چې ځه يره ما ستا دا دعوى ومنله چې کلام طويله مشتمل په کلمه غير فصيحه باندې دا د فصاحة نه نه وځي، چې **ولو سلم عدم خروج السورة عن الفصاحة**، خو رد زه بيا دا کوم چې فمجرد اشتمال القران على کلام غير فصيح، کله چې په الم اعهد کې د فعل او فاعل دواړو لحاظ وکړي، بل على کلمة غير فصيحة کله چې صرف الم اعهد واخلي او د فاعل لحاظ ورسره ونه کړي، **مما يقود الى نسبة الجهل او العجز الى الله تعالى** تالي باطل دی ځکه **تعالى الله عن ذلك علواً كبيراً**. نو مقدم مثل شو. دليل د ملازمي د بهر نه دی چې يا هلکه الله پاك دغه کلام غير فصيح چې راوړو يا کلمه غير فصيحه چې يې په کلام طويله کې ذکر کوله نو الله به يا په هغه غير فصيح باندې عالم نه وي، نو ځکه يې غير فصيح ذکر کړه او يا عالم وو خو فصيح يې راوړې نه شو. او بل شئ خو نشته. الله پرې عالم نه وو، نو جهل راغلی، او که عالم وو خو راوړی يې نه شو نو عجز راغلی.

دا خو رد شو په دعوى ثاني باندې يو منعي نفس الامري او دويم منعي الزامي او بل رد تسليمي يو وشو. اوس والقياس سره د هغه په هغه دليل باندې رد کوي. وائي، **والقياس**: او قياس ستا په کلام عربي باندې **ظاهر الفساد** ظاهر الفساد دی، د يو څو وجوهو نه: ١دا قياس قياس مع الفارق دی، ځکه چې فصاحت د کلماتو دا د فصاحت الكلام لپاره شرط دی، او عربيت د کلماتو لپاره د کلام طويله عربي لپاره شرط نه دی، ٢ وجه دا ده چې جائز ده چې قران ته چې الله عربي ويلی دی نو په اعتبار د اسلوب او طريقي سره عربي دی، په اعتبار د الفاظو سره ټول عربي نه دی چې إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا چې اسلوب او طريقه يې د عربي ده، اګر که هر لفظ په کې عربي نه دی ٣ وجه چې جائز ده چې په قران

کې او په کلام طویله عربیه کې کوم کلمات چې غیر عربي راغلي دي، هغه دي د قبیلي د مشترک اللغات نه وي، په عربي کې دي هم راغلی وو، اوپه عجمي کې دی هم راغلی وي یعنې اشتراک لغوي دې وي، نو قیاس صحیح نه شو، بل د مخلا تو نه غرابت وو.

والغرابة اوس د غرابت تعریف ماتن نه وو کړي یا یې اختصار کړی وو یا د اکتفاء بالمثال د وجې نه، نو شارح تعریف د غرابت کوي، نو وائي چې غرابت **کون الکلمة وحشیة** شبه راغله چې یا هلکه د وحشیة حمل په کلمة باندې نه صحیح کیږي، ځکه وحشي هغه حیوان ته وائي چې هغه نفرت کوي د انسان نه او د انسان نه تښتي، او کلمه حیوان خو نه دی. نو شارح جواب وکړو چې **غیر ظاهر المعنی**، یعنې هسې وحشي چې ظاهرة المعنی نه وي، یعنې دلته کې وحشیة په معنی د **حیوان یتنفر عن الانسان** ندی، بلکه وحشي په معنی د غیر ظاهرة المعنی دی. یعنې د یوې کلمې معنی ظاهر نه وي. اوس معترض د بهر نه یو شبه وکړه چې هلکه تعریف د غرابت مانع نه شو د دخول د غیر نه داخل شو په دې کې متشابه او مجمل وخفي او مشکل د کتاب الله، ځکه هغه ټول غیر ظاهرة المعنی دي نو بیا خو هغه په غیر فصیح کې داخل شو، او هغوی ته غیر فصیح ویل صحیح نه دي. جواب: ناکت کړی دی چې معنی نه مراد مطلق معنی نه ده، معنی نه مراد معنی موضوع له ده، چې د هغه کلمې معنی موضوع له ظاهر نه وي. او متشابه او مجمل وخفي ومشکل کې د هغوی معني موضوع له خوظاهر وي خو معني مراد د الله غیر ظاهرة المعني وي. معترض بیا راغلی شبه یې وکړه چې یا هلکه بیا غریب القران او غریب الحدیث، غریب القران لکه هلوع شو او غریب الحدیث لکه احادیث غریبه شو، هغه خو بیا غیر فصیح شو او هغې ته څوک غیر فصیح نه وایي. نو شارح جواب وکړو چې **ولا مانوسة الاستعمال** او نه به وي دغه کلمات اشنا کړی شوي د دې د استعمال سره، په خلاف د غریب القران او غریب الحدیث نه، هغه مانوسة الاستعمال دی غیر مانوسة الاستعمال نه دی، دغه تعریف شو.

اوس داغریب دوه قسمه دی، یو هغه دی چې د هغې معنی مخکې د تفتیش او تلاش د کتب متداوله ؤ د لغت نه معلوم نه وي او پس د تفتیش او تلاش د کتب متداوله ؤ د لغت نه معلومه شوي وي، لکه **تکاکاتم او افرانقعوا** شو، د دې معاني مخکې د تفتیش او تلاش او د لټون نه مونږ ته معلوم نه وي، اوپس د تفتیش نه د دې معنی مونږ ته معلومه شوه چې تکاکاتم په معنی د جمعتم سره دی، او **افرنقعوا** معنی تنحوا سره دی، او دویم قسم غریب دا دی چې د هغې معنی مخکې د تفتیش او تلاش د کتب متداوله ؤ نه هم معلومه نه وه او پس د تفتیش نه هم معلومه نه وي، هغه لکه مسرجاً شو.

نحو اوس شارح وویل چې **مسرج** دي سره دفع د اعتراض کوي، چې یا هلکه د نحو او مثل مضاف الیه خو مقصود بالمثال وي او مقصود بالمثال خو ټول شعر نه دی؟ نو ده جواب وکړو چې د نحو مضاف الیه دلته کې محذوف دی چې **مسرج** شو شبه یا هلکه بیا دا شعر په ترکیب کې څه واقع شو؟ ویل **في**

قول چې دا مقوله د قول محذوف ده، او **ابن العجاج** کې يې تعيين د قائل او شاعر ته اشاره وکړه، او قول د ابن العجاج څه دی دغه شعر دی، شعر **ومقلة** کې ومقلة سره شارح د مصرع اول بيان کوي نو وائي **ومقلة** او کځي د محبوب وحاجباً او روځي د محبوب **مزججا** وو، د مزججاً تفسير کوي ای **مدققا مطولاً**، يعني نری وروځي يې وي او اوږدې وي، نری هغه دا چې بره بنکته يې ډير وينبته په وروځو کې نه وو، پلنې نه وي غټې غټې هسې داسې نری ليکه تللې وه، او مطولاً داسې دی دې ځای ته رسيدلې وي لکه د سترګو نه اوږدې وي يو خوا بل خوا **وفاحما** شارح ورسره لګوي ای شعراً، دې کې يې اشاره وکړه چې **فاحما** اسم صفتي دی موصوف غواړي، نو هغه موصوف شارح کښوده چې هغه **شعراً** دي. وينبته دي، معترض شبه وکړه چې **فاحم** خو سکرو ته وائي، پښتو کې هغه مړو ته سکاره وائي او هغه بل ته سکروټه وائي، نو بيا خو دا معنی شوه چې د ده وينبته سکاره وو، نو دا خو نه صحيح کيږي؟ نو شارح جواب وکړو چې **اسود** چې دلته کې **فاحم** نه **اسود** مراد دی، ځکه **فاحم** خو سکارو ته وائي د هغې حمل خو په شعر باندې وينبتو باندې نه صحيح کيږي، نو لازمي معنی شوه، ځکه د سکارو سره لازم تورواليدی، بيا معترض شبه وکړه چې يا هلکه بيا شارح د اسود نه په فاحم سره ولی تعبير کړی دی، بيا خو دا **اسود** ويل په کار وو، نو شارح جواب وکړو چې **کالفحم** چې دلته کې دغه تعبير د قبيلې د نسبت د مشبه نه شو مشبه به ته يعني دغه وينبته تک تُور وو په شان د سکرو، نو دا فحم مشبه به شوه، او دا تور وينبته مشبه شوه، يعني د هغه تورو وينبتو نسبت سکرو ته وشو، لکه د نسبت لپاره لابن او تامر چې راځي، تامر معنی منسوب الی التمر، لابن منسوب بسوئي لبن، نو فاحم معنی منسوب بسوئي فحم، **ومرسناً** شارح ورسره لګوي ای انفاً دي کې يې اشاره وکړه مجاز مرسل ته، چې مرسن اصل کې د اوښ پوزې ته ويلی شي، هغه شي ته ويلی شي چې د اوښ په پوزه کې اچولی شوی وي، هغې ته پيزوان وائي، (بلکه هغې ته پښتو کې مهار وائي او د غوا، غوئي وغيره پوزه کې چې کوم پړی اچولی شوی وي هغې ته پيزوان وائي، من الجامع) خو دلته کې ترينه مراد مطلق پوزه ده، نو دا استعمال د لفظ مقيده په مطلق کې شو، اواستعمال د لفظ مقيده په مطلق کې دا علاقه د مجازمرسل ده، دا پوزه د محبوب **مسرجاً** وو. اوس ګوره په دي قول د ابن العجاج کې راغلی **مسرجاً**، دا صيغه د اسم مفعول ده د باب تفعيل نه سرّجَ يسرّجُ تسريجاً، اوس د هر مشتق لپاره مشتق منه په کار دی، نو مونږ تفتيش تلاش د کتبو د لغت وکړو نو د تسريج ماده چيرته مونږه بيانه مونده. نو دوه خبرې به کوو يا به نسبت د خطايئ کوو ابن العجاج ته، چې دي په دي کې خطا شوی دی، او يا به د دې لپاره محمل صحيحه لټوو، نو نسبت د خطايئ خو مونږ ابن العجاج ته نه شو کولی، ځکه دي د فصحاءُ، بلغاءُ، شعراءُ د جاهليت نه دی. نو د دې لپاره مونږه محمل صحيح ولټولو هغه دا دی من جمله د خواصو د باب تفعيل نه دا ده چې دي د نسبت لپاره راځي، لکه **فسقته ای نسبته الی الفسق او کفرته نسبته الی الکفر** نو دلته کې

هم دغه **مسرجاً** نسبت لپاره دی، نو ابن درید وویل چې دلته کې نسبت د دې پوزې **کالسیف السریجي** تُورې د سریجي ته دی، نو دا پوزه د ده محبوب مشبه شوه او سیف سریجي مشبه به شوه او الف د تشبیه کاف شو، وجه د شبه **في الدقة والاستواء** شوه **وسریج اسم قین ینسب الیه السیوف**، یعنې دې په تورو جوړولو کې مشهور وو، او ابن سعیده فرمائي: چې د دې نسبت سراج ته **او** دی، نو **کالسراج في البریق واللمعان دا في البریق واللمعان** وجه د شبه شوه، یعنې دا پوزه د محبوب منسوب ده ډیوې ته په پرکیدو او رنا کولو کې، اوس **فان قلت** سره شارح شبه کوي چې یا هلکه دا مسرجاً د غرابت لپاره مثال نه صحیح کیږي ځکه چې دا د سرج الله وجهه نه شي او د سرجه معنی بهجه او حسنه سره ده، نو مسرجاً په معنی د محسناً سره شوه، نو وائي **فان قلت لم لم یجعلوه** ولې ونه ګرځولو دي قائلینو د غرابت د **مسرجا** دی مسرجاً لره، ضمیر د جمع په **یجعلوا** کې قائلینو د غرابت ته راجع دی، اسم مفعول من سرج الله وجهه ای بهجه وحسنه نو معنی د مسرجاً د محسناً شوه، نو دا مثال د غرابت صحیح نه شو، نو دی راغلی (شارح) د دې نه دوه جوابونه کوي یو وائي **قلت لاحتمال ان یکون متحدثاً ومولداً من السراج** دا احتمال شته چې سرج دا معنی بهج او حسن دی پیدا شوي وي او جوړه شوي وي د سراج نه، ځکه دا لازمي معنی د سراج ده، د سرج دا خپله معنی نه ده، بلکه دا متحدث دوی متاخرینو دې د سراج نه راخستی وي، او ابن العجاج د قدماؤ نه دی، او قانون دا دی چې اخذ د سابق د لاحق نه نه شي کیدای، د ابن العجاج قول چې هغه د قدماؤ نه دی هغه په دې مستحدث او مولدینو په کلام باندې حمل کیدای نشي، چې د هغې نه دي اخذ کړی شوی وي من بهج وحسن، ځکه چې سابق اخذ د لاحق نه خو نه شي کولی، ځکه چې دسابق په زمانه کې هغه لاحق نه وي، او اصلي معنی د مسرجاً، هیڅ نشته، دویم جواب کوي تسلیمي چې څه که دا د مستحدثینو کلام نشي هم د متاخرینو نه شي، د دې معنی د حسن او بهج سره شي نو بیا هم دی غریب دی، خو صرف غریب په معنی ثاني سره نه شو په معنی اولی سره شو، ځکه قبل د تفتیش او تلاش د کتب متدالؤ دلغت نه دا معلوم نه وو، اوس معلوم خو شو چې حَسن او بَهِجَ سره دی، خو بعد التفتیش او تلاش شو، نو دا د غرابت نه بیاهم ونه وتل، دریم جواب کوي چې **او یکون من باب الغرابة ایضاً**، ایضاً یعنې څنګه چې دا په معنی د حسن او بهج نه وو، نو د غرابت نه دې وو خو غایت مافي الباب دا شو چې کوم وخت په معنی د حسن او بهج سره نه وو، نوغریب په معنی ثاني سره وو، او چې معنی د ده حسن او بهج شوه، نو غریب په معنی اولی سره شو، فرق صرف دا شو.

والمخالفة بل د مخلاتو د فصاحة المفرد نه مخالفة وو، نو ماتن د مخالفة تعریف نه وو کړی، یا یې اکتفاء بالمثال کړي وه، یا یې د اختصار د وجې نه تعریف نه ووکړی، نو شارح تعریف کوي، چې مخالفة دیته وائي چې: **ان تکون الکلمة علی خلاف قانون**، نو معترض راغلی شبه یې وکړه چې یا هلکه په مخالفة او ضعف التالیف کې څه فرق راغی، ځکه هلته کې هم کلمه خلاف وي د قانون، نو شارح

جواب وکړو **علی خلاف قانون مفردات الالفاظ الموضوعة** یعنې صرفیانو چې کوم لفظ مفرده، صیغه د څه لپاره وضع کړي وي، یو قانون یې هغې لپاره وضع کړی دی د هغې نه خلاف راتلل، او ضعف التالیف دیته وائي چې هلته کې تالیف الکلام مخالف وي د قانون نحوي نه، نو هلته کې مخالفة د قانون نحوي نه شو خو د کلام، او دلته کې مخالفت د قانون خوصرفي نه شو خو د الفاظ مفرده موضوعه اعني **علی خلاف ما ثبت عن الواضع** دي نه غرض د شارح، دفع د اعتراض کوي چې یا هلکه بیا ال غیر فصیح شو، ځکه ال اصل کې اهل وو، هبدله شوي ده په همزه باندې، او خلاف د قانوني صرف نه ده، ماء اصل کې ماه وو هبدله شوي په همزه باندې او دا خلاف د قانون صرفي نه ده، نو دا دي غیر فصیح شي، او حالانکه دا غیر فصیح نه دی، قران کې راغلي: وَاَغْرَقْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ او دارنګه ابی یابی غیر فصیح دې شي، د قانون صرفي نه دا هم خلاف دي، ځکه قانون صرفي دا دی چې مضارع مفتوح العین به هله وي چې کله د ماضي عین کلمه او لام کلمه کې یو حرف د حروف حلقیه ؤ نه وي، نو دلته کې ماضي کې ابی کې عین اولام کلمه د حروفو حلقیو من المضارع نه ندي، او مضارع یابی کې عین کلمه مفتوح ده، او دارنګه عور یعور دي غیر فصیح شئ ځکه دیکښې قانون د قال او یقال شته دی چې واو بدل کړه په الف باندې نو عارووایه او یعور کې یعارُ ووایه، نو دا خو هم قانون صرفي نه خلاف دی، نو په کار ده چې دا دي غیر فصیح شي، حالانکه دا د صرافو په نزد باندې فصیح دی، او عور یعور کې واو نه دی بدل شوی، په الف باندې ځکه د وجې د حمل نه په اعوّر باندې، او هلته کې ځکه نه دی شوی چې التقاء د ساکنینو راځي، یعنې د هغه الف د مدغم فیه سره التقاء راځي، نو ده جواب وکړو چې **اعني** زه قصد کوم د خلاف قانون نه **علی خلاف ما ثبت عن الواضع**، چې صراف دي، یعنې چې خلاف د کلمې راشي د ماثبت عن الواضع نه او دوی د صرافو نه دغسې ثابت دی، مثال یې لکه **نحو الاجل** زور مولازړې تراویح دي، شبه چې د نحو مثل مضاف الیه مقصود بالمثال وی، نو ټول شعر خو مقصود بالمثال نه دی، نو ده جواب وکړو چې د نحو مضاف الیه محذوف دی، چې **الاجلل**، اجلل او اجل کې تجنیس خطي وو، نو وئې ویل چې **بفك الادغام** یا هلکه بیا دا شعر ترکیب کې څه واقع شو دی دا مقوله د قول محذوفه ده، په دې قول د شاعر کې، **الحمد لله العلی الاجلل**، نو دا اجلل، غیر فصیح دی، ځکه والقیاس الاجل، نو دا فنحو ال ومآء، وابی یابی وعور یعور، دا یې په دې اعني باندې تفریع وکړه چې دا فصیح دی، **لانه ثبت عن الواضع کذلك**، ځکه چې غیر فصیح هغه ته وائي چې هغه د واضع نه خلاف ثابت شوی وي، او دا خو د واضع نه دغسې ثابت دی نو دا خلاف نه دی واضع نه او اجل خلاف دی او اوله مصرعه د دې دا ده **الواحد الفرد القدیم الاول الحمدلله**. ځکه سیف الدولة واحد دی په صفات کمالیه ؤکې، متفرد دی، او زور سړی دی، او اول دی په عمر کې یا په کمالاتو کې.

قیل: د قیل غرض شبه کوي په ماتن باندې چې د مخلاتو د فصاحت په دریو کې حصر نه صحیح

کیږي، څلورم کراهیة في السمع هم دی، نو وائي **قیل فصاحة المفرد خلوصه**، اوس متن دا دی چې **قیل ومن الکراهة** نو شبه راغله چې **ومن الکراهة** کې واو خو عاطفه دی، خکه نور نه صحیح کیږي، او واو عاطفه معطوف علیه غواړي، نو معطوف علیه د دې کوم دی وئیل چې مما ذکر دی چې حذف دی اوس **مما ذکر خلوصه من التنافر والغرابة ومخالفة القیاس** وو، دا معطوف علیه شو. او قانون دا دی چې ما قبل د معطوف علیه نه کالمعاد وي په معطوف کې نو هلته کې **فصاحت المفرد** لفظ وو نو دلته کې یې هم فصاحة المفرد وویستلو، چې فصاحة المفرد خلوصه مما ذکر او **ومن الکراهة في السمع** او کراهة في السمع څه ته وائي چې مکروه لګیدل په سامعه باندې، کراهت خو صفت د فعل د مکلف دی، چې دا فعل د مکلف مکروه دی، نو هغه څنګه په سمع باندې کریهه لګي؟ نو ده جواب وکړو چې کراهة في السمع دیته وائي چې قوة سامعه ورته تیله وکوي. نو وائی **بان یکون اللفظ بحیث یمجها السمع** دفع کوي دی لره قوة سامعه ویتبرا عن سماعها نحو الجرشي في قول ابي الطیب دي سره یې تعیین د شاعر وکړو **شعر:**

مبارك الاسم اغر اللقب کریم الجرشی شریف النسب

مبارك الاسم یعني هو مبارك الاسم، وائي مبارك دی نوم د دې ممدوح، خکه چې نوم د هغه علی وو، اغر اللقب مشهور اللقب دی، سیف الدولة لره ټوله دنیا پیژني، او کریم الجرشی، شریف النفس دی، او شریف النسب چې د بني العباس نه د ی، والاغر، تحقیق د **اغر** کوي، چې **من الخیل الابیض الجبهة ثم استعیر لکل واضح معروف**، اوس ماتن جواب کوي قیل ته چې **وفیه نظر** اوس د نظر بیان ماتن نه وو کړی؟ شارح یې کوي، وائي دي کې نظر دی **لان الکراهة في السمع**، انما هي من جهة الغرابة المفسرة بالوحشة، نو خلوص د غرابت نه دا خلوص من کراهة السمع هم شو، نو ځان له جدا د دې نه خلوص ضروري نه شو، مثل: **تکاکاتم وافرنقعوا**، نو ستا نفس دیته ټیله ورکوي، دا د دې وجې نه چې دا غریب دی، ونحو ذلك: لکه اطلخم اللیل په معنی د اظلم سره، نو اطلخم په تا باندې بد لګي، چې دا څه د پیریانو ژبه وائي، نو د دې **تکاکاتم وافرنقعوا**، شان نزول یا دا دی چې جوهري په صحاح کې وائي چې دا قول اول د عیسی بن عمر نحوي دی، او زمخشري وائي په فائق کې چې ما ته جاحظ ویلی وو چې دا د علقمه قول دی، یعني شان نزول کې بهر حال هر څنګه چې وي خلاف دي، **وقیل** قیل سره د مولانا قیل غرض دا دی چې د قیل د ماتن بیان کوي، او غرض د شارح د نقل د دې نه رد کوي په دې باندې چې ستا دا بیان خطا دی او ما چې کوم بیان وکړو هغه ټیك دی، نو وائي چې **قیل لان الکراهة في السمع وعدمها یرجعان الی طیب النغم وعدم الطیب**، او فصاحة صفت د لفظ دی د نغم نه دی، نو مونږ دلته کې مخلات د فصاحة المفرد بیانوو، او کراهیة في السمع دي سره مخل نه دی خکه هغه صفت د لفظ نه دی، لیکن شارح وائي **وفیه نظر** چې په دې تعلیل کې نظر دی، للقطع باستکراه الجرشي دون النفس،

چې جرشي يو سړی وائي نو مونږ باندې بد لګي، او چې نفس وائي نو بد نه لګي، قطع النظر عن النغم يعنې که يو سړی خوش اوازه وي او طيب النغم والا وي او جرشي وائي نو مونږ باندې ښه نه لګي، او که يو سړی بد اوازې وی او کريم النفس وائي، نو مونږ باندې ښه لګي، هر کله چې مصنف فارغه شو د فصاحة المفرد نه نو شروع يې وکړه په فصاحت الکلام کې.

نو وې ويل چې: **الفصاحة في الكلام خلوصه من ضعف التاليف وتنافر الكلمات والتعقيد مع فصاحتها** شارح ورسره ولګول **هو حال**، د دې نه تر راتلونکې متن پورې د شارح څو غرضونه دي: ۱ غرض د شارح نقل د ترکيب صحيح کوي اولاً، بقوله هو حال، بيا فائده د دې ترکيب صحيح بيانوي ثانياً، په دي قول سره چې **واحترز** او نقل دترکيب د قيل کوي ثالثاً، په دې قول سره چې وقيل او رد کوي په دي ترکيب د قيل باندې رابعاً په دي قول سره چې **وفيه نظر**، او دليل د دې لپاره وائي خامساً په دې قول سره چې ويلزم ان يکون، نو د شارح پنځه اغراض شو.

نو اول غرض ته اشاره کوي چې هودا **فصاحتها** حال دی په اعتبار د متعلق سره چې مقارناً مع فصاحتها دی عن الضمير في خلوصه نه، نو دا ضمير چې راجع وو الکلام ته، دا ذوالحال شو خلوص عامل شو او مع فصاحتها په اعتبار د متعلق سره حال شو، اوس هغه دويم غرض ته اشاره کوي چې يا هلکه حال خو قيد وي، نو دا په تعريف کې قيد راغلو، او قيد په تعريفاتو کې ځنې د جامعيت لپاره وي، ځنې د مانعيت لپاره وي نو دا قيد د جامعيت لپاره شو، که د مانعيت لپاره؟ شارح جواب وکړو چې دا د مانعيت لپاره دی، نو وائي چې **واحترز** به په دې قيد سره **عن قوله زيد اجلل** نه ځکه زيد اجلل خالي د ضعف التاليف نه دی، او تنافر د کلماتو هم نشته، تعقيد هم نشته، خو يو کلمه په کې غير فصيح ده، مخالفة القياس په کې راغلی دی، او دارنګه **وشعره مستشزر** نه يې احتراز وکړو، دې کې ضعف التاليف نشته دی، تنافر د کلماتو نشته دی، تنافر د حروفو دی د کلماتو نه دی، او دارنګه تعقيد په کې نشته دی، خو يو کلمه په کې تنافر شوه چې مستشزر ده، نو دا هم خارج شوه، او دارنګه **وانفه مسرج** دا اوس خالي دی د ضعف التاليف نه، د تنافر د کلماتو، او تعقيد د تولو نه خالي دی خو يو کلمه په کې غير فصيح ده، مسرج کې غرابت راغلو، نو دا قيد د مانعيت لپاره شو.

اوس هغه دريمه خبره کوي، چې وقيل هو حال، چې ويل شوی دی چې دا قول حال دی د کلماتو نه په **تنافر الكلمات** کې، اوس **ولو ذكره** دقيل والا په ماتن باندې شبه کوي، نو چې دا حال شو د کلمات نه په تنافر الکلمات کې، نو ذو الحال کلمات شو اول عامل د ذوالحال او د حال تنافر شو، او خلوص په دي باندې وارد شو نو دي اوس شبه کوي، چې **ولو ذكره** يعنې ذکر کړی وی ماتن دی قول لره، **بجنبها** په ځنګ د دې کلماتو کې نو **لسلم** دا به سالم شوی وو د فصل نه په ما بين د حال او د ذوالحال کې په اجنبي سره چې تعقيد دي، والتعقيد سره فصل راغلی، نو وائي چې ماتن دا خبره خطاء کړې ده بلکه د

هغې جنب کې ذکر کول په کار وو.

اوس شارح راغلو هغه څلورمه خبره کوي، رد کوي، نو وائي **وفيه نظر**، چې دې کې اعتراض دی، څکه **لانه** څکه دا قول **هيئذ**، يعنې اذا کان هو حال من الکلمات نو **يکون قيداً للتنافر لاللخلوص**، او خلوص به پرې وارد شي، اوس ويلزم، دليل د دې وائي، اوس دا ويلزم تالي کوي، او د دې مقدم مطوی رااوباسي، نو معنی دا چې **لو صح هذا الترکيب** يلزم ان يکون الکلام المشتمل علی تنافر الکلمات الغير الفصيحة فصيحاً به شي، زيد اجلل، دارنګه وشعره مستشزر وانفه مسرج دا به ټول فصيح شي، ليکن تالي باطل، مقدم يې مثل شو، وجه د بطلان التالي د مسلماتو نه ده، څکه کلام مشتمله په کلمات غير فصيحيو باندې، فصيحه نه شي کيدای، څکه چې فصاحت د کلماتو شرط دی، نو مشروط بغير د شرط نه نشي راتللی، پاتې شو دليل د ملازمي، ولې؟ وائي **لانه يصدق عليه** په دې کلام باندې چې خالي دی د تنافر د کلماتو نه په حال کون د دې کلماتو کې چې دا فصيحةً دی، دا صادق شو، غير فصيحة باندې چه مشتمل شو نو هغه به فصيح وي. **فافهم**: فافهم کې شارح اشاره وکړه دليل د ملازمی ته، تدقيق ته اشاره وکړه، چې دا ولې يصدق دی؟ ويل دا بنا دی په قاعدې باندې هغه قاعده دا ده چې نفي داخله شي په کلام مقيده باندې، نو نفي متوجه کيږي قيد ته. نو دلته کې دا تنافر د کلماتو مقيد شو په قيد د فصاحت خپل سره، او خلوص نفي پرې وارده شوه، نو دا نفي به متوجه فصاحت د کلماتو ته وي، چې دا کلمات فصيحه به نه وي، يعنې کلمات متنافره به وي، څکه چې کلام مشتمله علی تنافر الکلمات الغير الفصيحة، دا خالي د تنافر الکلمات نه دی.

يا دريم په فافهم کې ديته اشاره وشوه چې دا قيل وائي چې دا يصدق په مونږ باندې نه لازميږي، څکه چې کلام مشتمله په تنافر د کلماتو فصيحو باندې، فصيح نه شو، نو کلام مشتمله په تنافر الکلمات باندې، فصيح نه کيدل په طريق اولی سره معلوم شو، نو دا اعتراض وارد نه شو، څکه چې ترجمه دا شوه چې کوم کلام چې مشتمل وي په کلمات فصيحو باندې نو هغه به فصيح نه وي، او که کلام مشتمل وي په تنافر د کلماتو غير فصيحو باندې نو هغه به فصيح وي، نودا خو په طريق اولی سره معلوم شو، نو تاسو په جواب کې او وائي چې دا خو دلالت التزامي شو او دلالت التزامي په تعريفاتو د علومو کې مهجور دی، دا خو استلزاماً تاسو معلوم کړه.

دريم يا په فافهم کې يې ديته اشاره وکړه چې قيل طرف نه شبه راغله چې يا هلکه دا ملازمه څنګه چې زمونږ په ترکيب باندې لازميږي، نو دا ستا په ترکيب باندې هم لازميږي، نو ما هو جوابك فهو جوابنا، نو شارح وويل چې فافهم، فکر وکړه دا زما په ترکيب باندې نه لازميږي، څکه چې زما په ترکيب باندې دا **مع فصاحتها** قيد شو دخلوص لپاره، خلوص مقيد شو، خلوص وارد په کلام مقيده باندې نه شو، او ستا په ترکيب باندې خلوص وارد دی په کلام مقيده باندې، نو زما په ترکيب باندې دا

اعتراض نه وارديږي، څلورم غرض د شارح د فافهم نه دا دی چې اشاره ده تحقیق المقام ته چې یو نفي داخل شي په کلام مقیده باندې، د دې لپاره درې صورتونه دي، اکثري صورت دا دی چې نفي متوجه کیږي قید ته، لکه ما جاءني القوم کلهم، یا اجمعون، دویم صورت دا دی چې نفي متوجه کیږي صرف مقید ته لکه ﴿وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَى مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾، وهم یعلمون حال دی قید دی، خو دلته کې مقصود په نفي سره نفي د اصرار ده، نفي د علم مقصود نه ده چې علم دی او که نه ندی، د متقي صفت دا دی چې هغه په ګناه باندې همیشګیري نه کوي، او دریم صورت دا دی چې نفي متوجه کیږي قید او مقید دواړو ته، لکه ﴿مَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ حَمِيْمٍ وَّلَا شَفِيْعٍ يُّطَاعُ﴾ شو، او شفیع مقید شو او یُطاع قید شو، نو دلته کې نفي د دواړو ده چې د ظالمانو مشرکانو کافرو لپاره نه شفیع شته دی او نه د هغه خبره منلی شي.

(والضعف) د مخلاتو د فصاحت نه بل ضعف التالیف وو، نو ماتن د ضعف التالیف مثال بنائي، اوس شارح غرض دا دی چې ماتن د ضعف التالیف تعریف نه وکړی، یا د اختصار د وجې نه یا د اکتفاء بالمثال د وجې نه، نو شارح تعریف کوي، نو ضعف دیته وائي چې **ان یکون تالیف الکلام علی خلاف القانون**، نو معترض شبه وکړه چې بیا ضعف التالیف او مخالفة القیاس کې څه فرق راغلو؟ نو شارح جواب وکړو چې **النحوي**، چې هلکه دلته کې مراد د خلاف نه، خلاف د قانون نحوي نه مراد دی، او مخالفت القیاس کې هلته کې هغه د قانون صرفي نه خلاف دی، معترض راغلو شبه یې وکړه چې یا هلکه د قانون نحوي نه چې یو کلام خلاف شي، نو هغې ته فاسد باطل وائي، هغې ته څوک ضعیف نه وائي؟ څکه د ضعیف خو دا معنی چې جائز دی سره د ضعف نه، او حالانکه چې د قانون نحوي نه خلاف راغلو، نو هغې ته فاسد باطل وائي، نو ده جواب وکړو چې داسې قانون نحوي **المشهور بین الجمهور**، چې یا هلکه چې د ټولو نحاتو د قانون نه خلاف نه وي، بلکه د قانون نحوي جمهوري مشهوره نه خلاف وي، نو باطل او فاسد به هله وو چې د ټولو نحاتو د قانون نه خلاف وی. نو دلته د قانون جمهوري مشهوره نه خلاف کیدو د وجې نه ضعیف شو او باطل نه شو، اوس هغه څه شو نو وائي **کالاضمار قبل الذکر** راوړل د ضمیر شو مخکې د مرجع نه دا قبلیت لفظاً وي، یا معناً یا حکماً، نو دا دري واړه لکه لفظاً معناً حکماً قبلیت سره ولګیدل، یا دا ذکر لفظاً وي یا معناً یا حکماً، قبلیت د دواړو سره لګول صحیح دی، اوس لفظاً څه ته وائي؟ چې مرجع ملفوظ وي حقیقةً؟ او خپله مقدم دواړو سره لګول صحیح دی، غلامه شو، نو دې مثال کې مرجع چې زید دی ملفوظ هم حقیقةً دی او حقیقةً وي لکه ضرب زید، غلامه شو، نو دې مثال کې مرجع چې زید دی ملفوظ هم حقیقة دی او مقدم هم حقیقة دی یا مرجع ملفوظ حقیقةً به وي خو مقدم رتبةً او حکماً به وي حقیقةً به مقدم نه وي، لکه ضرب غلامه زید، شو، نو دا د غلامه ضمیر زید ته راجع دی، نو دا ملفوظ خو حقیقة دی خو مقدم رتبةً دی حقیقةً مقدم نه دی، دیته اضمار قبل الذکر لفظي وائي، **معناً**: دیته وائي چې دغه مرجع

ملفوظ نه وي د سره، بالكلية بلكه فهميږي د لفظ نه يا د سياق الكلام نه، د لفظ نه فهميږي. مثال لكه: ﴿اِعْدِلُوْا هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى﴾ نو هو ضمير عدل ته راجع شو، او عدل فهميږي د اعدلوا نه، او عدل ملفوظ حقيقة نه دى، او چې د سياق الكلام نه فهميږي، د هغې مثال لكه ﴿وَلِاَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ﴾ نو لابويه كې ضمير ميت ته راجع دى، او ميت مخكې مذكور نه دى نه لفظا مذكور دى او نه پرې لفظ دال دى، خو سياق الكلام نه فهميږي، ځكه چې سياق الكلام په ارث كې دى په ميراث كې، ځكه ميراث د ميت نه پاتې كيږي.

او حكماً اضمار قبل الذكر ديته وائي چې دغه مرجع، نه ملفوظ وي او مفهوم معنى وي، يعنې نه مدلول د لفظ وي او نه مدلول دسياق دى، بلكه هسې به متكلم په ذهن كې فرض كړى وي، لكه **نعم رجلاً** شو، **ربه**: ډير كرتې هغه، اوس مثال د ضعف التاليف لكه **نحو ضرب غلامه زيداً** شو، نو د نحو ضرب غلامُه زيداً، نه قاعده كليه واخلئ، يعنې هر هغه تركيب چې متصل شوى وي د فاعل متقدمه پورې ضمير راجعه مفعول متاخره ته، اوس دا تركيب د جمهور نحاتو په نزد غير فصيح دى، ځكه دې كې ضعف التاليف راغلو، ځكه چې په دې غلامه كې ضمير راجع شو زيداً، مؤخر ته، هم لفظاً او هم رتبةً، ځكه مفعول لفظاً هم وروسته دى او رتبةً هم وروسته دى، او داخفش او ابن جني په نزد باندې دغه تركيب جائز دى، د دليل عقلي او نقلي د وجې نه، دليل عقلي هغوى دا وائي، چې دا زيداً اگر چې مؤخر دى، په لفظ كې ليكن په رتبه كې په ه ضمير مجروره باندې مقدم دى، ځكه چې مفعول په رتبه كې د فاعل نه نه شي مقدم كيداى او مضاف اليه د فاعل نه مقدم كيداى شي، نو اضمار قبل الذكر لفظاً راغلى او رتبةً رانغلى، نو دا جائز دى، ليكن مونږ ورته جواب كوو، چې يا هلكه په مضاف او مضاف اليه كې شدت اتصال وي، او شدت دا معنى چې د بل شي رتبه په كې نه ځائيږي، نو چې د بل شي رتبه په كې ځاى نه شوه، نو چې د زيداً رتبه د غلام نه وروسته شوه، نو ده نه هم نه شي مخكې كيداى، دويم هغوى دليل نقلي وائي چې، **جزى ربه عني عدي ابن حاتم جزاء الكلاب العاويات وقد فعل**، گوره دلته كې ضمير د فاعل متقدم پورې متصل شوى او مفعول متاخره ته راجع دى، ليكن د دې نه جمهور جواب كوي، چې دلته كې شعر كې ضمير عدي ابن حاتم ته راجع نه دى، بلكه ضمير راجع دي جزاء ته چې دال دى پرى فعل چې جزى ربُه دى، نو د قبيلي د ﴿اِعْدِلُوْا هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى﴾ نه شو ۲: والتنافر بل د مخلاتو د فصاحة الكلام نه تنافر وو، تنافر د كلماتو، نوماتن دهغې مثال وائي نو وائي والتنافر اى تنافر الكلمات شارح تعريف كوي چې **ان تكون الكلمات ثقيلة على اللسان**، معترض شبه وكړه چې يا هلكه په جمعې سره ولې وويل چې **الكلمات ثقيلة على اللسان** داسې تا ولې نه ويل چې **ان تكون الكلمة ثقيلة على اللسان**، نو شارح جواب وكړو چې **وان كان كل منها فصيحة**، چې يا هلكه هره يو

کلمه به فصیح وي خو دا اجتماع د کلماتو به ثقیل وي په لسان باندې، نو کلمات ما څکه جمع ذکر کړه، نحوع، دا مصرع، چې **وليس قرب قبر حرب**، يا هلکه حرب څوك دی؟ ويل **هواسم رجل، قبر** نو دا قبر اسم د ليس مؤخر شو، او قربَ دا خبر د ليس مقدم شو، اوس که څوك شبه وکړي چې يا هلکه بيا خو اسم د ليس نکره شو او خبر دليس معرفه شو د دې لپاره چيرته نظير په نحوه کې شته؟ څکه چې قرب معرف شو مضاف شو حرب ته، او حرب علم وو، نو دا معرفه شوه، نو د دې نه ما تاسو ته دوه جوابونه کړي وو، يو چې دلته کې قرب په معنی د قارب سره دی، او د قارب اضافت قبر ته اضافت لفظي دي او اضافت لفظي مفيد لپاره د تعريف نه دي. يا ورته ووايي چې خبر د ليس محذوف دی، او دا قرب ظرف د خبر محذوفه دی، **ای وليس كائناً قرب قبر حرب قبر** نو کوم چې خبر دی هغه نکره دی، او کوم چې معرفه دی هغه متعلق د خبر دی، خبر نه دی.

وصدر البيت: واو استينافيه کوي، شارح نه چا تپوس وکړو چې د دې شعر مخکيني مصرع کوم ده، نو شارح بيان کوي د مخکيني مصرع، نو وائي وصدر البيت د قبر حرب دا واو په دي قبر کې د شاعر په کلام کې نشته دی، **بمكان قفر** تفسير د غير مشهور کوي په مشهور سره ای خال عن الماء والكلاء، اوس شارح د دې شان نزول ذکر کوي، چې ذکر کړی دی ماتن عبد الرحمن صاحب، عجائب المخلوقات د هغه کتاب دی، لکه حياة الحيوان چې د علامه دميري د کتاب نوم دی، چې **ان من الجن نوعاً يقال له الهاتف** دبدبه ناك اواز کوونکي داسې اواز چې د سړي روح ګويا چې را وباسي، **فصاح واحد منهم من الجن على حرب بن أمية فمات هغه يخ شو**، او پيريانو يوړو او په يو خوشې ځای کې يې بښخ کړو، نو وارثانو تلاش کولو نو هغوی ونه موندلو، نو پيريانو دغه شعر وويل چې **قبر حرب....الخ**، فقال ذلك الجني هذا البيت، او سبب د دې صياح لپاره څه وو؟ نو بعضې وائي چې سبب داسې وو چې يو جن راغلی په صورت د مار باندې نو دی حرب ابن اُميه په پښو سره وچکولو، مړ يې کړو، نو پيريان راغلل دغه هاتفي اواز يې وکړو هغه يې مړ کړو، څکه **من بدل حليته فدمه هدر** په حديث کې راځي دا حديث نه دي. مصحح او څوك وائي چې د دې صياح سبب دا وو چې دغه **حرب بن اميه** او مرداس اسلمي، دغه دوه کسان يا دوستان وو يا حقيقي وروڼه وو، د عکاض جنګ نه واپس راتلل، نو په لاره کې د بنجيانو يو بَن راغی، بنج دا د سوزولو لرګی، نو دې مرداس دې حرب بن اميه ته وويل چې يا هلکه دغه بن د فصل لپاره ډير بهترين ځای دی، نو راځه دلته کې دا وونې به وسوزوو او دلته کې به غنم وکړو، نو حرب بن اُميه وويل چې ډيره ښه ده، نو دوی هغه بن ته اور ولګوو، نو په کې د پيريانو جالې وي، د هغوی هغه بچي په کې څه وسوزيدل، او څه چې وو هغوی چغې کړې وتښتېدل، نو پيری راغلو اوپه دې باندې يې دغه اواز وکړو، نو دوی هم يخ شو، نو دې حرب بن اميه يې يو ځای ته يوړو، او بښخ يې کړو، بيا وارثان ګرځيدل دې يې اوموندلو، نو پيری دغه شعر وويل: **وقوله شعر**

كريم متى امدحه امدحه والورى معى و اذا مالمته لمته وحدي

شبه راغله چې يا هلکه دلته کې د اجزاء مفيد دفائدي جدپدي نه شوه، خکه چې شرط هم امدحه شو او جزاء هم امدحه، نو شارح جواب کوي **فالواو في الورى للحال** وهو الورى مبتدا و خبره معي، او حال قيد لپاره د عامل د ذوالحال وي، نو جزاء مقيد شوه، او شرط مطلق مدحه شوه، او ذکر دمقيد پس د مطلق نه مفيد لپاره د فائدې وې، اوس دليل پرې دا دی چې دا واو د حاليت لپاره دی او عطف لپاره نه دی، نو دليل يو دا دی چې که واو د عطف لپاره شي نو والورى معى، دا جمله اسميه ده، او مخکې هغه جمله فعليه ده، او عطف د اسميې په فعليه باندې حسن نه دی، دويم دليل دا دی چې وروستو وحدي حال دی، او متعين دی، او د هغې عطف نه صحيح کيږي، نو دلته کې هم مونږه دا حال وويل، خکه موافقة اولى دی د مخالفة نه، واذا مالمته کې لمته وحدي، دا حال دی، حال کوني منفرداً، خکه وحدي خو معرف شو او معرف خو حال نه واقع کيږي نو ماؤل په تاويل د منفرداً سره شو کافيه کې تاسو ويلي، وارسلها العراك ومثله متأول، جواب يې کړی دی، اوس شبه راغله چې يا هلکه مقصود د مثال نه توضيح د ممثل وي او توضيح د ممثل په يو مثال سره راتلو، نو دوو مثالينو ته څه حاجت وو، نو دی وائي **وانما مثل بمثالين** دې کې اعتراض ته اشاره وشوه، لان الاول متناه في الثقل دي کې جواب ته اشاره وشوه چې سړي چاې نه وي څکلي سترې سړی يې نه شي ادا کولى، چه وليس قرب قبر حرب...الخ، لږ زور غواړي او **والثاني دونه** او ثاني څه لږ غوندې انتهاء نه بنکته دی په ثقل کې، اوس وجه دا ده چې اول متناهي دی چې **لان منشاء الثقل في الاول نفس اجتماع الكلمات** چې قرب او قبر، حرب، دا اجتماع ثقل ده، وفي الثاني اجتماع حروف منها، د دې کلماتو نه، وهو او دا اجتماع د حروفو، في تكرير امدحه، نو معترض شبه وکړه چې يا هلکه چې مجرد حاء او هاء جمع کيدل ته وائي چې دا مخل بالفصاحة دی، نو بيا خو فسبحه، غير فصيح شو، نوده جواب وکړو چې **دون مجرد الجمع بين الحاء والهاء لوقوعه في التنزيل مثل فسبحه، فيدفع القول بان مثل هذا الثقل مخل بالفصاحة**، يعني دلته کې جمع کيدل په مينځ د حاء او هاء کې سره د تکرير د امدحه نه، دا مجموعه سبب مخل د فصاحت لپاره دی، او فسبحه کې علت موجود نه دی، صرف جمع راغلي ده، او تکرار په کې نشته دی، يعني يو جزء د علت نشته دی، **ذكر الصاحب** چې هغه اسماعيل بن عباد دی، د دې نه غرض د شارح تائيد ذکر کوي د دې مخکې خبري لپاره، چې کوره مجرد جمع په ما بين د حاء او هاء کې دا مخل او متنافر نه ده، بلکه جمع سره دذلك نه، دا مخل الفصاحة ده صاحب د ده لقب وو او اسماعيل بن عباد د ده اسم محضه وو، چې **انه انشد قال هذه القصيدة، الأستاذ بن العميد**، استاذ يې لقب وو، ابن العميد يې کنيه وو، او دا ابن العميد وزير وو، هغه وخت کې دا قانون وو، چې د وزير او د صدر خوا ته چې به څوك تلل د هغوی تحفه به دا وه چې د هغه په باره کې به يې يو قصيده ويله، څه مالتې او پيسې ميسې به يې نه ورلې،

نو اسماعيل بن عباد دا قصيده د هغه په مدحه کې وويله، فلما... الخ، **من الهجنة من حيث الفصاحة والبلاغة فقال الاستاذ غير هذا اريد**، چې دا خو اسانه خبره ده دي نه علاوه درته څه معلوم دي، اشاره يې وکړه ديته چې ممدوح قابل د ذم او هجاء د سره نه دي غايت مافي الباب چې دي قابل دي نو د ملامتيا کرتي دي، او ملامتيا کې هم خلک ماسره نه شريك کيږي يواځې څو کرتي کوم، فقال الصاحب... الخ، نو هذا التكرير دا مبتداء شوه، خارج عن حد الاعتدال نو دا خبر دی او چې کوم شی د حد د اعتدال نه خارج شي نو هغه غير فصيح ي، او متنافر وي، نو تائيد وشو، **نافر كل التنافر** دی، يعني متنافر شو دا بيت په کامل تنافر سره، او دويم نافر کل التنافر هم جائز دی، بنا په دي چې دا خبر ثاني شو، خارج عن حد الاعتدال، **خبر ثاني او نافر جلة ثاني**، اوس په دې باندې دا اشکال راځي، چې يا هلکه دا خو بيا تعارض راغلو، مخکې تا وويل چې والثاني دونه، تنافر کې دا دويم کم دی، او دلته نه معلوم شوه چې په تنافر کې دا انتهاء ته رسيدلی دی، نو جواب وکړئ چې تنافر کلي مشکك دی، هلته چې يې ويلی دی چې دون دی، په نسبت سره اول ته، او دلته کې چې ويلې دي چې انتهاء ته رسيدلی په اعتبار د نفس ذات سره، نو **فاثنى على الصاحب**، يعني اسماعيل بن عباد.

والتعقيد: بل د مخلاتو د فصاحت الكلام نه تعقيد وو، نو ماتن د تعقيد تعريف کوي، او د نورو مخلاتو تعريف يې په متن کې نه وو کړی، اوس د دې تعريف کوي د دې وجې نه چې د دې تعريف ظاهر نه وو، او په بل ځای کې شوی هم نه وو، دويم تعريف کوي لپاره د تمهيد د تقسيم، ځکه چې دا تعقيد وروستو ماتن دوه قسمه کړی دی: ۱ تعقيد لفظي. ۲ تعقيد معنوي، نو تقسيم مقسم غواړي، نو مخکې د تقسيم نه تعريف ضروري شو اوس شارح ورسره و لږه وه **معقدا** دې سره يې دفعه د اعتراض وکړه، چې يا هلکه تعقيد د باب تفعيل مصدر دی په معنی دګرانه ولو سره، بمعنی ګران کردن، نو دا صفت د متكلم دی، او ان لا يكون الكلام، يعني عدم كون الكلام ظاهرة الدلالة على المراد، دا صفت د کلام دی، نو لازم شو حمل د صفت د يو مبائن په مبائن اخر باندې دا **لا يجوز** دی، نو شارح جواب وکړو په معقداً سره، چې يا هلکه دلته کې مصدر مبني للمفعول دی، يعني ګران کړی شوی، نو دا هم صفت د کلام دی، او عدم كون الكلام ظاهر الدلالة هم صفت د کلام دی، نو صفت الكلام محمول شو په صفت الكلام باندې، اوس بيا شبه راغله، چې يا هلکه بيا خو حمل د ذات مع الوصف راغلی په صرف صف باندې، ځکه معقداً ذات مع الوصف دی، او عدم كون الكلام صرف وصف دی، او عدم كون الكلام د دې فرد خو معقداً نشي کيدی ځکه چه هغه خو ذات مع الوصف دی نو شارح جواب اوکړو چه ای كون الكلام، كون ئي ځکه راوويستلو، چې دلته کې كون الكلام، عدم كون الكلام غير ظاهر الدلالة دی، نو دواړه وصف شو، على المراد، په معنی مرادي باندې، معترض راغلی شبه يې

وکړه، چې بیا تعریف د کلام [۱] مانع نه شو، د دخول د غیر نه داخل شو په کې متشابه، مجمل، خفي، مشکل د کتاب الله، ځکه هغه هم غیر ظاهر الدلالة دی په مراد باندې، نو بیا هغې ته هم غیر فصیح ووایه، حالانکه هغې ته غیر فصیح نه شو ویلی، هغه خوپه قران کې موجود دی، نو ده جواب وکړو **لخلل** د نقصان د وجې نه، نو هغه خفي مشکل ...الخ خارج شو، هلته کې خلل او نقصان نشته دی. هلته کې د اخفاء د متکلم د وجې نه غیر ظاهر الدلالة دی لغرض لایعلمه الاالله، الله مونږ نه مراد پټ کړی دی، د نقصان د وجې نه ندی، واقع کې اشاره وکړه شارح چې دا انما في النظم دا په اعتبار د متعلق سره صفت د خلل دی، او ظرف مستقر دی، چې یا واقع وي په نظم کې، دیته تعقید لفظي وائي، یا هسې خلل واقع وي په انتقال کې، هغه تعقید معنوي شو، بسبب تقدیم او تاخیر، دینه غرض د شارح یو بیان د خلل کوي، چې خلل به په نظم کې څنګه راغلی وي، او دویم غرض د شارح دفع د اعتراض کوي، چې یا هلکه خلل په نظم کې دا معنی چې الفاظ کم وي او معنی زیاته وي، نو دیته خوایجاز وائي او ایجاز مخل بالفصاحة دی؟، نو د خلل به دا مقصد وي چې الفاظ کم او مراد زیات، نو دا خو په قران کې موجود دی، او هغه قران خو فصیح دی لکه ﴿وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ يّٰٓأُولِي الْأَلْبَابِ﴾ دا یو جمله ده، او دي دلالة وکړو په دوو کرښو مراد باندې، بلکه دریو کرښو مراد باندې، نو ایجاز خو مخل بالفصاحة نه دی، نوده جواب وکړو چې د خلل في النظم دا مراد نه دی چې الفاظ کم وي او مراد ډیر وي، بلکه بسبب تقدیم او تاخیر، په سبب د تقدیم د یو لفظ سره او تاخیر د بل سره، یا په حذف سره یا په اضمار سره، وغیر ذلك په فصل سره په اجنبي سره په مبتداء اوخبر کې، صفت او موصوف کې، غیر ذلك څه شی؟ **مما یوجب صعوبة فهم المراد** دا دی یعنې مراد ګران شوی وي په هغې کې اوس دې باندې شبه راغله چې یا هلکه ذکر د تاخیر پس د تقدیم نه مستدرك دی، ځکه چې مثلاً تا یو شی مقدم کړو نودا بل شی په خپله د ده نه مؤخر شو کنه، او دا بل دې مقدم کړو په دې بل باندې، دا بل خود بخود مؤخر شو، نو ذکر د تاخیر وروستو د تقدیم نه مستدرك شو، نو تاسو ووایئ چې ته پوهه شوی نه یې کنه، تقدیم نه مطلق تقدیم نه دی مراد، او د تاخیر نه مطلق تاخیر مراد نه دی، بلکه تقدیم نه مراد تقدیم عن موضعه الاصلي دی، او تاخیر نه مراد تاخیر عن موضعه الاصلي دی، نو اوس تا دا مقدم کړو په دي باندې، نو دا بل مؤخر د دې خپل ځای نه نشو، خو دا به ته د دې بل ځای نه راوړي نو دا به د ده ځای ته راځي، نو مطلق تقدیم مستلزم وو تاخیر د ده لره، او تقدیم د موضع اصلي نه دا، مستلزم د تاخیر اصلي نه ندی، نو ذکر د تاخیر وروستو د تقدیم نه مفید شو مستدرك نه شو، ځکه چې مطلق تقدیم او تاخیر مراد نه دی، بلکه د موضع اصلي نه مراد دی، اوس دي مثال بنائي او په دي

---

۱ ـ د تعقید الکلام،

مثال کې شپږ خبري پيژندل ضروري دي، يو په هغه شپږو کې تعيين د قائل ماتن وکړو، کقول الفرزدق، دويم غرض د شاعر، شارح وخود په شريك سره شرکت سره، في مدح خال هشام، شارح د هشام تعارف کوي، چې هشام څوك وو ويل ابن عبدالملك بن مروان، او د ماما د هشام تعارف کوي شارح، ماما د هشام ابراهيم وو، هغه څوی د اسماعيل مخزومي وو، منسوب وو قبيلي د بني مخزوم ته، نو د مورد طرف نه نيکه نوم او د نمسي نوم يو شو، او دا د عربو قانون وو، چې نمسي باندې به يې د نيکه نوم ايخوده، د پلار د طرفه نيکه يا د مور د طرفه نيکه، شعر دا دی

وما مثله في الناس الاممالكا ابوامه حي ابوه يقاربه

اوس ای ليس مثله في الناس، حي يقاربه نو دا ئې په دې قول سره تفسير وکړو د شعر متن خالي د تعقيد نه، په هغه شپږو کې يو دا وو، چې داشعر د تعقيد نه خالي وي، نو داسې به وي، چې: **ای ليس مثله في الناس حي يقاربه الا مملك ابوامه ابوه**، شارح ورسره ولګول چې **ای احد** دی سره يې دفع د اعتراض وکړه، اعتراض دا وارد شو چې يا هلکه د دې نه خو دا معلومه شوه چې مثل د ابراهيم په احياؤ کې نشته دی، او په امواتو کې شته دی، ځکه حي ژوندي ته وائي، نو ده جواب وکړو چې **ای احد**، چې دلته کې حي په معنی د احد سره دی، ويقاربه تفسير وکړو شارح په يشبهه سره يعني هسې احد چې مشابه دی د دغه ممدوح سره چې ابراهيم دی، او دې تفسير د يقاربه په يشابه سره دې کې اشاره يې وکړه دفع د اعتراض ته چې يا هلکه نفي د مقاربة نه صحيح کيږي، ځکه چې مقاربت نه مراد مقاربت نسبي به وي، او نسب کې خو دې ورته هسې هم نږدي دی، ماما، خُوريي ته نږدی وي، نو يقاربه نفي صحيح نه شوه، نوده جواب وکړو چې مقاربت په معنی د مشابهت سره دی، يعني هسې احد چې دي مشابه وي د دې ممدوح سره، معترض راغلی شبه يې وکړه چې نفي د مشابهت هم نه صحيح کيږي، ځکه چې مشابه ورسره په انسانيت کې وو په حيوانيت کې وو، نطق کې وو، نو شارح وويل چې مطلق صفت نه دی، في الفضائل، په صفات کمالیه کې ورسره څوك مشابه نه وو الاممالك شارح ورسره ولګول **ای رجل اعطی للملك**، دې سره يې يو ترجمه د مملك وکړه، او دويم يې دفع د اعتراض وکړه، چې الاملك ته ولې نه وايي چې تا مملك وويل مشدد، نوشارح جواب وکړو چې مَلك هغې ته وائي، چې هغه ته بادشاهي ورکړي او مال دواړه ورلاوشوي وی، مال ورسره وي او که نه وي، او مملك ديته وائي چې هغې ته بادشاهي او مال دواړه ملاؤشوي وي، نو مملك کې مبالغه زياته شوه هغه څوك دي؟ **يعني** تعيين مصداقي د مملك کوي، يعني هشاما، دا جمله صفت دی مملك لپاره، هسې مملك ابوأمه، تعيين د مرجع کوي، ای ابو أم ذلك ابوای ابراهيم الممدوح، حاصل المعنى ته اشاره کوي، د دې مصرع **ای لا يماثله احد الا ابن اخته وهو هشام**، ففيه سره غرض د شارح بيان د هغه څلورم غرض دی، تطبيق د مثال د ممثل سره کوي، يعني يا هلکه دلته کې تقديم او تاخير څنګه راغلو، ويل داسې راغلو چې يويه دي کې **ففيه فصل بين الخبر** تعين

د مبتداء او خبر کوي، دواړه ابو امه مبتداء ده، او ابوه خبر، فصل يې بالاجنبي الذي هو حي، دويم، وبين الموصوف والصفة کې **فعل** راغلو، اعني حي، موصوف دی او يقاربه ورله صفت دی، فصل يې راغلی دی په اجنبي سره چې هغه ابوه دی، چې خبر دی دريم تقديم د مستثنی راغلو چې اعني مملکاً دی، په مستثنی منه باندې چې اعني حي دی، څلورم **وفصل کثير بين البدل وهو حي والمبدل منه وهو مثله** پينځم غرض د شارح ترکيب د شعر کوي، نو وائي **قوله مثله اسمٌ ما**، اوما مشابه بليس دی، وفي الناس خبره ومملکا منصوب، حالانکه په کلام غير موجب کې مستثنی کې بدل مختار دی، او نصب خو جائز دی، نو ويل منصوب ځکه دی لتقدمه على المستثنى منه، او مستثنی چې مقدم شي اګر چې کلام موجب دی نو هلته کې نصب واجب دی، او چې کوم وخت کې تا مؤخر را وويستلو نو بيا په کې بدل مختار لکه شارح مملك ويلی دی په رفع سره.

اوس شارح د شارح خلخالي اعتراض رانقل کوي او د هغې جواب رانقل کوي، قيل په اعتراض کې په ماتن باندې چې **ذكر ضعف التاليف**، مخکې **يغني عن ذكر التعقيد اللفظي**، ځکه تعقيد لفظي او ضعف التاليف دا يو شی دی، فرق په کې نشته، نو د تعقيد لفظي ذکر وروستو د ضعف التاليف نه لغو او تحصيل د حاصل او مستدرك شو، نو شارح پرې رد کوي چې وفيه نظر، چې ما قال د قيل کې نظر دی، چې دا ضعف التاليف او تعقيد لفظي يو شی نه دی دي کې نسبت د عموم خصوص من وجه دی، ماده افتراقي چې ضعف التاليف وي او تعقيد لفظي نه وي لکه چې ته ووائي چې جاءني احمد، نو دا د قانون نحوي نه خلاف شو، خو تعقيد نشته دی، او تعقيد لفظي وي او ضعف التاليف نه وي، لکه اجتماع د يو څو امورو په يو کلام کې وشي، چې د هغه کلام فهم ګران شوی وي، او هغه امور د قانون نحوي نه خلاف نه وي، نو هلته کې تعقيد لفظي راغلی اوضعف التاليف نشته، اوس ماده د اجتماع چې دواړه وي لکه دغه شعر شو، نو اول لجواز ان يحصل التعقيد باجتماع عدة امور موجبة لصعوبة فهم المراد وان كان كل منها جاريا على قانون النحو، نو دلته کې تعقيد لفظي راغلی، او ضعف التاليف نشته دی، يعني قانون نحوي سره موافق دی.

ولهذا يظهر سره، يو بل اعتراض کړی وو زوزني په دي مثال باندې، چې يو په تعقيد کې تا دا شمار کړه چې تقديم د مستثنی په مستثنی منه باندې، او تقديم د مستثنی په مستثنی منه باندې مخل بالفصاحة نه دی، ځکه دا جائز دی په شريعت نحوي باندې، نو شارح وائي چې ما مخکې دا خبره وکړه چې تعقيد لفظي په اجتماع دعدة امور سره راځي نو دغه زوزني اعتراض هم دفع شو، ځکه چې تقديم د مستثنی په مستثنی منه باندې في نفسه خوجائز وو، ليکن اوس د دې نورو سره چې تل شو، نوصعوبة المراد کې زيات شو، نو وائي وبهذا په دي تحقيق ثالث زما سره، يظهر دفع ما قيل هغه اعتراض چې ويلی شوی دی **انه لاحاجة في بيان التعقيد في البيت الى ذكر تقديم المستثنى على المستثنى منه** بل لا

وجه له، بلکه د دې سبب تاخیر د ګرځولو لپاره هیڅ وجه نشته دی، **لان ذلك جائز باتفاق النحاة**؛ اوس دا فساد د ماقبل ظاهر دی، **اذ لا یخفی**، انه چې دا تقدیم د مستثنی په مستثنی منه باندې اګر که في نفسه جائز دی، لیکن **یوجب زیادة التعقید**، هو مما یقبل الشدة والضعف.

واما في الانتقال شارح عطف علي سره تعین مصداقي د واو کوي چې واو، واو عاطفه دی بل څه نه صحیح کیږي، استینافیه، حالیه، اعتراضیه وغیره نه صحیح کیږي علی قوله **اما في النظم**، دې کې یې اشاره وکړه تعین د معطوف علیه ته، ای لایکون: دي کې یې اشاره وکړه قاعدي د عطف ته، قاعده د عطف دا ده چې ما قبل د معطوف علیه نه کالمعاد وي په معطوف کې، نو د اما في النظم نه مخکې **ان لا یکون الکلام ظاهر الدلالة** وو، نو هغه دلته کې هم را اوباسي چې **ان لا یکون الکلام ظاهر الدلالة علی المراد لخلل واقع**، دا ټول د معطوف علیه نه مخکې وو، **في الانتقال** شارح ورسره ولګول في انتقال الذهن، اشاره یې وکړه چې الف لام په دې الانتقال کې الف لام عهدي خارجي دي، معهود ترینه انتقال د ذهن دی، یا الف لام عوض دی د مضاف الیه نه، مراد ترینه انتقال د ذهن دی، اوس انتقال درې څیزونه غواړي: ۱ منتقل. ۲ منتقل عنه. ۳ او بل منتقل الیه، نو منتقل ذهن شو، **منتقل عنه من المعنی الاول، المفهوم بحسب اللغة دی المفهوم....الخ** سره یې تعین د معنی اول وکړو، **الی الثاني**، معنی ثاني ته، چې **المقصود**، چې هغه مقصود د متکلم ده، چې هغه هغه معنی مجازي شوه، اوس **وذلك** سره غرض د شارح سبب بیانوي د دې تعقید لپاره په دي انتقال کې، چې په دي انتقال د ذهن کې د معنی اولی نه چې مقصود د متکلم وه، ولې ګران والی راغلی سبب څه دی؟ نو وائي **وذلك**، دغه تعقید په دې انتقال ثاني د ذهن کې، **بسبب ایراد اللوازم البعیدة**، اوس بعید دی دلیل یې دا دی چې المفتقرة الی الوسائط الکثیرة، یعني وسائط کثیرة په کې راغلی وي، او کوم شی کې چې وسائط کثیره راشي نو هغه بعید وي، شبه یا هلکه وسائط کثیره راغلي وي خو چې قرینه په مقصود باندې وي نو هلته کې خو انتقال ګران نه ولې؟ ځکه لرګي ډیر سوزوي، یو واسطه، لرګي ولې ډیر سیزي ویل آخلی پخلی ډیر کوي، دریم واسطه اخلی پخلی ولې ډیر کوي، ځکه خوړونکي ډیر دي، دریمه واسطه، خوړونکي ولې ډیر دي ځکه دی سخي دی، میلمانه یې ډیر راځي، نو دریو واسطو سره انتقال وشو، نو دا انتقال ګران شو.

دارنګه لکه زید هزال الفصیل شو، د زید د غوا سخی خوار دی، نو دا خو یې معنی لغوي شوه، معنی مقصود زید سخي دی، اوس دلته کې انتقال معقد شو، ځکه د زید سخی ځکه خوار دی چې پی

شوده هغه ته نه میلاویږي د غوا نه، پی ځکه نه میلاویږي چې چای کې لګي، چې ډیر پخوي، چای

ډیرې څکه پخوي چې دی سخي دی میلمانه یې ډیر راځي، دارنګه: **زید جبان الکلب** د زید سپی بزدل دی، دا معنی لغوي شوه، او معنی مقصودي زید سخي دي، نو دلته انتقال معقد شو سپی یې بزدل دی، څکه چې خلک ډیر ځي راځي، میلمانه ډیر ځي راځي، ویل څکه چې زید سخي دی، **کقول الاخر** تعین مصداقي د اخر کوي چې اخر څوک دی، **هو عباس بن الاحنف** دی، ولم یقل سره شارح شبه کوي، او بیا یې جواب کوي، دي ماتن کقوله ونه ویل حالانکه کقوله مختصر وو، **کقول الاخر** نه، او مبني د متونو بالاختصار دی، نو کقوله ویل په کار وو، جواب کوي چې **لئلا یتوهم عود الضمیر الی الفرزدق**، یعني مخکې فرزدق ذکر وو، او دا شعر د فرزدق نه دی نو ضمیر یې رانه ورو، او اسم ظاهر یې راوړه الاخر یې وویل شعر: **ساطلب بعد الدار عنکم لتقربوا**، اوس د تسکبُ کې قراءتونه (بلکه صحیح اعرابونه) د رفع هم شته دی، او په نصب سره اعراب هم شته دی، نو شارح نه سائل سوال وکړو چې دلته کې تسکبُ بالرفع ولولو او که تسکبَ بالنصب و وایو، نو شارح جواب وکړو چې بالرفع لوله، نصب سره یې مه لوله، اوس رفع سره څکه لوله دلیل وائي شارح چې څکه چې **وهو الصحیح**، هم درایة او هم روایةً، یعني هم عقلا او هم نقلاً او نصب وهم دی، لکه مطول کې یې ویلي دي چې **والنصب** وهم دی، او درایة رفع صحیح ده، او نصب وهم دی، ویل څکه چې ته چې یې د نصب سره لولي نو دوه طریقې دي، یا به دا عطف کوي په بُعدَ باندې، مؤول په تاویل د سبك سره، او یا به یې ته عطف کوي په **لتقربوا** باندې، بله وجه د نصب نشته، نو که ته دا عطف وائي په بُعدَ باندې نو د طلب لاندې داخل شو، نو معنی داشوه چې زه طلب کوم بُعد الدار او طلب کوم سبك الدموع، یعني تویول د اوښکو، نو ویل زه تانه تپوس کوم، چې دا سبك الدموع تا ته حاصل وو، او که نه نه وو، په حین د فراق کې، که حاصل وو **سبك الدموع**، او ته یې بیا طلبوي، نو دا خو تحصیل د حاصل راغلی او که سبك الدموع تا ته حاصل نه وو، په حین الفراق کې نو بیا په عشق کې ته کاذب شوي، نو درایة خو څکه دا وهم شو.

او که په دویم باندې یې عطف کوي، چې لتقربوا دی، نو هغه علت دی د **اطلب** لپاره، او دا خو علت نه شي کیدای، څکه معنی به دا شي چې طلب کوم بعد الدار چې تاسو نږدې شئ او بعد الدار سبك الدموع لپاره، نو بعد الدار خو د سبك الدموع لپاره نه طلب کیدو، بلکه خوشحالي لپاره طلب کیدای شو، څکه قرب خوشحالي وه.

او روایة دا رفع صحیح ده او نصب وهم دی، ویل څکه شیخ چې د دې شعر معنی کړې ده، نو اوس وروستو را روان دی نو هغه روایت د رفع سره کړی دی، نه د نصب سره، ترجمه **لتجمدا**: د دې لپاره چې دا دواړه سترګې خوشحاله شي، شاعر دا وائي چې اخر کې به دا خوشحاله شي او اوښکي به نه غورځوي، نو دا هغه د خوشحالي نه کنایة کړې ده، اوس **جعل**: نه غرض د شارح دا دی چې یو اشاره کوي چې دلته کې دوه انتقالونه دي، دویم غرض یې دا ویل چې په دې اول کنایة کې دا شاعر اصاب

دی، څکه هغې کې انتقال ګران نه دی، او دا دویمه کنایة خطاء ده، څکه دی کې اخطأ دي، دریم دفع د اعتراض کوي، چې یا هلکه دي شاعر دلته کې دوه انتقالونه کړي وو، او دوه کنایې کړي وي، نو ماتن په دویمه کنایه باندې رد وکړو او په اول باندې ونه کړو دا ولې؟ ترجیح بلا مرجح راغله نو شارح جواب وکړو چې اول باندې مې رد څکه نه دی کړی چې هغې کې دي أصَابَ دی، او دویم باندې رد وکړو څکه دي کې اخطأ وو، نو جعل: ګرځولی دی دې عباس بن الاحنف سبك الدموع كناية عما يلزم، چې لازم دی دغه څیز، **فراق الاحبة**، نو ګوره جدائي د دوستانو ملزوم شو، او سبك الدموع لازم شو، نو معنی لغوي د سبك الدموع خو اوښکي تویوُل شو، او معنی مقصود د عباس بن الاحنف **من الكابة والحزن**، چې زه بد حاله او خفه یم، **والحزن**: دا عطف د سبب وشو په مسبب باندې، څکه د بدحالۍ لپاره سبب حُزن وي خفګان وي، نو دي کې دي اصاب دی څه واسطي نشته دی، څکه د سبك الدموع سره سړی بدحاله دی او خفه دی، نو دې کې اصاب دی، څکه څه تعقید معقید نشته دی، څکه چې عرب سبك الدموع كناية د کابة او د حزن نه ګرځوي، دا مشهوره ده، **لكنه اخطأ في جعل جمود العين** كنايةً عما يوجبه دوام التلاقي، نو دوام التلاقي موجب شو، او دغه **من الفرح والسرور** موجب شو' ویل اوس په دې کې دی اخطأ دی، نو دا **فان الانتقال من ....الخ**، دا دلیل د اخطأ لپاره شو، د دې مدعی محذوف شوه، ویل څکه چې فان الانتقال من جمود العين الى بخلها بالدموع حال ارادة البكاء، نو د جمود العين معنی خو اوچ والی د سترګو، دا معنی لغوي شوه، او معنی مقصود دا شوه چې دا سترګې بخل کوي په اوښکو باندې په حال د اراده د بکاء کې، نو دي کې څه تعقید نشته دی، او دا بخل بالدموع حال ارادة البكاء، دا حالت د حزن دی، دا حالت د فرح اوسرور نه دی، **على مفارقة الاحبة**، نو اصل په دې شعر کې تعقید خو نه وو، خو شاعر دغه معنی اخستو سره تعقید په کې راوستو، لانه دی انتقال د جمود العين نه، **الى ما قصده** ای الشاعر من السرور، چې سبب دې د سرور لپاره **الحاصل بالملاقاة** دی، نو شاعر د دې جمود العين نه فرح او سرور واخستو، نو د دې وجې نه په کې تعقید راغلو، تعقید معنوي، او تعقید معنوي داسې راغلی چې وسائط کثیره خفیه په کې راځي، چې یا هلکه زما سترګې د اوښکو نه خالي دي، دامعنی د جمود العين شوه بلکه دا چې زما سترګې اوچې دي، څکه چې ویل اوښکي په کې نه دي راغلي، یو دا واسطه شوه، او اوښکي ولې نه دي راغلي ویل څکه چې زه خفه نه یمه، څکه چې فراق د احبو نه دی راغلی، دویم واسطه شوه، او چې فراق، د احبو رانشي نو خوشحاله یمه، نو دري واسطې شوې نو ددې وجې بیا تري تعقید جوړ شو.

اوس ومعنی البیت سره معنی د بیت کوي مطابق دشیخ سره څنګه چې هغه په دلائل الاعجاز کې کړي ده، نو وائي **ومعنى البيت اني اليوم**، نو دې کې اشاره وکړه چې **ساطلب** کې سین لپاره د استقبال نه دی، سین لپاره د تاکید دی، **اطيب نفساً**، خوشحالوم خپل نفس او تسلي ورکوم **بالبعد والفراق**، دا ئې د بعد

الدار، ترجمه وکړه: **واوطنها**، او زه صبر ورکوم دي نفس ته علی مقاساة الاحزان، په برداشت کوو، د خفګانونو باندې، والاشواق، اوپه برداشت کولو د شوقونو باندې، په مصائب او تکالیفو باندې، او **اتجرع غصصها**، او ګوټ ګوټ ځکم هغه غوټې د دې احزانو، یو غم راځي هغه مرۍ کې غوټه کوم هغه لاتدې تیروم بل راځي داسې...، تجرع ویلی شي اوبه څکل چې هغه مرۍ کې انخلي او بیا نسکته تیریږي، یتجرعه ولایکاد یسیغه، **واتحمل لاجلها حزنا**، او زه برداشت کوم د دې احزانو او اشواقو د وجې نه (ای الضمیر في اجلها یرجع الی الاحزان) خفګان لره، د وتسکب **عیني** ترجمه ته راځي، داسې خفګان (ای حزناً، دا موصوف شو) یفیض الدموع عن عیني، (جمله صفت د حزناً، کاتب) دا ځکه **لا تسبب بذلك** چې زه سبب جوړ کړم په دغه توطین او په تحمل سره **الی وصل یدوم**، دا یې ترجمه د **لتقربوا** وکړه، **ومسرة لا تزول**، دا یې ترجمه د لتجمد وکړه، او ځکه چې **فان الصبر مفتاح الفرج** (خوشحالي) ومع کل عسر یسراً وي، ولکل بدایة نهایة وي، او دا ترجمه وي ما ځان نه نه ده کړي، بلکه **والی هذا اشار الشیخ عبد القاهر في دلائل الاعجاز** شبه یا هلکه څه نوري ترجمي خو هم وي کنه، تا هغه ولې ونه کړي، نو وائي **وللقوم ههنا کلام فاسد اوردناه في الشرح** ویل دا مختصر دی اوپه مطول کې هغه مونږ راوړي دي.

هغه کې یې دا راواړي چې ځنو د دې شعر دا ترجمه کړي ده چې شاعر عباس بن الاحنف وائي چې تر اوسه پورې ما د یو شي اراده کوله او زماني به زما د مقصودو مطلوب عکس را وستلو، نو ما اراده د وصال کوله نو زمانه به ولګیده فراق به یې راوستله، او ما به اراده د سرور کوله او زماني به حزن راوستو، او زه د دې زماني په دې چل باندې پوهه شوی نه وومه، اوس ویل پوهه شوم چې زمانه ویل ما سره ضد کوي، زما چې کوم مقصود وي نو دا د هغې نقیض راوړي، نو ما اوس د دې نه پس دا شروع کړو چې **ساطلب بعد الدار...الخ**، نو زمانه به ولګي لتقربوا به وکړي، احبة به ماته نږدې کړي، او د تسکب عیناي الدموع، زه به ځان خفه کوم بدحالي به ځان باندې راولم نو زمانه به خوشحالي راوړي، ای لتجمدا، اوس شارح دیته فاسداً وویل نو دا فاسد د دې وجې نه دی چې زمانه چې نقیض د مطلوب او عکس چې راوړي نو په واقع کې راوړي، **ویظهر للمرء** لپاره، خو نقیض او عکس د مطلوب نه راوړي، خو د یو سړي مقصود یو وي اوپه واقع کې زمانه بل شی ظاهر کوي، او زمانه دا نه وائي چې د ده سره زما دشمني ده، خو تاسو د دې هم جواب کولی شئ اګر چې شارح فاسد ورته وویل، چې یا هلکه شاعران خو **في کل واد یهیمون** دي کنه، نو هغوی دا وائي چې بس دا زمانه مونږ سره عداوت کوي نو جواب د دې داشو، دریمه ترجمه د دې شعر مبرد کړي ده، چې دغه شاعر خوار او فقیر وو نو دي یو ځای ته مزدورۍ ته تللو نو د ده اهل او عیال ژړا کوله، نو په تسلي کې ده دا وویل چې **ساطلب بعد الدار** چې اوس خو ستاسو نه ځم او لرې سفر کوم تجارت لپاره، خو هلته کې پریمانه پیسې وګټم او بیا به لتقربوا تاسو به نږدې شئ، بیا به همیشه په یو ځای کې کینو، **وتسکب عیناي الدموع**، اوس خو زه خفه یم بدحالی یم، خو

ډيري پيسې به وکتيم دلته به راشم، بيا به خوشحاله يم، نو دا ترجمه هم صحيح ده دا څه فاسد نه ده ماتن په متن کې وويل: **قيل ومن كثرة التكرار وتتابع الاضافات** شبه راغله چې يا هلکه **ومن كثرة التكرار** کې واو خو عاطفه دی، څکه چې نور معاني د واو نه صحيح کيږي، او واو عاطفه تقاضه د معطوف عليه کوي، نو د دې معطوف عليه کوم دی؟ نو شارح جواب وکړو چې د دې معطوف عليه محذوف دی، چې هغه مما ذکر دی، يعنې **مما ذكر ومن كثرة التكرار وتتابع الاضافات**. او دا مخکې چې ورسره يې شارح ذکر کړل **خلوصه**، دې کې يې اشاره وکړه قاعدې د عطف ته، څکه چې ما قبل د معطوف عليه کالمعاد وي په معطوف کې نو مما ذکر نه مخکې **فصاحة الكلام خلوصه**، وو، نو دلته کې يې هم **فصاحة الكلام خلوصه** وويل، د اول مثال **كثرة التكرار** کقوله، لکه دا قول د شاعر شو، چې وتسعدني في غمرة بعد غمرة، ترجمه، او امداد کوي زما په يو تکليف کې پس د بل تکليف نه، څوک زما امداد کوی ويل **سبوح** يو لامبو وهونکی، سائل سوال وکړو چې يا هلکه سبوح خو اسم صفتي دی، دا تقاضه د موصوف کوي، د دې موصوف څوک دی؟ رجل، دی که امرءة دی که بل څه دی؟ شارح موصوف را وويستلو چې **فرس دي، سبوح، حسن الجرى**، کې يې اشاره وکړه معنی مرادي ته، چې دلته کې د سبوح نه مراد ښه تلوونکی دی، اوس ښه تلونکی ديته وائي چې: **لا تتعب راكبها** نه سترې کوي سوريدونکي خپل لره، يعنې خپل سوريدونکی ښکته پورته کوي نه چې هغه سترې شي، اوس شارح ورسره دا کېښودل چې **كانها تجري على الماء**، نو دې کې شارح يو اشاره وکړه د سبوح معنی اللغوي ته، چې معنی لغوي د دې لامبو وهل دي په اوبو کې، دويم اشاره يې وکړه علاقي ته، چې معنی حقيقي د دې سبوح لامبو وهونکي شوه، او معنی مراد **حسن الجرى** شوه نو په دي معنی حقيقي او مجازي کې علاقه سبب او مسبب دی، څکه دي لامبو وهلو سره لازم **حسن الجري** دی، څکه لامبو چې سړی وهي نو په اوبو کې نيغ روان وي ښکته بره نه کيږي، نو دا اس همدغسې تللو، نو دا مجاز دليل شو، يا علاقه لازم او ملزوم شوه، لامبو وهلو سره لازم حسن الجری ده، دا هم علاقه د مجاز مرسل وه، لها د دې لها ترکيب چې دا **صفة سبوح**، صفت د سبوح دی، يعنې هسې سبوح ثبت لها، **منها** دا حال شو د دې **شواهد** نه، عليها متعلق شو دي شواهد پورې، او شواهد فاعل الظرف، شبه چې يا هلکه ظروف خو دري دي لها، منها، عليها نو کوم ظرف شو، نو ويل اعني لها لپاره، نو معنی دا شوه چې هسې سبوح چې ثابت وو، د ده لپاره شواهد او دا شواهد شواهد وو په دې سبوح باندې اوبه حال کون د دې شواهد کې، چې دا کائن وو د دې سبوح نه.

يعني: سره غرض د شارح دفع د توهمينو کوي: ١ توهم دا، چې يا هلکه دغه شواهد به د اولاد په اعتبار سره به وي چې د دې اس اولاد کړه وو او ښه وو، نو څکه دي ښه شو، نو شارح دا توهم دفع کړو چې نه، يعنې ان لها من نفسها علامات، دويم توهم راغلو چې دا شواهد په ذات د آس باندې شواهد وو، نو ذات د آس خو محسوس دی، محسوس د بديهياتو نه وي هلته شواهدو ته ضرورت نشته دی، نو دي

شواهدو ته خو بیا ضرورت رانغلو، نو د دې توهم دفع شارح وکړه چې **دالة على نجابتها**، چې یا هلکه داسې شواهد چې هغه دال وو، په کرّه والي د دې اس باندې چې دا ډیر کرّه اس دی، او د **نجابت** وصف لپاره شواهد په کار دي ځکه هغه محسوس نه دی.

قیل سره غرض: ذکر د اعتراض د زوزني دی چې هغه په ماتن باندې کړی دی، چې یا هلکه دا ستا مثال مطابق د ممثل سره نه دی، ځکه ممثل ستا کثرة التکرار وو، او تکرار وائي مجموع الذکرین ته، مجموعه د دوو څیزونو، او بیا مجموعه د دوو، نو اول مجموعه د دوو دا اصل راغلی، او بلې مجموعي د دوو سره تکرار راغلی دریم واري مجموعې سره کثرة راغلی، نو نفس تکرار حاصلیږي په تربیع سره، او کثرة حاصلیږي، په تسدیس سره، اوپه بیت کې نه تربیع شته او نه تسدیس شته، بلکه بیت کې تثلیث دی، چې لها، عنها، علیها، درې پیري یې ویلی دی، نو شارح راغلی د ماتن د طرف نه د دې اعتراض جواب کوي زوزني ته چې تا ته دا چا ویلي دي چې تکرار عبارة دی د مجموعة د ذکرینو نه، تکرار وائي، ذکر الشئ مرة بعد اخری، مثلاً اوس تا یو ځل یو شی ذکر کړو، نودا اصل راغلی، دویم پیري تا ذکر کړو نو تکرار راغلی، دریم پیري دي ذکر کړو نو کثرت راغلی، نو تثلیث سره کثرة حاصل شو، اوس شبه راغله چې یا هلکه کثرة خو جمعي ته وائي، او اقل د جمعي درې دي، نو اول ځل ذکر کړو نو اصل راغلی دویم پیري نو تکرار راغلی نو دوه پیري نور ذکر کړه نو هله به کثرة راځي، ځکه چې نصاب د جمع به هله پوره کیږي، نو په دي معنی سره خو به بیا کثرة په تربیع سره راځي، او په بیت کې خو تثلیث دی تربیع خو نشته دی، تاسو جواب وکړئ چې دلته کې جمع لغوي مراد ده، یعني ما فوق الواحد ترې مراد ده، لکه مطول کې یې ویلي دي، جمع اصطلاحي مراد نه ده **ولا یخفی انه لا یحصی کثرته بذکره ثالثا** دا خو زوزني وویل، اوس شارح پرې شبهه کوي چې **وفیه نظر، لان المراد بالکثرة ههنا ما یقابل الوحدة ولایخفی حصولها بذکره ثالثا**، ترجمه، مطلب اسان دی فترکت الاول ولم یذکر الشیخ الثاني فافهم **وتتابع الاضافات** دي کې شارح اشاره وکړه چې تعدد د مثال بناء دی په تعدد د ممثل باندې، ځکه ممثل دوه وو، نو دویم مثال د ممثل ثاني دی، کقوله: لکه دا قول د ابن بابك شه، شعر:

حمامة جرعی حومة الجندل اسجعي فانت بمرأی من سعاد ومسمع

اوس دا مثال مطابق د ممثل سره دی، ځکه ویل ففیه اضافة حمامة الی جرعی او جرعی اضافت راغلی حومة ته (الی حومة) او د حومة اضافت راغلی الی الجندل جندل ته، اوس **والجرعاء** سره شارح شبه کوی، اوبیا وروستو جواب کوي، شبه چې یا هلکه جرعی مؤنث د اجرع ده، او د اجرع مؤنث جرعاء راځي، او دلته کې شاعر جرعی، مقصور ویلی دی، دا خو صحیح نه ده، نو دي جواب کوي چې **والجرعاء تانیث الاجرع، قصرها للضرورة**، دا جواب شو چې دائي مقصور کړی د ضرورة شعري د وجې نه.

اوس تفسیر د الفاظو غریبو کوي، جرعی وائي **وهي ارض ذات رمل** هغه زمکې ته چې خاونده د شګو

وي، يعني شگلوړی زمکه وي، **لاتنبت شيئاً**، څه شی نه زرغونوي، والحومة، معظم الشئ، غونډی ته وائي، **والجندل، ارض ذات حجارة**، يعني کارڅني زمکي ته، چې نری نری ګيټی په کې وي، نو ترجمه د شعر دا شوه، چی ای کونترې د شګلني کارڅني زمکې، ته اواز پورته کړه، **والسجع هدير الحمام**، سجع د کونترې اواز ته وائي **ونحوه**، يا د دې د مثل اواز ته، لکه اوښ يابيزي وغيره اواز ته، **وقوله: فانت بمرای**، د دې نه غرض د شارح رد کول دي د بعضو خلکو په ترکيب باندې، بعضې خلکو دا ترکيب کړی وو، چې دا حمامة يې د رؤيت او د سمع فاعل ګرځولی وه، او دا **سعاد** يې مفعول ګرځولی وه، نو هغې ترجمه دا کړې وه، چې ته ای کونترې وينې سعاد معشوقې لره او ته اوري کلام د سعاد، نو ته اواز وکړه، نو شارح پرې رد کوي، چې نه دلته کې د رؤويت اوسمع فاعل سعاد ده، او حماعة مفعول دی، نو هغه ترجمې ته اشاره کوي، چې فانت ای حمامة ته بمرای معنی دا چې ای بحيث تراك سعادُ، چې تا لره سعاد معشوقه وينې تسمع صوتك، او دغه سعاد ستا اواز اوري، اوس شارح ته چا وويل چې يا هلکه ناسره څه دليل دی چې دلته کې سعاد فاعل د سمعې او رؤيت شوه، او حمامة مفعول شوه، نو شارح وائي زما لپاره دوه دليلونه دي، يو دليل نقلي دی او يو دليل عقلي دی.

دليل نقلي دا دی چې صحاح د لغت کتاب دی او هغه قاعده ايښودې ده، چې د رؤيت او د سمع نه وروسته مِنْ راشي نو مدخول د مِنْ به فاعل وي او ماقبل به مفعول وي، او داسې يې ويلي دي چې فلان بمرأی مني و مسمع، نو دلته کې فاعل د دې سمع او رؤويت لپاره متکلم دی چې دی مني کې دا مدخول د مِنْ دی، او دا فلان به مفعول وي، نو د دې ترجمه به دا وي **ای بحيث اراه واسمع**، چې دا فلانکی په داسې شان کې دی چې زه وينم ده لره او زه اورم قول د ده **کذا في الصحاح**، نو دلته شعر کې مدخول د مِنْ سعاد شوه، چې **فانت بمرای من سعاد ومسمع**، نو سعاد فاعل شو، او ما قبل حمامة شوه نو هغه مفعول شو، دا دليل نقلي شو. او دليل عقلي دا دی چې که حمامة د دې رؤيت او د سمع لپاره فاعل شي او سعاد مفعول شي نو بيا اسجعي ويل په کار وو که اسکتي ويل په کار وو؟ چې ته ای حمام اوري د هغې اواز ووينې هغې لره، نو بيا ته چپ شه چې دواړه د هغې اواز ته غوږ کيدو، چې ته هم غاپي او هغه هم خبرې کوي، نو بيا خو اشتباه راځي نو ته چپ شه چې دواړه د هغې اواز ته غوږ کيدو، او دلته کې شاعر خو اسجعي ويلی دی، نو مطلب دا شو چې سعاد ستا اواز اوري او وينې تا لره ای حمامة، نو ته اواز وکړه چې په دې اواز کې زما او د سعاد اشتراك راشي، چې د هغې مسموع هم دغه شي او زما مسموع هم دغه شي، او چې د مسموع په اعتبار سره هم عاشق ته وصال حاصل شو نو دا هم کافي دی، نو شارح وائي، **فظهر فساد ما قيل ان معناه انت بموضع ترين منه سعاد وتسمعين کلامها، وفساد ذلك مما يشهد به العقل والنقل.** ماتن قول د قيل نقل کړو اوس په دې باندې اعتراض کوي، چې **وفيه نظر**، د نظر بيان ماتن نه وو کړی، شارح يې کوي، وائي دي کې نظر دی **لان کلا من کثرة التکرار وتتابع الاضافات**، زه تا نه

تپوس کوم ان **ثقل اللفظ بسببه (ای بسبب کل)** لای سبب کل من کثرة التکرار وتتابع الاضافات) **علی اللسان** نو فقد حصل الاحتراز عنه بالتنافر، خلوص عن التنافر، خلوص د دې نه هم شو، **والا** او که دغه کثرة التکرار وتتابع الاضافات ثقیل نه وو په ژبې باندې نو بیا **فلا یخل بالفصاحة**، اوس د دې ملازمې دلیل چې **والا فلا یخل...** هغه دا دی چې **کیف** څنګه به مخل بالفصاحت شي حال دا دی چې **وقد وقع في التنزیل....** قران کې کثرة د تکرار شته دی، او تتابع الاضافات شته دی، **د تتابع الاضافات** مثال، لکه مثلُ داب قوم نوح، مثل مضاف داب ته داب قوم ته او قوم نوح ته، او بل مثال، **ذکر رحمة ربك عبده**، ذکر مضاف شو رحمة ته او رحمة رب ته او رب کاف ته، نو تتابع د اضافاتو راغله، کثرة د تکرار لکه **ونفس وما سواها، فالهمها فجورها وتقواها** نو دې کې کثرة د تکرار راغلی او دا مخل بالفصاحة نه دی.

هر کله چې فارغ شو مصنف د فصاحة الکلام نه نو اراده د شروع یې وکړه، په فصاحة المتکلم کې نو وي ویل چې **والفصاحة في المتکلم**، نو شارح ورسره لګوي چې **وهي کیفیة** د دې نه غرض د شارح تعریف د ملکې کوي اولاً، ځکه چې لفظ د مَلکې په تعریف د فصاحة المتکلم کې راغلی نو د دې تعریف کوي، بیا تعریف د کیفیت کوي ثانیاً، ولې؟ ځکه په تعریف د ملکه کې کیفیت راغلی، نو ملکه به ته هله پیژني چې ته کیفیت وپیژني چې د کیف تعریف څه دی؟ بیا فوائد بیانوي د قیوداتو د تعریف د کیف ثالثاً، **فخرج بالقید الاول** سره، او دفع د اعتراض کوي د ماتن نه رابعاً، په دې قول سره چې **قوله ملکة** نو تر هغه یقتدر (متن آتی) پورې د شارح څلور اغراض شو.

اوس اول د مَلکې تعریف کوي، نو وائي چې وهي ای دا ملکه، **کیفیة** یو صفت وجودي دی، کیفیت نه مراد صفت وجودیه، یعنې هغه صفت چې هغه په موصوف کې موجود دی، اوس کوم صفت چې په موصوف کې موجود وي نو دا دوه قسمه دی، یو هغه دی چې ابتداء کې موجود شي، لکه کتابت په انسان کې ابتداء راشي، نو هغې ته حال ویلی شي، او دویم صفت وجودي هغه دی چې هغه په موصوف کې راسخ شوی دی، لکه کتابت په انسان کې موجود شي، پس داستمرار او دوام نه، او پس د ممارست نه، نو دیته قسم صفت وجودي ته ملکه ویلی شي نو **راسخة** سره حال خارج شو، نو دا صفت به په چا کې وي په اجسامو او محسوساتو کې به وي او که نه، **في النفس**، یعنې کیفیت نفسانیه به وي، اوس د کیفیت تعریف کول په کار دي، ځکه د ملکې په تعریف کې کیفیت راغلی، نو: **والکیفیة عرض لا یتوقف تعقله، ای تصوره علی تعقل الغیر ولا یقتضي القسمة واللاقسمة في محله اقتضاء اولیا**، په غوښتنې بالذات سره، اولیاً په معنی د بالذات سره شو، بالذات نه قسمت غواړي او نه لاقسمت غواړي، نو که معترض شبه وکړي چې یا هلکه بنا په دې باندې ارتفاع د نقیضینو راغله، چې دې تقاضه د قسمت هم نه کوي او د لاقسمت هم نه کوي، نو دا خو نقیضین پورته شو، نو تاسو وایئ چې دا ارتفاع د نقیضینو د مرتبې نه ده، او دا جائز ده، او ارتفاع د نقیضینو د مرتبې نه مطلب دا چې دا قسمت و لاقسمت د دې مفهوم کې داخل نه دی، دا

مطلب نه دی چې قسمت او لاقسمت د دنیا نه پورته شو، لکه ما وویل چې یا هلکه انسان کاتب او لا کاتب دواړه نه دی، مطلب دا چې انسان په ذات او ماهیت کې کنهه کې کاتب او لاکاتب دواړه داخل نه دي، دا نه چې کاتب او لاکاتب دواړه په دنیا کې نشته دی.

اوس فوائد د قیود بیانوي، نو دا عرضٌ جنس شو، نهه مقولو د عرض ته شامل دی، **فخرج بالقید الاول**، چې هغه **لا یتوقف تعقله علی تعقل الغیر** دی، **الاعراض النسبیة**، یعني هغه مقولي د عرض چې هغه کې نسبت غیر ته وي، **مثل الاضافة**، په ابوة او نبوة کې، والفعل، چې عبارة دی د تاثیر نه په غیر کې، نو بغیر د غیر نه یې تعقل نه شي کیدای، والانفعال، چې عبارة د قبول د تاثیر د غیر نه، نو بغیر د غیر نه یې تعقل نه شی کیدای، ونحو ذلك، لکه وضع شو چې عبارة دی د حصول د هیئت نه شي ته په نسبت د اجزاءُ کولو یو بل ته او خارج ته، این شو چې عبارة دی د حصول د شئ نه في المکان، نو مکان ته محتاج شو، متی چې عبارة دی د حصول د شئ نه په زمان کې، **ملك**، چې عبارة دی د هغه هیئت نه چې حاصلیږي شئ ته په اعتبار د احاطې سره، لکه کون د انسان متعمماً او متقمصا شو، دویم فصل چې وبقولنا: لایقتضی القسمة په دي سره خارج شو الکمیات، مقوله د کم خارج شوه، ځکه هغه لایقتضی القسمة نه ده، بلکه یقتضی ده، وبقولنا دریم فصل چې اللاقسمة دی، نقطه او وحدة خارج شول، د کیف نه، چې نقطه او وحدة په کیف کې داخل نه دی، ځکه کیف دیته وائي چې هغه مقتضی د لاقسمة نه وي، او نقطه او وحدة مقتضی د لاقسمت دی، ځکه دوی بسیط دی، نو دا خارج شو، نو دا مذکور دري قیده مخرجه شو.

اوس پاتې شو دا ځلورم فصل چې قولنا **اولیا**، دا قید مُدخله دی، یعني دا فصل د جامعیت لپاره دی، او مخکې دا دري د مانعیت لپاره وو، اوس شبه راغله چې یا هلکه علم په مذهب منصور باندې د مقولي د کیف نه دی، او حالانکه علم خو تقسیم قبلوي، مقتضی د قسمت دی، ځکه کوم وخت کې چې په معلوم کې تقسیم جائز شو، نو علم کې هم تقسیم راځي، لکه معلوم ستا حیوان شو، نو حیوان یو ابیض یو غیر ابیض دی، نو **علم** یعني دا کیف هم دوه قسمه شو ابیض او غیر ابیض، نو علم د مقولي د کیف نه دی، او مقتضی د لاقسمت نه دی، بلکه د قسمت دی، مقتضی د قسمت دی په اعتبار د معلوم سره، اګر که په اعتبار د ذات سره نه دی، نو ده جواب وکړو، چې **وقولنا اولیا**، یعني **بالذات لیدخل فیه مثل العلم بالمعلومات المقتضیة للقسمة واللاقسمة**، لکه حیوان باندې علم شو، یا د لاقسمة دي، لکه په نقطه او وحدة باندې علم، نو دي کې تقسم راغلی خو بالواسطة راغلی، او ما چې ویلی دی چې قسمت او لاقسمت نه قبلوي، نو بالذات نه قبلوي. فقوله سره، دا هغه ځلورم غرض دی، شبه راغله، چا اعتراض وکړو، چې یا هلکه تا ملکة وویل، نو صفة دي ولې نه ویل چې فصاحة في

المتكلم صفة دی، نو ده جواب وکړو چې ملکة ماتن وویل او صفة یې ونه ویل، وائي اشعار په دي کې خبرداری دی، دا جواب شو. **بانه لو عبر عن المقصود بلفظ فصيح لايسمى فصيحاً في الاصطلاح ما لم يكن ذلك**، دا وصف راسخ په متکلم کې نو ملکة کې دیته اشاره وشوه، او د صفة اطلاق په حال باندې هم کیده، نو که هسې یو متکلم قادر شو د مقصود نه په لفظ فصیح باندې، خو دغه رسوخ په کې نه وو شوي، یعنې هسې د رڼند د لاس غرګی وو، نو دیته متکلم فصیح نه شي ویلې، هله ورته ویلی شي چې دا صفت په کې ښه راسخ شي، مضبوط او دائم شي، نو ملکة یې ځکه وویل، **وقوله**، سره غرض د شارح په دې **قوله** سره شبه کوي، او **اشعار** سره جواب کوي، نو دا وائي **قوله** ای الماتن چې یقتدر **المتكلم** بها، ای بالملكة په دغې ملکې سره، على التعبير عن المقصود دا یې وویل، او دون ان یقول یعبر، یعنې یُعبر یې د یقتدر په ځای ونه ویل، او حالانکه یعبر ویلو کې اختصار وو، او **یقتدر بها عن التعبیر** کې طوالت وو او مبنی د متونو هم په اختصار ده، ځکه یقتدر بها علی التعبیر کې اوږدوالی دی او یعبر کې اختصار دی، نو دا طوالت ختمیدو، نو په کار وه ماتن له چې یعبر ویلی دی خو دا یې ولې ونه ویل او یقتدر یې ولې وویل؟ نو شارح جواب کوي **اشعار** داسې یې کړی دی لپاره د خبر داری ورکولو بانه چې دغه متکلم یسمی فصیحا، مسمی کولی شي په فصیح سره **اذا وجد فيه تلك الملكة** (ترجمه) نو چې دغه ملکه په متکلم کې موجوده شوه، نو دیته فصیح ویلی شي، **سواء وجد التعبير** یعنې تعبیر بالفعل موجود دی، او لم یوجد، اوس که یُعتبر یې ویلی وی نو بیا خو به یې متکلم ته فصیح هله ویلی کیدای چې بالفعل یې تعبیر کولی په لفظ فصیح سره، او یقتدر چې یې وویل نو تعبیر بالفعل کوي، او که نه کوي خو چې دغه ملکه وی نو ده ته فصیح وائي.

وقوله سره اعتراض کوي، چې یا هلکه تا داسې وویل چه **بلفظ فصیح** نو داسې دي ولې نه ویل چې **بكلام فصيح**، او د مقصود نه تعبیر هم په کلام فصیحه سره کیږي په مفرد سره نه کیږي، ځکه کلام فصیحه کې فائده استفاده شته دی، او مفرد کې خو فائده استفاده شته دی، نو **بكلام فصيح** ویل په کار وو، نو شارح جواب کوي، چې **ليعم المفرد والمركب**، چې ماتن دغسې وویل چې بلفظ فصیح او بکلام فصیح یې ونه ویل د دې لپاره چې دا بلفظ فصیح شامل شي مفرد ته هم او مرکب ته هم، معترض شبه وکړه چې مرکب کې خو ظاهر دی، چې هلته کې تعبیر د مقصود نه په مرکب سره خو کیدای شي، لیکن تعبیر د مقصود نه په مفرد سره خو نه شي کیدای، هلته څه کوي؟ ځکه مفرداتو کې خو فائده استفاده نشته دی، نو دی وائي: **اما المركب فظاهر** چې فائده او استفاده په کې نشته دی؟ **واما المفرد فكما تقول**، چې یا هلکه هلته کې مفرد کې اګر چې فصاحت په هر ځای کې نه راځي، خو بعضې اوقاتو کې راتلی شي، کله ته وائي، **عند التعداد**، چې ته هغې **ملقی** باندې اشیاء شماروی، لکه ما تا ته وویل چې بره دي بازار ته لاړ شه یو ما لپاره دار واخله، یو غلام، یو جاریه، بل ثوب، بل بساط، بستره، ته بازار ته لاړې، نو تا

بره دا څيزونه واخستل او را دي ورڼ، نو ما تا نه تپوس وکړو، چې يا هلکه تا څه څه واخيستل، نو تا ويل مولوی صاحب يو مې واخيستو دار، مولوی صاحب يو مې راوستو غلام، نو د پرک قابل نه ئې؟ چې يا هلکه څه له هسې ذهن خرابوي، او دغه طوالت جوړوي چې مولوی صاحب دا مې وکړو مولوی صاحب دا مې وکړو خو دې ځای کې فصاحت دا دی چې ته ووايي چې مولوی صاحب دار، غلام، جاريه، ثوب، بساط دا مې واخيستل، نو دلته کې تعبير د مقصود نه په مفرد سره فصيح شو په مرکب سره نه دی فصيح

ماتن چې فارغ شو د بيان د فصاحة المتكلم نه نو اراده د شروع يې وکړه په بلاغت الكلام کې، نو ويې ويل چې **والبلاغة في الكلام مطابقته لمقتضى الحال** په حال کون د دې کلام کې چې دا مقارن وي **مع فصاحته**، د فصاحت خپل سره، **اى فصاحة الكلام**، دې کې تعيين د مرجع ته يې شارح اشاره وکړه، چې دغه بلاغت چې کلام کې راځي نو دغه کلام به فصيح وي، داسې فصيح چې خلوصه من ضعف التاليف وتنافر الكلمات والتعقيد مع فصاحتها، به وي، اوس اغراض د شارح د **والحال** نه تر وهو مختلف يعنې متن اتی پورې څلور اغراض دي، نو يو غرض د شارح دا دی چې د دی الفاظ ثلاثه ؤ تشريح کوي: ۱ يو لفظ د حال، او دويم لفظ د مقتضى الحال، او دريم د مطابقت، چې دا درې واړه څه ته وائي؟ دويم غرض د شارح دفع د اعتراض ده چې يا هلکه حال خو په ډيرو معانيو سره راځي، حال په اصطلاح د نحاتو کې **ما يبين هيئة الفاعل او المفعول به او كليهما** ته وائي، او حال په اصطلاح د صرافو کې هغه زماني ته وائي چې اواخر د ماضي او اجزائي اول د مستقبل وي، او حال په اصطلاح د فقهاؤ کې صفت د فعل د مكلف ته وائي، لکه فرضيت شو وجوب شو استحباب شو، او حال په اصطلاح د حکماء کې هغه امر قائمه بالغير ته وائي، لکه صورت جسمي او نوعي حال دی په هيولی کې، او حال په اصطلاح د متکلمينو کې، صفة لموجود لاموجودة ولامعدومة ته وائي، نو حال يو لفظ مشترکه دی چې مبهم شو، نو پته ونه لګيده چې د حال نه څه مراد دی؟ نو شارح تعيين د ماهو المراد وکړو، چې حال نه مراد امر داعي دی، ځکه چې کل متکلم يتكلم باصطلاحه، **دريم** غرض د شارح په دي دوو لفظينو کې اختلاف بيانوي، يو مطابقت، او دويم مقتضى الحال کې، و تحقيق ذلك سره، مخکې مذهب د مشهورينو بيانوي، او تحقيق ذلك نه وروستو مذهب د محققينو بيانوي، نو دوه مذهبين شو، اوس په مذهب د مشهورينو باندې معنى د مطابقت اشتمال دی، چې دا کلام به مشتمل وي او مقتضى الحال به مشتمل وي، لکه ان زيداً لقائم، دا کلام دی مشتمل دي او مقتضى الحال په کې چې تاکيد دی مشتمل دی، نو مطابقت په معنى د اشتمال سره شو، او مقتضى الحال عبارة شو د هغه خصوصيت نه په دي کلام کې، چې خالي وي د تاکيد نه، يا يو تاکيد، يا دوه يا درې تاکيدونه، يا ذکر وغيره، دا خصوصيات عبارت شو د مقتضى الحال نه، او د تحقيق ذلك نه وروستو بيانوي مذهب د محققينو،

هغوی وائي چې مطابقت عبارت دی، د صدق نه، او مقتضی الحال عبارة دی د کلام کلي نه، د خصوصیت نه نه دی عبارت، اوس مثلاً مخاطب کې انکار دي د حال نه، نو انکار د قیام د زید نه، دا حال شو، او مقتضی الحال، کلام مؤکد شو، تاکید نه، بلکه مقتضی الحال کلام مؤکد شو، او مطابقت عبارة شو د صدق د دې کلام مؤکد نه په دی **ان زیداً لقائم** باندې، چې دغه کلام مؤکد صادقیږي، په **ان زیداً لقائم** باندې، او داسې ویلی کیږي، چې **ان زیداً لقائم**، کلام مؤکد، څلورم غرض د شارح ترجیح ورکوي، مذهب د محققینو ته په مشهورینو باندې په دې قول سره چې **فارجع الی ما ذکرناه في الشرح في تعریف علم المعاني**، چې په تعریف د علم المعاني کې مذهب د محققینو صحیح کیږي او د مشهورینو نه صحیح کیږي، نو مذهب د مشهورینو مرجوح شو، او د محققینو راجح شو.

نو اوس راغی د والحال تفسیر کوي، شبه نو والحال خو مضاف الیه وو، نو د دې تفسیر یې ولې مقدم کړو، د مضاف الیه تفسیر مقدم کول په کار وو، جواب نو تاسو وائي چې دا اګر چې په لفظ کې مضاف الیه وو، خو په معنی کې دي سبب وو، او مقتضی الحال مسبب وو، او سبب مقدم وي په مسبب باندې، نو تفسیر یې وکړو چې حال امر داعي ته وائي، هغه امر ته وائي چې هغه باعث وی په جانب د مخاطب کې، لکه انکار شو، خلو د ذهن شو، انکار شدید شو، انکار ضعیف شو، یا هغه حال چې هغه داعي دی حذف د مسندالیه ته یا ذکر ته یا تعریف یا تنکیر ته، **الی ان یعتبر** کې شارح دفع د توهم کوي، چې یا هلکه دغه حال چې داعي دی د مقتضی لپاره نو اعتبار متکلم وکړي، او که ونه کړي نو دا به د مقتضی الحال لپاره داعي کیږي، نو هسې یو سړی د قیام د زید نه منکر وو، نو تا قصداً ونه ویل، هسې اتفاقاً د راونده د لاس غرګی وو، تا وویل: **ان زیداً لقائم**، نو دې ته خو فصاحت نه شي ویلی، ځکه متکلم خو قصدً د مطابقت نه دی کړی هسې یې د خلي نه دا خبره مطابق د حال سره را اووته، نو دلته کې دا داعي شو، لیکن اعتبار او قصد د متکلم لره خو دخل نشته، نو دا دي بلیغ شي، او دیته خو څوک بلیغ نه وائي، نو شارح جواب وکړو په دې ټکي سره چې الی ان یعتبر، چې یا هلکه اعتبار او قصد د متکلم شرط دی، چې متکلم قصد او اعتبار د دغه امر داعي به رعایت کړی وی.

دویم توهم دا راغلی چې یا هلکه دغه حال چې امرِ داعي دی د مقتضی لپاره نو دا مقتضی به مستقل په تلفظ کې وي؟ چې انکار مثلاً په متکلم کې راغلی، نو اِنَ، به وائي، یا انَ به وائي، په تلفظ کې به دي مستقل داعي وي د مقتضیٰ لپاره؟ نو شارح جواب وکړو چې نه، **مع الکلام** چې دا داعي د دې مقتضی لپاره سره د کلام نه به وي، او خپله په تلفظ کې به مستقل نه وي، نو دا دویم توهم یې دفع کړو د دې مع الکلام سره، الذي (صفت للکلام) یودي **به اصل المراد**، نو که الی ان یعتبر شي په صیغي د معلوم سره، نو بیا ضمیر راجع دی، متکلم ته، او خصوصیةً ما، دا مفعول شو، او که ان یُعتَبَر شي په صیغه د مجهول سره نو بیا خصوصیة ما، مرفوع شو نائب فاعل شو، یو خصوصیت د خصوصیاتو

نه، دا ما، د تاکید د دې ابهام لپاره شو خو تعیین نشته دی، **وهو مقتضی الحال**، غرض د شارح په دې باندې، تفسیر د مضاف کوي چې مقتضی ده او دویم دفع د توهم کوي، چې یا هلکه **الی ان یعتبر مع الکلام الذي....الخ** دا به د دې حال د تعریف نه به جزء وي؟ نو شارح جواب وکړو (چې نه دا د حال د تعریف نه جزء ندی دا مقتضي الحال دی د حال تعریف په دې تکي ختم شو چې **هو الامر الداعي**، یعني دا خصوصیة مقتضی الحال دی، او تذکیر د ضمیر په وهو مقتضی ...الخ کې لپاره د رعایت د خبر دی، اوس شارح مونږه تاسو په مثال **جزئي** سره پوه کوي، وائي **مثلا کون المخاطب منکرا للحکم** یعني د نسبت د قیام د زید نه منکر وي **حال** دی، تقتضي تاکید الحکم، نو دا تاکید مقتضَی الحال (بالمفعول) شو، او حال مقتضی (بالفاعل) او مطابقت څه معنی؟ وقولك له د دې مخاطب منکره لپاره چې **ان زیداً في الدار** په حال کون د دې قول کې چې مؤکد دی په ان سره ای مؤکدا بان دا کلامٌ مطابقٌ لمقتضی الحال، نو مطابقت په معنی د اشتمال سره شو، او **وتحقیق ذلك**، نه مذهب د محققینو بیانوي، خو په دې دوو الفاظو کې، حال کې اتفاق دی، چې دا امر داعي دی په هغې کې دا دوه مذهبونه ندي، خو په مطابقت او مقتضی الحال کې مذهب د محققینو جدا دی، نو اشاره یې وکړه چې دا مخکښینی مذهب د مشهورینو وو، اوس مذهب د محققینو ته وائي غوږ کیږده، نو وائي **وتحقیق ذلك**، چې تحقیق د دې مطابقت و مقتضی الحال دا دی **لانه**، چې دغه کلام مذکوره چې **ان زیداً في الدار** دی، دا من جزئیات ذلك الکلام، دا جزئیاتو د دې کلام نه دی هغه کلام تقضیه الحال، نو حال تقاضه د کلام مؤکد کوله او کلام مؤکد د جزئیاتو نه **ان زیداً في الدار**، هم یو جزء یې دی، د هغې د افرادو نه یو فرد دی، ویل ځکه چې **فان الانکار مثلاً**، دا خوحال شو، یقتضي کلاماً مؤکداً دامقتضی شو وهذا او دغه کلام جزئ چه ان زیداً فی الدار دی مطابق له مطابق دی د دې کلام مؤکد سره، مطابق د هغې **بمعنی انه صادق علیه**، چې دغه کلام مؤکد کلي صادق دی په دې کلام جزئي باندې چې ان زیداً في الدار دی یعني داسې ویلی کیږي چې **ان زیداً في الدار**، کلام مؤکد، نو معترض راغلی هغه شبه وکړه چې یا هلکه دلته کې تا نسبت د صدق مطابَق ته وکړو، او منطقیان نسبت د صدق مطابق ته کوي، ځکه چې دلته کې دغه کلام جزئي مطابِق شو، او دا کلام مؤکد مطابَق شو، هغوی وائي الکلي مطابِق للجزئیات، نو کلي مطابِق شو او جزئیات مطابَق شو، نو شارح جواب کوي چې دا اصطلاح ګاني جدا جدا دي، ولا مشاحة في الاصطلاح، هغوی نسبت مطابِق ته کوي، او علم معاني والا مطابَق ته کوي، نوهیڅ باك نشته، **علی عکس ما یقال ان الکلي مطابق للجزئیات**، یعني صادق دی علی الجزئیات، خو دغه عکس والی هسې عنوان کې دی، هسې خوله کې دی معنون بیا هم یو دی، ځکه چې هلته کې چې یې ویلي چې وهذا مطابق له، دغه مثال جزئي مطابق دي د دې کلام مؤکد سره، نو د دې مطلب هم دغه دی، چې کلام مطابق صادق شو په دي کلام جزئي باندې، نو دا عکس په اعتبار د عنوان سره دی، نه په اعتبار

د معنون سره بلکه معنون په لحاظ سره دواړه یو دي ځکه د دې مطلب دا شو چې کلي صادقیږي په جزئي، او د هغوی مطلب هم دا دی چې کلام مؤکد صادق دی په کلام جزئي باندې، اوس شارح هغه څلورمه خبره ذکر کوي چې **ان اردت تحقیق المقام** ثابتول د دې کلام په دلائلو سره، چې د مطابقت معنی صدق دی، او مقتضی الحال عبارت دی د کلام مؤکد نه، ته دلیل غواړې چې دا دویم مذهب تحقیقي ولې شو، ځکه تحقیقي شي بغیر د دلیل نه نشي کیدای، نو ویل دلته کې نه شم ذکر کولی، دا مختصر دی، **فارجع الی ما ذکرناه في الشرح في تعریف علم المعاني**.

ماتن وویل **وهو** شارح ورسره لګوي ای مقتضی الحال دي کې شارح اشاره وکړه تعیین د مرجع ته چې مقتضی الحال مختلف دي یو نه دی، ویل ځکه چې **فان مقامات الکلام متفاوتة**، دا دلیل شو، شارح د دلیل لپاره دلیل وائي دیته تدقیق وائي، چې یا هلکه مقامات الکلام متفاوت کیدو سره مقتضی الحال ولی متفاوت کیږي؟ نو وائي ځکه چې **لان الاعتبار اللائق بهذا المقام** چې خِلوَ وي د تاکید نه یغایر الاعتبار الائق بذاك په دې مقام سره چې هغه خِلوَ د ذهن دی، نو مقتضی د حال مختلف شوه د مقامات الکلام د وجې نه، ځکه چې یو کې مقام انکار وو، نو هلته کې تاکید راغی، بل ځای کې خِلوَ د ذهن وه نو هلته کې خِلوَ د تاکید نه راغله، **وهذا عین تفاوت مقتضیات الاحوال**، د دې نه غرض د شارح دفع د اعتراض کوي، اعتراض پرې دا وارد شو چې یا هلکه قانون دا دی چې مقتضی کې اختلاف چې راځي نو د وجې د مقتضی نه راځي، نو د مقتضَی مقتضِی حال وو، نو چې حال مختلف شي نو مقتضَی مختلف کیږي، نو داسې ویل په کار وو چې **فان احوال الکلام متفاوتة** او تا په دلیل کې ای ماتنه فان مقامات الکلام وویل، نو مقامات خو مقتضی د مقتضی الحال نه دی، نو شارح جواب وکړو چې **وهذا** چې دغه تفاوت د مقاماتو د کلام **عین تفاوت مقتضیات الاحوال** دي، نو څنګه چې د مقاماتو اختلاف سره مقتضی د حال مختلف کیږي نو دا عین دی د مقتضیات الاحوال سره، چې د احوالُ په مختلف کیدو سره مقتضیات د احوالو هم مختلف کیږي، ویل د ا دواړه یو شی دی، ولی یو دی؟ **لان التغائر بین الحال والمقام انما هو بحسب الاعتبار** یعنې تغائر په دې دواړو کې حال او مقام کې بحسب الاعتبار دی، هسې فرق اعتباري دی او ذات د دواړو یو دی، نو دلته کې دوه دعوی شوې: ۱ یو دعوی دا چې ذات او ماهیت د مقام او د حال یو دی. ۲ دویمه دعوی ده چې حال او مقام کې فرق اعتباري شته دی، تغائر اعتباري شته دی، د اول دعوی اثبات شارح په شرح کې نه دی کړی، د ظهور د وجې نه چې حال هم مثلاً دی انکار ته وائي او مقام هم دې انکار ته وائي، نو ذات یوشو، او دویمې دعوی اثبات شارح کوي چې دي حال او مقام کې فرق اعتباري شته دی، **وهو**، ویل هغه تغایر اعتباري دا دی چې **ان یتوهم** چې توهم کولی شي په حال کې (في الحال) **کونه زمانا لورود الکلام فیه**، وفي المقام: او توهم کولی شي په مقام کې **کونه محلاً له**، کون د دې مقام محل لپاره د دې ورود د کلام یعنې دغه یو انکار دی په مخاطب کې(

چې »دا یو حال دی چې انکار دی د قیام د زید نه، دې کې تا دا لحاظ وکړو چې دغه انکار د قیام د زید نه زمانه ده د پاره د ورود د کلام مؤکده چې **ان زیداً لقائم** دی، نو دیته حال ویلی شي، او که دي کې تا دا توهم وکړو چې دغه انکار دقیام د زید نه، مکان ه‌ی، محل دي لپاره د ورود د کلام مؤکده چې **ان زیداً لقائم**، دی، نو دیته مقام ویلی شي، نو فرق اعتباري شو. او دا یُتَوَهمُ یې څکه وویل چې په واقع کې دا انکار نه زمان دی او نه مکان دی.

دویم دلیل د تغائر لپاره شارح په مطول کې ویلی دی، او دلته یې نه دی ویلی، هلته کې یې دا ویلي دي چې د حال اضافت کیږي مقتضی ته، لکه حال الانکار، حال خلو الذهن، حال الشك، او د مقام اضافت کیږي مقتضی ته، لکه مقام التنکیر، مقام الاطلاق، مقام الذکر، مقام التقدیم، نو په دي اعتبار سره فرق اعتباري راغلی، دغه یو انکار دی که دیته اضافت د حال اوشي نو دیته حال وائي، او دغه یو انکار دی که اضافت اوشي مقتضی ته نو دیته مقام وائي.

اوس شارح وائي **وفي هذا الکلام**، غرض د شارح د دې عبارة نه غرض د مصنف بیانوي چې د دې ماتن غرض د دې عبارة نه چې **وهو مختلف** نه څه غرض دي؟ نوشارح وائي د ماتن دوه غرضه دي: ۱ یو غرض یې اشاره اجمالي ده ضبط د مقتضیاتو د احوالو ته، ضبط د مقتضیات د احوالو ته داسې اشاره وشوه چې مقتضیات د احوالو درې قسمه دي، یو قسم هغه وي چې هغه خاص دی اجزاءُ د جملې واحدې پورې، دویم قسم هغه دی چې هغه په اجزاءُ د جملتینو فصاعداً کې راځي، او دریم قسم هغه دی چې هغه نه جمله واحدې پورې خاص وي او نه جملتینو پورې، بلکه دواړو کې راځي، نواول قسم ته یې اشاره وکړه په **فمقام کل من التنکیر** سره او دویم قسم ته یې اشاره وکړه په **ومقام الفصل یباین مقام الوصل**، سره، او دریم قسم ته یې اشاره وکړه په مقام الایجاز یباین مقام خلافه سره، نو دا اشاره یې وکړه خو دا اجمالي ده، د دې تفصیل وروستو علم معاني کوي.

او دویم غرض د ماتن د دې عبارة نه دا دی چې **وتحقیق لمقتضی الحال** په دې کلام کې ثابتول دي مقتضی الحال لره، ثابتول دا معنی چې مقتضی الحال مصداق لري، مفهوم بلا مصداقه نه دی د عنقاء پشان، بلکه د مقتضی الحال مصداق شته دی، د دې د وجې نه یې اخر کې ویلي **فمقتضی الحال هو الاعتبار المناسب. فمقام کل من التنکیر والاطلاق والتقدیم والذکر یباین مقام خلافه**، نو اوس شبه راغله چې یا هلکه ضمیر په خلاف کې یا به ته راجع کوي مجموعه ته یا به راجع کوي کل ته، بل احتمال خو نشته دی، نو که مجموعه ته یې راجع کوي نو بیا ترجمه دا شوه چې مقام د هر یو د تنکیر نه مبائن دی، د مقام د کل نه، نو مقام د تنکیر صرف مبائن د مقام دتعریف نه دی د کل نه خو نه دی، نو دا خوصحیح نه شو، څکه تنکیر صرف مخالف د تعریف نه دی کل نه، مجموعه نه نه دی مقام د اطلاق صرف مخالف د تقید نه دی، مجموعه نه مبائن نه دی، او که ضمیر راجع کوي **کل منها** ته نو بیا هم دغه شبه راځي، مآل یو

دی، څکه چې مقام د تنکیر مبائن صرف د تعریف نه دی د کل نه نه دی، د خپل مقابل نه مبائن دی د کل نه نه دی، نو شارح اختیار د شق ثاني وکړو چې **کل منها**، اوس تا ویل چې خلاف د کل نه خو نه دی صرف د خپل مقابل نه مبائن دی، نو تاسو وایئ چې ضمیر راجع شو کل ته، نو دا په معنی کې جمع شوه، او مخکې هم جمع وو، او جمع چې مقابل د جمع راشي نو تقسیم د اُحادو په اُحادو باندې کیږي، نو دا د قبیلې د رکبوا دوابهم او د لبثوا ثیابهم نه شو، **یعني المقام الذي یناسبه تنکیر المسند الیه** غرض د شارح د عبارة نه یو تفصیل کوي د دې متن، تشریح د متن کوي، دویم دفع د اعتراض کوي چې یا هلکه دمقام اضافت تا تنکیر ته وکړو، حالانکه د مقام اضافت خو تنکیر ته نه کیږي، بلکه د مقام اضافت کیږي کلام ته یا اجزاء د کلام ته، مقام د تنکیر نه وي، جواب کوي چې اضافت د مقام تنکیر ته د وجې د ادنی ملابست نه دی، څکه چې د تنکیر نه مراد، تنکیر د مسند الیه وو، او مسند الیه جُزء د کلام وو، او تنکیر صفت وو، نو مقام خو صفت د مسند الیه وو، خو تنکیر ته یې د دې وجې نه وکړو چې تنکیر صفت د مسندالیه یا د مسند دی، مثال د هغه مقام چې هغې سره مناسب تنکیر د مسندالیه وي لکه اجل جاء شو، نو دغه مقام مقام د تنکیر د مسند الیه دا مبائن دي د هغه مقام نه چې د هغې سره مناسب تعریف د مسند الیه وي، لکه زید قائم شو، یا مقام د تنکیر د مسند، لکه زید قائم شو دا مبائن دی د هغه مقام نه چې مناسب وي د هغې سره تعریف د مسند، لکه زید القائم شو، «دا مخکې قوله ترجمه ومطلب شو د **والمسند بیاین المقام الذي یناسبه التعریف** خواستاد محترم الفاظ ونه ویل» ومقام اطلاق الحکم، یعنې اطلاق د اسناد په مابین د مسند الیه کې، د دې حکم نه مراد اسناد دی، لکه زید قائم کې، نو زید قائم کې دا کوم اسناد چې دی دا مطلق دی، دا عبارة اوس داسې لګوئ چې **مقام اطلاق الحکم بیاین مقام تقییده بمؤکد** لکه چې ان زیداً قائم دی، او اداة قصر دا هم دي سره لګوئ، چې اطلاق د حکم لکه زید قائم کې شو، چې دلته کې مسند قائم دی مطلق دی، دا مبائن دی د مقام د تقید د دې حکم سره په ادواتو د قصر سره چې ما زید الاقائم شو، نو دا دواړه (**مقام تقییده او اداة قصر**) ولګیدل د دې اطلاق الحکم سره، اوس تعلق ته راشئ، وي **مقام اطلاق التعلق**، تعلق دلته کې عبارة دی د تعلق د مسند نه خپل معمول پورې، نو ګوره تعلق راځي مسند او معمول کې او حکم راځي په مسند او مسند الیه کې، نو مقام د اطلاق د تعلق د مسند خپل، لکه ضربت زیداً کې شو، نو اوس د ضربت نسبت زیداً ته دغه تعلق مطلق دی دا بیاین تقییده، مبائن دی د تقییده د دې تعلق نه باداة قصر په اداتو د قصر سره، نو دا مقام تقییده بمؤکد او اداة قصر دواړه د اطلاق الحکم سره لګي او د تعلق داطلاق سره صرف باداة قصر لګي، فافهم مثال د اطلاق التعلق چې مبائن وي د مقام د تقییده د دې نه باداة قصر لکه ما ضربت الازیداً نو دا مبائن شو، نو ګوره دا تقییده بمؤکد صرف اطلاق الحکم سره ولګیدو، او اداة قصر دواړو سره ولګیدو، نو د ناکت دا نکته چې **راجع الی اطلاق**

الحكم والتعلق دا د اداة قصر سره لګوئ، او تابع دا اوس لګوئ د اطلاق د مسند اليه او مسند دواړو سره نو معنی دا شوه، ومقام اطلاق المسند اليه لکه زيد قائم کې شو، **يباين مقام تقييده بتابع** لکه **زيد الطويل قائم** شو، دارنګه مسند سره لګوئ، دې مقام د اطلاق د مسند لکه ته ووايي زيد قائم شو چې دا مطلق دی دا مبائن د تقيد د دې مسند سره بتابع لکه زيد قائم في الدار شو، **كاتب في الدار او السوق**، او شرط دا شرط صرف د دې مسند سره لګوئ وائي مقام د اطلاق د مسند لکه ضربتُ شو، دلته مسند مطلق دی يباين مقام تقييده بشرط، چې ضربتُ، خو اِن ضربت، نو دا مقيد په قيد د شرط سره شو، او مفعول دا هم مسند سره لګوئ، مقام د اطلاق د مسند لکه ته وائي چې **ضربت يباين مقام تقييده بمفعول** چې ضربت زيداً، يا ضربت ضرباً ووائي، **وما يشبه ذلك** لکه حال او تمييز شو.

ومقام تقديم المسند اليه او المسند او متعلقاته متعلقات د دې مسند، متعلقاتو د مسند نه مراد معمولات د مسند دي يباين مقام تاخيره وکذا مقام ذکره يباين مقام حذفه، فقوله دا يې پرې تفريع وکړه، فقوله پس دغه قول د ماتن خلافه شامل لما ذکرناه.

وانما فصل قوله: د دې نه غرض د شارح اعتراض کوي په ماتن باندې او تنبيهاً سره جواب کوي، نو وائي چې جدا کړو ماتن دا قول خپل چې **ومقام الفصل يباين مقام الوصل** اوپه دې مخکښني سلك کې يې داخل نه کړو، داسې يې ونه ويل چې **فمقام كل من التنكير والاطلاق والتقديم والذكر والفصل يباين مقام خلافه**، نوشارح جواب وکړوچې تنبيهاً لپاره د خبرداری ورکولو د ماتن **على عظم شان هذا الباب** په عظمت شان د دې باب باندې، چې د دې باب الفصل او وصل شان اومرتبه ډيره غټه ده، دومره غټه ده تر دې چې بعضو حصر کړی دی د علم البلاغة په معرفة الفصل والوصل باندې، چې بس يو سړي ته معرفت د فصل د وصل نه او د وصل د فصل نه وشي، نو ده ته بليغ ويلی شي، وجه په دې کې دا ده چې د دې فصل او وصل معرفت بنا دی په معرفت د جامع باندې، او جامع درې قسمه دی: ۱ عقلي ۲ خيالي، ۳ وهمي، دغه جامع پيژندل ګران دي، خصوصاً د جامع خيالي معرفت ډير ګران دی، دا شارح يو جواب وکړو، د دې دويم جواب هم شته، چې مطول کې يې کړی دی، او دلته کې يې هغه نه دی کړی هغه دا چې دا قول ماتن د مخکې نه جدا کړو دې کې (دې جدا کولو کې) يې اشاره هغه قسم ثاني د مقتضی د حال ته ده، ځکه قسم اول هغه مقتضی د حال وو، چې هغه اجزاء د جمله کې راځي، او دا فصل او وصل داسې مقتضی د حال دي چې دا په جملتينو کې راځي فصاعداً **وانما لم يقل مقام خلافه** سره شارح بل اعتراض او جواب کوي، نو وائي چې ونه ويل ماتن مقام خلافه، يعنې داسې ويل په کار وو چې **ومقام الفصل يباين مقام خلافه** وائي ځکه چې دي سره موافقت د سابق سره راتلو او ماتن چې (ځنګه) کوم ويلی دی دي سره موافقت د سابق سره نه راځي، اوموافقت اولی دی د مخالفت نه، نو هلته کې يې مقام خلافه ويلی وو، نو دلته کې هم مقام خلافه ويل په کار وو، نو شارح جواب وکړو چې لاته اخصر واظهر

وائي يا هلكه دلته دا مقام الوصل مختصر اخصر هم دی او اظهر هم شو، هلکه اخصر دی ځکه چې الوصل کې څلور حروف دی لام دی واو، صاد، لام او همزهٔ وصلیه په درج کې ساقط دی او خلاقه کې پینځه حروف دي، خ، ل، ا، ف، ه او څلور په نسبت سره پینځو ته اخصر وي، دویم دا چې د الوصل اظهر هم دی **لان خلاف الفصل انما هو الوصل** ځکه چې خلاف دفصل صرف وصل دی، نو که اوس داسې ماتن ویلي وي چې **بیاین مقام خلافه** نو بیا دا توهم به کیدو چې یا هلکه دفصل خلاف به ډیر څیزونه وي، دوه، درې، څیزونه به یې خلاف وي، او دوه، درې څیزونه نشته دی، یو شی دی چې وصل دی، بیا شبه راغله چې یا هلکه بیا دا **ومقام الایجاز بیاین مقام خلافه** دا ماتن ولې جدا کړی دی؟ دا هم مخکې دا خلول په کار وو کنه، نو شارح جواب وکړو **وللتنبیه علی عظم الشان** ویل دا لپاره د خبرداری ورکولو د ماتن دی په لوی والي د مرتبې باندې فصّل قوله ،نو که اوس معترض شبه وکړي چې یا هلکه مخکې تا ویل چې عظیم الشان باب دَ فصل او وصل دی اوس دلته کې تا وویل چې عظیم الشان ایجاز او اطناب او مساوات دی، نو دوه څیزونه، دواړه عظیم الشان نه شي کیدای، نو تاسو وایئ چې د فصل او وصل دا عظمت د شان په اعتبار اومعرفت سره وو، او د دې ایجاز او د خلاف د ایجاز عظمت د شان په اعتبار د مسائلو سره دی، نو د فصل او وصل عظمت په اعتبار د معرفت وو، چې پیژندل یې ډیر لوی کار وو، او دلته عظمت باعتبار المثل وو، عظمت په یو جهت سره نه شو بلکه په جهتینو سره شو ،**ومقام الایجاز بیاین مقام خلافه** ای، د خلاف تعیین مصداقي کوي، چې **الاطناب والمساواة، وکذا خطاب الذکي مع خطاب الغبي** وائي دغسې خطاب د ذکي مخاطب سره مبائن دی، دې سره خطاب د خطاب د غبي مخاطب نه، اوس ګورئ په دي کذا کې دوه احتمالین دي، یو احتمال دا دی چې د دې کذا په ذا کې اشاره ایجاز ته وکړي نومعنی دا شوه چې په شان د دې ایجاز خطاب الذکي دی مع خطاب الغبي، نو ایجاز او مخالف د ایجاز مشبه به شوه او خطاب الذکي مع خطاب الغبي دا مشبه شو، او اله د تشبیه په کې کاف شو، وجه د شبهي تباین مقامي شو، یو توجیه دا ده، دویمه توجیه دا ده چې کذا کې یې اشاره ایجاز ته اونکې، مقام الایجاز ته وکړي، نو مقام الایجاز مشبه به شوه، او خطاب الذکي او خطاب الغبي مشبه شوه، او اله د تشبیه کاف شو، او وجه د شبه تباین شو، مقام ورسره مه وایئ تباین وایئ، اوس د شارح غرض د فَان نه، شارح احتمال ثاني غوره کوي چې مشبه هم مقام شي او مشبه به هم مقام شي، دویم غرض د شارح اشاره کوي دفع د اعتراض ته، چې یا هلکه په احتمال ثاني باندې مشبه مقام الایجاز شو، او مشبه خطاب الذکي مع خطاب الغبي شو نو تشبیه صحیح شوه؟ خطاب الذکي خو مشابه د مقام الایجاز سره نه دی، نو شارح جواب وکړو چې دلته حذف د مضاف دی، مراد د خطاب الذکي نه مقام خطاب الذکي دی، هغې ته شارح اشاره وکړه چې **فان مقام الاول بیاین مقام الثاني**، نومقام حذف شو، نو اوس تشبیه صحیح شوه، نو د شارح دوه غرضه شو، یو اشاره یې وکړه اختیار د

احتمال ثاني ته، دويم غرض دفع د اعتراض يې هم وکړه.

اوس متن لپاره دليل وائي چې هلکه مقام د خطاب د ذکي مبائن ولې دی، د مقام د خطاب د غبي سره نو وائي چې **فان الذکي يناسبه من الاعتبارات اللطيفة والمعاني الدقيقة** داسې اعتبارات او معاني چې خفي وي هر سړی پرې نه پوهيږي، **ما لا يناسب الغبي**، دوی سره سيده ساده خبرې چليږي، او حديث هم په دې باندې ګواه دی چې **کلموا الناس علی قدر عقولهم** او نور وائي چې **ولکل کلمة مع صاحبتها**، نو دا صاحبة اسم صفتي وو اسم يې غوښتلو نو شارح ورله موصوف کښښودو چې مع کلمة معترض شبه وکړه چې يا هلکه د هرې کلمې لپاره سره د کلمې نه يعنې سره د خپل ځان نه مصاحبه به وي نو بيا خو مصاحبة الشئ لنفسه راغلی، او دا خو جائز نه دی، نو ده جواب وکړو اخری سره، سره د کلمي أخری نه، داسې کلمه اخری چې مصاحبه به وي د دې کلمي اولی سره **مقام** يو مقام لري داسې مقام ليس نه وی دا مقام **لتلک الکلمة** د دې کلمي لپاره **مع ما يشارک مع تلک الصاحبة** سره د هغې کلمې نه چې هغه مشارکه وي دغې صاحبې کلمې سره په اصل معنی کې، او په مثلاً سره شارح مونږه او تاسو په مثال جزئي سره پوهه کوي، دويم غرض د شارح په مثلاً سره بيان د احتمالينو کوي چې **لکل کلمة** نه فعل واخله او د مصاحبة نه ادوات د شرط واخله، داهم جائز دی، دويم احتمال دا چې لکل کلمة نه ادوات د شرط واخله او د مصاحبة نه فعل واخله دا هم جائز دی، نو اول احتمال ته شارح اشاره کوي **مثلاً الفعل الذي قصد اقترانه بالشرط** په ادواتو د شرط سره، فله نو د دې فعل لپاره مع اِنْ مقام، يو مقام دی، چې هغه شرط به په راتلونکي زمانه کې غير قطعي مشکوک الوجود وي، داسې مقام ليس له، ای الفعل مع اذا اذا که راشي نو هغه دلالت کوي په دي چې دغه شرط په راتلونکي زمانه کې قطعي دی، او دغه اِنْ و اذا په اصل تعليق کې شريک دی، ځکه معنی د دوې تعليق دی دواړه په دې باندې دلالت کوي، وکذا سره اوس هغه دويم احتمال ذکر کوي چې لکل کلمة نه ادوات د شرط واخله او مصاحبة نه فعل واخله، وائي: ولکل کلمة من ادوات الشرط، مثلاً چې اذ اواذا اولَوْ دی مع الماضي مقام، يو مقام لري چې هغه دلالت په تحقق الوقوع باندې کوي ليس له داسې مقام چې نشته دی سره د مضارع نه، چې دغه اِنْ و اذا ادوات د شرط په مضارع باندې داخل شي نو هغه په تحقق الوقوع باندې دلالت نه کوي، او دغه ماضي او مضارع په اصل فعل، حدث کې مشترک دی، شارح وائي څومره به تاسو ته زوتوم **وعلی هذا القياس** چې نور په دې قياس کوه.

اوس ګوره ماتن د تفاوت د مراتبو د بلاغت لپاره دوه مقدمې ممهدې ذکر کړي دي، يو مقدمه ممهده مخکې تيره شوه چې **وهو مختلف** اوس دا مقدمه ممهده شوه لپاره د ولها طرفان وروستو چې ولها طرفان راځي، داسې شوه چې که مقتضی د حال مختلف نه شي، بلکه يو شي نو مراتب د بلاغت متفاوت کيدای نه شي، نو چې **متفاوت** نه شو، نو تقسيم صحيح نه شو، اعلی او اسفل او متوسط ته.

اوس دا دويمه مقدمه ممهده ذکر کوي لپاره د تفاوت د مراتبو د بلاغت چې که کلام کې ارتفاع او انحطاط نه وي، بلکه ټول کلام په ارتفاع کې برابر شي يا ټول کلامونه په انحطاط کې برابر شي، نو تقسيم د بلاغت اعلى او اسفل او متوسط ته نه صحيح کيږي، نو دا دويمه مقدمه ممهده شوه، نو وي ويل چې **وارتفاع شان الكلام في الحسن** په بنا يسته والي في نفسه کې والقبول په قبلولو د بلغاء کې يا سامع کې، د ارتفاع راځي بمطابقته په مطابقت د دې کلام سره د اعتبار مناسب سره، **للاعتبار المناسب** وانحطاطه کې تعيين د مرجع کوي، **اى انحطاط د شان الكلام شانه**، **اى الكلام**، بعد مها تعيين د مرجع کوي اى **بعدم مطابقته للاعتبار المناسب**.

والمراد سره شارح دفع د اعتراض کوي، چې يا هلکه مطابقت د کلام د اعتبار مناسب سره بيخي ممکن نه دی، ځکه کلام عبارت دی د هغه لفظ نه چې مشتمل وي په اسناد باندې، نو هغه لفظ شو، او اعتبار خوصفت د معتبر دی، لفظ د صفت، صفت د معتبر سره نه شي مناسب کيدای، نو دا مطابقت صحيح نه دی، ځکه اعتبار خو صفت د معتبر ته وائي او کلام خو هغه لفظ دی چې مشتمل وي په اسناد باندې، نو هغه خو ذات شو، اوس د ذات فصاحت مطابقت د وصف د معتبر سره کيدای شي؟ نو شارح راغلی جواب يې وکړو چې **والمراد بالاعتبار المناسب، الامر الذي اعتبره المتكلم مناسبا للمقام**، چې يا هلکه ذکر د اعتبار دی او مراد ترينه آمر معتبره شو، علاقه دا ده چې ذکر د سبب شو، او مراد ترينه مسبب شو، ځکه اعتبار سبب دی د امرِ معتبره لپاره، نو اوس خبره تهيک شوه، مثلاً کلام ان زيدا لقائم شو، په دې کلام کې متکلم يو آمر معتبر کړی دی چې هغه تاکيد دی او دغه تاکيد په دغه **ان زيدا لقائم** کې آمر معتبره شو، دا مطابق دی د حال او مقام د مخاطب سره چې هغه انکار وو، او د مطابقت معنی اشتمال شو چې دغه کلام چې **ان زيداً لقائم** دی، دا مشتمل دی او دغه تاکيد مشتمل دی.

اوس که معترض شبه وکړي چې هر کله مراد د اعتبار نه آمر معتبره وو، نو بيا آمرِ معتبره يې ولې نه ذکر کولو، داسې يې ولې نه ويل چې **وارتفاع شان الكلام في الحسن والقبول بمطابقته للامر المناسب**، دا ښه وو، نو تاسو وايئ چې اعتبار يې ذکر کړی دی دي کې يې دا اشاره کړي ده چې دا ارتفاع هله راځي چې متکلم قصداً او اعتباراً دغه کلام په دغه امر باندې مشتمل کړی وي، او که هسې د پوند د لاس غرګی وو، بې د اعتبار نه متکلم وويل ان زيدا لقائم نو دا کلام څه مرتفع نه دی ديته بليغ نه شي ويلی **بحسب السليقة** اوس تقسيم د متکلم کوي چې متکلم دوه قسمه دی، يو متکلم هغه دی چې هغه دا کلام مناسب د مقام ګرځوي نو بحسب السليقة، په اعتبار د خپل ذوق سره او په اعتبار د خپل طبيعت سره چې دغه مقام دغه حال، غواړي دغه کلام، کله چې متکلم د عرب العرباء نه وي.

او **بحسب تتبع تراكيب البلغاء**، يا په اعتبار د تفتيش، تلاش، لټوني د تراکيبو د بلغاء سره، چې هله مونږه او تاسو شو، چې هغه وائي چې مونږه تتبع د تراکيبو د بلغاءُ کړی دی، نو بلغاءُ ويلی دی چې

فلانی مقام د حال کې فلانی کلام، فلانی مقام حال کې فلانی کلام به ذکر کوی.

یقال سره غرض د شارح استدلال پیش کوي، **نقل من اللغة** پیش کوي، چې د اعتبار اطلاق په معتبر باندې کیږي او کیدای شي، نو وائي **یقال اعتبرت الشئ** دا ویلی کیږي، اذا نظرتَ الیه ورأیتِ حاله، نو دغه شی معتبر شو، ځکه چې تا یې اعتبار وکړو نو معتبر شو اعتبار نه شو نو اطلاق د اعتبار په معتبر باندې وشو، نو په امر معتبره باندې اطلاق د اعتبار صحیح دی.

واراد بالکلام الفصیح دي سره دفع د اعتراض کوي چې یا هلکه وارتفاع شان الکلام کې دغه الکلام کې الف لام جنسي یا استغراقي به وي نو معنی دا شو چې ارتفاع او اوچتوالی د جنس کلام یا د هر فرد د افرادو د کلام، جنس کلام او د هر فرد د افرادو د کلام نه مراد دا چې کلام فصیح وي، او که غیر فصیح وي نو د هغې ارتفاع **بمطابقته** راځي، نو دا خبره خو مسلم نه ده، ځکه چې د کلام فصیحه ارتفاع په بمطابقته مسلم ده خو د غیر فصیحه ارتفاع بمطابقته خو مسلم نه ده، ځکه چې بلاغت کې شرط فصاحت دی، ځکه چې بلاغت مطابقته لمقتضی الحال **مع فصاحته** دی، نو که مطابقت د اعتبار مناسب سره هم راغلی، او فصاحت په کې نه وي نو هغه ته بلیغ نه شي ویلی، نفس بلیغ ورته نه شي ویلی، ارتفاع خو وو کنه، نو ده جواب وکړو چې الکلام کې الف لام جنسي یا استغراقي نه دی، الکلام کې الف لام عهدِ خارجي دی چې مراد د کلام نه کلام فصیحه دی، نو وائي **و اراد بالکلام الفصیح**، او قرینه په کې په دې الف لام خارجي باندې دا دی چې بلاغت في الکلام کې شرط فصاحت دی.

وبالحسن سره دفع د بل اعتراض کوي، چې یا هلکه د حسن نه مراد مطلق حسن به وي، نو بیا دا حصر مونږه نه منو، تا وویل چې حسن د کلام په مطابقت سره راځي، او مراد به مطلق حسن وي، نه منم چې حسن د کلام په مطابقت سره راځي، کله کله حسن د کلام په محسناتِ بدیعیو سره راځي، نوحصر بمطابقته صحیح نه شو، نو ده جواب وکړو چې وبالحسن چې مراد په حسن سره، **الحسن الذاتي** حسن ذاتي مراد دی، ذاتي ځکه **الداخل في البلاغة** چې هغه داخل دی په بلاغت کې، او شئ چې **ذکر شئ مطلقا** لکه دلته کې حسن نو هغه فرد کامل ته صرف کیږي، دون العرض حسن عرضي مراد نه دی ځکه الخارج، هغه د بلاغت نه خارج دی **لحصوله بالمحسنات البدیعیة** د هغې حصول په محسنات بدیعیه ؤ سره کیږي.

فمقتضی الحال هو الاعتبار المناسب للحال والمقام د دې نه غرض د ماتن دفع د اعتراض کوي، اعتراض دا وارد شو چې یا هکله دلته کې تا وویل چې ارتفاع شان الکلام په مطابقت سره راځي د اعتبار مناسب سره، او ښکته د بلاغت الکلام په تعریف کې تا ویلي وو چې بلاغت د کلام راځي په مطابقت سره د مقتضی الحال سره نو تناقض راغلی، نو ماتن پرې تفریع وکړه چې دا هسې اختلاف عنواني دی، معنون یو دی، مقتضی د حال لکه د بلاغت الکلام او تعریف نه چې معلوم شوی وو، دا هُوَبَهو اعتبار مناسب دی، لکه دلته کې چې ما وویل چې دا اعتبار مناسب دی حال او مقام سره.

يعني سره غرض د شارح، اشاره کوي چې دغه فاء په فمقتضى الحال کې د نتيجه لپاره ده، دويم غرض د شارح دا دی چې فاءد نتيجی لپاره شي نو هغه مخکې دوه مقدمتين قياس غواړي، نوشارح هغه دوه مقدمتين بيانوي، يو مقدمة د کلام المتن نه معلوم ده، او دويمه مقدمه د کلام القوم نه معلوم ده، نو شکل ثالث به جوړ شي، نتيجه به هم دغه راووځي.

دويم غرض د شارح دليل وائي چې مقتضى الحال او اعتبار مناسب يو شی دی، والالماصدق سره دليل وائي، نو وائي چې يعني **اذاعلم** قصد کوي ماتن کله چې معلوم شو د متن نه چې **ان ليس ارتفاع شان الكلام الفصيح في الحسن الذاتي الا بمطابقته للاعتبار المناسب** او دا د دې مخکې متن نه چې تير شو معلوم شوه، معترض راغلی شبه يې وکړه، چې يا هلکه دا خبره خو د متن نه معلوم شوي وه خو حصر سره خو نه وه معلومه شوي، حصر خو په کې نه وو، او تا خو په کې ای شارحه حصر وکړو، هلته خو ماتن دا ويلی وو چې **وارتفاع شان الكلام في الحسن والقبول بمطابقته للاعتبار المناسب** او دعوی د حصر خو يې نه وو کړی، نو تا په کې دا حصر دکوم ځای نه راوويستلو، نو شارح جواب کوي چې دا حصر بناء على ما يفيده ای الحصر اضافة المصدر، ځکه ارتفاع مصدر دی هغه مضاف شو شان الكلام ته، او قانون دا دی چې مصدر مضاف شي يو شي ته او قرينه د عهد نه وي نو هغه نص وي په حصر کې او اختصاص کې، لکه ته ووايي ضربي زيداً في الدار نو معنی دا چې زما ضرب وهل زيد لره مقصور وو په کور کې متجاوز د کور نه بهرته نه وو، نو دا دمتن نه معلومه شوه.

ومعلوم د کلام القوم نه چې انه دغه کلام، يا انه شان دا دی **انما يرتفع**(ای الكلام) **بالبلاغة التي هي عبارة عن مطابقة الكلام الفصيح لمقتضى الحال** نو اوس کوم مقدمه چې متن نه معلوم شوي ده، هغه به تاسو صغری کوئ، او کومه مقدمه چې د کلام القوم نه معلومه شوی هغه کبری کوئ، نو شکل ثالث به جوړ شي، حداوسط به په دواړو کې موضوع وي، نو داسې به وائي چې **وارتفاع شان الكلام بمطابقته للاعتبار المناسب، وارتفاع شان الكلام بمطابقته لمقتضى الحال** نو نتيجه دا راغله، چې فالاعتبار المناسب مقتضى الحال، اوس دا راوتلی نتيجه موجبه ده، نو دي کې عکس وکړو، ځکه چې د موجبي عکس مطلقاً موجبه راځي، نو فمقتضى الحال هو الاعتبار المناسب نو متن کې هم ماتن دغسې ويلی وو. نو بس **فقد علم ان المراد بالاعتبار المناسب و مقتضى الحال واحد**، نو چې اعتبار مناسب او مقتضى الحال يو شو نو مقتضى الحال او اعتبار مناسب هم يو شو کنه ځکه متن کې يې دغه ويلی دی. اوس هغه دريمه خبره کوي، دليل وائي چې دا دواړه يو ولې دی؟ يعني دي کې نسبت مساوات دی، يو وائي والا يعني که دا دواړه يو نشي او دي کې نسبت مساوات نه شي نو يا أحد الحصرين باطليږي يا دواړه حصرين باطليږي، نو مما صدق چې انه لا يرتفع الكلام **الا بالمطابقة للاعتبار المناسب ولا يرتفع الا بالمطابقة لمقتضى الحال** يا دا دواړه مذکور حصرين باطليږي او يا احد الحصرين باطليږي، يا هلکه لما صدق خو باطل، تالي، ځکه ماتن

صدق کړی دی چې **فمقتضى الحال هو الاعتبار المناسب** ویلی دی؟ خو دلیل د ملازمي څه دی؟ چې په دي کې نسبت مساوات رانشي نو احد الحصرین باطلیږي یا دواړه باطلیږي، نوشارح وویل فلیتامل، چې په دلیل د ملازمي کې ځان ته فکر وکړه، نو فلیتامل کې اشاره شوه دلیل د ملازمي ته، اوس د دلیل د ملازمي د حاصل نه مخکې تمهید کیدئ، او بیا دلیل د ملازمي په هغه باندې بنا کوئ، تمهید دا کیدئ چې حصر دی که قصر دی که تخصیص دی که اختصاص دی، دا دوه جزونه غواړي، یو جزئي ایجابي او بل جُزئي سلبي، ځکه چې دغه قصر دی که تخصیص که حصر که اختصاص دا دیته وائي چې ما یوجد فیه ولایوجد في غیره، نو یوجد سیمی یا صبیحی د جزئي ایجابي شوه، او لایوجد في غیره دا جزئي سلبي شوه، نو هر قصر واخواته دوه جزه غواړي چې یو جزئي ایجابي او بل عموم خصوص مطلق شي نو احد الحصرین باطلیږي، حصر في الاخص السلبي مبطل دی د جزء سلبي د حصر د اعم لپاره، نو احد الحصرین به باطل شي، لکه ته ووایي **لایبیع الا الانسان** نو د دې جزء ایجابي بیع الانسان شو، یبیع الانسان او جزء سلبي ولا یبیع غیر الانسان شو، اوس ته ووایه چې لایبیع الا الحیوان نو د دې جزء ایجابي بیع الحیوان شو، او جزء سلبي ولایباع غیر الحیوان، نو اوس دا حصر في الاخص دا جزء سلبي چې لا یبیع غیر الانسان، نو غیر د انسان فرس دی، نومعنی دا چې د هغه بیع نه شي کیدای د هغې نه دا معلوم شو، او دلته حصر في الاعم جزء ایجابي دا شو چې بیع د حیوان کیدای شي، نوحیوان کې خو فرس هم داخل دی، نو د حصر في الاخص نه معلوم شوه چې بیع د فرس نه شي کیدای او د حصر في الاعم نه معلوم شوه چې بیع د فرس کیدای شي، ځکه بیع د حیوان کې فرس داخل دی، جزء ایجابي د حصر في الاخص مبطل شو لپاره د جزء ایجابي د حصر في الاعم لپاره، نو دغه حصر في الاخص هم باطل شو، ځکه چې مبطل د حق باطل وي.

نو که اوس دوی کې هم عموم خصوص مطلق شي، نو جزء سلبي د حصر في الاخص به مبطل لپاره د جزء سلبي د حصر في الاعم شو، احد الحصرین باطل شو.

او که دوی کې نسبت مثلاً عموم خصوص من وجه وي نو بیا دواړه حصرین باطلیږي، لکه د هغې مثال ابیض او حیوان، نو لایباع الاابیض، نو جزء ایجابي بیع د ابیض شوه، او جزء سلبي لایباع غیر الابیض شوه، **ولوکان حیوان اسود**، د غیر ابیض حیوان بیع نشته، د اسود بیع نه شي کیدای او د لایباع الا الحیوان نه به دا مراد شي، چې بیع د حیوان کولی شي خو د غیر حیوان نه شي کولی نو اوس د دې لا یباع الاالحیوان د جزء ایجابي نه معلومه شوه، د توري غوا بیع کولی شي، ځکه هغه حیوان دی، او لایباع الاالابیض نه معلومیږي، چې د توري غوا بیع نه شي کولی، نو جزء سلبي د هر یو مبطل لپاره د جزء ایجابي دبل شو، نو دواړه حصرین باطل شو.

دارنګه که دې دواړو کې نسبت تباین شي بیا هم حصرین باطلیږي، لکه حجر او انسان کې شو، **لایباع**

الا الانسان يبيع د انسان کيږي، غير انسان نه کيږي، لايباع الاالحجر کې، بيع الحجر کيږي او غير حجر نه کيږي، نو هر جزء سلبي د يو مبطل لپاره جزء ايجابي د بل شو، نو اوس که دلته کې اعتبار مناسب کې او مقتضى الحال کې مثلاً تباين وي، نو دواړه حصرين باطل شو، نو ملازمه صحيح شوه. دويم اشاره وشوه په دي فليتامل کې اعتراض ته په دي دليل د ملازمي باندې، چې هلکه حصر في الاعم مستلزم نه دی شمول د اعم لره تولو افرادو ته، نو دي کې عموم خصوص مطلق ووايه او دواړه حصرين صحيح دي، ځکه چې اوس داسې ووائي چې **لا يباع الا الحيوان**، او حيوان نه مراد هغه افراد د حيوان اخله چې هغه انسان کرتي وي، ځکه حصر في الاعم شمول د دې تولو افرادو ته ضروري نه دی، نو نه شي خرڅولی حيوان، نو حيوان نه شي خرڅولی چې په ضمن د انسان کې دی، نو **لايباع غير الحيوان**، هغه حيوان چې په ضمن د انسان کې دی، نوحصر في الاخص باطل نه شو، ځکه چې لايباع الا الانسان نه هم دا معلوم شو چې د غير الانسان بيع نه شي کيدای او لايباع الاالحيوان نه هم معلوم شوه چې غير الانسان نه بيع نه شي کيدای، يا دې کې عموم خصوص من وجه ووايه، او دواړه حصرين نه باطليږي، ځکه د لايباع الاالابيض دا معنی شوه، خو ابيض چې په ضمن د حيوان کې وي، نو بيع د حيوان ابيض کولی شي، او بيع د غير حيوان ابيض نه شي کولی، لايباع الاالحيوان هم ابيض دا مراد کوه چې هغه حيوان چې په ضمن د ابيض کې وي، نو مطلب دواړو يو شو، نو دواړه حصرين باطل شو.

نو شارح وويل **فليتامل** ويل تهيك ده حصر في الاعم مستلزم نه دی شمول لره د تولو افرادو لره، ليکن هله چې قرينه د شمول نه وي، او دلته کې قرينه د شمول شته دی، اضافة د مصدر شوی دی او اضافة د مصدر تقاضه کوي د شمول او عموم، چې قرينه د عهد پرې نه وي.

دريم په فليتامل کې يې اشاره وکړه يو شبهې او جواب ته، شبه دا شوه چې يا هلکه ستا دليل مطابق د مدعی سره نه شو، ځکه چې ستا مدعی اتحادِ مفهومي وو، د مقتضى الحال او د اعتبار مناسب، چې د دوی مفهوم يو دی، يعني دا دواړه مترادفين دي، او دليل نه معلوم شو مساوات، چې ما صدق عليه د احدهما هغه به ما صدق عليه د اخر هم وي، نو دا مساوات في المصداق ثابت شو، او عينيت په مفهوم کې ثابت نه شو، او مدعی ستا دا ده چې دوی مترادفين دي، نو تاسو به جواب وکړئ، يو دا چې زما مدعی هم مساوات وو، دا نه وه چې مقتضى الحال او اعتبار مناسب دا دواړه لفظان مترافان دي، او دليل سره هم مساوات ثابت شو، دويم جواب دا وکړئ چې يا هلکه دليل کې دا مساوات په ضمن اوترادف کې دی، ځکه چې کله کله متساويين اطلاق په مترادفينو باندې هم کيدای شي، لکه ته ووايې متساويان چې القعود والجلوس **متساويين**، معنی دا چې مترافان، ځکه ترادف خاص دی او مساوات عام دی، هر مترادفين متساويين وي او هر متساويين مترادفين نه شي کيدای، نو دلته کې چې هر کله مساوات دي نو مساوات په ضمن د ترادف کې دی فالبلاغة سره ماتن تفريع وکړه، د دې متفرع عليه يا

مخکې تعریف د بلاغت الکلام دی او یا دغه نږدې دی چه وارتفاع شان الکلام دی. نو وی وئیل چه **فالبلاغة صفة راجعة الی اللفظ** بمعنی سره شارح دفع د توهم کوي چې یا هلکه صفت نه مراد صفت معنوي به وي، صفت معنوي وائي قائم بالغیر ته لکه بیاض، سواد دا صفات معنوي دی قائم دی جسم پورې، نو شارح توهم ختم کړو چې نه صفت نه صفت معنوي نه دی مراد صفت نه صفت نحوي مراد دي **بمعنی انه کلام بلیغ** په دي معنی سره چې دغه لفظ کلام بلیغ دی، نو بلیغ صفت نحوي شو د کلام لپاره، صفت نحوي دا معنی چې اوصاف بعد العلم اخبار دی، یعني مبتداء او خبر شول، صفت نحوي باندې اطلاق د مبتداء او خبر هم صحیح کیږي، لکن سره شارح دفع د توهم کوي چې یا هلکه دا بلاغة صفت د لفظ شو خو دلفظ منطوق؟ چې دا لفظ په دي نطق شوی دی تلفظ شوي دي وجې نه دا بلیغ شو، نو نفس لفظ په مقام د شك کې چې یو سړی شکي وي په قیام د زید کې تا وویل زید قائم، تلفظ پرې وشو نو دا بلیغ دی؟ نو شارح دفع وکړه چې نه د لفظ منطوق نه دی چې لکن چې لیکن دا بلاغة صفت د لفظ نه دی **لا من حیث انه لفظ او صوت** دي کیف ما اتفق بل باعتبار افادته ای اللفظ المعنی: شارح ورسره لګوي او تعیین مصداقي د معنی کوي چې **ای الغرض المصوغ له الکلام**، معنی نه مراد معنی اصل نه ده، غرض د معنی نه غرض مصوغه له الکلام دی، هغه غرض چې د هغې لپاره کلام بناء کړی شوی دی، نو هغه معاني ثواني هم دی او معاني اُول هم دی، معاني ثواني، احوال دی او معاني اُول، مقتضیات د احوالو، ځکه چې د احوالو لپاره ته کلام بنا کوي، نو د مقتضیاتُ د احوال نه بغیر ته نه شي بنا کولی، نو غرض مصوغه له الکلام نه دواړه واخلئ، مقتضی الحال او حال دواړه تري مراد دی، ځکه چې دا دواړه غرض مصوغه له الکلام دی، خو صرف د معاني نه معاني اصلي مراد نه شو، چې ان زیدا لقائم کې ثبوت د مقام زید ته دی، یا تعریف د مسند الیه دی یا ذکر او مسند الیه دی، دا مراد نه دی، **بالترکیب** شارح وائي **متعلق بافادته**، دي کې یې اشاره وکړه چې بالترکیب ظرف دی او **ظرف لغوه** دی، یعني لفظ چې افاده د معنی کوي، نو په ترکیب سره کوي، کلام سره، بغیر د کلام نه نه شي کولی، مثلاً ان اول وایه، نو دي سره دفع د شك او د انکار نه شي کیدلی، تر څو پورې چې تا ان زیداً لقائم نه دی ویلی، اوس په متن کې دوه دعوی شوي: ۱ چې بلاغت صفت د لفظ دی په اعتبار د افادې د دې لفظ سره معنی لره. ۲ دویمه دعوی دا شوه، چې بلاغت صفت د لفظ منطوق نه دی، د اول دعوی اثبات کوي نو وائي چې **وذلک** کون د لفظ صفت راجع الی اللفظ ثابت دی په اعتبار د افادې د معنی سره دغه دعوی ایجابي وه، وائي ځکه **لان البلاغة کما مر عبارة عن مطابقة الکلام الفصیح لمقتضی الحال** او مطابقة د کلام فصیح د مقتضی الحال نه، دا لفظ دی.

وظاهر سره ددویمې دعوی اثبات کوي، چې بلاغت د صفت د لفظ منطوق نه دی، دا دعوی سلبي وه، نو وایي چې **وظاهران اعتبار المطابقة وعدمها انما یکون باعتبار المعاني** او معاني نه مراد، **والاغراض التي یصاغ**

لها الكلام، چې هغه مقتضيات د احوالو او احوال دی، لاباعتبار الالفاظ المفردة، هغه مفرد وي يعنې خالي وي د اعتبار د افادې نه، والكلم المجردة نو دا الكلم تفسير شو د الفاظو، او المجردة والمفردة په طريقې د لف نشر مرتب سره، نو دالفظ منطوق دی مثلاً او په دې کې اعتبار د افادې د معنی نشته نو صرف دې سره نه بليغ کيږي.

وكثيراً ما اوس په متن کې دا كثيراً منصوب وو، نصب لپاره دولس طريقې دي، يا هلکه نصب بنا بر څه شو؟ نو وائي نُصِبَ او نصب على الظرف، يعنې منصوب على الظرف شو، يا هلکه ظرف خو يا زمان يا مکان وي او كثيراً خو نه زمان دی نه مکان، نو ديته خو ظرف ويل صحيح نه شو، نو جواب وکړو چې **لانه من صفة الاحيان** يعنې يا هلکه دا ظرف چې ورته زه وايمه مجازاً، په اعتبار د موصوف محذوفه سره، چې حيناً كثيراً بيا موصوف حذف شو او دا كثيراً د هغه په ځای قايم شو، نو هغه خو ظرف زمان وو، نو دا هم منصوب بنا بر طرف شو، او كثيراً ما کې دا ماء كوم يو ما ده، صفتيه ده موصوفه، موصوله ده، د تاكيد د معنی د كثرة لپاره، يعنې ډير کرته، سائل سوال وکړو چې دا نصب بناء بر ظرف شو نو عامل غواړي، په دي کې عامل څوك دی؟ ناصب څوك دی؟ نو جواب يې وکړو چې **والفاعل فيه قوله يسمى، ذلك الوصف المذكور** سره تعيين د مرجع د ضمير د يسمى کوي، چې مطابقة الكلام لمقتضى الحال سره دې، فصاحة ايضاً په فصاحة سره هم، د ايضا معنی کوي شارح ويل **كما يسمى بلاغة** يعنې ديته فصاحت هم وائي، لکه څنګه چې بلاغت هم ورته وائي، نو د فصاحت دوه معنی شوې، يو فصاحت هغه دی چې مقدمه کې تير شو، چې **خلوصه عن ضعف التاليف وتنافر الكلمات والتعقيد مع فصاحتها**، او فصاحت مرادف د بلاغة الكلام دی، هغه وائي **مطابقة الكلام لمقتضى الحال** ته.

فحيث سره دليل وائي چې يا هلکه ستا لپاره په دې څه دليل دی، چې دغه وصف مذكور ته فصاحت ويلی شي لکه څنګه چې ورته بلاغة وائي، نو وائي چې دليل زما لپاره اطلاق د علماءُ دی، ويل څکه فحيث په هغه مقام کې چې وويلی شي چې اعجاز د قران من جهة کونه، په دي جهت سره چې قران کريم په اعلى طبقاتو د فصاحت کې دی، يعنې د قران کريم هر کلام مطابق دی د حال د مخاطب سره، نو دې ځای کې د فصاحت نه د مقدمه والا فصاحت مراد نه شي اخيستی، فصاحت نه مراد **يراد بها هذا المعنى** چې بلاغت دی.

ولها شارح تعيين د مرجع کوي، وائي **اى لبلاغة الكلام**، اوس هر کله چې تمهيد نه فارغه شو، نو اوس شروع کوي په تقسيم د بلاغت کې مراتبِ متفاوتو ته، چې د بلاغت لپاره مراتب متفاوته دی، او د دوه مقدمتينو ممهد ينو نه فارغ شو، نوويل د دې بلاغت الكلام لپاره، طرفان دوه طرفونه دي، يو اعلى يو اعلى دی، وهو او دغه اعلى حد الاعجاز دی، نو د حد الاعجاز يو مفهوم دی او بل مصداق دی نو ماتن مفهوم د دې نه وو بيان کړی نو شارح يې بيانوي، وائي حد الاعجاز ديته وائي **ان يرتقى الكلام في**

بلاغته چې وخيژي کلام په بلاغت خپل کې **الى ان يخرج عن طوق البشر**، هغه حد ته چې خارج شي د طاقت بشري نه، اوس بشر يې ولې خاص کړو، حالانکه طاقت جني او ملکي نه هم خارج دی، ويل بشر يې ځکه خاص کړو چې اکثر معارضي او تحدي د قران سره بشر کوي، جن او ملك نه کوي، اوس خارج د طاقت بشری نه څه معنی؟ تفسير کوي، **ويعجزهم عن معارضته** دا مفهوم د حد الاعجاز شو، مصداق د حد الاعجاز قران دی، **ومايقرب منه** د عَطف يا عُطفَ نه وروستو غرض د شارح تر راتلونکي متن پورې، يو نقل د عطف صحيح لو ترکيب صحيح کوي، اولاً، بيا نقل د ترکيب د مَنْ زَعَمَ کوي، مزعوم د بعضو ثانياً، و زعم بعضهم سره، او بيا رد کوي په دي مزعوم د بعضو باندې ثانياً، وفيه نظر سره، نو دې غرضونه شول، نو شارح وويل چې عطف يا عطفَ علی قوله هو، نو معنی اوس دا شوه چې وهو دغه اعلی حد الاعجاز دی، نويو قسم د حد الاعجاز اعلی شو، **وما يقرب منه** او بل قريب اعلی ته دی، دا هم قسم د حد الاعجاز شو، نواعلی يوقسم د حد الاعجاز شو، او ما يقرب منه د اعلی بل قسم د حد الاعجاز شو، نو مقسم حد الاعجاز شو، اوس وما يقرب منه د حد الاعجاز مصداق احاديث چې سنت د رسول الله صلی الله عليه وعلی اله وسلم دی **والضمير في منه عائد الى اعلى** معترض راغلی شبه يې وکړه، چې يا هلکه بيا خو اخبار راغی د واحد نه په متعدد متضاد سره، او اخبار د واحد نه په متعدد متضاد سره جائز نه دی، ځکه چې تهيك ده چې وقد يتعدد الخبر خو ليکن وقد يتعدد الخبر المتضاد يې نه دی ويلی، نو دغه حد الاعجاز څو امر واحد دی، د دې نه تا اخبار ورکړو په دوو متضادينو سره چې يو اعلی دی، او بل ما يقرب منه د اعلی دی، نو شارح راغلی جواب يې وکړو چې ګوره دا حدالاعجاز خبر دی لپاره د مبتداء محذوفي لپاره چې هغه **کلاهما** دی، نو دا مبتداء سره د خبر نه دا جمله خبر شو د دې هو لپاره، نو شارح اشاره وکړه چې يعني ان الاعلی وما يقرب منه دا مبتداء اول شو **کلاهما حد الاعجاز** نو کلاهما مبتداء شو ثاني حد الاعجاز د دې مبتداء ثاني لپاره خبر شو، دغه مبتداء ثاني سره د خپل خبر نه دا جمله خبر شو د اعلی او د ما يقرب منه د اعلی لپاره، نو اخبار د واحد نه په متعدد سره رانغلی، معترض شبه وکړه چې يا هلکه په دې توجيه کې ته به متفرد يې بل چا به نه وی کړی، نو دا به ستا تفردات وي او تفردات مقبول نه وي، شارح جواب وکړو چې نه زه متفرد نه يم، **هذا هو الموافق لما في المفتاح** او په مطول کې تاسو ويلي چې د دلائل اعجاز سره هم موافق دی.

وزعم بعضهم انه دا ما يقرب منه عطف دی علی حد الاعجاز، والضمير عائد اليه دي حد الاعجاز ته نو اعلی يو قسم حد الاعجاز دی او دويم قسم ما يقرب منه د حد الاعجاز دی، يعني **ان الطرف الاعلى هو حد الاعجاز وما يقرب منه حد الاعجاز**، نو مقسم اعلی شو، نوشارح هغه دريم غرض بيانوي، وفيه نظر ويل په دې کې نظر دی، يو وجه د نظر شارح په کتاب کې بيان کړي ده، چې يا هلکه قريب حدالاعجاز ته ظرف اعلی نه شي کيدای هغه د مراتب عليا ؤ نه کيږي، هغې ته اعلی نه ويلی کيږي **لان القرب من حد**

الاعجاز لايكون من الطرف الاعلى څکه اعلی نه مراد هغه نهایت دی، چې جزئي بسیط دی یا نوع بسیط ده، چې د هغې نه بره بله مرتبه نه وي، نو اوس قریب دی حد الاعجاز ته اعلی نه شي کیدای، څکه اعلی کې تعدد نه ځائیږي، هغه د مراتب علیاؤ نه شو، اعلی نه شي کیدای، ویل هلکه بله څه وجه د غلطي کیدای شي؟ وائي او **وقد اوضحناذلك في الشرح**، نو دویمه بدي دا ده چې تقسیم د ما لاینقسم راغی، څکه چې اعلی نه مراد هغه نهایت دی چې هغه بسیط وي، او بسیط تقسیم نه قبلوي، دریم فساد داچې اخبار راغی د متعدد نه په واحد سره، څکه مقسم محمول په اقسامو وی، نو د متعدد نه اخبار ته په بسیط سره نه شي ورکولی، چې ته ووائي چې دا حدالاعجاز او ما یقرب منه د حد الاعجاز دواړه اعلی دی، نو اعلی خو بسیط ته وائي، او بسیط کې تعدد نه شي راتلی، نو دري بدی شوي **واسفل** او بل د بلاغت طرف اسفل دی.

وهو ما اذا غیر الکلام عنه الی ما دونه وائي دا اسفل هغه مرتبه ده د بلاغت چې مغیر کړی شي کلام د دې ما نه مادون ته، نو اسفل په خپله بلیغ دی خو ما دون بیا بلیغ نه دی، د بلاغت نه خارج شو، اوس شارح ورسره لګوي، **الی مرتبة** دې کې اشاره وشوه چې دا ما عبارت دي د مرتبي نه، دویم دې کې یې اشاره وکړه چې دا ما موصوفه ده، موصوله نه ده، څکه مرتبة نکره سره یې تعبیر وکړو، **هي ادنی منه** چې دغه مرتبه بنکته وي د دې اسفل نه، دې کې یې اشاره دفع د اعتراض ته وکړه، چې یا هلکه دون خو په معنی د سوی سره هم راځي، لکه جاءني القوم دون زید، معنی سوا زید، نو بیا معنی دا شوه الی ما هغه مرتبې ته چې علاوه وي د دې اسفل نه، نو علاوه د اسفل نه اعلی وو، نو بیا اعلی هم **التحق باصوات الحیوانات** شو، نو شارح جواب وکړو چې دون په معنی د سوی سره نه دی، دون په معنی د ادنی سره دی، نو بیا شبه راغله چې یا هلکه ادنی خو په معنی د قرب سره راځي یا قریب سره راځي، لکه **اذا انتم بالعدوة الدنیا** په هغې کناري نږدي مدیني ته، وهم بالعدوة القصوی، نو چې ادنی په معنی د قریب شو، نو بیا معنی دا چې الی ما هغه مرتبي ته چې هغه قریب وي دي اسفل ته، نو قریب اسفل ته په بلاغت کې وي، هسې خو قریب نشته، نو بیا خو ما دون هم بلیغ شو، او هغه خو بلیغ نه دی څکه چې التحق بیا څنګه شو، نو ده جواب وکړو چې وانزل چې یا هلکه دلته کې ادنی په معنی د اقرب سره نه دی، بلکه انزل سره دی، نو التحق دغه کلام **عند البلغاء باصوات الحیوان** شبه یا هلکه دغه کلام څکه د اصوات د حیواناتو سره ملحق شو چې د اعراب په اعتبار سره صحیح نه دی، ویل نه نه، **وان کان صحیح الاعراب** یعنې اګر که د اعراب په اعتبار سره صحیح دي وي څه ضعف التالیف تنافر د کلماتو، او تعقید لفظي معنوي به نه وي، خو مطابق د مقتضی الحال سره به نه وي، **عند البلغاء باصوات الحیوان**، حیواناتو نه مراد علاوه د انسان نه دی، یعنې بیا د بیزې او د سړي په اواز کې څه فرق نشته دی، دارنګه د اوښ او د سړي په اواز کې څه فرق نشته په اعتبار د فصاحت او بلاغت سره، اګر چې هسې فرق خو شته، شبه یا هلکه د **اصواتو** نسبت وشو حیواناتو

ته، نو منسوب او منسوب الیه کې مناسبت په کار وي نو هغه مناسبت دلته څه دی؟ نو دی راغی جواب یې وکړو چې مناسبت دلته د مَصدریت او مُصدریت دی، التي هغه اصوات تصدرُ عن محالها، نو دا اصوات صادر شو او حیوانات مُصدر شو **بحسب ما یتفق** دي کې دا ما مصدري کوئ او حَسبُ په معنی د اعتبار سره کوئ، یعني بحسب الاتفاق (باعتبار الاتفاق) **کیف ما اتفق** خلي ته راغی نو بیزه اواز اُوباسي، او کیف ما اتفق خولې ته راغی نو اوښ اواز کوي، اوښ دا نه وائي چې دلته کې به داسې خبره کوم او دلته به داسې خبره کوم، دا نُکات په کې نه لټوي، دغسې ویل انسان شو من غیر دا بیان د دې صدور دی، چې صدور دي محالو نه بحسب الاتفاق داسې چې من غیر اعتبار اللطائف چې هغه مقتضیات د احوالو دی والخواص الزائدة علی اصل المراد هغه وائي چې د دغه مقام او حال سره دغه لطیفه د مقتضی الحال مناسب ده، یا دا خاصه مناسب دا نه لټوي

وبینهما ای مِن الطرفین، په اعلی او اسفل کې مراتب کثیرة نور ډیر مراتب دي، شبه یا هلکه کثرة نه مراد، کثرة به په اعتبار د استعمال سره وي، نو د استعمال په اعتبار سره خو کثیر طرف اعلی دی، نو ده جواب وکړو چې کثرة نه مراد کثرة استعمال مراد نه دی، کثرة ذاتي هم مراد نه دی بلکه کثرة تفاوتي مراد دی، داسې چې متفاوتة بعضها اعلی من بعض بحسب تفاوت المقامات لکه اوس یو مخاطب منکر وو په انکار شدید سره د قیام د زید نه، ما ورته وویل چې **والله ان زیدا لقائم** ده ورته وویل چې **ان زیدا لقائم** هغه بل وویل چې **ان زیدا قائم**، دري کلامونه شو، نو اوس دا زما کلام اعلی شو، ځکه پورې مخاطب کې انکار شدید موجود وو، دویم نمبر کې د ده شو، او دریم نمبر کې هغه شو، ځکه چې هغه کلام خو د شك لپاره وي، نو دلته خو شك نه دی بلکه مخاطب منکر دی، **ورعایة الاعتبارات هم** دغه شو، یعني ما هغه رعایت دانکار وکړو چې انکار شدید دی، نه پوره، ده پوره ونه کړو، او هغه بل د سره ونکړو.

والبعد من اسباب الاخلال بالفصاحة څومره چې کلام لرې وي د اسبابو د اخلال بالفصاحة نه نو هغه اعلی وي، چې هغې کې ضعف التالیف، تنافر الکلمات، تعقید لفظي، معنوي نه وي، نو هغه اعلی وي، او کوم کلام کې چې اسباب د اخلال بالفصاحة وي نو هغه لاندې وي، اګر چې مطابق د مقتضی د حال سره دي وي **وتتبعها ای بلاغة الکلام وجوه أخر** یا هلکه دا وجوه اُخر ولې شو؟ ویل ځکه چې **سوی المطابقة والفصاحة** کنه، ځکه چې هغوی (دغه وجوه اُخر) علاوه دی د مطابقت او فصاحت نه، نو دې لفظ سوی سره، ګویا چې دا دلیل شو د دې اُخر لپاره، چې دا اُخر ولې شو، اوس دغه وجوه اُخر څه کوي؟ **تورث الکلام حسناً** وائي پیدا کوي په کلام کې ښایست، اوس معترض راغی شبه یې وکړه په ماتن باندې، چې یا هلکه مبنی د متونو بنا بر اختصار ده، نو تا داسې ولې نه ویل چې **ولها وجوه أخر تورث الکلام حسناً**، نو تتبعها ته څه حاجت وو، شارح جواب کوي وفي قوله تتبعها اشارة دی، **الی ان تحسین هذه الوجوه للکلام عرضي** عرضي څه معنی، خارج عن حد البلاغة، ذاتي تحسین په کلام کې نه پیدا کوي، او دغه

اشاره په تتبعها سره کیده او ولها سره نه کیدله، دویمه فائده په تتبعها کې دا ده چې **والی ان هذه الوجوه انما تعد محسنة بعد رعاية المطابقة والفصاحة** او دا د **تتبع** نه معلومیږي، ځکه چې تابع د متبوع نه وروستو وي، او که لها یې ویلی وي، نو دغه تبعیت نه معلومیدو **وجعلها** سره شارح شبه کوي او وروستو جواب کوي، شبه دا کوي چې وجعلها دا وجوه، **تابعة لبلاغة الكلام دون المتكلم** او حالانکه متکلم لپاره دا هم صفت واقع کیدای شي، جواب کوي، لاتها ویل ځکه دغه وجوه **ليست لما يجعل المتكلم متصفا بصفة** معترض شبه وکړه چې ولې نه شي ګرځیدی، یو متکلم کلام طباقي ذکر کړو، نو المتکلم مطبق ورته وائي، یا یو متکلم کلام ترصیعي ذکر کړو، نو المتکلم مرصع ورته وائي، یا یو متکلم کلام جناسي ذکر کړو، نو المتکلم مجنس ورته وائي، نو تاسو په کې تکی اړدوئ، چې دغه **وجوه ليست مما يجعل المتكلم متصفا بصفة عرفا** چې په عرف کې په دغه وجوه سره توصیف د متکلم نه شي کیدای، او په لغت کې کیدای شي، ځکه چې لغت کې صدق د مشتقي قیام د مبدی غواړي، هغه صحیح دی، خو عرف کې دانه شي ویلی چې المتکلم مترصع یا مطبق یا مجنس، او فصاحت او بلاغت ویلی شي چې، المتکلم فصیح، المتکلم بلیغ.

والبلاغة في المتكلم ملكة يقتدر بها على تاليف كلام بليغ، داسې کلام چې هغه مطابق د مقتضی الحال سره وي مع فصاحته، اوس معترض شبه وکړه چې بنا په دې باندې یو متکلم کلام جوړولی شي، کلام ترهیبي مطابق د مقتضی الحال سره، ترغیبي نه شي جوړولی یا بالعکس یا کلام مدحی جوړولی شي او کلام ذامه نه شي، یعنې یو نوع د کلام مطابق د مقتضی الحال سره جوړولی شي، بله نوعه نه شي جوړولی نو بیا دې هغه ته بلیغ وویلی شي، نو تاسو ووایئ چې ته پوهه شوی نه یې کنه، دلته کې کلام موصوف دی، او بلیغ صفت دی، او د نحوي قانون دی چې **النكرة اذا وصفت عمت** نو داسې کلام چې بلیغ وي خو اي کلام کان هر کلام چې ورته وړاندې شي، نو مطابق د مقتضی الحال سره جوړولی شي، لکه تا وویل چې **اكرم رجلا عالما** چې ته عزت وکړه د یو سړي چې عالم وي، نو دلته کې یو مخصوص عالم مراد نه دی، اي عالم کان د هغه عزت وکړه.

فعلم مما تقدم ماتن وویل، او دې قول د ماتن کې فاء راغله، شبه چې یا هلکه فاء د ډیرو معانیو لپاره راځي، دلته کې فاء د څه لپاره شوه؟ شارح ورسره ولګول چې ماتقدم، اشاره یې وکړه چې دا فاء تفریعیه ده، اوس څه معلوم کړی شو، ویل یو دا خبره چې **ان كل بليغ فصيح** نو معترض اعتراض وکړو، سائل سوال وکړو چې یا هلکه کل په مضاف الیه کې تعدد غواړي، او دلته بلیغ کې تعدداً نه وي، نو چې نشته نو اضافت د کل ورته صحیح نه شو، نو شارح جواب وکړو چې **كلاما كان او متكلما** تعدد شته دی، نو چې تعدد راغی نو اضافت د کل صحیح شو، یا غرض د شارح دفعه د اعتراض کوي، چې یا هلکه ته به د بلیغ نه کلام بلیغه اخلي فقط یا به متکلم اخلي فقط یا به دواړه اخلي که کلام

بليغه اخلي فقط نو اضافت نه صحيح كيږي، ځكه تعدد رانغلى، او كه متكلم بليغه اخلي نو بيا هم اضافت نه صحيح كيږي، اوكه دواړه اخلي نو بيا عموم د مشترك لفظي لازميږي، نو شارح جواب وكړو په اختيار د شق ثالث سره چې **كلاما كان او متكلما** چې دواړه اخلم نو اختيار د شق ثالث شو كه ته وائي چې جائز نه دى بياعموم د مشترك راغى نو وائي **على استعمال اللفظ المشترك في معنييه** عموم د مشترك چې جائز ندى نو اختلافي دى څه اتفاقي نه دى د احنافو په مذهب باندې جائز نه دى، او د امام شافعي صاحب په نزد باندې عموم د مشترك جائز دى، نو دا عموم مشترك جائز دى، او شارح علامه تفتازاني، شافعي المذهب دى، نو دا جائز شو، أو سره بل جواب كوي، ځكه دا مخكې جواب خو د بعضو په نزد باندې شو او په نزد د بعضو باندې خو صحيح نه شو، نو چې د بعضو په نزد صحيح جواب نه شو، نو ناقص جواب شو، نو شارح دويم جواب كوي أو على تاويل كل ما يطلق عليه لفظ البليغ چې يا هلكه عموم د مشترك لفظي نه لازميږي، عموم د مشترك معنوي راځي، ځكه چې مونږه د بليغ نه **ما يطلق عليه لفظ البليغ** اخلو، نو دا بليغ، لفظ وضع شو، د ما يطلق عليه لفظ البليغ لپاره، لاندې ترينه دوه فردين شو، يو فرد كلام شو او بل متكلم، نو دا عموم د مشترك معنوي راغى، او دا جائز دى، لكه انسان كې، حيوان كې مشترك معنوي اشتراك معنوي شته دى،لكه انسان وضع شوى وى يوې معنى لپاره چې حيوان ناطق دى، او د هغې لاندې ډير افراد دي، حيوان كذلك شو، **فصيح** دليل د متن لپاره وائي چې ولې؟ وائي: لان الفصاحة ماخوذة (معتبرة ، ملحوظة منه) في تعريف البلاغة مطلقاً، يعنې بلاغت الكلام وي او كه متكلم وي، تتمه د دليل د بهر نه كوي، او ماخوذ موقوف عليه وي لپاره د ماخوذ فيه، نو فصاحت موقوف عليه شو د بلاغت لپاره، او موقوف بغير د موقوف عليه نه نشي راتللى، نو بلاغت د فصاحت نه بغير نه راځي، خوصرف فرق دا دى چې دا فصاحت چې معتبر دى، ماخوذ دى په بلاغت المتكلم كې نو په واسطې سره، ځكه چې بلاغة المتكلم موقوف دى په بلاغت الكلام پورې، او بلاغت الكلام موقوف دى په فصاحت پورې نو بلاغت المتكلم موقوف شو په فصاحة پورې بالواسطه ولاعكس او عكس نشته دى، معترض راغى شبه يې وكړه، چې يا هلكه نفي د عكس نه صحيح كيږي، ځكه دا مخكې موجبه كليه ده، او د موجبې كليې عكس موجبه جزئيه راځي، نو موجبه جزئيه دلته كې صحيح هم ده او صادق هم ده، نو نفي صحيح نه شوه، ځكه د كل بليغ فصيح عكس بعضُ الفصيح بليغ دى، نو دا عكس صحيح هم دى او صادق هم دى، نو نفي صحيح نه شوه، نو ده جواب وكړو **اى بالمعنى اللغوي** چې يا هلكه عكس نه مراد عكس اصطلاحي نه دى، چې د منطقيانو په نزد باندې چې د موجبه كليه عكس موجبه جزئيه راځي، بلكه عكس نه مراد عكس لغوي دى، چې هغه كل فصيح بليغ دى، هغه دا (دلته مراد) نه دى، لكه شارح تفصيل وكړو چې **اى ليس كل فصيح بليغا** دا لغوي شو، يعنې مخكې د دې مقابل دى،متن لپاره، ولاعكس

لپاره دليل وائي چې عکس ځکه نشته **لجواز ان يكون كلام فصيح** يو کلام فصيحه دې وي چې خلوص او ضعف التاليف تنافر د کلماتو، **والتعقيد مع فصاحتها** دي وي خو غير مطابق لمقتضى الحال وي، نو دا فصيح شو، او بليغ نه شو، دا خو په بلاغت الكلام کې شو وكذا په بلاغت المتكلم کې وائي چې يجوز ان يكون لاحد ملكة يقتدر بها على التعبير عن المقصود بلفظ فصيح نوفصاحت المتكلم راغلى، خو **من غير مطابقة لمقتضى الحال** قادر په تاليف د کلام بليغه باندې نه وي، نو بلاغة المتكلم رانغى.

وعلم ايضاً دې کې شارح اشاره وکړه چې **وان البلاغة** دا عطف دى په مخکې **ان كل بليغ** باندې او هغې نه مخکې هلته کې **عُلِمَ** وو، نو دلته کې هم ده عُلِمَ راوويستو، ايضاً کې يې اشاره وکړه چې په دې تفريع کې دوه جزونه شو، يو جز اول، او دا جزء ثاني د تفريع دى، نو ايضاً کې اشاره ديته وشوه چې لکه چې دا مخکې متفرع وو په ما تقدم باندې نو دا هم متفرع دى، چې ان البلاغة في الكلام مرجعها شارح ورسره لګوي **اى ما يجب ان يحصل** دي کې شارح اشاره کوي چې مرجع مصدر ميمي دي، يا صيغه د ظرف، هر څه چې وي، خو دلته کې په معنى د موقوف عليه سره دى، رجوع معنى سره نه دى، او ځاى د رجوع هم نه دى، وائي هغه شى چې هغه حاصل شي چې هغه احتراز دى او تميز دى، **حتى يمكن حصولها (حصول البلاغة)** نو امكان او حصول د بلاغة موقوف تر د احتراز او تمييز پورې شو، نو هغه موقوف عليه شو او بلاغة موقوف شو، شبه يا هلكه داسې چيرته نظير شته دى؟ چې مرجع په معنى د موقوف عليه سره وي؟ ويل هو، مرجع الجود الى الغنى، يعني موقوف عليه د جود غنى ده، چې غنى راشي نو هله جود راځي، غنى نه وي نو جود نه شي راتللى، نو موقوف عليه د بلاغت دوه څيزونه دي، **الى الاحتراز عن الخطاء في تادية المعنى المراد**، يو احتراز دى الخ معنى مراد نه مراد اغراض مصوغه لها الكلام دى، شبه يا هلكه دا موقوف عليه د بلاغت ولى دى؟ دليل وائي، والاكه احتراز د خطايئ نه ونه شي او بلاغت راشي، نو ربما ادى المعنى، دلته کې بنه دا ده چې رُبَّ لپاره د تحقيق ووائي نه تقليل او تكثير نو اعتراضونه ختم شو، وائي: په تحقيق سره ادا كول شي معنى مراد په يو لفظ سره چې هغه مطابق د مقتضي الحال سره نه وي، ليكن تالي باطل دى مقدم يې مثل، هر چې ده وجه د بطلان التالي فلا يكون بليغاً، خلاف المفروض راغى، تا فرض كړي بليغ، او بليغ نه شو، او هر چې دى دليل د ملازمي نو ظاهر دى، ځكه چې احتراز عن الخطائي ته موقوف عليه نه وائي، بې د دې نه هم يو كلام ته ته بليغ وائي نو ادا د معنى مرادې ته **بلفظ غير مطابق لمقتضى الحال** ته هم بليغ ووايه، حالانكه بليغ ويلى نه شي، دويم **والى تميز الكلام الفصيح** دويم مرجع جدائي د كلام فصيح د غير فصيح نه، دا راشي نو هله بلاغت راځي د دې دليل دا دى، والاكه د تميز نه بغير د بلاغت راشي نو **ربما اورد الكلام** هلته کې احتراز عن الخطاء کې يې اُدى وو، او دلته کې اُورد، دا تفنن في العبارة دى، او دلته کې رُب د تحقيق لپاره ووايئ چې خبره ختمه شي **اورد الكلام المطابق لمقتضى الحال (حال كون ذلك الكلام)**

غیر فصیح، نو دې کلام ته بلیغ نه شي ویلی ځکه چې فصیح نه وي نو بلیغ کله کیدای شي تالي باطل دی، فلایکون بلیغاً، دا خو خلاف المفروض راغلی، دلیل د ملازمي **لوجوب الفصاحة في البلاغة**، ځکه چې بلاغت بغیر د فصاحت نه نشي راتللی، شبه نو دی وائي چې یا هلکه ځنګه چې بلاغت موقوف وو، تمییز د کلام فصیح د غیر فصیح نه، د تمییز د کلام فصیحه د غیر فصیحه پورې، نو د تمییز د کلمات فصیحیه ؤ د غیر فصیحه ؤ نه هم ور پورې موقوف دی، نو وائي: **ویدخل في تمیز الکلام الفصیح من غیره تمیز الکلمات الفصیحة من غیرها لتوقفه علیها** نو بلاغت الکلام موقوف شو، په تمیز د کلام فصیح د غیر فصیح نه، او تمیز د کلام فصیح د غیر فصیح نه موقوف شو په تمیز د کلمات فصیحود غیر نه، نو بلاغت موقوف شو په تمیز د کلمات فصیحو سره د غیر فصیحو نه، ځکه چې موقوف د موقوف د شئ موقوف د دغه شئ وي.

والثاني شارح ورسره لګوي **ای تمیز الفصیح من غیره** د دې نه غرض د شارح یو تعین د ثاني کوي، ځکه ثاني د امور اضافیه ؤ نه دی، ځکه ثالث ته هم ثاني ویلی شي په نظر سره ثاني ته، رابع ته هم ثاني ویلی شي په نظر سره ثالث ته، نو شارح تعیین وکړو چې ثاني نه مراد تمیز د فصیح د غیر فصیح نه، دویم غرض د شارح دفع د توهم کوي، چې یا هلکه د ثاني نه مراد هغه جزء ثاني د تفریع به وي؟ نو جزء ثاني د تفریع **مرجعها الی الاحتراز**وو، نو ده جواب وکړو چې نه، ثاني نه مراد جزء ثاني دی د تفریع ثاني نه، نو تفریع ثاني کې دوه جزؤنه وو، یو جزء احتراز وو، بل جزء تمییز وو، نو د تفریع ثاني جزء ثاني مراد دی، او د ثاني نه مراد تفریع ثاني مراد نه دی، **منه** شارح ورسره ولګول چې بعضه دي کې یې تعیین مصداقي وکړو د **من** چه من تبعیضیه دی، **مایبین** شارح ورسره لګوي، ای یوضح دي کې یو اشاره یې وکړه تفسیر د غیر مشهور لره په مشهور سره، دویم دفع د اعتراض یې وکړه چې یا هکله بَین یُبین باب تفعیل دی، نو د دې نه دا معلوم شوه چې بعضې د دې ثاني نه هغه دي چې بیانیږي **في علم اللغة**، نو څه معنی مُبین به بل څوك وي، او دا علم متن اللغة به محل د بیان وي او مُبین خو بل څوك نه دی، مبین خو عین متن اللغة دی، نو ده جواب وکړو چې دا باب تفعیل په معنی د مجردو سره د ی، مزید په معنی د مجرد سره دی، ای یوضح واضح کیږي دغه ثاني **في علم متن اللغة** هغه ثاني چې په علم متن اللغة کې بیانیږي کالغرابة دی، لکه غرابت شو، نو اوس که څوك شبه وکړي چې دا مثال مطابق د ممثل سره نه شو، ځکه ممثل خو تمییز وو او مثال کې غرابة دی، نو غرابة خو تمیز نه دی، نو ناکت جواب کړی دی تاسو جواب وکړئ چې دلته کې دا مثال په حذف د مضاف سره دی.

کتمیز السالم من الغرابة عن غیره، نو اوس مثال مطابق د ممثل سره شو.

وانما قال سره شارح اعتراض ته اشاره کوي بیا وروستو جواب کوي، اعتراض حاصل دا دی چې یا هلکه مبنی د متونو بنا بر اختصار ده، نو ماتن دغسې ولې ونه ویل چې منه مایبین في علم اللغة دا

متن ټکی یې ولې زیات کړو، نو دې اعتراض ته اشاره کوي چې **وانما قال** الماتن متن اللغة، ای معرفة دا جمله معترضه ده، اود متن اللغة تعریف کوي چې متن اللغة اصل اللغة څه ته وائي؟ ویل ای **معرفة اوضاع المفردات** متن اللغة ویلی شي چې پیژند ګلی د وضعو د الفاظو مفرداتو، چې دغه لفظ مفرده د څه لپاره وضع شوی دی، دغه لفظ مفرد د څه لپاره وضع شوی دی، دغه لفظ مفرده... الخ دیته متن اللغة وائي، اوس جواب کوي شارح چې که دا یې ویلی وی چې **في علم اللغة**، نو علم اللغة اطلاق په صرف باندې هم کیږي، او نحوه باندې هم کیږي، او حالانکه تمیز السالم من الغرابة عن غیره په صرف او نحو کې بیانیږي؟ وایه نه، ویل **لان اللغة اعم من ذلك** د دې متن اللغة نه، نو ما څکه متن زیات کړو چې صرف او نحو خارج شي

یعني دې سره دفع د اعتراض کوي، چې هغه اعتراض وو په مثال باندې، نو شارح یې اظهار کوي، چې یا هلکه په علم متن اللغة کښ غرابت خو نه بیانیږي، دا خو نه ویلی کیږي چې دا لفظ غریب دی، او دا لفظ غیر غریب دی، بلکه په علم متن اللغة کې خو تمییز بیانیږي، نو دې راغی جواب یې وکړو چې یعني به یعرف چې پیژندلی شي په دې علم متن اللغة سره **تمیز السالم من الغرابة عن غیره**، نو عبارة په حذف د مضاف شو، بمعنی سره د زوزني اعتراض دفع کوي، زوزني اعتراض کړی وو چې یا هلکه علم متن اللغة کې مونږ ته دا سبب خو نه بنائي، چې دا لفظ غریب دی، او دا سالم دی د غرابت نه، نو دماتن دا حواله په علم متن اللغة باندې صحیح نه شوه خطاء شوه، نو شارح په ان من تتبع سره رد اجمالي کوي، او بیا رد تفصیلي کوي وبهذا تبین فساد ما قیل سره، او رد داسې کوي، چې یا هلکه د دې مطلب دا دی چې په علم متن اللغة کې، او کتب مشهوره ؤ متداوله ؤ د علم اللغة کې د کوم الفاظ مفرده وو معنی مانوسه تا معلومه کړه، دې نه پته ولګیده چې د دغه الفاظ مفرده وو نه علاوه، نور څومره چې الفاظ مفرده دي هغه غریب دي، یا په معنی اولی سره یا په معنی ثاني سره، اول غریب دا معنی چې محتاج دی تنقیر، تفتیش، تالاش ته، یا تخریج بعیده ته، دا معنی نه ده چې په علم متن اللغة کې مونږ ته وائي چې دا لفظ غریب او دا غیر غریب دی، وائي بمعنی ان من تتبع الکتب المتداولة چې لاس په لاس اخستلی کیږي، او مشهور دی او تعلیم او تعلم د هغې کیږي، **واحاط بمعاني المفردات المانوسة علم ان ما عداها**، هغه الفاظ چې علاوه دي د دې معاني د دې مفرداتو مانوسه ؤ نه، عما د هغې قبیلي نه دی یفتقر الی تنقیر لکه تکاکاتم، وافرنقعوا، دا غریب په معنی اولی سره وو، او تخریج بعید لکه مسرجاً شو، نو فهو دغه ماعدا **غیر سالم من الغرابة**.

وبهذا او په دې تحقیق ثالث سره په دې بیان مذکوره سره چې بمعنی ان من تتبع دی، **تبین** ظاهر شو، **فساد** ما فساد د هغه اعتراض **قیل**، دا اوس رد تفصیلي کوي، او معترض زوزني وو، چې انه شان دا دی **لیس في علم متن اللغة ان بعض الالفاظ یحتاج في معرفته الی ان یبحث عنه في الکتب المبسوطة في اللغة**، او

بعضې محتاج نه دي، نو دغه اعتراض دفعه شو چې دا مطلب نه دی، مطلب دا مخکې دی.

او **في علم التصريف** او يا ځنې د دې نه واضح کيږي په علم تصريف کې لکه هغه **کمخالفة القياس** دلته کې هم حذف د مضاف دی، کتمييز مخالفة القياس شو د غير مخالفة القياس نه، وي خکه **اذ به** چې په دې علم تصريف سره، **يعرف** پيژندلی کيږي **ان الاجلل مخالف للقياس الصرفي** مخالف دی د قياس صرفي نه **دون الاجل**.

او **في علم النحو** هغه لکه کضعف التاليف تميز د ضعف التاليف شو، **والتعقيد اللفظي**، او تعقيد لفظي شو، او **ويدرك بالحس** او يا ځنې د دې ثاني نه ادراک يې کولی شي په حس سره، لکه تنافر د حروفو شو او تنافر د کلماتو شو کالتنافر، حس سره ځکه مدرک کيږي **اذبه** ځکه چې په دې حس سره، **يعرف** پيژندلی کيږي چې **ان المستشزر متنافر** دی، **دون مرتفع** او مرتفع نه دی **وکذا تنافر الکلمات** هم مدرک بالحس دی.

وهو شارح تعين د مرجع کوي، **ای ما يبين في العلوم المذکورة او يدرك بالحس** دويم غرض دفع د اعتراض کوي، چې يا هلکه هو ضمير د مفرد مذکر دی، او مخکې مرجع دوه دي، يو **يبين في العلوم المذکورة** او دويم **يدرك بالحس** نو راجع او مرجع کې مطابقت رانغلو، نو شارح جواب وکړو چې هو ضمير کلمه "ما" ته راجع دی، او دا يبين في العلوم المذکورة او يدرك بالحس دا قيد د مرجع دی، او قيد د مرجع متعلق کيدو سره مرجع نه مخالف کيږي، مرجع خو يوه ده چې "ما" ده، نو شارح پرې تفريع وکړه چې فالضمير عائد الی ما دی، نو مرجع د ضمير يو ده چې هغه **ما** ده، اويبين في العلوم...، اويدرك بالحس دا خو قيد د مرجع دی، او په تعدد د قيد د مرجع سره تعدد د مرجع نه راځي، ومن زعم سره شارح په يو زاعم باندې رد کوي، چې **ومن زعم انه** چې دغه ضمير **عائد الی ما يدرك بالحس** ته راجع دی، د دوو وجو نه، يو د دې وجې نه چې مطابقت راشي په راجع او مرجع کې او دويم د دې وجې نه چې دا قريب دی او اصل په مرجع کې قرب دی، نو شارح وائي **فقد سها سهوا ظاهرا** يعني بديهي خطاء شوی دی، د دوو وجو نه! چې ستا د دې زعم نه دا معلوميږي چې تعقيد معنوي بيان به په دې علومو مذکوره کې به کيږي، ځکه ترجمه وکړه چې وهو چې دغه **ما يدرك بالحس، ما عدا التعقيد المعنوي** چې دغه ما يدرك بالحس ما عدا دی د تعقيد معنوی نه، د تعقيد معنوي مبين علوم مذکوره شو، چې متن اللغة، او علم التصريف او علم نحوه دی، او حالانکه داسې خو نه ده (نو بنا په دې توجيه) دغه توهم راځي، نو دا خطاء ده او خطائي دا راځي چې بنا په دې باندې دا توهم راځي چې دا ما يدرك بالحس ما عدا دی د تعقيد معنوي نه، نو تعقيد معنوي نه احتراز په دې علوم مذکوره سره کيږي، او دا توهم خطاء دی، دويم غلط توهم دا راځي چې هو دا ما يدرك بالحس ما عدا دی د تعقيد معنوي نه، يعني د تعقيد معنوي نه علاوه نور ټول مدرک بالحس دي، او دا خبره صحيح نه ده خطاء ده، نو بنه دا شوه چې ضمير راجع شي ما ته، **نه مايدرك بالحس ته**.

اذ لايعرف سره شارح يو دليل وائي د متن لپاره، چې دا علاوه ولې دی؟ دويم دفع د اعتراض کوي چې **ماعدا، و خلا او حاشا وغيره** ادوات د استثناء متصل دی، او استثناء متصل ديته وائي چې مستثنی د جنس د مستثنی منه نه وي، نو مستثنی منه خو ما وو، او ما تميز وو، او تعقيد معنوي خو تمييز نه دی، نو دلته کې ماعدا ذکر کول صحيح نه شو، نو شارح جواب کوي پټ، چې دلته کې حذف د مضاف دی، ما عدا تميز التعقيد المعنوي، اذ لايعرف بتلك العلوم ولابالحس تمييز السالم، تمييز يې په کې راوويستلو، **من التعقيد المعنوي عن غيره** نه.

فعلم سره شارح تفريع کوي، او توطيه او تمهيد ايږدي دې متن ته چې **وما يحترز به عن الاول** چې ماتن دا عبارة ولې وويل؟ نو وائي **فعلم ان مرجع البلاغة بعضه مبين في العلوم المذكورة وبعضه مدرك بالحس وبقي الاحتراز عن الخطاء في تادية المعنى المراد والاحتراز عن التعقيد المعنوي فمست الحاجة**، پس باعث شو حاجة، **الى علمين مفيدين لذالك**، د دې احترازينو لپاره يا ددی احتراز لپاره، نو **فوضعوا** ای العلماء **علم المعاني للاول**، لپاره د احتراز د خطايئ نه **وعلم البيان للثاني واليه اشار بقوله**، نو دا تمهيد شو.

نو وه يې ويل **وما يحترز به عن الاول** شارح ای سره تعيين مصداقي د اول کوي، او دفع د اعتراض کوي، اعتراض دا وارد شو چې يا هلکه ستا مراد، د اول نه اول د متن به وي، نو اول د متن خو احتراز دی د خطايئ نه (کما مر علی ۳۱ لمختصر المعاني) ، نو اوس ترجمه وکړه، ويل هغه شی چې په هغې سره احتراز کولی شي داحتراز عن الخطاء نه، نو احتراز عن احتراز الخطاء خو خطائي ده، نو بيا خو ترجمه دا شوه چې کوم شی چې خطائي په کې راتللی شي، هغې لپاره علم معاني دی، نو په علم معاني سره په تادية د معنی مراده کې خطائي راځي؟ دی دا بيانوي، (يعنی علم معاني خو دا نه بيانوي) شارح جواب وکړو چې اول نه مراد اول د متن نه دی، او د تفريع نه دی، اول نه مراد اول د امرينو باقييونو دی، او اول د امرينو باقييو خطاء في تادية المعنى المراد وو، نو وه يې ويل ای **الخطاء في تادية المعنى المراد علم المعاني، وما يحترز به عن التعقيد المعنوي علم البيان، وسموا هذين العلمين علم البلاغة** دې سره يې اعتراض ته اشاره وکړه، د اعتراض حاصل دا شو، چې يا هلکه بيا د علم بلاغت موقوف عليه لکه څنګه چې علم المعاني او بيان شو نو علم الصرف او علم اللغة او علم النحو خو هم دی، نو دا څه وجه ده چې تاسو صرف بلاغة دوه فنينو ته وايئ او علم الصرف او علم متن اللغة او علم النحو ته بلاغت نه وايئ، او حالانکه علم بلاغت کې هغوی لره هم دخل دي، هغوی هم موقوف عليه د بلاغت دي، نو ده وويل چې مسمی کړی دی علماءُ دغه دواړه علمين په علم البلاغة سره نه نور، دا اوس جواب دی چې **لكان مزيد اختصاص لهما بالبلاغة**، د وجې د وجود د زيادة علاقي نه دی د دې دواړه علمينو د بلاغت سره. د دوی مناسبت د بلاغت سره زيات وو، داسې زيات وو چې دا په منزله د علت صوري وو د بلاغت لپاره، او علت صوري چې راشي نو په معلول کې حالت منتظره نه وي، او دا نور علوم په منزله د علت

مادي د بلاغت لپاره دي، او علت مادی او فاعل راتلو سره معلول بالفعل نه راځي، د دې وجې نه د دوی د بلاغت سره علاقه زیاته وه، نو دیته یې علم البلاغة وویل ګویا دا علم البلاغة شو لاغیرهما، وان کانت البلاغة تتوقف علی غیرهما من العلوم، ثم احتاجوا سره تمهید ډدي متن لپاره، او دویم دفعه د اعتراض کوي چې زمونږ مقصود موقوف علیه د بلاغت بیانول دي، هغه خو ختم شو، نو اشتغال د مصنف په **وما یعرف به وجوه التحسین علم البدیع** دا اشتغال بما لا یعني دی، نو شارح جواب کوي چې نه لایعني نه دی،بلکه دا دریم متن ته احتیاجي ثابتوي.

ثم احتاجوا دا علماء **لمعرفة توابع البلاغة الی علم اخر فوضعوا لذلک ای المعرفة علم البدیع، والیه اشار بقوله وما یعرف به**...الخ، علم البدیع ولما کان سره، شارح دا تعیین د اجزاء د مختصر کوي، چې د دې مختصر اجزاء، مختصر دا تلخیص درې دی، نو وائي **ولما کان هذا المختصر في علم البلاغة وتوابعها انحصر مقصوده في ثلاثة فنون** که څوک اعتراض وکړي چې شارح خو د اجزاء تعیین مخکې په مقدمه کې کړی وو، نو تاسو وایئ چې هلته کې یې تفصیلاً تعیین کړی وو، او اوس دا یې اجمالاً بیا وکړو، ځکه چې تفصیل بعد الاجمال اوقع في الذهن وی، نو دغسې اجمال بعد التفصیل هم اوقع في الذهن وي، ځکه چې تفصیل ډیر اوږد شي نو د سړي ذهن ورته نه رسي، نو بیا وروستو خلاصه او اجمال راوباسي چې ذهن ورته ورسي، او قران کې شته، چې یو سړی متمتع وي او د هدیه قیمت ورسره نه وي یا د هدي قیمت وی خو موندلی کیږي نه هدیه نو هغه به لس روژې نیسي، ګوره **ثلثة في الحج، وسبعة اذا رجعتم**، رجعتم ای فرغتم، کورته رسیدلی وی که نه که لاړه کې نیسي بیا هم جائز دی، نو بیا الله اجمال راوویستلو چې **تلک عشرة کاملة** نو دا مخکې تفصیل او دا اجمال شو.

وکثیر من الناس سره اصطلاحات ذکر کوي، یو اصطلاح خو دا شوه چې فن اول ته علم المعاني وائي، ځکه په دي سره معلومیږي ایراد د معانیو چې د هغې لپاره بنا کړی شوی وي کلام او دي دویم ته بیان وائي، ځکه په دې کې بیان د معنی واحدې وي په طرقو مختلفو سره، او دي دریم ته علم البدیع وائي، ځکه چې دی د محسنات بدیعیو نه بحث کوي، او دویمه اصطلاح **وکثیر من الناس** دا درې واړه مسمی کوي په علم البیان سره، ځکه بیان نطق فصیح معرب عما في الضمیر ته وائي دا درې واړه هم دا بیانوي، دریمه اصطلاح **وبعضهم یسمی الاول علم المعاني** د وجې د مامر نه، **والاخیرین** یعني چې البیان والبدیع دی علم البیان، ځکه نطق فصیح معرب عما في الضمیر د وجې نه، څلورمه اصطلاح والثلاثة علم البدیع مسمی کوي دا درې واړه په علم البدیع سره، ځکه چې په دي دریو واړو فنونو کې بحث کیږي د علومو غریبه ؤ بدیعیه ؤ نه چې د هغې نه ښکته په علم نحو کې ترې بحث نه دی شوی **ولا یخفی وجوه المناسبة** او دا ما تاسو ته په خوله باندې وویل.

الفن الاول علم المعاني

ماتن وويل الفن الاول علم المعاني، فن اول علم المعاني دی، په دې باندې يو اشکال راغی چې يا هلکه داخو اخبار راغی د مجهول نه په معلوم سره، او قانون دا دی چې اخبار د معلوم نه په مجهول سره کيږي، لکه مبتداء معلومه وي او خبر مجهول وي په خبر سره د مبتداء نه اخبار کيږي اخبار د مجهول نه په معلوم سره نه شي کيدای، او دلته په کلام د متن کې اخبار د مجهول نه راغی په معلوم سره، ځکه چې علم المعاني مونږ ته مخکې د مقدمې نه معلوم شوی وو، په **وما يحترزبه عن الاول علم المعاني** کې او نن اول مونږ ته د مقدمې نه نوو معلوم شوی، نو فن اول مجهول شو او علم المعاني معلوم شو، نو دا اخبار راغی د مجهول نه په معلوم سره، نو دا خلاف دی د واقع، قانون او د اصل نه، نو تاسو به د دې نه جواب وکړئ، چې په دې علم المعاني کې دوه حيثيتونه دي، يو حيثيت د احتراز والی دی، او يو حيثيت د اول والي، نو په حيثيت د احتراز والي سره دی مونږ ته معلوم وو په **وما يحترزبه عن الاول علم المعاني** سره، ليکن په حيثيت د اول والي سره چې مرتبه کې دی اول دی که دويم دی دا مونږ ته نه وو معلوم، نو دا اخبار مونږ ورکوو په علم المعاني سره د فن اول نه، نو دا په حيثيت د اول والي سره ورکوو، نه په حيثيت د احترازوالي سره، نو کوم حيثيت سره چې مونږ ته معلوم وو، نو هغه حيثيت سره مونږه اخبار نه دی ورکړی او کوم حيثيت سره چې مونږ اخبار ورکړی دی، نو په هغه حيثيت سره دی مونږ ته مخکې معلوم نه وو.

دويم دا اعتراض راغی، چې يا هلکه دا خو حَملِ اولی جوړ شو، او حمل اولی خو مفيد نه وي، چې فن اول نه دی مګر علم المعاني دی او علم المعاني نه دی مګر فن اول دی، نو دا خو حمل اولی شو او حمل اولی خو مفيد نه وي، نو تاسو جواب وکړئ چې دلته کې تقدير دی، يا تقدير داسې وکړئ چې مسائل دفَنِ اول مدلولات د الفاظو د علم المعاني دی، يا بالعکس کوي، الفاظ د فن اول دا دال دی په مسائلو د علم المعاني باندې، نو تاويل سره صحيح شو او حمل اولی نه شو.

اوس شارح **قدمه على البيان** سره اعتراض ته اشاره کوي، او **لكونه** سره جواب ته، اعتراض داسې کوي چې ماتن مقدم کړو علم المعاني لره په علم البيان باندې او وجه د تقديم نه وه نو ترجيح بلامرجح لازم شو، اوس شارح جواب وکړو لکونه سره، چې د وجې د کيدو دَ علم المعاني نه د علم البيان نه **بمنزلة المفرد من المركب** دی ځکه چې دا علم المعاني د علم البيان نه په منزله د مفرد من المرکب دی، تتمه د جواب د بهر نه ده په کې متن کې نشته دی هغه دا چې مفرد مقدم وي په مرکب باندې طبعاً، نو بمنزلة المفرد هم مقدم وي په بمنزلة المرکب باندې طبعاً نو ماتن مقدم کړو وضعاً لپاره د موافقت د وضعي

د طبعي سره، څکه چې دا طبعَ کالمدلول وي او دا وضعه کالدال وي او دال او مدلول کې مطابقت شرط دی، نو جواب وشو، اوس په دې مقام کې دوه دعوی وي، یو دعوی ایجابي وه هغه مذکور ده، چې دا علم المعاني د علم البیان نه بمنزلة المفرد والمرکب دی، او دویمه دعوی سلبي ده، چې علم المعاني عین مفرد او علم البیان عین مرکب نه دی. نو لان سره شارح دلیل وائي د دې دعوی ایجابي لپاره صراحةً او دا دلیل دی دعوی سلبي لپاره ضمناً، لکه تاسو ته به وایم، اوس د دعوی ایجابي لپاره دلیل داسې جوړیږي وائي **ان رعایة المطابقة** دی، څکه چې لحاظ د مطابقت رعایت په معنی د لحاظ سره **لمقتضی الحال وهو مرجع علم المعاني** دا ثمره او فائده د علم المعاني ده، مرجع دلته کې په معنی د ثمره او فائده، څکه دا فائده او ثمره د علم المعاني ده، نو دغه رعایة او مطابقت چې ثمره د علم المعاني ده دا معتبر دی په علم البیان کې، خو دا د قبیلي د اعتبار دَ شرط نه په مشروط کې نه د قبیلي د اعتبار د جزء نه په کل کې، نو دا رعایت د مطابقت شرط شو د علم البیان لپاره، او علم البیان عبارة شو **مع زیادة شئ اخر** هغه ایراد د معنی واحدې دی په طرق مختلفةٍ یعني، في تراکیب مختلفة، لکه سخا د زید، زید جواد، زید سخي، زید جبان الکلب، زید هزال الفصیل، زید کثیر الرماد شو، دا تراکیب مختلفه دی، نو اوس کوره علم البیان خو عبارة شو د ایراد المعنی الواحد في طرق مختلفة ای تراکیب مختلفة نه، دا رعایت د مطابقت معتبر شو شرطاً، نو دا بمنزلة المرکب او علم المعاني صرف عبارة شو د رعایت او د مطابقت د مقتضی الحال سره نو بمنزلة المفرد شو، بمنزلة المفرد معنی دا چې هغه مشروط بشرط نه وي، او علم البیان مشروط بشرط دی، نو دا بمنزلة المرکب شو، نو دعوی ایجابي ثابته شوه، او سلبي ضمناً ثابتیږي چې عین مفرد او مرکب نه دی، ویل څکه چې عین مفرد مرکب به هله کیږي چې علم البیان عبارة شي د دې مجموعه نه، مجموعه او مطابقة او ایراد نه، او علم المعاني عبارة شي صرف د رعایت د مطابقت نه، او دا خو نشته نو دا دعوی سلبي ضمناً ثابته شوه.

وهو علم ماتن وویل چې دا علم المعاني علم دی، شارح ورسره ولګول **ای ملکة** دي کې یې یو اشاره وکړه دیته، چې علم نه مراد علم مدونه دی او علم په معنی د مبدا الانکشاف سره نه دی، او د علم مدونه اطلاق په ملکه باندې هم کیږي، او په نفس مسائل کلیه ؤ باندې هم کیږي او تصدیق حاصله ملکه حاصله د تصدیق نه په نفس مسائل کلیه ؤ دیته هم ویلی شي، نو علم په معنی د علم مدونه سره دی، او په معنی د مبدء الانکشاف سره نه دی، دویم ملکة کې یې اشاره وکړه چې دلته کې احتمال د ملکة راجح دی، د احتمال د اصول او د قواعدو نه، څکه چې تقدیم د اسبابو د ترجیح نه دی، اوس دا رجحان د عرف او استعمال د وجې نه دی، څکه چې عرف او استعمال کې زیاده تر اطلاق د علم مدون په ملکه باندې کوي، لکه مونږه او تاسو وایو چې هغه فلانکی نحوي یا فلانکی منطقي دی، یا فلانکی

صرفي دی، د دې دا معنی چې په نحوه کې ده ته داسې ملکه حاصله شوي ده چې هره یوه جزئي مسئله د عمومي ورته وړاندې کړي، نو حل کولی شي، فلانکی صرفي دی، د دې دا معنی چې په صرف کې ورته داسې ملکه حاصله ده چې هره یوه مسئله جزئیه ورته وړاندې کوي نو حل کولی یې شي، نو کثرة د استعمال عرف شو، نو شارح وویل چې **ملکة یقتدر بها** هسې ملکةً یقتدر بها، دې سره تعریف د ملکې ته اشاره کوي **علی ادراکات جزئیة** په ادراکاتو د مسائلو جزئیو باندې، **ویجوز** سره دویم احتمال ته اشاره کوي، ویل جائز ده چې **ان یراد به ای العلم نفس الاوصول** اعتراض یا هلکه د اصولو اطلاق خو په ادلو باندې هم کیږي، د اصولو اطلاق په اولی او راجح باندې هم کیږي او د اصل اطلاق په استصحاب الحال باندې هم کیږي، اصل مبنی علیه ته هم وائي، دا ټولي معنی خو دلته نه صحیح کیږي، دې جواب وکړو **والقواعد** چې یا هلکه اصول دلته کې په معنی دقواعدو سره دي داسې قواعد **المعلومة** د غسې وایو چې کل کلام مع خالي الذهن یجب ترك تاکیده کل کلام **مع الشاك یجب توکیده بمؤکد کل کلام مع المنکر یجب توکیده بحسب الانکار** دا قواعد معلومه دي، اوس هغه دریم احتمال شارح ذکر نه کړو، چې علم نه مراد تصدیق بالمسائل شي، ځکه چې هغه دلته کې نه صحیح کیږي، د دوو وجو نه ۱ یو د دې وجې نه چې که علم تصدیق واغستی شي نو **یعرف** هم په معنی د یُصدق سره دی، نو سببیت د شئ خپل نفس ته راځي، چې تصدیق کولی شي په سبب د دې تصدیق سره، دویم د دې وجې نه چې هغه محتاج دی حذف ته، ځکه چې تا وویل چې **وهوای علم المعاني** علم تصدیق، تصدیق خو مصدق غواړي، نو **علی المسائل** به راوباسي، هسې نه صحیح کیږي.

ولاستعمالهم سره شارح دفع د اعتراض کوي د ماتن نه، چې یا هلکه تا یُعرف وویل نو یعلَمُ دې ولې نه ویل، یعرف به احوال اللفظ العربي چې تا وویل یُعلم به احوال ....، دې ولې نه ویل؟ نو ده جواب وکړو چې **ولاستعمالهم** ای العلماء **المعرفة في الجزئیات** او په بسائطو کې او علم په کلیاتو او مرکباتو کې، نو قال ماتن وویل **یعرف به احوال اللفظ العربي** احوال د لفظ عربي جزئیات وو، نو د دې سره مناسب یُعرف وو، یُعلم نه وو، **ای هو علم یستنبط** دې سره غرض د شارح دفع د اعتراض کوي، اعتراض دا وارد شو، چې مراد د احوالو د لفظ عربي نه، احوالِ جزئیه دلفظ عربي جزئي لپاره به وي، حالانکه راتلونکی متن کې احوال جزئیه د لفظ عربي جزئي لپاره دی؟ ندی دې دا نه ذکر کوي چې یا هلکه د زید احوال به څه وي، حذف یا ذکر یا تقدیم یا تاخیر، دا خو یې نه دی ذکر کړی خو احوال د مسند الیه یې ذکر کړي، اخوا بیا زید وي که عمر وي که بکر وي، احوال د مسند الیه ذکر کوي، او احوال جزئیه د لفظ عربي یې نه دی ذکر کړی، نو تا چې وویل چې یعرف به احوال اللفظ العربي، نو دا خو دروغ شو، نو شارح جواب وکړو چې دا یُعرف په معنی د یستنبط سره دی او به کې دا باء په معنی د مِن سره ده، معنی **ای هو علم** دا یې هغه مخکښینی معاد کړو، ځکه چې موصوف او صفت کې فصل راغلی، نو ده بیا ځکه معاد

کړو، وائي ای هو، ای علم المعاني، علم، ملکه ده یا اصول او قواعد دي، **يستنبط منه ادراكات جزئية**، استنباط به کوي، چې زید قائم کې ذکر د مبتداء اول شوی دی، نو دا ولی شوی دی، معرفه ولې شوي دی، الهلال... کې حذف ولې شوی دی، د دې استنباط به کوي، ادراکات جزئیه. یا هلکه د ادراکات توصیف په جزئیة سره نه صحیح کیږي، ځکه حق مذهب دا دی چې کلیت او جزئیت صفت د مدرَك دی، د ادراك نه دی، جواب وکړو شارح **هي معرفة كل فرد فرد من جزئيات الاحوال المذكورة** چې یا هلکه توصیف د ادراکاتُ په جزئیه سره په اعتبار د مدرك سره دی، نو دا صفت بحاله نه دی، بلکه صفت بحال متعلقه دی، **بمعنی** سره دفع د اعتراض کوي، چې یا هلکه ته احوالو نه یا به کل احوال د لفظ عربي اراده کوي، یا به بعضې احوال د لفظ عربي اراده کوي، که احوال د لفظ عربي نه کل احوال اراده کوي، نو د کل احوال د لفظ عربي معرفة نفس ناطقه نه شي کولی، ځکه چې کل احوال د لفظ عربي غیر متناهي دی، او زمانه د ادراك د نفس ناطقه متناهي ده، او په زمانه متناهي کې ادراك د غیر متناهیو خو نه شي کیدای، یو شبه دا شوه، دویمه دا چې کل احوال دلفظ عربي باندې علم، دا خو بیا منحصر په ذاتِ واجبه پورې شو، ځکه دا د قدرت بشري نه بهر دی، نو بیا خو د علم المعاني عالم صرف الله کرتې شو، نو ر بشر نه شو، او که ته د احوال د لفظ عربي نه بعضې اخلي نو بیا به خالي نه وي، یابه بعضې معین اراده کوي یا به بعضې غیر معین اراده کوي، که ته بعضې معین اراده کوي، نو بیا چې د یو سړي په یو مسئله د علم المعاني باندې علم راغی، نو بیا هغه ته عالم د علم المعاني ووایه، حالانکه هغه ته عالم نه شي ویلی، ځو پورې چې یې دا ملکه نه وي راغلی او که بعضې غیرمعین اراده کوي، نو بیا خو تعریف بالمجهول راغی، او تعریف بالمجهول جائز نه دی، نو شارح جواب وکړو په اختیار د شق اول سره چې زه کل حوال د لفظ عربي اراده کوم، خو ته خطاء شوی یې تا د کل نه بالفعل اخیستی دی، او زما د کل نه مراد بالقوة دی، ویل **بمعنى ان اى فرد يوجد منها اى الاحوال امكننا ان نعرفه بذلك العلم**، دا ملکه شوه.

وقوله: التي بها اوس تعریف د علم المعاني کې دغه قید راغلی، التي موصول شو، **بها يطابق اللفظ مقتضى الحال**، دا صله شوه، موصول سره د صلې نه، دا صفت شو، د دې احوالو لپاره، او قانون دا دی چې صفت قید وي د موصوف لپاره، نو دا په تعریف کې یو قید راغلی، نو قیودات په تعریف کې څنې احترازي وي او څنې اتفاقي وي، وبعبارة اخری قیودات څنې جامعیت لپاره وي، او څنې مانعیت لپاره وي، نو پته رانغله چې دا قید احترازي شو که اتفاقي؟ نو شارح ویل: احتراز تعین یې وکړوچه دا قید د جامعیت لپاره شو، که د مانعیت لپاره؟ شارح ویل د مانعیت لپاره دی، جامعیت لپاره نه دی، قوله وائي قول د ماتن التي... **احتراز عن الاحوال التي ليست بهذه الصفة**، چې هغوی کې دا صفت نه وي، صفت د مطابقت د لفظ د مقتضی الحال په کې نه وي، **مثل الاعلال** شو په قام کې، ادغام شو په مَدّ کې رفع

شوه په فاعل کې نصب شو په مفعول کې **وما اشبه ذلك** منصرف او غیر منصرف شو، دارنګه جر شو، او دویم ما اشبه ذلك څه دی؟ **مما لا بد منه في تادية اصل المعنى**، هلته کې لحاظ او مطابقت د لفظ د مقتضی الحال سره نه دی، اعلال سره اصلِ معنی د هغه کلمې جوړیږي، دارنګه په ادغام او رفع او نصب سره، دا په کې نشته چې حال د مخاطب اعلال غوښتلو، یا ادغام یا رفع یا نصب، **وكذا** وی دارنګه په دې قید سره د **المحسنات البديعية** نه هم احتراز راغلی، هغه داخلیدل چې یا هلکه تعریف د علم معاني مانع نه شو د دخول د غیر نه داخل شو په دي کې محسنات بدیعیة چې تجنیس دی طباق دی مراعاة النظیر دی، هغه هم احوال د لفظ عربي دی او د هغې نه په علم معاني کې بحث نه کیږي، ده جواب وکړو وکذا **المحسنات البديعية** چې محسنات بدیعیه خارج شو، **من التجنيس والترصيع ونحوهما**، هغه په دې قید سره خارج شوی، ځکه چې علم المعاني کې هغه احوال د لفظ عربي دی چې په هغې سره لفظ مطابق کیږي د مقتضی الحال سره او محسنات بدیعیه پس د رعایت د مطابقت نه به وي، نو هغه هم خارج شو **مما يكون بعد رعاية المطابقة** هغوی کې رعایت د مطابقت نشته، ګلونه غورځول دي په کلام باندې **والمراد** سره غرض د شارح دفع د اعتراض کوي، خو اعتراضونه دوه دي، یو اعتراض دا شو چې یا هلکه تا په تعریف د علم المعاني کې یُعرف ویلې دي، یُعرف د معرفة نه دی، معرفة علم ته وائي نو علم خو تصور ته هم ورځي، او تصدیق ته هم ورځي، نو یُعرف په معنی د یُعلم سره شو، یُعلم، یتصور ته هم ورځي، او یُصدق ته هم ورځي، نو معنی بیا داشوه چې تصور کولی شي په دغه علم سره د احوالو د لفظ عربي، نو احوال تعریف، تنکیر دی، تقدیم تاخیر دی، نو د دې دا تصور په کې داخل شو، د تعریف تصور دا دی چې ما وضع لشئ بعینه، د تنکیر تصور ما وضع لشئ لابعینه، د تقدیم تصور مزال عن موضعه الاصلي، او د تاخیر تصور مزال عن موضعه الاصلي، او دیته خو علم المعاني نه شي ویلی، او دا په کې داخل شو.

دویمه شبه دا راغله، چې تعریف د علم المعاني مانع نه شو د دخول د غیر نه داخل شو په دې کې علم البیان، ځکه چې علم البیان کې بحث کیږي د حقیقة او د مجاز نه او د تشبیه نه او دغه حقیقة او مجاز او تشبیه احوال د لفظ عربي دی، نوهغه هم په کې داخل شو، نو شارح اول شبهې نه جواب کوي حاصل د جواب دا چې دلته کې یُعرف په معنی د یُصدق سره دی، یُعرف د مطلق معرفت په معنی سره نه دی، **والمراد انه** چې دا علم المعاني **به يعرف** ای به یصدق نو د شارح دا جواب هله صحیح کیږي چې یُعرف په معنی د یُصدق سره واخستی شي، اوس تصدیق خو مصدق او قضیه غواړي، او احوال خو مفرد دی ویل **من حيث انها** وائي په دي حیثیت سره چې دغه احوال **يطابق بها اللفظ لمقتضى الحال**، په دي باندې تصدیق راوړل چې یا هلکه دا لفظ مطابق دی د مقتضی الحال سره، نو تصدیق شو، او دا ولې مراد شو نو والمراد دپاره دلیل وائي چې **لظهور ان ليس علم المعاني عبارة عن تصور معاني التعريف والتنكير والتقديم**

والتاخير والاثبات والحذف وغير ذلك نه ندی، **ولهذا** سره هغه دویم اعتراض دفعه کوي، چې یا هلکه دې قید سره چې من حیث انها یې وویل په دغه حیثیت سره خارج شو د تعریف د علم المعاني نه علم البیان هم، ځکه **اذ لیس البحث فیه عن احوال اللفظ العربي من هذه الحیثیة** دا حیثیت د مطابقة د مقتضی الحال سره نه دی، بلکه هلته کې بحث د احوال د لفظ عربي نه دی په ایراد د معنی واحدې په تراکیب مختلفه ؤ سره. **والمراد** سره یو شارح تعیین مصداقي د احوالو کوي، چې احوال خو ډیرو معانیو کې مشترک دی، حال نحوي خانله دی، حال منطقي خانله دی، حال حکمي خانله دی، حال د متکلمینو خانله دی، نو تعیین کوي چې دلته کې څه مراد دی، دویم غرض د شارح دفع د اعتراض کوي، چې یا هلکه سکته مقدمه کې تاویلي دی چې حال خو په معنی د امرِ داعي سره دی، امر باعثه په جانب د مخاطب کې چې خلو د ذهن، یا شك یا انکار دی، نو د هغې خو مخاطب ته اضافت کیږي، او دلته کې تا اضافت لفظ ته کړی دی نو دا خو صحیح نه دی، نو شارح جواب وکړو چې دلته کې احوالُ نه امور عارضه مراد دي، هغه امر داعي نه دی مراد امور عارضه د لفظ د هغې اضافت لفظ ته کیږي نو ما لفظ ته وکړو، دریم غرض د شارح توطیه تمهید ږدي، د دې راتلونکي اعتراض د دفع لپاره نو وائي، **والمراد باحوال اللفظ الامور العارضة له من التقدیم والتاخیر والاثبات والحذف وغیر ذلك** اوس شبه راغله، چې یا هلکه دغه تقدیم، تاخیر، اثبات او حذف او غیر ذلك دا سبب شو د دې مطابقت لپاره او مطابق لفظ شو او مطابق مقتضی الحال شو، نو مقتضی الحال او احوال یو شی شو، مقتضی الحال هم دغه تقدیم او تاخیر اثبات، حذف وغیر ذلك چې تعریف او تنکیر دی او احوال هم دغه دي، نو اوس ترجمه وکړه چې **ان زیدا القائم** نو دا زیداً لقائم یو لفظ شو دیته عارض دی حال چې تاکید دی په سبب د دغه حال سره چې تاکید دی، دغه لفظ چې ان زیداً لقائم دی مطابق دی د مقتضی الحال سره چې دغه تاکید دی، نو سببیت د شئ خپل نفس ته راغی یعني مطابق او سبب د مطابقت یو شی شو، نو چې یو شو دیته وائي سببیت د شئ خپل نفس ته چې دغه لفظ په سبب د دې تاکید سره مطابق شو د دې تاکید سره، نو شارح راغی ومقتضی الحال سره جواب کوي چې ته پوهه شوی نه یې کنه، د مطابقت معنی اشتمال شو تاسو ته مخکې تیر شوي دي، نو دغه تاکید مشتمَل شو او دا لفظ مشتمِل شو، دغه اعتراض راغی، نو شارح راغی جواب یې وکړو چې **ومقتضی الحال في التحقیق** سره، چې مقتضی الحال دغه تاکید نه دی، مقتضی الحال کلام مؤکد دی، نو اوس خبره جدا شوه، لفظ دغه کلام جزئي شو چې ان زیداً لقائم، دا لفظ شو او مطابق شو، مقتضی الحال کلام مؤکد شو او سبب د دې مطابقت تاکید شو، د مطابقت معنی صدق شو، نو معنی دا شوه چې دا ان زیداً لقائم باندې صادقیږي کلام مؤکد، لیکن دا کلام مؤکد چې صادقیږي نو سبب دغه د تاکید د وجې نه په ان او په لام سره، سبب ورله دا تاکید شو، نو ځکه وائي چې **ومقتضی الحال في التحقیق** په نفس الامر کې یا في په معنی د باء سره کوئ، **بالتحقیق** په

دليل سره، **هو الكلام الكلي المتكيف بكيفية مخصوصة**، چې کلام مؤکد دی، کلام حذف فيه المسند اليه، کلام ذکر فيه المسند اليه کلام عرف فيه المسند اليه، کلام نکر فيه المسند اليه، دا کيفيات مخصوصه دي، ويل دا د ځان نه نه وايم، تائيد لپاره ذکر کوي **على ما أشير اليه في المفتاح وصرح به في شرحه، لانفس الكيفيات** مقتضى الحال نفس کيفيات نه دی، چې تقديم تاخير او تعريف او تنکير **على ما هو ظاهر عبارة المفتاح وغيره**، ولې که دا نفس کيفيات شي نو **لما صح القول بانها** دغه کيفيات احوال دي، **بها** په سبب د دغه کيفياتو سره مطابق کيږي لفظ د مقتضى الحال سره، **لانها**، ځکه دغه احوال عين مقتضى الحال شو، نو بيا سببيت الشئ د لنفسه راځي **وقد حققنا ذلك في الشرح**، په زيادة او فصاحت سره، دلته کې ما تاسو ته په خولې باندې وويل، مطابقت په معنى د صدق شو دا ما تاسو ته ويلې دي نو اوس ګوره دې کلام جزئي ته چې مقتضى الحال وائي نو حقيقة دا مقتضى الحال نه دی، حقيقةً کلام مؤکد دی، شبه راغله چې يا هلکه احوال نه مراد تا اُمور عارضه لفظ ته وويل، او من جمله د ابوابو د علم المعاني نه احوال د اسناد خبري دی، او اسناد خبري خو لفظ نه دی؟ نو تاسو ووايئ چې اسناد اګر چې لفظ په اعتبار د ذات سره نه دی خو په اعتبار دطرفينو سره لفظ دی، بالواسطه دی، **واحوال الاسناد ايضاً من احوال اللفظ باعتبار التاكيد وتركه مثلاً** يا مجاز عقلي، حقيقت عقلي، **من الاعتبارات الراجعة الى نفس الجملة**، او نفس جمله لفظ دی، معترض راغی شبه يې وکړه چې يا هلکه توصيف د لفظ په عربي سره نه صحيح کيږي، ځکه څنګه چې په علم معاني کې پيژندی شي احوال د لفظ عربي نو دغسې د لفظ عجمي هم پيژندی کيږي، نو ده جواب وکړو چې **وتخصيص اللفظ بالعربي مجرد اصطلاح** مجرد د احتراز د غير عربي نه ندی، هسې تخصيص د اصطلاح د وجې نه شوی دی، او دا تخصيص د احتراز لپاره نه دی چې په دې سره احوال د لفظ غير عربي نه پيژندلی کيږي، معترض شبه وکړه چې په اصطلاح کې نکته په کار وي نو نکته څه ده؟ ويل: **لان الصناعة انما وضعت لذلك** ځکه چې دا فن د علم المعاني دا وضع کړی شوی دی د لفظ عربي لپاره، ددې تدوين، تصنيف په عربي کې شوی وو د دې وجې نه يې لفظ عربي خاص کړو.

ماتن وويل: **وينحصر** شارح ورسره لګوي **المقصود من علم المعاني** دې کې يې يو اشاره وکړه تعيين د مرجع ته، دويم اشاره کوي دفع د اعتراض ته، اعتراض دا وارد شو، چې يا هلکه ينحصر کې ضمير علم المعاني ته راجع شو، نو معنى دا شوه چې علم المعاني منحصر شو په اته بابونو کې، نه منم چې علم المعاني منحصر دی په اتو بابونو کې، بلکه يوولس بابونه دي، ځکه اته دغه بابونه شو، او يو تعريف د علم المعاني چې مخکې لاړه، دويم دليل د حصر په ابواب ثمانيه ؤ کې چې را روان دی، او دريم تنبيه چې وروستو را روان دی، نو دا دري چې د دې اتو سره تل کړي نو يوولس تري جوړ شو، نو شارح راغلی جواب يې وکړو چې علم المعاني دوه قسمه دی، يو مطلق علم المعاني دی يو مقصود د علم

المعاني دی، نو که ما ضمیر مطلق علم المعاني ته راجع کړی وی، نو ستا اعتراض به وارديدلو، چې مطلق علم المعاني خو منحصر په اتو بابونو کې نه دی بلکه يوولس بابه دي، خو ليکن زه ضمير راجع کوم مقصود د علم المعاني ته، او مقصود د علم المعاني په دغه اتو کې منحصر دی، پاتې شو تعريف د علم المعاني، **دليل د حصر، تنبيه** دا مقصود نه دی دا د قبيلې د وسائلو او د ذرائعو نه دی، او وسائل او ذرائع مقصود نه وي، دا محض وسيله وي مقصود لپاره، نو ځکه يې وويل چې **المقصود من علم المعاني**، في ثمانية ابواب سائل سوال وکړو چې يا هلکه انحصار په دوه قسمه دی، يو انحصار د کل دی په اجزاء کې لکه انحصار د سکنجبين شو په ماء، عسل او خل کې. يو انحصار د کلي دی په جزئياتو کې، لکه انحصار د حيوان په ناطق او غيرناطق کې نودلته کې کوم انحصار دی، شارح جواب وکړو **انحصار الكل في الاجزاء لا الكلي في الجزئيات**، نو دوه دعوی ترې جوړې شوي، يو دعوی ايجابي چې انحصار کل في الاجزاء دی، دويم دعوی سلبي انحصار د کلي في الجزئيات نه دی **والا** سره دا دليل د دعوی سلبي دی، والاکه چيرته انحصار د کلي په جزئياتو کې شي، دا مقدم د قياس **لصدق علم المعاني على كل باب** دا تالي د قياس مقدمه استثنائيه ټل کوي **لكن التالي باطل فالمقدم مثله** شو، هر چې دی دليل د ملازمې ويل ځکه چې علم المعاني کلي شو او دا اته ابواب جزئيات شو، او کلي لکه څنګه چې صادقيږي په مجموعه جزئياتو باندې دارنګې په يو جزئي باندې هم صادقيږي، او هر چې دی دليل د بطلان التالي، ځکه چې دا ويلی شي چې احوال الاسناد الخبري علم المعاني دی، ايجاب کلي سره ويلی شي؟ حالانکه يواځې احوال د اسناد خبري خو علم المعاني نه دی، احوال د مسند اليه هم دی او احوال د مسند هم دی، حمل صحيح نه شو، نو هرکله چې دعوی سلبي ثابته کړه شارح نو دعوی ايجابي خود بخود ثابتيږي، ځکه د انحصار لپاره بل قسم وو نه، دغه دوه قسمه وو، نو انحصار د کلي في الجزئيات چې باطل شو نو متعين شو انحصار د کل په اجزاءُ کې، ځکه بل شق خو نشته دی،

۱ : احوال الاسناد الخبري. ۲ : واحوال المسند اليه. ۳ : واحوال المسند. ٤ : واحوال متعلقات الفعل. ٥ : والقصر. ٦ : والانشاء. ۷ : والفصل والوصل. ۸ : والايجاز والاطناب والمساوات.

وانما انحصر فيها دې کې شارح اشاره وکړه چې يا هلکه چې لان الکلام جار مجرور دي متعلق غواړي متعلق د دې کوم دی، دارنګه دا دليل دی مدعی غواړي مدعی خو ذکر نه ده، شارح جواب وکړو چې دواړه محذوف دي، ويل منحصر کړی شو علم المعاني په دې اتو بابونو کې ځکه چې **لان الكلام اما خبر او انشاء، لانه** نه غرض د شارح تدقيق کوي دليل لپاره دليل وائي، دويم غرض د شارح دفع د اعتراض کوي يا هلکه نه منم چې کلام به يا خبر وي يا به انشاء وي، بلکه کلام يو شئ اخر دي وي چې نه هغه ته خبر ويلی شي، او نه انشاء، نوحصر صحيح نه شو، نو شارح راغلی دليل يې وويل نو جواب يې وکړو، ويل لاته دغه کلام **لا محالة خامخا، يشتمل على نسبة تامة**، کلام بغير دنسبت تامه نه نه راځي د قبيلې د

اشتمال د کل نه په جزء باندې، څکه کلام کل دی او مسند الیه او مسند او اسناد د دې اجزاء دي، یا د قبیلي د اشتمال د دال نه په مدلول باندې، دواړه جائز دي بین الطرفین دا نسبت تام به د طرفینو ترمینځه وي، او داسې نسبت تامه چې قائمة بنفس المتکلم به وي، معترض دوه شبهې وکړي: ۱ یو شبه راغله چې یا هلکه **تامة بین الطرفین** نه دا معلوم شو چې دا نسبت به قائم طرفینو پورې وي، او قائمة بنفس المتکلم نه دا معلومه شوه چې دغه نسبت به د نفس د متکلم پورې قائم وي، بناء په دې باندې قیام د عرض واحده راغلی په محلینو پورې، دویمه شبه دا راغله چې **علی نسبة تامة بین الطرفین** نو د دې نه معلومیږي چې دغه نسبت معلوم دی، څکه نسبت بین الطرفین معلوم دی څکه چې طرفین معلوم دي او قائمة بنفس المتکلم نه معلومیږي چې دغه نسبت به علم وي، څکه مرتبه د قیام په نفس د متکلم پورې علم دی، نو لازم شو کون د شئ واحد هم علم او هم معلوم په جهت واحده سره، او دا جائز نه دی، نو تاسو به د دې نه جواب وکړئ چې نسبتونه درې دي، یو نسبت کلامي، دویم نسبت ذهني، دریم نسبت خارجي، نسبت کلامي دیته وائي چې شارح په خپله ذکر کړی دی چې هو دغه نسبت تامه بین الطرفین، **تعلق احد الشیئین بالاخر**، ترڅ د یو شي چه مسند الیه دی په بل پورې چې مسند دی، نودا نسبت کلامیه شو، شبه یا هلکه ترڅ خو په غُلَامُ زَیْدٍ کې هم شته دی، رَجُلٌ عَالِمٌ کې هم شته دی، حالانکه هغې ته نسبت تامه نه شي ویلی، جواب یې وکړو **بحیث یصح السکوت علیه** چې په داسې شان سره چې صحیح وي سُکوت په دې باندې، وهو کې ضمیر راجع شو نسبت کلامي ته او تذکیر د ضمیر لپاره د رعایت د خبردی، معترض راغلی چې متبادر دَ تعلق نه ایجاباً به وي، نو بیا زید لیس بقائم خارج شو، ویل **سواء کان ایجاباً** لکه زید قائم کې دغه تعلق ایجاباً دی، **اوسلباً**، لکه په زید لیس بقائم کې **اوغیرهما** یا غیر د دې ایجاب او سلب نه، څکه ایجاب اوسلب خو صرف په کلام خبري کې راځي ،**کما في الانشائیات** دا نسبت کلامي شو، دریم نسبت ذهني، دا دیته وائي چې دا عبارة دی د صورت د نسبت تام خبري نه په مرتبه د قیام د نفس ناطقه کې، چې صورت د زید قائم، زید لیس بقائم، قائم شي په نفس د متکلم پورې دیته نسبت ذهني وائي، دریم قسم نسبت خارجي دا عبارة دی د قطع نظر د تعلق او د قیام بالذهن نه، نو اوس د **نسبة تامة بین الطرفین** نه مراد نسبت کلامي شو، چې هغه طرفینو کې وي هغه قائم طرفینو پورې وي او **قائمة بنفس المتکلم** نه مراد نسبت ذهني دی، چې هغه متعلق د نفس د متکلم پورې وي او علم وي.

وتفسیرها بایقاع المحکوم به سره غرض د شارح د یو مفسر تفسیر رانقل کوي، اولاً او بیا د ده په تفسیر رد کوي ثانیاً خطاء سره او دلیل د رد وائي، ثالثاً لانه لایشتمل سره، نو اول ته اشاره کوي، چې **وتفسیرها** ای النسبة ، **بایقاع المحکوم به علی المحکوم علیه**، تصدیق کول د محکوم به په محکوم علیه باندې یا سلب د محکوم به **عنه** د دې محکوم علیه نه، **خطاء** دا خطاء دی، یا هلکه ولې خطاء دی منطقیان خو کوي،

څکه چې هغوی تصدیق ته په نسبت تام خبري باندې ایقاع وائي، تصدیق ته په نسبت تام خبري ایجابي باندې ایقاع وائي او تصدیق ته په نسبت تام خبري باندې انتزاع وائي، هغوی خو یې کوي نو، جواب یې وکړو **في هذا المقام** یا هلکه په دي مقام کې خطاء دی هر ځای کې نه، څکه دا مقام د خبر او د انشاء دواړو دي، او دا تفسیر خو خاص دی په خبر پورې، دریمه خبره کوي، دلیل د خطایئ وائي **لانه** دا تفسیر **لا یشمل النسبة التي في الكلام الانشائي**، څکه هلته کې ایقاع نشته، نو **فلا یصح التقسیم** نو تقسیم د کلام خبر ته الی نفسه شو، او انشاء ته الی غیره شو، او هر تقسیم چې دارنګه وي هغه صحیح نه وي نو دا هم صحیح نه دی.

اوس ده وویل شارح **فالكلام** فالکلام یې بیا را معاد کړو دې کې یې اشاره وکړه چې د کلام نه مطلق کلام مراد دی، خبري وی که انشائي وی نو مقسم مطلق کلام شو، نو معنی دا چې فالکلام لیس مطلق پس مطلق کلام، **ان كان لنسبته خارج** داسې خارج چې **تطابقه**، یا **لا تطابقه**، چې دغه نسبت کلامي د خارج سره مطابق به وي یا به مطابق نه وي، که مطابق وو نو صادق اوکه لاتطابقه وو نو هغه کاذب، نو معترض راغلی شبه یې وکړه چې یا هلکه بناء په دې باندې اخبارات استقبالیه موجبه ټول کاذب شو، سیقوم زید سوف یقوم زید، دا ټول کاذب شو، څکه دلته کې نسبت کلامي مطابق د خارج سره نه دی، څکه چې خارج لاشته نه، صبا یا بله ورځ به خارج راځي، حالانکه امر لیس کذلك دی، خلک وائي څنې صادق دی څنې کاذب دي، او اخبارات سلبیه استقبالیه په خارج کې ټول صادق شو، لن یقوم زید، دا ټول صادق شو، څکه چې صادق مونږه دیته وایو چې نسبت کلامي مطابق د خارج سره وي، نو دلته کې یې نفي د قیام په مستقبل کې وکړه، نو دا مطابق د خارج سره دی، څکه خارج خو شته نه، نو مطابقت به څنګه راشي، خارج خو به سبا له راځي، نو نسبت کلامي سلبي مطابق شو د خارج سره، نو دی راغلی جواب یې وکړو چې د خارج نه مراد متحقق نه دی، چې موجود وي، خارج نه مراد **خارج في احد الازمنة الثلاثة** چې په ازمنه ثلاثه ؤ کښې خارج وي، چې دغه خارج یا به په ماضي کې وي یا به په حال کې وي یا به په استقبال کې، نو اوس یو سړي خبر ورکړو سوف یقوم زید، سیقوم زید نو سبا بله ورځې زید ودریدو نو په دې اخبار کې دی صادق شو، او که ونه دریدو نو کاذب شو، لن یقوم یې ووې نو که سبا بله ورځې زید ودریدو نو کاذب شو او که ونه دریدو نوصادق شو، **ای یکون** دي کې شارح اشاره وکړه چې دا خارج اسم د کان دی، او **نسبته** دا خبر د کان دی، په اعتبار د متعلق سره، متعلق دی د یکون پورې دی، نو متعلق د **لنسبته** یې راوویستلو، او دویم شارح ورسره دا وویل چې **بین الطرفین في الخارج نسبة** دي سره یې دفع د اعتراض وکړه، چې یا هلکه خارج هم نسبت دی نو نسبت خان له په خارج کې نه شي موجودیدلی، څکه نسبت امر انتزاعي دی او د انتزاعي وجود بغیر د منشی نه نه شي راتللی، نو ده جواب وکړو چې د خارج نه مراد دا دی چې **یکون بین الطرفین في الخارج نسبة** یعني قطع نظر

د دې نسبت کلامي او ذهني نه په خارج کې به نسبت وي، نو نسبت دا نه دي چې په خارج کې به موجود وي بلکه طرفينو نه به منتزع کيږي په خارج کې نو دا معنی د نسبت ده. **ثبوتية اوسلبية**، تطابق نو تطابقه کې دوه ضميرونه دي يو مستتر ضمير او يو باندی ددی دواړو ابراز کوي چه ضمير مستتر چا ته راجع دی. او بارز چا ته داجع دی. نو وائی چه مطابق وی دغه نسبت، نسبت کلامي به مطابق وي، ه ضمير راجع دی خارج ته د دې خارج سره معترض شبه وکړه چې يا هلکه مطابقت خو په اطرافو کې راځي لکه خط مطابق دی د سطحې سره او طول کې سطحه مطابق ده د جسم تعليمي سره په عرض و طول کې، جسم تعليمي مطابق دی د جسم طبعي سره په عرض او طول او عمق کې، هغه خو دلته په کلام کې نه شي راتللی هغه په اجسامو کې راځي؟ ډه جواب وکړو چې **بان يكونا ثبوتيين اوسلبيين** يا هلکه دلته کې د مطابقت نه مطابقت حکمي مراد نه دی بلکې په ديکې د مطابقت نه مراد ايجاب کې يا سلب کې مطابقت مراد دی. چې دا نسبت کلامي هم ايجابي دی ثبوتي په خارج کې هم ثبوتی وي، يانسبت کلامی سلبي وي نو په خارج کې هم سلبی وي، نو مطابقت دا مراد دی. **اولا تطابقه** يا به مطابق نه وي د **اولا تطابق** کيفيت بيانوي چې **بان تكون النسبة المفهومة من الكلام ثبوتية والتي بينهما** (بين الطرفين) **في الخارج والواقع سلبية اوبالعكس فخبر**، ديته خبر وائي، شبه يا هلکه جزاء خو جمله وي او فخبر خو مفرد دی دا خو جزاء نه شي کيدای؟ نو ده جواب وکړو چې فالكلام خبر چې دا خبر د مبتداء محذوفي دی نو کلام خبر دی، **والا اى وان لم يكن لنسبته خارج كذلك** دې کې يې اشاره وکړه چې الا استثنائيه نه ده، بلکه مخفف ده، د ان لم يكن نه، ځکه د الاستثنائيه نه بعد په استثناء کې فاء نه راځي او دلته کې فاء راغلې ده، ترجمه **كذلك** يعني تطابق، لاتطابق، **فانشاء اى فهو انشاء وتحقيق ذلك** نه غرض د شارح تر اخر پورې فرق بيانوي په دليل سره په ما بين د انشاء او د خبر کې، دليل داسې وائي چې گوره دې کې خبر اوانشاء فرق په اعتبار د قصد او ارادې د حاکي سره دی، متکلم او حاکي په خبر کې لحاظ د مطابقت او لامطابقت کړی دی او په انشاء کې ئی دا نه دی کړی بلکه هغه کښی ئ ايجاد د مالم يوجد کړيدی، د حکايت او د نقل قصد ئ ندی کړی نو فرق په ما بين د خبر او انشآء کښی په اعتبار د قصد سره شو، نو معنی وتحقيق ذلك اثبات د دې فرق په خبر انشاء کې په دليل سره دا دی، ځکه متن کې خو فرق ته يو اشاره وشوه ليکن دليل خو يې نه دی ويلی، نو شارح دليل پرې وائي، يو غرض دا شو، دويم غرض د شارح د وتحقيق ذلك نه دفع د اعتراض ده، چې يا هلکه څنګه چې تطابق لاتطابق په خبر کې راځي داسې په انشاء کې هم راځي، لکه تا وويل چې بعت، دا معنی انشائي ده نو که په خارج کې متکلم ايجاد د بيع وکړو نو په دي قول کې صادق شو او که وئې نه کړو نو کاذب شو، يا اضرب ما تا ته وويل نو تا ايجاد د ضرب وکړو نو صادق شو، او که ودې نه کړو نو کاذب شو د دې وجې نه دوی وائي چې يا زيد الفاضل دا انشاء ده ځکه منادی ده، يا زيد الفرس

انشاء ده کاذب دی، او یا زید الاثسان صادق دی، او یا زید الفاضل محتمل دی، که زید واقع کې فاضل وو، نو صادق دی او که نه وي نو کاذب دی، نو تطابق او لاتطابق په انشاء کې هم راغلی نو فرق صحیح نه شو، نو ده جواب وکړو چې دوی کې فرق په اعتبار د قصد سره دی تهیک ده، تطابق لاتطابق په انشائیاتو کې هم راتللی شي خو هلته کې قصد متکلم او حاکي نه دی کړی او په خبر کې یې دغه قصد کړی دی، ویل **ان الکلام اما ان یکون له نسبة بحیث تحصل من اللفظ ویکون اللفظ موجداً لها** لکه اِضْرِبْ نو دا اِضْرِبْ دا لفظ موجد شو لپاره د پیدا کولو دنسبت دضرب مخاطب ته،خو **من غیر قصد** بغیر د قصد کولو د متکلم او د حاکي نه **الی کونه دالا علی نسبة حاصلة في الواقع بین الشیئین**، دا قصد متکلم په انشاء کې نه دی کړی چې دانسبت د ضرب سامع ته په واقع کې هم شته دی، وهو الانشاء دیته انشاء ویلی شي **اویکون نسبة بحیث یقصد** (المتکلم او الحاکي) **نه ان لها نسبة خارجیة تطابقها او لا تطابقها فهو الخبر** ځکه **لان النسبة المفهومة من الکلام الحاصلة في الذهن** ذهن المتکلم، **لابد وان تکون بین هذین الشیئین في الواقع نسبة ثبوتیة بان یکون هذا ذاك او سلبیة بان لا یکون هذا ذاك** چې زید قائم نه دی **الاتری** سره دلیل تنویري پیش کوي چې نسبت خارجي ګوری راتلی شي **انکاذا قلت زید قائم** او دا تا په ذهن کې متصور کړو، او دا قائم تا د زید سره وترلو، دانسبت کلامي شو، او صورة د زید قائم مرتبې د قیام ته لاړو نو **فان نسبة القیام مثلاً** زید ته **حاصلة لزید قطعا** قطعا دوه ترجمې دي: یوه ترجمه دا ده چې قطع نظر د لحاظ د ذهن او د حکم د ذهن نه، چې ستا ذهن حکم کوي او که نه کوي خو په واقع کې زید پورې ولاړ دی، یا **قطعاً یقیناً** معنی ده، دا معنی د وجود خارجي د نفس نسبت ده، دیته نفس نسبت وائي، نفس نسبت دیته وائي قطع نظر دذهن نه، قطع نظر د تعلق د احد الطرفین للاخر نه، او یو دا معنی چې نسبت پورې په کرسۍ باندې ناست دی، هغې ته وجود النسبت وائي هغه په خارج کې نه شي راتللی **سواء قلنا ان النسبة من الامور الخارجیة** لکه حکماء وائي او **لیست منها** لکه متکلمین وائي، او دغه قطع نظر د ذهني نه او نسبت کلامي نه دا معنی د وجود د نسبت خارجي ده، او نفس النسبة هم ورته وائي،او یو خودا ده چې نسبت پورې په کرسۍ باندې، کټ باندې، ګټې باندې ناست دی، داسې نسبت چا هم په خارج کې نه دی ویلی، ځکه داسې نسبت په خارج کې موجود یدی نه شي.

ماتن وویل: **والخبر لا بدله من مسند الیه** نو دا یو باب شو په اتو بابونو کې **ومسند**، دا بل باب شو **واسناد** دا بل شو، دریم شو، **والمسند قد یکون له متعلقات** معمولات وي خو هله **اذا کان ای المسند فعلا اوما في معناه**، نو اوس په دې عبارت کې لږ غوندې قلق راغلی ځکه چې د دې نه دا معلومه شوه چې د مسند لپاره کله کله معمولات وي، کله که مسند فعل وي یا معنی د فعل وي او که مسند فعل او معنی د فعل نه وي نو بیا به د مسند معمولات نه وي، دا خطاء ده، ځکه چې که مسند فعل نه شي یامعنی نه شي نو

معمولات خو بيا هم ورله وي، نو تاسو وايئ چې د دې قد يكون مقابل محذوف دی، دا مذكور نه دی، **ويل والمسند قد يكون له متعلقات اذا كان فعلا او ما في معناه او وقد لا يكون له متعلقات اذا كان جامدا** نو مقابل د قد يكون داشو، دا مقابل د قد يكون نه دی چې مسند فعل وي يا معنی د فعل وي نو معمولات به لري او كه فعل او معنی د فعل مسند نه وي نو معمولات به نه لري داسې نه ده **كالمصدر** سره شارح تعين مصداقي كوي د معنی د فعل، چې د معنی د فعل مصداق څه دی؟ دويم دفع د اعتراض كوي چې دا معنی د فعل نه **ما كان بمعنى الامر والماضي** به وي، نو هغه جوعينِ فعل كې داخل دی، لكه هيهات په معنی د بَعُد سره دی، نو هغه عين فعل ماضي دی، رُوَيد په معنی د اَمْهِل سره او هغه هم عينِ فعل دی، نو ده جواب وكړو چې معنی د فعل نه مراد **ما كان بمعنى الامر والماضي** نه دی، شبهي فعل تري مراد دی، هغه لكه مصدر **واسمی الفاعل والمفعول وما اشبه ذلك** لكه صفت مشبه، اسم تفصيل، ظرف وغيره شارح شبه كوي خان له څي، چې څلور بابونه لاړل، احوال د متعلقات د فعل هم په كې لاړل، اوس دی شبه كوي چې دا څيزونه په خبر پورې خو خاص نه دي، دا خو انشائياتو كې هم راځي، نو د دې څه مطلب چې والخبر لابدله خبر لپاره لابدي ده، بلكه لكه څنګه چې خبر لپاره لابدي ده نو دغسې انشاء لپاره هم دغه څيزونه لازمي دي، دا په كې راځي، انشاء كې مسند اليه راځي، مسند، اسناد، او چې مسند د انشاء فعل شي نو د هغې معمولات او متعلقات هم راځي، دغه شبه شارح كوي او وائي **ولا وجه لتخصيص هذا الكلام بالخبر**، ځكه دا څنګه چې په خبر كې راځي، دارنګه په انشاء كې هم راځي، نو تاسو به جواب وكړئ چې دا تخصيص چې ماتن كړی دی، نو تخصيص مستلزم اختصاص لره نه دی، خو دا تخصيص يې د وجې د كثرةِ استعمال نه او د وجې د شيوع نه كړی دی، چې د دې څيزونو استعمال په خبر كې كثير دی، او شائع دی دا يې د دې وجې نه ندی كړی چې په كلام خبري كې راتلی شي او انشاء كې نه شي راتلی، دا تخصيص په اعتبار داصل وجود سره نه دی، چې په كلام خبري كې موجود يږي او په انشاء كې نه موجود يږي. **وكل من الاسناد والتعلق** هر يو د اسناد نه، چې مسند او مسند اليه كې او تعلق نه چې مسند او متعلقاتو كې وي، **اما بقصر او بغير قصر** نو پينځم باب شو د اتو نه **وكل جملة قرنت باخرى اما معطوفة عليها او غير معطوفة** نو شپږم باب شود اتو نه **والكلام البليغ اما زائد على اصل المراد لفائدة او غير زائد** نو اووم باب شو او اتم انشاء شو شبه يا هلكه لفائدةٍ يې ولې وويل، ويل **احترزبه** ای الماتن به، **عن التطويل** ځكه چې زائد على اصل المراد لالفائدة چې وي نو هغې ته تَطويل وائي، معنی مخل بالفصاحة دی، او كه زائد على اصل المراد وي (لفائدة) نو هغې ته اطناب وائي، هغه مخل بالفصاحة نه دی، على سره شارح شبه كوي، دا على په معنی د لكن استدراكيه سره دی، نو معنی **لكنه لا حاجة اليه** ليكن شان دا دی نشته دی حاجت دې قيد ته **بعد تقييد الكلام بالبليغ** تا مخكې الكلام

البليغ ويلى دى، نو بليغ وائي ديته چې هلته کې زيادة لفائدةٍ وي، نو دا مستدرك شو، د دې نه جوابونه وکړئ، چې يا هلکه دا تصريح بما علم ضمناً ده، او تصريح بما علم ته څوك مستدرك نه وائي، دويم جواب دا وکړئ چې دې کې ماتن اشاره وکړه چې دا **لفائدة** په مفهوم د اطناب کې معتبر دى، او که دا يې نه وي ذکر کړى نو دا نه مغلوميده، نو اطناب هغه لفظ ته وائي چې زائد وي په اصل مراد باندې خو لفائدة وي **اوغير زائد هذا كله** سره شارح اعتراض کوي شبه کوي په ماتن او ځان له ځي، د شبهې حاصل دا دى چې ماتنه تا چې کومې خبرې وکړې دا ټولې ظاهري بديهي خبرې دي په دې ذکر کولو کې هيڅ فائده نشته دى، ځکه په دې باندې **يعلم البله والصبيان** ځکه علم نحو چې چا ويلې وي نو په دې باندې هغه پوهيږي، نو تا کومه چې مقصودي خبره وه هغه پريښې ده، او کومه چې غير مقصودي او غير مهمه خبره وه هغه تا ذکر کړى ده، مهمه خبره دا وه چې دا نکته بيانول په کار وو، چې يا هلکه قصر، فصل او وصل، ايجاز، اطناب مساوات، دا ټول د احوالو نه دي په شان دتعريف او تنکير تقديم او تاخير، اطلاق، ذکر حذف وغيرها، نودا څه وجه ده، چې ته قصر او فصل او وصل، ايجاز د اطناب د مساوات دا ته د ابوابو نه ګرځوې د احوالو نه يې نه ګرځوى او تعريف او تنکير وغيرهما ته د احوالو نه ګرځوې او د ابوابو نه يې نه ګرځوي، نو مقصودي خبره دا وه، دا ذکر کول په کار وو، دغه شبه کوي، **هذا كله ظاهر لكن لا طائل تحته لان جميع ما ذكره من القصر والفصل والوصل والايجاز ومقابليه** چې اطناب او مساوات دي، **انما هي من احوال الجملة او المسند اليه والمسند مثل التاكيد والتقديم والتاخير وغير ذلك، فالواجب في هذا الكلام بيان سبب افرادها (الامور)** يعني قصر فصل وصل.....، **وجعلها ابواباً براسها** دا تفسير دى د افراد دا معنى چې جعلها ابواباً برأسها چې دوى دي **احوال** او ته د دوى نه ابواب براسها، بمستقلها اخلي، نو بيا تقديم او تاخير وغير ذلك هم ولې ابواب نه ګرځوي حالانکه هغه تا د احوالو نه ګرځولى، نو شارح جواب وکړو **وقد لخصنا ذلك في الشرح** ويل د دې خلاصه مونږه په شرحه کې بيان کړي، دلته کې مختصر دى، نو دلته مو بيان نه کړه، خو يو شارح بيان کړى دى، يو ماتن د طرف نه جواب دى دې کې فرق دى، ماتن د طرف نه جواب دا وکړئ، چې يا هلکه د نکاتو بيانولو وظيفه د ماتنينو نه ده، بلکه د شارحينو ده، نوځکه ماتن نه دى بيان کړى دا به شارحين بيانوي، اوس هغه شارح چې په مطول کې بيان کړى د هغې حاصل دا دى چې دا قصر باب مستقله ما وګرځولو، دا ځکه چې دي کې زيادت غموض وو، کثرة د ابحاثو احوالو وو تعدد د طرقو وو، د دريو وجو نه مې وګرځولو، نه داحوالو نه فصل وصل يې د ابوابو نه ځکه وګرځول د شرافت د وجې نه، او مهتم بالشان وو، حتى که چې بعضو فصاحت بلاغت منحصر کړى وو په معرفت د فصل او وصل کې، نو د دې وجې نه دا ما باب براسه وګرځولو، ايجاز اومقابلين د دې يې باب مستقله وګرځول، د وجې د کثرة مباحثو نه، او د وجې د کثرة د تفاريع نه، تفريعات په کې زيات وو نو ما دا باب مستقله وګرځولو

تنبيه

دا خبر د مبتداء محذوفي دی چې هذا تنبيه، دا ما سياتي تر يو حده پورې چې احوال داسناد خبري دی تنبيه دی، شارح ورسره لګوي **على تفسير الصدق والكذب**، د دې نه غرض د شارح دا دی چې تعيين د ما في التنبيه يې وکړو، چې ما في التنبيه څه شی دی؟ په دې تنبيه کې څه ذکر کوي؟ نو ويې ويل چې دې کې تفسير د صدق او د کذب ذکر کوي، نو اوس که څوک شبه وکړي چې يا هلکه على تفسير، جار مجرور دی متعلق غواړي د دې متعلق څوک دی؟ نو تاسو ووايئ چې د دې متعلق تنبيه دی، ځکه چې تنبيه لغت کې ايقاظ ته وائي، نو دا معنی مصدري شوه، او معنی مصدري شبه فعل وي، نو هغې پورې تعلق د جارِمجرور صحيح دی، نو بيا يې شبه وکړه چې يا هلکه دا خو هله صحيح کيږي چې تنبيه په معني لغوي سره شي، اوس که تنبيه په معنی اصطلاحي سره مونږه واخلو، نو بيا خو نه صحيح کيږي بيا خو دا جامد دی، اسم ګرځيدلی دی اسم جامد نو تاسو وايئ، چې اسم خو ګرځيدلی دی ليکن اسم جامد محضه نه دی، د منقول عنه په اعتبار سره وصف وو، نو په اعتبار د منقول عنه سره تعلق صحيح شو، او يا ورته دويم جواب وکړئ، چې دا ظرف مستقر دی، متعلق يې محذوف دی، نو تقدير داشو، چې هذا تنبيه هسې تنبيه دال، يا مشتمل على تفسير الصدق والكذب، ښکته د تنبيه نه معنی اصطلاحي اخلئ، او متعلق د دې جارمجرور محذوف دی، دا چې ورسره شارح لګوي، چې **قد سبق اشارة ما اليه في قوله تطابقه او لا تطابقه** دې سره دفع د اعتراض کوي، اعتراض دا وارد شو چې يا هلکه تصدير د دې بحث په تنبيه سره نه صحيح کيږي، ځکه تنبيه په لغت کې ايقاظ ته وائي او اصطلاح کې تنبيه عبارت دی د کلام مفصله لاحقه نه چې اشاره ورته شوي وي په ما سبق کې اجمالاً، نو دلته کې کلام لاحقه مفصله تفسير د صدق او کذب دی، د دې تفسير د صدق او کذب ته اشاره خو مخکې اجمالاً نه ده شوې، نو د دې بحث تصدير او عنوان او ترجمه په تنبيه سره صحيح نه شوه، نو شارح جواب وکړو چې دا تنبيه سره تصدير صحيح دی، ځکه اجمالاً ورته اشاره مخکې شوی دی، وې قد سبق اشارة ما (اشاره اجمالي) اليه دې تفسير ته، في **قوله تطابقه او لاتطابقه**، ځکه تطابقه صادق وو او لاتطابقه کاذب وو، **اختلف القائلون** نه غرض شارح يو د دې راتلونکی کلام خلاصه ذکر کوي اجمالاً، چې دلته کې دوه خلاقونه دي، يو خلاف ،نظام او جمهور يو طرف ته دی، او جاحظ بل طرف ته دی، او دا خلاف د دوی په واسطه کې دی، نو جمهور او نظام واسطه نه مني او جاحظ مني، دويم خلاف بيا د جمهورو او د نظام په ځان کې دی په تفسير د صدق او کذب کې، دويم غرض د شارح واختلف القائلون کې دفع د توهم کوي چې يا هلکه دلته کې يو خلاف به وي؟ نو شارح جواب وکړو چې نه دوه خلاقونه دي، ويل مختلف شوي دي قائلون، قائلون جمهور او نظام دی چې قائل دی **بانحصار الخبر في الصدق والكذب**، اوس مختلف شوي في تفسيرهما، يعني د صدق او د کذب په تفسير کې، فقيل وائي

د جمهورو مسلك داشو چې صدق الخبر مطابقته (ای مطابقة الخبر) شارح ورسره ولګول ای **مطابقة حكمه** اشاره يې وکړه چې دلته کې حذف د مضاف دی، د ه لپاره مضاف محذوف دی، يا هلکه حذف د مضاف په ځه سره راځي، ويل ځکه چې مطابقت بالذات صفت د نسبت تام خبري دی، او د ټول خبر صفت مطابقت بالعرض دی، ټول خبر خو مسند اليه، مسند، او اسناد دريو واړو ته وائي، نو ټول خبر ته نسبت د مطابقت کول بالعرض شو، اونسبت تام خبري ته کول بالذات شو. او بالذات اولی دی د بالعرض نه **للواقع** چې مطابق دی د واقع سره، شبه يا هلکه مخکې تا خارج ويلی دی او دلته کې دې واقع وويل نو تدافع راغله، جواب يې وکړو چې **هو الخارج الذي** چې خارج او واقع يو شی دی، ويل دا واقع هغه خارج دی **يكون لنسبة الكلام الخبري** تدافع نشته دی، **وكذبه** كذب الخبر، **ای كذب الخبر**، تعيين د مرجع کوي، **عدمها ای عدم مطابقته (ای مطابقة حكم الخبر) للواقع**، **يعني** سره غرض د شارح يوتشريح د متن کوي، د دې ټول متن د دې قيل نه دا وروستو، ترجمه کوي او تشريح کوي.

دويم غرض د شارح د يعني نه دا دی دفع د اعتراض ده چې يا هلکه مطابقت او عدم مطابقت خو په کمياتو کې راځي، او جمله د خبر خو د کمياتو نه نده، نو شارح په يعني سره د مطابقت معنی کوي، چې مطابقت دلته کې په معنی د موافقت سره دی د نسبت کلامي د خارج سره او عدم مطابقت عبارة دی د عدم موافقة نه، دريم غرض د شارح اشاره کوي يعني کې تقسيم د نسبت اقسام ثلاثه ؤ ته، چې يو نسبت خارجي، بل نسبت کلامي، بل نسبت ذهني دی. نو وائي چې يعني قصد کوي ماتن: **ان الشيئين اللذين أوقع بينهما نسبة في الخبر** دوه ځيزونه مسند او مسند اليه دي، **لا بد ان يكون بينهما نسبة في الواقع**، شبه يا هلکه واقع د څه نه عبارت دی؟ د واقع دا معنی چې نسبت په خارج کې په کرسی باندې ناست دی، ويل نه نه **اي مع قطع النظر عما في الذهن** عما د هغه نسبت نه چې په ذهن کې دی، چې نسبت ذهني دی، معترض شبه وکړه چې يا هلکه دا خو په قضاياؤ خارجيه ؤ کې صحيح شو، حقيقيه ؤ کې صحيح شو ليکن قضاياؤ ذهنيه ؤ کې خو نه صحيح کيږي، ځکه قضاياؤ ذهنيه ؤ کې خو نسبت واقع کې نه وي، په ذهن کې وي، نو ده جواب وکړو چې **وعما يدل عليه الكلام، فمطابقة تلك النسبة المفهومة من الكلام للنسبة التي في الخارج**، مطابقة معنی ده: **بان تكونا ثبوتيتين اوسلبيتين صدق**، تا زيد قائم وويل او په واقع کې هم زيد ولاړ وو، نو صدق شو، تا ووويل زيد ليس بقائم او په واقع کې زيد نه وو ولاړ نو صدق شو **وعدمها** او عدم مطابقة **بان تكون احداهما ثبوتية والاخرى سلبية**، لکه تا ووويل زيد قائم او په واقع کې زيد قائم نه وو، او يا تا ووويل زيد ليس بقائم اوپه واقع کې زيد قائم وو **كذب**.

وقيل صدق الخبر اوس دا دويم مذهب د نظام ذکر کوي، وی صدق الخبر وائي مطابقته، مطابقت د حکم د خبر **لاعتقاد المخبر** اوس متن دا دی چې **ولو خطاء** نو اوس دوه شبهې راغلې په ماتن باندې: ۱ چې يا هلکه لو خو شرطيه دی او لو شرطيه خو په فعل باندې داخليږي او خطاء خو اسم دی، دې باندې خو

دخول د لو صحيح نه دی. ۲ شبه دا راغله چې یا هلکه خطاء منصوب دی او د نصب لپاره دولس طریقې دي د خطاء نصب بنا بر څه شو، نو شارح د دې دواړو شبهو نه جواب وکړو چې **ولو کان ذلك الاعتقاد خطاء** چې ویل یا هلکه د لو مدخول محذوف دی، چې کان ذلك الاعتقاد دی، او دا رنګه د خطاء ناصب محذوف دی هغه دا چې دا خبر د کان دی، د خطاء تفسیر کوي شارح چې خطاء څه معنی؟ **غیر مطابق للواقع**، دویم دفع د اعتراض یې وکړه چې یا هلکه د خطاء معنی به غیر مطابق للاعتقاد وی نو بیاخو خطأ راغله ،مطابق به وی د اعتقاد د مخبر سره اګر که دغه اعتقاد خطاء وي یعنی مطابق د اعتقاد سره نه وي، دا معنی شوه نو تدافع راغله، نو ده تفسیر وکړو چې د خطاء معنی دا چې نه وي مطابق د واقع سره، صرف اعتقاد کرتې سره وي، اوس جزاء د دې لو محذوفه ده، تقدیر دا رنګه وي **ولو کان ذلك الاعتقاد خطاء فهو صادق** (دا جزا شوه) **و کذب الخبر عدمها، ای عدم مطابقته ای عدم مطابقة حکم الخبر لاعتقاد المخبر ولو کان (ای ذلك الاعتقاد) خطاء**، (یعنی اګر که) مطابق د واقع سره وي، دلته کې د خطاء دا ترجمه وکړئ، اوس په مثال جزئي سره شارح مونږه او تاسو پوهه کوي په مذهب د دې نظام باندې، نو وائي **فقول القائل السماء تحتنا** خو په حال د کون د دغه قائل کې **معتقدا ذلك** چې عقیده هم د دغه تحتیت ساتي، صدق، نو دیته صدق وائي، اګر که دا خطاء وي، مطابق د واقع سره نه دی و**قوله السماء فوقنا** وائي په دې حالت کې چې **غیر معتقد لذلك کذب** اګر که دغه اعتقاد خطاء دی، مطابق دی د واقع سره، اوس په نظام باندې شبه راغله، چې یا هلکه مراد د اعتقاد نه به اعتقاد مشهوري به وي، نو اعتقاد مشهوري خو دیته وائي چې هغه عبارة دی د هغه جزم نه چې قابل لپاره د ظن وي، یعنې اعتقاد مشهوري عبارة دی د ادراك د جانب راجحه نه، خو داسې ادراك د جانب راجحه چې زائل کیږي په تشکیك د مشکك سره، نو دا خو بیا صرف تصدیق تقلیدي ته شامل شو، او تصدیق یقیني او ظني او وهمي دا خارج شو، ځکه چې هلته کې ادراك د جانب راجحه چې زائل کیږي په تشکیك د مشکك سره نشته دی، نو شارح راغلی جواب یې وکړو چې د اعتقاد نه مراد هغه مشهوري اعتقاد نه دي چې هغه صرف تقلید ته ورځي، مراد د اعتقاد نه حکم ذهني دی، حکم ذهني تصدیق دی، اوس دا حکم ذهني عام دي، چې جازم وي او که راجح وي، جازم وي نو مطابق د واقع سره وي او که نه وي نو جهل مرکب شو، او که وي نو بیا به خالي نه وي یا به زائل کیږي په تشکیك د مشکك سره یا به نه زائل کیږي، که زائل کیدو نو تقلید شو. اوکه نه زائل کیدو نو یقین شو، نو جازم کې دري راغلو، نو ځکه یې وویل چې **فیعم العلم** علم ته شامل شو، علم دري قسمه وو، او راجح چې ما وویل چې والظن ظن ته شامل شو، او پاتې شو وهم، نو هغه خو معلوم تصوري دی، هغه تصدیقي خو نه دی، البته اوس شارح پرې رد کوي چې تا اعتقاد نه مراد حکم ذهني واخیستو چې جازم وي او که راجح وي، نو بناء په دي باندې نظامه ستا په نزد باندې مشکوکه بیا واسطه پاتې شو، ځکه چې

مشکوکه کې حکم ذهني جازم نشته دی، راجح نشته دی، هلته کې خو مساوات دی، ویل **وهذا** دا تفسیر د نظام **یشکل بخبر الشاك** ځکه چې تا صدق او کذب کې اعتقاد ذکر کړی دی، او د شاك خو عقیده نشته دی، **لعدم الاعتقاد فیلزم الواسطة** داشبه شوه، په صدق او کذب کې او نظام په واسطي باندې قائل نه دی، **ولایتحقق الانحصار** او دا خو نظام نه خلاف ده **اللهم** یا الله نشته دی مخلص د دې اعتراض نه، په یو وقت کې دا اوقاتو نه **الا ان یقال انه** چې خبر د شاك(کاذب) په شق د کذب کې داخل دی، یا هلکه په کذب کې څنګه داخل دی هلته کې خو تادا ویلي دي چې عدم مطابقت د حکم د خبر د اعتقاد د مخبر سره، نو عدم مطابقة د اعتقاد د مخبر سره، اعتقاد د مخبر غواړي، او هلته کې اعتقاد د مخبر نشته دی شاك کې، نو شارح راغلی ده جواب وکړو چې ګوره دا سالبه ده. عدم مطابقت د حکم د مخبر د اعتقاد د مخبر سره دا تقاضه د وجود د موضوع نه کوي، یا خو اعتقاد د مخبر وي خو دا حکم ورسره مطابق نه وي، لکه علاوه د مشکوکه نه شو، یا له سره د مخبر اعتقاد نه وي، لکه مشکوکه کې شو، **لانه اذا انتفی الاعتقاد** په شك کې نو **صدق عدم مطابقة الاعتقاد** ځکه(صادق) شو چې عدم مطابقة الاعتقاد سالبه ده، دا عام ده په وخت د وجود د موضوع کې هم صادقیږي، عدم کې هم صادقیږي، لیکن دا جواب شارح په اللهم سره مصدر کړو، ځکه چې په دي باندې دوه شبهې واردیږي، یو شبه دا چې دا خلاف دی د متبادر نه، ځکه متبادر دا ده چې عدم مطابقة د اعتقاد د مخبر سره، غواړي اعتقاد د مخبر، او دا متبادر ده، او په تعریفاتو کې حمل د الفاظو په ماهو المتبادر باندې واجب دی، نو دا تعمیم غیرمتبادر دی، دویم شبه دا چې بیا انشائیات په کذب سره متصف کوئ، انشائیاتو ته هم کاذب وایئ، حالانکه تاسو انشائیاتو ته کاذب نه وایئ، ځکه چې انشائیاتو کې دا صادقیږي، چې دلته کې عدم مطابقة د حکم د خبر دی د اعتقاد د مخبر سره، ځکه د مخبر اعتقاد نشته، ایجاد د ما لم یوجد دی، او انشائیات متصف په کذب نه شي کیدای، د دې دوو وجو (شبهو) نه دا جواب محذوش شو، اوس چا دنظام د طرف نه جواب کړی دی، او شارح په هغه بهرني جواب باندې رد کوي، بهر نه د نظام د طرف نه جواب چا دا وکړو چې یا هلکه مشکوکه د سره خبر نه دی، کلام خبري نه دی، ځکه چې کلام خبري دیته وائي چې هغې کې تصدیق وي، او مشکوکه کې تصدیق نشته دی، نو چې مشکوکه کې تصدیق رانغی نو خبر هم نه شو، مونږه چې ویلي چې واسطه جائز نه ده نو د هغی مطلب دا دی چې کلام خبري وي او متصف په صدق او کذب سره نه وي، داسې واسطه ناجائز ده، او دلته کې مشکوکه د سره کلام خبري نه دی، دا بل جواب شو د نظام د طرف نه، نو شارح په دي بهرني جواب باندې رد کوي چې **والکلام** چې خبري اتري، د کلام نه خبري اتري واخلي، **في ان المشکوك خبر اولیس بخبر مذکور في الشرح فلیطالع ثمه**، مشهورین وائي چې دا مشکوکه خبر نه دی، محققین وائي چې دا خبر دی، او حق مذهب د محققینو دی، نو دیته لیس بخبر ویل خطاء شو.

نو د نظام د طرف نه جواب صحیح نه شو، ځکه چې محققین وائي چې خبر دیته وائي چې ما تضمن کلمتین بالاسناد او په مشکوکه کې ما تضمن کلمتین بالاسناد شته دی، نو دا خبر شو، د دې نه انکار نه شي کیدای، بلکه چې یو مجنون سړی ووائي زید قائم نو دا هم خبر دی، حالانکه د هغه تصدیق نشته دی، دارنګه نائم سړی ووائي زید قائم نو دا هم خبر دی، یا یو سړی د قیام د زید نه منکر دي، هغه ووائي زید قائم دا بیا خبر دی، ما تاسو ته دا والکلام عبارة داسې ولګولو چې د نظام د طرف نه جواب بهر نه شو نو شارح په هغه جواب رد وکړو، په والکلام سره، او که داسې لګوئ چې دا عبارة جواب د نظام د طرف نه دی هم صحیح کیږي، جواب داسې شو د نظام د طرف نه چې یا هلکه مشکوکه کې خلاف دی څوک وائي چې خبر دی، لکه محققین او څوک وائي چې خبر نه دی لکه مشهورین وائي، اوس نظام چې په واسطه باندې قائل دی چې مشکوکه واسطه شو نو د هغه په نزد باندې اختیار د مذهب د مشهورینو دی او د مشهورینو په نزد باندې مشکوکه خبر نه دی، نو نظام باندې اشکال وارد نه شو، یعني جائز ده چې د نظام مختار مذهب دی د مشهورینو وي، او په مذهب د مشهورینو باندې دا خبر نه دی، نو عبارة جواب شو، او مسلك د محققینو مختار د نظام دې نه وي، نو بیا جواب په کتاب کې شو نو بیا رد ته اشاره وکړه شارح په فلیطالع ثمه باندې، چې یا هلکه دا جواب هم ضعیف دی، ځکه حق مذهب د محققینو دی، به هر حال د نظام مذهب ضعیف شو، نو زمونږ مقصد هم د نظام مذهب ضعیف کول دي، نو ذاتي څه د دې لپاره پرتوګ جوړول په مونږ باندې فرض نه دی، نو بس دغسې پاتې شو، ویل **بدلیل قوله تعالی**، اوس نظام د لیل وائي، د دلیل اضافت قوله تعالی ته دا اضافت بیاني دی، دلیل اوقوله تعالی یو شی دی، ﴿ اِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ ۘ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ ۘ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ ﴾ اوس (فانه سره) دلیل وائي لپاره د تطبیق د مثال د ممثل سره، لپاره د تطبیق د دلیل د مدعی سره، ویل **فانه تعالی (ای الله تعالی) جعلهم (ای المنافقین کاذبین في قولهم انك لرسول الله** نو نظام وائي تاسو خپله ترجمه وکړئ نو نه صحیح کیږي، منافقین دروغژن دي په انك لرسول کې چې دا مطابق د واقع سره نه دی، او زما ترجمه ویل بالکل تهیك ده، منافقین دروغژن دي په انك لرسول الله کې، ځکه دا مطابق د دوی د اعتقاد سره نه ده، نو چې ترجمه زما په مذهب باندې صحیح شوه، ستاسو په مذهب باندې نه صحیح کیږي، نو تفسیر د صدق او کذب زما په مذهب باندې اولی شو، د صدق او د کذب د تفسیر ستاسو نه، وائي: **لعدم مطابقته لاعتقادهم وان کان مطابقا للواقع.**

ورد شارح دفع د اعتراض کوي چې ضمیر به په رد کې نظام ته راجع وي چې رد کړی شوی دی نظام، نو نظام څنګه رد کیږي، نو د هغې جواب ئې وکړو چې **هذا الاستدلال** دغه استدلال رد کړی شوی دی، اوس په دي رد کې دوه نظرین دي: یو نظر د محققینو دی. دویم نظر د مشهورینو دی، د محققینو نظر

دا دی چې جوابونه دلته کې دوه دي، اول جواب منعي دی او دویم جواب تسلیمي دی، جواب منعي اول دا شو، چې یا هلکه نه منم چې دا کذب راجع دی مشهود به ته، او د دې جواب منعي لپاره دا دوه سندونه د منعي شو، ویل ځکه چې کذب دي راجع وي شهادت ته دا یو سند منعي شو، دویم سند دمنعی، ویل ځکه چې کذب دي راجع وي، تسمیه في الشهادة ته، دویم جواب تسلیمي، وروستو به یې لګوو دا نظر شو د محققینو، دویم نظر د مشهورینو دی، هغوی وائي چې جواب یو دی چې منعي جواب دی، او دا دریم واړه سندونه د منعي دي، نو هغوی باندې بیا اشکال راغی، چې یا هلکه دا اول دواړه سندونه د منعي صحیح کیږي او دا دریم خو بیا سند د منعي نه صحیح کیږي، ځکه چې بیا منعَ او سند د منعی یو شی کیږي، یو شی ترینه جوړیږي، اول دواړه خو صحیح شو اوس ما تاسو ته په مخکې منعي جواب کې وویل، خو دریم نه صحیح کیږي، ځکه دلته کې ته اوس ترجمه وکړه چې یا هلکه نه منم چې کذب راجع دی، مشهود به ته، ځکه چې کذب راجع دی مشهود به ته نو دا خو څه سند د منعي نه جوړیږي، منع او سند د منعي یو شو، دا خو منع د شئ عن نفسه وشوه، نو بیا مشهورین ترینه جواب کوي، چې دلته کې فرق شته دی ته نه یې پوهه شوي، فرق داسې دی چې منم چې کذب راجع دی مشهودبه ته په نفس الامر کې، دا منع شو، ولې ځکه چې کذب راجع دی مشهودبه ته د دوی په زعم او عقیده کې نو دا سند د منعي شو، نو سند د منعي او منعه یو نه شو **بیان المعنی لکاذبون في الشهادة** معترض شبه وکړه چې تکی دَ شهادت کې خو دوی دروغژن نه دي، نَشْهَدُ خو دوی ویلی دی، او نشهد د شهادة نه دی، نو دې کې څنګه دروغژن شو، جواب وکړو شارح **وفي ادعائهم المواطاة** یا هلکه د شهادة نه مراد لفظ د شهادة نه دی مصداق دَ شهادة دی، ویل په دعوی کولو د دې منافقینو د موافقت **فالتکذیب راجع الی الشهادة** مشهود الیه ته نه شو، معترض شبه وکړه چې یا هلکه صدق او کذب خو صفت د کلام خبري دی، او شهادة مفرد دی، نو مفرد خو موصوف په صدق او کذب سره نه شي کیدای، نو شارح جواب وکړو چې باعتبار تضمنها خبراً کاذباً په اعتبار د نیولو ددی شهادت سره خبر کاذب لره. کاذباً څه معنی، **غیر مطابق للواقع** هغه خبر کاذب دا دی چې دي منافقینو وویل چې **هولاء هذه الشهادة من صمیم القلب وخلوص الاعتقاد** دا خلوص تفسیر د صمیم شو او اعتقاد تفسیر د قلب شو، الله پرې رد وکړو چې دغه شهادة ستاسو د صحیح القلب او خلوص الاعتقاد نه ندی تاسو دروغ وایئ، شبه یا هلکه په دې خبر کاذب باندې قرینه څه ده؟ ویل **بشهادة ان واللام والجملة الاسمیة** (انك لرسول الله)، **او للعنی** سره دویم سند د منعي وائي، یا معنی دا ده چې **انهم ای المنافقین لکاذبون في تسمیتها**، تعیین ؟مرجع کوي **ای في تسمیة هذا الاخبار شهادة** نو ها ضمیر شهادة ته راجع شو، دویم اجمالا اشاره یې وکړه چې دلته کې تسمیة مصدر دی مضاف شوی دی مفعول ثاني ته او مفعول اول حذف دی چې هذا الاخبار دی، او فاعل منافقین دي، نو معنی په نوم ایښودو د منافقینو کې د دې اخبار په شهادة سره،

اعتقاد عدم المطابقة، دويم (و)المطابقة للواقع بدون الاعتقاد اصلاً، اصلاً معنى نه اعتقاد د مطابقت وي نه د عدم مطابقة وي، دا دوه صورتونه دواسطې په صدق کې شو، اوس يو صورت په کې د صدق شو، هغه دا چې مطابقة مع اعتقاد المطابقة، نواوس توټل صورتونه په صدق کې درې شو: ١ مطابقة مع اعتقاد المطابقة، دا صدق شو، د واسطې دوه صورتونه شو، ١ مطابقة مع عدم المطابقة، دا يو واسطه، دويم مطابقة بدون الاعتقاد اصلاً، درې صورتونه په کذب کې دي: ١ عدم المطابقة مع اعتقاد المطابقة، دويم او بدون الاعتقاد اصلاً، يعنې نه د مطابقة نه د عدم مطابقة، دلته کې هم توټل صورتونه درې شو، يو صورت د کذب شو، چې عدم مطابقت سره د عدم دمطابقة نه، او دوه واسطې شوې، عدم مطابقة سره د اعتقاد د مطابقة نه، عدم مطابقة بدون الاعتقاد اصلاً، نو دغه څلور ليس **بصدق ولا كذب**، **فكل** سره شارح نسبت بيانوي د مذهب د جاحظ او د نظام او د جمهورو په مينځ کې، چې نظام او جمهور يو طرف ته دي او جاحظ بل طرف ته کړئ نو دې دواړو کې نسبت د عموم خصوص مطلق دی، نو شارح وائي فكل من الصدق والكذب بتفسيره، اى تفسير الجاحظ اخص منه، اى من التفسير، بالتفسير من السابقين، هغه اعم دی چې د جمهورو او د نظام تفسير دی، ولې دليل وائي د اخص لپاره، ويل **لانه اعتبر في الصدق مطابقة الواقع والاعتقاد جميعاً وفي الكذب**، اوپه کذب کې **عدم مطابقتهما**، اى **عدم مطابقة الواقع والاعتقاد** جميعاً، دا وروستو عبارة د دې مخکې سره ولګوئ، (د راتلونکې متن نه مخکې جمله) ويل **وقد اقتصر في التفسيرين السابقين على احدهما**، اوس په تفسير د جمهورو کې مطابقة او عدم مطابقة د واقع سره فقط دی په تفسير د نظام کې مطابقة او عدم مطابقة د اعتقاد سره فقط دی، نو اوس مسئله ترې دا راووته چې هر صدق او کذب د جاحظ په نزد باندې هغه صدق او کذب د جمهورو او د نظام په نزد باندې دی، او هر صدق او کذب دجمهورو او نظام په نزد باندې ضروري نه دی چې دا صدق او کذب د جاحظ په نزد باندې دې هم وي.

اوس دا په مينځ کې چې شارح وائي **بناء** دي سره يو اعتراض دفع کوي، په ماتن باندې يو اعتراض راغلی، چې يا هلکه د جاحظ اصلي مسلك خو دا شو چې صدق عبارة دي د مطابقة د واقع او د اعتقاد د دواړو سره، کذب عبارة شو دعدم مطابقة د واقع او د اعتقاد سره، او تا په متن کې معيت الاعتقاد اخيستی دی، نو کوم چې مذهب د جاحظ وو، هغه تا په متن کې ذکر کړی نه دی او کوم چې مذکور دی هغه مذهب د جاحظ نه دی، نو دا خو تا افتراء وکړه په جاحظ باندې، ځکه چې تا په صدق کې دا ويلې دي مطابقته مع الاعتقاد او ويل په کار وو مطابقته للواقع والاعتقاد ، او تا د والاعتقاد په ځای مع الاعتقاد وويل، نو د جاحظ مسلك دا وو چې مطابقة د اعتقاد سره، او تا معيت الاعتقاد اخيستی دی، په کذب کې مسلك دا وو چې مطابقة د واقع او د اعتقاد سره به نه وي، او تا وويل چې عدم مطابقة د واقع سره خو مع الاعتقاد سره د عدم د مطابقة د اعتقاد سره، نو کوم چې مذهب

دجاحظ وو هغه تا په متن کې ذکر کړی نه دی او کوم چې دې ذکر کړی دی هغه مذهب د جاحظ نه دی، نو شارح راځي جواب کوي، چې د دې دواړو حال یو دی، یعنې زما د عبارة او ستا د دې عبارة (معترض ته وائي)، یعنې په صدق کې مطابقة الحکم للواقع والاعتقاد دی، او مطابقة الواقع مع الاعتقاد، د دې دواړو حال یو دی، په کذب کې عدم مطابقة د واقع د اعتقاد سره **عدم مطابقة الحکم للواقع والاعتقاد**، او **عدم مطابقة الواقع مع الاعتقاد** د دې دواړو مطلب یو دی، مآل کې یو دی ځکه صدق کې حکم د خبر مطابق شو د واقع سره او واقع مطابق وو د اعتقاد سره، نو خبر مطابق د اعتقاد سره شو، ځکه مطابق د مطابق د شئ مطابق د دغه شئ وي، په شق د کذب کې داسې شو، خبر مطابق د واقع سره نه وو، واقع مطابق د اعتقاد سره نه شوه، نو خبر مطابق د واقع سره نه شو، ځکه چې عدم مطابقة د عدم مطابقة د شئ مستلزم دی عدم مطابقة د شئ سره، نو زما د عبارة مآل دغه عبارة مشهوره ته کیږي، **بناء علی ان اعتقاد المطابقة** اعتقاد د مطابقت د خبر د واقع سره **یستلزم مطابقة الاعتقاد** دغه خبر مطابق د اعتقاد سره به وي، ویل ځکه **ضرورة توافق الواقع والاعتقاد** ځکه واقع مطابق د اعتقاد سره شوه **حینئذ ای حین اذا اعتقد مطابقة الخبر للواقع**، ځکه چې مطابقة الخبر للواقع شو او واقع مطابق د اعتقاد سره شو، نو خبر مطابق د اعتقاد سره شو، کذب کې هم دغسې، **وکذا (ای فی الکذب ایضاً) اعتقاد عدم المطابقة**، عقیده د عدم مطابقت د خبر د واقع سره **یستلزم** دا مستلزم دی **عدم مطابقة الاعتقاد** (دا بل عبارة خو مونږ تاسو ویلی وو فافهم)، ویل **بدلیل افتری علی الله کذبا ام به جنة** اوس دا مثال مطابق د ممثل سره دی، ویل **لان الکفار حصروا اخبار النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بالحشر والنشر** غوندې دلل بیا خوریدل چې ځني جهنم ته به ځي او ځني جنت به ځي، **علی ما یدل علیه قوله تعالی**، قال الکفار **اذا مزقتم کل ممزق** کله چې ذره ذره شئ تاسو په پوره ذره ذره کیدو سره یعنې خاورو سره خاورې شئ، نو ویل چې دی وائي چې **انکم لفي خلق جدید** تاسو به پیدائش نوي کې به یئ، بیا به پیدا کیږئ، نو کافرو دغه خبر د نبي علیه السلام منحصر کړو په **في الافتراء** چې یا دی دروغ وائي او **اخبر حال الجنة** یا دی خبر ورکوي د لیونتوب په حالت کې، دی لیونی دی، نوحصر یې په دې کې وکړو، **علی سبیل منع الخلو** اوس که څوک شبه وکړي چې علی سبیل منع الخلو ویل په کار نه وو، علی سبیل الانفصال الحقیقي ویل په کار وو، ځکه چې دغه خبر د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې دا دواړه نه شي جمع کیدلی، او د خبر نه دا دواړه پورته کیدای هم نه شي، نو دا خو منفصله حقیقیه شوه نو شارح **علی سبیل منع الخلو** ولې وویل؟ تاسو وایئ چې تهیك ده دا ده منفصله حقیقیه خو د کافرو مقصود دا وو چې ددې واړه وجو نه خالي نه دی، او که جمع شي نو زمونږ مدعی حاصله شوه، جمع دې شي، نو د دې وجې نه شارح وویل چې د کافرو مد نظر منع الخلو دی اګر که په واقع کې دا مانعة الجمع ده.

ولاشکان المراد بالثاني د ثاني تعیین مصداقي کوي یو، دویم دفع د اعتراض کوي چې یا هلکه ثاني نه مراد دا ټکی د آم به جنة دی، او آم به جنة خو انشاء ده، او انشاء خو غیر الکذب وي، کذب خو نه وي،

نو دی راغلی جواب یې وکړو چې الثاني نه ام به جنة دا ټکی نه دی مراد اخبار په حال د جنة کې دی، ای **الاخبار حال الجنة لا قوله ام به جنة، على ماسبق الى بعض الاوهام** دا منفي سره لګوئ، چې ام به جنة دا قول مراد دی علی ما سبق الی...الخ، خو دا خطاء ده، **غير الكذب، لانه قسيمه** تعیین د مرجع ګانو کوي، ای **لان الثاني قسيم الكذب**، او قسیم د شئ غیر وی د شئ نه، (دا وروستو عبارة مخکې دغه عبارة سره شیخ ولګولو، فافهم)، **وقسيم الشئ يجب ان يكون غيره** اوس دا قسیم ولې دی؟ متن لپاره دلیل وائي، ویل ای **المعنى أكذب ام أخبر حال الجنة. وغير الصدق**، او دغه ثاني غیر دی د صدق نه، ځکه لاتهم الكفار لم يعتقدوه تعیین د مرجع ګانو کوي، ای **لان الكفار لم يعتقدوا صدقه** صدق د رسول الله.

فلا يريدون في هذا المقام دې نه غرض د شارح دفع د اعتراض کوي، چې هغه وروستو را روان دی بقوله لا يتوجه، سره لاتري لرې کوئ، نو یتوجه به شي، نو وائي اعتراض رانقل کولی شي فافهم چې متوجه کیږي هغه اعتراض قیل چې ویلی شوی دی، ماتن باندې اعتراض متوجه شو، او معترض خلخالي دی، هغه اعتراض داسې وکړو، خو لیکن د خلخالي اعتراض بناء دی په دې باندې چې دا غیر الصدق دا عبارة خبر د مبتداء محذوفي دی، نو معنی دا شوه چې وهو دغه ثاني غیر الصدق، نو اعتراض اوس دا شو چې انه شان دا دی **لا يلزم من عدم اعتقاد الصدق** دلیل کې تا دا ویلې دي، **لانهم** ای الكفار لم يعتقدوه صدق د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نو عدم اعتقاد د صدق شو، او د عدم اعتقاد د صدق نه نه لا زمیږي عدم صدق په نفس الامر کې، کافرو دې عدم اعتقاد د صدق کړی وي خو نفس الامر کې دې صادق وي، نو دا دلیل د تقریب تام نه شو، نو شارح اجمالاً جواب هلته کې ابتداء کې د فلا يريدون سره...الخ وکړو او تفصیلي جواب دلته په **لانه لم يجعله** سره کوي، د جواب حاصل داسې شو چې دا **غير الصدق** خبر د مبتداء محذوفي نه دی، چې وهو غير الصدق دی، بلکه دا عطف دی په غير الكذب باندې، او غير الكذب د ارادې لاندې داخل وو، نو دغه غير الصدق هم د ارادې لاندې داخل شو، نو تقدیر دا شو چې مراد په ثاني سره غیر دی د صدق نه، د کافرو مراد په ثاني سره غیر دی د صدق نه، اوس دلیل تهیك شو، د کافرو مراد ثاني نه غیر دی د صدق نه یعنې کافرو اراده د صدق نه ده کړې، ځکه **لانهم لم يعتقدوه** نو عدم اعتقاد د صدق دلیل په عدم ارادي د صدق باندې شونو دا صحیح ده ،دلته کښې ځکه وائي **فلا يريدون** (ای الكفار) فی هذا المقام الصدق الذی، نو ارادې لاندې داخل شو (چې اراده مستفاد ده د فلا یریدون نه) او دوی دا صدق نه اراده کوي، **لانهم لم يعتقدوه** نو ګوره عدم اعتقاد د صدق دا مستلزم دی عدم ارادي د صدق لره، نو ځکه (وروستو عبارة کې وائي چې) **لانه** ای **المصنف لم يجعله، ای لم يجعل عدم اعتقاد الصدق دليلاً على عدم الصدق**، چې ته شبه وکړي، **بل** بلکه ماتن ګرځولی دی دا عدم اعتقاد د صدق دلیل **على عدم ارادة الصدق** نو دا تفصیلاً جواب وشو **فليتامل** کې بیا اشاره ده شبهې ته، چې یا هلکه دا دلیل خو نه صحیح کیږي، ځکه چې تا وویل چې عدم اعتقاد د

صدق دليل دی په عدم ارادي د صدق باندې، نو ستا قاعده منقوضه شوه په شاك کې، لکه زيد قائم کې د سړي شك وي، چې قيام د زيد او عدم قيام د زيد دواړه برابر دي، نو دلته کې عدم اعتقاد د صدق راغلی، او دا خو دليل په عدم ارادي د صدق باندې نه دی، ځکه د شاك د سره اراده نشته دی، نو دلته عدم اعتقاد د صدق خو د شاك راغلی خو عدم اراده د صدق خو رانغله، ځکه عدم اراده غواړي اراده او د شاك د سره اراده نشته دی، ځکه هلته کې دواړه مستوين دي، نوشارح وويل **فليتامل** فکر وکړه، چې په دي دليل کې هم لږ غوندې تاويل دی، داسې تاويل دی چې عدم اعتقاد د صدق په اعتبار د ذات سره هم او په اعتبار د امکان سره هم، يعنې چې په اعتبار د ذات هم سره هم عدم اعتقاد وی، او امکان به هم د عدم اعتقاد وي يعنې اعتقاد د صدق نه ذاتاً وی، او نه هسې ممکن وي، نو دا دليل دی په عدم ارادي د صدق باندې، او شاك کې عدم اعتقاد د صدق اګر که ذاتاً خو وي ليکن امکان د عدم اعتقاد د صدق نشته دی، بلکه امکان خو د اعتقاد د صدق هم شته دی، چې په اخبار د مخبر صادقه سره يا په مشاهدي سره د هغه هغه شك زائل شي نو اعتقاد د صدق راشي، باعتبار الذات اګر چې هغه معتقد نه دی، ليکن امکان د اعتقاد شته دی، نو وائي چې دي او هغې کې فرق دی، اوس دا چې ورسره شارح ولګول چې **الذي هو بعيد بمراحل...الخ** دي سره دفع د بل اعتراض وشوه، هغه اعتراض وروستو را روان دی، شارح په ماتن باندې شبه کوي او ځان له ځي، اعتراض دا دی چې **ولو قال** الماتن **لانهم اعتقدوا عدم صدقه** عدم يې په صدق باندې وارد کړی وی په اعتقاد باندې يې نه وي وارد کړی نو **لکان اظهر** اوس دلته کې دوه خبرې په کار شوې، يو دا خبره چې اعتقاد د عدم صدق او عدم اعتقاد د صدق کې څه فرق دی، ماتن خو عدم اعتقاد د صدق ګرځولی دی (ذکر کړی دی) يعنې لم يې په اعتقاد باندې وارد کړی **لم يعتقدوه** دي کې څه فرق دی؟ نو تاسو ووايئ، چې دې کې فرق دادی چې عدم اعتقاد د صدق مستلزم عدم صدق لره په نفس الامر کې نه دي، تا دې ځان له عدم اعتقاد د صدق کړي وي خو په نفس الامر کې دې صادق وي، نو عدم اعتقاد د صدق منافي د عدم صدق نفس الامري سره نه دی، او اعتقاد د عدم صدق دا منافي دی د صدق نفس الامري سره، نو اعتقاد کې هم صادق نه دی، او نفس الامر کې هم صادق نه دی.

دويمه خبره دا ده چې دا **اظهر** به ولې وو؟ نو اظهر به وو دا خو تاسو ته معلوم شو ځکه چې عدم اعتقاد د صدق کې احتمال د صدق نفس الامري وو، او اعتقاد د عدم صدق کې احتمال د صدق نفس الامري نه وو، او د کافرو مقصد دا دويم وو، نو اظهر به ځکه وو، ځکه شارح **لکان صوابا اوحقاً** نه دي ويلي نو د دې جواب هم شارح وکړو چې وهو بعيد بمراحل عن اعتقادهم او بعيد په پراهونو سره هله کيږی کله چې عدم اعتقاد د صدق هم وي او عدم صدق په نفس الامر کې هم وي، ګني هسې بُعد نه راځی، **لمرادهم (الكفار)** دا ئې تفريع وکړه په دې دليل باندې، بکونه خبر حال الجنة غير الصدق والكذب،

دغه معنی د واسطي شوه، معترض راغلی په جاحظ باندې يې شبه وکړه، چې يا هلکه تا خو دليل پيش کړو د کافرو په قول سره او د کافرو قول معتبر نه دی، دی جواب کوی **وهم عقلاء من اهل اللسان عارفون باللغة** او د کافرو قول چې معتبر نه دی نو په احکام شرعيه ؤ کې معتبر نه دی، او په احکام لغويو عربيو کې معتبر دی، **فيجب** دا تفريع شوه په دې تفريع باندې، **ان يكون من الخبر ما ليس بصادق ولا كاذب حتي يكون هذا** ای الخبر حال الجنة، **منه** ددی ما ليس بصادق ولاکاذب نه **بزعمهم** .د دې نه وروستو عبارة مونږه تاسو مخکې ويلې دی.

ورد شبه، هلکه جاحظ رد کړی شوی دی؟ ويل نه، **هذا الاستدلال** بان المعنی ای معنی ام بـه جنة، اشاره يې وکړه چې معنی کې الف لام عوض دی د مضاف اليه نه، يا عهد خارجي دی مراد ترينه معنی د ام بـه جنة ده، معنی يې دا ده چې **ام لم يفتر شبه**: يا هلکه ام بـه جنّة، معنی يې په ام لم يفتر سره وکړه، دا خو مجاز شو او په مجاز کې خو علاقه په کار ده، دې کې څه علاقه ده، دويم دا چې ام بـه جنّة، معنی ام لم يفتر شو نو د دې ام لم يفتر نه الله تعبير په ام بـه جنّة باندې ولې کوي؟ نو ده جواب وکړو **فعبر عنه** ای عدم الافتراء بالجنّة، ويل علاقه دا ده چې **لان المجنون لا افتراء له**، مجنون سره لازم عدم افتراء ده، نو ذکر د ملزوم وشو او مراد ترينه لازم شو، څکه عدم افتراء د مجنون سره لازم ده، خو تعبير سره دا کناية شوه او کناية ابلغ وي د صريح نه او مجنون سره عدم افتراء لازم دی، څکه **لانه** ای الافتراء **الكذب عن عمد ولا عمد للمجنون شبهه**: يا هلکه مونږه په جواب باندې پوهه نه شو، څکه چې جاحظ خو دوه شقين ذکر کړي وو، چې دا اخبار حال الجنة غير دی د کذب نه، څکه چې دا قسيم د کذب دی، او قسيم د شئ غير وي د شئ نه، او غير دی د صدق نه څکه دوی يې عقيده نه ده ساتلې، نو مونږ ته پته رانغله چې ماتن جواب په اختيار د شق اول سره وکړو، او که نه په شق ثاني، او که په شق ثالث سره، نو شارح تعيين د شق ته اشاره کوي، چې **فالثاني ليس قسيماً للكذب** دې کې يې شق ته اشاره وکړه، اوس ثاني قسيم د کذب نه دی، څکه کذب دوه قسمه دی: ۱ کذب مطلق دی، او يو کذب عن عمد دی، نو که ته وائي چې دا ثاني قسيم د کذب دی، نو که د کذب مطلق قسيم وائي نو دا خطاء وائي، څکه دا فرد د مطلق دی، او فرد د شئ قسيم نه وي، او که ته غير الکذب نه کذب عن عمد وائي نو هغه قسيم دی، خو **ام بـه جنة** سره هغه مراد نه دی، بلکه کذب لاعن عمد مراد دی، نو څکه وائي **مطلقاً**، **بل لما هو اخص منه** اعني الافتراء فيكون هذا حصراً للخبر الكاذب، کافر وائي چې د ده دا خبر د حشر او نشر دروغ دی، خو **بزعمهم**، حصر دی په نوعين کې، چې دا دروغ خو دي خو يا دې عمداً دروغ وائي او يا دروغ وائي لا عن عمد څکه چې ليونی دی.

احوال الاسناد الخبري

ماتن وويل احوال الاسناد الخبري، نو په متن کې دري ټکي راغلل، يو ټکی احوال راغلو، دويم اسناد او دريم خبري راغلو، نو شارح د احوالو تعريف نه کوي، ځکه چې د دې تعريف مخکې تير شوی دی چې د حال په اصطلاح د علماءُ د علم المعاني کې اطلاق په دوو معانيو باندې کيږي، چې حال هغه امر داعي ته هم ويلی شي چې په جانب د مخاطب کې وي، او حال امرِ عارضه للفظ ته هم ويلی شي، دا دواړه مخکې تير شوي دي، دارنګې د **الخبري** تشريح شارح نه کوي، ځکه خبري منسوب بسوی خبر، او د خبر تعريف مخکې تير شوی دی، هغه کلام ته وائي چې د نسبت د هغې لپاره خارج تطابق او لا تطابق وي، پاتې شو دا بل ټکی چه اسناد دی، د دې تعريف مخکې نه وو تير شوی نو شارح د دې تعريف کوي، او ماتن نه دی کړی د اختصار د وجې نه، نو شارح وويل چې **وهو** د غه اسناد، **ضم کلمة** ضم کول د يو کلمې دی، شبه راغله چې يا هلکه اسناد خبري خو صفت د خبر دی، او ضم خو مصدر معلوم دی، ضم کول، نو ضم کول خو صفت د متکلم دی، نو دا خو تفسير بالمبائن راغلی، ځکه تا تفسير وکړو د صفت د لفظ په صفت د متکلم سره، او تفسير بالمبائن خو جائز نه دی، نو جواب وکړئ چې دلته کې ذکر د مصدر معلوم دی، مراد ترينه حاصل بالمصدر دی، ذکر د ضم شو او مراد ترينه انضمام شو، نو معنی دا شوه چې دا اسناد خبري ضم والی د کلمې دی، چې مرتب وي په ضم کولو باندې، معترض راغلی شبه يې اُوډزوَله چې يا هلکه ستا قاعده منقوض شوه په **زيد قائم ابوه** باندې، هلته کې ضم د کلمې خو نه دی بلکه ضم د جملې دی، ده جواب وکړو او **مايجري مجراها** يا هغه چې جاري کيږي په ځای د جاري کيدو د دې باندې، لکه هغه جمله خبر واقع شي اګر که هغه کلمه نه ده خو په حکم د کلمه کې ده، دارنګه مرکبات ناقصه چې جاءني زيد، غلام عمرو، يا زيد رجل فاضل، نو د دې کلمې نه مراد مسند شو، ضم يې کړی **الی اخری** چې مسند اليه دی، معترض شبه وکړه چې ضم خو غلام زيد کې هم شوی دی، او رجل فاضل کې هم شوی دی، او ديته خو اسناد نه وائي، جواب يې وکړو **بحيث يفيد المخاطب**، فائده مخاطب ته داسې رسوي چې د مخاطب سکوت صحيح وي يعنې متکلم نه نور څه نه غواړي، او غلام زيد کې نور څه غواړي چې غلام د زيد مړ شو که ژوندی دی، غلام د زيد ،نو څه چل وشو، د فائدې دا معنی، فائده رسی مخاطب ته چې **ان مفهوم احدهما ثابت لمفهوم الاخری** يا مفهوم د احدهما **منفي عنه** د بل نه، دا مخکې په کلام موجب کې او وروستو په کلام منفي کې شو، نو اوس که څوک شبه وکړي چې يا هلکه دشارح په جانب د محکوم به کې مفهوم خو تهيک شو، ځکه چې مفهوم د محمول ثابت وي مصداق د موضوع ته، خو دا دويم مفهوم ده غلط وويل، ځکه چې مفهوم د احدهما چې محکوم به دی تهيک دی هغه ثابت شو مفهوم د اخری ته، نو مفهوم د اخری ته خو

صرف په قضيه طبعيه او مهمله قدمائيه کې راځي، محصوراتو کې خو هلته کې مفهوم د محمول ثابت افرادو د موضوع ته وي، نو تاسو به جواب وکړئ چې يا هلکه مفهوم د اخرى عام دى، برابره خبره ده چې دا مفهوم په مرتبه د بشرط الشئ کې وي يعنې بشرط العموم وي، لکه په طبعيه کې شو، يا په مرتبه د من حيث هي کې وي، لکه مهمله قدمائيه کې شو، يا دغه مفهوم په شرط د الانطباق على الافراد وى لکه محصوره کې شو.

وانما قدم سره اعتراض کوي، او بيا جواب کوي، ويل انما قدم اى الماتن **بحث الخبر** په بحث د انشاء باندې، او د تقديم لپاره څه وجه نه وه نو ترجيح بلا مرجح لازم شوه، نو شارح يو جواب وکړو چې **لعظم شانه** اى الخبر، هم شرعاً خبر لوى دى او هم لغةً لوى دى، شرعاً لوى دى، ځکه اعتقاديات ټول اخبارات دي، ځکه انشائياتو سره سړى نه مسلمانيږي، الله واحد سره مسلمانيږي، او که ته بل چا ته ووائي چې قل هو الله احد نو ته مسلمان نه شوي چې په خپله نه وى او بل ته وائي بيا نه مسلمانيږي، او لغةً هم دغسې دى، ځکه اکثر محاورات د عربو اخبارات دي انشائيات نه دي، دويم جواب کوي، **ولكثرة مباحثه** اى الخبر، او العزة للتكاثر دى، دويمه شبه کوي چې **ثم قدم** اى الماتن ، **احوال الاسناد على احوال المسند اليه والمسند**، دا يو شبه شوه، نو شبه دا شوه ترجيح بلا مرجح راغله، **مع** سره دويمه شبه کوي چې ترجيح بلا مرجح در کنار ترجيح المرجوح راغله، **مع تاخير النسبة عن الطرفين**، اسناد خو نسبت دى او نسبت انتزاعي وي، او انتزاعي مؤخر د منشى نه وي، نو ترجيح المرجوح راغله **لان البحث** سره جواب کوي، ويل **لان البحث هنا انما هو عن احوال اللفظ الموصوف** خو د ذات د لفظ نه نه، وائي **بكونه مسندا اليه او مسنداً** د ذات د زيد د احوالو نه بحث نه کوو، د ذات دقائم د احوالو نه بحث نه کوو، يا هلکه مونږ د احوالو د زيد نه بحث هله کوو، چې زيد کې وصف د مسند اليه توب راشي د احوالو د قائم نه بحث هله کوو، چې وصف د مسند راشي **وهذا الوصف انما يتحقق بعد تحقق الاسناد** نو تتمة د جواب د بهر نه وکړئ فکان الاسناد موقوفاً اليه، والمسند اليه والمسند موقوفان عليه، والموقوف عليه مقدم على الموقوف فلذا قدم احوال الاسناد على احوال المسند اليه والمسند اوس شارح والمتقدم سره غرض يا منشاء د غلطى د معترض ذکر کوي، چې مقدم چې دى په نسبت باندې نو ذات د طرفينو دى، ته وائي خطاء شوى يې تا فرق نه دى کړى په وصف د طرفينو او په ذات د طرفينو کې، يا غرض د شارح په والمتقدم سره، دفع د اعتراض کوي، چې يا هلکه ستا د کلام نه، جواب نه معلوم شو چې مسند او مسند اليه موقوف دى په اسناد پورې او متقرر عندهم دا ده چې اسناد موقوف دى په مسند، مسنداليه پورې، نو دور لازم شو، نو فما المفر عنه د دې دور نه بيا څنګه ځان خلاصوي، نو دى جواب کوي، چې **والمتقدم على النسبة انما هو ذات الطرفين** يا هلکه دَور نه لازميږي جهت يو نه دى، ما چې وويل چې مسنداليه او مسند موقوف دى اسناد موقوف عليه دى، نو موقوف وصف د مسنداو مسنداليه

شو، ذات نه دی، او خلک چې وائي چې مقدم په اسناد باندې دی مسندالیه او مسند. یعنې مسندالیه اومسند موقوف علیه دی او اسناد موقوف دی، هغه ذات د طرفینو دی، نو جهت یو نه شو، موقوف طرفین شو په اعتبار د وصف سره او موقوف علیه شو په اعتبار د ذات سره بل طرف نه ونیسئ، اسناد چې موقوف علیه شو د طرفینو په اعتبار د وصف سره، او اسناد چې موقوف شو طرفینو پورې نو په اعتبار د ذات سره، نو دَور لازم نه شو. معترض راغلی شبه یې وکړه چې یا هلکه ذات د طرفینو غواړي تقدیم په اسناد باندې، او وصف د طرفینو غواړي تاخیر، نو ته رعایت د وصف کوي، او د ذات نه کوي، نو دا خو ترجیح بلا مرجح شوه، دی جواب کوي **ولا بحث لنا عنها** ویل نشته دی بحث مونږه معاشري د علماء د علم المعاني لره د دې ذات د طرفینو نه، ویل دا وجه دا ده چې مونږ د ذات د طرفینو د احوالو نه بحث نه کوو، بلکه د طرفینو داحوالو نه کوو په اعتبار د وصف سره کوو، د دې وجې نه ما رعایت د وصف وکړو او د ذات ونه کړو.

لاشک نه غرض د ماتن تمهید دی وروستو تر فینبغي پورې، وائي **لاشك ان قصد المخبر بخبره افادة المخاطب** خو فائده چې ورکوي مخبر خپل مخاطب ته نو یا د نفس نسبت او یا خپل علم مخاطب ته ښائي، چې څنګه ته عالم یې په خپل نسبت نو دغسې زه هم عالم یمه، شارح ورسره لګوي **ای من یکون بصدد الاخبار** دي سره غرض د شارح د فعه د اعتراض کوي، اعتراض دا وارد شو چې یا هلکه مخبر نه مراد به **من یتلفظ بالکلام الخبري** وي یعنې څوك چې تلفظ کوي په کلام خبري باندې نو هغه منحصر دی په دي دوو فائدو کې، نو دا خبره خو خطاء ده، ځکه چې بسا اوقاتو کې یو متکلم تلفظ په کلام خبري باندې کړی وي، او دواړه دغه فائدي په کې نه وي، لکه قول د امرءة عمران شو هغې وویل رب اني وضعتها انثی دا یو کلام خبري دی، او دي کې خو نه فائدة الخبر شته دی او نه لازم د فائدة الخبر شته دی، ځکه متکلم امرءة عمران ده او مخاطب الله پاك دی، او الله تعالی خو په دي نفسِ وضع ای وضع امرءة عمران انثی باندې عالم دی، او دارنګه الله عالم دی چې امرءة عمران عالمه ده په وضع د أنثی باندې، نو دواړه فائدي رانغلي، بلکه دلته کې مقصود د امرءة عمران تحزن او تحسر دی، خپل خفګان الله ته ظاهروي خپل افسوس الله ته ظاهروي، دارنګه حضرت زکریا علیه الصلاة والسلام چې وویل رب اني وهن العظم مني واشتعل الراس شیباً نو دا یې په کلام خبري باندې تلفظ وکړو، په دي کې دواړه فائدي نشته دی، ځکه الله عالم وو په ضعف د زکریا علیه السلام باندې، او دارنګه په دي باندې هم الله عالم وو چې زکریا علیه السلام په خپل ضعف عالم دی، نو دواړه فائدې رانغلي، بلکه غرض د حضرت زکریا خپل عجز او کمزورتیا الله ته ظاهروي، دارنګه نور هم شته دی، نو شارح راغلی جواب یې وکړو چې د مخبر نه مراد من یتلفظ بالکلام الخبري نه دی، مخبر نه مراد **من یکون بصدد الاخبار**، یعنې کوم ځای کې چې مخبر په قصد د خبر ورکولو کې وي، نو هلته کې به د ده دا کلام د دغه دوو فائدو نه خالي نه

وي، او امرءة عمران په قصد د اخبار کې نه ده، هغه خو په قصد د اظهار د تحزن اوتحسر کې ده، حضرت زکريا هم نه دی، نو هغه خارج شو، **والاعلام** دا الاخبار لپاره عطف تفسير شو، شبه، يا هلکه عطف تفسير نه خو څه غرض وي څه نکته وي دا د څه لپاره عطف تفسير کوي، جواب ويل عطف تفسير د دې وجې نه وشو چې اخبار اواخبار کې تجنيس خطي وو، نو پته رانغله چې دا اَخبار دی جمع د خبر، که نه اِخبار دی مصدر نو عطف تفسير يې راوړو چې والاعلام چې يا هلکه اِخبار دی او اَخبار نه دی، بيا شبه راغله چې بيا يې داسې ولې نه ويل چې من يکون بصدد الاعلام خو بس خبره به ختمه وه، د سره عطف تفسير ته به ضرورة نه وو راغلی نو تاسو ووايئ چې په هغې کې تجنيس خطي وو، اَعلام او اِعلام کې، نو هغی کې هم اشتباه ده نو ځکه يې هغه صرف ذکر نه کړو اوس که بيا څوک شبه وکړي دا خو بيا په اعلام کې تجنس خطي پاتې شو، ځکه چې والِاعلام دی او که والاَعلام دی، تفسير نه وروستو خو بيا هم اشتباه شته دی، تاسو ووايئ چې د تفسير نه وروستو اشتباه نه راځي، ځکه چې د مُفسِر او مُفسَر مصداق يو دی، نو د اعلام او د اخبار مصداق يو دی چې دواړه مصدر دي، مصدرين دي او د اَعلام او د اَخبار مصداق يو نه دی، ځکه چې اَعلام جمع د علَم ده او اَخبار جمع د خبر ده، نو د تفسير نه وروستو اشکال اواشتباه نه پاتې کيږي، **والا** سره غرض د شارح اشاره کوي فائدې د تفسير ته چې ما تفسير د مخبر من يکون بصدد الاخبار والاعلام سره ولې وکړو؟ نو فائدي د تفسير ته اشاره کوي، نو وائي والاترجمه د الادا ده چې که د مخبر نه من يکون بصدد الاخبار نشي، بلکه من يتلفظ بالجملة الخبرية شي نو بيا **فالجملة الخبرية كثيرا ما تورد لاغراض اخر** .اُخر ځکه شو **غير افادة الحكم ولازمه** ،نه په هغې کې فائدة الخبر وي او نه لازم د فائدة الخبر وي، هغه اُخر دا دی مثل **التحسر والتحزن في قوله تعالى** حال كونه حكايةً عن امرءة عمران: رب اني وضعتها انثى. وما اشبه ذلك. لکه د حضرت زکريا عَلَيْهِ السَّلَامُ قول رب اني وهن العظم مني واشتعل الراس شيباً، دارنګه ما اشبه ذلك ﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴾ دارنګه لايستوى القاعدون غير اولى الضرر. **بخبره** شارح ورسره لګئ متعلق بقصد اشاره ئې اوکړه دا ظرف لغوي دی او مستقر نه دی دويم اشاره وکړه دفع د اعتراض ته چې يا هلکه بخبره متعلق به وي مخبر پورې، ځکه هغه قريب دي، اواصل په تعلق کې قرب دی، نو بيا خو ذکر د خبر مستدرک شو په بخبره کې، ځکه د مخبر نه خبر معلوميږي، معنی به دا شي بيا چې مخبر په خبر سره، نو چې مخبر وي نو خبر ورکوي کنه، نو استدراك لازم شو، نو ده جواب وکړو چې **متعلق بقصد** اشاره يې وکړه چې المخبر پورې متعلق نه دی چې استدراك لازم شي دا متعلق دی د قصد پورې، دا قصد په خبر خپل سره **افادة المخاطب** شارح ترکيب کوي چې، خبران چې ترکيب کې دا خبر د اِن شو، **اما الحكم** شبه يا هلکه الحکمَ منصوب دی د نصب لپاره دوولس طريقې دي، دا منصوب بنابر څه دی؟ شارح وويل،

مفعول الا فادة او كونه تعيين د مرجع كوي، چې **اي كون المخبر** يا كيدل د مخبر **عالماً به**، اى بالحكم، اوس حكم په ډيرو معانيو سره راځي، نو شارح **والمراد** سره تعيين د حكم كوي، تعيين د ماهو المراد كوي، نو وائي **والمراد بالحكم ههنا وقوع النسبة او لا وقوعها** مراد دى، وقوع د نسبة عبارة دى د نسبت تام خبري ايجابي نه او لاوقوع عبارة دى د نسبت تام خبري سلبي نه، او يو ايقاع او انتزاع دى، ايقاع عبارة دي د تصديق نه په نسبت تام خبريه ايجابيه باندې، انتزاع عبارة دي د تصديق نه په نسبت تام خبريه سلبيه باندې، **وكونه** سره غرض د شارح دفع د اعتراض كوي، چې يا هلكه بيا معنى دا شوه چې فائده رسول دي مخاطب ته د نفس نسبت او يا د كون د مخبر عالماً بالنسبة، نو چې د مخاطب علم په دي نفس نسبت باندې وي، نو دغه دي متحقق په نفس الامر كې وي، يا د مخاطب علم راغى چې دغه مخبر عالم دى په دې نفس نسبت باندې نو دغه نسبت دي په نفس الامر كې هم راشي، نو بيا خو صد د باب د كواذبو راغى، بيا خو اخبارات ټولو صوادق شو، حالانكه دوى تقسيم كوي چې اخبارات څنې صوادق دي او څنې كواذب دي، نو بيا خو دا تقسيم صحيح نه شو، نو شارح راغلى جواب يې وكړو چې ته پوهه شوى نه ئي، علم د مخاطب په نفس نسبت باندې راتلل دي سره دا ضروري نه ده، چې په نفس الامر كې دي هم وي، مستلزم ديته نه دى، نوكه په نفس الامر كې وي دغسې چې زمونږ علم راغلى، نو صادق شو او كه نه وي نو كاذب شو، نو څكه وائي **وكونه اي الحكم مقصودا للمخبر بخبره لا يستلزم تحققه اي الحكم في الواقع**، حتى چې لازم شي كون د اخباراتو كلها صوادق او صد د باب د كواذبو راشي، دويم غرض د شارح د وكونه نه توطيه تمهيد اړدي، د دې وهذا مراد من قال لپاره، چې ومن قال والا ظاهري عبارة خو خطاء دى، نو تاويل به كوو، نو هغه تاويل د مخكې نه كوي چې دا تمهيد شي د هغې داصحة لپاره، وهذا، دا عدم استلزام تحقق واقعي لره **مراد من قال ان الخبر لا يدل على ثبوت المعنى وانتفائه** نو اوس د ده دا كلام ظاهراً خطاء دى، څكه زيد قائم چې ما تا ته وويل نو دې خو دلالت په ثبوت د معنى باندې وكړو او ما تاته وويل چې زيد ليس بقائم نو دي دلالت په عدم قيام باندې وكړو، نو دى څنګه وائي چې ان الخبر لايدل على ثبوت المعنى وانتفائه څكه زيد قائم دلالت په وقوع باندې وكړو، او عدم قيام احتمال عقلي دى، او زيدليس بقائم دى، دلالت په عدم وقوع باندې وكړو او وقوع احتمال عقلي دى، نو شارح وويل چې د ده هم دغه مطلب دى چې خبر لايدل على ثبوت المعنى وانتفائه، چې په ثبوت نفس الامري او انتفاء نفس الامري باندې نه كوي، **والا** سره غرض د شارح، باعث د دې تاويل ذكر كوي، چې په دې قول د من قال كې تاويل لپاره ما لره باعث دا دى چې والا چې كه چيرته دا مراد نه شي بلكه ظاهري عبارة مراد شي نو فلا يخفى دا خو خطاء دى اعتراض دى پرې دپاسه، چې ان مدلول قولنا زيد قائم ومفهومه يعني مفهوم د دې قول، دا مفهوم تفسير دى د مدلول لپاره، او غرض د تفسير نه اشاره كوي ترادف ته، چې مدلول او مفهوم دواړه مترادفين دي، چې ان

القيام ثابت لزيد وعدم ثبوته اى القيام له، اى لزيد احتمال عقلى لامدلول ولامفهوم للفظ، وفي نسخة لامدلول اللفظ ولامفهومه، فليفهم كې اشاره وشوه ديته چې تقسيم د خبر صادق او كاذب ته په اعتبار د نفس الامر سره دى، چې دغه مدلول ثبوتي يا عدم ثبوتي كه نفس الامر سره مطابق شو نو صادق شو كه نه شو نو كاذب شو، دويم **فليفهم** كې ديته اشاره وشوه چې دا عدم ثبوت دا احتمال عقلي دى، او مدلول او مفهوم د لفظ نه دى، د دې وجې نه خلكو په تعريف د خبر كې ويلي دي **ما يحتمل الصدق والكذب** او دا يې نه دي ويلي چې **مايوضع للصدق والكذب** ځكه چې د خبر وضع خو د صدق او د كذب لپاره نه وى، ځكه وضع خو لپاره د ثبوت وى او يا د وقوع او لاوقوع لپاره وى، خو احتمال په دي كې د صدق او د كذب دواړو شته دى په اعتبار د مطابقت نسبت نفس الامري سره.

ويسمى الاول شارح ورسره لګوي، **اى الحكم الذي يقصد بالخبر افادته** د دې عبارة نه غرض د شارح يو تعيين مصداقي د اول كوي، دويم غرض د شارح دفع د توهم كوي، چې يا هلكه د اول نه مراد به علم د مخاطب وي په نسبت باندې؟ نو شارح جواب وكړو چې نه! علم د مخاطب په نسبت باندې مراد نه دى، اول نه مراد نفس نسبت دى، ترجمه... نو دا اول معلوم شو. **فائدة الخبر** ديته فائدة الخبر وائي، **والثاني** شارح ورسره لګوي، **اى كون المخبر عالماً به** د دې نه تعيين مصداقي د ثاني كوي، دا يو غرض، دويم غرض دفع د توهم كوي، چې د علم نه مراد به علم د سامع وي په دې كون باندې اى كون المخبر عالماً؟ ويل نه،نه، د ثاني نه مراد دغه معلوم دى چې **كون المخبر عالماً به** په دې حكم باندې، او كون علم دى، او علم د سامع په كون مراد نه دى، ديته وائي **لازمها** شارح تعيين د مرجع كوي اى لازم فائدة الخبر ورته وائي **لانه كل ما افاد الحكم** سره، غرض د شارح يو دليل وائي د متن لپاره چې دې اول ته فائدة الخبر ملزوم وائي او دې دويم ته لازم د فائدة الخبر وائي، نو لازم او ملزوم كې قانون دا دى چې ملزوم چيرته راشي نو لازم راځي، او لازم چيرته راشي نو ملزوم به نه راځي، ځكه ملزوم خاص دى او لازم عام وي، تحقق د خاص مستلزم دى تحقق د عام لره او عكس نشته دى، نو د دې لپاره دليل وائي يعني متن لپاره دليل وائي، دويم غرض د شارح تعيين د لازم كوي، چې يا هلكه لازم خو دوه قسمه دى، يو لازم اعم وي او بل لازم مساوي وي، نو دا لازم مساوي شو او كه لازم اعم شو؟ نو شارح تعيين كوي او تعيين يې په دې تكي سره وكړو چې **وليس كل ما افاده** سره، نو د دې نه معلوم شوه چې د لازم نه مراد لازم اعم دى، لازم مساوي نه دى مراد، دريم غرض د شارح دفع د اعتراض كوي، چې يا هلكه تا اول عبارة وويل د نفس نسبت تام خبري نه، او ثاني تا عبارة وويل د كون نه چې هغه هم معلوم دى، نو دغه لزوم به هم په دې معلومينو كې وي؟ نو معلومينو كې خو لزوم نه شي راتللى، ځكه چې بيا خو ترجمه دا شوه چې چيرته كې نفس نسبت راځي نو بس كون به راځي، او چيرته چې كون راغلى نو نفس نسبت نه راځي، دې كښې خو ملزوم نه شي راتللى، نونفس نسبت ځان له معلوم دى او كون ځان له معلوم

دی، دې کې د سره تلازم نشته، دا لازم او ملزوم د سره دي نه، نواول او ثاني خو د معلوم نه عبارة شو، او دا لزوم به هم په دې معلوم کې وي؟ نو معلوم کې خو لزوم نه جوړيږي، نو شارح جواب وکړو چې لزوم په معلومينو کې نه دی بلکه لزوم په علم کې دی، تسمية په اعتبار د معلوم سره ده، او لزوم په اعتبار د علم سره دی، داسې چې چيرته د مخاطب علم په نفس نسبت باندې راغی نو علم په کون باندې راځي، چې دا مخبر په دې نفس نسبت باندې هم عالم دی، او عکس نشته دی، چې چيرته د مخاطب علم راغی په دې کون باندې، چې مخبر هم عالم دی دا ضروري نه ده چې په نسبت باندې دې علم راشي، ځکه جائز ده چې هغه دې مخکې مخاطب ته معلوم وي، نو لزوم عالمينو کې شو، علم په نفس نسبت باندې او علم په کون باندې په دې کې لزوم شو او لزوم معلومينو کې نه دی.

څلورم غرض د شارح دفع د اعتراض ده يا هلکه لزوم خو دوه قسمه دي يو لازم تحققا دی، او بل لزوم صدقاً دی، نو په دې کې لزوم به صدقاً وي؟ نوصدقاً خو لزوم په دې کې نه شي صحيح کيدای، ځکه چې علم په کون باندې دا نه صادقيږي، په علم په نفس نسبت باندې، داسې خو نه شي ويلی چې **علم السامع بالنسبة** علمه بالکون حمل نه شي کيدای، ځکه دا خو متبائنين دي، ځکه چې معلومين متبائنين شو نو علم خو خامخا متبائنين کيږي، نو صدقا خو دې کې لزوم نه شي راتللی، حملاً نه شي راتلی، شارح **لانه** سره جواب وکړو چې دې کې عموم او خصوص(دی)، لازم او ملزوم په اعتبار د تحقق سره دی، صدقاً نه دی، ځکه کل ماسره يې وويل او کل ما تحقق لپاره راځي، نو ويل کل ما افاد وقال الاستاذ کل ما وعندي في نسخة التجريد کيف **ما حققته** الحکم، ترجمه: هر کله چې فائده کړه علم د سامع(**ای فاعل افاد علم السامع**) په نفس نسبت باندې نو **افاد انه** ای المخبر والمتکلم، **عالم به** نو علم په کون باندې يې فائده کړو، **وليس** د دې نه مراد غرض د قيد دا شو چې لازم مساوي نه دی لازم اعم دی، دا نه دی **کل ما افاد** السامع انه **المخبر** عالم بالحکم نو کون باندې علم راغلو، نو افاد **للسامع** نفس الحکم، يعني د نفس نسبت علم وشي نو دا ضروري نه دی (عدم الضرورة مستفاد من کلمة ليس فافهم) چې د دې خبر نه په نفس نسبت باندې دې علم راشي دا ضروري نه ده، ځکه لجواز، د ليس لپاره دليل دی، وائي **لجوازان يکون الحکم معلوماً قبل الاخبار**، ځکه چې جائز ده چې سامع ته دی علم په نفس حکم باندې مخکې د اخبار د مُخبر نه دي وي، مثال داسې شو لکه **کما في قولنا لمن حفظ التوراة قد حفظت التوراة** دلته کې تا علم د سامع په کون باندې راوستو چې دغه مخبر، متکلم زما په دې حفظ باندې عالم دی ځنګه چې زه عالم يم، او په نفس حکم باندې علم رانغی، ځکه هغه خو مخکې ورته حاصل وو.

اوس شبه راغله په دې دويم دغه باندې (قسم د قصد المخبر بخبره باندې چې لازم د فائدة الخبر دی کذا استفيد من السياق والسباق وقول الشيخ ليکن لفظ يې په دې دويم دغه باندې استعمال کړو فافهم

یعني: دویم دا دی چې) کوم وخت چې سامع د اخبار د متکلم نه مخکې په نفس حکم باندې عالم شو، لکه حفظ د تورات باندې دی مخکې عالم وو، خو **حفظت التوراة** سره د ده علم راغی په کون باندې چې دا مخبر زما په حفظ باندې هم عالم دی، لکه څنګه چې زه عالم یمه، (نو په دې اعتراض راغی چه) نو بنایه دې باندې بیا دیته فائدة الخبر څنګه وائي، (دې علم د سامع ته علی حفظه)، فائدة الخبر خو دیته وائي چې کومه فائده حاصله شوې وي د خبر نه، او د دې خبر نه خو دغه فائده حاصله نه شوه، نو دیته فائدة الخبر څنګه وائي؟ نو شارح راغلی جواب یې وکړو، چې فائدة الخبر دیته د دې وجې نه نه وائي چې د دې خبر د وجې نه په حفظت التوراة سره، دی سامع ته یې فائده ورکړه بالفعل، دې اعتبار سره مونږ دیته فائدة الخبر نه وایو، بلکه دیته فائدة الخبر بالقوة وایو، داسې بالقوة چې که مونږه فرض کړو چې زمونږ علم د سامع په حفظ د توراة باندې نه وو او متکلم ورته وویل چې حفظت التوراة نو علم د سامع په نفس حکم باندې راغلی، نوشان د دې بالقوة دا دي چې دا فائدة الخبر کیدای شي اګر چې بالفعل فائدة الخبر دا نه دی، ویل وتسمیة مثل هذا الحکم چې سامع ته معلوم وي د متکلم د القاء نه مخکې **فائدة الخبر** سره **بناء علی انه من شانه ان یقصد بالخبر ویستفاد منه** یعني بالقوة حاصلیدی شي اګر که بالفعل نه دی حاصل **والمراد** سره شارح دفع د اعتراض کوي، په دې اوله ملازمي باندې اعتراض وارد شو، چې یا هلکه زه به درته وښایم، په دې اوله ملازمه باندې چې علم د سامع په نفس باندې راغی نو علم د سامع په کون باندې راځي، دې باندې اعتراض وارد شو، ویل دا ملازمه زه نه منم، ځکه چې مخبر، متکلم ته ئې، تا دې ته دا کلام وغورځولو چې زید قائم او ده ته ثبوت د قیام د زید معلوم نه وو، او تا ورته وویل چې زید قائم نو د ده علم په نفس حکم باندې راغلی، خو ستا خپله چې دا قول دې هم کړی او شك وي په قیام د زید کې، یا قیام د زید تا ته مرجوح وي، یا قیام د زید تا ته راجح وي، نو علم په کون المخبر عالماً باندې رانغلی ځکه علم خو یقین ته وائي، مخبر خو شاك دی یا متوهم دی یا مخبر ظان دی، نو عالماً خو نه شو، نو دلته علم په نفس حکم راغلی او په کون المخبر عالماً باندې رانغی، ځکه مخبر خو عالماً نه دی بلکه شاکاً یامتوهماً یا ظاناً دی، نو دا اعتراض بنا شو په مذهب د متکلمینو باندې، ځکه د هغوی په نزد علم عبارة دی دیقین نه، شارح راغلی جواب یې وکړو، چې ګوره دلته کې د علم نه علم د متکلمینو مراد نه دی، علم نه علم د حکماءُ مراد دی د منطقیانو، او د منطقیانو په نزد علم دیته وائي چې حصول صورة الشئ في الذهن او په عقل کې وایئ، نو اوس تا ده ته یعني مثلاً عمرو ته دې وویل، زید قائم نو د ذه علم په نفس حکم باندې راغلی، نو د ده علم په دې باندې هم زاغلی چې د دې **زید قائم** صورت د دې مخبر په ذهن کې شته دی، نو ځکه ده وویل **والمراد بکونه ای المخبر** عالماً بالحکم حصول صورة الحکم في ذهنه، بیا معترض شبه وکړه چې یا هلکه صورة د حکم سره د حکم تلازم نه راځي، ځکه چې مثلاً ته ویدۀ یې او تا دې ته وویل چې زید قائم نو د ده علم په نفس حکم باندې

راغی او کون المخبر عالماً باندې خو رانغی، خکه چې د دې مخبر په ذهن کې صورة خو نشته دی، هغه ویده دی، ویده سړی خو تصور نه کوي، یا ته بې هوشه وې او تا ده ته په حالت د بې هوشی کې وویل زید قائم او یا ته لیونی وې او تا وویل زید قائم محض د خولې نه دې تلفظ وکړو، نو د ده علم په نفس حکم باندې راغی او کون المخبر عالماً باندې رانغی، حصول د صورة خو په ذهن د مخبر کې نشته دی، خکه لیونی ویده او بې هوشه تصورونه نه کوي، تاسو وایئ چې د مخبر نه من یتلفظ بالجملة الخبریة مراد نه دی، د مخبر نه مراد من یکون بصدد الاخبار دی، او من یکون بصدد الاخبار ویده سړی نه شي کیدای، دارنګې مغمی علیه او مجنون نه شي کیدای.

شارح هسې مونږه او تاسو خوشحالوي (**قال الشیخ ذلك ضاحكاً، لا مراداً عن الكلام**) ویل ههنا ابحاث شریفة لیکن ویل دا کتاب مختصر دی دلته ما نه دي ویلي **سمحنا بها في الشرح** مونږه سخا کړي ده جوانمردي کړې ده په دې ابحاثو باندې په شرح کې، چې ما ذکر کړي دي، چې ما تاسو ته وویل دلته په مختصر کې او څه تاسو هلته مطول کې ویلي دي، دا کافي دي.

وقد ینزل المخاطب بهما د دې نه غرض د ماتن دفع د اعتراض کوي، اعتراض دا وارد شو، چې یا هلکه ستا یو مخاطب وي، هغه عالم وي په فرضیت د صلوة باندې او په دې باندې هم عالم وي چې زما دا متکلم عالم دی په فرضیت د صلوة باندې، لیکن هغه سامع مخاطب مونځ نه کوي، عالم خو په دواړو باندې دی، په فائدة الخبر باندې هم دی او په لازم د فائدة الخبر باندې هم دی، خو په خپله مونځ نه کوي، نو چې اوس ته ورته ووایې چې یا هلکه الصلوة فرض یا الصلوة واجبة نو دا اوس تا ورته یو کلام وروغورځولو او په دې کې خو فائدة الخبر او لازم د فائدة الخبر رانغی؟ دواړه رانغلل، نو دا مخکې چې تا حصر وکړو چې څوك چې په صدد د اخبار کې وي نو د هغه کلام به د دغه دوو فائدو نه خالي نه وي، نو دا خو صحیح نه شو، خکه دلته کې کلام خو شته خو دواړه فائدي نشته دی، ماتن جواب وکړو چې داسې عالم داسې دی لکه د جاهل په شان، چې د جاهل په شان شو نو دې کې فائدة الخبر راغی او لازم هم راغی، یعنې یو عالم چې په خپل علم عمل نه کوي نو دې د جاهل په شانتې دی، ده ته لاچا عالم ویلي دي (د دې نه بعد شیخ په ډیره غصه کې ماسیاتي تقریر وکړو) ده ته چا عالم نه دی ویلی، عالم خو په عمل سره عالم کیږي، بلکه الله ورته کلب، سپی ویلی دی، سپی دی ﴿ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ ۚ إِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ ﴾ الله ورته خر ویلی دی ﴿ كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا ﴾ دی، نو چې الله عالم سوء ته خر اوسپی ووائي نو مونږه توقف کولی شو؟ خلک وایي علماء دي علماؤ ته څه مه وایئ، یا هلکه علماء دوه قسمه دي: ۱ یو علماء ربانیین دي چې باعمله دي، هغوی ته مونږ هیڅ نه وایو هغوی ته زمونږ سلام دی ۲ یو هغه عالم دی چې بد عمله دی، هغه ته چې الله سپی وائي، نو ته به ورته سپی نه وائي؟ که ته

ورته سپی نه وائي، نو تا د قران نه خلاف وکړو، که ته ورته خر نه وائي نو تا د قران نه خلاف وکړو، ته ورته سپی نه وائي نو تا د پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه خلاف وکړو، پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وائي: منهم تخرج الفتنة وفيهم تعود د هر عالم احترام نشته دی، د هغه عالم احترام به کوي، چې باعمله وي، چې کوم با عمله وي، نو مونږ د هغه احترام کوو، مونږ د هغه د پښو خدمتګاران یو هغه ته زمونږ سلام دی او کوم چې بې عمله وي نو مونږ د هغه دشمنان یو، هغه ته مونږ نسبت کوو، ځکه چې د ده نه خلک ځان وساتي، او الله ویلي دي: ﴿ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ الْأَحْبَارِ وَ الرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ ﴾ صریح الفاظو سره الله ویلي دي څه کنایه په کې نشته دی، کثیراً... ډیر د پیرانو او د مولیانو نه، احبار جمع د حبر ده، حبر عالم ته وائي، حبر عالم مدقق ته وائي، جامع المعقول والمنقول ته وائي، لیاکلوا اموال... لام تاکید ابتدائیه دی، ﴿ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللهِ ﴾ نو ته به خلکو ته دا ایت نه بیانوي؟ چې یا هلکه دا عالم نه دی، غل دی، ډاکو دی، ده نه ځان وساتئ، ستاسو جیبونه پریکوي، سنت درنه اخلي، توحید درنه اخلي، او طاعت درنه اخلي، دا به بیانوئ خلکو ته، عبد الله بن مبارك څکه وائي کنه چې دري قسمه خلک دي د هغوی سره دین سمیږي، او دغه دریو کسانو سره دین بربادیږي هم، علماء سوء، غلط پیران او غلط حکمرانان، او قران هم په دې باندې ګواهي کوي، غلط پیرانو او مولیانو سره دین خرابیږي ان کثیراً من الاحبار والرهبان قران وویل، او غلط حکمرانانو سره دین فاسدیږي، ﴿ وَ كَذٰلِكَ جَعَلْنَا فِيْ كُلِّ قَرْيَةٍ أَكٰبِرَ مُجْرِمِيْهَا ﴾ دا ټول فساد د مشرانو او حکمرانانو نه پیدا کیږي، او د دوی سره دین سمیږي هم، وما افسد الدین..... دوی سره سمیږي قران پرې ګواه دی، ﴿ذٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيْسِيْنَ وَ رُهْبَانًا وَّ أَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ﴾ دي نصاراؤ کې حق پرست علماء په کې وي ورهباناً حق پرست پیران په کې هم موجود وو، نو د دوی صفت وشو چې د حق پرستو مولیانو او پیرانو سره دین سمیږي، او دریم وهم لایستکبرون ورسره مال وو، بادشاهي وه خو تکبر یې نه کولو، نو لایستکبرون کې یې اشاره وکړه حکمرانانو ته، هغه حکمرانان چې هغوی د الله د حکم تابعدار وو اطاعت یې کولو.

بهما شارح تعیین د مرجع کوي **ای بفائدة الخبر ولازمها** منزلة الجاهل شبه یا هلکه عالم بهما په منزل د جاهل چې تا وګرځولو نو په دې باندې اثرِ مرتبه څه شی شو؟ ویل اثرِ مرتبه دا شو فیلقي الیه الخبر وی مخکې تنزیل نه ورته خبر غورځول صحیح نه وو او د تنزیل نه وروستو ورته خبر غورځولی شی، نو اثرِ مرتبه وې دا شو، **وان کان عالماً بالفائدتین** حال دا دی چې دي عالم وي په دواړو فائدتینو باندې شبه یا هلکه ته عالم بالفائدتین په منزله د جاهل ګرځوي په زور سره؟ نو زور سره خو تنزیل د عالم بالفائدتین بمنزلة الجاهل بهما خو نه شي ګرځولی، ویل نه لعدم جریه علی موجب العلم، مقتضی د علم باندې،

شارح دليل لپاره دليل وائي تدقيق کوي، وائي څکه **فان من لايجرى على مقتضى علمه** چې عمل دی **هو والجاهل سواء كما تقول للعالم التارك للصلوة، الصلوة الواجبة.**

وتنزيل العالم بالشئ د دې نه غرض د شارح دا دی چې په تنزيل کې صُور ثلثة ذکر کوي، چې په دې مقام کې درې صورتونه دي: ۱ ماتن ذکر کړو، دوه زه ذکر کوم، نو تحقيق المقام کوي په بيان د صُور ثلاثه ؤ سره لپاره د تنزيل د عالم بمنزلة الجاهل لپاره، نو اول صوُرت دا شو، تنزيل د عالم بالفائدتين بمنزلة الجاهل، دويم صورت دا دی، تنزيل د عالم بالشئ بمنزلة الجاهل، دريم صورت دا دی چې تنزيل د وجود د شئ بمنزلة العدم، نو هر ثاني د اول نه عام شو، څکه چې تنزيل د عالم بالشئ **بمنزلة الجاهل** دا عام دی د تنزيل د عالم بالفائدتين نه، او تنزيل د وجود الشئ بمنزلة العدم چې علم وي که غير علم وي، دا عام دی د تنزيل د عالم بالشئ بمنزلة الجاهل نه نو هر يو ثاني عام شو د اول نه، ويل تنزيل العالم بالشئ اخوا ته فائدتين وي او که څه شی وي **بمنزلة الجاهل به** په دغه شئ باندې شبه يا هلکه د څټ نه به يې نيسي او تنزيل د عالم بالشئ بمنزلة الجاهل به يې جوړوي؟ ويل نه نه، **لاعتبارات خطابية** د هغه امورو د وجې نه چې معتبر کړی وي متکلم داسې امور چې مفيد لپاره د ظن به وي مفيد د يقين به نه وي **كثير في الكلام** (دا تنزيل العالم بالشئ كثير في الكلام) الكلام: کې الف لام استغراقيه کوئ، يعنې په مطلق کلام کې، چې کلام الله وي که کلام الرسول وي او که کلام د فصحاء او بلغاء وي ومنه وائي بعضې د دې تنزيل نه قوله قول د الله تعالى دی: ﴿ وَلَقَدْ عَلِمُوا لَمَنِ اشْتَرٰىهُ مَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ۚ وَ لَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهٖۤ اَنْفُسَهُمْ ۚ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴾ نو لامتنعوا، ترجمه: اويقينا عالم وو دغه يهود په هغه چا باندې چې غوره يې کړو دې سحر لره، نشته دی د دې مَنْ لپاره په اخرت کې څه حصه د ثواب، او ډير بد دی هغه چې غوره کړو دې يهودو په دې سره نفسونه خپل، که دوی عالم وی نو دوی به منع شوي وو، ليکن دوی عالم نه وو نو منع نه شو د دې سحر نه، نو اوس ګوره د دې عجز د کلام او د صدر کې منافاة راغی، په صدر کې الله لام تاکيد يه موطئه للقسم او قد تحقيقيه سره وائي، چې دوی عالم وو، او اخر کې وائي چې لو کانوا يعلمون دوی عالم نه وو، نو تدافع راغله په صدر الکلام و عجزه کې ليکن دلته کې الله علم د دوی نازل کړو په منزله د عدم علم کې، څکه چې علم په حرمت د سحر باندې، مقتضی يې اجتناب وو د سحر نه، خو دوی د سحر نه اجتناب ونه کړو، بلکه په سحر کې يې شروع وکړه، نو ګويا چې دوی په دې حرمت د سحر باندې جاهل شو، نو څکه الله نفي د علم وکړه، او دا عدم عمل په علم باندې دليل قطعي نه شي کيدای، دليل ظني دی، خو خلک راجح ګمان دا کوي چې دا سړی په دې خبره عمل نه کوي، نو د ده علم به په دې مسئله باندې نه وي، نو څکه يې لاعتبارات خطابية ويلی دی، بَلْ سره دويم صورت ذکر کوي، تنزيل وجود الشئ منزلة عدمه کثير دير

دي، منه وائي بعضي د دې نه **قوله تعالى** ﴿وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ﴾ نودلته کې نفي د رمي يې هم د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وکړه او اثبات يې هم وکړو، نو دا متنافيين شو، ليکن دلته کې دوه څيزونه وو، يو ابتداء د فعل ده، چې يو موتى شکه په لاس کې اخيستل او د کفارو طرف ته ګوزارول، دا ابتداء د فعل ده دا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اختيار کې وه، يو انتهاء د فعل وه چې دا يو موتى شکه د کافرو سترګو ته رسيدل او بيا شمکوريدل، راننده کيدل، دا انتهاء د نبي عليه السلام په اختيار کې نه وه، او مقصود د متکلم په فعل سره انتهاء وي ابتداء نه وي، نو هغه نفي د انتهاء يې ترينه وکړه، نو وئې ويل چې ومارميت تا نه دي رسولي شکو لره د کافرو سترګو ته اذ رميت کله چې تا د لاس نه ګوزارولې؛ يعنې رسوول او شمکورول کار زما وو، دا ستا په اختيار کې نه وو، فينبغي، شبه: يا هلکه فاء خو د ډيرو معنو لپاره راځي دلته کې دا کومه فاء ده، شارح وويل دا فاء فصيحيه ده جزاء د شرط محذوفه لپاره، ای **اذا كان قصد المخبر بخبره افادة المخاطب فينبغي، ان يقتصر من التركيب** ترکيب الکلام نه **على قدر الحاجة** چې د مخاطب څومره ضرورت وي نو متکلم به په کلام کې هغومره ترکيب او الفاظ به ذکر کوي، کمی زياتی به نه کوي، ځکه حذرا عن اللغو نواوس راشه **فان كان المخاطب** دا فاء تفصيليه ده کومه چې په فان کان کې راغلې ده دا فصيحيه نه ده، خالي الذهن من الحكم والتردد فيه، ای **لايكون**: سره شارح دفع دا اعتراض کوي، اعتراض دا وارد شو چې يا هلکه ته د حکم نه څه اراده کوي؟ يا به ته د حکم نه نسبت اراده کوي او يا به اعتقاد او تصديق به اراده کوي، بله معنی خو د حکم دلته کې نه صحيح کيږي، که د حکم نه ته نسبت اراده کوي بيا ترجمه دا شوه، که چيرته وي مخاطب خالي الذهن د نسبت نه، مخاطب نسبت په ذهن کې نسبت ايجابي، سلبي نه وو، **والتردد** او مخاطب خالي الذهن وو، د تردد نه په دې حکم کې، نو بيا خو **والتردد فيه** مستدرك شو، ځکه چې خلو د ذهن د حکم نه مستلزم ده خلو د تردد نه په دې حکم کې، ځکه چې حکم په ذهن کې رانغلو، نو تردد خو نه شي راتلی. ځکه ترد د خو حکم غواړي، نو بيا والتردد فيه مستدرك شو، او که د حکم نه ته اذعان اخلي اعتقاد، تصديق، نو بيا معنی دا شوه که مخاطب خالي الذهن وو د تصديق نه او د تردد نه په دې تصديق کې، نو بيا خو معنی فاسده شوه، ذکر د والتردد فيه خو مستدرك کيږي نه، خو تردد خو په تصديق کې نه شي کيدای. نو شارح راغلی د دې شبهې نه دوه جوابونه کوي: ۱ يو جواب ای لايكون سره کوي. دويم جواب **بل التحقيق** سره کوي، د اول جواب حاصل دا شو چې يا هلکه اختيار د شق اول کوم، زه د حکم نه نسبت يعنې وقوع او لاوقوع اخلم خو دلته کې حذف د مضاف دی، معنی دا شوه چې که چرته وي مخاطب خالي الذهن د تصديق نه په وقوع او لاوقوع باندې او خالي کيدل د ذهن د مخاطب د تصديق نه په وقوع او لاوقوع باندې دا مستلزم نه دی د خالي کيدو د وقوع او لاوقوع نه،

نو والتردد فيه مستدرك نه شو، هغې ته شارح اشاره وكړه، هغه مضاف محذوف ته چې اى لايكون المخاطب عالماً بوقوع النسبة او لاوقوعها ولامتردداً في ان النسبة هل هي واقعة او لا، نو فيه ضمير حكم ته راجع شو، دواړه ترجمې صحيح شوې، **وبهذا** سره شارح اشاره كوي هغه اعتراض ته چې ما اوس تاسو ته وكړو چې د نسبت نه ته څه مراد اخلي؟ نو وائي وبهذا زما په دې تفسير سابق سره چې دا ما كوم تفسير وكړو، اوحذف د مضاف باندې قول وكړو، تبين فساد ما قيل فساد د هغه اعتراض چې ويلى شوى دى، چې **ان الخلو عن الحكم يستلزم الخلو عن التردد فيه فلا حاجة الى ذكره** مستدرك شو كنه، نو وائي د دې اعتراض فساد ښكاره شو، **بل التحقق** سره دويم جواب كوي، د دويم جواب حاصل دا شو، چې د حكم نه تصديق اواعتقاد مراد دى، او كه ته وائي چې د والتردد فيه ضمير نه صحيح كيږي، نو جواب دا دى چې يا هلكه دا كلام بناء دى په صنعة الاستخدام باندې، د لفظ صريحي د حكم نه تصديق او اذعان مراد دى، نو د والتردد فيه ذكر مستدرك نه شو، فيه ضمير چې راجع كوم حكم ته نو مراد ترينه وقوع او لاوقوع دى، نو معنى فاسده نه شوه وائي **بل التحقيق ان الحكم**، يعنې اذعان، وتصديق **والترددفيه** اى الحكم **متنافيان**، دواړه په يو حكم كې نه شي جمع كيدى نو **استغني** شبه، يا هلكه دا لفظ أستغني دى كه اِستغني دى؟ وائي **على لفظ المبني للمفعول** وائي اُستُغني دى، څكه دي دواړو كې تجنيس خطي وو، نو دا يې څكه وويل على لفظ المبني للمفعول، شبه، يا هلكه مبني للمفعول ولى دي، حالانكه مبني للفاعل اشرف دي په نسبت سره مبني للمفعول ته اِستغني يې ولې نه ويل؟ ضمير به متكلم ته راجع شوى وو، جواب دا دى چې وائي دا لپاره د مناسبت دي د وروستو **حُسن تقويته** سره، او د وجب توكيده سره. دي سره د مناسبت د وجې نه يې مبني للمفعول وويل شبه: يا هلكه مناسبت څنګه راځي، هغه خو معلوم دى حُسن تقويته اودا مجهول شو، نو مناسبت خو رانغلى؟ جواب يا هلكه مناسبت په دې كې دي چې هغوى كې هم اسناد متكلم ته نه وو، نو دي كې هم اسناد متكلم ته ونه شو، او دلته به اسناد متكلم ته هله نه كيږي چې ته يې مجهول ووايي، او كه معلوم يې ووايي نو بيا خو متكلم ته اسناد كيږي، نو مناسبت په عدم نسبت المتكلم كې دى، مستغنى وي دعن مؤكدات الحكم دليل وائي **ليتمكن الحكم في الذهن** د دې لپاره چې دا حكم متقرر شي په ذهن كې، نو دا دليل د منفى لپاره شو، يعنې مؤكدات د حكم راوړي د دې لپاره چې ليتمكن الحكم في الذهن اوس دا حيثُ دا دليل دى د دې اُستُغنى لپاره چې خالي الذهن شو، نومستغنى د مؤكداتو نه څكه شو چې ويل **حيث وجده خالياً** د دې د وجې نه چې موندلى دى متكلم مخاطب لره خالي الذهن، نواوس عبارة ولګيدو **وان كان المخاطب مترددا فيه** اى في الحكم **طالباً له**، بان حضر، دا تصوير د متردد بنائي او د طالب، بان حضر في ذهنه طرفا الحكم، چې محكوم عليه او محكوم به دى، خو تحيّر في ان الحكم بينهما وقوع النسبة اولاوقوعها، نو بيا **حسن تقويته** بمؤكد، دا څكه دليل د متن لپاره وائي ليزيل ذلك

المؤكد ترددہ، شبہ، یا هلکه تردد چې زائل شي نو څه فائده به راشي، ویل **ویتمکن الحکم** فائده به دتمکین الحکم راشي، چې حکم به په ذهن کې ښه متقرر شي، لکن سره شارح په ماتن شبه کوي، اوخان له ځي، شبه داسې کوي چې د ماتن د کلام نه دا معلومه شو چې که مخاطب شکي وي نو تاکید په ان سره صحیح دی، ځکه ماتن بمؤکد ویلی دی او مؤکد انّ ته هم ورځي، او شیخ عبد القاهر، ویلي دي چې انّ سره تاکید د هغه مخاطب لپاره کیږي چې د هغه لپاره ظن وي په خلاف د ستا د حکم باندې، لکه مثلاً اوس ستا جانب راجحه دا وو چې زید په دار کې نشته دی، او وجود د زید في الدار ستا په ذهن کې ستا مرجوح وو، نو دغه وخت کې به زه تا ته ان زیداً في الدار ذکر کوم، او په مطلق جواب د متردد کې تاکید په ان سره نه کیږي، شیخ وائي، ځکه چې که په مطلق جواب کې په انّ سره جواب صحیح شي، نو بیا چې زه تا ته ووایم چې هل زید في الدار نو بیا خو جواب بغیر هسې د انّ نه نه صحیح کیږي، بس بیا خو ان زیداً في الدار به وائي، یواځې زید في الدار ویل صحیح نه شو، حالانکه صحیح دي، یا ما تا ته وویل چې کیف زید نو بیا به ته جواب کوي چې انه مریض بې د انّ نه هسې جواب نه صحیح کیږي، د دې خو هیڅ څوک قائل نشته دی، **لکن المذکور في دلائل الاعجاز انه** شان دا دی، **انما یحسن التاکید** په ان سره، دلته په التاکید کې الف لام خارجي دی، معهود ترینه تاکید بان سره دی، هغه وخت کې **اذا کان للمخاطب ظن في خلاف حکمك** دا شبه شوه اود ماتن د کلام نه دا معلومه شوه، تاسو جواب وکړئ، چې یا هلکه د ماتن مراد د مخاطب متردد نه عدم جزم دی، عدم جازم کیدل د مخاطب دی یعني که وي مخاطب متردد یعني غیر جازم، نو غیر جازم شك ته هم ورځي، او ظن ته هم ورځي

بل محل بنائي **وان کان المخاطب منکراً للحکم** د هغه نسبت وقوعي یعني هغه نسبت ایجابي یا سلبي نه، نو وجب توکیده، خو بحسب الانکار ای بقدره دي سره یې اشاره وکړه چې حسب په معنی د قدر سره دی، حسب په معنی د حساب سره نه دی، قدر د انکار دا دی چې قوةً وضعفاً په اعتبار د قوة او ضعف سره، یا هلکه تاکید په قدر د انکار سره څه معنی؟ ویل یعني **یجب زیادة التاکید بحسب ازدیاد الانکار** که انکار زیات وو نو تاکید کې به ته زیادة راولي او که انکار ضعیف وي نو تاکید کې به کمی راولي، دا ځکه ازالةً له لپاره د زائل کولو د انکار د مخاطب **کما قال الله تعالی** حاله کونه تعالی **حکایة ای ناقلاً عن رسل عیسی علی نبینا وعلیهم الصلاة والسلام حین ارسلهم الی اهل انطاکیة: اذ کذبوا في المرة الاولی**، نو دي پیغمبرانو ووېل انا الیکم مرسلون صرف دوه تاکیدونه یې راوړل، ﴿إِذْ أَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوهُمَا فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ فَقَالُوٓا إِنَّآ إِلَيْكُم مُّرْسَلُونَ﴾ پوره ایت داسې دی مؤکدا بان واسمیة الجملة شو، وفي المرة الثانیة او دویم ځل چې کافرو په انکار کې ترقي وکړه، ﴿قَالُوا مَآ أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَمَآ أَنزَلَ الرَّحْمَٰنُ مِن

ثمودُ إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا تَكْذِبُونَ ﴾ نو پيغمبرانو هم په تاکيد کې ترقي وکړه، چې ﴿ قَالُوا رَبُّنَا يَعْلَمُ إِنَّا إِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُونَ ﴾ مؤکدا بالقسم وانّ او لام دري او جمله اسميه ځلور دا ځکه **لمبالغة المخاطبين في الانكار حيث** ﴿ قَالُوا مَا أَنْتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُنَا وَمَا أَنْزَلَ الرَّحْمَنُ مِنْ شَيْءٍ إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا تَكْذِبُونَ ﴾ نو پيغمبرانو په تاکيداتو کې ترقي وکړه، **اذ كذبوا** سره شارح دفع د اعتراض کوي د متن نه، چې يا هلکه تا کذبوا صيغه د جمع ويلي ده، او تکذيب په مرة اولى کې د دوو پيغمبرانو شوی دی، نه د دريو واړو نو کذبوا صيغه د جمعي خو صحيح نه شوه، **اذ كذبوا** ويل په کار وو، شارح جواب کوي **وقوله** دا قول د ماتن چې **اذ كذبوا** مبني على ان تكذيب الاثنين تكذيب الثلثة، دا ځکه، دليل د بهر نه ووايئ، دا ځکه چې د وجې د اتحاد د مُرسِل او مرسَل به نه، ځکه مُرسِل حضرت عيسى عليه السلام وو او مرسل به مسئله د توحيد ده، د دريو واړو دغه مرسَل به مسئله يو وه، نو د دې وجې نه تکذيب د دوو تکذيب د ثالث شو، او قران هم پرې ګواه دی، چې د يو پيغمبر تکذيب د ټولو پيغمبرانو تکذيب دی ﴿ كَذَّبَتْ ثَمُودُ الْمُرْسَلِينَ ﴾ ﴿ كَذَّبَتْ عَادٌ الْمُرْسَلِينَ ﴾ ﴿ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ الْمُرْسَلِينَ ﴾ **والا** او که چيرته دغه تاويل ونشي، شارح د دغه تاويل مذکور وجه واني نو بيا خو **فالمكذب اولا اثنان**، هغه دروغژن کړی شوی په اول ځل کې دوه کسان وو، دوه پيغمبران وو دري نه وو.

دويمه شبه دا راغله چې يا هلکه دا رُسل د عيسى وو، نو بيا نسبت الله ځان ته ځنګه کړی دی چې اذ ارسلنا اليهم اثنين ترجمه: چې مونږه وليږل دوی ته دوه پيغمبران، نو تاسو جواب وکړئ چې رسالت من رسول الله دا بعينه داسې دی لکه رسالت من الله، نو ځکه الله ځان ته نسبت وکړو، چې زما د دې پيغمبر ليږل داسې دي لکه چې دوی ما ليږلي وو، دريمه شبهه راغله چې يا هلکه کافر خو په منافات باندې چې قائل وو، نو د رسول الله او د بشريت په منافات باندې قائل وو. د رسول البشر او د بشريت په منافات باندې نه وو قائل، نو هغوی ځنګه وويل چې ما انتم الا بشر مثلنا دا استبعاد هغوی ځنګه وکړو، حالانکه هغوی خو د دې نه انکار کولو چې رسول الله بشر نه شي کيدای، او رسول البشر خو بشر وي کنه، نو دا استبعاد يې ځنګه وکړو، نو تاسو جواب وکړئ مطول کې تاسو کړی وو چې دي پيغمبرانو دې کافرو ته داسې دعوت ورکړی وو چې دوی دا ګمان وکړو چې دا اصحاب د وحي دي، او بعينه دوی لکه چې مُرسل من الله دي، نو ځکه يې دا استبعاد وکړو، چې تاسو بشر يئ او بشر رسول الله نه شي کيدای، ځلورمه شبه دا پرې وډزيده چې يا هلکه د کافرو مقصود خو نفي د رسالت وه، د بشريت اثبات خو نه وو، نو دلته کې کافرو ځنګه وويل چې ما انتم الا بشر مثلنا حالانکه دا خو دوی مقصو نه وو بلکه مقصود د کافرو نفي د رسالت وه، اثبات د بشريت يې مقصود نه وو، نو داسې ويل په کار وو ما انتم رسل (رسلاً) تاسو پيغمبران نه يئ، نو تاسو ووايئ په جواب کې چې ګوره وما انتم رسل دا صريح دی او ما انتم الا بشر

مثلنا كناية ده، او كنايةابلغ وي د صريح نه، څكه اثبات د بشريت ملزوم دى لپاره د انتفاء د رسالت، نو انتقال د ملزوم نه راغلى لازم ته، او ديته كناية وائي، والكناية ابلغ من الصريح، هغه رُسُل څوك وائي بولش او يحيى اوشمعون وو، لكه مطول كې تاسو ته تير شوي دي، او څوك وائي چې يو يحيى وو بل شمعون وو او بل څوك وائي بولش وو او يا څوك وائي چې حبيب النجار وو، اوس **ويسمى الضرب الاول ابتدائياً والثاني طلبياً والثالث انكارياً ويسمى اخراج الكلام عليها** عليها تعيين د مرجع كوي اى على الوجوه المذكورة، هغه وجوه مذكورة دا دي **وهي الخلو عن التاكيد في الاول والتقوية بمؤكد استحسانا في الثاني او** وجوب التاكيد بحسب الانكار في الثالث ،ورته ويلى شي **اخراجا على مقتضى الظاهر** اخراج موافق د مقتضى د ظاهر الحال سره، د شارح غرض د **وهو اخص** نه وروستو دى متن پورې يو نسبت بيانوي، په ما بين د مقتضى الحال او د مقتضى د ظاهر الحال كې، ويل نسبت په دي كې دا دى چې مقتضى د ظاهر الحال خاص دى او مقتضى الحال عام دى. داسې، وى، څكه چې دا مقتضى الحال يو كلي دى، د دې د لاندې دوه فرده دي، يو مقتضى د ظاهر الحال او بل مقتضى د خفي الحال، نو دا ظاهر الحال فرد د مقتضى الحال شو، او فرد د شئ اخص وي د شئ نه، نو هر مقتضى د ظاهر الحال هغه مقتضى الحال كيداى شي او هر مقتضى الحال ضروري نه ده چې هغه دي مقتضى د ظاهر الحال وي، لكه وروستو راځي اخراج د كلام خلاف د مقتضى ظاهر الحال نه،دويم غرض د شارح دا دى چې الظاهر كې دا الف لام عوض دى د مضاف اليه نه يا الف لام عهد خارجي دى مراد د ظاهر نه ظاهر الحال دى، نو وائي چې **وهو** دا مقتضى د ظاهر الحال **اخص مطلقاً من مقتضى الحال** څكه **لان معناه** اى الظاهر **مقتضى ظاهر الحال**، نو قانون په عام او خاص كې دا دى چې خاص موضوع واقع شي او عام محمول واقع شي نو هلته كې موجبه كليه صادقيږي، نو **فكل مقتضى الظاهر** اى مقتضى ظاهر الحال **مقتضى الحال** شو، او **من غير عكس** او د عكس نه مراد عكس لغوي دى، يعنې د دې مخكيني قضيې عكس نه صادقيږي، چې **فكل مقتضى ظاهر الحال** مقتضى الحال دا خو صادق ده، او د عكس نه عكس اصطلاحي نه دى مراد څكه د هغې نفي نه صحيح كيږي، څكه چې عكس د موجبې كليې عكس موجبه جزئيه راځي، هغه خو صادق ده، څكه بعضې مقتضى الحال مقتضى د ظاهر الحال دى، ويل ماده د افتراق په دي ځاى كې شوه **كما في صورة اخراج الكلام على خلاف مقتضى الظاهر فانه يكون على مقتضى الحال ولايكون على مقتضى الظاهر** نو هغه بس دا دى نو چې وكثيراً ما .

وكثيراً ما اوس ماتن اخراج د كلام خلاف د مقتضى د ظاهر الحال نه ذكر كوي، نو ويل كثيراً ما د دې كثيراً نصب يا بنا بر ظرف دى په اعتبار د موصوف محذوفه سره چې حيناً كثيراً دى، يا دا نصب بنا بر مفعول مطلق دى، په اعتبار د موصوف محذوفه سره، يخرج اخراجاً كثيراً، او ما صفتيه ده، **يخرج الكلام على خلافه اى خلاف مقتضى الظاهر فيجعل غير السائل كالسائل** نو اوس په دي باندې شبهې راغلې،

بو شبهه دا چې يا هلکه د دې نه خو دا معلوم شوه چې اخراج د کلام خلاف د مقتضى د ظاهر نه زيات دى د اخراج د کلام نه موافق د مقتضى د ظاهر سره، حالانکه معامله خو بالعکس ده، اخراج د کلام موافق د مقتضى د ظاهر الحال سره زيات دى په خلاف د اخراج د کلام خلاف د مقتضى د ظاهر نه، نو بو جواب ما تاسو ته په مطول کې کړى وو، چې دلته کې د کثرة نه کثرة اضافي نه دى، کثرة نه مراد کثرة في نفسه دى، دويم جواب دلته کې نوى دا وکړئ، چې يو افراد دي يو انواع دي، نوانواع د اخراج د کلام موافق د مقتضى د ظاهر سره کم دي، صرف درې نوع دي، چې دا دي مخاطب خالي الذهن وي، يا متردد وي، يا منکر وي، او انواع د اخراج د کلام مخالف د مقتضى د ظاهر نه شپږ دي، داسې شپږ دي چې مخاطب خالي الذهن شو نو هغه به ته نازلوي په منزله د متردد کې يا په منزله د منکر کې، نو دوه شو، دارنګه مخاطب متردد شو نو هغه به نه نازلوي په منزله د خالي الذهن کې يا منکر کې، دوه دغه شو، نو ټول دا څلور شو، يا مخاطب منکر شو هغه ته نازلوي په منزله د خالي الذهن کې، يا متردد کې، دوه دا شو، نو ټول شپږ شو، نو د انواعو په اعتبار سره دا ډير دي نو بيا د کثرة نه مراد کثرة اضافي شو، خو د انواعو په لحاظ سره، او د افرادو په لحاظ سره اخراج دکلام موافق د مقتضى د ظاهر الحال سره ډير دي، دويمه شبه دا راځي چې په دفيجعل کې دا فاء لپاره د تفريع ده، او متفرع د متفرع عليه نه وروستو وي، نو چې تا اخراج د کلام على خلاف مقتضى الظاهر وکړو نو بيا څنګه غير سائل په منزله د سائل ګرځوي؟ نو فاء تفريعيه صحيح نه شوه، ځکه چې اخراج د کلام خلاف د ظاهر نه وروستو وي اوجعل د غير سائل کالسائل مخکې وي، قانون دغه دى، نو چا ويلي دي چې فيجعل فاء تفريعيه نه ده، بلکه فاء عاطفه ده، نو دا عطف شو په فيخرج باندې، نو کثيراً ما بجعل غير السائل کالسائل شو، او چا جواب کړى دى چې فيخرج د اخراج بالفعل په معنى سره نه دى، يخرج په معنى د قصد د اخراج سره دى ډير کرته قصد د اخراج د کلام کولى شي خلاف د مقتضى د ظاهر نه، چې قصد تا وکړو نو بيا فيجعل غير السائل کالسائل، او د قصد نه جعل د غير سائل کالسائل وروستو وي، اول به ته اراده وکړي او بيا به وروستو يې فعليت ته را وباسي، شبه، يا هلکه ته د غير سائل نه کالسائل په زور سره جوړوي؟ ويل نه **اذا قدم اليه**، ای الى غير السائل **ما** هغه کلام **يلوح له** ای ما يشير له، دي کې يې اشاره وکړه تفسير د غير مشهور ته په مشهور سره، او **ای لغير السائل** کې يې تعيين د مرجع د له، ته **بالخبر** په راتلونکي خبر باندې ورته اشاره وي، داسې يو کلام ورته وراندې شي **فيستشرف غير السائل له ای للخبر**، يعنې سره غرض د شارح يو تفسير د غير مشهور کوي په مشهور سره، يستشرف غير مشهور وو، نو د دې تفسير کوي ينظر اليه سره، او بيا استشهاد پيش کوي چې استشراف په معنى د نظر سره راځي، دويم غرض د شارح دفع د اعتراض ده، يا هلکه يستشرف خو عبارة دى د طلب د شرافت لاته استفعال وهو لطلب الماخذ نو بيا خو معنى دا شوه چې

طلب کوي، دا غير سائل د شرافت د دې خبر لپاره، نو د دې څه معنی؟ د دې خو هډو څه معنی نشته دی، شارح يعنې سره جواب وکړو چې يستشرف په معنی د ينظر سره دی په معنی د طلب د شرافت سره نه دی، دريم غرض د شارح په يعنې سره دفع د اعتراض ده، چې يا هلکه ماتن يستشرف ولې وويل؟ خو ينظر به يې ويلی وو کنه، ځکه ينظر کې دغه شبه هم نه وه، نو شارح جواب کوي يعنې سره چې ګوره يستشرف کې دومره مبالغه ده، چې هغه په ينظر کې نشته دی، ځکه چې استشراف نظر خاص ته ويلی شي په دريو قيوداتو سره، ١ يو دا چې سر پورته کړی د کتلو لپاره هسې نه، ٢ او دويم بسط الکف ٣ فوق الحاجب اوکی، او نظر مطلق کتلو ته وايي چې دا قيودات په کې وي او که نه، نو دي کې شرافت راغی، مبالغه راغله او څلورم غرض د شارح د يعنې نه فرق بيانوي په مينځ د نظر او د استشراف کې، ويل دا عام خاص دی، نظر عام دی، او استشراف خاص دی خاص نظر ته وائي **يعني ينظر اليه يقال استشرف الشئ اذا رفع راسه بل ينظر اليه** لپاره ،دريم **ويبسط كفه فوق الحاجب كالمستظل من الشمس، استشراف الطالب المتردد** نو متکلم ورته کلام تاکيد سره غورزوي، **نحو** ﴿وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ معترض شبه وکړه چې يا هلکه الله خو نفي د خطاب کړي ده، چې ای نوحه ته ما سره د ظالمانو په باره کې خبري مه کوه، نو خبرو نه کولو سره خو اشاره عذاب ته نه کيږي، نو نوح عليه السلام خو متردد نه شي کيدای، نو دي جواب کوي چې دلته کې نفي د خطاب ده، مراد ترينه دعا ده، **ای لا تدعني يا نوح في شان قومك واستدفاع العذاب عنهم بشفاعتك**، دامه کوه، نو اوس نوح عليه السلام خو غير متردد وو خو دغه کلام چې ورته الله وغورزوَلو نو دا کلام **فهذا الكلام يلوح بالخبر تلويحاً ويشعر** نوح عليه السلام **بانه حق عليهم العذاب** نو نوح عليه السلام خو غير متردد وو خو **فصار المقام مقام ان يتردد المخاطب في انهم هل صاروا محكوما عليهم بالاغراق اولا، فقيل انهم مغرقون** نو اِنَّ سره يې وويل، **حال كونه مؤكداً**، په اِنَّ سره مؤکد شو، معترض شبه وکړه چې يا هلکه جواب د سوال سره موافق نه شو، ځکه سوال خو دا وو چې **هل صاروا محكوماً عليهم بالاغراق اولا**، او په جواب کې يې انهم مغرقون وويل، محکوم عليهم خو نشته دی، جواب يې وکړو، چې **ای هم محكوم عليهم بالاغراق** دي، چې يا هلکه اګر چې تلفظ او عنوان کې موافقت رانغلی خو معنون اومعبر عنه کې راغلی، ځکه انهم مغرقون معنی هم دا ده، چې **انهم محكوم عليهم بالاغراق**،اوس که څوك شبه وکړي چې په ﴿وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ کې خواشاره مطلق عذاب ته ده عذاب مخصوص ته خو نه ده، او دلته خو عذاب مخصوص راغلی په خبر کې ، د دې نه په مطول کې تاسو دوه جوابونه کړي دي: ١ اول جواب دا وو چې ولاتخاطبني د مخکښيني کلام سره تل کړه چې واصنع الفلك باعيننا ووحينا ولاتخاطبني او کشتی چې سړی جوړوي بحري جهاز جوړوي نو د غرق نه د بچ کيدو لپاره جوړوي، نو اشاره چې د مخکې کلام سره دغه يو ځای کړي عذاب مخصوصه ته وشوه، دويم

جواب مطول دا کړی وو، چې په ممثل کې د خبر نه مراد خبر مخصوص نه دی، خبر نه مراد جنس خبر دی، جنس عذاب خو جنس عذاب ته اشاره په ولاتخاطبني في الذين... کې شوی ده.

بله نوعه ذکر کوي **ويجعل غير المنكر كالمنكر** شبه: يا هلکه د غير منکر نه ته منکر په زوره سره جوړوي، ويل نه **اذا لاح** يو دفع د دې وهم وشوه او بل، تفسير د غير مشهور په مشهور سره کوي، **اذا ظهر عليه**، ای علی غير المنكر، **شئ من امارات الانكار** نحو قول، تعيين د شاعر کوي حجل ابن نضلة شعر، **جاء شقيق**، دا حجل بن نضلة په شقيق باندې استهزاء کوي، وائي چې شقيق ډير بزدله دی، ويل شقيق د جنګ لپاره را روان وو، شبه، يا هلکه شقيق څه شی دی؟ ويل **اسم رجل** د سړي نوم دی، بل دفع د اعتراض يې وکړه چې د شقيق نه به مراد ګل لاله وي شقائق النعمان چې ورته وائي، ويل نه نه، شقائق النعمان نه دی، دلته دا د سړي نوم دی، په حال کون د دې شقيق کې **عارضاً رمحه**، د عارضاً رمحه ترجمه کوي ای واضعاً علی العرض، اينبودونکی وو هغه نيزې لره په پلنو باندې، او حالانکه جنګ ته راځي، او نيزه يې داسې غورولې ده، او چې سړی جنګ ته ځي نو نيزه نيغه داسې د دشمن طرف ته نيسي، چې ناڅاپه که دشمن راشي چې اوولم ئې، دی ځي جنګ ته او پاس په اس باندې سُور دی يا اوښه باندې، او نيزه يې داسې پلنو باندې غورځولې ده، اوس دا مثال مطابق د ممثل سره دی، ځکه **فهو** دغه شقيق ان في بنی عمه رماحاً نو وروستو تاکيد چې ان بني عمه فيهم رماح کې صحيح نه شو، **لكن مجينه** د حرب لپاره چې ايخودونکی دی نيزې لره په پلنو باندې **من غير التفات** دشمن ته **وتهيؤ** او بغير د تياري نه **امارة انه يعتقد ان لا رمح فيهم بل كلهم عزل** عزل دا معنی **لا سلاح معهم فنُزِل** ای الشقيق، **منزلة المنكر وخوطب خطاب التفات** د غيبت نه خطاب شو، شقيق غائب وو، اوس ان بني عمك چې ای خَره پوهه شه چې ستا د ترونو په زامنو کې نيزې دي تيار دی په نيزو سره، نو دا خطاب شو **بقوله ان بني عمك فيهم رماح موكدا بان**، شبه: يا هلکه د شاعر غرض د بيت نه څه دی؟ مونږ پوهه نه شو چې دا مدحه شوه او که څه بلا بتر شو، دی وائي چې **وفي البيت** علی ما په هغه طريقې سره **اشار اليه الامام المرزوقي** چې ښه امام اللغة دی **تهكم واستهزا** په شقيق باندې داسی تهکم واستهزأ وه په ده **كانه** دا بيان د تهکم او د استهزاء کوي، **كانه** (الشقيق) **من الضعف والجبن بحيث لو علم ان فيهم** (بني عمه) رماح، ما ته تيار دي، **لما التفتت لفت الكفاح** نو ده به نه وی کتلی هغه جانب د جګړې ته کتلی به يې هم نه وی، کفاح ويلی شي جګړې محاربې ته الی لفت الكفاح په نزع د خافض سره منصوب شو، جنګ طرف ته به تا کتلی هم نه وی تلل خو درکنار، **ولم تقويده**، او نه به وو مضبوط شوی لاس د ده په اخيستلو د نيزې باندې، رپيدو، رپيدو به نو نيزه به ترينه لاندې ارتاويده، بيا به يې نيزه په لاس کې نيولې هم نه شوه، **على طريقة** د دې په متعلق کې دوه احتمالين دي ۱ يو دا چې دا متعلق د تهکم او استهزاء پورې دی. يعنې دا

تهکم او استهزاء په دې طریقې د قول د شاعر سره دی، لکه بل یو شاعر دی چې هغه محرز باندې استهزاء او تهکم کوي، چې ته پاکله د جنګ نه یې ډډې ته شه. ۲ یا د دې **علی طریقة** متعلق محذوف را اوباسئ، بیا دا په اعتبار د متعلق محذوفه سره صفت لپاره د تهکم او استهزاء دی، ویل داسې تهکم او استهزاء ات علی طریقة قول الشاعر، علی طریقة **قوله ای الشاعر**، شاعر ابو ثمامة البراء بن عازب الانصاري دی، دی په محرز باندې استهزاء کوي، دی وائي **فقلت لمحرز**، د جنګ په وخت کې، **لما التقيت**، کله چې مونږ یو بل ته مخامخ شو، ما دا وویل **تنكب ډډې** ته شه ای پاکله! **لايقطرك الزحام** ودې نه چکوې تا لره د خلکو ازدحام، ویل چیرته خان اوباسه او خان بچ کوه، جنګ پریږده ته جنګ نه شې کولی، **يرميه الشاعر، المحرز، انه لم يباشر الشداند**، دي چیرته د سختو سره نه دی پیوست شوی، دی همیشه په سفنج او په پلاؤ باندې عادت دی، **چای نه می خورد جنگ نه میشود**، نو داسې خلکو نه دشمن بلخ او بخارا اوړي نه وو؟ ولم يُدفع الى مضايق المجامع او ده له هغه تنګ ځایونو د جمعو ته ټیله نه ده ورکړی شوې، دی چیرته تنګ ځایونو د جمعې ته هډو تللی هم نه دی، نو **كانه** (الشاعر)، **يخاف عليه** (المحرز) **ان يداس بالقوائم**، چې دی په پښو سره غویل کړی شي، غویل دیته وائي چې پخوا دا تریشري نه وي نو غنمو ویستلو لپاره به یې غُویان په غنمو باندې ګرځول، او یا دا سیمنټ نه وو، او کوټې به کچه وي هغه به څخېدې نو پاس به یې پرې غویان وګرځول، او فرش به شوې چې څاڅې نه پښتو کې دیته غویل وائي، **كما يخاف على الصبيان والنساء** وړو باندې څکه یریږي **لقلة غنائه** د وجې د کموالي د نفعې د دې نه، څکه واړه جنګ نه شي کولی، نواوس ته به هغه بچ کوې او که جنګ به کوي، هسې په سړي باندې بوج شي، او بنځو باندې **لضعف بنائه**، د هغوی لاس پښې کمزورې وي هغوی کار نه شي کولی، د سړي مقابله کې. ماتن بل مثال ښائي، لپاره د کلام د اخراج خلاف د مقتضی د ظاهر نه، ویل **ويجعل المنكر** د حکم نه، **كغير المنكر** یا هلکه منکر په شان د غیر منکر ګرځي نو کله **اذا كان معه** ای مع المنکر، **ما ان تامله** ای شئ، دې کې یې اشاره وکړه شارح چې ما موصوفه ده، عبارة ده د شئ نه، نو شئ نکره موصوفه شوه، **من الدلائل والشواهد**، دا بیان د شئ وشو، هغه شئ د دلائلو نه په معقولاتو کې او د شواهدو نه په محسوساتو کې، من الدلائل والشواهد کې، یو خو بیان وشو د دې **ما** او **من** تبعیضیه شو، یعني دغه شئ بعضې به وي د دلائلو نه او یا بعضې به وي د شواهدو نه، دویم غرض د شارح په من الدلائل والشواهد کې اشاره وکړه رد اجمالي ته، په هغه کسانو باندې چې هغوی د **ما** نه عقل اخیستی دی، دا رد اجمالي وشو، او رد تفصیلي شارح وروستو کوي **وفيه نظر** سره، نو ګویا دا تفصیل بعد الاجمال شو، او تفصیل بعد الاجمال اوقع في الذهن وي، دا چې وائي شارح **ان تامل المنكر ذلك الشئ** دې کې یې اشاره وکړه ابراز د ضمیرینو ته، چې تامل کې ضمیر مستتر راجع دی منکر ته او ضمیر بارز راجع دی، دی ما

ته چې عبارة دی د شئ نه، **ارتدع** واپس کیږي دغه منکر **عن انکاره**، ومعنی کونه معه د دې نه غرض د شارح یو معنی د معیت بیانوي چې دا دلیل سره د منکر نه دی، د دې څه معنی ده؟ نو شارح وائي چې د دې معنی دا ده چې دلیل سره د منکر نه وي، دا دلیل به منکر ته معلوم وي په غیر محسوساتو یعنې معقولاتو کې، یا شاهد، محسوس به وي دې منکر ته په محسوساتو کې، دویم غرض د شارح د ومعنی کونه نه رد کوي په بعضو باندې رد اجمالي کوي، هغوی د معیت نه مراد معیت نفس الامري اخیستی دی، چې دغه دلیل په نفس الامر کې وي، نو دلته کې شارح رد اجمالي کوي او وروستو په وفیه نظر سره رد تفصیلي کوي، قیل سره مذهب نقل کوي، او بیا رد تفصیلي کوي **ومعنی کونه، ای الدلیل، معه مع المنکر ان یکون معلوما له مشاهدا عنده** او محسوس وي د دغه منکر سره، لکه مثال داسې شو، **کما تقول لمنکر الاسلام، الاسلام حق من غیر تاکید**، دا مثال مطابق د ممثل سره دی، ځکه **لان مع ذلك المنکر دلائل دالة علی حقیة الاسلام** په هغه دلائلو کې چې دی سوچ فکر وکړي نو د انکار نه دی واپس کیږي، هغه دلائل دا دي، لکه اعجاز د قران، اخبار د قران د ما یکون او د ماکان نه، **وقیل** سره اوس هغه مذهب نقل کوي او بیا پرې رد کوي **وقیل معنی کونه معه ان یکون موجودا في نفس الامر وفیه نظر** ځکه نظر دی **لان مجرد وجوده** ای وجود الدلیل، په نفس الامر کې **لا یکفي في الارتداع ما لم یکن حاصلاً عنده** په یو وجې سره د وجو نه، **وقیل ثاني** سره په هغه اول قائل باندې رد کوي چې هغه کلمه د ما عبارة د عقل نه اخیسته په هغه باندې رد تفصیلي کوي، وقیل معنی "ما ان تامله شئ من العقل" نو شارح وویل رد تفصیلي کوي چې وفیه نظر **لان المناسب حینئذ** په وخت د کیدو د ما کې عبارة د عقل نه **ان یقال ما ان تامل به** یعنې ما هغه عقل چې تامل کوي دغه منکر په دې عقل سره، ځکه **لانه لا یتامل العقل بل یتامل به** شبه، او که ته وائي چې دا د قبیلي د حذف ایصال نه دی، **به** دی محذوف وی، جواب یا هلکه حذف الایصال خلاف المتبادر دی، هغه ته صیروت ذهن نه کوي، ځکه حذف الایصال خو د ضرورت د وجې نه کیږي، او دلته کې بله معنی صحیح ده، چې ما نه مراد دلیل واخله، نو قول حذف بالایصال ته نه راځي، ضروري نه شو، مثال دا شو، **نحو لاریب فیه** شارح ورسره لګوي چې **ظاهر هذا الکلام انه مثال لجعل منکر الحکم کغیره وترکالتاکید لذلك**، د وجې د دې جعل نه، دا د دې لپاره مثال دی، او دا ظاهر ځکه شو چې مخکې ماتن قاعده کلیه ذکر کړه او وروستو چې مثال جزئي راشي نو متبادر دی چې دا مثال جزئي د هغې قاعدې کلي لپاره مثال دی، **وبیانه** سره اوس شارح پرې شبه کوي، چې یا هلکه مثال خو نه صحیح کیږي، ځکه چې د **لاریب فیه** دا تاکید او ترك د تاکید فرع د صحت د حکم دی، چې اول حکم صحیح شي، نو بیا به ته خبره کوي، چې دې کې تاکید کول په کار وو، نو تاکید یې پریښی دی د دې وجې نه، او دلته کې د سره دا حکم صحیح نه دی، ځکه چې دلته لانفي د جنس ده، **لاتبریه** شوه، نو معنی، چا شك نه دی کړی په دې قران کې، حالا

نکه د مرتابینو نه دنیا ډکه ده، نو دا نفي د ریب چې څوک مرتابین په قران کې نشته دی، دا حکم خو صحیح نه دی، نو چې اصل حکم صحیح نه شو نو ته د تاکید او د ترک تاکید حکم څنګه کوي؟ نو شارح د دې اعتراض لپاره دوه جوابونه ذکر کوي، یو جواب په **وبیانه** سره، دویم جواب په **والاحسن** سره، د اول جواب حاصل دا شو، چې دلته کې دا مراد نه دی چې لاریب فیه قران کې چا شک نه دی کړی، چې ته ووائي چې دا حکم خطاء دی، بلکه معنی دا ده چې قران محل د شک نه دی، اوس دا حکم صحیح دی، د دې نه ډیرو خلکو انکار کړی دی، چې قران محل د شک دی، نو تاکید په کار وو، لیکن الله تاکید پرینښی دی، ځکه چې د دې منکرینو د قران سره دلائل شته دی د قران د شک محل نه کیدو لپاره دلائل شته دی، نو که اوس سوچ سمجهـ په هغې کې وکړي، نو بیا دوی انکار نه شي کولی، **وبیانه ان معنی لاریب فیه، لیس القران مظنّة للریب ولا ینبغي ان یرتاب فیه وهذا الحکم مما ینکره کثیر من المخاطبین**، چې قران محل د شک دی، لیکن **نزل انکارهم منزلة عدمه لما معهم من الدلائل الدالة علی انه** ای القران **لیس مما ینبغي ان یرتاب فیه** د قران په صداقت باندې دلائل شته دی، والاحسن شارح دویمه توجیه کوي، چې احسن دا ده چې دا مثال نه دی بلکه نظیر دی بناء په مخکښنی توجیه خو دا مثال شو، فرد شو د ممثل، او په دې توجیه باندې یې دا نظیر وګرځولو، اوس احسن ولې دی؟ یو د دې وجې نه چې وروستو ماتن وهکذا اعتبارات النفي ویلی دی، نو اوس که دا مثال شي، نو بیا تشبیه د شئ د خپل نفس سره راځي، او چې دا نظیر شي، تشبیه د شئ د خپل نفس سره نه راځي، دویمه وجه د احسنیت دا ده، چې دا وجه ثاني محتاج تاویل ته نه ده چې نظیر شي ایت بغیر د تأویل نه په ظاهر باندې محمول شو، او په وجه اول باندې محتاج وو تاویل ته، او کوم شی چې محتاج وي تأویل ته هغه غیر احسن وي، او کوم شی چې محتاج تاویل ته نه وي نو هغه احسن وي، نو ځکه یې وویل چې **والاحسن ان یقال انه نظیر لتنزیل وجود الشئ منزلة عدمه بناء علی وجود ما یزیله، فانه** سره بیان د نظیر کوي، **فانه نزل ریب المرتابین منزلة عدمه تعویلا علی ما یزیله حتی نفی الریب علی سبیل الاستغراق** اوس د هغه ما له النظیر بیان کوي، **نزل الانکار منزلة عدمه لذلک** د وجې د تعویل نه په دلائلو باندې، **حتی صح ترک التاکید، وهکذا** شارح ورسره لګوي **ای مثل** اشاره یې وکړه چې دغه کاف په هکذا کې په معنی د مثلُ سره دی، او دا اله د تشبیه ده، او **اعتبارات الاثبات** په دې کې اشاره وکړه تعیین د مشار الیه ته، چې ذا کې اشاره اعتبارات الاثبات ته ده، اعتباراتو نه مراد امثله دي اعتبارات النفي نو اعتبارات د اثبات، امثله د اثبات مشبه به شوه، او امثله د نفي مشبه شو، آله د تشبیه کاف شو په معنی د مثل سره، وجه د شبه **من التجرید عن الموکدات في الابتدائي** خالي الذهن مخاطب ته ته ووائي چې مازید قائم بس، **وتقویته بمؤکد استحسانا في الطلبي**، هلته کې به ووائي چې ما زید قائم او **وجوب التاکید بحسب الانکار في الانکاري** لکه والله ما زید بقائم لکه مثال هم شارح ورسره بنائي، لکه **تقول لخالي الذهن ما زید قائماً اولیس زید قائماً، وللطالب ما زید بقائم، وللمنکر والله ما زید بقائم وعلی هذا القیاس.**

ماتن وويل **ثم الاسناد** شارح ورسره لګوي **مطلقاً** د دينه غرض د شارح دفع د توهم ده، توهم دا راغلی چې يا هلکه د دې اسناد نه مراد به اسناد خبري وي، او ځکه به وي، د دوو وجو نه ۱ يو د دې وجې نه چې نبکته عنوان يې ايښی دی ماتن احوال الاسناد الخبري او دويم د دې وجې نه چې مخکې څومره امثله چې ذکر شو، دا ټول په اسناد خبري کې ذکر شو، د دې دوو وجو نه متوهم توهم وکړو چې د دې اسناد نه مراد به اسناد خبري وي، نو شارح دغه توهم دفع کړو په مطلقاً سره، چې د اسناد نه مراد ،اسناد خبري نه دی، بلکه د اسناد نه مراد اسناد مطلقاً دی، اسناد خبري وي که اسناد انشائي وي، عام دی، اوس معترض راغلی شبه يې وکړه چې يا هلکه شارح لپاره څه قرينه ده چې د دې اسناد نه مراد د ماتن اسناد مطلقاً دی، نو تاسو جواب وکړئ چې د شارح لپاره قرينه دا ده چې ماتن اسناد ذکر کړی دی، په اسم ظاهر سره، او قانون دا دی چې يو شی مخکې ذکر شي په اسم ظاهر سره ثانياً ضمير سره ذکر کيږي، نو که مراد د ماتن د اسناد نه اسناد خبري وي، نو بيا خو داسې ويل په کار وو، چې ثم هو اوماتن ذکر کړی دی اسم ظاهر سره نو پته ولګيده چې د ماتن مراد د اسناد نه مطلق اسناد مراد دی، نو د شارح لپاره په اطلاق باندې دا قرينه شوه، اوس که بيا څوک شبه وکړي چې يا هلکه دا وضع د اسم ظاهر په ځای د ضمير کې قرينه نه شي کيدای چې مراد د اسناد نه اسناد مطلق دی، ځکه چې بل قانون شته دی چې د اسناد نه مراد اسناد خبري دی، هغه قانون دا دی چې معرفه معاد شي ثانياً معرفه نو ثاني عين اولی وي، نو نبکته اسناد خبري معرفه وو، ثم الاسناد کې دا هم معرفه دی، نو د دې نه هم مراد اسناد خبري شو کنه، نو تاسو جواب وکړئ چې دا قانون کلي نه دی اکثري دی.

بيا دويمه شبه راغله په شارح باندې چې زه ضمير دي راوړی وي اسم ظاهر دي يې نه وي ذکر کړی او هغه ضمير دي راجع وي مطلق اسناد ته او په صنعة الاستخدام باندې دي بنا شوی وي لفظ صريحي نه اسناد خبري شو او ضمير د هو چې راجع کوو نو د اسناد نه مطلقا مراد شو نو وضع د اسم ظاهر په ځای د ضمير ته ضرورت رانغلی، نو تاسو ووايئ چې صنعة الاستخدام غير متبادر دی، هغې ته ذهن سبقيت نه کوي، خلاف الاصل دی، اوس شارح مطلقاً وويل نو **سواء کان** سره تعميم د مطلقاً ته اشاره کوي چې مطلقاً خو ذکر کيږي په مقام د تعميم کې نو تعميم په څه کې وشو؟ وائي **سواء کان انشائياً اوخبرياً**، دويم غرض د شارح د سواء نه دفع د توهم کوي، چې يا هلکه مراد د مطلقاً نه به دا وي چې اسناد تام وي که ناقص وي، يا مطلقاً نه به دا مراد وي چې اسناد موجبه وي که اسناد سالبه وي، نو شارح وويل چې نه دا مراد نه دی، انشائياً او خبرياً ترې مراد دی، منه بعضې د دې اسناد نه **حقيقة عقلية**، سره شارح ماتن باندې شبه کوي، او لان سره يې جواب دی، شبه دا کوي چې يا هلکه دا موضع **ولم يقل** موضع د تقسيم دی او په تقسيم کې خلک ادوات د حصر راوړي، نو داسې ويل په کار وو چې امّا حقيقة عقلية واما مجاز پس د هغې نه اسناد يا به حقيقت وي يا به مجاز وي، نو ماتن دا ادوات د حصر ولې ذکر نه کړل چې منه

يې وويل؟ نوشارح راغلی د ماتن د طرف نه جواب کوي، چې په مقام د تقسيم کې ادوات د حصر هله سړی ذکر کوي چې په کې واسطه نه وي، او کومو اقسامو کې چې واسطه وي نو هلته کې بيا ادوات د حصر نه ذکر کوي، او د ماتن په نزد باندې واسطه په کې وه، يعنې داسې اسناد عنده وو چې نه حقيقت عقلي وو او نه مجاز عقلي وو، نو ماتن منه ذکر کړو، ويل دا ځکه چې **لان بعض الاسناد عنده** ای الماتن، **ليس بحقيقة ولامجاز** هغه دا دي چې خبر جامد شي، مسند جامد شي **کقولنا الحيوان جسم والانسان حيوان**، اوس د ماتن په نزد باندې دلته اسناد شته دی خو دانه حقيقت عقلي دی او نه مجاز عقلي دی، ځکه ماتن حقيقت عقلي ديته ويلی دی هغه فعل او شبه فعل ته چې مسند وي ما هو له ته، اسناد د فعل او شبه فعل دی ما هو له ته، او مجاز عقلي يې ديته ويلی دی چې اسناد د فعل يا شبه فعل غير ما هو له ته، نو حقيقت عقلي او مجاز عقلي کې دا شرط شو چې اسناد د فعل به وي يا د شبه فعل به وي، اوس مسند چې جامد شو نو هغې کې خو نه حقيقت عقلي شو او نه مجاز عقلي شو، عنده يې ځکه وويل چې د سکاکي په نزد باندې واسطه په کې نشته دی، ځکه سکاکي حقيقت ديته وائي، چې اسناد د شئ ما هو له ته، حقيقت عقلي شو، او شئ فعل او شبه فعل جامد ته هم ورځي او مجاز عقلي ديته وائي چې اسناد د شئ غير ماهوله ته، **وجعل الحقيقة والمجاز** سره شارح يو بل اعتراض ته اشاره کوي په ماتن باندې اولان سره بيا جواب کوي، اعتراض دا چې **جعل الحقيقة والمجاز** ای الماتن **صفة الاسناد**، حالانکه سکاکي او شيخ عبد القاهر دا دواړه صفت د کلام ګرځولي دي نو د ماتن کلام خلاف شو د عمد تينو نه، او خلاف د عمده نه خطاء وي، نو د ماتن دا خبره هم خطاء شوه، **دون الکلام**، نو شارح لان سره جواب کوي چې يا هلکه خلاف د عمده نه خطاء هله وي چې خلاف لنکتة نه وي او که خلاف د عمده نه لنکتة وي نو بيا خطاء نه وي هغه حق وي، او ماتن خلاف کړی دی د عمد تينو نه خو لنکتة، هغه دا دی چې **لان اتصاف الکلام بهما** ای الحقيقة العقلية والمجاز العقلي، **انما هو باعتبار الاسناد**، دا په اعتبار د اسناد سره شو، نو دا توصيف د کلام په حقيقت عقلي او مجاز عقلي سره بالواسطه شو او تتمه د جواب د بهر نه کوئ، او توصيف د اسناد په حقيقت عقلي او مجاز عقلي سره بالذات شو، او قانون دا دی چې مقسم بالذات اولی وي د مقسم بالواسطه نه، نو دا نکته شوه، ويل ځکه لان اتصاف الکلام بهما باعتبار الاسناد نو تتمه د جواب بهر نه شوه، فکان اتصاف الکلام بهما بالواسطة واتصاف الاسناد بهما بالذات والاتصاف بالذات اولی من الاتصاف بالواسطة.

واوردهما في علم المعاني دي سره دفع د بل اعتراض کوي چې يا هلکه ماتن دا حقيقت عقلي او مجاز عقلي په علم المعاني کې راوړل، حالانکه په کار دا وه چې دا يې په علم البيان کې راوړی وی، نو چې علم المعاني کې يې راوړل او علم البيان کې يې رانوړل نو ترجيح بلامرجح راغله، نو وائي واوردهما دي کې اعتراض ته اشاره کوي في علم المعاني نه په علم بيان کې، وائي دا ځکه چې لا

نهما من احوال اللفظ دی، د احوالو د کلام نه ذی په واسطي د اسناد سره، دوی خو راځي په اسناد کې لیکن اسناد کلام کې وي، او کلام لفظ دی، **فیدخلان الحقیقة والمجاز في علم المعاني** ځکه چې علم المعاني باحث دی د احوالو د لفظ نه، اوس هغه شبه د مطول راغله چې ته دا په علم المعاني کې داخلوي او هلته تعریف د علم المعاني کې قید التي بها یطابق اللفظ مقتضی الحال لګوي نو دا قید ته په دوی کې معتبره وي که نه، که دا قید ته په دوی کې معتبره وي نو بیا خو دواعي ذکر کول په کار وو د نکات، او دواعي د حقیقت عقلي او مجاز عقلي خو ماتن نه دي ذکر کړی، او که د دې قید سره ته دوی نه داخلوي قید په کې نه معتبره وي چې دا د احوالو د لفظ نه دی اګر که د دې سره مطابقت د لفظ د مقتضی الحال سره نه راځي، نو بیا دوه بدی راغلې، یو بدی دا راغله چې دا خو بیا علم المعاني نه دی، ځکه علم المعاني خو سره د دې قید نه وو، او دویمه بدی دا راغله چې بیا خو حقیقت لغوي او مجاز لغوي هم په دې کې ذکر کول په کار وو، نو تاسو جواب وکړئ په اختیار د شق اول سره چې زه قید د التي بها یطابق اللفظ مقتضی الحال معتبر وایم، چې د مخاطب حال اسناد ماهوله غوښتلو نو دلته کې به اسناد ماهوله ته به کوم، او که اسناد یې غوښتلو غیر ماهوله نو غیر ما هو له، ته به کوم، اوس دواعي یې ولې نه دي بیان کړی؟ نکات چې دلته کې اسناد حقیقي ولې شو؟ ځکه چې حال د مخاطب غوښتل، او دلته کې غیر ماهوله ته وشو، ځکه حال د مخاطب غیر ماهوله ته غوښتو، وائي دا یې ځکه ذکر نه کړل چې د دې دواعي غیر منضبط وو، نو د دې وجې نه ماتن نه دی ذکر کړی. **وهي ای الحقیقة العقلیة** تعریف کوي، **اسناد الفعل اومعناه، کالمصدر** د شارح د معنی د فعل مصداق ذکر کوي، تعین مصداقي کوي، دویم غرض دفع د اعتراض کوي چې یا هلکه د معنی د فعل نه مراد به اسم فعل وي چې څنې بمعنی الامر او څنې بمعنی الماضي، نو هغه خو په فعل کې داخل دی، نو ذکر د **اومعناه مستدرك** شو، نو دي راغلی چې نه معنی نه مراد هغه اسم فعل نه دی چې بمعنی الامر والماضي وي، بلکه مراد **کالمصدر واسمی الفاعل والمفعول والصفة المشبهة واسم التفضیل والظرف** شو، **الی ما** شارح ورسره لګوي الی شئ دې کې یې اشاره وکړه چې کلمة د ما عبارت دی د شئ نه، او بله یې اشاره وکړه چې ما موصوفه ده، هو ای الفعل او معناه، دې کې یې اشاره وکړه تعین د مرجع ته او بل دفع د اعتراض ته، چې هو ضمیر راجع دی الفعل او معنی د فعل ته او هغه خو دوه دي، نو په راجع او مرجع کې مطابقت رانغلی؟ شارح وویل چې هغه په کلمة د او سره ذکر دی، او مرجع چې په کلمة د او سره ذکر شي هغې لپاره ارجاع د مفرد صحیح ده، **له** تعیین د مرجع کوي **لذلك الشئ کالفاعل** سره شارح توضیح کوي د دې شئ چې هغه شئ څه دي؟ توضیح داسې کوي چې تعیین د هغې شئ کوي، وائي **کالفاعل فیما بنی له نحو ضرب زید عمروا، او المفعول به فیما بنی له نحو ضرب عمرو** شو، اوس دا دواړه مثالونه مطابق د ممثل سره دي، وائي ځکه چې **فان الضاربیة**

لزيد والمضروبية لعمرو عند المتكلم، شبه: چې عند المتكلم ظرف دی، ظرف يو خو لغو وي او بل مستقر وي دا کوم يو شو؟ ده جواب وکړو دا ظرف لغو دی **متعلق بقوله له** دا له والی به عند المتكلم وي شبه: يا هلکه دا عند المتكلم قيد اتفاقي شو که قيد احترازي شو، نو شارح وويل چې دا قيد اتفاقي دی احترازي نه دی، وبعبارة اخري: داسې ووائي چې دا عند المتكلم قيد مُدخله دی که قيد مخرجه دی، نو شارح جواب وکړو چې دا قيد مدخله دی، مخرجه نه دی، وبعبارة ثالثة داسې ووائي چې دا عند المتكلم دا قيد لپاره د جامعيت د تعريف دی که د مانعيت، نو ويل جامعيت لپاره دی، نو معنی دا شوه چې **وبهذا** په دې قيد سره **دخل فيه ای تعريف الحقيقة العقلية ما هغه** اسناد **يطابق الاعتقاد دون الواقع** لکه د دهري قول شو، نو په قول د هغه باندې مخکې تعريف نه صادقيدو چې هغه انبت الربيع البقل ووائي نو ربيع خو ماهوله د انبات نه دی، خو چې عند المتكلم وی اسناد نو دا په تعريف کې داخل شو، ځکه د دهري په عقيده کې دا ماهوله دی، **في الظاهر** يا هلکه في الظاهر ظرف راغلی، دا ظرف چا پورې متعلق دی، وائی دا هم **متعلق بقوله له** يا هلکه دا هم قيد مدخله دی، **وبه** او په دې قيد سره **يدخل فيه مالايطابق الاعتقاد** لکه معتزلي ووائي خلق الله الافعال کلها. **والمعنى**: سره شارح يو معنی د دې ټول متن کوي، حاصل د دې ټول متن بيانوي، د دې ټول متن ترجمه کوي يو غرض دا شو، دويم غرض د شارح دا دی چې د والمعنى نه اشاره کوي د الظاهر نه مراد ظاهر الحال د متكلم دی، او الظاهر نه مراد قرينه ظاهره نه ده، بلکه ظاهر الحال ترې مراد دی د متكلم هغې ته يې اشاره وکړه **فيما يفهم من ظاهر حاله** سره، دريم غرض د شارح د والمعنى نه دفع د اعتراض کوي، اعتراض دا وارد شو چې يا هلکه متبادر دا دی چې دا اسناد د فعل او شبه فعل الی ماهوله ته شوی وي نو په تقدير د صدور سره به شوی وي، چې دغه فعل او شبه فعل د دغه **ما** نه صادر به وي، نو بيا **ضرب زيد** او **نصر زيد** خو په تعريف د حقيقت عقلي کې داخل شو، خو **مرض زيد**، **مات زيد** خارج شو، دارنګه **جسم زيد**، ځکه هلته کې مرض، موت او جسامت په طريقې د ثبوت سره دی په طريقه د صدور سره خو نه دی، نو شارح وروسته جواب کوي چې **سواء كان صادراً عنه باختياره كضرب اولا** چې يا هلکه عام دی چې په طريقه د صدور وي او که ثبوت وي، نو وائي **والمعنى** معنی د متن دا ده چې حقيقت عقلي ديته وائي چې اسناد الفعل او معناه، او بل غرض دا هم دی چې دا عند المتكلم او في الظاهر دواړه خو متعلق شو د له پورې خو که خان ته متعلق غواړي نو د هغه متعلق څه دی؟ نو شارح جواب وکړو چې د دې متعلق محذوف دی هغه ظرف مستقر دی يکون په کې محذوف دی، **الی ما يكون**، دا يې هغه **له** لپاره متعلق راوويستلو، **هو** چې وي دغه فعل او معنی د فعل له د دې ماء لپاره دا لهُ والی عند المتكلم به وي، او دا لهُ والی عند الظاهر دا معنی **فيما يفهم من ظاهر حاله** معترض راغلی شبه يې وکړه، چې يا هلکه که د ظاهر حال د متكلم نه که نه فهميده نو هغه به څه وي، حقيقت عقلي به وي که مجاز عقلي به وي؟ چې د ظاهر حال

نه فهم شو نو هغه ته خو مونږه حقیقت عقلي وویل خو که د ظاهر حال نه نه فهمیدو نو هغه به څه وي؟ نو شارح جواب وکړو چې **وذلك**، چې یا هلکه فهم د ظاهر حال نه، د دې معنی دا ده چې **بان لا ینصب المتکلم قرینة دالة علی انه غیرماهوله في اعتقاده**، بس چې متکلم نصب د قریني نه وي کړی چې دغه ما غیر ماهوله دی په اعتقاد زما کې دي، داسې قرینه یې نه وي قائمه کړي، نو چې قرینه یې قائمه کړه نو دغه ماهوله شو **ومعنی کونه له معنی کون الفعل او شبهه اي للشئ** دا دی چې **ان معناه** معنی د دغه فعل او شبه فعل **قائم به** اخوا په طریقه د صدور سره وي که په طریقه د ثبوت سره وي، شبه: یا هلکه قیام خو په صفات انضمامیو کې راغی خو صفات انتزاعیه خو خارج شو، نو ده جواب وکړو چې **ووصف له** چې دغه فعل او معنی د فعل به وصف وی د دې ما لپاره، او وصف عام دی انتزاعي او انضمامي دواړو ته ورځي، **وحقه** سره دفع د اعتراض کوي چې یا هلکه متبادر د وصف نه وصف به بالفعل وي؟ نو کوم ځای کې چې وصف بالقوة وي نو هغه خو خارج شو، چې ضرب کې استعداد د ضرب وي او بالفعل یې ضرب لاته وی کړی، او وئې ویل چې ضرب زید نو دا حقیقت عقلي دی، او دلته کې ضرب صادر د زید نه بالفعل نه دی، نو ده جواب وکړو چې **وحقه ان یسندالیه** ای حق الفعل وشبهه چې د ده اسناد ده ته وشي، بالفعل په کې صدور او فعل شرط نه دی، سواء کان الفعل اومعناه، **مخلوقاً لله تعالی اولغیره** د دې دوه ترجمي دي، یو ترجمه دا ده چې مخلوق د الله وي، لکه مذهب د اهل سنت و جماعت شو یا غیر د الله وي لکه عباد، لکه مذهب د معتزله ؤ شو، یا مطلب دا چې دغه وصف عام دی مخلوق د الله وي خلقاً دا مذهب د اهل سنت شو، یا د غیر وي کسباً، لکه دا هم مذهب د اهل سنة والجماعة دی، **وسواء کان الفعل اومعناه صادراً عنه باختیاره، کضرب، او لا کمرض او مات، فاقسام الحقیقة العقلیة**، دې سره دفع د اعتراض کوي، چې یا هلکه تا وروستو دړې مثالونه ذکر کړي دي، او مثال نه مراد توضیح د ممثل وو، نو توضیح د ممثل خو په یو مثال سره راتلو، نو دریو مثالونه ته حاجت رانغلی؟ نو شارح جواب وکړو د سر نه، چې تعدد د امثلو بنا دی په تعدد د ممثل باندې، حقیقت عقلي څلور قسمه وو نو ما دړې ذکر کړي وې ویل **فاقسام الحقیقة العقلیة علی ما یشمله التعریف اربعة، الاول ما یطابق الواقع والاعتقاد جمیعاً کقول المؤمن انبت الله البقل والثاني مایطابق الاعتقاد فقط ای دون الواقع نحو قول الجاهل اي الدهري، انبت الربیع البقل، والثالث مایطابق الواقع فقط** اعتقاد سره نه وي **کقول المعتزلي لمن لا یعرف حاله وهو یخفیهامنه**، قول د معتزلي دا **خلق الله الا فعال کلها** نو دا مطابق د واقع سره دی او مطابق د عقیدې د معتزلي سره نه دی، شارح شبه کوي په ماتن باندې، ځان له ځي، وائي **وهذا المثال متروك فی المتن** نو د دې مثال سره د ماتن څه دشمني ده چې دا ئې پریښودو او نور یې ذکر کړل؟ نو تاسو د دې نه جواب دا وکړئ چې یا هلکه ماتن په صدد د استیعاب د امثلو ؤ کې نه دی، نو دا یې پریښی دی، نو په دې قصد کې نه وو چې زه به تول امثله ذکر کوم، نو په دې شبه راغله چې بنه ماتن په صدد د استیعاب د امثلو ؤ کې نه وو، نو

بیا یې دري ولې ذکر کړل، نو بیا خو یو کافي وو کنه؟ نو تاسو جواب وکړئ چې نکته فار لپاره وی دقار لپاره نه وي، یا دویم جواب عن اصل الاعتراض دا وکړئ چې ماتن دا پریښی دی څکه چې دا مثال رابع دا صالح د مثال ددواړو لپاره وو چې متکلم وویل چې جاء زید او متکلم ته ښه پته ده چې زید نه دی راغلی، نو دا اسناد مطابق د اعتقاد سره نه شو، اوس که واقع کې زید راغلی وو، نو بیا دا مثال د قسم ثالث شو، او که په واقع کې هم زید نه وو راغلی نو دا کذب محضه شو، نو دا مثال د رابع شو، نو رابع صالح د دواړو لپاره وو، نو څکه ماتن دا پریښودی دی، **والرابع مالایطابق الواقع والاعتقاد جمیعاً. نحو قولك جاء زید وانت تعلم** شارح ورسره لګوي چې **والحال** اشاره یې وکړه دیته چې دا واو حالیه دی، **والحال انك خاصة** کې یې اشاره وکړه چې دا تقدیم د مسندالیه په مسند فعلي باندې لپاره د حصر وقصر دی، چې خاص ته ای متکلمه عالم یې چې **انه لم یجئ خاصة**: ترجمه کوي چې د خاصة معنی دا ده **المخاطب** څکه خاصة کې دوه جزه وي یوسلبي دویم ثبوتیي جزوایجابي ما یوجد فیه او جزء سلبي ولایوجد في غیره، دا علم په عدم مجئ باندې موجودبه په متکلم کې وي او مخاطب کې به نه وي، مخاطب ته به پته نه وي، نو چې مخاطب ته پته نه وي نو مخاطب به دا فهموي چې دا اسناد ماهوله عند المتکلم في الظاهر دی، څکه متکلم څه قرینه نه ده نصب کړي چې دا غیر ماهوله دی، اوس مخاطب پرې عالم نه دی، دې لپاره دلیل وائي **اذ لو علم المخاطب ایضاً**، که عالم وو په دې عدم مجئ باندې مخاطب ایضاً لکه څنګه چې متکلم عالم وو په عدم مجئ باندې، نو دې کې بیا ډیر صورتونه دي، یو صورت دا دی چې مخاطب په عدم مجئ باندې عالم وو خو په دې باندې عالم نه وو چې متکلم هم عالم دی په عدم مجئ باندې، یعنې مخاطب هم عالم وو په عدم مجئ باندې متکلم هم عالم وو په عدم مجئ باندې خو مخاطب په دې باندې عالم نه وو چې متکلم عالم دی په عدم مجئ باندې، نو په دغه وخت کې دا بیا حقیقت عقلي دی، حقیقت عقلي څکه دی چې دا زید عندالمتکلم ماهوله في الظاهر شو، څکه نصب د قریني یې نه دی کړی.

دویم صورت دا دی چې مخاطب هم عالم وي په عدم مجئ باندې او په دې باندې هم عالم وي چې متکلم هم عالم دی په عدم مجئ باندې، نو د مخاطب دوه علمونه شو، اوس په دې کې دویم صورت کې څان له بیا دوه صورتونه دي، که په زید او عمرو کې څه علاقه او ملابسة وو د صداقت یا د موالات یا د اشتراك في الصناعة نو بیا دا مجاز عقلي دی، چې دا اسناد متکلم غیر ماهوله ته کړی دی، مراد جامني عمرو وو، خو په ځای د عمرو کې متکلم زید ذکر کړی دی، شبه راغله چې بیا خو بدظني راغله په مخاطب باندې، او بد ظني خو په متکلم باندې جائز نه ده، ظنوا المؤمنین خیراً دی، نوتاسو مطول کې جواب کړی دی بناء علی سهو او نسیان چې د متکلم خُوله خطاء شوي ده، یا هیره ترې راغلي ده، نو د زید په ځای یې عمرو ذکر کړی دی، نو بد ظني نه شوه، او که مخاطب هم عالم وو په عدم مجئ باندې اوپه دې

باندې هم عالم وو چې متکلم هم عالم دی په عدم مجئ باندې او سره د دې نه هغه جاء زید وائي او مُلابست هم نه وي، نو بیا دانه حقیقت عقلي دی او نه مجاز عقلي دی، لکه د دې د قائل نسبت کولی شي، مایستکرهٗ ته چې دی کم عقل دی، خَر دی، حمار دی، کلب دی، ځکه چې زید نه دی راغلی او مجینت هغه پورې قائم نه دی، او دی وائي چې راغلی دی نو دروغ وائي، نو مجموعه صورتونه په دې کې ځلور شو، دوه صورتونه مجاز عقلي شو، یو حقیقت عقلي شو، او په یو صورت کې هیڅ نه شو.

ومنه شارح تعین د مرجع کوي ای من الاسناد، **مجاز عقلي** ویسمی نه غرض د شارح یو اشاره کوي کثرة د اسامیو د مجاز عقلي ته، چې د مجاز عقلي ځلور نومونه دي ۱ مجاز عقلي ورته هم وائي، مجاز حکمي ورته هم وائي، مجاز في الاثبات هم ورته وائي، اسناد مجازي ورته هم وائي، دویم غرض د شارح د ویسمی نه دفع د اعتراض کوي، چې یا هلکه په اقوال القوم کې اضطراب دی، ځوک دي مجاز ته مجاز عقلي وائي، ځوک دې مجاز ته مجاز حکمي وائي، ځوک دي اسناد ته مجاز في الاثبات وائي، ځوک دي اسناد ته اسناد مجازي وائي، نو اضطراب خو مخل بالفهم دی، نو د دې په مراد باندې دي مونږه پوهه نه شو، نو شارح په ویسمی سره جواب وکړو چې دا ټول عنوانات، تعبیرات مختلف دي معنون، معبرعنه یو دی، دغه چې وهو اسناده الی ملابس له غیرماهوله، دغه یو شی دی، او اضطراب نشته دی، اوس مجاز عقلي ورته ولې وائي، وای مجاز عقلي ورته ځکه وائي چې عقل حاکم دی چې دا اسناد تیروُتی دی د ماهوله نه غیرِ ماهوله ته، چاته چې تا اسناد کړی دی دا ماهوله نه دی، او دیته دا اسناد تیروُتی دی د ماهوله نه غیرِ ماهوله ته، چاته چې تا اسناد کړی دی دا ماهوله نه دی، او دیته مجاز حکمي هم وائي، دا ورته ځکه وائي چې حکمي منصوب بسوئي حکم، حکم په معنی د اسناد سره، نو دلته کې دا اسناد تیروُتی دی د ماهوله نه غیر ماهوله ته،او دیته مجاز في الاسناد هم وائي، ولې ځکه چې دلته کې اسناد د فعل، شبه فعل تیروُتی دی د ماهوله نه غیر ماهوله ته یې اثبات شوی دی، خو دا مجاز في الاثبات د شرافت دوجې نه شو، ورنه مجاز في السلب في النفي هم راځي، لیکن تاسو مطول کې ویلي دي چې مجاز في النفي فرع لپاره د اثبات ده، ماقام زید حقیقت عقلي دی، ځکه چې قام زید حقیقت عقلي وو، ما صام لیلی مجاز عقلي دی، ځکه چې صام لیلی بالاثبات مجاز عقلي وو، او دیته اسنادِ مجازي هم وائي، ځکه دا اسناد تیروُتی دی د ماهوله نه غیر ماهوله ته، **هو دا** اسناد مجازي دیته وائي چې **اسناده** شارح تعیین د مرجع کوي، ای اسناد الفعل او معناه **الی ملابس**، یو متعلق ته، چې دغه متعلق او ملابس له د دغه فعل یا معنی د فعل لپاره وي، شبه یا هلکه حقیقت عقلي هم دیته ویلی شي چې اسناد د فعل وکړي یو ملابس ته، ځکه فاعل په مبني للفاعل کې ملابس دی، دارنګه مفعول په مبني للمفعول کې مُلابس دی، نو بیا خو په حقیقت عقلي او مجاز عقلي کې فرق رانغلی، نو ده ورسره ولګولو چې هسې ملابس **غیر ماهوله** شارح ورسره لګوي چې **ای غیر الملابس** په دې کې یې اشاره وکړه چې دا ما عبارة دی د ملابس نه، **الذي** کې یې اشاره وکړه چې دا ما موصوله دی

ملابسة معنى كوي، ترجمه كوي چې ملابسة په څه معنى سره مراد دى؟ دويم غرض د شارح رد كوي په بعضو باندې، بعضو د ملابست نه مراد ملابسة د مسند (د دې فعل اخيستى وو) د فاعل مجازي سره اخستى وو ، لكه څنګه چې فعل ملابس كيږي د فاعل حقيقي سره نو دغسې ملابس كيږي د فاعل مجازي سره، نو هغوى د ملابسة نه ملابسة د مسند د مسند اليه مجازي سره اخيستى وو، يعنې دا مسند څنګه چې ملابس كيږي د فاعل حقيقي سره يعنې معمول يې واقع كيږي دغسې ملابس كيږي د فاعل مجازي سره لكه جرَى شوه مثلاً، نو اوس جرَى فعل څنګ چې ملابس كيږي د ماء، اوبو سره په اعتبار د صدور سره ، نو دغسې جرى ملابس كيږي د نهر سره په اعتبار د محل سره، دا هغوى اخيستى دى، نو شارح راغلى په هغوى باندې يې رد وكړو چې نه ملابسة نه مراد ملابسة د مسند د فاعل مجازي سره نه دى مراد بلكه ملابسة د فاعل مجازي دى د فاعل حقيقي سره، نو وائي **لاجل** لاجل كې يې اشاره وكړه چې لام په للملابسة كې تعليلي دى، **ان ذلك الغير** دغه غير چې فاعل مجازي دى، لكه مثلاً غير جرَى النهر كې نهر شو، نو دغه نهر مشابه دى د ماهوله سره چې هغه ماءً دى، نو فاعل مجازي چې نهر دى هغه مشبه شو او ماهوله چې فاعل حقيقي دى هغه مشبه به شو، چې ماءً دى او اله د تشبيه د **يشابه** نه فهم شوه وجه د شبه **في ملابسة الفعل** لكه دا جرى څنګه چې ملابس كيږي د ماء سره دغسې ملابس كيږي د نهر سره، نو **مجاز** ديته مجاز ويلى شي كقولهم **عيشة راضية** معترض شبه وكړه چې يا هلكه تا دا دومره مثالونه ولې وښودل، مثال نه مقصود خو توضيح د ممثل ده او توضيح د ممثل خو په يو مثال سره راځي نو دومره ډيرو ته ضرورت نه وو نو شارح جواب وكړو **في ما بنى للفاعل واسند للمفعول به** يا هلكه تعدد د امثله ؤ بناء دى په تعدد د ممثل، دا مثال د هغه دى چې راضية مبني للفاعل دى او اسناد يې شوى دى ضمير ته چې هغه راجع دى عيش دى، او عيش مفعول به دى، ويل څكه **العيشة مرضية**، **وسيل مفعم في عكسه** ،اعني سره بيان د عكس كوي چې د عكس نه مراد عكس منطقي نه دى مراد د عكس نه عكسِ لغوي دى، عكس داسې اعني **فيما** په هغه فعل كې چې مبني للمفعول وي **واسند الى الفاعل** څكه چې مفعَم صيغه د اسم مفعول ده او اسناد يې شوي دي سيل سيلاب ته، او سيلاب خو مفعَم نه دى بلكه مفعِم دى ډكوونكي دى، ډك كړى شوى خو نه دى، بلكه ډك كړى شوى خو هغه كنده ده، وائي **لان السيل هو الذي يفعم اى يملأ** ډكوونكي وي، **من افعمت الاناء** دا ماخوذ د افعمت الاناء نه **اذا ملا** ته كله چې ته ډك كړي لوښي لره **وشعر شاعر**، دا مثال د مبني للفاعل دى چې مسند شوى دى مصدر ته، ويل دا په مصدر كې شو، شعر شاعر وو دغه شعر، نو ماهوله خو صاحب د شعر وو، نو د شاعر اسناد شعر ته دا اسنادد مبني للفاعل مصدر ته شو، **والاولى** سره شارح شبه كوي چې يا هلكه دا مثال مطابق نه دى څكه د شعر اطلاق په دوو معانيو باندې كيږي شعر تاليف د كلام منظومه ته هم وائي، نو دا خو مصدر شو او شعر كلام مؤلف منظومه ته هم وائي، نو اوس

احتمال شته چې دلته کې د شعر نه مراد کلام مؤلفه منظومه شي نو په دغه وخت کې بیا شعر مبني للمفعول شو، نو دا مثال شو د مبني للفاعل چې اسناد یې شوی دی مفعول ته، نو دا وعیشة راضیة سره تکرار راغی، نو اولی په مثال کې دا وو چې **جد جده**، جد: لپاره ما هو له هغه صاحب الجد دی، او دلته کې تا یې اسناد وکړو جده ته، مصدر ته، نو مبني للفاعل مسند شو مصدر ته، دا مثال نص وو په اصل کې دا جد زید جدا یعني اجتهاداً نو بیا زید حذف شو د جد اسناد جده ته وشو دا یې فاعل شو د مبالغې لپاره، اولی ځکه دی ما تاسو ته په خلې باندې ویلي دي **لان الشعر ههنا بمعنی المفعول** چې کلام مؤلفه منظومه دی، نو بیا د دې مثال تکرار راغلی دعیشة راضیة سره، لیکن شارح ته جواب د والاولی نه وکړئ چې مثال کې احتمال کافي دی، تحقق الوقوع ضروري نه ده، او احتمال شته چې شعر دلته کې په معنی د تألیف د کلام منظومه سره شي **ونهاره صائم في الزمان** ځکه صائم هغه شخص وي او دلته کې یې نهار ته اسناد وکړو، نو دا مثال په زمانه کې شو **ونهر جار في المکان**، دا دواړه مثالونه مطابق د ممثل سره دی، ځکه **لان الشخص صائم في النهار** دی، او **والماء جار في النهر** دی، دا یې دلیل وویل لپاره د تطبیق د مثال د ممثل سره، **وبنی الامر المدینة** دا **في السبب**، دا مثال په سبب امره کې شو، مبنی للفاعل مسند شو سبب ته، ځکه د بنی لپاره ماهو له، عمله وو، نوکران وو او دلته کې مسند شوه هغه سبب امره ته چې امیر دی **وینبغي ان یعلم** د دې نه غرض د شارح شبه کوي په ماتن تر اللهم پورې، او د **اللهم** نه وروسته جواب کوي، نو وائي **وینبغي ان یعلم ان المجاز العقلي یجری في النسبة الغیر الاسنادیة ایضاً** لکه څنګه چې نسبت اسنادي کې جاري کیږي، غیر د نسبت اسنادي نه **من الاضافیة** یعني نسبت اضافي، په هغې کې مجاز هم راځي، **والایقاعیة** او نسبت ایقاعي کې هم راځي، نسبت ایقاعي دا معنی چې ته وقوع د یو فعل وکړي په یو مفعول باندې چې هغه صالح لپاره د وقوع د فعل نه وي، سره د بقاء د نصب نه، نو دي بقاء د نصب قید سره ما احتراز وکړو د ضُرِبَ زید نه، ځکه ضُرِبَ زید کې هم نسبت ایقاعي دی، وهلی شوی وو زید، نو دا هم نسبت ایقاعي دی، خو دلته کې بقاء د نصب نشته دی، او مثالونه بنائي نسبت اضافي لپاره، لف نشر مرتب دی، نحو اعجبني انبات الربیع نو دلته کې چې موجد ووائي نو د انبات اضافت ربیع ته دا اضافت غیر ماهوله ته دی، اصل کې دا دی چې **اعجبني انبات الله في الربیع، وجری الانهار** دا په مکان کې شو، ځکه د جری اسناد انهار ته وشو نو انهار خو جری نه کوي، بلکه اصل دا وو چې جری الماء في الانهار، دارنګه **وقال الله تعالی** ﴿ وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا ﴾ نو د شقاق نسبت یې بین ته وکړو، حالانکه بین خو قابل د شقاق نه دی بین کې خو شقاق نه راځي، نو ماهوله د دې په اصل کې داسې وو **وان خفتم شقاق الزوجین بینهما** وو، دا مثالونه شو د نسبت اضافي لپاره بل مثال بنائي ومکر اللیل والنهار نو دلته کې د مکر اضافت وکړو لیل او نهار ته، او لیل او نهار خو مکر نه شي کولی، مکر حیلې ته وائي تګی ته وائي، تدبیر ته وائي، نو معنی اصل کې دا ده ومکر الناس في

به بل دی، اګر که حقیقت عقلي دی د سره مستعمل نه وي، لکه ته ووائي **اقدمني بلدك حق لي علي فلان** او حق خو راتلی نه شي، نو عقل وائي چې دا اقدام او مقدم حق نه شي کیدای، بلکه بل څوك به وی، لیکن په عرف و عادت کې د دې اقدام اسناد بل چا ته نه دی شوی، بلکه هم دغه حق ته کیږي، عقل دغه وائي، **وحاصله** نه غرض د شارح معنی مراد د تأوّل بیانوي، معنی لغوي خو یې مخکې بیان کړه چې طلب د ما یؤل الیه ته وائي، نو اوس دحاصله نه معنی مراده بیانوي چې دلته کې معنی مراد دا مخکې معنی نه ده بلکه معنی مراد نصب د قرینې صارفي ترې مراد دی، د ماهو له نه غیر ماهو له ته، چې قرینه صارفه به وي، دویم غرض د شارح تعیین د تاول کوي، ځکه تاؤل په ډیرو معانیو سره راځي، تاؤل ترجیح د بعضې معانیو په بعضو باندې دیته هم تاؤل وائي چې هغې ته بیا مؤول وائي، او تاؤل ویلی شي صرف د کلام د ظاهر نه خلاف الظاهر ته، نو دیته هم تاؤل وائي، تاؤل قراءت ته هم ویلی شي، تاؤلت الکتاب قرأت الکتاب په معنی سره، او تاول په معنی د رجوع سره هم راځي آل الامر الی کذا یعني رجع الامر الی کذا، نو دلته کې د تاؤل نه څه مراد شو؟ نو شارح وحاصله سره تعیین کوي، حاصل د تاؤل دا دی چې **ان تنصب قرینة صارفة عن ان یکون الاسناد الی ما هو له** چې داسې قرینه وي چې دلته کې اسناد اوختی دی د ماهوله نه غیر ماهوله ته، **وله** تعیین د مرجع کوي شارح **ای للفعل، ملابسات شتی** معترض شبه وکړه چې ماتنه ستا مقصود تعریف د حقیقت عقلي او مجاز عقلي وو، نو هغه خو په دې مخکې ټکي باندې ختم شو، نو اوس اشتغال په وله ملابسات شتی باندې اشتغال بما لایعني شو، او دا خو جائز نه دی، نو شارح جواب وکړو چې اشتغال بمالا یعني نه دی، **وهذا** دا قول د ماتن اشارة **الی تفصیل وتحقیق للتعریفین** د مجاز عقلي او د حقیقت عقلي وتعریف تفصیل دی، او دازنګه حقیقت عقلي او مجاز عقلي د تعریف تحقیق دی، شبه: یا هلکه تفصیل خو دیته وائي چې مخکې اجمال وي او د هغې تفصیل وروستو وکړي، نو دلته کې اجمال څنګه وشو او اوس تفصیل څنګه وشو په راتلونکي عبارت سره، نو تاسو ووایئ چې تفصیل و اجمال داسې دی، چې مخکې ماتن په تعریف د حقیقت عقلي کې وویل چې اسناد د فعل او شبه فعل ماهولهُ ته او په مجاز عقلي کې یې وویل چې اسناد د فعل او شبه فعل غیر ماهوله ته، اوس ماهوله څوك دی او غیر ماهوله څوك دی؟ اجمال راغلی، نو په دې راتلونکي عبارت سره تفصیل کوي چې ماهوله، فاعل دی په مبني للفاعل کې علاوه د فاعل ټول غیر ماهوله دی، ماهوله مفعول دی په مبني للمفعول کې علاوه د مفعول ټول غیر ماهوله دی، نو تفصیل وشو او تحقیق وشو د تعریفینو د حقیقت عقلي او مجاز عقلي.

شبه: تحقیق خو اثبات الشئ بالدلیل ته وائي نو دلیل یې څنګه وویلو، ویل دلیل یې داسې وویل چې یا هلکه تا په تعریف د حقیقت عقلي کې وویل: اسناد ماهوله ته او مجاز عقلي کې چې اسناد غیر ماهوله ته، نو دغه حقیقت عقلي او مجاز عقلي جائز ده چې دا دې موجود نه وي په شان د عنقاء،

همي تعبير شته او معبرعنه ،مصداق به د دې نه وي، نوماتن ثابت کړه چې شته چې هغه فاعل دی په حقيقت عقلي کې په مبني للفاعل کې او مفعول دی په حقيقت عقلي کې په مبني للمفعول کې او علاوه د دې دواړو نه ټول غير ماهوله دی، تفسير د غير مشهور کوي په مشهور سره چې ای مختلفة شتی معنی مختلف تحقيق صيغي کوي چې شتی صيغه د مفرد ده که د جمع؟ ويل جمع، شبه يا هلکه جمع شوه نو جمع د شتيتة ده که نه د شتية ده، ويل شتية يا هلکه د دې نظير شته؟ ويل هو، کمريض ومرضی يلابس الفاعل والمفعول به والمصدر والزمان والمکان والسبب ولم يتعرض للمفعول معه، دا شبه کوي، والحال ونحوهما لکه تمييز، مستثنی ته يې تعرض ونه کړو، جواب کوي لان الفعل لايسندالیها اوس مفعول معه ته د فعل اسناد نه کيږي، ځکه مفعول معه ته چې ته اسناد کوي يا به سره د واو نه به کوي يا بې د واو نه، که سره د واو نه کوي نو بيا والاصل ان يلي الفعل نه پاتې شو، او که بې د واو نه کوي، نو بيا خو مفعول معه مفعول معه پاتې نه شو، ځکه مفعول معه مذکور بعدالواو ته وائي، او حال او تميز او مستثنی ته يې تعرض ونه کړو، ځکه چې هغوی ته چې ته اسناد د فعل کوي نو يا به سره د بقاء د نصب نه کوي يا به زوال د نصب سره به کوي، که سره د بقاء د نصب نه کوي نو هغه مسندالیه نه شي واقع کيدای، ځکه مسندالیه خو مرفوع وي منصوب نه وي، او که نه پس د زوال د نصب نه کوي نو بيا هغه اشعار په تمييز او استثناء او حال باندې پاتې نه شو، ځکه چې مشعر خو په هغې باندې نصب دی ماتن وويل فاسناده الی الفاعل او المفعول به اذا کان مبنياً له شارح ورسره لګوي ای للفاعل والمفعول به په دې کې يې اشاره وکړه تعيين د مرجع ته، چې دا د له ضمير فاعل او مفعول به ته راجع دی او مرجع په او سره ذکر ده او چې او سره مرجع ذکر شي نو دوو لپاره ضمير د مفرد راجع کول صحيح دي، يعني سره غرض د شارح دفع د اعتراض کوي، اعتراض دا وارد شو چې يا هلکه يو فعل مبني وي فاعل موضع تفصيل لپاره خو حقيقت عقلي نه دی، يا يو فعل مبني للمفعول وي نو د هغې اسناد به فاعل ته حقيقت عقلي وی، حالانکه مفعول ته حقيقت عقلي دی، ليکن فاعل ته خو حقيقت عقلي نه دی، او د ماتن د کلام نه خو دغه معلوميږي چې اذا کان مبيناً له حقيقة نو شارح راغلی يعني سره جواب کوي، چې کلام د ماتن په توزيع باندې بناء دی په تقسيم باندې، داسې چې که فعل مبني للفاعل وي نو اسناد فاعل ته حقيقت عقلي شو، علاوه د فاعل نه بل چا ته اسناد مجازي شو، او که دغه فعل مبني للمفعول وي نو اسناد يې مفعول ته حقيقت عقلي شو او علاوه د مفعول نه ټول مجاز شو، نو وائي يعنی ان اسناده الی الفاعل اذا کان مبنياً له والی المفعول به اذا کان مبنياً له حقيقة دی، کما مر من الامثلة، واسناده ای الفعل الی غيرهما، ای: سره تعيين د مرجع کوي، چې ای غير الفاعل والمفعول به يعني سره دلته کې هم اشاره کوي چې دلته کې هم خبره په توزيع او په تقسيم باندې بناء ده، يعني غير الفاعل في المبني للفاعل هر غير چې وي وغير المفعول به في المبني للمفعول به هر غير چې وي للملابسة، يعني سره غرض د شارح يو د

موصوفه نه دی، څکه چې د غیر ملابس نه ملابس خاص مراد دي، چې غیر د فاعل نه په مبني للفاعل کې، غیر د مفعول نه په مبني للمفعول کې **ذلك الفعل او معناه** کې يې تعيين د مرجع ته اشاره وکړه چې هو ضمیر فعل او معنی د فعل ته راجع دی **مبني له** کې يې اشاره وکړه متعلق د له ته، چې متعلق د له لپاره محذوف دی، **يعني** سره غرض د شارح تعيين د هغه غير ماهوله کوي، چې غير ماهوله څه شی دی، تعيين مصداقي کوي، نو وائي چې **يعني** قصد کوي، ماتن **غير الفاعل في المبني للفاعل** نو په مبني للفاعل کې فاعل ماهوله شو، او غير د فاعل نه غير ماهوله شو، او غير د مفعول به نه په مبني للمفعول کې په مبني للمفعول کې مفعول دا ما هو له شو او غير د مفعول نه غير ما هوله شو اوس **سوا کان**: سره شارح دفع د اعتراض کوي، اعتراض يې وروستو په خپله ذکر کړی دی چې **قيل** ويلی شوی دی په اعتراض کې دا مخکې د قيل نه پرېږدي (مينځ کې عبارة پرېږدي قيل نه وروستو اعتراض ته ګوري) اوس په تعريف د مجاز عقلي کې غير ماهوله راغلی، قيل وائي څه په دې کې تپوس کوم چې **انه** الماتن **ان اراد غير ماهوله نه عند المتكلم في الظاهر** اراده کوي، چې دا غير ماهوله، د متکلم په نزد باندې غير وي اوفی الظاهر ظاهر کلام د متکلم نه غير به وي، نو بيا شبه مې دا ده چې **فلاحاجة الى قوله بتاؤل** بيا وروستو ذکر د بتاول چې وروستو ماتن کړی دی هغه مستدرك شو **وهو ظاهر** او دا عدم حاجت ظاهر دی، څکه بيا بتاؤل او د غير ماهوله خو مطلب يو شو، څکه چې د بتاؤل معنی هم داسې وو چې دا اسناد بتاؤل دی يعني په نصب د قرينې سره به وي د ماهو له خو مطلب يو شو، څکه چې د بتاؤل معنی هم داسې وو چې دا اسناد بتاول دی يعني په نصب د قرينې سره به وي د ماهوله نه غير ماهوله ته، نو هغه خو د دې ځای نه معلوم شو، څکه چې تا وويل **غير ماهوله عند المتكلم في الظاهر** نو دا معنی د تاؤل ده، څکه د عند المتكلم في الظاهر دا معنی چې متکلم قرينه نه ده ودرولې د اسناد ما هو له نه غير ماهو له ته، او د بتأول هم دا معنی شو، نو بيا هغه مستدرك شو **وان اراد** او که اراده کوي ماتن د **غير ماهوله نه في الواقع**، چې غير ماهوله په واقع کې دی، نو **خرج عنه** بيا خارج شو د دې تعريف د مجاز عقلي نه، بيا مجاز عقلي جامع نه شو خارج شو ترينه مثل د قول د دهري چې **انبت الله البقل** په حال کون د دغه قول کې چې دا مجاز عقلي دی، **باعتبار الاسناد الى السبب**، چې د دهري په نزد باندې دی، دهري وائي چې دا انبات لپاره ماهوله ربيع دی، او الله سبب دی د انبات، نو دا مجاز عقلي وو او اوس خارج شو د تعريف د مجاز عقلي نه، څکه الله غير ماهوله خو په واقع کې نه دی، بلکه ماهوله دی د انبات لپاره، دريم شق د سوال شارح پرېښی دی، څکه هغه شق د جواب وو، نو څکه يې پرېښی دی، او که ته عام اراده کوي چې د غير نه مراد عام دی چې عند المتكلم في الظاهر وي او که غير ما هو له في الواقع وي، نو مايرد على الخاص يرد على العام دی، څکه د عام لپاره تحقق او وجود بې د خاص نه نشي کيدای، نو خاص خو مورد د اعتراض شو، نو عام هم مورد د اعتراض شو، دا دريم شق

وو خو دا شارح پريښی دی، ځکه دا شق د جواب وو، نو د دې وجې نه شارح په اعتراض کې نه دی ذکر کړی، نو اوس دا اعتراض وو، **سواء** سره شارح جواب کوي په اختيار د شق ثالث سره، د معترض هغه دواړه شقين نه اراده کوي، داسې چې زه د غير ماهوله نه عام اخلم، چې غير ماهوله في الواقع وي او که عند المتكلم في الظاهر وي، دغه مفهوم عامه اراده کوم اوس دغه مفهوم عامه کې چې غير في الواقع وی او که غير متكلم في الظاهر وی نو دي کې اوس قول د دهري او اقوال کاذبه داخل پاتې شو، يعني دی مفهوم عامه کې داخل پاتې شو، نو بتاؤل سره دواړه خارج شو، نو چې خارج شو په بتاؤل نو ذکر د بتاؤل مستدرك نه شو، نو په دې مفهوم کلي کې قول د دهري چې انبت الله البقل داخل دی چې دا غير ماهوله في الواقع اګر که نه دی خو عند المتكلم في الظاهر خو دی کنه چې شو نو دا په مجاز عقلي کې داخل پاتې شو، نو دا دواړه شبهې دفع شوې، خو دا خبره پاتې شوه چې ته وائي چې د عام لپاره تحقق او وجود نشته بې د خاص نه نو ما يرد على الخاص يرد على العام دی، نو د هغې نه جواب دا دی چې ته پوهه شوی نه يې کنه، يو تحقق او وجود د عام دی او يو اراده د عام ده، نو تحقق د وجود د عام خو بې د خاص نه نشي راتلی تهيك ده، خو اراده د عام بې د خاص نه کيدای شي او دلته کې زمونږ مراد اراده ده، مثلاً اراده د حيوان بې د انسان، فرس، بقر، حمار، يعني ټولو انواعو نه بغير ته کولی شي، او تحقق د حيوان بغير د انواعونه نشي راتلی، نو په مابين د تحقق او ارادي کې فرق دی ځکه اراده صفت د مُريد دی، او تحقق صفت د لفظ دی د وجود، د وجود د شئ نه عبارة دی، نو هر کله چې شارح وائي چې ما دغه مفهوم عامه اراده کړو نو مخکې د ماقيل اعتراض وو، اوس **وبهذا**، په دې تعميم سره **سقط ماقيل**، نو ما قيل ساقط شو پاتې نه شو، خبره ختمه شوه.

بتاؤل. شبه: يا هلكه بتاؤل ظرف دی، ظرف خو يا لغوه وي يا مستقر وي نو دا لغوه شو که مستقر شو، ويل ظرف لغوه دی **متعلق باسناده**، يعني: دا اسناد بتاؤل دی، **ومعنى التاول** سره غرض د شارح معنى لغوي د تاول بيانوي، نو وائي **ومعنى التاول** دا ده چې **انك تطلب ما** يقينا ته ای مخاطب غير معينه طلب کوي به هغه څيز چې مراد د څيز نه حقيقت عقلي دی، يعني کلمه د ما عبارة ده د حقيقت عقلي نه، **يؤل** چې ګرځي دا اسناد مجازي **اليه** دي څيز ته، هغه ما څه شی دی؟ **من الحقيقة** هغه عبارة دی د حقيقت عقلي نه، ليکن دا په هغه مجاز عقلي کې چې د دې لپاره حقيقت عقلي وي، لکه موحد ووائي انبت الربيع البقل نو موحد چې دا وائي چې د انبت اسناد ربيع ته کوي، نو ده د دې توحيد مقتضی دا ده، دې توحيد طلب کړو په انبت الربيع البقل سره هغه حقيقت عقلي چې دغه اسناد د انبت ربيع ته راګرځي، نو د مؤحد په نزد باندې ما هوله الله دی، نو د انبت الربيع البقل مرجع انبت الله البقل دی، او الموضوع يا ته طلب کوي هغه ځای **يؤل** چې ګرځي دغه اسناد مجازي **اليه** دی موضع ته، چې هغه موضع **من العقل** نه دی، عقل وائي چې دغه مسند په دې مسند اليه پورې قائم نه دی، د دې ماقام

الليل والنهار اوس د نسبت ايقاعي مثالونه، نحو **نومت الليل** نو شپه خو ويده کيدای نه شي، وقوع د نوم په ليل باندې نه شي کيدای، نو اصل کې داسې وو نومت الشخص في الليل واجريت النهر وقوع د جريان په نهر باندې نه شي کيدای نو اصل کې داسې وو، **اجريت الماء في النهر** او دارنګه وقال الله تعالى ﴿ وَلَا تُطِيعُوٓا أَمْرَ الْمُسْرِفِينَ ﴾ نو امر مطاع نه شي کيدای، نو تقدير دا شو چې **ولا تطيعوا المسرفين في امرهم والتعريف المذكور** چې ماتن کړی دی **انما هو للاسناد** د مجاز في الاسناد لپاره کړی دی، ځکه عنوان هم د اسناد خبري دی، او ثم الاسناد يې هم ويلی دی، نو لازم شو تعريف د مجاز عقلي کې عدم جامعين خپلو افرادو ته، ځکه نسبت اضافي او ايقاعي کې مجاز عقلي شته دی او اسناد خو نشته **اللهم** سره، شارح جواب کوي، چې ای الله نشته دی مخلص د دې اعتراض نه في وقت من الاوقات **الا ان يراد بالاسناد مطلق النسبة**، چې ذکر د اسناد دی مراد ترينه مطلق نسبت دی، علاقه دا شوه چې ذکر د مقيد شو او مراد ترينه مطلق شو، دا علاقه د مجاز مرسل ده، شبه يا هلکه بيا يې اسناد ولې ذکر کړی دی، نو تاسو ووايئ چې اسناد د وجې د شرافت نه، شبه اوس دا اعتراض شارح په اللهم سره ولې مصدر کړو اللهم خو په ضعف باندې دلالت کوي، نو تاسو جواب وکړئ، چې دلته کې اللهم شارح تواضعاً ذکر کړی دی هضماً لنفسه، د دې وجې نه يې نه دی کړی چې دا جواب ضعيف دی، کله کله په جواب کې اللهم ذکر کيږي نو کله کله اشاره ضعف ته وي او کله کله هضماً لنفسه وي، چې شارح وائي چې زما طاقت د جواب نشته دی تر څو پورې چې د الله معاونت نه وي، زه پرې نه پوهيږم، يا دويم جواب لکه مطول کې تاسو کړی دی، چې يا هلکه اسناد عام دی صراحةً وي که تاويلاً، دلته کې تاويلاً به اسناد کوو چې شقاق بينهما، الليل والنهار ما کران، نو تاويلاً شو، يا الليل نائمة، النهر جارٍ، دارنګې المسرفون لاتطيعوا نو په دې کې اګر که اسناد صراحةً نشته خو تاويلاً په کې شته، اوس شارح وائي وههنا ای في هذا المقام مباحث نفيسة وشحنا بها الشرح چې مطول دی او دلته کې دا کتاب د شرح مختصر ماتن وويل **وقولنا** شارح ورسره لګوي **في التعريف** دې سره غرض د شارح، دفع د اعتراض يې وکړه چې يا هلکه زمونږ بحث خو په مجاز عقلي کې وو، قولنا کې خو نه وو؟ نو دا خو خروج د بحث نه راغلی نو شارح جواب وکړو چې دا قولنا چې دی، نو دا په تعريف د مجاز عقلي کې دی، بل ځای کې نه دی چې خروج د بحث نه راشي، **بتاؤل، يخرج نحو ما مر من قول الجاهل**، ای الدهري چې هغه قول **انبت الربيع البقل** دی، خو په حال کون د دهري کې **رانيا الانبات** ای معتقداً الانبات **من الربيع** دا ولې خارج شو، دليل د خروج لپاره وائي ويل دغه اسناد **فان هذا الاسناد وان كان الى غير ما هوله في الواقع**، نو مخکې دا ټول تعريف د مجاز عقلي پرې صادق شو، اوس بتاول سره خارج شو، **لكن لا تاول فيه** په دې کې يې نصب د قرينې صارفي د اسناد د ماهوله نه غير ماهوله ته نه دی کړی، تاول ځکه نشته **لانه** ځکه دا اسناد ربيع ته

مراده، مراد دهري دی **ومعتقده**، نو بتاول سره دا خارج شو د مجاز عقلي نه او حقيقت عقلي کې داخل شو، وکذا سره شارح تعميم ته اشاره کوي، **کذا شفی الطبیب المریض** چې دهري يې ووائي، ونحوذلك، مثل د دې قول **مما یطابق الاعتقاد دون الواقع** نو د دهري اعتقاد دا دی چې شفا مريض ته طبيب، حکيم، ډاکټر ورکوي، الله باندې قائل نه دی، نو دا ئې پرې تفريع وکړه چې **فقوله** چې دا قول د ماتن **بتاول** چې بتاول دی **یخرج ذلك** خارجوي دا قول د دهري **کما یخرج الاقوال الکاذبة**، اوس معترض راغلی دوه شبهې يې په ماتن باندې وکړي، چې يا هلکه په بتاول کې خارج شو قول د دهري هم او اقوال کاذبه هم نو بيا ماتن په متن کې تخصيص د قول د دهري ولې کړی دی، بيا **فیخرج نحو ما مر من قول الجاهل** خو صحيح نه شو، ځکه په دې سره دواړه خارج شو، نو بيا تخصيص ماتن د قول د دهري ولې کړی دی، دويمه شبه دا راغله چې يا هلکه د ماتن عادت په دې کتاب کې دا دی چې دې بيان د فائده د قيودو نه کوي، نو دلته کې يې ځنګه د دې قيد فائده بيان کړه، نوشارح وويل دواړو اعتراضونو نه يې جواب وکړو چې **وهذا تعریض بالسکاکي** ويل دا قول د مصنف تعريض دی، اشاره ده اعتراض ته په سکاکي باندې، تعريض معنی اشاره ده اعتراض ته، تعريض په معنی لغوي سره شو، داسې **حیث جعل التاوّل لاخراج الاقوال الکاذبة فقط** نو ماتن رد وکړو تعريض وکړو چې ځنګه چې دې سره اقوال کاذبه خارجيږي دغسې قول د دهري هم خارج دی، نو اوس د قول د دهري تخصيص يې ځکه وکړو چې اقوال کاذبو په اخراج باندې خو سکاکي ماسره متفق وو خو قول د دهري کې خلاف وو، نو ما وويل چې په دې سره قول د دهري هم خارج شو، تخصيص ما ځکه وکړو، اوس هغه دويم اعتراض نه جواب کوي شارح رويل **وللتنبیه** او لپاره دتنبيه ورکولو د ماتن **علی هذا** په دغه تعريض بالسکاکي باندې **تعرض المصنف في** الخ **لبیان فائدة هذا القید مع انه** سره د دې نه چې دا بيان د فائدې د قيد **لیس من دابه في هذا الکتاب** قصداً نه بيانوي فائده د قيد او دلته کې يې تعريضاً بيان کړه، نو تعريضاً يې بيانوي، **واقتصر** اقتصر عطف دی په تعرض باندې، اقتصار يې کړی دی ماتن **علی بیان اخراجه ای القید بنحو قول الجاهل مع انه یخرج الاقوال الکاذبة ایضا** اول شبه هم دفع شوه، ولهذا اوس ګوره ماتن دليل انی ذکر کوي، چې قول د دهري خارج دی د عدم تاول د وجې نه، په ده کې نو د دې لپاره دليل اني ذکر کوي، چې ګوره مجاز کې که تاول وي، اسناد کې تاول وي نو هغه مجاز دی، او که په اسناد کې تاويل نه وي نو هغه حقيقت دی، نو وائي **لهذا** شارح تعيين د مشارالیه کوي چې **ای ولان مثل قول الجاهل خارج عن المجاز**، ځکه خارج دي دليل وائي **لاشتراط التاول فیه** اي المجاز او د دهري په قول کې تاول نشته دی، نو دا د مجاز نه خارج دی، نو د دغه وجې نه تاول نه وو په قول د دهري کې دا خارج شو، نو **لم یحمل نحو قوله** چې سلطان عبدي دی، **اشاب الصفو وافنی الکبیر کر الغداة ومر العشي** ،**علی المجاز** يعنې اسناد د اشاب او افنی کر او مر ته په مجاز باندې نه دی حمل شوی، ای سره شارح دفع د اعتراض کوي، چې يا هلکه حمل په مجاز باندې او عدم حمل

ذهب اليه المصنف کښنودو، لیکن جواب د سکاکي د طرف نه ممکن دی، هغه دا چې مقسم د حقیقت لغوي او مجاز لغوي دوی مفرد کړئ خو مراد د مفرد نه لفظ دی، علاقه ذکر د خاص مراد ترینه عام دی، او لفظ شامل مسند جملې ته هم دی او مسند مفرد ته هم دی، بیا شبه راغله چې یا هلکه مفرد نه مراد لفظ اخیستل دا خو مجاز دی او مجاز کې قرینه په کار ده، د سکاکي لپاره قرینه څه ده؟ نو تاسو وایئ چې د سکاکي لپاره قرینه دا ده چې مجاز لغوي یو قسم استعاره وو، د استعاري یو قسم استعاره تمثیلیه ده، د استعاره تمثیلیه دوی مثال ښودلی دی، واني اراك تقدم رجلا وتؤخر اخری په دغه جمله کې یې دا استعاره تمثیلیه مثال ښودلی دی، نو اوس که ښکته مقسم مفرد شي او لفظ نه شي، نو بیا عموم د قسم د مقسم نه راځي، نو دا مثال قرینه شوه چې ښکته د دې ذکر کړی دی په مقسم کې مفرد او مراد ترینه لفظ دی.

وهو ای المجاز العقلي دې سره ماتن رد کوي په اهل ظواهرو باندې، هغوی وائي چې مجاز عقلي او لغوي په قران کې نشته دی، د دوو دلیلونو د وجې نه یو دلیل یې دا وویل چې که مجاز عقلي او لغوي په قران کې راشي نو لازم به شي اشتمال د قران په کذب باندې، تالي باطل دی مقدم یې مثل شو. وجه د بطلان التالي ظاهر ده، وجه د ملازمي دا ده چې ویل ځکه چې استعمال د لفظ په غیر موضوع له کې دروغ دی، ځکه حکایت مطابق د محکي عنه سره نه شو، دارنګې اسناد د فعل د شبه فعل لاغیر ما هو له ته دروغ دي. دویم دلیل وائي چه که مجاز عقلی په قرآن کښې راشي نو لازم ته شي نسبت د جهل الله ته یا نسبت د عجز الله ته، تالي بکلا الشقین باطل فالمقدم مثله، وجه د بطلان التالي وائي ظاهره ده، وجه د ملازمي وائي دا ده، چې دا لفظ الله استعمالولو په غیر موضوع له کې یا اسناد یې کولو غیر ماهوله ته، نو یا به یې علم نه وو په موضوع له او یا به یې علم وو خو استعمالولی یې نه شو، اسناد یې نه شو کولی، نوکه علم یې پرې نه وو، نو جهل راغلی او که علم یې وو خو اسناد یې نه شو کولی نو عجز راغلی، **تعالی الله عن ذلك علواً کبیراً** نو ماتن په دې مذهب باندې رد وکړو چې مجاز عقلي په قران کې ډیر شی دی، جواب د دلیل اول نه دا چې سره د قرینې نه وي، نو هغې ته څوك کذب نه وائي، قرینه شته دی، او دویم نه جواب دا چې الله عالم وو په موضوع له باندې او په ماهوله باندې خو مستعمله وي یې په غیر موضوع له کې یا اسناد کوي غیر ما هوله ته لپاره د حال د مخاطب، د مخاطب د حال سره مناسب دا استعمال وو، په غیر موضوع له کې یا اسناد غیر ما هوله ته وو، شبه راغله چې یا هلکه د دې نه خو دا معلوم شو چې مجاز عقلي په قران کې زیات دی ځکه ماتن **وهو في القران کثیر** ویلی دی په نسبت سره حقیقت عقلي ته او حالانکه دا خو صحیح نه ده، جواب وکړو شارح **کثیر في نفسه لا بالاضافة الی مقابله** تر دې چې اعتراض وارد شي نو دا یې د هغه اعتراض نفي وکړه، حتی منفي سره لګوئ که په اضافت سره مقابل ته شي **یکون الحقیقة العقلیة قلیلة** او دا خو نشته چې حقیقت عقلي کم دی بلکه مجاز عقلي کم دی، بهر نه

سائل سوال وکړو چې یا هلکه **في القران** دا ظرف دی، جار مجرور دی متعلق غواړي، دا ظرف لغو دی که مستقر دی، نو بهر نه جواب وکړئ، چې دا ظرف لغو دی، دا متعلق دی کثیر پورې، نو اوس بیا شبه راغله په دې جواب باندې چې یا هلکه بیا تقدیم ما حقه التاخیر فائده کوي حصر او اختصاص، نو د دې نه معلوم شو چې دا مجاز عقلي خاص په قران کې دی او په سنتو او کلام د فصحاء اوبلغاؤ کې نشته دی، او دا خطاء ده جواب یې وکړو چې وتقدیم **في القران** علی کثیر لمجرد الاهتمام د مجرد قصد کولو د ادب د تکي د **وفي القران** لپاره دی، حصر او تخصیص مقصد نه دی، مثال لکه اذ تلیت علیهم ایاته تعیین د مرجع کوي ای ایات الله زادتهم ایماناً دا مثال مطابق د ممثل سره دی، ځکه اسند الزیادة، دا وروستو الی الایات د دې اسند الزیادة سره ولګوئ مینځ کې پریږدئ حالانکه وهي ای الزیادة **فعل الله تعالی لکونها سبباً لها** ځکه چې دا ایاتونه سبب عادي دی د دې زیادت لپاره، نفس سبب عادي دی، او ماتن کقوله تعالی ونه ویل او منه قوله تعالی یې ونه ویل، یو دا اقتباس لپاره او دویم مقصود د ماتن دا دی چې زیاتوي دوی لره ایماناً ای تصدیقاً بوقوع المجاز العقلي في القران کثیراً، ماتن دا مراد اخیستی دی او د الله د ایمان نه دا مراد نه وو، بلکه هغه د ایمان نه ایمان شرعي مراد وو، یذبح ابناءهم دا مثال مطابق د ممثل سره دی ځکه **نسب التذبیح الذي هو فعل الجیش الی فرعون لانه سبب** اعتراض یا هلکه سبب خو هغه مخکې مثال کې هم وو نو د دې د هغې سره تکرار راغلی، ویل **أمر** چې سبب امر دی او مخکې صرف سبب وو فلا تکرار. ینزع عنهما لباسهما دامثال مطابق د ممثل سره دی، ځکه نسب **نزع اللباس عن ادم و حواء علی نبینا وعلیهما السلام، وهو** او دا نزع حال دا دی فعل الله تعالی نسبت یې شوی دی **الی ابلیس لانه سبب الاکل من الشجرة وسبب الاکل وسوسته ومقاسمته ایاهما بانه لهما لمن الناصحین** نو دا مثال سبب السبب شو نو تکرار رانغی، دا مخکې دواړه سبب بالذات وو، او دا سبب بالواسطة شو، **یوماً** شبه: یا هلکه یوماً منصوب دی بنابر څه؟ ویل **نصب علی انه مفعول به لتتقون** نو دې ظرف کې چې یوماً دی دې کې توسع وشوه، یعني مفعول فیه چې ظرف دی، قائم شو په مقام د مفعول به کې. ای کیف تتقون دي کې یې اشاره وکړه چې دغه مضارع استقبالي ده، حالي نه ده **مراد ای کیف تتقون یوم القیامة ان بقیتم علی الکفر** دا یې تفسیر د اِن کفرتم وکړو د دفع د اعتراض لپاره، چې یا هلکه اِنْ استعمالیږي په هغه شرط کې چې هغه مشکوك الوقوع وي، او کفر د کافرو خو متیقن دی، نو ده جواب وکړو چې مراد ان بقیتم علی الکفر دی. او بقاء د کفر د کافرو مشکوکه ده، کفر خو یې قطعي دی خو بقاء علی الکفر یې په راتلونکي زمانه کې مشکوك الوقوع ده، او عبد الحکیم چې هغه دوه وجې ذکر کړي چې د اِن کفرتم تفسیر شارح به اِن بقیتم علی الکفر سره کړي د دوو وجو نه نو هغه ذهن ته صحیح نه راځي یعني هغه وجې چې ذکر کوي ما تاسو ته مطول کې ویلی وو، چې هغه د سړي ذهن ته نه راځي، د هغه چې څه مراد وي هغه به هغه سره ځان له وي حقیقت الحال نه الله خبر دی بل مثال وائي ﴿ یَوْمًا یَجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِیْبًا﴾ دا مثال مطابق د

دي د سره اقسام نه وي، څکه حقيقت عقلي موافق الاصل دی او مجاز عقلي خلاف الاصل دی، نو د
حقيقت عقلي اقسام خو څلور شو او د مجاز عقلي دي نه وي، او د ماتن په دي کلام کې مقايسه
صحيح ده، څکه مجاز عقلي خلاف الاصل وو، نو چې ددی اقسام څلور شول نو د حقيقت عقلي اقسام
په طريق اولی سره څلور شو، معترض راغلی شبه يې وکړه، چې يا هلکه د اربعة حمل په اقسام مجاز
عقلي باندې نه صحيح کيږي، څکه مجاز عقلي خو يو قسم دي چې اسناد د فعل يا معنی د فعل غير
ماهوله ته، دارنګه د اقسام اضافت مجاز عقلي ته نه صحيح کيږي، څکه مجاز عقلي يو قسم دي چې
اسناد د فعل يا شبه فعل غير ماهوله ته، څلور قسمه خو نه دي، نو د اربعة حمل پرې هم نه صحيح
کيږي، او د اقسامه اضافت هم مجاز عقلي ته نه صحيح کيږي، نو دي راغلی جواب يې وکړو چې
باعتبار حقيقة الطرفين ومجازيتهما، يا هلکه دا تقسيم په اعتبار د حقيقت د طرفينو سره دی او مجازيت د
طرفينو سره دی، او په ذات د مجاز عقلي کې تقسيم او اقسام نشته دی، او نه څلور دي، خو صرف
فرق دا شو، مطول کې تاسو ته تير شوي دي، چې دا د طرفينو لپاره تقسيم بالذات شو او د ذات د
مجاز عقلي د پاره بالعرض شو، اربعة څلور دي، دليل د حصر سره د تعريف د اقسامو نه دا دی لازم
طرفيه څکه طرفين د دې مجاز عقلي، طرفين څوک دي تعيين مصداقي د طرفينو شارح کوي، **وهما
المسنداليه والمسند**، **اما حقيقتان** اعتراض يا هلکه حقيقتان نه مراد به حقيقت عقلي وي، نو حقيقت عقلي
خو په اسناد کې راځي، او طرفينو کې خو اسناد نشته دی دا يو، دويم دا چې حقيقت عقلي به مراد وي
نو بيا خو جمع د حقيقت عقلي او مجاز عقلي راغله، او جمع د قسمينو خو جائز نه ده، شارح جواب
وکړو **لغويتان** چې يا هلکه حقيقتان نه حقيقتان لغويتان مراد دي، عقليتان مراد نه دي، **نحو ابنت الربيع
البقل** شو، او **مجازان** به وي، شبه راغله چې يا هلکه مجازان نه مراد مجازان عقليان به وي، نو طرف کې
خو اسناد نشته دی چې هلته کې مجاز عقلي راشي، څکه مجاز عقلي خو په اسناد کې راځي، جواب
يې وکړو **لغويان** مثال داسې شو **نحو احي الارض شباب الزمان** دا مثال مطابق د ممثل سره دی، څکه **فان المراد
باحياء الارض تهييج القوي النامية فيها**، برانګيخته کول د قوی ناميه دی په دې زمکه کې، او دا معنی
مجازي ده، **واحداث نضارتها بانواع النباتات** او دا معنی غير موضوع له د احياء لپاره، او معنی موضوع له
دا ده چې **والاحياء في الحقيقة اعطاء الحيوة وهي صفة** په حي کې داسې صفت دی چې **تقتضي الحس والحركة**
ای الحركة الارادية مراد د حرکت نه حرکت ارادي دی، لکه مطول کې اوس مخکې تاسو ته لاړه، نو
شبه راغله چې يا هلکه عضو مفلوج کې حياة شته دی، او هلته کې خو حس او حرکة ارادي نشته دی؟
نو تاسو به جواب کوئ چې مراد د حس او حرکت ارادي نه استعداد د حس او حرکت ارادي دی بالفعل
مراد نه دی، او په عضو مفلوج کې استعداد د حس او حرکت ارادي شته دی، دا خو په مسنداليه کې
شو، او په مسند کې نو وائي **وكذلك المراد بشباب الزمان ازدياد قوتها الناميه** او دا معنی مجازي ده، غير

موضوع له ده، **وهو دغه شباب في الحقيقة عبارة عن كون الحيوان في زمان يكون حرارته الغريزية**، چې حرارت طبعي د دې **مشبوبة بَل** وي، ای قوية مشتعلة، **او مختلفان بان يكون احد الطرفين حقيقة والاخر مجازاً** دا شارح بيان د مختلفانو وکړو، نو اوس د دې مختلفان لپاره دوه مثالونه په کار شو، يو د دې مثال چې مسند اليه مجاز وي او مسند حقيقت وي او يو د دې عکس، **نحو انبت البقل شباب الزمان، فيما المسند حقيقة**، چې انبت دی والمسند اليه مجاز چې شباب الزمان دي، ازدياد دی قُوي نامیه، او **احي الارض الربيع في عكسه**، اوس دی وائي **ووجه الانحصار في الاربعة على ما ذهب اليه المصنف ظاهر** ځکه ظاهر دی چې **لانه** ای المصنف **اشترط في المسند ان يكون فعلاً وما في معناه**، صغری، او هر فعل او معنی د فعل مفرد وي، **فيكون مفردا** نو مسند به مفرد وي، دا راوتلي نتيجه صغری کوئ، المسند يكون مفرداً، وکل مفرد مستعمل اما حقيقة او مجاز فالمسند اما حقيقة او مجاز، نتيجه: حقيقت نه مراد حقيقت لغوي او د مجاز نه مجاز لغوي، هر چې دي دليل د صغری د قياس اول هغه کلام د ماتن پرې ګواه دی، او دليل د کبری د قياس اول وائي ځکه شبه فعل بغير د فاعل نه مفرد وي، او هر چې دي دليل د صغری د قياس ثاني نو هغه نتيجه د قياس اول ده، د هغې دليل ته ضرورت نشته دی، او هر چې دي دليل د کبری د قياس ثاني، چې هر مفرد مستعمله يا به حقيقت وي يا به مجاز وي، ويل ځکه چې د حقيقت لغوي او د مجاز لغوي مقسم لفظ مفرده دی، نو که دغه لفظ مفرده مستعمل وو په معنی موضوع له، کې نو حقيقت لغوي شو او که مستعمل وي په غير موضوع له کې نو بيا به خالي نه وي، يا به د علاقې د تشبيه د وجې نه به وي يا غير د تشبيه نه، که د علاقې د تشبيه د وجې نه وي نو مجاز مستعار او که غير د تشبيه د وجې نه وي نو مجاز مرسل شو، اوس معترض راغلی شبه يې وکړه چې تا دا قيد ولې کښودلو چې على ما ذهب اليه المصنف وجه د انحصار په څلورو کې بناء په ماذهب اليه د مصنف باندې ظاهر دی، دا قيد دې ولې کښودلو، تاسو جواب وکړئ چې دا قيد يې ځکه کښودو چې په ما ذهب اليه السکاکي باندې دا انحصار ظاهر نه دی، بلکه په هغې اشکال شته دی، اشکال داسې ځکه ماتن **زيدنهاره صائم** کې مجاز عقلي وائي په اسناد د **صائم** کې ضمير ته چې هغه راجع دی **نهار** ته، نو يواځې صائم مفرد شو، او سکاکي په دې اسناد د نهاره صائم کې مجاز وائي زيد ته، د مجموعه **نهاره صائم** نسبت چې زيد ته کوي دي کې سکاکي مجاز وائي نو مسند د ده په نزد مفرد نه شو بلکه جمله شوه، دارنګه ماتن **الحبيب احياني ملاقاته** کې مجاز عقلي په دي اسناد د احياء کې وائي ملاقات ته او احياء مفرد دي، او سکاکي مجاز عقلي په دي اسناد د مجموعه جمله کې وائي، ښکته الحبيب ته، نو دا مسند چې احياني ملاقاته دی مفرد نشو بلکه جمله شوه، نو اشکال پاتې شو، نوښکته مقسم مفرد دي، او بره اقسام په جمله کې هم عند السکاکي راغلل، نو عموم د قسم د مقسم نه راغلی، او دا خو نا جائز دی نو دا اشکال په سکاکي راغلی، نو د دې وجې نه يې دا قيد على ما

په مجاز باندې، دا خو په اسناد کې کيږي، او تا د عدم حمل نسبت دلته قول د شاعر ته وکړو، نو قول د شاعر خو په مجاز او عدم مجاز حقيقت باندې نه شي حمليدی، ځکه حمل علي المجاز دا صفت د اسناد دي نه صفت د قول د شاعر. نو شارح جواب وکړو چې دلته کې حذف د مضاف دی ای علی الاسناد يعني: لم يحمل **اسناد اشاب وافنى الى كر الغداة ومر العشي** ته نه دی حمل کړی شوی په مجاز باندې په دي قول د شاعر کې چې اشاب الصغير...الخ دی، **ما دام**، دا دام شارح ويستلی دی، متن صرف دا دی چې **مالم يعلم او لم يظن** خو دا چې شارح را وويسته نو يو يې اشاره وکړه حاصل المعنی ته او دويم اشاره يې وکړه چې دا ما په ما لم يعلم کې مصدريه ده، دا مطلب د شارح نه دی چې دام دلته کې محذوف دی، ځکه چې حذف په افعال ناقصه ؤ کې بغير د کان نه د بل نه صحيح کيږي، ترجمه: **ان قائله لم يعتقد ظاهره ای ظاهر الاسناد** نو هغه پورې دا مونږ په مجاز باندې نه شو حملولی، دا ځکه نه شو حملولی **لانتفاء التاول** په وخت د عدم علم او د ظن کې او تاول ولې منتفی دی؟ **لاحتمال ان يكون هو القائل لهذا الشعر معتقداً للظاهر فيكون من قبيل قول الجاهل انبت الربيع البقل**، حاصل دا چې په دې ځای کې پينځه صورتونه دي، يو صورت دا دی چې ستا علم قطعي راغلی چې دې قائل دغه ظاهري اسناد اراده کړی دی، دويم صورت دا چې ستا علم ظني راغلی چې دې قائل دا ظاهري اسناد اراده کړی دی، د ده معتقد دی او مراد دی نو په دې دوو صورتونو کې دا حقيقت عقلي شو، د قول د دهري په شان شو، دريم صورت دا دی چې ستا علم قطعي راغلی چې دي قائل ظاهري اسناد نه دی اراده کړی، څلورم دا چې ستا علم ظني راغلی چې ه ظاهري اسناد نه دی اراد ه کړی، نو په دې دوو صورتونو کې دا مجاز عقلي شو، ځکه تاول په کې راغلی، پنځم صورت دا دی چې ستا شك راشي چې يا هلکه اوس ماته پته نشته دی چې د دې قائل دغه ظاهر اسناد مراد دی چې حقيقت عقلي شي او که نه ظاهر مراد نه دی چې مجاز عقلي شي، نو دا بيا محمول دی په حقيقت عقلي باندې، ځکه چې اصل الحاق د مشکوك دی په اغلب اعم پورې، او اعم اغلب په حقيقت و مجاز کې حقيقت دی، نوتول صورتونه پينځه شو، دريو کې حقيقت عقلي شو او دوو کې مجاز عقلي شو.

كما استدل سره شارح وروستو ولګول مثل الاستدلال اشاره يې وکړه چې دا کاف په معنی د مثل سره دی او ما مصدريه ده، نو کما استدل مؤول په تاويل د مثل الاستدلال سره شو، شبه يا هلکه دا کما استدل په ترکيب کې څه واقع شو، نو شارح جواب وکړو چې دا مفعول مطلق دی لپاره د فعل محذوفه، هغې ته يې اشاره وکړه چې **ولم يستدل بشئ على انه لم يرد ظاهره مثل الاستدلال**، يا هلکه په دې محذوف باندې قرينه څه ده؟ نو شارح وويل چې يعني **ما لم يعلم** دا عدم علم او دا عدم ظن د دلالت په عدم استدلال باندې کوي، دا قرينه شو **على ان اسناد ميز الى جذب الليالي في قول ابي النجم شعر، ميزعنه**، ای عن الراس ای راس ابي النجم **قنزعا عن قنزع**، قنزع څه ته وائي، نو شارح تفسير د غير مشهور په

مشهور سره کوي چې هو الشعر المجتمع في نواحي الراس **جذب الليالي** جذب کشيدن ته وائي، ای **مضيها** شبه: مرادبه د مضي نه هغه د زمانه د ماضي ليالي کرتي وي؟ ويل نه **اختلافها** يو بل پسې راتلل د دغه شپو، **ابطئ واسرعی**، دا په ترکيب کې څه واقع شو؟ ويل **حال من الليالي** شبه: يا هلکه حال خو نه صحيح کيږي، ځکه حال مرتبط وي د ماقبل سره او ابطئ واسرعی انشاء دی قابل د ربط نه دی؟ ويل **علی تقدير القول ای مقولاً فيها** يعنې په حال کون د ليالي کې چې ويلی شوي په حق د دوی کې ابطئ واسرعی نو دا مقوله سره د قول نه حال شو، دويم جواب کوي چې **ويجوزان يکون الامر بمعنی الخبر** تبطئين وتسرعين سره شو، دريم جواب تاسو په مطول کې ويلی وو چې جمله مستانفه هم کيدای شي په استيناف نحوي سره، **مجازدا** اسناد د ميز مجاز دی، **خبران ای استدل علی ان اسناد ميز الی جذب الليالي** مجاز، دليل څه دی په څه سره **بقوله متعلق باستدل** نو بقوله ظرف لغو شو، **ای بقول ابي النجم عقيبه** عقيبه کې تعيين د مرجع کوي **ای عقيب قوله ميز عنه قنزعا عن قنزع** څه دی؟ **افناه** شارح تعيين د مرجع کوي بيان د احتمالينو کوي، ای اباالنجم او شعر راسه **قيل الله** شبه: يا هلکه قيل په معنی د قول سره مصدر شو، نو وروستو اطلعي بدل نه صحيح کيږي، آمر چې اطلع دی مثلاً دلته بدل د مصدر نه خو نه شي راتللی، ويل **امره** امرالله مراد دی، شبه: يا هلکه د افعالو نسبت د الله ارادي ته کيږي آمر ته نه کيږي؟ ويل ارادته **للشمس اطلعي** ويل دا استدلال کيدای شي ځکه **فانه يدل** ځکه دا قول د ابي النجم دلالت کوي چې **علی انه**: چې دغه تميز، مخکې ميز کې فعل الله تعالی او ماهوله الله دی او جذبُ ته چې ما اسناد کړی دی، دا غير ماهوله دی، **وانه المبدئ والمعيد والمنشئ والمفني فيکون الاسناد الی جذب الليالي بتاول علی انه زمان** او **سبب** چې دا جذب الليالي زمانه ده، شبه: يا هلکه جذبُ خو زمانه نه ده زمانه خو ليالي دی؟ نو تاسو روايئ چې زمانه ده په اعتبار د مضاف اليه سره، ځکه اصل کې دا اضافت د صفت موصوف ته شوی دی، اصل کې، الليالي الجاذبة وو، نو زمانه شو، يا سبب لپاره د تمييز دی.

واقسامه شارح تعيين د مرجع کوي چې **ای اقسام المجاز العقلي اربعة** دی، اوس که د بهر نه څوک شبه وکړي چې څنګه چې اقسام د مجاز عقلي څلور دي نو د حقيقت عقلي هم څلور اقسام دي، اوس مثالونه د حقيقت عقلي هم دغه راتلونکي مثالونه دي خو صرف فرق دا دی چې دغه راتلونکي مثالونه د دهري نه صادر شي نو دا حقيقت عقلي دی او که د مؤحد نه صادر شي نو دا مجاز عقلي دی، نو تخصيص د اقسامو چې اربعة دي صرف په مجاز عقلي کې صحيح نه شو، تاسو جواب وکړئ چې دا تخصيص حصراً نه دی دا تمثيلاً دی، چې د مجاز عقلي اقسام څلور شو نو د حقيقت عقلي اقسام ماتن مقايسةً پريښی دی، بيا شبه راغله چې مقايسة خو په عکس سره هم حاصليدای شوه نو عکس يې ولې نه کولو، نو تاسو ووايئ چې په عکس کې توهم د خلاف المقصود وو، ځکه چې که ماتن د حقيقت عقلي اقسام څلور ويلي وي، نو بيا شبه راتله چې د حقيقت عقلي اقسام دي دغه څلور وي، او د مجاز عقلي

ممثل سره دی، ویل **نسب الفعل** چې **جعل دی الی الزمان حالاتکه وهو فعل الله تعالی حقیقة**، شبه راغله چې یا الله دا ورځ به ځنګه ماشومان بوډاګان ګرځي، ماشومانو نه به بوډاګان جوړوي حالاتکه حدیث کې راځي **اهل الجنة جرد مرد** به وي، دې د ډې دوه تفسیرونه کوي او جواب کوي، وهذا دا ګرځول د ماشومانو بوډاګان **کنایة عن شدته وکثرت الهموم والاحزان فیه** لان الشیب الحقیقي بوډاوالی **مما یتسارع عند تقاقم الشدائد** وخت د یو بل دپاسه څوریدو د مصیبتونو سره، والمحن دویم تفسیر او یا دا کنایة ده عن طوله په اشقیاؤ باني چې دا ورځ به په دوی دومره اوږده وي چې **لان الاطفال یبلغون فیه اوان الشیخوخة** او د بوډاوالي زمانه د څلویښت کالو نه وروستو شروع کیږي، او د دې ورځي اوږدوالی الف سنة **مما تعدون** دی، زه کاله دی، بل مثال ﴿وَاَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا﴾ ای ما فیها من الدفائن والخزائن، دا مثال مطابق د ممثل سره دی **نسب الاخراج الی مکانه وهو فعل الله تعالی حقیقة. وغیر مختص بالخبر** تعیین مصداقي د واو کوي چې واو څه لپاره دی ویل **عطف** یا عُطِفَ، شبه یا هلکه واو چې عاطفه شو نو هغه معطوف علیه غواړي نو د دې معطوف علیه کوم دی؟ تعیین د معطوف علیه کوي ویل **علی قوله وهو** کثیر په کثیر باندې عطف دی، نو عطف د جملې په جملې باندې شو، **وانما قال ذلك** سره شارح غرض د ماتن ذکر کوي چې د ماتن غرض د دې عبارة نه چې وهو غیر مختص ...الخ څه دی؟ دا یې د څه لپاره وویل؟ نو دی وائي **وانما قال الماتن ذلك**، ویل د دفع د توهم لپاره، او د توهم لپاره منشاء دوه خبرې دي، یو دا چې **لان تسمیة المجاز بالمجاز في الاثبات**، دویم **وایراده في احوال الاسناد الخبري، یوهم اختصاصه بالخبر**، نو ماتن د دغه وهم دفع وکړه، معترض شبه وکړه چې یا هلکه عدم اختصاصه بالخبر مستلزم نه دی اجرائه في الانشاء لره، دا مجاز په خبر پورې دي خاص نه وي خو په انشاء کې دي هم نه راځي؟ نو ویل **بل یجري في الانشاء نحو یا هامان ابن لي صرحا** دامثال مطابق د ممثل سره دی **فان البناء فعل العملة وهامان سبب امر** وکذا قولك دا لفظ د کذا یې څکه په کې زیات کړو چې دا مخکې امر بي لام وو اُبن او دې مثال کې امر بالام دی **فلینبت الربیع ماشاء ولیصم نهارك ولیجد جدك وما اشبه ذلك مما اسند فیه الامر او النهي الی ما لیس المطلوب منه صدور الفعل والترك عنه**، صدور په امر کې او ترك په نهي کې وکذا قولك وکذا سره یې دا څکه جدا کړو، څکه چې دا مخکې مثالونو کې د انشاء صیغې وې او دا راتلونکی مثال د انشاء صیغې نه دی **وکذا قولك لیت النهر جار وقوله تعالی اصلوتك تامرك** ماتن وویل **ولابدله** شارح ورسره ولګول **ای المجاز العقلي** دې کې یې اشاره وکړه تعیین د مرجع ته **من قرینة** شارح ورسره ولګول **صارفه** دې کې یې اشاره وکړه اثر مرتبه ته په قرینې باندې، چې هر کله مجاز کې قرینه ضروري شوه، نو اثر مرتبه به پرې څه وي، ویل داسې قرینه چې اړونکی وي د ارادي د ظاهر اسناد نه، متن لپاره دلیل وائي شارح چې قرینه ولې ضروري ده، ویل **لان المتبادر الی الفهم عند انتفاء القرینة هو الحقیقة** نومجاز بیا نه شي متحقق کیدای، اوس دغه قرینه **لفظیة** به وي **کمامر**، شبه راغله چې مامر خو وروستو ټول کتاب دی؟ نو مخکې ټول کتاب خوقرینه لفظي نه شي کیدای، نو شارح جواب وکړ

چې مامر نه مراد **في قول ابي النجم من قوله افناه قيل الله** دا قرينه وه چې اسناد د ميز، جذبُ ته مجاز عقلي دی، ځکه چې ميز لپاره ماهوله الله دی، **او معنوية**، يا داقرينه به معنوي وي هغه لکه **کاستحالة قيام المسند بالمذکور** پورې، نو مذکور اسم صفتي وو، موصوف يې غوښتو نو شارح ورله موصوف راوويستلو **ای المسندالیه المذکور** شبه. يا هلکه مسندالیه المذکور به مستقل وي؟ نو چې مستقل وي نو هلته کې خو بيا کلام نه جوړيږي، ويل **مع المسند**، **عقلاً** شارح ورسره ولګول **ای من جهة العقل** دي کې يې يا اشاره وکړه حاصل المعنی ته، کله چې نصب د عقلاً په نزع د خافض سره شي يا مفعول مطلق شي په حذف د مضاف سره، نزع د خافض سره دا معنی يعني في العقل: او په حذف د مضاف سره دا معنی استحالة عقل نو دا إستحالة لپاره مفعول مطلق شه، نو بنا په دې باندې اشاره حاصل المعنی ته شوه، او يا من جهة العقل کې شارح اشاره وکړه چې عقلاً او دا وروستو عادةً را روان دی، دا نصب د دوی بنا بر تميز دی، خو تميز د استحالي نه نشي کيدای ځکه استحاله کې ابهام نشته دی، بلکه تميز د نسبت د استحالي نه مستحيل ته دی، ځکه د استحالي دوه نسبتونه دي، يو نسبت صدوري دی مستحيل ته، اضافت.او يو نسبت وقوعي دی قيام ته، نوتقدير دا شو **کاستحالة المستحيل قيام المسند** نو استحاله د مستحيل، نومستحيل به څوک وي؟ ابهام راغلی نو ماتن تعيين وکړو چې عقلاً چې عقل به مستحيل وي، محال ګڼونکی به دې قيام لره عقل وي يا به عادت وي، نو نصب بنا بر تمييز صحيح شو يعني سره شارح دفع د اعتراض کوي چې يا هلکه بنا په دې باندې قول د دهري چې انبت الربيع البقل دی، هغه خو بيا مجاز عقلي شو نو؟ ځکه چې عقل د موحد قيام د انبات د ربيع پورې محال ګڼي، حالانکه دا خو تا داخل کړی دی په حقيقت عقلي کې، نو يعني سره دي جواب کوي چې مراد د عقل نه عقل د محقينو او مبطلينو ټولو مراد دی، او انبت الربيع البقل، کې اګر که عقل د مؤحد محال ګڼي خو د دهري نه ګڼي، ځکه حقيقت عقلي(کښې) داخل شو، يعني ای الماتن قصد کوي، ماتن په دې استحالي سره **يکون بحيث** وي به دا مسند په داسې شان سره **لايدعی احد من المحقين والمبطلين انه(الشان) يجوز قيامه**(المسند)، **به**: ای بالمسند اليه المذکور لان العقل دلته کې دوه نسخې دي، يو نسخه چې زمونږ او ستاسو مخکې پرته ده، نو چې د لان والا نسخه شي نو بيا به دا راتلونکی عبارة دليل شي ولا يدعی لپاره...الخ، دعوی د مجاز به ولې کوي؟ويل ځکه لان العقل اذا خلی ونفسه ځکه عقل چې خالي کړی شو د عوارضو نه او د غلبی د وهم نه او د خصوصياتو نه چې دهريت او توحيد دی او نفس عقل بما هو عقل واخلی نو **يعده محالا** نو دغه قيام محال ګڼي، نوځکه دعوی د مجاز نه کوي، محال شي جائز کيدای نه شي، نو بنا په دې نسخه باندې استحاله د قيام د مسند مسندالیه پورې بديهي شوه، دليل ته يې حاجت نشته دی، لکه وروستو راتلونکي دغه کلام کې مجئ قائم کيدل محبت پورې، د هر چا عقل مني چې جائي محبت نه شي کيدای، ځکه جائی جسم وي او محبت جسم نه دی،

دويمه نسخه دا ده چې لان العقل اذا خلى ويل داسې به نه وي دا دعوى، چې عقل چې كله خالي كړي شو او نفس د عقل واخستلى شو، نو يعده محالاً نو داسې به دا دعوى نه وي، بلكه عقل به دليل نه محتاج وي، چې دا استحاله ولې ده؟ نو بيا دا دعوى د عدم جواز نظري شوه، كقولك محبتك جاءت بي اليك دا مثال مطابق د ممثل سره دى **لظهور استحالة قيام المجن بالمحبة .وعادةً** اى من جهة العادة هغه زړه خبره ده **نحو هزم الامير الجند** دا مثال مطابق د ممثل سره دى لاستحالة قيام **هزم الجند بالامير وحده عادةً وان كان ممكناً عقلاً** ځكه عقل وائي چې يو امير كې الله داسې كمال ايښى وي چې هغه ټول لښكر نه شكست وركولى شي، نو دا څه مستعبد عند العقل نه دى.

وليس من الله بمستنكر ان يجمع العالم في واحد،

﴿ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِّلَّهِ ﴾ ابراهيم يو پوره جماعت وو، د تمامي دنيا اوصاف كماليه په كې موجود وو، نو يو ابراهيم پوره د يو جماعت په ځاى قائم شو، **وانما قال قيامه به** اوس شارح وائي چې قيامه به ماتن ولې وويل؟ داسې يې ونه ويل كاستحالة الصدور منه نو ويل قيامه به يې ځكه وويل **ليعم الصدور عنه** دَ مسند اليه نه مثل ضَرَبَ وهزم **وغيره** اى غير الصدور، كقرب وبعد، او كه داسې ويلي وي چې كاستحالة الصدور منه، نو ديته بيا نه شامليدو، وصدوره تعيين مصداقي د واو كوي چې دا واوپه وصدوره كې د څه لپاره دى؟ ويل عطف يا عُطِفَ، معطوف عليه څوك دى ؟ ويل على استحالة. اى سره قاعدې ته اشاره كوي چې ما قبل د معطوف عَليه كالمعاد في المعطوف وو، نو هلته كې كاف وو، نو دلته كې كاف را اوباسي اى كصدور الكلام، او تعيين د مرجع ته يې هم اشاره وكړه چې صدوره كې ضمير كلام ته راجع دى، لكه صادريدل د كلام شو **عن المؤحد مثل اشاب الصغير.... البيت** بيت اخره پورې ولوله، دا مثال مطابق د ممثل سره دي چې دا صدور د موحد نه د دې بيت دا قرينه عقلي ده، **فانه يكون قرينة معنوية** دغه صدور د دې كلام د مؤحد نه دا قرينه معنويه ده **على ان اسناد اشاب، وافنى الى كر الغداة ومر العشي مجاز** ځكه چې مؤحد وائي چې د اشاب و افنى لپاره ما هو له الله دى، كرُ او مرُ نه دى **لايقال** لاتري لري كوئ يقال سره شبه كوي چې مطول كې ده هلته كې دفع كړي وه، دلته كې دفع بنكاره كوي، **والى يقال هذا داخل في الاستحالة** دا په استحاله عقلي كې داخل شو، نو بيا ذكر كول مستدرك شو، ويل دغه اعتراض لادى، **لانا نقول لا نسلم ذلك** چې دا په استحاله عقلي كې داخل ده، ځكه د استحالي عقلي نه عقل د ټولو محقينو او مبطلينو مراد دى، او دلته عقل صرف د مؤحد كرتي مراد دى، دليل پرې دا دى چې **كيف** څنګه به دا داخل شي په قرينه عقليه كې **وقد ذهب اليه كثير من ذوى العقول** چې دهريه دي، ځكه هغوى وائي چې دغه كر او مر د افنى او اشاب لپاره ما هو له دى، **واحتجنا في ابطاله** ابطال د دې مذهب د كثير ته **الى دليل**، مونږ معاشره د اهل السنة والجماعة، مؤحدين دا باطلوو، **ومعرفة حقيقته** هغه دوه شبهې راغلي چې معرفت د حقيقت خود مجاز عقلي غواړي وجود د حقيقت عقلي او مجاز عقلي لپاره خو

حقيقت عقلي ضروري نه دی؟ نو شارح جواب کوي يعني سره چې وجود د حقيقت عقلي عام دی بالفعل وي او که بالقوة وي، هاں! شبه به ستا هله وه چې ما حقيقت د مجاز عقلي نه بالفعل معرفت وی ويلی. دويمه شبه دا راغله چې ته وائې چې معرفت د حقيقت عقلي يا به ظاهر وي يا به خفي وي، نو هغه خو ظاهر ده، ځکه حقيقت عقلي وائي ديته چې اسناد د فعل ماهوله ته نو ماهوله، فاعل دی په مبني للفاعل کې او مفعول دی په مبني للمفعول کې، نو هغه خو ظاهر دی نو تقسيم ظاهر ته الی نفسه شو، او خفي ته الی غيره شو او د هر تقسيم چې شان دارنګه وي نو هغه باطل وي نو دا تقسيم باطل شو، نو دی راغلی وروستو جواب کوي چې ومعرفة فاعله چې يا هلکه د حقيقت عقلي تعريف خو ظاهر دی چې اسناد راغلي وي ماهوله ته، خو ماهوله پيژندل يا به ظاهر وي يا به خفي وي، اول شبه دفع کوي يعني يقصد الماتن **ان الفعل في المجاز العقلي يجب ان يكون له فاعل اومفعول به** اګر که اسناد د فعل ورته د سره نه وي شوی، خو **اذا اسندا ای الفعل وشبهه اليه** دی فاعل او مفعول به ته **يكون الاسناد حقيقة** اګر که اسناد بالفعل نه وي، دويمه شبه دفع کوي په دې تکي سره **فمعرفة فاعله ای الاسناد اومفعوله الذي اذا اسند اليه يكون الاسناد حقيقة.**

اما ظاهرة كما في قوله تعالى فما ربحت تجارتهم ای: سره شارح هغه فاعل حقيقي ته اشاره کوي ای **فما ربحوا في تجارتهم** نو دلته کې اسناد سبب ته وشو، ځکه تجارت سبب لپاره د ربح دی، اصل کې ماهوله هغه تجار دي هغه تاجران رابحين دي، او دا ظاهر دی، ځکه چې اسناد ماهوله ته کثير نه دی **واما خفية** يا به معرفة د حقيقت د مجاز عقلي خفي وي، ځکه **لا تظهر الا بعد نظر وتامل** خفي دامعنی، د وجې د کثرة د اسناد نه فاعل مجازي ته، او فاعل حقيقي ته د سره اسناد شوی نه وي، **كما في قولك سرتني رؤيتك** ای: سره شارح د هغه فاعل حقيقي اظهار کوي ای **سرني الله تعالى عند رؤيتك** او دلته دا په تامل سره ځکه معلوميږي چې ته به تامل کوي چې دا سرور يو فعل دی د افعالو د عبادُ نه، او د هر فعل د افعالو د عبادو لپاره خالق الله دی، نو د دې سرور خالق هم الله شو نو سرني الله عند رؤيتك، او دا رؤيت سبب يا ظرف شو، او بل و **قوله ای قول الشاعر شعر**

اذا مازدته نظراً (ای يزيدك الله حسناً في وجه)
يزيدك وجهه حسنا

دې تفسير کې د شارح درې اغراض دی. يو غرض دا دی چې اشاره کوي فاعل حقيقي ته، ما هو له ته چې الله دی. هغه معلوميږي پس د تامل او د نظر نه. هغه دا چې زيادة يو فعل دی د افعالو نه او هر فعل لپاره خالق الله دی، نو د دې زيادت هم خالق الله شو. دويمه اشاره کوي چې دا يزيد دلته متعدي دی دري مفعولو ته، اول و ثاني ته بالذات او ثالث ته په واسطه د في سره، نومفعول اول ك شو ثاني حسناً شو ثالث في وجه شو، دريم غرض د شارح اي سره يې اشاره وکړه چې دلته کې اسناد شوی دی هغه مفعول ثالث ته چې هغه مفعول بالواسطه دی هغه ته شوی دی يزيدك وجه کې، او ولې زياتی کوي تا

لره حسن؟ ويل لما اودعه الله وجه من دقائق الحسن والجمال داسې باريکات د حسن يظهر بعد التامل والامعان وفي هذا سره غرض د شارح غرض د ماتن مونږ او تاسو ته بنائي چې غرض د ماتن د و معرفة حقيقته ده څه دی؟ نو وائي وفي هذا تعريض په دې قول د ماتن کې چې ومعرفة حقيقته دی، تعريض دی، اشاره ده رد ته په شيخ باندې، شيخ عبد القاهر باندې ورد عليه خو تعريضاً رد دی صراحةً نه دی. اوس د شيخ مسلك څه دی؟ او رد د ماتن څنګه دی؟ نو مذهب د شيخ بيانوي اولاً، بيا دليل د شيخ بيانوي ثانياً، بيا رد د ماتن بيانوي بقوله واعترض عليه، ثالثاً. حيث زعم الشيخ انه الشان لايجب في المجاز العقلي ان يكون للفعل فاعل يكون الاسناد صفة فاعل اليه حقيقةً، دا د شيخ مذهب شو دليل د شيخ وی فانه الشان ليس لسرتني في سرتني رؤيتك وليزيدك في يزيدك وجه حسنا فاعل يكون الاسناد اليه حقيقةً، وكذا او دارنګه اقدمني لپاره چې اقدمني بلدك حق لي على فلان ددی دپاره هم فاعل نشته دی، بلکه دلته کې دا افعال لازميه دي بل الموجود ههنا هو السرور والزيادة والقدوم او تسرير او ازدياد او اقدام نشته دی، نو بل الموجود کې يې هغه دفع د وهم ته هم اشاره وکړه چې بيا مجاز عقلي او کذب کې فرق رانغی؟ وائي چې مجاز عقلي او کذب کې فرق شته دی، ځکه کذب کې هغه محکي عنه نه بلفظه موجود وي او نه بمنشائه موجود وي، او دلته کې اګر که دا تسرير شو ازدياد شو اقدام شو بنفسه خو دوی موجود نه دي، خو بمنشائه موجود دی، چې د دوی مجرد دی، اوس هغه دريمه خبره کوي چې واعترض الامام فخر الدين الرازي بان الفعل لا بد ان يكون له فاعل حقيقةً لامتناع صدور الفعل لا عن فاعل فهو نو دغه فاعل مونږ تا نه تپوس کوو ان کان ما اسند اليه الفعل فلا مجاز والافيمكن تقديره وزعم صاحب المفتاح ان اعتراض الامام حق نو سکاکي او ماتن هم د امام رازي سره تل شو، دا دري واړه يو طرف ته شو. وان فاعل هذه الافعال هو الله تعالى. وان الشيخ لم يعرف حقيقتها حقيقت د معمول د افعالو، حقيقت د افعالو خو يې پيژندلی دی خو حقيقت د معمول يې نه دی پيژندلی چې الله د دې فاعل دی او معمول دی، لخفائها فتبعه المصنفُ، ای صاحبَ المفتاح شارح وائي دا دري واړه کبری ګان يو طرف ته شو او شيخ غريب دوی يواځې پريښودو، ويل زه شيخ يواځې نه شم پريښودلی، وائي ظني ان هذا تكلف والحق ما ذكره الشيخ چې هر فعل لپاره فاعل ضروري دی، خو فعل واقعي نفس الامري لپاره، فعل موهمي لپاره فاعل ضروري نه دی، او دلته دغه افعال، افعالِ موهميه انتزاعيه دي. يا محاكمه په دوی کې دا ده چې شيخ وائي د دې افعالو فاعل نشته نو فاعل نحوي يې مستعمل نه دی او فاعل په معنی د موجد او خالق سره الله خو دی، خو هغه فاعل بمعنی الخالق والموجود دی او فاعل نحوي د دې افعالو سوی د الله نه د هغې نه انکار امام رازي او سکاکي او ماتن هم نشي کولی، ځکه بل فاعل نحوي خو نشته، هغوی چې وائي چې د دې فاعل نشته دی، نو هغوی فاعل عام وائي چې موجد وي که فاعل نحوي وي، او دلته کې فاعل نحوي اګر که نشته خو بمعنی موجد شته، او د دې نه شيخ هم انکار نه کوي

ماتن وويل **وانكره** شارح تعيين د مرجع كوي چې انكار كړی دی د مجاز عقلي نه **السكاكي** نو سكاكي باندې شبه راغله چې يا هلكه دا مخكې امثله چې د مجاز عقلي تير شو، نو په دې كې خو مجاز عقلي بداهة موجودی، نو ته چې دا انكار كوي نو دا خو انكار د بداهت نه راغی، او انكار د بداهت نه خو مكابره وي نو ته څنګه انكار كوي؟ **وقال** شارح جواب كوي د سكاكي د طرف نه. **الذي عندي** نو الذي موصول شو او عندي يې صله شو متعلق شو ثبتَ پورې، دا موصول سره د صلې نه مبتداء شوه او نظمه في سلك الاستعارة بالكناية دا ورله خبر شو، ويل پيرل وپئيل د دغه الذي په مزي د استعاره بالكناية كې دی، زمونږ په نزد باندې دا مجاز عقلي نه دی. ويل داسې دی چې بجعل الربيع استعارة بالكناية عن الفاعل الحقيقي اوس يا هلكه دا جعل د ربيع ته استعارة بالكناية د فاعل حقيقي نه ولې كوي؟ ويل بواسطة المبالغة في التشبيه، داسې چې ته د ربيع تشبيه وركوي د فاعل حقيقي سره، نو اوس دا تشبيه چې تا وكړه نو د دې وجې نه چې دغه مشبه فرد ادعائي د مشبه به دي، په دې شان سره چې د قادر مختار دوه فرده دي، يو فرد حقيقي چې الله دی، او دويم فرد ادعائي چې دغه ربيع دی، نو شبه كې داسې مبالغه راغله چې دا تشبيه د ربيع د فاعل حقيقي سره بالكل شته دی، نو مبالغه راغله **وجعل نسبة الانبات اليه** هغه مخكې بجعل كې باء لاندې داخل دی، او ګرځول د نسبت د انبات دغه ربيع ته **قرينة للاستعارة** دا قرينه د استعاره بالكناية شوه. ځكه اثبات د لوازم مساويو د فاعل حقيقي نه دی. د ربيع نه نه دی. يا وَجَعَل هم صحيح دی، ښه، **وجعل نسبة الانبات اليه قرينة للاستعارة** ګرځولی دی سكاكي ...الخ شبه: شارح ته چا وويل چې يا هلكه تا خو دا توجيه د قول د ماتن وكړه، جائز ده چې ماتن دي په دې باندې راضي نه وي؟ هغه دی د سكاكي د قول دا توجيه نه وي كړي، نو چې ماتن پرې راضي نه شو، نو دا توجيه د قول د غير بما لايرضى به شوه، او دا صحيح نه ده نو شارح وائي **هذا معنى قوله اى الماتن**: چې ذاهباً...، نو لايرضى نه شو حال كون السكاكي ذاهباً الى ان ما مر من الامثلة ونحوه، او نحو د ما مر د امثلهؤ چې هغه په تلخيص كې نشته دی؟ **استعارة بالكناية وهو** نو شارح وائي استينافيه دی، سائل سوال وكړو چې استعارة بالكناية څه ته وائي؟ نو شارح جواب وكړو چې **وهو عند السكاكي**. عند السكاكي يې ځكه وويل چې د ماتن په نزد باندې استعاره ديته وائي. چې پټ په ذهن كې د يو شي تشبيه د بل شي سره وركړي، ديته استعاره بالكناية وائي. خو د سكاكي په نزد باندې استعارة بالكناية دا ده **أن تذكر المشبه وتريد المشبه به بواسطة قرينة وهي**: او هغه قرينه به دا وي چې **ان تنصب شيئاً من اللوازم المساوية للمشبه به** لكه مثال جزئي سره مونږه او تاسو پوهه كوي **مثل ان تشبه المنية بالسبع** په اغتيال د نفوسو كې قهراً او غلبةً، **ثم تفردها** بيا ته مستقل كړی دی منيي لره بالذكر وتضيف اليها شيئاً من لوازم السبع فتقول مخالب المنية نشبت بفلانٍ او سكاكي ديته ذهاب ځكه كړی دی **بناء على ان المراد بالربيع الفاعل الحقيقي للانبات** يا هلكه فاعل حقيقي د انبات لپاره خو الله

دی، نو بیا اطلاق د ربیع په الله باندې وشو، دا خو سوء ادب دی. ده جواب وکړو چې یعنې دا مانې قصد کوي په فاعل حقیقي سره القادر المختار، یعنې دغه عنوان سره. او قادر مختار اګرکه په عنوان کې عام دی لیکن معنون کې خاص دی، الله مراد دی. او قرینه دا ده بقرینة الاثبات الذي هو من اللوازم المساویة للفاعل الحقیقي. معترض شبه وکړه چې انبات خو د لوازم مساویو د فاعل حقیقي نه نه دی؟ ځکه فاعل حقیقي قدیم دی ازلي دی. او انبات حادث ما لایزال کې دی ممکن دی، او لازم مساوي خو دیته وائي **ما یمکن الانفکاك عن الملزوم** تاسو ووایئ چې دلته کې د لازم مساوي نه مراد د منطقیانو هغه لازم مساوي مراد نه دی، چې ما یمکن الانفکاك بینهما، لازم مساویه نه دا مراد دی چې دی نه موجودیږي بې د ملزوم نه، او دغه انبات بغیر د الله نه هم نه شي موجودیدی، نو د لازم مساویه دا معنی شوه، لکه احد المتساوین چې بې د اخر نه نشي موجودیدی، نو دغسې دغه لازم نه موجودیږي بغیر د فاعل حقیقي نه، **الیه** دي الربیع ته **وعلی هذا القیاس** غیره ویل په دې مذکور باندې بغیر د دې نه قیاس کړه، تعیین د مرجع کوي **ای غیر هذا المثال**، **حاصله** کې یو بیان کوي د وعلی هذا القیاس غیره لپاره، چې هغه غیر به څنګه قیاس کوو، دویمه قاعده کلیه بیانوي دتعمیم په مذهب د سکاکي باندې، نو وائي. **وحاصله**: حاصل د دې ما قال د سکاکي دا دی ان یشبه الفاعل المجازي بالفاعل الحقیقي وجه د شبه في تعلق وجود الفعل به، ثم یفرد الفاعل المجازي بالذکر وینسب الیه شئ من لوازم الفاعل الحقیقي، نو دغه استعارة بالکنایة شوه.

ماتن وویل **وفیه نظر** شارح ورسره تعیین د مرجع کوي، چې په دې فیما ذهب الیه السکاکي کې نظر دی، دوویم دفع د توهم کوي چې فیه کې سکاکي ته به ضمیر راجع وي؟ چې په سکاکي کې نظر دی، نو ذات د سکاکي کې څنګه نظر وي؟ ویل نه نه په ما ذهب الیه السکاکي کې نظر دی، **لانه** لانه نه مقدم د قیاس را اوباسي او یستلزم تالي د قیاس شو. یعنې که چیرته صحیح شي ما ذهب الیه د سکاکي یستلزم ان یکون المراد بالعیشة في **قوله تعالی في عیشة راضیة صاحبها**، تالي باطل دی، مقدم مثله دی. وجه د ملازمي دا ده ویل کما سیاتي في الکتاب یا هلکه ما سیاتي في الکتاب څه دی؟ من تفسیر الاستعارة بالکنایة علی ما ذهب الیه السکاکي، چې ذکر د مشبه مراد ترینه مشبه به وي، نو ذکر د فاعل مجازي مراد ترینه فاعل حقیقي شو، او شارح وائي وقد ذکرناه، چې مونږ مخکې ذکر کړی هم دی، لکه پرون، **وهو** او دغه ما ذهب الیه د سکاکي اوماذکرناه **یقتضي ان یکون المراد بالفاعل المجازي** چې مشبه وي **هو الفاعل الحقیقي فیلزم ان یکون المراد بعیشة صاحبها واللازم باطل**، یستلزم باطل دی، ځکه اذ لامعنی لقولنا هو دغه صاحب في صاحب عیشة ځکه ظرفیت د شي خپل نفس ته راځي معترض په ماتن باندې اعتراض وکړه چې دلته فاعل مجازی خو ضمیر د راضیة وو نو د هغه ضمیر د راضیة نه به ضمیر اراده کوي که نه، او عیشة خو فاعل مجازي نه دی، نو متن کې دا صحیح نه شو

چې عيش نه مراد به صاحب وي، کوم چې فاعل مجازي دی هغه عيش نه دی، او کوم چې عيش دی هغه فاعل مجازي نه دی، نو شارح جواب وکړو چې **هذا مبني** دا ما قال د مصنف مبني دی **على ان المراد بعيشة وضمير راضية واحد** دی، ځکه د راجع او د مرجع مصداق يو دی، نو چې ضمير د راضية فاعل مجازي شو نو عيش هم فاعلِ مجازي شو. دويم محال پرې راوړئ، وائي که چرته صحيح شي ما ذهب اليه د سکاکي نو **ويستلزم** لازم به شي چې **ان لا يصح الاضافة** شبه: يا هلکه مطلق اضافت به نه صحيح کيږي، نو دا ملازمه خو صحيح نه ده، ځکه که ما ذهب اليه د سکاکي صحيح شي نو چيرته په دنيا کې اضافتونه به نه صحيح کيږي؟ دا خو نه صحيح کيږي، جواب يې وکړو چې په ټوله دنيا کې اضافتونه نه دي مراد بلکه **في كل ما** په هغه ترکيب کې **اضيف الفاعل المجازي الى الفاعل الحقيقي** نو هغه به صحيح نه شي **نحو نهاره صائم** تالي باطل مقدم مثل شو، دليل د ملازمي **لبطلان اضافة الشئ الى نفسه** داسې اضافت **اللازمة من مذهبه** ای مذهب السکاکي ځکه لازم شوی **وي لان المراد بالنهار حينئذ** په وخت د استعاره بالکناية کې **فلان نفسه** شو، او ه په **نهاره** کې هم فلانکی دی، نو اضافت د شئ خپل نفس ته راغی، تالي باطل دی. **ولا شك في صحة هذه الاضافة** شبه: يا هلکه صحيح ممکن دې وي خو واقع دې نه وي؟ **وويل ووقوعها** ويل واقع هم دی **كقوله تعالى: فما ربحت تجارتهم** شارح په ماتن باندې شبه کوي، او خان له ځي، ويل دغه فما ربحت تجارتهم په تمثيل کې اولی وو، د نهاره صائم نه، اوس وجه د اوليت دا ده مطول کې تاسو ويلي وو، چې ځکه چې په نهاره صائم کې سکاکي شور شغب جوړولی شي، داسې چې يا هلکه مجاز خو په اسناد د صائم کې دی ضمير ته، او په اسناد د صائم کې نهار ته، دې کې خو نه دی، نو لفظ صريحي د نهار نه دغه زمانه واخله او ضمير د صائم چې نهار ته راجع کوي نو مراد ترينه فلان نفسه واخله، لکه صنعة الاستخدام شو. نو اضافت د شئ خپل نفس ته رانغلی، او په خلاف د فما ربحت تجارتهم کې، دا شور شغب سکاکي نه شي کولی. ليکن جواب شارح ته وکړئ، ځکه شارح اولی ويلی دی. او وهذا هو الحق يا والصواب يې نه دی ويلی. چې يا هلکه دا مناقشه ده په مثال کې او مناقشه في المثال د داب د محصلينو نه نه ده. دريم تالي محال راوړی، چې که چيرته صحيح شي ما ذهب اليه د سکاکي نو و **يستلزم ان لا يكون الامر بالبناء في قوله يا هامان ابن لي صرحاً لهامان** تالي باطل مقدم مثل. و، وجه د ملازمي دا ده، يعنې دا څه لازم ده چې امر هامان ته به نه شي، ويل ځکه لان المراد به ای هامان **حينئذ**: په وخت د استعاره بالکناية کې **هو العملة انفسهم واللازم باطل** ان لايکون باطل دی، ځکه لان النداء له والخطاب معه نو چې نداء له شو او خطاب معه شو نو امر هم هغه نه شو، څلورم تالي محال راوړی **ويستلزم** دا ما ذهب اليه د سکاکي که چيرته صحيح شي نو لازميږی چې ان يتوقف نحو انبت الربيع البقل نحو دا دی وشفي الطبيب المريض وسرتني رؤيتك مما يكون الفاعل الحقيقي هو الله تعالى على السمع او سمع من الشارع، تالي باطل مقدم مثل شو، وجه د

ملازمي دا ده **لان اسماء الله تعالى توقيفية** نو که سمع د الله نه اوشي نو صحيح به شي او که سمع نه وي نو نه صحيح کيږي، اوتالي خو باطل دی ای واللازم باطل خکه لان مثل هذا الترکيب صحيح شائع ذائع معترض شبه وکړه چې شائع او ذائع دوی خو په نزد د هغه چا باندې چې هغه اسماء د الله غير توقيفي وائي، او څوک چې توقيفي وائي د هغوی په نزد باندې د شائع او ذائع نه وي کنه، او سکاکي دي د غير قائلينو د توقيفيو نه وی، نو ده جواب وکړو عند القائلين بان اسماء الله تعالى توقيفية وغيرهم سمع من الشارع او لم يُسمع، دا د دواړو په نزد باندې شائع او ذائع دي، شائع او ذائع کې فرق دا دی چې شائع عبارة دی د کثرة الاستعمال نه، او ذائع عبارة دی د کثرة د وقوع في الکلام نه، اګر که مال يو خبرې ته کيږي، خو دا فرق اعتباري شته دی، واللوازم الاربعة کلها منتفية کما ذکرنا فينتفي کونه من باب الاستعارة بالکناية خکه لان انتفاء اللوازم يوجب انتفاء الملزوم، نوتول تاليګان باطل شو.

والجواب سره شارح دِله د سکاکي کوي، او د ماتن د دې اعتراضاتو نه جواب کوي، حاصل د جواب دا چې يا هلکه کوم چې مراد د سکاکي دی په استعاره بالکناية کې نو په هغې باندې دا اعتراضات د ماتن نه واردیږي او کوم چې ماتن فهم کړی دی د سکاکي د تفسير بالکناية نه په هغې دغه اعتراضات واردیږي خو هغه مراد د سکاکي نه دی. اوس مراد د سکاکي دا دی چې استعاره بالکناية ديته وائي چې ته ذکر د مشبه به کوي، او مراد به تري مشبه به کوي. خو ادعاءً، حقيقةً نه، دغه مشبه به په خپل خای باندې به وي خو دا فرد ادعائي د مشبه به به ګرځوي په دي شان سره چې د دغه مشبه به دوه فرده دي يو متعارف او بل غير متعارف. نو فرد متعارفه يې هغه خپل فرد دی او غير متعارف دغه مشبه شو، خکه سکاکي دا ويلي دي چې **مخالب المنية نشبت بفلانٍ** کې مراد د منيه نه دغه موت دی. خو د دې موت لپاره جامه د سبُع به اغوندو، دا موت به يو فرد د افرادو د سَبُع نه به فرض کوو، نو دي باندې اعتراضات د ماتن نه واردیږي چې عيش نه مراد صاحب دی. خو ادعاءً مراد دی چې عيش ته به مونږ جامه د صاحبيت اغوندوو. دارنګه د نهار نه مراد صائم دی خو حقيقةً نه ادعاءً چې دا نهار به يو فرد مونږ د صائم فرض کوولپاره د مبالغې په تشبيه کې، دارنګه په دې نورو کې او ماتن دا فهم کړی دی چې د سکاکي مطلب په استعاره بالکناية کې دا دی چې ذکر د مشبه او مراد ترينه مشبه به حقيقة اراده کړي ده، نو په دې باندې اعتراضونه وارد شو خو ليکن دا مراد د سکاکي نه دی نو خکه وائي چې مبنی د دې اعتراضاتو په دې باندې ده چې **على ان مذهبه في الاستعارة بالکناية ان يذکر المشبه ويراد المشبه به حقيقة** لکه ماتن دا فهم کړی دی او په دې باندې يې اعتراضونه کړي دي وليس کذلك او امر دارنګه نه دی بل يراد المشبه به ادعاءً ومبالغة لظهور ان ليس المراد بالمنية في قولنا مخالب المنية نشبت بفلان هو السبع حقيقةً. شبه: يا هلکه جائز ده چې سکاکي دی په دې باندې راضي نه وي کنه؟ ويل والسکاکي مصرح بذلك في کتابه چې ذکر د مشبه او مراد ترينه مشبه به ادعاءً به وي او حقيقةً به

نه وي. شبه: يا هلكه چې سكاكي تصريح كړي ده نو ماتن بيا دا اعتراضونه ولې كول؟ نو شارح جواب وكړو والمصنف لم يطلع عليه د سكاكي كتابونه يې نه وو كتلي نو دا خبره يې وكړه، **ولانه** سره ماتن بل اعتراض كوي په سكاكي باندې پينځم اعتراض كوي، وائي **ولانه** اى ما ذهب اليه السكاكي ينتقض يعني كه چيرته صحيح شي ما ذهب اليه د سكاكي نو دا به مات شي بنحو نهاره صائم وليلهُ قائم وما اشبه ذلك باندې. ما اشبه ذلك كوم دى؟ ويل مما يشتمل على ذكر الفاعل الحقيقي. ينتقضُ، او دليل د ملازمي څه دى؟ ويل لاشتماله على ذكر طرفى التشبيه د وجې د اشتمال د دې نهاره صائم نه په ذكر د طرفينو د تشبيه ، شبه: يا هلكه ذكر د طرفينو د تشبيه دي راشي كنه، ويل **وهو مانع**، اى ذكر طرفي التشبيه، من حمل الكلام على الاستعارة. يا هلكه د سكاكي په نږد دى مانع نه وي؟ ويل كما صرح به السكاكي. او نهاره صائم كې فاعل حقيقي مشبه به شو او نهاره په خپله فاعل مجازي شو، نو دواړه ذكر دي. والجوابُ: سره بيا شارح جواب كوي او دلې د سكاكي او ماتن ته جواب كوي. ويل جواب دا دى چې ذكر د طرفي د تشبيه دوه قسمه دى. يو هغه دى چې هغه منبئه وي د تشبيه نه او دويم هغه دى چې هغه منبئه د تشبيه نه وي. نو ذكر د طرفينو د تشبيه مانع د استعاره بالكناية نه هَله دى چې هغه منبئه د تشبيه نه وي. اخوا مبنئ د تشبيه نه كيدل عام دي كه په طريقه د حمل سره وي لكه زَيْد اسد ته روائي يا په طريقه د اضافت سره وي لكه لجين الماء كې شو. نو دلته كې دا استعاره بالكناية نه شي كيداى. دويم قسم د ذكر د طرفينو د تشبيه داسې دى چې منبئ د تشبيه نه نه وي. نو هغه مانع نه دى د حمل د كلام نه په استعاره بالكناية باندې. هغه مانع نه دى، دليل وروستو را روان دى. نو وائي والجواب انه انما يكون مانعاً اذا كان ذكرهما على وجه ينبئ عن التشبيه او كه ذكر د دواړو على وجه لاينبئ من التشبيه وو، نو هغه بيا مانع نه دى. دليل پرې دا دى **بدليل انه** اى السكاكي **جعل قوله** اى الشاعر چې اول مصرع د شعر دا ده چې **لا تعجبوا من بلي غلالته، قد زرازاره على القمر** نو گرخولى دى سكاكي دا قول **من باب الاستعارة مع ذكر الطرفين** قمر هم ذكر دى مشبه به او ازراره كې هم ضمير محبوب نه راجع دى، نو هغه هم ذكر دى چې مشبه وه ليكن منبئ د تشبيه نه نه دى. نو څكه دا سكاكي د باب داستعاري نه گرخولى. وبعضهم لما لم يقف بعضې د دې علماءُ نه چې خلخالي دى، شارح په بعضو شراحو باندې رد كوي، چې هر كله چې خبر نه شو على مراد السكاكي څكه مراد د سكاكي په استعاره بالكنايه كې دا دى چې ذكر د مشبه او مراد تري مشبه به حقيقة، د ماتن په شان هغوى بعضو دا مراد اخيستى دى، نو **اجاب عن هذه الاعتراضات** د اعتراضاتو د ماتن نه **بما** په هغه جوابونو سره **هواى** السكاكي برئ. اوس سائل سوال وكړو چې يره هغه جوابونه د دې بعضو څه دى هغه راته ذكر كړه كنه؟ شارح جواب وكړو **ورائنا تركه اولى** او مطول كې مونږ ذكر كړى دى.

احوال المسند اليه

دا خبر دی لپاره د مبتداء محذوفي نو تقدیر دا شو چې **الباب الثاني احوال المسند اليه** باب ثاني د اتو بابونو د علم معاني نه احوال د مسند اليه دي. شارح ورسره لګوي ای الامور العارضة له د دې نه غرض د شارح یو تعیین د ماهو المراد کوي د احوالُ ځکه احوال جمع د حال ده او حال په ډیرو معانیو سره راځي، حال نحوي او دارنګه حال منطقي، حال د متکلمینو حال د فقهاءُ، حال صرفي نو شارح تعیین وکړو چې دلته کې حال نه مراد امور عارضه دي مسندالیه ته. دویم غرض د شارح د دینه دفع د اعتراض کوي چې یا هلکه ښکته په مقدمه کې په بلاغة الکلام کې تیر شوي دي چې حال د دوی په نزد باندې عبارة دی د هغه امر داعیه نه په جانب د مخاطب کې چې انکار دی خلو د ذهن ده شک دی، نو د هغې خو اضافت مسندالیه ته نه شي کیدای، نو تا دلته کې اضافت د احوالُ مسندالیه ته څنګه وکړو؟ هغه احوال د مسندالیه خو نه دی احوال د سامع او مخاطب دي، نو شارح راغلی جواب یې وکړو چې هر سُور ډیری شاه ګل نه وي. د علماءُ د علم معاني په نزد باندې د حال اطلاق په دوو معانیو باندې کیږي، حال هغه امرِ داعي ته هم وائي. لکه په تعریف د بلاغة الکلام کې چې تیر شوی دی او حال امورِ عارضه ته هم وائي، دلته کې د حال نه معنی ثاني مراد ده. نو اضافت د احوالُ مسند الیه ته صحیح شو. او دا قید د حیثیت چې ورسره شارح ولګولو چې من حیث انه مسند الیه نو په دې سره یې دفع د اعتراض وکړه، اعتراض دا وارد شو چې یا هلکه من جمله د احوالو د مسند الیه نه کون د مسند الیه جزئي دی کلي دی، دارنګه کون د مسندالیه جوهر او عرض، دارنګه کون د مسندالیه موجود یا معدوم، دا هم احوال د مسندالیه دي او حالانکه د دې نه بحث په دې باب کې نه دی شوی، نو دی وائي چې قید د حیثیت په تعریفاتو د امورو کې مرعی وي، ویل **من حیث انه مسند الیه** ویل دغه امور مسندالیه ته عارض دي خو من حیث انه مسندالیه دی، او کلیت او جزئیت چې عارضیږي مسندالیه ته نو په دې حیثیت سره چې دا مفهوم دی، دارنګه جوهریت او عرضیت چې ورته عارضیږي په دي حیثیت سره چې دا موجود دی، چې موجود یا به قائم بالمحل وي یا به غیر قائم بالمحل وي، د مسندالیه په حیثیت سره نه دی، دارنګه مسندالیه ته موجود او معدوم حالت چې عارضیږي نو په اعتبار د حدوث او امکان سره، مسندالیه په حیثیت سره نه دی. بیا شبه راغله بهر نه چې یا هلکه من جمله د احوالو د مسندالیه نه کون د مسندالیه دي لپاره د حکم مؤکده یا کون د مسندالیه دې لپاره د حکم غیر مؤکده یا کون د مسندالیه دي د مسندِ مقدم لپاره یا کون د مسندالیه دی د مسندِ مؤخره لپاره، د اهم امور عارضه مسندالیه ته دی او په دې حیثیت سره چې دا مسندالیه دی نو دوی ورته عارض دي، او د دوی نه هم په دي باب کې بحث نه دی شوی. نو تاسو یو بل قید د څان نه کیږدئ،

چې عيش نه مراد به صاحب وي، کوم چې فاعل مجازي دی هغه عيش نه دی، او کوم چې عيش دی هغه فاعل مجازي نه دی، نو شارح جواب وکړو چې **هذا مبني دا ما ما قال د مصنف مبني دی على ان المراد بعيشة وضمير راضية واحد** دی، څکه د راجع او د مرجع مصداق يو دی، نو چې ضمير د راضية فاعل مجازي شو نو عيش هم فاعلِ مجازي شو. دويم محال پرې راوړئ، وائي که چرته صحيح شي ما ذهب اليه د سکاکي نو **ويستلزم** لازم به شي چې **ان لا يصح الاضافة** شبه: يا هلکه مطلق اضافت به نه صحيح کيږي، نو دا ملازمه خو صحيح نه ده، څکه که ما ذهب اليه د سکاکي صحيح شي نو چيرته په دنيا کې اضافتونه به نه صحيح کيږي؟ دا خو نه صحيح کيږي، جواب يې وکړو چې په ټوله دنيا کې اضافتونه دي مراد بلکه **في کل ما** په هغه ترکيب کې **اضيف الفاعل المجازي الى الفاعل الحقيقي** نو هغه به صحيح نه شي **نحو نهاره صائم** تالي باطل مقدم مثل شو، دليل د ملازمي **لبطلان اضافة الشئ الى نفسه** داسې اضافت **اللازمة من مذهبه** ای مذهب السکاکي څکه لازم شوی **وي لان المراد بالنهار حينئذ** په وخت د استعاره بالکناية کې **فلان نفسه** شو، او ه په **نهاره** کې هم فلانکی دی، نو اضافت د شئ خپل نفس ته راغی، تالي باطل دی. **ولا شک في صحة هذه الاضافة** شبه: يا هلکه صحيح ممکن دې وي خو واقع دې نه وي؟ **وويل ووقوعها** ويل واقع هم دی **کقوله تعالى: فما ربحت تجارتهم** شارح په ماتن باندې شبه کوي، او خان له ځي، ويل دغه فما ربحت تجارتهم په تمثيل کې اولی وو، د نهاره صائم نه، اوس وجه د اوليت دا ده مطول کې تاسو ويلي وو، چې څکه چې په نهاره صائم کې سکاکي شور شغب جوړولی شي، داسې چې يا هلکه مجاز خو په اسناد د صائم کې دی ضمير ته، او په اسناد د صائم کې نهار ته، دې کې خو نه دی، نو لفظ صريحي د نهار نه دغه زمانه واخله او ضمير د صائم چې نهار ته راجع کوي نو مراد ترينه فلان نفسه واخله، لکه صنعة الاستخدام شو. نو اضافت د شئ خپل نفس ته رانغلی، او په خلاف د فما ربحت تجارتهم کې، دا شور شغب سکاکي نه شي کولی. ليکن جواب شارح ته وکړئ، څکه شارح اولی ويلی دی. او وهذا هو الحق يا والصواب يې نه دی ويلی. چې يا هلکه دا مناقشه ده صحيح شي ما ذهب اليه د سکاکي نو و **يستلزم ان لا يكون الامر بالبناء في قوله يا هامان ابن لي صرحاً لهامان** تالي باطل مقدم مثل. و، وجه د ملازمي دا ده، يعنې دا څه لازم ده چې امر هامان ته به نه شي، ويل څکه لان المراد به ای هامان **حينئذ**: په وخت د استعاره بالکناية کې **هو العملة انفسهم واللازم باطل** ان لايکون باطل دی، څکه لان النداء له والخطاب معه نو چې نداء له شو او خطاب معه شو نو امر هم هغه ته شو، څلورم تالي محال راوړی **ويستلزم** دا ما ذهب اليه د سکاکي که چيرته صحيح شي نو لازميږی چې ان يتوقف نحو انبت الربيع البقل نحو دا دی وشفي الطبيب المريض وسرتني رؤيتك مما يكون الفاعل الحقيقي هو الله تعالى على السمع او سمع من الشارع، تالي باطل مقدم مثل شو، وجه د

مطول کې يې اينبی دی چې بالذات يعني من حيث انه مسنداليه خو بالذات او دا کون د مسنداليه لپاره د حکم مؤکده يا کون د مسنداليه د حکم غير مؤکده دا احوال عارضه مسنداليه ته بالعرض دی، په واسطي د تاکيد د حکم او د ترک تاکيد سره راځي. دارنګه کون د مسنداليه لپاره د مسند مقدمه يا مؤخره دا احوالِ بالذات نه دی احوال بالعرض دي په واسطي د مسند سره راغله بالذات نه دی راغلی. نو دا قيد به ورسره د بهر نه کيږدئ چې **ای الامور العارضه له من حيث انه مسنداليه بالذات**. دريمه شبه بيا را اوډزيده. چې يا هلکه من جمله د امورِ عارضو نه مسنداليه ته رفع ده، چې مسنداليه به د مرفوعاتو نه وي او دغه رفع مسنداليه ته من حيث انه مسنداليه عارضه ده او بالذات ده او هغې نه خو بحث په دې باب کې نه دی شوی چې رفع د مسنداليه، چې مرفوع به ولې وي؟ دا خو يې نه دي ويلي نو ناسو بل قيد کيږدئ چې التي يطابق بها اللفظ مقتضى الحال يا هلکه د امورِ عارضه ؤ نه مراد هغه امور عارضه دي مسند اليه ته چې په هغې سره مطابقت د لفظ راځي د مقتضى الحال سره او رفع د مسنداليه په دې مثابة کې نه ده. ځکه رفع امرِ عارضه مسنداليه ته دی خو په دې کې دا حيثيت نشته دی چې دا مسنداليه مرفوع ځکه شو چې مخاطب رفع غوښته، داسې ځوک نه وائي، نو يو قيد به ورسره دا کيدي چې **التي يطابق بها اللفظ مقتضى الحال**. **قدم** سره شبه کوي او د شبهې نه وروستو جواب کوي، ويل **قدم ای الماتن المسنداليه على المسند** او وجه د تقديم نه وه، نو ترجيح بلا مرجح لازمه شوه. نو شارح جواب وکړو چې لما سياتي د وجې د هغه دليل نه چې وروستو به راشي، چې مسنداليه رکن اعظم د کلام دی، محور د کلام دی او رکن اعظم مقدم وي په غير اعظم باندې نو ځکه يې مقدم کړو اوس من جمله د امورو عارضو نه مسنداليه ته حذف د مسنداليه دی نووي ويل:

واما حذفه ای حذف المسنداليه د حذف د مسنداليه نکات څه دي؟ نو د دې لپاره يې وويل چې واما حذفه يعني نکات د حذف دا دي. قدمه: سره شبه کوي او شبهې نه وروستو بيا جواب کوي، ويل مقدم کړو ماتن حذف لره **على سائر الاحوال** په باقي احوالو باندې، او مرجح د تقديم لپاره نه وو، نو ترجيح بلا مرجح لازمه شوه. يو شبه دا شوه. بلکه ترجيح د مرجوح لازميږي، دويمه شبه دا شوه، ځکه چې حذفه عدمي دی او باقي احوال وجودي دي، او وجودي اشرف وي په نسبت سره عدمي ته، نو لازم شو ترجيح د مرجوح. نوشارح جواب وکړو **لكونه** د وجې د کيدو د دې حذف نه **عبارة عن عدم الاتيان به** ای بالمسنداليه او ذکر عبارة دی د اتيان نه په مسنداليه باندې. او قانون دا دی چې **وعدم الحادث** عدم سابق د حادث، سابق على وجوده ځکه چې حادث باندې دوه قسمه عدم راځي «دي سره فائده د قيد د عدم سابق بيانوي» يو عدم سابق دويم عدم لاحق. نو عدم لاحق خو وروستو دی د وجود نه او عدم سابق په حادث کې سابق وي په وجود باندې، نو د دې وجې نه يې حذف مقدم کړو په ذکر باندې. اوس شبه

راغله چې يا هلکه دا جواب خو مطابق د سوال سره نه شو، ځکه چې سوال خو يې په دې باندې کړی او چې دا حذف يې په نورو ټولو باقيو احوالو باندې مقدم ولې کړو او جواب خو وشو صرف د تقديم د حذف په ذکر باندې، نو اعتراض عام وو او جواب خاص شو، او جواب خاصه خو د سوال عامه نه نشي صحيح کيداى؟ نو تاسو وايئ چې ګوره چې دا جواب مطابق دى د سوال سره جواب هم عام دى؟ ځکه چې کله حذف اصل شو د ذکر لپاره او ذکر اصل وو د باقي احوالو لپاره نو حذف اصل شو د باقي احوالُ نه هم ځکه چې اصل الاصل اصل وي، اصل د اصل د شئ اصل وي، نو جواب مطابق شو د سوال سره. دويمه شبه دا راځي چې دلته کې شارح وويل چې حذف عبارة دى د عدم اتيان نه په مسندالیه کې او په مطول کې ده ويلې دي چې حذف عبارة دى د اسقاط عن اللفظ نه، اما ترکه لاندې يې ويلې دي چې په مسند کې يې اما ترکه وويل او په مسندالیه کې يې اما حذفه وويل، نو ويل ځکه چې حذف عبارة دى د اسقاط عن اللفظ نه او په نيت کې به مراد وي، نو مسند اليه به د لفظ نه غورځيږي او په نيت کې به مراد وي ځکه رکن اعظم دى. او مسند کې يې ترکه وويل، ځکه ترکه د لفظ او د نيت دواړو نه غورځولو ته وائي، نو مسند د نيت او د لفظ دواړو نه سړی غورځولی شي، نو دا خو تدافع راغله د دې نه معلوم شوه چې حذف عبارة دى د عدم اتيان نه په مسند اليه باندې او هغه نه معلومه شوه چې حذف عبارة دى د اسقاط عن اللفظ نه او په نيت کې به مراد وي. نو تاسو جواب وکړئ، چې حذف په دوه قسمه دى: يو حذف اصطلاحي او دويم حذف لغوي. نو دلته کې چې دا معنى شارح کړې ده نو دا معنى لغوي ده. معنى لغوي د حذف عدم الاتيان بالمسند اليه ته وائي. او هلته کې چې يې معنى د حذف کړې ده چې حذف عبارة دى د اسقاط عن اللفظ نه او په نيت کې به مراد وي، نو د هغې نه معنى اصطلاحي مراد ده. نو تدافع په دې کې رانغله. **وذكره** سره شارح بل اعتراض کوي او بيا جواب کوي، اعتراض دا وارد شو چې ټول عبارة دلته کې څلور قسمه متصور وو: ۱. چې دلته کې يې هم حذف ويلى وى او په مسند کې يې هم واما حذفه ويلى وى، ځکه موافقت اولى دى د مخالفت نه. ۲: دويم دا وو چې دلته کې يې هم واما ترکه ويلى وى او هلته په مسند کې يې هم واما ترکه ويلى وى، نو بيا هم موافقت راتلو او موافقت اولى دى د مخالفت نه، ۳: دريم دا دى چې دلته کې يې ترکه ويلى وى او هلته کې يې وحذفه ويلى وى. ۴: او څلورم دا دى چې کوم ماتن ويلى دي چې په مسند اليه کې يې حذفه ويلى دى او په مسند کې يې هلته وترکه ويلى دى. نو دا عبارة رابع ماتن ولې مختار کړو؟ حالانکه ټول صورتونه په دې کې څلور جوړيدو. نو دغه شبه کوي ويل **وذكره ههنا بلفظ الحذف وفي المسند بلفظ الترك** او هغه دري نور عبارتونه يې نه دي ذکر کړي، دا ځکه **تنبيهاً** دا جواب دى، چې لپاره د خبرداری ورکولو د ماتن **على ان المسند اليه هو الركن الاعظم** داسې رکن اعظم دى چې **شديد الحاجة اليه** دا محور د کلام دى، خامخا به وي، **حتى انه فائده** دا شوه **انا لم يذكر المسنداليه فكانه اتى به** نيت کې په دې

سره راتله وشو **ثم حذفه، بخلاف المسند** هلته کې يې ترک وويل، ترک ديته وائي اسقاط د لفظ او د نيت دواړو نه، **فانه (اى المسند) ليس بهذه المثابة** ويل ځکه چې مسند په دې مرتبه کې نه دی، **فكانه اى المسند ترك عن اصله** د لفظ نه هم او د نيت نه هم دواړو نه غورځولی شوی دی. او د دغه کلام د شارح نه معلوم شو چې حذف عبارة دی د اسقاط عن اللفظ نه فقط او مخکې ده وويل چې حذف عبارة دی د عدم الاتيان په نه، نو تدافع راغله. نو ما تاسو ته تدافع دفعه کړې ده، چې هغه په معنی لغوي سره دی او دا په معنی اصطلاحي سره دی. اوس حذف د مسندالیه لپاره نکات څه دي؟ ويل: **فللاحتراز عن العبث** شبه: يا هلکه اوس تا وويل چې مسندالیه رکن اعظم دي او رکن اعظم ذکر کولو سره خو عبث نه لازميږي، ويل **بناء على الظاهر** ظاهراً عبث ځکه لازميږي، دليل يې دا دی **لدلالة القرينة عليه**، د الظاهر قيد فائده وائي چې دا بناء على الظاهر يې بيا ولې وويل؟ د دې قيد فائده څه ده؟ ويل فائده يې دا ده چې **وان كان في الحقيقة ركن من الكلام** په حقيقت او نفس الامر کې عبث نشته نه دی ځکه دا رکن من الكلام دی. او په ذکر د رکن من الكلام سره عبث نه لازميږي. او **تخييل العدول** يا حذف د مسندالیه کولی شي لپاره د غورځولو د متکلم په خيال د سامع کې (عدول) **الى اقوى الدليلين**، دليلين څۀ دي **من العقل واللفظ** او اقوى په کې عقل دی. دليل وائي تخييل لپاره چې دلته کې تخييل ځکه راغلی چې **دى فان الاعتماد عند الذكر دلالة اللفظ** معترض شبه وکړه چې يا هلکه لفظ دلالت په مسندالیه باندې نه شي کولی تر څو پورې چې عقل نه وي **نو اعتماد عند الذكر على دلالة اللفظ**، لفظ فقط نه دی. جواب يې وکړو **من حيث الظاهر** ظاهر دا ده چې مسند اليه د لفظ نه معلوميږي. **وعند الحذف** اعتماد **على دلالة العقل** باندې کيږي، او دا هم من حيث الظاهر، ځکه وروستو يې فائده راځي. **وهو اى العقل اقوى لافتقار اللفظ اليه** ځکه دلالت لفظي مفتقر عقلي ته دی او دلالت عقلي مفتقر لفظ ته نه دی، **وانما قال** سره شارح دفع د اعتراض کوي چې يا هلکه مبنی د متونو بنا بر اختصار ده، نو دا تخييل تکی يې ولې زيات کړو؟ خو داسې به يې ويلی وی چې او **العدول الى اقوى الدليلين من العقل واللفظ**. نو دي جواب کوي چې **وانما قال تخييل** يې ځکه وويل **لان الدال حقيقة عند الحذف ايضاً** لکه په وخت د ذکر کې دال **هو اللفظ المدلول عليه بالقرائن** نو په نفس الامر کې دال عقل بالکلية نه شو، خو متکلم په خيال د سامعينو کې دا وغورځول. مثال داسې شو کقوله شعر قال لي كيف انت قلت عليل، يا هلکه سبب د بيماری څه دی؟ ويل سهر دائم وحزن طويل. دا مثال مطابق د ممثل سره دی لم يقل انا عليل **فللاحتراز عن العبث والتخييل المذكورين** شارح چه والتخيل اويل نو اشاره يې وکړه چې دا او په او التخييل کې په قول دماتن د مانعة الخلو لپاره دی، چې دا حذف به د دې دوو نکتو نه خالي نه وي، که جمع راشي باك نشته.

او **اختبار تنبه السامع عند القرينة** يا حذف د مسندالیه کولی شي لپاره د امتحان کولو د خبريدو د سامع په وخت د قرينې کې، هل: سره کيفيت د امتحان بيانوي چې امتحان څنګه کوي؟ چې **هل يتنبه ام لا؟**

چې يا هلکه دا سامع په هغه مسند اليه محذوفه باندې خبريدی شي که نه نه شي خبريدی او اختبار مقدار
تنبيه اختبار: شارح ځکه راويستلو چې دا مقدار په تنبه باندې عطف دی. يعنی يا مسند اليه حذف
کولی شي لپاره دامتحان کولود مقدار د خبريدو د سامع، چې دا سامع په ذکاوت کې او په علم کې
څومره مقدار کې دی، داسې چې هل يتنبه بالقرائن الخفية چې دغه سامع ايا په قرائنو خفيو سره دغه
مسند اليه معلومولی شي نو ذکي شو ام لا که نه شي معلومولی نو غبي شو. نو په دې حذف سره هغه
مقدار د ذکاوت، مقدار د غباوت د سامع معلوميږي. لکه پاس دی محشي قيصه ذکر کړي ده چې
بعضې د خليفه ګانو د بني عباسو نه په يو کشتی کې سُور شو د يو کس سره، سره د خپلو ملګرو نه،
نو خليفه د هغه سړي نه تپوس وکړو چې ای طعام اشهی عندك چې کوم يو خوراك تا ته ډير مشتهی دی،
نو هغه په جواب کې وويل مخ البيض المصلوق ويل د هغه اګی. هغه صاف کړی شوی مغز وي دا زيړ زما
ډير خوښ دي، دغه يې وويل جدا شو او د کشتی نه لاړ بل کال يو کال په کې تير شو او بيا دا دواړه
دغه خليفه او هغه کس په کشتی کې سواره شو، نو دې خليفه ورته وويل چې مع ای شئ خليفه مسند
اليه حذف کړو، يعنې مخ البيض المصلوق مع ای شئ نو هغه جواب کې وويل چې مع الملح، نو فتعجب
الحاضرون، چې دا سړی ډير ذکي وو، چې يو کال تير شوی وو او بيا هم هغه محذوف مسند اليه ددې يا
د دې هغه محذوف او ايهام صونه يا حذف د مسند اليه کولی شي د وجې د غورځولو د متکلم نه په وهم
د سامع کې ساتنه د مسند اليه عن لسانك د ژبې ستا نه تعظيماً له ای المسند اليه، چې دا مسند اليه ډير
عظيم الشان شی دی، زه پرې په ژبې باندې تلفظ نه شم کولی ځکه زما ژبه ډيره دنی او ډيره لاتدې ده،
او ايهام يې ځکه وويل چې حقيقت کې خو تلفظ شوی دی، ځکه محذوف کالمذکور دی، او عکسه يا
حذف د مسند اليه کولی شي د ساتنې د ژبې ستا ای ايهام صون لسانك عنه تحقيرا له يا دی وائي چې يا
هلکه دا مسند اليه ډير حقير دی، بيکاره شی دی، زه په ژبه باندې د دې تلفظ نه کوم تلفظ کول پرې نه
غواړم د اول مثال دا شو مثلاً مقرر الشرائع، نو مقرر الشرائع څوك دی؟ محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مقرر
الشرائع، دويم لپاره مثال لکه مُوسوس لکه الشيطان موسوس او تاتي الانکار ای تيسره، دې سره
تفسير د غير مشهور کوي په مشهور سره، چې لپاره د اسانی د انکار د متکلم خو انکار هله کوي،
اسانيږي هله لدی الحاجة لکه اوس په دې مجلس کې خلک ناست دي او زه اوس زيد ته فاسق او فاجر
وايم، نو که ما داسې وويل چې زيد فاجر فاسق نو جګړه جوړيږي، او چې ما مسند اليه حذف کړو فاجر
او فاسق مې وويل نو زيد وويل چې تا ماته وويل، نو زه ويلی شم چې نه ما تاته نه دي ويلې، بلکه ما
عمرو ته ويلي دي، نو جګړه جوړه نه شوه عند قيام القرينة على ان المراد زيد ليتاتي لك يعنې حذف
المسند اليه ههنا، دليتاتي متعلق محذوف شو او معلول يې هم محذوف شو، يعنې حُذف المسند اليه
ههنا ليتاتي لك يا ايها المتكلم ان تقول ما اردت زيدا بل غيره او تعينه يا حذف د مسند اليه کولی شي د وجې د

تعين د مسند اليه نه ځکه چې مسند اليه متعين دی نو حذف کړی شو، والظاهر سره شارح اعتراض کوي او لکن ذکره لامرين سره جواب کوي. اعتراض دا کوي چې والظاهر چې ظاهر دا ده چې **ان ذکر الاحتراز عن العبث يغني عن ذلك** (عن تعينه)، نه ځکه چې مسند اليه متعين وو نو ذکر يې بيا عبث کيږي، نو اوتعينه ذکر کول د وجې د ذکر د احتراز عن العبث نه، وروستو مستدرك شو، ځکه چې مسند اليه کله په نفس الامر کې متعين شو نو ذکر کولو سره عبث لازميږي، **لکن**: سره شارح جواب کوي چې **لکن ذکره** دې قول لره چې **او تعينه لامرين**، د دوو وجو نه: احدهما يو د دې د امرينو نه الاحتراز عن سوء ترك الادب، **فيما** ای في مثال ذکروا (ای العلماء) له ای للتعيين من المثال دا بيان د ما شو په فيما کې، دوی مثال داسې ذکر کړی دی چې **وهو خالق لما يشاء فعال لما يريد** نو دلته کې مسند اليه الله شو، اوس ته دا ځوله نه شي خوزولی چې دلته کې يې حذف د مسند اليه کړی دی د وجې د عبث نه، ځکه ذکر د الله خو عبث نه دی. نو ځکه يې او تعينه جدا ذکر کړوچې مسند اليه په نفس الامر کې متعين دی، خالق لما يشاء الله دی، فعال لما يريد الله دی. حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه بيمار وو، نو ملګري د هغه خبر بيمار پرسی ته لاړ، نو ورته يې وويل چې ته چيرته حکيم ته تلی ئې، مشوره دې کړې ده؟ هغه وويل هو ما مشوره کړې ده. وی ويل چې څه يې درته وويل؟ هغه وويل ما ته يې دا جواب را کړو چې **فعال لما يريد**.

الثاني: دويم امر دا دی **التوطية والتمهيد لقوله او ادعائه التعين** چې او تعينه يې ذکر کړی دی د تعيين او د ادعاء د تعيين کې د فرق لپاره. چې مسند اليه په نفس الامر کې متعين نه وي، متکلم دعوی د تعيين کړی وی چې دا ظاهر وي **نحو وهاب الالوف** نو وهاب الالوف په پاکستان کې مشرف هم دی او شوکت عزيز هم دی او بل يو سيټ د کراچۍ هم دی. دا ټول وهاب الالوف دی چې مالدار وي او سخی وي نو هر يو وهاب الالوف دي، او په نفس الامر کې نشته دی. ليکن متکلم دعوی وکړه چې ای السلطان چې يا هلکه وهاب الالوف مشرف دی. ځکه ووټونه را روان دی په مخه باندې سرکاري بيت المال تقسيموي. **او نحو ذلك** يا مثل د دې، اوس شارح د نحو ذلك بيان کوي چې هغه **کضيق المقام عن اطالة الکلام** مقام ځکه تنګ دی د کلام اوږدولو نه چې **بسبب ضجر** په سبب د تنګدلی د متکلم سره. متکلم خفه دی او اوږد کلام خفه سړی نه شي کولی. مالي خليا بيماري ده پرې، سودائي دی **او سامة** يا د وجې د سترې والي نه، متکلم سترې دی وائي چې زما د اوږد کلام د زړه زور نشته دی، او فوات فرصة متکلم وائي چې ما ته دومره وخت نشته دی، فرصت ديته وائي چې **قطعة من الزمان بحيث يحصل فيه المقصود** لکه مونږه کاسو په پښتو کې هم دا وايو چې يا هلکه ماسره دومره فرصت نشته، معنی ما سره دومره وخت نشته چې ستا دا کار وکړم **او محافظة على وزن** يا د محافظت نه په وزن شعري باندې، چې د شعر وزن خرابيږي نو مسند اليه حذف کړي **او سجع** يا د وجې د محافظة د سجع نه، وزن عام دی په شعر او نثر دواړو کې راځي او سجع په کلام نثري کې راځي، او قافيه په شعر کې راځي، وما اشبه ذلك ای

المذکور، او د ضیق المقام مثال لکه **کقوله ای کقولك الصیاد** لکه قول د ښکار کوونکی شو غزال دلته
کقول الصیاد کې اضافت مفعول ته وکړئ، یعنې کقول الرجل الصیاد، لکه دوه ملګري دي یو ښکار
کوي او یو هسې ورسره ملګری دی، نو هغه ښکار کوونکی ښکار نه دی لیدلی او ملګري یې ولیدلی
نو هغه ښکار کوونکي ته وائي چې غزال چې یا هلکه را موسکی پورې ښکاره شوه، نو مسند الیه یې
حذف کړو چې اصل کې هذا غزال وو، دا ځکه چې که هذا یې ذکر کړو نو هغه ښکار به تختیدلی وي
مقام تنګ دی نو غزاله غزال به ه وائي، نو هغه ګذار وکړي نو لاندې به یې کړي. وکالاخفاء دا عطف دی
په مخکې کضیق المقام باندې، لکه پتول د مسند الیه شو **عن غیر السامع من الحاضرین** شبه: اوس ګورئ
که دا من الحاضرین تاسو د غیر بیان کړو، چې غیر د سامع چې دا غیر د حاضرینو نه وي، نو چې
څوك حاضر شو نو هغه غیر سامع نه شي کیدای. نو دا من الحاضرین بیان د غیر لپاره نه شي کیدای
ځکه چې حاضر شو نو هغه غیر سامع نه وي بلکه سامع وي **والا لیلوح علی کلامه اثر الغلط**. او که من
الحاضرین ته د السامع لپاره بیان جوړوي نو معنی دا شوه چې دا سامع د حاضرینو نه وي نو ته
مسند الیه پتوی د غیر د سامع حاضر نه، نو هغه که ذکر یې کړی نو هم پټ دی او که حذف یې کړی نو
هم پټ دی، ځکه چې هغه نه سامع شو او نه حاضر شو، نو دواړو نه پټ شو، نو من الحاضرین د دواړو
لپاره بیان نه صحیح کیږي، نو عبارت صحیح نه شو، نو تاسو به جواب وکړئ چې دلته کې دا سامع په
معنی د مخاطب سره دی، نو تقدیر دا شو، کالاخفاء عن غیر المخاطب هغه غیر د مخاطب نه من
الحاضرین نه وي، اوس مثلاً زه خطاب دي مخامخ دریو کسانو سره کوم دا نور د دوی نه اخوا دیخوا
غیر مخاطب دی او حاضر په دې مجلس کې دی، چې مخاطب نه وي او حاضر وي او دا کیدای شي
نواوس عبارت صحیح شو. لکه اوس زه دلته کې وایم چې **مثل جاء**، ما دۀ ته وویل چې دا مخامخ دی ما
ته چې جاء، نو ده ته خو معلوم دي چې جاءني زید دی، مسند الیه ما حذف کړو، خو زه یې دي درې
نورو نه پټوم، په دي نورو کې مثلاً د زید دشمن دی، نو که زه ووایم چې جاء زید، نو هغوی به لا
نیسي او زید به وژني، نو ما وویل جاء، او ده ته مې وویل، نو دی پوهه شو چې زید راغلی دی، ده ته
هم پته وه چې جاءني زید دی او د نورو نه پناه شو، نو ځکه حذف د دې وجې نه وي بل مثال وائي
وکاتباع الاستعمال او دا حذف د مسند الیه کولی شي د وجې د اتباع کولو د متکلم نه د استعمال،
داسې استعمال چې وارد وي **علی ترکه ای المسند الیه** یعنې ښکته په محکي عنه کې په منقول عنه کې
مسند الیه حذف شوی وي نو متکلم هم په خپل کلام کې هغه شان حذف کړي، یعنې په منقول کې او
په حکایت کې، لپاره د اتباع د استعمال د هغه منقول عنه سره لکه مثال داسې شو چې **رمیة من غیر رام**
اوس د دې په اصل کې په شان نزول کې «شانِ قیصه یا پس منظر د دې» منقول عنه د دې دا دی: یو
ښکاري سړی وو، حکم بن عبد یغوث نوم یې وو، هغه نذر ومنلو چې زه به په غب غب غر باندې یو

بارانی غوا ذبح کوم، دا نذر یې وکړو. نو ډیرې پیرې هغه ښکار پسې لاړ هغه بارانی غوا یې لاس ته نه راځي، نذر یې نه پوره کیږي. اخري دی دومره غصه او خفه شو چې خودکشی ته تیار شو، چې یره نذر نه پوره کیږي زه ځان وژنم. عربو کې د ایفاء د نذر ډیر قانون وو، نو د ده زوی وو مطعم هغه وویل چې ته ځان مه وژنه، نن به دواړه لاړ شو دواړه به کوشش کوو. نو پلار او زوی دواړه لاړل د غب غب غر لمنې ته، نو چې لاړل نو دواړه کیناستل، نو پورې بهرنی غوا ښکاره شوه، پلار ګذار وکړو خطاء شو بیا یې ګذار وکړو خطاء، دریم پیری یې زوی ګذار وکړو مطعم نو ولګیدو، او مطعم ښکاري نه وو پوهیده نه، نو قانون دا دی چې د یو ماهر سړي په مخکې یو کار غیر ماهر سړی وکړي او ماهر یې ونه کړی شي نو هغه ماهر ملامته کیږي، نو پلار ملامته شو، نو ورته یې وویل چې یا هلکه **رمیة من غیر رام** ویل چې دا ویشتل د دې ویشتونکي نه هسې د راندې د لاس غرګی وو. تا هسې وویشته، ته پوهیدې نه. نو دلته کې یې حذف د مسندالیه وکړو چې هذه رمیة من غیر رام نو اوس وروستو دا ضرب مثل شو د دې لپاره چې هر یو سړی نه چې یو کار صادر شي او هغه اهل د هغه کار نه وي، نو هغه ته ویلی کیږي رمیة من غیر رام ،لکه مثلاً تا چیرته دعوت نه دی کړی، ناڅاپي تا دعوت وکړو، مونږ وایو چې یا هلکه **رمیة من غیر رام. او ترك نظائره** یا لکه اتباع داستعمال شوه چې هغه وارد دي په ترك د نظائرو د دې مسندالیه باندې، یعني امثالو د مسندالیه باندې، هغه لکه **مثل الرفع علی المدح او الذم او الترحم** قانون دا دی چې یو نعت مجروره وي، نو دغه نعت مجروره به یا مادحه وي لکه بسم الله الرحمنُ الرحیمُ کې شو، یا به ذامه وي لکه **اعوذ بالله من الشیطان الرجیم** کې شو، یا ترحّمه به وي، لکه مررت بزید المسکین کې شو، اوس دغه نعت مجروره نقل شي رفع ته الرحمنُ الرحیمُ ووائي الرجیمُ ووائي المسکینُ ووائي، نو دا خبر د مبتداء محذوفي دی وجوباً، مبتداء به یې محذوف وي، ځکه به محذوف وي، ځکه چې که مبتداء ته ذکر کوي نو بیا په دې کې اشعار نه راځي په اصل باندې چې په اصل کې دا نعت مجروره وو او بیا منتقل شوی دی رفعي ته. ځکه بیا خو دا کلام مستقله جوړ شو، نو د دې وجې نه به ته مبتداء حذف کوي. نو اوس ګوره مبتداء په الرجیم کې هو الرجیم شو او الرحمن الرحیم کې هو الرحمن الرحیم شو او المسکینُ هو المسکین شوږ نو دي ځای کې مبتداء حذف شوي ده نو دغه ځای کې د دې نور نظائر راشي، نعت مجروره هم دال په مدحه باندې وي یا ذم باندې یا ترحم باندې وي نو هلته کې به هم ته دا کار کوي.

احوال المسند الیه ای ذکرهٗ یا ذکر المسند الیه: **واما ذکره** شارح ورسره ولګول ای **ذکر المسند الیه** دي کې یې اشاره وکړه تعیین د مرجع ته، **فلکونه ای الذکر** دي کې یې هم تعیین د مرجع ته اشاره وکړه **الاصل** ځکه چې ذکر یې ویل اصل دی. معترض راغلی شبه یې وکړه چې یا هلکه ذکر اصل شو نو بیا خو هغه نکات د حذف صحیح نه شو، بیا هغه نکات د حذف ټول باطل شو، ځکه د اصل په مقابله کې غیر

اصل باطل وي. نوشارح جواب وکړو چې يا هلکه ذکر د مسند اليه اصل دی. خو مطلقاً اصل نه دی. هلته اصل دی چې مقتضی د عدول نه وي. او که مقتضی د عدول وي لکه نکات د حذف شو، نو بيا ذکر د مسندالیه اصل نه دی. **ولا مقتضی للعدول عنه ای الذکر** نولنډه خبره دا شوه چې ذکر د مسندالیه اصل مقيداً شواو مطلقاً نه شو. **او الاحتياط** يا ذکر د مسندالیه کولی شي د وجې د احتياط کولو د متکلم نه **لضعف التعويل** تفسير د غير مشهور په مشهور سره کوي **ای الاعتماد** د وجې د ضعف د اعتماد د متکلم نه **علی القرينة** ځکه متکلم وائي که زه مسندالیه حذف کړم نو دا قرينه ضعيفه ده. په دې قرينې سره سامع هغه مسند اليه محذوفه نه شي معلومولی نو ذکر يې کړي. **او التنبيه** يا لپاره د تنبيه ورکولو د متکلم حاضرينو ته **علی غباوة السامع** چې زما دا سامع دومره غبي دی چې دی بغير د ذکر نه نه پوهيږي. **او زيادة الايضاح والتقرير** يا ذکر د مسندالیه کولی شي لپاره د زيادة وضاحت د مسند اليه او لپاره د ثابتولو د مسند اليه په نفس د سامع کې. **وعليه** او په دې ذکر باندې لپاره د زيادت د ايضاح او تقرير باندې **قوله تعالی** دی چې ﴿أُولَٰئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ نو دا دويم اولنۍ يې ځکه ذکر کړو. ګڼي ديته څه حاجت وو؟ خو دا هم المفلحون به تا عطف کړی وو، په **علی هدی من ربهم** باندې مخکښی اولنۍ مبتداء وو، نو تاسو وايئ چې دا لپاره د زيادة ايضاح او تقرير لپاره چې دا په هدايت باندې چې دی په دنيا کې همدغه کسان دي لاس پرې کيږدئ چې موصوف په دې صفات خمسه ؤ سره دی. او فلاح او کاميابي چې په اخرت کې مومي همدغه کسان دي لاس په دې کيده چې موصوف پدې صفات خمسه ؤ سره دی. او دا هله کيږي چې دويم اولنۍ راوړی شي. ځکه چې اعاده د اسم اشاره دا داسې ده لکه په شان د اعادې د مشار اليه، او مشار اليه خو موصوف په صفات خمسه ؤ سره وو، نو اعاده د اسم اشاره وشوه نو دا داسی ده لکه اعاده د مشارالیه اوشوه.

اواظهار تعظيمه يا ذکر کولی شي مسندالیه د وجې د اظهارد تعظيم د مسندالیه نه **لکون اسمه مما يدل علی التعظيم، لکون اسمه** سره يو غرض دا چې دليل يې وويل د متن لپاره. دويم غرض دا چې دفع د اعتراض يې وکړه چې يا هلکه زيد قائم کې ذکر د مسندالیه وشو او دا خو څه دلالت په تعظيم د زيد باندې نه کوي. نو دې وائي چې هر مسندالیه نه دی کنه. چې هغه به بس دلالت په تعظيم کوي بلکه لکون اسمه مما يدل ....الخ کوم مسندالیه چې اسم د هغه دلالت په تعظيم باندې کوي، هغه مسندالیه مراد دی، هر مسند اليه مراد نه دی، لکه **نحو امير المؤمنين حاضر** نو د امير المؤمنين په لفظ کې تعظيم دی، خلک ترې رپيږي. او **اهانته** يا لپاره د اهانت د مسندالیه **نحو السارق اللئيم حاضر**، يا بخيل حاضر دی **او التبرک** يا لپاره د تبرک او خير حاصلولو بذکره په ذکر د مسندالیه سره **مثل النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قائل هذا القول**. **او استلذاذه** يا ذکر د مسندالیه کولی شي د وجې د موندلو د متکلم نه مسندالیه لره لذيذ.

خکه متکلم وائي چې په دي مسند اليه باندې تلفظ کول ماته مزه راکوي **مثل الحبيب حاضر. او بسط** الکلام يا ذکر د مسند اليه کولی شي لپاره د فراخی د کلام، اوږدولو د کلام **حيث الاصغاء** په هغه ځای کې چې غوږ کښېودل د سامع **مطلوب** مطلوب د متکلم وي. ای **في مقام** دې سره شارح اشاره وکړه چې دا حيث په قول د ماتن کې مکانيه دی ځکه حيث اکثر اغلب مکان لپاره راځي، او کله کله د زمانې لپاره راځي اکثر حيث د مکان لپاره راځي لکه په دې قول د شاعر کې چې

وللفتى عقل يعيش به حيث تحرك ساقه او قدمه

ويل د خوان لپاره عقل دی چې په هغې باندې دی ژوند تيروي، کله چې وخوزيږي کومې زمانې پورې چې اوخوزيږي پنډی د ده يا قدم د ده، يعنې زنکدن يې شروع شي، نو دلته شعر کې دا حيث زمانيه دی ځکه انتهاء د اجل په زماني سره راځي په مکان سره نه راځي **يكون اصغاء السامع** يکون کې يې اشاره وکړه چې دا حيث ظرف د يکون لپاره دی او متعلق دی يکون محذوفه پورې. **اصغاء السامع** کې يې اشاره وکړه چې **الاصغاء** په قول د ماتن کې الف لام پکښې عوض د مضاف اليه نه دی يا عهد خارجي دي مراد **الاصغاء** نه اصغاء د سامع مراد ده، **مطلوباً** دا د متن مطلوب شو **للمتكلم** کې يې اشاره وکړه چې مطلوب نو طالب غواړي نو طالب به ځوک وي نو ويل متکلم به وي. د متن لپاره دليل وائي چې دا اصغاء د سامع مطلوب د متکلم ځکه ده چې **لعظمته وشرفه** ځکه چې دا سامع به عظيم الشان ذات وي او شريف ذات به وي، نو متکلم وائي چې ده ما ته غوږ ايښی وي او زه ورته چالو (شروع) يم، **ولهذا** او د دې وجې نه يعنې کوم وخت کې چې سامع عظيم شي يا سامع شريف شي نو **يطال الكلام مع الاحباء** ځکه چې محبوب سره سړی خبرې کوي نو کلام اوږدوي څه انې بهانې سره کلام اوږدوي **نحو قوله تعالى حال كونه تعالى حكاية عن موسى على نبينا وعليه السلام، هي عصاي** الله تري نه تپوس وکړو چې **وما تلك بيمينك يا موسى** نو تپوس ته ځه حاجت وو ځکه چې الله ته خو معلومه وه چې د ده په لاس کې امساء ده، نو ديته وائي چې سوال المعلوم مساق المجهول، الله ته معلومه ده چې د ده په لاس کې امساء ده خو تپوس يې تري نه د دې لپاره وکړو چې د دې اقرار د ده نه واخلم چې دی په خپله اقرار وکړي چې دا عصا ده. نو لږ غوندې وروستو د دې نه لويه اژدها جوړيږي، خامار جوړيږي، نو چې په ده اشتباه رانه شي، چې زما هغه عصا چيرته لاړه، چې خامار پيدا شو نو زما عصا چيرته ورکه شوه؟ بلکه د ده بنه يقين راشي چې دغه امساء چې زما په لاس کې وه د دې نه هغه خامار جوړ شوی دی. نو موسی عليه السلام ورته وويل چې هي عصاي، نو عصاي کافي وو هي ته حاجت نه وو، خو کلام د الله سره وو، الله محبوب وو، بيا يې په دي باندې اکتفاء ونه کړه ويل اتوکو عليها فوائد يې د دې عصا هم بيان کړو چې ويل زه په دي تکيه لګوم، تيک په لګوم بله فائده يې هم ورته بيان کړه واهش بها على غنمي چې په دي سره سنډوم د اونو نه پانې خپلو بيزو ته چې دی ځای ته ورسيدو نو حضرت موسی عليه السلام باندې خوف طاري شو او يره پرې

راغله نو بس خبره يې ختمه کړه، خلاصه يې راوويسته چې ولې فيها مأرب اخرى . بعضې نکات د ذکر د ماتن نه پاتې شوي وو، نو شارح يې ذکر کوي او وائي **وقد يكون الذكر** اى ذكر المسند اليه **للتهويل** لپاره د يرولو د مخاطب، چې ورته وائي چې **امير المؤمنين يامر بكذا** نو د امير المؤمنين د امر نه بيا څوک خلاف کولی شي؟ نه **او التعجب** او کله کله ذکر کولی شي مسند اليه لپاره د تعجب لکه **الصبي يقاوم الاسد** ماشوم د ازمري سره مقابله وکړه، تعجب شو . **او الاشهاد** يا ذکر د مسند اليه کولی شي لپاره د گواه نيولو **في قضية** په يو حادثه کې، چې په يو حادثه کې ته گواه نيسي نو هلته کې ته ذکر د مسند اليه کوي د دې لپاره چې صبا هغه مدعى عليه انکار ونه کړي، لکه شاهد کاتب ته ووائي زيد خپل مرئي يا وينځه خرڅه کړي په عمرو باندې او زيد دوه گواهان قائم کړي وو چې تاسو گواهان شئ چې ما دا خپل مرئي په عمرو باندې په زر روپو باندې خرڅ کړو، نو شاهد کاتب ته وائي چې **باع زيد غلامه بكذا على عمرو** چې سبا له مونږه گواهي کؤو نو زيد به انکار نشي کولی. **او التسجيل** يا ذکر د مسند اليه کولی شي لپاره د احکام په سامع باندې چې په سامع باندې خبره محکم کوي چې بيا انکار نه شي کولی، لکه ته ووائي چې **حكم القاضي بما اقول** نو د قاضي د حکم نه ته انکار نشي کولی **حتى لا يكون له سبيل الى الانكار**.

تعريف المسند اليه :

واما تعريفه شارح ورسره لګوي **اى ايراد المسند اليه معرفة** نو يو غرض د شارح اشاره کوي چې دا تعريف مصدر متعدي دی، معنی دا چې راوړل د متکلم مسند اليه لره معرفه. نو اضافت د مصدر مفعول ته وشو، او کوم مصدر چې مضاف وي مفعول ته نو هغه مصدر متعدي وي لازمي نه وي. نو شارح اشاره وکړه چې دا مصدر متعدي دی لازمي ندی. دويم غرض د شارح دفع د اعتراض کوي. چې يا هلکه د تعريف د مسند اليه معنی به دا وي چې جعل د مسند اليه معرفة به وي، او جعل د مسند اليه معرفة دا خو کار د واضع دی؟ او مونږه دلته کې چې نکات بيانوو نو کار د واضع او د فعل د واضع نکات نه بيانوو، بلکه فعل د متکلم لپاره بيانوو او جعل د مسند اليه معرفة دا خو فعل د واضع دی، نو شارح جواب وکړو چې د تعريف معنی جعل د مسند اليه معرفة نه دی، تعريف معنی د ايراد مسند اليه معرفه دی. او ايراد د مسند اليه معرفه دا فعل د متکلم دی، او د دې لپاره بيانول د نکاتو صحيح دی.

وانما قدم سره شارح اعتراض کوي او د اعتراض نه وروستو بيا جواب کوي، **وبل انما قدم اى الماتن ههنا** په مسند اليه کې **التعريف وفي المسند التنكير** او تعريف يې وروستو کړی دی، او مجموعه صورتونه څلور وو، يو دا چې دواړو کې يې تعريف مقدم کړی وی، دويم دا چې دواړو کې يې تنکير مقدم کړی وی، څکه موافقت اولی دی د مخالفت نه (دا د دې دواړو صورتونو لپاره علت شو فافهم) او دريم دا چې دلته کې يې تنکير مقدم کړی وی او هلته کې يې تعريف مقدم کړی وی څکه چې ته خامخا مخالفت کوي نو د مخالفت دا هم يو صورة وو. او څلورم دا چې تا کوم ويلی دی چې دلته تعريف مقدم

شوی دی او هلته تنکیر، نو دا څلورم صورت تا ولې خاص کړو، نو دي کې په اختیار د صورت رابع کې ترجیح بلا مرجح راغله په نسبت سره صورت ثالث ته او ترجیح د مرجوح راغله په نسبت سره صورتینو اولینو ته، ځکه موافقت اولی دی د مخالفت نه. نو شارح **لان الاصل** سره جواب کوي چې نه ترجیح بلامرجح لازمیږي او نه ترجیح المرجوح لازمیږي، بلکه د دې لپاره «صورت رابع لپاره» مرجح ښه دی. هغه دا دی چې **لان الاصل في المسند اليه** اولی او راجح په مسند اليه کې تعریف دی، ځکه دا مسند اليه محکوم علیه دی، او حکم په معلوم باندې کیږي په مجهول باندې نه شي کیدای، او په مسند کې اصل، اولی او راجح تنکیر دی. ځکه چې مسند محل د فائدې او استفادې دی. او فائده او استفاده په مجهول سره راځي معلوم سره نه راځي، ځکه چې محکوم به چې مسند دی هغه معلوم شو نو د حکم څه فائده؟

تعریف المسند اليه بالاضمار: نو اوس معارف ټول شپږ دي په شپږو کې یو ضمیر دی، نو اوس مسند اليه ضمیر باندې ولې معرفه کیږي؟ خو د دې ځای د ماتن نه خطاء شوی دی **فاء** ځای جواب د **اما** وي، او جواب د اما خو لان المقام دی، نو دلته کې داسې ویل په کار وو چې اما تعریفه فلان المقام خو ماتن نه ځای خطاء شوی دی. ځای خو یې مؤخر وو خو په مخکې یې داخله کړې ده. پکار خو دا وو چې داسې یې ویلې وي چې اما تعریفه بالاضمار فلان المقام خو مونږ به دا ووایو چې رتبه د دې فاء وروسته ده، خو ماتن هسې په لفظ کې مخکې ذکر کړي، نو په لفظ کې خطاء شوه. نو څه به زیاتي تاویلات کوو چې د خطاء خبرې لپاره دې تاویلات کوو، صحت ته یې څه ضرورت نشته دی، لفظ کې خطاء شو او رتبه یې وروستو ده. ویل **لان المقام للمتكلم** لکه یو ځای کې متکلم خبر ورکوي د خپل ضرب نه، نو بغیر د انا ضربت نه بل څه چاره نشته، نحو **انا ضربت والخطاب** یا متکلم خبر ورکوي د ضرب د مخاطب نه نو د أنت ضربت نه بل څه چاره نشته دی، او **الغيبة** او یا مقام د غیبت به وي، لکه یو ځای کې متکلم خبر ورکوي د ضرب د غائب تیر شوي نه، نو د هغې ذکر به مخکې یا لفظا یا معنی یا حکماً به وي **لتقدم ذكره** ای المرجع. اما لفظا و اما معنا و اما حکما نو دا دري واړه یا لګوئ د دې ذکرسره چې دا ذکر د دې مرجع به لفظا وی یا به معنا وی یا به حکما وی او یا یې لګوئ د تقدم سره چې دا تقدم د مرجع یا به لفظاً وي یا به معنیً وییا به حکماً وي دواړو سره لګول جائز دی اوس لفظاً دیته وائي چې دغه مرجع به ملفوظ وی اوس دغه مرجع چې ملفوظ وي دا بیا په دوه قسمه ده یا به ملفوظ تحقیقاً وي یا به ملفوظ تقدیراً وي. ملفوظ تحقیقاً دیته وائي چې مرجع ملفوظ هم وي او مقدم هم حقیقةً وي لکه زید یضرب کې شو. نو یضرب کې ضمیر زید ته راجع دی نو زید ملفوظ هم حقیقةً دی او مقدم هم حقیقةً دی. او لفظاً، تقدیراً دیته وائي چې دغه مرجع ملفوظ حقیقة وي او مقدم رتبةً وي، حقیقةً مقدم نه ویلکه ته ووائي في داره زید یا ضرب غلامه زید نو دلته کې مرجع ملفوظ خو حقیقةً دي، لیکن مقدم

تحقيقاً حقيقةً نه دي، بلکه رتبةً دي. واما معنىً يا به مرجع معنوي وي، معنوي ديته وائي چې مرجع ملفوظ نه وي. ما يتلفظ نه وي مالايتلفظ به وي. تلفظ پرې نه وي شوی، اوس دا دوه قسمه دد. يو دا چې دابه فهميږي د لفظ داله نه او يا به فهميږي د قرينه حاليه نه. نو اول ته شارح اشاره وکړه **بدلالة لفظه عليه** مرجع په خپله ملفوظ ومايتلفظ به نه وي خو بل يو لفظ نه دا فهميږي. لکه ﴿اِعْدِلُوْا هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى﴾ شو، نو هو ضمير عدل ته راجع دی، خو عدل په خپله ما يتلفظ به نه دی، خو د اعدلوا لفظ نه عدل معلوميږي **او قرينة حال** يا په قرينه حاليه سره، يعنې په سياق الکلام سره، حال او بحث د کلام دلالت کوي، لکه ﴿وَلِاَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ﴾ نو لابويه کې ضمير ميت ته راجع دی او ميت مخکې چيرته ملفوظ نه دی، او نه داسې يو لفظ شته دی چې هغه په ميت باندې دلالت کوي، خو سياق الکلام نه معلوميږي او قرينه حاليه نه، ځکه حال حال د ميراث دی، او ميراث د ميت نه پاتې کيږي د بل چا نه نه پاتې کيږي. **واما حكما** يا به مرجع حکماً وي. حکماً مرجع ديته وائي چې هغه نه ملفوظ وي او نه د لفظ نه فهميږي. او نه د دلالت د قرينه حاليه نه، بلکه هسې متکلم فرض کړی وي، متعقل في الذهن متکلم فرض کړی وي، لکه نعم رجلاً شو ربه رجلاً شو، هسې متعقل في الذهن او مفروض ته ضمير راجع شو.

واصل الخطاب ان يكون لمعين اوس دا تمهيد ايږدي د دې وروستو **وقد يترك** لپاره، ورنه دا خبره خو هغه چا ته چې څوك زنجاني، زرادي او صرف بهائي وائي نو هغه ته هم معلومه وي چې اصل خطاب معين ته وي بديهي ده. نو وائي واصل الخطاب ان يكون لمعين شبه يا هلکه متبادر د معين نه دا ده چې فرد واحد لپاره به وي، ځکه شی چې ذکر شي مطلقاً نو صرف کيږي فرد کامل ته، نو بيا خو خطاب د جمع خارج شو، او د تثنيې خارج شو، نو ده جواب وکړو **واحداً كان او كثيرا** کثير عام دی چې تثنيه وي او که جمع وي خو تعيين به وي نواوس ګوره په واحد کې به يو فرد متعين وی او په تثنيه کې به دوه متعين وي او په جمع کې به درې يا د دريو نه د بره به تعين کوي، چې څلور يا پينځه يا شپږ. اوس د متن لپاره دليل وائي، خو د متن لپاره دليل په دوه قسمه دی، يو دليل عامي دی چې هغه په عام معارفو کې جاري کيږي، دويم دليل خاصي چې خاص په خطاب کې جاري کيږي، نو دليل عامي شارح دا وائي **لان اصل وضع المعارف** (اصل يعنې راجح او اولی) وضع د معارفو په دې باندې ده **على ان تستعمل لمعين** چې دا مستعمل شي د معين لپاره، او دا خطاب يو فرد د افرادو د معارفو نه دی، نو په دې کې هم اصل دا چې لمعين وي، ان تستعمل لمعين شو، دا دليل عامي شو. دويم دليل خاصي شارح وائي چې هغه صرف په خطاب کې جاري کيږي، نورو معارفو کې نه وي، چې **ان الخطاب هو توجيه الكلام الى حاضر** او حاضر معين وي. **وقد يترك الخطاب** شارح تعين د مرجع کوي په **الخطاب** سره **مع معين الى غيره** ای معين، د دې نکتې

لپاره چې **ليعم** تعين د مرجع کوي چې الخطاب **کل مخاطب** او چې تعين تا وکړو نو بيا هر مخاطب ته نه
شاملېږي. معترض راغلی شبه يې وکړه چې يا هلکه ليعم د عموم نه دی، نو مراد د عموم نه به عموم
شمولي وي، نو بيا خو مثال مطابق د ممثل سره نه شو، ځکه عموم شمولي په جمع کې راځي او **لو تری**
کې هغه مفرد دی، او په مفرد کې خو عموم بدلي راځي، عموم شمولي خو نه راځي، نو مثال د ممثل
سره مطابق نه شو، نوشارح جواب وکړو **علی سبيل البدل** چې د عموم نه مراد عموم شمولي نه دی مراد
بلکه عموم بدلي مراد دی، او په لو تری کې خطاب د واحد عموم بدلي سره په ټولو باندې صادق کيږي.
نو که معترض شبه وکړه چې نبه تا د عموم نه عموم بدلي واخيستو نو بيا خو خطاب د جمع خارج شو،
ځکه هلته کې عموم بدلي خو نشته عموم شمولي دی. نو تاسو ووايئ چې خطاب د جمع دی خارج شي،
ځکه چې خطاب په جمع سره د غير معين لپاره کم کوز دی او يا د سره شته نه، نو چې کم کوز شو نو د
هغې لپاره اعتبار نشته، او قران کې اکثر چې راغلی خطاب عموم لپاره نو عموم بدلي لپاره مفرد کې
راغلی دی او په جمع کې چيرته نه دی راغلی مثال **نحو** ﴿وَلَوْ تَرَى إِذِ الْمُجْرِمُونَ نَاكِسُوا رُءُوسِهِمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ﴾
دا مثال د ممثل سره مطابق دی ځکه **لا يريد ای الله بقوله ولو تری مخاطبا معينا**، او ځکه نه اراده کوي **قصدا الی**
تعظيم حال المجرمين لپاره د قصد کولو د الله شرمول د حال د مجرمينو، رسوائي د حال د مجرمينو، چې
ټول اهل محشر ته يې ښائي. ځکه چې يو طالب يو ناروا، يو نا شائسته کار وکړي، او ټول طالبان په دې
جماعت کې جمع وي، او زه ورته ووايم چې يا هلکه پاڅه نو هغه پاڅي، نو زه ورته ووايم چې بيګاه هغه
غلا تا کړې ده؟ خنزيره نو هغه شرميږي، چې يره په دې ټولو طالبانو کې زه وشرميدم، شرم يې زيات
دی، نو هغه سترګې کوزې نيولي دي، او چې زۀ يې کمرې ته بوځم او ورته ووايم چې تا بيګاه دا غلا ولې
کړې ده؟ دومره نه شرميږي، هغه به دومره خبرې کوي چې مولوی صاحب ما نه ده کړې، قسم په الله او
تکره به وي، او بيا به جوابونه کوي، او چې دلته يې پورته کړم، نو بيا د جواب نه دې، بيا به هيڅ ورسره
نه وي غلی به وي. دغسې الله ټول ميدانِ محشر کې، هر سړی به ګوري **ای تناهت حالهم في الظهور لاهل**
المحشر حيث يمتنع خفاؤها، دا تفريع شوه **فلا يختص بها** ای بحالتهم رؤية راء دون راء، فلا يختص کې دا فاء
د ځه لپاره ده، ويل فاء فصيحيه ده شرط يې محذوف دی، واذا کان کذلك يعني کله چې امر دا رنګه شو
چې حال د دوی مختص مخاطب پورې نه شو دون مخاطب **بل کل من يتاتي** يحصل **منه الرؤية فله مدخل**
حصة في هذا الخطاب. يو نسخه خو د تلخيص دا وه چې فلا يختص به نو دغه نسخه خو صحيح ده. ځکه
به کې ضمير خطاب ته راجع شو، او خطاب صفت د مخاطب دی، نو نفي صحيح شوه، دويمه نسخه ده
فلا يختص بها نو په دې نسخه باندې اشکال راځي چې بيا بها ضمير خو خطاب ته نه راجع کيږي، بيا
خو به بها ضمير حال ته راجع کوي، ځکه بها ضمير خو مؤنث دی او خطاب مذکر دی، هغې ته نه شي
راجع کيدای، نو بيا په دې نفي کې څه فائده رانغله، ځکه بيا معنی دا شوه چې خاص نه دی د دوی حال

پوري يو مخاطب، نو هغه خود خاص نه دی، څکه د دوی حال صفت د دوی دی، هغې پورې مخاطب
شي خاص کيداى، ذات د مخاطب خو خود د دوی د حال پورې خاص نه دی، څکه حال د دوی خو صفت
قائمه د دوی شو، او مخاطب خو هغه ذات ته وائي، نو په دې نفي کې هيڅ فائده رانغله، نو شارح د دې
نسخې تصحيح کوي په دوه طريقو سره چې بها ضمير راجع دی حال ته خو په مرجع کې به حذف د
مضاف کوو، نو مرجع په حذف د مضاف سره ده نو معنی خاص نه دی برؤية حالهم اوس خبره تهيله
شوه، چې حال خو وصف مختصه د دې مجرمانو وو، خو رؤيت د حال د دوی دا صفت د مخاطب وو، نو
ويل فلا يختص بها ای برؤية حالهم مخاطب، نو اوس نفي کې فائده راغله، يا حذف د مضاف وکړو
وروستو د مخاطب نه او ضمير حالهم ته راجع که، نو معنی خاص نه دی د دوی د حال پورې **رؤية مخاطب**
او بحالهم رؤية مخاطب، نفي صحيح شوه، څکه دا توهم راتلو چې دا د دوی د دې حال پورې، چې د خواری
او د ذلت حال دی، دې پورې رؤيت د يو مخاطب به خاص وي؟ نو الله وويل چې نه، هر څوك به يې وينې
على حذف المضاف دواړو سره لګوئ، حذف د مضاف د اول نه يا د ثاني نه.

ماتن وويل **وبالعلمية** شارح ورسره لګوي تعريف ای تعريف المسند اليه دي کې شارح اشاره وکړه
قاعدې د عطف ته، چې دا وبالعلمية عطف شو په فبالاضمار باندې، هغې نه مخکې اما تعريفه وو،
نو دلته کې هم شارح اما تعريفه مقدر راوويستلو، څکه ماقبل د معطوف عليه نه کالمعاد وي په
معطوف کې، دا چې وويل شارح چې بايراده علماً د دې نه غرض د شارح يو اشاره ده، چې دا علمين
مصدر متعدي دی لازمي نه دی، دويمه اشاره ده دفع د اعتراض ته، چې يا هلکه علمية په معنی د
جعل د مسندالیه علماً به وي، نو جعل د مسندالیه علماً خو فعل د واضع دی، او ماتن خو نکات
بيانوي د فعل د متکلم لپاره، د فعل د واضع نکات خو نه بيانوي، نو شارح جواب وکړو چې علميته
معنی ايراد د مسندالیه علماً دی، او ايراد د مسندالیه علماً، دا فعل د متکلم دی، **وهو** سره غرض د
شارح تعريف د عَلَم کوي، وائي وهو او دغه عَلَم **ما** هغه لفظ دی **وضع** چې وضع شوي دی **لشئ معين** نو دا
جنس شوشامل شو ټولو تعريفونو ته وائي چې اويل چې **مع جميع مشخصاته** نو په دي سره نور ټول معارف
خارج شو، علاوه د علم نه، اوس شبه راغله چې تعريف د علم جامع نه شو خپلو افرادو ته خارج شو
ترينه علم جنس، څکه هغه علم دی، او هغې کې خو مشخصات نشته دی، هغه خو کلی دی، څنو
جواب کړی دی چې مشخصات عام دی خارجيه دی او که ذهنيه دی، نو علم جنس کې اګر چې
مشخصات خارجيه خو نشته دی، خارج کې خو هغه متکثر دی، خو مشخصات ذهنيه يې شته دی،
خو دغه جواب خطاء دی، څکه چې بناء په دي باندې د اُسامة اطلاق په خارج کې په يو فرد باندې
ممنوع شو، حالانکه اطلاق د اُسامة په خارج کې په يو فرد باندې هم کيږي، نو بنه جواب دا شو چې
عَلَم جنس دي خارج شي، هغه علم نه دی، څکه د هغې علميت د ضرورت د وجې نه دی، د اجراء د

احکامو د معارفو د وجې نه دی، هغه اصالةً عَلَم نه دی، او مسند اليه عَلَم څکه راوړی شي **لاحضاره** تعيين د مرجع کوي ای المسند اليه، **بعينه** بعينه ترجمه کوي شارح بشخصه دي سره دفع د اعتراض کوي، چې د بعينه معنی به بمعلوميته وي؟ او بمعهوديته به وي، نو معلوميت او معهوديت خو رجل کې هم شته دی، څکه وضع د مجهول لپاره خو جائز نه ده، نو بيا خو بعينه قيد سره رجل خارج نه شو، او نه خو خارجوي دې سره رجل، نو ده جواب وکړو چې د بعينه ترجمه په بشخصه سره ده، يعني بهويته بذاته الشخصية، او رجل ذات مشخصه نه دی، معترض راغلی شبه يې وکړه چې بيا خو مثال مطابق د ممثل سره نه شو، څکه مثال کې تا لفظ د الله ذکر کړی دی، چې قل هو الله احد او لفظ د الله احضار په ذهن کې خو بشخصه نه شي کيدای، نو ده جواب وکړو **بحيث يكون** چې وي دا په داسې شان سره چې وي دا مسند اليه، **متميزاً** جدا کړی شوی **عن جميع ما عداه** يعني احضار بشخصه نه غرض دا دی چې جدا کول د مسند اليه د کل ما عدا نه، او د الله په ذهن د انسان کې اګر که احضار بالکنه او بکنهه نه کيږي خو بالوجه او بوجهه کيږي په عنوان د عالم او خالق او قادر سره، او په دې سره هغه جدا کيږي د تول ما عدا نه، اوس دا بعينه قيد احترازي شو که اتفاقي؟ ويل احترازي، **فاحترز بهذا** احتراز اوکړو ماتن په دې قيد د بعينه سره **عن احضاره باسم جنسه**، نحو رجل عالم جاءني عالم يې ورسره څکه ذکر کړو، چې رجل، مبتداء نکره محضه نه شي، بلکه مخصصه شي، نو دلته کې احضار وشو د مسند اليه ليکن بشخصه نه دی، **في ذهن السامع ابتداء** د ابتداء دري ترجمې دي، يو ترجمه اول مرة سره، دويمه ترجمه د ابتداء په بنفسه سره ده، لکه وروستو قيل والاوائي، او دريمه ترجمه د ابتداء **اول زمان ذكره** سره، اوس د شارح په نزد باندې اولی دا اوله ترجمه ده، نو څکه يې دا راوويسته چې ای اول مرة چې دا احضار اول څل وي، يا هلکه دا قيد اتفاقي شو، که احترازي؟ ويل احترازي، **واحترزای الماتن، به عن نحو جاءني زيد وغوراكب** څکه چې په هو باندې صادق کيږي چې احضار د مسند اليه وشو بشخصه خو اول مرة نه دی. **باسم مختص به** ای المسند اليه تعيين د مرجع يې وکړو، **بحيث** سره دفع د اعتراض کوي چې يا هلکه دغه نکته جامع نه شوه يعنی تعريف خارج شو ترينه عَلَم مشترك، څکه عَلَم مشترك مسند اليه واقع کيږي او باسم مختص نه دی، داسې چې لکه زيد د پينځو کسانو نوم دی، تا وويل زيد جاءني نو دلته کې احضار د مسند اليه بشخصه وشو، او اول مرة وشو، خو باسم مختص نه دی، نو ده جواب وکړو **بحيث لا يطلق** چې د باسم مختص دا معنی ده چې واضع په کومه وضعه کې معنی لپاره دی وضعه کړی وي، نو دغه وضع کې دي به مختص وي په دغه معنی پوري، اوس کوم واضع چې لفظ د زيد ده لپاره وضع کړی دی (يو ګټې ته شيخ اشاره وکړه) نو په دغه وضع کې اطلاق يې په دې نورو څلورو باندې نه کيږي، نو وائي **بحيث لا يطلق باعتبار هذا الوضع على غيره** او دا قيد احترازي شو، ويل **احترز الماتن به** په دې قيد د باسم مختص به سره **عن احضاره (المسند اليه)**، **بضمير المتكلم** چې انا ضربت او المخاطب، انت ضربت،

اسم الاشارة هذا زيد، **والموصول** الذي في الدار زيد، **والمعرف بلام العهد** جاءني الرجل، يا الرجل جاءني **والاضافة** غلام زيد جاءني، څکه چې داټول باسم مختص نه دي. **وهذه القيود** سره شارح **دفع د اعتراض** کوي چې يا هلکه تاباسم مختص به ذکر کولو، نو دې مخکې بعينه او ابتداء ته حاجت نه وو، څکه چې اسم مختص به نه دی مګر عَلَم دی، نو چې علم شو نو رجل جاءني خارج شو، او وهو راکب خارج شو، څکه هغه ضمير دی عَلَم نه دی، نو چې تا باسم مختص به ذکر کول نو دي مخکې ابتداء او بعينه ذکر ته حاجت نه وو، نو اوس د دې نه يې په مطول کې دوه جوابونه کړي وو، دلته کې ترينه يو کوي، اولنی هغه جواب منعي، چې نه منم چې اسم مختص عَلَم دی، څکه چې زه به درته وښايم چې اسم مختص به وي او عَلَم به نه وي، لکه رحمن شو، رحمن اسم مختصه د الله دی، او علم نه دی بلکه اسم صفتي دی. دويم جواب، دې دلته کې کوي وائي **وهذه القيود** چې دا قيود ثلاثة **لتحقيق مقام العلمية** چې د علميت مقام په دې دريو واړو قيودو سره ثابتيږي، **والا** او که دغه قيود ثلاثة د تحقيق د مقام د علميت لپاره نه شي، بلکه هر يو د احتراز لپاره شي، نو هر يو سره بيا احتراز نه صحيح کيږي، څکه چې **فالقيد الاخير مغن عما سبق** ځکه څوک شبه وکړي چې اخر قيد سره استغناء د اول نه نه راځي، څکه چې په وخت د ذکر د اول کې هغه اخر نه وي، نو دا څنګه شارح وويل؟ نو تاسو ووايئ چې دلته په عبارة کې لږ غوندې حذف دی، داسې ولګوئ چې **والا فذكر القيد الاخير مغن عما سبق**. وقيل: مولانا قيل وائي، دې سره دی د ابتداء تفسير کوي، خلاف د هغه تفسير نه چې کوم شارح کړې دي. شارح د ابتداء تفسير په اول مرة سره وکړو، دې د ابتداء تفسير کوي په بنفسه سره. نو وائي چې **قيل واحترز الماتن بقوله ابتداء عن الاحضار** ای احضار المسند اليه **بشرط تقدم ذكره كما في ضمير الغائب** څکه د ضمير د غائب احضار په ذهن د سامع کې بنفسه نه کيږي، بلکه په شرط د ذکر د مرجع سره، دارنګه **والمعرف بلام العهد** او د ضمير د غائب تخصيص يې څکه وکړو چې ضمير د متکلم او مخاطب کې حضور غواړي، تقديم د مرجع نه غواړي. دارنګه معرف بلام العهد د هغه هم احضار بنفسه نه کيږي، بلکه هغه مخکې تقدم د معهود غواړي. **فانه** دغه المعرف بلام العهد، **يشترط تقدم ذكره** ای ذکر المعهود، دارنګه په دې سره **والموصول** هم خارج شو، **فانه يشترط تقدم العلم بالصلة** چې اول ستا علم په ضرب في الدار باندې راغې نو الذي به ورسره هله ذکر کوي، ضرب زيد في الدار باندې چې دې علم راغی نو ته به ورسره ټل کوې چې الذي ضرب في الدار زيد. نو دې سره دا دري واړه څيزونه خارج شو، نو ده يو خو د ابتداء تفسير ذکر کړو مقابل د شارح چې بنفسه، او بل ده دويمه شبه هم وکړه په شارح باندې. هغه دا چې شارح دا معرف بلام العهد او موصول خارج کړی دی باسم مختص به سره او حالانکه دا خارج وو په ابتداء سره، نو بيا په باسم مختص به سره د دې خارجولو سره اخراج د مخرج راغی، تحصيل د حاصل راغي.

او بل اعتراض په شارح باندې دا شو، چې ابتداء تا خاص کړی ده په اخراج د ضمير د غائب پورې او

معرف بلام العهد او موصول تا نه دی خارج کړی دا تحکم وترجیح بلا مرجح ده. کویا چې په شارح دې اعتراض ونه شو. یو په ترجمه د ابتداء کې، دوه په بیان د فائدې د قید کې. نو شارح اوس په دې باندې رد کوي چې **وفيه نظر** ځکه چې بناء په دې باندې بیا عَلَم هم خارج شو، ته د ابتداء ترجمه بنفسه کوې، چې دا احضار د مسند الیه بشخصه په ذهن د سامع کې ابتداءً به وي، یعنې بنفسه به وي، بې د واسطې د څه شئ اخر نه، نو بیا عَلَم هم خارج شو، ځکه چې په عَلَم کې احضار په وضع د واضع سره دی، ویل **لان جميع طرق التعريف كذلك حتى العلم فانه مشروط بتقدم العلم بالوضع** نو بیا علم هم خارج شو. نو بیا خو دا شوه چې مسند الیه د سره معرفه کیدای نه شي عَلَم کیدای نه شي، دا یو رد شو. دویم رد دا دی چې د دې ابتداء ترجمه اول مرة سره کول دا موافق وو د متبادر سره یعنی دا ماهو المتبادر ده، په بنفسه سره کول دا خلاف المتبادر دی، او اصل د الفاظو په ماهو المتبادر باندې دی، نه په خلاف د ماهو المتبادر باندې، نو ستا دا توجیه د ماهو المتبادر نه خلاف ده.

مانن وویل په مثال کې د عَلَم چې ﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ﴾ شارح ورسره لګوي، **فالله اصله** نو د شارح مطلب د دې عبارت نه تر راتلونکي متن پورې چې **او تعظيم او اهانة** دی، د شارح دې اغرض دي، یو غرض د شارح دا دی، چې دا الف لام په لفظ د الله کې الف لام حرفي عوضي لازمي دی. یو دا ثابتوي حرفي دی، داظاهره ده ځکه لفظ د الله اسم فاعل او اسم مفعول نه دی، چې موصولي شي، او عوضي دی ځکه عوض راغلی دی د همزې نه، او لازمي دی، ځکه احاطه یې په علمیت وکړه، ځکه الف لام سره عَلَم شو، او اعلامو کې تغیر نه شي کیدای. دویم غرض د شارح دا دی چې خلاف بیانوي په لفظ د الله کې، چې لفظ د الله عَلَم دی او جزئي دی، او که نه لفظ د الله کلي منحصر في فرد دی؟ ویل دې کې دوه مذهبونه دي یعنې خلاف دی په کې، او دریم غرض د شارح احقاق د ماهو الحق او ابطال د ماهو الباطل کوي، چې چا لفظ د الله ته عَلَم ویلی دی داحق دی، او چا چې کلي منحصر في فرد ویلی دی، دا باطل دی، نو اول غرض ته یې اشاره وکړه چې **فالله اصله الاله** وو، نو **حذفت الهمزة**، یعنې همزۀ ثانیه نو اَلْاٰه پاتې شو بیا دلام په لام کې ادغام وشو نو اللّٰه شو. اوس شارح ورسره لګوي وعوضت ویل عوض راوړی شو د دې همزې نه حرف التعریف نو اَلْاٰه شو، د ادغام د وجې نه اللّٰه شو، پدې عوضت باندې شبه راځي، چې یا هلکه عوض خو دیته وائي چې د بهر نه یو شی راوړي او د هغه معوض عنه په ځای کې یې ته کیږدې، نو تاخو ویل چې اصل د لفظ د الله الاله وو، ال له وو، نو الف لام خو په کې شته دی، نو چې شته نو **عوضت عنها حرف التعريف** خو صحیح نشو بیا تا څنګه د بهر نه راوستو؟ تاسو به یو جواب وکړئ چې عوضت دلته په معنی د قصدت سره دی، ویل قصد وکړی شو د همزې نه حرف تعریف، یعنې د دې همزه ثانیه د حذف نه وروستو الف لام دی همزه ثانیه ځای ته د راوړو قصد وشو، بهر نه مو ندی راوړی، نو ال لاه شو

ادغام د وجې نه الله شو، نو عوضت په خپله معنی حقیقي سره نه دی، بلکه په معنی د قصدت و أریدت سره دی، یعنې ځای د همزې ته حرف تعریف راوړی شو، یا داجواب وکړئ چې دا عوضت چې شارح ویلی دی دا یې په اعتبار د محکي عنه سره ویلی دی، او الف لام چې دی نو په حکایت کې دی، شارح چې دلته کې مونږ او تاسو ته حکایت کوي نو داسې یې ویلې دي چې فالله اصله الاله او په محکي عنه کې دی اله وو، نو عوضت په اعتبار د محکي عنه سره شو، او په محکي عنه کې الف لام نه وو، بهر ته راوړی شو، عوض کې راوړی شو، اوس په دې جواب باندې دا خبره پاتې کیږي چې بیا دا څه وجه ده چې په محکي عنه کې الف لام نه وو او شارح په حکایت کې الف لام داخل کړل، نو تاسو وایئ چې په دې کې شارح اشاره وکړه چې اله نه مراد اله حقه مراد دی، نو په دې سره اله باطله خارج کولو لپاره یې الف لام په حکایت کې راوړل، او که اوس په حکایت کې یې اله ویلی وی، نو بیا اله خو اله حقه او باطله دواړو ته ورته اوس هغه مذهب د محققینو ذکر کوئ **ثم جعل** ای لفظ الله **علماً للذات** شبه، یا هلکه عَلَم لپاره د ذات خو لفظ د زید هم دی او عمرو هم دی نو جواب یې وکړو الواجب الوجود داسې ذات لپاره چې واجب الوجود دی، واجب الوجود دامعنی چې ضروري الوجود دی، ضروري الوجود دامعنی چې په وجود کې غیر ته محتاج نه دی **الخالق للعالم** داسې ذات چې خالق دی د عالم لپاره، نو دا لفظ د الله جزئي شو، خو جزئي منطقي نه دی، ځکه جزئي منطقي قسم د مفهوم دی، او لفظ د الله باندې اطلاق د مفهوم نه شي کیدای، ځکه مفهوم ما حصل في العقل ته وائي، او ذات د الله ذهن ته نه شي راتلئ، د جزئي نه جزئي حکمي مراد دی چې واحد في العدد. دویم مسلك ذکر کوي **وزعم بعضهم** ای العلماء **انه** ای لفظ الله اسم **لمفهوم الواجب لذاته او المستحق للعبودية له** نو واجب لذاته کلي دی، او مستحق للعبودية له هم کلي دی، خو صرف دا ده چې **وكل منهما كلي انحصر في فرد** دغه واجب لذاته منحصر په یو فرد کې دی سره د امتناع د فرد اخر نه، مستحق للعبودية منحصر په یو فرد کې دی سره د امتناع د فرد اخر نه، نو اوس دوه دعوی شوي، کلي دی ځکه چې مشتمل په هاذیت مانعه عن تکثر باندې نه دی، یا کلي د دې وجې نه دی چې واجب لذاته باندې، مستحقق للعبودية باندې براهین قائم شوی دی، په علم الکلام کې أو براهین د کلي لپاره قائمیږي نه د جزئي لپاره، نو د کلي کیدو لپاره یې دوه دلیلونه شو، او منحصر في فرد ځکه شو د وجې د برهان التوحید نه، نو د زعم په مذهب باندې دا تفریع شوه چې فلا یکون علماً لان مفهوم العلم جزئي یعنې د وضع په اعتبار سره علم نه شو، وروستو بیا نقل سره عرف کې علم شو، اوس شارح وفیه نظر سره هغه دریم غرض بیانوي چې احقاق د ماهوالحق او ابطال د ما هو الباطل دی، ویل په دې زعم د بعضو کې نظر دی، اوس نظر او اعتراض او دلیل د وروستو نه شروع دی په دې قول سره چې ولو کان الله، اسما لمفهوم کلي او دا مخکې عبارت تمهید دی، نو اول دعوی کیږدئ چې مونږ نه منو چې دا لفظ د الله اسم دی د مفهوم کلي لپاره، دا د عوی شوه، ولې؟ ځکه ولوکان... الخ، نو نقیض د مدعی

مقدم کوي او تالي محال پرې راولي، نو وائي دليل اول ووايئ لوکان الله اسما لمفهوم کلي چې واجب لذاته، مستحق للعبودية له مفهوم دی، که د دې لپاره اسم شي، لکه د زَعَم والاوائي، نو دا د شارح د مدعی نقيض شو، ځکه د شارح مدعی دا ده چې دا عَلَم دی، نو که دا علم نه شي بلکه اسم د مفهوم کلي لپاره شي نو **لما افادت التوحيد**، نو کلمه د توحيد به مفيد لپاره د توحيد نه شي، مقدمه استثنائيه ورسره تل کړئ چې **لكن التالي باطل فالمقدم مثله** عدم افاده د کلمه د توحيد توحيد لره باطل دی، نو مقدم مثل شو، هر چې دی دليل د بطلان التالي هغه دا دی چې کيف...الخ ځکه د مقدمه ممهده نه غرض دا راتلونکي دليل د بطلان التالي دليل شو، ويل **كيف** ځنګه باطل نه شي عدم افادة د کلمه توحيد توحيد لره، دا عدم افاده باطل ده **وقد اجمعوا اى العلماء، على ان قولنا لا اله الا الله كلمة التوحيد**، نو چې اجماع په کلمه د توحيد باندې وشوه نو کلمه د توحيد مفيد شوه لپاره د توحيد، او عدم افادة باطل شوه، دليل د ملازمي دا دی چې که لفظ د الله مفهوم کلي شي نو کلمه د توحيد به مفيد لپاره د توحيد نه شي، ويل لان الكلي يحتمل الكثرة (دلته د دې عبارة مينځ کې **شيخ من حيث هو كلي** پريښودې دي فائده وروستو بيانوي فانتظر) نو الاالله کې هم احتمال د کثرة راغی، نو دا استثناء د کثير راغله د کثير نه، اواستثناء د کثير نه کثير ته مفيد لپاره د وحدة نه وي، دارنګه استثناء د متعدد راغله د متعدد نه، اواستثناء د متعدد عن المتعدد مفيد لپاره د وحدة نه وی، يو دليل خوداشو. دويم دليل دا شو مطول کې يې ذکر کړی دی، چې ګوره لااله الاالله کې ته د لااله نه نفي د اله حقه به کوي، يا به نفي د اله مطلق به کوي حق وي که باطل وي، که نفي د اله حقه کوي چې اله حقه نه دی مګر يو الله دی، نو لااله کې اله هم کلي وو، او الاالله کې هم تا د اله نه کلي واخيستو، نو استثناء د شئ د خپل نفس نه راغله، او که ته نفي د اله باطله کوي، نو بيا په دې نفي کې کذب لازميږي، ځکه د اله باطله نه خو دنيا ډکه ده، لات، عزی، منات، ود، سواع، يغوث، يعوق، نسر، نو اوس ضرور لااله نه به نفي د اله حقه وي، نو اوس چې د الاالله نه ته علم او جزئي نه اخلي، د هغې نه هم بيا کلي اخلي نو استثناء دشئ د خپل نفس نه راغله، او الاالله مثلاً تا عَلَم جزئي واخيسته، نواګر که معنون کې يو شی دی، لااله کې اله حقه او الاالله کې يو شی دی، ليکن عنوان کې مستثنی او مستثنی منه کې تغير راغی، داسې تغير راغی چې ځکه چې د اله عنوان کلي دی، متعدد دی، او الاالله جزئي واحد شو، نواستثناء د شئ خپل نفس نه رانغله، او که الاالله کې هم ته کلي ووائي نو بيا نه عنوان کې فرق راغی، او نه په معنون کې. په لااله کې، د اله مصداق او د الاالله مصداق يو دی، خو عنوان کې لااله جمع شو او کلي شو او الاالله کې جزئي شو او دا جائز ده، عنواني تغير په استثناء کې کافي دی، لکه نحاة وائي چې مثلاً د يو سړي درې ښځې وي او هغه ووائي چې نسائي طوالق الازينب او هند او کلثوم نو ښکته په مستثنی کې نسائي هم درې ښځې دي او مستثنی کې هم درې ښځې يې مستثنی کړي، اوس که ته وائي استثناء د شئ د خپل نفس نه راغله، نو مونږه وايو چې عنوان کې تغير

شته، څکه نسائي جمع ده او الازينب وهند و کلثوم هغه مفرد دی جزئيات دي،نو دغه تغير عنوان کافي دی اګر که معنون يو دی، نساء هم دغه درې دي او زينب وهند وکلثوم هم درې دي اوس مسند راغله په دې دليل د ملازمې باندې چې الکلي يحتمل الکثرة، نه منم چې کلي يحتمل الکثرة. کليات فرضيه ؤ نه نه ګوري، هغه کليات دي اوکثرت په کې نشته دی، يو فرد يې نشته دی، فضل لاد کثرة نه معقولات ثانيويه لپاره يو فرد نشته دی، فضل لاد کثرة نه، نو ده جواب وکړو **من حيث هو کلي** چې يا هلکه کلي په دې حيثيت سره چې دا کلي وي،قطع نظر د وجود خارجي نه، خو مطلب دا چې مشتمل په هاذيت مانعه عن التکثر باندې نه وي، نو هغه يحتمل الکثرة وي، اګر که بالفعل په خارج کې کثرة نه لري، نو په کليات فرضيه ؤ کې کثرة بالفعل خو نشته خو کثرة بالقوة خو شته دی کنه، څکه داسې هاذيت مانعه عن التکثر په هغوی کې نشته دی نو کليات شو، اوس صرف دومره خبره پاتې شوه چې دا الاالله مرفوع ولې شو؟ حالانکه دا کلام غير موجب دی، او کلام غير موجب کې بدل غوره دی، نو الاالله بالنصب ويل په کار وو، او مونږ کلمه کې دا مرفوع وايو، نوتاسو وايئ چې دا چې مرفوع شو نو بناء په دې چې دابدل واقع شوی دی، د محل د اله نه په لااله کې بيا شبه راغله چې محل ذ اله خو منصوب وو نصب وو، څکه لاد نفي د جنس اسم خپل ته نصب ورکوي، نو بيا هم **الا الله** ويل په کار وو، نو تاسو وايئ دا الاالله بدل دی د محل بعيد د اسم د لانه او محل بعيد رفع وه بناء بر ابتدائيه نو د هغې نه بدل دی شبه يا هلکه د محل قريب نه يې بدل ولی نه واقع کوي، چې دا ته د محل بعيد نه بدل وائې، يا هلکه محل قريب د لا د وجې نه وو، نو د هغې نه که بدل ووايم نو بدل په حکم د تکرير د عامل کې وي، نو بيا به لاپره مکرر کيږي، نو بيا نفي د الله هم وشوه، نو دا نه صحيح کيږي، نو څکه دا ما بدل د محل بعيد نه وويل، چې هغې کې عامل عامل معنوي وو، لانه وو، او لفظ د اله په لفظ کې خو مبني وو بنا بر فتحه، څکه نکره غير مضاف غير مفصول مبني بنا بر فتحه وي، څکه متضمن من استغراقي لره وي سوال کې، نو د هغې نه الاالله بدل نه شي کيدای، څکه چې دي متضمن حرف لره نه دي

او **تعظيم** او **اهانة** يا ايراد د مسندالیه کولی شي علم لپاره د تعظيم يا اهانة د مسندالیه **کما في الالقاب الصالحة لذلك** لکه په هغه القابو کې، اعلاموکې چې هغه صالح د دې تعظيم او اهانت وي، لکه **مثل ركب علي وهرب معاوية** سُور شوی وو علي، نو دلته کې يې مسندالیه علم ذکر کړو، څکه علي د علو نه دی، **علو** اوچتوالي ته وائي، نو دې کې تعظيم راغلی، او تبستيدلی وو معاوية، معاوية د عوي نه دی عوي صوت الکلب ته وائي، نو په دې کې اهانت راغلی. خو ځان پرې پوهه کوئ چې د علي او معاوية نه ګوري هغه دوه صحابه د رسول الله ﷺ مراد نه دي، حاشا لهما، علي ومعاوية مطلق د يو سړي نوم شي علي او د بل سړي نوم شي معاوية او ته ووائي رکب علي وهرب معاوية او صحابه د رسول الله ﷺ نه دي مراد چې نعوذ بالله د معاوية اهانت ته اشاره وشي، دا تلفظ چې بيا کوي

نو هغه بيا رافضي دی، نبراس ذکر کوي چې يو سړی راغی د عبد الله بن مبارك نه يې تپوس وکړو چې عمر بن عبد العزيز او معاوية کې څه نسبت دی؟ يعنې دوی کې کوم يو ښه دی؟ عمر بن عبد العزيز تابعي خليفة المسلمين وو، نو هغه پوهه شو چې ته ما نه د نسبت تپوس کوي، چې دا سړی رافضي دی چې کوم يو غوره دی؟ هغه وويل هو، نو عبد الله بن مبارك وويل چې حضرت معاوية چې په کومه اسپه سور شوی دی، او د رسول الله ﷺ سره جهاد ته تللی دی، د هغه اسپې د کرشنو دوړه اود عمر بن عبد العزيز جسم برابر نه دی، د هغې اسپې د کرشنو دوړه د عمر بن عبد العزيز د جسم نه غوره ده، ته ما نه د نسبت څه تپوس کوي؟ هغه سړی بې عزته شو، په سر يې څادر واچولو او لاړو. هغه رافضي وو، رافضي وائي دشمن د صحابو ته مونږ ته حکم د الله او د پيغمبر نه دا دی چې د دې نه کف اللسان وکړئ اذکروهم بخير يعنې رضي الله عنهم، اوس مونږ په کې ګوتې وهو يا قلم پورته کوو، نو هغه رافضي شو، هغه ته رافضي وائي، ځکه الله وائي رضي الله عنهم ورضوا عنه معصوم نه دي ګناه کوي خو الله ورته معاف کوي. نو رافضي وائي زه يې معاف کولو ته نه پريږدم، نو مونږ وايو چې ته په الله باندې زورور کيدای نه شي، صحابه ګناه کوي او الله ورته معافي کوي. صحابه کلهم عدول دي، خو عدول په دې معنی نه دي چې معصوم ابتداءً دي، الله ورته ګناه معاف کړي نو التائب من الذنب کمن لا ذنب له، کلهم عدول په دې معنی سره دي. خو د رافضي د صحابه ؤ سره بغض دی. نبراس تعريف کوي، رافضي دشمن د صحابؤ ته وائي، هغه هر څوك چې وي. يواځې شيعه او معتزله ؤ پورې رافضي کيدل خاص نه دی، بلکه هر څوك چې وي، که نن يو سړی د صحابه ؤ دشمن وي هغه رافضي دی، هغه ته به اواز د رافضي کوئ، د اُمت محمدي او د مسلم به ورته نه کوئ، نو علي او معاوية هسې د دوو کسانو نومونه دي، دامقصد دی.

او **کناية** سره ماتن بله نکته وائي لپاره د ايراد د مسندالیه عَلَماً، نو وائي يا ايراد د مسندالیه کولی شي عَلَم لپاره د کنايه کولو. ځکه مقصود د متکلم کنايه وي، او دغه کنايه په عَلَم سره راځي او په بل څه شي سره نه راځي، نومسندالیه عَلَم ذکر کړی. شبه، يا هلکه کنايه خو محکي عنه غواړي نو کنايه د چا نه به وي؟ نو شارح وويل **عن معنی** يو معنی اصلي نه، ځکه چې اعلام منقولات دي، نو کنايه به د هغه معنی اصلي نه چې منقول عنه دی د هغې نه به کنايه وي. معترض راغلی شبه يې وګړوله چې يا هلکه جاءني زيد کې يا زيد جاءني کې مسندالیه عَلَم دی، او کنايه خو د څه شي نه نه دي، د جهنمي نه يا د بل څه نه خو کنايه پکې نشته، سره د دې نه چې مسندالیه عَلَم دی؟ نو شارح جواب وکړو **يصلح العلم له** يا هلکه هر عَلَم کې کنايه نه وي، هغه عَلَم کې به وي چې هغه صالح لپاره د کنائي وي، او زيد جاءني يا جاءني زيد کې د غه عَلَم صالح د کنائي نه دی. اوس شارح ته چا وويل چې يا هلکه ته مثال وښايه چې ايراد د مسندالیه علم شوی وي، او هغه صالح لپاره د کنائي وي، او کنايه هم شوي وي، نو

شارح وويل داسې به وي، مثال ښائي چې **نحو ابو لهب فعل كذا** نو ابولهب علَم شو د هغه کافر مشخص لپاره چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تره وو، او د يو معين کافر علم وو، کنيه وه د هغه، اوس دا **کناية عن كونه جهنمياً**، اوس دامسندالیه يې علَم راؤړو د دغه کنائي کولو لپاره د جهنمي نه، کنايه داسې وشوه لکه وروستو شارح دليل وائي، چې ابو لهب فعل کذا کنايه د جهنمي نه څنګه وشوه، نو دليل **لأن معناه** دا مخکې کوي او دا مخکې عبارة وروستو کوي، نو دليل پرې شارح دا وويل چې لان معناه ځکه چې معنی د لفظ د **ابولهب ملازم النار وملابسها**، د ابولهب اصلي معنی داده ملازم د نار سره او ملابس د دې نار سره، لکه مثلاً ابو الخير هغه چاته وائي چې ملابس د خير سره وي، ورنه نو د خير خو پلار نه وي، ابو الفضل ديته وائي چې ملابس د فضل سره وي، ابو الشر ديته وائي چې ملابس وي د شر سره، ابو الحرب ديته وائي چې ملابس وي د حرب سره، نو د ابولهب معنی اصلي داده چې ملابس وي د نار سره، اوس کنائي معنی د دې دا شوه، چې **يلزمه انه جهنمي** دي ملابس النار سره لازم دا شو چې دي جهنمي دی، نو اوس ګوره ملابس النار ملازم شو او جهنمي کيدل ورسره لازم شو، چې يو سړی ملابس د نار سره وي نو د هغه سره لازم جهنمي کيدل دي، دا شارح دليل وويل نو کنايه ثابت شوه، انتقال راغی د ملزوم نه لازم ته د ماتن په نزد باندې، او د سکاکي په نزد باندې انتقال د لازم نه ملازوم ته راغی، ځکه هغه وائي چې دا جهنمي ملزوم دی او ملابس النار ورسره لازم دی. اوس په دې باندې يوه شبه راغله چې يا هلکه نه منم چې جهنمي لازم دی د ملازم النار او د ملابس النار سره، ځکه ملابس النار او ملازم النار خو عام دی، چې نار دنيوي وي که اُخروي وي، او جهنمي خوخاص دی په جهنمي پورې، نو دا خو لازم نه دی، نو تاسو به جواب وکړئ چې نار نه مراد نار د جهنم دی، بناء په دې قاعدې باندې چې شي ذکر شي مطلق نو صرف کيږي فرد کامل ته، او فرد کامل د نار نار د جهنم دی، نو چې مراد د نار نه نار د جهنم شو نو دغه کونه جهنمياً لازم شو، ملابس د نار د جهنم سره جهنمي لازم دی. نو بيا شبه راغله چې يا هلکه نه منم چې ملابس د نار د جهنم سره جهنمي لازم دی، ځکه خَزَنَه د جهنم چې عليها تسعة عشر دي هغه ملازم و ملابس د نار د جهنم سره دي او جهنمي خو نه دی؟ نو ناکت جواب کړی دی چې لزوم نه مراد لزومي عرفي عادي مراد دی، لزوم عقلي نه دی مراد. او لزوم عرفي کې تخلف د لازم د ملزوم نه جائز دی، هاں که لزوم عقلي وي، هلته کې تخلف د لازم د ملزوم نه جائز نه وي، نو بيا به تا شبه کړي وه. نو دا پرې شارح تفريع وکړه **فيكون انتقالا** پس شو دغه لفظ **انتقال من الملزوم الى اللازم** ته. خو شارح وويل چې دلته هم باعتبار الوضع الاول او مخکې يې هم ويلي وو.

بالنظر الى الوضع الاول هغه وضع اول دا دی **اعني الاضافي**. اوس دلته کې حاصل دا دی چې د کنائي لپاره دلته کې دري صورتونه دي. يو صورت دا دی چې ته کنايه په وضع اول سره وکړي نو د ابولهب وضع اول، وضع اضافي وو چې **ابو** مضاف او **لهب** مضاف اليه، نو په دې کې کنايه اتفاقاً جائز ده. وضع ثاني

خو اوس علم گرځيدلی مجموعه د هغه ذات مشخصه لپاره چې تره د رسول الله صلی الله علیه وسلم وو، چې هغه تره چې د هغه خاتمه په کفر باندې شوې ده، نو دلته کې بيا کنايه جائز شوه او شارح پرې دليل هم وويلو، نو د دې وجې نه شارح يو صورت ته اشاره وکړه، چې په اعتبار د وضع اول سره کنايه بالکل ټيک ټاک ده، وهذا القدر سره شارح دفع د اعتراض کوي، چې يا هلکه کنايه کې دا شرط دی چې ته به لفظ ذکر کړي او د هغې نه به ته ملزوم اراده کړي، او بيا به د ملزوم نه انتقال لازم ته وکړي، نو دلته کې ابولهب تا ذکر کړو، نو دلته کې وضع اول چې ملابس د نار يا ملازوم د ناردي دا نه دی اراده شوي چې وروسته ته انتقال وکړي کونه جهنمياً ته، ځکه چې وضع اول په حالت د علميت کې نه وي مراد، وضع اول خو په حالت د علميت کې وي نه، نو چې وضع اول په حالت د علميت کې وي نه نو تعريف د کنائي پرې صادق نه شو، ځکه کنايه خو ديته وائي چې ته لفظ ذکر کړي او ملزوم ترې اراده کړي، بيا د ملزوم انتقال لازم ته وکړي، نو تا ذکر کړو لفظ د ابولهب نو ته به ترې ملابس النار اراده کوي، او په حالت د علميت کې خو ملازم النار او ملابس النار نه شي اراده کولی، بيا به انتقال کوي کونه جهنمياً ته نو هغه خو دلته کې رانغلی، نو شارح جواب وکړو چې وهذا القدر دغه قدر چې انتقال دی د ملزوم نه لازم ته بې د ارادې د ملزوم نه، اراده د ملزوم د سره نه ده شوي، دا کاف في الكناية.

نو حاصل د جواب داسې راووتلو چې کناية دوه قسمه ده په ابولهب کې يو کنايه دا ده چې ته به اعتبار د وضع اول سره يې کوي، چې ملازم النار يا ملابس النار واخلي او بيا انتقال جهنمي ته کوي، نو هلته کې اراده د ملزوم ضروري نه ده، ځکه ملزوم په حين د علميت کې شته دی نه، او دويمه کنايه دا ده چې ته د ذات مشخصه نه انتقال کوي کونه جهنمياً ته، نو هلته کې بيا اراده د ملزوم ضروري ده، يو صورت دا شو، دا اتفاقاً کنايه ده په اعتبار د وضع اول سره، دويم صورت دا دی چې کنايه ته وکړې په اعتبار د وضع ثاني سره چې وضع عَلَمي ده، چې ته ابولهب ذکر کړي، دغه لفظ او مراد ترينه هغه کافر مشخصه واخلي چې تره د رسول الله صلی الله علیه وسلم وو، او عقيده يې د کفر ساتله او په کفر باندې يې خاتمه شوې ده، هغه معين کافر مراد کړي، او بيا د دې نه انتقال وکړي جهنمي ته دا هم صحيح ده، نو په وضع علمي کې هم دا صحيح ده، خو په دويم صورت کې، کوم چې ما تاسو ته وويل چې ذکر ابولهب وکړي او مراد ....الخ، هغې نه انتقال جهنمي ته وکړي، ځکه هغه سره هم لازم جهنمي دی، په اعتبار د وضع علمي سره دا صحيح دی، دريم صورت دا دی چې ته ابولهب ذکر کړي، او هغه کافر مشخصه ترينه مراد وانخلي، بلکه مراد ترينه زيد واخلي، يا عمرو يا ابوجهل يا عتبه، شيبه يا بل يو کافر او ته انتقال وکړي جهنمي ته، نو ديته خلخالي کنايه ويلي ده، او شارح پرې رد کوي چې دا کنايه نه ده، بلکه ديته استعاره وائي، نو دريم قسم کنايه په اعتبار د موضع علمي سره دا صورت شو، خلخالي ورته کنايه ويلي ده نو دا باطله ده دا کنايه نه ده بلکه دا استعاره ده، ځکه شارح د

خلخالي مذهب رانقل کوي، ویل وقیل في هذا المقام ان الکنایة کنایه په ابولهب فعلَ کذا کې دا سې ده کما یقال نن تا وویل چې جاء الیوم الیوم ورسره ولګوئ حاتم حاتم طائي نو د حاتم معنی اصلي هغه شخص معین چې مشهور وو په جواد سره هغه مراد دی، نو هغه خو نن ورځي نه شي راتللی، هغه شی نه موجود نه دی، نو ویراد منه لازمه ای جواد یعني راغلی وو ما ته یو جواد، لاالشخص المسمی بحاتم، ویل دا هم کنایه ده، خلخالي وویل، دارنګه ویقال رایت ابالهب ابولهب نه هغه کافر مشخص نه دی مراد، زید، عمرو یا ابوجهل بل یو کافر مراد دی، د هغه نه ته انتقال وکړي جهنمي ته، ویل دا هم کنایه شوه، شارح وائي وفیه نظر په دي ما قال د قیل کې نظر دی په اعتبار د وجوه ثلاثه وسره، دیته کنایه نه وائي، دیته استعاره وائي، لاته، ځکه چې دا مثال مذکور چې په وخت د اراده د نفس لازم کې یکون استعارةً لاکنایةً نو دا وجه اول د رد شوه، نو حاصل د وجه اول د رد دا شو چې لو صح ما قیل نو لم یوجد الفرق بین الاستعارة والکنایة یعني لو صح القول المذکور نو لم....الخ، لکن التالي باطل فالمقدم مثله، هر چې ده وجه د بطلان التالي نو دا د مسلماتو نه ده، ځکه استعاره او کنایه کې فرق خو شته دی، عدم فرق باطل دی، هر چې دی دلیل د ملازمي ویل لاته ح یکون استعارة لاکنایة چې ته ورته کنایه هم وائي او دا استعاره هم ده، نو بیا فرق رانغی، اوس په تفصیل د ملزوم کې شارح حواله ورکړه په علی ما سیجئ اوس دا استعاره ولې شوه؟ استعاره ځکه شوه چې دلته کې استعمال د لفظ په غیر موضوع له کې وشو، ځکه حاتم وضع شوی وو د هغه شخص معین لپاره او تا مستعمل کړو په هغه جود کې، یعني هغه شبه کې چې هغه د هغه شخص سره مشابه وو په وجود کې، نو لفظ موضوعه د مشبه به او مراد ترینه مشبه دیته استعاره وائي، نو چې ته اوس دیته کنایه وائي نو بیا به فرق په استعاره او کنایه کې رانه شي، دویم رد پرې کوي چې ولو کان المراد ما ذکره القائل داکنایه شي، نو بیا لکان قولنا فعل کذا هذا الرجل مشیراً الی الکافر یا وقولنا ابوجهل فعل کذا، او مراد ترینه بل کافر واخلي، یعني ابوجهل فعل کذا ای حال کونك او مراد ترینه عتبه او شیبه بل کافر واخله، یعني ابوجهل دا کار کړی دی، یعني هغه سړي دا کار کړی دی چې هغه مشبه به د ابوجهل وو په کفر کې، نو داکنایه ووایه د جهنمي نه، ځکه جهنم د کافر سره لازم دی، دارنګه د ابوجهل سره لازم دی، تالي باطل دی، لکان داقول باطل دی، ځکه لم یقل به احد په دې باندې چا قول نه دی کړی چې دا کنایه ده، او دلیل د ملازمي ظاهر دی، ځکه ته وائي چې ابولهب ذکر شي او کافر اخر ترینه مراد شي هغه شخص معین مراد نه شي، نو دا کنایه ده کنه، نو دغسې دلته کې کنایه شوه، چې بس هذا الرجل ذکر کوه، او مراد ترینه مطلق کافر اخله او د هغه سره جهنمي کیدل لازم دي، ابوجهل ذکر کوه او مراد ترینه عتبه او شیبه واخله، د هغه سره هم جهنمي کیدل لازم دی، دوه ردونه شو، دریم ومما یدل او بعضې د هغه دلائلو نه چې دلالت کوي په فساد د دې قول د قیل باندې، انه ای الشان، مثل صاحب المفتاح وغیره

في هذه الكناية بقوله تعالى تبت يدا ابي لهب او اية كريمه كې د ابولهب نه، ته كافر اخر نه شئ اخيستى، د ابولهب نه هغه شخص معين مراد دى چې د كفر عقيده يې ده، او خاتمه يې هم په كفر باندې شوې ولا شك ان المراد به الشخص المسمى بابي لهب لاكافر اخر، ماتن بله نكته ذكر كوي لپاره د ايراد د مسند اليه علماً دى وائي وايهام استلذاده او مسنداليه ذكر كولى شي معرفه بالعلمية، لپاره د ايهام يا موندلو د مسنداليه لره لذيذ، شارح ورسره لګوي چې اى وجدان العلم لذيذاً غرض د شارح په دې عبارت سره دا دى چې سين او تاء په استلذاذ كې طلب لپاره نه دى، بلكه تاكيد لپاره دى، يا ايراد د مسنداليه كولى شي عَلَم لپاره د غورځولو د متكلم په ذهن د سامعينو كې وجدان د علم لذيذ، متكلم وائي چې دا علم ما ته لذيذ ښكاري، نحو قوله الشاعر بالله يا ظبيات القاع قلن لنا ليلي منكن ام ليلى من البشر منكن اى من جنسكن، نو دلته كې ام هي په كار وو، خو ليلى يې وويل نو اشاره يې استلذاذ ته وكړه، اوالتبرك يا ايراد د مسنداليه كولى شي عَلَم لپاره د تبرك او خير حاصلولو په دې عَلَم سره، نحو الله الهادي و محمد الشفيع او نحو ذلك، كالتفاؤل، لكه خوشحالول د مخاطب شو، لكه سعيد في دارك نو سعيد د سعادت نه دى، سعادت كاميابى ته وائي خوشبختى ته وائي، ويل نيك بخت سړى ستا په كور كې دى، خوش قسمته سړى ستا په كور كې دى، نو هغه خوشحاله شي، والتطير يا خفه كول د مخاطب، بد فالي نيول، لكه ته وائي السفاح في دار صديقك نو هغه به خفه شي والتسجيل لپاره د احكام او مضبوطولو په سامع باندې ابوحنيفة حكم بما اقول، نو بيا وائي ته د دې نه څنګه انكار كوي وغيره، او غير د دې نه لكه تنبيه شوه په غباوة د سامع باندې، مما يناسب الاعلام.

ماتن وويل وبالموصولية شارح ورسره لګوي، اى تعريف المسنداليه بايراده اسم موصول د دې عبارة نه د شارح دري غرضونه دي، يو غرض د شارح دا دى چې بالموصولية عطف دى په بالعلمية باندې او اصالةً عطف دى په فبالاضمار باندې، او قانون دا دى چې ما قبل د معطوف كالمعاد په معطوف عليه كې وي، نو هلته كې اما تعريفه وو، نو هغه يې دلته كې هم راوويستلو چې تعريف د مسنداليه دى، يو غرض دا شو، قاعدې ته يې اشاره وكړه يعنې قاعدې د عطف ته، دويم غرض د شارح دا دى اشاره يې وكړه چې دغه موصوليت مصدر متعدي دى لازمي نه دى، د هغې ترجمي يې په بايراده اسم موصول سره وكړه، او ايراد مصدر متعدي دى، دريم غرض د شارح د دفع د اعتراض كوي، چې يا هلكه د موصولية نه مراد جعل د مسنداليه اسم موصول به مراد وى نو جعل د مسنداليه اسم موصول خو كار د واضع دى، او مونږه نكات د فعل د متكلم لپاره بيانوو نه د فعل د واضع لپاره، نو شارح جواب وكړو چې بايراده اسم موصول او ايراد فعل د متكلم دى، د واضع نه دى، اوس متكلم مسنداليه اسم موصول څكه راوړي چې ويل لعدم علم المخاطب بالاحوال المختصة به بالمسنداليه سوى الصلة په بل څه يې علم نه وي، كقولك الذي كان معنا امس، اوس ګوره علم په دې باندې دومره وو، تاته مخاطب وويل چې پرون مونږه سره څوك وو،

او دا تا ته پته نه وه چې هغه سړی وو که نښځه وه، دارنګې سړی عالم وو که جاهل وو؟ دا هم درته پته نه وه، نو دلته کې بغیر د الذي نه بل څه چاره نشته، نو متکلم به درته وائي چې الذي کان معنا امس رجل عالم هغه پرون چې مونږه سره وو، هغه سړی وو، نښځه نه وه، عالم وو جاهل نه وو، **ولم يتعرض** سره شارح اعتراض کوي او جواب کوي، حاصل د اعتراض دا چې یا هلکه په دي مقام کې درې صورتونه وو، یو صورت تا ذکر کړو چې د مخاطب عالم علم په احوالو مختصؤ د مسندالیه باندې سوی د صلې نه نه وو، دویم صورت دا چې د متکلم علم په احوالو مختصؤ د مسندالیه باندې سوی د صلې نه نورځه باندې نه دي، دریم صورت دا چې د متکلم او د مخاطب دواړو علم په احوالو مختصهؤ د مسندالیه باندې سواد صلې نه نه وو، نو هغه دوه صورتونه تا ولې ذکر نه کړل؟ دا شبه کوي، نو وائي ولم يتعرض ای الماتن لما هغه قسم ته چې لایکون للمتکلم علم او لکلیهما دریم صورت دی وروستو بیانوي فانتظر بغیر الصلة نحو الذین في بلاد الشرق لااعرفهم نو اوس که متکلم علم وو، چې کلو د مشرق کې خو شته دی، صرف دومره علم یې وو، نو اوس د الذي نه بغیر بله څه چاره نشته د هغه، نو هغه به الذي ذکر کوي، نو وائي به الذین في بلاد.... الخ، دریم صورت او لکلیهما او یا د متکلم او مخاطب دواړو لپاره علم نه وي بغیر د صلې نه، لکه متکلم او مخاطب دواړو ته دومره علم خو وي چې په بلاد الشرق کې څوک خو شته دی، چې اُوسي په کې، نو اوس ته ورته ووائي چې الذین في بلاد الشرق لانعرفهم، لاتعرفهم نه دی بلکه لا نعرفهم دی چې زه او مخاطب دواړه یې نه پیژنو، نو شارح جواب وکړو لقلة جدوی مثل هذا الکلام د وجې د کموالي د فائدې او نفعې د مثل د دې کلام، په دې کې څه فائده نشته دی ځکه چې د متکلم علم په احوالو مختصهؤ د مسند الیه باندې بغیر د صلې نه رانغلو، یا سره د مخاطب نه رانغلو، نو متکلم به حکم په احوال عامو سره کوي، او په احوال عامو سره حکم کولو کې څه فائده نشته دی، لکه دغه حکم شو چې ما تا ته وویل چې الذین في بلاد الشرق لااعرفهم نو ته به هم ما ته وائي چې مولوي صاحب دا خو زما هم علم وو چې مشرق کې چیرته کسان دي او ته یې نه پیژني، ځکه ته تلی نه ئې، نو څه فائده رانغله، یا هغه کسان چې بلاد الشرق کې دي زه او مخاطب یې نه پیژنو، نو دې کې هم څه فائده نشته دی، معترض راغی شبه یې وکړه چې یا هلکه په بعضې موادو کې فائده شته دی، هغه دا چې الذین في بلاد الشرق زهاد، یا علماء، یا اتقیاء، نو دي کې خو فائده راغله؟ نو شارح جواب وکړو وندرة وقوعه خیر دی تهیك ده په بعضې موادو کې فائده راځي خو هغه نادر دي او نادر کالعدم دي، او استهجان التصریح یا ایراد د مسندالیه کولی شي موصول سره د صلې نه لپاره د قبیح ګڼلو د متکلم تصریح کولو لره په اسم د مسندالیه باندې، او زیادة التقریر یا ایراد کولی شي د مسندالیه موصولي لپاره د زیات ثابتولو د غرض مسوق له الکلام په ذهن د سامع کې، شارح په دې ای تقریر الغرض سره درې ترجمې کوي د دې التقریر، چې دا زیادة التقریر چې په متن کې راغلی، د دې درې ترجمې دي، یو ترجمې ته یې اشاره وکړه

چې ای تقرير الغرض المسوق له الكلام، او دا ترجمه يې مقدم کړه، ځکه چې دا په دې دريو واړو کې غوره ده، دويم وقيل تقرير المسند ، او دريمه وتقرير المسند اليه، مثال داسې شو نحو وراودته، تعين د مرجع کوي، مطالبه کړې وه د دې يوسف نه، ای يوسف علی نبينا وعليه السلام **والمراودة**، شارح شبه کوي، اوخان له ځې وائي المراودة مفاعلة دی، مجرد دا دی چې من راد يرود نه ماخوذ دی، او معنی جاء وذهب ده، چې د يو کار لپاره ځي او راځي، ځئ او راځئ، شبه چې باب مفاعله خو د جانبينو نه راځي، نو مطالبه د جانب د زليخې نه خو وه، ليکن د حضرت يوسف د جانب نه خو مطالبه نه وه؟ نو تاسو به جواب وکړئ چې دلته کې باب مفاعله په معنی د اصل فعل سره دی، کله کله باب مفاعله په معنی د اصل فعل سره راځي، لکه عاقبت اللص ما سزا ورکړې وه غلاګرو ته او غلاګرو ما ته څه سزا هم نه ده راکړې، نو دا عاقبت اللص په معنی د عقبت اللص سره شو، يا دويم جواب وکړئ چې مطالبه د زليخې نه دايقاع او د جماع ده، او د يوسف نه مطالبه د دفعې ده، نو په دې معنی سره باب مفاعله صحيح شو، معترض راغی شبه يې وکړه، شبه دا راغله چې يا هلکه دلته کې خو مجئ او ذهاب نه وو، ځکه دوی دواړه په يو کور کې اوسيدل، نو مجئ او ذهاب خو نه وو، نو شارح په فکان سره جواب وکړو چې دلته کې مخادعة مراد ده حقيقي مجئ او ذهاب نه دی مراد، فکان المعنی خادعته ای خادعت زليخی يوسف عن نفسه، معترض راغی شبه يې وکړه چې زليخې ټکي څنګه وکړه د نفس د يوسف، حالانکه د زليخې مطلوب خو نه وو حاصل شوی، نو چې حاصل نه شو، نو ټکي يې څنګه وکړه؟ ټکي خو هله کيږي چې د مخادع مطلوب حاصل شي، او مطلوب د زليخې خو نه وو حاصل شوی، نو ده دا تفسير وکړو چې وفعلت فعل المخادع ويل وکړو دې زليخې په شان د کولو د مخادع، هلکه حقيقي مخادعة نه دی مراد، شبيه بالمخادعة دی، ځکه حقيقي مخادعت خو ديته وائي چې هغه مطلوب حاصل شي، او هغه مطلوب خو حاصل شوی نه دی يصاحبه د خپل ملګري سره عن الشئ الذي، لاجل الشئ الذي لايريد منه ان يخرجه، ای منه من يده، نو يحتال ای المخادع، عليه ای الصاحب ان يغلبه وياخذه ای الشئ منه، ای الصاحب، شبه: يا هلکه دا خو يو معنی عامه شوه د مخادعت، نو دلته کې معنی مراده څه ده؟ نو شارح جواب وکړو وهي ای المخادعة عبارة ههنا عن التمحل لمواقعته، ای يوسف اياها ای زليخی نو شبه بالمخادعة شو او حقيقي نه شو، يعني دا حيله يې جوړه کړې وه، او په دې کې کاميابه نه شوه، اوس المسند اليه التي هو ای يوسف في بيتها عن نفسه عن نفسه جار مجرور ظرف لغو دی، متعلق براودته اوس دا مثال مطابق د ممثل سره دی فالغرض المسوق له الكلام تزاهة يوسف علی نبينا وعليه السلام وطهارة ذيله ای يوسف عن الفحشاء، چې يوسف بالکل پاک دی او قران هم ګواه دی چې ثم بدالهم من بعد ما راؤا الايات بيا ظاهر شو زليخې د عزيز مصر او ټولو ته نشانات د عفت د حضرت يوسف، چې دی ډير پاکدامن دی، خو د پاکدامنۍ نشانات ښکاره شو، خو سره د دې نه چې حضرت يوسف عفيف

دی او بلکل په ده کې د فحشاء میلان نشته دی، خو بیا هم دوی مشوره وکړه چې لیسجننه حتی حین اوس زلیخې دا خبره ولې خوښه کړه چې دی دې جیل ته لاړ شي، ویل دا ځکه چې دي به د جیل نه ویریږي او زما مطلب به حاصل شي، او عزیز مصر ځکه ویل چې جیل ته به ځي ویل ځکه چې دا شور شغب لږ غوندې کم شي، والمذکور چې التي هو بیتها ادل علیه ای الغرض من امرءة العزیز و زلیخی که داسې یې ویلې وي چې مطالبه کړې وه د یوسف نه امرءة العزیز، نو احتمال شته چې یو بل سړی وو، عزیز نوم یې لرلو د هغه ښځې به د یوسف نه مطالبه کړی وی، چې په دې کلي کې چیرته اوسیدو، هسې خطر یې لیږلی وو، یا جواب یې کړی وو، نو یوسف علیه السلام ویل زه نه راځم؟ په لاز کې سپی وي یا دشمن وي، یرې د وجې نه یې داسې وویل یا تیاره ده، نو په دې غرض باندې یې دلالت نه کولو، او که داسې یې ویلی وی چې وراودته زلیخی نو بیا دا احتمال وو چې بلې یوې زلیخی به مطالبه کړې وي، د دې یوسف دا مَولاګی به نه وه، نو نزاهة پوره نه راځي، او چې داسې یې وویل چې التي هو في بیتها التي هغه ښځه، لاس پرې کیده لوړمنګ دی هو في بیتها هغې مطالبه کړې وه، هیڅ مانع نه وو، نو د دې نه بل طهارت نشته دی لانه اذا کان في بیتها او هیڅ مانع هم نه وو وتمکن من نیل المراد عنها ځکه هغه طرف نه هغې مطالبه کوله، ولم یفعل کان في غایة النزاهة، وقیل د هغه دویم مولانا قیل د مراد سره لګوئ، وقیل هو تقریر للمراودة یعني دامطالبه یې خامخا کړې وه لما فیه من فرط الاختلاط ځکه ینو کور کې اوسیدل، والالفة ځکه چې په یو کور کې اوسیږي نو اختلاط زیات وي او شیطان یې د یو بل سره مینه زیاتوي، ورځ په ورځ ترقي کوي، نو دا مطالبه خامخا زلیخی کړې وه، ځکه کور یو وو، یو کور کې اوسیدل او حسن دومره وو چې انتهاء ته رسیدلی وو، نو زلیخا نه شوه کښیناستلی، نو دا مطالبه به خامخا کیده، د دې وجې نه حدیث کې راځي چې صحابه ؤ د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس وکړو **ارایت الحمو** حضرت د لیور حالت به څه وي؟ **قال الحمو الموت**، لیور نه خو داسې یریږئ لکه مرګ نه چې یریږئ، نو لیور ته یې د دې وجې نه مرګ وویل، ځکه چې هغه وائي چې دا زما د ورور کور دی، نو هر وخت کې دننه او بهر دننه او بهر او بل څوک اجنبي خو تللی نه شي، اختلاط ډیر وي نو ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل الحمو الموت اوس چې دې جُهالو ته ووېلی شي چې دننه کور ته مه ځه نو وائي چې دا ورور ما نه پاتې شو، دی زما د مور بچی دی او دی اوس زمانه ستر کوي، نو د مور بچی دی خو د الله حکم جدا دی، او د مور بچی جدا دی، د الله حکم دا دی د سد الفحشاء لپاره، ځکه چې ته دننه لاړ شي او زه سبا تا خپلې ښځې سره ووینم نو بیا به نه د مور بچی وي او نه د نور بچی وي، بیا به دشمني وي یو بل به وولو، نو الله د وخت نه وویل چې صله رحمي محفوظ ساتئ، نو داسې به ساتلی کیږي، او د مور بچی دې وي خو که دې ستا ښځې لپاره الله محرم کړی وي، نو چې ورور مړ کیدای نو د هغه کنډه به بیا چا اخیسته؟ بل اجنبي سړي به اخیستي وه، نو الله ستا د مور دا بچی غیر محرم کړو، نو که ورور دې مړ

شي نو شريعت وائي ته يې کنډه په نکاح واخله چې يو کور کې درته پاتې شي، ځکه په کنډه خو تاسو يو بل وژنئ نو د دې وجې نه ورور دې غير محرم شو، نو چې مړ شي نو هغه به يې په نکاح واخلي، اوس که ورور محرم دی ورور مړ شو نو چې بل سړی يې ښځه اخلي نو ته جنګ کوي، چې دا زمونږ کنډه ده، نو يا به په هغې غريبي ظلم وو، او ورور باندې هم نکاح نه شي ترلی، نو د دې وجې نه الله وويل چې ورور غير محرم دی، چې ورور دي مړ شو ستا نکاح ورسره جائز ده، د الله هر کار د فائدي د حکمت نه خالي نه دی، وقيل هو تقرير المسند اليه هغه دريم مولاثا قيل والابيانوي، ويل لامکان وقوع الابهام والاشتراك في امرءة العزيز او زليخا ځکه کلي کې نور سړي هم به په نوم د عزيز وو، يا زليخا په نوم باندې نورې ښځې وې، ځکه اعلام کې اشتراك وي، لکه اعلام مشترکه، او الذي هو في بيتها کې څه ابهام او اشتراك نشته دی، هغه صرف يوه ښځه وه چې يوسف د هغې په کور کې اوسيدو، اوس معترض راغی شبه يې وکړه چې دغه ايت کريمه به ته خالي نه وائي يا به دا مثال وائي داستهجان التصريح بالاسم لپاره فقط نو بيا زيادة التقرير بلا مقاله پاتې شو؟ او که ته دامثال وائي د زيادة التقرير لپاره فقط نو استهجان التصريح بلا مثال پاتې شو، او که ته دامثال وائي د دواړو لپاره نو بيا خلاف راځي د مشهور نه، ځکه مشهورينو خو دا صرف د زيادة التقرير لپاره مثال وئيلی دی، نو شارح راغلی جواب يې وکړو چې تهيك مشهوره دا ده، خو مشهور خطاء دی، هغې پسې مه ځه، ويل والمشهور ان الاية مثال لزيادة التقرير فقط نو اوس که مونږ يې مثال د دواړو لپاره وايو نوخلاف د مشهور نه راځي، ليکن شارح وائي چې خلاف د مشهور نه دې راشي، ويل وظني انها اى الاية مثال لهما ، اى زيادة التقرير ولاستهجان التصريح بالاسم وقد بينته في الشرح او د دې وجه ما په شرحه کې بيان کړې ده، هغه وجه دا ده چې مخکې ممثل دوه ذکر شي او وروستو مثال يو راشي نو ظاهر دا ده چې دغه مثال د دغې دواړو ممثلينو لپاره وی، نو دلته کې مثال يو دی او ممثلين دوه دي، نو پته ولګيده چې دا يو مثال د دواړو ممثلينو لپاره دی، اوس دومره قدرې اشکال پاتې شو چې د دې زليخي په دي اسم باندې تلفظ کولو کې عند الله څه قباحت وو؟ که ته وائي چې دا ښځه ده او د ښځې نوم اخيستل قبيح دي، نو قران کې الله د حضرت مريم نوم اخيستی دی، او که ذات د زليخې وائي نو په يواځې ذات د زليخي کې خو هم څه قباحت نشته، نو تاسو وايئ چې په دې هيئت مخصوص باندې به نوم د زليخي کې قباحت وو په اسم د ښځې يا نفس ذات کې قباحت نه وو، نو د دې په نوم باندې الله تلفظ کول قبيح وګڼل، خو سره د دې فعل مخصوص، نو په دې اعتبار سره دا قبيح وو.

والتفخيم يا ايراد د مسند اليه کولی شي موصول لپاره د تفخيم، شارح ورسره لګوي اى التعظيم دي سره يې تفسير د غير مشهور په مشهور سره وکړو، يعني تفخيم تعظيم د مسند اليه ته وائي، او بله يې اشاره وکړه چې په تعظيم او په تفخيم کې ترادف دی، والتهويل دا د قبيلي د عطف د لازم نه دی په ملزوم

باندې، څکه چې یو شی عظیم وي نو د هغې نه د سړي یره راځي، نو دا عطف د لازم شو په ملازم باندې، عطف د سبب شو په مسبب باندې، څکه تعظیم سبب لپاره د یرې دی، تعظیم ملزوم دی د یرې لپاره، نو د دې مثال داسې شو، نحو فغشیهم من الیم ما غشیهم ډوب کړو دي فرعونیانو لره هغه شي چې ډوب یې کړو دوی لره من الیم دا بیان د ما شو، نو دا ما غشیهم کې ما موصوله شوه او غشیهم صله ده، دا موصول سره د صلې نه مسندالیه شو، د دې فغشیهم لپاره اوس دا مثال مطابق د ممثل سره دی فان في هذا الابهام چې الله ما غشیهم فاعل او مسندالیه وګرځولو من التفخیم ما هغه مقدار لایخفی ای علی احد څکه په دې کې تعظیم کماً هم راغلی او کیفا هم راغلی، کیفاً داسې راغلی، چې هغه ډوبیدل ډومره وو، چې بیان یې د سره ممکن نه دی، چې ثلاثون ذراعاً وو او که نه اربعون ذراعاً وو که نه ستون ذراعاً وو که مائةً وو، خو بس ډوبیدل وو نو، اوس ښکته څومره ژوُر تللي وو، د دې د سره بیان نه شي کیدای، دارنګې کیفاً، چې یا هلکه دا اوبه دومره په سرعت کې رواني وي، او دومره په شدت کې رواني وي، او دا ډوبیدل څومره د تکلیف وو په فرعون باندې، د هغه اوبو د سرعت او د شدت او د احاطې چې په فرعون باندې وي د هغې د سره بیانوَل ممکن نه دي، څکه فرعون لوی لوی مدونه په سورة یونس کې رابنکلی دی، دا څکه چې زور وو پرې کنه، او چې په سړي باندې زور نه وي نو بیا مدونه نه راکاږي، یره پرې راغلې وه، وویل **قال امنت انه لااله الاالذي امنت به بنواسرائیل وانا من المسلمین** ۹۰. سورة یونس

او تنبیه المخاطب علی الخطاء یا ایراد د مسندالیه کولی شي موصول سره د صلې نه لپاره د خبرداری ورکولو د متکلم مخاطب ته په خطاء باندې، یعني متکلم مخاطب تنبیه ورکوي چې ای مخاطبه ته چې کوم ګمان کوي، په دې کې ته خطاء ئې، او دغه تنبیه په موصول سره د صلې نه کیږي، نومتکلم بل څه مسندالیه نه شي راوړی، نو څکه مسندالیه موصول سره د صلې نه راوړی، نحو ان الذین ترونهم ای تظنونهم اشاره یې وکړه چې رؤیت دلته کې په معني د ظن سره دي، رؤیت بصري نۀ دي مراد، علمي مراد دي. اخوانکم اوس دلته کې د یو سړي معمولي ذوق په علم المعاني کې وي، نو هغه معلوموي چې الذین دا موصول، ترونهم اخوانکم صله شوه، نو په دې کې اشعار راغلی چې په راتلونکي خبر کې، ای مخاطبه ته خطاء ئې، چنانچه هغه شانتې راغلی ان تصرعوا تفسیر د غیر مشهور په مشهور سره کوي، ویل ای تهلکوا او تصابوا بالحوادث دا مثال مطابق د ممثل سره دی، څکه ففیه په دې موصول کې سره د صلې من التنبیه في خطاءهم ای المخاطبین في هذا الظن ما هغه تنبیه في قولك ان القوم الفلاني یعني تظنونهم اخوانکم، دې کې دا تنبیه نشته دی، دارنګه په ان زیداً و عمرا و بکراً ترونهم اخوانکم، یشفي.... کې هم نشته دی، او الایماء یا ایراد د مسندالیه کولی شي موصول سره د صلې نه لپاره د اشارې، ای الاشارة دي کې یې اشاره وکړه چې ایماء دلته کې په معنی د اشارې سره دی، دویمه یې اشاره وکړه چې په ایماء او اشاره کې ترادف دی، اشاره ده الی وجه بناء

الخبر شارح ورسره لګوي ای طریقه، د دې نه غرض د شارح دا دی چې یو بې اشاره دفع د اعتراض ته وکړه، چې یا هلکه وجه خو مخ ته وائي عضوِ مخصوصه ته، بناء د خبر لپاره خو مخ عضوِ مخصوص نه دی، مخ خو دانسان لپاره وي، نو شارح جواب وکړو چې دلته کې وجه په معنی د عضو مخصوص سره نه دی، وجه دلته کې هغه په معنی د طریقي سره دی، نوع سره دی، صفت سره دی، هغه طریقي د بناء د خبر ته اشاره شوی دی، هغه نوعي د خبر ته اشاره شوی دی، دویم غرض د شارح رد اجمالي کوي په بعضو باندې، بعضو تفسیر د وجه په سبب او علت سره کړی وو، نو شارح دلته کې رد اجمالي وکړو چې وجه دلته کې په معنی د سبب او علت سره نه دی، وجه په معنی د طرز او طریقي سره دی، او د نوع سره دی، او وروستو په دې پورې مخ باندې راتلونکي صفحه د مختصر محشي شیخ الهند باندې رد تفصیلي کوي **بقوله ومن الخطاء في هذا المقام تفسير الوجه في قوله الى وجه بناء الخبر بالعلة والسبب**، نو هلته کې رد تفصیلي کوي، تقول سره غرض د شارح استشهاد دی، شبه: یا هلکه په تفسیر د معنی لغوي د لفظ کې نقل من اللغة شرط دي چې وجه چرته په معنی د طریقه او طرز او نوع سره راغلی دی؟ وائي او تقول: عملت هذا العمل على وجه عملك وعلى جهته ای طرزه و طریقته، یعني دې سره د شارح غرض دفع د توهم کوي چې یا هلکه دغه ایماء او اشاره به صرف په موصول سره د صلي نه ایماء به وي، یواځې موصول سره ایماء نه شي کیدای، دویم غرض د شارح هغه تعیین د وجه ته اشاره کوي، چې د هغه نوع او وجه نه څه مراد دی؟ ویل نوع د خبر نه مراد ثواب دی عقاب دی مدحه ده ذم دی، نو تعیین دهغه نوع ته اشاره کوي، نو وائي یعني ای الماتن تاتي بالموصول والصلة سره مسند اليه، للاشارة الى ان بناء الخبر عليه په دې موصول باندې مِن اي وجه واي طريق من الثواب والعقاب والمدح والذم وغير ذلك، نحو ان الذين يستكبرون تكبر کوي يتكبرون مخ اړوي يعرضون تكبر دا دی چې مخ اړوِل زما د عبادت نه، نو چې دا یې وویل نو دا موصول سره د صلي نه اسم د اِنَ شو، دې کې اشاره وشوه چې راتلونکی خبر به د جنس د عقاب نه وي، د جنس د ذلت نه به وي، چنانچه هغه شانتې راغلی چې سید خلون جهنم داخرین دامثال مطابق د ممثل سره دی، دا دلیل وائي لپاره د تطبیق المثال بالممثل چې فان فيه ای الموصول مع الصلة ایماء الى ان الخبر المبني عليه من جنس العقاب والاذلال چنانچه هغه راغی چې وهو قوله **سيدخلون جهنم داخرين** اوس ومن الخطاء نه رد تفصیلي کوي په هغه بعضو باندې، بعضې مفسرینو د لفظ وجه په سبب او علت باندې تفسیر کړي **ومن الخطاء في هذا المقام تفسير الوجه في قوله الماتن الى وجه بناء الخبر ای التفسير بالعلة والسبب** یا هلکه دا خطاء ولې دی؟ شارح ته چا وویل، شارح وویل ښه ته ما نه د خطایی تپوس کوې؟ ویل هو، شارح وویل وقد استوفينا ذلك في الشرح دغه وجه د خطایی په مطول کې تفصیلا ذکر شوې ده، خلاصه د هغې دا ده چې دا تفسیر مطرد نه دی هر مثال کې دا نه راځي، ځکه چې په دې ایت کریمه کې خو راغلی، ځکه استکبار د عبادت نه

علت او سبب دی لپاره د عقاب او د ذلت، نوایت کریمه کې خوصحیح شو، خو راتلونکی بیت ان الذي سمك السماء کې نه صحیح کیږي، ځکه سَمَك د سماء علت لپاره د بناء د بیت د شاعر او سبب نه شي کیدای، دارنګه من الذین ترونهم کې هلته کې علت او سبب نه شي کیدای، نو دا مطرد نه دی، او چې د وجې تفسیر تا په نوعې سره وکړو طریقې سره تا وکړو، نو هغه مطرد دی، په هر مثال کې هغه راځي، ثم انه تعیین د مرجع کوي، ای الایماء الی وجه بناء الخبر، ای ایراد د مسندالیه کولی شي موصول سره د صلې نه لپاره د ایماء الی وجه بناء الخبر، خو دغه ایماء اشاره به بیا ذریعه ګرځوو لپاره د تعریض ته په تعظیم د شان الخبر باندې، چې دا خبر عظیم الشان شی دی، لاسره شارح رد کوي په بعضې شارحینو باندې، هغوی دا ویلي وو چې ثم انه کې ضمیر راجع دی، موصوف ته ایماء ته نه دی، نو هغوی ترجمه د متن دا کړې وه چې ثم انه بیا دا جعل د مسندالیه موصولاً ربما یجعل ذریعةً نو اوس په دې باندې شارح رد کوي، رد د دې وجې نه کوي، چې یو دا خلاف دی د سابق نه، د تیر شوو مثالونو نه خلاف دی، ځکه خلاف دی چې که دلته کې جعل د مسندالیه موصولاً ذریعه وي، نو بیا داسې ویل په کار وو چې او جعله ذریعةً لکه مخکې چې یې په اَو سره ذکر کړی دی، او التفخیم او الایماء، او جعله ذریعةً، نو موافق د سباق سره داسې وو، نو دا عبارة به د مخکې عبارت سره په یو نسق باندې راغلی وو، دویمه وجه د رد دا ده چې ستا د دې کلام نه بیا خو دا معلوم شوه چې دا ایماء ذریعه نه شي کیدای او جعل د مسندالیه موصولاً ذریعه کیږي، او حالانکه جعل او مسندالیه موصولاً سره د ایماء نه ذریعه دی، بې د ایماء نه ذریعه نه شي کیدای، نو د دې وجو نه دا خطاء شو، نو شارح پرې رد کوي چې لامجرد جعل المسندالیه موصولاً کما سبق، کما سبق دې منفي سره لګوي، لکه مجرد جعل د مسندالیه خاندي شوی دی بعضې او هاموية، چې هغه خلخالي دی، ربما یجعل ذریعةً تفسیر د غیر مشهور کوي په مشهور سره وسیلةً الی التعریض بالتعظیم لشانه، ای شان الخبر چې دا خبر عظیم الشان شی دی، ای ایراد د مسندالیه موصول سره د صلې نه شوی دی، لپاره د ایماء د وجې د بناء د خبر ته، بیا دا وجه د ایماء د خبر، دا به ذریعه وي لپاره د تعظیم د شان الخبر، لکه مثال داسې شو نحو شعر ان الذي سمك السماء تفسیر د غیر مشهور په مشهور سره کوي، ای رفع السماء نو ګوره الذي موصول شو او سمك السماء، دا صله شوه، موصول سره د صلې نه دا مسندالیه شو، بنی لنا بیتاً، هغه ذات چې جوړ کړی یې دی زمونږ لپاره کور، بیتاً کې شارح دوه احتمالین ذکر کوي، چې د بیت نه بیت حسي مراد دی، یو احتمال دا، اراد البیت ای اراد الشاعر الکعبة، نو بیت حسي مراد شو، نو بیا مطلب دا شو چې فرزدق وائي چې ای جریره مونږه د کعبې په قرب او په جوار کې اوسیږو، کعبه زمونږه کور دی، مونږه لپاره الله جوړ کړی دی، او تاسو چیرته باندو، ځنګلو نه راغلي یئ، تاسو د کعبې نه لرې اوسیږئ، کعبه ستاسو کور نه دی، نو بنا په دې باندې دعائمه اعز واطول نه مراد هم

دعائمه حسيه مراد شو، چې د هغې کعبې ستنې غالبې دي د هر کور نه او طاقت والادي د ستنو د هر کور نه، ذي الطول طاقت والادي، چې د هغې څوک د خرابولو اراده کوي نو هغه سړی خرابوي، دويم احتمال بيانوي چې او بيت المجد والشرف يا د دې بيت نه مجد او شرف مراد دی، بيت معنوي دی، نو بيا د دې فرزدق غرض دا شو چې يا هلکه زمونږ پلاران، نيکونه غُر نيکونه، هغه غټ خلک تير شوي دي، نومونږه د شرافت والا کورنۍ خلک يو او د عزت والا کورنۍ خلک يو او ته چيرته ګوجر بره باندې نه راغلی ئې، ستا څه دي؟ څه شرافت دی؟ اولئك ابائي فجئني د قبيلې نه شو، نو بيا د دعائم نه هم دعائم معنوي مراد شو، چې هغه پلاران او نيکونه شو اباء واجداد او اعز واطول اسم تفضيل دی او نو اسم تفضيل مفضل عليه غواړي، نو مفضل عليه خو لفظ کې نشته دی، نو شارح اشاره کوي چې هغه محذوف دی، چې دعائم کل بيتٍ، اوس دا مثال مطابق د ممثل سره دی ففي قوله ای قول الشاعر چې **ان الذي سمك السماء** وو، دا ايراد د مسند اليه سره د صلې نه وشو، دا د دې لپاره چې **ايماء الى ان الخبر المبني عليه امر من جنس الرفعة والبناء** معترض شبه وکړه چې مونږ خو نه شو معلومولی چې **ان الذي سمك السماء** چې ما تاسو ته وويل نو تاسو معلومولی شئ چې راتلونکی خبر به د جنس د رفعت او د بناء نه وي، شارح وويل **عند من له ذوق سليم** يا هلکه هر سړی دا ايماء نه شي معلومولی چې هغه څوک چې د هغه لپاره ذوق سليم وي په علم معاني کې هغه يې معلومولی شي، **ثم فيه ای الايماء تعريض بتعظيم شان بيته** ای بيت الشاعر **لكونه ای بناء بيته فعل من رفع السماء التي لا بناء اعظم منها وارفع** نو د شاعر بيت هم اوچت شو، او يا به دا ايماء ذريعة، وسيلة وي **الى تعظيم شان غيره ای غير الخبر نحو الذين كذبوا شعيبا كانوا هم الخاسرين**، دا مثال مطابق د ممثل سره دی، څکه **ففيه ايماء ای في الموصول مع الصلة ايماء الى ان الخبر المبني عليه مما ينبئ عن الخيبة نا اميدئ نه والخسران**، چنانچه هغه شان خبر راغلی چې كانوا هم الخاسرين وتعظيم لشان شعيب عليه السلام او شعيب عليه السلام خبر خبر نحوي نه دی، **وربما يجعل طريقة** سره غرض د شارح دا دی چې ماتن نه څه نکتې پاتې شوې دي، نو شارح هغه بيانوي نو وائي چې وربما يجعل الايماء المذكور **ذريعة الى الاهانة لشان الخبر** د مسند اليه لپاره، **نحو ان الذي لا يحسن معرفة الفقه**، نو دا موصول صله مسند اليه راغلی او په دې کې اشاره ده چې د راتلونکی خبر شان دا دی چې د جنس د تصنيف نه دی، نو چنانچه خبر هم هغسې راغلی چې **قد صنف فيه كتابا** او معلومه خبره ده چې قدر د مصنف په مصنف باندې دی، نو چې مصنف فقه نه پيژني او کتاب يې په کې وليکلو نو د هغه مصنف به څه شی وي؟ او **لشان غيره ای غير الخبر نحو ان الذي يتبع الشيطان** په دې موصول کې ايماء ده چې دغه خبر د جنس د خسران او خيبة نه دی، او په دې کې اشاره وشوه حقارت د شيطان ته، څکه چې د ده تابع نقصان کې دی نو شيطان خوخامخا لامحاله مهان او ذليل دی، چنانچه خبر دغسې راغلی چې فهو خاسر

وقد يجعل غرض د شارح د دې نه دا دی چې فرق بیانوي په ما بین د ایماء الی مطلق الخبر او په ما بین د ایماء ذریعه ګرځولو تحقیق الخبر ته، چې اشاره ذریعه ګرځول مطلق خبرته او دغه اشاره او ایماء ذریعه ګرځول تحقیق الخبر ته، دي کې فرق شارح بیانوي، اوس دا فرق شارح ځکه بیانوي چې بعضې خلکو په دې کې فرق نه وو کړی، دا یې یو شی ګرځولی وو، چې ایماء ذریعه ګرځول مطلق بناء الخبر او ذریعه ګرځول تحقیق الخبر ته، ویل دې کې فرق نشته دی، دا دواړه یو شی دی، نو شارح په هغوی باندې رد کې وویل چې دې کې فرق شته دی دا یوشی نه دی، نو وائي **وقد يجعل** کله کله ګرځولی شي دغه **ایماء ذریعة الی تحقیق الخبر**، او مخکې ذریعةً الی الخبر قدرې وو، تحقیق ټکی په کې نه وو، د تحقیق الخبر معنی دا ده، د تحقیق الخبر تفسیر کوي **ای جعله محققا ثابتا، جعل الخبر...الخ** په ذهن د سامع کې په دلیل اني یا دلیل لمي سره، نو که دا په ذهن د سامع کې ثابت وي نو دلیل اني به وي، او که دغه ثابت او محقق په نفس الامر کې وي نو دلیل لمي به وي، دغه ایماء بیا دلیل لمي شو، اوس هغه په دې قول د شاعر کې راغلی دی، چې **نحوان التي ضربت بيتا** بیتا حال کونها مهاجرة د اصل محلي نه او د خپل اصلي کلي نه او دا کور دې جوړ کړی **بكوفة الجند** مقام کې او خپل کلی او محله یې پریښې ده، نو دا موصول سره د صلې نه مسندالیه شو، دا اوس خبر شو چې غالت ودها غول ویل هلاك کړی دی مینه د دې ښځې یو هلاک کړونکی، د خپل کلي او محلي سره مینه د دې ښځې یو هلاك کړونکی شي هلاکه کړې ده، کلي او محلي والاؤ سره د دې مینه ختمه شوې ده، نو ځکه یې هجرت وکړو او کوفة الجندل کې ځانله کور جوړ کړو، اوس دا مثال مطابق د ممثل سره دی، ځکه **فان في ضرب البيت** ځکه چې په جوړولو د کور کې بکوفة الجند دا هم د مبتداء نه مفهوم شو او دویم **والمهاجرة اليها** هجرت کول الیها دی کوفة الجند ته، دا هم د مبتداء نه مفهوم دی، دي دوو خبرو کې ایماء دی چې **على ان طريق بناء الخبر مما ينبئ عن زوال المحبة** د خپل کلي او محلي سره د انقطاع المودة د خپل کلي او د محلي سره، چنانچه هغه شان خبر راغلی چې غالت ودها غول، نو دغه موصول ایراد د مسند الیه په موصول سره اشاره وجه د بناء د خبر ته وشوه، اوس دغه ایماء ذریعه شوه تحقیق الخبر لپاره هغه داسې چې ثم انه پس د دې نه دغه ایماء یُحقق ثابتوي دی خبر لره، خبر دا وو چې زوال المحبة دي ویقرره الخبر، په ذهن د سامع کې په دلیل سره حتی کانه ای ایماء برهان علیه برهان اني دی په دي زوال د محبت او انقطاع المودة باندې، نو دا برهان اني دی ځکه استدلال د جانب د معلول نه په علت باندې شو، ځکه اصل کې حقیقت کې خو انقطاع د مودة او زوال د محبت مخکې راځي بیا هجرت راځي، اوضرب البیت راځي، نو ضرب البیت د هجرت معلول شو، او زوال د محبت او انقطاع د مودة علت شو، نو دلته کې استدلال د جانب د معلول نه علت باندې راغلی، او هم دغه برهان اني وي، وهذا او دغه مذکور چې دا خبر ثابتول په ذهن د سامع کې برهان انی، لمی سره دا معنی د تحقیق د خبر ده

معنى تحقيق الخبر اوس دا خو ايماء ذريعه شو تحقيق الخبر ته، هو مفقود في مثل ان الذي سمك السماء څكه چې سمك د سماء دليل انى لپاره د بناء د بيت د شاعر نه شي كيداى، او برهان لمى هم نه شي كيداى، دا څه ضروري ده چې الله اسمان پورته كړى دى، نو دا نه علت دى او نه معلول دى او بناء د بيت د شاعر لپاره اذ ليس في رفع الله تعالى السماء تحقيق وتثبيت لبنائه اى بناء الله لهم بيتاً، نه برهان انى شته او نه برهان لمى، نو دا يې پرې تفريع وكړه چې چا فرق نه وو كړى، ويل خطاء دى، فظهر الفرق بين الايماء يعنې په مابين د مطلق ايماء كې او په مابين د تحقيق الخبر.

وبالاشارة او ايراد د مسنداليه كولى شي په اسم اشاره سره، دا چې يې ورسره وويل چې اى تعريف المسنداليه دې كې يې اشاره وكړه قاعدې د عطف ته، څكه چې بالاشارة عطف دى، قرابةً په بالموصولية باندې او اصالةً عطف دى په بالاضمار باندې، د هغې نه مخكې تعريفه وو، نو د دې نه مخكې يې هم را وويستلو، ايراد اسم الاشارة په دې كې يې اشاره وكړه چې دا الاشارة مصدر متعدي دى، يعنې په راوړلو د دې مسنداليه سره اسم اشاره، او بله يې اشاره وكړه چې الاشارة نه مراد جعل د مسنداليه اسم اشاره نه دى، څكه دا كار د واضع دى، بلكه ايراد د مسنداليه اسم اشاره مراد دى، څكه دا كار د متكلم دى، او مونږ د فعل د متكلم نكات وايو د فعل د واضع نه وايو، او اسم اشاره سره مسنداليه څكه راوړى لتميزه شارح تعيين د مرجع كوي چې لپاره د جدا كولو د مسنداليه، جدا كول متكلم كوي، نو اضافت د تميز ته اضافت د مصدر مفعول ته شو، اكمل تميز په كامل تميز سره، شبه راغله چې يا هلكه د دې نه خو دا معلومه شوه چې اسم شاره اعرف المعارف دى، څكه اكمل تميز خو په اعرف المعارف سره راځي، حالانكه مخكې تاسو ويلې دي چې مشار اليه اعرف المعارف نه دې، نو تاسو به ترې جوابونه وكړئ، يو جواب دا وكړئ چې اكمل تميز په مطلق تعريف كې نه، په اشارة حسي كې اكمل تميز دى، يا جواب دا وكړئ چې اكمل تميز په نسبت سره ما تحت ته دى، مافوق ته نه دى، اوس دا مسنداليه متكلم سره په اسم اشاره سره اكمل تميز څكه كوي، وائي لغرض من الاغراض نو دا تدقيق شو، هغه لكه مبالغه شوه په مدحه كې يا په ذم كې، نحو قوله اى قول ابن الرومي هذا ابو الصقر ويل دغه لاس پرې كيده ابوصقر دى، هذا اسم اشاره شوه او ابو الصقر دا خبر شو، او هذا اسم اشاره مبتداء ده فرداً فرداً منصوب دى، ويل بنابر څه، ويل نصب يا نُصِبَ على المدح دې مدحې نه دامعنى نه ده چې دلته كې امدح مقدر دى، مدحې نه دا معنى چې مفعول به د فعل محذوفه دى، چې اعني دى، يعنې اعني قصد كوم په دې ابو الصقر سره فرداً متفرد، او على الحال يا حال دى د ابو الصقر نه يعنې په حال كون د ابو الصقر كې چې فرداً دى، شبه يا هلكه حال خو يا د فاعل نه وې يا د مفعول نه وې او ابو الصقر خو خبر دى، د خبر نه خو چا هم حال نه دى ويلى؟ نو تاسو راځئ چې دا ابو الصقر مفعول دى، د فعل معنوي لپاره چې په هذا كې د ها نه أنبه فهميږي، او ذا نه

اُشیرُ فهمیږي، چې اُنبه ابا الصقر یا اُشیرُ الی ابی الصقر حال کونه فرداً، نو دا د هٰذا زید قائماً
قبیلي نه شو، متفرد دی في محاسنه متفرد دی په خپلو حالاتو حسینو کې په خپلو اخلاقو
اخلاقیات حسینُو کې، دویمه مصرعه شارح ذکر کوي من نسل شیبان چې دي د نسل د شیبان نه دی
بین الضال والسلم چې په ما بین د ضال ونې کې او د سلم ونې کې دي، ضال ویلی شي ځنګلي شوی ته
او سلم ویلی شي ځنګلي کیکر ته، اوس شارح تفسیر کوي چې د ضال او د سلم څه معنی ؟ ویل هم
شجرتان بالبادیة ویل دا دوه ونې دي په ځنګل کې، او د من نسل شیبان معنی دا شوه چې د ده د نیکه
نوم شیبان وو، بیا وروستو د نیکه نوم سره هغه ټول ټبر مشهور شو، چې دي د نسل د شیبان نه دی،
یعني نه یو غرض د شارح دا دی چې د بین الضال والسلم متعلق ذکر کوي او اشاره کوي چې دا ظرف
مستقر دی، او ظرف لغو نه دی، هغې ته یې اشاره وکړه چې یقیمون بالبادیة چې دوی ابو الصقر
اوسیږي په باندې وکې، دویم غرض دفع د اعتراض کوي، چې یا هلکه بین الضال والسلم څه معنی؟
چې د ضال او د سلم ونې په مینځ کې دوی دي، د دې څه مطلب ؟ نو شارح جواب وکړو چې بین الضال
والسلم دا کنایه ده د اقامت د دوی نه په باندې کې، چې دوی په ښاریه کې نه اوسیږي، باندې کې
اوسیږي، دریم غرض د شارح علت وائي چې باندې کې اوسیدل دا ولې مدحه شوه په نسبت سره ښاریه
کې اوسیدو ته؟ نو شارح علت وویل چې لان فقد العز في الحضر ویل ځکه چې ورک شوی دی عزت په
ښاریه کې، لان په تخفیف سره بنا په دي باندې بیا فَقَدَ فعل شو، او یا لان فَقْد العز ثابت في الحضر،
نو بنا په دې باندې فقد مصدر شو، ویل ځکه چې ورک شوی وي عزت په ښاریه کې، شبه یا هلکه
ښاریه کې عزت څنګه ورک کیږي؟ حالانکه ښاریه کې سړی په عزت کې وي؛ ځکه الاعراب اشد کفراً
ونفاقاً دی، نو تاسو وایئ چې دا عزت ورکیدل په ښاریه کې د دوو وجو نه دي: ۱ سړی چې په ښاریه
کې وي، نو د هغه مادري ژبه، مادري فصاحت بلاغت محفوظ نه وي، ځکه ښاریه کې هر قسم ژبه
چلیږي، نو د هغه هغه مادري فصاحت او بلاغت او مادري ژبه باقي نه پاتې کیږي، کله په خبرو کې د
اردو لفظ وائي کله په کې د فارسی لفظ وائي، کله په کې د پښتو لفظ ووائي کله په کې عربي ووایي،
هغه مادري ژبه یې هیره شوي وي، لکه اوس ګوري اصلي مادري ژبه دا ده چې یوې نیمې روپۍ ته
درې اتانیزونه وائي، او اوس ورته خلک یوه نیمه روپۍ وائي نو فرق راغلی، تهیک ده شی یو دی،
درې اتانیزه او یوه نیمه روپۍ خو یو ده، خو فرق راځي، او یا د دې وجې نه چې ښاریه کې عزت
ورکیږي، ځکه هلته کې پولیس مولیس وي، نو هغوی شریف او رذیل یا معزز وغیر معزز کې فرق نه
کوي، خو دواړو نه پیسې غواړي، هغوی وائي چې مونږ ته څوک پیسې راکوي نو هغه زمونږ په نزد
باندې معزز وي، او که نه، نه ورکوي نو معزز نه دی، او باندې ته دوی پولیس نه شي ختلی شیخ نور
الفاظ وویلي خو تعبیر تري داسې غوره دی پتلون پیې اچولی وي نو بنکته شرطي مرطي، پولیس

مولیس سړی تنګوي، او بره دوی نه شي تنګولی، او التعریض یا ایراد د مسندالیه کولی شي اسم اشاره لپاره د تعریض د اشاره کولو د متکلم بغباوة السامع حتی کانه ای السامع دومره غبي دی، چې لایدرك غیر المحسوس نو زه څه وکړم، نو د دې وجې نه په اسم اشاره سره مسندالیه ذکر کړو کقوله ای الفرزدق، شعر اولئك ابائي چې په دې مجلس کې ناست دي فجئني بمثلهم امر لپاره د تعجیز دی، د تمکین لپاره نه دی اذا جمعتنا یاجریرُ المجامع، المجالس چې په مجلس کې زما مشران هم ناست وي، او ستا مشران هم ناست وي، زما مشرانو رای پیش کړه نو د هغې نه څوك نکیر نه شي کولی، او ستا مشرانو چې څه رای پیش کړه، نو د هغې نه هر څوك نکیر کولی شي، او بیان حاله یا ایراد د مسندالیه کولی شي اسم اشاره، لپاره د بیان د حال د مسندالیه په قرب کې په بُعد کې او په توسط کې، العبارة هکذا حاله ای المسندالیه في القرب والبعد والتوسط کقولك هذا زید دا زید دري واړو سره لګي، هذا زید دا مثال د قریب شو، ذلك زید دا مثال د بعید شو، او ذاك زید دا مثال د متوسط شو، واخر نه وروستو شارح شبه کوي، او د شبهې نه وروستو جواب کوي، وروستو کړو ماتن ذکر التوسط د قریب او د بعید نه، حالانکه اول قریب راځي، بیا متوسط او بیا بعید راځي، او ماتن توسط د ټولو نه وروستو کړو، نو دا خو ترتیب طبعي نه ماتن خلاف وکړو، نو دي راغلی جواب یې وکړو ویل لانه ای التوسط انما یتحقق بعد تحقق الطرفین جواب دا شو، چې یو د توسط رتبه ده، او یو د توسط تحقق دی، نو رتبې په اعتبار سره متوسط د قریب نه وروستو وي، دا تهیك ده، او د تحقق په اعتبار سره متوسط هله راځي چې طرفین راشي چې قریب او بعید دی، هسې ته یو شي ته متوسط نه شي ویلی، نو دوو ۲ ته، ته متوسط نه شي ویلی چې تر څو دي: ۱ او دریم ۳ نه وي راوړي، نو دلته کې ماتن تحقق ته نظر کړی دی، او رتبې ته یې نظر نه دی کړی.

وامثال هذه المباحث، د دې نه غرض د شارح دفع د اعتراض کوي، چې یا هلکه تا خو په علم المعاني کې نبکته مسئله د نحوي شروع کړه د دې نه خو نحات بحث کوي، او علم المعاني والاخو بحث کوي دهغه اُمورو نه چې هغه زائد وي په اصل مراد باندې، او دا خو په اصل مراد باندې زائد نه دی، ځکه هذا وضع لپاره د قریب دی، او ذلك وضع لپاره د مشار الیه بعید دی، ذاك وضع لپاره د متوسط دی، نو د نحوي مسئله تا په علم المعاني کې داخله کړه، دا خو صحیح نه ده، ځکه علم المعاني خو بحث د موضوع له د الفاظو نه نه کوي، بلکه امورِ زائدو نه کوي، چې زائد وي د اصلِ وضع نه، نو شارح جواب کوي، چې یا هلکه علم نحوي والاچې د دې نه بحث کوي، او علم المعاني والاچې دا ذکر کوي، نو دې کې فرق دی، نو علم نحوه دا په دې اعتبار سره ذکر کوي، چې هذا وضع لپاره د مشار الیه قریبي دی، ذلك لپاره د بعید دی، او ذاك لپاره د متوسط دی، او علم المعاني والاچې بحث کوي نو په دې اعتبار سره بحث کوي، چې اوس ته د یو مسند لپاره یو مسندالیه ذکر کوي، نو ته چې هر یو

مسندالیه ذکر کوي نو صحیح کیږي، که زید ذکر کوي نو بیا صحیح کیږي، که عمرو ذکر کوي نو بیا صحیح کیږي، او که بکر ذکر کوي، نو بیا صحیح کیږي، خوستا مقصود د مسندالیه قرب هم دی، ذکر د مسندالیه دی سره د قرب نه، یا ذکر د مسندالیه وي سره د بُعد نه، او یا ستا مقصود ذکر د مسندالیه وي سره د توسط نه، نو ذکر د مسندالیه سره د قرب نه دا زائد شو، ذکر د مسندالیه سره د توسط نه دا زائد شو په اصل مراد باندې، نو علم المعاني والاد دې نه بحث په دې اعتبار سره کوي، نو ځکه وائي وامثال هذه المباحث ینظر، ای یبحث فیها اهل اللغة نحاة، من حیث انها، ای الامثال تبین ان هذا مثلاً وضع شوی دی **للقریب وذاك للمتوسط وذلك للبعید، وعلم المعاني** والانظر کوي، بحث کوي من حیث انه ای الشان **اذا ارید قرب المسند الیه یؤتی بهذا** وهو او دغه قرب د مسندالیه، دا **زائد علی اصل المراد** اصل مراد دا وو الذي هو الحکم علی المسندالیه المذکور المعبر عنه بشئ یوجب تصوره علی ای وجه کان ځکه هغه عام وو، نو دا په هغې باندې زائد دی.

او **تحقیره** یا ایراد د مسندالیه کولی شي اسم اشاره **ای تحقیر المسندالیه** دي کې یې تعیین د مرجع وکړو **بالقرب بسبب القرب** اسم اشاره متکلم ذکر کوي لپاره د تحقیر په قرب سره، نحو **اهذا الذي یذکر الهتکم** ایا دغه حقیر چې ملګری د ده نشته یوبتن دی، مال ورسره نشته دی، پلار یې نشته دی یتیم دی، ویل دی بَدې ردې وائي ستاسو خدایانو ته، دي ستاسو خدایانو په بدو سره یادوي، نو په بدو سره یې څنګه یادول؟ څه کنځل کول رسول الله صلی الله علیه وسلم؟ کنځل خو یې ورته نه کول، خو دا یې ویل چې دا مخلوق دی محتاج دی هیڅ نه شي کولی، نو هغوی ویل دا یې کنځل وکړل، دا خو کنځل نه وو دا خو د دوی خپل صفت بیانول وو، چې دوی کې صفت د عجز دی، صفت د مخلوقیت دی، صفت د امکان دی، نو کافرو ویل چې نه دی کنځل کوي اولیاؤ ته، دی بې ادبه دی، علامه الوسي د بغداد بازار ته را ووتلو نو خلکو ورته اشاري شروع کړي، ویل ګورئ د کرامت نه چې منکر دی هغه راووتلو، کرامت نه منې اولیاء نه منې، ویل دغه دی راووتلو، اشاره یې ورته وکړه، حالانکه هغه کرامت هم منلو اولیاء یې هم منل، لیکن د الوهیت صفت په کې نه منې، وائي چې مخلوق دی، علامه الوسي حنفي دی، ولې کتر حنفي دی، مؤحد حنفي دی، اوبه په کې نه ترنمبئ، او تعظیم یا ایراد د مسندالیه کولی شي په اسم اشاره سره لپاره د تعظیم د مسندالیه بالبعد چې دا مسند الیه ډیر بعید دی، دا په مرتبه کې ډیر اوچت دی، **نحو الم ذلك الکتاب** معترض راغلی شبه یې وکړه چې یا هلکه ذلك سره اشاره کتاب ته نه صحیح کیږي، ځکه ذلك سره اشاره مشارالیه بعید ته کیږي، او کتاب خو زمونږ مخکې پروت دی، نزدی دی بعید خو نه دی، جواب یې وکړو **تنزیلاً لبعد درجته، ای الکتاب، ورفعة محله ای الکتاب منزلة بعد المسافة** حاصل دا، ځکه قران کریم مسافت کې پند کې او مکان کې اګر که مخې ته پروت دی، لږې نه

دی، لیکن په مرتبه او په محل کې ډیر اوچت دی، عرش نه راغلی دی، نو دلته کې دا بُعد رتبي نازل شو په منزله د بُعد مسافتي کې نو ذلك سره ورته اشاره صحیح شوه.

او تحقیره یا ایراد د مسندالیه کولی شي اسم اشاره لپاره د تحقیر د مسندالیه بالبعد کما یقال ذلك اللعین فعل کذا ویل دي لعین، ویل زمونږ د ملګرتیا نه دا لعین ډیر لرې دی، مونږ سره دی ملګری نه دی، نه زمونږه په پارتی کې داخل دی، لعین دا کار کړی دی، نو لعین خو حاضر دی ناست دی، نو ذلك سره چې معین نزدې ناست دی اشاره نه صحیح کیږي، لیکن مرتبه کې د صحبت نه د متکلم نه ډیر لرې دی، چې زمونږ په عقیده هم دی نه دی، عمل کې هم مونږه سره نه دی شریك، او په نورو معاملاتو کې هم مونږ سره نه دی شریك، ویل مونږ نه دی ډیر لرې دی، دلته کې هم بُعد رتبي نازل شو په بُعد مسافتي کې، نو ذلك سره ځکه مسندالیه ته اشاره وکړه د تحقیر لپاره، ځکه وائي تنزیلاً لبعده، ای اللعین عن ساحة عز الحضور والخطاب، ای عن ساحة الحضور والخطاب العزیز منزلة بعد المسافة، نو اضافت د عز الحضور والخطاب ته د قبیلې د اضافت د صفت نه دی موصوف ته، یعني د میدان د حضور او خطاب عزیز نه، ولفظ ذلك اوس د دې نه غرض د شارح دا دی چې وذلك معنی مجازي ذکر کوي، و ذلك معنی حقیقي موضوع له، خو دا ده چې دې سره اشاره کیږي محسوس مشاهد ته، نو دوه قیدونه راغلل، معنی موضوع له یې دا ده چې دې سره اشاره محسوس مشاهد ته کیږي، نو د محسوس قید سره غیر محسوس قید خارج شو چې معقولات دي، یعني ذلك سره اشاره معقولاتو ته نه کیږي او مشاهد سره خارج شو هغه محسوسات چې هغه مدرك بالبصر نه وي بلکه مدرك په غیر البصر سره وي، ځکه د مشاهد ادراك صرف بالبصر کیږي، خو اوس معنی مجازي یې شارح ذکر کوي چې ولفظ ذلك صالح دی، مجازاً الاشارة الی کل غائب نو هغه غائب اګر که محسوس وي، لیکن مشاهد خو نه وي کنه ځکه چې غائب شو نو مشاهد کله کیدای شي نو دغه اشاره غائب ته معنی مجازي شوه، اوس دا غائب عام دی عیناً دی، نو چې عین شو نو محسوس هم شو خو مشاهد نه شو ځکه غائب دی او کان معنیً وي، نو چې معنی شو نو مشاهد هم نه شو او محسوس هم نه شو، اوس د عیناً مثال داسې شو چې ته مخکې ووائي چې جاءني رجل، فقال ذلك الرجل کذا نو ذلك سره هغه رجل ته اشاره وشوه چې په جاءني رجل کې وو، نو غائب ته اشاره وشوه چې مخکې دی او دغه غائب عین دی معنی نه ده، او د معنیً مثال دا دی، لکه ته ووائي ضربني ضرب یو معنی ده، مخکې ذکر شوه فخافني ذلك الضرب دبدبه اوغورځوله، یره وغورځوله په ما باندې دې وهلو، ذلك کې هغه ضرب مذکور ته اشاره وشوه، او ضرب معنی ده، وکثیراً ما نو دا مخکې ګوره معنی مجازي د ذلك شوه خو مجاز قلیله دی، وکثیراً ما سره معنی مجازي بیانوي د لفظ د ذلك خو مجاز کثیره، ویل کثیراً ما یذکر المعنی الحاضر هغه وصف حاضره المتقدم بلفظ ذلك نو اوس ګوره معنی حاضره وي خو ویل متقدم نو غائب نه شو، نو دا معنی

چې مشاهد وي خو محسوس نه وي، نو دا مجاز کثیر دی، ځکه قران کې شته دی، اوس معنی حقیقي او مجازي کې مناسبت په کار دی، ځکه معنی حقیقي خو د ذلك دا ده چې دې سره اشاره کیږي محسوس مشاهد بعید ته، او دلته کې دا معنی حاضره شوه او متقدمه شوه، نو دا خو بعیده نه شوه کنه، قریب نه شوه، نو دی وائي مناسبت یې شته دی لان المعنی غیر مدرك بالحس فکانه بعید ځکه چې دا مخکې معنی شوه، نو معنی مدرك بالحس نه وي، نو چې کوم شی مدرك بالحسن نه وي نو ګویا چې هغه بعید شو، او التنبیه شارح ورسره لګوي ای تعریف المسند الیه بالاشارة للتنبیه قاعدي د عطف ته یې اشاره وکړه، چې او التنبیه عطف دی په تمیزه باندې یعني تمیزه باندې، نو هغې نه مخکې اما داسې چې دا مضاف الیه د تعقیب چې مشار الیه دی، دا به مقدم وي او مدخول د باء چې اوصاف دي دا به مؤخر وي، یو غرض دا شو، دویم غرض د شارح په دې ترجمه کې، په دې تفسیر کې یې رد وکړو په بعضو باندې، بعضو تفسیر دا کړی وو، چې دلته دا مضاف الیه د تعقیب دا به مؤخر وي، اوصاف به مقدم وي یعني مدخول د باء به مقدم وي، نو هغوی ترجمه دا کړی ده، چې د وروستو راتلو د مشار الیه د اوصافو نه، نو د هغوی په ترجمه باندې شبه راغله، چې یا هلکه بیا ایت کریمه، مثال مطابق د ممثل سره نه شو، ځکه اولئك علی هدی من ربهم کې مشار الیه متقین دی هغه خو د اوصافو نه وروستو نه دی ذکر، نو هغوی بیا جواب وکړو چې دلته کې مشار الیه په معنی د اسم اشاره سره دی، نو تقدیر دا شو چې په وخت د وروستو راتلو د اسم اشاره د اوصافو نه، نو اوس مثال مطابق شو د ممثل سره، او اولئك په مثال کې اسم اشاره دی، او دا د اوصافو نه وروستو دی، هغوی دا ترجمه وکړه، نو شارح په هغوی باندې رد وکړو چې نه تاسو خطاء شوي یئ، مضاف الیه د تعقیب مقدم دی او مدخول د باء چې اوصاف دي دا مؤخر دی، یقال سره شارح دلیل د رد وائي په هغوی باندې، او ځان له استشهاد پیش کوي چې د تعقیب په ماده باب کې دا قانون دی، چې مضاف الیه د هغې مقدم وي او مدخول د باء مؤخر وي ځکه چې تعقیب متعدي کیږي بالذات یو مفعول ته او بالواسطه متعدي کیږي دوو مفعولینو ته، په واسطه د باء سره دویم مفعول غواړي، نو چې دویم مفعول په واسطې د باء سره راغلی، نو هغه به مؤخر وي، او هغه مفعول اول به مقدم وي، او ستاسو دا ترجمه د قانون د تعقیب نه خلاف شوه، ویل یقال عقبه فلان وروستو کړی وو دې زید لره فلاني، نو دلته کې متعدي یو مفعول ته شو، دا هله اذا جاء علی عقبه کله چې راغلی دغه زید وروستو د فلانکي نه، نو مفعول معقب شو، ثم تعدیه بیا متعدي کیدل د دې

تعقيب بالباء الى المفعول الثاني كيږي، داسې چې وتقول عقبت بالشئ ما وروستو كړي وو زيد لره د شئ نه، نو دا معنى چې شى مقدم وو او زيد وروستو وو، اذا جعلت الشئ على عقبه اى زيد، نو كوره اوس مفعول اول مقدم شو او مفعول ثاني چې مدخول د باء دى، هغه مؤخر شو، نو دغسې دلته كې تعقيب مفعول اول ته مضاف شوى دى، چې مشار اليه دى او فاعل د تعقيب خو متكلم دى، او اوصاف مفعول ثاني دى، نو دا معنى چې دغه مشار اليه به مقدم وي او اوصاف به مؤخر وي، نو يورد شارح دوكړو چې زما دا ترجمه د قانون سره موافق ده او ستاسو دا ترجمه د قانون نه خلاف ده، دويمه وجه د رد داشوه چې ستاسو ترجمه كې مجاز راغلى چې مشار اليه تاسو په معنى د اسم اشاره سره واخيستلو، او زما په ترجمه كې تاويل او مجاز رانغلى، او تاويل بې د ضرورت نه خلاف الاصل دى، د عدم تاويل نه، نو زما دا اصل شو، نو ځكه پرې اوس رد صريحي كوي، چې وبهذا ظهر دى په دې تحقيق سابق سره ظاهر شو فساد ما قيل ان معناه اى معنى المتن عند جعل اسم الاشارة مشار اليه په معنى د اسم اشاره سره كړو بعقب اوصاف على انه دا جار مجرور دى، ظرف لغو دى متعلق بالتنبيه اى سره تعين د مرجع كوي چې انه كې ضمير مشار اليه ته راجع دى، اى للتنبيه على ان المشار اليه جدير بما اى بحكم يرد بعده تعين د مرجع كوي، اى بعد اسم الاشارة من اجلها، من اجلها ظرف لغو دى، متعلق دى، بجدير اى حقيق بذلك سره تفسير د غير مشهور په مشهور سره كوي، جدير دا معنى چې لائق دى په دې حكم سره، په دې ما سره لاجل الاوصاف التي تعين د مرجع يې وكړو ذكرت بعد المشار اليه چې هغه اوصاف خمسه دي، نحو الذين يؤمنون بالغيب نو كه څوك شبه وكړي چې الذين خو په اوصاف كې داخل نه دى، هغه مشار اليه دى، وصف خو يؤمنون بالغيب دى، نو داسې ويل په كار وو، نحو يؤمنون بالغيب ويقيمون الصلوة... الى قوله اولئك على هدى... الخ، ځكه الذين خو وصف كې داخل نه دى، نو تاسو وايئ چې دا الذين شارح ځكه معناد كړى دى، چې يؤمنون صله وو د الذين او اعاده د صلي بغير د موصول نه جائز نه ده نو د دې وجې نه يې الذين زيات كړى دى، ورنه الذين خو په صفاتو كې داخل نه دى، ځكه الذين خو متقين دى، اولئك على هدى..... هم المفلحون دا مثال مطابق د ممثل سره دى عقب المشار اليه وروستو ذكر كړى دى الله د مشار اليه نه، مشار اليه څوك دى؟ هو الذين يؤمنون، بيا دغه شبه راغله چې يا هلكه مشار اليه خو الذين قدري وو، يؤمنون خو اوصافو كې داخل وو، نو يؤمنون ذكر خو صحيح نه شو، نو ما تاسو ته خبره كړې ده، چې اعاده د موصول بغير د صلي نه مستكره وو، نو ځكه الذين يې په مشار اليه كې داخل كړو، يا دا جواب وكړئ چې وهو الذين يؤمنون دا يؤمنون چې يې په كې ذكر كړو، نو د مصداق په اعتبار سره، نو ځكه دا الذين يؤمنون او د متقين مصداق يو دى، باوصاف متعددة من الايمان بالغيب و اقامة الصلوة وغير ذلك نه انفاق او ايمان بالاخرة نه، ثم عرف المسند اليه بالاشارة تنبيهاً على ان المشار اليه احقاء بما، اى بحكم يرد بعد اولئك، ځكه چې اعاده د

اسم اشاره داسې ده، لکه اعاده د مشارالیه، هغه دا دی چې وهو کونهم علی الهدی عاجلاً په دنیا کې
اسم اشاره والفوز بالفلاح اجلاً په اخرت کې، د دې وجې نه دی من اجل اتصافهم بالاوصاف المذکورة
څکه اعاده د اسم اشاره داسې ده لکه اعاده د مشارالیه، او مشارالیه موصوف په اوصاف خمسه
سره وو، نو دغه حکم چې ورته ثابتیږي

وباللام شارح ورسره ولګول ای تعریف المسندالیه، دې کې یې اشاره وکړه قاعدې د عطف ته، چې دا
باللام قرابةً عطف دی په بالاشارة باندې او اصالةً عطف دی په بالاضمار باندې، للاشارة الی معهود
شارح ورسره لګوي چې الی حصةٍ، دې سره غرض د شارح دا دی چې دفع د اعتراض کوي، شبه چې یا
هلکه معهود په معنی د معلوم سره به وي، نو بیا خو مقابله وروستو الی معلوم ته شو او هلته کې
مقابله کې ته ذکر کوي چې او للاشارة الی نفس الحقیقة نو نفس حقیقت هم معلوم دی کنه، نو اوس سره
مقابله صحیح نه شوه، نو شارح جواب وکړو چې دلته کې معلوم په معنی د معهود سره نه دی، بلکه
معهود په معنی د ای الی حصةٍ سره دی، یعنې یو قدر اندازې د ټولګي ته اشاره شوی وي، او دغه
ټولګی چې یو دی، دوه دي، درې دي، څلور دي من الحقیقة، دا به د افرادو د حقیقت نه به وي،
معترض راغلی شبه یې وکړه، چې یا هلکه بیا فرق رانغلی د الف لام خارجي او د الف لام عهد ذهني،
څکه اشاره حصې ته یو قدر ته هغې کې هم ده او دي کې هم وشوه، نو فرق رانغلی، نو شارح راغلی
جواب یې وکړو چې داسې حصه معهودةٍ معهودةٍ صفت د حصة دی فافهم، چې معلومه وي معینه وي
بین المتکلم والمخاطب فرد منتشر به نه وي، او خلاف د الف لام عهدذهني کې هلته کې متکلم اشاره
فرد منتشر ته کړی وي لاعلی التعین، مخاطب ته د سره معلومه نه وي، او متکلم به هم فرد معین به
اراده کړې نه وي، فرد منتشر ته به کړی وي، **واحداً**: سره شارح دفع د اعتراض کوي چې یا هلکه تا
تفسیر کې الی حصةٍ وویل نو الی فردٍ دې ولې نه ویل؟ للاشارة الی معهود ای الی فردٍ داسې به دې
ویلی وی، نو شارح جواب وکړو چې واحداً کان او اثنین او جماعة، ویل یا هلکه که الی فردٍ، ما ویلی
وی، نو فرد مقابل د تثنیې او جمعې هم راځي، نو بیا چې کوم ځای کې معهود تثنیه او جمع وي، هغه
خارجیدل، نو ما حصه وویل، حصه عام دی یو ټولګي ته وائي، نو ټولګی یو ته هم شامل دی، دوو ته
هم شامل دی، او دریو ته هم شامل دی، نو ځکه ما حصةٍ وویل او الی فردٍ مې ونه ویل، اوس واحد ته
چې اشاره شوي وي، لکه ته ووائي چې جاءني رجل زه تا ته ووایم چې اکرم الرجل د دې سړي عزت
وکړه، یا تا ما ته وویل چې جاءني رجلان ما ورته وویل چې اکرم الرجلین د دې دواړو کسانو عزت
وکړه، تا ویل جاءني رجال ما ورته وویل چې اکرم الرجال دا رجال چې کوم تا ته راغلي دي درې دي یا
دریو نه بره دي، د دې عزت وکړه، یقال سره استشهاد پیش کوي، چې یا هلکه معهود چیرته په معنی
د حصې سره راغلی دی؟ ویل هو او یقال عهدت فلاناً، ما معلوم کړی وو فلانکي لره، دا هله وائي اذا

ادركته او لقيته چې کله تا لاندې کړو هغه لره يا ملاقات وکړو تا د هغه سره، او ملاقات يو حصې سره او يو فرد سره کيږي او ماهيت سره نه کيږي، او احاطه هم د افرادو کيږي احاطه د حقيقت نه شي کيداى، وذلك نه غرض د شارح تفسير کوي د الف لام عهدي خارجي په اعتبار د معهود سره اقسام ثلاثه ؤ ته چې الف لام عهد خارجي په اعتبار د معهود سره درې قسمه دي، ويل وذلك دغه عهد خارجي لتقدم ذكره اى المعهود صريحاً به ذكر وي، او كنايةً به ذكر وي، او دريم قسم وروستو را روان دى چې وقد يستغنى عن ذكره لتقدم علم المخاطب يعني يا علماً به مذكور وي، نو درې قسمه شو، د تصريحاً وكنايةً مثال ايت كريمه شو، نحو وليس الذكر كالانثى تفسير كوي اى ليس الذكر الذي طلبت امرأة عمران كالتي اى كالانثى التي وهبت تلك الانثى لها اى لامرأة عمران دا مثال مطابق د ممثل سره دى، ويل فالانثى اشارة الى ما اى معهود سبق ذكره صريحاً في قوله تعالى قالت رب اني وضعتها انثى سره دفع د اعتراض کوي چې يا هلكه زمونږه كلام په مسند اليه کې دى، او انثى دلته کې په ايت كريمه خو مسند اليه نه دى، هغه خو مسند دى كالانثى، ده جواب وکړو چې لكنه اى الانثى نو دا نظير شو او مثال نه شو والذكر اشارة الى ما اى معهود سبق ذكره كنايةً في قوله تعالى: رب اني نذرت لك ما في بطني محرراً د كلمې د ما نه معلوم شو في قوله تعالى ما في بطني نو معترض شبه وكړه چې ما خو د الفاظو د عموم نه دى، د دې اطلاق خو په ذكر او په انثى دواړو باندې كيږي، نو ما نه ذكر اخيستل خو صحيح نه شو، نو شارح جواب كوي فان لفظ ما وان كان يعم الذكور والاناث لكن محرراً قرينه ده، چې دلته کې مراد ذكور دي، لكن التحرير وهوان عتق الولد لخدمة بيت المقدس انما، ليكن تحرير انما كان للذكور دون الاناث او دا څنګه چې معهود په دې کې كنايةً ذكر دى، نو دا مسند اليه هم دى، اسم د ليس دى نو دا مثال شو نظير نه شو، اوس دريم قسم ذكر كوي وقد يستغنى عن ذكره ويل لكه كله بې پرواهي راوستى شي د ذكر د معهود نه لتقدم علم المخاطب به څكه چې مخاطب په هغه معهود باندې په قرائنو سره پرې عالم وي قال الشيخ ورته معلوم دى نو دا معهود علماً شو، د علم د مخاطب په اعتبار سره، نحو خرج الامير الامير کې الف عهد خارجي دى لكه ته ووائي خرج الامير نو امير د پاكستان يو دى، اذا لم يكن في البلد الا امير واحد نو مخاطب به خپله پوهيږي چې په بلد کې كلي کې يو امير دى، نو مراد هم دغه امير دى، او للاشارة، يا ايراد د مسند اليه كولى شي معرف باللام لپاره د اشاري كولو الى نفس الحقيقة شبه يا هلكه دلته کې د حقيقة نه مراد به مقابل د مجاز وي، چې په دې لام کې به اشاره شوي وي حقيقت ته، معني حقيقي ته، موضوع له ته، او معني مجازي ته به نه وي شوى، نو بيا خو رمي الاسد خارج شو، څكه الاسد کې الف لام عهد خارجي دى مراد د اسد نه رجل شجاع دى، نو ده جواب وکړو ومفهوم، چې يا هلكه دلته کې حقيقة نه مراد مفهوم دى، چې مفهوم ته اشاره شوي وي، حقيقت مقابل د مجاز دلته کې نه دى، مراد معترض راغلى شبه

يې وکړه چې يا هلکه مفهوم خو د فعل لپاره هم وي او د حرف لپاره هم وي او د اسم لپاره هم وي او لام خو په فعل او حرف باندې نه شي داخليداى، نو شارح اضافت د مفهوم وکړو المسمى ته، چې يا هلکه مفهوم المسمى باسم مراد دى، نو مفهوم د فعل او حرف خارج شو **من غير** دا تفسير کوي د نفس، ځکه نفس کې دا قانون دى چې نفس چا ته مضاف شي نو هغه فائده کوي تجريد د مضاف اليه د اغيارونه نو دلته کې نفس مضاف شو حقيقت او مفهوم ته، نو دا حقيقت او مفهوم به د څه نه مجرد وي، د هغې تعين شارح کوي ويل من غير اعتبار لها، اى لشئ صدقت، اى الحقيقة عليه اى على ما، او هغه څه دى **عن الافراد** دا من الافراد بيان د ما دى، يعنې اشاره نفس حقيقت او مفهوم ته شوى وي بغير د افرادو نه، مثال **كقولك الرجل خير من المرءة** اوس دلته الرجل کې الف لام کې اشاره نفس حقيقة ته ده او يو فرد معهود ته نده چې يو فرد معهود غوره دى د مرئي نه دا ځکه چې دا خلاف ده د مقصود د متکلم نه، ځکه مقصود د متکلم خيريت د ماهيت د رجل دى د مرئي نه، او دلته کې مقصود تول افراد هم نه دي، يو فرد هم نه دى، معين يا غير معين چې عهد خارجي يا عهد ذهني شي، تول افراد هم مقصود نه دي، ځکه چې معنى به دا شي چې هر فرد د افرادو د رجل نه غوره دى، د هر فرد د افرادو د مرئي نه، دا خو خطاء ده، ځکه ډير افراد او مرئي غوره وي د عام افرادو د رجال نه، نو بالضرور دلته کې خيريت ماهيت د رجل ته راغلى دى، يعنې ماهيت د رجل غوره دى د ماهيت د مرئي نه،

وقد ياتي شارح تعين د مرجع کوي، چې ضمير مطلق معرف باللام ته نه دى راجع بلکه ضمير راجع دى معرف بلام الحقيقة ته، ويل کله کله راځي دا معرف بلام الحقيقت لواحد، د يو لپاره چې دا يو من الافراد دى، چې کله کله دى معرف بلام الحقيقت کې به ته اشاره وکړي يو فرد ته د افرادو نه، يو فرد د منتشر ته، معترض شبه وکړه چې بيا نکره او په دي الف لام عهد ذهني کې فرق څه دى؟ دې کې خو فرق رانغلى، ځکه نکره هم د بعضو په مذهب باندې وضع شوې ده، د فرد د منتشر لپاره او معرف بلام الحقيقة کې هم اشاره وشوه فرد منتشر ته، نو دې جواب وکړو باعتبار عهديته په اعتبار د معلومية د دې واحد سره في الذهن چې يا هلکه دغه فرد منتشر به په ذهن د متکلم کې به معلوم وي، خو معلوم هم لاعلى التعين به وي، معين به نه وي خو لحاظ د تعين به په کې شوى وي، چې يو فرد خو يو فرد دى د جنس افرادو نه به وي، په خلاف د نکري نه، نکره کې هلته کې فرد معلوم په ذهن د متکلم به نه وي، اوس **لمطابقة ذلك الواحد الحقيقة** دې کې شارح مناسبت ته اشاره وکړه، چې ته د معرف بلام الحقيقة اطلاق چې کوي په يو واحد باندې د افرادو نه، نو دې کې مناسبت څه دى؟ نو شارح مناسبت ته اشاره وکړه، چې مناسبت دې کې د اشتمال دى، مطابقة په معنى د اشتمال سره کوي؛ يعنې د وجې د اشتمال نه په دغه واحد باندې د حقيقت، ځکه چې دغه فرد باندې حقيقت مشتمل دى، او دغه فرد مشتمل شو، نو مطابقة دلته کې په معنى د اشتمال سره شو، صدق په معنى سره نه

دی، او یا مطابقة په معنی د صدق سره وکړئ، نو هغه هم صحیح کیږي، ترجمه به دا شي، د وجې د صدق نه په دغه واحد باندې حقیقت، ځکه چې دا نفس په دي واحد باندې صادقیږي، یعنې سره شارح دفع د اعتراض کوي، چې یا هلکه یاتي د اتیان نه دی، اتیان خو راتلو ته وائي، او راتلل خو په ذوی العقول ذوی الروح کې کیږي، او معرف باللام خو د ذوی العقول او ذوی الروح نه ندی، نو د اتیان نسبت خو دیته صحیح نه شو، نو شارح یعنې سره جواب کوي چې دا یاتي په معنی د یطلق سره دی، او لواحدٍ کې دا لام په معنی د علی سره دی، نو هغې ته شارح اشاره وکړه، یعنې **یطلق المعرف بلام الحقیقة الذي**: هغه معرف بلام الحقیقة الذي صفت د لام الحقیقة دی فافهم چې وهو موضوع للحقیقة چې هغه وضع لپاره د حقیقت دی، داسې حقیقت **المتحدة في الذهن** چې هغه معین دی، او تعین یې شوی دی په ذهن کې، اطلاق یې کیږي **على فردٍ موجودٍ من الحقیقة** نو معترض شبه وکړه چې بیا الف لام عهد ذهني او نکره کې فرق رانغلی، ځکه چې الف لام عهد ذهني کې هم اشاره فرد منتشر ته شوه او نکره کې هم هغه ته اشاره ده، نو ده جواب وکړو چې **باعتبارکونه** په اعتبار د کیدو د دغه فرد سره معهود في الذهن ای في ذهن المتکلم، معلوم او معهود چې وي نو په طور د فرد منتشر سره، په طور د فرد شخصي سره به نه وي معلوم، او که شو نو بیا په الف لام عهد ذهني او خارجي کې فرق نه راځي وجزئیا من جزئیات تلك الحقیقة په حال کون د دغه فرد کې مطابقاً چې مطابق وي ایاها د دې حقیقت سره، داسې چې دا حقیقت پرې صادقیږي او دغه فرد ما صدق علیه وي، سائل سوال وکړو چې یا هلکه د دې نظیر چیرته شته دی؟ چې مطابقت په مناسباتو کې شمارل کیږي؟ ویل **هو کما یطلق الکلي الطبعي** چې انسان دی، علی جزئي من جزئیاته، خو صرف فرق دا دی چې هلته کې نسبت د صدق هغه مطابق ته دی چې هغه کلي طبعي دی، او ماصدق علیه مطابق دی چې هغه جزئي دی، او دلته کې نسبت مطابق ته شوی دی، چې دغه فرد به مطابق وي د ماهیت سره نو ماهیت مطابق شو، نو چې ماهیت مطابق شو نو نسبت د صدق مطابق ته شوی دی، او داعکس دی د هغې ځکه منطقیان نسبت د صدق مطابِق ته کوي، او اهل عربیه نسبت صدق مطابق ته کوي، معترض راغلی شبه یې وکړه، چې یا هلکه د دې حقیقت ټولو افرادو ته برابر وو، نو ته چې یو فرد اراده کوي او ټول افراد نه اراده کوي، نو دا خو ترجیح بلا مرجح شوه، او ترجیح بلا مرجح لایجوز دی، نو ده جواب وکړو چې تهیك ده، نسبت د دې حقیقت ټولو افرادو ته برابر وو، خو زه ټول افراد نه اراده کوم، بلکه یو فرد اراده کوم لاعلی التعین دا د قرینې د وجې نه، ویل وذلك دغه اطلاق د معرف بلام الحقیقة په یو فرد معین په ذهن کې عند قیام قرینة په وخت د وجود د قرینې کې به وي، خو دا قرینه به علی په دي باندې وي چې ان لیس القصد شان دا دی چې نشته دی قصد الی نفس الحقیقة من حیث هي، بل من حیث الوجود ویل دلته کې مقصد د متکلم د حیثیت د وجود د حقیقت نه دی، خو وجود د حقیقت کې په دوه قسمه دی: ۱ په ضمن د ټولو افرادو

کې یا په ضمن د بعضو لاعلی التعین کې ولا من حیث وجودها في ضمن جمیع الافراد بل في بعض
نو قرینه چې موجود شي په بعضیت باندې، نو دي کې څه ترجیح بلا مرجح نه لازمیږي، مثال دا
شو کقولك ادخل السوق داخل شه بازار ته، نو اوس دلته کې ته سوق نه ماهیت د بازار نه
اخیستی، ځکه ماهیت د بازار خو دا دی، عبارة دی د هغه بقعي مخصوصي نه چې مشتمله وي په
دوکانو نو مخصوصو باندې، ځکه هغې ته دخول نه شي کیدای، او دلته کې حقیقت په ضمن د ټولو
افرادو کې هم مراد نه دی، ځکه چې په انِ واحده کې ټولو افرادو د سوق ته دخول متصور نه دی، چې د
تمامي دنیا بازارونو ته دې داخل شي په انِ واحده کې، دا خو جائز نه ده، نو السوق نه مراد یو فرد د
سوق شو، یا هلکه فرد معین به وي؟ نو بیا چې کوم دی د الف عهد ذهني او عهد خارجي فرق
رانغلی، ده جواب وکړو حیث په هغه مکان کې لاعهد في الخارج چې نه وي معلوم او معهود په خارج
کې، شارح بل مثال ښائي د قران نه، مثله ویل مثل د دې قول مذکوره، قوله تعالی چې واخاف ان
یاکله الذئب نو مثل د قول مذکوره مشبه به شو او قول د الله تعالی مشبه شو اله د تشبیه په کې مثل
شو، وجه د شبهې په اراده کولو د واحد کې د افرادو نه، ځکه حضرت یعقوب علیه السلام هم د الذئب
نه یو فرد د افرادو د ذئب نه اراده کړی وو، د تمامي دنیا اذیاب یې مراد نه دي، ځکه چې د دنیا اذیاب
جمع کیدل او بیا خوړل د حضرت یوسف دا مستبعد اوغیر متصور دي، دارنګه د حضرت یعقوب
مقصود د ذئب نه نفس ماهیت هم ندی مراد ځکه هغه نفس ماهیت د ذئب قابل لپاره د اکل ندی خو
حیوان مفترس دی، هغه خو اکل نه شي کولی، نو بالضرور د الذئب نه یو فرد د ذئب مراد شو لاعلی
التعین، ماتن بله مسئله کوي چې وهذا دغه معرف بلام الحقیقة عهد ذهني دیته وویلی شو چې په
دې کې اشاره شوې وي یو فرد د حقیقت ته خو په اعتبار د معلومیت سره په ذهن د متکلم کې، او
مخاطب ته معلوم نه وي، دغه معرف بلام الحقیقة په دغه حیثیت سره في المعنی کالنکرة ګوره الف
لام عهدي ذهني مشابه شو، او نکره مشبه به شوه، اله د تشبیه کاف شو، وجه د شبهې، په اراده د فرد
کې د حقیقت نه، دواړو کې اراده د یو فرد لاعلی التعین شوي ده د مطلق حقیقت نه، وان کان سره
شارح د دې في المعنی قید فائده بیانوي، چې دا في المعنی قید یې ځکه ولګولو چې وان کان في
اللفظ یجري علیه احکام المعارف، لکه من وقوعه مبتداء وذا حال و وصفاً للمعرفة وموصوفا بها
ونحو ذلك چې دا خبر د ان په شان د اسم د کان دی، او معمول اول دی د ظن، دا مفعول اول د ظن لپاره
دی، نو دا مفعول اول د ظن اسم د کأنّ دی واقع کیږي، او د ظن مفعول اول معرفه وي نو اسم د کان
کانّ هم معرفه وي، نو اوس ګورئ په متن کې دوه د دعوې وي، یو دعوی سلبي، هغه دا وه چې په لفظ
کې دي کالنکرة نه دی، او دویمه دعوی ایجابي وه، چې په معنی کې دی، کالنکرة دی، نو دامخکې
شرح اثبات د دعوی سلبي وکړي چې په لفظ کې دی په شان د نکرې نه دی، هغه یې ثابته کړه، اوس

وانما قال كالنكرة سره هغه دعوى ايجابي ثابتوي، ويل بيا دعوى ايجابي كې دوه جزؤ نه وو، يو جزء دا چې دى په معنى كې كالنكرة هم دى، دويم جزء دا چې عين نكره نه دى، نو دعوى ثاني څان له متضمن وه دوو دعوو لپاره، اوس په دعوى ايجابي كې جزء ثاني ثابتوي، چې جزء سلبي وو، چې عين نكره نه دى، ويل وانما قال كالنكرة دئ په شان د نكرې دى په معنى كې او عين نكره نه دى لما بينهما من تفاوت ما څكه چې په دې معرف بلام الحقيقة او نكره كې تفاوت دى فرق شته دى، نو څكه دې عين نكره نه شو، وهو او هغه تفاوت د فرق دا دى چې ان النكرة معناه معنى وضعي د دې بعض غير معين من جملة الحقيقة نكره وضعه شوې ده فرد غير معين لپاره د جملې د حقيقت نه، وضع يې د دې لپاره شوې ده وهذا او دغه معرف بلام الحقيقة عهد ذهني معناه نفس الحقيقة وضع لپاره د فرد منتشر نه دى، ها وانما تستفاد البعضية او يو فرد من القرينة اوس ګوره نكره كې اراده كول د فرد غير منتشر وضعاً شو او په معرف بلام الحقيقة د الف لام عهد ذهني كې اراده كول د فرد منتشر په واسطې د قرينې سره شو، نو فرق راغلى، او قرينه به لكه كالدخول لكه دخول شو په مثال د متن كې والاكل او اكل شه په مثال د شارح كې چې ايت كريمه دى فيما مر نو دا يې پرې تفريع وكړه چې فالمجرد پس مجرد الف لام نه لكه سوق شو و ذو اللام لكه السوق شو سواء دا دواړه برابر دي په اراده كولو د فرد منتشر كې، په اراده كولو د بعضې غير معين كې، معترض راغلى شبه يې وكړه چې دواړه كوم څاى كې برابر شو، معرف بلام الحقيقة وضع شوى دى، د نفس حقيقت لپاره او نكره وضع شوې ده د فرد منتشر لپاره، نو سوق وضع شو د فرد منتشر لپاره او السوق وضع شوى دى لپاره د نفس حقيقت، د فرد منتشر لپاره خو نه دى وضع شوى، نو ده جواب وكړو بالنظر الى القرينة چې دا سواء چې دا دواړه دې نو په نظر سره قرينې ته، دا بالنظر الى القرينة ذو اللام سره ولګوئ، نو مجرد د لام نه چې سوق دى او ذو اللام خو په نظر سره قرينې ته چې واخلې نو سواء دى دواړو كې اراده د فرد منتشر ترينه كيږي، وبالنظر الى نفسها او په نظر سره نفس د ذات د دې دواړو ته مختلفان مختلف دي، داسې مختلف دي چې اراده د فرد منتشر د سوق نه وضعاً دى او اراده د فرد منتشر السوق نه په واسطې د قرينې سره دى چې دخول يا اكل دى، نو اوس كه څوك شبه وكړي چې دا فرق خو هله صحيح كيږي، نكره كې خلاف دى، چې څوك وائي چې نكره وضعه شوې ده د فرد منتشر لپاره، نو بيا ستا دا فرق صحيح شو، او څوك دا وائي چې نكره وضعه شوې ده د ماهيت كلي لپاره، نو بيا خو ستا دا فرق نه صحيح كيږي، څكه معرف بلام الحقيقة عهد ذهني هم وضع شوى دى د حقيقت كلي لپاره او نكره هم وضعه شوه د حقيقت كلي لپاره، نو بيا خو دا فرق نه صحيح كيږي، نو تاسو جواب وكړئ چې په هغه مذهب باندې څنګه نو بيا په دوى كې فرق په بلې طريقې سره دى، بله طريقه دا ده چې دا نفس حقيقت لپاره چې نكره وضعه شوې ده نو په اعتبار د عدم معلوميت سره، يعنې واضع متكلم مخاطب ته نه وې بنودلى چې

زه دا لفظ د دې حقیقت لپاره وضع کوم، او الف لام عهد ذهني کې واضع متکلم مخاطب ته بنودلی
وو، چې ته پوهه شه چې زه دا لفظ وضع کوم د ماهیت لپاره، نو فرق په کې راغلی، معترض شبه وکړه
چې دا خو فرق په اعتبار د واضع متکلم سره راغلی، نو مونږ وروستو، خلف، خلق به فرق څنګه کړو؟
جواب نو تاسو وایئ چې مونږه خبر یو نو په اعتبار د اجراء د احکامو سره، نو اوس ګوره چې مونږ
وکتل نو الرجعی او رُجعی کې سوق او السوق کې احکام مختلف مرتب کیږي، الرجعی باندې احکام
د معرفې مرتب دی او په رُجعی او سوق باندې احکام د نکرې پرې مرتب دی، نو د دې نه مونږ
معلومو چې متکلم په السوق والرجعی کې مخاطب ته بنودلی دی او په رجعی او سوق کې یې
مخاطب ته نه دی بنودلی دغه ماهیت کلي.

اوس ولکونه في المعنی کالنکرة، دا دعوی ثاني جزء اول ثابتوي چې هغه جزء ایجابي وو چې دی په
معنی کې کالنکره دی، ویل ځکه دی قد یعامل معاملة النکرة کله کله دې سره معامله کولی شي په
معاملې د نکرې، نو معنی کې کالنکره شو ویوصف دا بیان دی چې دې سره یعامل معاملة النکرة څنګه
کیږي، ویل **ویوصف بالجملة** نو دا واو په ویوصف کې په معنی د فاء سره کوئ، ویل موصوف کیږي دغه
معرف کیږي **بلام الحقیقة** په جملې سره او جمله صفت د نکرې واقع کیږي د معرفې نه شي واقع کیدای
نو پته ولګیده چې په دې معنی کې کالنکره دی، **کقوله** لکه دا قول د علي رضي الله عنه شو:

لقد امر علی اللئیم یسبني ویل یقیناً زه تیر شوی یم په یو بخیل سړي باندې داسې لئیم چې ما ته یې
بدې ردې ویلې، نو دا یسبني جمله صفت شو د اللئیم لپاره، او اللئیم خو معرفه دی، او جمله صفت د
معرفې نه شي واقع کیدای، نو مونږه وویل چې اللئیم کې الف لام عهد ذهني دی، دا په هغې کې
کالنکره شو، نکره موصوفه لپاره جملې صفت واقع کیدای شي فمضیت ثمه وقلت لا یعنیني پس زه د
دغه ځای نه تیر شوم او ما ویل ده نه دی قصد کړی ما لره. شبه: یا هلکه مخکې وائي چې ما ته یې
کنځل کول او وروستو نفي کوي چې زه یې نه یم قصد کړی په دې کنځلو سره دا یې بل چا ته کولې
تدافع راغله، نو تاسو وایئ چې د دې ترجمه دا ده چې زه تیر شوم او ده نه دی قصد کړی ما لره په واپس
کولو د جواب د دې کنځلو سره، یعنې د ده دا کنځلې او ردې بدې باعث نه شوې په ما باندې په
انتقامي کاروائي باندې، چې د دې جواب واپس وکړم، اوس که څوک شبه وکړي چې یا هلکه یسبني
دې حال شي کنه؟ هډو صفت دې نه وي، نو تاسو وایئ چې په حال کې جزالت د معنی نه شته، ځکه
چې حال شي نو حال خو قید دی د عامل د ذوالحال لپاره، او عامل د حال امر دی، نو معنی دا شوه
چې په حال کون د دې للئیم کې چې ما ته یې کنځلې کولې، یعنې په حالت د مرور کې ما د حلم او صبر
نه کار اخیستو او په حالت د عدم مرور کې بیا ما انتقام اخیستو، او دا خو څه صفت د مدحې نه دی،
صفت د مدحې دا دی چې سړي کې بردباري وي، همیشه د برداشت ماده وي، او په خلاف د صفت،

صفت قيد د موصوف وي د عامل د موصوف لپاره قيد نه وي، نو صفت صحيح دی، چې په حالت د مُرور کې هم ما صبر کولو او په حالت عدم مرور کې هم ما صبر کولو، او دغه شعر د حضرت علي صاحب دی په ديوان علي کې، نو اول شعر دا دی چې:

وذو الحال سفه يواجهني بجهل واكره ان اكون له مجيباً

ډير کرته يو بې وقوفه سړی ما ته مخامخ کيږي په ناپوهی خبرو سره، ما ته بدي ردي خبرې وائي، او زه دا بد ګڼم چې د ده لپاره جوابي کاروائي وکړم، يعني زه جوابي کاروائي نه کوم، ځان کوڼ کړم. بيا وائي:

يزيد سفاهةً وازيد حُلما كعود زاد في الاحراق طيباً

ويل چې ما ځان کوڼ کړو نو هغه خپل بې وقوف توب او جهل زياتوي، داسې چې دا ما نه يريږي، نو کنځلو کې ترقي وکړي، او زه زياتوم بردباري برداشت لره، زه وايم سپی دی غاپي دې څه، ويل د دې بردباری مثال داسې دی، چې په شان د هغه خوشبوينه لرګي دی چې هغه ته څومره په اُور کې سيزي نو خوشبو يې زياتيږي، د هغه لوګی خوشبويه وي، نو خپله بردباري بيانوي، کمال په دې کې دی چې مرور د عدم سره دواړه برابر دي.

وقد يفيد ماتن وويل شارح ورسره لګوي المعرف باللام دي کې يې اشاره وکړه تعين د مرجع ته دا يې ورسره ولګول **المشار بها الى الحقيقة** دې کې يې اشاره وکړه چې دغه الف لام استغراقي قسم دی د لام الحقيقة نه، او دا قسم د مطلق لام نه ندی. ترجمه يعني پيدا کوي شمول ټولو افرادو ته الاستغراق، نحو ان الانسان لفي خسر، **اشير**: نه غرض د شارح تطبيق المثال بالممثل کوي، ويل اُشير باللام ويل بلام الانسان الى الحقيقة نو متوهم توهم وکړو چې يا هلکه حقيقت من حيث هي ته وائي، او حقيقت من حيث هي د انسان خو قابل د خسران نه دی، خسران خو تاوان ته وائي نو حيوان ناطق کې څه تاوان دی، شارح جواب وکړو لکن لم يقصد بها ای الحقيقة الماهية من حيث هي هي دي سره اشاره فرق ته کوي د استغراقي د عهد ذهني نه ولا من حيث تحققها، ای الماهية في ضمن بعض الافراد، بل في ضمن الجميع ای جميع الافراد، بدليل سره دليل وائي دي دريو دعوو لپاره، دوه دعوئي سلبي شوي يو دعوی ايجابي شوه: ۱ لم يقصد. ۲ ولا من حيث تحققها في ضمن بعض الافراد. ۳ بل في ضمن الجميع دري شوي، د دې لپاره دليل دا دی چې بدليل صحة الاستثناء، چې الا الذين امنوا وعملوا الصالحات وتواصوا بالحق وتواصو بالصبر. الذي هغه استثناء الذي صفت د الاستثناء دی **شرطه**: شرط د دې استثناء متصل دا دی چې، دخول المستثنى في المستثنى منه لو سكت عن ذكره نو اوس که مونږه نفس ماهيت اراده کړو نو يو خو حکم په لفي خسر سره نه صحيح کيږي، دويم استثناء متصل نه جوړيږي بيا منقطع جوړيږي، دارنګې که مونږه يې په ضمن د بعضې افرادو کې واخلو، نو بيا مستثنى نه صحيح کيږي، ځکه جائز ده چې دغه مستثنى منه نه دي غير وي، نو بيا

مستثنى منقطع شوه متصل نه شوه، نو بالضرور استغراق پاتې شو، فاللام سره غرض د شارح يو تفريع ده په دې مذکور ارجاع د ضمير باندې، چې ما د يفيد او ښکته د قد ياتي ضمير معرف بلام الحقيقة ته راجع کړو، نو د دې نه معلومه شوه چې لام عهد ذهني او استغراق دا دواړه قسمين د لام الحقيقة دي، نو دا يو تفريع شوه په ارجاع د ضميرينو باندې، د وياتي ضمير او د يفيد ضمير باندې دويم غرض د شارح رد کوي په نحاتو باندې، چې نحويانو عهد ذهني او استغراقي قسمين د مطلق لام ګرځولی وو، خو دعلماءُ دعلم المعاني په نږدې باندې دا قسمين د لام الحقيقة دي، دريم غرض د شارح د فاللام نه تمهيد ږدي دې راتلونکي اعتراض ته او جواب ته، اعتراض خارج نه دی او جواب ولا بد في لام الحقيقة سره کوي، يعني تمهيد ږدي دفع د اعتراض ته، نو وائي **فاللام التي لتعريف العهد الذهني او الاستغراق هي لام الحقيقة** يعني قسمين د لام الحقيقة دی حملت على ما ذكرنا بحسب المقام والقرينة ما ذکرناه باندې حمل کړی شو، ويل چې هغه کل افراد يا بعض فراد اراده کول په اعتبار د مقام او د قرينې سره، هغه په الف لام عهد ذهني کې اَدْخِل دی چې ادخل السوق، او په استغراقي کې استثناء ده، ولهذا د دې وجې نه چې عهد ذهني او استغراقي لام الحقيقة دی قلنا ان الضمير في قوله وقد ياتي ای وفي قوله وقد يفيد عائد الى المعرف باللام المشار بها الى الحقيقة اوس ولابد سره هغه اعتراض دفعه کوي چې اعتراض دا وارد شو چې يا هلکه زه تا نه تپوس کوم چې په دې لام عهد ذهني کې به اعتبار د حضور به يا وائي يا به اعتبار د حضور نه وائي؟ که اعتبار د حضور په کې وائي نو بيا د لام حقيقي او لام عهد خارجي کې تميز او فرق رانغلو، ځکه چې اعتبار د حضور او معلوميت په هغې کې هم شو او په دې کې هم شو، او که ته په لام الحقيقة کې اعتبار د حضور او د تعين نه وائي، نو بيا معرف بلام الحقيقة او اسماء اجناس او نکراتو کې فرق رانغلی، خو د هغه چا په مذهب باندې چې هغوی وائي چې اسماء نکرات هم وضع شوي دي د ماهيت من حيث هي لپاره، نو د هغه چا په مذهب باندې فرق نه راځي، نو شارح جواب وکړو په اختيار د شق اول سره نو وئې ويل چې ولابد في لام الحقيقة دې کې يې تعين د شق ته اشاره وکړه من ان يقصد بها الاشارة الى الماهية ای ماهية المدخول، خو باعتبار حضورها ای الماهية في الذهن چې دا ماهيت په ذهن د متکلم کې معلوم دی، نو دا اختيار د شق اول شو، او دا اعتبار د حضور ځکه ضروري شو، اوس ليتميز سره دا دليل وائي ويل ليتميز عن اسماء الاجناس النكرات مثل الرُجعى و رُجعى، او الرجعى ته تاسو معرفه وايئ او رجعى ته نکره وايئ، او حالانکه دواړه وضع شوي دي لپاره د ماهيت د رجوع من حيث هي لپاره، نو بيا دې يو ته معرفه او بل ته نکره ويل د څه وجې نه دی؟ نو تاسو وايئ چې الرُجعى ماهيت کې لحاظ د حضور ذهني او علمي شوی دی، او په رُجعى کې نه دی شوی، فرق دا شو اوس هغه استحالي نه شارح جواب کوي، استحاله دا ده چې لام الحقيقة کې حضور ذهني شرط شو نو بيا د لام الحقيقة امتياز

راغلی د لام عهد خارجي نه، نو هغې نه اوس جواب کوي چې واذا اعتبر الحضور في الذهن فوجه امتيازه ای تعريف لام الحقيقة عن تعريف العهد دا دی چې ان لام العهد اشارة الی حصة معينة يعني يو معيني معنی ته اشاره د من حقيقة بيا دغه معين واحداً کان، لکه زه تا ته ووايم چې جاءني رجل، اکرم الرجل او اثنين، لکه زه ووايم چې جاءني رجلان ته ووائي اکرم الرجلين او جماعةً وي، لکه زه ووايم جاءني رجال ته وائي اکرم الرجال، ولام الحقيقة اشارة الی نفس الحقيقة د نفس الحقيقة دا معنی چې من غير نظر الی الافراد، فليتامل کې اشاره ده بل اعتراض او جواب ته، اعتراض دا وارد شو چې يا هلکه دا فرق مذکور هله صحيح کيږي، چې ستا مقصود امتياز د لام تعريف الحقيقة د تعريف د عهد خارجي نه، نو تهيك دغه امتياز راغلی، او که ستا مقصود امتياز د معرف بلام الحقيقة وو د دريو واړو نه، د عهد خارجي نه، عهد ذهني او استغراقي نه، نو بيا دا فرق مذکور نه صحيح کيږي، ځکه استغراقي کې خو هلته اشاره حصه معينه ته نه ده، عهد ذهني کې اشاره حصه معينه ته نه ده غير معين ته ده، نو شارح وويل **فليتامل** فکر وکړه، زما مقصود اختيار د شق اول زه کوم، مقصود امتياز د معرف بلام الحقيقة دی، د معرف بلام العهد الخارجي نه، نو دغه فرق مذکور صحيح شو، اوس که ته وائي چې بيا امتياز د معرف بلام الحقيقة د معرف بلام العهد الذهني او معرف بلام الاستغراقي نه څه شی شو؟ نو جواب دا دی چې د هغې امتياز ښکاره وو، ځکه چې معرف بلام الحقيقة کې مقصود نفس حقيقت دی او معرف بلام الاستغراق کې وجود د حقيقت دی په ټولو افرادو کې به وي، او په معرف بلام العهد الذهني کې وجود د حقيقت په فرد منتشر کې به وي، دويم غرض په **فليتامل** کې يا اشاره ده بل اعتراض او جواب ته، اعتراض دا وارد شو چې ته وائي چې اسماء اجناس او نکراتو کې حضور ذهني شرط ندي نو چې نشو نو بيا خطاب د هغوی سره خطاب **بما لا يفهم** سره شو، وضع د مجهول لپاره راغله، او خطاب بما لا يفهم او وضع د مجهول لپاره خو جائز نه ده، نو تاسو جواب وکړئ چې مطول کې مو کړی وو، چې اعتبار د عدم د شئ مستلزم عدم لره په نفس الامر کې نه دی، مونږ د حضور ذهني لحاظ نه دی کړی او په نفس الامر کې دې ځان له وي، دارنګې فليتامل کې بل اعتراض ته اشاره وشوه، چې يا هلکه ته وائي چې اسماء اجناس او نکراتو کې د حضور ذهني لحاظ نشته دی، نو بيا په هغې باندې ته الف لام ځنګه داخلوي؟ چې الف لام دې داخل کړی، نو هغه خو حضور ذهني غواړي، او نکراتو کې حضور ذهني نشته، نو اجتماع د نقيضينو راغله، نو شارح وويل فليتامل فکر وکړه، اعتبار د عدم د شئ چې حضور ذهني دی دا مستلزم عدم في الواقع لره نه دی، د حضور ذهني ما اعتبار نه دی کړی، واقع کې به وي، نو دخول د الف لام پرې صحيح شو.

التنبيه دا سبق مذکوره وقد يفيد نه مختصر المعاني صـ۸۱ مونږه په دويم کال بيا په شيخ باندې خطاء او سهواً وويل، نو د شيخ دا چونکه ابتدائي سبق وو لږ بسه تفصيلي يې وويل ما هلته په اول سر د دې

سبق کې کوشش کولو چې په حواشيو يې جمعه کړم، ليکن ځای کم وو لهذا دا دوباره مستقلاً ليکم للافادة، والله ولي التوفيق

ماتن وويل وقد يفيد شارح ورسره لګوي، المعرف باللام المشار بها الى الحقيقة د دې نه غرض د شارح يو ابراز د مرجع کوي چې يفيد کې ضمير معرف باللام المشار بها الى الحقيقة ته راجع دی، دويم غرض د شارح اشاره کوي چې دا لام استغراقي قسم د مطلق لام نه ندی، لکه ښکته نحوه کې مونږ او تاسو يادوو، بلکه دا لام استغراقي دا قسم دی د لام الحقيقة نه دی، او دا قسم د مطلق لام نه دی، نو دغه معرف باللام چې په دي سره اشاره شوي ده، لام الحقيقة ته، کله کله فائده کوي الاستغراق شمول ټولو افرادو د ماهيت ته، مثال داسې شو، نحو ان الانسان لفي خسر شو، اشير باللام سره دا شارح دليل وائي لپاره د تطبيق د مثال د ممثل سره، چې الانسان کې دا الف لام استغراقي دی، ويل اشاره شوي ده په لام د الانسان سره الې الحقيقة، نو دوه شبهې راغلې چې يا هلکه حقيقت ته اشاره اوشي نو بيا لفي خسر سره حکم نه صحيح کيږي، ځکه حقيقت د انسان خو حيوان ناطق دی، او حيوان ناطق خو لفي خسر نه شي کيدای، دويمه شبه دا راغله چې اشاره په دې الف لام د الانسان سره حقيقت ته شوه، نو بيا لام استغراقي او لام الحقيقة کې فرق رانغلی؟ قسم بيا عين مقسم شو، او قسم چيرته عين مقسم نه شي کيدای، نو شارح دا دوه شبهې او تهمتونه رفع کړل، چې لکن لم يقصد بها الماهية من حيث هي هي ويل نه دی قصد کړی شوی په دې لام سره ماهيت من حيث هي هي چې حيوان ناطق دی، دا نه دی قصد شوی، چې قصد نه شو نو لفي خسر سره هم حکم صحيح شو او فرق د لام الحقيقة نه هم راغلی، ځکه هلته کې ماهيت من حيث هي هي قصد کيږي، او دلته کې لم يقصد شو، نو فرق هم راغلی ولامن حيث تحققها في ضمن بعض الافراد، دې کې فرق ته اشاره کوي د استغراقي ذهني نه، چې يا هلکه عدم قصد د ماهيت من حيث هي هي خو په عهد ذهني کې هم شوی دی، نو بيا د الف لام عهد ذهني او استغراقي فرق خو رانغلی، ځکه چې عدم قصد د ماهيت په دواړو کې شته دی، استغراقي کې هم لم يقصد الماهيت من حيث هي هي دی، او په عهد ذهني کې چې مخکې تير شوی دی، هغې کې هم لم يقصد بها الماهيت من حيث هي هي دی، نو بيا خو لام عهد ذهني او استغراقي کې هم فرق رانغلی؟ نو شارح جواب وکړو چې ولامن حيث تحققها في ضمن بعض الافراد ويل نه د حيثيت د تحقق د دې ماهيت په ضمن د بعضې افرادو کې على التعين، دا هم نشته نو چې نه شو نو استغراقي جدا شو د لام عهد ذهني نه، شبه يا هلکه اشاره من حيث هي هي ته هم قصد ونه شو، او ماهيت په ضمن د بعضې افرادو کې هم قصد اونشه؟ نو څه به قصد کيږي؟ فاي شئ يقصد؟ نو جواب وکړو شارح چې بل في ضمن الجميع بلکه په ضمن د تحقق د دې ماهيت په ټولو افرادو کې يعنې ټول افراد به اراده کوي، **بدليل**: سره شارح دليل وائي چې قرينه څه ده چې الانسان کې

مراد هر فرد د افرادو د انسان دی، ماهیت د انسان نه دی بعضې افراد معین یاغیر معین نه دی، دلیل پرې څه دی؟ نو شارح جواب کوي چې **بدليل صحة الاستثناء الذي** هغه استثناء شرطه چې شرط د دې استثناء. **دخول المستثنى في المستثنى منه** خو کله؟ نو سُكتَ عن ذكر، که سکوت وکړی شي د ذکر د مستثنی نه، نو دغه مستثنی په مستثنی منه کې داخله وي، نو اوس ګوره الاالذين امنوا وعملوا الصالحات که په دې باندې تا تلفظ نه ووکړی نو دا په الانسان کې داخل وو، تلفظ نه وروستو دا د هغې نه خارج شو، چې هغه د خسارې نه خارج دی، نو اوس که بعضې افراد مراد شي معین لکه په عهدي خارجي کې یا غیر معین لکه په عهد ذهني کې نو دا خو بیا استثناء نه صحیح کیږي، استثناء متصل نه صحیح کیږي، بیا منفصل او منقطع خو صحیح کیږي خو اصل په استثناء کې استثناء متصل دی، ځکه هغه یعني د دغه الذين امنوا وعملوا الصالحات نه نور دي وي چې استثناء منقطع شي ځکه خساره کې نور هم دي، نو چې نه شو نو مستثنی په مستثنی منه کې داخل نه شو، نو فاللام سره دا شارح تفریع وکړه، په دې مخکې ارجاع د ضمیر باندې د دې متفرع علیه دا مخکې ارجاع د ضمیر دی، شارح یفید کې ضمیر معرف بلام الحقیقة ته راجع کړی دی، مطلق لام ته یې نه دی کړی، نو په دې باندې شارح تفریح وکړه چې فاللام التي لتعريف العهد الذهني، چې پس لام هغه چې هغه راځي لپاره د تعین د عهد ذهني لپاره او الاستغراق یا استغراق لپاره هي لام الحقيقة هغه عین لام د حقیقت دی. شبه نو دا حمل نه صحیح کیږي، چې لام د تعریف د عهد ذهني او یا د استغراق هغه عین لام د حقیقت خو نه دی؟ ولې که عین نه شي نو بیا خو د قسم نه عین مقسم به جوړ شي، حمل نه صحیح کیږي، نو تاسو جواب وکړئ چې دلته کې عبارة کې حذف دی چې هي من اقسام لام الحقيقة، ویل دغه لام د تعریف عهد ذهني یا دا د استغراق لپاره دا د اقسامو د لام الحقيقة نه دی، **حملت**: حمل کړی شوی دی دا لام الحقيقة على ما ذكرناه باندې، ما ذکرنا چې بعضې افراد غیر معین یا ټول افراد، ما ذکرنا دغه وو، خو بحسب المقام په باعتبار مقام سره په عهد ذهني کې وو، والقرينة او په اعتبار د قرینې سره په استغراق کې، بحسب المقام په عهد ذهني کې لکه اُدخُل السوق د تمامي دنیا بازارونو نه سړی په یو ان کې نه شي داخلیدای، نو ادخل السوق دا مقام دلالت کوي چې یو فرد لاعلى التعين د بازار مراد دی، او قرینه په استغراقي کې هغه قرینه استثناء ده چې تاسو ته ذکر شوه، نو هغه استثناء قرینه شوه چې په الانسان کې الف لام استغراقي دي، نو نشر مرتب سره بحسب المقام والقرينة ولګیدل، اوس ناقد لیکي بين السطور لیکلی دی عطف تفسیر دا والقرينة وائي عطف تفسیر دی والمقام لپاره، نو ده هسې جنجال جوړ کړی دی، د عطف تفسیر لپاره نو څه نقطه وي نو دلته یې ولې عطف تفسیر وکړو، نو ما تاسو ته خبره خلاصه کړه، چې المقام لرې د عهد ذهني سره او قرینه لګي استغراق سره، ولهذا سره یو غرض د شارح دا دی دلیل اني وائي په دې خبره باندې چې دغه لام عهد

ذهني او لام استغراقي دواړه قسمين د لام الحقيقة دي، دويم غرض د شارح دفع د اعتراض کوي چې يا هلکه ته خو توجيه د قول د ماتن کوي جائز دی چې ماتن دي په دي باندې راضي نه وي؟ ماتن په نزدې باندې لام عهد ذهني او استغراقي قسمين د مطلق لام دي، او د لام الحقيقة قسمين دي نه وي، نو چې ماتن پرې راضي نه وي، نو دا توجيه د قول د غيرما لايرضى به قائله شوه، نو شارح جواب کوي چې ماتن پرې راضي دی ځکه چې په ايضاح کې ماتن دا دواړه قسمين د لام الحقيقة ګرځولی دی، نو ماتن پرې راضي شو غير راضي نه شو، ځکه ماتن په قد يفيد او په قد ياتي کې دا ضمير دواړو لام الحقيقة ته راجع کړی، مطلق لام ته يې نه دی راجع کړی په ايضاح کې چې هغه کالشرح دی د دې تلخيص لپاره، ترجمه **ولهذا**: د دې وجې نه چې عهد ذهني او استغراقي قسمين د لام الحقيقة دي، **قلنا** مونږه وويل نو موافق د ماتن سره، **لما قال المصنف في الايضاح** چې ان الضمير في قوله وقد ياتي، لکه مخکې الف لام عهد خاري کې وقد يفيد کله په استغراقي کې دغه ضمير عائد الى المعرف باللام المشاربها الى الحقيقة، نو دا عبارة د ولهذا نه... الخ دليل اني هم شو او دفع د اعتراض هم شوه، وروستو په دې کې مختصر کې ص۸۲ باندې **فليتامل** راځي، نو شبه راغله چې يا هلکه مقسم هم لام الحقيقة شو او يو قسم لام الحقيقة شو او بل عهد ذهني شو او بل استغراقي شو، نو بيا تقسيم د لام الحقيقة لام الحقيقة ته الى نفسه شو او عهد ذهني او استغراقي ته الى غيره شو، هر مقسم چې شان يې درانګه وي نو هغه باطل وي نو دا مقسم بيا باطل شو، ځکه قسم عين مقسم شو، او په دغې خاى کې تقسيم الى نفسه الى غيره ته راځي، نو دا تقسيم بيا صحيح نه شو، نو شارح وروستو ويلې دي **فليتامل**، فکر وکړه، قسم او مقسم کې فرق دی، مقسم هغه لام دی چې هغې کې اشاره شوي وه نفس حقيقت ته، بس دا مقسم شو، کوم الف لام چې هغې سره اشاره وشي نفس حقيقت ته، يعني مطلق شی شو، نو دغه به خالي نه وي، د دې لپاره درې اقسام دي، نو اوس دا نفس حقيقت به خالي نه وي، يا به دا نفس حقيقت من حيث هي وي، نو ديته لام الحقيقة وائي يا دا نفس حقيقة به په ضمن د بعضې افرادو کې وی نو ديته لام عهد ذهني وائي يا دا نفس حقيقت په ضمن د کل افرادو کې به وي، ديته الف لام استغراقي وائي، نومقسم په مرتبه دشئ مطلق کې شو، او قسم په مرتبه د مطلق شئ کې شو، نو تقسيم د شئ الى نفسه او الى غيره ته رانغلی، نو هغه الف لام چې هغې سره اشاره شوي وي حقيقة ته هغه مقسم شو چې هغه موضوع د قضيه طبيعيه دی، نو دا به خالي نه وي يا به دا من حيث هي وي نو دا مطلق شئ اويو قسم شو، يا به دانفس حقيقت په ضمن د بعضې افرادو کې به وي يا به دا نفس حقيقت په ضمن د کل افرادو کې به وي، نو تقسيم د شئ الى نفسه او الى غيره ته رانغلی، نو يو فائده د فليتامل ما تاسو ته وويله

او ولابد في لام الحقيقة د دې نه غرض د شارح جواب کوي، اعتراض د سکاکي نه، سکاکي دلته

اعتراض کړی دی، دی د هغې نه جواب کوي، سکاکي اعتراض داسې کړی دی، چې په دې لام الحقيقة کې تا نه تپوس کوم یا به ته په دې سره اشاره کوي ماهيت من حيث هي ته قطع نظر د تعين او معلوميت نه او یا به ته په دې سره اشاره کوي ماهيت ته سره د لحاظ د تعين نه او سره د لحاظ د معهوديت نه، او بل شق خو نشته، که ته لام کې اشاره حقيقة ته کوي من حيث هي هي بې د لحاظ د تعين نه، نو بيا د معرف بلام الحقيقة او نکري ترمينځه فرق رانغلی، ځکه نکره کې هم اشاره ده نفس ماهيت من حيث هي ته د دې لپاره وضع شوی دی، او لام الحقيقة هم وضع شو د نفس ماهيت من حيث هي لپاره، نو د معرف بلام الحقيقة او نکري فرق رانغلی، او که ته په دغه لام الحقيقة سره اشاره کوي هغه نفس ماهيت ته خو من حيث التعين والمعلومية او من حيث المعهودية نو بيا د لام الحقيقة فرق رانغلی د لام د عهد خارجي نه، ځکه هغې کې هم اشاره ده هغه ماهيت د مدخول ته من حيث التعين او من حيث المعلومية او معهودية سره، دا سکاکي اعتراض وکړو، نو اوس شارح د هغه د دغه اعتراض نه جواب کوي په اختيار د شق ثاني سره چې زه په لام الحقيقة کې اشاره نفس ماهيت ته کوم خو په اعتبار د حضور ذهني سره، په اعتبار د معلوميت معهوديت سره، حضور ذهني او معلوميت او معهوديت يو شی دی، نو دا شق ثاني وو، نو اختيار د شق ته شارح اشاره وکړه ګوره ولابد في لام الحقيقة من ان يقصد بها الاشارة الى الماهية باعتبار حضورها او وباعتبار تعينها وباعتبار معلوميتها في الذهن چې دغه ماهيت به په اعتبار د حضور او تعين سره په ذهن کې واخلي، نو دا شق اول وو، نو اختيار د شق ثاني يې وکړه، ليتميز دا فائده بيانوي د اختيار د دې شق لپاره، ويل دا ولې په اعتبار د حضور في الذهن کې، دا شرط شو دې ليتميز ويل د دې لپاره چې جدا شي دا لام الحقيقة عن اسماء الاجناس النكرات مثل الرجعى نو الرجعى ته مونږه او تاسو معرفه وايو، ځکه چې په دې کې اشاره وشوه هغه ماهيت د رجوع ته، خو هغه ماهيت د رجوع چې هغه تا ته معلوم وي، چې رجوع د مينګورې نه يا د پيښور نه يا د راولپنډۍ نه يا د لاهور نه يا د کراچۍ نه، نو اشاره يو رجوع معهود ته وشوه، **ورجعى** او رجعى نکره ده اسم جنس دی، مطلق رجوع ته وائي لاعلى التعيين، يعني ماهيت د رجوع لا على التعيين، دغسې لکه اوس مثلاً اسد ته مونږ او تاسو اسم جنس نکره وايو، اُسامه ته علم جنس معرفه ورته وايو، وجه په دې کې دا ده چې اسد په کوم وخت کې واضع چې وضع کولو نو واضع او متکلم مخاطب ته نه وو ښودلی چې زه اسد د حيوان مفترس لپاره وضع کوم، واضع متکلم ته خو معلوم وو ځکه وضع د مجهول لپاره جائز نه ده، خو مخاطب ته يې نه وو ښودلی، او اسامه کله چې واضع متکلم وضع کولو نو مخاطب ته يې ښودلی وو چې زه اسامه حيوان مفترس لپاره وضع کوم، د دې وجې نه اسد اسم جنس نکره شو او اسامه علم جنس معرفه شو، **واذا اعتبر الحضور في الذهن** اوس داجواب کوي د هغه اشکال د سکاکي نه، په دې دويم شق باندې چې سکاکي اعتراض کړی د هغې نه

جواب کوي، نو اعتراض د سکاکي دا وو چې يا هلکه بيا خو فرق رانغلی د لام الحقيقة د لام د عهدي خارجي نه، ځکه تعين په دواړو کې راغلی، نو اوس د هغه د دغه اشکال، استحالي نه جواب کوي، ويل **واذا اعتبر الحضور في الذهن** په لام الحقيقة کې نو **فوجه امتيازه** نو بس وجه د سبب د امتياز د دې لام **الحقيقة عن تعريف العهد** د تعريف د عهد خارجي نه دا دی چې **ان لام العهد** لام د عهد خارجي **اشاره الى حصة معينة** يعني يا يو ته، يا دوو ته يا دريو جمع ته، حصه ديته وائي، نو **من حقيقة** اخوا بيا واحداً وي، لکه ته ووائي چې **جاءني رجل** زه تا ته ووايم چې اکرَم الرجل، نو الرجل کې اشاره هغه مخکې رجل ته شوه، او اثنين چې دوه وي کله ته ووائي چې جاءني رجلان نو زه تا ته ووايم چې اکرم الرجلين نو اشاره اثنين ته شوه، او جماعة لکه ته ووائي چې جاءني رجال زه درته ووايم چې يا هلکه اکرم الرجال نو هغه حصې ته اشاره وشوه، حقيقت ته نه ده شوي، ولام الحقيقة اشارة الى نفس الحقيقة د نفس حقيقت ترجمه کوي، ويل من غير نظر الى الافراد، بلکه نفس حقيقت کې لحاظ د تعين د معلوميت شوی دی، **فليتامل** نو د يو فرد لحاظ شوی نه د دوو نه د دريو، نو لام الحقيقة د لام عهد خارجي نه جدا شو، **فليتامل** په فليتامل کې يو فائده ما تاسو ته ويلې ده چې په دې کې اشاره اعتراض ته شوه او جواب ته شوه، دويم فليتامل کې يو فائده ما تاسو ته ويلې ده چې په دې کې اشاره اعتراض ته شوه او جواب ته شوه، دويم په فليتامل کې بل اعتراض او جواب ته اشاره ده هغه دا ده چې ته به خالي نه وائي يا به ته فرق کوي د لام عهد خارجي او د نورو دې دريو واړو يعني د لام الحقيقة، لام عهد ذهني او د لام استغراقي، او يا به ته فرق بيانوي د لام عهد خارجي او د لام الحقيقة په مينځ کې فقط، دوه شقه شو، که ستا مقصود د لام عهد خارجي او د لام الحقيقة په مينځ کې فقط، دوه شقه شو، که ستا مقصود د فرق بيانول وو د لام عهد خارجي او د نورو دې دريو واړو په مينځ کې نو بيا داعبارت ستا صحيح نه شو په من غير نظر الى الافراد بيا خو دا قيد لګول په کې صحيح نه وو، ځکه دي سره تا الف لام عهد ذهني او استغراقي خارج کړی، نو معنی سره خو بيا فرق رانغلی، نو دا عبارت بيا نه صحيح کيږي، ځکه ستا مقصود خو فرق وو د لام عهد خارجي، او د نورو دي دريو واړو، او که ستا مقصود فرق وي ځکه ستا مقصود خو فرق وو د لام عهد خارجي، او د نورو دي دريو واړو، او که ستا مقصود فرق وي د لام عهد ذهني او د لام الحقيقة تر مينځه فقط نو بيا دا فرق قاصر شو کامل نه شو، بيا خو من غير نظر الى الافراد خو صحيح دی، ليکن دا فرق بيا قاصر شو کامل نه شو، ځکه چې د لام الحقيقة او عهد خارجي فرق راغلی، او د لام استغراقي او د عهد خارجي فرق رانغلی، د لام ذهني او خارجي فرق رانغلی، نو شارح وويل فليتامل تاسو به جواب وکړئ، جواب يا هلکه زما مقصود فرق دی د لام عهد خارجي د لام الحقيقة، تر مينځه، او که ته وائي بيا فرق قاصر شو، کامل نه شو، نو يا هلکه د عهد خارجي د هغه نورو دوو نه ظاهر وو، نو هغې ته شارح تعرض نه دی کړی، ځکه عهد خارجي کې اشاره حصې معينې ته شوی دی او په عهد ذهني کې يو فرد غير معين ته شوی دی، او په استغراقي کې ټول افرادو ته شوی دی، نو د هغې دواړو نه فرق د عهد خارجي ظاهر وو، نو هغې ته ما ځکه تعرض نه دی کړی، نو فرق قاصر نه شو بلکه کامل شو، او يا په فليتامل کې د جواب طريقه داسې

کوئ، دا ورته ووائي چې شارح وائي چې زما مقصد فرق دی د دریو واړو سره، خو دا من غیر نظر الی الافراد دا قید دی صرف د لام حقیقة لپاره، او د لام استغراقي او د عهد ذهني لپاره دا قید نه دی، نو دا قید د من غیر نظر الی الافراد چې لږی نو صرف د لام الحقیقة سره لګي، او عهد ذهني او استغراقي سره دا قید نشته، نو د دریو واړو نه فرق راغلی.

دریم په فلیتامل کې اشاره بل اعتراض او جواب ته ده، چې یا هلکه په اسماء اجناسو کې او نکراتو کې لحاظ د تعیین ونه شو، حضور ونه شو، نو بیا دخول د الف لام پرې صحیح نه دی، او حالانکه اسماء اجناس نکراتو باندې الف لام داخلیږي، لکه رجل کې الرجل ویل کیږي، الف لام پرې داخلیږي، رجال کې ته الرجال ویلی شي، ځکه هلته کې لحاظ د عدم ظهور دی، او چې ته الف لام پرې داخل کړي نو هغې سره حضور راځي، حالانکه الف لام پرې داخلیږي، دویم دا چې اسماء اجناسو باندې الف لام داخل شي نو اجتماع د نقیضینو به راشي، ځکه چې په اسماء اجناسو، نکراتو کې لحاظ د عدم حضور دی او چې ته الف لام داخل کړي، نو لحاظ به د حضور راشي، نو جمع به د نقیضینو راشي چې حضور او عدم حضور به دواړه جمع شي نو بیا په اسماءاجناسو، نکراتو باندې الف لام د سره صحیح نه شو، او حالانکې اسماء اجناسو باندې الف لام داخلیږي، نو تاسو به جواب وکړئ، مطول کې یې دا کړی دی، چې یا هلکه عدم لحاظ د حضور دا مستلزم نه دی عدم لره په واقع کې، مونږه لحاظ د حضور نه دی کړی په واقع کې دي حضور راشي، بند نه دی، نو چې بند نه شو نو نه اجتماع دنقیضینو راغله او نه دخول د الف لام ممتنع شو، ځکه چې عدم لحاظ د یو شي مستلزم عدم د شئ لره په واقع کې نه دی، مونږ لحاظ د حضور نه دی کړی او په واقع کې دي حضور د الف لام سره راشي، باك نشته، اجتماع د نقیضینو په جهت واحده سره هم رانغله، ځکه عدم حضور په لحاظ کې دی او حضور په الف لام سره په واقع کې راغلی، او اجتماع د نقیضینو په جهة واحده سره محال دی په جهتینو محال نه ده.

ماتن وویل وهو شارح ورسره لګوي ای الاستغراق د دې نه غرض د شارح دا دی چې تعین د مرجع کوي، ویل دغه استغراق ضربان دوه قسمه دی، حقیقي یو استغراق حقیقي دی، او دویم قسم و عرفي، استغراق عرفي دی، وهو ان یراد سره غرض د شارح د استغراق حقیقي تعریف کوي، ځکه ماتن تعریف نه وو کړی، نو شارح تعریف د استغراق حقیقي کوي، چې هو دا استغراق حقیقي ان یراد کل فرد من ما د هغه معنی نه یتناوله اللفظ چې متناول وي دي معنی ته لفظ خو بحسب اللغة اهل لغت چې کوم لفظ د کومې معنی لپاره وضع کړی وي، د هغه معنی ټول افراد اراده کول، دیته استغراق حقیقي وائي، مثال نحو عالم الغیب والشهادة خو دا پټ والی او ښکاره والی په نسبت سره مونږه ته دي، الله ته هر څه ښکاره دي، نو اوس دا لفظ د غیب او د شهادة اهل لغتو چې د کومې معنی

لپاره وضع کړی دی، چې ما غاب عنا وما حضر لنا نو د دې په ټولو افرادو باندې الله عالم دی، یو فرد د افرادو ما غاب عنا او د ما حضر لنا الله ته مجهول غیر معلوم نه دی، نو ای عالم کل غیب وشهادة **وعرفی**: او دویم قسم استغراق عرفي دی، د استغراق عرفي تعریف ماتن نه وو کړی شارح کوي، ماتن نه وو کړی، ځکه بنا د متونو په اختصار وی، هو ان یراد کل فرد مما د هغه معنی نه یتناوله متناول ولې دی معنی ته لفظ بحسب متفاهم العرف په قدر د فهمؤلو د عرف عام نه، یعنې یو لفظ په عرف عام کې چې د کومې معنی لپاره وضع شوی دی، د هغه معنی ټول افراد اراده کول، لغت کې نه، لکه د هغې مثال داسې شو، نحو جمع الامیر الصاغة ویل جمع کړی وو بادشاه زرګرانو لره، نو اوس داسې کلام یو سړی په عرف عام کې وکړي، نو د دې نه زمونږ او ستاسو عرف کې دا اراده کیږي چې زرګران د خپل مملکت، د خپل کلي مراد وي، د ټولې دنیا زرګران بادشاه نه شي جمع کولی نو معنی دا چې ای صاغة بلده او اطراف مملکته اوس دا مثال مطابق د ممثل سره دی، ځکه لاته ځکه چې دا صاغة د بلد یا مملکت المفهوم عرفاً دا مفهوم دی عرفاً، لاصاغة الدنیا عرفاً زرګران د ټولې دنیا مفهوم نه دي، **قیل**: سره دی شارح شبه کوي، او وروستو په وفیه نظر سره بیا د شبهې نه جواب کوي، شبه دا ده چې یا هلکه دا دویم مثال مطابق د ممثل سره نه شو، ځکه ممثل ستا الف لام استغراقي وو، او الف لام استغراقي قسم دی د حرف نه، او په مثال کې په الصاغة کې الف لام دا خو موصولي دی، ځکه الصاغة صیغه د اسم فاعل ده او اسم فاعل او اسم مفعول باندې الف لام موصولي وي، نو قیل سره شبه کوي وائي قیل المثال مبنی علی مذهب المازني او مذهب د مازني مذهب مرجوح دی، او مذهب ضعیف دی، نو مثال بنا په مذهب ضعیف باندې شو، او مثال بنا کول په مذهب ضعیف باندې خطاء دی، والااو که دا په مذهب د مازني باندې نه حملوي بلکه په مذهب د جمهورو یې حملوي، نو بیا خو اعتراض شته چې فاللام في اسم الفاعل عند غیره موصول او ممثل کې الف لام استغراقي دی، نو مثال مطابق د ممثل سره نه شو، وفیه نظر اوس دي سره شارح جواب کوي، اوس قیل باندې نظر څه دی، اعتراض باندې نظر اعتراض جواب وي، ویل وفیه په دي قیل کې نظر، حاصل د نظر دا دی چې ګوره د مازني او د جمهورو چې کوم خلاف دی، نو تا محل د خلاف نه دی پیژندلی، د جمهورو او د مازني خلاف په هغه اسم فاعل کې دی چې هغه اسم فاعل بمعنی الحدوث سره دی، لکه الضارب، الناصر، العالم، په دې کې د مازني او جمهورو خلاف دی، داسې چې مازني وائي چې دې کې دا الف لام حرفي دي، او جمهور وائي چې دا الف لام موصولي دي، او کوم الف لام چې په معنی د دوام او استمرار سره وي په معنی د حدوث سره نه وي، لکه المؤمن شو، الکافر، العالم شو، الجاهل شو، الحائك شو، الصانع شو، نو دا اسم فاعل په معنی د دوام او استمرار سره دی، نو دا اتفاقاً د مازني او د غیر مازني دواړو په نزد دا الف لام حرفي استغراقي دي، دا موصولې نه دی جمهور په دې کې متفق

دی د مازني سره، ویل لان الخلاف ځکه خلاف د مازني او جمهورو انما هو في اسم الفاعل بمعنی الحدوث دون غیره چې هغه په معنی د دوام او استمرار سره دی، او ثبوت سره دی، ځکه المؤمن کې د مازني او جمهورو دواړو اتفاق دی، چې دا الف لام حرفي دی موصولي نه دی، ځکه چې دا ایمان صفت په مؤمن کې په طریقې د دوام او استمرار سره دی، دغسې والکافر و العالم والجاهل والصائغ دا د صوغي صفت په زرګر کې په طریقي د دوام او استمرار سره دی، اوس دا دلیل وائي چې ښه کوم اسم فاعل بمعنی الحدوث دی، هغې کې جمهور وائي چې الف لام موصولي دی، نو دلیل د جمهورو دا دی،لاتهم سره دلیل د جمهورو ذکر کوي، چې غیر د مازني نه دی، نو حاصل د دلیل دا چې ګوره جمهور وائي چې دغه الف لام موصولي په صورت کې مشابه دی د الف لام حرفي سره، ځکه دواړو کې اَلْ اَلْ دی، څه فرق نشته، او په واقع کې دا موصولی په معنی د الذي او التي سره دی، موصولي دی، نو د ده مشابهت صوري غواړي چې زما مدخول دي مفرد وي، ځکه د الف لام حرفي مدخول مفرد وي، او حقیقت او واقع کې دی غواړي چې زما مدخول دي جمله وي، ځکه چې دي خو په معنی د الذي او التي سره شو او هغه موصول دی، او صله د موصول جمله وي، نو جمهور وائي چې مونږ دیته داسې شی ورکړو چې هغه صورةً مفرد دی، او معنیً جمله ده لپاره د رعایت د دواړه شقینو شبهینو، نو هغه نه دی مګر اسم فاعل او اسم مفعول دی، ځکه اسم فاعل او اسم مفعول په صورت کې مفرد دی، نو په دي کې رعایةً شبه د الف لام سره راغلی، او صورة کې مفرد ځکه دی چې دلته کې اسناد داخل ته شوی دی، هغه اسم فاعل هم اسم دی او مفعول هم اسم دی، او په معنی کې جمله دی، ځکه مشتمل دی په مسند او مسندالیه باندې، نو رعایة د واقع راغلی، ویل لاتهم ځکه چې دي جمهورو غیر دي د مازني نه قالوا ویلې دي په دلیل کې چې هذه الصلة چې اسم فاعل بمعنی الحدوث دی فعل ځکه چې الضارب نه په یضرب سره تعبیر کیږي د المضروب نه په الذي یُضرَبُ سره تعبیر کیږي، خو في صورة الاسم اسم مفرده کې شو، نو چې هر کله دا صله فعل شو، نو فعل خو دلالت په حدوث باندې کوي نو فلابد فیه من معنی الحدوث، ولو سلم سره دویم جواب کوي خو دا تسلیمي جواب کوي او اول جواب منعي شو چې نه منم چې الصاغة کې الف لام موصولي دی، بلکه حرفي دی د غیر مازني په نږد باندې هم، او اوس ولو سلم سره جواب تسلیمي کوي چې که ومنم زه چې دا الف لام موصولي شي، نو بیا زه تصرف ښکته په ممثل کې کوم، وهو دغه استغراق، چې بالالف واللام وي او که په موصولي سره وي ضربان ښکته ما تعمیم وکړو، نو فالمراد تقسیم مطلق الاستغراق د مطلق استغراق دا معنی چې سواء کان بحرف التعریف او غیره یعني یا غیر تعریف سره دی، غیر تعریف دا چې موصول سره وي، نو چې تعریف سره وي، لکه عالم الغیب والشهادة شو او په غیر تعریف سره وي، لکه جمع الامیر الصاغة شو، معترض راغلی شبه یې وکړه چې یا هلکه جائز ده چې موصولي دي استغراقي لپاره نه راځي، نو

دي جواب کوي چې والموصول ايضا په شان د حرف تعريف، ايضا معنى کحرف التعريف مما ياتي للاستغراق مثال د موصول صريحي نحو اکرم الذين ياتونك الازيداً نو الذين ياتونك نه افراد معينه دي مراد، بلکه هر فرد د افرادو د اتينو مراد دی، قرينه پرې الازيداً استثناء پرې قرينه دی، ځکه استثناء غواړي تعدد په مستثنى منه کې، دويم مثال ښائي د موصول غير صريحي يعنې الف لام موصولي، لکه اضرب القائمين الاعمرواً نو قائمينو نه مراد هر فرد د افرادو د قائمينو شو، په قرينې د استثناء سره چې الاعمرواً دی، ځکه استثناء غواړي تعدد او عموم په مستثنى منه کې، بله مسئله کوي چې: و استغراق المفرد، وروستو راځي متن کې اشملُ، سواء سره شارح يا دفع د توهم کوي چې د استغراق د مفرد نه مراد، استغراق د مفرد بحرف التعريف به وي، ځکه چې زمونږ کلام په دې کې دی، نو شارح دا توهم دفع کړو چې نه سواء کان بحرف التعريف او غيره او غيره لکه نکره واقع شي په سياق د نفي کې، دريم غرض د شارح وسواء کان نه دفع د اعتراض کوي، چې هلکه ستا مثال موافق د ممثل سره نه شو، ځکه ممثل استغراق المفرد بحرف التعريف دی، او مثال کې تا لارجال في الدار نبودلی دی، نو هغه خو استغراق د مفرد بحرف التعريف نه دی، نو شارح وويل چې دي ممثل کې زه تعميم کوم چې سواء کان بحرف التعريف او غيره اشمل دا متن دی، نو اشملُ اسم تفضيل دی، دا مفضل عليه غواړي، مفضل عليه ماتن نه وو ذکر کړی، شارح يې ذکر کوي، اشمل دی من استغراق المثنى والمجموع بمعنى: سره شارح دفع د اعتراض کوي چې هلکه اشمليت نه اشمليت عددي به مراد وي، نو اشمليت عددي سره خو تثنيه او جمع اشمل دی د مفرد نه، ځکه مفرد يو ته ورځي او تثنيه دوو ته او جمع دريو ته ورځي، او د دريو نه زياتو ته ځکه عدد کې خو تثنيه دوو ته ورځي او جمع دريو ته، او دوه د يو نه اشمل دی او جمع لکه مثلاً دريو ته ورځي او مفرد يو ته ورځي نو دې خو اشمل دی د يو نه په عدد کې، نو شارح راغلی جواب يې وکړو بمعنى انه اشاره يې وکړه چې اشمليت نه اشمليت عددي مراد نه دی، اشمليت نه مراد اشمليت تناولي دی، تناولي دا معنى چې کوره مفرد يو ته ورتلی شي او تثنيه يو ته نه شي ورتلی همدارنګه مفرد يو ته ورتلی شي تثنيه دوو ته او جمع يو او دوو ته نه شي ورتلی، نو اشمليت نه مراد اشمليت تناولي شو عددي نه شو، بمعنى انه ای المفرد يتناول کلا من الافراد يو يو ته هم والمثنى يتناول کل اثنين دوو دوو ته متناوله کيږي نو يو تري نه خارج پاتې شو، تثنيه يو ته شامله نه شوه والجمع يتناول کل جماعة جمع دريو د دريو نه بره ته، او جمع يو او د يو نه بره چې تثنيه ده ته نه متناول کيږي، اوس ماتن دليل اني وائي: بدليل صحة لارجال في الدار په دې کمره کې مثلاً يو کس وو يا دوه کسه په کې وو، او ته ووائي چې لارجال في الدار، نو دا نفي صحيح ده ځکه د رجال معنى خو جمع ده، چې دې کمره کې دري او د دريو نه بره څوک نشته، او که يو وی يا دوه وي نو باك نشته دی، دا صحيح شو اذا کان فيه رجل او رجلان دون لارجل اوس په دار

کې یو سړی دی او ته ووائي چې لارجل في الدار نو دا کاذب دی، نو د دې نه پته ولګیده چې د لارجل نفي یو ته هم ورځي، دوو ته هم ورځي، او د لارجال نفي دریو او د دریو نه بره ته ورځي، یو او د یو نه بره ته نفي نه ورځي، نو د اشملیت نه مراد اشملیت تناولي شو، اوس دا مثال مطابق د ممثل سره دی فانه لایصح ویل څکه لارجل في الدار نه صحیح کیږي ان کان فیها ای الدار رجل او رجلان.

دوهذا في النکرة المنفیة مسلم ویلو نه غرض د شارح دا دی چې شبه کوي په ماتن باندې چې د ماتن دا خبره په نکره منفیه کې مسلم ده، لکه ده په مثال کې هم دا ذکر کړي ده، خو په مفرد مستغرقه او تثنیه مستغرقه او جمع مستغرقه کې دا نه صحیح کیږي، څکه چې قانون دا دی چې په جمع باندې الف لام داخل شو، نو باطلوي معنی د جمعیت او فائده کوي معنی د جنسیت، او جنس یو ته هم ورځي، نو دا په نکرهٔ منفیه کې صحیح وه، او جمع کې دا نه صحیح کیږي، واما في المعرف باللام فلا، بل الجمع المعرف بلام الاستغراق یتناول کل واحد من الافراد بنا په دې قاعده چې الف لام داخل شي په جمعې باندې، باطلوي معنی د جمعیت او فائده کوي معنی د جنسیت، د دوو وجونه، یو د دې وجې نه چې الف لام داخل دی او جمع مدخول ده او هر داخل ناسخ وي د مدخول لپاره، اوس که دغه داخل منسوخ ذ مدخول لپاره نه شي نو بیا د دخول د الف لام نه څه فائده نه راځي، دویم د دې وجې نه چې الف لام داخل شي په جمعي باندې او جنسیت فائده نه کړي، بلکه په جمعیت باندې پاتې شوه، نو اهمال د دخول د الف لام راغلی، او چې جنسیت یې فائده کړو نو اعمال راغلی په دخول د الف لام باندې هم او په جمع باندې هم، او اعمال اولی دي د اهمال نه، او جنس یو ته هم شامل دی، او ډیرو ته هم دلیل دا دی: علی ما ذکر دې تناول د کل واحد من الافراد لره اکثر ائمة الاصول یو، و النحو، ائمهٔ د نحوي دوه، ودل علیه الاستقراء دري، څلورم واشار الیه ائمة التفسیر چې صاحب الکشاف دی، لکه ومالله یرید ظلماً للعالمین، خو عالمین کې جنس عالم مراد دی، هر فرد د افرادو د عالم مراد دی، ان الله یحب المحسنین هر فرد د افرادو د محسنینو، داسې نه چې دریو پورې دریو نه په بره سره الله مینه کوي، یو دوو سره نه کوي، دارنګې رب العالمین الله رب دی د هر فرد د افرادو د عالمین دا مطلب نه دی چې د دریو او د دریو نه بره، اوس شارح ته چا وویل چې یا هلکه ته جواب وکړه کنه؟ ویل د جواب ځای دا نه دی، جواب ما مطول کې کړی دی وقد اشبعنا الکلام في هذا المقام في الشرح فلیطالع ثمه نو هلته کې ده مثالونه بنودلي دي د ائمهٔ د تفسیر، او مثالونه او اياتونه یې په کې بنودلي دي، خو تاسو به جواب دا کوئ چې بنکته په ممثل کې مراد د هغې نه عام دی مفرد صورةً وي که مفرد معنیً وي، نو جمع محلی بلام الاستغراق اګر هغه مفرد صورة خو نه دی، خو معنیً مفرد دی، نو زما واستغراق المفرد نه عام مراد دی، چې مفرد صورة وي او که معنیً وي، مفرد صورة لکه الرجل شو مفرد معنی لکه الرجال شو، نو الرجال اوس صورة خو جمع ده خو معنیً چې الف لام په جمع داخل شو

نو باطلوي معنى د جمعيت او فائده کوي معنى د جنسيت، نو دغه جمع محلى باللام په معنوي کې داخل شوه، او زه چې اشمل وايم نو چې دا جمع پس د دخول د الف لام نه په جمعيت باندې پاتې شوه نو استغراق د مفرد د دې نه اشمل دى، او چې په جمعيت باندې پاتې نه شوه، بلکه د جنس اراده وشوه، نو بيا خو دا معنى مفرد کې داخل شوه که نه

ولما كان ههنا مظنة اعتراض دې کې شارح اشاره کوي چې دا راتلونکى متن دا جواب دى د يو سوال مقدر نه، ويل هر کله چې وو په دې مقام کې، يعنې په مقام د استغراق المفرد اشمل کې، ځاى د اعتراض، وهو هغه اعتراض دا دى، حاصل د اعتراض دا دى چې يا هلکه ته وائې چې استغراق د مفرد اشمل دى، نو په مفرد باندې خو دخول د الف لام استغراقي د سره صحيح نه دى، فضل د اشمليت نه، ځکه صحيح نه دى چې ويل هغه دا دى چې ان **افراد الاسم يدل على وحدة معناه والاستغراق على تعدده وهي**: او دغه وحدة او تعدد متنافيان دي، اشمليت نه صحيح کيږي ځکه اشمليت فرعي دي لپاره د صحة د دخول د الف لام استغراقي، نو چې دخول د استغراقي صحيح نه شو، نو اشمليت کله راتلى شي، نو اجاب عنه الماتن عنه، بقوله: او جواب دا چې ولاتنافي بين الاستغراق اي الف لام استغراقي کې وافراد الاسم، لان الحرف الدال على الاستغراق كحرف النفي په لارجل کې والتعريف او حرف التعريف شو په جاءني الرجل کې، نو دا حرف داله په استغراق باندې انما يدخل عليه تعين د مرجع کوي اى على الاسم المفرد متن مجرداً دى، هغه منصوب وو، د نصب لپاره ډيرې طريقې دي، دولس، نصب بنا بر څه دي ؟ ويل حال کونه چې دا حال دى نو مجرداً حال شو، ذو الحال ضمير مجروره د عليه شو، يعنې په حال کون د دغه اسم مفرده کې چې مجرد وي عن الدلالة على معنى الوحدة، معنى د وحدت مونږ ترې لرې کوو منسلخ کوو، او بيا پرې الف لام داخلوو، نو اجتماع د متنافينو رانغله، معترض راغلى شبه يې وکړه، چې يا هلکه مفرد تا منسلخ کړو د معنى د وحدت نه نو لحاظ د تعدد به په کې وي؟ چې تعدد راغلى نو بيا الف لام استغراقي کې څه فائده رانغله؟ مثلاً تا رجل منسلخ کړو د وحدت ته، او رجل کې تا لحاظ د تعدد وکړو نو بيا الف لام استغراقي داخلؤلو کې څه فائده راغله؟ نو ده جواب وکړو کما انه مجرد لکه څنګه چې دا اسم مفرد مجرد دى د دلالة نه په تعدد باندې، يا هلکه زه دا اسم مجرده دا اسم مفرده په مرتبه د لابشرط الشئ کې اخلم، نه په دي کې لحاظ د وحدت کوم نه لحاظ د تعدد کوم، نو دا ما په مرتبه د لابشرط الشئ کې واخيستو، او بيا مې پرې الف لام داخل کړو، نو اجتماع د متنافينو هم رانغله او تحصيل د حاصل هم رانغلى، اجتماع د متنافينو ځکه رانغله ځکه د لحاظ د وحدت نه مو مجرد کړى دى، تحصيل د حاصل ځکه رانغلى ځکه د لحاظ د تعدد نه هم مجرد وو، معترض راغلى شبه يې وکړه چې بنه الف استغراقي تا په مفرد باندې داخل کړل، نو دې کې اوس دلالت په تعدد او جمع باندې وکړو، کوي نو بيا خو په کار ده چې د دې صفت دي

جمع واقع شي کنه څکه دي جمع شو، نو الرجل صفت دي بيا جمع واقع کيدل دي صحيح شي، حالانکه د مفرد مستغرقه صفت جمع نه شي واقع کيداى، نو دي جواب کوي وامتناع وصفه اى المفرد المستغرق بنعت الجمع د دې نعت اضافت دى جمع ته بيانوي دى، يعنې په صفت د جمع سره چې عين جمع ده، دا جواب دى للمحافظة على التشاكل اللفظي، يعنې الرجل په لفظ کې مفرد دى، او جمع جمع دى نو صفت موصوف کې لکه څنګه چې مطابقت په اعتبار د معنى سره شرط دى، نو لفظ سره هم شرط دى، نو دا لپاره دمحافظة په تشاكل لفظي باندې، دويم جواب کوي د دې اصل اعتراض نه، ولاته دغه مفرد چې داخل شوى دى په ده باندې حرف استغراق، حاصل د جواب دا چې استغراق په معنى د کُلّ سره دى، نو کل استغراق دوه معنى لري يو استغراق په معنى د کل فرد سره يو استغراق په معنى د مجموعه د افرادو سره، نو منافي د وحدة سره هغه استغراق دى چې هغه په معنې د مجموعه د افرادو سره دى، او کوم استغراق چې په معنى د کل فرد سره دي، هغه منافي د وحدة او افرادو سره نه دى، نو زه په مفرد کې چې الف لام استغراقي پرې داخل شوى دى، دغه استغراق په معنى د کل فرد سره اخلم، په معنى د مجموعه د افرادو سره يې نه اراده کوم.

ولهذا سره اوس ماتن دليل انى وائي، چې دا استغراق په معنى د کل فرد سره دى، او مجموعه سره نه دى څکه چې ولهذا امتنع وصفه اى المفرد المستغرق، بنعت الجمع اوس که په معنى د مجموعه افرادو سره وي نو بيا به د ده په صفت کې جمع راتلل صحيح وو، نو جمع د دې په صفت کې نه واقع کيږي، څکه چې دا به په معنى د کل فرد سره دى، مجموعه د افرادو سره نه دى عند الجمهور عند الجمهور يې څکه وويل چې وان حكاه الاخفش حكايت کړى دى په وصف الجمع د دې مفرد سره اخفش، يعنې هغه جواز باندې قائل دى كالدينار الصفر والدرهم البيض هر فرد د افرادو د دينارو زيړ دى، او هر فرد د افرادو د روپو سپين دى، نو صُفْر جمع د اصفر ده او بيض جمع د ابيض ده، او دا جمع واقعه شوې ده وصف، خو جمهور وائي چې دا مثال مصنوعي دى، مسموعى نه دى، دا اخفش د ځان نه جوړ کړى دى، ليكن دا جواب صحيح نه دى، څکه مقوله کې راغلى دى، چې اهلك الناس الدينار الصفر والدرهم البيض نو جواب دا وکړئ چې دا شاذ دى، دې له اعتبار نشته، نادر دى، او دا حديث نه دى مقوله ده، اصل حديث داسې دى، دغه مقوله خو هسې مضمون د حديث وو تعس عبد الدينار تعس عبد الدرهم تعس عبد الخميلة.

وبالاضافة شارح ورسره لګوي اي تعريفُ المسند اليه، دې کې شارح اشاره وکړه قاعدې د عطف ته چې دا اصالةً عطف دى په بالاضمار باندې، نو هلته د هغې نه مخکې واما تعريفه وو، نو دلته کې هم تعريفه بالاضافة شو، څکه چې ما قبل د معطوف عليه نه کالمعاد وي په معطوف کې، باضافته کې شارح اشاره وکړه چې دغه الف لام عوض دى د مضاف اليه نه چې هغه ه ضمير دى، نو تعريف د

مسندالیه کولی شي په اضافت سره، اوس اضافت کې دوه احتمالین دي، یو احتمال دا چې اضافت د مسندالیه بل چاته او دویم احتمال دا چې اضافت د بل چا مسندالیه ته، نو شارح تعین د ماهو المراد وکړو چې الی شئ من المعارف یعني اضافت د مسندالیه یو شي ته د معارفو نه، څکه چې زمونږ کلام په تعریف د مسندالیه کې دی نو مسندالیه معرفه هله ګرځي چې دا مضاف شي معرفي ته، او بل شي مضاف شي مسندالیه ته، نو مسندالیه معرفه نه ګرځوي، اوس دا تعریف په اضافت سره څکه کیږي چې لاتها تعین د مرجع کوي **ای الاضافة، اخصر طریق الی احضاره ای المسند الیه في ذهن السامع نحو هوای مع الرکب الیمانین مصعد**، جنیب وجثماني بمکة موثق نو شبه راغله چې یا هلکه هوای چې کوم دی، دا مبتداء ده او وروستو مصعد ورله خبر دی، نو هوای خو صرف وصف دی، او مصعد ذات مع الوصف دی، نو حمل د مصعد په هوای باندې نه صحیح کیږي، څکه محبت خو مصعد څنګه مصعد وي، نو ده جواب وکړو چې مصدر په معنی د اسم مفعول سره دی، ای مهوی محبوبه زما مصعد، اوس دا مثال مطابق د ممثل سره دی، څکه وهذا دا هواي په اضافت سره یاء ته اخصر د **من الذي اهواه ونحو ذلك** لکه من اهواه او الذي یمیل الیه قلبي نه، نو دی وائي چې دا دې لنډ وی خو مقصود د متکلم او شاعر دي اختصار نه وي کنه، ویل **والاختصار مطلوب** اختصار مطلوب دمتکلم دی، د دوو وجو نه یو لضیق المقام، او دویم **وفرط السامة** او ډیر ستړی کیدو او خفه کیدو د وجې نه، او مقام ولې تنګ دی او متکلم ستړی او خفه دی، ویل لکونه ای الشاعر في السجن والحبیب علی الرحیل مع الرکب الیمانین رکب ویلی شي قافلی د اوښانو ته چې اوښ سوریدونکو ته رکب او مفرد ته راکب ویلی شي سره د یمانینو نه، مصعد، د دې تفسیر کوي شارح په مبعد سره، یو دې کې یې اشاره وکړه تفسیر د غیر مشهور ته په مشهور سره، دویم دفع د اعتراض یې وکړه چې مصعد خو د اصعاد نه ماخوذ دی، اصعاد خو ختلو ته وائي، نو دلته کې ختونکی وو، د دې څه مطلب، نو ده جواب وکړو چې دلته لازمي معنی مراد ده چې مبعد څکه چې بره ختلو سره لازم لري والی دی، نو دلته کې معنی دغه شوه چې مبعد، او دریم غرض په مبعد کې شارح اشاره وکړه معنی مرادي ته چې دلته مصعد نه مراد لري کیدونکی دی، او ذاهب في الارض کې شارح اشاره وکړه معنی اصلي ته، چې معنی اصلي د اصعاد، زمکه کې تللو ته وائي، او معنی مراد دلته ابعاد دی، اوس ماتن یو مصرعه ذکر کړې وه، شارح دویمه مصرعه ذکر کوي، شعر پوره کوي، وتمامه تول شعر دا دی جنیب وجثماني بمکة موثق، الجنیب دا اوس د الفاظ غریبه ؤ تفسیر او تعریف کوي شارح، **الجنیب المجنوب المستتبع**، هغه مخکې کړی شوی چې د هغه تابعداري کولی شي، مراد ترینه د شاعر اسپه ده، یا اوښ د شاعر مراد دی، یا غلام مراد دی، څکه چې سړی په اوښه باندې سور وي نو د هغې په طبعي تبعي سره ځي، یا په اسپي سور وي یا د خپل غلام په طبع باندې چلیږي، جنیب مستتبع ته وائي، یعني هغه تابع تابعدار ته وائي، او مخکې روان

وي، **والجثمان الشخص** جثمان شخص ته جُثی ته وائي، او **موثق مقيد باسم المفعول** قيد ته وائي قيدي ته نو دی وائي چې يا هلکه د بيت نه خو مراد يا مدحه وي يا ذم وي، نو مونږ ته خو پته رانغله چې د دې شعر نه مراد ذم شو که مدحه شوه، نو ده جواب وکړو چې ولفظ البيت خبر ومعناه او معنی د دې انشاء ده، داسې چې تاسف چې اظهار د تاسف کوي، افسوس کوي او اظهار د حسرت کوي په تلو د محبوبه باندې، جدايي باندې، نو دلته ذم او مدحه مقصد نه دی بلکه خپل تاسف او تحسر ښکاره کوي، چې زما محبوبه زما نه لاړه، **اولتضمنها** يا د وَجې د متضمن کيدو د دې اضافت نه تعظيماً لشان المضاف اليه ته مسند اليه اضافت سره ذکر کوي د دی لپاره چې په دې اضافت کې د شان د مضاف اليه تعظيم دی، او المضاف يا د شان د مضاف تعظيم مقصود وي، او غيرهما د مضاف اليه د مسند اليه نه او د مضاف د مسند اليه نه، نو اوس دري مثالونه په کار شو، يو مثال د تعظيم دشان د مضاف اليه بل د مضاف او بل د غيرهما لپاره، نو تعدد د امثلو بناء په تعدد د ممثل باندې شو، نوځکه وائي کقولك في تعظيم المضاف اليه عبدي حضر زما مرئي حاضر شوی، نو زه غټ سړی يم، چې مَرئي لرم، **تعظيماً لكان لك عبداً وفي تعظيم المضاف** کې به وائي عبد الخليفة ركب تعظيماً للعبد ايها المتكلم چې مضاف دی، **بانه عبد للخليفة** ځکه چې د غټ سړي مرئي غټ وي، **وفي تعظيم غير المضاف والمضاف اليه** مثال داسې شو عبد السلطان عندي نو زه غټ سړی يم چې د بادشاه غلام ماسره ناست دی، نو دلته کې تعظيم د متکلم شو **تعظيما للمتكلم بان عبد السلطان عنده** معتراض راغلی شبه يې وکړه چې يا هلکه دا مثال خو مطابق د ممثل سره نه شو، ځکه ممثل خو دا وو چې او غيرهما چې هلته کې مضاف مضاف اليه نه وي، او عندي کې خو دلته کې مضاف مضاف اليه دی، نو وهو سره دي جواب کوي چې غيرهما نه مطلب دا دی چې دا مضاف اليه د مسند اليه به نه وي، او دا مضاف به مسند اليه نه وي، او دلته کې عندي مضاف مسند اليه نه دی، بلکه مسند دی او مضاف اليه مسند اليه هم نه دی، د مسند مضاف اليه دی، نو مثال مطابق شو، وهو او دغه ي دمتکلم اګر که وان کان المضاف اليه د عند لپاره لکنه غير المسند اليه المضاف وغير ما اضيف اليه المسند اليه، وهذا معنى قوله او غيرهما د غيرهما دا معنی نه ده چې د سره مضاف او مضاف اليه به نه وي، او لتضمنها او يا ايراد د مسند اليه کولی شي معرفه په اضافت سره د وجې د متضمن کيدو د دغه اضافت نه تحقيراً للمضاف، نحو ولد الحجام حاضر هلکه د ډم بچی بيا راغلی، نو دلته تحقير د مضاف وشو چې د ډم بچی، او للمضاف اليه يا اضاف کولی شي د تحقير د مضاف اليه لپاره، نحو ضارب زيد حاضر نو دلته کې تحقير د زيد مقصد شو، چې زيد هميشه مضروب واقع کيږي چيرته دي ضارب واقع نه شو، او غيرهما يا غير د دغه مضاف اليه د مسند اليه نه، دلته هغه مخکې معنی وکړئ نحو ولد الحجام جليس زيد د ډم بچی د زيد سره کښيني او پاڅي، نو دلته کې حقارت د زيد شو، او زيد د مسند اليه مضاف اليه نه دی، او

د مسندالیه مضاف هم نه دی، نو دلته کې تحقیر د زید مقصد شو، چې زید ډیر حقیر دی، چې ده سره د ډم بچی کینې پاڅي، اوس نور نکات د مصنف نه پاتې وو، نو شارح یې ذکر کوي کله مخکې نه چې شارح شروع کړي نو وائي

او لاغنائها یا اضافت کولی شي د وجې د بې پرواهۍ نه په اضافت سره خبره ختمه کړي، لکه ته ووائې چې نحو اتفق اهل الحق علی کذا نو اهل الحق، فاعل یې په اضافت سره ذکر کړو، نو چې د ټولې دنیا د اهل حقو تفصیل چې که ته کوي، نو هغه متعذر دی، اول تا ته معلوم نه دي، او که معلوم وي نو تفصیل نه شي کولی، او متعسر یا ګران دي، متعذر خو نه وي خو ګران وي، نو ته اضافت سره خبره ختمه کړي، نو وائي اهل البلد فعلوا کذا یا هلکه بشام والاؤ دا کار کړی دی، نو د بشام والاؤ تفصیل کول څه متعذر نه دي، خو هفته یا میاشت یا کم یا زیات څه وخت په کې لګي ته به ټول وشماري، چې د بشام فلاني دا کار کړی فلاني کړی، عمرو، بکر، خالد، والد نو متعسر شو، کړاؤ دی، کاغذ او قلم او سیاهي به راوړي، لیکي به ئې، مردم شماري به کوي، نو ګران دی، نو بس خبره ختموي چې اهل البلد فعلوا کذا او لاته یمنع یا اضافت د مسندالیه کولی شي ځکه چې موجود شوی وي د تفصیل نه عالم چې عمرو دی، شیخ الحدیث والتفسیر فلان، نو عمرو به وائي چې ستا داسې داسې کوم، پوستې والاته زه جامع المعقول والمنقول نه وم؟ دا دې ولې مخکې کړی دی په ما باندې، نو جګړه جوړه شوه، یا د هغه لپاره دائره مخصوصه جوړه کړي، مهمان خصوصي چې ورته وائي، او بل لپاره دائره مخصوصه ونه کړي، نو جنګ به جوړ شي، یا یو ته دې یو لقب ورکړو او بل ته دې ور نه کړو نو جګړه به جوړه شي، نو بس دی وائي چې داسې به وائي چې علماء البلد حاضرون نو دا پوستې چاپ کول عند علماء علم المعاني بدعت شو... الخ، الی غیر ذلك من الاعتبارات د دې نه غیر لکه اضافت د استعطاف لپاره کیږي، قران کې لاتضار والدة بولدها یعني ترس دې پرې وکړي، د دې هم بچی دی، ولامولود له بولده نو دا اضافت لپاره د استعطاف شو، دارنګه نور نکات د اضافت هم شته دی.

واما تنکیره تعین د مرجع کوي شارح ای تنکیر د مسندالیه فلافراد شارح ورسره لګوي ای للقصد الی فرد دې سره غرض د شارح دفع د اعتراض ده، چې هلکه تنکیر د مسندالیه دا خو صفت د متکلم دی، نکر، ینکر، تنکیراً نو نکره کول صفت د متکلم دی، او افراد نو دا خو صفت د لفظ دی، یو والی، دا صفت د مسند الیه دی، نو دا لازم شو تعلیل د صفت د یو مبائن په صفت د مبائن اخر سره، ځکه چې تنکیر لپاره افراد د مسندالیه نه شي کیدای، نو شارح راغلی جواب یې وکړو چې دلته کې عبارت کې حذف دی، علت اصل کې دا دی ای للقصد لپاره د قصد کولو د متکلم، او قصد کول هم صفت د

متکلم دی لکه څنګه چې تنکیر دی نو تنکیر د مسندالیه کولی شي لپاره د قصد کولو د متکلم الی فرد دې کې يې اشاره وکړه چې فرد لپاره عامل محذوف دی چې الی دی، او دا لام په للافراد کې اصل کې داخل دی په قصد باندې، نو معنی للقصد الی فرد خو دا فرد د چانه دی مما یصدق علیه اسم الجنس لکه رجل اسم جنس دی په راتلونکې ایت کریمه کې، نو دا په یو فرد باندې هم صادقیږي، څنګه چې په ډیرو باندې صادقیږي، نو رجل نه مراد یو فرد د رجل مراد شو ډیر نه، نحو جاء رجل من اقصا المدینة ویل یو سړی راغلی، د موسی ملګری، ډیر نه وو، او بیا د هغه کور هم په اخر د بنار کې وو من اقصا المدینة منډې يې وهلې، او ځان يې رسوّلو موسی ته مخکې د فوجیانو د فرعون نه، او ورته د درسیدو سره يې وویل چې قال یاموسی ان الملا یاتمرون بك لیقتلوك فاخرج اني لك من الناصحین

اوالنوعیة زور مولا زړې تراویح دي، دلته کې هم هغسې ده ای للقصد الی نوع منه د دغه اسم جنس نه، نحو وعلی ابصارهم غشاوة نو غشاوة کې دا تنکیر دا د نوعیت لپاره دی ای نوع من الاغطیة یو نوع دی د پردو نه، هغه نوع دادی، ظاهرې ستر ګې يې نه دي ړندې، وهو غطاء التمامي عن ایات الله تعالی زړه يې ړوند دی د الله د ایاتونو نه، هغه پرده د ړوند والي ده، د الله د ایاتونو نه، فانها لاتعمی الابصار ولکن تعمی القلوب التي في الصدور ویل قصه دا ده چې د دوی دا ستر ګې ړندې نه دي، لکن دا زړونه يې ړانده دي عن ایات الله، نو په دې غشاوة کې تنکیر د مسندالیه وشو لپاره د قصد مؤکد د یو نوع د اغطیو، چې هغه غطاء د تمامي عن ایات الله ده، وفي المفتاح نه غرض د شارح تعارض بیانوي د ماتن په کلام کې او د سکاکي په کلام کې او ځان له ځې، جواب نه کوي، نو جواب د تعارض دبهر نه شو، او د سکاکي اعتراض داسې کوي تعارض داسې بیانوي چې یا هلکه ماتن وویل چې په دغه غشاوة کې تنوین لپاره د نوعیت دی، او سکاکي ویلي دي چې دغه تنوین لپاره د تعظیم دی، نو د سکاکي او په کلام د ماتن کې تعارض راغلی، ویل وفي المفتاح انه للتعظیم ای غشاوة عظیمة او ماتن وویل چې دا لپاره د نوعیت دی، دا شارح په ماتن باندې شبه وکړه او لاړه، د تعارض شبه يې وکړه، نو تاسو جواب ووایئ د بهر نه چې تعارض نشته دی، ځکه چې ماتن هم دلته کې غشاوة نه غطاء التعامي ویلی دی، او غطاء التعامي عن ایات الله عظیم دی، په نسبت سره غطاء الابصار ته، نو غرض د شارح اعتراض دی په ماتن او جواب د بهر نه شو، یا غرض د شارح وفي المفتاح نه اعتراض نه دی، بلکه بیان د واقع کوي، چې ماتن دې تنوین د غشاوة ته د نوعیت لپاره وویل او سکاکي تعظیم لپاره ویلی دی، مطلب او مال د دواړو یو دی، یعنې دا اختلاف په مینځ د سکاکي او مصنف کې اختلاف عنواني دی، معنون یو دی، دغه یو غشاوة کې تنکیر د نوعیت لپاره هم دی، ماتن ورته نوع ویلی دی، او سکاکي ورته تعظیم ویلی دی، عظیم ویلی دی، او التعظیم او التحقیر یا تنکیر د مسند الیه کولی شي د تعظیم او د تحقیر لپاره **کقوله شعر** دا قول د شاعر شو، له د ممدوح لپاره حاجب نو دا

تنکیر لپاره د تعظیم دی، ای مانع عظیم عن کل امر یشینه چې بد به ګڼلو دې ممدوح دې کار لر
صحیح معنی دا ده: چې دۀ لره عیبژن کوي۔ (مصحح ابو سلمان)

ولیس له عن طالب العرف حاجب او نه وو د ممدوح لپاره د طلب د احسان نه نو هغه کار به یې نه کولو، حاجب
دلته کې تنکیر او تحقیر لپاره دی مانع حقیر، **فکیف بالعظیم او التکثیر** یا تنکیر د مسندالیه کیږي لپاره
د تکثیر کقولهم لکه دا قول د عربو شو وان له لابلاً کثیراً وان له لغنماً کثیراً، **او التقلیل**، نحو ورضوان من
الله اکبر رضوان کې تنکیر لپاره د تقلیل دی، لږ غوندې رضامندي د طرفه د الله نه اکبر من کل شئ یا
اکبر من نعم الجنة ځکه د الله د رضا لاندې جنتونه ټول، نعمتونه دجنت ټول په کې راغلل.

والفرق بین التعظیم والتکثیر...الخ اوس شارح فرق بیانوي په مینځ د تعظیم او د تکثیر کې، غرض د شارح
فرق بیانوي، خو په تعظیم او تکثیر کې فرق په دوو طریقو سره دی، یو شارح بیانوي او یو به بهر نه
مونږ او تاسو بیانوو، نو شارح فرق دا بیانوي چې ان التعظیم بحسب ارتفاع الشان وعلو الطبقة یعنی
تعظیم په کیفیاتو کې مستعملیږي، چې دغه سړی په علم کې لوی دی، په اخلاقو کې لوی دی په سخا
کې لوی دی، دا کیفیات دي والتکثیر باعتبار الکمیات او تکثیر په اعتبار د کمیاتو سره دی، یعنی
کم سره دی، والمقادیر او په اعتبار د مقدار سره دی، دا د کمیاتو تفسیر دی، لکه ته وائي چې دغه
شی په تول کې زیات دی د دې بل نه، یا دغه شی په پیمانه کې زیات دی د دې بل شي نه، یا دغه شی
اوږد دی، یا پلن دی د دې بل نه تحقیقاً وي دغه کمیات او مقادیر کما في الابل او تقدیراً وي کما في
الرضوان ځکه په رضوان کې کیمات تحقیقاً نه شي راتلی، ځکه مقدار خو تحقیقاً په حسیاتو کې
راځي، او رضوان د معانیو نه دی، د اعراضو نه دی، خو هلته کې تقدیراً شته دی، داسې چې که
چیرته رضا د الله محسوس شي نو یو چټاک رضا د الله د تمامي دنیا وما فیها نه به غټه وي، د تقدیرا
دا معنی، وکذا التحقیر والتقلیل دی کې هم دغسې فرق دی، دویم فرق بهر نه دا دی چې تعظیم
مستعملیږي په متصل الاجزاء شي کې او تکثیر مستعملیږي په منفصل الاجزاء شي کې، لکه غټه ګټه
وي نو هغې ته ته حجر عظیم ویلی شي، او غټې ګټې ته چې یوه ګټه وي حجر کثیر نه شي ویلی احجار
کثیرة پیر خلک دي نو هغې ته رجال کثیرة ویلی شي او رجال عظیم نه شي ویلی، نو دا فرق شو، نو
اوس شارح وائي چې **وللاشارة**، او لپاره د اشاره کولو د ماتن چې دې ډوارو کې فرق وو، قال وویل **وقد**
جاء التنکیر للتعظیم والتکثیر دوارو لپاره نحو وان یکذبوك فلا باس فقد کذبت، دا علت د جزاء قائم دی
په مقام د جزاء کې، ویل باك نشته ځکه فقد کذبت رسل من قبلك او دا عین جزاء نه شي کیدای، ځکه
تکذیب د پیغمبرانو هغه خو مخکې دی په تکذیب د رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې، نو دا
مخکې شی جزاء د وروستوني لپاره نه شي کیدای، نو ځکه ما تاسو ته وویل چې جزاء محذوفه ده، نو
رسل کې دا تنکیر ای ذو عدد کثیر هذا ناظر الی التکثیر، او ذو ایات عظام، یا دروغژن کړی شوی

دی هغه انبیاء چې خاوندان د ایاتونو لویو وو هذا ناظر الی التعظیم وقد یکون للتحقیر والتقلیل نحو حصل لي منه شئ شئ څه معنی؟ ای شیء حقیر قلیل.

ومن تنکیر غیره اوس دا ماتن نکات ذکر کوي د تنکیر د غیر د مسندالیه لپاره، نو په دې باندې اعتراض راځي، چې یا هلکه ماتن خروج د بحث نه شروع کړو، څکه چې زمونږ بحث په نکاتو د تنکیر د مسندالیه کې وو، او ماتن شروع وکړه په نکاتو د تنکیر د غیر د مسندالیه کې نو دا خو خروج د بحث نه راغلی، نو تاسو د دې نه یو جواب دا وکړئ چې دا ماتن طرداً للباب ذکر کړی او وما من علم الا وقد یبحث فیه عن اشیاء بالتبع نو بالتبع ماتن په نشه کې راغی نو ویې ویل چې **ومن تنکیر غیره** نو دا د ماتن د نشې خبره شوه، دا د افاقې خبره نه شوه، دویم جواب دا وکړئ چې ماتن چې دلته کې بیان کړی دی نو دا لپاره د دفع د اعتراض د سکاکي نه، سکاکي باندې اعتراض دا وارد شو چې هغه په خپل کتاب کې اول ویلې دي چې واما تنکیره چې تنکیر د مسندالیه کیږي لپاره د افراد او نوعیت لپاره، نو بیا یې په مثال کې دغه ایت کریمه پیش کړی دی، چې والله خلق کل دابة من ماء نو سکاکي باندې شبه راغله چې یا هلکه دا مثال خو ستا مطابق د ممثل سره نه دی، څکه ممثل تنکیر د مسندالیه وو او مثال کې دابة او ماء خو مسندالیه نه دي، نو ماتن راغلی د سکاکي د طرف نه جواب کوي چې یا هلکه د سکاکي په کلام کې دغه ایت کریمه مثال نه دی دا نظیر دی، او نظیر کې فردیت د ماله النظیر نه نوي، مثال فرد وي د ممثل نه، او نظیر فرد د ماله النظیر نه نوي، ماتن د سکاکي نه اعتراض دفع کړو، چې نظیر دی د سکاکي په کلام کې او مثال نه دی، نو ومن تنکیر غیره بعضې د تنکیر د غیر د مسندالیه نه للافراد والنوعیة نحو والله خلق کل دابة من ماء اوس دا مثال مطابق د ممثل سره دی، چې دابة او ماء کې دا تنکیر د افراد لپاره هم صحیح کیږي، او د نوعیت لپاره هم صحیح کیږي، داسې چې ای کل فرد من افراد الدواب لکه زید مثلاً یو فرد د دواب دی، عمرو بل فرد د دواب دی، بکر بل فرد د دواب دی، نو دغه افراد الله پیدا کړي دي من نطفة معینة هي نطفة ابیه المختصة به زید چې یو فرد د دواب دی، دی پیدا شوی دی د یو فرد د دواب نه، د خپل پلار د نطفې نه، دغه یو فرد د نطفې دی مختصه ده دده پلار پورې، عمرو یو فرد د دابې دی، هغه پیدا شوی دی د یو فرد د نطفې نه چې هغه نطفه مختصه ده د پلار د هغه پورې، بکر کذلك خالد کذلك والد کذلك نو دابة نه مراد هم فرد شو او ماء نه مراد هم یو فرد د نطفې شو، او که نوعیت لپاره شي نو بیا معنی دا شوه چې وکل نوع من انواع الدواب او پیدا کړي دي الله هر یو نوع د انواعو د زنده سر نه لکه انسان یوه نوعه د دوابو ده، فرس بله نوعه د دوابو ده، حمار بله نوعه د دوابو ده، بکر بله نوعه د دوابو ده، نو دا هره یوه نوعه د انواعو د دواب نه الله پیدا کړي ده من نوع من انواع المیاه وهي نوع النطفة انسان نوعه یې پیدا کړي ده د نطفه انساني نه، د فرس نوعه یې پیدا کړې ده د نوعه فرسي نه، او دارنګه نوعهٔ بقریه یې پیدا

کړي ده د نوعه بقريه نه، حماريه كذلك التي: هغه نطفه چې المختصة بذلك النوع من الدواب ومن تنكير غيره، ويل بعضې د تنكير د غير د مسند اليه نه چې مسند اليه نه وي للتعظيم تعظيم لپاره هم راځي، لكه فاذنوا بحرب من الله ورسوله كه تاسو د سود نه نۀ منع كيږئ، پس د وعظ او د اعلان د الله نه پوهه شئ، فاذنوا معنى فاعلموا بحربٍ عظيم من الله ورسوله، چې هغه حرب د جنود الغيب دی، نو الله په هيڅ يو ګناه کې دا نه دي ويلي، زنا کې يې دا ندي ويلي چې د الله لوی جنګ ته خان تياروئ، سرقه کې يې نه دي ويلي، سود خورو باره کې يې وويل چې فاذنوا.... الخ، والتحقير او كله كله راځي تنكير د غير د مسند اليه لپاره د تحقير نحو وان نظن الاظناً شارح ورسره لګوي اى ظناً حقيراً ضعيفاً دې کې اشاره وکړه شارح چې الاظناً دا مفعول مطلق نوعي دی، او مفعول مطلق تاکيدي نه دی، ځکه ظن حقير او ظن ضعيف د ظن نه يو نوع دی، نو دا مصدر نوعي شو، او مصدر تاکيدي نه شو. يعنې مفعول مطلق نوعي شو او مفعول مطلق تاکيدي نه دی، نومعترض شبه وکړه چې يا هلكه ظن خو بسيط دی، جائز ده چې ظن دې شدة او ضعف نه قبلوي كنه؟ نو دی جواب کوي چې اذ الظن مما يقبل الشدة والضعف بسيط شدة او ضعف قبلوي، البته زيادة او نقصان نه قبلوي، يعنې بساطت منافي د كيفياتو سره نه دی، بساطت منافي د كمياتو سره دی، ځکه چې کم کې تقسيم وي، او بسيط کې تقسيم نه وي، او شدة او ضعف د اوصافو دكيف نه دی، او کم نه ندی، نو ظن شدة او ضعف قبلوي لكه حديث کې راځي ذلك اضعف الايمان البته زيادة او نقصان نه قبلوي نو دا پرې تفريع وکړه شارح چې فالمفعول المطلق ههنا للنوعية لاللتاكيد شارح وائي وبهذا الاعتبار دانكته وائي شارح چې دلته کې دا مفعول مطلق نوعي دی او مطلق تاكيدي ولې نه دی، د دې لپاره وجه وائي، وائي وجه داده كه چيرې مفعول مطلق تاكيدي ووايو نو بيا اعتراض لازميږي، نوځکه ما مفعول مطلق نوعي وويل وبهذا الاعتبار چې دا مفعول مطلق نوعي دی، او تاكيدي نه دی صح وقوعه صحيح شو واقع كيدل د دې مفعول مطلق بهذا الاستثناء حال كون الاستثناء مفرغاً ځکه استثناء مفرغ ديته وائي چې هلته کې مستثنى منه محذوف وي، د هغه مستثنى منه فاعل فارغه کړی شوی وی د مستثنى نه، نو ذكر د مفرغ مراد ترينه مفرغ فيه شو، ځکه دغه مستثنى خو مفرغ فيه ده مفرغ نه ده، خو فيه په کې حذف دی، ځکه نه صحيح كيږي مع امتناع ما ضربته الاضرباً ما نه دی وهلى دې زيد لره، په يو وخت د اوقاتو کې مګر په وهلو سره، نو دا استثناء نه صحيح كيږي، مفعول مطلق تاكيدي نه، د دوو وجو نه، يو د دې وجې نه چې استثناء د شئ د خپل نفس نه راځي، ځکه ما ضربته کې هم نفي د ضرب ده، او اثبات هم تا د ضرب وکړو، دويم د دې وجې نه چې مستثنى غواړي تعدد په مستثنى منه کې، او ما ضربته کې تعدد نه وو، ما ضربته خو صرف محتمل د ضرب وو د بل شي نه وو، نو دي وائي چې يا هلكه ما ضربته الاضرباً شديداً يو سړی ووائي يا ما ضربت الاضرباً ضعيفاً ووائي، نو بيا خو صحيح

دی، دی جواب کوي علی ان یکون المصدر، چې دغه مصدر د ضرباً للتاکید شي نو دا صحیح نه دی، ځکه لاز مصدر ضربته، لایحتمل غیر الضرب، نو استثناء د شئ دخپل نفس نه هم راغله، او عدم تعدد په مستثنی منه کې هم راغلی، حتی دا تفریع کوي په منفي باندې چې که احتمال یې د غیر ضرب لرلی یصح الاستثناء خو دلته کې احتمال نه لري نو استثناء صحیح نه شوه، او دویم دا چې حال دا دی چې والمستثنی منه یجب ان یکون متعددا یشمل المستثنی وغیره نو هغه اعتراض چې کوم دلته کې وو، نو هغه دلته کې هم دفع شو، چې استثناء د ظناً د نظن نه نه صحیح کیږي، د دوو وجونه یو د دې وجې نه چې نظن کې احتمال بغیر د ظن نه د بل شي نه دی، نو استثناء دشئ د خپل نفس نه راغله، دویم جواب دا دی چې استثناء غواړي تعدد په مستثنی منه کې او نظن کې احتمال بغیر د ظن نه د بل شي رانغلی، نو تعدد رانغلی او چې ده مفعول مطلق نوعي وویل نو دواړه خبرې صحیح شوې، نو اوس ترجمه د ایت کریمه دا شوه، چې کافر وائي چې زمونږ ګمان نشته دی په باره د قیامت کې الا ظناً صغیراً ضعیفاً یعني په باره د قیامت کې یقین در کنار چې زمونږه جانب راجحه هم نشته دی، بلکه جانب مرجوحه وهم قدري شته، ځکه ظن چې ضعیف شي نو هغه ته وهم وائي، نو د قیامت باره کې زمونږ هسې وهم شته دی. چې قیامت به وي او یقین او ظن دواړه نشته دی، او شارح بله یوه نکته ذکر کوي د تنکیر دمسندالیه لپاره نو وائي چې وکما ان التنکیر الذي في معنی البعضیة ځکه چې د تنکیر نه چې یو فرد واخلي نو هغه یو فرد د جنس نه بعضې دي، یا نوع واخلي، نو هغه هم د جنس نه بعضې وي، نو لکه تنکیر چې هغه په معنی د بعضیت کې هغه فائده کوي تعظیم نو فکذلك په شان د دغه تنکیر صریح لفظ البعض هم کله کله تعظیم فائده کوي، کما في قوله تعالی ورفع بعضهم فوق بعض درجات اوس دا مثال مطابق د ممثل سره دی چې اراد ببعضهم بعض اول سره محمداً صلی الله علیه وسلم چې کوم صفات کمالیه په رسول الله صلی الله علیه وسلم کې دي داسې په نورو انبیاء کې نشته دی، نو درجه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اوچته شوه د نورو انبیاءُنه، نو اوس د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه یې تعبیر په اسم محضه سره وکړو په بعض سره یې وکړو، ځکه چې ویل ففي هذا الابهام چې نوم یې صریحي ذکر نه کړو، چې ورفع محمداً علی الانبیاء نو په دغه کې من تفخیم شانه ای محمدٍ صلی الله علیه وسلم وفضله واعلاء قدره ما هغه مقدار لایخفی ای علی واحدٍ داسې چې لکه اوس یو سړی، الله خو وویل الله پورته کړی دی بعضې د دې انبیاء نه بعضې دپاسه د بعضو نه دی په درجو کې، نو مبهم یې ذکر کړل نو ستا ذهن به اوس تفتیش تلاش کوي، چې یا هلکه اوصاف کمالیه په دې ټولو انبیاء کې کوم کې زیات دي، نومونږه چې تفتیش او تلاش وکړو، ذهن مو خپل وچلولو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کې کوم صفات کمالیه چې دي هغه په نورو انبیاء کې نه وو، نومونږه معلوم کړل چې د دې بعض نه مراد محمد صلی الله علیه وسلم دی، ځکه دې کې چې

څومره صفات کمالیه دي هغه نورو کې نشته دی، نو دلته کې حصول الشئ بعد الطلب راغلی، او حصول د شئ بعد الطلب الذوي او اعظم وي د حصول د شئ نه ابتداءً، لکه اوس تا ته یو سړی اسقاط کې پیسې در کړي نو ته بس اوګی سړی وي بازار ته لاړې او تا پرې چیرته ډوډۍ وخوړه، او دا چې تا مزدوري کړې وي او اته ګهنټې پس تا ۱۰۰ روپۍ اخیستې وي نو هغه به بیا تا نه په بې ځایه ځای کې نه خرچ کیږي، نو کوم شی چې سړی پس د شوق او طلب نه حاصل کړي نو هغه الذ وي اعظم وي د هغه شي نه چې هغه سړی ته حاصل ابتداءً شي.

واما وصفه هر کله چې فارغه شو مصنف د احوالو د مسندالیه نه بالذات نو اوس شروع کوي په احوالو د توابعو د مسندالیه کې، چې احوال د توابع د مسندالیه څه دي او کوم کوم دي، نو توابع پینځه قسمه دي: ۱ یو قسم د توابعو نه صفت دی، صفت د مسندالیه، نو د دې لپاره نکات وائي چې د مسندالیه صفت ولې ذکر کیږي، نو ویې ویل چې واما وصفه تعیین د مرجع کوي شارح ای وصف المسندالیه وقد یطلق، نه غرض د شارح یو دا دی چې بیان د معنییو کوي، د وصف لپاره چې د وصف لپاره دوه معنیین دی، یو وصف په **معنی مصدري** سره، چې **ذکر النعت للمسندالیه دا معنی مصدري** ده، یو صفت په معنی اصطلاحي سره دی چې تابع یدل علی معنی في متبوعه دویم غرض د شارح ترجیح ورکوي د دې وصف معنی مصدري ته په معنی اصطلاحي د ده باندې په دې تکي چې وهو انسب ههنا واوفق بقوله سره چې په معنی مصدري سره اخیستل ډیر اوفق وانسب دي، دریم غرض د شارح تمهید ږدي اعتراض ته او وروستو **والاحسن** جواب ته، دا مخکې اعتراض او والاحسن سره جواب شو، اعتراض دا شو چې یا هلکه وصف تا په معنی مصدري سره واخیستو، نو وصف معنی ذکر النعت للمسندالیه نو بیا **فلکونه مبیناً** په متن کې نه صحیح کیږي، ځکه چې مبین د متبوع مسندالیه لپاره ذکر النعت نه دی، بلکه تابع مخصوص دی، نو فلکونه کې ضمیر صحیح نه شو، نو شارح والاحسن سره جواب کوي، نو وائي وقد یطلق کله کله اطلاق کیږي د دې وصف **علی نفس التابع المخصوص**، چې تابع یدل علی معنیً فيٍ متبوعه لکه جاءني رجل عالم نو دا عالم یو تابع دی دلالت کوي په معنی باندې چې علم دی، چې دغه معنی ثابته ده په متبوع کې چې رجل دی، چې دا په رجل کې شته دی، او **وقد یطلق بمعنی المصدر وهو انسب ههنا** دویم غرض ته اشاره کوي، او دا معنی مصدري ډیره مناسبه ده دلته کې، او ځکه ډیره مناسبه ده **واوفق** او موافق ده ددې قول د ماتن سره بقوله **واما بیانه** هلته کې بیان نه مراد ذکر البیان للمسند الیه معنی مصدري سره دی، والابدال منه معنی ذکر البدل من المسند الیه نو هلته کې معنی مصدري سره وو، نو دلته کې هم معنی مصدري سره بنه شو ځکه موافقت اولی دی د مخالفت نه، اوس د هغه معنی مصدري تفسیر کوي چې ای اما ذکر النعت له یعني هر چې دي ذکر د صفت د مسندالیه لپاره، نو دا معنی مصدري شوه، نو دا ځکه کیږي فلکونه

ویل د وجې د کیدو د دې وصف نه بمعنی المصدر چې ذکر النعت دی، مبیناً نو شبه راغله چې یا هلکه دا خو ذکر د نعت مُبین نه دی، مبین خو هغه معنی اصطلاحي دی، دا ذکر النعت خو مبین نه دی، مبین خو خودِ هغه تابع دی هغه نعت دی، ذکر د نعت خو مبین نه دی، نو شارح والاحسن سره جواب کوي چې یا هلکه شبه دا ده، غوره دا ده چې دا عبارت بنا شي په صنعة الاستخدام باندې، چې لفظ صریحي د وصف نه معنی مصدري اراده کړه، نو ځکه چې واما بیانه او واما ابداله سره موافقت راشي، او فلکونه ضمیر چې راجع کوي دي وصف ته نو معنی اصطلاحي اراده کړه، چې مبیناً صحیح شي، نو چې داسې شي نو فلکونه مبیناً صحیح شو، نو وائي **والاحسن ان یکون ای الوصف بمعنی النعت**، تابع مخصوص سره یې واخلئ، خو علی بنا په دې باندې ان یراد باللفظ په لفظ صریحي د وصف سره احد معنییه یو د معنییینو د دې وضف چې معنی مصدري ده، **وبضمیره** چې په فلکونه کې دی **معناه الاخر** چې هغه وصف په معنی د تابع مخصوص سره، او دا یو اصطلاح ده د محسنات بدیعیه ؤ نه، دا اراده کول موافقا لما سیجئ فی البدیع، نو اوس ترجمه صحیح شوه چې فلکونه د وجې د کیدو د دې تابع مخصوصه نه مبیناً له، ای للمسند الیه، هلکه د مسند الیه لپاره د مبین کیدو څه معنی؟ **کاشفاعن معناه** چې دغه تابع مخصوصه ظاهرونکی وي معنی د مسند الیه، مثال داسې شو، کقولك الجسم الطویل العریض العمیق نو الجسم مسند الیه موصوف او طویل، عریض، عمیق، دا دري صفتونه شو او یحتاج خبر شو، دا موصوف سره د صفاتو نه دا مبتداء او یحتاج یې خبر دی، ویل یحتاج الی فراغ یو مکان خالیه ته عن الشاغل، داسې مکان یشغله چې ډکوي دغه فراغ لره دا جسم یعني جسم مائي وي او دا فراغ مملوء وي ډک کړی شوی وي، دا مثال مطابق د ممثل سره دی ځکه فان هذه الاوصاف ځکه مجموعه د دغه اوصاف ثلاثه ؤ مما یوضح الجسم ویقع تعریفاً له ای للجسم، جسم څه ته وائي؟ چې قابل لپاره د ابعادِ ثلاثه ؤ وي، جسم طبعي وائي دیته چې هغه قابل لپاره د ابعاد ثلاثه ؤ وي، نو دا طویل، عریض، عمیق کاشف لپاره د معنی د مسند الیه دي ونحوه في الکشف شارح ورسره لګوي، ای مثل إی کې یې اشاره وکړه چې دلته کې نحوه په معنی د مثل سره دی، هذا القول کې یې اشاره وکړه تعیین د مرجع ته چې نحوه کې ضمیر دې قول ته راجع دی، دا قول چې الجسم الطویل، چې مخکې تیر شو، نو هذا القول مشبه نه شو او وروستو قوله دا قول د شاعر مشبه شو، اله د تشبیه په کې نحو شو، وجه د شبهې في کون سره بیانوي، لکه مشبه به کې اوصاف لپاره د کشف او د ایضاح وو، نو په دې مشبه کې هم دا وصف لپاره د کشف د ایضاح دی، اوس معترض راغلی شبه یې وکړه چې یا هلکه دا تشبیه خو نه صحیح کیږي، ځکه چې هلته کې کشف او ایضاح وو. خو د مسند الیه وو او په راتلونکی شعر کې وصف لپاره د کشف او ایضاح د مسند الیه دی؟ د غیر د مسند الیه دی. نو شارح جواب وکړو چې تشبیه په کل امورو کې نه وي باچا ګله، تشبیه

صرف په دې کې ده چې کون الوصف للکشف والایضاح وان لم یکن وصفاً للمسند الیه بلکه وصف لپاره د غیر مسند الیه دی، ځکه تشبیه اشتراك في وصف چې راغلی نو بیا صحیح ده، په کل اوصافو کې اشتراك د مشبه، مشبه به شرط نه دی، نو **ان لم یکن وضعا...الخ** کې دا ان وصلیه دی او قانون دا دی چې نقیض د ان وصلیه، مدخول د ان وصلیه او لو وصلیه اولی بالحکم وي، نو که دا وصف لپاره د مسند الیه وي، نو په طریق اولی سره نحوه دی، قوله دا قول دشاعر دی الالمعی الذي یظن بك الظن، کان قد رای وقد سمعا ویل بیدار سړی، بل سړی هغه دی چې ګمان کوي په تا باندې د یو خبرې ګمان کول، د ذکي سړي ګمان داسې دی کان قد راي...الخ چې ده لیدلی وي یا اوریدلی وي، نو د ذکي سړي ګمان او د نورو خلکو لیدل او اوریدل دا په یقین کې برابر دی، لکه یو سړی یو خبره ووینې او یو سړی واوري د چا نه نو د هغه پرې یقین راشي، خو ذکي سړی دی د هغه ګمان داسې دی په یقین کې چې د یو خبرې لیدل په ستر ګو سره یا اوریدل ورته یو شان وي، دا مثال مطابق د ممثل سره دی، ځکه فالالمعی معناه الذکي المتوقد ذکي سریع الفهم وي، المتوقد، بل وي بیدار دی، نو اوس وروستو موصول چې صفت د دې ګرځیدلي دي الذي یظن بك الظن دا موصول سره د صلي نه دا صفت دی، الالمعي نو دغه صفت، والوصف بعده مما یکشف معناه ویوضحه د دې وجې نه د اصمعي نه چا تپوس وکړو، امام اللغة وو، چې ما الالمعي چې المعي څه شی دی؟ نو هغه ورته دا شعر پورته کړو، چې **الالمعي الذي...الخ**، نو چې هغه دا شعر ورته وویل نو په دې سره یې ورته د ده تعریف وکړو، لکنه ای الالمعی، لیس بمسند الیه، نو دا تشبیه صرف په دې کشف او ایضاح کې شوه، یا هلکه چې دا مسند الیه نه دی نو بیا ترکیب کې څه واقع شو؟ ویل لاته اما مرفوع علی انه خبر ان ویل هلکه ان په کوم ځای کې دی؟ ویل في البیت السابق ویل مخکې شعر کې دی، یعنې مخکې شعر کې اِن دی، دا د هغې خبر دی، یا هلکه هغه مخکې شعر کوم ځای دی، ویل اعني قوله ای الشاعر، شعر:

ان الذي جمع السماحة ' السخاوة والنجدة والبر والتقی جمعاء

نو هغه سړی چې هغې کې سماحة، نجدة البر، تقی کې دی هغه سړی الالمعی دی، نو الالمعی مرفوع شو خبر د ان شو او منصوب یا دا منصوب الالمعي علی انه صفة لاسم ان، نو معنی ان الذي جمع السماحة، داسې الذي الالمعي نو صفت شو د الذي لپاره، نو هغه منصوب محلا وو، نو دا هم منصوب محلا شو شبه یا هلکه بنا په دې باندې خبر د ان کوم ځای کې دی؟ نو تاسو وایئ خبر د دې نه وروستو شعر کې راځي هغه دی، چې:

اودی فلا تنفع الاشاحة من امر ' لمن یحاول البدعا

یعنې دی هلاکوي دا، او دی خبر شو وروستو د مرګ نه د یرې د وجې نه دی ځان هلاکوي، افسوس د وجې نه، نو فلا تنفع الاشاحة نو ویل نفعې نه ورکوي یره من امرٍ چې مرګ دی، لمن یحاول البدعا د

ناشنا شي نه د مرګ نه چې څوك يره كوي، دايره ورته څه نفع نه ورکوي، نو اوس ګوره چې يو سړی غواړي اُمور بديعيه، چې زه هميشه ژوندی شم او هميشه دې په دې دنيا باندې يم، نو مرګ نه سخت يريږي، نو دا ويره ورته نفع نه ورکوي، داسې چې دی هميشه په دنيا کې نه شي پاتې کيدای، يا دا منصوب دی بتقدير اعني، اعني الالمعي الذي دی، بله نکته ذکر کوي، او لکون الوصف په معنی اصطلاحي سره مخصصاً للمسند اليه شارح د تخصيص تعريف کوي، چې وصف مخصصه څه ته وائي؟ ای مقللاً لاشتراکه ای المسند اليه دا په نکراتو کې او رافعاً لاحتمال الاشتراك، دا په صفت معرفه کې معترض راغلی شبه يې وکړه په ماتن باندې، شبه دا راغله چې ستا مثال د ممثل سره مطابق نه دی، ځکه چې ممثل ستا مخصصاً دی نو د نحاتو په نيز باندې صفت مخصصه په نکراتو کې راځي او مثال کې تا ذکر کړی دی زيد التاجر عندنا هغه خو مفرد دی، او صفت په معارفو کې په معنی د رفع د احتمال سره وي، نو مثال دې مطابق د ممثل سره نه شو، نو شارح جواب وکړو چې **وفي عرف النحاة** چې يا هلکه د اهل عربو په نزد باندې په تخصيص او توضيح کې هيڅ فرق نشته دی، هغوی ديته مقلل لاشتراکه هم وائي او رافع لاحتماله ورته هم وائي، او دا فرق چې کوي نو د نحاة کوي، نو د نحاتو په نزد باندې مثال د ماتن اګر که مطابق د ممثل سره نه دی، خو د اهل عربيو په نزد باندې دی، او ماتن مثال بنا په مذهب د اهل عربيو باندې دی، وائي **وفي عرف النحاة التخصيص عبارة عن تقليل الاشتراك** چې موصوف نکره وي **والتوضيح عن رفع الاحتمال الحاصل في المعارف** خو دا فرق نحاة کوي، نحو زيد التاجر عندنا مثال مطابق د ممثل سره دی، فان وصفه ای زيد بالتاجر يرفع احتمال غيره، ای التاجر، زيد کې احتمال د تاجر او غير تاجر وو، هغه احتمال يې پورته کړو، دارنګه تقليل يې هم راوستلو ځکه مخکې زيد شريك وو په مينځ د تاجر او غير تاجر کې، نو تاجر سره يې غير تاجر خارج کړو، نوقلت په اشتراك کې راغلی، او لکون الوصف مدحاً او ذماً د مدح مثال نحو جاءني زيد العالم، د ذم مثال زيد الجاهل، معترض شبه وکړه چې دا مثال خو د مدحي او ذم نه دی، دا خو هم د تخصيص مثال دی، ځکه چې زيد شريك وو په عالم او جاهل کې، نو چې عالم يې وويل نو جاهل خارج شو، او چې جاهل يې وويل عالم خارج شو، نو دا خو مخصص شو، نو جواب وکړو ماتن حيث په هغه مقام کې يتعين الموصوف اعني زيداً، قبل ذکره ای الوصف يعني مخاطب ته هغه موصوف معلوم وي، د وصف د ذکر کيدو نه مخکې، دا ورته پته وي چې زيد عالم دی، او زه ورته ووايم چې زيد العالم نو مدحه مقصود شوه، تخصيص مقصود نه دی، ځکه دا خو تا ته معلوم ده چې زيد عالم دی، دارنګه تا ته معلومه ده چې زيد جاهل دی، او زه ورته ووايم چې زيد الجاهل نو دا نفس ذم شو، والا او که چيرته موصوف معلوم مخاطب ته مخکې د ذکر د وصف نه وي نو لکان الوصف مخصصا نو بيا دا مثال د مدحي او ذم نه صحيح کيدو، او لکونه، لکونه سره قاعدې د عطف ته اشاره کوي، يا ذکر د نعت د

مسند اليه کولی شي، **لکونه**: د وجې د کيدو د وصف نه تاکيداً، يعنې دې وصف کې مقصود تاکيد د مسنداليه وي، نحو امس الدابر نو امس مبتداء شوه، الدابر د دې صفت مؤکده شو، دا مبتداء سره د صفت مؤکده نه دا مبتداء شوه، او کان يوما ورته خبر شو، دا مثال مطابق د ممثل سره دی، خکه فان لفظ امس مما يدل علی الدبور په تير شوي وخت باندې، او دابر د هغې تاکيد شو، نو نکته د وصف د مسنداليه د ماتن نه پاتې شوی وه، نو شارح هغه بيانوي په غير د مسنداليه کې، په مسنداليه کې نه، نو وائي **وقد يکون الوصف لبيان المقصود** بيان د مقصود د موصوف نه او تفسير د دې مقصود وي، وصف نه مقصود نه کشف وي نه تخصيص وي، نه مدحه وي او نه ذم وي، بلکه وصف نه مقصود تفسير او توضيح د موصوف وي، د هغی مثال لکه کقوله تعالی وما من دابة في الارض نو دابة موصوف شو او في الارض ورله صفت شو، دارنګه ولاطائر نو طائر موصوف شو يطير بجناحيه ورله صفت دی، نو اوس دابة کې دوه احتمالونه وو، احتمال د فرديت هم وو چې نشته دی يو فرد د زنده سر، او دابة کې احتمال د جنس هم وو، چې نشته دې جنس زنده سره، نو اوس پته رانغله چې ايا مقصود د الله په دې نفي سره د يو فرد نفي مقصود ده، اوکه د جنس، نو الله ورسره دا ټکی ولګولو، هسې دابة چې في الارض دی، نو في الارض دلالت په جنس باندې کوي نو تفسير وشو، دارنګه ولاطائر کې، دې کې احتمال د يو فرد هم شته دی، چې يو فرد د طائر، او د جنس هم چې جنس طائر، او مقصود په دې نفي سره جنس وو، نو دا صفت يې ورسره ولګولو چې هسې طائر يطير بجناحيه او دا يطير بجناحيه صفت د جنس طائر دی، د يو فرد نه دی، نو تعميم راغلی، دا مثال مطابق د ممثل سره دی حيث وصف دابةً وطائراً بما هو من خواص الجنين خکه في الارض هم خاصه د جنس ده د فرد نه ده او يطير بجناحيه هم خاصه د جنس ده لبيان ان القصد منهما د دې دابة او طائرة نه الی الجنس دون الفرد بهذا الاعتبار په دې اعتبار چې دلته کې قصد جنس ته دی او فرد ته نه دی افاد هذا الوصف زيادة التعميم والاحاطة خکه چې جنس کې تعميم وي په نظر سره فرد ته، دارنګه جنس کې احاطه وي افرادو ته او فرد کې احاطه ټولو افرادو ته نه وي بلکه يو فرد ته وي.

دويم د توابعو نه تاکيد د مسنداليه دی، نو ماتن فرمائي چې واما تاکيده شارح تعيين د مرجع کوي چې توکيده کې ضمير مسنداليه ته راجع دی، ای توکيد المسنداليه، او دا توکيد خکه شارح را معاد کړو، داسې يې ونه ويل ای المسنداليه، خکه چې توکيد خو په متن کې وو؟ نو تاسو وايئ چې دا يې خکه معاد کړو، چې اعاده د مضاف اليه بغير د مضاف نه مستکره وي، نو مضاف اليه خو شارح اعاده کولو نو ورسره يې مضاف هم معاد کړو، نو فللتقرير شارح د تقرير ترجمه کوي ای لتقرير المسنداليه دي کې شارح يو اشاره وکړه چې فللتقرير کې الف لام عوض دی د مضاف اليه نه، مراد د تقرير نه تقرير د مسنداليه دی، دويم غرض د شارح په لتقرير المسنداليه کې، رد اجمالي ته يې اشاره وکړه

وروستو په قيل باندې، څکه قيل د تقرير نه تقرير د حکم او مسندالیه دواړو اراده کړی دی، نو شارح رد اجمالي دلته وکړو چې تقرير نه مراد تقرير د مسندالیه کړتې دی، او د تقرير د حکم نشته دی، او وروستو به قيل سره د قيل مذهب به نقل کړی نو بيا به پرې رد تفصيلي کوي،او دلته رد اجمالي شو، اوس دا تفسير چې کوي چې ای تحقيق مفهومه دې تفسير کې شارح اشاره وکړه دفع د اعتراض ته، چې يا هلکه د تقرير د مسندالیه نه به دا مراد وي چې ته به ذکر د مسندالیه کوي په خُولې باندې اولاً او بيا به ذکر کوي هغه شي په خولې باندې چې ثابتوي يې مسندالیه لره، دا به مراد وي،څکه تقرير خو په خُوله باندې تلفظ کولو ته وائي، نو ته ذکر د مسندالیه به کوي اولاً، او بيا به داسې شی ذکر کوي چې هغه ثابتوي مسندالیه لره، د تقرير نه به دا مراد وي؟ نو دی راغلی جواب يې وکړو چې نه د تقرير نه دا مراد نه دی،بلکه تقرير نه مراد تحقيق د مفهوم د مسندالیه دی، يعني هغه مفهوم د مسندالیه په ذهن د سامع کې ښه ثابتول، دا نه دی مراد چې متکلم يو ځله مسندالیه ذکر کړی په خوله باندې او بيا متکلم هغه شی ذکر کړی چې هغه شی ثابتوي دې مسندالیه لره د تقرير نه دا نه دی مراد ، بلکه تقرير نه مراد ثابتول د مفهوم د مسندالیه دی په ذهن د سامع کې، معترض راغلی شبه يې وکړه چې د مفهوم اطلاق خو کيږي په مفهوم حقيقي باندې، نو بيا هغه تاکيد د مسندالیه خارج شو چې هغه تاکيد د معنی مجازي وي، لکه ته ووائي چې رَقَی الاسدُ نفسه نو اسد فاعل د مسندالیه دی، او نفسه د دې اسد لپاره تاکيد معنوي دی، او دا يې تحقيق د مفهوم مجازي وکړو، او مفهوم نه خو متبادر دا دی چې مفهوم حقيقي به مراد وي، نو شارح جواب وکړو چې ودرلولم يا هلکه تحقيق د مدلول د مسند اليه، او مدلول عام دی حقيقي ته هم وائي او مجازي ته هم وائي، اعني سره غرض د شارح دفع د اعتراض کوي چې يا هلکه مراد به د تحقيق د مفهوم د مسندالیه نه او د تحقيق او مدلول د مسندالیه نه ازالة الخفا به مراد وي، چې په مخکې مسند اليه کې څه خفا وي، څه پتوالی وي نو دې تاکيد تحقيق سره هغه خفا زائله کوي، نو مراد د تاکيد نه به ازالة الخفا وي؟ او حالانکه د تاکيد په نکاتو کې ازالة الخفاء خو چيرته نه دی راغلی، چې تاکيد سره ازاله د خفا کيږي د مؤکد نه، نو دی راغلی جواب يې وکړو په اعني سره چې مراد د تحقيق نه ازالة الخفا نه دی، تحقيق نه مراد مکرر او محقق او ثابتول مراد دی، نو اعني قصد کوم زه په دې تحقيق سره جعله ای مفهوم المسندالیه مقرراً محققاً ثابتاً، دا درې واړه لفظه يې ولې ذکر کړي؟ دې کې يې اشاره وکړه چې دا درې واړه الفاظ مترادفه دي معنی يوه ده، مقرر او محقق او ثابت داسې بحيث لا يظن به غيره په داسې شان سره چې ګمان نه کوي سامع دی مسند اليه باندې غير د مسندالیه نه، چې دغه مسندالیه په ذهن د سامع کې داسې ثابت شي چې سامع په دې مسندالیه باندې ګمان د غير ختم شي، مثال ښائي شارح نحو جاءني زيد زيد دا مثال مطابق د ممثل سره دی، چې دا دويم زيد تاکيد لفظي شو د دې زيد اول لپاره چې دا مسندالیه او

فاعل دی. دا په هغه ځای کې اذا ظن المتكلم غفلة السامع عن سماع لفظ المسند اليه اوس ما تاته وویل چې جاءني زيد نو ما ګمان وکړو چې دی مختار احمد خپل پښن ته کاته یا خپل جیب ته کاته او د دا زید نه دی اوریدلی نو ما ورته وویل چې یا هلکه زید، دوباره نو تاکید د دې لپاره شو. او عن حمله، کله چې ګمان وکړي متکلم غفلت د سامع عن حمله د حملولو د سامع نه مسند اليه لره على معناه، نو اوس ما تاته وویل چې ای مختار احمد جاءني زيد نو تا په ما باندې دا ګمان وکړو چې د مولوی صاحب مراد جاءني عمرو وو، خو خوله یې خطاء شوه په ځای د عمرو یې زید وویل. نو ما درته وویل چې هلکه زید، زما خوله نه ده خطاء شوې، یا حمله کې ضمیر راجع کوئ متکلم ته، کله چې ګمان وکړي متکلم د غفلت دسامع د حملولو د متکلم نه په معنی خپله باندې، یعنې ته په ما باندې ګمان وکړي چې د مولوی صاحب مراد د زید نه عمرو دی، یا حمله کې ضمیر مسند اليه ته راجع کوئ، خو مطلب د دریو واړو یو دی، وقیل سره شارح نقل د قول د قیل کوي او بیا پرې رد کوي، نو وائي وقیل ویلی شوي دي په توجیه د متن کې، قیل راغلی دی هغه د ماتن د متن په توجیه کې ویلي دي، په فلتقریر ترجمه کې، چې المراد به ای التقریر مراد د ماتن تقریر الحکم یعنې تاکید د مسند اليه کولی شي لپاره د تقریر د نسبت حکم نه مراد نسبت، اسناد دی، او بیا دې قیل مثال ښودلی دی نحو انا عرفت. نو انا مسند اليه دی، او بیا عرفت کې تُ تاکید د انا دی، نو هغه وائي دلته تاکید د دې مسند اليه نه تقریر د حکم دی په تقریر د اسناد سره ځکه چې یو ځله عرف مسند شو تُ ته، او بیا مجموعه عرفتُ مسند شو انا ته نو تکرر د اسناد سره تقرر د حکم راغلی، نو دلته کې توکید د مسند اليه لپاره تقریر د حکم شو او المحکوم علیه دې کې دی د شارح سره یو ځای دی، لکه مثال ده دا ښودلی دی چې نحو انا سعیت في حاجتك اوس زما دا خیال وو چې زما په دې کار کې شفیع الله او امیر محمد دواړو سعي کړې ده، نو شفیع الله ووائي چې انا سعیت في حاجتك وحدي نو وحدي تاکید شو، ویل ما یواځې ستا په دې حاجت کې سعي کړې ده ماسره امیر محمد نه وو، دا په قصر افراد کې یا ما دا خیال وکړو چې زما په دې حاجت کې سعي امیر محمد کړې ده شفیع الله نه ده کړې، نو شفیع وائي چې انا سعیت في حاجتك لاغیر، ما سره امیر محمد نه دی کړی، نو قصر قلب شو، نو شارح مذهب د قیل نقل کړو نو اوس په دې باندې شبه کوي، چې وفیه نظر چې په دې ما قال د قیل کې نظر دی، خو اوله خبره باندې چې رد کوي نو مذهب د قیل باندې رد کوي چې د تقریر نه تقریر د حکم اخیستل دا خطاء ده ستا، نو چې مذهب رد شو نو مثال خود بخود رد شو، او په دې دویم باندې چې رد کوي نو مذهب باندې رد نه کوي، یعنې تقریر نه تقریر د مسند اليه اخیستل صحیح دي ځکه دا خو د شارح هم مذهب دی، خو دې مثال کې ته خطاء ئې

دويمه دا خبره زده کوئ چې دا رد چې کوي په طريقه د لف نشر غير مرتب سره کوي، دې دويمه خبره باندې مثال باندې رد اولاً کوي او په دې اول باندې رد ثانياً کوي. يا د دې وجې نه چې شارح خطاء ئې، نو په طريقه د لف نشر غير مرتب سره يې رد وکړو، خکه شارح انسان وو، خطاء شو، خوله يې خطاء شوه. يا ورته ووايه چې د قرب د وجې نه، خکه چې دا ثاني قريب وو نو هغې باندې يې رد هم مخکې کړو. ويل لاته دغه مثال چې تا بسودلی دی، انا سعيت في حاجتك وحدي، تاکيد لپاره اولا غيري تاکيد لپاره، دا ليس من تاکيد المسند اليه في شئ، ويل دې مثال کې ته خطاء شوی ئې، خکه چې زمونږه مراد د تاکيد نه تاکيد اصطلاحي دی، او تاکيد اصطلاحي دوه قسمه دی، يو تاکيد لفظي دويم تاکيد معنوي، نو تاکيد لفظي راځي په تکرار د لفظ اول سره او تاکيد معنوي کيږي په الفاظ محصوره ؤ معدوده ؤ سره، نو اوس دغه وحدي او لاغيري د انا لپاره تاکيد نه شي کيدی خکه تکرار د لفظ اول خو نه شو دغسې چې کوم دی وحدی او لاغيری تاکيد معنوي هم د انا لپاره نشي کيدی خکه الفاظ معدوده لکه، ابتع، ابصع نه دی، نو دا مثال کې ته خطاء شوی ئې، بلکه دا د قصر لپاره تاکيد دی د تخصيص لپاره تاکيد دی، د مسند اليه لپاره نه دی، اوس اول مذهب رد کوي **وتاکيد المسند اليه** شارح وائي چې توکيده کې ضمير مسند اليه ته راجع دی، نو تاکيد المسند لايکون لتقرير الحکم فقط چې ته کوې تاکيد د مسند اليه او د هغې ته تقرير د حکم راوړي، دا چرې نه کيږي وسيصرح المصنف بهذا ويل تاکيد د حکم جدا شی دی او تاکيد د مسند اليه جدا شی دی، نو دلته کې تاکيد دمسند اليه چې کوي نو لپاره د تقرير د حکم نه وي، او که ته ما ته دا خپل مثال ښائي چې انا عرفت نو دلته کې تاکيد د حکم راغلی تقرير د حکم، نو دا د مسند اليه د وجې نه ندی راغلی د تکرير د اسناد وجې نه راغلی دی، او دليل دا دی چې دلته کې دا تاکيد چې راغلی دی د تقرير د اسناد د وجې نه، د تاکيد د مسند اليه د وجې نه ندی راغلی، خکه چې کوره تاسو وايئ چې انا عرفت کې تاکيد د حکم شته دی او عرفت انا کې نشته، خو اوس که دلته کې تقرير د حکم د تاکيد د مسند اليه د وجې نه راغلی وي، نو بيا د انا مخکې او وروستو دواړه يو شانتې حکم دې وي، او تاسو وايئ چې انا عرفت ووايئ نو تقرير د حکم راځي، او که ته عرفت انا ووائي نو بيا نه راځي، نو دلته معلومه شوه چې دلته کې تقرير د حکم د تقرير د اسناد د وجې نه راغلی نه د تاکيد د مسند اليه د وجې نه

او دفع توهم التجوز مجاز والی، معترض راغلی شبه يې وکړه چې يا هلکه متکلم دفع د هغه شئ کولی شي چې هغه مقدور د متکلم وي او مجاز والی، مجاز مقدور د متکلم خو نه دی، چې قرينه وي نو هغه لفظ دلالت په مجاز باندې کوي، نو هغه مجاز خو متکلم نه شي دفع کولی؟ نوشارح راغلی جواب يې وکړو چې دلته کې عبارة کې حذف دی، يا دفع د توهم د تکلم بالمجاز، ای التکلم بالمجاز، اوتکلم بالمجاز دا مقدور د متکلم دی نه غير مقدور، مثال لکه نحو قطع اللص الامير، قطع کړی وو

لاس د غل امير، نو دلته کې الامير، يو ځله وويل نو احتمال د تجوز راغلی چې قاطع د لص دي غلمان نوکران وي، نو تا تاکيد وکړو چې الامير چې نه نه هغه په خپله قطع کړی وو، تاکيد لفظي شو، د معنوي مثال نفسه او عينه دا مثال مطابق د ممثل سره دی لئلا يتوهم ان اسناد القطع الی الامير مجاز وانما القاطع بعض غلمانه او لدفع توهم السهو، دا هغه قاعدې د عطف ته اشاره کوي، السهو په التجوز باندې عطف شو، نو مخکې دفع وو، نو دلته کې هم دفع ذکر کوي، يا لپاره د دفع کولو د توهم د سهوې د هيريدو د متکلم، نو اوس ګوره ځان پرې پوهه کوئ، دفع د توهم د تجوز، د تکلم بالمجاز په تاکيد لفظي، معنوي دواړو کې راځي، او دفع د توهم د سهوي دا په تاکيد لفظي سره راځي او معنوي سره نه راځي، نوشارح ځکه يتوهم ان الجائي غير زيد خو متکلم هير شوی دی، د عمرو په ځای يې زيد ذکر کړی دی، وانما ذکر زيد علی سبيل السهو، او لدفع توهم عدم الشمول، يعنې مخکې مسندالیه کې توهم د عدم شمول وو دا مسندالیه به ټولو افرادو ته به شامل نه وي، نو متکلم تاکيد وکړو لپاره د شمول، نحو جاءني القوم کلهم ووائي ته يا اجمعون ووائي، دا مثال مطابق د ممثل سره دی لئلا يتوهم ان بعضهم لم يجئ تا وويل جاء القوم، نو توهم وکړو مخاطبينو، سامعينو چې بعضې به نه وي راغلی نو تا هغه توهم دفع کړو چې کلهم ټول راغلي دي، الاانك سره دی دفع د اعتراض کوي، چې يا هلکه دا توهم خو نه راځي، ځکه چې قوم خو نوم د بعضو نه دی، ځکه چې قوم مطلق ذکر شوی دی، خو چې قوم مطلق ذکر شو نو بيا توهم د بعضو څنګه کيدای شي دا توهم خو به هله کيدای چې بعضې صريحي وي، او بعضې خو نشته، بلکه القوم يې ويلی دی، او قوم مطلق دی د دې نه بعضې اراده کول نه صحيح کيږي، نو الاسره دی جواب کوي په دوو طريقو سره چې د بعضو اراده کول شته دی، منشاء ورله شته دی، داسې چې راغلی وو چې رؤساء سبزادګان، غټ غټ راغلي وو، او چې پاتې شوي وو، نو ګوجر موجر، ډمان ممان، جولاګان مولاګان پاتې شوي وو، نو هغې ته يې اعتبار ونه کړو، نو تا وويل جاءني القوم نو هم په دې طريقې سره راغلی، الاانك لم تعتد بهم نو تا قوم مطلق ذکر کړه، نو يو طريقه دا شوه د توهم د بعض، دويمه طريقه دا ده چې او انك جعلت الفعل الواقع من البعض چې مجئ دی، هغه فعل دلته کې مجئ دی، کالواقع من الکل، د بعضو راتلل داسې دي لکه د ټولو راتلل، ځکه بناء علی انهم في حکم شخص واحد لکه يو وفد راته او وفد مشورې سره تللی وو، لکه دلته کې مونږه او تاسو ټولو مشوره وکړه چې هلکه يو وفد خو ځو د فلاني سړي خوا ته، بس کسان مثلاً د دې مجمع نه منتخب شو، نو په مشوره سره مونږه او تاسو لس کسان وليږل نو بره هغه لس کسان راغلي وو، ويل ځکه تعاون او مشوره کې مونږه او تاسو ټول شريك يو.

واما بيانه شارح ورسره لګوي اى تعقيبُ المسند اليه بعطف البيان دي کې يو يې اشاره وکړه ترجمې د متن ته، دويم اشاره يې وکړه چې بيان په معنى مصدري سره دى تابع مخصوص مراد نه دى، وروستو راوړل د مسند اليه نه عطف بيان، د مسند اليه نه وروستو عطف بيان ځکه راوړى دى فلايضاحه اى المسند اليه باسم مختص به، اى المسند اليه، نحو قدم صديقك ستا د دوستانو نه دنيا ډکه ده، نو خفا راغله، چې هلکه ستا دوستان خو ډير دي کوم دوست! وضاحت وکړه! ويل خالد راغلى وو، اوس د ماتن د کلام نه درې خبرې معلومې شوې، هغه دريو واړو خبرو باندې شارح شبه کوي، يو خبره د متن نه دا معلومه شوه، چې په عطف بيان کې ثاني به اوضح وي د اول نه، دا د فلايضاحه نه معلوم شو، ځکه دا ايضاح د مسند اليه هله کوي چې خپله اوضح وي، شارح په دې باندې شبه کوي نو ماتن د کلام نه يلزم وو، نو شارح پرې شبه کوي چې ولا يلزم، ويل ولا يلزم ان يكون الثاني چې هغه مبين دى اوضح من الاول لجواز ان يحصل الايضاح من اجتماعهما لکه مثال داسې شو يو جماعت دى د پينځو کسانو د دې ځلورو نومونو په کې زيد دى او د دې پينځم نوم عبدالله ابو عبد الله كذا في حاشية المختصر، او بل خوا بل جماعت دى د پينځو په دې کې د دې ځلورو نوم دى عبد الله او د دې پينځم نوم زيد دى، اوس تا وويل جاءني زيد نو زيد خو په دې اول جماعت کې دا ځلور کسان دي، يا تا وويل جاءني عبدالله نو عبد الله خو دا نور ځلور کسان دي، نو خفاء راغله، نو اوس اول کې تا وويل جاءني عبدالله نو خفا راغله چې کوم عبد الله، نو دې وويل چې زيد نو دلته کې ايضاح د اجتماع د وجې نه راغله چې ثاني اوضح شو، دويمه خبره دا د ماتن د خبرې نه معلومه شوه چې عطف بيان په اسم مختصه سره به کيږي، ځکه ماتن صريح وويل چې دا مبين اسم مختصه به وي د دې مبين، مسند اليه لپاره، په دې باندې شارح شبه کوي چې ويل وقد يكون عطف البيان بغير اسم مختص به اى المسند اليه، هغه مسند اليه پورې مختص نه وي، كقوله اى الشاعر:

والمؤمن العائذات الطير يمسحها ركبان مكة بين الغيل والسند

ويل قسم دې وي په امن ورکوونکي ذات باندې چې الله دى چې امن ورکوي هغه پناه غوښتونکو ته په حرم کې، هغه پناه غوښتونکى څوک دى؟ الطير: مارغان دي، چې رسوي دي مارغانو ته وويل عائذاتو ته، ركبان مكة هغه قافلې د مکي بين الغيل والسند په ما بين د غيل او د سند مقام کې، يعنې لاس ورته رسوي، مارغان دغسې نيولى کيږي، ليكن الله ورته پناه ورکړي، چې تاسو به دوى ته تعرض نه کوئ، نو اوس ګوره الطير عطف بيان دى د العائذات لپاره او دا غير اسم مختص د عائذاتو نه دى، ځکه غير او عائذاتو کې عموم خصوص من وجه دى، عائذات به هم وي او غير به هم وي، لکه د حرم مارغان شو، عائذات به وي او طير به نه وي، لکه سړى شو په حرم کې، طير به وي او عائذات به نه وي، لکه د دې ملک مارغان شو، طير دى او عائذات نه دى، لان الطير عطف بيان للعائذات مع

انه ليس اسما مختصابها، دويمه خبره د ماتن د متن نه دا معلومه شوه، چې عطف بيان هميشه د ايضاح لپاره کيږي، او دا د فلايضاحه نه معلومه شوه، نو ويل دا خبره خطاء ده، ځکه چې واقعه يعنې **عطف البيان لغير الايضاح**، د مدح لپاره کما في قوله تعالى جعل الكعبة البيت الحرام قياماً للناس لپاره د حصول د ثواب ذکر صاحب الکشاف ان البيت الحرام عطف بيان للكعبة نو دا ايضاح لپاره نه دی، ځکه بيت الحرام د کعبې ته اوضح نه دی، ځکه کعبه خو هغه مخصوص ځای ته وائي، هغه کمرې ته وائي، هغه اوضح دی، او مسجد حرام خو بيت الحرام خو ټول حرم ته وائي جئ به للمدح لاللايضاح کما يجئ الصفة لذلك لکه چې د ايضاح لپاره هم راځي، خو تاسو ماتن د طرف نه جواب وکړئ چې دا دري خبرې د ماتن په طريقې د اکثريت سره دي د اغلبيت سره دي، کليت سره نه دي.

ماتن وويل **واما الابدال منه** شارح ورسره لګوي اى من المسند اليه، دې نه غرض د شارح، تعين د مرجع کوي، ابدال د يو شي د مسند اليه نه ځکه کيږي چې فلزيادة التقرير پس لپاره د زيادة ثابتولو د مسند اليه په ذهن د سامع کې، **منه**: سره غرض د شارح دا دی چې بيان د احتمالينو کوي په دې اضافت د زيادة کې تقرير ته، چې په دې اضافت د زيادة کې تقرير ته دې کې دوه احتمالين دي، نو اول احتمال ته يې اشاره وکړه، چې من اضافة المصدر الى المفعول دا اضافت دا اضافت د مصدر دی مفعول ته او دويم احتمال ته يې اشاره وکړه او من اضافت البيان يا اضافت د زيادة تقرير ته بياني دی، يعنې منې دی، او بنا په تقدير اول باندې چې اضافت مفعول ته شو نو اضافت لامي جوړيږي، اى سره د افت بياني ترجمه کوو، وائي اى للزيادة التي هي التقرير ځکه اضافت بياني کې هغه مضاف عين مضاف اليه وي، نو معنى هغه زيادة چې هغه عين تقرير دی، نو د شارح غرض دا شو چې بيان د احتمالينو يې وکړو په دې اضافة د زيادة کې تقرير ته، اوس دا دوه احتمالين بنا په دې نورو دوو احتمالينو باندې دي، هغه نور دوه احتمالين دا دي چې زيادة کې دوه احتمالين دي: ١ يا زيادة نه مراد مصدر معلوم اراده کوه، ٢ يا زيادة نه مراد حاصل بالمصدر واخله، نو که زيادة نه مراد مصدر معلوم شي چې زياتول، دا مصدر معلوم دی، نو بيا اضافت د مصدر شو مفعول ته، نو ترجمه دا شوه چې زياتول د متكلم تقرير لره، نو اضافت لامي شو، او که زيادة نه مراد حاصل بالمصدر شي چې زياتوالى دی، زياتوالى مرتب په زياتولو باندې وي، نو بيا معنى دا شوه چې زيات والى د تقرير، نو زياتوالى او تقرير يو شى دی، نو اضافت بياني شو، نو دا دوه احتمالين د شارح بناء شو په دوو احتمالينو باندې په صيغې د زيادة کې چې دا يا مصدر معلوم دی يا حاصل بالمصدر وهذا من عادة افتنان صاحب المفتاح اوس اصل کې د بهر نه ماتن باندې شبه راغله، شبه دا راغله چې هلکه دلته کې ټول تال صورتونه په تعبير کې څلور وو، يو صورت دا وو چې بسکته په تاکيد کې هم تا زيادة ذکر کړی وی او دلته کې هم تا زيادة ذکر کړی وی، چې دا دې ويلي وو چې **واما توكيده فلزيادة التقرير واما الابدال منه**

فلزيادة التقرير چې دواړو کې دې زيادة ذکر کړی وی، نو موافقت به راغلی وو، او موافقت اولی دی د مخالفت نه، دويم صورت دا وو، چې دواړو کې تا زيادة نه وی ذکر کړی، تاکيد کې دي هم دغسې ويلې وي چې واما توکيده فللتقرير او واما الابدال منه فللتقرير او دا ځکه چې دې کې هم موافقت وو، او موافقت اولی دی د مخالفت نه، دريم صورت دا دی چې په تاکيد کې دي زيادة ذکر کړی وي او دلته کې دې نه وی ذکر کړی، داسې دې ويلی وی چې واما توکيده، فلزيادة التقرير واما الابدال منه فلتقرير دا ځکه چې ته خامخا مخالفت کوې، نو مخالفت دغسې په عکس سره هم راځي.

څلورم صورت دا دی چې کوم ماتن ويلی دی، چې هلته کې تاکيد کې زيادة نشته دی، او دلته کې ابدال کې زيادة شته، نو ټول صورتونه څلور شو، نو ماتن دا څلورم صورت ولې مختاره کړو، هغه دې مخکښې صورتونه يې ولې نه مختارول، چې صرف دا څلورم صورت يې مختار کړو، دا شبه راغله د بهر نه په ماتن باندې، نو د ماتن نه تاسو جواب وکړئ، او جواب د ماتن د طرف نه د بهر نه دی، چې يا هلکه ماتن داسې کار کړی دی، او څلورم صورت يې مختار کړی دی، دا **وفاقاً للسكاكي** سکاکي داسې ويلي وو، نو ماتن هم وفاقاً له داسې وويل، هلته کې په کلام د سکاکي کې زيادة نۀ وو، ابدال کې وو، نو ماتن هم دغسې وويل، دا سوال او جواب خو د بهر نه شو، اوس په سکاکي باندې شبه دا وډزبده چې سکاکي دا کار ولې کړی دی؟ چې سکاکي په دې څلورو صورتونو کې دې اُول مختار نه کړل، دا څلورم صورت يې مختار کړو، نو هغه دا ولې کړی دی؟ نو اوس د هغه نه شارح جواب کوي چې ويل سکاکي تفنن في العبارة کړی دی، ويل وهذا من عادة افتنان صاحب المفتاح ويل هغه تفنن في العبارة کړی دی، داسې چې حيث قال في التاكيد للتقرير وههنا لزيادة التقرير تفنن في العبارة څه ته وائي؟ ايراد د عبارة په انواع مختلفو سره، تفنن د فن نه دی، فن نوعي ته وائي، نو ايراد د عبارة... الخ ديته تفنن في العبارة وائي، اوس سکاکي باندې بله شبه راغله، چې نبه سکاکي دا کار کړی دی تفنن في العبارة لپاره نو د تفنن لپاره خوځه نکته وي، نونکته څۀ ده؟ يوشبه دا، دويمه شبه دا راغله چې تفنن خو په عکس سره هم کيدی شو، چې هلته يې زيادة ذکر کړی وي، او دلته يې نه وي ذکر کړی خو چې خامخا سکاکي تفنن کولو، نو هغه په عکس سره هم راتلو، نو دی جواب کوي **ومع هذا لا يخلو عن نكتة لطيفة** ويل تفنن يې په دې طريقه رابعي سره کړي دی، صورت ثالث په طريقې سره يې تفنن نه دی کړی، ځکه چې په دې کې پونکته لطيفه ته اشاره وشوه، هغه نکتة لطيفه دا ده چې **وهي الايماء الى ان الغرض من البدل هو ان يكون مقصوداً بالنسبة** چې بدل کې مقصود بالحکم دغه بدل دی، مبدل منه هسې توطئه او تمهيد دی، دا تقرير زائد دی په مقصود باندې، او په تاکيد کې مقصود دغه تقرير دی بل څه شی نه دی، نو د دې وجې نه يې تفنن د صورت رابع په طريقه سره وکړو، او په صورت ثالث سره يې ونه کړو، نو ځکه وائي چې وهي الايماء... الخ والتقرير زيادة تحصل تبعاً وضمناً، بخلاف

التاكيد فان الغرض منه نفس التقرير والتحقيق، نحو جاءني اخوك زيد معترض راغلی شبه يې وکړي
چې هلکه مثال نه مقصود خو توضيح د ممثل وی، او توضيح د ممثل په يومثال سره راځي نو مثال
درې مثالونه ولې ذکر کړل؟ دې ته خو ضرورت نه وو، نو شارح جواب وکړو چې تعدد د امثله وبيا
دی په تعدد د ممثل باندې، في بدل الكل ويل دا په بدل کل کې دی، بدل کل ديته وائي چې بدل عين
مبدل منه وي په مصداق کې، مفهوم کې اګر که مغايرت وي، ګوره مصداق د اخ د مخاطب او د زيد
يو دی، او مفهوم د اخوك او زيد جدا جدا دی، او دلته کې اوس تقرير شته دی چې ويحصل التقرير
بالتكرير حاصليږي ثابتول د مسندالیه په ذهن د سامع کې په تکرير سره، ځکه کلما تکرر تقرر، او بيل
مثال وجاءني القوم اكثرهم في بدل البعض بدل بعض ديته وائي چې هلته کې بدل بعضي د مبدل منه
وي، نو اکثر قوم بعضي وي د قوم نه، وسلبَ عمرو ثوبهُ في بدل الاشتمال بدل الاشتمال ديته وائي چې
مبدل منه مشتمل وي په بدل باندې او بدل مشتمل وي، ثم قال الشيخ بدل مشتمِل وي په مبدل منه
باندې لکه دلته کې ثوب مشتمل دی په عمرو باندې، او مبدل منه مشتمل وي، اوس سائل راغلی
سوال يې وکړو چې يا هلکه په دې بدل بعض او بدل اشتمال کې تقرير څنګه راځي، دا مسندالیه په
ذهن د سامع کې څنګه ثابتيږي، نو وائي شارح جواب کوي وبيان التقرير فيهما په دې بدل بعض او
اشتمال کې دا دی چې ان المتبوع يشتمل على التابع اجمالاًدا وروستو تا هغه تابع ذکر کړو نو
تفصيل بعد الاجمال راغلی، او تفصيل بعد الاجمال دا تقرير فائده کوي اوقع في الذهن وي، متقرر في
الذهن وي، **حتى كانه اى التابع مذكور** يعني مخکې هم مذکور وو وروستو دويم پيرې تفصيلاً هم
مذکور شو، نو دوه پيرې مذکور شو نو تکرار راغلی، کلما تکرر تقرر شو، نو دا متبوع په تابع باندې
مشتمل دی، اوس په بدل بعض کې نو وائي واما في البعض اى بدل البعض فظاهر څکه قوم مشتمل
په اکثر باندې دی، څکه چې قوم کلي دی او اکثر جزء دی، او کلي مشتمل وي په جزء باندې اجمالاً او
وروستو بياناً اکثرهم سره تفصيل وکړو نو تکرار راغلی، نو ګويا چې دا بدل دوه ځله ذکر شو، نو
مخکې اجمالاً وروستو تفصيلاً، نو کلما تکرر تقرر شو، اوس دی وائي اشتمال کې څنګه دی؟ څکه
ثوبه خو مخکې اجمالاً په عمرو کې نه وه، نو دی جواب کوي چې **واما في الاشتمال اى بدل الاشتمال فلان
معني الاشتمال ان يشتمل المبدل منه على البدل، من حيث يكون اى المبدل منه مشعراً به، اى البدل اجمالاً**، دا وروستو
ورسره مخکې لګوئ، يعني دا مبدل منه اشعار او خبر درته درکوي په دې بدل باندې اجمالاً، او دغه
مبدل منه متقاضي وي طالب وی د دې بدل لپاره بوجه ما په يو وجې سره د وجوهو نه په يو نوع سره د
انواعو نه، نو دا مبدل منه به متقاضي وي او دا بدل به مقتضی وي، اوس شارح دا په کې مينځ کې
وويل چې يا هلکه اشتمال نه مراد اشتمال د ظرف على المظروف به وي نو سلبَ عمرو ثوبه کې خو دا
نشته دی، نو شارح دغه توهم دفعه کړو چې اشتمال نه مراد اشتمال د ظرف على المظروف نه دی لا

كاشتمال الظرف على المظروف بلكه عام چې اشتمال د ظرف على المظروف وي كه اشتمال د ملبوس د لباس باندې وي، كه اشتمال د موصوف په صفت باندې وي هر څنګه چې وي، اوس د دې عبارت چې لاكاشتمال الظرف على المظروف دوه ترجمې دي يو ترجمه خطاء ده او بله ترجمه صحيح، كه دا ترجمه تاسو وكړئ چې اشتمال د ظرف په مظروف باندې د سره نه وي په بدل الاشتمال كې بالكلية، په شان د اشتمال د ظرف په مظروف باندې، نو دا ترجمه بيا خطاء ده، ځكه چې قران كې به زه درته بنايم چې بدل اشتمال به وي او اشتمال د ظرف به په مظروف باندې وي، لكه يسئلونك عن الشهر الحرام دا مبدل منه شو، يعنې قتال فيه نو دلته كې اشتمال د مبدل منه په بدل باندې د اشتمال د ظرف په مظروف باندې دى، ځكه چې الشهر الحرام ظرف دى، او قتال فيه مظروف دى، نو دا ترجمه خطاء شوه، دويمه ترجمه صحيح ده، هغه دا چې داسې ترجمه وكړئ لايشترط كاشتمال الظرف على المظروف نو چې شرط نه شو نو كله اشتمال د ظرف على المظروف بدل الاشتمال، به وي او كله غير اشتمال الظرف على المظروف به وي، خو دا په كې شرط نه دى، نو دلته كې نفي د مطلق اشتمال الظرف على المظروف نه شوه بلكه نفي د شرط شوه، **بل:** بلكه داسې به وي، بل: سره يې ځكه ترڅې وكړه، چې هر كله اشتمال الظرف على المظروف شرط نه شو نو عام شو، **بل من حيث يكون اى البدل منه مشعراً به اجمالاً ومتقاضيا له بوجه ما داسې بحيث تلقي النفس نفس السامع عند ذكر المبدل منه متشوقة الى ذكره اى البدل منتظرة له** نو گويا بدل اجمالاً راغلى، ځكه چې سامع شوق كوونكى شو ذكر د بدل ته، انتظار كوونكى شو د ذكر د بدل لپاره، نو دا معنى د اشتمال د مبدل منه په بدل باندې شوه، او هغه بدل په مبدل منه كې اجمالاً راغلى، لكه اوس مثال كې داسې شوه چې لكه تا وويل چې سُلِبَ عمرو نو د سُلِبَ دوه ترجمې دي يا سولولى شو عمرو، شبه: چې يا هلكه عمرو څنګه سولولى شوى وو، عمرو خو سړى دى، سوليدل ديته وائي چې كميدل د يو شي، نو اوس سامع منتظر شو چې هلكه عمرو خو سولولى كيږي نه، نو د متكلم به بل څه غرض وي، هغه شى به وي چې هغه قابل د سوليدلو دى، نو سامع منتظر شو نو چې شو نو تا وويل ثوبه يا هلكه جامه يې سوليدلې ده، نو دا حصول د بدل بعد الشوق راغلى، نو تقرير په كې راغلى، يا د سُلِبَ ترجمه دا ده چې خطاء شو، دا سوليدل او زړيدل خو يو معنى ده، دويمه معنى دا چې ويستلى شوى وو عمرو، سُلب د نُزِع په معنى سره، نو عمرو څنګه ويستلى كيږي؟ عمرو خو يو ذات دى حيوان نو هغه خو نه شي ويستلى كيداى، نو سامع متشوق او منتظر شي، نو انتظار او شوق په دواړه معنو كې راځي، وبالجملة شارح وائي اقول بالكلام المجمل، دا اوس شارح ته چا وويل چې مبدل منه، متقاضي مشعر شو، په بدل باندې، او سامع متشوق او منتظر شو، نو مونږ پوهه نه شو، چې مبدل منه څنګه مشعر شو په بدل باندې، په مبدل منه كې ذكر د بدل څنګه وشو، نو وائي وبالجملة اى اقول بالكلام المجمل چې يجب ان يكون المتبوع فيه اى بدل الاشتمال

بحيث يطلق اطلاق كيږي په دې متبوع هغه متبوع ذکر کولی شي ويراد به التابع نحو اعجبني زيد ن
اوس سامع دلته کې متحير شو چې يا هلکه تعجب خو په ذواتو باندې نه واقع کيږي، تعجب خو
اوصافو باندې واقع کيږي، واعجبني زيد ذات د زيد څنګه تعجب کې غورځوي، ځکه تعجب لپاره
سبب ذات نه وي اوصاف وي، نو سامع ته پته ولګيده چې د دې نه وروستو بل يو شی شته دی، چې
هغه صالح لپاره د تعجب دی، يعني متکلم به يو بل شي ذکر کوي چې هغه صالح لپاره د تعجب دی،
نو تا ورته وويل چې علمه اوس د سامع تحير ختم شو اذا اعجبك علمه اوس بخلاف ضربت زيداً تا
وويل ضربت زيداً حماره دا رد کوي په ابن حاجب باندې، ابن حاجب ضربت زيداً حماره دا حمار بدل
اشتمال ګرځولی دی د زيد نه، نو شارح په معنی باندې رد کوي، چې دا بدل اشتمال نه دی، بلکه دا
بدل غلط دی، دارنګه ابن حاجب جاءني زيد اخوه دا اخوه بدل اشتمال ګرځولی دی د زيد نه، نو شارح
پرې رد کوي چې دا بدل اشتمال نه دی، دا بدل غلط دی، او ابن حاجب خطاء شوی دی، نو وائي
بخلاف ضربت زيداً اذا ضربت حماره لکه ته داسې وائي چې ضربتُ زيداً حماره نو اوس دا ضرب د
زيد دا مشعر په ضرب د حمار باندې نه دی، چې نه شو نو دا بدل اشتمال نه شو، ولهذا او د دې وجې
نه چې په بدل اشتمال کې دا واجب دی، **صرحوا ای العلماء بان نحو جاءني زيد اخوه** بدل غلط ځکه چې مجئ
د زيد دا سبب لپاره د مجئ د اخ نه شي کيدای، يعني دلته کې مجئ د زيد مشتمل په مجئ د اخ
باندې نه شي کيدای، **لابدل الاشتمال كما زعم بعض النحاة** كما زعم... الخ. منفي سره لګوئ چې ګمان
کړی دی، چې ابن حاجب دی، منفي ته راجع دی، يعني بدل اشتمال باندې لکه دا چې ابن حاجب ويلی
دي ورته بلکه دا بدل غلط دی، دا ناقد خطاء دی، ثم سره غرض د شارح دا دی چې شبه کوي په ماتن،
شبه رد کوي چې يا هلکه ثم بدل البعض والاشتمال بل بدل الکل ايضاً په شان د بدل البعض
والاشتمال، **لا يخلو عن ايضاح و تفسير** او ايضاح او تفسير تاسو اوس وويل چې راغلی، نو داسې ويل په
کار وو، چې واما الابدال منه فلزيادة التقرير والتوضيح، يا واما الابدل منه فلزيادة التقرير والتفسير،
او ماتن خو ايضاح او تفسير نه دی ويلی، نو چې نه يې دی ويلی نو دا خطاء شو، ځکه ايضاح او تفسير
خوپه دې کې شته دی، ايضاح او تفسير په بدل الکل کې په تکرار سره دی، او په بدل البعض
والاشتمال کې په اعتبار د اشتمال د متبوع سره دی، په تابع باندې اجمالاً، نو تاسو به جواب وکړئ
شارح خو اعتراض وکړو په ماتن او لاړ، جواب تاسو د بهر نه وکړئ چې ګوره دلته کې دا تقرير مستلزم دی
ايضاح او تفسير لره، ځکه چې يو شی په ذهن د سامع کې بنه متقرر شي، نو هغه د سامع لپاره واضح وي
او مفسر وي، نو دلته کې ماتن تقرير ذکر کړی دی، او تقرير مستلزم دی، ايضاح او تفسير لره، نو د ايضاح
او تفسير ذکر له حاجت رانغلی، ولم يتعرض شارح په ماتن باندې يو شبه ذکر کوي او شبهې نه وروستو
جواب کوي. چې يا هلکه بدل خو څلور قسمه وو: ۱ بدل کل. ۲ بدل بعض. ۳ بدل اشتمال. ۴ او بدل غلط،

نو ماتن د بدل غلط مثال خو ونه نبودلو، دغه شبه کوي چې ولم يتعرض لبدل الغلط، حالانکه دا د اقسامو د بدل نه وو، دا جواب دی چې لاته لايقع في فصيح الكلام نو د دې د وجې نه يې هغې ته تعرض نه دی کړی، اوزمونږ کلام په هغه بدل کې دی چې فصاحت او بلاغت ترې حاصليږي.

ماتن وويل **واما العطف** شارح ورسره لګوي **جعل الشئ معطوفا** دي کې شارح اشاره وکړه ترجمې د متن ته يو، دويم اشاره يې وکړه چې العطف په معنی مصدري سره دی، عطف په معنی اصطلاحي سره نه دی چې تابع مخصوص، ای علی المسندالیه کې شارح اشاره وکړه تعين د مقصود ته، ځکه چې عطف کې دوه احتمالين وو، يو دا چې عطف د يو شي په مسند اليه باندې، دا مراد دی، او عطف د مسند اليه په بل يو شي باندې دا نه دی مراد، قرينه پرې دا ده چې ځکه چې زمونږ کلام په توابعو د مسندالیه کې دی، په توابعو د شئ اخر کې نه دی، ويل عطف د يو شي په مسندالیه باندې کيږي، د دې نکاتو د وجې نه چې ويل فلتفصيل المسندالیه مع اختصاره مثال داسې شو چې نحو جاءني زيد وعمرو، ويل دا مثال د ممثل سره مطابق دی، **فان**، نو فان نه غرض د شارح دليل وائي لپاره د تطبيق د مثال د ممثل سره فان فيه په دې مثال کې تفصيلاً للفاعل چې جاءني دی، داسې تفصيل دی چې بانه دا جاءني زيد وعمرو يو نه دی، دوه دي، من غير دلالة على تفصيل الفعل دلته کې د مجئ تفصيل ته تعرض نه دی شوی، د مسند تفصيل نه دی شوی بان تفسير د منفي وي، يعنې که تفصيل د فعل او د مسند وي نو ځنګه به وي، نو دي بان سره دا باء تصويريه شوه، نو تصوير د منفي بيانوي، نو معنی دا شوه چې بان المجيئين دا راتلل کانا معاً د زيد او د عمرو چې دی يو ځای راغلي وو او مترتبين يا يو بل پسې وو، اول زيد راغلی وو وروستو عمرو راغلی وو مترتبين کې بيا عام چې مع مهلة سره د مهلت، تراخي نه وو، چې اول زيد راغلی او يو ورځ وروستو بيا عمرو راغلی، يا يو هفته، او بلا مهلة، چې اول زيد راغلی متصل ورسره عمرو راغلی، واحترز سره غرض د شارح دا دی چې د دې مع اختصار قيد فائده بيانوي، چې ماتن دا مع اختصار قيد ځکه ووېل چې واحترز بقوله ای احترز الماتن بقوله چې مع اختصار دی عن نحو جاءني زيد وجاءني عمرو شبه يا هلکه دا داخل وو چې مع اختصار سره خارج شو، ويل هو فان فيه تفصيلاً للمسندالیه قبل د ذکر د مع اختصار نه دی داخل وو، ځکه چې په دې کې هم تفصيل د مسندالیه راغلی، چې مسندالیه دوه دي چې زيد عمرو دی، مع انه ليس من عطف المسندالیه سره د دې نه چې علماء د علم المعاني ديته عطف على المسندالیه نه وائي، بلکه علماء د علم المعاني عطف الجمله على الجملة ورته وائي، نو مع اختصار سره دا خارج شو، ځکه دلته کې عطف د مسندالیه په شي باندې راغلی خو بلا اختصار راغلی، د دې وجې ديته عطف د شي على المسندالیه نه وائي، بلکه عطف الجمله على الجمله ورته وائي، وما يقال نه غرض د شارح نقل د قول د يقال کوي اولاً، هغه د مع اختصار فائده ويلې ده، قول دا دی، او بيا رد کوي په هغې باندې ثانياً په فليس بشئ سره، او وجه د رد

وائي ثالثاً په اذ ليس فيه سره، نو نقل قول يقال لفائدة مع اختصار اولاً، الرد عليه ثانياً بقوله فليس بشئ وبيان وجه الرد ثالثاً بقوله اذ ليس فيه، او تصحيح د قول د يقال کوي رابعاً په بل يحتمل سره، نو وائي وما هغه خبره چې يقال ويلی کيږي من انه دا قول چې مع اختصار دی، احتراز عن نحو جاءني زيد جاءني عمرو نه، يعني د جملې عطف بغير د واو نه، من غير عطف وائي ځکه چې دلته کې تفصيل د مسند اليه شته دی، خو اختصار په کې نشته دی، نو شارح رد وکړو چې فليس بشئ چې دا ما يقال هيڅ شی نه دی، معترض شبه وکړه چې يو شی خو دی کنه؟ ځکه شی موجود ته وائي، او ما يقال خو موجود دی، نو نفي د شي خو نه صحيح کيږي، نو تاسو به ورته ووايئ چې فليس بشئ يعتدبه شی دی خو شئ معتد به نه دی، ويل لايعبا به دی، اوس هغه درېمه خبره کوي، وجه د رد وائي چې اذ ليس فيه دلالة ويل ځکه چې نشته دی په دې مثال مذکور کې چې جاءني زيد، جاءني عمرو کې دلالت علی تفصيل المسند اليه باندې، دلالت په تفصيل د مسند اليه باندې له سره نشته دی، ځکه چې زمونږ مقصود تفصيل د مسند اليه دی، په طريقې د عطف سره او په مثال مذکور کې حرف عاطف نشته دی، نو ځکه نشته دلالة په دې مثال مذکور کې په تفصيل د مسند اليه باندې، ځکه چې زمونږ کلام په تفصيل د مسند اليه کې دي، خو په طريقې د عطف سره، او مثال مذکور کې حرف عاطف نشته دی، اوس بل يحتمل نه شارح تصحيح د ما يقال کوي، تصحيح داسې کوي چې شارح وويل چې بل يحتمل نو مخکې اغراضو کې داسې ووايه، نقل د قول د ما يقال او لاکوي، او بيا رد کوي په مذهب د يقال باندې ثانياً، او وجه د رد وائي ثالثاً، تصحيح کوي رابعاً، اوس تصحيح داسې کوي چې يحتمل په هغې ځای کې ويلی کيږي، چې بل احتمال هم وي، نو شارح يو مقام ذکر کړو او هغه مقابل يې نه دی ذکر کړی، هغه به مونږه تاسو ذکر کوو، په قرينې د دې سره چې يحتمل په هغه ځای کې ويلی کيږي چې بل احتمال په کې هم وي، نو شارح وائي چې بل لپاره د اضراب دی، ويل چې بلکه احتمال لري ان يکون چې وی دا کلام ثاني اضراباً عن الکلام الاول اعراض د کلام اول نه، اضراب، اعراض ته وائي، يعني چې دي اول کلام کې زما خوله خطاء شوې ده، زيد جاءني نه وو، جاءني عمرو وو، خو زما خوله خطاء شوې په اول کې نو د جاءني نسبت چې عمرو او زيد ته کړی، نو اعراض شو، تائيد لپاره يې وويل چې نص عليه الشيخ في دلائل الاعجاز يعني دا کلام ثاني اضراب، اعراض د کلام اول نه يواځې ما نه دی ويلی دا شيخ هم ويلي دي په دلائل الاعجاز کې، اوس هغه بل احتمال څه دی؟ مقابل د دې احتمال، هغه بل احتمال دا دی چې دلته کې حرف عاطف مقدر شي چې اصل کې جاءني زيد وجاءني عمرو، نو متکلم اختصار لپاره حذف کړو، نو چې حرف عاطف په کې مقدر شو، نو بيا د قيل خبره صحيح شوه، نو بل يحتمل سره شارح اشاره وکړه تصحيح د قول د قيل ته، چې دا يقال مطلقاً ضعيف نه دی، من وجه ضعيف دی که دا اضراب شي او من وجه دا صحيح دی که حرف عاطف په کې مقدر شي، يعني من کل الوجوه دا ضعيف او مردود نه دی.

او لتفصيل المسند متن دا دی چې او المسند ، ویل یا عطف د یو شي په مسند الیه باندې کولی شي، نو دا عطف شو په مسند الیه باندې، نو د هغې نه مخکې تفصیل وو، نو هغه تفصیل شارح راوویستلو، بانه: سره دا تصویر ذکر کوي لپاره د تفصیل د مسند لپاره داسې چې بانه دا مسند قد جعل، باحد المذکورین اولا وعن الاخر بعده مع مهلة لکه ثم کې او بلا مهلة وي لکه په فاء کې، کذلك تعین د مشار الیه کوي، ای مع اختصار یعني په شان د دې مخکني اختصار، یعني سره د اختصار نه، اوس سائل سوال وکړو چې مخکني کې مع اختصار خو احتراز وو د جاءني زید وجاءني عمرو نه، نو دلته کې دا مع اختصار د چا نه احتراز وشو، نو شارح جواب کوي چې واحترز ای الماتن بذلك په دې کذلك سره عن نحو جاءني زید وعمرو بعده بیوم او وعمرو بعده بسنة یا و عمرو بعده باسبوع او ما اشبه بذلك یا او عمرو بعده بشهر، دا وما اشبه بذلك، نو دلته کې تفصیل د مجئ یې خو راغلی، چې مجئ د زید نه اول صادر شوی او د عمرو نه وروسته یو ورځ یا دوه ورځې، یا یو کال یا یو هفته یا یو میاشت، لیکن مع اختصار نه دی څکه بعده بیوم لویه لړۍ ذکر شوه، دارنګه بعده بسنة ذکر شو، اوس مثال د دې تفصیل د مسند دا دی چې نحو جاءني زید فعمرو دا د فاء مثال شو او جاءني زید ثم عمرو، او جاءني القوم حتی خالد نو دا درې حروف عاطفه شو، ف، ثم، او حتی قانون دا دی چې په دوو څیزونو کې یا د دوو نه بره څیزونو کې دوه څیزونه په کار دي، یو ما به الاشتراك او بل ما به الامتیاز، نو اوس دې فاء او ثم او حتی کې، ما به الاشتراك او ما به الامتیاز څه دی؟ څکه دا قانون کلي دی چې په دوو شیئینو کې یا فوق د شیئینو نه، هغې کې ما به الاشتراك هم په کار دی، او ما به الامتیاز هم په کار دی، نو دې کې څه شی شو، نو شارح ما به الاشتراك ته اشاره کوي، ویل فالثلثة تشترك في تفصیل المسند دا درې واړه حروف مشترك دي په تفصیل د مسند کې چې دا مجئ یو نه وو دوه وو، الا: سره مابه الامتیاز ذکر کوي، ویل فرق دومره قدري دی چې ان الفاء تدل علی التعقیب خو من غیر تراخٍ، چې دا مجئ د عمرو د مجئ د زید نه وروسته وه خو په کې څه وخت نه وو، بلکه متصل وو، او وثم علی التراخي او ثم دلالت کوي په تراخي باندې، چې دا مجئ د عمرو د زید نه وروسته وه خو یو ورځ یا ګهنټه نیمه ګهنټه ۱۵ منټه وغیره خو په کې وخت وو، وحتی، تدل علی ان اجزاء ما قبلها کوم اجزاء چې ما قبل د حتی نه دي چې هغه د متبوع اجزاء دي، یعني متبوع به ذي اجزاء وي، مرتبة: یو بل پسې به وي في الذهن یو بل پسې داسې وي چې من الاضعف الی الاقوی او بالعکس چې دا قوي نه اضعف ته به وي، نو دا یې پرې تفریع وکړه په دې ما به الاشتراك او مابه الامتیاز باندې، نو وائي فمعنی تفصیل المسند فیها په دې حتی کې دا دی چې ان یعتبر تعلقه ای المسند چې مجئ دی بالمتبوع اولاً وبالتابع ثانیاً نو معترض شبه وکړه چې یا هلکه بیا د حتی او د ثم فرق رانغلی؟ هلته کې خو هم دغسې حتی ده کنه، نومن حیث کې یې فرق ته اشاره وکړه، چې دلته کې داحیثیت شته دی،

چې دا جزاء د مدخول اقوی به وی یا اضعف به وي، او ثم کې دا شرط نشته دی، ویل من حیث انه دغه تابع اقوی اجزاء المتبوع او اضعفها لکه مثال، په مثال مذکور کې داسې شو لکه تا وویل جاءني القوم ما ته قوم راغلی وو افراد د قوم، زید راغلی چې خان دی، عمرو بیا راغلی چې سېټ دی، بیا بکر چې ممبر دی، بیا والد راغلی چې وزیر دی، حتی خالد تر دې چې هغه خالد ډم او جولاهم راورسیدلو، نو دا تابع اضعف د اجزاء د متبوع نه شو، یا داسې ووایه جاءني القوم چې ما ته افراد د قوم راغلي وو زید چې ډم وو، عمرو راغلی چې ګجر وو بکر راغلی چې هغه جولاوو حتی خالد، تر دې چې هغه خالد سېټ او وزیر اعظم هم راورسیدو، اوس شارح مخکې دا قید لګولی چې مترتبة في الذهن چې دغه اجزاء د ماقبل د دې حتی چې متبوع دی هغه مترتب به وي په یو بل پسې به وي په ذهن کې، د دې قید شارح فائده وائي چې د ذهن دا قید ما څکه ولګولو، چې **ولایشترط فیها الترتیب الخارجي** ویل شرط نه دی په دې حتی کې ترتیب خارجي، څکه چې په خارج کې داسې وي ملابست د فعل مابعد د حتی پورې مخکې وي د ملابست د فعل نه اجزاء د متبوع پورې، لکه اوس ګوره ته وائي مات کل اب لي حتی ادم نو په ذهن کې خو ترتیب شته دی، څکه چې ذهن وائي چې دا موت اول نورو خلکو پورې دي مخکې متعلق شي او ادم پورې دې وروستو شي، څکه هغه اب البشر دی، نو مړۀ شو زما لپاره زما هر پلار داسې دا موت راتلو راتلو ادم علیه السلام ته وروراسیدو، او خارج کې د ادم علیه الصلوة والسلام د دې کل اب نه مخکې دی، یا په اثناء کې به وي یعني ما بعد د حتی نه ملابست د فعل په اثناء د ماقبل کې به وي، لکه ته وائي چې مات الناس حتی الانبیاء نو تا وویل چې خلک مړه کیدل مړه کیدل عوام خلک، تر دې چې هغه لوی جزء د خلکو ته هم موت ورسیدو چې انبیاء دي، نو ترتیب ذهني راغلی، څکه ذهن دا غواړي چې عوامو پورې موت دې مخکې متعلق شي او انبیاؤ پورې چې اشرف المخلوقات دي هغوی پورې دې وروستو متعلق شي، او خارج کې خنې انبیاء د خلکو نه مخکې مړه شوي دي او خنې په اثناء کې مړه شوي دي، سر ته لاړو په ماتن باندې شبه کوي بیا وروستو جواب کوي **فان قلت في هذه الثلثة** په دې دریو حروف عاطفه ؤ کې ایضاً چې څنګه تفصیل د مسند دی نو تفصیل للمسند الیه، ایضاً په شان د تفصیل د مسند، نو بیا داسې ویل په کار وو، ولم لم یقل الماتن او تفصیلهما معاً او داسې ویل په کار وو، څکه د دې نه خو دا معلوم شوه چې مسندالیه هم دوه دي، زید او عمرو مسندالیه دوه دي قوم او خالد، نو تفصیل د مسندالیه هم راغلی دی، نو داسې ویل په کار ووو چې او تفصیلهما معاً، قلت شارح وائي چې زه جواب کوم چې فرق، فرق کې دا تنوین د تعظیم لپاره ووایئ، چې فرق عظیم، بین ان یکون الشئ چې تفصیل د مسندالیه دی، حاصلاً من الشئ چې هغه عطف دی، دې حروف ثلاثه ؤ سره، وبین ان یکون، ای الشئ مقصودا منه، ای من الشئ الاخر، چې دغه عطف دی، نو حاصل د جواب دا چې تهیک ده چې دې کې تفصیل د مسندالیه هم راغلی

دی، خو قصداً نه دی راغلی هسې تبعاً راغلی دی، او طرداً راغلی دی، او فرق دی، په مابین د حصول د شئ کې تبعاً او په حصول د شي کې قصداً، ځکه یو داسې شی وي چې هغه حاصل شي قصداً ارادةً او یو شی هغه وي چې هغه حاصل شي بغیر د قصد او د ارادي نه هسې تبعاً. نو دي کې فرق عظیم دی، نو د دې وجې نه مونږ او تاسو وایو چې التزام الکفر کفر دی، ځکه چې دا قصداً وارادةً حاصل شو، او لزوم الکفر کفر نه دی، ځکه هغه قصداً وارادةً نه دی حاصل شوی، هغه هسې تبعاً راغلی، چې داسې یوه خبره تا وکړه، کفري خبره نه وي خو په نفس الامر کې لازم د هغې سره کفر وو، نو دا کفر نه دی، ته پرې عالم نه وي، تا یې اراده نه وي کړې، دغسې دلته کې تفصیل د مسندالیه شوی دی، نو ارادة او قصداً نه دی هسې تبعاً راغلی، او شبه به ستا هله وي چې دلته کې تفصیل د مسندالیه قصداً وارادة راغلی وی، وتفصیل المسندالیه دا اوس تتمه د جواب کوي، دیته وائي تتمة الجواب، او تفصیل د مسندالیه في هذه الثلثة وان کان حاصلاً لکن لیس العطف بهذه الثلثة لاجله لپاره د تفصیل د مسندالیه، یعني قصداً نه دی، بلکه قصد د متکلم تفصیل د مسند کوي، لان سره دلیل او سر وائي چې په دې امثله ؤ کې تفصیل د مسندالیه قصداً نه دی، او لم وسر وائي چې په دي امثلو کې تفصیل د مسندالیه تبعاً او طرداً دی او د مسند قصداً دی دا ولې؟ سر او لم یې څه دی؟ نو لان سره دی سر او لم وائي، چې شیخ دا قانون اینبی دی، چې یو کلام منفي کې، یا یو کلام مثبت کې قید زائده راشي نو مقصود بالاثبات او مقصود بالنفي دغه قید وي، اوس دا مخکني کلامونه مثبت دي، دوی کې قید زائده راغلی دی، هغه قید زائده به اول فاء کې ترتیب مع التعقیب دی، ثم کې ترتیب مع الترخي دی، په حتی کې ترتیب دی په مجیئین کې په اعتبار د نقل سره د اقوی نه اضعف ته او اضعف نه اقوی ته، نو اوس مقصود بالاثبات دغه ترتیب مع التعقیب، ترتیب مع التراخي یا ترتیب مع الفصل دا مقصودی دی، او دا صفات دا صفات د مجئ دی د مسندالیه نه دی، نو مقصود دغه شو، ویل لان الکلام اذا اشتمل علی قید زائد دا قید زائده یا په علی مجرد الاثبات کې وي یا او النفي کې وي په کلام منفي کې، فهو الغرض الخاص والمقصود الاصلي من الکلام، ففي هذه الامثلة ای المذکوره تفصیل المسند الیه کانه امر کان معلوماً سامع ته نو د متکلم مقصود نه شو، ځکه کومه خبره چې سامع ته معلومه وي، د هغې القاء متکلم سامع ته نه کوي، ځکه تحصیل د حاصل راځي، نو دا تفصیل د مسند الیه سامع ته معلوم وو، نو متکلم دا بیا ورته نه بنائي وانما سیق الکلام لبیان ان مجئ احدهما کان بعد الاخر خو بلا مهلة یا مع مهلة یا مع مهلة بالفصل، اخر کې شارح وویل چې فلیتامل دې کې بې اشاره وکړه چې دا قانون شیخ اینبی دی، خو دا قانون د شیخ کلیه نه دی اکثریه دی، کله کله داسې کیږي چې هغه نفي متوجه کیږي هغه مقید ته په څای د قید باندې، لکه ولم یصروا علی ما فعلوا وهم یعلمون نو هم یعلمون، دا حال قید دی، او یصروا مقید دی، د متقیانو صفت دا دی چې

دوی همیشګري نه کوي په ګناه باندې حال دا دی چې دی عالم وي، نو مقصود بالنفي دلته کې اصرار علی المعصیت دی، علم وي او که نه نوي، د علم نفي مقصود نه ده، نو ګوره نفي دلته کې متوجه مقید ته شوه، کله کله نفي متوجه کیږي مقید او قید دواړو ته لکه ومالظالمین من شفیع یطاع نو دلته کې مقید شفیع شو او قید یطاع شو، چې ظالمانو لپاره سفارشي چې د هغه خبر ومنلی شي نشته دی، نو دلته کې نفي د مقید او قید دواړو ده، چې د ظالمانو مشرکانو لپاره نه شفیع شته او نه مطاع دی، او هغه خبره هم نه ده منلی شوي، دویم شارح فلیتامل وائي فکر وکړه ځکه چې وهذا البحث مما اورده الشیخ في دلائل الاعجاز چې دا بحث غټ سړي راوړی دی، او د غټ سړي خبره هم غټه وي عادات السادات سادات العادات ویل محل یې في دلائل الاعجاز، او دریم ووصی ای الشیخ بالمحافظة علیه چې دا قانون ښه یاد وساتئ، ځکه فانه ینفعکم في کثیر من المواضع اورد السامع یا عطف د یو شی کولی شي په مسندالیه باندې لپاره د رد کولو د سامع عن الخطاء في الحکم ای المحکوم به الی الصواب یعني سامع یو محکوم به ګرځولی وي، نو هغې کې خطاء وي، نو متکلم په دې عطف سره سامع د خطایی نه حق ته واپس کوي، نحو جاءني زید لاعمرو دا مثال مطابق د ممثل سره دی لمن اعتقد لپاره د هغه سامع چې هغه دا خیال کړی وي ان عمرا جاءك دون زید، نو تا حق ته واپس کړو، چې نه جاءني زید لاعمرو او انهما جاءاك جمیعاً یا هغه دا خیال کړی وي چې دواړه راغلي، او حالانکه زید راغلی دی او عمرو نه وي راغلی نو ته ورته ووائي چې جاءني زید لاعمرو، نو تا حق ته واپس کړو، معترض شبه وکړه چې څنګه په لاسره رد السامع الی الصواب ته کیږي نو په لکن عاطفه سره هم کیږي، نو ماتن هغه ولې ذکر نه کړو، نو تاسو جواب وکړئ چې هغه ماتن پریښی دی مقایسةً په لاباندې، الاسره شارح دفع د توهم کوي چې هلکه چې لکن په شان د لاشو، نو بیا دوه حروف عاطفه نه شو بلکه یو شو، نو دیته بیا دوه ویل نه دي په کار بلکه دا خو بیا یو شو الاانه سره فرق بیانوي چې لیکن دومره خبره ده چې دغه لفظ د لکن لایقال لنفي الشرکة، یعني د قصر افراد لپاره نه راځي، بلکه صرف د قصر قلب لپاره راځي، ویل فرق صرف دومره دی، حتی ان نحو ما جاءني زید لکن عمرو، دا مثال انما یقال لمن هغه سامع لپاره اعتقد ان زیداً جاءك دون عمرو نو ته ووائي چې ما جاءني زید او عمرو راغلی دی، نو قصر قلب شو، لانه شي ویلی دا مثال د هغه سامع لپاره چې هغه عقیده ساتي اعتقد انهما جاءاك جمیعاً چې دا دواړه تا ته راغلي دي، **وفي کلام النحاة مایشعر** اوس دلته ځان پرې پوهه کوئ چې دلته کې ټول ټال صورتونه درې دي، په دې مثال کې چې ما جاءني زید لکن عمرو یو صورت دا دی چې د قصر قلب لپاره دا راتللی شي اتفاقاً چې سامع دا عقیده ساتلي ده چې تا ته زید راغلی دی، عمرو نه دی راغلی تا وویل ما ته زید نه دی راغلی عمرو راغلی وو، نو د قصر قلب لپاره دا مثال اتفاقاً مستعملیدی شي، دویم صورت په دې مثال کې دا دی چې که سامع دا

عقيده ساتلى وي چې دا زيد او عمرو دواړه تا ته راغلي دي او ته وائي چې نه بلكه ما جاعني زيد بلكه عمرو قدري راغلى دى، نو قصرِ افراد شو، دا اتفاقاً جائز نه دى، يعني عقيده د اشتراك په ثبوت كې، كه سامع يې وكړي، دا جائز نه دى، اشتراك يو په ثبوت كې دى او بل په نفي كې دى، نو سامع كه عقيده د اشتراك په ثبوت كې وساتي نو دا اتفاقاً نه دى جائز، دريم صورت دا دى چې سامع عقيده د اشتراك اوساتي په نفي كې چې دا زيد او عمرو دواړه تا ته نه دي راغلي، نو هلته كې خلاف دى، علاوه د نحاتو نه، نور وائي چې قصر افراد نه دى صحيح او نحات وائي چې قصر افراد صحيح دى، چې يو سامع دا عقيده ساتله چې زيد عمرو په عدم مجئ كې شريك دي، نو تا قطع د شركت وكړه چې ما جاعني زيد لكن عمرو، زيد نه دى راغلى او عمرو راغلى دى، يعني عمرو در سره په انتفاء د مجئ كې شريك نه وو، نو دا قصر قلب نحاة وائي چې شته دى، نو اوس غرض د شارح په وفي كلام النحاة كې اشاره كوي اختلاف ته په دې صورت ثالث كې، اعتراض معترض په يو توجيهه باندې مقصود نه دي، ځكه د قصر قلب لپاره لكن راتلل اتفاقاً شو، قصر افراد لپاره چې عقيده د اشتراك في الاثبات وي نو راځي اتفاقاً، قصر افراد لپاره چې عقيده د اشتراك في الانتفاء وي نو هغې كې خلاف شو، نو د هغه نحاتو خلاف بيانوي، مقصد اعتراض په ماتن باندې نه شو، يو د شرحې لګول داسې شو چې دا ما تاسو ته وويل، دويم لګول داسې شو چې اى شارحه ستا كلام او د نحاتو كلام كې تدافع راغله، ستا كلام نه معلومه شوه چې لكن صرف قصر قلب لپاره راځي، او د افراد لپاره نه راځي، د دې نه معلومه شوه چې تا انما وويل او انما د قصر لپاره راځي، تا وويل چې انما يقال لمن اعتقد ان زيداً جاءك دون عمرو نو دا معنى چې لكن منحصر دى په قصر قلب پورې، قصر افراد كې نه راځي، اخوا بيا سامع عقيده په اشتراك في الثبوت كې وي او كه عقيده د اشتراك في النفي كې وي، او د نحاتو د قول نه معلوميږي چې لكن د قصر افراد لپاره راځي، هله چې د سامع عقيده د اشتراك په انتفاء كې وي، نو ستا كلام او د نحاتو په كلام كې تدافع راغله، نو بنا په دې باندې غرض د شارح اعتراض شو په ماتن باندې هم او په دې خپله خبره باندې هم، او جواب وغيره نه كوي خو دا وائي ماتن چې ستا كلام او د نحاتو په كلام كې تدافع راغله، نو ځكه وائي چې وفي كلام النحاة ما يشعر بانه اى لفظ لكن انما يقال لمن اعتقد انتفاء المجئ عنهما جميعاً نو دا اشتراك في انتفاء المجئ شو، نو د قصر افراد لپاره خو راځي چې كوم دى، نو بنا په دې دويم احتمال او توجيه غرض د شارح اعتراض شو په دې خپله خبره هم او د ماتن په دې خبره باندې هم نو جواب تاسو وكړئ چې دا اصطلاحات دي ولامشاحة في الاصطلاح جائز ده د نحاتو اصطلاح دي دا وي او د اهل عربيو اصطلاح دي ما چې كومه وويل دا وي.

اوس ماتن بله نقطه ذكر كوي لپاره د عطف د يو شي په مسندالیه باندې، نو وائي چې **اوصرف الحكم** يا عطف د يو شي په مسندالیه باندې كولى شي، د اړولو د محكوم به نه، د دې الحكم نه مراد محكوم

به، عن محکوم علیه د یو محکوم علیهٖ نه الی محکوم علیه اخر ته، چې متکلم دغه محکوم به یو
محکوم علیه نه بل محکوم علیه ته اړوي، او دغه اړول بغیر د عطف نه نه کیږي، نو بس عطف کیږي
لکه مثال داسې شو نحو جاءني زید بل عمرو نو دلته کې متکلم دا مجئ چې محکوم به وو، دا یې
واړوله د یو محکوم علیه نه چې زید دی بل محکوم علیه ته چې عمرو دی، دا خو مثال شو په کلام
مثبت کې، دویم مثال ښائي په کلام منفي کې چې وما جاءني زید بل عمرو دلته کې متکلم دا نفي د
مجئ چې محکوم به وو دا واړولو د یو محکوم علیه نه چې زید دی بل محکوم علیه ته چې عمرو دی،
چې یا هلکه عمرو نه وو راغلی، اوس شارح دلیل وائي متن لپاره او دلیل وائي د تطبیق د مثال مع
الممثل لپاره چې فان بل للاضراب ای الاعراض عن المتبوع دا وروستو ورسره لګوي الی التابع ته، او
دا **وصرف الحکم** دا تفسیر د اضراب شو، اضراب صرف د حکم ته وائي متبوع نه تابع ته، حکم نه مراد
محکوم به ده، لکه په مثالینو مذکورینو کې هغه صرف د محکوم به وشو تابع ته د متبوع نه چې زید
دی تابع ته چې عمرو دی، او تفسیر نه غرض دا دی چې تفسیر د غیر مشهور یې په مشهور سره وکړو،
ځکه اضراب غیر مشهور وو، او صرف مشهور دی، ومعنی الاضراب اوس ګوره دا اضراب په دوه
قسمه دی، یو په کلام مثبت کې راځي، او دویم په کلام منفي کې راځي، کلام مثبت کې چې دا بل
اضرابیه راشي نو دې کې بیا دوه مذهبونه دي، یو مذهب د جمهورو دی، او دویم مذهب د ابن حاجب
دی د جمهورو مسلك دا دی چې دا بل اضراب د حکم مثبته کوي د هغه متبوع نه تابع ته او بل متبوع
د مسکوت عنه په درجه کې وي، په هغې باندې حکم نه په اثبات سره شوی وي او نه په نفي سره شوی
وي، دویم مسلك د ابن حاجب دی هغه وائي چې بل د اضراب لپاره راځي په کلام مُثبت کې لپاره د
محکوم به د متبوع نه تابع ته او هغه متبوع باندې به حکم شوی وي په نفي سره، نو اوس راشئ ترجمه
وکړئ د جمهورو په مسلك باندې جاءني زید بل عمرو ترجمه دا شوه چې بلکه عمرو راغلی دی، او
زید د مسکوت عنه په درجه کې دی، چې د مجئ او د عدم مجئ هډو پته نشته محتمل دی، او د ابن
حاجب په نزد باندې ترجمه دا شوه چې جاءني زید بل عمرو بلکه عمرو راغلی دی، او زید محکوم
علیه دی په عدم مجئ سره، به هر حال په کلام مثبت کې معنی د اضراب ظاهره شوه، په دواړه
مذهبینو باندې، ځکه چې ښکته د متبوع حکم دغه وو کنه چې ثبوت د مجئ وو نو دغه ثبوت د مجئ
وو، نو هغه ثبوت د مجئ یې د متبوع نه تابع ته یوړو، نو د اضراب معنی څرګنده شوه څه خفاء نشته
دی، نو هغې ته دې اشاره کوي چې ومعنی الاضراب عن المتبوع دا دی چې ان یجعل المتبوع في حکم
المسکوت عنه د جمهورو په نزد باندې، مسکوت عنه دا معنی لاان ینفي عنه الحکم قطعاً دا به نه
وي چې حکم به د ده نه نفي کیږي قطعاً ویقیناً خلافا لبعضهم چې ابن حاجب دی، چې هغه وائي چې
دا بل اضراب د حکم کوي د متبوع نه تابع ته او متبوع نه به حکم قطعاً نفي کیږي، نو اوس ګوره

ومعنى صرف الحكم اى محكوم به من المتبوع الى التابع في المثبت ظاهر، حکم په مذهب د جمهورو باندې او حکم په مسلك د ابن حاجب باندې، څه اشکال مشکال په کې نشته دی.

دویم بل راځي په کلام منفي کې نو په دې کې بیا درې مذاهب دي، یو مذهب د مبرد په کې زیات شو، درې مذاهب داسې دي چې ابن حاجب وائي چې کلام منفي کې بل صرف د حکم کوي، دویم مذهب د مبرد دی، مبرد وائي چې بل په کلام منفي کې راځي لپاره د صرف د حکم سره د نفي نه د متبوع نه تابع نه خو متبوع د مسکوت عنه په درجه کې به وي، دریم مذهب د جمهورو دی هغوی وائي چې په کلام منفي کې بل راځي لپاره د صرف د حکم مثبته، یعنې بې د نفي نه، هغه حکم مثبته صرف کوي متبوع نه تابع ته او متبوع په حکم د مسکوت عنه کې به وي، اوس راشئ ترجمو ته، د ماجاءني زید بل عمرو د ابن حاجب په نزد باندې ترجمه دا شوه، چې بل عمرو چې بلکه عمرو نه دی راغلی، او زید راغلی وو قطعاً ویقیناً، د مبرد په نزد باندې ترجمه دا شوه ماجاءني زید بل عمرو بلکه عمرو نه وو راغلی، او زید د مسکوت عنه په درجه کې وو، د مجئ او د عدم مجئ یې پته نه وه، نو په دې دواړه مذهبنو کې څه اشکال نشته دی، ځکه چې نبکته حکم د متبوع عدم مجئ وو نو هغه تابع ته صرف شو، او د جمهورو په مسلك باندې دا شوه چې ماجاءني زید بل عمرو، بلکه عمرو راغلی وو، هغه حکم مثبته یې صرف کړو او نفي راغله او متبوع په درجه د مسکوت عنه کې د مجئ او د عدم مجئ پته نشته، نو اوس د جمهورو په مسلك باندې اشکال راغلی چې یا هلکه په دې کې خو معنی د صرف ونه شوه، ځکه متبوع کې خو حکم نفي وو او تابع ته خو بره تاسو حکم د اثبات یوړو، نو دا خو معنی د صرف رانغله؟ نو د جمهورو په مسلك باندې اشکال راغلی، نو شارح دغه بیانوي نو وائي وكذا في المنفي دغسې دا معنی د صرف الحكم کې هم ظاهر دی خو په مذهب د ابن حاجب مبرد باندې ظاهر دی، هله ان جعلناه اى الصرف بمعنى نفي الحكم عن التابع والمتبوع في حكم المسكوت عنه دی، لکه دا مذهب د مبرد وو، یا لکه متحقق الحکم له وي لکه چې دا مذهب د ابن حاجب وو، حتى يكون معنى ما جاءني زيد بل عمرو، ان عمرا لم يجئ وعدم مجئ زيد ومجيئه على الاحتمال چې دا مذهب د مبرد وو، او مجیئه محقق لکه ابن حاجب وائي، كما هو مذهب المبرد د اول سره ولګوئ چې ان عمرا لم يجئ وعدم مجئ زيد ومجيئه على الاحتمال كما هو مذهب المبرد، دي سره یې ولګوئ، وان جعلناه دریم مذهب د جمهورو بیانوي، که چیرې مونږ وګرځو دې قول لره بمعنى ثبوت الحكم للتابع، چې هغه تابع ته ثبوت د مجئ راغلی دی حتى يكون معنى ماجاءني زيد بل عمرو ان عمرا جاء او زید د مسکوت عنه په درجه کې دی، لکه دا مذهب د جمهورو دی، ففيه اشكال، ځکه دې کې صرف خو راغلی، ځکه حکم د متبوع نفي وو او تابع ته ثبوت راغلی، دا شارح د جمهورو په مذهب باندې اعتراض وکړو او ځان له لاړو، نو تاسو جواب وکړئ چې یا هلکه د صرف معنی دا ده چې صرف معنی،

تغير دی، يعنې حکم د تابع به مغير وي د حکم د متبوع نه، او هغه دلته کې راغلی دی، ځکه حکم د تابع ثبوت د مجئ دی او حکم د متبوع نفي د مجئ وو، نو دا مطلب نه دی چې هغه بشخصه حکم د متبوع نه به ته تابع ته بشخصه صرف کړي، خو د صرف معنی تغير ده، چې حکم د تابع به مغير وي د حکم د متبوع نه، او هغه دلته کې راغلی دی.

اوللشک يا عطف د يو شي کولی شي په مسندالیه باندې لپاره د شك، معترض شبه وکړه چې يا هلکه چې شك او تشکيك خو يو شی دی، نو ذکر د تشکيك پس د شك نه مستدرك شو، نو شارح جواب وکړو چې من المتکلم، چې يا هلکه شك د متکلم نه وي، او لتشکيك السامع متکلم سامع په شك کې غورځوي، ای ايقاعه في الشك، مثال داسې شو نحو جاءني زيد او عمرو دا مثال د شك لپاره هم صحيح کيږي، او د تشکيك لپاره هم صحيح کيږي خو د قرينې د وجې نه، هغه دا که د متکلم خپله شك وي چې يا هلکه جاءني زيد دی، که عمرو دی، نو ووايئ چې جاءني زيد او عمرو نو د شك لپاره شو، او که د متکلم خپله شك نه وي، هغه ته پته وي چې جاءني زيد يا عمرو دی، خو سامع په شك کې غورځوي نو ورته وائي جاءني زيد او عمرو تردد کې سامع غورځوي.

اوللابهام يا عطف د يو شي په مسندالیه باندې کولی شي لپاره د ابهام، شبه يا هلکه تشکيك او ابهام کې څه فرق دی؟ ابهام خو ديته وائي چې په مخاطب باندې يو شی مبهم کوي پتوي، نو دې کې فرق څه دی، جواب: ويل فرق شته دی تشکيك کې هلته کې ايقاع د شك او تردد دی په زړه کې او ابهام کې غرض دا دی چې پتول د حکم دی د مخاطب نه چې هغه غصه نه شي، د مخاطب د نه غصه کولو لپاره ترې حکم پتوي، چې جګړه راسره جوړه نه کړي، مثال داسې شو حضرت ابراهيم وويل انا او اياکم ويل ګورئ مسئله خو دغسې ده، اوس تاسو خپل ګريوان ته ګورئ او مونږه خپل ګريوان ته ګورو چې په هدايت باندې څوك دي او په ضلال مبين کې څوك دی، نو ابراهيم عليه الصلوة والسلام خبره پته کړه چې جګړه جوړه نه شي، ويل انا او اياکم يو نه يو، عطف يې ګوره وکړو لعلي هدي او في ضلال مبين، نو هغه مخاطب به سر بنکته کړي ځان ته به ګوري، جګړه نه شي کولی، ملامته به شي، او که تا داسې وويل چې تاسو ګمراهان، مشرکان، حراميان، خنزيران، او مونږه موحدان نو هغه به وائي ته خنزير، حرامي او مشرك يې جګړه جوړه شوه، ځکه ابراهيم عليه الصلوة والسلام وويل وانا او اياکم لعلي هدیً او في ضلال مبين.

او **للتخيير** يا عطف د يو شي راځي په مسندالیه باندې لپاره د تخير، يعنې خيار ورکول مخاطب ته، يا د اباحة لپاره، مثال داسې شو نحو ليدخل الدار زيد او عمرو کور ته دي داخل شي زيد يا عمرو سائل سوال وکړو. تخير د اباحت کې فرق څه دی؟ شارح جواب کوي چې **والفرق بينهما** ويل دا دی ان في الاباحة يجوز الجمع که دا ليدخل کې امر لپاره داباحت وي نو بيا جمع جائز ده چې يواځې دار ته زيد

داخليږي، که يواځې عمرو داخليږي که دواړه داخليږي ورته اجازت شته دي، او په خلاف د تخيير نه هلته کې جمع جائز نه ده، نو يا به زيد داخليږي يا به عمرو، دواړه نه شي داخليدای لکه د دې په خارج کې مثال داسې شو چې طالبانو مليانو ته يوسړی دعوت ورکړو، خيرات يې وکړو، او د غوښو خانک يې راوويستلو او ورته مخې ته يې کېښودلو، نو اوس که د غوښې دا خانک هغه سړی ورته د اباحة په درجه کې اينبی وي، چې يا هلکه ستاسو خوښه ده چې کورته اوړئ که دلته کې خورئ، خپله خوښه کوئ، داسې قرينه ده، دا اباحت دی، يا هغه په لفظ سره وويل، نو بيا صاحب حق صاحب ته هم ته ورلی شي، جيب ډکوه، او خان هم مړۅلی شي، او که نه هغه وويل چې يا به دلته کې خان مړوي او يا به يې کور ته وړي، د دواړو زما طاقت نشته دی، نو بيا به يا جيب ډکوي او صاحب حق ته به يې وړي او خان به محرومه کوي او يا به خان له خوري، نو صاحب حق به محروموي، نو دا دواړه نه کيږي.

واما الفصل، ای تعقيب المسند اليه بضمير الفصل د دې نه غرض د شارح دا دی چې يو يې اشاره وکړه ترجمې د متن ته، بل يې اشاره وکړه چې فصل دلته کې په معنی د امتياز سره نه دی، فصل په لغت کې تميز ته وائي، امتياز ته وائي، هغه معنی مصدري مراد نه ده، فصل نه مراد تعقيب د مسند اليه په ضمير فصل سره مراد دی، يعنې وروستو راوړل د مسند اليه نه ضمير فصل، **وانما جعله** سره شارح شبه کوي او شبهې نه وروستو جواب کوي، نو وائي چې وانما جعله وګرځولو ماتن دي ضمير فصل لره من احوال المسند اليه تتمه د اعتراض بهر نه ده، حالانکه ضمير فصل خو د مسند اليه او مسند دواړو په منځ کې شريک دی، د دواړو په مينځ کې راځي، نو د دغه ضمير فصل بحث د احوالو د مسند اليه او مسند نه وروستو ذکر کول په کار وو، نو دا يې د احوالو د مسند اليه نه متصل ولې ذکر کړو، نو شارح لاته سره جواب کوي، ويل لاته څکه دا ضمير فصل يقترن به يو ځای کيږي د مسند اليه سره په تلفظ کې څکه چې زيد هو القائم نو اول تلفظ په زيد باندې بيا په هو باندې بيا په القائم باندې کيږي، دويم جواب لاته دا ضمير فصل في المعنی عبارة، عبارة دی په مصداق کې، زيد هو، مصداق يو دی، او د هو قائم مصداق يو نه دی، وائي لاته في المعنی عبارة عنه، او دريم وفي اللفظ مطابق له ای للمسند اليه، لفظ کې داسې چې په افراد، تثنيت جمعيت کې، تذکير تانيث کې، نو ايراد د مسند اليه په ضمير فصل سره څکه کيږي چې ويل فلتخصيصه تعين د مرجع کوي له وجې د قصر د مسند اليه نه بالمسند، يعنې کې اشاره کوي شارح يو معنی د تخصيص ته، چې تخصيص دلته کې په معنی د قصر سره دی، دويم اشاره کوي چې تخصيص او قصر دواړه مترادفين دي يو معنی لري، دريم اشاره کوي شارح چې په دې بالمسند کې دا باء داخله ده په مقصور باندې، يعنې قصر د مسند به کوي په مسند اليه باندې، نو مسند مقصور شو او مسند اليه مقصور عليه شو، يعنې لقصر المسند علی المسند اليه دا دليل وائي لان سره، يا هلکه دلته کې مسند مقصور ګرځي او مسند اليه مقصور عليه

کړي، نو عکس ولې نه کوي، ویل معنی نه بیا خلاف راځي، کومه معنی چې د علماؤ نه منقول دی هغې نه بیا خلاف راځي، لان معنی قولنا زید هو القائم داده چې ان القائم مقصور علی زید لایتجاوز الی عمرو، دا یې پرې تفریع وکړه چې فالباء في قول الماتن فلتخصیصه بالمسند مثلها في قولهم خصصت فلانا بالذکر مثله په دي کې دی چې په دي قول کې هم باء داخله ده په مقصور باندې اوبه دي قول د ماتن کې هم باء داخله ده په مقصور باندې مماثلت په دي کې شو، دا علماء کله وائي اذا ذکرته ای فلاناً دون غیره یعني دا ذکر مقصور شي په دي فلانکي پورې متجاوز نه وي د فلانکي نه غیر ته، کانك گویاکه تا ای متکلمه جعلته تا وګرځولو دي فلانکي لره من بین الاشخاص په مابین د ټولو اشخاصو کې، مختصاً بالذکرای متفردا به، دې کې یې اشاره وکړه چې دا مختصاً او متفرداً دواړه مترادفین دي، نو ګوره تخصیص او قصر او تفرد ټول الفاظو مترادفه دي معنی یې یوه ده، دلته کې اوس معنی دا شوه والمعنی ههنا دا ده چې جعل المسند الیه من بین ما هغه مسند الیه کې یصیر اتصافه بکونه مسندا الیه مختصاً بان یثبت به المسند اوس ګوره زید ته ثبوت د قیام هم کیدای شو، او زید ته ثبوت د کتابت هم کیږي، لیکن دي ټولو کې تا زید په دي قیام مختص کړو، یا هلکه چیرته نظیر شته ؟ چې باء داخله وي په مقصور باندې، ویل هو نظیر شته دی کما یقال لکه مفسرینو ویلي دي في ایاك نعبد، وایاك نستعین تفسیر کې یې ویلي دي في ایاك نعبد معناه نخصك بالعبادة معنی عبادة مقصور دی په تا پورې متجاوز نه دی تا نه، بل چا ته، ولانعبد غیرك.

واما تقدیمه هر چې دی تقدیم د مسندالیه، د مسندالیه تقدیم ولې کیږي په مسند باندې ویل فلګون ذکره اهم د وجې د کیدو د ذکر د مسندالیه نه اهم، او اهم خو مقدم وي په غیر اهم باندې، نوځکه تقدیم د مسندالیه په مسند باندې کیږي، ولایخفی سره شارح دفع د اعتراض کوي د ماتن نه، ماتن باندې شبه راغله چې یا هلکه ستا مقصود خو نکته بیانول وو لپاره د تقدیم د مسندالیه په مسند باندې، نو هغه خو تا بیان کړه چې فلکون ذکره اهم نو اشکال په اما لاته وروستو په **واما تمکین الخبر** او وروستو چې واما لتعجیل المسرة، او المساءة دي کې اشتغال بمالایعني شو، ځکه نکته خو وشوه، نو شارح راغلو د ماتن د طرف نه جواب کوي چې ولایکفي، کفایت نه شي کیدای په تقدیم د مسندالیه کې په مسند باندې مجرد ذکر الاهتمام دانکته کافي ده، بل لابد ان یبین ان الاهتمام من اي جهة وباي سبب چې مسندالیه مهتم بالشان، ځکه مونږ مقدم کړو په مسندباندې، نو دا اشتغال بما یعني شو، **فلذا فصل الماتن الاهتمام ووجه الاهتمام بقوله اما لانه** تعیین د مرجع کوي چې تقدیم المسندالیه الاصل دا اصل دی، اوس دا تقدیم دمسندالیه اهم ځکه دی چې دا اصل دی، او اصل اهم وي، او اوس اصل دی، نو دلیل لپاره شارح دلیل واني تدقیق کوي، ویل چې لاته چې دا المحکوم علیه دا محکوم علیه دی، او **ولابد من تحققه** د مسندالیه نه په ذهن کې قبل الحکم مخکې د محکوم به نه، ځکه چې ته

محکوم به ورته ثابتوي، او قانون دا دی چې ثبوت د شي شئ لره فرع د ثبوت له وی، شبه دی وائي چې ثبوت خو ذهن کې په کار دی کنه نو ذکر کې یې ولې مقدم کوي، ویل **فقصدوا** قصد وکړو علماؤ ان یکون في الذکر ایضاً مقدما لپاره د موافقت د ذکر د ذهن سره، معترض راغلی شبه یې وکړوله چې هلکه بیا خو فاعل هم په فعل باندې مخکې کول په کار وو، ځکه چې فاعل هم محکوم علیه دی کنه، او فعل محکوم به دی، نو چې ته وائي چې اصل په محکوم علیه کې تقدیم دی نو بیا فاعل په فعل باندې مقدم کړه کنه، نو ده جواب وکړو چې ولا مقتضی للعدول عنه، ای عن ذلك الاصل دا اصل دی خو هله چې مقتضی د عدول د دې اصل نه نوي، او که مقتضی د عدول وي نو بیا دا تقدیم د مسند الیه اصل نه دی اذا کان امر یقتضي العدول عنه د دې اصل نه نو فلا یقدم بیا مسند الیه مقدم کولی نه شي، مثال د منفي چې مقتضی وي نو کما في الفاعل چې په فاعل کې مقتضی شته دی، د دې عدول د دې اصل نه، هلته مقتضی دا دی چې فان مرتبة العامل چې فعل دی مسند دی **التقدم علی المعمول** چې فاعل دی، نو اوس که څوك شبه وکړي چې یا هلکه قانون خو دا دی چې اذا تعارضا تساقطا دی، نو اصالت غواړي تقدیم د فاعل، عاملیت معمولیت غواړي تاخیر د فاعل، نو دا دواړه متعارض شو نو فتساقطا شو، نو بیا مرجح د تاخیر د فاعل لپاره څه دی؟ نو تاسو به جواب وکړئ چې مرجح د تاخیر د فاعل لپاره التباس دی، چې که د ضرب زید په ځای یې مونږ زید ضرب ووایو زید مقدم کړو نو التباس د فاعل د مبتداء سره به راشي، چې دا فاعل مقدم دی او ضرب ورله فعل دی او که نه دا مبتداء ده او ضرب ورله خبر دی، او هغې کې ضمیر مستتر دی او هغه ورله فاعل دی، نو مرجح دا شو.

واما التمکین الخبر یا دا تقدیم د مسندالیه اهم ځکه دی چې لپاره د ثابتولو د خبر په ذهن د سامع کې، دا اهم ځکه دی چې مسندالیه تا مخکې کړو نو دا په ذهن د سامع کې نسبه ثابتیږي او که مخکې دې نه کړو نو بیا نسبه نه متقرر کیږي، معترض شبه وکړه چې په تقدیم سره څنګه په ذهن د سامع کې نسبه ثابتیږي؟ ویل لان في المبتداء تشویقاً ویل ځکه چې مبتداء کې شوق وي دې خبر ته، نو چې هر کله مبتداء کې اشاره وشوه خبر ته، نو اوس مبتداء ما تا ته ذکر کړه، قال وغورځوله نو ته ما ته منتظر ناست ئې، چې یره دې مبتداء کې خو ده اشاره خبر ته وکړه، اوس دې دی دا خبر ما ته ذکر کړي، نو ما تا ته خبر ذکر کړو، نو حصول د شئ بعد الطلب او بعد الانتظار راغلی، او حصور د شئ بعد الطلب او بعد الانتظار الذ وي، مثال داسې شو لکه کقوله ویل دا قول د شاعر شو، د ابو العلاء المعري، والذي حارت البریة فیه، حیوان مستحدث من جماد، قال الشیخ بطرز مخصوص ویل هغه څیز چې حیوان دی مخلوقات په هغې کې، دا تولې مبتداء شوه، نو اوس ما تاسو ته وویل چې هغه څیز چې خلک په کې حیران دي...! تاسو تول به سرونه پورته کوئ او ما ته به ګورئ چې یره هغه څیز څه دی؟ او ما ته به انتظار کوئ چې یره هغه شی څه دی؟ متکلم دا ذکر کړی نو شوق نه وروستو ما تاسو ته وویل حیوان مستحدث من جماد یو حیوان دی

چې پیدا شوی دي د جماد نه، غیر ذي روح نه، لکه ورځ د قیامت کې مړی به پیدا کیږي د خاورو نه،
خاورو نه مړی، من جماد دی، خاوري جماد دي من یحیي العظام وهي رمیم، یعنې سره دفع د اعتراض
کوي چې یا هلکه حارت خو د حرارت نه دی، حرارت گرمی ته وائي، نو معنی دا شوه چې هغه شی چې
گرم شوی دی خلک په هغې کې، نو د دې څه مطلب؟ دا خو صحیح نه دی، جواب وکړو شارح یعنې
تحیرت الخلائق حیران شوي دي مخلوقات، چې یا هلکه حارت د تحیر نه دی، د حرارت نه ندی،
تحیرت الخلاق في المعاد الجسماني په واپس کیدو د جسم کې په قیامت کې والنشور الذي اوپه
خوریدو هغه کې، میدان محشر ته لیس بنفساني چې هغه نفساني نه دی، څکه نفساني باندې کافر هم
قائل دی، خو په جسماني نه دی، بعضې کافر قائل دي، نو گوره دلته کې الله وویل چې د زمکې نه دا
مخلوق بیا زه پیدا کولی شم شبه یا هلکه ته دلته کې د معاد نه معاد جسماني اخلي، نو قرینه په دې
باندې څه ده؟ جائز ده دا توجیه د قول د شاعر بما لایرضی به شاعر دې شي، ویل بدلیل ما قبله ویل په
دلیل د هغه شعر چې مخکې د دې شعر نه دی، هغه دا دی چې:

بان امر الاله واختلف الناس فداع الی ضلال وهاد

ویل ظاهر شو امر د الله، الله حکم وکړو چې تاسو بیا به ژوندي کیږئ، بیا به تاسو د قبرونو نه پاڅئ او
میدان محشر ته به ځئ، نو چې دا امر الله وکړو نو اختلف الناس خلق مختلف شو، داسې فداع الی
ضلال یو بلونکی شو گمراهی ته چې انکار دی، د معاد جسماني او بل هاد چې اقرار کوي په معاد
جسماني باندې، یعنې بعضهم یقول بالمعاد و بعضهم لایقول به نو هغه ضلال شو، ویل تفسیر دا
دی، نو دا توجیه د قول د شاعر بما لایرضی نه شو، او ځني وائي حیوان مستحدث من جماد نه مراد
حیوان دی د نطفې نه او نطفه هم جماد دی، څوك وائي د دې نه مراد ثعبان د موسی علیه الصلوة
والسلام مراد دی، څکه ثعبان، اژدها د موسی علیه الصلوة والسلام پیدا وه د آمساء نه، څوك وائي
ناقه د حضرت صالح علیه الصلوة والسلام مراد ده، څکه د هغه ناقه حیوان وو، پیدا وو د جماد نه چې
گټه ده، او پینځم قول دا دی چې حیوان مستحدث نه مراد ققنس دی، دا یو مارغۀ دی، هغه دي وطن
کې نه وي، هغه دي هندوستان کې وي، د دې ققنس نشو ونما داسې ده، چې د ده عمر ډیر اوږد دی،
زر کاله عمر وي، او د هغې په دې منبوکه کې ۳۶۰ سوري دي، او د هر سوري نه مختلف اوازونه
اوځي، دا فن موسیقي، ډمگري دا ئې د دې ققنس نه ایجاد کړي ده، د هغه نه یې زده کړي دي،
موسیقي په حکمت کې یو مستقل فن دی، دی ډمگری ته وائي، چې زر کاله پوره شي نو دي ته الهام
اوشي نو دي لرگي جمع کړي، داسې یو ډیرکی د لرگو جوړ کړي بیا هغه لرگو کې په خپله کیني، او دا
پَر ووهي، نو هغه لرگو ته اُور ولگي، نو چې اُور ولگیدو نو هغه اوسوزي، ایره تري نه جوړه شي، هغه
ایري نه بیا نور ققنسان پیدا کیږي، نو حیوان دی خو دا د سباق نه خلاف دی، د دې وجې نه شارح دا

پښتم قول مراد کړو، څکه د شاعر د سپاق نه خلاف دی، واما لتعجيل المسرة او يا تقديم د مسند اليه کولی شي د پاره د تلوار کولو د خوشحالولو د سامع او المساءة او يا د خفه کولو د سامع، خوشحالي څکه للتفاول د نيك پالی د وجې نه علة لتعجيل المسرة خفه کوي څکه او التطير د بد فالی نيولو لپاره علة لتعجيل المساءة، بدپالي، يعني ستا حالت خراب دی، نو چې دا زيری ورته تا ورکړو چې ستا حالت خراب دی، نو مخاطب خفه کيږي، التطير ويلی شي بدفالی ته، نحس والي ته، پښتو کې سپيره توب ته هم ويلی شي، لکه ته ووائي چې سپيره ئې، نو هغه خفه کيږي، لکه ته ورته ووائي سعد في دارك لتعجيل المسرة لپاره، څکه سعد د سعادت نه دی، سعادت کاميابی ته وائي، ای هلکه سعد ستا په کور کې دی، نو مخاطب به خوشحاله شي، والسفاح في دار صديقك ويل وينه تويونکي ستا د دوست په کور کې دی، نو هغه به خفه شي لتعجيل المساءة، واما لابهام او يا تقديم د مسند اليه کولی شي لپاره د غورځولو د متکلم په وهم د سامع کې چې انه دا مسند اليه ای المسند اليه، لايزول عن الخاطر د زړه دمتکلم نه، متکلم وائي دا زما د زړۀ نه اووځي نه لکونه مطلوبا او انه يستلذ به يا دا متکلم لذت حاصلوي، خوشحالي حاصلوي په دې مسند اليه سره لکونه محبوباً چې زما ليلی ده، البلاي منكن ام ليلي من البشر واما نحو ذلك نحو ذلك دا دی مثل اظهار تعظيم لکه رجل فاضل عندي لوی عالم زما په خوا کې ناست دی، او تحقيره لکه رجل جاهل في الدار، او ما اشبه ذلك.

قال عبد القاهر د عبد القاهر غرض څه دی، د دې راتلونکي کلام خپل نه او د ماتن غرض څه دی د نقل کولو د عبد القاهر نه نو د عبد القاهر غرض دا دی، چې دی بعضې نکات بيانوي لپاره د کون د تقديم د مسند اليه اهم لپاره، خو علاوه د هغه نکاتو نه چې ماتن بيان کړي دي، د ماتن غرض دا دی چې دي د عبد القاهر کلام نقل کوي، وروستو بيا ووافق السكاكي او د سکاکي کلام هم نقل کوي، موازنت لپاره، ويل دواړه کلامينو کې موازنت کوي، او بيا په بعضې خبرو د سکاکي باندې رد کوي، چې دا بعضې خبرې د سکاکي خطاء دي او مردود دي، د ماتن غرض دا شو، نو **قال عبد القاهر** متن صرف عبد القاهر دی، قال شارح وويل، نو اشاره وکړه شارح چې دا عبد القاهر فاعل د فعل محذوفه دی، نو که اوس څوك شبه وکړي چې يا هلکه شارح په مختصر کې دا عبد القاهر فاعل د فعل محذوفه وګرځولو او په مطول کې يې دا مبتداء ګرځولی دی، او خبر يې ورله ګرځولی دی، داسې يې ويلي چې عبد القاهر اورد کلاماً نو دا وجه څه ده؟ نو تاسو جواب وکړئ چې دا دواړه نظرين سواسي دي، نومختصر کې يې ديته نظر وکړو چې مونږ دا مبتداء وګرځوو او خبر ورله محذوف وباسو نو بيا کثرت په حذف کې راځي، څکه پوره جمله به حذف شي فعل او فاعل دواړه، او مطول کې يې ديته کتلي دي چې دا د هغه مواضعو نه ندی، چې هلته کې حذف د رافع د فاعل کولی شي په حذف وجوبي سره، نو چې د هغه مواضعو نه ندی، نو دې وجې نه يې دا مبتداء وګرځولو او خبر يې ورته محذوف کړو، وكلام النظرين صحيحان، نو

او **لتفصيل المسند** متن دا دی چې او المسند ، ویل یا عطف د یو شي په مسند الیه باندې کولی شي، نو دا عطف شو په مسند الیه باندې، نو د هغې نه مخکې تفصیل وو، نو هغه تفصیل شارح راوویستلو، **بانه:** سره دا تصویر ذکر کوي لپاره د تفصیل د مسند لپاره داسې چې بانه دا مسند قد جعل، باحد المذکورین اولا وعن الاخر بعده مع مهلة لکه ثم کې او بلا مهلة وي لکه په فاء کې، کذلك تعین د مشار الیه کوي، ای مع اختصار یعني په شان د دې مخکني اختصار، یعني سره د اختصار نه، اوس سائل سوال وکړو چې مخکني کې مع اختصار خو احتراز وو د جاءني زید وجاءني عمرو نه، نو دلته کې دا مع اختصار د چا نه احتراز وشو، نو شارح جواب کوي چې واحترز ای الماتن بذلك په دې کذلك سره عن نحو جاءني زید وعمرو بعده بیوم او وعمرو بعده بسنة یا و عمرو بعده باسبوع او ما اشبه بذلك یا او عمرو بعده بشهر، دا وما اشبه بذلك، نو دلته کې تفصیل د مجئ یې خو راغلی، چې مجئ د زید نه اول صادر شوی او د عمرو نه وروسته یو ورځ یا دوه ورځې، یا یو کال یا یو هفته یا یو میاشت، لیکن مع اختصار نه دی ځکه بعده بیوم لویه لرې ذکر شوه، دارنګه بعده بسنة ذکر شو، اوس مثال د دې تفصیل د مسند دا دی چې نحو جاءني زید فعمرو دا د فاء مثال شو او جاءني زید ثم عمرو، او جاءني القوم حتی خالد نو دا دري حروف عاطفه شو، ف، ثم، او حتی قانون دا دی چې په دوو ځیزونو کې یا د دوو نه بره ځیزونو کې دوه ځیزونه په کار دي، یو ما به الاشتراك او بل ما به الامتیاز، نو اوس دې فاء او ثم او حتی کې، ما به الاشتراك او ما به الامتیاز څه دی؟ ځکه دا قانون کلي دی چې په دوو شیئینو کې یا فوق د شیئینو نه، هغې کې ما به الاشتراك هم په کار دی، او ما به الامتیاز هم په کار دی، نو دې کې څه شی شو، نو شارح ما به الاشتراك ته اشاره کوي، ویل فالثلثة تشترك في تفصیل المسند دا دري واړه حروف مشترك دي په تفصیل د مسند کې چې دا مجئ یو نه وو دوه وو، **الا:** سره مابه الامتیاز ذکر کوي، ویل فرق دومره قدري دی چې ان الفاء تدل علی التعقیب خو من غیر تراخٍ، چې دا مجئ د عمرو د مجئ د زید نه وروستو وه خو په کې څه وخت نه وو، بلکه متصل وو، او وثم علی التراخي او ثم دلالت کوي په تراخي باندې، چې دا مجئ د عمرو د زید نه وروسته وه خو یو ورځ یا کېنټه نیمه کېنټه ۱۵ منټه وغیره خو په کې وخت وو، **وحتی، تدل علی ان اجزاء ماقبلها** کوم اجزاء چې ما قبل د حتی نه دي چې هغه د متبوع اجزاء دي، یعني متبوع به ذي اجزاء وي، **مترتبة:** یو بل پسې به وي في الذهن یو بل پسې داسې وي چې من الاضعف الی الاقوی او بالعکس چې دا قوي نه اضعف ته به وي، نو دا یې پرې تفریع وکړه په دې ما به الاشتراك او مابه الامتیاز باندې، نو وائي فمعنی تفصیل المسند فیها په دې حتی کې دا دی چې ان یعتبر تعلقه ای المسند چې مجئ دی بالمتبوع اولاً وبالتابع ثانیاً نو معترض شبه وکړه چې یا هلکه بیا د حتی او د ثم فرق رانغلی؟ هلته کې خو هم دغسې حتی ده کنه، نو من حیث کې یې فرق ته اشاره وکړه، چې دلته کې داحیثیت شته دی،

خلاف ځکه راغلی، نو وائي وقد يقدم ويل کله کله مقدم کولی شي مسند اليه، ای المسند اليه، تعيين د مرجع يې وکړو په مسند باندې، ليفيد کې تعيين د مرجع کوي چې فائده کړي التقديم دغه تقديم تخصيصه تخصيص د دغه مسند اليه، بالخبر الفعلي شارح ورسره لګوي ای قصر الخبر الفعلي عليه په دې مسند اليه باندې، دې کې يې اشاره وکړه چې باء داخله ده په مقصور باندې، په مقصور عليه باندې نه ده داخله، اوس د دې قصر د خبر فعلي په مسند اليه پوځی، د دې لپاره يو څو شروط دي يو شرط دا دی چې خبر به فعل وي، هغه خو بالخبر الفعلي نه معلوم شو، دويم شرط دا دی چې ولې د مسند اليه به وي حرف نفي ته، هغې ته ماتن اشاره وکړه ان ولِيَ تعيين د مرجع يې وکړو چې که نږدې وي المسند اليه حرف النفي، حرف نفي ورته نږدې وي، ای وقع بعدها سره دفع د اعتراض کوي، چې يا هلکه ولې خو عام دی، ولې دا هم راځي، چې دا حرف نفي د مسند اليه نه مخکې وي، او ولې دا هم راځي چې دا حرف نفي د مسند اليه نه وروستو وي، او مسند اليه مخکې وي، نو ولې عام ده، نو دلته کې کومه مراد ده، نو شارح تعيين وکړو چې ای وقع بعدها چې واقع شوی به وي دغه مسند اليه پس د حرف نفي نه، چې حرف نفي به مخکې وي او مسند اليه به وروستو واقع شوی وي، بيا شبه راغله چې يا هلکه ولې خو د امور اضافيه ؤ نه دی، ځکه چې اول ولې دی په نسبت سره ثاني ته، ثاني ولې دی په نسبت سره ثالث ته، ثالث ولې دی په نسبت سره رابع ته، نو مراد به دا وي چې مسند اليه به د حرف نفي نه واقع شوی وي په دريمه يا څلورمه مرتبه کې نو هغې ته هم ولې وائي، نو ده جواب وکړو چې **بلافصل** چې يا هلکه د دې مسند اليه او د دې حرف نفي په مينځ کې به هيڅ فاصله نه وي، مثال داسې شو چې ما انا قلت هذا دواړه شرطين راغلي دي، خبر فعل دی قلتُ او مسند اليه وروستو د حرف نفي نه دي چې ما دی ای لم اقله او ما نه ده ويلي دا خبره، دا معنی شوه، نو قصر د عدم مقوليت وشو متکلم پورې، چې دا خبره زما قول نه دی، مع **انه مقول لغيري** سره د دې نه چې دا خبره مقول د غير د زما نه دی، نو فالتقديم سره شارح تفريع وکړه پس تقديم د مسند اليه چې انا دی په دې قلت باندې چې مسند فعلي دی **مفيد نفي الفعل عن المتکلم** خو صراحةً، او ثبوت د دغه فعل چې مقوليت د دغه قول دی غير د متکلم ته خو التزاماً، ځکه صريحي معنی دا شوه چې دا عدم مقوليت په ما پورې مقصور دی، د دې مدلول التزامي دا شو چې دغه مقوليت د دې قول ما نه غير ته ثابت دی، ورنه بيا قصر نه صحيح کيږي، نو چې نفي چې د متکلم نه کوي او ثبوت غير ته کوي نو دا علی متعلق کوي د دې ثبوت پورې، ثبوت چې غير نه کوي، نو علی الوجه الذي په هغه طريقي سره به کوي نفي چې نفي کړی شوی وي دغه فعل عنه د متکلم نه، که د متکلم نه نفي په طريقي د عموم سره شوي وي نو ثبوت غير ته په طريقي د عموم سره به کوي، لکه چې ته ووائي چې ما انا رايت احداً نو عدم رؤيت د احد متصور شو په متکلم پورې، نو ثبوت غير ته رؤيت د کل احد راغلی، نو عموم شو. من العموم، **والخصوص** يا په طريقي د خصوص سره لکه هغه ما انا قلت هذا، زيدٌ قائم عدم

حصول کيدل مقصور دی په ما پوري او دغه زيد قائم مقوليت د غير لپاره ثابت دی، او زيد قائم يو مفعول خاص دی، اوس معترض راغلی شبه يې وکړه چې دا ثبوت عام کيږي ولې نه؟ چې دا ثبوت په هغه طريقې سره شوی چې کوم طريقې سره نفي شوې ده، جائز ده چې نفي يا دې عام وي د متکلم نه او يا به خاص وي او ثبوت دې خاص وي کنه، نو دی وائي ولا يلزم او لازم نه دی ثبوت د دغه فعل **لجميع من سواک** ای متکلمه، دا ضروري نه دی په دي خصوص کې، دا ځکه نه دي لان التخصيص، ځکه تخصيص او قصر انما هو کيږي بالنسبة الی من يتوهم المخاطبُ اشتراکك معه سره د دې مَن نه، دا په قصر افراد کې او انفرادك يا انفراد ستا ای متکلمه به په دي سره دونه نه د دې مَن، دا په قصر قلب کې، او مخاطب توهم د اشتراك د کل ما سوی سره نه کوي، يا توهم د مقوليت غير ته د کل اغيارو سره هم نه کوي، خو چا سره چې ستا شرکت راځي نو هغې کې توهم کوي کل ماسواك سره نه کوي، چا ته چې ثبوت د فعل شوی دی نو هغه ته ثابتوي، چا نه چې نه وي شوی نو هغه نه نه ثابتوي، **ولهذا** نه غرض د ماتن دا دی چې دليل اني ذکر کوي چې کوم ځای کې نفي د متکلم نه او ثبوت صحيح وي نو هلته کې قصر هم صحيح وي او چې نه وي نو بيا قصر هم صحيح نه وي، **ولهذا** او د دې وجې نه چې دا تقديم فائده کوي **تخصيص**، تخصيص دا معنی چې نفي د حکم، نفي د خبر او محکوم به د مذکور نه چې متکلم دی سره د ثبوت د دې حکم نه غير ته، نو لم يصح ما انا قلت هذا ولاغيري چې ما انا قلت سره ولاغيري ټل کړي دا صحيح نه دی، عدم صحت لپاره شارح دليل وائي چې صحيح ځکه نه دی چې لان مفهوم ما انا قلت مفهوم التزامي د ما انا قلت تقاضه کوي ثبوت قائلية هذا القول لغير المتکلم لکه اوس تاسو ته غير شو، ومنطوق لاغير او مدلول مطابقي د لاغيري تقاضه کوي، **ففيها** نفي د قائليت د دې غير نه **وهي متناقضان ولاما انا رايت احداً** دا هم صحيح نه دی، ځکه **لانه يقتضي ان يکون انسان غير المتکلم** چې قد رای کل احدٍ من الناس، او دا ممکن نه ده چې د متکلم نه علاوه يوسړی وي، مشرق نه مغرب پوري او جنوب نه شمال پوري هر احد او خلکو ليدلی وي، اوس دا تقاضه کوي، **لانه**: دا د يقتضي لپاره دليل دی، ويل ځکه لانه قد نفی عن المتکلم الرؤية علی وجه العموم، چې متکلم وائي چې عدم رؤيت د احد مقصور دی په ما پوري په مفعول کې، ځکه احداً مفعول دی، نو **فيجب ان يثبت لغيره** ای لغير المتکلم علی وجه العموم في المفعول ويل ځکه ليتحقق تخصيص المتکلم او واجب يې ځکه ويل لتحقق... الخ بهذا النفي.

دريم دا چې ولاما انا ضربت الازيداً دا هم صحيح نه شوه، چې دا عدم ضاربيت زما علاوه د زيد نه مقصور دی په ما پوري، او ما نه غير ته ثبوت د ضاربيت دی علاوه د زيد نه، دا هم صحيح نه شوه، ويل ځکه لانه يقتضي ان يکون انسان غيرك قد ضرب کل احد سوی زيد وجه ويل په دې کې دا ده چې ويل دا استثناء مفرغه ده، او استثناء مفرغه کې مستثنی منه محذوف وي، ويل لان المستثنی منه مقدر عام، مقدر دی ويل ځکه چې دا مستثنی مفرغ دی، او عام ځکه دی چې مستثنی منه عام وي د

مستثنى نه. **وكل ما نفيته**: او هر هغه حكم چې تا نفي كړو د دې حكم د مذكور نه، چې مسند اليه د متكلم دى. على وجه الحصر والقصر يجب ثبوته لغير المتكلم تحقيقاً لمعنى الحصر، داسې چې ان عاماً. كه دا نفي د مذكور نه عام وي نو فعام ثبوت غير ته به هم عام وي، فثبوته للغير عام. اى ان كان النفي عاماً فثبوته للغير عام وان كان خاصاً او كه چيرته وي دا نفي د متكلم نه خاص فخاص، نو فثبوته للغير خاص، نو دا تركيب د قبيلې د ان خيرا فخير وان شراً فشر د قبيلې نه شو، ان خيراً فخيراً وان شراً فشر، كافيه كې تاسو ويلې دي. شارح عذر پيش كوي چې په مطول كې تا دلته كې لږ كوږې تفصيل كړى وو نو دلته تا تفصيل ولې ونه كړو؟ الالفاظ المخطوطة مني، واما تعبير الشيخ فلم يحتفظ في الشريطة نو شارح وويل چې ما اول نه وعده كړې وه، چې مختصر كې به خبره زه لنډه كوم، او دويم اشاره كوي شارح تعليم د مطول ته، چې مطول ووايي، ترغيب ورکوي طالبانو ته چې مطول ووائي، ويل في هذا المقام مباحث نفيسة بيش قيمته وشحنا بها الشرح، والادا هم د شيخ د كلام لاندې داخل دى، شارح ورسره لګوي اى وان لم يلي المسند اليه حرف النفي دي كې يې اشاره وكړه چې الااستثنائيه نه دى، بلكه دغه الامخفف ده د وان لم يلي نه، او استثناء څكه نه ده چې مستثنى كې فاء نه شي راتلى، او وروستو دلته فقد ياتي كې فاء راغلې ده. **بان لا**: دې كې شارح ديته اشاره كوي چې الالاندې دوه صورتونه دي يو نه دى، يو صورت ته شارح اشاره وكړه چې بان لايكون في الكلام حرف النفي كلام كې د سره حرف نفي نه وي نه د مسند اليه نه مخكې او نه وروستو، دويم صورت دا دي چې او يكون حرف النفي متاخرا يا حرف نفي به وي خو د مسند اليه نه به مخكې نه وي وروستو به وي، نو دوه صورتونه شول، نو دا راتلونكى متن اول صورت سره ولګوئ، چې حرف نفي د سره نه وي نه مقدم او نه مؤخر، نو بيا قصر نه فائده كوي، كله تخصيص او قصر لپاره راځي تقديم او كله تقويت لپاره راځي. نو فقد ياتي التقديم، تقديم المسند اليه للتخصيص يعني د حصر او د قصر لپاره راتلى شي، ردا على من زعم، لپاره د رد كولو په هغه مخاطب باندې چې هغه زعم كوي انفراد غيره د انفراد د غير المسند اليه المذكور به سو دا قصر قلب شو. او زعم يا زعم كوي دغه مخاطب مشاركته اى مشاركة الغير فيه، اى في الخبر الفعلي اى بالخبر الفعلي، د متكلم سره، دا قصر افراد كې شو، مثال داسې شو نحو انا سعيت في حاجتك، دا مثال د دواړو لپاره صحيح كيږي، د قصر قلب د افراد دواړو لپاره، نو شارح لمن سره دواړو سره لګوي، دا لمن هغه مخاطب ته وويلى شي، زعم چې هغه وائي انفراد الغير بالسعي ما وويل زما په دې كار كې سعي او كوشش سعيد نواز كړى دى او مختار احمد نه دى كړى، نو مختار وويل چې انا سعيت في حاجتك نو فيكون قصر قلب او زعم مشاركته لك ستا سره اى متكلمه في السعي، ما دا وويل چې زما په دې كار كې سعي مختار احمد او سعيد نواز دواړو كړې ده مختار احمد وويل ما كړې ده، سعيد نواز ما سره نه وو فيكون قصر افراد قطع د شركت

بې وکړه. ویؤکد علی الاول تاکید کولی شي د دې مسند الیه یه تقدیر اول باندې. د اول تعین مصداقي کوي ای علی تقدیر کونه رداً علی من زعم انفراد الغیر چې قصر قلب وو، تاکید ئې کوي، بنحو لاغیري لاغیري خو لاغیري شو، نحو څه شی شو؟ د نحوې بیان کوي، چې نحو د لاغیري دا ده چې مثل لازید و لاعمرو ولامن سوائي دا یې د ممثل او نحو بیان وکړو. **یؤکد**: څکه دی، د دې سره تاکید داسې راځي، ویل لاته ویل دا لاغیري او نحو الدال دال دی صریحاً علی ازالة شبهة ان الفعل صدر عن الغیر مخاطب ته دا شبه وه، نو دا په هغې باندې صراحةً دال دی، ویؤکد علی الثاني او تاکید کولی شي د مسند الیه بنا بر تفدیر ثاني باندې، د تقدیر ثاني تعین کوي، ای علی تقدیر کونه ای کون التقدیم ردا علی من زعم المشارکة، بنحو وحدي وحدي خو وحدي شو نحو څه شی شو مثل متفرداً او متوحداً او غیر مشارك او دا څکه یؤکد دی، ویل لاته الدال صریحاً علی ازالة شبهة اشتراك الغیر في الفعل، والتاکید انما یکون لدفع شبهة خانجت خالطت، دخلت، قلب السامع، نو زړه د سامع ته اول شبه انفراد د غیر وو، او په ثاني کې اشتراك وو، نو انفراد د غیر په نحو د لاغیري سره دفعه کیږي، او اشتراك د غیر د متکلم سره په نحو وحدي سره رفع کیږي، وقد یاتي لتقویة الحکم د تقویة د حکم دا معنی چې **وتقریره** او ثابتول د دې حکم په ذهن د سامع کې نه متقرر شي، نسبت د دې مسند فعلي مسند الیه ته، شبه هلکه تقویه سره د تخصیص نه به وي؟ ویل نه نه، دون التخصیص نو تقویة الحکم دا قید احترازي شو د تخصیص نه اتفاقي نه دی نحو هو یعطي الجزیل دا فلانکی لوی شي، غټ شی ورکوي، نو اوس دلته کې مسند الیه هو شو او مسند خبر فعلي شو چې یعطي الجزیل دی، او نفي د سره نشته نه مخکې نه وروستو، نو اوس دلته کې مقصود د متکلم قصر نه دی چې اعطاء د جزیل مقصور دی په فلانکی پورې، څکه چې اعطاء د جزیل مقصور په زید پورې یواځې نه دی، اعطاء د جزیل هر مالدار سخي سړی کوي، نو تخصیص صحیح نه شو. چې مالدار هم وي او سخي هم وي. نو هغه اعطاء د جزیل کوي. بلکه دلته کې مقصود تقویة د حکم دی. داسې چې یو څل د یعطي اسناد وشو ضمیر ته چې راجع دی، دې سړي ته. مسند الیه ته، نو اسناد وشو او بیا یعطي سره د خپل فاعل نه چې اسناد یې وشو هو ته مجموعه، نو تکرر د اسناد راغلی او تکرر د اسناد سره تقویة راځي، نو څکه وائي قصداً د وجې د قصد کولو د متکلم الی تحقیق انه، ای المسند الیه چې فلانکی دی یفعل اعطاء الجزیل اوس دي وائي دلته کې تقویت لپاره سبب څه دی؟ دلیل څه دی، هغه په خولې باندې ما تاسو ته مختصر ویلی دی، نو شارح وائي وسیرد علیك ویل ژر دی چې حاضر به شي تا ته او وارد به شي، ای مخاطب غیر معین تحقیق معنی التقوی چې دلته کې تقویت د حکم په اسناد سره راغلی، اوس هغه دویم صورت بیانوي چې حرف نفي خبر به وي، خو د مسند الیه نه مخکې به نه وي مؤخر به وي، نو فعل منفي شو، څکه مسند الیه نه وروستو فعل دی

مونږ پرون ویلي وو چې شارح ویلي وو چې د الالتذ دوه صورتونه دي، یو صورت دا وو چې کلام کې له سره حرف نفي نه وي، نه د مسند الیه نه مخکې او نه د مسند الیه نه وروستو، نو بیا د تقدیم د مسند الیه په مسند فعلي باندې کله لپاره د تخصیص وي او کله لپاره د تقویة وي، اوس وکذا سره هغه دویم صورت ذکر کوي، چې حرف نفي خو وي خو د مسند الیه نه مخکې نه وي، بلکه وروستو وي، نو معنې دا شوه چې وکذا په شان د دې امثلهٔ مذکوره وو چې حرف نفي په کې له سره نه وي، او فعل مثبت دی، د هغې په شان دی دا واذا کان الفعل منفیاً نو امثله مذکوره چې هغې کې حرف نفي له سره نشته دی فعل مثبت دی، هغه مشبه به شوه، او اذا کان الفعل منفیاً دا مشبه شوه، او الّه د تشبیه کان شو، وکذا کې او وجه د شبه شارح بیانوي چې وقدیاتي التقدیم للتخصیص، وقد یاتي للتقوی، اوس مثال ذکر کوي شارح فالاول پس اول چې د تخصیص لپاره وي، نحو انت ما سعیت في حاجتي یعنې دا عدم سعي زما په دې کار کې مقصور دی په تا پورې ای مخاطبه متجاوز نه دی ستا نه غیر ته، بلکه هغه ته متجاوز سعي دی قصداً لپاره د قصد کولو د متکلم الی تخصیص تخصیص د دغه مسند الیه، یا تخصیص د مخاطب بعدم السعي، ځکه مسند الیه او مخاطب یو شی دی، چې تا پورې عدم سعي مقصور دی تا نه علاوه بل ته عدم سعي متجاوز نه دی، بلکه هغه ته سعي متجاوز دی، نو دا شارح مثال وښودلو د تخصیص لپاره په متن کې مثال نشته دی، تقویت لپاره ماتن مثال ښودلی دی متن کې، والثاني د تقوی مثال داسې شو نحو انت لاتکذب نو یو ځل د لاتکذب نسبت وشو انت ته بیا د لاتکذب سره د فاعل نه اسناد وشو بیا انت ته نو تکرر د اسناد راغلی، نو د تکرر د اسناد د وجې نه حکم ښه متقرر شو، نو معنی دا چې وهو لتقویة الحکم المنفي د تقویت د حکم منفي لپاره دی چې عدم کذب دی او تقریره او ثابتول د دې حکم منفي دی په ذهن د سامع کې، نو د انت لاتکذب، ترجمه به تاسو داسې کوئ ته خامخا یقیناً دروغ نه وائي، دا ترجمه مه کوئ چې ته دروغ نه وائي، دا خطاء ده، اوس انت لاتکذب لپاره شارح دلیل وائي چې انت لاتکذب کې تقویت د حکم منفي او تقریر ولې راغلی دی فانه دا انت لاتکذب اشد لنفي الکذب من لاتکذب زیات ځکه دی، شارح د اشد لپاره دلیل وائي ولې لما فیه ویل ځکه چې په انت لاتکذب کې شته دی من تکرار الاسناد المفقود في لا تکذب اوس معترض راغلی په ماتن باندې بې شبه وګرپوله چې یا هلکه دا څه وجه ده چې ماتن مثال د تخصیص په متن کې ذکر نه کړو، هغه شارح ذکر کړو چې انت ما سعیت في حاجتي او د تقویت مثال ماتن په متن کې ذکر کړو، نو یا خو دواړه په متن کې ذکر کول په کار وو، یا دواړه په متن کې ذکر کول نه وو په کار، نو اوس تا یو متن کې ذکر کړو او بل ذکر نه کړو، نو ترجیح بلا مرجح راغله، نو شارح راځي دماتن طرف نه جواب کوي چې ترجیح بلا مرجح نه راځي، مرجح شته دی، هغه دا دی چې دا وروستو دا مسئله پرې تفریع کوي، چې وکذا من لاتکذب انت داسې مسئله تفریع کوي، د تقریر د

حکم او د تقریر د محکوم علیه کې فرق بیانوي، چې ای هلکه تقریر د حکم کې او تقریر د محکوم علیه کې څه فرق دی؟ نو د دې مسئلې د تفریع کولو لپاره هغه تقویت دحکم لپاره مثال په متن کې ذکر کړو او د تخصیص مثال یې ذکر نه کړو، نو مرجح پیدا شو، نو وائي واقتصر المصنف کوتاهي وکړه مصنف په مثال د تقویت باندې لیفرع علیه التفرقة د دې لپاره چې متفرع شي په دې باندې فرق، جدائي بینه په ما بین د تقویت د حکم کې او په ما بین د تاکید دمسندالیه کې اشار الیه بقوله وکذا نو کذا کې اشاره دیته وشوه، چې دی په شان د دې چې انه ای انت لاتکذب اشد دی د نفي للکذب من لا تکذب انت نه، نو اشدیت د انت لاتکذب د من لاتکذب نه، دا مشبه به شوه او اشدیت د انت لاتکذب د لاتکذب انت نه مشبه شو، او اله د تشبیه دا کاف شو، او وجه د شبه وروستو ماتن په خپله بیانوي، چې هلته کې تقویت او تاکید د حکم دی او لاتکذب انت کې تاکید اوتقویت د محکوم علیه دی، څکه دا اشد دی، ویل یعني انه دا انت لاتکذب اشد لنفي الکذب من لاتکذب انت مع انه فیه په لاتکذب انت کې تاکیداً، خو د مسند الیه تاکید دی دحکم نه دی، الاانه ای سره شارح تعیین د مرجع کوي یو، او بیان د احتمالینو کوي په دې مرجع کې دویم، یو احتمال دا چې انه کې ضمیر انت ته راجع کوه، او دویم او لان لاتکذب انت، دیته هم راجع کول صحیح دي، څکه لاتکذب انت مشتمل په انت باندې دی، دا اشد څکه دی چې دغه لفظ د انت او لاتکذب انت دا ټول مثال دي لتاکید المحکوم علیه، د حکم لپاره نه دی، یا هلکه د محکوم علیه تاکید څنګه کوي، ویل بانه دغه محکوم علیه، هو ضمیر المخاطب تحقیقاً، ای حقیقةً خطاء شوي نه ده زما خُوله، هیره رانه نه ده راغلي، یا مجاز مقصد نه دی، چې خطاب زه زید سره کوم او مراد عمرو وي ولیس الاسناد الیه دی مخاطب ته علی سبیل السهو خوله مې نه ده خطاء شوې چې ما خطاب زید سره کولو، او په دې کې عمرو سره ما وکړو والتجور تجوز نه دی چې خطاب د زید سره کوم او مراد عمرو شي، یا نسیان نه دی، نو فرق خود بخود راغلی په ما بین د تاکید د محکوم علیه کې او تاکید دحکم کې، تاکید د محکوم علیه بنا دی په دفع د توهم دسهوې د تجوز او نسیان لپاره، او د تاکید حکم لپاره سبب انکار د مخاطب یا شك د مخاطب دي نو جدا جدا شو، لالتاکید الحکم، ویل دا تاکید د اسناد لپاره نه دی څکه تاکید د اسناد خو په تکرر سره راځي، او اسناد خو مکرر شوی نه دی لعدم تکرر الاسناد اوس متن وروستو دا دی.

والا بنی الفعل علی منکر نو هلته کې واو راغلی وو، نو واو خوحالیه نه صحیح کیږي، استنافیه نه صحیح کیږي، خو واو عاطفه دی، نو شبه راغله چې واو عاطفه خو تقاضه د معطوف علیه کوي، د دې معطوف علیه کوم دی، نو شارح جواب وکړو چې د دې معطوف علیه محذوف دی، نو هغه محذوف معطوف علیه ته شارح اشاره وکړه **وهذا الذي ذکر من التقدیم للتخصیص تارة والتقوی اخری** خو دا په هغه صورت کې ان بنی الفعل علی معرف که چیرې فعل بنا کړی شي په مسندالیه معرفه باندې، څکه

په دې ټولو مثالونو کې مسند اليه معرفه دی، اوس وان بنی الفعل علی منکر اوس که بنا کړی شي فعل په مسند اليه نکره باندې، چې مسند اليه نکره وي، اخوا د سره نفي په کلام کې نه وي، يا خو وي خو د مسند اليه نه مؤخر وي افاد التقديم نو بيا فائده کوي تقديم د مسند اليه په مسند باندې تخصيص الجنس قصر د جنس او الواحد يا قصر د واحد به ای بالفعل، يعنې يا قصر د فعل جنس پورې يا قصر د فعل واحد پورې، لکه مثال داسې شو نحو رجل جاءني نو تخصيص د جنس نه يې اشاره وکړه لامرءة يعنې دا مجئ مقصور دی جنس د رجل سره جنس د رجل نه متجاوز نه دی جنس د مرءة ته نو فيکون تخصيص جنس، او لا رجلان نو دې کې تخصيص فردي شو، چې دا مجئ مقصور دی يو سړي پورې دور پورې نه ده، فيکون تخصيص واحد نو دا تخصيص فردي شو، ديته تخصيص فردي وائي، اوس معترض شبه وکړه چې تخصيص جنسي يا تخصيص فردي خو فرع د دلالت د لفظ ده جائز ده چې لفظ دلالت په فرد باندې دې کوي فقط، يا لفظ دلالت دي په جنس باندې کوي فقط، نو دا مثال د دواړو لپاره خو صحيح نه شو، ځکه چې د رجل معنی به خالي نه وي يا به دا لفظ د رجل وضع شوی وي د جنس لپاره نو دا صرف تخصيص جنسي لپاره مثال شو، فردي صحيح نه شو، او يا لفظ د رجل به وضع شوی وي د واحد لپاره، نو دا د تخصيص فردي لپاره مثال صحيح شو، جنسي نه شو، نو شارح وذلك سره جواب کوي چې د دواړو لپاره صحيح دی، ځکه چې رجل جنس لپاره هم محتمل دی، او فرد لپاره هم محتمل دی، ويل وذلك دغه رجل دی، حامل للمعنيين معنيين دا دي الجنسية والعدد المعين جنس لپاره هم چې د جنس د رجل نه او عدد معين لپاره هم اعني الواحد عدد معين واحد دی، خو دا هله ان کان مفرداً يا عدد معين دوه دي او الاثنين، ان کان مثنی، يا عدد معين الزائد عليه يو باندې او دوو باندې ان کان جمعاً لکه رجال شو، نو دا پرې تفريع شو فاصل النكرة المفردة ان يكون لواحد من الجنس فقد يقصد به الجنس فقط نه واحد وقد يقصد به الواحد فقط

والذي يشعر به كلام الشيخ د دې نه غرض د شارح يا بيان د واقع کوي په اختلاف سره په اصطلاحينو کې، چې اصطلاح د شيخ او اصطلاح د مصنف او د سکاکي کې خلاف دی، نو دا بيان د واقع شو، ځکه چې د مصنف اصطلاح دا شوه چې که مسند اليه نکره وي نو تقديم لپاره د تخصيص راځي او که مسند اليه معرفه وي نو کله تقديم د تخصيص لپاره او کله تقويت لپاره راځي، او د شيخ اصطلاح دا ده چې معرفه او نکره کې فرق نشته دی، خو صرف نفي د سره نه وي يا د مسند اليه نه وروستو وي، نو تقديم کله کله لپاره د تخصيص او کله لپاره د تقويت راځي، نو د شيخ اصطلاح د ماتن او د سکاکي نه خلاف شوه، او ولا مشاحة في الاصطلاحات نو د شارح غرض بيان د واقع شو، په بيان د اختلاف سره په اصطلاحينو کې، ځکه ماتن خو ناقل دی د سکاکي نه، نو سکاکي ځان له په مسائل د علم البيان کې مقلد د چا نه دی او شيخ هم نه دی، نو دهغه اصطلاح دا ده او د سکاکي اصطلاح دا ده او د ماتن،

يا غرض د شارح الذي يشعر به كلام الشيخ نه. ماتن باندې شبه کړي او خې. شبه داسې کوي چې د متن د کلام نه دا معلومه شوه چې که مسند اليه معرفه وي نو تقديم کله کله لپاره د تقويت او کله لپاره د تخصيص راځي. او که مسند اليه نکره وي نو تقديم لپاره د تخصيص راځي، او شيخ ويلي دي چې فرق نشته دی په مسند اليه نکره او معرفه کې، دواړو کې تقديم کله لپاره د تخصيص او کله لپاره تقويت راځي، نو د مصنف دا کلام خلاف شو د عمده نه. ځکه شيخ په دې فن کې عمده دی. او خلاف د عمده نه بې د نکتې نه خطاء وي نو د ماتن دا خبره خطاء شوه. نو شارح دا شبه پرې وکړه او خان له لاړ. جواب مواب يې نه دی کړی. نو تاسو به جواب وکړئ چې دا اصطلاحات دي او ولامشاحة في الاصطلاحات. د شيخ اصطلاح دي دا وي او د سکاکي هغه ده چې مونږ کومه ويلي ده. ويل **والذي يشعر به كلام الشيخ في دلائل الاعجاز ان لا فرق بين المعرفة والنكرة لا فرق** په دې کې چې في ان البناء عليه اى المسند اليه قد يكون للتخصيص وقد يكون للتقوى دوه غرضونه شو. ما تابعو ته وويل. ويل وافقه تعيين د مرجع کوي، ويل موافقت کړی دی. د دې عبد القاهر سره السکاکي سکاکي بابا على ذلك تعيين د مشار اليه کوي اى على ان التقديم يفيد التخصيص چې تقديم فائده کوي قصر د خبر فعلي په مسند اليه پورې. متوهم ثوهم وکړو چې يا هلکه سکاکي چې هر کله موافق وو د عبد القاهر سره، نو بيا د سکاکي کلام تاولې ذکر کړی، بيا خو ذکر کول کلام د سکاکي بلافائدې شو. ځکه بيا د دواړو کلام خو يو شی شو کنه، نو شارح دفع د توهم وکړه لکن خالفه ليکن خلاف کړی دی سکاکي د عبد القاهر نه في شرائط په شرائطو کې خلاف کړی دی. يو او دا نګه وتفاصيل او په تفاصيلو د صورو کې هم خلاف کړی دی، او خان پرې پوهه کوئ. د سر نه نيسئ. تږل تال صورتونه نهه دي، وجه دا ده چې مسند اليه يا به نکره وي يا به معرفه وي خو اسم ظاهر به وي يا به مسند اليه وي معرفه وي خو ضمير به وي، نو دري شو، دا دري ضرب کړئ په دريو کې، هغه دا چې حرف نفي د سره په کلام کې نه وي، يا وي خو د مسند اليه نه مخکې وي يا وي خو د مسند اليه نه وروستو وي، فعل باندې داخل شوی وي، د مسند اليه نه وروستو فعل دی، هغې باندې داخل شوی وي، فعل منفي شو. نو دري صورتونه په نفي کې شو. نو چې دري ضرب په دريو کې شي نو نهه صورتونه ترې جوړ شول، مسند اليه نکره وي، نو يا حرف نفي د سره نه وي، يا حرف نفي د مسند اليه نه مخکې وي، يا وروستو، يا مسند اليه معرفه وي او اسم ظاهر وي، حرف نفي د سره نه وي، يا حرف نفي وي خو د مسند اليه نه مخکې يا وروستو وي، نو دري دغه شو. مسند اليه معرفه وي ضمير وي حرف نفي د سره نه وي يا وي د مسند اليه نه مخکې يا وروستو، دري دغه شو، اوس تفصيل د دغه نهه صورتونو کې خلاف دی، د شيخ او د سکاکي، داسې چې شيخ عبد القاهر په دي نهه کې دوه تفصيلونه کوي، دوه تفصيلونه دي داسې کوي چې يا شپږ صورتونه دي د احتمال بيانوي، دا شپږ چې مسند اليه معرفه وي اسم ظاهر وي، دري

صورتونه په دې کې دي، نو دا د احتمال دی، کله تقدیم لپاره د تخصیص کله د تقویت، که مسند الیه معرفه وي او ضمیر وي، دې کې هم دري صورتونه دي، دا هم د احتمال دی، نو شپږ صورتونه شول، د شیخ په نزد باندې شپږ محتمل صورتونه شول، محتمل د تخصیص او تقویت دواړو لپاره، او دري صورتونه د شیخ په نزد باندې د تخصیص لپاره شو فقط، تقویت په کې نشته دی، چې هغه دا دی چې مسندالیه نکره وي نو د دې لاندې دري صورتونه وو، چې حرف نفي د سره نه وي، یا وي خو مقدم وي، اویا مؤخر وي، نو شیخ وائي دلته کې تقدیم صرف لپاره د تخصیص دی، تقویت لپاره نه دی، نو صورتونه نهه شو، او عبد القاهر په نزد باندې تفصیل دوه شو، شپږ صورتونه محتمل شو او دري صورتونه معین شو د تخصیص لپاره، او د سکاکي په نزد باندې هم صورتونه دغه نهه دي خو دی دري تفصیلونه کوي، دري صورتونه د ده په نزد باندې دا دی چې هلته کې تخصیص متعین دی فقط، چې مسند الیه نکره وي حرف نفي د سره نه وي، یا مخکې یا وروستو وي، دا دري صورتونه متعین شو د تخصیص لپاره، دویم تفصیل د سکاکي په نزد باندې دا دی چې هغې کې متعین دي تقویت، چې مسند الیه معرفه نه وي خو اسم ظاهر وي، نو هلته کې تقویت متعین دی، هغې لاندې هم دري صورتونه دي چې حرف نفي د سره نه وي، یا مخکې یا وروستو وي، دریم تفصیل دا دی چې هغه دري صورتونه دي چې هغه محتمل دي، یو دا چې مسندالیه معرفه وي ضمیر وي، حرف نفي د سره نه وي یا مخکې یا وروستو وي، نو دا دري محتمل دي د تقویت او تخصیص دواړو لپاره، نو دا خلاف شو د شیخ او د سکاکي په تفاصیلو کې، چې شیخ عبد القاهر دوه تفصیلونه کوي او سکاکي دري کوي، شرائطو کې دا دي چې کوم وخت کې مسندالیه نکره وي، نو د دې لاندې دري صورتونه وو، چې حرف نفي د سره نه وي یا مخکې یا وروستو وي، او د سکاکي په نزد باندې دا متعین د تخصیص لپاره وو، خو دی دلته کې دري شرطونه ذکر کوي، یو شرط دا چې دغه مسندالیه منکر اصل کې مؤخر فرض کول ممکن دی، دویم شرط دا چې دا تا مؤخر بالفعل، یعني دغه امکان فعلیت ته تا ویستلی وي، دریم شرط دا چې مانع د تخصیص نه به نه وي، نو هله مسندالیه نکره شي نو تخصیص فائده کوي، او دا دري شرائط شیخ نه ږدي، نو دا خلاف د شیخ او د سکاکي په شرائطو کې شو، نو ځکه وائي فان مذهب الشیخ دا دی چې انه شان دا دی ان ولې حرف النفي که مسندالیه نږدې وي حرف نفي ته، نو فهو للتخصیص قطعاً.

والا فقد یکون للتخصیص وقد یکون للتقوی، نو د دې لاندې شپږ صورتونه راغلل، مضمرا کان او مظهراً معرفاً کان او منکراً مثبتا کان الفعل او منفیا عام دی.

ومذهب السکاکي دا دی انه چې مسندالیه ان کان نکرة فهو للتخصیص خو شرط ورسره دی، ان لم یمنع منه مانع، وان کان معرفة کان مظهرا فلیس الا للتقوی محتمل نه دی وان کان مضمراً فقد یکون للتقوی وقد یکون للتخصیص من غیر تفرقة چې داسې صورتونو کې فرق نشته دی، بین ما یلي

حرف النفي وغيره والى هذا اشار بقوله الاانه اى السكاكي قال چې التقديم تقديم د مسند اليه يفيد الاختصاص، فائده کوي قصر خو دوه شرطونه دي ان جاز که ممکن وي تقدير کونه فرض کول د مسند اليه په اصل کې مؤخر، في الاصل مؤخراً على انه فاعل معنى فاعل معنوي ديته وائي، چې هغه بدل وي د فاعل نه يا تاکيد د فاعل وي فقط لالفظاً د فقط ترجمه وکړه شارح، چې لالفظاً، نو ممکن وي لکه نحو انا قمتُ شو، دا مثال مطابق د ممثل سره دي، حرف نفي د سره نشته دی، او تقديم د مسند اليه په مسند فعلي باندې شوی دی او ان اصله قمت انا، داممکن دی، فيکون انا فاعلاً معنى شو تاکيداً لفظاً، معنى کې فاعل دی او لفظ کې فاعل نه دی لفظ کې تاکيد دی، دويم شرط دا دی وقدر او فرض کړی شي دغه جواز، فعليت فرض کړی شي، يعنې دغه امکان وقوع او فعليت ته راويستلی شي، بالفعل ته ووائي چې انا قمت په اصل کې قمت انا وو، ځکه چې امکان مستلزم وقوع لره نه دی، ځکه چې عنقاء ممکن ده خو واقع چيرته نه ده، نو دا شرط ځه مستدرك نه دی، ويل وقدر او فرض کړی شو دغه جواز، فعليت ته راوويستلی شي **عطف على جاز** يعنې سره شارح په دغه دواړه شرطينو کې فرق کوي، چې يا هلکه جاز او قدر کې څه فرق دی، دې دواړو شرطينو کې، دويم غرض د شارح د يعنې نه دا دی چې مونږ ته په ظاهر کې ښکاره کيږي چې دا دواړه يو شرط دی، ځکه جائز کيدل، ممکن کيدل او فرض کول، دا خو يو شرط دی، شارح يعنې سره اشاره کوي چې يو نه دی، شرطونه دوه دي، نو يو اشاره کوي فرق ته، او دويم اشاره کوي دفع د دغه توهم ته چې شرطونه دوه دي، يو نه دی، يعنې قصد کوي ماتن ان افادة التخصيص چې فائده کول قصر د خبر فعلي په مسند اليه پورې مشروطة دی بشرطين، احدهما جواز التقدير جواز د فرض کولو دی، چې فرض کول ممکن وي د دغه مسند اليه په اصل کې مؤخر، والاخر او شرط اخر دا دی ان يعتبر ذلك چې معتبر کړی شي دغه تقدير اى يقدر انه كان في الاصل مؤخراً فعليت ته يې را اوباسي والاشارح وائي دا الااستثنائيه نه دی الا مخفف دی، وائي چې وان لم يوجد الشرطان فلا يفيد التقديم الاتقوى الحكم هغه دري صورتونه دي سواء جاز تقدير التاخير كما مر في انا قمت لکه انا قمت کې تقدير د تاخير جائز دی خو مؤخر کړی يې بالفعل نه وي، ځکه جواز مستلزم وقوع لره نه دی او لم يقدر او لم يجز تقدير التاخير اصلاً يا تقدير د تاخير د سره ممکن نه وي، که ته د فعليت فرض وکړي، او که ونه کړي، خو له سره ممکن نه دی تقدير د تاخير لکه نحو زيد قام کې، فانه لايجوز ان يقدر ان اصله قام زيد فقدم لما د وجې د هغه دليل نه سنذکره هغه دليل دا دی چې مونږه زيد وروستو فرض کړو، نو دا بيا فاعل لفظي گرځي

راتلونکی متن چې دا **واستثنى المنكر** دی، دا جواب د سوال او اعتراض دی چې وارديږي په سکاکي باندې، سکاکي باندې يو سوال او اعتراض وارد شو، نو ماتن د سکاکي د طرف نه جواب وکړو په واستثنى سره، شارح ديته اشاره کوي، نو وائي چې ولما كان مقتضى هذا الكلام ويل هر کله چې وو

غوښتلی شوی د کلام د سکاکي دا چې ان لایکون نحو رجل جاءني مفیداً للتخصیص چې رجل جاءني دا دي مفید لپاره د تخصیص دي نه شي، نو لمنا کان شرط شو، او ان لایکون جزاء شوه. مقدم استثنائیه ورسره ټل کوي **لکن التالي باطل** ان لایکون باطل دی، نو مقدم یې مثل شو. هر چې دی دلیل د بطلان التالي، چې هلکه ان لایکون باطل دی، ولې؟ چې دي مفید لپاره تخصیص نه شو نو یا خو نکارة د مبتداء لازم شو، او نکارة د مبتداء خو جائز نه دی، نو ان لایکون باطل شوه. یا هلکه دلیل د ملازمي څه دی؟ چې مقتضی د کلام دا شي نو رجل جاءني به مفید لپاره د تخصیص نه شي دا څه لازمه ده؟ نو شارح دلیل د ملازمي وائي، ویل دلیل د ملازمي دا دی چې انه دغه منکر دا څه لازمه ده؟ نو شارح دلیل د ملازمي وائي، ویل دلیل د ملازمي دا دی چې انه دغه منکر اذا أخر کله چې مؤخر کړی شو نو فهو فاعل لفظاً لامعنی، نو لفظاً فاعل دی، معنی خو نه دی، خکه چې جاءني رجل خو فاعل لفظي جوړیږي لامعنیً دا شبه شوه نو استثناه السکاکي، نو مستثنی کړی دی رجل جاءني لره سکاکي بابا، نو معترض شبه وکړه چې یا هلکه مستثنی خو ادوات د استثناء غواړي، او د سکاکي کلام کې خو ادوات د استثناء نشته دی، نو شارح جواب وکړو واخرجه من هذا الحکم چې یا هلکه استثناء نه مراد استثناء اصطلاحي نه دی، چې هو المذکور بعد الاواخواتها چې یا هلکه استثناء نه مراد معنی لغوي ده چې خروج او قدر د مستثنی د مستثنی منه نه. او هغه استثناء اصطلاحي نه ده. نو واخرجه خارج کړو سکاکي دې لره د قاعدې نه کومه قاعده؟ بان جعله في الاصل مؤخراً؟ او ګرځولو سکاکي دي منکر لره په اصل کې مؤخر، یا هلکه مؤخر یې کړو نو فاعل لفظي ګرځي کنه؟ ویل نه علی انه فاعل معنی لالفظاً داسې چې مونږه په جاءني کې ضمیر به وایو هغه به فاعل شي، او رجل د هغه ضمیر د جاءني نه به بدل شي بان یکون دا رجل بدلا من الضمیر الذي هو فاعل د جاء ني لپاره لفظاً ویل وهذا معنی قوله ویل دغه استثناء د سکاکي معنی د دې قول د ماتن ده چې و استثنی السکاکي تعیین د مرجع یې وکړو چې و استثنی کې ضمیر سکاکي ته راجع دی، مستثنی کړی دی سکاکي منکر داسې چې بجعله په ګرځولو د سکاکي دی منکر لره من باب واسروا النجوی الذین ظلموا نه معترض راغلی شبه یې وکړه، چې یا هلکه د دې باب نه خو نه صحیح کیږي، خکه چې واسروا النجوی الذین ظلموا ترکیب خو دا دی چې الذین ظلموا موصول سره د صلي نه مبتداء مؤخر ده او واسروا النجوی خبر مقدم دی، نو د دې قبیلې نه ګرځول خو صحیح نه شو، دارنګه بل ترکیب په واسروا النجوی الذین ظلموا کې دادي چې اسروا کې دا واو ضمیر نشي بلکه علامه د جمعي شي او الذین ظلموا دا فاعل شي د دې اسروا لپاره، نو بدل نه شو، او دا واو فاعل نه شي بلکه علامه د جمع ده د دې لپاره چې دلالت وکړي د اول وهلة نه په جمعیت د فاعل باندې، دریم ترکیب دا دی چې دا الذین ظلموا خبر د مبتداء محذوفي شي، چې واسروا النجوی هم الذین ظلموا، څلورم دا دی چې دا

الذين ظلموا مفعول به د فعل محذوفه شي چې اعني واسروا النجوى. اعني الذين ظلموا، نو په دې ټولو ترکيبونو باندې الذين ظلموا، بدل نه شو. نو دا جاءني رجل ته د دغه باب نه څنګه ګرځي؟ نو ماتن جواب وکړو په دې واسروا النجوى الذين ظلموا کې پينځم يو ترکيب هم دی. د سکاکي خبره په هغه پينځم دليل باندې بناء ده. پينځم ترکيب دا دی ويل ای القول بالابدال من الضمير چې اسروا کې واو ضمير شي. فاعل لفظاً شي او الذين ظلموا دا فاعل معنوي شي او دا بدل شي د دې واو نه، يعني سره شارح تشريح د متن کوي، يعني قصد کوي ماتن يا قصد کوي سکاکي چې ان اصل رجل جاءني رجل وو علی ان بنا په دي چې ان رجلاً ليس بفاعل بل هو بدل من الضمير في جاءني کما ذکر في قوله تعالى واسروا النجوى الذين ظلموا چې ان الواو فاعل او والذين ظلموا بدل منه د دې فاعل نه، اوس شارح ورسره دا کښودو چې وانما جعله من هذا الباب دي کې شارح اشاره وکړه چې دا لئلا ينتفي متعلق دی بجعله پورې، دارنګه دا دليل دی د بجعله لپاره، چې سکاکي دا رجل جاءني د باب د واسروا نه ولې ګرځي؟ ويل لئلا ينتفي التخصيص د دې لپاره چې منتفي نه شي تخصيص، مبتداء نکره محضه پاتې نه شي، ليکن دا په هغه نکره مبتداء محضه کې چې د هغې ابتدائيت بغير د تخصيص نه نه صحيح کيږي، او کومه مبتداء چې نکره محضه وي او د هغې ابتدائيت بغير د تخصيص نه صحيح شي هلته کې ديته حاجت نشته. لکه کوکب انقض الساعة شجرة سجدت، بقرة تکلمت، نو دلته کې افاده مخاطب ته ورکوي، اګر که نکره ده، خو دلته کې تخصيص ته حاجت نشته، ويل لئلا ينتفي التخصيص اذ لا سبب له تعين د مرجع کوي، ای التخصيص د تخصيص لپاره سواه، سواه کې تعيين د مرجع کوي، اې سوی تقدير کونه ای رجل مؤخرا في الاصل علی بنا په دي انه فاعل معنیً. معترض شبه وکړه چې تخصيص دي رانه شي کنه؟ ويل لولا انه مخصص ويل که چيرته نه وی دا رجل مخصص لما صح وقوعه مبتداء، نو فائده په کې نشته. او د نکري مبتداء واقع کيدل هله صحيح دي چې فائده مخاطب ته وي، اوس ما تا ته وويل چې رجل جاءني، تا ته يې هيڅ فائده در نه کړه، نه به وائي چې مولوی صاحب زه هم عالم يم په دې چې مشرق، مغرب، جنوب، شمال کې يو رجل دې وي او هغه دې راغلی وي، نو څه فائده رانغله، اوکوکب انقض الساعة کې او شجرة سجدت کې او بقرة تکلمت کې فائده راغله، ځکه تا ته پته نه وه، نو ما تا ته خبر در کړو، نو فائده راغله، بخلاف المعرف، نو دی وائي چې زيد قائم کې ولې نه کوي اي سکاکي دا کار؟ ويل هلته کې نه کوم بخلاف المعرف دليل وائي بخلاف لپاره چې معرفه ولې خلاف ده؟ ويل ځکه فانه يجوز وقوعه مبتداء من غير اعتبار التخصيص، نو هلته کې مونږ دا ارتکاب نه کوو، نو دائي پرې تفريع وکړه چې فلزم ارتکاب هذا الوجه البعيد، لازم شو اتيان په دغه وجې بعيدي باندې في المنکر د ضرورت د وجې نه، دون المعرف ځکه هلته کې ضرورت نشته دی، اوس په فان قيل سره شارح شبه کوي په سکاکي

باندې نو فيلزمه دا د قياس تالي جوړوي او مقدم مطوي را اوباسي، نو تقدير دا شو چې لو صح ما قال السكاكي چې رجل جاءني اصل کې جاءني رجل وو، بنا په دې چې رجل بدل دی د ضمير د جاءنه، نو که دغه ما قال د سکاکي صحيح شي نو فيلزمه لازميږي په سکاکي باندې ابراز الضمير في په تثنيه او جمع کې في مثل جاءني رجلان وجاءني رجال کې، داسې به وائي رجلان جاءني، جاءني رجال به وائي، جاءان رجلان، جاؤوني رجال به وائي، لکن التالي باطل فالمقدم مثله ابراز د ضمير خو بره په تثنيه او جمع کې نشته دی، دا باطل دی نو مقدم يې مثل شو، وجه د بطلان التالي والاستعمال بخلافه، چې تثنيه او جمع کې خو ضمائر نشي ظاهرولی، او وجه د ملازمې ځکه چې ته وائي چې دا رجل فاعل نه دی، بلکه بدل دی نو دغسې دا به تثنيه او جمع کې هم ده. قلنا سره شارح جواب کوي په منع د ملازمې سره، نو وائي قلنا ليس مراده، ان المرفوع چې رجل دي في قولنا جاءني رجل بدل لافاعل ځکه فان **مما لايقول به عاقل فضلاً عن فاضل** د سکاکي په شان، بل المراد چې دا قول چې دا بدل او فاعل نه دی بلکه مراد د سکاکي د دې نه دا دی چې ان مثل قولنا رجل جاءني يقدر فرض کولی به شي چې ان الاصل جاءني رجل وو علی ان رجلا بدل لافاعل، نو دا پرې تفريع کوي چې ففي قولنا رجال جاءوني يقدر ان الاصل جاؤني رجال، نو فرض کولی به شي، او حقيقة داسې نه دی، نو اعتراض او شبه وارده نه شوه، نو هر کله چې دا فرضي شي، نو قانون دا دی چې په فرضو سره احکام نفس الامريه نه شي بدليدای، نو چې په نفس الامر کې رجل فاعل لفظي وو، جاءني رجل کې نو ستا په فرضو سره دا نه شي بدليدای، ويل ځکه چې لان التقدير لايغير الشئ الواقعي، تقدير مفيد د شئ واقعي لپاره نه شي کيدای، بلکه رجل جاءني فاعل لفظي دی، نو ستا په فرضو سره دا فاعل معنوي نه شي ګرځيدای، لان التقدير لايغير الشئ الواقعي، فليتامل، دي کې شارح دي اعتراض او جواب ته اشاره وکړه.

اوس بله خبره د سکاکي رانقل کوي باچه ګلانو ثم قال السكاكي بل كلام ذكر كوي ويل بيا ويلي دي سکاکي وشرطه ای وشرط جعل المنكر من هذا الباب، و اعتبار التقديم په اعتبار د تقديم د منکر والتاخير او تاخير د دې فيه په دې متکر کې په اصل د دې منکر کې، چې اصل کې دا مؤخر وو، وروستو مقدم شوی دی، نو دغه شرط دا دی چې ان لايمنع من التخصيص مانع، چې د دې تخصيص نه مانع نه وي موجود، نو هلته کې دا اعتبار مونږ کولی شو، کقولك چې تخصيص نه مانع موجود نه وي د هغې مثال لکه دا قول ستا شو چې رجل جاءني، دا مثال د نفي شو، چې مانع نه وي د تخصيص نه، على ما مر ان معناه رجل جاءني، نو تخصيص فردي راغلی لاامرءة، نوتخصيص جنسي رانغلی، تخصيص فردي راغلی، او چې مانع وي نو د هغې مثال لکه، دون قولهم شر اهر ذناب، اوس دا دون دی، فان فيه دا دليل وائي د دې دون لپاره فان فيه مانعاً من التخصيص ځکه اما على التقدير الاول يعني تخصيص الجنس، چې تخصيص الجنس دی، فلامتناع ان يراد المهر شر لاخير بيا خو دا معنی

شوه چې دا مُهر، دا غپوونکی د سپي د جنس د شر نه وو او د جنس د خیر نه ندی؟ او دا خطاء ده، امتناع ځکه ده لان المهر لایکون الاشراً ځکه مهر خو نه وي مګر شرِ شر وي، ځکه سپی چې غاپي نو دښمن ته غاپي، ناشنا سړي ته غاپي، اشنا سړي ته نه غاپي، او چې نا اشنا سړي ته غاپي، نو دنا اشنا سړي کور ته راتلل دا شر دی خیر نه دی، شرِ شروي، واما علی التقدیر الثاني، چې تخصیص د واحد دی یعني تخصیص الواحد، تخصیص واحدي هم نه صحیح کیږي فلنبوه د وجې د لري کیدو د تخصیص واحداني نه عن مظان استعماله، د ځای د استعمال د دې ګمان نه، تعیین د مرجعګانو کوي ای لنبو تخصیص الواحد د وجي د لري کیدو د تخصیص وحداني نه عن مواضع استعمال هذا الکلام دا لري ځکه دی دا تخصیص وحداني لاته لایقصد به په دي کلام سره ان المهر شر لاشران دا نه شي قصد کولی ځکه وهذا ظاهر ځکه چې دا کلام خلق په هغه ځای کې کوي، د یو سړي د شرمولو خوارولو لپاره، چې یو مالدار سړی وي، هغه باندې یو حادثه راشي، نو د هغه مال ټول تباه شي، یا یو عزت مند سړی وي هغه باندې یو حادثه راشي د هغه عزت او بادشاهي ختمه شي، نو دا کلام خلک مستعملوي په باره د هغه سړي کې چې سخت ذلت، سخت عجز، سخت ضعف په هغه باندې راغلی وي، په هغه ځای کې مستعمولي، نو اوس که د دې ترجمه مونږه دا وکړو چې یو شر وو او دوه نه وو، نو سختوالی ترې معلوم نه شو، ځکه یو شر اسان وي په نظر سره د دوو نه، نو سختوالی او ضعف د هغه معلوم نه شو، نو ځکه دا مقصود نه دی، اوس ماتن د سکاکي کلام او د قوم کلام کې تدافع ثابتوي، یا تطبیق کوي په دې قول سره چې واذ قد صرح الائمة دا واذ قد صرح الائمة یعني دي قول سره وائي کله چې تصریح وکړه ائمو د نحوي بتخصیصه په تخصیص د دې کلام سره، ائمو د نحوي تصریح کړي ده چې شر اهر ذا ناب کې تخصیص شته دی، یا هلکه څنګه تصریح یې کړي ده حیث تاولوه هغوی تفسیر کړی دی د دې شر اهر ذاناب، بما اهر ذاناب الاشر سره نو شر اهر ذاناب، مفسر شو او ما اهر ذا ناب الاشر مفسر شو، او قانون دا دی چې حکم د مفسر او د مفسر یو وي نو مفسر کې خو تخصیص شته دی، قصر شته دی ځکه ادوات د قصر شته دی چې ما او الادی، نو چې هر کله مفسر کې قصر راغلی او تخصیص راغلی نو معلومیږي چې په مفسَر کې هم تخصیص شته دی، نو **فالوجه**: شارح ورسره لګوي ای وجه الجمع نو اشاره وکړه چې فالوجه کې الف لام عوض د مضاف الیه نه دی وجه د جمع کولو بین قولهم، په ما بین د قول د ائمه ؤ کې په تخصیص د دې کلام باندې او ما بین د قول زمونږه کې چې مانع دی د تخصیص نه، بین قولنا من التخصیص شبه: یا هلکه قول خو د شارح نه وو، نو شارح یې څان ته څنګه نسبت کوي، نو وائي چې یا هلکه قول د سکاکي وو پس د نقل زما او د ماتن نه، زمونږه شو، ځکه مونږه نقل کړی دی، نو څان ته یې نسبت ځکه وکړو، دا ده چې **تفظیعشان الشربد** حالي ده د هغه شان د شر بتنکیره په تنکیر د دې شر سره، ای جعل التنکیر للتعظیم، تفظیع

معنى، دا تنكير لپاره د تعظيم والتهويل. او د يرولو لپاره شو، نو ليكون المعنى شر عظيم فظيع دبدبناك اهر ذاناب غپولي وو خاوند د دارو لره، داړي دا چې مالدار، عزتمند سړی، شر راغلی هغه يې وغپولو، داسې يې وغپولو هغه مال او عزت يې تري ختم کړو لاشر حقير، نو فيكون تخصيصا نوعياً. تخصيص نوعي په کې راغلی. والمانع سكاكي چې کوم بيان کړی دی انما كان من تخصيص الجنس او الواحد. تخصيص جنسي او واحدي نه وو، اوس ماتن موازنه د سكاكي او د عبد القاهر په قول کې نقل کړه، او په بعضې خبرو د سكاكي باندې ماتن رد کوي، نو وائي چې وفيه تعين د مرجع کوي، دفع داعتراض کوي چې د فيه ضمير سكاكي ته راجع دی، نو سكاكي کې نظر دی، نو سكاكي کې څنګه نظر دی؟ هغه خو عالم دی، سړی دی هغه کې څنګه نظر دی؟ جواب يې وکړو ای فيما ذهب اليه السكاكي کې نظر دی، څکه چې د سكاكي د کلام نه يوه دا خبره معلومه شوه چې د فاعل لفظي تقديم جائز نه دی، لکه زيد قام کې او د فاعل معنوي تقديم جائز دی، لکه انا قمت کې، اصل کې قمت انا وو. دا يې ويلي دي مخکې نو په دې باندې رد کوي چې اذ الفاعل اللفظي والمعنوي فاعل معنوي كالتاكيد، لکه تاكيد د فاعل نه والبدل او بدل د فاعل نه سواء برابر دي دا دواړه په في امتناع التقديم په عامل باندې، خو ما بقيا على حالهما شارح ورسره لګوي ما دام الفاعل فاعلاً والتابع تابعاً د دې نه غرض د شارح، تعيين د مرجع ګانو کوي، د بقيا ضمير ابراز کوي، او د حالهما د ضمير ابراز کوي، دويم غرض د شارح اشاره کوي چې دي ما بقيا کې دا ما مصدريه دی، دي وجې نه يې راوويستلو. دلته کې دا مطلب نه دی، ګوري چې مادام محذوف دی، څکه حذف د افعالو ناقصه‌و علاوه د کان نه صحيح نه دي، بلکه دي کې يې اشاره وکړه چې دي ما بقيا کې ما مصدريه ده، وبل مادام الفاعل فاعلاً والتابع... الخ، نو امتناع کې دواړه برابر دي، بل سره شارح ترقي کوي په رد کې بل امتناع تقديم التابع اولى د فاعل لفظي نه دمتبوع نه څکه ته تابع چې مقدم کوي، نو هم په متبوع باندې مقدم کوي او هم په هغه شي باندې چې هغې باندې تقديم د متبوع ممتنع دی چې عامل دی، نو وجې د امتناع دوه راغلي تابع چې ته مقدم کوي، نو يو په خپل متبوع باندې هم او هم په هغه شي باندې چې عامل دی چې هغې باندې تقديم د متبوع ممتنع دی، نو جهت د امتناع په هغې کې قوي شو، او فاعل لفظي چې ته مقدم کوي، نو يوجهت د امتناع راغلی، چې تقديم د معمول دي په عامل باندې دوه نه دي، او دويمه وجه د اوليت دا ده چې امتناع د تابع په متبوع باندې اتفاقاً د نحاتو په نزد باندې ممتنع دی، او تقديم د فاعل په فعل باندې بعضې کوفيانو جائز کړی دی، نو فتجويز دا تتمه د رد کوي، څکه تتمه د رد په متن کې نه وه، نو دا شارح تتمه د رد کوي په سكاكي باندې، نو فتجويز تقديم المعنوي جائز کول د سكاكي تقديم د فاعل معنوي نه د لفظي تحکم دا قول بلا دليل شو، ترجيح بلا مرجح شوه، وکذا سره يو مولانا پاخبدو د سكاكي د طرف نه جواب کوي، د سكاكي د طرف

نه يې جواب داسې وکړو چې مونږه دا تابع چې مقدم کوو په متبوع باندې، نو تابع مونږه فسخ کوو د تابعيت نه او بيا يې مقدم کوو، نوممتنع چې وو نو تقديم د تابع وو سره د وصف د تابعيت نه، او مونږه چې يې مقدم کوو نو تابع د وصف د تابعيت نه فسخ کوو او بيا يې مقدم کوو، او دې کې څه امتناع نشته دی، دا يو مولانا د سکاکي د طرف نه جواب وکړو، نو شارح پرې رد کوي چې ته تابع د تابعيت نه فسخ کوي اومقدم کوي يې نو فاعل لفظي د فاعليت نه منسلخ کوه فسخ کوه او مقدم کوه يې کنه، ځکه د فاعل لفظي مقدم کول هم هله ممتنع دي چې په وصف د تابعيت باندې وي، نو چې د فاعل لفظي نه تا وصف د فاعليت کټ کړو، نو تقديم خو بيا جائز دی، نو ته په تابع کې فسخ د تابعيت نه کوي او په فاعل لفظي کې فسخ د فاعليت نه کوي، نو دا بل تحکم راغلی، وکذا دغسې تجويز الفسخ في التابع دون الفاعل تحکم څکه تحکم دی، ويل لان امتناع تقديم الفاعل، انما هو عند کونه فاعلاً او چې فاعل د فاعليت نه فسخ کړي، نو امتناع نشته دی، اوس مثلاً ضرب زيد کې تا زيد د فاعليت نه فسخ کړو او ضرب کې دي ضمير وويل نو بيا زيد مبتداء مؤخر ده، بيا زيد ضرب وايه، والافلا امتناع في ان يقال في نحو زيد قام انه کان في الاصل قام زيد فقدم زيد وجعل مبتداء کما يقال في نحو جرد قطيفة، ان جرداً کان في الاصل صفة فقدم وجعل مضافاً نو جرد قطيفة شو بل يو مولانا راغلی او د سکاکي د طرف نه يې جواب وکړو چې ياهلکه زه به تا ته وښايم چې تقديم د تابع په متبوع باندې جائز دی، او تقديم د فاعل په فعل باندې چيرته نشته دی، لکه په دې قول د شاعر کې عليك ورحمة الله السلام نو اصل کې داسې وو چې عليك السلام ورحمة الله نو دلته کې تابع چې معطوف دی مقدم کړی شوی دی په متبوع باندې چې معطوف عليه دی، نو تقديم د تابع خو په متبوع باندې جائز دی، نوشارح جواب وکړو چې هلکه امتناع د تابع په متبوع باندې، دا امتناع اجماعي مسئله ده، او بعضې خايونو کې په ضرورت شعري کې جائز دی، او بيا په عطف کې، په هر تابع کې هم نه، صرف په عطف کې خو د ضرورت شعري د وجې نه جائز دي، او ضرورت شعري مستثنی وي ځکه شعر کې جائز دی هغه شی چې لايجوز في غير کې دی، او الضرورات تبيح المحظورات دي، نو ځکه وائي وامتناع تقديم التابع حال کونه تابعا مما اجمع عليه النحاة الافي العطف کرتې ګوره في ضرورة الشعر، نو فمنعُ هذا مکابرة دی، هذا: کې اشاره امتناع ته کوئ، دا امتناع د تقديم د تابع په متبوع باندې منع کول دا مکابرة ده، دا هسې تکبر، ځان غټ ګڼل دي، بل يو مولانا راغلی د سکاکي د طرف نه جواب کوي دويم مولانا داسې جواب کوي چې يا هلکه تقديم د فاعل لفظي جائز نه دی، ځکه چې فعل کې نسبت دی فاعل ته، نو اوس که مونږ فاعل مقدم کړو نو لازميږي بقاء د نسبت بلا طرفه، اوکه تابع مونږ مقدم کړو په متبوع باندې نو دا نه لازميږي، ځکه متبوع ته خو نسبت شته دی، نو ځ دې وجې نه د فاعل لفظي تقديم ممتنع شو او د تابع تقديم جائز شو،

اوس په دې جواب شارح رد کوي والقول بان في حالة تقديم الفاعل ليجعل مبتداء يلزم خلو الفعل عن الفاعل وهو محال ويل ځکه لازميږي بقاء د نسبت بلا طرفه، او بخلاف الخلو عن التابع، تابع نه کې فعل خالي نه شي نو باك نشته دې، ځکه هغه فاعل نه دی، فاعل خو متبوع دی، شارح وائي دغه قول فاسد دی، ناروا دی، ځکه لانه هذا اعتبار محض، ځکه فاعل تا د فاعليت نه وويستلو او مقدم کړي يې نو فعل کې ضمير ووايه کنه، نو چې فعل کې ضمير ووائي نو بقاء د نسبت بلا طرفه رانغله، نو ويل دا هسې ستا د خُولې خبره ده، د ځان نه وائي هسې خبره ده.

لا يدخل النار الا مؤمن ولا يدخل الجنة الا كافر دا مقوله حل کوئ بغير د تاويل نه، د دې جواب هيڅ نه ورنه کړی شو، بيا شيخ په خپله يو هفته بعد ۲۰۰۷/۱۱/۲۸ بروز بدھ وکړو د يو حديث لاندې په مشکوة کې چې دا د يو حديث مطلب دی چې ملحق دي د باب الاستغفار پورې، چې لايدخل الجنة الامؤمن في زعمه چې مؤمن چې خپلې يرې ته وګوري د الله نه نو وائي چې دوزخ ته به زما نه بغير بل څوك نه ځي او ولا يدخل الجنة الاكافر في زعمه چې دی د الله رحمت وګوري نو وائي به چې زما نه بغير به بل څوك جنت ته نه ځي، دا جمله په فقه اکبر کې ده، مغالطه ده.

اوس بل قول د سکاکي ذکر کوي، او وربانديې رد کوي **ثم لا نسلم انتفاء التخصيص** چې سکاکي قائل دی في نحو رجل جاءني کې چې دلته کې تخصيص، څو پورې چې تقدير د تقديم نوی شوی نو تخصيص نشته دی، لولاتقدير التقديم که چيرته نه وي فرض کول د تقديم او د تاخير، ځکه نه منو، سند د منع دا دی لحصوله د وجې د حصول د دې تخصيص نه بغيره تعيين د مرجع کوي اي بغير تقدير التقديم او دا ئې د الزام لپاره وويل چې ګوره سکاکي په خپله قائل دی چې تخصيص دلته کې بغير د تقدير د تقديم نه هم راتلی شي، کما ذکره السکاکي لکه سکاکي هم ذکر کړی دی، يا هلکه هغه غير د تقدير نه څه دی؟ ويل من التهويل رجل کې دا تنکير لپاره د تعظيم ووايه چې رجل عظيم جاءني وغيره او يا غير د تهويل نه کالتحقير والتکثير رجل حقير يا رجل قليل، نو تقدير د تقديم ته حاجت رانغلی، معترض راغلی په ماتن باندې يې شبه وکړه چې يا هلکه تا په سکاکي باندې افتراء کړې ده په دې مخکې عبارة سره، چې اذ لاوجه سواه ويل په رجل جاءني کې وجه د تخصيص نشته سواه سواء د تقدير د تقديم نه، نو وائي په دې کې تا په سکاکي باندې افتراء کړې ده، د سکاکي په کلام کې دا عبارة نشته دی چې اذ لاسبب للتخصيص سواه او افتراء ګناه کبيره وي، نو تا ګناه کبيره وکړه، نو شارح د ماتن د طرف نه جواب کوي چې تهيك ده چې سکاکي اګر که دا عبارة، دا لفظ نه دی ويلی، ليکن د کلام د سکاکي نه ضمناً دا معلوميږي، او مفهوم عام دی مفهوم مطابقي وي او که التزامي وی، نو دا د سکاکي د کلام نه بعبارته اګر که نه معلوميږي خو بلازمه معلوميږي، ويل والسکاکي وان لم يصرح بان لاسبب للتخصيص سواه سوا د دې تقدير د تقديم نه لکن لزم ذلك ليکن لازميږي په

سکاکي باندې دا تصريح من کلامه في المفتاح دليل وائي حيث قال ای السکاکي انما يرتکب ذلك الوجه البعيد چې اصل کې دا مؤخر وو بناء په دې چې دا فاعل معنوي دی بيا يې مقدم کړو، په في المنکر لفوات شرط الابتداء نو د دې عبارة د سکاکي چې انما يرتکب نه، تر لفوات شرط الابتداء د دې مطلب او د اذ لاسبب سواه يو دی، نو افتراء نه شوه، بل رد کوي ماتن په کلام د سکاکي باندې ويل ثم لانسلم امتناع ان يراد المهر شر لاخير ځکه چې په مهر کې مانع د تخصيص جنسي نه دی، ځکه چې مهر دوه جنسه نه دی چې يو د شر نه او بل دخير نه، بلکه مهر وي شر او شر، دا مونږه نه منو، بلکه مهر جنس دی، سند د منع دا دی چې ويل کيف څنګه به مونږه دا ومنو حال دا دی وقد قال الشيخ عبد القاهر قدم شر لان المعنى الذي ځکه معنی دا چې هغه شی... الخ فافهم اهر ذاناب من جنس هغه شی چې غپوولی يې وي خاوند د دارو لره، عزت لره، چې څه حادثه ده هغه د جنس د شر نه وو او د جنس د خير نه نه وو، نو د دې نه معلومه شوه چې تخصيص جنسي دلته کې صحيح دی، اګر که فردي صحيح نه دی، خو خير تاسو شرح الجامي کې ويلې دي چې مهر ويلی شي صوت الکلب ته، نو دا اواز د سپي دوه قسمه دی، يو نباح معتاد دی، هغه دا چې سپی د کور والا او د دوست راتلو لپاره چې غاپي، او چې دشمن او مخالف راځي او هغه غاپي نو هغه شر دی، نو نباح معتاد سره هلته کې بيا مهر جنس دی، لانډې تري تخصيص جنسي راتلی شي، او دويم د سپي اواز دی، نباح د سپي اواز ته وائي، سپی اواز کوي په نباح غير معتاده سره چې کله کله سپی هسې داسې خوله لره اسمان ته نيسي او غاپي، او ژاړي، نو د خلکو په عرف کې دا ده چې څه حادثه راځي څه مصيبت څه فتنه راځي، نو هلته کې د سکاکي مراد هغه نباح غير معتاد دی هغه شر دی، خير په کې نشته دی، شيخ چې ويلي چې په جنس د شر لامن جنس الخير، نو دا په نباح معتاد کې دی، دا قول فيصل کيدای شي.

بل کلام د سکاکي نقل کوي، خو دا د رد لپاره نۀ نقل کوي د توثيق لپاره نقل کوي، ځکه د غټ سړي خبره غټه وي، ويل سکاکي دا خبره هم کړي ده، خو خبره صحيح ده، او سکاکي باندې حواله ځکه ورکوي للتوثيق، چې دا خبره يې ښه کړي ده ثم قال ای السکاکي ويقرب من قبيل هو قام ويل نږدې دی قبيلې د هو قام ته زيد قام نو دا زيد قائم مشبه شوه، او هو قام مشبه به شوه، او اله دتشبيه د يقرب نه فهم شوه، او وجه د شبهي في التقوی، لکه هو قام مفيد لپاره د تقويت دی، ځکه يو ځل د قام اسناد وشو خپل فاعل ته بيا مجموعه اسناد هو ته وشو، نو دغسې زيد قائم کې يو ځل د قائم اسناد ضمير ته وشو بيا د مجموع اسناد زيد ته وشو، نو د تکرر د اسناد د وجې نه تقويت راغلی، اوس په دې متن کې دوه دعوی شوي يو دعوی دا ده چې دازيد قائم قريب دی، هو قام ته په تقويت کې، دا دعوی ايجابي شوه، دويمه دعوی سلبي ده هغه دا شوه چې تقويت په زيد قائم کې په شان د هو قام نه دی، عين نه دی، يعني تقويت د زيد قائم عين د تقويت د هو قام په شان نه دی، اوس د دعوای ايجابي لپاره دليل

ماتن وائي چې ګوره دغه زيد قائم مشابه دی په تقويت کې د هو قام سره لتضمنه ای لتضمنه اي تضمن قائم الضمير مثل قام، لکه قام کې ضمير دی نو په قائم کې هم ضمير دی، نو فبه، نوپس په سبب د تضمن د ضمير سره يحصل للحکم التقوی او تکرر د اسناد د وجې نه تقوی الحکم راغلی، پاتې شوه اوس دويمه دعوی چې يا هلکه تقويت د زيد قائم په شان د هو قام نه دی، چې دا دعوی يې سلبي وه، نو د دې دليل وائي وشبهه اوس په دې شبهه کې د تلخيص دوه نسخې دي، شارح يې بيانوي، يوه نسخه د وشبهه ده يعني فعل سره ده، نو بناء په دې باندې دا په معنی د دليل کې شوه، معنی کې دليل او په لفظ کې دليل نه شو، ځکه لفظ کې فعل دی، او دويمه نسخه د تلخيص دا ده چې وشبهه نو دا بيا معطوف شو په تضمنه باندې نو هغه د لام لاتدې داخل وو، نو دا هم د لام لاتدې داخل شو، يعني لشبهه نو بيا لفظا ومعنی علت شو د دعوی سلبي لپاره، چې تقويت د زيد قائم عين د هو قام د تقويت سره نه دی، نو اوله نسخه شارح بيانوي دتلخيص د شَبهه بالفعل ای شبه السکاکي تعيين د مرجع ګانو کوي چې شبه لپاره فاعل سکاکي دی، او ه ضمير راجع دی، مثل قائم المتضمن للضمير دا سکاکي مشابه کړی دی، بالخالي عنه د ضمير نه چې رجل دی، نو دا قائم سره د ضمير نه مشبه شوه، او خالي عن الضمير مشبه به شوه چې رجل دی او اله د تشبيه اوشبهه نه فهم شوه، وجه د شبهي من جهة عدم تغيره في التکلم والخطاب والغيبة شوه، اوس مثال نو هغه شارح بنائي نحو انا قائم وانت قائم وهو قائم کما لايتغير الخالي عن الضمير نحو انا رجل وهو رجل وانت رجل، فرق نشته، اوس شارح هغه دعوی سلبي ته اشاره کوي، وبهذا الاعتبار او په دغه اعتبار د مشابهت د خالي سره قال ماتن يقرب وويل ولم يقل نظيره، وفي بعض النسخ سره شارح دويمه نسخه د تلخيص بيانوي، ما تاسو ته په خُوله باندې مخکې بيان کړې ده، چې وشبهه بلفظ الاسم مجرورا عطف علی تضمنه لام لاتدې داخل شو، نو بيا دا د دعوای سلبي لپاره لفظاً او معناً علت شو، يعني سره شارح هغه دعوی سلبي را اوباسي، يعني **ان قوله**: دا قول دماتن چې يقرب مشعر چې بان فيه شئ من التقوی چې په دې زيد قائم کې څه تقويت خو شته دی، خو وليس مثل التقوی في زيد قام **وهو**: قام پشان تقويت نه دی، نو دا دعوی سلبي شوه، او دا اول دعوی ايجابي شوه بان فيه شئ من التقوی دعوی ايجابي شوه، او وليس مثل التقوی في... الخ نه دا دعوی سلبي شوه، نو فالاول ځکه لتضمنه الضمير والثاني ولي؟ لشبهه بالخالي عن الضمير.

اوس تاسو ته ښکته په نحوه کې د يوې خبرې سر او لم معلوم شو، چې نحوه کې مونږه زيد قام ته جمله وايو، او زيد قائم ته شبه جمله وايو، يعني قام سره د ضمير نه ديته مونږ جمله وايو، او قائم سره د ضمير نه ديته مونږ شبه جمله وايو، نوځه وجه ده چې قام سره د ضمير نه هم مسند مسندالیه دی اسناد شته دی، او قائم کې هم مسند مسندالیه، اسناد شته دی او قام ته تاسو جمله حقيقيه وائي او قائم ته

شبه جمله وايئ: د دې څه سر دی، نو هغه سر دی د دې ځای نه اوس معلوم شو، نو ولهذا سره هغه بيانوي، او ښکته نحوه کې د هغې جواب تاسو ته ياد دی؟ چا جواب ورنه کړو هلته کې خو مونږه او تاسو داسې وايو چې قام کې هلته کې اسناد شوی دی خارجي ته ځکه هغه ضمير اسم دی، او قام مثلاً فعل دی، نو مسند او مسندالیه کې تغاير اعتباري راغلی، نو دا جمله حقيقيه شوه، او قام کې اسناد شوی دی داخلې ته، دا قائم هم اسم دی او ضمير په کې هم اسم دی، نو مسند او مسندالیه کې مغايرت کامل رانغلی، نو ديته مونږه شبه جمله وويله، خو هغه نحوه کې هسې سرسري خبره ده، اصلي لم د دې خبري دا دی چې په علم المعاني کې ذکر کيږي، ځکه وائي چې ولهذا ای ولشبهه بالخالي عن الضمير د وجې د مشابه کيدو د دې قائم نه بالخالي عن الضمير لم يحكم بانه ای مثل قائم مع الضمير وكذا همدارنګې قائم سره د فاعل ظاهره نه، على فاعله الظاهر قائم زيد چې وويل دا هم ايضا شبه جمله دی، حکم نه دی شوی چې دا جملة جمله ده، ديته يې جمله حقيقيه نه ده ويلې، دارنګه ولاعومل او نه ورسره معامله شوې ده د قائم مع الضمير سره **معاملتها** پشان د معاملې د جملې ای معاملة الجملة في البناء د معاملې د جملې په بناء کې، ځکه جمله من حيث جمله قطع نظر د طرفينو نه مبنی ده، بلکه صاحب کشاف ورته مبنی الاصل ويلې ده، خو قائم مبنی نه دی، بلکه معرب دی، لکه مثل رجل قائم يعني جاءني رجل قائم، رايت رجلاً قائماً و مررت برجل قائم

بله مسئله کوي **ومما يرى تقديمه** شارح ورسره لګوي **ای من المسندالیه** دي کې يې اشاره وکړه چې دا ما عبارة دی د مسندالیه نه، نو خروج د بحث نه رانغلی، الذي کې يې اشاره وکړه چې دا ما موصوله ده، يرى يې بيا معاد کړو، ځکه اعاده د موصول بې د صلي نه لايجوز دی، تقديمه تقديم د دې مسند اليه، شبه يا هلکه تقديم د مسندالیه مقدم عليه غواړي نو دا په چا باندې مقدم دی، ويل **على المسند** په مسند باندې، **كاللازم** په شان د لازم وي، د كاللازم وروستو شارح دوه ترجمې کوي، يو خطاء ده او يو صحيح ده، که د كاللازم ترجمه تاسو دا وکړئ چې کله تقديم کيږي او کله نه کيږي، دا ترجمه خطاء ده، بلکه دا تقديم هميشه کيږي، ځکه تقديم سره مقصود د متکلم حاصليږي، او چې تقديم ته ونه کړی نو مقصود نه حاصليږي، نو دا ترجمه خطاء شوه، دويمه ترجمه صحيح ده، شارح وروستو کوي، هغه دا ده چې دا څه مقتضی د قياس او مقتضی د قاعدې نه دی دا تقديم، **كاللازم**: دا معنی، خو تقديم کيږي لپاره د حصول د مقصود د متکلم

اوس دا تقديم چې کيږي او لازم دی نو د دې لپاره دوه شرطونه دي: ۱ يو شرط دا دی چې دغه مسند اليه لفظ د مثلُ او غيرُ به وي، بل به نۀ وي، بل مسند اليه نه، هغه شرط ته ماتن اشاره وکړه، لفظ مثل او غير، هر مسندالیه نه، لکه زيد کې دا نه چليږي، دويم شرط دا دی، شارح يې بيانوي چې دا لفظ د مثل او غير مسند اليه واقع شي، خو اذا استعملا على سبيل الكناية چې دا مستعمل کړی شي په

طريقې د کنائي سره، چې کنايه عبارة دی د انتقال د ملزوم نه لازم ته، مثال کې به يې زه تاسو ته واضح کړم، لکه اوس مثال ته راشئ چې في مثل نحو مثلك لايبخل ويل ای مخاطبه ستا يو مماثل بخل نه کوي، وغيرك لايجود او تا نه يو مغاير سخاء نه کوي، نوشرط اول خو راغلی، ځکه چې په دې دواړه مثالينو کې مسندالیه لفظ د مثل او غير دی، او شرط ثاني هم راغلی، ځکه چې بمعنی انت لاتبخل وانت تجود دا په دې معنی سره شو، ځکه چې تا وويل چې ستا يو مماثل بخل نه کوي، ستا يو مماثل په صفاتو کې هغه بخل نه کوي، نو د دې سره لازم دا دی چې ته بُخل نه کوي، نو انتقال د ملزوم نه راغلی لازم ته، دويم کې وغيرك لايجوز تا نه يو مغاير په صفاتو کې هغه سخا نه کوي، نو د دې سره لازم دادی چې ته سخا کوي، وانت تجود.

اوس معترض راغلی شبه يې وګرېوله، چې ای هلکه مونږ د مثلك نه مثل د مخاطب نه يو خاص سړی واخيستو، لکه مخاطب لکه اعجاز دی، يعني مثلك مثل ستا ای اعجازه لايبخل خو ستا مثل مونږه خاص سړي واخيستو چې دا اختر محمد دی، نو اوس ما اعجاز ته وويل چې ستا مثل چې دغه اختر محمد دی، دی بخل نه کوي، نو د دې سره خو دا لازم نه ده چې اعجاز بُخل نه کوي، بلکه دی بخل نکوي دا بل دې نه کوي، بل دې نه کوي، لزوم خو رانغلی، دارنګه ما تا ته وويل چې ستا نه يو مغاير څو مخصوص مغاير چې اختر محمد هغه سخا نه کوي، نودا څه لازم ده چې ته سخا کوي، هغه معين دې نه کوي او دی دې کوي، دی دې کوي، او ته دې هم کوي، دا خو څه لازم نه ده چې ته صرف کوي، نو لزوم رانغلی، نو ماتن جواب وکړو من غير ارادة تعريض دلته کې تعريض په معنی لغوي سره دی، يعني بغير د اراده کولو د اشاري نه **بغير المخاطب** خو چې هغه غير، غير معين وي نو هغه ته به اشاره نه کوي، مطلق مثل، چې ستا يو مماثل په صفاتو کې زيد وي که عمرو وي که بکر وي، تمامه دنيا، تعين نشته دی، هغه لاتبخل دی نو ته هم بخل نه کوي، ستا نه يو مغاير هر مغاير چې دی، هغه لا يجود نو د دې سره لازم دا ده چې انت تجود، **بان يراد بالمثل** دا تصوير د منفي کوي، چې که ارادة د اشاري غير د مخاطب شوی وي، چې بان يراد بالمثل په مثال اول کې والغير سره په مثال ثاني کې انسان اخر چې اختر محمد دی، خو هغه انسان اخر چې اختر محمد دی مماثل دي د اعجاز سره يا غير مماثل دی لکه مثال ثاني کې، نو دا ګورئ مراد نه دی، بل المراد سره د هغه نفي تشريح کوي بل المراد نفي البخل منه نفي د بخل کوو د مخاطب نه على طريق الكناية دا مراد دی، نو کنايه به هله راځي چې مثل نه مطلق مثل واخلي، د غير نه مطلق غير، ای غير، ای مثل اخلي، اوس کناية داسې راغله، ما په خُوله باندې تاسو ته ويلي وو هم هغه خبره کوي، ويل لانه اذا انفى البخل عمن كان على صفته ای على صفة المخاطب من غير قصد الى مماثل معين ته لزم نفيه ای نفي البخل عنه ای عن المخاطب، نو انتقال د ملزوم نه لازم ته راغلی، او واثبات الجود او لازميږي اثبات د جود د مخاطب

لپاره ای له بنفيه ای بنفي الجود عن غيره، نو چې تا د غير نه نفي د جود وکړه، نو جود مخاطب ته ثابت شو، دويم دليل مع اقتضائه سره د غوښتلو د دې جود نه محلاً يقوم به ځکه جود صفت ثبوتي دی، نو جود چې صفت ثبوتي دی، صفت وجودي دی نو محل غواړي، نو غير تا وويل چې لايجود دی، نو څوك به وي، محل خو غواړي نو ته جود جواد ئې.

اوس **وانما يرى التقديم** وروستو متن دا وګورئ چې لکونه اعون على المراد نو لکونه دليل دی، نو متن کې د دې مدعی څه شی شو؟ دا جار مجرور دی، د دې متعلق څوك شو؟ نوشارح هغې ته اشاره کوي وانما يرى التقديم ويل عقيده ساتلی شي د تقديم، **يرى**: پورې متعلق شو، د هغې لپاره دليل شو، ای عقيده ساتلی شي د تقديم في مثل هذه الصورة، چې مسند اليه مثلُ او غيرُ وي، اومستعمل شي دواړه په طريقې د کنائي سره، دا کاللازم دی، لکونه ای لکون التقديم اعون على المراد بهما ای بهذين التركيبين اوس مراد هم بيانوي، او دليل هم وائي، ويل **لان الغرض منهما** د دې دواړو ترکيبينو نه اثبات الحکم اثبات د محکوم به دی، محکوم لکه جود او نفي د بخل دی، بطريق الکناية، دا غرض دی التي هغه کنايه هي ابلغ من الصريح، ځکه چې کنايه سره د دليل نه وي او والتقديم اعون على ذلك پير امداد کوي په دي اثبات، ځکه دلته کې افادة التقوى راغله، نو دا علت شو، او دا تقديم پير امداد ځکه کوي لافادة التقوى ځکه دلته کې افادة التقوى راغله، نو دا علت شو، ځکه دلته کې مثلك لايبخل کې دلته کې يو ځل اسناد وشو د يبخل خپل ضمير ته، او بيا د لايبخل سره د فاعل نه اسناد وشو مثلك ته، نو تکرار د اسناد راغلی، نو معنی دا شوه چې ستا يو مثل خامخا بُخل نه کوي، نو ته خامخا بخل نه کوي، نو اعون على المراد شو غيرك لايجود ستا يو مغاير خامخا جود نه کوي، دا معنی ځکه کوو، ځکه تکرر د اسناد راغلی، تقوى الحکم راغلی، نو ته خامخا جود کوي، نو اعون على المراد شو، ځکه مراد اثبات د جود دي مخاطب ته او نفي د بخل د مخاطب نه ده، نو ستا مماثل خامخا جود نه کوي او ستا مغاير خامخا بخل نه کوي، نو جود صفت ثبوتي دی هغه محل غواړي ځکه محل وجودي شئ غواړي، نو اوس دا معنی خو په تاخير سره هم حاصليده چې تاداسي وويل چې لايبخل مثلك، لايجود غيرك، خو اعون على المراد نه دی، بيا په کې خامخا نه راځي، ځکه تکرر د اسناد نه راځي، او چې تکرر رانغلی نو تقويت نه راځي، ور نه تاخير سره هم دا مراد حاصليږي، وليس معنى قوله کاللازم هغه ترجمه کوي چې ما تاسو ته ويلې ده، چې انه قد يقدم وقد لايقدم دا غلطه ترجمه ده، دا نه ده مراده بل المراد انه کان مقتضى القياس ان يجوز التاخير ځکه کنايه په تاخير سره هم راځي، لکن لم يرد الاستعمال الاعلى التقديم نص عليه في دلائل الاعجاز ځکه دا اعون على المرادی.

قيل د قيل مقصد څه دی، ابن مالك ددی تقديم د مسندالیه لپاره نکته ذکر کوي، چې ويل کله کله مسند اليه مقدم کيږي، او د ماتن غرض د رانقل کولو د قيل نه دا دی، چې ماتن وائي چې د دې قيل

مدعی صحیح ده، خو کوم دلیل چې ده ویلی دی د تقدیم د مسندالیه لپاره، دغه دلیل د ده تهیلک نه دی، نو د ده په دلیل باندې وروستو ماتن په وفیه نظر سره رد کوي قیل وقد یقدم المسندالیه په مسند باندې، لیکن مشروط په دوو شرطینو سره، یو شرط دا چې المسور بکل چې دغه مسندالیه مدخول د کل به وي، یعنې مدخول د حرف سور به وي چې کلُ دی، او په علی المسند به مقدم کیږي، دویم شرط دا دی چې المقرون بحرف النفي دغه محل به مقرون وي د حرف نفي سره، دا مسند به د حرف نفي سره مقرون وی، اوس دا دوه شرطونه راغلل چې مسند الیه مدخول د کلُ دی او مسند مقرون وي د حرف نفي سره، نو هلته کې د تقدیم د مسند الیه دا نکته ده، لاته تعیین د مرجع کوي، ویل ځکه ای التقدیم دغه تقدیم دال علی العموم د عموم ترجمه کوي شارح ای علی نفي الحکم عن کل فرد دې کې یې اشاره وکړه چې العموم کې الف لام عوض دی د مضاف الیه نه، یا الف لام عهد خارجي دی، مقصود ترې نه نفي د حکم ده، نفي د محکوم به ده د هر فرد د افرادو د محکوم به نه، یو یې دیته اشاره وکړه، او دویم اشاره وکړه شارح تعیین د ماهو المراد ته، ځکه چې عموم کې اشتباه وه، چې عموم نه مراد عموم النفي دی او که نفي د عموم ده، دې کې اشتباه وه، ځکه نفي د عموم رفع د ایجاب کلي ته وائي، او عموم النفي سلب کلي ته وائي، نو چې اوس دلته کې مراد کوم یو دی، نو شارح تعیین د ما هو المراد وکړو چې عموم النفي مراد دی، او نفي العموم نه دی مراد ای نفي الحکم عن کل فرد نو دا عموم النفي دی.

اوس دې سلب کلي ته سلب کلي هم وائي او نفي د حکم عن کل فرد ورته هم وائي عموم النفي ورته هم وائي او شمول النفي ورته هم وائي، دا ټول الفاظ مترادفه او معنی یوه ده، مثال داسې شو لکه کل انسان لم یقم دواړه شرطین راغلي دي چې مسندالیه مسور دی په حرف سور سره چې کل دی، او مسند مقرون دی د حرف نفي سره چې لم دی، نو اوس د دې معنی دا شوه چې دا سلب د قیام د هر فرق د افرادو د انسان نه ووه نو دا مثال د سلب کلي شو، ویل دا مثال مطابق د ممثل سره دی فانه یفید القیام عن کل واحد من افراد الانسان چې تقدیم یې وکړو نو دا نفي د قیام د کل فرد نه فائده کوي او دا مقصود د متکلم وو، نو په تقدیم سره مقصود د متکلم حاصل شوو، نو ځکه تقدیم کوي بخلاف ما لو اخر دغه مسندالیه او داسې ووائي نحو لم یقم کل انسان نو فانه دا یفید نفي الحکم یعنې حکم د قیام عن جملة الافراد د یو ټولګي د افرادو د انسان نه، خپله ټولګی کل وي او که نه د بعضو نه وي، لام عن کل فرد او دا نفي د حکم عن جملة الافراد مقصود د متکلم نه وو، نو مقصود د متکلم حاصل نه شو، نو چې هغه مقصود د متکلم نفي الحکم عن کل فرد وي نو تقدیم سره دا حاصلیږي او په تاخیر نه حاصلیږي، نو مسندالیه ځکه مقدم کیږي

نو **فالتقدیم** سره دا شارح تفریع وکړه چې تقدیم سره مقصود د متکلم حاصلیږي او تاخیر سره نه حاصلیږي، نو ځکه تقدیم کیږي نو ویل فالتقدیم یفید عموم السلب وشمول النفي والتاخیر لایفید الا

سلب العموم ونفي الشمول، او مقصود د متكلم دا اول وو، دويم نه وو، څكه مقدم كوي، اوس رفع د ايجاب كلي ته رفع د ايجاب كلي هم وائي، او سلب العموم ورته هم وائي او سلب الشمول ورته هم وائي او سلب جزي ورته هم وائي.

پيه اوس دى وائي چې تا مقدم كړو نو دا فائده كوي عموم السلب او چې مؤخر دي كړو نو بيا فائده كوي سلب العموم، دا څه لازم ده؟ نو وذلك سره ماتن د دې لپاره دليل وائي، نو شارح تعيين د مشار اليه كوي چې **كون التقديم مفيدا لعموم النفي دون التاخير** بلكه تاخير مفيد لپاره د سلب العموم او نفي الشمول دى **لئلا يلزم ترجيح التاكيد** نو اوس گورئ دا يلزم ترجيح التاكيد دا تالي دى، او د دې مقدم مطوي دى، نو هغه مقدم مطوي داسې را اوباسئ، چې **لو لم يكن التقديم مفيداً لعموم النفي والتاخير لنفي العموم بل الامر بالعكس** نو يلزم... الخ، لئلا خو نفي شو، د دې هغه منفي هو محذوف دى، هغه مقدم دى، نو اصل مقدم دا دى لو كان الامر بالعكس نو يلزم .... الخ او دا مخكې ما تاسو ته ورسره تل كړو، دا د اصل مقدم د وضاحت لپاره، **لكن التالي باطل فالمقدم مثله**، اوس شارح په مينځ كې وهو ان يكون لفظ كل سره دا د تاكيد تعريف كوي، ويل تاكيد ديته وائي چې وهو ان يكون لفظ كل لتقرير المعنى الحاصل قبله اى قبل كل اى قبل دخول كل على التاسيس، تاسيس ديته وائي وهو ان يكون لافادة معنى جديد اوس داسې قياس كې دوه څيزونه په كار دي، يو دليل د بطلان التالي بل د ملازمي، نو دا ترجيح د تاكيد په تاسيس باندې څكه باطل دى، نو د دې بطلان التالي لپاره شارح دليل وائي، چې مع ان التاسيس راجح دي كې يې هغه مقدمه استثنائيه ته اشاره وكړه چې تالي باطل دى، اوس لان سره دا دليل د بطلان التالي وائي، چې تالي څكه باطل دى، ترجيح د تاكيد په تاسيس باندې څكه باطله ده، او تاسيس څكه راجح دى، ويل څكه چې په تاكيد كې اعاده وي او په تاسيس كې افاده وي اولان الافادة خير من الاعادة، دا دليل شو د بطلان التالي دپاه، اوس دليل د ملازمي دصورت اول، او دليل د ملازمي د صورت ثاني، څكه د هر يو لپاره څان له مستقل دليل د ملازمي په كار دى، چې كه په صورت اول كې امر بالعكس شي، داسې بالعكس چې تقديم مفيد لپاره عموم النفي نه شي بلكه لپاره د نفي العموم شي، نو ترجيح دتاكيد په تاسيس باندې څنګه راځي، صورت ثاني كې كه مفيد لپاره د نفي د عموم نه شي بلكه د عموم النفي شي نو ترجيح د تاكيد په تاسيس باندې څه لازم دى، نو هر يو صورت ته مستقل دليل ويل په كار دي، نو وائي چې وبيان لزوم ترجيح التاكيد على التاسيس، بيان په معنى د اثبات سره، اى اثبات لزوم... الخ، اما في صورة التقديم كې چې انسان لم يقم دى، د كُل د دخول نه مخكې فلان قولنا الانسان لم يقم دى، بې د **كل نه موجبة مهملة د دې قضيي نوم موجبه مهملة** دى، اوس موجبه ورته وائي څكه چې واما الايجاب فلانه حكم فيها اى في هذه القضية بثبوت عدم القيام للانسان نو دا معنى د موجبي معدولة المحمول ده لابنفي القيام عنه د انسان نه چې سالبه

بسيطه ترې جوړه شي، د دې اولی دعوی دليل چې دلته کې ثبوت د عدم قيام انسان ته شوی لان حرف السلب وقع جزء من المحمول او حرف سلب چې جزء واقع کيږي د محمول نه هغې ته موجبه معدولة المحمول وائي واما الاهمال فلانه لم يذكر فيها ما يدل على كمية افراد الموضوع څکه کل يا بعض پدې کې نه دی ذکر شوی، نوثبوت د عدم قيام شو افرادو د انسان ته کل والی بعض والی په کې نشته. نو دا معنی د اهمال ده مع ان الحكم فيها اى في هذه القضية على ما صدق عليه الانسان مطلق افرادو د انسان باندې، او چې حکم په مطلق افرادو د موضوع باندې وي ديته مهمله وائي، نو اوس وائي واذا كان انسان لم يقل موجبة مهملة نو ه دې معنی د دخول د کل نه مخکې يجب ان يكون معناه نفی القيام عن جملة الافراد عن كل فرد سالبه کليه نه شوه، څکه لان الموجبه المهملة المعدولة المحمول، چې انسان لم يقم دی في قوة السالبة الجزئية، يعني ملازم دی د سالبې جزئيې سره، د قوت دا معنی معترض راغلی شبه يې وکړه چې نه منم چې موجبه معدولة المحمول په قوت د سالبې جزئيې کې ده، څکه چې موجبه مهمله تقاضي د وجود موضوع کوي، او سالبه جزئيه عامه ده په وخت د وجود د موضوع کې هم صادقيږي، او عدم کې هم صادقيږي، نو مساوات رانغلی، نو شارح جواب وکړو چې عند وجود الموضوع، چې موضوع موجود وي نو هلته کې موجبه مهملة معدولة المحمول او سالبه جزئيه کې نسبت د تلازم دی مساوات دی، او دلته کې موضوع انسان دی، او انسان موجود دی معدوم نه دی، او د سالبې جزئيې مثال نحو لم يقم بعض الانسان نو دلته کې سلب د قيام د بعضې افرادو د انسان نه وشو، دا سالبه جزئيه. بمعنی سره دفع د اعتراض کوي، چې يا هلکه منطقيانو خو دا ويلي دي چې موجبه مهملة معدولة المحمول او سالبه جزئيه کې تلازم دی او تا في قوة وويل، نو تا د هغوی نه خلاف وکړو، نو شارح راغلی جواب يې وکړو چې د دې قوة نه مراد زما تلازم دی، ويل بمعنی انهما متلازمتان في الصدق چې چيرته کې يوه صادقه شي نو بله به صادقيږي، اوس تلازم د جانبينو نه راځي، نو دوه دلائل ويل په کار دي، يو دليل د دې لپاره چې چيرته مهمله صادقه شي نو هلته کې سالبه جزئيه به صادقيږي، او يو دليل د دې لپاره چې چيرته کې سالبه جزئيه صادقه شي نو هلته کې مهمله به صادقيږي، نو دوه دليله په کار شو، څکه تلازم د جانبينو نه راځي، نو د اول لپاره شارح دليل وائي چې چيرته مهمله صادقه شوه نومهمله به څکه صادقيږي، نو دليل په حکم باندې دا دی مهمله ديته وائي چې هلته کې سلب د محمول د افرادو د موضوع نه به شوی وي، بس د بعض او کل دې کې لحاظ نه وي، نو اوس دغه افراد د موضوع په واقع کې يا به بعضې وي يا به کل وي، بل احتمال نشته دی، که دا افراد واقع کې بعضې وي نو سالبه جزئيه صراحةً راغله او که دغه افراد واقع کې کل وي نو سالبه کليه راغله خو د سالبې کليې په ضمن کې جزئيه شته دی، نو بيا سالبه جزئيه راغله، نو ثبت چې صدق د مهمله مستلزم دی صدق جزئي لره، نو څکه وائي لانه قد حكم في

المهملة بنفي القيام عما د هغه افرادو نه عن افراد صدق عليه الانسان حکم په افرادو د انسان شو، اوس دا افراد عام اعم من ان يکون جميع الافراد او بعضها په واقع کې يا به ټول افراد وي يا به بعضې وي، د دې نه خالي نه دی، وايا ما کان هر څنګه چې وي په واقع کې ټول وي که بعضې وي يصدق نفي القيام عن البعض که نفي د قيام عن البعض وي، نو سالبه جزئيه صراحةً راغله، او که جمع افرادي وي نو سالبه کليه راغله او د سالبې کليې په ضمن کې جزئيه راځي، اوس هغه طرف چې کوم ځای کې جزئيه صادقه شوه نو مهمله صادقيږي، نو هغه اسانه ده، سالبه جزئيه ديته وائي چې هلته کې حکم شوی وي په سلب د محمول د بعضې افرادو د موضوع نه، او بعضې افراد افرادي، نو چيرته چې حکم د سلب د بعضې افرادو د موضوع نه وشي نو دا سړی ويلی شي چې دا محمول مسلوب دی د افرادو د موضوع نه او دا معنی د مهملي دی، وکلما صدق نفي القيام عن البعض ای بعض افراد الانسان، چې دا مفاد د سالبي جزئيي دی، نو صدق نفيه ای نفي القيام له عما عن افراد صدق عليه الانسان، چې دا افراد د انسان ای في الجملة په بعضې موادو کې، نو دا پرې تفريع شو فهي دغه مهمله في قوة السالبة الجزئية او سالبه جزئيه د دې لپاره ده هسې سالبه جزئيه المستلزمة نفي الحکم عن الجملة سالبه جزئيه نفي د حکم د بعضې دفرادو نه کوي، د ټولو نه نکوي، نو د انسان لم يقم معنی د کل نه مخکې سلب د قيام د بعضې افرادو د انسان نه، اوس د دې لپاره دليل وائي، چې سالبة جزئيه مستلزم ده نفي د حکم لره د جملة الافراد نه، ځکه چې د سالبې جزئيې صدق لپاره دوه مادي دي، يو سالبه جزئيه صادقيږي په ماده د سالبه کليه کې، او يو سالبه جزئيه هغه ده چې په خپله ماده کې صادقيږي، نو انسان لم يقم کې سالبه جزئيه صادقه شوي په خپله ماده کې، ځکه چې انسان لم يقم کې نفي د قيام عن جملة الافراد شوه نو دا محل د صدق د سالبي جزئيي صراحةً خپل شو، نو ځکه وائي لان صدق السالبة الجزئية الموجود الموضوع او بنفی الحکم عن کل فرد، نو دا يو محل شو، نو دغلته کې سالبه جزئيه صادقه شوه خو په ضمن د سالبې کليې کې، صراحةً صادقه شوه، او بنفيه او يا به نفي د حکم کوي عن البعض عن بعض الافراد مع ثبوته للبعض، نو دا سالبه جزئيه صادقه شوه په خپله ماده کې، ويل ايا ما کان دواړو قسمينو د سالبې جزئيې سره لازم نفي الحکم عن جملة الافراد شو، نفي عن جملة الافراد او عن بعض الافراد يو شی دی، ويل ايا ما کان په هره معنی سره چې وي، معنی اول اخلي نو په نفي عن کل فرد کې بيا نفي عن جملة الافراد راځي، ځکه په ضمن د نفي عن کل فرد کې نفي عن جملة الافراد شته دی، او معنی ثاني يلزمها لازميږي د دې قضيي سره نفي الحکم عن جملة الافراد، سالبي جزئيي سره لازميږي، نفي الحکم عن جملة الافراد دون کل فرد او کل فرد عن کل فرد نه صادقيږي لجواز ان يکون منفياً عن البعض ثابتاً للبعض الاخر، جائز ده چې نفي د قيام د بعضې افرادو د انسان نه منفي دي وي او بعضو ته ثابت دي وي، نو چې داسې شوه نو چې اوس ته نفي عن کل

فرد کوي نو دا صادقه نه شوه، واذا کان انسان لم یقم اوس دیته وائي تتمه د دلیل، ځکه متن کې تتمه د دلیل نه وه، ځکه ماتن خو صرف دومره وویل چې انسان لم یقم دا موجبه مهملة معدولة المحمول ده، دا په قوت د سالبې جزئیې کې ده، نو ترجیح د تاکید په تاسیس باندې راځي، نو تتمه د دلیل اوس شارح بیانوي، ویل **واذا کان انسان لم یقم بدون کل** معناه **نفي القیام عن جملة الافراد لا عن کل فرد** دا دلیل سره مونږ ثابت کړو، نو اوس راشه که چیرته شي دا **انسان لم یقم ای فلو کان انسان لم یقم** بعد دخول کل ایضاً معناه کذلك نفي د حکم عن جملة الافراد شي، نو **کان کل لتاکید المعنی الاول**، نو **فیجب ان یحمل علی نفي الحکم عن کل فرد لیکون کل لتاسیس معنی اخر**، دا ځکه **ترجیحاً للتاسیس علی التاکید.**

اوس د هغه دویم صورت لپاره دلیل وائي، چې لم یقم انسان دی، نو وائي **واما في صورة التاخیر** په تاخیر د مسند الیه کې، داسې چې **فلان قولنا لم یقم انسان** بې د کل نه **سالبة مهملة** دا سالبه ده ځکه دلته کې نفي د قیام راغله د هر فرد د افرادو د انسان، او مهمله ځکه ده **لا سور فیها** دا د مهملې لپاره دلیل شو، **والسالبة المهملة في قوة السالبة الکلیة المقتضیة** صفت الکلیة للنفي عن کل فرد نو مهمله هم مقتضي لپاره د نفي عن کل فرد شوه **نحو لاشئ من الانسان بقائم** داسالبه کلیه شوه، سلب راغلی د هر فرد د افرادو د انسان نه **ولما کان** سره شارح اشاره کوي چې دا راتلونکی متن داجواب دی د یو سوال نه چې واردیږي په ماتن باندې، هغه سوال دا دی چې ماتن ستا دا خبره د منطقیانو نه خلاف ده، ځکه منطقیانو خو دا ویلي دي، چې مهمله خو په قوت د سالبې جزئیې کې ده، او تا وویل چې مهملة په قوت د سالبې کلیې کې ده، نو ستا دا خبره خو خطاء شوه، نو دی وائي چې وانما کان هذا دا ما قال د ماتن مخالفاً لما عندهم ای په نزد د منطقیانو باندې ده، من هغه دا ده چې ان المهملة في قوة الجزئیة نو بینه بقوله بیان یې کړو ماتن دا مخالفت په دې قول خپل سره **لورود موضوعها ای موضوع المهملة في سیاق النفي حال کونه ای کون الموضوع نکرة غیر مصدرة بلفظ کل** حاصل د جواب داسې شو چې زه چې وایم چې دا مهمله په قوة د سالبې کلیې کې ده، نو هر ځای کې نه، صرف دلته کې ده، ځکه دلته کې قرینه په سالبې کلیې باندې شته دی، او هر ځای کې زه نه وایم اومنطقیان وائي چې مهمله دقوة د سالبې جزئیې کې ده، نو هغه بې د قرینې د سالبې کلیې نه وائي.

فانه پس یقینا دا قول **یفید نفي الحکم عن کل فرد** نوسالبه کلیه شوه، اوس تتمه د دلیل کوي، تتمه په متن کې نشته دی، نو وائي واذا کان لم یقم انسان بدون کل معناه نفي القیام عن کل فرد شوه، نو فلو کان بعد دخول کل ایضاً کذلك نفی عن کل فرد نو کان کل لتاکید المعنی الاول، نو فیجب ان یحمل علی نفي القیام عن جملة الافراد د کل د دخول نه وروستو به مونږ حملوو په نفي د قیام عن جملة الافراد باندې، ځکه **لیکون کل لتاسیس معنی اخر** د دې لپاره چې کل د نوي معنی د تاسیس لپاره مفید شي.

معترض راغلی شبه یې وکړه، چې هلکه تا خو دا نیولی ده چې کل دخول نه وروستو یا به نفي عن کل فرد کوي، یا به نفي عن جملة الافراد کوي، دا دوه تا په کل کې نیولی دی، جائز ده چې د کل د دخول نه وروستو دي د دریمې یوې معنی لپاره مفیده شي کنه، او تا بس نیغ نیولی دی په پرې سره چې د کل د دخول نه وروستو به یا نفي د کل فرد به وي یا نفي عن جملة الافراد به وي، یو دریم یو څلورم، پنځمه معنی دي شي، نو شارح وائي چې د کل معنی نوري شته دی نه بغیر د دې دوو معنو نه، نو ځکه مونږه دا نیولی دی، ویل وذلك لان لفظة کل في هذا المقام لایفید الاحد هذین المعنیین نو فعند انتفاء احدهما یثبت الاخر نو چې یو منتفي شوه د تاکید د وجې نه نو اخر به ثابتیږي چې تاسیس راشي ضرورة یعني بداهة یا لزوماً، ضرورة یا په معنی د بداهة سره دي، ځکه چې یو شی د دوو معنینو احتمال لري نو چې یو منتفي شوه نو بله به ثابتیږي، دا بدیهي خبره دي.

والحاصل سره غرض د شارح دا دی چې متن کې خبره لږه اوږده شوه نو شارح اجمال بعد التفصیل کوي، لکه تفصیل بعد الاجمال چې اوقع في الذهن وي، ځکه اجمال باندې سړی ښه پوهه نه شي، نو تفصیل سره ښه پوهه شي، نو اوقع في الذهن شو، نو دغسې اجمال بعد التفصیل هم اوقع في الذهن دی، ځکه چې هغه تفصیل باندې سړی پوهه نه شي، نو په اجمال سره پوهه کیږي، لکه قران کې هم شته دی، که اوس حاجي متمتع لپاره د قربانی پیسې نه وي، خوار وي هیڅ ورسره نه وي، او اراقة الدم خو په متمتع باندې واجب دی، نو الله فرمائي چې خیر دی که تا سره پیسې نه وي، د قربانی د ځاروي اخیستو لپاره، د دم شکریه لپاره، یا پیسې وي خو ځاروی نه میلاویږي، نو ویل ته داسې چل وکړه چې د دې قربانی او د دم تمتع په ځای کې لس روژې ونیسه، داسې چې ثلثة في الحج دري په حج کې ونیسه داسې چې اووم، اتم، نهم، او وسبعة اذا رجعتم او اووه روژې ونیسه چې کله ته فارغه شوې دافعالو د حج نه، ذکر د رجوع دی مراد ترینه فراغت دی، دا مطلب نه دی چې کور ته ورسیږې نو بیا یې ونیسه، نه بلکه هلته که فارغه شي او د منی ورځې ختمې شوې، نو بیا یې ونیسه، ایام تشریق ختم شوي، اذا رجعتم معنی اذا فرغتم، د منی نه فارغه شوي په دیارلسم باندې، نو دا اوس الله تفصیل وکړو، دا تفصیل شو. اوس دي کې توهم او ابهام راغلی، چې دا دري روژې په حج کې دا به ځان له کفایت کوي، او یا دا اووه ورځې بعد الفراغت دا به یواځې کافي کیږي، جدا جدا، فصیام ثلثة ایام في الحج وسبعة اذا رجعتم نو دا تفصیل دی، خو توهم راغلی، چې دري ورځې ونیسئ په حج کې نو دا قائم مقام د دم نه صحیح دی، او که فراغت نه وروستو اووه ونیسي نو بیا دا د دم شکریه په قائم مقام کې دا کافي دی، دا توهم راغلی، نو الله وروستو اجمال ذکر کړو د دې توهم د رفع لپاره چې ویل نه نه، دا چیرته ونه کړي، کورئ تلك عشرة کاملة د دم شکریه په ځای باندې قائم مقام دغه لس ورځې روژې مجموعه دي، یواځې دري او یا اووه نه شي قائم کیدای، نو شارح هم دلته کې اجمال بعد

التفصيل كوي، دا هم اوقع في الذهن دی، ځکه چې يو خبره کې ډير تفصيل شي جُمل معترضه پدکې ډير شي، نو په معنی باندې طالب نه پوهيږي په سر او کنه باندې، نو چې فصيح استاذ وي نو هغه يې بيا په اجمال سره په لنډو الفاظو سره پوهه کړي، نو په طالب باندې بيا هغه سبق غميږي نه، او که نه طالب غريب ذکي نه وي، غبي غوندې وي او استاذ دلته چشمي ښکته او پورته کوي، نو هغه طالب به په ځای د سبق ويلو کې، د سبق نفرت به ورته پيدا کړي چې يره په دي سبق زهٔ نه پوهيږم، د دې نه ځو غرض دی نو نوبت به دا شي چې هغه طالب بيا ابن حاجب ته کنځل شروع کړي، کافيه يې وويل، پوهه پرې نه شو، هيله لاړو ويل ابن حاجبه تا داسې داسې کوم، تا داسې کتاب ولې جوړ کړی، اسان غوندې کتاب به دې جوړ کړی وو چې زه پرې پوهه شوی وی.

مولانا انور شاه کشميري رحمة الله عليه چې ديوبند کې بخاري به ويل نو اوږد تحقيق به يې وکړو، نو يو قندهاری طالب وو هغه به پوهه نه شو په هغه تحقيق باندې، نو پابه سيدو دا خپل کميس به يې داسې تك وهلو، غصه کې به يې وويل چې زه تا ويلی تا ته پاتې شو، او مونږه ترې لاړو، نو د دې وجې نه شارح اوس اجمال سره پوهه کوي، ښکته دې مدارسو کې داسې کوي چې اول په دې خطبو کې شروع وکړي، نو لوی لوی تقارير په دې کې کوي، چشمي ښکته او پورته کوي بسم الله کې تقريباً ميا شت دوه ميا شتي اوباسي، او چې وروستو هغه بيا دغسې شروع کيږي نو طالبان وائي چې مولانا صاحب داسې بيا کتاب نه خلاصيږي، نو هغه بيا په اوراقو باندې شروع وکړي، نو بيا پرې نه طالب پوهيږي او نه پرې مولا پوهيږي، قسم ما ته بيا راکوي، چې مولا پرې هم نه پوهيږي نو د طالب عمر هم ضائع او د مولا هم، خو په طالب يې چل وکړو، نو ګرفتار شو، د طالب سره يې خيانت وکړو هغه عمرِ عزيز يې ضائع کړو، دا دريو ميا شتو کې دا ښکته وړه دوره چې کوي، دا د طالب عمرِ عزيز ضائع کول دي، اوس مونږ يو هداية په اللهم سره په يو کال کې پورا کال نه شو ويلی، هغه په دريو ميا شتو کې وائي چې وړه دوره ما ختمه کړه.

نو فالحاصل ويل دا دی چې **ان التقديم بدون كل لسلب العموم ونفي الشمول، والتاخير لعموم السلب وشمول النفي** فبعد دخول كل يجب ان يعكس هذا، **ليكون كل للتاسيس الراجح لا للتاكيد المرجوح.**

ماتن وويل وفيه نظر اوس غرض دماتن د دې عبارت نه رد دی په ما قال د قيل باندې خو د هغه په دعوی باندې رد نه کوي، بلکه د هغه په دليل باندې رد کوي، اشاره کوي ديته چې دا مدعی د قيل صحيح ده، خو دا کوم دليل چې ده ويلی دی، دا ده خطاء ويلی دی نو دي پرې اعتراض کوي، چې فرق دا دی، چې اعتراض اول په صورت اول او ثاني دواړو باندې دی او اعتراض ثاني او ثالث خاص دی په صورت ثاني پورې، نو وائي چې **وفيه نظر** په دې ما قال او قيل کې نظر دی، ويل ځکه لان النفي عن الجملة في الصورة الاولى يعني: سره غرض د شارح تعيين کوي د صورت اولی، او غرض د تعيين د

صورت اولی نه دفع د توهم ده، چې هلکه صورت اولی خو دوه قسمه دی یو مخکې د کل نه لکه انسان لم یقم، او یو وروستو د کل نه چې کل انسان لم یقم دی، نو دلته کې صورت اولی نه مراد هغه کل د دخول نه وروستو به وي نو شارح یعني سره دفع وکړه چې نه مخکې، یعني: قصد کوي ماتن په دې صورت اولی سره الموجبة المهملة المعدولة المحمول نحو انسان لم یقم، وعن کل فرد او نفي د هر فرد نه في الصورة الثانية، یعني: سره زور مولازړي تراویحي، تعیین د صورت ثانیه کوي یو، دفع د توهم کوي، دویم چې صورت ثانیه کې خو یو د دخول د کل نه مخکې وو چې لم یقم انسان دی او بل د دخول د کل نه وروستو وو چې لم یقم کل انسان دی، نو دا د دخول د کل نه به وروستو مراد وي؟ نو یعني: سره شارح تعیین وکړو ویل السالبة المهملة نحو لم یقم انسان دی، نو انما افاده فائده کړی دی دې نفي عن کل فرد، او عن الجملة لره الاسناد الی ما اضیف الیه کل اسناد فعل هغه څیز ته چې هغه ته اضافت د کل شوی دی، مضاف الیه د کل وهو لفظ الانسان دی، نو کل نه مخکې اسناد د لم یقم انسان ته شوی وو یا ضمیر ته چې راجع دی انسان ته، وقد زال ذلك الاسناد المفیدُ لهذا المعنی، چې نفي عن الجملة په صورة اولی کې او نفي عن کل فرد په صورت ثانیه کې، زائل شو بالاسناد الیها په سبب د اسناد سره، ای کلمې د کل ته، ای الی کل، دا مخکې اسناد زائل شو، څکه دلیل وائي د قد زال لپاره دی لان انساناً صار مضافاً الیه انسان خو اوس مضاف الیه وګرځیدو کنه، نو فلم یبق مسند الیه بلکه مسند الیه کل شو، متن دا دي چې فتکون کل تاسیساً لاتاکیداً، نو فاء راغله په فتکون کې شبه یا هلکه فاء خو ډیر قسمه باندې ده، نو دا فاء د څه لپاره ده؟ نوشارح ورسره لګوي علی تقدیر، دی سره اشاره کوي چې یا دا فاء تفریعیه ده، نو د متفرع علیه تعین شارح کوي، هغې ته اشاره کوي، داسې چې کله چې اسناد کل ته شو ایضاً په شان د اسناد انسان ته دا شو مفیداً للمعنی الحاصل من الاسناد نو هلته کې صورت اولی کې نفي عن الجمله او صورت ثاني کې نفي عن کل فرد نو اوس که د کل نه وروستو هم دغسې شي نو فتکون کل تاسیساً لاتاکیداً نو دا تفریع شوه، یا ووایي چې د شارع غرض دا دی چې دا فتکون کې فاء جزائیه ده، او شرط ورله محذوف دی، هغه شرط محذوفه ته شارح اشاره وکړه، او ښه هم دغه ده چې فتکون کې فاء جزائیه شي، څکه شارح علی تقدیر ویلی دی، او تقادیر په شرطیاتو کې مستعملیږي نه په تفریع کې، نو ښه دا ده چې دا جزاء شي فتکون او شرط ورله محذوف شي، هغه شرط محذوفه ته شارح اشاره وکړه چې لو کان الاسناد الی کل مفیداً للمعنی الحاصل من الاسناد الی انسان نو **فتکون کل تاسیساً لاتاکیداً** لکن المقدم حق فالتالي مثله، هر چې دې دلیل د حقانیت د مقدم نو د وجې د ما مر نه، څکه چې مخکې اسناد انسان ته شوی، نو هلته کې نفي عن الجمله او عن کل فرد وو، او وروستو اسناد کل ته وشو نو مخکې هغه اسناد زائل شو، نو دغه نفي عن الجمله وعن کل فرد شو، او هر چې دی دلیل د ملازمي هغه شارح ذکر کوي، ویل لان التاکید

لفظ تاکید یو لفظ دی، یو لفظ ته وائي، یفید چې فائده کوي تقویت ما تقویت د هغه حکم یفیده لفظ اخر هیله په تکرار د لفظ سره وي او که په الفاظو مخصوصه ؤ سره وي، په تکرار د لفظ سره وی لکه په تاکید لفظي کې، او که په الفاظ مخصوصه ؤ سره وي لکه په تاکید معنوي کې، **وهذا لیس کذلک** او دلته کې کل په نسبت سره انسان ته دارنګه نه ده، ځکه نه دی لان هذا المعنی ځکه دا معنی چې نفي عن الجملة او نفي عن کل فرد دی، **حینئذ**: په وخت د ګرځیدو د اسناد کې کل ته انما افاده فائده کړي دی، دي معنی لره الاسناد الی لفظ کل ته لاشئ اخر چې هغه اسناد دی دي انسان ته، **حتی**: منفي سره لګوئ که شئ اخر فائده کړی وي نو حتی تکون کل تاکیداً له، د دې شئ اخر لپاره.

اوس شارح وائي **وحاصل هذا الکلام**، یو غرض د شارح دادي چې د دې وجه اول د نظر مونږ او تاسو ته حاصل بیانوي، دویم غرض د شارح دا دی چې تمهید ږدي ولایخفی اعتراض ته، چې په دې نظر د ماتن باندې د قیل د طرف نه اعتراض واردیدی شي، دا نظر د ماتن نه صحیح کیږي، په قیل باندې، دریم وحاصل هذا الکلام نه غرض تطبیق د نظر کوي، د داب د مناظري سره، ځکه قیل دا مخکې په نمط د قیاس استثنائي سره ویلی وو، او قانون دا دی چې مستدل یو دلیل پیش کړی په قیاس استثنائي دفعي سره نو مجیب چې جواب کوي نو یا په منع د ملازمي سره کوي یا په منع د بطلان التالي سره، نو اوس پته رانغله چې ماتن په وفیه نظر سره د قیل هغه بطلان التالي منع کړه او که ملازمه یې منع کړه، نو حاصل هذا الکلام سره شارح اشاره کوي چې دا جواب د ماتن د طرف نه په منع د ملازمي سره دی، چې دا ملازمه مونږه نه منو چې د کل د دخول نه مخکې نفي عن الجمله شي او د دخول د کل نه وروسته هم نفي عن الجمله شي، نو ترجیح د تاکید په تاسیس باندې راځي، دا مونږه نه منو، دارنګه صورت ثاني کې د دخول د کل نه مخکې نفي عن کل فرد، د دخول د کل نه وروسته هم نفي عن کل فرد شي نو لازم به شي ترجیح د تاکید علی التاسیس باندې، دا ملازمه مونږه نه منو، نو جواب په منع د ملازمي سره وشو، نو شارح وائي چې وحاصل هذا الکلام دا دی چې انا لانسلم انه لو حمل الکلام بعد کل علی المعنی الذي حمل علیه قبل کل، نو کان کل کیږي کل، للتاکید، دا ملازمه مونږه نه منو، نو دا نظر په معنی د ملازمې سره شو، معنی د بطلان التالي سره نه شو، یعني بطلان التالي مونږه منو چې ترجیح د تاکید په تاسیس باندې باطله ده، خو ملازمه نه منو، اوس شارح په دې ماتن باندې شبه کوي چې ولایخفی ویل پټ پناه نه ده چې ان هذا المنع دا منع د ماتن، دا نظر او اعتراض د ماتن انما یصح په دې قیل باندې، خو علی تقدیر ان یراد التاکید الاصطلاحي که قیل د تاکید نه تاکید اصطلاحي اخیستی وي په اصل کې، نو تاکید اصطلاحي دویمه قسمه دی، یو لفظي بل معنوي، تاکید اصطلاحي لفظي دیته وائي چې تکرار د لفظ واحده شوی وي جاءني زید زید او تاکید اصطلاحي معنوي دیته وائي چې هغه په الفاظ معدودؤ مخصوصؤ سره وي، لکه کل، واجمع،

ابتع وابصع، وفلانكى... الخ، نو كه دا يې اراده كړى وي نو بيا د ماتن خبره تيك ده، نظر په قيل باندې وارد دى، ځكه چې خبره په اسناد كې ده، په الفاظو كې نه ده، او تاكيد لفظي دى او كه معنوي دى هغه په الفاظو كې راځي، او دلته كې زمونږه خبره خو په اسناد كې ده، نو بيا په قيل باندې دا نظر صحيح دى، چې ته تاكيد اصطلاحي اراده كوي؟ او دلته كې خبره خو په اسناد كې ده، اسناد نه په تاكيد لفظي اصطلاحي كې داخل او نه په معنوي كې داخل دى، **لكن لو اريد بذلك** په دې تاكيد سره چې **ان تكون كل لافادة معني هسې** معنى كان حاصلاً بدونه بغير د كل نه، يعنې تاكيد لغوي شي، نو بيا د ماتن نظر په قيل باندې نه صحيح كيږي، ځكه صورت اولى كې مخكې د كلي نه هم نفي عن الجمله وو او وروستو هم نفي عن الجمله شو نو دا تاكيد لغوي شو، ما يفيد د احدهما عين ما يفيد د اخر شو، دارنګه صورت ثاني كې د دخول د كل نه مخكې هم نفي عن كل فرد وه، او وروستو هم نفي عن كل فرد شوه، نو تاكيد لغوي خو راغلى كنه، نو فاندفع المنع نو پس تيله وركول منعي د ماتن ته ظاهر دى. معترض راغلى شبه يې وكړه چې يا هلكه بيا د دې قيل خو مسلك تهيك شو نو؟ شارح وائي چې د قيل مسلك نه تيك كيږي، دا يو نظر اول وارد نه شو په قيل باندې، هغې ته تيله وركړى شوه، ليكن نظر ثاني او ثالث خو پرې وارد دى كنه بيا هم، نو قيل نه صحيح كيږي، **وحينئذ: اى وحين اندفاع المنع، اى المنع المذكور يتوجه ما هغ** منع اشار اليه الماتن بقوله، دا ډويمه منع ده، خو دا په صورت ثاني باندې ده، ويل **لان الصورة الثانية** ځكه صورت ثاني تخصيص كوي، شبه يا هلكه صورت ثانيه د دخول د كل نه مخكې وي كه وروستو وي **يعني السالبة المهملة نحو لم يقم انسان** ته وائي **اذا افادت النفي عن كل فرد** نو سالبه كليه راغله، او قانون دا دى چې په سالبه كليه كې سالبه جزئيه وي، نو **فقد افادت النفي عن الجملة** يې هم فائده كړه، او دخول د كل نه په هر يو باندې چې ته حملوي نو تاكيد لازميږي تاسيس نه راځي، نو **فاذا حملت كل على الثاني** او ثاني تعيين كوي **اى على افادة النفي عن جملة الافراد حتى يكون معنى لم يقم كل انسان نفي القيام عن الجملة لا عن كل فرد شي**، نو دا بيا هم لاتكون تاسيساً ځكه دا معنى خو مخكې د كل نه هم معلومه شوي وه، بل تاكيداً بلكه تاكيد كيږي، تاكيد ځكه كيږي چې ويل **لان هذا المعنى** چې **نفي د قيام عن الجملة كان حاصلاً** بدونه بغير د لفظ د كل نه، د دې نه مخكې هم همدغه وه، وحينئذ او په دغه وخت كې چې نفي عن الجملة والا معنى بغير د كل نه هم حاصله وه، نو **فلو جعلنا لم يقم كل انسان لعموم السلب مثل لم يقم انسان نو لم يلزمه ترجيح التاكيد على التاسيس** ځكه **اذ لا تاسيس اصلاً، بل انما يلزم ترجيح احد التاكيدين على الاخر** نو كه نفي عن كل فرد كوي نو بيا هم تاكيد لازميږي، او كه نفي عن الجملة كوي نو بيا هم تاكيد لازميږي، نو اوس ته نفي عن كل فرد اخلي نو ترجيح د احد التاكيدين على الاخر راغله، اوس يو مولانا قيل راغلى، د دې نظر نه يې جواب كړى دى، شارح په هغه نظر د هغه باندې رد كوي، هغه مولانا قيل د قيل اول نه نه جواب داسې كړى دى، چې اى هلكه دا لم يقم انسان دى چې

دلالت کولو په نفي عن کل فرد باندې، نو په طریقې د دلالت مطابقي سره یې کولو، ځکه چې نکره واقع شي په سیاق د نفي کې، نو دا دال دی په دلالت مطابقي سره نفي عن کل فرد باندې، او دا لم یقم انسان چې دلالت په نفي عن الجملة باندې کولو، نو په دلالت التزامي سره یې کولو، په دې اعتبار سره چې سالبه کلیه مستلزمه دی، صدق د سالبې جزئیې لره، نو استلزاماً راغلی، نو اوس د دخول د کل نه وروستو مونږه لم یقم کل انسان کې، که مونږه دا حمل کړو په نفي عن کل فرد باندې په دلیل مطابق سره، نو بنکته د دخول د کل نه مخکې هم نفي عن کل فرد وو په مدلول مطابقي سره او وروستو هم مدلول شو په مدلول مطابقي سره نو اتحاد د دلالتینو راغلی چې دواړه مطابقي شو، نو تاکید لازم شو، او د دخول د کل نه مخکې نفي عن جملة الافراد وو خو التزاماً وو، او د دخول د کل نه وروستو مو نفي عن الجملة واخیسته خو مطابقةً، نو اتحاد دلالتینو رانغلی نو چې رانغلی نو دا ګویا که تاسیس شو تاکید نه شو، دا د قیل د طرف نه چا جواب وکړو

نو شارح د قیل دا جواب رانقل کوي او بیا پرې شارح رد کوي، ویل ما یقال هغه جواب چې ویلی شوی دی دجانب د قیل نه چې **ان دلالة لم یقم انسان علی النفي عن الجملة بطریق الالتزام، ودلالة لم یقم کل انسان علیه** په دې نفي عن جملة الافراد باندې بطریق المطابقة، نو اتحاد دلالتینو رانغلی، نو **فلا یکون تاکیدا** ځکه تاکید کې شرط اتحاد دلالتینو دی، او اتحاد دلالتینو رانغلی، شارح وائي چې په دې ما یقال کې نظر دی، دا ما یقال خطاء دی، ځکه چې ته تاکید کې شرط اتحاد الدلالتین وائي، نو بیا صورت اول کې هم ستا دلیل نه صحیح کیږي، ویل **اذا اشترط في التاکید اتحاد الدلالتین نو لم یکن کل انسان لم یقم** چې دا صورت اول وو، د کل د دخول نه وروستو **علی تقدیر کونه لنفي الحکم عن الجملة تاکیداً** نو تا په صورت اول کې نفي عن کل فرد ګرځولی دی، نو مونږ وایو چې نفي عن کل فرد مه ګرځوه خه؟ بلکه نفي عن الجملة وګرځوه، نو بیا تاکید جوړیږي، نو اوس ګورئ اذ لو اشترط في التاکید اتحاد الدلالتین دا مقدم د قیاس شو، او لم یکن انسان لم یقم علی تقدیر کونه لنفي الحکم عن الجملة تاکیداً دا تالي د قیاس شو، مقدمه استثنائیه ورسره تل کوي، لکن التالي باطل، فالمقدم مثله، هر چې ده وجه د بطلان التالي د وجې د اعتراف د قیل نه، ځکه قیل په خپله اعتراف کړی دی، چې کل انسان لم یقم مونږ نفی عن الجملة نه وګرځوو، نو دا تاکید کیږي، نو لم یکن تاکیداً باطل شو، نو بطلان التالي د وجې د اعتراف او اقرار د قیل نه شو، دلیل د ملازمي دا دی چې ته اتحاد د دلالتینو شرط وائي، دلته کې اتحاد د دلالتینو خو نه دی، ځکه **لان دلالة انسان لم یقم** د کل نه مخکې علی هذا المعنی، چې نفي د حکم عن الجمله دی بطریق الالتزام دی، ځکه چې انسان لم یقم معنی مطابقي دا ده، عدم ثبوت د قیام، چې دا عدم قیام انسان ته ثابتول دي ځکه دا موجبه معدولة المحمول ده، یعنې عدم قیام ثابتول انسان ته، او دا معنی چې دا عدم قیام ثابتول بعضې افرادو د انسان ته، دا دلالت

التزامي دی، ځکه چې دا مهمله ده، او مهمله په قوت د جزئيي کې وي، نو التزاماً شو، نو اوس د دخول د کل نه وروستو هم ته نفي د حکم عن الجمله وکړي، نو هغه په طريقې د مطابقت سره شو، نو تاکيد رانغلی، ځکه د دخول د کل نه وروستو نفي دحکم عن الجملة په طريقې د مطابقت سره شو، او د دخول د کل نه مخکې نفي د حکم عن الجملة التزاماً وو، ځکه معنی مطابقي خو عدم ثبوت دقيام وو انسان ته، او نفي د حکم عن الجملة خو د دې وجې نه وو چې دا مهمله ده، او مهمله په قوت د جزئيي کې ده، نو التزاماً وو، نو د قيل د طرف نه دا جواب خطاء شو.

دريم رد کوي **ولان النكرة المنفية** ديته مؤاخذه لفظي وائي، **ولان النكرة المنفية اذا عمت كان قولنا لم يقم انسان سالبة كلية لا مهملة** ويل ته په نوم کې خطاء شوی ئې، ويل ديته به سالبه کليه وائي او تا ورته مهمله ويلې ده، ته خطاء شوی يې کما ذکره هذا القائل چې هغه ورته مهمله ويلې ده، ځکه **لانه قد بين فيها** ويل ځکه چې بيان کړی شوی دی په دې قضيه کې چې ان الحکم چې قيام دی **مسلوب عن كل واحد من الافراد** د افرادو د انسان نه، **والبيان** او دا بيان د هر واحد **لابد له من مبين، نوفلا محالة ههنا شئ** نو خامخا دلته کې يو سُور به وي، يو مبين به وي، يدل دلالت به کوي هغه مبين په دې على ان الحکم فيها، په دې چې حکم په دې کې على کمية افراد الموضوع او ولانعني بالسور سوی هذا، او کومه قضيه کې چې سور راشي نو هغه سالبه کليه وي، وائي وحينئذٍ ويل په دغه وخت کې چې دا سالبه کليه شوه، او مهمله نه شوه، **يندفع** مندفع شو ما هغه جواب قيل چې ويل شوی دی د قيل نه، چې سماها **مهملة** چې قيل دا مسمی کړي ده په مهملي باندې باعتبار عدم السور نو دا جواب خطاء شو چې سور شته دی کنه چې هغه وقوع دنکرې په سياق د نفي کې واقع کيدل دا سور د سالبې کليې دی.

وقال عبد القاهر دا وقال عبد القاهر عطف دی په وقيل قد يقدم باندې اوس که څوک شبه وکړي، چې يا هلکه ما قال د قيل، او ما قال د عبد القاهر يو شی دی، نو دا ذکر کول د ما قال د عبد القاهر پس د ما قال د قيل نه مستدرك شو، نو تاسو به جواب وکړئ چې حاجت ورته شته دی مستدرك نه دی ځکه چې ما قال د قيل مجمل وو، او ما قال د عبد القاهر د هغې تفصيل دی، او قانون دا دی چې تفصيل بعد الاجمال اوقع في الذهن وي، هغې ته څوک مستدرك نه وائي، نو عبد القاهر ويلي دي **ان كانت كلمة كل داخلة في حيز النفي شبه** څنګ د نفي خو عام دی، چې د نفي نه کل مخکې وي نو هغې ته هم ويلی شي چې في حيز النفي دی، او که د نفي نه وروستو وي نو هغې ته هم ويلی شي چې في حيز النفي، نو پته رانغله چې د دې في حيز النفي نه کوم يو حيز النفي مراد دی نو ماتن تعيين وکړو چې **بان اخرت عن اداته** ويل چې مؤخره کړی شوی وي دا کلمه د کل د اداتو د نفي نه، سواء سره شارح دفع د توهم کوي، چې يا هلکه دا کلمه د کل څنګه چې د اداتو د نفي نه وروستو وي نو دغسې معمول د نفي به هم وي؟ نو ده دا توهم دفع کړو چې نه دا شرط نه دی، وروستوالی د اداتو د نفي شرط دی، او

معمول د نفي کيدل شرط نه دی **سواء کانت معمولة لاداة النفي اولا او لم يکن معمولة لادات النفي بل معمولة للفعل النفي**، ځکه چې د اداتو د نفي لپاره معمول نشته، نو د دغه فعل منفي لپاره به وي بل خو څه شته نه **وسواء کان** سره دويم دفع د توهم کوي چې خبر د دې کل به وروستو فعل به وي، ځکه مثال ئې معلوميږي چې **ما کل ما يتمنى المرء يدرکه** نو دلته کې خبر فعل دی، نو خبر کيدل به شرط وي؟ نو ده دا توهم دفع کړو چې **وسواء کان الخبر فعلا** ای خبر کل فعلاً وي، نحو لکه دا شعر **ما کل مايتمنى المرء** نه دی هر هغه څيز چې غواړي يې سړی يدرکه چې دی دي يې بيامومي دغه څيز لره، دي ما لره، هر سړي ته هره متمنی نه شي حاصليدی، **وان ليس للانسان الا ما يتمنى** داسې يو ايت دی، دا دويم نيم بيتي دليل دی، د دې مخکښې نفي لپاره چې هر متمنی د سړي نه شي حاصليدای، ځکه **تجری الرياح بما لا تشتهي السفن** ويل جاري کيدل بادونو په هغه طريقي سره دي چې نه غواړي اهل سفن، **السفن**: نه مراد اهل سفن دي، او بيړۍ او جهاز په درياب کې روان دي، نو اهل سفن غواړي موافق باد، چې دغه کشتی چې کوم طرف ته ځي نو چې هغه طرف ته ټيله ووهي، ناسايې طوفان د بل طرف نه راشي، او دغه کشتی ألټه کړي، او ټول اهل سفن غرق شي، نو د هغې متمنی حاصل نه شوه، او غير فعل او يا دا خبر فعل به نه وي غير فعل به وي، لکه قولك ما کل متمنی المرء حاصلاً نه دی هر غوښتلی شوی شی د سړي حاصليدونکی، او **معمولة**: يا معمول وي دغه کل للفعل المنفي، الظاهر سره غرض د شارح دا دی چې بيان د احتمالينو کوي په دي معطوف عليه د او معمولةً کې، دويم غرض د شارح دا دی چې ترجيح ورکوي احتمال اول ته په احتمال ثاني باندې په الظاهر سره، دريم غرض د شارح په دواړو احتمالينو باندې اعتراض کوي، چې دا دواړه احتمالين خطاء دي، او څلورم غرض دشارح د اعتراض نه وروستو جواب کوي په اللهم سره، نو د شارح څلور اغراض شو، نو وائي چې الظاهر ظاهر دا دی چې انه چې دغه قول چې معمولةً دی، عطف، معطوف دی علی داخلةً باندې، او دا ظاهر دی، ځکه چې هغه هم صفت دی، اسم صفتي دی او معمولة هم اسم صفتي دی، نو مناسبت دواړو کې شته دی، ليکن په دي باندې اوس رد کوي چې وليس بسديد ويل دغه عطف محکم نه دی، ځکه لان الدخول في حيز النفي شامل بذلك ځکه ويل هلته کې ما تعميم کړی وو، چې سواء کانت معمولةً لنفي اولا، نو اولاچې د نفي لپاره خو نه شو نو د فعل منفي لپاره به وي کنه بل خو څه شی نشته نو او معمولة للفعل المنفي مستدرك شو، دويم احتمال بيانوي او رد پرې کوي وکذا او همدارنګه برابر نه دی، محکم نه دی لوعطفتها که ته عطف کړی دی معمولة لره علی أخرت باندې، نو معترض شبه وکړه چې يا هلکه عطف د معمولة په اخرت باندې نه صحيح کيږي، ځکه هغه جمله ده او دا مفرد دی، نو د عطف د مفرد په جمله باندې راځي، او عطف د مفرد خو په جمله باندې لايجوز دی، نو شارح جواب وکړو چې بمعنی او جعلت معمولةً د شارح په دې عبارة کې دوه احتمالين دي، جواب خو وشو، ځکه ومعمولة

معنی دا شوه چې او جعلت معمولةً، نو هغه هم جمله فعليه ده او دا هم جمله فعليه شوه نو عطف صحيح شو، خو اوس د شارح په دې عبارة کې دوه احتمالين دي، يو احتمال دا دی چې دا بناء دی په تضمن باندې، يعنې او معمولةً متضمن دی او جعلت لره، تضمين ديته وائي ذکر د فعل يا د شبه د فعل دی، او مراد ترې نه فعل او شبه فعل اخر به وي، او دا متضمن د متعلقاتو معمولاتو د متضمن نه به ګرځوي، نو دلته کې ماتن شبه فعل ذکر کړی چې معمولة دی، او مراد ترينه فعل اخر شو چې جعلت دی، هغه متضمن چې معمولةً دی، هغه په ځای د متضمن کې وګرځولی شو، چې او جعلت دی د هغې لپاره خبر وګرځولی شو او معمولةً د معمولاتو د هغه متضمن نه وګرځولی شو چې جعلت دی، نو يو احتمال داشو، يا د شارح عبارة کې دا هم يو احتمال دی، چې معمولةً په ځای دی او دا جعلت بهر نه په کې مقدر دی، يا ګرځولی شوي دا کلمه د کل معمول د فعل منفي لپاره، نو عبارة د شارح محتمل د دواړو احتمالينو دی، اوس وکذا لپاره دليل وائي چې دا هم دغسې ولې دی چې ليس بسديد دی، صحيح نه دی، ويل لان التاخير ځکه تاخير د کل عن اداة النفي ايضاً لکه دخول په حيز النفي کې شامل وو، نحو د دخول په شان شامل لذلك، چې دا کل معمول د نفي وي که د فعل منفي وي، نو استدراك بيا لازم شو.

الهم سره اوس جواب کوي چې ای الله نشته دی، مخلص د دغه اعتراض نه په دواړه وجهينو باندې الا ان يخصص التاخير او الدخول دخول تاسو بهر نه ولګوئ، دا جواب د اختيار د دواړه شقينو سره کيدای شي، مګر که خاص کړی شي تاخير په صورت ثاني کې، يا خاص کړی شي دخول په صورت اول کې، خاص کوو يې بما اذا لم تدخل الاداة په هغه څه چې نه وو داخل شوي ادات د نفي په هغه فعل باندې چې عامل وي په کل کې، ادات د نفي په هغه باندې نه وي داخل شوی، دا معمولة للفعل المنفي دا هله کيږي چې دا ادوات نفي په دي فعل باندې داخل شي، نو استدراك لازم نه شو، کل، ويل هلکه قرينه څه ده، تخصيص خو قرينه غواړي، ويل **على ما يشعر به المثال** ځکه چې دا کل ما يتمنى المرء دلته هر مثال کې اداة د نفي په فعل عامله في کل باندې نه دی داخل، اوس والمعمول سره شارح دفع د اعتراض کوي د ماتن نه، ماتن باندې شبه راغله چې يا هلکه مثال نه مقصود توضيح د ممثل ده، نو توضيح د ممثل خو په يو مثال سره کيږي، ماتن خو ډير شی مثالونه ذکر کړي دي، ديته څه ضرورت وو، نو شارح مخکې نه جواب کوي چې تعدد د امثلو بنا دی، په تعدد د ممثل باندې، معمول عام دی اعم من ان يکون فاعلاً او مفعولاً او تاکيداً يا تاکيد د فاعل وي يا تاکيد د مفعول وي، او غير ذلك يا جار مجرور وي، ظرف وي، يا تاکيد او مجرور وي، يا د ظرف لپاره تاکيد وي، نو اوس شپږ مثالونه په کار شو، يو مثال د دې چې کل تاکيد د فاعل واقع شوی وي، دويم مثال د دې چې کل عين فاعل واقع شوی دی، دريم مثال د دې چې کل تاکيد واقع شوی وي د مفعول متاخره

لپاره، څلورم مثال د دې چې کل عین مفعول متاخره واقع شوی وي، پینځم مثال د دې جې کل تاکید واقع شوی دی د مفعول مقدمه لپاره، او شپږم مثال د دې چې کل مفعول مقدم شوی وي، او فاعل خومقدم کیدای نه شي، څکه بیا یې د مبتداء سره التباس راځي، نو د دې وجې نه ماتن امثله زیات را اوړي دي، لکه نحو ما جاءني القوم کلهم دا په تاکید د فاعل کې شو، وما جاءني القوم دا په عین فاعل کې شو، اوس اول شبه کوي په ماتن باندې او شبهې نه وروستو جواب کوي، ویل وقدم او مقدم کړو ماتن مثال التاکید مثال د تاکید د فاعل **علی الفاعل** حالانکه تاکید فرع دی تابع دی، او عین فاعل اصل دی متبوع دی، نوماتن تابع مقدم کړو په متبوع باندې دا ولې؟ دا جواب چې ویل لان کلاً اصل فیه ویل څکه چې دا لفظ د کل اصل دی په دې تاکید کې، څکه دا د الفاظو د تاکید معنوي نه دی، او لم اخذ کل الدراهم دا په في المفعول المتاخر، خو کل عین مفعول شو، او کل الدراهم لم اخذ دا په في المفعول المتقدم، کل عین مفعول شو، اوس دوه مثالونه د ماتن نه پاتې شوي وو، څکه چې د ماتن مقصود استیعاب نه وو، نوشارح وائي هغه دوه زه تاسو ته پیش کوم، هغه دا دي چې وکذا لم اخذ الدراهم کلها دا مثال د تاکید د مفعول متاخره، او الدراهم کلها لم اخذ دا مثال د تاکید د مفعول متقدمه، ففی جمیع هذه الصور د دې نه غرض د شارح دفعه د توهم کوی متن دا دی چې توجه النفی دا جزاء ده د دې چې ان کانت کلمة کلٍ نو متوهم توهم وکړو چې دا جزاء به د اخر د دې صورت سره به لګي، چې کل الدراهم لم اخذ څکه هغه قریب دی، ویل نه ففي جمیع هذه الصور توجه النفي الی الشمول خاصةً نو نفي عن جملة الافراد کوي، نونفي الشمول، سلب العموم وکړه، رفع د ایجاب کلي شوه، قیل هم دغه ویلي وو، **لا الی اصل الفعل** اصل فعل به په خپل ځای باندې به وي، د افاد الکلام او فائده کوي دا کلام ثبوت الفعل، لکه ما کل ما یتمنی المرء، او الوصف لکه ما کل الدراهم ماخوذة، بعض مما اضیف الیه کل، چې هغه دراهم دي یا ما یتمنی دی، خو دا ثبوت به هله وي ان کانت کل في المعنی فاعلاً للفعل او الوصف المذکور في الکلام څکه فاعل کې ثبوت راځي، او افاد تعلقه یا فائده کوي تعلق د فعل یا د وصف به ای ببعض هغه اضیف الیه کل دی، خو ان کانت کل في المعنی مفعولاً للفعل، څکه تعلق په مفعول کې راځي، للفعل او الوصف، اوس شارح دمتن لپاره دلیل وائي، چې وذلك: ویل دا ثبوت د فعل د یا وصف یا تعلق؟ بعضو پورې بدلیل الخطاب، یو په دلیل د مفهوم مخالف سره دی، دلیل الخطاب نه مراد دلیل مخالف، څکه چې تا په یو ځای کې نفي د کل والي وکړو، نو دا مفهوم مخالف دی په ثبوت بعض والي ته، دارنګه و شهادة الذوق، او د وجې د ګواهي ورکولو د ذوق نه، ذوق سلیمه هم په دې باندې ګواه دی، ذوق وائي قوة تدرك بها لطائف الکلام څکه ذوق سره معلومیږي چې په یو ځای کې تا نفي د کل والي جمع والی وکړو، نو هغه دلالت په ثبوت د دې فعل او تعلق د دې فعل بالبعض باندې کوي، ولې که بعضې باندې وو نو بیا کلوالي ته حاجت نه وو،

دريم **والاستعمال**: په شهادة د استعمال سره، ځکه استعمال هم داسې دی، چې يو ځای کې، په يو کلام کې يو قيد راشي، نو نفي متوجه کيږي قيد ته، اوس شيخ دا قانون اينبی دی، نو اوس شيخ باندې شبه راغله، چې يا هلکه ستا قاعده منقوض شوه په والله لايحب کل مختال فخور باندې، نو دلته ستا د قانون مطابق کې بيا معنی دا شوه چې الله مينه نه کوي هر متکبر او فخر کوونکی په خلکو باندې، او بعضو سره کوي، خو په کل والي سره نه کوي، دا خو صحيح نه ده، دارنګه والله لايحب کل کفار اثيم الله مينه نه کوي، هر کافر ګنهګار سره، نو بيا خو دا معلومه شوه چې الله کل کافرو سره او اثيم سره مينه نه کوي، او بعضو سره کوي، دا هم خطاء ده، دارنګه ولاتطع کل حلاف مهين تابعداري مه کوه د هر ډير قسم خوړونکی، او د ذليل سړي، نو دا معنی شوه، چې د کل حلاف او مهين تابعداري مه کوه او د بعض حلاف او مهين تابعداري کوه، نو شارح مخکې نه جواب وکړو چې د شيخ دا قاعده کليه نه ده اکثريه ده، ويل والحق ان هذا الحکم حکم نه دا قاعده مراد ده اکثري لاکلي بدليل قوله تعالى والله لايحب کل مختالٍ فخور، والله لايحب کل کفار اثيم، ولاتطع کل حلافٍ مهين دا خو شارح جواب وکړو، دويم جواب تاسو داسې هم کولی شئ دي محشی کړی دی، چې د شيخ دا کلام چې توجه النفي الى الشمول خاصةً، دا په اعتبار د نفس ذات سره دی، قطع نظر د قرينه خارجيه نه، او په دې ايات کريمه و کې، دا کوم دري اياتونه چې ذکر شول، دلته کې توجه د نفي اصل فعل ته، دا د وجې د قرينه خارجيه نه دی، قرينه خارجيه سره معلوميږي چې لکه څنګه چې الله مينه کل متکبرينو سره نه کوي نويو سره هم نه کوي، چې کل فخور سره نه کوي نويو سره هم نه کوي، دارنګه چې څنګه چې د کل کفار او اثيم سره مينه نه کوي، نو يو سره هم نه کوي، دارنګه دوستي کې هم، نودا د قرينه خارجيه د وجې نه دی، والاکې اشاره کوي شارح چې دا الاستثنائيه نه ده، بلکه مخفف ده د ان لم يکن نه ای ان لم تکن ای کلمة کل فيَ حيز النفي بان قدمت على النفي لفظاً نو دا صورت اول نفي شو، ولم تقع معمولةً للفعل المنفى او کل معمول دْ فعل منفي نه هم نه وي، نه فاعل، نه مفعول نه تاکيد د دې دواړو نه هيڅ نه وي، نو چې داسې نه وي نو عم النفي کل فرد، عم النفي لکه هلته کې قيل ويلى وو کل انسان لم يقم مما اضيف اليه کل، وافاد نفي اصل الفعل من کل فرد د هغې مثال کقول النبي صلى الله عليه وسلم لما قال له ذو اليدين دا روایاتو کې راځي، بعضو کې راځي چې د ماسپخين مونځ وو، او ځني روایاتو کې راځي چې د مازيګر مونځ وو، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم دوه رکعته وکړل، او بيا لاړ د کجورې يو مونډ پروت وو هغې ته يې شا ولګوله او کښاسته، او په دې مجمع کې مشران صحابه هم وو، حضرت ابوبکر رضي الله تعالى عنه، عمر رضي الله تعالى عنه نور مشران صحابه وو، هغوی غلي شو، او مونځ دوه رکعته وشو، نو په دي مينځ کې يو صحابي وو، چې د هغه اصل نوم خرباق وو، خو لاسونه يې لږ کوتي اوږده وو، نو هغه ته ذواليدين ويل کيدۀ، رسول الله صلى الله عليه

وسلم به صحابه ؤ ته ډير لقبونه ويل، خو د مدحي د وجې نه د محبت د وجې نه، تحقير لپاره به يې نه
ويل، نو نور صحابه غلي شو او دغه ذواليدين پاڅيده رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې وويل چې
حضرت، هغه وفرمايل چې څه وائي؟ ويل اقصرت الصلوة ام نسيت يا رسول الله مونځ کوز شو؟
څلورو نه ښکته دوو ته راکوز شه يا ته هير شوی ئې، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته په جواب
کې وويل، چې کل ذلك لم يكن چې يا هلكه ذواليدين انه مونځ لنډ شوی دی د څلورو نه دوو ته هم نه
دی راکوز شوی او نه زه هير شوی يم، نو هير خو تري نه راغلي وو، خو په خپل زعم کې زه نه يم هير
شوی، ځکه د رسول الله صلى الله عليه وسلم خو دا خيال وو چې مونځ ما پوره کړی دی، نو وروسته
حديث ټکړه راځي چې ذو اليدين وويل چې حضرت نه قد كان بعض ذلك په دي دوو خبرو کې يو
خامخا شوي ده، ځکه مونځ دوه رکعته شوی دی، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم تپوس وکړو د
نورو صحابه ؤ نه، د ابوبکر نه، عمر نه، نور صحابه ؤ نه رضي الله عنهم اجمعين، چې يا هلکه دا
ذواليدين چې وائي دا خبره رشتيا ده، دوه رکعته شوي دي؟ نو هغوی تصديق وکړو چې هو حضرت
دوه رکعته شوي دي، نو بيا پاڅيدو رسول الله صلى الله عليه وسلم، پاڅيدو بناء يې وکړه، دوه رکعته
يې نور وکړل، اوس هغه نورې خبرې به په حديث کې راځي، چې دا خبرې وشوې او بيا يې بناء څنګه
وکړه، استيناف کول په کار وو، هغه ځان له د حديث تحقيق دی، دا يې ځای نه دی، خو دلته کې
دومره کرتي کافي دی، نو وائي... الخ، اسم واحد من الصحابة، اقصرت الصلوة، فاعل قصرت، ام
نسيت يا رسول الله، كل ذلك لم يكن هذا قول النبي صلى الله عليه وسلم، والمعنى نو اوس ګوره دلته
کې کل د حرف نفي نه مخکې دی، او معمول د فعل منفي هم نه دی، نو **والمعنى لم يقع واحد من القصر
والنسيان على شمول النفي وعمومه** سلب کلي شو، **بوجهين احدهما** يو په دې دواړه وجهينو کې دا دی چې د
نحوي قانون دا دی چې ان جواب ام جواب د ام چې مخاطب کوي نو اما بتعيين احد الامرين او بنفيهما
جميعاً د دواړو، لکه اوس ما تاته وويل چې هلکه ا رجل في الدار ام امرءة؟، نو زما غرض په دي سوال
کې دا دی، چې زما علم په دي شته دی چې په دې دار کې څوک نه څوک خو خامخا شته دي، په دي
خوزه عالم يمه، خو تا نه تپوس کوم چې سړی دی که ښځه ده، نو ته چې ما ته جواب راکوي نو دوه
طريقو سره به راکوي، يا به ته وائي چې سړی دی ښځه نه ده، يا به وائي چې ښځه ده، سړی نه دی، په
تعيين د احد الامرين سره به جواب کوي، يا به وائي چې نه ښځه ده نه سړی دی، ته په دي خپل علم کې
خطاء شوی ئې، بلکه غوا ده يا ميخه دنته ده، نه ښځه ده او نه سړی دی، دا جواب ته نه شي راکولی
چې سړی او ښځه دواړه دنته نشته دی، ګني زه به پرک دلته کې مخ باندې تا نه داسې اوباسم چې دواړه
دنته نه دي، دا خو زما هم علم وو، نو تا دا جواب ولې وکړو، بلکه زه وايم چې يو دی دواړه خو نشته
دی خو اوس کوم يو دی ښځه ده او که سړی دی، او بنفيهما جميعاً تخطئةً للمستفهم نفي د جميع به

کوي، نو دا نسبت د خطايي کوي هغه مستفهم ته، چې تا دا خيال کړی دی چې يو په کې شته دی، په دې کې ته خطاء يې نه سړی دی او نه ښځه ده، بلکه دنته ميخه ده، يا غوا ده، يا اوښ دی، نو تخطئه د مستفهم لپاره شو، داسې جواب نه شي کولی چې بنفي الجمع بينهما **لانه**: ځکه دغه مستفهم عارف بان الکائن احدهما نو يو خو د دې وجې نه شو، نو دلته کې رسول الله صلي الله عليه وسلم کل ذلك لم يکن سره جواب په نفي د دواړو جميعاً سره وکړو، په احدهما سره يې ونه کړو، چې ای هلکه ذواليدينه ته خطاء شوی ئې، نه قصر شوی دی نه نسيان، ته زما نه د څه شي تپوس کوي، نو سلب کلي شو، والثاني او دويمه وجه دا ده چې ما روی انه لما قال النبي صلی الله عليه وسل کل ذلك لم يکن نو نبي عليه الصلوة والسلام سلب کلي مستعمل کړو، نو قرينه څه ده، نو قال له ذو اليدين حضرت قد کان بعض ذلك نو دا موجبه جزئيه شوه، و معلوم ان الثبوت للبعض چې موجبه جزئيه ده انما ينافي النفي عن کل فرد لاالنفي عن المجموع، نو دا بعض ذلك قد کان، نقيض د کل ذلك لم يکن هله کيږي، چې کل ذلك لم يکن نه سالبه کليه واخلي، ځکه وکل ذلك... الخ، نه تا رفع د ايجاب کلي واخيسته، نو دا بيا نقيض د بعض ذلك قد کان نشي کيدای.

وعليه ای علی عموم النفي عن کل فرد باندې، بل استشهاد پيش کوي، قوله: دا قول د ابي النجم دی، ای قول ابی النجم شعر هم قد اصبحت ام الخيار تدعی ويل صبا کړو ام الخيار، دا د ابي النجم د ښځې نوم وو، په داسې حال کې چې دعوی يې کوله په ما باندې د ګناه، چې انت ثقيل الصدر، خفيف الورکين، ويلي ته زما تقاضا نه شي پوره کولی، ويل چې لري شه، خو دي وائي چې کله لم اصنع دا ټوله ګناه په ما کې نه ده، څۀ خو دا هم حرامېتوب کوي، ټول زه ګنهګار نه يم، څه په ما کې وي خو څه دا هم حرامېه ده، زه يې خوښ نۀ يمه، ځکه يې خوښ نه يمه من ان رات راسي کراس الاصلع ويل دي ليدلی دی سر زما په شان د سر د ګنجي، نو زما په سر باندې ويښته نشته دی، نو دا پرې دپاسه پرې لاس کيدي نو هغه هسې ماليټ جان ښکاري، نو د دې وجې يې زه خوښ نه يمه، خو دا ويښته چې زما د سر نه تلي دي نو د ګنجي توب د وجې نه ندي، ميز عنه قنزعا عن قنزع، جذب الليالي ابطئ واسرعی وائي دا د امتداد د زماني د وجې نه سر زما ګنجی شوی دی، نو اوس ګورئ برفع کله نو معمول د فعل منفي نه شو، نو چې نه شو نو علی معنی لم اصنع شيئا کما تدعيه علی من الذنوب اوس په دې باندې قرينه دا ده چې ويل ولافادة هذا المعنی چې سلب کلي، عموم السلب دی، عدل ابو النجم عن النصب، کله، منصوب يې نه دی لوستلی، داسې نصب او نصب المستغنی عن الاضمار، مستغني وو د اضمار نه الی الرفع المفتقر اليه، ځکه کله که منصوب يې لوستلی وي، نو وروسته لم اصنع کې د مفعول ضمير ته حاجت نه وو، او چې اوس کله ده مرفوع ولوستلو نو وروستو لم اصنعه خبر شو، هلته کې ضمير د مفعول به محذوف شی چې ام اصنعه دی، ای لم اصنعه.

ماتن وائي **واما تاخيره** وائي تاخير د مسند اليه ولې کيږي؟ ويل **فلاقتضاء المقام** د وجې د غوښتو د مقام ند د تقديم المسند، تقديم د مسند لره، ځکه مقام اوحال د مخاطب غواړي تقديم د مسند، نو مسند اليه خود بخود به مؤخر کيږي، وسيجئ کې دا واو استينافيه کوئ،سائل سوال وکړو چې يا هلکه مقام ولې غواړي تقديم د مسند؟ نو شارح جواب وکړو چې وسيجئ بيانه ويل زر دی چې را به شي بيان د تقديم د مسند په بحث د احوالو د مسند کې، متن دا دی هذا مقتضى الظاهر من الحال، نو معترض شبه وکړه چې هذا خو اسم اشاره مفرد لپاره ده، او دې سره تا اشاره کړې ده حذف، ذکر، اضمار او نورو ته، لکه تعريف، تنکير، اطلاق او تقيد، نو اسم اشاره او مشار اليه کې مطابقت رانغلی، نو شارح جواب وکړو چې هذا کې اشاره ده **ماذکرته ويل الذي ذکر** ويل دغه چې مخکې ذکر کړی شو، هغې ته مې په دې سره اشاره وکړه، نو اسم اشاره او مشار اليه کې مطابقت راغلی، نو اوس شبه راغله چې هلکه ما ذکر خو د دې ځای نه تر بسم الله پورې ټول الذي ذکر دی، نو هغې ته خو اشاره نه صحيح کيږي، نوشارح جواب وکړو چې نه نه،مِنْ، مراد هغه ذکر دی چې په دي احوال د مسند اليه کې کوم ذکر شوی وي، هغه دا دی چې **من الحذف والاضمار وغير ذلك** تعريف، تنکير، اطلاق او تقييد في المقامات المذکورة کله دغه ټول مقتضى الظاهر من الحال دا مقتضى ده د ظاهر الحال د مخاطب، چې د مخاطب ظاهر حال حذف د مسند اليه غوښتو، نو ته به حذف کوي، که ذکر يې غوښتو نو ته به ذکر کوي، ضمير يې غوښتو، ضمير به راوړي، او وقد يخرج الکلام او وقد يُخرج هم صحيح دی، او کله کله خارجولی شي کلام علی خلافه خلاف د مقتضی د ظاهر حال، يعني د ظاهر الحال د مخاطب نه خلاف وي، معترض شبه وکړه چې هلکه چې د ظاهر حال د مخاطب خلاف شو، نو هغه خو غير فصيح کيږي، او مونږ په علم المعاني کې خو هغه کلام ذکر کوو چې هغه فصيح وي، نو شارح جواب وکړو چې **لاقتضاء الحال اياه** د وجې د غوښتلو د حال خفيه نه دی خلاف لره، مخاطب کې بل يو حال خفيه دی، هغه دا غواړي چې دا کلام خلاف د ظاهر حال نه ذکر کړو، نو مطابقت د کلام د حال د مخاطب سره عام دی چې د حال ظاهر سره مطابق وي او که د حال خفيه سره وي، په دواړه طريقو باندې کلام فصيح کيږي، که د ظاهر حال د مخاطب سره موافق وي نو هغه کلام ته هم فصيح ويلی شي او که د مخاطب حال خفيه سره موافق وي يو کلام نو هغې ته هم فصيح ويلی شي، نو اخراج د کلام خلاف د ظاهر نه دی سره کلام د فصاحت نه نه اوځي.

نو دا تفصيل شو چې **فيوضع المضمر موضع المظهر** يو ځای کې ظاهر الحال د مخاطب غواړي چې دلته کې اسم ظاهر ذکر کړه، متکلم د هغه اسم ظاهر په ځای کې ضمير ذکر کړی لپاره د موافقت د خفي الحال، کقولهم لکه دا قول د عربو شو، نعم رجلاً زيد: نو دلته کې اوس ځای د اسم ظاهر وو، نعم الرجل زيد په کار وو، خو د نعم الرجل په ځای تا په نعم کې ضمير ذکر کړو، مکان نعم الرجل په خپله وائي، اوس دا

مثال مطابق د ممثل سره دی، څکه وائي چې مقتضى الظاهر في هذا المقام هو الاظهار چې نعم الرجل وائي، چې اسم ظاهر ذکر کړی، دون الاضمار ضمیر نه صحیح کیږي، څکه ضمیر مخکې غواړي مرجع، مسند اليه، او دلته چیرته مخکې مسند اليه مرجع نشته دی، لعدم تقدم ذکر المسند اليه شبه بالهلکه مسند اليه دي ذکر نه وي خو قرینه دي وي کنه؟ نو چې قرینه شوه نو دا ذکر حکماً شو کنه، دي وائي چې وعدم قرینة تدل علیه قرینه هم نشته، وهذا سره شارح دفع د اعتراض کوي، اعتراض دا وارد شو چې ښه نعم کې تا ضمیر راوړیستلو، ضمیر خو مرجع غواړي، نو مرجع نشته نو چا ته دا راجع کوي؟ نو دې جواب کوي چې وهذا الضمیر په نعم کې عائد الی متعقل راجع کیدونکی دی یو متصور په عقل کې، داسې متصور په عقل کې چې معلوم في الذهن معلوم دی په ذهن د متکلم کې، یعني متکلم یو متعقل فرض کړی، معترض راغلی شبه یې وکړه چې د رجلاً ذکر مستدرك شو، بیا داسې ویل پکار وو کنه چې نعم زید، دا رجلاً ولې ذکر شو، څکه چې د الرجل په ځای خو ضمیر راغلی، او زید مخصوص بالمدح شو، نو رجلاً ته خوضرورت نه وو، نو ده جواب وکړو چې والتزم تفسیره، ویل لازم کړی شوی دی تفسیر د دې متعقل بنکرة چې رجلاً دی لیعم جنس المتعقل څکه چې نعم ډیر ښه دی هغه، نو هلکه هغه د کوم جنس نه وو، د سړي د جنس نه وو که د ښځې د جنس نه وو که د بقر که د فرس نه، د څه نه وو نو رجلاً دی د حیثیت د رجلیت نه، اوس ګورئ په متن کې دا دی چې في احد القولین شبه نو یا هلکه في احد القولین دا خو جار مجرور دی ظرف دی، نو دا ظرف لغو شو او که نه ظرف مستقر شو، نو شارح اشاره کوي چې دا ظرف لغو دی، دا متعلق دی په فیوضع پورې، نو هغې ته یې اشاره وکړه ویل وانما یکون هذا یقیناً کیږي دا نعم رجلاً زید من وضع المضمر موضع المظهر کې خو في احد القولین دا وضع في احد القولین ده، یعني مخصوص بالمدح کې دوه قولین دي یو قول کې دا وضع د ضمیر په ځای اسم ظاهر کې ده، او یو په کې نه ده ای قول سره د احد تفسیر کوي، هغه احد دا دی چې قول من یجعل المخصوص خبر مبتداء محذوف چې هغه زید دی، نو هغه ځان ته مستقل جمله شوه او نعم رجلاً مستقل جمله شوه، نو چې مستقل جمله شوه نو نعم کې هغه ضمیر فاعل شو او رجلاً ضمیر شو دا ځان له جمله شوه، او هو زید ځان له جمله شوه، او قول اخر دا دی چې واما من یجعله دی مخصوص بالمدح لره مبتداء، مبتداء مؤخر او نعم رجلاً خبر، خبر د دې مقدم، نو فیحتمل عنده ان یکون الضمیر عائدا الي المخصوص نو بیا دا وضع د ضمیر په ځای د اسم ظاهر کې نه ده، بلکه د ضمیر ځای شته چې دا راجع دی مخصوص ته، نو معترض راغلی شبه یې وکړه چې مخصوص بالمدح خو مؤخر دی، او ضمیر مقدم دی، نو اضمار قبل الذکر راغلی، نو شارح جواب وکړو وهو مقدم تقدیراً ویل دغه مخصوص مقدم دی رتبةً اګر که مؤخر دی لفظاً، او اضمار قبل الذکر رتبةً او لفظاً جائز دی، یواخې لفظاً جائز دی، **ویکون**: سره شارح دفع د بل اعتراض کوي، بل

اعتراض دا وارد شو چې شه تا ضمير په نعم کې راجع کړو مخصوص بالمدح ته نو په کار دا ده چې مخصوص بالمدح مفرد وي نو ضمير به مفرد ذکر کوي، که مخصوص بالمدح تثنيه وي نو نعما به وائي، که مخصوص بالمدح جمع وي نو نعموا به وائي، او دا خو چا نه دی ويلی، نو دی جواب کوی چې ويکون التزام افراد الضمير حيث لم يقل نعما په تثنيې سره چې مخصوص بالمدح تثنيه وي، **ونعموا**: په جمع کې چې مخصوص بالمدح جمع وي، دغه التزام د افراد د ضمير من خواص هذا الباب لکونه من الافعال الجامدة الغير المسموعة بالتثنية والجمع، ځکه چې دا نعم د افعالو جامدو نه دی او مسموع نه دی تثنيه او جمعيت د دي، دا قيد ورسره ولګوئ چې الغير المسموعة...الخ نو دې قيد لګولو سره ما ليس خارج کړو، ليس باندې شبه وه، چې دا ليس هم د افعال جامدو نه دی، حالانکه هغې تثنيه او جمع خو راځي، ليسا ليسوا ليسوا سواء نو ما تاسو ته قيد زياتي کړو چې دا د افعال جامده ؤ غير مسموعة التثنية والجمع دی، او ليس د افعال جامده ؤ نه دی خو مسموعة التثنية والجمع دی، نو هغه شبه دفع شوه، نو اوس شارح فيحتمل وويل، نو فيحتمل په هغه ځای کې ويلی کيږي چې د هغې په مقابله کې بل احتمال وي، يا هلکه ځوک چې مخصوص بالمدح مبتداء مؤخر وائي نعم رجلاً او خبر مقدم وائي، نو يو تا په کې ذکر کړو چې فيحتمل عنده شو، نو تاسو وايئ چې بل احتمال په هغې کې دا دی چې دا نعم کې ضمير دی مخصوص بالمدح ته راجع نه شي، بلکه راجع شي دغه متعقل ذهني ته، په شان د قول اول، ځکه هغې کې هم متعقل ذهني ته راجع وو، نو په دې قول ثاني کې هم راجع شي متعقل ذهني ته، نو د دې احتمال مقابل دا احتمال دی، خو شارح دا احتمال په شرح کې نه دی ذکر کړی، ځکه دغه احتمال ضعيف دی، ځکه ضعيف دی چې بناء په دې باندې دا د قبيلې د وضع د ضمير مبهم نه شو په ځای د ضمير معينه کې، نو مثال مطابق د ممثل سره نه شو، نو ممثل خو دا وو چې وضع د ضمير په ځای د اسم ظاهر کې، نو بناء په دې احتمال باندې وضع د ضمير مبهمه وشو د ضمير معينه په ځای، نو بيا مثال د ممثل سره نه مطابق کيږي، د دې وجې نه دا احتمال ضعيف وو نو شارح دا په شرح کې نه دی ذکر کړی، دويم مثال ښائي د وضع د ضمير په ځای د اسم ظاهر کې چې وقولهم هو شان دا دی زيد عالم او هي يا قصه دا ده چې زيد عالم، زيد عالم دواړو سره ولګوئ، مکان الشان، دا په زيد هو عالم کې، او القصة دا په هي زيد عالم کې شو، دا مثال مطابق د ممثل سره دی، ځکه ويل فالاضمار ضمير راوړل په دې مثال کې ايضاً د نعم رجلاً په شان خلاف مقتضى الظاهر، ځکه چې لعدم التقدم د وجې د عدم تقدم د مرجع د مسند اليه نه، نه مسند اليه مذکور دی او نه پرې قرينه شته دی، په ذکر د هغې باندې.

واعلم نه شارح تمهيد ږدي اعتراض ته، نو فقوله پورې تمهيد دی او قوله نه اعتراض دی، دويم غرض د شارح د واعلم نه دا دی چې تعريف کوي د ضمير شان او تعريف کوي د ضمير قصه، دريم غرض د

شارح د واعلم نه دا دی چې فرق بيانوي په ما بين د ضمير شان او د ضمير قصه کې، نو واعلم ويل پوهه شه چې ان الاستعمال مبني يا جار علی ان ضمير الشان انما يؤنث اذا کان في الکلام کله چې وي په کلام مفسره کې، وروستو چې کوم کلام وي هغه مفسر وي، هغې کې مؤنث وي غير فضلة، هسې مؤنث چې هغه فضله نه وي بلکه عمدهٔ وي، په هغه وروستو کلام کې چې کلام مفسره ورته وائي هغې کې مؤنث وي چې يا به هغه مؤنث مسند اليه واقع شوی وی، لکه مثال نحو هي هند مليحة، او ضمير شان مذکور کيږي هله چې په دې جمله مفسره کې مذکر غير فضله وي لکه هو زيد عالم شو، نو زيد مسند اليه غير فضله دی، نو هو زيد عالم دا ضمير شان شو، نو اوس هغه اعتراض کوي چې دا مخکې چې ماتن ويلی دی نو دا هو زيد عالم صحيح دی، دا ضمير شان شو، ځکه وروستو په جمله کې چې زيد عالم دی، مذکر غير فضله شته دی چې زيد دی، او هي زيد عالم نه صحيح کيږي، ځکه چې هي قصې لپاره شرط دا دی چې هغه جمله کې مؤنث غير فضله وي، نو زيد خو مؤنث غير فضله نه دی، نو فقوله هي زيد عالم مجرد قياس خالي دی د سماع ته، چيرته سمع داسې نه ده شوي، او قياس دی په هي هند مليحة باندې قياس تا وکړو، او دا قياس قياس مع الفارق دي، ځکه هي هند مليحة کې شرط د ضمير قصه شته دی، چې هغه په کلام کې مؤنث غير فضله دی، او هي زيد عالم کې شرط د ضمير قصه نشته دی چې وروستو کلام کې مؤنث غير فضله وي، هغه خو نشته دا شبه شارح وکړه او ځان له لاړ، جواب يې نه دی کړی، جواب تاسو بهر نه کوئ، جواب بهر نه دا وکړئ چې په دې زيد کې دوه احتمالين دي، يا به زيد علم به وي د مذکر لپاره، يا زيد علم به وي د مؤنث لپاره، زيد ښځې لره نوم کېښودو د سره هيڅ دنيا نه خرابيږي، نو اوس که زيد علم وي د مذکر لپاره، لکه هو زيد عالم، نو دا صحيح شو، او که دغه زيد علم وي د يو مؤنثي لپاره هي زيد عالم نو صحيح دی، لکه ما اوس تاسو ته وويل جاءني زيد نو ما تاسو نه تپوس وکړو چې دا څه ترکيب دی؟ نو تاسو به وايئ چې دا جاءني فعل دی او ني مفعول دی او زيد فاعل دی شبه هلکه زيد خو مذکر دی او فعل دي مؤنث ذکر کړی دا ولې؟ نو دي جواب سره دا ترکيب هم حل شو، يعنې يا هلکه زيد د ښځې نوم دی، چې د ښځې نوم شو، نو جاءت فعل مؤنث ذکر کړي شو.

ما هداية النحو ويله، په دې شالپين کې زه وم، نو د خوازه خيلې نه ښکته باندې نومې يو کلی دی، هلته کې هغه وخت يو نحوي مولوی صاحب وو، نحوه کې مشهور وو نو زيارت په ورځ مونږه هلته کې چکر ته لاړو، نو هغه مولوی صاحب سره مونږه جومات کې ملاؤ شو، نو ماته يې ويل چې هلکه ته څه سبقونه وائي؟ نو ما ويل زه هداية النحو وايم، نو ما نه يې تپوس وکړو چې کان زيد عالم څه ترکيب دی؟ نو تاته وايم ای شوپرا دا څه ترکيب دی! دلته شيخ صاحب يو طالب نه دا ترکيب تپوس وکړو... الخ دا په هداية النحو کې دی، که بهر وي نو زه به ووايم... الخ

ثم علل وضع المضمر دي کې شارح اشاره کوي چې دا ليتمکن دليل دی لپاره د دويمې دعوی په متن کې، ځکه چې متن کې دوه دعوی شوي يو دعوی دا چې کله کله کلام ظاهر شي خلاف د مقتضی د ظاهر نه، دويم دا چې دا کلام موافق به وي د مقتضی د حال خفي سره، يعنې دا کلام مقتضی د حال خفي به وي، نو دوه دعوی وي، هغې ته شارح ښکته په فلاقتضائه ايا ه کې اشاره کړې وه، نو دا مخکې مثال چې ذکر شو نو په هغې کې خلاف د مقتضی د ظاهرخو مونږه ته معلوم شو، نو اوس دا د هغه دويمې دعوې اثبات کوي، چې دا د حال خفي سره څنګه موافق دی، نو شارح هغې ته اشاره وکړه چې ثم علل نو يا غرض د شارح دا شو، يا غرض د شارح دفع د اعتراض کوي د ماتن نه، اعتراض دا وارد شو چې هلکه د ماتن غرض مثال بيانول وو، خلاف دمقتضی د ظاهر لپاره، نو هغه مخکې په دې باندې تام شو چې هو زيد عالم مکان الشان زيد عالم مکان القصة، باندې، نو اوس اشتغال د ماتن په ليتمکن کې دا اشتغال بما لايعني شو نو شارح جواب وکړو چې اشتغال بما لايعني نه دی، دا ماتن دليل وائي چې دا حال خفي سره موافق دی، او مقتضی د حال خفي دی، ثم علل ای الماتن وضع المضمر موضع المظهر في البابين چې باب د نعم رجلاً دی او باب د هو زيد عالم او هي زيد عالم دی، بقوله ليتمکن مايعقبه تعيين د مرجع کوي ای يعقب ذلك الضمير چې دا ه ضمير متصله، الضمير ته راجع دی، اوس ای سره دفع د ابهام کوي، چې يا هلکه په دې عبارت کې خو ابهام دی، چې يعقب ذلك الضمير نو که يعقب کې ضمير شي نو بيا ذلك الضمير مفعول شو، نو يعقب کې ضمير ما ته راجع شو، وروستو به وي ما د دغه ضمير نه ترجمه نو بيا خو ترجمه صحيح شوه، ځکه ضمير مقدم شو، او ما مؤخر شو، او دا هم احتمال دی چې يعقب کې ضمير نه وي، او د دې فاعل ذلك الضمير وي نو بيا خو معنی دا شوه چې وروستو به وي دا ضمير، نو دا معنی خو خطاء ده، نو ابهام وو، نو شارح د تعيين د ما هو المراد لپاره ای سيجئ سره وويل، چې ذلك الضمير دا مفعول دی د يعقب لپاره، او يعقب کې ضمير راجع دی، ما ته ای يجئ راځي به دغه ما على عقبه په عقب د دې ضمير کې وروستو د دې ضمير نه يعنې دغه ما به د ضمير نه وروستو راځي، نو وروستو د ضمير نه هغه تفسير دی، هغه مفسر دی، او متقرر شي وما يعقبه د ضمير في ذهن السامع، شبه يا هلکه دا څنګه متقرر کيږي ويل لانه ځکه چې دی سامع ای السامع اذا لم يفهم منه ای من الضمير معنیً ځه معنی؟ ځکه نعم کې ډير ښه دی هغه، نو هغه څوك دی او څه شی دئ؟ څه معنی يې فهم نه کړه، يا هو شان دا دی يا قصه دا ده، نو څه شان او څه قصه ده؟ نو انتظره تعيين د مرجعګانو کوي ای انتظر السامع مايعقب الضمير انتظار کوي د هغه ضمير چې هغه راځي وروستو د ضمير نه، او انتظار ځکه کوي ليفهم منه معنی نو فيتمکن نو متقرر به شي دغه ما بعد ورووده په ذهن د سامع کې فضل تمکن، ځکه به متقرر کيږي، ويل لان المحصول بعد الطلب ځکه کوم شی چې حاصل کړی شوی وي پس د طلب نه اعز هغه ډير ګران

وي، عزتمند وي **من المنساق بلا تعب** د هغه چلولي شوي نه بغير د سترې توب نه، لکه يو سړی تا ته يې اسقاط کې در کړي...الخ.

ولا يخفى سره شارح پرې شبه ډزوي، ويل ولا يخفى پټ پناه نه دی چې ان هذا دغه **دليل** هذا کې اشاره دليل ته کوئ، خبره لنډوئ، ناکت هسې ځان له خبره اوږدوي، ديته مونږ اوزګار نه يو، ويل دغه دليل مانن چې کوم وويل لا يحسن في باب نعم.

مانن ووېل، ولا يخفى سره دي شبه کوي چې دغه دليل په هو زيد عالم، هي زيد عالم کې صحيح دی، خو په نعم کې دا شبه نه دی، شبه نه جوړيږي، ويل ان هذا ای الدليل لا يحسن في باب نعم ويل ځکه لان السامع ما لم يسمع المفسر لره رجل دی، نو لم يعلم ای السامع چې ان فيه ضميراً، چې په نعم کې ضمير شته دی، نو چې عالم نه شو، نو شوق د انتظار د سامع رانغلی، چې شوق د انتظار رانغلی نو دا تحصول بعد الطلب نه شو، نو فلا يتحقق فيه الشوق والانتظار او هو کې صحيح دی، ځکه کې تا ووېل چې شان دا دی، قصه دا ده، نو سامع په خپله شوق انتظار کوي، چې هغه شان او قصه څه ده؟ مونږ ته يې بيان کړه، تا وروستو بيان وکړه، ليکن تاسو جواب وکړئ چې دا دليل په هغه صورت کې دی چې سامع عالم وي په ضمير باندې په نعم کې، مطلقاً نه دی، وقد يعکس اوس عکس دوه ځيزونه غواړي، دې کې دوه ځيزونه ضروري دي، يو اصل وي او يو عکس وي، نو شارح هغه دواړه بيانوي، اصل بيانوي اصل دا دی چې وضع المضمر موضع المظهر اوس عکس دا دی چې ای يوضع المظهر موضع المضمر اوس مظهر خو ډير شی دی، تمام دنيا ده، نو فلانکی مظهر په ځای د ضمير کې ولې واقع کيږي، فلانکی ولې واقع کيږي د هغې تفصيل کوي، نو من جمله د اسم ظاهر نه اسم اشاره وو نو اوس دا د اسم ظاهر په ځای باندې ولې واقع کيږي د هغې لپاره نکته وائي، نووائي:

فان کان المظهر الذي وضع موضع المضمر اسم اشارة وه، نو د هغې نکته دا ده چې **فلکمال العناية** د چې د کمال مقصود مندی د متکلم نه بتميزه په جدا کولو د مسندالیه سره، ځکه چې د متکلم کامل مقصود دا دی چې دا مسندالیه د اغيارو نه جدا شي، جدا کوي يې ځکه ويل لاختصاصه بحکم بديع د چې د قصر د حکم بديعه نه په دې مسندالیه پورې، ځکه چې په دې مسندالیه پورې يو حکم عجيبه يو حکم بديعه مقصور وي، د دې وجې نه متکلم دا جدا کوي د اغيارو نه، چې د احکم عجيبه، بديعه مسندالیه پورې خاص دی، او په حکم بديعه سره دي جدا شوی دی د اغيارو نه، کقوله شعر کم عاقل عاقل، شبه يا هلکه زمونږه وهم خو دا مني چې دا عاقل ثاني تاکيد لفظي به وي د عاقل اول لپاره؟ نو ده جواب وکړو چې هووصف العاقل الاول چې دا تاکيد نه دی، بلکه دا صفت دی، نو معترض شبه وکړه چې موصوف او صفت کې خو مغائرت وي کنه؟ نو عاقل اول او ثاني کې خو مغايرت نشته دی، دا نګه صفت او موصوف کې موصوف معروض وي او صفت عارض وي، او دلته کې دا دواړه يو شی

دی، عارض او معروض نه دی، نو ده چواب وکړو چې اګر چې دي کې تغائر په عنوان کې نشته خو په معنون کې شته دی، ځکه چې دا دویم عاقل معنی دا ده چې بمعنی کامل العقل متناه فیه ترجمه نو ډیر کرته یو عاقل هسې عاقل چې کامل وي په عقل کې او انتهاء ته رسیدلی وي په دي عقل کې، اعیت کې یو شارح تفسیر د لفظ غریبه کوي، چې اعیت په معنی د عجز سره دی یا اعیت په معنی د ګران والي سره دی، دارنګه اشاره کوي شارح چې دا باب لازمي هم راځي او متعدي هم راځي، ای اعیته: نو متعدي شو بیا په معنی د اعجزت دی، او اعیت علیه: نو بیا لازمي شو بیا معنی د صعبت په معنی سره، نو دواړه معنی صحیح کیږي، اعیت مذاهبه: عاجزي شوی وي طرفونه د معاش د ده، یا ګران شوي وي لارې د ژوند د تیرولو د ده، چې غذا او مال دی، چې هغه ورسره نه وو، وجاهل جاهل تلقاه مرزوقاً، هذا الذي ترك الاوهام حائرةً وصير العالم النحرير زنديقاً، نحریر معنی مراد بیانوي ای المتقن ته وائي، متقن اسم صفتي دی موصوف غواړي، موصوف ورته کیږدئ یعنې عالم متقنه مراد شو، من نحر الامور علماً اتقنها یعنې دا ماخوذ دی د دې مقولې نه، نو علماً تمیز شو د نحر نه امورو ته، نو حقیقت کې دا مفعول شو، نو تقدیر دا شو من نحر علم الامور معنی اتقنها، ویل مضبوط کړی دی، دې عالم علم السائل، معنی دا محکم کړی دی، مغز ته رسیدلی دی، کنه ته رسیدلی دی، محکم کړی دی د زنديقاً تفسير کوي کافراً نافياً للصانع العدل الحكيم دهري ترینه جوړ شي، زندیق دهري ته وائي، ځکه هغه وائي چې که صانع عالم وي حکیم وی، نو بیا خو په کار دا ده چې عاقل سره په کرورونو زرګونو شی وی، مال ځکه هغه سره هنر شته دی چې عقل دی، او جاهل سره هیڅ نه وی، خو معامله بالعکس شوه، نو د دې نه معلومیږي چې العدل الحكيم نشته دی، د ګردش د زمانې وجې دا کار هسې کیږي، دا مثال مطابق د ممثل سره دی، فقوله دا قول د ماتن چې هذا دی دا اشارة دی، الی حکم سابق او دا حکم سابقه غیر محسوس دی، نو ځای د اسم اشاره نه وو، ځکه اسم اشاره مخکې مشار الیه محسوس غواړي، دا ځای د ضمیر وو، هغه حکم سابقه غیر محسوس دا دی چې کون العاقل محروماً والجاهل مرزوقاً دا کون محسوس نه دی، نو فکان القیاس فیه الاضمار فعدل عدول وکړو شاعر الي اسم الاشارة لکمال العنایة، د وجې د کمال مقصود منډئ د متکلم نه شاعر نه بتمیزه: په جدا کولو د مسندالیه سره د اغیارو نه، د دې لپاره چې لیری السامعین ان هذا الشئ چې کون د عاقل محروم او د جاهل مرزوق چې دا شی المتمیز المتعین دی، هو الذي له الحكم العجيب حکم عجیبه ثابت شوی دی، او حکم عجیبه دا دی چې جعل د اوهام حائرةً والعالم النحرير زنديقاً شبه نو یا هلکه دا حکم عجیبه به غیر وي او دا مسند به غیر وي، ویل نه نه، دا یو شی دی، چا چې غیر ویلی دی هغه خطاء شوی دی، حکم عجیبه او مسند یو شی دی، فالحكم البديع هو الذي اثبت للمسند اليه هغه مسند اليه چې المعبر عنه باسم الاشارة نو دا دغه مسند هم شو، جعل د اوهام حائرة

او عالم نحرير زنديقاً، حكم عجيبه هم شو، لنډه خبره دا چې محكوم به امر عجيبه شو، بله نكته وائي وضع د اسم اشاره كولى شي په ځاى د اسم ضمير كې، چې او التهكم ويل يا وضع د اسم اشاره كولى شي په ځاى د ضمير كې، ويل **عطف على كمال العناية** لپاره د توقو كولو په سامع باندې **بالسامع** كما اذا كان السامع فاقد البصر لكه يو سړى روند وي وروستو نه دى راغلى پرك شو چې هغه يې ووهلو، نو هغه وويل چې من ضربني نو ته ورسره توقي كوي چې هذا ضربك دي هلك ته ووهلي، نو هغه غريب دا هلك څه وينې؟ خو تا ورته هذا وويل، هو سره ويل په كار وو چې هو ضربك خو ته ورپورې خندا كوې، نو ورته ويل چې په ستركو سره وگوره دې هلك ته ووهلي، نو هغه ستركو سره كتنى نه شي، نو دا هغه باندې هسې استهزاء شوه، او لايكون ثمه مشار اليه اصلاً يا په دې ځاى كې مشار اليه نه وي نو محسوس او نه غير محسوس هپله سامع فاقد البصر وي كه موجود البصر وي، نو چې مسند اليه هلته كې د سره محسوس نه شو، نو د هذا ځاى نشته، لكه يو بصير سړي باندې شاته نه يو سړى راغلى او يو غرب دلته كې يې ووهلو، نو هغه وائي من ضربني نو ته ورته وائي هذا الخلاء ضربك هوا، خلاء محسوس نه دى، ته ورباندې خندا كوي نو هو ضربك په كار وو، او النداء على كمال بلادته يا وضع د اسم اشاره په ځاى د ضمير كې كولى شي لپاره د خبردارى ورکولو په كمال كم عقل توب د سامع باندې، چې دا سامع ډير كم عقل دى، دې هډو په څه باندې پوهيږي نه، اى بلادة السامع بانه لايدرك غير المحسوس ويل دي لاس پرې كيده د گرمنگ د قبيلي نه دى، شيخ حفظه الله تنشيطاً للطلباء د دې واقع پس منظر وويل... الخ يا داسې چې يو سړى راشي او تا نه تپوس كوي چې د دې بشام عالم څوك دى؟ نو ته ورته وائي چې هذا زيد په ځاى د هو زيد كې، مطلب دا دى چې اى هلكه تمامو خلكو نه معلومه ده، چې د دې بشام عالم زيد دى، او ته دومره كم عقل يې چې تر اوسه تا ته دا معلوم نه دى، ويل هذا زيد دغه زيد دى، لاس پرې كيده، ويل څكه ته په غير محسوس نه پوهيږي، نو څكه فانه د محسوس سره اشاره كوم چې هذا دى.

او على كمال فطانته يا وضع د اسم اشاري كولى شي په ځاى د ضمير كې د پاره د خبردارى په كمال فطانت د مخاطب باندې، سامع باندې، داسې چې بان دا سامع دومره زيرك دى چې بان غير المحسوس عنده بمنزلة المحسوس لكه يو مدرس وي يو استاذ وي، هغه يو مشكل مسئله حل كړي، خفي مسئله، او بيا اخر كې ووائي هذه المسئلة عند فلان ظاهرة ويل دا مسئله د فلاني استاذ سره بالكل بديهي وه، نو دا معنى چې د هغه ذكاوت ته يې اشاره وكړه، او ادعاء كمال ظهوره يا وضع د اسم اشاره كولى شي په ځاى د ضمير كې لپاره د دعوى كولو د متكلم دكمال ظهور د مسند اليه، چې دا مسند اليه كامل الظهور دى، دومره ظاهر دى چې دا د محسوس بالبصر په شان دى، لكه مثلاً يو سړي سره ته مناظره كوي، هغه د يو بديهي مسئلي نه انكار كوي، نو ته ورته وائي چې يا هلكه هذه

ظاهرة يا هذه مسلمة عند الكل، دا ظاهره ده، مسلمه ده نو ته تري څنګه انکار کوي، يا دا مسلم عند الكل ده نو ته يې څنګه نه مني؟ وعليه تعيين د مرجع کوي اى وعلى وضع اسم الاشارة موضع المضمر لادعاء كمال الظهور خو من غير هذا الباب اى غير باب المسند اليه، دامثال نه شو، نظير شو، شعر، دا قول د شاعر دى تعاللت شبه يا هلكه تعاللت دا معنى چې ته علت ظاهروى، نو د دې څه معنى علت خو مؤثر في المعلول ته وائي، هغه څنګه ظاهر وي، دا خو نه صحيح کيږي، دى جواب کوي اى اظهرت العلة والمرض ويل اى محبوبه چې ته زما خوا ته راشي نو ته علت ظاهروى او مرض، چې زه بيماره يم، مړه شومه، ويل ستا بل څه مقصد نه دى واقع کې ته نۀ بيماره يې او نه مړه کيږې، کې اشجى دا ته د دې لپاره کوي چې ته ما خفه کړي، اى احزن تفسير د غير مشهور بالمشهور سره کوي، تحقيق لغوي کوي په اشجى کې، دارنګه تحقيق صرفي کوي من شجى بالكسر نو په معنى د صار حزيناً سره دى، يعني صار فلان حزيناً لامن شجى بالعظم بالفتح يعني شجى فلان معنى، هډوکي ننبتي وو په مرى د فلانكي کې، بمعنى نشب في حلقه

واقعه د شيخ الحديث مولانا فضل محمد رحمة الله چې زه حج ته لاړم سره د خپلي اهلي نه او د مکې نه مدينې ته تلو نو بدر کې زمونږ ګاډى ودريدو، نو زه راکوز شوم چې د دې بدر چکر وکړم وګورم، نو هلته کې يو هوټل وو، د هغه هوټل مخې ته کټونه وو زه په کې کيناستم نو هوټل والا ويل يو مهى راوړو او زما مخې ته يې کښبودو، نو اوس که دا وايم چې هلكه زه خورم، زما شوق ويل نه کيدو، نو بيا به هوټل والا وائي چې دا سُپور سړى دى پيسې نه شي ورکولى او که خورم، نو زما طبيعت نه منله، خو ويل بهر حال ما شروع کړه، يو څو نورې ما وکړي نو يو لاشه راغله دې ځاى کې زما وننبته، مرى کې حلق کې، نو ويل ما څه زور وکړو خو هغه شى ونه وتلو، زه پاڅيدم هغه مهى ما پريښودو، او هغه هوټل والا ته ما پيسې ورکړي، ګاډي نه ايسته ودريدم خو هغه شى اووځي نه، به هر حال ويل وينه شروع شوه، هغه شى دننه زما په دې مرى کې وننبته، او زما هغه تبر هم پورې نه حيران دي چې دا څه مصيبت کې لاړو، ويل وينه شروع شوه، ويل دې مينځ کې ما دوه رکعته نفل وکړو او الله ته ما سوال وکړو چې الله د دې مصيبت نه ما خلاص کړي، ويل ما زور وکړو هغه شى پورې وغورځيدلو، چې وغورځيدلو نو د هغې نه پس په کې وينه شروع شوه ځکه زخم په کې وشو، نو مونږ سره تولیه، رومال وو نو هغه ما ونيول او هغه وينه په مخه ځي، او رومال او توليه خرابيږي، داسې لاړو تر مدينې ويل دا وينه روانه ده، او مرى زما خرابه شوه، او څه شى په کې تيريږي نه، بيا هلته کې مدينه کې ويل زما شاګرد وو هغه مونږ ته دعوت راکړو، نو هلته کې مونږ لاړو، نو هغه څه حلوه ملوه پخه کړه هغه مې وخوړله، نو هغه قيصه دا ده چې نشب في حلقه

وبابک علة په واقع کې خو **تريدين قتلي وقد ظفرت بذلک** اى بقتلي، دا مثال مطابق د ممثل سره دى کان مقتضى الظاهر ان يقول به قد ظفرت به په کار وو، لانه ځکه دا قتل ليس بمحسوس خو فعدل اى الشاعر الى ذلك اشارةً الى ان قتله اى قتل الشاعر قد ظهر ظهور المحسوس ويل ستا د مرض دا اظهار داسې دى چې زما د قتل په قطعيت کې داسې لکه محسوس، ويل وان کان تعيين د مرجع کوي، المظهر الذي وضع موضع الضمير غيره غير اسم الاشارة، بل څه وي، عَلَم وي لکه راتلونکى ايت کريمه کې، نو فلزيادة التمکن پس لپاره د زيادة گرځولو د مسندالیه متمکن په ذهن د سامع کې، د سامع په ذهن کې مسندالیه ښه متمکن کول، ښه متقرر کول، لکه قل هو الله احد الله الصمد، نو اوس گوره قل هو الله احد تا وويل نو وروستو هو الصمد په کار وو ځکه چې يوشى اول ذکر شي په اسم ظاهر سره نو ثانياً ذکر کيږي په ضمير سره لپاره د اختصار، نو هو الصمد ويل په کار وو خو الله وويل چې الله الصمد نو دا د زيادة تمکن لپاره يعني يا هلکه يووالى چې څنګه الله ته ثابت دى، نو مقصود في الحوائج هم گوري الله دى، او هو کې لږ غوندې ابهام وو، ځکه هغه الله ته هم راجع کيږي او زيد او عمرو ته هم راجع کيږي او الله الصمد کې څه ابهام پاتې نه شو، د صمد تفسير کوي، ويل اى الذي يصمد اليه يصمد اليه څه معنى؟ ويقصد في الحوائج من صمد اليه اذا قصده، ولم يقل هو الصمد لزيادة التمکن، ما تاسو ته ويلي دي، بل نظير ذکر کوي ونظيره ويل نظير د قل هو الله احد، الله الصمد، نظير في وضع المظهر موضع المضمر لزيادة التمکن، نو دا قل هو الله احد، الله الصمد، دا نظير شو، او وبالحق انزلناه، وبالحق نزل، دا ماله النظير شو، او وجه د شبه في وضع المظهر موضع المضمر لزيادة التمکن شو، من غيره اى غير باب المسندالیه، وبالحق ويل اى بالحکمة په مصلحت سره په خيرخواهي سره د خلکو لپاره هم د دنيا هم د اخرت خيرخواهي، داسې حکمت المقتضية للانزال، ويل انزلناه مونږه نازل کړى دى دي قران لره، د لوح محفوظ نه اسمان د دنيا ته، بيت المعمور ته، نو دا نازلول د لوح محفوظ نه اسمان د دنيا ته، بيت المعمور ته دا چې ما نازل کړي دي نو زما حکمت او مصلحت متعلق وو، چې په دې کې اصلاح د دنيا او اخرت د خلکو لپاره ده، نو مطلب دا شو چې قران په داسې ځاى کې پروت وو، لوح محفوظ کې، چې جبريل عليه السلام د هغه ځاى نه د ويستلو طاقت نه لرلو، نو ما هغه ځاى نه قران کوز کړو اسمان د دنيا ته، داسې ځاى ته چې اوس د جبريل د راوړلو طاقت شته، او وبالحق او په حکمت سره نزل نازليږي دا قران د اسمان الدنيا نه، دنيا ته په قدر د ضرورت سره، نو وروستو وبه پکار وو، حيث لم يقل وبه خو د زيادة تمکن لپاره يې وويل چې دا قران چې د لوح محفوظ نه اسمان ته راغلى دى، نو هم د الله د حکمت سره او د دې اسمان د دنيا نه چې دنيا ته راغلى دى نو هم د الله د حکمت سره، او ادخال الروع يا وضع د اسم ظاهر کولى شي په ځاى د ضمير کې لپاره د داخلولو د يرې، يره داخلوي متکلم په زړه د سامع کې، عطف على زيادة

التمكن، في ضمير السامع په زړه د سامع کې وتربية المهابة او د پاره د زياتولو د يرې، مهابة هم يرې ته وائي، دبدبې ته وائي، معترض شبه وکړه چې ادخال الروع او تربيت المهابة دا خو يو شی دی، نو ذکر د مهابة پس د ادخال الروع نه مستدرک شو، شارح جواب وکړو چې وهذا داتربيت المهابة پس د ادخال الروع نه کالتاکيد ويل دا د ادخال الروع لپاره تاکيد دی، کالتاکيد يې وويل عين تاکيد نه دی دا ولې؟ ويل ځکه چې عين تاکيد خو دوه قسمه دی لفظي او معنوي، نو تاکيد لفظي خو تکرار دلفظ اول ته وائي، هغه خو نشته دی، معنوي خو په الفاظ مخصوصه ؤ سره وي، هغه هم نشته دی، ها البته کالتاکيد دی، په دې کې چې تاکيد معنوي دی، ځکه چې ادخال الروع او تربيت المهابة معنی يوه ده، لکه جاءني زيد زيد لفظ هم يو دی او معنی يې هم يوه ده، او تقوية داعي المامور، يا وضع د اسم ظاهر کولی شي په ځای د ضمير کې لپاره د تقويت، يعني لپاره د قوي والي قول الشيخ قوت والی د هغه داعي د مامور لره، نو چې هغه قوي دی نو مامور د هغه خلاف نه شي کولی، مامور به هغه مامورېه کوي، د دواړو لپاره مثال ومثالهما ای مثال للتقوية وادخال الروع مع التربية قول الخلفاء ابوبکر رضي الله تعالی عنه ووائي امير المؤمنين يامرك بكذا، مكان امرك بكذا، ځکه په دې لفظ د امير المؤمنين کې يره او رعب دی هغه سړی پورې بيا رپيږي، او يره پرې راځي، دارنګه امير المؤمنين يې چې ووېل نو په دې کې تقويت د داعي د مامور دی، نو مامور د هغه خلاف نه شي کولی، هغه مامور به فوراً هغه ادا کوي، وعليه او په دې ځای د مضمر کې وضع د مظهر لتقوية داعي المامور خو من غيره نظير دی، من غير باب المسند اليه دا قول د الله تعالی دی فاذا عزمت فتوكل على الله يعني تاعزم مصمم وکړو پس د مشورې نه او پس د عمل کولو نه په يو رايې باندې، چې دا کوم نو بيا شکوك مه پيدا کوه، بيا تپوسونه مه کوه چې دا به څنګه وشي، دا به څنګه وشي، څه به اوشي، څه چې الله مقرر کړي وي هغه به اوشي، فتوكل على الله عاقبت او انجام الله ته وسپاره، لن يصيبنا الا ماكتب الله لنا به اوشي، دې کې خو علي په کار وو، چې فتوكل على الله خو ولې ويل چې فتوكل على الله لما في لفظ الله من تقوية الداعي الى التوكل عليه يعني چې تاسو ځان سپاری، نو په الله باندې سپاری، الله مستجمع دی جميع صفات كماليه ؤ لره، او چا چې ځان وسپارلو په هغه ذات چې هغه مستجمع وي جميع صفات كماليه ؤ لپاره، نو هغه ذليل کيدای او مُهان کيدای نه شي للدلالة د وجې د دلالت د لفظ د الله نه على ذات موصوفة بصفات كاملة من القدرة وغيرها نو د دې نه مونږ ته دا سبق ميلاو شو چې مشوره کوئ په هر کار کې، ليکن په يو رايې باندې د ټولې شورې رايې راغله، بيا شکوك او وهمونه په کې مه جوړوئ، توکل کوئ په الله باندې، دا وايئ چې د دې انجام به هغه را اوخي چې الله څه مقرر کړي وي

اوالاستعطاف او شارح ترجمه کوي او بل اشاره کوي چې دا سين او تاء لپاره د طلب دی، ای طلب العطف والرحمة، طلب د نرمی او د مهربانی په متکلم باندې، متکلم وائي چې ای مخاطبه زه تا نه دا غواړم، چې ما باندې ترس وکړه ما باندې رحمت وکړو ما باندې فضل وکړه زه عاجز یم، کقوله، ای الشاعر، شعر الهي عبدك العاصي اتاك ای الله ستا غلام، ګنهګار راغلی دی ستا دروازې ته، قال الشيخ هذا المصرع قريبا الى البكاء حال كوني مقراً بالذنوب زه په خپلو ګناهونو باندې جرم باندې اقرار کوم وقد دعاك او هم ستا نه غواړي بل چا نه نه غواړي، نو دلته کې په کار خو دا وه چې انا العاصي، عبد العاصي يې ويلې وي، نو التفات يې وکړو د تکلم نه غيبت ته، لما في لفظ عبدك من التخضع واستحقاق الرحمة وترقب الشفقة ځکه په دې لفظ د عبدك کې عاجزي ده، زه ستا بنده يم، ستا مری يمه، نو مستحق د رحمت يم، بله دروازه نشته دی، نوځکه ستا دروازې ته راغلی يم، قال السكاكي هذا، هذا کې شارح يو تعيين د مشارالیه کوي، دويم دفع د توهم کوي، شبه چې يا هلکه هذا کې اشاره دی مخکې ته به وي، چې دا وضع د مظهر په ځای د مضمر کې نه دی مختص په مسند اليه پورې، ځکه زمونږ بحث په دې کې دی، نو شارح جواب وکړو چې نه، هغې ته اشاره نه ده چې وضع د مظهر په ځای د مضمر باندې نه دی مختص په مسندالیه پورې، ځکه هغه خو مخکې نه معلوم شوی دی، نو بيا ذكر كول يې مستدرك، نه مفيد، نو شارح وويل چې اعني نقل الكلام شبه چې ته يې ځکه قصد کوي، کلام خو د ماتن دی د شارح خو نه دی، نو شارح وائي چې د نقل نه وروستو د مشار اليه تفسير چې زه کوم نو دا ګويا که هذا زما شو، اعني نقل الكلام من الحكاية لكه فتوكل على الله کې د علي نه الله ته شو، دارنګه عبدك العاصي کې انا العاصي نه عبدك العاصي ته وشو نو دا مسند اليه پورې مختص نه دی، بلکه دا په غير مسندالیه کې هم راځي لکه مخکې دا دوه مثالونه شو، متن دا دی چې ولابهذا القدر نو شبه راغله چې لامنفي ځوك دی، ويل نه دی دا نقل د حکايت نه غيبت پورې مختص په دې قدر پورې، دا قدر چې نقل د حکايت نه غيبت پورې، نو دا خو سلب دشئ عن نفسه راغلی، ځکه لاد سلب لپاره راځي، دا خو سلب الشئ د عن نفسه راغلی، چې نه دی دا نقل د حکايت د غيبت پورې مختص په دې نقل پورې د حکايت نه غيبت پورې، او سلب الشئ عن نفسه دا خو لايجوز دی، نو شارح راغلی جواب يې وکړو چې د لامنفي بل دی، چې ولاانتقل مطلقاً دي نه دی نقل په حال د دغه نقل کې چې خالي وي د تقيد نه، د مطلق معنی دا وکړئ چې په حال کون د دغه نقل کې چې خالي وي د تقيد نه، نو دغه نقل مطلقه چې خالي دی د تقيد نه دا مختص نه دی په دې قدر پورې چې هغه نقل د حکايت نه دي غيبت پورې، نوسلب د خاص راغلی د عام نه، او سلب الخاص عن العام يجوز دی، لايجوز نه دی، ته دا ويلی شي چې هذا الحيوان ليس بحيوان بلکه فرس دی بقر دی حمار دی، نو سلب د خاص راغلی د عام نه او دا يجوز دی، شارح وائي ولايخلو العبارة عن

تسامح چې خالي نه دی عبارة دماتن د چشم پوشئ نه، خو قبل الاصلاح او بعد الاصلاح یخلو دی، که ما لفظ د مطلقاً نه وو اینبودی نو د ماتن دا عبارة خالي دچشم پوشئ نه نه وو، خو ما په مطلقاً سره اصلاح وکړه، نو د لایخلو نه یخلو جوړ شو، بل کل من التکلم والخطاب والغیبة مطلقاً نو مطلقاً ذکر کیږي په ځای د تعمیم کې، نو شارح د هغه تعمیم بیان کوي، یو غرض دا دی، چې مطلقاً کې کوم تعمیم ته اشاره وشوه، دویم غرض د شارح دا دی چې مطلقاً کې یو تعمیم نه دی دوه تعمیمونه دي، نو اول تعمیم ته اشاره کوي چې سواء کان برابره خبره ده چې دا نقل په مسند الیه کې دی في المسند او غیره په غیر المسند الیه کې وي، او دویم تعمیم وسواء کل منهما وارداً في الکلام برابره خبره دا چې هر واحد د دې تکلم او خطاب د غیبة نه وارد په کلام کې وي، مخکې او وروستو بیا بل شانتې تعبیر شوی وي، مخکې په تکلم سره تعبیر شوی وي، او وروستو بیا په خطاب او غیبة سره او کان مقتضی الظاهر ایراده یا وي مقتضی د ظاهر ایراد د دې کل واحد، یا په یو ځای کې مقتضی ابتداء تکلم وو، خو ته د هغې په ځای خطاب ذکر کړی اګر که تکلم مخکې نه وي ذکر شوی یا په یو ځای کې ابتداء ځای د خطاب وي نه تکلم ذکر کوي، ینقل الی الاخر فیصیر الاقسام ستةً، شپږ د دې ځای نه چې حاصلةً من ضرب الثلاثة في الاثنین، حاصل د ضرب د هر واحد د دریو نه په دوو کې، نو شپږ شو، ای د تکلم نه غیبة خطاب ته دوه، غیبت نه تکلم خطاب ته څلور، خطاب نه تکلم غیبة ته شپږ، نو د من ضرب الثلثة نه ضرب د هر واحد د ثلاثه ؤ واخلئ، په دوو کې، دا نه چې مجموعه د ثلاثه ؤ ضرب په دوو کې، بیا په مسند الیه کې وي او که نه غیر د مسند الیه کې وي نو دا شپږ ضرب په دوو کې وکړئ نو ۱۲ ترې جوړ شو، بیا دلته کیستې وشلیدو.

دا موافق د مقتضی د ظاهر سره وي او که خلاف د مقتضی د ظاهر نه وي نو ۱۲ + ۲ = ۲٤ شو عبرت عما قال الشیخ، واعبر عن کلام الشیخ ان شاء الله من MP3.

- اوس شارح یو اعتراض رانقل کوي او د هغې نه جواب کوي، نو وائي ولفظ مطلقاً لیس في عبارة السکاکي چې ماتن وویل چې بل کل من التکلم والخطاب والغیبة مطلقاً، دا په عبارة د سکاکي کې نشته دی، چې نه شو نو ماتن افتراء وکړه چې سکاکي باندې، او افتراء حرام ده، نو ماتن حرام او ګناه کار وکړو، لکنه سره شارح جواب کوي چې افتراء نه ده، اګر که دا مطلقاً بلفظه په کلام د سکاکي کې نشته، خو بحاصله دی، او چې بحاصله شو، نو افتراء نه شو، ویل لکنه لیکن دا لفظ د مطلق مراده مراد د سکاکي دی بحسب ماعلم په قدر د هغه سره یا په اعتبار د هغه سره چې معلوم کړی شوې ده د مذهب د سکاکي نه في الالتفات ځکه الالتفات کې سکاکي تعمیم کړی دی، دا په تعمیم اول کې چې سواء کان في المسند الیه او غیره او معلومیږي د مذهب د سکاکي نه بالنظر الی الامثلة دا په تعمیم ثاني کې چې سواء کان کل منها وارداً في الکلام او مقتضی الظاهر امثلة داسې چې سکاکي دا

وروستو تطاول ليلك مثال د التفات ښودلی دی، نو دلته کې ابتداء مقتضی د ظاهر تطاول ليلي په کار وو نو هلته کې التفات وشو د تکلم نه خطاب ته تطاول ليلك نو دا د سکاکي په نزد باندې التفات دی او د مشهورينو په نزد باندې نه دی، نو دا اول د دې اول تعميم سره لګوئ من مذهبه من الالتفات دا اول تعميم سره، او بالنظر دا دويم تعميم سره لګوئ، ويسمى هذا النقل عند علماء المعاني التفاتاً دينه التفات وائي، التفات ورته ولې وائي؟ او معنى د التفات څه ده؟ وائي ماخوذاً من التفات الانسان من يمينه الى شماله وبالعكس ای من شماله الى يمينه ځکه ماخوذ دی، ای د کتو د انسان نه د ښي طرف نه ګس طرف ته او بالعکس چې د ګس نه ښي ته، نو دلته کې هم ګويا د متکلم نه کتل مخاطب ته شو يا غائب ته، يا د يو نه بل ته بل نه بل ته، کقوله: لکه دا قول د امرء القيس شو، شعر:

تطاول ليلك بالاثمد ونام الخلي ولم ترقد

امرء القيس په اثمد مقام کې وو نو خبره اغلی چې ستا پلار مړ شو، نو دا شعر يې د هغه په مرثيه کې وويل، خپل نفس سره خطاب کوي، ويل تطاول ليلك ويل اوږده شوه شپه ستا ای نفسه خطاب لنفسه التفاتاً، ومقتضى الظاهر ليلى، په کار وو ابتداء، نو دا وارداً في الكلام نه دی بلکه دويم قسم دی، او کان مقتضى الظاهر ايراده، چې وو، نو مقتضى د ظاهر تطاول ليلي وو، ليكن ليلك يې وويل، ويل ونام الخليُ ولم ترقد، ويل ويده شو خالي د غم نه، خلق ځان له ويده دي، ای نفسه ولم ترقد تا ته خوب نه راځي، ته پريشانه ئې، شبه يا هلكه د الاثمُد، اُثمد دی که اَثمد که اثمد دی؟ ويل بفتح الهمزة وضم الميم اَثمدُ دی، اسم موضع دی، والمشهور سره يا هلكه مخکې تا دا ولې وويل چې قال السكاكي د سكاكي تخصيص دې ولې وکړو؟ جواب کوي ماتن چې والمشهور چې د سکاکي مقابله کې مشهور وو او هغوی بل تفسير کوي، ويل والمشهور مشهور دا دی چې ان الالتفات هو التعبير عن معنى بطريق من الطرق الثلثة چې هغه ای التكلم والخطاب والغيبة دی، خو شرط په دي کې دا دی چې بعد التعبير عنه ای ذلك المعنى باخر، ای بطريق اخر من الطرق الثلثة دی، نو جمهور دا شرط اړدي چې مخکې تعبير په يو طريقې سره شوی وي او وروستو تعبير په بله طريقه سره شوی وي، نو چمهور په تعميم اول باندې قائل دي د سکاکي چې سواء كان في المسند اليه او غيره او دويم تعميم کې ترينه جمهورو خلاف وکړو، دويم تعميم کې جمهور وائي چې وارداً في الكلام وي هغې ته التفات وائي، او مقتضى الظاهر ايراده، ته التفات نه وائي، نو خلاف د جمهورو د سکاکي نه په تعميم اول کې نشو په تعميم ثاني کې شو، معترض راغلی شبه يې وکړبوله د جمهورو په مسلك باندې چې هلكه بناء په دې باندې تعريف د التفات مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو په دي کې انا زيد وانت عمرو نو ګوره اوس دلته کې د زيد نه په غائب سره تعبير شوی دی پس د تعبير نه مخکې په تكلم سره، انت عمرو کې

د عمرو نه تعبير شوی دی په غائب سره پس د تعبير نه په مخکې مخاطب سره، نو ستاسو تعريف د التفات پرې صادقيږي او ديته څوک التفات نه وائي، دارنګه په دې قول د شاعر کې:

نحن اللذون صبحوا الصباح يوم النخيل غارة ملحاحا

ويل مونږ هغه خلک يو چې صبا په وخت کې حمله کوو، الصباح، صبا، مفعول مطلق يې کوئ، يوم النخيل غارةً ملحاحا، په هغه ورځ د نخيل کې، نخيل د ځای نوم دی، خو مونږ چې حمله کوو نو غارة لوټ کوو، ملحاحا: معنی کامله حمله کوو، نو اوس دلته کې اللذون کې تعبير شوی دی په غائب سره پس د تکلم نه چې نحن دی، نو ديته التفات ووايه، او ديته تاسو التفات نه وايئ، او تعريف پرې صادقيږي، بل مثال واياك نستعين واهدنا، وانعمت، ديته هم التفات ووايئ، ولې؟ ځکه مخکې الحمد لله، الی مالك يوم الدين غائب وو، او اياك نستعين او اهدنا او انعمت دا ټول خطاب دی، حالانکه ديته څوک التفات نه وائي؛ التفات خو صرف په اياك نعبد کې دی، او دا وروستو اياك نستعين او اهدنا او انعمت ټول په موافق باندې چليدلی، نو جمهورو مخکې نه جواب وډزولو چې شرط په کې شته بشرط ان يكون التعبير الثاني على خلاف ما يقتضيه الظاهر ظاهر الكلام. يترقبه او انتظار کوي د تعبير ثاني سامع، او ويل ولابد من هذا القيد، ويل دا قيد ضروري دی، ولې ځکه که دا قيد کې نه دي، نو بيا تعريف د التفات مانع د دخول د غير نه نه ګرځي، ځکه ليخرج مثل قولنا انا زيد وانت عمرو اوس دا تعبير ثاني خلاف د مقتضی د ظاهر نه دی، او خلاف د وما يترقب د سامع نه دی، ځکه متکلم چې د ځان نه خبر ورکوي نو په اسم ظاهر سره به ورکوي کنه، متکلم د ځان نه خبر په ضمير سره نه شي ورکولی، دارنګه يو مخاطب چې خبر ورکوي د يو مخاطب نه نو په اسم ظاهر او غائب سره ورکوي، دارنګه نحن اللذون صبحوا الصباح. نحن: متکلم دی، نو متکلم چې خبر ورکوي نو په اسم ظاهر سره ورکوي، او موصول سره د صلې نه اسم ظاهر دی، دارنګه وقوله تعالى واياك نستعين، اهدنا وانعمت، فان الالتفات انما هو في اياك نعبد والباقي جار على اسلوبه نو دا باقي خلاف د مقتضی د ظاهر نه نه شو، شارح يو بل زاعم بابا باندې رد کوي، ويل ومن زعم ان في مثل يايها الذين امنوا التفاتاً دی، ځکه چې يايها الذين منادی ده، او منادی هو المطلوب اقباله، دی نو خطاب شو، نو دلته کې مقتضی د ظاهر امنتم وو، نو التفات راغلی خطاب نه غيبت ته والقياس امنتم دی، شارح وويل فقد سها ويل په تحقيق سره دغه سړی خطاء شوی دی، وجه دا ده علي علي په معني د لام اجليه سره کوئ، لاجل ما يشهد به كتب النحو د وجې د هغه نه چې ګواهي کوي په دې سهوې باندې کتب د نحوي، ځکه الذين موصول دی، او امنوا صله ده، او موصول سره د صلې نه غائب وي، هغه چيرته خطاب نه وي، ها جواب د منادی مخاطب دی، خطاب دی چې يايها الذين امنوا اذكروا نعمت الله، نو اذكروا نعمت الله جواب د منادی شو، يا زيد قم، يا عمرو اقعد، جواب د

منادی شو، او دلته کې منادی د عارض د وجې نه داخله شوي ده، حرف نداء، فافهم، اعتبار حرف نداء داخل لره نه دی مدخول لره دی، وهذا ای التفات بتفسیر الجمهور اخص منه، د دې التفات نه خو بتفسیر السکاکي سره، دلیل وائي متن لپاره ویل لان النقل عنده ویل عند السکاکي اعم من ان یکون قد عبر عن معنی بطریق من الطرق ثم بطریق اخر، ویکون مقتضی الظاهر ان یعبر عنه بطریق منها فتُرك ویُعدل عنها الی طریق اخر نو عموم خصوص مطلق شو، نو هر التفات د جمهورو التفات د سکاکي شو او عکس نشته دی، ځکه تطاول لیلك کې التفات د سکاکي په نزد او د جمهورو په نزد نه دی، نو نیتحقق الالتفات عنده ای عند السکاکي بتعبیر واحد نو اوس عام خاص کې دا قانون دی، چې خاص موضوع شي عام محمول شي موجبه کلیه صادقیږي، او چې عام موضوع شي او خاص محمول شي نو موجبه جزئیه تارة او سالبه جزئیه اخری، نو فکل التفات عندهم التفات عنده دی، من غیر عکس، کما في تطاول لیلك چې التفات د سکاکي په نزد باندې دی او د مشهورینو په نزد باندې نه دی.

مثالونه ښائي ماتن، نو التفات ټول ټال شپږ قسمونه شو، نو شپږ مثالونه په کار شو، نو وائي مثال **الالتفات من التکلم الی الخطاب** دا دی ومالي لااعبد الذي فطرني والیه ترجعون دا مثال مطابق د ممثل سره دی، ویل ځکه چې **ومقتضی الظاهر ارجعُ** ځکه چې مخکې مالي، لااعبد، فطرني، دا ټول متکلم وو، نو وروستو هم والیه ارجع په کار روو، نو التفات راغلي د تکلم نه خطاب ته، نو بناء په دې باندې یو التفات کرتي راغلی، دا مذهب د مشهورینو شو، والتحقیق سره غرض د شارح دا دی چې مذهب د محققینو بیانوي، چې دلته کې یو التفات نه دی، بلکه دلته کې ویل دوه التفاتونه دي، یو ګوره صاحب یاسین حبیب النجار مخاطب دی، او قوم مخاطب دی، نو په کار خو داسې وه چې داسې یې ویلي دي ومالکم لاتعبدون الذي فطرکم لیکن هلته کې ده التفات وکړو د خطاب نه تکلم ته، مالِيَ، لااعبد، فطرني، د دې لپاره چې قوم غصه نه شي، ویل څه مانع دی ما لپاره؟ هیڅ نشته ومالي لااعبد الذي فطرني نو د قوم د نه غصه کیدو لپاره یې هغوی ته نسبت وکړو، داسې یې ونه ویل چې څه چل دی تاسو لره چې عبادت نه کوئ دهغه ذات چې تاسو یې پیدا کړي یئ، هغوی به ویل نه کووزه! نو چې نه کوو نو جګړه جوړه شوه، مسئله ونه منلی شوه، ځان ته یې نسبت وکړو ومالي...الخ، دومره فصیح بلیغ وو، اول چې یې تقریر شروع کړو نو دوه علتونه یې ورته پیش کړل وجاء من اقصا المدینة رجل یسعی اول یې ورته وویل یقوم اتبعوا المرسلین چې زما قومه، قومیت پالئ که نه، د پیغمبرانو اتباع وکړئ، نو هغوی تپوس وکړو چې څه دلیل دي تا سره چې مونږ د دې اتباع وکړو، ویل ماسره دوه دلیلونه او دوه علتونه دي، یو علت یې ورته پیش کړو چې اتبعوا من لا یسئلکم ویل ګوره تاسو نه چنده نه غواړي، تاسو نه څه طمع او غرض نه لري، دویم دلیل یې وویل چې وهم مهتدون دوی د وحي اتباع کړي، لاړ مندونکي دي د وحي تابع دي، دا خبره چې کوي نو خپله خبره نه کوي د الله خبره تاسو ته

رسوي، وائي مونږ ته د الله د طرفه وحي کيږي، څومره فصيح وو؟ علتونه يې هم پرې دپاسه وويل، نو قوم شروع شو ويل چې ته هم وهابي شوی يې پنج پيری شوی ئې، زمونږ خو دا خيال وو په تا چې ته ښه سړی يې حبيب النجاره، تا هم زمونږ خلاف شروع کړو، مونږ خو ويل ته ډير شيخ او پاک او اعتبار سړی ئې، تا هم د دوی ملګرتيا وکړه دا نوی دين يې چې راوړی دی، نو جواب کې يې څومره زړه سره وويل، او څنګه فصاحت او بلاغت نه ډک کلام يې وويل، ويل زه به د دوی ملګرتيا څنګه نه کوم، مانع نشته دی، او باعث شته، نو چې مانع نه وي او باعث وي نو هغه خبرې هغه کار سړی کوي، اول يې رفع د مانع وکړه چې ومالي لااعبد الذي فطرني ويل څه مانع دی ما لپاره چې زه دي عبادت نه کوم، مانع خو نشته، او باعث شته دی فطرني زما خالق دی، څومره فصيح ابلغ دی، نو کوم کار له چې مانع نه وی او باعث وي نو عَلَم هغه کوي، نو ما حق کار کړی دی او تاسو ته مي خبره ويلي ده، بيا قوم پرې سوال وکړو چې څه چل به وشي، الله دي هم معبود وي، او زمونږ دا اولياء دي هم معبود وي کنه، دا د الله نازولي دي، ته دا نه مني، اولياء نه مني، کرامت نه مني، نو څومره فصيح دی وائي ءاتخذ من دون الهة ويل چې تاسو نور د الله سره شريک کوئ، نو د دې دوه طريقې دي، يو طريقه دا ده چې ستاسو دا نور خدايان الله ته دومره محبوب وي چې الله خپله خبره د دوی د وجې نه پريږدي، نو دا خو نشته دی، دويمه طريقه يا دی به په الله باندې دومره غالب وي که دی يو خبره وکړي نو الله خپله خبره او مشيت بدل کړي، نو دا هم نشته دی، او دريم دا چې دوی په زور سره د الله مشيت بدل کړي، دا دواړه خبرې ويل نشته دی، نو اول يې ګوره رد وکړو چې ءاتخذ من دونه الهة ان يردن الرحمن بضر لا تغن عني شفاعتهم شيئاً دی دومره محبوب، مخورمن الله ته نه دی، چې الله د دوی د وجې نه خپله اراده بدله کړي د ضرر او ما ته د دوی د وجې نه نفع راکوي، او دويم يې نفي وکړه ولا ينقذون او نه د دوی زور چليږي چې دوی په زور سره ما د الله نه خلاص کړي د الله د ضرر او د ګرفت نه، نو ويل د دوی الله سره شريکولو څه فائده رانغله، هيڅ فائده په کې نشته، بيا يې پرې سوال وکړو چې ويل څه نقصان دی؟ ويل نقصان دا دی اني اذاً لفي ضلالٍ مبين ويل ظاهره بين ګمراهي ده کفر دی، د دې نه به بل څه نقصان وي، نو څلورم سوال يې ورباندې وکړو چې ګوره ته زمونږ د قوم سړی يې د قبيلې، دومره ولې زمونږ خلاف کوي او زمونږه دشمني کوي، دومره تشدد ته ولې کوي؟ او دا تاته څه مناسب دی چې ته يې کوي، نو هغه وويل اني امنت بربکم فاسمعون ويل زه دومره تشدد ځکه کوم چې زه مؤحد يم مؤمن يم، او د ايمان او د توحيد مقتضی دا ده چې هغه ايمان او توحيد په واضح الفاظو سره بيانوي، زه ځکه تشدد کوم فاسمعون کې يې ديته اشاره وکړه چې ښه واوری بيا سبا له په قيامت کې به وايئ مونږ دې پوهه کړي نه وو، نو ټول واوری چې ما تاسو ته مسئله رسولې ده، دې ته فصاحت او بلاغت وائي، يو سړی وو او مقابل ټول قوم وو، خو څوان وو کنه نر وو، الله داسې خلکو ته ځوانان وائي، انهم فتية امنوا

بربهم وزدناهم هدى خوانان داسې وائي، او دا ترنګران. ښځې وي او که سړی وي دا بوډاګان دي هسې اوبه ترمبې. دوی به ورته وائي المؤمنون لايموتون بل ينقلون من دار الفناء الى دار البقاء.

چکيسر کې زمونږ يو ملګری راغی. ځای يې نه وو. بره کمبر جماعت وو هغه ته ما هغه ملګري بوتلو. ما ويل هلته به دې ديره کړو. هغه وخت چکيسر کې څلور جماعتونه وو. چې هلته لاړو نو ما ورته ويل چې دا طالبان دي دا دلته کې ديره کړئ. ويل ديره به يې کړو خو که پنجپيريان نه وي، او مقرران نه وي، درس نه کوي، نو يو بوډا وو. نو ما ورته ويل چې دا تاسو څه خبره کوئ؟ د قران درس، نو قران خو د الله کتاب دی، د دې نه تاسو منع کوئ؟ ويل نه نه د دې نه يې نه منع کوو. خو دوی اولياء نه مني، کرامت نه مني، نو پورې نه يو بل بوډا ووګوت کې ناست وو هغه چغه کړه. ويل دوی د سره اولياء نه مني. د هغوی کرامت نه مني. د هغوی امداد نه مني. او دوی وائي چې اولياء د قبرونو نه امدا نه شي کولی؟ حالانکه ويل ګوره دا حديث کې نه دي راغلي؟ المؤمنون لايموتون بل ينقلون من دار الفناء الى دار البقاء. ما ويل پاکه خدايه دا په څه دې خنزيرانو سره سر شو. دا خو څۀ حديث نه دي نو بيا ما هغه طالبانو ته ويل چې دلته کې ديره د کيدو ګنجائش نشته دی

لذا نكرتني بلدة ونكرتها خرجت مع البازي علي سواد

بيا لاندې ما راوسته. او ما ويل د شپږو د پاسه دي صحيح وي. الله رزق ورکوي. والله يرزق من يشاء. نور طالبانو ويل دوډی نه کيږي. ما ويل الله به رزق ورکوي. ګذاره به کوو کنه. او نن سبا تاسو بل طالب نه پريږدئ. او د سوات طالبان. نو هغوی چې کال اخر کې ځي نو خپل پټکی او پرتوګ په کمره کې پريږدي او چې واپس راشي. ويل دې کمره کې زما سامان دی. او نور طالبان نه ځائيږي. دا زما زور ځای دی. او سبق يکی نه وائي. چکرې وهي. او دا د سومات ډيری خوري. جامعه کې څه مدرس وو. نو هلته کې يو ځل ما ته يې ترمذي جلد ثاني راکړو. نو ځوارلس وو که دريالس په کې د دوري والا وو. دا د دوري والا خو هم هسې شهرت کوي چې مونږ سره دومره طالبان وو. په کې هيڅ نه وي. هغه امامان جمع کيږي او وائي مونږه دوره کوو. په کې ولاچککړو وي. نو ترمذي جلد ثاني يې ما ته راکړه. نو طالبان ځنې په سائکلو باندې راځي. ځنې يو ځای کې امام او ځنې بل ځای کې. ما ورته ويل هلکه نمبر سره عبارت وايئ. چې هغوی عبارت شروع کړو نو الله حاضر ناظر دی. چې سړی حيرانيده. چې دا اوس د جبالو نه راغلی دی. او د څه نه خبر نه دی. اوس چيرته د بيزو نه راکوز شوی دی. نويو هفته ما هغوی سره هلته اوويسته. يو معارضه. بيا سبق نه کيده. عبارة په تصحيح کې. نو بيا سبق نه کيدو. چې ما هغې ته عبارة صحيح کول. هغوی نه وروستو عبارة به هم ما خپله ويلو او ترجمه به مې هم خپله کوله. هغوی به سر کرتې خوزه ؤلو. چې هو فسينغضون اليك رؤوسهم اخر کې يې سند واخيسته او ځان له لاړه. او ما پرې دستخط هم نه وو کړی ما ويل زه نه کوم. دروغ نه شم ويلی

چې دې صحيح طور باندې قرء علينا الترمذي قرء علينا ، دوی ته هيڅ نه راتله، نو چې هيڅ نه راتلل نو دا ورته زه ولې هسې وليکم، او دا محدثين ظلم کوي چې يو هلك نه پوهيږي او هغه ته ليکي قرء علينا الامامين الهمامين الصحيح للبخاري والصحيح لمسلم، هلکه قرء علينا ، تا استعداد معلوم کړی دی چې د دې د کوم استعداد د قبيلې دي، لفظي او معنوي تصحيح د احاديثو کولی شي؟ د نفاحت طيبو د رسول الله صلى الله عليه وسلم پوره حفاظت کول په کار دي، د دې لپاره ملا تړل په کار دي، او دا مقصود اصلي ګرځول په کار دي، من كذب علي متعمداً فليتبوا مقعده من النار لاندې مرقات ليکي چې دغه وعيد چې څنګه په معنوي غلطۍ کې دی نو دغسې په لفظي کې هم دی، چې قصداً پيغمبر صلى الله عليه وسلم جر لوستلی وي او ته رفع او نصب کوي

نو ما تاسو ته ويل چې د محققينو مسلك دا دی چې يو خو په دې کې التفات راغلی، نو اوس بيا ټول کلام په تکلم باندې جاري کول په کار وو، نو واليه ارجع په کار وو د واليه ترجعون په خای، بيا د تکلم نه التفات خطاب ته راغلی، نو دوه التفاتونه شول، نو دا التفات د سکاکي په مسلك باندې هم شو او د جمهورو په مسلك باندې هم، د سکاکي په مذهب باندې دا اول وشو، او د جمهورو او سکاکي دواړو په نزد دا دويم وشو، نو جمع راغله، نو څکه وائي چې والتحقيق چې ان المراد دا وو ما لكم لا تعبدون... الخ، لكن عبر عنهم بطريق التكلم، ليکن تعبير ګړی صاحب ياسين، د دې قوم نه په طريقې د تکلم سره، كان مقتضى ظاهر السوق اجراء باقي الكلام على ذلك الطريق، فعدل عنه الى طريق الخطاب، فيكون التفاتا على المذهبين خو التفاتاً على المذهبين دا معنی چې سکاکي په مذهب باندې فقط هم التفات راغلی او د جمهورو او سکاکي دواړو په نزد باندې هم التفات راغلی، او په اول طريقې کې د سکاکي او د جمهورو دواړو باندې التفات راتلل، او فقط د سکاکي په مذهب التفات نه راتلو، ګنې نو هسې شبه راځي، چې د مشهورينو په طريقه باندې هم التفات على المذهبين دی کنه، خو دا اول التفات چې محققينو وويل، دا د سکاکي په مذهب باندې دی، او د مشهورو په مسلك باندې نه دی، څکه هغوی مخکې تعبير شرط وائي

ومثال الالتفات من التكلم الى الغيبة انا اعطيناك الكوثر فصل لربك وانحر، مثال مطابق د ممثل سره دی د مقتضى الظاهر، ومثال الالتفات من الخطاب الى التكلم قول الشاعر شعر، طحا بك قلب، دا تفسير د غير مشهور کوي په مشهور سره ای ذهب بك، او بك کې دا باء زائده دی، ويورو تا لره يو زړه في **الحسان طروب** د شارح د ومقتضى سره يو غرض دا دی، چې دا في الحسان وروستو طروب پورې متعلق دی، هغې ته شارح اشاره وکړه ومعنى طروب في الحسان سره، دويم غرض يې دا دی چې في الحسان کې حذف د مضاف دی، هغې ته شارح اشاره وکړه، چې ان له طرباً في طلب الحسان چې د دې نفس د سړي لپاره طلب وو په طرف د خوبرويانو کې، دريم غرض د شارح دا دی تفسير د غير مشهور کوي په

مشهور سره، څکه د طرب معنی معلومه نه وه، غریب وو، نو د هغې تفسیر یې وکړو چې ونشاطاً في مراودتها او خوشحالي په طلبولو د دې حسانو کې، نو طرب ویلی شي خوشحالی ته، راحت ته، بعید الشباب خو دا خوشحالي چې په طلب د حسانو کې وه، نو بعید الشباب، یا هلکه بعید او بعد کې، بعید مصغر دی، او بعد مکبر دی، دې کې تجنیس خطي وو، پته رانغله چې دا مصغر دی او که مکبر دی، نو شارح اشاره وکړه چې تصغیر بُعد چې بعید دی او بعد نه دی، سائل راغلی سوال یې وکړو چې دا تصغیر خو یا دمدحي لپاره وي یا د ذم لپاره وي نو دلته کې د څه لپاره شو، جواب یې وکړو چې للقرب دا تصغیر لپاره د قرب دی، ای سره دفع د توهم کوي، چې یا هلکه قرب خو د ځوانی په دوو طریقو سره راځي، یو طریقه دا ده چې ځوانی شروع کیدو ته قریب وو دویمه طریقه دا ده چې د ځوانی ختمیدو ته قریب وو، نو قرب الشباب دوه قسمه شو، نو ایا دلته کومه معنی شوه اوله که دویمه، نو شارح تعیین د ما هو المراد وکړو ګوره حین ولی الشباب وتصرم ویل په وخت د نزدې کیدو د ځوانی کې قلت په وخت د واپس کیدو او قریب وو ختمیدو ته، نو دلته قرب د ختمیدو د ځوانی مرادشو، د شروع کیدو مراد نه شو، عصر: هلکه دا خو ظرف دی مضاف الیه غواړي، نو ده جواب وکړو مضاف الی الجملة الفعلیة اعني قوله حان اودا بدل دی مخکې بعید نه، دا قرب د ختمیدو د ځوانی، وخت د قریب کیدو د بوډاوالي وو، ای تفسیر د غیر مشهور په مشهور سره کوي، اي قرب مشیب، بوډاوالی، ویکلفني لیلی، تکلیف را کړو ما ته لیلی، دې مثال په دي کې دی، دا مثال مطابق د ممثل سره دی فیه التفات من الخطاب في بك بك مخاطب وو، الی التکلم په یکلفني کې في دمتکلم مراد شوه، نو دالي اوك یو شی دی چې دغه شاعر او متکلم دی، ومقتضی الظاهر داسې وو چې یکلفك، وفاعل یکلفني، ضمیر للقلب، یعني تکلیف راکړو دې زړه ما ته ولیلی مفعوله الثاني، والمعنی سره غرض د شارح یو د یکلفني ترجمه کوي چې یکلفني دلته کې د دې لازمي معنی مراده چې مطالبه ده، څکه چې یو خبرې سره ته بل یو سړی مکلف کوي نو د هغې نه مطالبه کوي، چې دا کار وکړه، دویم شارح اشاره کوي والمعنی سره چې دا لیلی مفعول ثاني دی خو په حذف د مضاف سره، چې وصل لیلی دی، دریم غرض دشارح د و المعنی نه دا دی، چې دا یکلفني چې متعدي کیږي مفعول ثاني ته نو په واسطي د حرف جر سره، هغې ته یې اشاره وکړه باء سره بوصل لیلي کې، نو دا دې غرضونه شو، ویل والمعنی معنی د شعر دا شوه چې یطالبني القلب بوصل لیلی چې لیلی سره یو خای شه ملاقات وکړه، او لیلی چیرته ده د هغې پته هم نشته دی، بل روایت د شعر بیانوي چې وروي تکلفني بالتاء الفوقانیة، اوس دې اعراب کې دوه احتمالین دي ۱ یو احتمال دا دی چې تکلفني صیغه د مؤنثي غائبي شي تکلفني، علی انه مسند الی لیلی، لیلی یې فاعل شو، او في مفعول اول شو، او مفعول ثاني وائي والمفعول الثاني محذوف، ای شدائد فراقها ویل تکلیف را کړو ما ته لیلی په هغه سختو د جدایی

خپلې سره، بشدائد فراقها، باء په کې محذوفه کړئ، نو بناء په دې باندې بیا دغه یو التفات دی، دوه نه دي بیا، یو دی د خطاب نه تکلم ته، او علی سره په دې دویم روایت کې دویم احتمال بیانوي، او علی او یا بناء دی په دې باندې چې انه خطاب القلب چې دې تکلفني کې چې دا د مخاطب صیغه کې او خطاب په دې کې قلب ته شي نو فیکون التفاتاً اخر من الغیبة الی الخطاب نو بیا دوه التفاته شو، په دې دویم روایت کې په دې دویم احتمال باندې، وقد شط تفسیر د غیر مشهور په مشهور سره کوي، ای بعد ولیها ای قربها، ویل یقینا لري شوی دی قرب د دې لیلی، لیلی هډو لاس ته نه راځي، وعادت عواد بیننا وخطوب قال المرزوقي سره غرض د شارح دنقل د قول د امام مرزوقي نه دا دی په دې عادت کې تحقیق صیغي کوي، دارنګه په عادت کې تحقیق مادي کوي، دارنګه په دې کې تحقیق معنوي کوي وقال المرزوقي چې امام اللغة دی عادت، یجوز ان یکون فاعلت دباب مفاعلة نه نو عادت اصل کې عاودت وو، نو واو بدل په الف، بیا الفینو کې التقاء ساکنین راغله، نو الف حذف شو نو عادت ترې جوړ شوو نو دا من المعاداة دی، عداوة د دشمنی نه شو، نو صیغه او معنی یې بیان کړه، اوس د شعر معنی دا شوه چې کان الصوارف کویا که عوارض والخطوب او موانع صارت تعادیه، دشمني کوي د دې شاعر سره د لیلی وصل ته یې نه پریدي، عوارض و عوائق و امور عظامه، خطوب امور عظامو ته ویلی کیږي، هغه حائل شوی دی، دشمني کوي د لیلی وصل ته نه پریږدي، ویجوز بل احتمال بیانوي یجوز ان یکون من عادی یعود چې دا عادت د عادت یعود نه شي، نو بنا په دې باندې ددې وزن فعلت شو، نواصل کې دا عودت وو، په شان د قولت، نو بیا واو په الف بدل شو ځکه واو متحرك ما قبل مفتوح او را بالف کړدند تا عودت ګشت عادت شد بیا معنی دا شوه ای عادت عواد چې بیا په معنی د رجوع سره شو، را واپس شو هغه عوائق، عوارض، کانت چې وو دغه عوارض چې تحول بیننا واقع کیدل زمونږ په مینځ کې الی ما هغه شي ته راجع شو کانت علیه یعني مخکې هم وصال نه وو اوس د دې عوائقو د وجې نه هم وصال نشته، ویل الان کما کان په شان یم، یعني اوس خو څه امید وو د وصال خو دغه عوائقو ماته لیلی نه ښودله، **وقال الشیخ** خو دې لیلي ماته ځان نه ښودلو نو هغه عوائقو راجع کړو وصال ما کان ته ما کان عدم وصال وو، نو اوس هم عدم وصال شو دی و مثال الالتفات من الخطاب الی الغیبة قوله تعالی حتی اذا کنتم في الفلك وجرین بهم او و القیاس بکم، و مثال الالتفات من الغیبة الی التکلم قوله تعالی والله الذي ارسل الریاح فتثیر سحابا فسقنه ومقتضی الظاهر ساقه، وساقه تفسیر کوي ای ساق الله ذلك السحاب واجراه او بوځي دې لره، ای بلا میت، و مثال الالتفات من الغیبة الی الخطاب، قوله تعالی مالك یوم الدین ایاك نعبد ومقتضی الظاهر ایاه، ووجهه دا ده،شبه هلکه زمونږ کلام خو په نفس التفات کې نه وو، حسن د التفات کې وو، نو شارح جواب وکړو چې دلته کې حذف د مضاف دی، ای وجه حسن الالتفات، نو

اوس وجه د حسن دوه قسمه ده يو عاي ده، هغه دا چې **ان الكلام اذا نقل من اسلوب الى اسلوب كان تعين د** مرجع كوي ذلك الكلام. احسن تطرية شارح ورسره لګوي تجديداً دې کې يې اشاره وکړه معنى لغوي ده چې تطرية په لغت کې نووي والي ته وائي، او **احداثاً** دې کې يې اشاره وکړه معنى لغوي ته، چې تطريه نه مراد نوي کول دي، او دا دواړه د من طريت الثوب د طريت الثوب نه ماخوذ دی، د دې طريت الثوب دا معنى هم کيږي چې ما نوې جوړې کړې وې جامو لره، دکان نه مې واخيستې او درزي باندې مې جوړې کړې، او دا معنى هم چې ما جامې نوې کړې وې، داسې جامې خيرنې وې کنه په سين کې ما وويښلې او بيا مې ايستري کړي، نو ما نوې کړې وې، دواړه صحيح دي، نو کان احسن تطرية لنشاط السامع وکان او کيږي دا کلام اکثر ايقاظاً للاصغاء اليه ای الى ذلك الكلام او دا ستاسو تجربه ده، چې د مختصر المعاني فن اول تا ختم کړو که خير وي، کله چې ته لس بجو پورې کښيناستې او مطالعه دې کوله نو بيا يوولسو بجو پورې کيني، چې نوی فن شروع کيږي، شوق کې يې خوشحاله ئې، چې کتاب ختميږي، ويل ځکه لان کل جديد لذيذ شارح باندې معترض اعتراض وکړو، چې دا مخکې تا وجه د حسن د التفات لپاره وويل نودا وهو قد يخص څه معنى؟ بيا يې ولې وائي، شارح جواب وکړو چې وهذا وجه حسن الالتفات على الاطلاق چې دا تيره شوي وجه د حسن د التفات ده خو دا وجه عامې ده، په هر ځای کې جاري کيږي او دا دويمه وجه خاصې ده، خاص په سورت فاتحه کې کرتې جاري کيږي، هر ځای کې نه جاري کيږي، او ذکر د خاص پس دعام نه ديته ځوك مستدرك نه وائي، نو ځکه وائي چې وقد يختص مواقعه مواقع د دې التفات بلطائف په نکاتو باريکو سره، نو باء داخله ده په مقصور باندې، يعنې دغه لطائف خاص دي سورة فاتحې پورې غير هذا الوجه العام، كما في سورة الفاتحة، فان العبد اذا ذكر الحقيق بالحمد او وائي الحمد لله، خو يو الحمد لله دلته په جومات کې وي او زړه بره په دکان کې وي، الحمد لله دلته کې او زړه بنکته په پښور کې الخ

برزبان تسبیح و در دل کاؤ خر ای چنین تسبیح که دارد اثر

مولانا روم فرمائي، نو شارح وائي عن قلب حاضر د قلب حاضر نه الحمد لله ووائي، قلب حاضر دا دی چې په کې تصور د معنى وکړئ، نو الله نه وصف مشهور واخلئ چې ستائينه او صفات دالوهيت څومره چې دي هغه خاص دي د خالق سره، نو يجد ذلك العبد من نفسه محركاً چې راځه الله خالق شو دتماتي جهان او زما هم، نو څه مزه کوي چې په خپل خالق باندې صفات کماليه سړی جاري کوي؛ راشه چې بل صفت پرې جاري کړو، محركاً للاقبال عليه، اى على ذلك الحقيق بالحمد، نو ورته ووائي رب العالمين ويل الله د پيدا کولو نه وروستو د هغه تربيت ته ضرورت دی، هغه هم ته ئې، يا

هلكه تربيت هله كيږي چې اسباب د تربيت پيدا كړي، الرحمن الرحيم، اى الله محسن او منعم هم ته ئې، اسباب د تربيت هم ته پيدا كوي، يره صرف په دنيا كې الله موصوف شوى دى صفات كماليه و سره؟ نه نه اخرت ته لاړ نو بل صفت، مالك يوم الدين، د اخرت فيصلې هم ستا لاس كې دي لمن الملك اليوم لله الواحد القهار څوك به تلفظ نه شي كولى، نو وكلما اجرى عليه په دي مستحق بالحمد باندې صفت من تلك الصفات العظام قوي ذلك المحرك چې صفت سيوا كړى نو دا محرك قوى كيږى له دې وجې نه مدارك ليكي هو الخالق ابتداء والمربي بقاء والغافر انتهاء **الرحمن الرحيم قوي ذلك المحرك الى ان يؤل الامر الى خاتمتها** اى خاتمة تلك الصفات، يعنې مالك يوم الدين، داسې خاتمة المفيدة چې فائده كوونكې ده چې انه اى ذلك الحقيق بالحمد دنيا كې څه كوى؟ مالك الامر كله يوم الجزاء الامر كله كې يې اشاره وكړه چې مفعول به محذوف ده، او مالك يوم الدين كې اضافت د اسم فاعل مفعول فيه ته شوى دى. ويل لانه اى الشان، اضيف مالك الى يوم الدين، على طريق الاتساع، اتساع ديته واني چې مفعول به ته حذف كوي، او مفعول فيه ته قائم كړى په مقام د مفعول به كې يعنې په لفظ كې هغه مفعول فيه قائم مقام د مفعول به وي او په معنى كې ترجمه د مفعول فيه به كوي، يا مفعول فيه به مفعول فيه كوي، يعنې هم هغه به يې كړځوي والمعنى على الظرفية نو تقدير دا شو چې اى مالك في يوم الدين والمفعول به محذوف دي چې الامر كله دى، او مفعول حذف شوى دى، نكته دا ده دلالة على التعميم معترض شبه وكړه چې تعميم څو په دې صيغه كې دى نه په حذف كې چې الامر كله، نو ناكت جوابا ليكلى مع الاختصار، چې هلكه ذكر كې تعميم وو خو اختصار نه وو، او حذف كې تعميم راغلى سره د اختصار نه، نو فحينئذ يوجب ذلك المحرك لتناهيه في القوة الاقبال عليه ويل هلكه چې داسې ذات وي نو حاضر ناظر وي، نو دغه كې دى، نو راځه ورسره خطاب وكړه خبرې وكړه، مشغولا ورسره وكړه، اى اقبال العبد على ذلك الحقيق بالحمد الف لام عوض د مضاف اليه نه شو، والخطاب بتخصيصه بغاية الخضوع اياك نعبد والاستعانة واياك نستعين او مفعول ثاني د نستعين، في المهمات كلها، فالباء في قوله بتخصيصه متعلق بالخطاب، شبه يا هلكه چيرته باء صله د خطاب راځي؟ ويل هو يقال خاطبته بالدعاء اذا دعوت له مواجهةً كله چې ته را اوبلي يا دعا ورته وكړي الخ، اى دعوت من الدعوة او الدعاء معترض شبه وكړه چې تا په تفسير د عبارة كې دا غاية الخضوع د كوم څاى نه راوسته، ويل وغاية الخضوع هو معنى العبادة شارح ته چا ووېل دا مهمات تا د كوم څاى نه راوويسته، ويل وعموم المهمات مستفاد من حذف مفعول نستعين څكه مفعول ثاني د نستعين محذوف دى، شبه يا هلكه تخصيص تا د كوم څاى نه راوويستلو؟ بتخصيصه، ويل والتخصيص مستفاد من تقديم المفعول، د اياك نعبد واياك نستعين، اوس شارح واني چې لطيفة دلته كې په حمد كې دا شوه د التفات چې **فاللطيفة المختصة بها هي موقع هذا الالتفات هي ان فيه تنبيها من الله، على ان العبد اذا**

لغة في القراءة يجب ان يكون قراءته، على وجه يجد من نفسه ذلك المحرك المذكور د بل څه نه خبر نه وي، لکه حدیث کې راځي نبي علیه الصلوة والسلام دوه صحابه د څوکیداری لپاره ودرول یو انصاري او بل مهاجري، د ابوداؤد حدیث دی، ویل دشمن طرف ته ودریږئ چې چوکیداري وکړئ، نو هغې دواړو ملګرو په ځان کې دا مشوره وکړه، چې یره یو به سُملو خوب به وکړي، او یو به دشمن ته ودریږو، هغه نه چې خوب شروع شو، نو بیا به زه تا پاڅوم، ته پاڅه زه به لږ غوندې ارام وکړم، نو انصاري ودریدو، او مهاجري وبده شو، اودس یې وکړو مانځه ته ودریدو مونځ شروع دی، په دې مینځ کې دشمن ولیدو، او د غشي ګذار یې پرې وکړو، هغه باندې غشی ولګیدو، مونځ باندې شروع دی، پته ورته نشته، وینه لاړه لاړه هغه ویده مهاجري ملګري باندې ولګیده، نو هغه پاڅیدو، چې پاڅیدو نو سړي نه دوینو لختی را روانې دي، او سړی په مونځ باندې ولاړ دی، چې مونځ یې پوره کړو، سلام وګرځولو، ویل څه چل دی؟ ویل ته ځان ته نه ګورې، ته خو وینه کې لت پت ئې، چې ویې کتل نو دلته کې زخم وو، مونځ دیته وائي، زمونږ او ستاسو هسې صوري مونځ دی، خو الله دې دا په حقیقت باندې بدل کړي، امام مالك رحمة الله علیه د مدینې په دشت کې د ماسپخین مونځ کولو د شاګردانو سره نو چې دا وروستي دوه رکعته سنت یې وکړل، نو شاګرد ته یې ویل، ویل ته زما دا کرته پورته کړه، زما ملا باندې څه شی دی؟ هغه چې کرته پورته کړه نو هغه لاندې لړم وو، عقرب شپارس ځایونو کې یې د هغه په ملا باندې چك لګولی وو، او بیا د عربستان د خشك وطن لړم دی، د هغې زهر د مار نه زیات وي، او امام مالك رحمة الله تعالی علیه ته پته نه وه لګېدلې، مونځ دیته وائي، **ان الصلوة تنهي عن الفحشاء والمنكر**، زین العابدین په جامع مسجد کوفه کې مونځ کولو، جماعت ته اُور ولګیدو، خلک دبا کوي چغې وهي چې هلکه جماعت یې وسوځولو، اُور مړ کړئ، غویل خیژي او هغه ته پته نه لګي، هم هغه جماعت چې په کوم باندې اُور لګیدلی دی په هغې کې په مانځه باندې ولاړ دی، پته ورته نشته، مونځ نه فارغه شو، خلکو نه تپوس کوي ای هلکه څه چل دی؟ او اُور په ټول جماعت باندې بَل شوی دی، خلکو ویل چې ته نه ګوري چې دا اُور لګیدلی دی، ویل زما فکر نه وو، مونځ دیته وائي، زمونږ او ستاسو هم مونځ دی، او بیا وائي مونږه مونځ کوو، او **ان الصلوة تنهى عن الفحشاء...الخ**، او مونږ خو ګناهونو نه منع نه شو، بیا اعتراضونه هم کوي، نو ستا مونځ حقیقي مونځ کوم ځای کې دی، نفس الامري چې ته د منکر او فحشاء نه بچ شي، خو دا وایه چې هسې تشبیه بالواقفین کوو، هسې صرف الله ته ودریږو نو دې کې هیڅ نشته دی، نو اصل حقیقي مصداقي مونځ دیته وائي، خو الله دې زمونږ دا صوري مونځ قبول کړي، او دا وایو چې مونږ صحیح کما حقه مونځ نه شو کولی، دا دعوی که کوو نو الله مخې ته شرمیږو، الله ته ملامته یو.

ولما انجر الكلام د دې نه غرض د شارح يو ربط بيانوي د دې راتلونکي عبارت د ما قبل سره، ربط داسې بيانوي چې ما قبل کې امثله د خلاف د مقتضى د ظاهر وو، خو د مسند اليه نه. او په ما سياقي کې امثله د خلاف د مقتضى د ظاهر دى خو د غير مسند اليه نه، نو مناسبت دا شو، چې دې دواړو کې اخراج د کلام شوى دى خلاف د مقتضى د ظاهر نه، نو يو يې ربط مقصد شو، دويم غرض د شارح دفع د اعتراض کوي د ماتن نه، اعتراض دا وارد شو چې يا هلکه زمونږ بحث خو په احوالُ د مسند اليه کې وو. نو تا شروع وکړه په احوالو د غير مسند اليه کې نو دا خو خروج د بحث نه راغلى، او خروج د بحث نه لايجوز دى، نو شارح جواب وکړو چې تيک ده زمونږ بحث په احوالو د مسند اليه کې وو، نو دا ماتن دا راتلونکى بحث ذکر کړى دى، طرداً للباب، هسې د شوق او ذوق د وجې نه، او اشاره يې دې ته وکړه چې څنګه خلاف د مقتضى د ظاهر نه په مسند اليه کې کيږي نو داسې په غير مسند اليه کې هم کيږي، او ما من علم الاوقد يبحث فيه عن اشياء بالتبع استطراداً: خو ما تاسو ته د دې ترجمه وکړه چې بالتبع، مسلم الثبوت کې تاسو ته وائي، نو ماتن هسې درباقي صيغ نيز حذف کړدند طرداً للباب د قبيلې نه شو، نو وائي ولما انجر الكلام ويل هر کله چې رابنکودلى شو کلام اى خلاف مقتضى الظاهر خو په مسند اليه کې نو اورد اى الماتن عدة اقسام منه، اى من خلاف مقتضى الظاهر وان لم يكن من مباحث المسند اليه خو دا يې طرداً للباب راوړى دى، نو فقال **ومن خلاف المقتضى** شارح ورسره لګوي اى مقتضى الظاهر، دې کې اشاره کوي چې المقتضى کې الف لام عوض دى د مضاف اليه نه يا الف لام عهدي خارجي دى مراد ترينه خلاف د مقتضى د ظاهر الحال نه ده، تلقى المخاطب، شبه يا هلکه دا تلقى فعل دى که مصدر دى، پته ونه لګيده؟ او بيا چې مصدر شو نو اضافت فاعل ته دى بيا او که مفعول ته دى؟ شارح د دواړو تعيين کوي اضافة المصدر يا هلکه دا تلقى مصدر دى فعل نه دى، او دويم ته يې اشاره وکړه الى المفعول اضافة د مصدر مفعول ته دى فاعل ته نه دى، سائل سوال وکړو چې يا هلکه بيا فاعل چيرته لاړه شارح الي سره جواب کوي چې فاعل محذوف دى، اى تلقى المتكلم المخاطب، غورځول د متکلم دى مخاطب ته، غورځوي بغير ما يترقبه غير د هغه کلام نه چې انتظار کوي مخاطب د دې کلام، والباء سره غرض د شارح دا دى چې تعيين مصداقي د باء کوي، څکه باء په ډيرو معانيو سره راځي، چې يا هلکه دا باء د څه لپاره ده؟ دويم غرض د شارح دفع د اعتراض کوي، اعتراض پرې دا وارد شو، چې يا هلکه نحوي قانون دا دى چې د يو فعل تعدد، د يو فعل پورې متعلق کول دوه حرفين جارين چې د جنس واحده نه وي، لفظاً او معناً نو دا لايجوز دى، نو دلته کې تا دوه حرفين جارين لفظاً او معناً متعلق کړي دي په يو فعل پورې چې تلقى دى، څکه چې بغير هم متعلق شو په تلقى پورې او وروستو بحمل کلامه هم متعلق شو په تلقى پورې، نو دا حرفين جارين چې باء ده د جنس واحده نه دي لفظاً او معناً هم، نو تعلق يو شي پورې دى، په شريعت نحوي

باندې لايجوز دی، نو دلته کې ماتن څنګه وکړو، نو شارح راغلی جواب يې وکړو چې يا هلکه دلته کې لفظين اګر که لفظاً متحد دي خو معناً متحد نه دي معناً جدا جدا دی، څکه چې والباء في بغير کې للتعدية، او وفي بحمل کلامه للسببية دی، ای سره هغه بيان د سبب او د مسبب کوي، چې بحمل کلامه کې مسبب څوک شو او سبب څوک شو، نو وائي چې ای انما تلقاه ويل غورځوي متکلم دی مخاطب ته بغير ما ای کلام يترقبه چې انتظار کوي دا مخاطب د دې کلام، نو دا تلقی سبب شو، اوځکه يې غورځوي بسبب انه په سبب د دې سره چې دي متکلم حمل کلامه کلام د مخاطب.

معترض شبه وکړه چې د کلام اضافت مخاطب ته خو نه صحيح کيږي، ځکه چې کلام قائم متکلم پورې وي، مخاطب پورې خو نه وي، نو ده جواب وکړو چې ای الکلام الصادر عن المخاطب چې يا هلکه د کلام يو اعتبار د قيام دی، او يو اعتبار د صدور دی، نو په اعتبار د قيام سره کلام متکلم پورې قائم دی او په اعتبار د صدور سره مخاطب پورې هم راتلی شي، ای الکلام الصادر عن المخاطب علی خلاف مراده تعيين د مرجع کوي، په خلاف د مراد د مخاطب باندې ای مراد المخاطب اوس وروستو تنبيها په متن کې راغلی، نو سائل سوال وکړو چې د تنبيهاً نصب بناء بر څه دی؟ دولس قسمه منصوبات دي، نو جواب بهر نه وکړئ چې ای هلکه تنبيهاً نصب بنا بر مفعول له دی، شبه يا هلکه مفعول له د چا لپاره دی، مفعول له مخکې فعل معلله غواړي نو شارح د هغې تعين وکړو وانما حمل کلامه او يقينا حملوي متکلم کلام د مخاطب علی خلاف مراده، اشاره يې وکړه چې د حمل لپاره مفعول له دی، او فاعل د فعل معلله چې حمل دی، حمل نه بالاسم حَمَلَ فهميږي کوم چې په متن کې راغلی چې بحمل کلامه او فاعل د مفعول له يو دی، متکلم دی، او فاعل د فعل معلله او مفعول له چې يو شی نو حذف د لام کيدای شي، نو حذف شوی دی تنبيهاً لپاره د خبرداری ورکولو د متکلم للمخاطب علی انه ای ذلك الغير چې دغه غير چې هغه خلاف دی د مراد د مخاطب نه هو الاولی بالقصد والارادة ويل دغه غير ډير اولی دی، ای مخاطبه په قصد او ارادې سره، مثال داسې شو کقول القبعثری دا قبعثری هم ښه سړی نه وو خارجي وو، د حضرت علي رضي الله عنه د رسالت نه وتلی سړی وو، خو دي يو ورځ د خپلو ملګرو سره په يو باغ کې ناست وو، نو حجاج بن يوسف بحث راغلی، د هغه دور وود خلافت، د هغه بحث راغلی چې دا بادشاه دی، او دي ظلمونه کوي، او داسې داسې کوي، نو دي قبعثري په کې هغه ته خيرې وکړي، چې **اللهم سود وجه واقطع عنقه واسقني من دمه** نو سي ډياني خو ډيرې وي په هره زمانه کې، منافقين جاسوسان خو ډير وي، نو د قبعثري دا خبره چا حجاج ته ورسووله، چې تا ته قبعثری داسې خيرې کړي دي، نو حجاج قبعثري را وغوښتلو، او ورته يې وويل چې هلکه تا دا خيرې کړي دي؟ هغه ويل نه حضرت ما هره انګور ته خيرې کړي دي، مونږ د انګور په باغ کې ناست وو، نو هره د انګور غنچې وي او داسې داسې توري توري راوتلي وي، نو ما ووېل الله د

دې دا داني زر توري کړي، او دا بره د دې غنچك خای نه راپريکړي او د انګورو دا اوبه په مونږ باندې اوڅکې. نو زما مراد دغه وو ما تا ته خيرې نه دي کړي، نو حجاج وويل ټوقي مه کوه لاحملنك على الادهم تا ته به هتکړې واچوم جيل ته به دې وغورځوم. قبعثري ورته وويل مثل الامير يحمل على الادهم والاشهب ويل چې ستا غوندې بادشاه وي نو هغه په اسپي باندې سړی سور وي، ما په برګي اسپي باندې سور کړه، ستا خوښه ده

نو اوس ګوره دلته کې حجاج متکلم شو او قبعثري مخاطب وو، نو حجاج ورته وويل چې لاحملنك على الادهم نو د هغه مقصد دا وو چې دي به ما ته څه سفارش کوي، منت زاري به کوي چې ما خلاص کړه، هغه مخکې نه وويل چې بادشاه صاحب تاسره دا مناسب نه دی چې ته خلکو ته هتکړې غورځوي، تا سره مناسب دا ده چې برګي اسپي باندې سور کړه، او په بازار کې ما باندې چکر ووهه. حجاج ورته وويل ويلك انه لحديد د ادهم نه زما اوسپنه مراد ده، هتکړې د اوسپني وي، او اسپه مې مراد نه ده، نو قبعثري وويل چې ان يكون حديداً خير من ان يكون بليداً ويل اوسپنه کيدل بنه دي د کم عقل کيدو نه. ته ما ته ډير کم عقل ښکاري نو حجاج نوکرانو ته وويل چې دی په اوښ باندې سور کړئ. او په بازار کې يې وګرځوئ او وئې شرموئ، چې په اوښ باندې يې سور کړو نو ويل سبحن الذي سخر لنا هذا وما كنا له مقرنين بيا حجاج وويل چې راکوز يې کړئ، او په زمکه باندې يې پرمخ وغورځوئ، او دپاسه پرې خيژئ، هغه ويل منها خلقناكم ومنها نعيدكم ومنها نخرجكم تارةً اخرى نو بعضې روایاتو کې تاريخي روایاتو چې حجاج وويل چې دي پريدئ ده سره سرته نه رسي، او د بيت المال نه يې ورته ډير انعام ورکړو چې ويل څه، نو وائي وقد قال الحجاج له اى للقبعثري حال كونه الحجاج، کې يې اشاره وکړه چې دا متوعداً حال دی د حجاج نه، يروونکی وو اياه دی قبعثري لره چې لاحملنك على الادهم الادهم تفسير د غير مشهور کوي يعني القيد هتکړه، هذا مقول قول الحجاج، نو حجاج اوس متکلم شو او قبعثري مخاطب دی، نو حجاج وائي چې دي به اوس ما ته څه سفارشي راولي څه محنت زاري به کوي، په دې طمع باندې دی، نو ده ورته وويل مثل الامير يحمل على الادهم والاشهب هذا القول قول القبعثري، نو قبعثري چې مخاطب وو فابرز وعيد الحجاج في معرض الوعد بشارة کې وتلقاه او دې متوجه شو د دې حجاج سره بغير ما يترقب حجاج خو د دې انتظار کولو چې دي به اوس ما ته سفارشي راولي محنت زاري به کوي بان حمل الادهم في كلامه اى كلام الحجاج على الفرس الادهم، فرس ادهم دبته وائي، چې الذي غلب سواده حتى ذهب البياض، وضم اليه الاشهب، اى الذي غلبه بياضه، نو چې سواد او بياض دواړه غالب شي هغې ته برګ وائي، ومراد الحجاج انما هو القيد فتنبه اى قبعثري چې مخاطب وو متكلم ته چې حجاج دی على ان الحمل على الفرس الادهم هو الاولى بان يقصده الامير، اى من كان مثل الامير في السلطان اى الغلبة تفسير کوي، د غير مشهور په مشهور سره،

وبسطة اليد د لاس نه دا مراد چې ای الكرم والمال په سخا او په نعمت کې فجدير بان يصفد، چې باب افعال شي ای يعطي من اصفده نو معنی ورکول لاان يصفد ای يقيده من صفده، خو دا غالبي فرق دی، کله کله د دې عکس هم راځي، چې مزيد په معنی د قيد کولو سره او مجرد په معنی د ورکولو سره، او السائل هلکه دا او عاطفه دی دا په چا عطف دی؟ ويل عطف علی المخاطب، هغه مفعول د تلقی لپاره وو، دا هم مفعول شو، نو هغه قاعدې ته اشاره کوي چې ما قبل د معطوف عليه نه کالمعاد وي په معطوف کې ای تلقی السائل غورځول د متکلم دی سائل ته بغير ما يتطلب بغير ما يتطلب يې وويل، بغير ما يطلب په کار وو؟ دا لپاره د موافقت مخکې د يترقبه سره، ورنه نو يطلب هم صحيح کيدو، شبه يا هلکه سائل يو سوال کړی دی، نو متکلم بل کلام ولې غورځوي؟ غير د هغه کلام چې طلب کړی وي سائل، ای غير ما يتطلب... الخ ويل بتنزيل وائي په غورځولو د دې متکلم سواله ای المخاطب منزلة غيره ای غير ذلك السوال، چې ستا دا سوال کلا سوال دی، تنبيهاً لپاره د خبردارئ ورکولو د متکلم للسائل علی انه، ای غير ذلك الغير الاولی بحاله، ای بحال السائل، لکه په اول ايت کريمه کې او المهم يا دا غير مقصود دی، لکه په ايت کريمه ثانيه کې، ځکه يې دوه مثالونه بسودلي دي، اوس دا کرتې شبه راځي چې يا هلکه خلق خو دا زوتوي چې مطابقت د جواب د سوال سره ضروري دی، نو بيا خو مطابقت د جواب د سوال سره رانغلی، تاسو وايئ چې سوال دوه قسمه دی، يو سوال جدلي دی، يو سوال تعليمي دی، سوال جدلي دا معنی چې سوال د مناظري چې د چا سره مناظره کوي معارضه کوي نو هلته کې مطابقت د جواب د سوال سره ضروري دی، او يو سوال تعليمي دی هلته کې مطابقت د جواب د سوال سره ضروري نه دی، هلته کې د مخاطب پوهه کول مقصد دی، نو کوم شی چې د هغه لپاره مفيد وي نو په هغې باندې هغه پوهه کوه، اول مثال چې هغه اولی دی په حال د سائل پورې کقوله تعالی **يسئلونك عن الاهلة، قل هي مواقيت للناس والحج** دا مثال مطابق د ممثل سره دی سالوا ای الصحابة عن سبب اختلاف القمر في زيادة النور، چې کوم وخت کې ديارلسم، څوارلسم شي، نو د سپوږمی رڼا زياته شي، ونقصانه چې اول هلال وي، د دري ورځو پورې هلال ورته وائي، نو د هغې رڼا کمه وي، بيا دريو نه بره بدر تر چې جوړ شي، د هغې پورې رڼا هم کمه وي، ويل د دې څه وجه ده؟

اوس دا وجه که د رياضي د مسئلې په طريقه وی نو هغه خو دا ده چې نور القمر مستفاد من نور الشمس نو په ابتداء د مياشت کې نمر د سپوږمی نه د زمکې د حيلولت سره پټ وي او لږ لږ خس غوندې ډاګ وي نو هغه رڼا کوي، داسې مياشت څومره چې کامله کيږي نو حيلولت زائل کيږي، چې ديارلسم څوارلسم، پنځلسم ته ورسي نو حيلولت دارضي ختمه شي، نو سپوږمی توله ډاګه شوه، نو توله رڼا کوي، او محاذي شوه د شمس سره، بيا بنکته تنزل شروع کړي، مياشت کميږي، نو بيا حيلولت معاد کيږي، نو کميږي کميږي... الخ **حتی عاد کالعرجون القديم** شي، نو د رياضي طريقه خو دا ده، خو الله

جواب داسې وکړو چې فاجيبوا الصحابة ببيان الغرض من هذا الاختلاف چې د غرض تپوس وکړئ چې ستاسو د حالت سره مناسب دا دی چې په دې کې د الله څه حکمت دی، او څه غرض دی، وهو او هغه غرض دا دی چې ان الاهلة چې مياشتي **بحسب ذلك الاختلاف معالم** علامات لري يوقت بها الناس تعيين کوي په دې سره خلک د خپلو کارونو من المزارع والمتاجر څکه د هر تجارت خپل خپل وخت وي، موسم وي، هر شی هر وخت کې نه خرڅيږي ومحال الديون اووخت د کوزيدو د قرضونو والصوم وغير ذلك لکه عدة شو او موده د حمل د ښځې شو ومعالم الحج ای اوقات الحج يعرف بها وقته څکه دا په نمر سره نه معلوميږي دا په سپوږمۍ سره معلوميږي، نو شرعي حساب د سپوږمۍ حساب دی، د نمر حساب غير شرعي دی، نوشرعي حساب سن هجري شو او دا بل غير شرعي دی، دا انګريزي حساب، وذلك ويل دغه جواب للتنبيه لپاره د خبرداري ورکولو دی صحابه ؤ ته على ان الاولى والاليق بحالهم ان يسالوا عن ذلك دغه غرض د حکمت نه، **ولايسئلوا عن السبب، لانهم اى الصحابة رضي الله عنهم ليسوا ممن يطلعون بسهولة على دقائق علم الهيئة** علم الرياضي، معترض راغلی شبه يې وکړه چې دا خو سوء ادب راغله د صحابه ؤ په باره کې، حالانکه صحابه ټول اصحاب د قوة قدس وو، د علم هيئت او د رياضي مسئله ورته وړاندې شوه نو هغې هسې حل کوله، د منطق ورته وړاندې شوه نو هغې هسې حل کوله، نو تا وويل چې صحابه په اسانۍ نه خبريدل، بې د وئيلو نه هسې نه خبريدل، نوشارح جواب وکړو چې ولايتعلق لهم به غرض يا هلکه هغوی خبريدل، هغوی ټول اصحاب د قوة قدس وو، ليکن هغوی دقائق د علم هيئت سره څه کول، دقائقو د علم هيئت سره څه مسئله شرعي نه ثابتيدله، يا څه ضرورت ورته نه کيدو، نو هغوی ويل د دې سره مونږ څه کوو، ويل پريږده دا بيکاره شی دی، دويم مثال د مهم، کقوله تعالى يسئلونك ماذا ينفقون څومره شی خرچ کړي، ډير ورکوو که نه لږ قل ما انفقتم من خير فللوالدين والاقربين واليتامى والمساكين وابن السبيل دا مثال مطابق د ممثل سره دی، څکه سالوا عن بيان ما ينفقون د بيان د مقدار هغه نه چې دوی خرچ کوي، چې څومره شی خرچ کړو **فاجيبوا ببيان المصارف** چې دې ځايونو کې ورکوئ، او د شي تپوس مه کوئ ډير وي که لږ وي، هر څه چې وي خو مصرف ګورئ تنبيهاً على ان المهم هو السوال عنها اى الصارف، لان النفقة لايعتد بها الا ان تقع موقعها چې مصرف دی، اوس که په دې باندې دا اشکال څوک وکړي چې د دې نفقة نه خو مراد مستحب نفقه ده، زکوة ترې مراد نه دی، څکه زکوة په والدينو باندې نه شي کيدای، او نفقه نو هغې لپاره مصارف خو معين نه دی، هر چا ته چې يې ورکړي نو هغې لپاره په قران کې مصارف معينه يې نه دی ښودلی، نو تاسو به جواب وکړئ چې مصرف نه مراد دا دی چې د سنت په طريقې سره واقع شي، نو د دې تپوس وکړئ چې په کوم کيفيت سره ورکوو څکه کوم خيرات مستحبه چې د سنت سره موافق ادا شي هغه يعتد بها دی، او کوم چې د سنت په کيفيت سره اداء نه شي هغه لايعتد بها دی، لکه

زمونږ په دې کوهستانونو کې چې کوي، او بعضې خو داسې وي چې د هغوی بغیر د دې نه هسې ګذاره نه کیږي، زما یو استاد وو کلي کې ما ترې نه سیپاره ویله، بودا سړی وو، ډیر شیخ وو، او مؤذن هم وو، نو زه وروستو طالب شوم نو هغه ته ما وویل چې دا شومي مه خوره، هغه د دې شومو داسې عملي وو، چې کله که چیرته د یوې ورځې لاړ وه او شومه وه، نو هغه د هغه نه نه پاتې کیده، او ځان سره به یې منګی هم یوړو، شوره به یې بیا هم ځان سره راوړه، نو چې وروستو زه طالب شوم نو ما ورته وویل په دې شومي ما رد وکړو چې دا رواجي شومه ده، دا د سنت سره موافق کار نه دی، دا مه کوئ، نو هغه ما ته ویل چې ګوره زه ستا دا خبره نه اورم، زه د دې نه بغیر ویل هسې زما ساعت نه تیریږي، چې فلاني ځای کې خیرات دی او شومه ده او زه نه یم رسیدلی، نو هسې ماله د شپې خوب نه راځي، ویل خدای ته ګوره، دا خبره ما ته مه کوه، ما ویل څه ښه ده نو ځان له یې خوره نو دا حالت دی، او دومره بوئ تري راځي چې الخ، او ځني به ویل چې ای هلکه دا مړی قبر کې هله ښځوئ چې اول پینډه خلکو وخوړه نو، ځکه چې مولیانو به ورته فتوی ورکوله چې دا اوله پینډه خلکو وخوړه نو د ده حلق ویل غوړ شي، نو هلکه مړئ خو دلته کې تاسو غوړه کړه د هغه څنګه غوړیږي، خو ویل چې مړئ غوړه شي نو هلته نکیر منکر ته دې جواب ښه ورکولی شي، او بیا ځئ او جیبونو کې یې هم دا غوښې وي، مخکې کال دلته کې مړی شوی وو، چکې والاعلماء راغلل د بره نه، خیرات یې خوړلی دی، دلته کې یې دا خایونه غوړ دي، نو ما ورته ویل هئ شومه خورو، هغوی وخاندل، دا چې خلاف سنت کار دی، هغې کې هیڅ برکت نه وي، ورته مې ویل هلکه څه دي دلیل دی؟ وائي انفقوا مطلق نه دی؟ هلکه انفقوا مجمل دی، د هغې تشریح مونږ ته شارع کړې ده، تشریح یې داسې کړې چې اصنعوا لاهل جعفر طعاماً حضرت جعفر وفات شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل خلکو ته، چې جعفر والاؤ ته ډوډۍ وکړئ **فانهم اتاهم ما یشغلهم** د دې نه بل دلیل شته؟ ځکه دوی غمجن دي، د حدیث نه علاوه مونږ نور څه دلیل راوړو دا نه منئ؟ **اصنعوا لال... الخ** امر دی، بل دلیل، د جابر نه دلیل دی کنا نعد الاجتماع ویل کنا دا ضمیر د جمع متکلم مع الغیر دی، ټول جماعت د صحابه ؤ مونږ، او اجماع د صحابه ؤ د متواتر په شان ده، مونږ ټولو صحابه ؤ په اتفاق سره، یو صحابي خلاف نه کوو، د مړي په کور جمع کیدل او بیا وصنعهم الطعام، دا مونږ نعد من النیاحة، دا مونږ په مړي باندې د ویر سره ژړلو په شان ګڼل، او ویر سره ژړل حرام دي، دغه اجتماع او دغه طعام تیارول، دا داسې دي لکه په ویر سره ژړا کول، د دې نه بل څه دلیل کیدای شي، خو لیکن جهال خلک نه مني

دا عوام کالانعام نه مني، ځکه دا دې خوا نه یو رسم راغلی دی، طریقه محمدیه کې لیکي چې دا د هندوانو رسم دی، اوس دا ذهن نه لري کیږي نه وائي به دا فلانی مولوی صاحب چې کوي، څه دلیل دی؟ دلیل زمونږ او ستاسو لپاره قران او سنت دی، فلانکی مولوی صاحب خو دلیل نه دی، کله وائي

دا خلک چې راشي نو دا به اوږی ځي، ګواندې يان خو ورته ډوډۍ نه ورکوي، کوهستان کې دا طريقه نده چې خلک راشي. دې علاقو کې خو د دې خلکو مزي دي، چې راشي ځان له لاړ شي دعا وکړي، کوهستان کې چې راشي هلته په پټکی کې ديره شي، خپل نسبيان او داسې نور، نو هغوی ته سړی ويلی هم نه شي چې هلکه ځئ، نو يا هلکه هلته کې ډوډۍ کوه، مجبوري ده، حالت د مخصصه کې د مرداري خوراك حلال دی، دا خلک مړه کيدل نو ما دوی ته ډوډۍ کړي ده، خيرات نه دی کړی، خيرات ديته وائي چې مړی ته ثواب رسي، او مړي ته هله ثواب رسي چې د پيغمبر د سنت موافق وي، بس داسې وايه چې ما دوی ته ډوډۍ کړي ده الضرورات تبيح المحظورات دي، دا رسم ختمول ډير ګران کار دی، زما خپل والد صاحب چې وفات شو. نو مونږه اووه ورونه وو، نو په دې کې دوه ما نه خلاق شو، او دواړه خدای دي وبخښي مړه شوي دي، او پينځه ما سره متفق شو، ويل چې دی نه کوي نومونږه هم نه کوو، نو هغه يو ځان له يوه مهښه حلاله کړه هغه بل ځان له يوه مهښه حلاله کړه، او د جون مياشت وه چې خلکو وخوړه په خلکو يې دستونه او هيضه يې پرې ولګوله، هغه خلک ټول ناروغه شو، الله پرې دا مرض ولګولو نو ما ويل هلکه ما تاسو ته نه وو ويلي چې مه کوئ، هغه نور پينځه چې کوم ماسره متعلق شو، نو هفته پس هغوی ويل چې خيرات کوو، نو ما ويل چې اوچې پيسې ولې نه ورکوو؟ چې ۵۰ هزار يا ۶۰ يا کم يا زيات چې مونږ ورکوو، دا اوچې به چيرته يو مسکين يا يو مدرسه کې به ورکړو، نو څوك به خبر نه وي، او خلک دې ځان له وائي چې دوی خپل والد پسې هيڅ ونه کړل وائي دي، مونږ خلکو سره څه کوو څه له هغوی ته ځان بنايو، ويل نه نه مولوی صاحب مخکې مونږه ستا منلي ده اوس ستا نه اورو، ما ويل چې نه اوری نو راوړئ، بيا يې دوه درې غواګاني راوستې او حلالې يې کړې، او خيرات مونږه وکړه الله دي يې قبول کړي، دا رسم ديره شوی دی، د مظهر شيخ الحديث ما ته ويل چې نورالحق په ميلمه باندې زه خفه کيږم نه، خو زمونږ کلي والا راشي او دلته په دې پټکي کې ديره شي نو په دې باندې زه خفه کيږم، ميلمه خو بښه شی دی، خو بيا مجبوره کړي، نو ايسته تلی شوم او نه بل چيرته.

بله مسئله کوي، ماتن وائي ومنه او بعضي من خلاف مقتضى الظاهر التعبير، تعبير کول په لفظ د ماضي سره. نو سائل سوال وکړو چې يا هلکه تعبير خو معبر عنه غواړي، معبر عنه به څوك وي، ويل **عن المعنى المستقبل** معبر عنه معنى مستقبل به وي، او تا به ترې تعبير په لفظ د ماضي سره کړی وي، ای هلکه د دې خلاف د مقتضى د ظاهر لپاره نکته څه ده؟ نو ماتن نه وه ذکر کړي، شارح يې ذکر کوي، ويل تنبيهاً لپاره د خبرداری ورکولو د متکلم على تحقق الوقوع ای وقوع المستقبل چې دا مستقبل په تحقيق کې او وقوع کې داسې يقيني او قطعي دی چې ګويا که دا مخکې واقع شوی دی، نحو يوم ينفخ في الصور فصعق نو صعق په نسبت سره نفخ ته مستقبل وو. خکه صعق د نفخ نه

وروستو راځي، نو دلته کې په کار يصعق وو، خو الله تعبير د هغه يصعق نه فَصَعِقَ سره وکړو، من في السماوات ومن في الارض بمعنى يصعق شو، دا د دې لپاره چې دا صعق د دې نفخ نه وروستو دومره قطعي او يقيني دی چې گويا که دا مخکې شوی دی، ومثله دا مثله مبتداء شو، شارح اشاره کوي چې د دې خبرې محذوف دی، ويل مثل دا دی تعبير عن المستقبل په لفظ د ماضي سره، دا دی چې التعبير عن المستقبل بلفظ اسم الفاعل كقوله تعالى وان الدين لواقع ويل يقينا سزا او جزاء واقع کيدونکې ده، ثابتيدونکې ده مکان يقع دلته کې يقع په کار وو، ونحوه دا نحوه هم په متن کې مبتداء ده او د دې خبر هم محذوف دی، هلته کې مثله او دلته کې نحوه وويل، ديته تفنن في العبارة وائي، ويل مثل د دې مستقبل نه تعبير په اسم فاعل سره، مثل د دې التعبير عن المستقبل بلفظ اسم المفعول، لكه كقوله تعالى ذلك يوم مجموع له الناس، مكان يجمع، يې مجموع وويل وهغنا بحث سره شارح په ماتن باندې شبه کوي، چې دا مخکې مثال خو ستا صحيح دی، چې د معنى مستقبل نه تعبير کول په لفظ د ماضي سره دا خلاف دمقتضى د ظاهر نه کيدل صحيح دي، مثال مطابق دی د ممثل سره، او دا وروستوني دواړه مثالونه چې د مستقبل نه تعبير په اسم فاعل سره کول يا په اسم مفعول سره کول، دا خلاف د مقتضى د ظاهر نه ندی، ځکه چې اسم فاعل او اسم مفعول خو په معنى د استقبال سره راځي کنه، نو چې راغلل نو دا خلاف مقتضى الظاهر نه نه شول موافق شول، نو دی وائي وهغنا په دي تعبير کولو کې د مستقبل نه په اسم فاعل سره يا په اسم مفعول سره بحث دی اعتراض دی، **وهو:** او هغه اعتراض دا دی چې **ان كلا من اسمى الفاعل والمفعول قد يكون بمعنى الاستقبال**، دفع د توهم کوي چې هلکه دا په معنى د استقبال سره راځي، نو دا باعتبار وضع سره داسې ده، واضع د استقبال لپاره وضع کړی دی؟ ويل نه نه، وان لم يكن ذلك بحسب اصل الوضع، وائي په اعتبار د اصل وضع سره دا نه دی چې په معنى د استقبال سره دی، خو په دوی کې احتمال د حال هم شته دی او د استقبال هم شته دی، قطعي واضع د استقبال لپاره نه دی وضع کړی، احتمال د دواړو دی، نو گويا دا جواب بناء شو چې اسم فاعل او اسم مفعول مشترك دی په حال او استقبال کې، تارة په حال کې مستعملېږي او اخری په استقبال کې مستعملېږي، نو **فيكون كل منهما اى من اسمى الفاعل والمفعول واقعا في موقعه، واردا على حسب مقتضى الظاهر** نو دا د خلاف د مقتضى لپاره مثال صحيح نه شو، والجواب سره شارح د ماتن د طرف نه جواب کوي، حاصل د جواب دا، چې ستا دا اعتراض معترضه بناء دی د هغه چا په مذهب باندې چې هغوی وائي چې اسم فاعل او اسم مفعول مشترك دی په حال او استقبال کې، او د ماتن دا خبره بناء ده د هغه چا په مذهب باندې چې هغوی وائي چې اسم فاعل او اسم مفعول حقيقت دی په حال کې او مجاز دی په استقبال کې، نو چې د ماتن متن په دې باندې بناء شو، نو استعمال د لفظ په مجاز کې خلاف د مقتضى د ظاهر نه وي، نو مثال صحيح شو، وائي والجواب ان كلاً منهما حقيقة فيما اى في حدث يتحقق فيه كې وقوع الوصف، نو معنى حال شوه، وقد استعمل ههنا اى في الايتين

الكريمتين فيما في حدث چې لم يتحقق دی، حالا متحقق نه دی، ځکه چې سزا و جزاء د دې قيامت نه وروستو راځي، او دارنګه جمع کيدل د دې ورځې نه وروستو راځي، **مجازاً**: دا استعمال د لفظ په معنی مجازي کې خو خلاف د مقتضی د ظاهر نه وي، او دا ولې **فيما لم يتحقق مجازاً ويل تنبيهاً على تحقق وقوعه** چې دا جزاء او سزا داسې قطعي ده، دا جمع کيدل چې ګويا چې اوس متحقق دی، ومنه ای وخلاق مقتضى الظاهر القلب قلب دی، د قلب تعريف ماتن نه وو کړی، شارح يې کوي، ويل قلب وائي چې **وهو ان يجعل احد اجزاء الكلام مكان الاخر، اى مكان جزء الاخر**، والاخر او بل جزء مکانه په ځای د دې احد کې او ګرځولی شي، ديته قلب وائي، د هغې مثال داسې شو نحو عرضت الناقة على الحوض ما اوښه پيش کړې ده په ډنډ باندې، نو اصل کلام دا وو چې عرضت الحوض على الناقة ځکه قانون په باب د عرض يعرض کې دا دی چې معروض عليه به ذا شعور او ذا ادراك به وي، نو عرضت الناقة على الحوض کې معروض عليه حوض شو، او هغه ذا شعور او ذا ادراك نه دی، نو د دې نه معلومه شوه چې اصل کلام داسې وو، چې **عرضت الحوض على الناقة** او ناقة ذا شعور او ذا ادراك وه، قرينه په دې قلب باندې دا شوه، اوس معترض راغلی شبه يې وکړه چې عرضت الحوض على الناقة دا معنی چې حوض ما په اوښ باندې ايښی وو يا په ملا باندې او ما ناقې ته پيش کړی وو، او حوض خو څوك په اوږه او ملا باندې نه شي اوړی، نو شارح راغلی جواب يې وکړو په ای سره ای اظهرته عليها چې يا هلکه دلته کې د عرض معنی دا نه ده، چې حوض تا په خپله اوږه باندې پيتی کړو، او ناقې ته دې وښودو، معنی دا ده چې ما دا حوض ظاهر کړی وو دې ناقې ته، او د دې لپاره چې لتشرب چې دا ترې نه اوبه وڅکي، اوس په دې قلب کې چې دی حسن دی، که نه دی په دې کې ۳ مذاهب دي وقبله السكاكي ای قبل القلب السكاكي، **مطلقاً**: مطلقاً چې په دې قلب کې اعتبار لطيف وي او که نه نه وي، يعنې څه نکته لطيفه په کې وي او که نه نه دغه قلب مقبول دی، دليل سکاکي دا وائي، چې وقال: ای السكاكي في الدليل چې انه ای القلب مما يورث الكلام ملاحةً ځکه چې کلام مخکې وروستو شي نو سړی ته مزه پيدا شي، نو د دې وجې نه دا مطلق مقبول دی، ورد غيره ويل رد کړی دی قلب لره غير د سکاكي بابا نه، **مطلقاً**: يو مذهب داشو چې قلب د سره مردود دی، ويل ځکه مردود دی چې لاته دا قلب عكس المطلوب ونقيض المقصود او عكس د مطلوب او نقيض د مقصود مردود دی، نو اعتبار لطيفه په کې وي او که نه نوي، قلب د سره جائز نه دی، دريم مذهب حقه دی، چې دا د توزيع يا توضيح مسلك دی، او ماتن دا مختار کوي، چې والحق انه ای القلب ان تضمن، که نيولی وو دي قلب اعتباراً لطيفاً يو نکتې يې باريکه لره نو قُبِلَ، سوال يا هلکه نکته باريکه نه مراد هغه ملاحت د سکاكي ؟ بيا خو د سکاكي او مذهب حقه کې فرق رانغلی، نو جواب وکړو شارح غير الملاحة التي اورثتها نفس القلب د هغه سکاكي د ملاحت نه علاوه بل څه اعتبار لطيف وي نو قُبِلَ، مثال کقوله ای قول الشاعر ومهمه دا واو په معنی د رب سره کوي، ډير کرته يو بيابان، يو دشت، يوميره، تفسير د غير مشهور په مشهور

سره کوي ای مفازة مفازه بیابان، دشته او هیرې ته وائي، داسې بیابان، هیره او دشته، **مغبرة**: چې دوړه ناکه وي، د مغبرة معنی کوي **ای متلونة بالغبرة هغه لړلی شوی په دوړو سره**، ارجاؤه اطراف د دې مهمه، یعنې ټول دوړې دوړې وو، ونواحیه عطف تفسیر شو، ارجاء جمع الرجا مقصورا، ممدود نه دی، رجا ناحیه طرف ته ویلی شي، جواب د رب محذوف دی، چې قطعته، یعنې ما په کې سفر کړی دی، دا مهمه داسې وه کان لون ارضه سماءه ویل ګویا چې هغه رنګ د مزکي د دغه مهمهي اسمان د دې مهمهي وو، معترض شبه وکړه چې دا لون د ارض مشبه شو او سماء مشبه به شو، نو دا تشبیه خو نه صحیح کیږي، **لون**: د ارض خو عین ذات د سماء نه شي کیدای، نو ده جواب وکړو، ماتن چې علی حذف المضاف سماءه کې حذف د مضاف دی، یعنې **کان لون ارضه لون سمائه** نو اوس تشبیه ټیک شوه، ځکه د لون تشبیه د لون سره کیدای شي، اوس دی وائي دا مثال مطابق د ممثل سره دی، په دې کې قلب دی، قلب ځکه دی چې په کار دا وه چې لون د ارض یې مشبه به کړی وی او لون د سماء یې مشبه ګرځولی وی، ځکه مشبه به اصل وي او مشبه فرع وي، نو لون د ارض دا اصل وو ځکه چې دا دوړه د زمکې نه پیدا شوي وو او لون د سماء فرع ده، چې دا دواړه عارضي بره تلي وه، نو قانون دا دی چې کوم اصل وي نو هغه مشبه به او فرع مشبه وي، او دلته کې شاعر هغه لون د ارض مشبه وګرځولو او لون د سماء یې مشبه به وګرځولو، نو قلب راغلی، اوس دې قلب کې اعتبار لطیفه شته دی، هغه دا دی چې دې کې مبالغه ده، مبالغه دا چې دروغ دي، چې دا دوړه دومره پورته شوې وه چې دا اسمان کې دا دوړه په منزله د زمکې ګرځیدلې وو، اصل او دا ښکته دا مزکه په منزله د فرعي ګرځیدلې وه، نو کثرت ته یې اشاره وکړه چې دا دواړه دومره پورته شوي وه چې دا اسمان په منزله د مزکي ګرځیدلی وو او دا مزکه په منزله د اسمان چې صاف وه، نو د اسمان نه مزکه او مزکي نه اسمان جوړ شوی وو، په صفایی کې، نو ځکه وائي **فالمصراع الاخیر من باب القلب**. والمعنی دا شوه چې کان لون سمائه لغبرتها لون ارضه، والاعتبار اللطیف هو المبالغة، معنی دروغ دي قال الشیخ ذلك استهزاءً، چې **هغه في وصف لون السماء بالغبرة حتی کانه ای لون السماء صار بحیث یشبه به لون الارض في ذلك ای في الغبرة مع ان الارض اصل فیه**، په دې تشبیه کې اصل وه، نو دا د هغه جاګ والو دروغ شو، زمونږ وطن کې مشهور دي د جاګوالو دروغ، یو سړی خنګل ته تللی وو، نو ویل ما په خنګل کې پینځه سوه منزري ولیدل، نو هغه بل سړي ورته ویل چې هلکه پینځه سوه تا څنګه ولیدل په یو حالت کې، په یو ځای کې؟ داسې کوریدو، دې نه ویل دوه سوه پورې به وو، داسې راتله راتله اخر کې یې وویل چې کش کش کیده، لیدلي خو ما نه وو، همسې کش کش کیدل، او څنو به داسې مبالغه کوله چې هلته انبه په جاګ کې یو ځای دی، ویل هلکه دانبې جوار دومره لوی لوی تاتې وي، چې زه د یو ډکي د پاسه وختلم، او هیله پټې ما ولیدو، او د پټې په سیند کې ښکته نه ماهي کرپ وکړو هلته نه څاڅکي د اوبو راغلل زما په دې مخ باندې ولګیدل، دیته وائي مبالغي، دا حکایت کوي خلک، محکي عنه راته پته نشته، اوس صادقاً او کاذباً

پته نشته، خو هسې ما تاسو ته د مثال په طور سره وويل، جاګ به ډير مشهور سړی وو، او ډير مثلي سړی وو، هغه به مثلي ډيري کولې، هغه نحوي وو، نو هغه سره به طالبان اوسيدل، نو هغه وخت کې چټان طالبان وو، فاجران، فاسقان، طالبان وو، نو د مونځ نه خبر وو، نه بل څه نه خبر وو، بې نمازان، په دې قبرونو کې به خان له برېنډ لغړ به ناست وو او اخر کنز به يې يادولو، او کافيه به يې يادوله عقيدې نه خبر وو نه مونځ، نه اسلام، نه ايمان نه، هسې يو څيزونه وو، هسې هيولاګان وو، الله رحم وکړو او د طالبانو ذهنونه يې اوس په قران او حديث سره غوړ کړل، نو اوس طالبان د درې څلور، څلور کتابونه وائي او ښه پرې پوهيږي، هغه وخت لس کاله به يې په اخر کنز کې تير کړل او هيله به ورته اخري اخري کنز راغلی، او محنت به يې دومره کولو چې شپه او ورځ به يې يو کړی وو، نو هيله به ورته اخري کنز ياد شوو ځکه الله غيرتي بادشاه دی، ويل چې څه ته دومره محنت کوي نو څه اخر کنز درته راغلی، هغه هسې هم چټان طالبان وو يو کتاب به يې ونيوو، وخت پاسي يې کوله، يا نهه، لس کاله به يې کافيه کې تير کړل، په يو خوارو سره کافيه به ورته راغله، نو طالبان د کافيې به ورته جمع وو، خو خير او برکت په کې نه وو، خو د هغه طالبانو دعا قبليده، دا هم د الله امتحان وو، خلک به راغلل هغوی نه به يې ويل مونږ ته طالبانو دعا وکړئ، هغوی به دعا وکړه الله به قبوله کړه، نو پخوا مشرکان چې قبرونو ته تلل نو هم الله هلته کې د هغوی سوال پوره کولو، خو دا امتحان وو، ورنه د داسې چټانو دعا الله قبلوي؟ خو دا د الله امتحان وو کنه، چې د دوی يقين به په دې طالبانو وي او که په ما باندې، نو بيا طالب خلکو د ښځې سره ونيولو، نو د بابا خوا ته يې راوستلو، ويل بابا مونږه طالب ښځې سره نيولی دی، ويل راکړئ دا خنزير، د ده داسې داسې وکړم، ويل دا حرامي، دا لوی حرامي دی، ويل دی لږ ما ته راکړئ، چې دې خنزير ته زه لږ وګورم، چې دا څنګه دی، نو بابا د هغه طالب لاس خپل لاس کې ونيولو، خلکو خو نيولی وو چې طالب ونه تښتي، نو چې بابا ونيولو، نو طالب ته وائي چې ای هلکه طالبه رجلين دي ملګري نه دي فرار وکړه جبل ته، رجلين دي منکسر نه دي فرار وکړه جبل ته، او په دې کې يې لاس ورو غوندې سست کړو، نو طالب لاس وويستلو او منډه يې کړه، هغه خو پهلوان سړی وو، طالبانو خو پريمانه خوښ وي، منډه يې کړه، بابا ويل هلکه نيسئ ګورئ طالب ما نه خلاص شو، هغه خلکو تلو پورې طالب خان له تللی وو، ښه والاشارح اشاره کوي چې دا الادي څای کې مخفف ده د ان لم يکن نه او استثنائيه نه ده، ای وان لم يتضمن ای القلب اعتبارا لطيفا رُد، لانه عدول عن مقتضى الظاهر من غير نكتة، شبه يا هلکه نکته خوشته دی کنه چې د سکاکي هغه ملاحة دی ويل يعتد بها داسې نکته چې هغې باندې اعتماد وکړی شي او ملاحت څه نکته معتمد بها نه ده. دې مثال چې قلب شوی وو او په کې نکته معتد بها نه وي، ويل کقوله ای الشاعر، په مدح د خپلې اوښې کې، ويل فلما ان جري سمن عليها ويل هر کله چې ښکاره شو څورب والی په دې اوښې باندې، او دا لحم شحم زيات شو، ويل دا داسې وه کما طينت بالفدن، فدن قصر ته وائي، مانړۍ ته بيټک ته،

بنګلي ته، السياعي خټې لره، سياع څه ته ويلی شي. تفسير کوي ای الطين المخلوط بالتبن هغه خټه چې خلط شوي وي د بوسو سره، دا بوس د خټې لپاره داسې دي لکه سريه د سيمټو لپاره، نو چې سريه سيمټو سره شي، نو کلك شي ماتيږي نه، او دا خټه چې بوسو سره يو ځای شي او هغه کور ليؤ کړی شي نو هغه ليؤ ښکته ارتاويږي نه، هغه مضبوط وي، نو اوس دلته کې مطلب دا شو چې تا ليؤ کړې وه بنګلي سره خټې لره، نو بنګلي سره خټه نه ليؤ وي، بلکه خټې سره بنګله ليؤ وي، نو اصل کلام دلته کې داسې وو، والمعنى كما طينت الفدن بالسياع چې تا ليؤه کړه، بنګله په خټې سره، نو د دې مقام وروستو وو مخکې ته يې يوړو، او استشهاد کې دا پيش کوي، ويل يقال طينت السطح والبيت ما چت او کور ليؤ کړی وو يعني ما د هغې اصلاح کړې وه، د هغې سورې موری مې بند کړې وو. نو دې کې څه اعتبار لطيفه نشته دی، نو دا رد دی، اوس شارح شبه کوي چې ولقائل ان يقول په اعتراض کې چې دلته کې اعتبار لطيفه نشته دی، هغه دا دی چې په دې ناقه باندې دا وازده دومره زيانه شوي چربي، چې د دې چربی نه ګويا که که ناقه جوړه شوي او د هغه اصل ناقه نه چربي جوړه شوي وي، نو مبالغه شوه چې چربي يې دومره زياته ده، نو دارنګه دلته کې هم مبالغه شوه چې دا خټه اوليؤ دومره زيات دی چې د دې خټې بنګله جوړه شوي ده، او د بنګلي نه هغه خټه جوړه شوي ده، نو مبالغه راغله، نو وائي ولقائل ـ انه ای القلب په دې بيت کې دومره نشته دی، ځکه لايهامه د وجې د غورځولو د دې قلب نه په وهم د سامعينو کې، دا وهم غورځوي چې ان السياع دا خټه، قد بلغ من العظم والكثرة الى ان صار بمنزلة الاصل چې فدن دی، والفدن بالنسبة اليه كالسياع بالنسبة الى الفدن نو ناقه کې هم دغه مبالغه راغله، دا شارح په ماتن باندې شبه وکړه خان له لاړۀ، نو تاسو جواب وکړئ، چې تا تفسير د السياع هم په خپله کړی دی، او شبه هم ته په خپله کوي، سياع تفسير تا کړی دې په طين مخلوطه بالتبن سره، تفسير تا کړی دی ماتن نه دی کړی، او شبه دې هم په ولقائل سره په خان باندې وکړه، ماتن باندې نه واردیږي او نه په شاعر باندې واردیږي، بلکه سياع ويلی شي اصل کې هغه الې ته چې په هغې سره ليؤ کوي، لکه کرنډی شوه، نو معنی بيا دا شوه، تا ليؤ کړی هغه بنګلي لره بالسياع په کرنډی سره، نو په دې کې هيڅ مبالغه نشته دی، او سياع تفسير تا خطا، کړی دی د ماتن په نزد باندې سياع هم هغه کرنډی ته ويلی شي

احوال المسند

احوال د مسند نه مراد امور عارضه دي مسند ته، چې هغه کوم راتلونکی امور، چې تقریباً پینځلس دي، دا امور عارضه دي مسند ته، من جمله د امور عارضه ؤ نه مسند ته ترك د مسند دی، نو ماتن وویل چې اما ترکه هر چې دی ترك د مسند یعنې حذف د مسند، دلته کې یې ترك وویل او په احوال د مسند الیه کې یې حذف ویلی وو، هغه وجه شارح هلته کې ذکر کړی ده، نو ویل فلما د هغه نکاتو وجې نه چې تیر شوی دی، تعین د ما مر کوي، ویل في حذف المسند الیه چې هغه احتراز د عبث نه یا تخییل الی اقوی الدلیلین، یا اختبار د تنبه د سامع، یا اختبار د مقدار د تنبیه د سامع، یا د ضیق المقام د وجې نه یا د فلانکي فلانکی د وجې نه الخ، دا تیر شوي دي، اوس دلته کې ماتن صرف په مثالونو باندې ور لګولی دی، مثالونه ذکر کوي، کقوله لکه دا قول د شاعر شو، او له مصرعه په متن کې نه وه نو هغه شارح ذکر کوي، ویل **ومن یك امسی بالمدینة رحله** ویل هغه څوك چې وو په مدینه کې کور د هغه رحل کور ته ویلی شي، نو د دې جزاء محذوف ده، دا فاني علت جزاء دی قائم دی په مقام د جزاء کې، فحسنت حاله وساءت حالي، ویل بنه دي حال د دې مَن او زما حال بد دی، او زما حال ځکه بد دی چې فاني وقیار بها لغریب ویل ځکه چې زه یم او که زما اسپه ده، یا اوښ دی، یا زما غلام دی، په دې مدینه کې مسافر دی، تشریح د دې الفاظ غریبه ؤ کوي **الرحل هو المنزل** کور ته وائي، والماوی ځای د اوسیدو ته وائي، نو تمبو ته هم شامل شو، **وقیار** باچې ګل ویل اسم جمل للشاعر، د شارع د اوښ نوم دی، او دا وروستو د دې مخکې سره لګوی، وقیل اسم فرس او ناکت ورسره لګولی چې وقیل اسم غلامه، درې قیلان شو تعین د شاعر کوي، شاعر ضامي بن الحارث دی، او دا تعین دی کذا في الصحاح امام جوهري په صحاح کې داسې ویلې دي، زه ناقل یم، نو الابلا برګردن جوهري وي، هغه داسې ویلي دي، زه خلاص یم، شبه راغله چې هلکه بیت نه مقصد یا مدحه وي یا ذم وي، مونږ ته پته رانغله چې د بیت نه مقصد مدحه شوه که ذم شو، نو شارح جواب وکړو چې ولفظ البیت خبر و معناه التحسر والتوجع افسوس دی او خپل درد بنکاره کول دي، په دې خبره چې مدینه کې زما کور نشته دی زه مسافر یم، فالمسند سره تطبیق کوي د مثال د ممثل سره، چې دلته کې مسند حذف شوی دی، دیته وائي دلیل لپاره د تطبیق د مثال مع الممثل، فالمسند الی قیار محذوف چې غریب دی، نو معنی دا شوه چې وقیار بها غریب لغریب او دا لغریب خبر شو مخکې د دې ان لپاره په فاني کې ویل نکته د حذف دا ده چې لقصد الاختصار یو والاحتراز عن العبث دوه، شبه یا هلکه عبث ځنګه راځي دا خو رکن د کلام دی، او رکن د کلام ذکر کولو سره خو عبث نه راځي، جواب یې وکړو چې بناء علی الظاهر چې هلکه حذف والي بناء په ظاهر دي چې قرینه شته دی، نو چې اوس قرینه شته، او ته خبر

ذکر کوي نو عبث راځي، او دریمه نکته دا ده چې مع ضیق المقام چې مقام تنګ دی بسبب التوجع په سبب د درمند کیدو د متکلم سره، درمند او خفه سړی اوږده خبره نه شي کولی هغه وائي چې یا هلکه یا مه تنګوه، او څلورمه نکته چې ومحافظة الوزن وزن شعري برابرولو لپاره حذف شوی دی، فا نو کلمات د مصرع ثاني زیاتیدل په دوله باندې، سائل راغلی سوال یې وکړو، معترض راغلی اعتراض یې وکړو چې ای هلکه دا قیار دي عطف شي په محل د اسم د ان باندې، او محل د اسم د ان رفع دی، مرفوع بناء بر ابتدائیت، او دا لغریب دي دواړو دي خبر شي، نو چې د دواړو نه شي نو حذف د بل خبر نه حاجت راغلی، نو شارح جواب وکړو چې ولا یجوز ان یکون قیار عطفاً معطوفا علی محل اسم ان وغریب خبرا عنهما او دا لا یجوز دی، ولا یجوز لپاره دلیل وائي، ویل څکه چې لامتناع العطف علی محل اسم ان ویل د وجې د امتناع د عطف د یو شي نه په محل د اسم ان باندې قبل مضی الخبر مخکې د تیریدو د خبر دان نه، تر څو پورې چې خبر د ان په دې معطوف باندې مخکې شوی نه وي، نو یوشی عطف په محل د اسم د ان باندې نه شي کیدای، ویل څکه چې بیا توارد د عاملینو راځي په معمول واحده باندې، چې ان او بل عامل معنوي، او دا مضی الخبر عام دی لفظاً وې، چې لفظ کې به مخکې وي، لکه ته ووائي چې ان زیدا قائم وعمرو او تقدیراً یا مضی د خبر تقدیراً به وي، د هغې مثال لکه ان زیداً وعمر خو دلته کې تقدیر کې قائم مخکې دی په عمرو باندې، اصل داسې دی چې ان زیداً قائم وعمرو وو، نو دلته مضی د خبر تقدیراً شو، معترض راغلی شبه یې وکړبوله، چې یا هلکه کوم وخت کې چې تا د قیار لپاره بل خبر محذوف وویستلو چې غریب دی، نو بیا خو قیار عطف په اسم د ان باندې دی کنه او معنی د خبر خو نشته دی، او که ته وائي لغریباً نو هغه خو وروستو دی، نو بیا هم عطف صحیح نه شو کنه، څکه عطف په اسم د ان باندې راځي، بې د مضی د خبر نه، نو دې جواب کوي چې هلته کې تیک ده لفظاً خبر خو وروستو دی خو تقدیر کې مخکې دی، نو اګر که عطف د یو شي په محل د اسم د ان راځي قبل مضی الخبر لفظاً، خو تقدیراً نه راځي، او ویل چشمې پورته کړه هلته ما لفظاً او تقدیراً دواړه ویلي دي، ویل واما اذا قدرنا له د دې قیار لپاره خبراً محذوفاً، چې بل غریب دی، فیجوز ان یکون هو دا قیار، عطفاً علی محل اسم ان، بیا عطف صحیح دی، لان الخبر چې غریب دی، مقدم دی تقدیراً، تقدیر کې دی مخکې دی فلا یکون مثل ان زیداً و عمرو ذاهبان د قبیلي نه، څکه چې ذاهبان د زید او عمرو دواړو لپاره خبر شو او خبر د ان مخکې د عمرو نه نۀ لفظاً شته دی، او نه تقدیراً، څکه تثنیه ده، نو دا صحیح نه دی توارد د عاملینو په معمول واحد باندې راځي بل یکون مثل ان زیداً وعمرو لذاهب د قبیلي نه به شي، چې د عمرو لپاره بل خبر محذوف اوباسه، تقدیر دا شو چې ان زیداً وعمرو ذاهب لذاهب، وهو جائز، څکه لذاهب اګر که په لفظ کې وروستو دی خو تقدیر کې مخکې دی، رتبه کې مخکې دی، ویجوز سره شارح دویم احتمال ذکر کوي، دا مخکې خو

يې ذکر کړو چې عطف د مفرد په مفرد باندې چې قيار عطف شي په محل د اسم ان باندې او د هغې هغه مسند عطف شي غريب، په لغريب باندې، چې خبر د ان دي، اوس ذکر کوي چې عطف د جملې په جملې باندې هم جائز دی، نو غرض د دې نه، دويم احتمال ذکر کوي، ويل ويجوز ان يکون دا قيار مبتداء. والمحذوف خبره، چې غريب دی، او دغه جمله والجملة باسرها عطف شي على جملة ان هې اسمها وخبرها باندې، اوس حاصل د کلام دا شو چې په دې شعر کې تول تال احتمالونه څلور دي دوه جائز دي. دوه نا جائز دي، جائز کې اول دا دی چې قيار مبتداء شي خبر ورله محذوف شي چې غريب دی. او دا عطف د جملې په دې اسم د ان او خبر باندې شي. او دا هم جائز دی چې قيار عطف شي په محل د اسم د ان باندې او هغه خبر محذوف د دې عطف شي په لغريب خبر د ان باندې، عطف د مفرد على المفرد شي. دا هم جائز شو. دوه ناروا دي، يو دا دی چې دا قيار ته عطف کړی په محل د اسم د ان باندې او لغريب د دواړو لپاره خبر ونګرځوی، دا ممنوع شو، دويم ممنوع دا دی چې دا مذکور لغريب خبر د قيار وګرځوي او د ان خبر محذوف را وباسي، دا هم ممنوع دی، ځکه لغريب کې لام تاکيديه ابتدائيه راغلی دی، او لام ابتدائيه تاکيد په خبر د ان کې راځي، بل مثال ښائي وکقوله شعر نحن بما عندنا وانت بما عندك راض والرای مختلف ويل مونږه په هغه اعتقاداتو او اعمالو، هغه افعالو سره چې مونږه سره دي، راضي يو. او ته بما په هغه اعتقادات، اعمالو، افعالو باندې چې تا سره دي، ته راضي نې، او رايې زمونږه مختلف ده، دا مثال مطابق د ممثل سره دی، فقوله نحن مبتدا. دی محذوف الخبر، چې راضون دي لما ذکر د وجې د هغه نکاتو نه چې مونږه ذکر کړل په مخکې کې. چې هغه څلور دي، ای: سره هغه خبر مقدره ته اشاره کوي ای نحن بما عندنا راضون اوس شبه راغله چې يا هلکه لما د وجې د هغه نکاتو نه چې مونږه په مخکې شعر کې ذکر کړي دي، نو بيا خو دي مثال ثاني کې څه فائده راغله، نو مستدرك شو، څه نوي فائده په کې راغله، نو شارح اشاره کوي هغه فائدي ته فالمحذوف ههنا خبر الاول چې د نحن خبر محذوف دی، بقرينة الثاني، چې انت لپاره خبر شته دی چې راض دی، **وفي البيت السابق بالعكس** خبر د ثاني قيار محذوف وو په قريني د اول سره چې ان دی، بل مثال ښائي دريم چې وقولك زيد منطلق وعمرو ای سره هغه خبر محذوف ته اشاره کوي چې هغه دا دی چې عمرو منطلق. فحذف للاحتراز عن العبث ځکه چې يو شی معطوف شی په بل باندې، او د معطوف عليه خبر وي، نو د هغه معطوف هم هغه خبر وي، معترض راغلی شبه يې وکړه چې يا هلکه د دې مثال ثالث د مثال اول او ثاني سره بيا فرق څه راغلی؟ که فرق وي څه دی؟ وايه، او که نه نوي نو استدراك لازم شو، نو جواب يې وکړو چې من غير ضيق المقام چې هلته کې يو نکته ضيق المقام وو، او دلته په کې دا نشته دی، څلورم مثال ښائي، چې وقولك خرجت فاذا زيد هغه يو غرض دا دی چې هغه خبر محذوفه ته اشاره کوي، چې هغه خبر د دې زيد لپاره دا دی، دويم اشاره

کوي تعدد د اخبارو ته، چې دلته کې خبرِ محذوف کې ډير احتمالات وي، **موجود**: ته هم ويلی شي، **حاضر**: هم ويلی شي، **واقف**: دريځ شو. او باللباب هم ويلی شي، **او ما اشبه ذلك**: لکه حاضر هم ويلی شي قلت ذلك قد ذكر بل كائن نو فحذف لما د وجې د هغه نکاتو نه مر چې مخکې تيرې شوي دي، يا هلکه چې د هغه نکاتو د وجې نه شو نو بيا دا مثال رابع مستدرك شو نو فرق خو بيا رانغلی؟ نو جواب يې وکړو چې مع اتباع الاستعمال ځکه چې عربو داسې دا اذا مفاجاتيه چې مستعملوله. نو هغې خبر حذف کولو، او مخکښينو کې دا نکته نشته دی، نو هغې سره په دې باندې فرق راغلی. اوس دا لان دليل دی د فحذف لما مر لپاره، اتباع الاستعمال لپاره دليل نه دی. هغه ما تاسو ته وويل، چې د اتباع الاستعمال دليل دا دی چې عرب اذا مفاجاتيه چې مستعملوي نو د دې اذا نه ما بعد مبتدا، وي لپاره د خبر محذوفه. لکه کافيه کې تاسو ويلي دي، او لما مر ولې؟ فحذف لما مر ولې؟ ويل **لان اذا المفاجاة تدل على مطلق الوجود** ځکه اذا مفاجاتيه وائي ديته چې لصوق شئ، بشئ لم يشعر احدهما بالاخر، يا ملاقات د يو شي بل شي سره چې نه وي خبر يو په بل باندې، ناسايې ورسره ملاقات وکړي، نو د دې سره لازم وجود دی، نو دلالت په مطلق وجود باندې کوي، معترض راغلی شبه يې وکړه چې هغه دا دلالت په مطلق وجود باندې کوي، نو بيا خو د دې خبر موجودة متعين شو کنه، او تا مخکې څلور خبرونو ويستلی دی، چې حاضر هم صحيح دی، واقف هم او باسباب هم صحيح دی، نو بيا خو په تعدد باندې قرينه نشته دی. قرائن تدل على نوع خصوصية په يو نوع د خصوصيت د خبر باندې کلفظ الخروج نو خروج د سړي د کور نه کيږي، او کور نه چې خارجيږي نو په ور باندې خارجيږي، ديوال باندې نه شي خارجيدی المشعر بان المراد فاذا زيد باللباب او حاضر او نحو ذلك چې واقف دی

پنځم مثال: وقوله شعر **ان محلا وان مرتحلا، وان في السفر اذا مضوا مهلا** ويل يقيناً زمونږه لپاره کوزيدل دي دنيا ته، خو دنيا دار الاقامة نه دی، او يقيناً بيا مونږ لپاره د دنيا نه کوچ کول دي، او يقيناً په مسافرينو کې چې کله دوی لاړ شي په سفر باندې، نو څو ورځې مهلت وي، نو څو ورځې په سفر کې تيروي، يا ډيرې ورځې يا کمې ورځې، هغه خبر محذوفه دا دی چې **اي ان لنا في الدنيا حلولا، ولنا عنها الى الاخرة ارتحالا** والمسافرون: چې مړي دي، چې قبر ته رسيدلي دي، چې د دنيا نه يې کوچ کړی دی، نو قبر ته رسيدلی دی، قد توغلوا في المضى يقيناً هغوی نژوتلی دي په تللو کې، يا دنيا ته نه راځي لا رجوع لهم د هغوی لپاره رجوع بيا دنيا ته خپل وطن ته بيا نشته دی، نو مختصر المعاني ثابته کړه چې ارواح دنيا ته نه راځي، په شريعت د علم المعاني کې هم دا ثابته شوه چې ارواح بيا کورونو ته نه حاضريږي، مړی د دنيا د حالاتو نه نه دی خبر. قران لاپريده مختصر المعاني نه ثابت شول، او قران، نو قران خو ډک دی، حضرت عزير سل کاله مړ وو، مائة عام او چې پائې سولو ورته يې ويل تا څومره درنګ تير کړی دی. ويل لښنا يوماً او بعض يوم او دي وائي چې مړي روح راغلی دی شابه ژر طالب

ته وظيفه ورکړه، هلکه هغه بيا دي فلش ته راځي؟ د دنيا مثال د دې نيکو خلکو لپاره د فلش دی، د ليتړين، هلته چې څوک قضاء حاجت وکړي، نو بيا هلته کيني نه چې خوشبوئي اخلي، او که بدبخت وي نو هغه هلته کې الله قيد کړی دی جيل خاني ته يې اچولی دی، چې حکومت تا جيل ته وغورځوي، بيا تا کور ته واپس پريدي؟ نو که نيک بخت وي نو هغه هلته کې مزو کې دی، هغه وائي زه بيا ليتړين ته نه ځم، او که بد بخت وي هغه هلته الله جيل ته غورځولی دی، د الله د جيل نه څوک يې نه شي خلاصولی، چې ته وائي ور کې ولاړ دی، يا رسول الله صلى الله عليه وسلم محراب کې ناست دی، نعوذبالله منها، هغه بيا دي ليتړين ته راغلی؟ اعلى الجنة کې دی، وحرام على قرية اهلكناها انهم اليهم لا يرجعون، وحرام... الخ، تطبيق د مثال د ممثل سره کوي، فحذف المسند، شبه يا هلكه مخکښې مثالونو کې هم حذف د مسند وو، نو که فرق وي نو څه دی؟ تفصيل يې وکړه، او که نه وي نو استدراك لازم شو، نو جواب يې وکړو چې الذي هغه ظرف شبه يا هلكه ظرف خو مخکې مثال کې هم وو کنه چې باللباب، هغه هم ظرف وو، جواب يې وکړو چې قطعاً، ويل هلته کې احتمالاً وو قطعاً نه وو، او حذفِ شو لقصد الاختصار والعدول الى اقوى الدليلين اعني العقل، **ولضيق المقام اعني المحافظة على الشعر، ولاتباع الاستعمال** څکه عربو قانون ايښی دی چې د ان خبر لنا دی، يعنې ضمير د متكلم مع الغير دی سره د لام نه، هغه به هميشه حذف کيږي، ويل **لاطراد الحذف في مثل ان مالاً وان ولداً** يعنې ان لنا مالاً وان لنا ولداً، تائيد لپاره ذکر کوي وقد ذكر سيبويه في كتابه لهذا د دې حذف د مسند لپاره باباً فقال هذا باب ان مالاً وان ولداً نو دا قانون کلي شو، شپږم مثال ښائي باچا ګله: ويل وقوله تعالى قل لو انتم تملكون خزائن رحمة ربي دا مثال مطابق د ممثل سره دی فقوله: انتم ليس بمبتداء، چې انتم مبتداء شي او تملكون ورله خبر شي، څکه نه دی لان لو څکه دا لو شرطيه انما تدخل على الفعل نو فعل خو ملفوظ نشته، نو پته ولګيده چې مقدر شته دی، بل هو ای انتم فاعل فعل محذوف، والاصل لو تملكون تملكون، نو که څوک شبه وکړي چې هلکه په دي سره خو په مفسر او مفسر کې جمع راغله، او جمع په مفسر ومفسر کې خو جائز نه ده، نو تاسو ووايئ چې دا جمع يې په اعتبار د مثال سره ويلې ده، فرضاً حقيقة داسې نه **فحذف الفعل اى الفعل الاول وهو تملكون، احترازاً عن العبث لوجود المفسر** چې دا وروستو تملكون دی، خو دا مفسر چې ګرځي نو د حذف نه وروستو ګرځي، او د حذف نه مخکې دا مفسر نه وو، نو دا ما تاسو ته دويم جواب وکړو، چې کوم چې مفسر وو نو هلته کې جمع نه ده راغلي، او کوم ځای کې چې جمع ده نو هلته کې مفسر نشته دی، څکه چې تا ذکر کړو نو دويم تملكون مفسر ورله نه وو، تاکيد وو، او اوس تملكون اول چې تا حذف کړو نو اوس دا مفسر دا دويم شو خو اوس جمع نشته دی، نو اوس تملكون اول حذف شو، نو قانون دا دی چې د ضمير متصل عامل حذف شو، نو ضمير متصل بدليږي ضمير منفصل باندې، نو وائي ثم ابدل من الضمير المتصل، الضمير المنفصل چې

انتم دی **علی ما هو القانون عند حذف العامل**، شبه یا هلکه د دې مثال د مخکښینو سره څه فرق دی؟ که نه وي نو مستدرك شو او که وي نو څه دی، نو ده جواب وکړو چې فالمسند المحذوف ههنا فعل، شبه یا هلکه مخکښني کې هم فعل وو کنه. ځکه لنا متعلق ثبت پورې دی، او ثبت فعل دی، جواب کوي چې **وفیما سبق اسم او جملة** هلته کې احتمال وو. که د کوفیانو په مذهب باندې ځي نو بیا اسم دی، او که د بصریانو په مذهب باندې ځي نو ثبت جمله دی. اووم مثال ذکر کوي وقوله تعالی فصبر جمیل، یحتمل الامرین تعیین د امرینو کوي چې حذف د مسند او مسندالیه دواړه جائز دي، حذف المسند والمسند الیه، نو که حذف د مسند اوشي نو تقدیر به راشي چې فصبر جمیل، اجمل. او که مسندالیه شي نو امري فصبر جمیل، شبه یا هلکه د دې مثال فرق د دې شپږم مثال سره څه شی شو؟ که نه وي نو بیا مستدرك شو، احتمالین راغلل، داسې چې بامکان حمل الکلام علی کل من المعنیین چې حذف د مسند او مسندالیه دی بخلاف ما لو ذکر فانه یکون نصاً في احدهما ځکه چې ذکر کوي، نو یا به مسند ذکر کوي او یا به مسندالیه ذکر کوي، دواړه خو نه شي ذکر کولی، اوس د دې نه وروستو دی ماتن قرینه ذکر کوي، وائي ولابد للحذف من قرینة ستاسو کتابونو کې للمحذوف نه دی؟ قال الطلبة الحذف دی، قال الشیخ دا هم جائز دی، د حذف لپاره قرینه په کار ده، داسې قرینه، اثر د قریني به دا وي چې دالة علیه چې دا قرینه به دال وي په دي محذوف باندې، اثر مرتبه د دې قریني به دا وي چې دال به وي په دې محذوف باندې، متن لپاره دلیل وائي لیفهم المعنی ځکه چې قرینه نه وي، نو بیا فهم د حذف د مسند ته نه شي کولی، نو قریني سره فهم د معنی د مسند به اوشي، هغه قرینه به دا وي کوقوع الکلام واقع کیدل د هغه کلام شو چې په هغې کې حذف د مسند شوی دی، دا کلام واقع شوی وي جواباً لسؤال خپله سوال محقق وي لکه په ایت کریمه کې او وروستو راځي چې او مقدر لکه په شعر اتیه کې د محقق مثال داسې شو چې لکه نحو ولئن سالتهم من خلق السماوات والارض؟ لیقولن الله نو الله مسندالیه فاعل دی، او د دې مسند محذوف دی، هغې ته اشاره وکړه شارح، ای خلقهن الله نو مسند محذوف شو، نو فحذف المسند، قرینه پرې دا ده چې لان هذا الکلام چې لیقولن الله دی، عند تحقق ما فرض من الشرط، دي ځای کې شارح خطاء شوی دی، داسې خطاء شوی دی، شارح دفع د اعتراض کړې ده او هغه اعتراض په ماتن باندې د سره واړیدلو نه، اعتراض د خپل ځان نه شارح په ماتن باندې داسې وارد کړی دی، چې یا هلکه دا مثال خو مطابق د ممثل سره نه شو، ځکه چې ممثل سوال محقق وو، نو شارح د محقق نه مراد قطعي یقیني اخیستی دی، او مثال کې یې ولئن سالتهم ویلی دی، او ان په شرط مشکوکه مستعملیږي نه په مقطوعه کې، نو شارح ځان له دا اعتراض سوال جوړ کړي دی، او بیا یې جواب کړی دی، دا سوال د شارح هم د ځان نه شو او جواب هم د ځان نه شو، شارح جواب داسې وکړو، چې هلکه ټیك ده دا سوال مشکوك دی په اِن سره دی، خو کوم وخت کې چې

دا فرض کړی شي محقق، نو په دغه وخت کې دا سوال د محقق نه کیږي، اګر که بالفعل دا اوس مشکوك دی محقق نه دی، لیکن که مونږ د دې اِن په ځای باندې اذا ذکر کړو، یا دا مونږ محقق فرض کړو نو په دغه وخت کې مثال مطابق د ممثل سره دی، نو ویل مثال موافق شو، خو شارح په دې سوال کې هم خطاء شوی دی، شارح سوال په کښ په شرحي کې نه دی کړی، خو شارح جواب کړی دی، او د هغه سائل مطلب شارح ښودلی دی، خو دا سائل خطاء دی او شارح په دې جواب کې هم خطاء دی، ځکه چې د ماتن مراد د محقق نه قطعي نه دی، د محقق نه مراد ملفوظ دی، چې دغه سوال به ملفوظ وي، قرینه پرې وروستو او مقدر دی، نو محقق نه مراد ملفوظ دی، او دلته کې دا **ولئن سالتهم** سوال هم ملفوظ دی، نو شارح په دې جواب کې خطاء شو ولو کان من عند غیر الله لوجدوا فیه اختلافاً کثیراً انسان دې خطاء کیږي، چې خطاء شو نو خطاء شو، د امام شافعي رحمة الله علیه یو کتاب وو اوسط نومیدو، هغه یې ځلویښت ځله نظر ثاني کړی وو، او هر واري یې ترینه غلطي ویستله، اخر کې یې وویل، چې:

ابي الله عن التصحیح غیر کتابه وکل کتاب غیره ضل قائله

د غلطی تغیر تبدیل نه پاك صرف د الله کتاب دی، نو شارح هم خطاء شو، نو ـــ من الشرط والجزاء یکون جواباً عن سوال محقق، والدلیل سره دفع د اعتراض کوي شارح، اعتراض پرې دا وارد شو چې یا هلکه ستا لپاره څه دلیل دی چې الله مسندالیه دی، او مسند ورله محذوف دی، جائز ده چې دا الله دي مسندالیه مبتداء وي او مسند خبر دي ورله وروستو وي کنه، نو تا له څه دلیل دی چې الله مسندالیه فاعل دی، او د دې مسند محذوف دی؟ نو دي راځي دلیل وائي چې **والدلیل علی ان المرفوع** چې لفظ الله دی فاعل، والمحذوف فعله، دلیل پرې دا دی چې عند عدم الجذف لذلك بعضې ځایونو د قران کې حذف نه دی شوی، هلته کې دغسې راغلی دی، نو دلته کې به هم مونږ په هغې باندې حمل کوو، لکه په دې قول د الله کې کقوله تعالی لئن سالتهم من خلق السموات والارض؟ لیقولن خلقهن العزیز العلیم نو العزیز العلیم فاعل د خلقهن دی، او مبتداء نه ده، بل ځای کې لکه **کقوله تعالی: قال من یحیي العظام وهي رمیم، قل یحیها الذي انشاها**، نو الذي فاعل لپاره د یحیها دی، او مبتداء مسندالیه نه دی، او مقدر: یا هلکه دا او خو عاطفه دی، د دې معطوف علیه څوك دی؟ نو تعین د معطوف علیه کوي، وائي عطف یا عُطِفَ، علی محقق، تعیین د شاعر کوي چې دا ضرار بن نهشل غرض د شاعر دا دی چې في مرثیة یزید بن نهشل، د خپل ورور په غم خورئ کې یې دا شعر ویلی دی، ویل لِیُبك یزید نو دا صیغه د مجهول په لیبك کې منشا لپاره د تردد ده، او تردد منشا لپاره د سوال ده، نو د دې نه سوال پیدا شو چې کانه قیل من یبکیه چې په دې باندې دي څوك ژړا کوي؟ نو سوال شو خو دا سوال مقدر شو، محقق نه شو، او منشاء ورله صیغه د مجهول شوه... الخ، ویل سوال دا راغلی، فقال ضارع ای کې هغه مسند محذوفه ته اشاره کوي، ای یبکیه ضارع شبه هلکه ضارع خو هغه پئ رودونکي ته

دا فرض کړی شي محقق، نو په دغه وخت کې دا سوال د محقق نه کیږي، اګر که بالفعل دا اوس مشکوك دی محقق نه دی، لیکن که مونږ د دې اِن په ځای باندې اذا ذکر کړو، یا دا مونږ محقق فرض کړو نو په دغه وخت کې مثال مطابق د ممثل سره دی، نو ویل مثال موافق شو، خو شارح په دې سوال کې هم خطاء شوی دی، شارح سوال په کښ په شرحي کې نه دی کړی، خو شارح جواب کړی دی، او د هغه سائل مطلب شارح ښودلی دی، خو دا سائل خطاء دی او شارح په دې جواب کې هم خطاء دی، ځکه چې د ماتن مراد د محقق نه قطعي نه دی، د محقق نه مراد ملفوظ دی، چې دغه سوال به ملفوظ وي، قرینه پرې وروستو او مقدر دی، نو محقق نه مراد ملفوظ دی، او دلته کې دا **ولئن سالتهم** سوال هم ملفوظ دی، نو شارح په دې جواب کې خطاء شو ولو کان من عند غیر الله لوجدوا فیه اختلافاً کثیراً انسان دې خطاء کیږي، چې خطاء شو نو خطاء شو، د امام شافعي رحمة الله علیه یو کتاب وو اوسط نومیدو، هغه یې ځلویښت ځله نظر ثاني کړی وو، او هر واري یې ترینه غلطي ویستله، اخر کې یې وویل، چې:

ابي الله عن التصحیح غیر کتابه وکل کتاب غیره ضل قائله

د غلطی تغیر تبدیل نه پاك صرف د الله کتاب دی، نو شارح هم خطاء شو، نو ـــ من الشرط والجزاء یکون جواباً عن سوال محقق، والدلیل سره دفع د اعتراض کوي شارح، اعتراض پرې دا وارد شو چې یا هلکه ستا لپاره څه دلیل دی چې الله مسندالیه دی، او مسند ورله محذوف دی، جائز ده چې دا الله دي مسندالیه مبتداء وي او مسند خبر دي ورله وروستو وي کنه، نو تا له څه دلیل دی چې الله مسندالیه فاعل دی، او د دې مسند محذوف دی؟ نو دي راځي دلیل وائي چې **والدلیل علی ان المرفوع** چې لفظ الله دی فاعل، والمحذوف فعله، دلیل پرې دا دی چې عند عدم الجذف لذلك بعضې ځایونو د قران کې حذف نه دی شوی، هلته کې دغسې راغلی دی، نو دلته کې به هم مونږ په هغې باندې حمل کوو، لکه په دې قول د الله کې کقوله تعالی لئن سالتهم من خلق السموات والارض؟ لیقولن خلقهن العزیز العلیم نو العزیز العلیم فاعل د خلقهن دی، او مبتداء نه ده، بل ځای کې لکه **کقوله تعالی: قال من یحیي العظام وهي رمیم، قل یحیها الذي انشاها**، نو الذي فاعل لپاره د یحیها دی، او مبتداء مسندالیه نه دی، او مقدر: یا هلکه دا او خو عاطفه دی، د دې معطوف علیه څوك دی؟ نو تعین د معطوف علیه کوي، وائي عطف یا عُطِفَ، علی محقق، تعیین د شاعر کوي چې دا ضرار بن نهشل غرض د شاعر دا دی چې في مرثیة یزید بن نهشل، د خپل ورور په غم خورئ کې یې دا شعر ویلی دی، ویل لِیُبك یزید نو دا صیغه د مجهول په لیبك کې منشا لپاره د تردد ده، او تردد منشا لپاره د سوال ده، نو د دې نه سوال پیدا شو چې کانه قیل من یبکیه چې په دې باندې دي څوك ژړا کوي؟ نو سوال شو خو دا سوال مقدر شو، محقق نه شو، او منشاء ورله صیغه د مجهول شوه... الخ، ویل سوال دا راغلی، فقال ضارع ای کې هغه مسند محذوفه ته اشاره کوي، ای یبکیه ضارع شبه هلکه ضارع خو هغه پئ رودونکي ته

وائي د مور نه؟ نو هغه په يزيد باندې ولې ژاړي هغه څه پوهيږي چې يزيد مړ شوی دی که نه؟ جواب يې وکړو چې دلته کې ذليل مراد دی، پې رودونکی نه دی مراد، او دارنګه تفسير د غير مشهور په مشهور سره يې وکړه، ای لخصومة د وجې د جګړه کوونکي د جګړې نه، خکه د دې ضارع سره به اوس خلک جګړې کوي، او جګړې به خکه کوي چې لاته څکه چې دا يزيد کان ملجأ للاذلاء وعوناً للضعفاء، **وتمامه**: ويل تمام د دې شعر دا دی، ماتن نه وو ذکر کړی چې ع **ومختبط مما تطيح الطوائح** اوس تفسير د غير مشهور په مشهور سره کوي، او بل مختبط خو جامو ګنډونکي ته هم وائي، نو درزي دي ژاړي؟ درزي دې ولې ژاړي؟ او نور خلک دې نه ژاړي؟ جواب کوي والمختبط الذي ياتيك للمعروف، ای لطلب الاحسان، من غير وسيلة، چې ما سره څه نشته دی ماسره امدا وکړه، نو معنی دا شوه چې ژاړي دي هغه سائل بلا وسيله، شبه يا هلکه د تطيح مصدر اطاحة دی، دا شبهي ته اشاره کوي والطوائح جمع الخ، جواب ددی شبهي داسې کوي چې والاطاحة چې مصدر تطيح دی، الاذهاب والاهلاك ته وائي او الطوائح جمع د طائحة ده، په معنی د هالکة سره، نو الطوائح معنی الهالکين شوه، نو ترجمه دا شوه چې ژاړي دي هغه سائل بلا وسيلې له وجې دا هلاك د هالکينو نه، او هالکين خو اهلاك نه شي کولی؟ هلاك کيدونکي اهلاك نه شي کولی، هغه په خپله هلاکيدونکی دی هغه د بل سړي اهلاك نه شي کولی، نو شارح جواب وکړو چې هلکه الطوائح جمع د طائحة نه ده، **والطوايح جمع مطيحة** دی، نو مطيحة په معنی د مُهلکة سره شوه، نو طوائح بمعنی د مهلکانو سره شوه، او مهلکات هلاك کولی شي، نو معنی دا شوه چې د وجې دا هلاك د مهلکاتو نه، نو اوس ترجمه صحيح شوه، معترض راغلی شبه يې وګڼوله، چې هلکه فواعل خو چيرته جمع د مفعلة نه ده راغلي، فواعل خو جمع د فاعلة راځي، او د مُفعلة خو مونږ چيرته نه ده ليدلي، بلکه مُفعلة هم چيرته نشته دی، جواب وکړو شارح علی غير القياس، چې دا خلاف القياس جمع شوي ده، موافق القياس خو فاعلة راځي، طائحة راځي، او د دې نظير شته دی کلواقح، ويل قران کې دي، لواقح خو جمع د لاقحة په کار ده، خو د لاقحة ترجمه نه صحيح کيږي، اوس چې ته ووائي چې وارسلنا الرياح لواقح مونږ راليږو بادونه پورته کيدونکي، لازمي معنی شوه چې د لاقحة جمع شي دا ترجمه نه ده صحيح، ځکه د الله مطلب خو دا نه دی چې مونږ بادونه پورته کيدونکي راليږو، نه نه مونږ بادونه راليږو وريځ پورته کوونکي، وريځ د يو موطن ته نه بل موطن ته پورته کوي، نو هغه معنی نه صحيح کيږي، نو لواقح به جمع د ملقحة وائي، نو د دې لپاره نظير شو، نو وائي کلواقح جمع ملقحة ومما: ترکيب کوي، چې مما په مختبط مما کې متعلق بمختبط وما مصدرية، او الطوائح فاعل د تطيح شو، مفعول محذوف دی، نو تقدير دا شو ای سائل ژاړي دي هغه غوښتونکي يسئل او سوال څکه کوي من اجل اذهاب الوقائع حاله، د وجې د ورلو د حوادثو نه چې موت د يزيد دی، مال د ده لره، حوادث راغلل او دده هغه

ټول مال يې ختم کړو، نووقائع دا يې ترجمه د طوائح وکړه، او ماله مفعول محذوف شو، دويمه توجيه کوي چې او مما متعلق دی يبکي المقدر، يبکي مقدر يو دی، نو بيا تقدير دا شو ای يبکي هذا السائل والمختبط. **لاجل اذهاب المنايا يزيد مفعول المنايا** شو او د يزيد مرګ خو يو دی درې څلور مرګونه خو نه دي. د يزيد خو اسباب د مرګ ډير وو نو د دې وجې نه المنايا يې جمع ذکر کړه، قلت المنايا تعبير عن الوقائع والطوائح، وهو فاعل لامفعول والمفعول يزيد فافهم وتطيح سره دفع د اعتراض کوي، اعتراض داسې وارد شو، چې يا هلکه تطيح خو مضارع ده مستقبل، د دې معنی دا شوه چې ژاړي دي ضارع او مختبط، ځکه دي ژاړي چې وروستو چيرته وقائع را روان دي او د ده مال هلاکوي، وروستو چيرته مرګونه راځي او يزيد مړ کوي، نو دی دي اوس ژاړي، نو دا خو ليونی سړی وي، نو شارح جواب وکړو چې **وتطيح على التقديرين بمعنى الماضي** چې مما متعلق شي په مختبط پورې او که په يبکي مقدر پورې تطيح په معنی د ماضي سره ده، د مرګ د يزيد او د اذهاب د وقائع نه مال د ده، د ده مخکې مراد دی، وروستو نه، معترض شبه وکړه چې هر کله په معنی د ماضي سره شو نو بيا يې تعبير په ماضي سره ولې کړی دی؟ جواب ويل دا د حکاية الحال نه دی، هغه زمانه د ماضي فرض کوي متکلم، شاعر اوس په معنی د تکلم کې، نو وائي وعُدل اليه مستقبل ته استحضارا لصورة ذلك الامر الهائل او په حال باندې دلالت مستقبل مضارع کوي ماضي نه کوي نو ځکه يې تعبير په تطيح سره وکړو، د حکاية الحال لپاره، نو دا د وکلبهم باسط ذراعيه بالوصيد د قبيلي نه شو، اوس دومره قدر ته خبره پاتې شوه چې الطوائح فاعل دی د تطيح لپاره، نو فاعل مفيد لپاره د فائدي جديدي خو نه شو، حکه معنی دا شوه چې د وجې د اهلاك د مهلکاتو نه، نو تطيح نه خو هم اهلاك فهميږي کنه، اهلاك مهلکات کوي، نو فاعل مفيد د فائدي جديدي نه شو، جواب نو تاسو وايئ دلته کې صفت محذوف دی **لاهلاك المهلكات العظيمة**.

ماتن وويل **وفضله**: په دې سره د دې مخکې ترکيب او توجيه غوره والي بيانوي چې دا ليبك صيغه مجهول شي، او يزيد نائب فاعل شي دا غوره دی، د دې نه چې ليبك صيغه معلوم شي او يزيد مفعول مقدم شي او ضارع فاعل مؤخر شي، نو وائي وفضله شارح ورسره لګوي ای رجحان دي کې يې اشاره وکړه تفسير د فضل ته، ځکه چې فضل زيادة ته هم وائي، او فضل رجحان ته هم وائي، دارنګه فضل په معنی د انعام الله، نعمت الله سره هم دی، نو دلته کې فضل په څه معنی سره دی؟ ويل فضل په معنی د غوره والي سره دی، د زيادة په معنی سره نه دی، احسان الله، نعمت الله نه دی مراد، نحو ليبك يزيد ضارع دې کې يې تعيين د مرجع ته اشاره وکړه چې غوره والی د چا؟ چې د ليبك يزيد غوره والی مراد دی، شبه يا هلکه ليبك او ليبك کې تجنيس خطي وو، نو پته رانغله چې د ليبك يزيد ضارع غوره والی؟ ويل نه مبنياً للمفعول، يعني په حال کون د دې ليبك کې چې مبني للمفعول واخلي، غوره والی

على خلافه، يعني سره بيان د خلاف کوي، او بيان د خلاف څکه کوي چې خلاف د ليبك يزيد ضارع نفي هم دی، څکه دا کلام موجب دی، او مخالف د کلام موجب نفي، سلب وي، نو يعني سره تفسير کوي چې د دې مخالف نه مراد يعني ليبك يزيد ضارع په حال کون د دې کې چې مبني للفاعل يې واخلي ناصبا ليزيد و رافعاً للضارع نو خلاف نه مراد نفي او سلب نه شو، خلاف نه مراد معلوم شو، څکه دا مخکې مجهول شو، نو د هغې خلاف، دلته کې معلوم مراد دی، په وجوه ثلاثه ؤ سره دلته کې ماتن ذکر کوي، يو بتکرر الاسناد داسې تکرر د اسناد چې بان أجمل اولاً اجمالاً چې اجمال وکړی شي د دې اسناد په اجمال سره **ثم فصل تفصيلا** شبه يا هلکه دلته کې اجمال څنګه راغلی او تفصيل څنګه راغلی، نو شارح دليل وائي متن لپاره چې واما التفصيل فظاهر چې هلکه د ليُبك يزيد نه د باکي پته نه وه لګيدلي او د ضارع سره پته ولګيده چې باکي ضارع دی، وان الاجمال داسې **راغلی فانه ای الشان لما قيل ليبك يزيد علِمَ** ان هناك باكياً، چې هغه لپاره يعني هغه باکي لپاره مسند اليه يزيد باکي نه شي کيدای لان المسند الى المفعول لابدل له من فاعل محذوف هسې مفعول اقيم هو مقامه دا اقيم ښکته د مفعول صفت کوي، هسې مفعول چې قائم شوی وي په مقام د دغه فاعل کې، نو اوس د مخکې نه د باکي پته رانغله، نو تا وويل ضارع، نو دا مخکې اجمال شو، ولاشك دا تتمه د دليل کوي، بان التكرر چې يو شی متكرر شي هغه اوکد واقوی به وي، **اووان الاجمال ثم التفصيل اوقع في النفس** دريمه وجه دا ده چې وبوقوع نحو يزيد، او بل د وجې د واقع کيدو د نحو د يزيد، په نحو لفظ زيادة کې يې اشاره وکړه چې دلته کې يزيد دی او د دې نحو مثل چيرته بل ځای کې راشي نو هلته مجهول راشي نو هلته کې به دا وجه وي، غير فضلة په صورت د فضلی باندې به نه وي، په معنی کې خو دواړه فضله دي، ليکن کوم وخت کې چې معلوم صيغه شي نو يزيد په صورت کې هم فضله شي، لکه څنګه چې په معنی کې فضله دی، او چې صيغه د مجهول شي نو يزيد به په لفظ کې عمده شي، او صرف په معنی کې فضله به وي، ويل لکونه مسند اليه لامفعولاً كما في خلافه خلاف کې لفظاً او معناً فضله جوړيږي، او په مجهول کې لفظاً عمده شو اګر که په معنی کې فضله دی، دريمه وجه دا ده چې ويكون معرفة الفاعل كحصول نعمة غير مترقبة غير مترقبه يې په معنی کې صفت جوړ کړو، او دا څکه **لان اول الكلام غير مطمع في ذكره** نه دی طمع کړی شوی په ذکر د دې فاعل کې، غير مطمع څکه دی **لاسناد الفعل الى المفعول** ته کنه، تا وويل چې ژړا دي وکړی شي په يزيد باندې، نو کلام تام شو، سامع تا نه څه نه غواړي، هغه وائي چې فاعل حذف کړی شوی دی، او ليبك مسند دی او يزيد نائب فاعل دی، مسند اليه دی، اوس تا ضارع ذکر کړو، نو دا حصول د نعمت غير مترقبه شو **لاسناد الفعل الى المفعول و تمام الكلام به، بخلاف ما اذا بنى للفاعل** تا وويل ليبك يزيد، نو سامع تا نه غواړي چې فاعل ذکر کړه، **فانه**: څکه دا سامع مطمع في ذكر الفاعل اذ لابد للفعل من شئ يسند هو اليه.

واما ذكره: تعيين د مرجع كوي، اى ذكر المسند فلما پس د هغه نكاتو نه مر چې تير شوي دي في ذكر المسند اليه چې من كونه الاصل، معترض شبه وكړه چې بيا كوم نكات چې د خلاف د مسند دي، نو هغه خو بيا باطل شو، نو جواب يې وكړو چې دا ذكر اصل دى خو مطلقاً نه مع عدم المقتضى للعدول عنه اى عن الاصل، نو كه اوس نكته د خلاف راشي نو بيا به حذف كيږي، او بل ما مر دا دى چې من الاحتياط چې ذكر د مسند كيږي لپاره د احتياط كولو، دا احتياط څكه كوي لضعف التعويل على القرينة د وجې د ضعف د اعتماد د متكلم نه په قرينه باندې، څكه متكلم وائي چې دا قرينه دومره ضعيفه ده چې د دې سره سامع هغه مسند محذوفه نه شي معلومولى، لكه مثل خلقهن العزيز العليم دومره غبي يې تا تر اوسه پورې خپل پيغمبر نه دى پيژندلى، نو محمد نبينا **صلى الله عليه وسلم**، **وغير ذلك**: لكه تهديد شو، ترحم شو، او اورول د دغه مسند شو غير سائلينو ته، او لاجل اوس بعضې نكات د ذكر د مسند لپاره مستقل دي، د ذكر د مسند اليه لپاره چې كوم نكات وو، د هغې نه علاوه دي، نو هغه دلته كې ذكر كوي، **او لاجل**: يا ذكر د مسند اليه كولى شي د وجې د دې نه چې: **ان يتعين بذكر المسند كونه اسما**، چې دا مسند اسم دى، يا هلكه اسم شو نو اثر مرتبه پرې څه مرتب شو؟ ويل فيفيد الثبوت نو دې به ثبوت او دوام فائده كړي، څكه جمله اسميه دلالت كوي په دوام، او فعلاً: شبه يا هلكه مسند تا فعل ذكر كړو نو په دې به څه اثر مرتب كيږي؟ فيفيد التجدد، واما افراده اوس افراد د ډيرو څيزونو په مقابله كې راځي، افراد مقابل د تثنيه او جمع كې هم راځي، افراد په مقابل د مركب كې هم راځي، او افراد مقابل د مضاف او شبه مضاف هم راځي، او افراد مقابل د جملې او د كلام هم راځي، نو دلته كې افراد نه څه مراد شو؟ دى وائي دلته كې افراد نه مراد مقابل د جمعي دى، **اى جعل المسند غير جملة** نو چې دلته كې افراد مقابل د جملې شي نو مركب اضافي، مركب توصيفي په افراد كې داخل پاتې شو فلكونه غير سببي څكه دا مسند غير سببي وي او مع عدم افادة تقوى الحكم سره د عدم فائدې كولو د تقويت د اسناد نه، حكم نه مراد اسناد دى، اذ لو كان سره غرض يو د شارح دا دى چې دليل وائي متن لپاره، چې دا غير سلبي كيدل ولې علت شو د افراد، دا عدم افادة تقوى الحكم ولې علت شو لپاره د فراد؟ نو تطبيق ذكر كوي د دې دليل د مدعى سره، دويم غرض د شارح دا دى چې دفع د اعتراض كوي د ماتن نه، اعتراض دا وارد شو، چې يا هلكه دلته كې تا مع ولې وويل، ماتن دغسې ولې نه ويل چې فلكونه غير سببي، عدم افادة تقوى الحكم، دا مع يې ولې زيات كړو؟ نو شارح راغلى اذ لوكان سره جواب كوي، چې دا دواړه مجموعه علت لپاره د افراد دى، د دې وجې نه ما په كې مع ذكر كړو، او ما او عدم افادة، ونه ويل، دريم غرض د شارح دا دي چې اشاره كوي ديته چې د افراد

لپاره دا مجموعه یو سبب دی، او د جملي لپاره هر یو مستقبل سبب دی، یعني افراد لپاره د غیر سببي والي او عدم افادة تقوی الحکم مجموعه یو سبب دی، او د جملي لپاره سببي خان له مستقل سبب دی، او افادة تقوی الحکم خان له مستقل سبب دی، نو وائي اذ لوکان سبباً د غیر سببي نه شي بلکې سببي شي، نو دا مستقل سبب د جملي لپاره دی، لکه نحو زید قام ابوه، نو دا زید قام ابوه، مسند سببي دی بل قام ابوه وروستو تفصیل راځي، نو دا مسند دلته جمله شو، د سببي کیدو د وجې نه، او مفیداً للتقوی، او دارنګه افادة د تقوی، دا خان له مستقل سبب دی، لکه نحو زید قام فهو جملة قطعاً، نو د افراد لپاره دا غیر سبب او عدم افاده، مجموعه یو سبب شو، او د دې مخالف چې هغه سببي دی، او افاده د تقوی الحکم هغه د جملي لپاره هر یو مستقل سبب شو، واما نحو زید قائم د دې سره شارح دفع د اعتراض کوي، چې یا هلکه دا قاعده ستا منقوضه شوه په زید قائم کې، دلته په زید قائم کې افادة د تقویت دحکم راغلي ده، او مسند جمله نه ده، بلکه مفرد دی، افاده د تقویت د حکم داسې راغلي ده، چې قائم کې اسناد یو خله ضمیر ته وشو او بیا مجموعه مسند وشو زید ته، نو تکرر د اسناد راغلی، تقویت د حکم راغلی، او جمله خو نه ده؟ نو دي جواب کوي واما نحو زید قائم فلیس بمفید للتقوی خکه مخکې تیر شوي دي چې دا مفید لپاره د تقوی نه دی بل قریب عن زید قام في ذلك ای في افادة تقوی الحکم، او عین تقویت په دي کې نشته، وقوله سره دوه شبهي دفع کوي، یو شبه دا چې ای هلکه زه به درته بنائیم، چې افادة د تقویت د حکم به راغلی وي او مسند به جمله نه وي بلکه مفرد به وي، کله عرفتُ عرفتُ کې، دلته کې افاده د تقویت دحکم راغلي ده، او مسند مفرد دی، دارنګه ان زیداً عارف کې افادة دتقویت د حکم راغلي ده، ان سره او حالانکه دلته کې مسند مفرد دی جمله نه ده، نو دي دوه جوابونه کوي، یو جواب دلته کې قوله سره کوي، او دویم جواب وروستو او نقول سره کوي صـ۱۳۶ ابتداء نه نو وائي چې وقوله او دا قول د ماتن چې مع عدم افادة التقوی معناه، مع عدم افادة نفس الترکیب تقوی الحکم علت دا دی، چې افاده د نفس ترکیب تقوی الحکم ونه کړه نو دا علت لپاره د افراد دی، نو فیخرج ما یفید التقوی بحسب التکریر نحو عرفت عرفت، دلته کې تقویت د حکم راغلی دی خو په اعتبار د تاکید لفظي سره راغلی دی، نفس ترکیب کې افاده نشته دی، او بحرف التاکید نحو ان زیداً عارف کې، نو دلته کې عدم افادة دتقویت الحکم نه ده راغلي، نو د دې د وجې نه مفرد شو، جمله نه شو، او نقول سره دویم جواب کوي، او نقول په جواب کې چې ان تقوی الحکم في الاصطلاح په اصطلاح د علم معانیو والو کې څه ته وائي؟ دیته وائي چې هو تاکیده هغه تاکید د دې حکم دی بالطریق المخصوص نحو زید قام کې، دي کې طریقه مخصوصه دا ده چې قام کې اول اسناد وشو ضمیر ته چې راجع دی زید ته او بیا مجموعه مسند شو زید ته، دا تقویت دحکم مراد دی، په دې طریقې سره او په عرفت عرفت کې دا نشته دی، دارنګه په ان

زيداً عارف كې دا نشته دی، فان قلت سره اوس ښکاره شبه کوي او بيا وروستو د منعي نه جوار بلکه دوه جوابونه کوي، ويل که ته وائي په اعتراض کې چې زه به تا ته وښايم چې المسند قد يكون غير سببي يو مسند به وي هغه غير سببي به وي، ولامفيداً للتقوى او مفيد د تقويت لپاره به هم نه وي، نو په کار دا ده چې هغه علت د افراد راغلی، ومع هذا لايكون مفرداً او سره د دې نه به بيا هغه مسند نه وي، لکه کقولنا انا سعيت في حاجتك، ورجل جاءني کې او ما انا قلت هذا کې، عند قصد التخصيص، چې کوم وخت کې تا قصد د تخصيص وکړو، نو دلته کې ګوره مسند غير سببي دی، او مفيد د تقويت دحکم هم نه دی، او مفرد نه دی بلکه جمله ده، د دې نه شارح دوه جوابونه کوي، اول جواب منفي کوي او ولو سلم نه جواب تسليمي کوي، نو وائي قلت سلمنا ان ليس القصد في هذه الصور الثلثة الى التقوى، بلکه قصد تخصيص ته دی لکن لانسلم انها لاتفيد التقوى تقويت په کې راغلی دی، مخکې يې تاسو ته ويلي دي چې فرق بين ان يكون الشئ حاصلاً من الشئ وبين كون الشئ مفهوماً تبعاً نو تقويت اګر که حاصل قصداً نه دی خو تبعاً ترې نه فهم کيږي ضرورة حصول تكرر الاسناد الموجب للتقوى خو دلته کې کوم چې علت لپاره د افراد وو هغه نه وو راغلي، نو ځکه مفرد نه شو، جمله نه شوه، ځکه علت د افرادو لپاره مجموعه وو، او هغه مجموعه نه دی راغلی، ولو سلم سره دويم جواب کوي تسليمي، چې ګوره دا غير سببي والی او عدم افادة د تقويت دا د افراد لپاره علت نه دی، دا شرط دی، او تخلف په ما بين د علت او معلول کې ناروا دی، او تخلف په شرط او مشروط کې جائز دی، شرط به وي او مشروط به نه وي، نو دا شبه به تا هله کړي وي چې دا غير سببي او عدم افادة تقوى الحكم ما علت وئيلی وي د افراد لپاره، دا علت نه دی بلکه شرط دی، نو وائي ولو سلم چې قصد په دي کې تقويت نه دی، بلکه تخصيص دی، خو فالمراد ان افراد المسند قد يكون لاجل هذا المعنى په طريقي د شرطيت سره، ولايلزم منه تحقق الافراد في جميع صور تحقق فيه هذا المعنى ځکه چې مونځ نه صحيح کيږي بغير د طهارت نه، او چيرته چې طهارت وي نو مونځ ضروري نه دی، داسې ويلی کيږي چې مونځ نه صحيح کيږي بغير د طهارت نه او دا ضروري نه ده چې کوم ځای کې طهارت وي نو مونځ به وي، طهارت اودس وکړه، او مونځ ځان له مه کوه، ته څه ماخوذ نه ئې، او سببي څه ته وائي، نوشارح وائي ثم السببي والفعلي مسند سببي او مسند فعلي دا من اصطلاحات صاحب المفتاح نه دی، دا سکاکي ځان له يو اصطلاح قائمه کړي ده، ويل دا داسې دی چې سمي في النحو الوصف بحال الشئ صفت کول په حال دموصوف سره، ديته صفت بحاله وائي، صفت بحاله نحوه کې ديته وائي، چې نعت ثابت منعوت ته حقيقاً وي، لکه رجل كريم، نو دا كريم معنى نعتي رجل ته بالذات ثابته ده، نو په نحوه کې مسمى کړی شوی دی دا وصف بحال الشئ وصفاً فعلياً، ديته وصف فعلي وائي، او سکاکي دلته علم المعاني کې مسند فعلي ورته وائي، والوصف بحال ما او

صفت کول په صفت د هغه شي سره چې هو هغه سبب د دې موصوف نه وي، هغې ته په نحوه کې صفت بحال متعلقه وائي، او سکاکي دلته په علم المعاني کې مسندسببي ورته وائي، او په نحوه کې وصف سببي ورته وائي، لکه نحو رجل کريم ابوه، نوصفت بحال متعلقه ديته وائي چې معنى نعتي ثابته منعوت ته مجازاً وي او متعلق د منعوت ته حقيقةً وي، نو دا کريم خو پلار د رجل وو خو د پلار د وجې نه دا کريم ثابت رجل ته شو، نو په نحوه کې ورته وصفاً سببياً ورته وائي، او علم المعاني کې سکاکي مسند سببي ورته وائي، اوس مثال ته راشئ، وسمي في علم المعاني المسند في نحو زيد قام، نو دا قام صفت قائمه د زيد شو، ديته مسنداً فعلياً ورته وائي، ځکه چې قيام ثابت زيد ته شو، وفي نحو زيد قام ابوه، کې مسنداً سببياً ورته وائي، ځکه چې دا قيام، صفت د زيد په واسطې د اب سره شو، نو دا مسند سببي شو، وفسرهما سره دى دفع د اعتراض کوي د ماتن نه، چې هلکه ماتن د مسند سببي تعريف ونکړو، بلکه اکتفاء بالمثال يې وکړه، نو تعريف کول په کار وو چې مسندسببي څه ته وائي؟ نو شارح د ماتن د طرف نه جواب کوي چې مسند سببي سکاکي په خپله کتاب کې څلور قسمه ګرځولى دى، يو قسم مسند سببي هغه دى، چې هغه جمله اسميه وي او خبر په کې فعل وي، لکه زيد ابوه ينطلق، نو دا مسند سببي جمله اسميه شوه او خبر په کې فعل دى، دويم قسم هغه دى چې دغه مسند سببي جمله اسميه وي او خبر په کې اسم فاعل وي، لکه زيد ابوه منطلق، دريم قسم چې دغه مسند سببي جمله اسميه وي او خبر په کې اسم جامدي وي، لکه زيد اخوه عمرو شو، څلورم هغه دى چې دغه مسند مسند سببي جمله فعليه وي، او مسندالیه به اسم ظاهر وي، لکه زيد انطلق ابوه شو، نو اوس مسند سببي دا څلور قسمه شو، اوس په دي څلور قسمو کې يو مفهوم مشترك په اشتراك معنوي سره نشته دى، ځکه دا ټول اقسام مبائن دي، نو چې يو مفهوم په دي کې، په اشتراك معنوي سره نه راتلو، نو د دې وجې ماتن د دې تعريف نه دى کړى او اکتفاء بالمثال يې کړي ده، نوځکه يې وويل چې وفسرهما: تفسير کړى دى سکاکي د دې مسند سببي او فعلي بما لايخلو عن صعوبة وانغلاق په هغه تفسير سره چې هغه خالي د سخت والي او د اضطراب او انختيدو نه نه دى، سکاکي باندې اعتراضونه واردېږي، هغه نښتى دى، نو لهذا د دې صعوبة او انغلاق نه اکتفى المصنف في بيان المسند السببي بالمثال وقال والمراد بالسببي نحو زيد ابوه منطلق دامثال د هغه مسند سببي دي چې جمله اسميه ده او خبر په کې اسم فاعل دى، او شارح ورسره لګوي چې وکذا زيد انطلق ابوه دا مثال د هغې مسند سببي دى چې جمله فعليه ده، او فاعل په کې اسم ظاهر دى، اوس شارح ذکر کوي چې بعضو د مسند سببي تعريف کړى دى، هغه دا دى، اوشارح يې کوي، چې **ويمكن ان يفسر المسند السببي بجملة** يو جملي ته وائي علقت داسې جمله چې ترلى شوي وي، على مبتداء ترلى شوى وي بعائد: په يو عائد سره، خو شرط دا دى لايكون المسند اليه نه به وي دغه عائد مسند اليه في تلك الجملة، نو فخرج المسند في

نحو زيد منطلق ابوه څکه خارج شو چې لاته مفرد، څکه چې دلته کې منطلق سره د خپل فاعل نه، شپ
جمله ده، مفرد دی، نو دا خارج شو، نو بجملة تکي سره منطلق ابوه خارج شو، دارنګه وفي قل هو الله
احد دا هم خارج شو په عائد سره، څکه چې الله احد، دا جمله خبر دی، د هو لپاره، خو **لان تعليقها على**
المبتداء ليس بعائد عائد په کې نشته دی، وفي نحو زيد قام و زيد هو قائم دا هم خارج شول. څکه لان
العائد فيهما مسند اليه دا دري فصلونه شو، اوس دا خل په دي کې څوک شو؟ نو وائي ودخل فيه نحو
زيد ابوه قائم جمله اسميه ده او خبر په کې اسم فاعل دی، وزيد قام ابوه جمله اسميه ده، او فاعل اسم
ظاهر دی، وزيد مررت به کې جار مجرور وزيد ضربت عمرا في داره، وزيد ضربته ونحو ذلك من
الجمل التي وقعت خبر المبتداء ولاتفيد التقوى

والعمدة سره شارح دفع د اعتراض کوي، اعتراض دا، چې هلکه سکاکي يو قيد بل هم ايښی دی، هغه
قيد سکاکي دا ايښی دی، چې دا مضاف دی ضمير ته به اسم مرفوع وي، نو تيک ده د خل زيد ابوه قائم
داخل شو، څکه چې ضمير ته مضاف اسم مرفوعه دی، زيد قام ابوه هم داخل شو، خو زيد مررت به دا
داخليږي، څکه مضاف دلته دي ضمير ته اسم ظاهر نه دی، مرفوع نه دی، دارنګه زيد ضربت عمرا في
داره، څکه چې مضاف اسم ضمير ته عمده نه دی، دارنګه زيد ضربته، هم داخل نه شو، نو دا ته ای شارح
څنګه داخلوي، شارح باندې داشبه راغله، نو شارح ځان نه ويريدو، نو شارح ويل ځان له د سکاکي نه
تپوس کوئ، دا اصطلاح هغه ايښې ده، ما ته څۀ وائي؟ ويل **والعمدة في ذلك تتبع كلام السكاكي** ويل
معتمد عليه په دي تفسير کې تفتيش تلاش د کلام د سکاکي دی، ويل هغه خانله وګورئ، ويل څکه
لانالم نجد هذا الاصطلاح لمن قبله، د سکاکي نه مخکې مونږه دا اصطلاح د چا نه ته ده اوريدلي

واما كونه: هر چې دی کيدل د مسند فعلاً، فعل به ولې وي مسند؟ ويل فلتقيده تعيين د مرجع کوي،
ويل د وجې د تقييد د مسند نه باحد الازمنة الثلاثة، الماضي، د دې نه غرض د شارح تعيين کوي،
تعيين مصداقي کوي، د ازمنو ثلاثو، او د هر يو تعريف کوي، نو وي ويل چې الماضي يو په ازمنو
ثلاثه ؤ کې ماضي ده، د دې تعريف دا دی چې وهو الزمان الذي ويل دا ماضي هغه زمانه ده قبل
زمانك چې مخکې ستا د زماني نه وي، الذي هغه زمانه انت فيه چې ته يې په دي زما نه کې، نو په دې
باندې اشکال راغلی، چې ستا د وجود نه مخکې چې کومه زمانه وه هغې ته ماضي وائي، او د وجود
نه وروسته چې کومه زمانه ده هغې ته ماضي نه وائي، نو دا خو غلطه ده، څکه چې زما وجود خو هير
مخکې راغلی دی، او اوس زما د دې تکلم ته مخکې دا ټول ماضي ده، نو تاسو وايئ چې دلته کې
حذف د مضاف دی وهو الزمان الذي قبل زمان تكلمك الذي هغه زمانه د تکلم انت فيه چې ته په کې
موجود يې، نو اوس تيک شو، دويمه په هغه دريو کې مستقبل دی، والمستقبل وهو الزمان الذي
يترقب، انتظار کولی شي وجوده بعد هذا الزمان پس د دې زماني د تکلم نه، د زماني د تکلم نه

وروستو چې د کومې زمانې انتظار کیږي هغې ته مستقبل وائي، دریم حال دی والحال وهو اجزاء من اواخر الماضي واوائل المستقبل بس او اخر د ماضي د اجزاؤ او اوائل د مستقبل د اجزاؤ، دیته حال ویلی شي، نوشرط دا دی چې متعاقبةً، یا متعاقبة، هسې اجزاء یا په حال کون د دې اجزاؤ کې چې یو بل پسې وي، یو بل پسې دا معنی چې من غیر مهلة وتراخ دا یې د هغې توضیح او تفسیر وکړو، دا اجزاء به یو بل پسې متصل وي، معترض راغلی شبه یې وکړه چې ای هلکه دا خو ممکن نه دی چې اواخر د ماضي او اوائل د مستقبل متعاقب شي او تراخي او مهلت په کې رانشي، دا خو نه شي کیدای، ځکه چې ته ووائي چې یصلي زید او زید په مانځه باندې ولاړ دی، دیته زمانه حالي وائي، حالانکه بعضې اجزاء د صلوة خو مخکې تیر شوي دي، هغه خو متعاقب نه دی، یا ته وویل چې یکتب زید نو بعضې اجزاء د لیکلو خو مخکې تیر شوی دی، او بعضې وروستو را روان دي، هغه خو متعاقب نه دی، جمع نه دی، تراخي په کې راغله، نو شارح جواب وکړو چې وهذا امر عرفي ویل دغه حال یو امر دی چې منسوب بسوي عرف او خلکو ته دی، نه تدقیق فلسفي ته، تدقیق فلسفي ته دا نه دی منسوب، خو عرف او عادت کې ځنګ حال دغه زماني ته وائي، چې اواخر د ماضي او اوائلو د مستقبل ته وائي، یو په تدقیق فلسفي باندې بناء وي نو هغه متعاقب عن غیر محله او تراخي نه شي کیدای، اوس متن لپاره دلیل وائي، ویل وذلك او دغه خبره ثابته ده، دا خبره چې مسند فعل شي، نو هلته کې تقیید په یو د ازمنو ثلاثه ؤ پورې راځي، ویل لان الفصل دال بصیغة علی احد الازمنة الثلاثة معترض راغلی شبه یې وکړه چې یا هلکه څنګه فعل دا دی په یو د ازمنو ثلاثه ؤ پورې، نو اسم هم دال دی، لکه ته ووائي چې زید ضارب الان، زید ضارب امس، زید ضارب غداً، نو شارح جواب وکړو چې من غیر احتیاج الی قرینة خارجیة، دا معنی قرینه تدل علی ذلك چې دلالت کوي په یو د ازمنو ثلاثه ؤ باندې، ځکه چې فعل بهیئته دلالت کوي په یو زمانه باندې د ازمنو ثلاثه ؤ نه، بخلاف الاسم فانه انما یدل علیه په دې احد باندې بقرینة خارجیة کقولنا زید قائم الان او امس او غداً اوس شارح ته چا وویل چې ته خو توجیه د کلام المتن کوي جائز ده چې په دې توجیه باندې ماتن راضي دي نه وي، نو دا توجیه د قول د غیر د لا یرضی نه شو، نو شارح جواب وکړو چې لا یرضی نه دی، یرضی دی، ولهذا او د دې وجې نه چې دلالت د فعل بصیغته دی بغیر د قرینه خارجیي نه او دلالت د اسم په اعتبار د قرینهٔ خارجیه سره دی، ماتن ویلي دي علی اخصر وجه په لنډې وجې سره، نو اوس ګوره زید یضرب دا لنډ دي د زید ضارب الان نه، د زید ضارب امس نه، د زید ضارب غداً نه، اوس ماتن ویلي وو چې مع افادة التجدد نو اوس د تجدد دوه معنیین دي ۱ یو معنی د تجدد دا ده حصول الشئ بعد العدم او دویم د تجدد معنی ختمیدل د یو شي پیدا کیدل د بل شي تدریجاً یعنې په دمي دمي سره، یعنې ختمیدل او پیدا کیدل په دمي دمي سره، نو اوس شبه راغله چې د فعل په مفهوم کې تجدد په معنی

اولی سره دی، څکه یَضْرِبُ تا وویل یا ضَرَبَ وویل، نو دي کې حصول د شئ بعد العدم راغلی، ضرب مخکې نه وي او اوس راغلی، تا پیدا کړو، او زمانه چې دلالت کوي نو په معنی ثاني باندې کوي، څکه زمانه ختمیدل او حاصلیدل د یو شي دي تدریجاً، یو جزء لاړ شي بل جزء هله پیدا کیږي، بل جزء لاړ شي نو دریم جزء هله پیدا کیږي، دریم لاړ شي نو څلورم جزء د زماني پیدا کیږي، نو معتبر په مفهوم د فعل کې تجدد په معنی اولی سره وو او زمانه کې تجدد په معنی ثاني سره دی، نو اوس ته وائي چې مع افادة التجدد نو صحیح شو؟ یو[1] تقید یو د ازمنه ؤ ثلاثه ؤ پورې شو، او دا تقید د یو د ازمنو ثلاثو پورې سره د افادي د تجدد نه کوي، نو سره د افاده د تجدد نه، دا خو فعل نه کوي، دا خو زمانه کوي، څکه تجدد په معنی ثاني سره زمانه نه دی، فعل نه دی، نو دي راځي جواب کوي **والماکان التجدد** سره، حاصل د جواب دا چې دا تجدد د معنی ثاني سره لازم وو د زماني سره، او زمانه جزء وو د مفهوم د فعل نه، نو تجدد په معنی ثاني سره لازم شو د فعل سره، څکه لازم د جزء لازم د کل وي، دا قانون دی، نو تجدد په معنی ثاني سره اګر که حقیقةً مفهوم د فعل نه دی خو لازماً دی، نو مع افادة التجدد صحیح شو، او شبه به هله تا کوله چې ما تجدد په معنی ثاني سره عین په مفهوم د فعل کې معتبر کړی دی، خو عین معتبر په مفهوم د فعل کې تجدد په معنی اولی سره دی، معنی ثاني سره نه دی، نو وائي لما کان التجدد لازماً للزمان خو تجدد په معنی ثاني سره، چې ختمیدل د شئ حاصلیدل د شئ تدریجاً، لازمه د زماني سره څکه وو لکونه د وجې د کیدو د زماني نه کما زمانه یو مقدار دی غیر قار الذات اجزاء یې مجتمع في الوجود نه دی ای لایجتمع اجزاؤه في الوجود، والزمان جزء من مفهوم الفعل، نو کان الفعل مع افادته التقید باحد الازمنة الثلثة مفیداً للتجدد، په معنی ثاني سره، والیه اشاره بقوله مع افادة التجدد، کقوله: ای الشاعر، شعر ویل او کلما وردت عکاظ هلکه دا عکاظ څه شی وو د سړي نوم وو او که د ښځې که د ځای، ویل وهو سوق للعرب، کانوا یجتمعون فیه، فینا شدون، تناشد ویلی شي شعرونو ویلو ته، ویتفاخرون بانسابهم وشجاعتهم، وکانت فیه ای السوق الوقائع، حوادث جګړې به کیدی، معارضي به یو بل سره کیدی، مناظري به کیدی، ترجمه نو هر کله چې وارد شو، راغلی عکاظ میلي ته قبیلة یو قبیله د عربو، نو ظریف وائي شاعر، چې زه دومره بهادر ووم چې د هري قبیلي په ما باندې بدله او قصاص وو، نو بعشوا وي لیږلو ما ته عریفهم هغه پیژندونکي خلکو لره په رنګونو سره، عریف هغه چاته وائي چې هغه خلق په رنګ سره پیژني، لکه زه ووایم چې هلکه دا فلانی د فلاني زوی دی؟ دا فلانکی د فلانکي ورور دی، دا فلانکی د فلانکي پلار دی، دیته عریف وائي، دومره تفرس او پوهوالی ورته الله ورکړی وو، چې د رنګ نه

---

۱. نو یو نقصان دا راغلی چې تقید د فعل په ازمنو ثلاثو پورې راغلی چې فعل دلالت کوي په حصول الشئ بعد ان لم یکن باندې

سړی معلوموي، دیته علم القیافت هم وائي، عربو کې د دې علم القیافت ډیر لوی رواج وو، حدیث کې راځي، د حضرت عائشة رضي الله عنها نه غالبا روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یو خلې کور ته راغلی ډیر هشاش بشاش، ډیر خوشحال وو، نو دې ترینه تپوس وکړو چې حضرت ته ولې دومره خوشحاله ئې؟ نوویل اُسامه او زید دواړه په یو کمبل کې پراته وو، اُسامه د زید خوی وو، د زید بن حارثه، د رسول الله صلی الله علیه وسلم متبنی چې وو، نو ویل قائف راغلی او هغه ویل چې هذه الاقدام بعضها من بعض او مخکې مشرکانو به طعن ویلو چې دا اُسامه د حضرت زید زوی نه دی، نو چې قائف راغلی او دا یې وویل، نو ویل زه په دې باندې خوشحاله شوم، چې ویل هغه تهمت ترې نه پورته شو، قال الشیخ هذه الجمل علی شئ من البکاء نو ځکه دي تفسیر کوي د عریف د دې لفظ غریب، د عریف القوم، القیم بامرهم هغه سړي ته وائي، چې متولي وي متصرف وي د امر د قوم الذي شهد بذلك وعُرف نو عریف ورته ځکه وائي چې هغه په علم القیافت سره مشهور وي په علم الفراست سره مشهور وي، اتقوا فراسة المؤمن فانه ینظر بنور الله دا علم غیب نه دی، بلکه دا هوښیارتیا ده چې الله یې چاته ورکړی، ځکه فانه ینظر بنور الله ځکه دي د الله د هغه ورکړی شوي شي سره ګوري، دا الله داسې فراست ورکړی وي چې هغه په دي سره معلومیږي، دیته علم غیبونه وائي، علم غیب دیته وائي چې هغې لپاره سبب نه وي، او د دې سبب شته دی، چې الله ورته داسې قوت ورکړی دی، نورانیت ورکړی دی، چې په هغې سره دی د رنګونو نه شی معلوموي، یتوسم اوس موضع د استشهاد دا دی، دلته کې یتوسم مسند یې فعل ذکر کړو، متوسم یې ونه ویل، یتوسم فعل شو مسند او ضمیر په دي کې راجع شو دي عریف ته، هغه مسندالیه شو، نو د دې ترجمه ای یصدر عنه تفرس الوجوه معلومؤل د مخونو، چې دا فلانکی دی فلانکی نه دی، **وتاملها شیئا فشیئا** لږ لږ ولحظةً لحظةً داسې ګوري کنه، بیا داسې ګوري، ویل دا د فلانکي زوی دی، شاعر د خپل خان بهادري بیانوي چې د هري قبیلي، هر سړی، بدله او قصاص په ما باندې وو، نو هرې قبیلې به خپل عریف لیږلو چې وګوره چې شاعر چیرته شته دی چې مونږ د هغه وینه چیرته وځکو، نو ویل عریف او قائف ما پسې لګیدلی وو، او ما پسې ولاړ وو، ما خان بچ کولو، زه داسې بهادر یم، او چې په واقع کې وو او که نه وو خدای خبر دی؟ واما کونه ای المسند اسماً، اسم ځکه کیږي، ویل فلافادة عدمهما تعیین د مرجع کوي د وجې د افاده کولو د عدم تقیید مذکوره نه او د تجدد نه یعني سره شارح دا ذکر کوي، چې عدم تقیید مذکوره او تجدد فائده ونه کړه، نو څه به فائده کوي، نو یعني سره د دې مقابل ته اشاره کوي، نو چې تجدد یې فائده نه کړه نو دا به فائده کوي، چې لافادة الدوام دوام به فائده کوي، او چې تقیید مذکوره دي یې فائده نه کړو نو والثبوت ثبوت به فائده کوي، دویم غرض دشارح د یعني سره دا دی چې دفع د تدافع کوي، د ماتن د کلام او وروستو راتلونکی کلام د شیخ کې، دماتن د کلام نه دا معلومه شوه چې دا

مسند اسم د دې لپاره کیږي چې دي دوام او ثبوت فائده کړي، نو د ماتن د کلام نه دا معلومه شوه چې زید ضارب دا څنګه چې دلالت کوي په ثبوت د ضارب باندې زید ته، نو دغسې دلالت کوي په دوام او ثبوت باندې هم، دارنګه زید منطلق څنګه چې دلالت کوي په ثبوت د انطلاق باندې زید ته نو دغسې دلالت کوي په دوام او ثبوت د انطلاق باندې، چې دا انطلاق دائم او مستمر دی، او وروسته د شیخ کلام ګورئ صـ۱۳۹ وقال الشیخ سطر اول شیخ عبد القاهر بابا ویلي دي چې موضع الاسم وضع د مسند علی په دې باندې ده، بنا ده په دي باندې چې ان یثبت به الشئ للشئ چې ثابت کړی شي په دې سره شئ چې دي په خپله دي بل شئ ته چې مسندالیه دی، من غیر اقتضاء بغیر د غوښتلو د دې مسند نه، چې انه دغه ثبوت **یتجدد ویحدث شیئا فشیئا** دا په کې تجدد او حدوث نشته دی، بیا وروسته شیخ وویل فلا تعرض وراندې کیدل، اشاره کول في زید منطلق کې **لاکثر من اثبات الانطلاق فعلاً له** چې صرف انطلاق فعل دی، د زید، او دوام او استمرار معلوم نه شو، لکه کما في زید طویل وعمرو قصیر کې، ځکه په زید طویل کې صرف ثبوت د طول زید ته شو او عمرو قصیر کې قصیر عمرو ته شو، دې کې څه دوام او استمرار نشته دی، دغسې مخکې کې هم نشته دی، نو د شیخ د کلام نه معلوم شو چې مسند اسم وي نو هغه دلالت په دوام او استمرار باندې نه کوي، صرف ثبوت باندې کوي، ها استمرار او دوام د قرائن خارجیو د وجې نه کوي، او د ماتن د کلام نه معلوم شو چې مسند اسم وي نو هغه دلالت به په دوام او استمرار باندې کوي، نو د شیخ او د ماتن کلام کې تدافع راغله، نو شارح د مخکې نه دفع د تدافع کوي، چې افاده د دوام او د ثبوت چې کیږي نو لاغراض یعني د قرائن خارجیو د وجې نه، داسې غرض چې متعلق کیږي بذلك په دغه دوام او ثبوت پورې، نو د شیخ او د ماتن مسلك یو شو، ماتن دا نه وائي چې دا مسند دلالت کوي په دوام او استمرار باندې، بلکه دوام او استمرار باندې دلالت د قرائن خارجیه ؤ د وجې نه کوي، او شیخ هم په دې باندې قائل دی، مثال لکه دا قول د شاعر شو کقوله **لا یالف الدرهم المضروب صرتنا** ویل نه ټینګیږي روپۍ مهر کړی شوي ځمونږه په بټوه کې، وهو ما یجعل فیه الدراهم همیانه ورته وائي بټوه ورته وائي، لکن یمر علیها لیکن تیریږي دغه روپۍ په دې بټوه باندې وهو منطلق او حال دا دی وهو منطلق نو معنی دا یعني **ان الانطلاق من الصرة ثابت للدراهم دائما** دائما او د قرینۀ خارجیه د وجې نه، د دې مسند اسمي د وجې نه دی، قرینه خارجیه دا ده چې دی د خپلې سخا بیان کوي چې زه ډیر سخي یم زما په بټوه کې پیسې روپۍ نه ټینګیږي، نو دا هله کیږي چې روپۍ همیشه څې، یو ورځ یا دوه ورځې نه ټینګیدل دا څه سخي کیدای نه شي، دا قال الشیخ خو مونږه او تاسو مخکې اووي، **واما تقیید الفعل وما یشبهه** د دې سره دفع د اعتراض کوي چې هلکه څنګه تقید د فعل چې مسند واقع شوي وي کیږي نو تقید د شبه فعل هم کیږي کنه، نو ویل وائي چې کلام د ماتن په حذف د معطوف سره دی وما یشبهه او هغه چې مشابه وي دفعل سره، **هغه من اسم الفاعل**

والمفعول وغيرهما تقيد دا دی فعل به کوي چې مسند دی بمفعول مطلق لکه ضربت ضرباً، او به یا په مفعول به سره، لکه ضربت زیداً، او فیه یا په مفعول فیه سره، لکه قعدت في المسجد، او بمفعول له نحو ضربته تادیباً، او بمفعول معه، نحو ضربت زیداً وعمرواً، ونحوه من الحال والتمیز والاستثناء، ځکه چې **فلتربیة الفائدة** لپاره د زیاتولو د فائدي، اوس تقید سره فائده زیاتیږي، دلیل وائي د متن لپاره ویل ځکه چې **لان الحکم** ویل ځکه چې مسند کلما زاد خصوصاً په اعتبار د قید سره نو زاد غرابةً نو دي زیاتیږي په لري والي کې د ذهن د سامع نه، چیرته چې په یو کلام کې یو قید زائد شي نو هغه د ذهن د سامع نه ډیر لري وي، دا صغری شوه، او وکلما زاد غرابة نو زاد فائدةً، نو زیاتوي دغه فائده سامع ته زیاته، سامع ته فائده زیاته وي، نو نتیجه راغله کلما زاد خصوصاً نو زاد افادةً اوس دلیل په کار شو، لیکن د کبری لپاره دلیل ته ضرورت نشته دی، هغه د مسلماتو نه ده، ځکه چې کوم شی څومره چې بعید وي د سامع د ذهن نه، نو هغې کې افاده زیاته وي، دا هر څوك مني، اوس پاتې شو دلیل د صغری چې هر هغه شی چې هغې کې یو قید زیات راشي نو هغه د سامع د ذهن نه ولې لري کیږي، ویل وجه په دي کې دا ده کما یظهر بالنظر الی قولنا ما تاته وویل شئ ما موجود چې هلکه یو شئ ما موجود دی، نو ته وائي چې مولوی صاحب ماته هم پته وه، چې په مشرق مغرب جنوب شمال کې یو شئ ما موجود دی، نو ستا په دي خبره کې ای مولوی صاحب هیڅ فائده رانغله، او اوس ما تاته وویل چې فلان بن فلانٍ حفظ التوراة سنة کذا في بلدة کذا نو دا فائده زیاته شوه، **ولما استشعر سؤالاً** دي کې اشاره کوي چې دا راتلونکی متن جواب دی دسوال مقدره نه، خو دا سوال بناء دی په دي باندې چې دي سائل دا کان مقید ګرځولی دی، او دا خبر د دې یې قید ګرځولی دی، نو چې ده داسې دا کان مقید او خبر یې قید ګرځولی نو سوال پیدا شو چې هلکه دلته کان زید قائماً، نو کان مقید دی او قائماً قید دی، نو بغیر د قائم نه اصل فائده نه راځي، چې کان ناقصه شي، نو زیادة فائده څنګه راغلی، نو وائي ولما استشعر سوالا دی والتقید به په دي خبر د کان سره لیس لتربیة الفائدة، زیادة فائده خو نشته لعدم الفائدة بدونه ځکه بې د خبر نه، او چې کان ته ناقصه ووائي چې کان زید قائما ووائي نو څه زیاته فائده نشته دی، نو اشار الی جوابه نو جواب په دي باندې بناء دی، چې دلته کې دا خبر مقید دی او کان ورله قید دی، نو اوس تربیة الفائده راغله، ځکه چې زید قائم عام وو چې زمانه ماضي کې وي که مستقبل کې که حال کې، او چې تا کان زید قائماً وویل نو دا داسې شو چې زید قائم في الزمان الماضي نو مقید دا خبر شو او کان ورله قید دی، نو وائي **والمقید في کان زید منطلقاً هو منطلقاً لا کان، لان منطلقا هو نفس المسند، وکان قید له، للدلالة علی زمان النسبة کما اذا اقلت زید منطلق في الزمان الماضي.**

واماترکه ای ترك التقید، فلمانع منها ای من تربیة الفائدة، یو مانع موجود دی، د مانع بیان ماتن نه وو کړی، شارح یې کوي مثل خوف انقضاء المدة متکلم وائي دومره وخت ماسره نشته دی چې زه دا

مقيدات ورسره ذكر كړم د مسند ، نو هغه مقيدات پريږدي والفرصة دا عطف تفسير دى، او ارادة ان لا يطلع الحاضرون على زمان الفعل ومكانه، زمان الفعل باندې په مفعول فيه يې زماني كې او مكان الفعل په مفعول فيه مكاني كې، او هوله كه په زمانه د فعل يا مكان يا مفعول باندې عالم شي، نود دغه مفعول په حاضرينو كې دشمن به وي، نو هغه به لاړ شي هغه به بيا وژني، او عدم العلم بالمقيدات يا د متكلم علم په دغه مقيداتو باندې نه وي، د دغه فعل او نحو ذلك د اختصار لپاره يې نه وي ذكر كړى يا متكلم تنګ دلى وو، پريشان وو، مضطرب وو، خفه وو، او خفه سړى اوږد كلام نه شي كولى، نو مقيدات پريږدي

واما تقييده هر چې دي تقيد د هغه فعل چې واقع شوى وي مسند تقييد يې كوي بالشرط په شرط سره، اوس مثل سره شارح مثال ښائي د هغه فعل چې واقع شوى وي مسند په شرط سره، نو يو غرض يې دا چې مثال ښائي. دويم غرض تعميم ته اشاره كوي چې دا شرط عام دى مؤخر وي او كه مقدم وي، د مؤخر مثال مثل اكرمك ان تكرمني يا مقدم وي لكه او ان تكرمني اكرمك نو اوس دا تقيد د فعل په شرط سره كيږي چې واقع شوى وي مسند فلاعتبارات د وجې داعتباراتو نه، د اعتباراتو تفسير كوي ماتن وحالات او د وجې د حالاتو نه، دي سره دفع د اعتراض كوي، چې هلكه اعتبار خو صفت د معتبر دى، نوصفت د معتبر د وجې نه ته څنګه تقييد د هغه فعل كوي، چې واقع شوى دى مسند په شرط سره كوي، حالانكه صفت د معتبر لپاره مقتضى دي نه وي كنه؟ نو ده جواب وكړو چې دلته مراد د اعتباراتو نه حالات دي، يعني هغه امور چې په جانب د مخاطب كې دي، او هغه معتبرات دي، نو ذكر د اعتباراتو شو او مراد ترينه معتبرات شو، ځكه چې حالات هغه شى دى، چې هغه احوال د مخاطب دي لكه انكار، خلو د ذهن، شك، نو دا امور معتبره شو، ځكه متكلم د دوى اعتبار كړى دى، ورنه نو اعتبارات خو صفات د متكلم دي، نو معتبر دي، نو د هغې د وجې نه تقيد د هغه فعل چې واقع شوى وي مسند هغه په شرط سره نه كيږي، بلكه د مخاطب د حال د وجې نه كيږي، نو په حالات سره يې ځكه تفسير وكړو، داسې حالات چې تقتضي چې هغه غواړي تقيده تقيد د دغه فعل چې واقع شوى دى مسند ، به په دې شرط سره، لاتعرف نه شي پيژندلى دغه حالات او اعتبارات الابمعرفة ما مگر په پيژندګلو د هغه نسبت سره چې بين ادواته چې په مابين د ادواتو د شرط كې دى، هغه چې تا وپيژندل نو ته خودبخود به پيژني چې دلته كې د مخاطب حال دا تقاضا كوي، د مخاطب حال دا تقاضا كوي، دا كوي، يعني سره دفع د توهم كوي، چې يا هلكه ادوات خو حروفو ته ويلى شي، نو د دې نه مراد صرف حروف شرط دي؟ نو كوم چې اسماء شرط دي هغه خو خارج شو لكه من شو ما شو، اذا شو، نو ده جواب وكړو چې يعني قصد كوي ماتن په دي ادواتو سره حروف الشرط واسماءه چې هلكه حروف شرط وي او كه اسماء شرط وي، هغه ما څه دى؟ **من التفصيل** د تفصيل نه، وقد بين ذلك ويل بيان كړى

شوی دی والتفصیل في علم النحو او څه چې د علم نحوي نه پاتې دي هغه به وروستو زه ذکر کوم، او وفي هذا الکلام اشارة سره، غرض د شارح دا دی چې دفع د اعتراض کوي، اعتراض دا وارد شو، چې یا هلکه د دې نه خو دا معلومه شوه چې حکم په دي جزاء کې دی او شرط قید دی لپاره د هغه فعل چې واقع شوی دی مسند په جزاء کې، حالانکه خلق خو دا وائي چې شرطیه کې حکم بین المقدم والتالي دی، او ستا د کلام نه دا معلومه شوه چې حکم په جزاء کې دی او داشرط قید دی، د هغه مسند چې واقع شوی دی فعل په جزاء کې، نو شارح وائي چې ته پوهه شوي نه ئي، دلته کې دوه اصطلاحګاني دي، یو اصطلاح د اهل عربیو دی او بله اصطلاح د منطقیانو ده، نو ماتن په دې کې اشاره کړې ده اصطلاح د اهل عربیو ته، نو وائي چې وفي هذا الکلام اشارة چې الی ان الشرط في عرف اهل العربیة قید لحکم الجزاء، یعني محکوم به دی د جزاء لپاره، حکم نه مراد محکوم به شو، داسې قید دی مثل المفعول به ونحوه د مفعول فیه په شان، اوس مثال جزئي سره مونږ او تاسو پوهه کوي فقولك ان جئتني اکرمك نو دا قول بمنزلة قوله چې اکرمك وقت مجیئك ایاي، او بمنزلة څکه دی چې عین ظرف نه دی خو په تاویل سره ظرف شو، ان جئتني الخ، **فلا یخرج الکلام** سره دفع د توهم کوي، چې یا هلکه دي تقید سره به دا جزاء د خبریت نه انشائیت ته به اووځي؟ که خبر وي، یا د انشائیت نه خبر ته به اووځي که انشاء وي، نوشارح وویل چې نه! ولایخرج الکلام چې جزاء ده بهذا التقید په دغه تقید بالشرط سره عما د هغه حالت نه کان چې دی دا کلام علیه په هغې باندې مخکې د تقید په شرط نه ووځي من الخبریة والانشائیة نه نۀ خارجیږي، بل ان کان الجزاء، مخکې د تقید بالشرط نه خبراً، نو فالجملة الشرطیة نو ټولي جملي شرطیي ته بیا خبریة وایو، نحو ان جئتني اکرمك، **وان کان**: او که چیرته وو دغه کلام انشاءً، مخکې د تقید بالشرط نه، نو فانشائیة پس د تقید بالشرط نه هم، نحو ان جاءك زید فاکرمه، توهم نو دي وائي چې دانفس شرط څه شی شو دا جمله شوه که نه نه شوه، ویل نه واما نفس الشرط فقد اخرجته الاداة، ادواتو د شرط عن الخبریة واحتمال الصدق والکذب دا عطف د واحتمال الصدق الخ، د لازم په ملزوم باندې دی، خبر سره احتمال د صدق او کذب لازم دی، اوس وما یقال سره جواب کوي چې یا هلکه خلق خو دا وائي او تا هم ویلي دي چې حکم په شرطیه کې په مابین د مقدم او د تالي کې دی، نو هغه خبره خو بیا خطاء شوه، نو دي جواب کوي چې خلکو ویلي او که ما ویلي نو تدافع نشته زما کلام کې، څکه هغه اصطلاح د منطقیانو ده، نو ویل وما او هغه خبره چې یقال چې ویلی شوي ده، من هغه دا ده چې ان کلا من الشرط والجزاء خارج هر یو د شرط او جزاء نه خارج دي عن الخبریة واحتمال الصدق والکذب نه بلکه موارد د احتمال الصدق والکذب په نسبت بیني باندې دی وانما الخبر هو مجموع الشرط او الجزاء داسې مجموعه المحکوم فیه چې حکم کړی شوی دی په دي خبر کې **بلزوم الثاني للاول، فانما هو اعتبار المنطقین**، اوس مثال جزئي

په ترد باندې، دا شرط قيد لپاره د جزاء نه شو، نو دلته کې مفهوم مخالف رانغلی، نو دغه مذهب د حنفيانو دی، ولکن سره دفع د توهم کوي چې هلکه ته هيڅ تفصيل نه کوي؟ نو بيا په دي ان او اذا، او لو کې تا تفصيل ولې کړی دی، دا خو ترجيح بلا مرجح لازم شوه، چې تفصيل په علم نحوه کې شوي دي، نو ټول علم نحوي ته پريږدي کنه، نو ماتن جواب وکړو چې لکن لابد من النظر د نظر نه مراد بحث دی، ههنا في ان واذا ولّو شارح متن لپاره دليل وائي، دلته کې د بحث نه څکه لابدي ده چې لان فيها ابحاث کثيرة اعتراض: يا هلکه ابحاث دي ډير وي، خو په علم نحوه کې دي ورته تعرض شوی وي کنه نو دلته يې څه ضرورت رانغلی ويل لم يتعرض لها في علم النحو نو زه يې څکه دلته کې تفصيل کوم، داسې چې **فان واذا للشرط في الاستقبال** چې دا شرط به په استقبال کې وي، دا معنی چې دا شرط به واقع په مستقبل کې وي په نسبت سره زماني د تکلم ته، د دې نه وروستو به واقع کيږي، ليکن د دې په خپلو کې فرق دا دی چې لکن اصل اِنْ ليکن راجح او غوره په اِنْ کې دا ده چې عدم الجزم بوقوع الشرط چې جزم نه وي د متکلم په واقع کيدو د شرط باندې په مستقبل کې، بلکه مشکوک وي، چې د دې شرط په مستقبل کې واقع کيدل او نه واقع کيدل مشکوک دي، نو دا پرې تفريع کوي او دليل هم وائي چې **فلا تقع في كلام الله تعالى على الاصل** چې نه واقع کيږي دغه کلمه دانْ، د الله په کلام کې، څکه د الله پاک په څه شي کې شک نه وي **على الاصل قال الشيخ ذلك ههنا** په اصل باندې چې عدم جزم دی بوقوع الشرط، معترض راغلی شبه يې وکړه چې هلکه ستا قاعده منقوضه شوه په ان يسرق فقد سرق اخ له من قبل باندې، دا کلام د الله دی، او اِنْ خو په کې راغلی دی، نو جواب يې وکړو چې الاحکاية چې ها حکاية کيږي، حکايةً په قران کې واقع کيږي او دا الله حکايت کوي د هغه ورونو د حضرت يوسف عليه السلام ته، بله شبه دا راغله چې ستا دا قاعده منقوضه شوه په دې راتلونکي ايت باندې، چې **وان تصبهم سيئة يطيروا بموسى** نو دا کلام د الله دی، او دلته کې خو ان راغلی دی، او بالذات د الله کلام دی د چا نه حکايت هم نه دی نو جواب يې وکړو چې او بضرب من التاويل چې هلکه هلته کې مونږ دا فرض کوو چې دا کلام د يو شخص عربي دی، او هغه دا ويلی دی، او نسبت به يې مونږ د الله نه قطع کړو، د تاويل دا معنی، څکه دا کلام د بني اسرائيلو وو، **واصل اذا الجزم بوقوعه** او اصل د اذا جزم دی په وقوع د دې شرط باندې په مستقبل کې، اوس ګورئ په هر دوو ځيزونو کې او د دوو نه په ډيرو ځيزونو کې، دوه ځيزونه په کار دي يو مابه الاشتراك او يو ما به الامتياز وما به الافتراق، نو اوس په اِنْ او اذا کې شارح هغه مابه الاشتراك وما به الافتراق بيانوي، نو وي ويل **فان واذا تشتركان في الاستقبال** او په خلاف د لو نه چې هغه د ماضي لپاره راځي، وروستو به راځي وتفترقان او جدا کيږي دا دواړه د يو بل نه، بالجزم بالوقوع دا اصل د اذا شو، وعدم الجزم به دا اصل د اِنْ شو، معترض راغلی شبه يې وکړه چې هلکه څنګه چې جزم بالوقوع دا اصل د اذا وو، نو عدم جزم بلا وقوع دا هم اصل د اذا وو، نو دا تا ولې

سره مونږه او تاسو پوهه کوي فمفهوم قولنا کلما کانت الشمس طالعة فالنهار موجود، نو باعتبار اهل العربية نو په اعتبار د اصطلاح د اهل عربيو سره، د دې معنی دا شوه چې الحکم بوجود النهار چې حکم وشو په وجود د نهار، دا معنی چې النهار موجود خو في کل وقت من اوقات طلوع الشمس، نو دا في کل وقت... الخ، قيد شو د وجود النهار لپاره او دا مسند د جزاء وو، نو فالمحکوم علیه د اهل عربيو په نيز باندې هو النهار، والمحکوم به هو الموجود شو، او في کل وقت... الخ، قيد شو د دې موجود لپاره، وباعتبار المنطقين او په اعتبار د اصطلاح د منطقيانو سره دا دی چې الحکم بلزوم وجود النهار چې حکم په لزوم کولو د وجود النهار دی بطلوع الشمس سره، نو فالمحکوم علیه د هغوی په نيز باندې طلوع الشمس شو، والمحکوم به وجود النهار شو، نو دا شارح تفريع وکړه چې کم من فرق ډير فرق دی بيا، بين الاعتبارين، کې څه کم فرق نه دی.

۱ـ يو فرق دا دی چې په مذهب د اهل عربيو باندې حکم په افرادو باندې راغلی، او په مذهب دمنطقيانو باندې حکم په تقادیرو باندې راغلی.

۲ـ دويم فرق دا شو چې په مذهب د اهل عربيو باندې حکم بتي شو، يعني بالفعل حکم، ثبوت د محکوم به محکوم علیه ته بالفعل شو، او په مذهب د منطقيانو باندې حکم تعليقي شو.

۳ـ فرق دا دی چې په مذهب د اهل عربيو باندې دا شرط قيد لپاره د مسند في الجزاء شو، نو دې دلالت په مفهوم مخالف باندې وکړو چې دغه قيد وي نو جزاء به وي، او که دغه قيد نه وي نو جزاء به نه وي، لکه د امام شافعي رحمة الله عليه دغه مسلك دی، چې هغه په مفهوم مخالف باندې قائل دی، خو هله قائل دی چې د مفهوم موافق لپاره څه بله فائده نه وي، مفهوم موافق کې څه بله فائده نه وي او که د مفهوم موافق لپاره بله څه فائده وي، نو بيا هغه په مفهوم مخالف باندې قائل نه دی، لکه په دې قول د الله کې چې ولاتکرهوا فتياتکم علی البغاء ان اردن تحصنا نو اوس ان اردن تحصناً شرط قيد شو د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد باندې، نو که دوی اراده د پاکدامنۍ کوي نو تاسو په دوی باندې په زنا باندې جبر مه کوئ، د دې نه که مفهوم مخالف شي نو دا معنی چې که دوی اراده د پاکدامنۍ نه کوي بيا جبر بالزنا کوئ، نو امام شافعي صاحب د دې نه دا جواب کوي چې هلکه دلته کې مفهوم موافق کې بله څه فائده نه وي، په دې تقيد د موافق موافق کې نو هله مفهوم مخالف باندې دلالت کوي، او زه يې اراده کوم، او دلته کې مفهوم موافق کې بله فائده شته دی چې هغه مبالغه ده، چې دوی اراده د تحصن او پاکدامنۍ کوي نو په طريقه اولی سره اکراه پرې مه کوئ، او که اراده د پاکدامنۍ نه کوي نو بيا هم مه کوئ، جبر بالزنا خو چې اراده د پاکدامنۍ کوي نو بيا جبر بالزنا په دوی باندې خامخا مه کوئ، نو مبالغه فائده راغله، نو چې مفهوم موافق کې دغه فائده راغله چې مبالغه ده نو بيا امام شافعي صاحب وائي چې زه قول په مفهوم مخالف باندې نه کوم، او د منطقيانو

په متن کې ذکر نه کړو، نو دي جواب کوي چې نه هغه اصل یواځې د اذا نه دی هغه په دواړو کې راتلی شي، ویل واما عدم الجزم بلا وقوع الشرط فلم یتعرض الماتن له، لکونه مشترکا بین ان و اذا، ځکه چې عدم جزم په لاوقوع د شرط باندې، په اذا کې هم راځي او ان کې هم راځي، او زه دلته کې بیانوم هغه مابه الافتراق والمقصود بیان الافتراق بیان د وجې د افتراق دی، ولذلك سره دلیل انې وائي په دې خبره باندې چې اصل د اذا جزم بوقوع دی او اصل د ان عدم جزم بالوقوع دي، ویل لذلك تعیین د مشارالیه کوي ای لان اصل ان عدم الجزم بالوقوع دی نو کان الحکم النادر موقعاً لان دا ځکه کیږي ویل لکونه غیر مقطوع به شارح دا دلیل وویل، ځکه چې دغه حکم قطعي نه وي، معترض راغلی شبه یې وکړه چې یا هلکه دا خبره خطاء ده، چې یو حکم نادر شي نو ته وائي چې هغه غیر قطعي به وي، نو قیامت نادر دی یو ځل راځي، او هغه خو مقطوع به دی، نو جواب یې وکړو چې في الغالب چې غالباً نادر غیر مقطوع به وي، او کله کله داسې وي چې یو حکم نادر وي خو مقطوع به وي لکه قیامت، او ویل **لان اصل اذا الجزم بالوقوع** نو غلب غالب کړی شوی دی، د دې سره **لفظ الماضي** لفظ د ماضي د جزم بالوقوع د وجې نه ځکه غالب شوی دی چې لدلالته علی الوقوع قطعاً معترض راغلی شبه یې وکړه چې اوس تا ووېل چې اذا خو لپاره د شرط راځي في الاستقبال، او دلته کې ته وائي چې ماضي لپاره راځي، تدافع راغله، شارح جواب وکړو چې **نظراً الی نفس اللفظ** چې صرف لفظ ماضي وي وان نقل ههنا الی معنی الاستقبال مع اذا نو معنی به استقبال کوو، نو ما چې ویلې چې في الاستقبال، نو معنی دا چې دا شرط به په معنی کې مستقبل وی، لفظ کې ما نه دي ویلي، مثال داسې شو نحو فاذا جاءتهم تفسیر کوي ای قوم موسی علیه السلام الحسنة حسنة کالخصب، لکه فراخ سالي والرخاء او فراخ عیشي، ژوند کې فراخي، نو قالوا لنا هذه ای هي مختصة بنا، دي کې شارح اشاره وکړه چې دا لنا تقدیم په دي هذه باندې لپاره د حصر دی، دوی ویل چې دغه حسنة مختص ده په مونږ پورې، ونحن مستحقوها کې یې اشاره وکړه چې دا لام په لنا کې لپاره د استحقاق دی، یعنې مونږ مستحق وو لائق وو، زمونږ د کمال د وجې نه دا حسنه راغله، الله ته به یې نسبت نه کولو، ویل زمونږ د کمال د وجې نه دا مونږه ته حاصله شوه، مونږه ښه او کامل خلق یو، **وان تصبهم سیئة** ای جدب قحط سالي، باران نه کیدل، او بلاء معنی څه تکلیف په ژوند کې یا په بدن کې یا په مال کې، نو یطیروا، ای یتشائموا یعنې بدفالي به یې نیوله، د بدحالي نسبت به یې کولو، بموسی ویل کله نه چې ته راغلی ئې، ومن معه او ستا دا ملګري پیدا شوي دي کنه نو بارانونه بند دي، فصلونه تباه شو، مرضونه، وباء په مونږ باندې شروع شوي دي، معلومیږي چې ستا شئومت بد دی، من المؤمنین من معه دا وو، اصحاب د موسی، دا مثال مطابق د ممثل سره دی، ځکه فجئ في جانب الحسنة بلفظ الماضي مع اذا، لان المراد بالحسنة الحسنة المطلقة مقیده په یو نوع سره نه ده، التي هغه حسنة مطلقه چې حصولها

مقطوع به وي، څکه چې د مطلق حصول خامخا قطعي وي، او د مقيد حصول موقوف وي په هغه قيد پورې، قطعي نه وي، نو الحسنة کې الف لام حقيقي دي لان وقوع الجنس کالواجب خامخا هغه واقع کيږي لکثرته د وجې د کثرت د هغې نه، واتساعه لتحققه في کل نوع څکه جنس په هره نوعه کې راتلی شي، نو که يو نوعه انسان موجود وي نو بيا جنس موجود شو که فرس، نو بيا موجوديږي که بقر نو بيا موجوديږي، بخلاف النوع هغې کې دومره کثرت او اتساع د جنس په شانتې په کې نشته دی، وجئ في جانب السيئة بلفظ المضارع چې ان تصبهم، مع انْ، لما د وجې د هغه دليل نه، **ذکر**: ذکر کړی دی ماتن، **بقوله**: په خپل دې قول سره چې والسيئة نادرة بالنسبة اليها اى الحسنة المطلقة، ولهذا نكرت السيئة، ليدل تنكيرها على التقليل، او قليل شی کله کله موجوديږي، هغه قطعي نه وي، اوس د دې نه وروستو د انْ معنی مجازي بيانوي، معنی حقيقي د انْ خو دغه شوه چې دي مستعمليږي، په هغه شرط کې چې هغې کې جزم بالوقوع نه وي په مستقبل کې، اوس معنی مجازي بيانوي چې وقد تستعمل انْ في مقام الجزم جزم مجزوم غواړي، يعني په بوقوع الشرط باندې، دا متكلم هغه شرط مجزوم کوي، تجاهلاً لپاره د جاهل کولو د ځان په تکلف سره، يعني دا وقوع د شرط قطعي ده، او نبه ورته پته وي چې قطعي نه ده، نو تجاهل په تکلف سره په زوره باندې د يو سړي ځان جاهل کول، د يوې خبرې نه، ويل د دې مثال داسې شو، يو مرئي دی يو نوکر دی، او د هغه نيک مولی دي، هغه مولی خلک تنګوي، يو راشي دروازه ووهي، فلانی شته دی، بل راشي...الخ فلانکی، نو هغه مولی دي نوکر ته وويل چې زه لږ غوندې ويده کيږم، ارام کوم، څوک راغلی ورته وايه چې نشته دی، او که دا دې ونه ويل نو غوږ به دې پريکړم ګوري، ويل كما سئل العبد عن سيده چې هل هو في الدار چې ستا نيك په دار کې شته دی؟ وهو يعلم، اى العبد انه اى السيد فيها اى في الدار، نبه ورته پته ده چې دننه ويده دی، خوځان په زور سره جاهل کوي، دلته کې خو اذا په کار وو خودي ووائي چې ان كان فيها اخبرك، ويل که وی نو ما به تاته خبر در کړی وی، خو هغه نشته دی، نو فيجاهل: نوځان په زوره جاهل کوي چې زما په کيدو او نه کيدو کې شرط دی، نو ان سره ذکر کوي څکه خوفاً من السيد، يا انْ استعمالولی شي په مقام د جزم کې په وقوع د شرط باندې لعدم جزم المخاطب، د متكلم خو يقين وي په وقوع د شرط نو اذا په کار وو، خو ان استعمالوي خو د مخاطب جزم نه وي، بوقوع الشرط، نو فيجزم الكلام على سنن اعتقاده اى المخاطب، كقولك لمن يكذبك ان صدقت فماذا تفعل، نو ستا خو په ځان دا علم دی او يقين دي دي چې زه ريشتونی يم، ليكن مخاطب وائي نه زما شك دی چې صادق يې که کاذب، نو ته ورته وائي ان صدقت نو مخاطب متردد وو جزم يې نه وو، نو تا ورته ان استعمال کړو، او چې د متكلم يقين وو اذا په کار وو خو د مخاطب د وجې نه چې د هغه شك وو، نو متكلم ورته وويل **ان صدقت...الخ، علمك بانك صادق**، اوتنزيله: يا ان استعماليږي په مقام د جزم

کې په وقوع الشرط کې، تعین د مرجع کوي، د وجې د نازلیدلو د عالم بوقوع الشرط منزلة الجاهل، یعنې یو ځای کې متکلم عالم وو په وقوع د شرط باندې، نو د اذا ځای وو، لیکن هغه عالم بوقوع الشرط باندې تا نازل کړو په منزله د جاهل کې شکي کې، نو متکلم په کې ان مستعمل کړی لمخالفة مقتضی العلم، کقولك لمن یوذي اباه، چې ان کان اباك فلا تؤذه، که دا ستا پلار وي نو تا به ده ته تکلیف نه وو رسولی، نو د متکلم بنه علم دی چې دا د ده پلار دی، او د مخاطب هم علم شته دی، نو دلته ځای د اذا وو، خو دا مخاطب د علم په مقتضی باندې لاتړو، ځکه چې په پلار والي باندې د علم مقتضی دا ده چې هغه ته تکلیف ونه رسوي، لاتقل لهما اف، او ده یې وهل تکول شروع کړل، نو دامتکلم وائي چې معلومیږي چې ستا په دي پلار والي کې شك دی، چې دی زما پلار دی او که نه دی، **او التوبیخ**: یا مستعملولی شي ان په مقام د جزم کې په وقوع د شرط باندې لپاره د زورني ورکولو ای تعییر المخاطب لپاره د زورني ورکولو د متکلم مخاطب ته علی الشرط چې ای مخاطبه دغه شرط باندې چې ستا جزم دی په وقوع باندې ته خطاء ئې، دا شرط واقع نه دی، **وتصویر**: او صورت جوړول، د متکلم دی مخاطب ته چې ان المقام: دغه مقام چې شرط دی لاشتماله علی ما په هغې دلا ئلو باندې، **یقلع الشرط**: چې را اوباسي د بېخ نه دې شرط لره، لایصلح الالفرضه داشرط صالح نه دی مګر لپاره د فرض کولو ای الشرط د دې شرط، داسې فرض کما یفرض المحال، نو دلته کې ان په کار دی، او ستا دا جزم خطاء دی، او فرض د محال ځکه کیږي لغرض من الاغراض، لکه تبکیت چې کول د خصم شو یا الزام علی الخصم، یا مبالغه شوه، ارخاء العنان شو، مثال لکه **نحو افنضرب عنکم الذکر** شارح ورسره لګوي د کشاف په مسلك باندې ځي، **انهملکم**: اشاره کوي چې دا همزه استفهامیه ده او فا په فنضرب کې عاطفه ده، او فا عاطفه معطوف علیه غواړي نو معطوف علیه محذوف ته یې اشاره وکړه، او بله یې اشاره وکړه چې دا همزه په حقیقت کې داخل ده په هغه معطوف علیه باندې خو دا معطوف ته چې را منتقل شوي ده، نوپس د حذف د معطوف علیه نه، ویل: انهملکم ایا پرېږدو مونږه تاسو دغسې په شرك او کفر باندې، فنضرب عنکم القران اړؤو تاسو نه قران، چې قران به درته نه بیانوو؟ نه نه داسې نه پرېږدو، وما فیه من الامر والنهي والوعد والوعید، صفحاً، یا هلکه دا نصب بناء بر څه شی شو، ویل ډیرې طریقې دي: ۱ـ **اعراضاً**: په اړولو سره، نو دامفعول مطلق شو د نضرب لپاره من غیر لفظه، او للاعراض، یا د وجې د اعراض کولو ستاسو نه، نو مفعول له شو، **او معرضین**: یا په حال کون د ستاسو کې چې تاسو اعراض کوئ د قران نه، نو بنا په دي باندې حال شو ان کنتم قوما مسرفین نو مونږ به تاسو دغسې پرېږدو او قران به نه بیانوو درته؟ نو استفهام انکاري دی، نه، قران به درته بار بار بیانوو، ځکه دا زمونږه ذمه واري ده، او که تاسو یې منی او که نه، هغه زمونږ ذمه واري نه ده، د الله د طرف نه مونږه په دې باندې مامور یو د نبي علیه الصلوة والسلام د طرف نه قل هذه

سبيلي ادعوا الى الله انا ومن اتبعني چې تاسو به بيانوئ، معترض راغلی شبه يې وکړه چې قران کې اِنْ کنتم خو نه دی، قراءة مشهوره خو اَنْ کنتم، اَن دی، او دا کلام علت دی د مخکې لپاره چې اَنْ کنتم، نو مثال مطابق د ممثل سره نه شو، ځکه ممثل خو شرط وو اِنْ بکسر الهمزة او دلته کې شرط خو نشته دی، اِنْ، جواب يې وکړو چې بالکسر، اوس دامثال مطابق د ممثل سره دی فکونهم ای المخاطبين مسرفين ای مشرکين، امر مقطوع به، نو دا ځای د اذا وو لکن جئ بلفظ اِنْ لقصد التوبيخ، **ای لقصد الله تعالی التوبيخ للمشرکين، وتصويره**: او د وجې د بيانولو د صورت نه چې ان الاسراف من العاقل يجب ان لايکون الاعلی سبيل الفرض والتقدير کالمحالات نو د دې نه معلوم شو، علامه تفتازاني وويل چې دا شرک چې کوي، نو په مشرک باندې دا قوت واهمه د ده په قوت عاقله باندې غالبه شوي وي، نو کله وائي چې هلکه فلانی ولې نه ستا کار به اوشي، فلاني قبر نه ستا کار به اوشي، فلاني درګاه نه ستا کار به اوشي، فلاني قبر نه به تا ته ځوی ميلاؤ شي، ښځه به ميلاوه شي، مال به ميلاؤ شي، نو منډې کوي، دا د واهمې کار دی، او عاقله ولې الله دی، چې عاقله په واهمې غالبه وي نو هغه وائي چې الله نه بغير بل څوک هيڅ نه شي کولی، لاشتمال المقام، مقام د توحيد **علی الايات الدالة علی ان الاسراف مما لا ينبغي ان يصدر عن العاقل اصلاً في وقت من الاوقات** نو فهو: ای الاسراف والشرک، بمنزلة المحال، معترض راغلی شبه يې وکړه چې بمنزلة المحال شو، نو محال خو مجزوم بعدم الوقوع وي، نو بيا خو د اذا ځای وو، نو اِنْ خو بيا صحيح نه شو، محال کې خو عدم جزم بالوقوع وي، نو شارح جواب کوي چې والمحال، حاصل د جواب دا چې دلته کې دوه تنزيلونه شوي دي، يو تنزيل د دې اسراف واقع شوی دی په منزله د محال کې بيا هغه محال نازل شوی دی په منزله د مشکوک کې، مالاقطع کې، نو اِنْ په کې ځکه مستعمل شو، **ويل والمحال وان کان مقطوعاً بعدم وقوعه لکنهم ای العلماء يستعملون فيه ان لتنزيله، ای المحال منزلة مالا قطع بعدمه**، او دا ځکه نازلوي علی سبيل المساهلة په طريقي د اسانۍ کولو د مخاطبينو سره، يعنې مخاطبينو سره سهولت کوي، اساني کوي، وارخاء العنان او ارتاوۏلو د خپلو واګو، چې هلکه ستا دا خبره ومنو، او مساهلة او ارخاء العنان ورسره د دې لپاره کوي لقصد التبکيت، ای تبکيته، کما في قوله تعالی **قل ان کان للرحمن ولد فانا اول العابدين** نو اوس دلته کې د مهربان بادشاه لپاره ولد نه کيدل دا مقطوع بعدم الوقوع وو، نو اذا په کار وو، ليکن کوم کسان چې په دې قائل دي چې د الله لپاره ولد شته دی، هغوی بيا په دې نه چپ کيږي، چې ته وائي دا شرک او کفر دی، هغوی وائي شرک او کفر نشته دی، شور به جوړ کړي ستا خبره به نه مني، اوس چې تا په کې اِنْ ذکر کړو، نو هغوی به غلي شي چې د مهربان بادشاه لپاره بچی کيدل نه کيدل د دې سړي هم شک شته دی، زمونږ خبرې ته دی مائل دی، نو چپ به شي، نو بيا پرې ايتم بم سره ګوذار وکړه **فانا اول العابدين** نو چې سړی چپ وي او شور نه وي نو خبره ذهن ته ښه ځي، نو زه به اول د

عابدينو نه يم د دې ولد ، ځکه د مقربينو نه يم، نو اول عبادت د دې ولد به ما کړی وي، لیکن تالي باطل دي زه عبادت د غير الله خو نه کوم، نو مقدم مثل شو، د الله لپاره ولد هم باطل او محال شو، يا داسې ووايئ چې **فانا اول العابدين اى فانا اول الجاحدين، فانا اول النافين**

اوس بل مثال ذکر کوي چې اِنْ مستعمل شو ی دی په هغه شرط کې چې هغه ملزوم الوقوع وي، ويل او تغليب غير المتصف يا غلبه ورکړی شي غير متصف ته، به په دي شرط باندې، په چا باندې، على المتصف به په هغه چا چې هغه متصف وي په دي شرط سره، لکه مثال داسې شو چې **لكه كما اذا كان القيام قطعي الحصول لزيد**، نو ځای د اِنْ نه وو، غير قطعي لعمرو، نو دا ځای د اِنْ وو، خو تا غلبه ورکړه، د دې غير قطعي قيام د عمرو لپاره په هغه قطعي قيام د زيد باندې، نو دواړه غير قطعي شو نو اوس اِنْ په کار شو، نو فتقول لهما ان قمتما کان کذا که تاسو دواړه پاسیدای نو ستاسو خير به نه وي، ستاسو غوږ به پرې کوم قال الشيخ ضحكاً، وسخريةً او قوله تعالى للمخاطبين المرتابين، هغه مخاطبين چې شك کوونکي دي په قران کې، چې وان كنتم في ريب مما نزلنا على عبدنا ، يحتملهما، تعيين د مرجع کوي، چې د څه شي احتمال لري اى **يحتمل ان يكون للتوبيخ والتصوير المذكور** نو دا خو ظاهر دی، داسې چې هلکه قران کې خو مرتابين شته دی خو ريب د مرتابينو الله داسې وګرځولو لکه محال، لکه چې نشته دی، ځکه چې د قران په اعجاز او صداقت او حقانيت باندې داسې دلائل موجود دي چې هغه ريب د بېخه را اوباسي چې شك کول په قران کې محال دی، نو اوس که څوک شك په کې وکړي، نو اِنْ يې په کې ذکر کړو، ورنه نو شك خو شته نه، محال دی، نو فرض د محال شو، نو دا ظهور خو ټيك شو، دويم وان يكون لتغليب غير المرتابين على المرتابين چې قران کې دوه قسمه خلک وو، غير مرتابين هم وو او مرتابين هم وو، نو مونږه غلبه ورکړه د غير مرتابين په مرتابينو باندې، نو ټول غير مرتابين شو، نو اوس ريب مشكوك شو قطعي نه شو، نو اِنْ په کې مستعمل شو، ويل **لانه كان في المخاطبين من يعرف الحق وانما ينكر عنادا**، نو **فجعل الجميع كانه لا ارتياب لهم**، د تغليب نه پس چې ګويا ارتياب په کې نشته، نو ارتياب مشكوك شو نو اِنْ په کې مستعمل شو.

اوس ويل وههنا بحث ويل په دي احتمال ثاني کې شبه ده، هغه شبه دا ده، هغه بحث دا دی چې وهو انه اذا جعل الجميع بمنزلة غير المرتابين د تغليب نه وروستو نو كان الشك قطعي اللاوقوع بيا ريب قطعي اللاوقوع شو، او څنګه چې په قطعي الوقوع کې اذا مستعملیږي نو په قطعي اللاوقوع کې هم اذا مستعملیږي، نو فلا يصح استعمال اِنْ فيه، كما اذا كان اى ذلك الشرط قطعي الوقوع، نو چې شرط قطعي الوقوع وي نو هلته کې د اِنْ استعمال صحيح نه دی، نو قطعي اللاوقوع کې هم صحيح نه دی، ځکه لانها ځکه دا اِنْ **انما تستعمل في المعاني المهملة المشكوكة**، اوس يو سړی يو مولانا صاحب راغلی دی، هغه د دې بحث نه جواب کړی دی، د دې اشکال نه چې هلکه في الحال خو د تغليب نه وروستو

دا ریب خو قطعي اللاوقوع دی خو راتلونکي زمانه کې د ریب د راتللو احتمال شته دی کنه، نو د راتلونکي زمانې په اعتبار سره د ریب، شك وو، نو اِنْ یې په کې مستعمل کړو، نو حالاًخو ریب قطعي اللاوقوع دی د تغلیب د وجې نه لیکن مستقبل کې حدوث د ریب محتمل دی، مشکوك دی، نو په اعتبار د حدوث د ریب في المستقبل سره اِنْ یې په کې مستعمل کړو، نو شارح په دي جواب باندې رد کوي، چې دا جواب خطاء دی، وي ویل ولیس المعنی ههنا علی حدوث الارتیاب في المستقبل دا معنی نه ده چې اِنْ ځکه مستعمل شوی دی چې احتمال د ریب في المستقبل کې وو، اګر که حالاًد تغلیب د وجې نه ریب قطعي اللاوقوع شو، دا معنی ویل نه ده، دلیل پرې څه دی؟ ویل زما لپاره دوه دلیلونه دي نقلي، وائي ولهذا د دې وجې نه چې معنی دلته کې حدوث د ریب في المستقبل نه دی، ځکه زعم الکوفیون اِنَّ، اِنْ ههنا بمعنی اذ، او اذ دلالت کوي په ماضي باندې، مستقبل باندې نه کوي، نو معنی د حدوث د ارتیاب في المستقبل صحیح نه شوه، یو دلیل نقلي دا شو، دویم دلیل نقلي زما لپاره دا دی چې ونص المبرد، ویل تصریح کړی دی **مبرد والزجاج علی اَنْ، اِنْ لا تقلب کان الی معنی الاستقبال**، په نورو ماضي ګانو چې اِنْ داخل شي نو په معنی کې استقبال وي، خو کان باندې چې ان داخل شي نو دا اِنْ دی کان لره چې ماضي وي هغه معنی د استقبال ته نه شي اړوولی، ویل ځکه چې لقوة دلالته، ای دلالة کان علی المضی په ماضي باندې، نو اوس شارح وائي شبه مي دا ده، سرته بیا لاړ، دا خو مینځ کې جملې معترضې وې، چا جواب کړی وو، ده هغه جواب باندې رد وکړو، اوس بیا سر ته لاړ، ویل فمجرد التغلیب لا یصح استعمال اِنْ ههنا، ځکه چې شرط خو بیا قطعي اللاوقوع شو، او قطعي اللاوقوع کې استعمال د اِنْ صحیح نه دی، بل سره دا شارح جواب کوي، چې بل لابد من ان یقال چې وویلی شي په جواب کې، چې لما غلب، حاصل چې هلکه دلته کې دوه تنزیلونه راغلي دي، د مخکې په شان ۱۴۴ مختصر اول کې چې څنګ وو یو خو تنزیل د ریب وشو چې غیر مرتابین وګرځول، نو ریب محال شو، بیا هغه ریب محاله یې نازل کړو په منزله د مشکوك کې نو اِنْ یې په کې مستعمل کړو، دا لپاره د ارخاء العنان، دا لپاره د تبکیت د خصم، د الزام لپاره په خصم باندې، ویل **لما غلب صار الجمیع بمنزلة غیرالمرتابین، وصار الشرط قطعي الانتفاء**، نو فاستعمل فیه اِنْ، علی سبیل الفرض، او مفروض مشکوك وي مقطوع نه وي، والتقدیر، د فرض نه فرض شرعي نه دی مراد، چې **ما ثبت بدلیل قطعي لاشبهة فیه** هغه نه دی والتقدیر په معنی د فرض سره دی، فرض د مقدم مراد دی، او دا للتبکیت لپاره د چپ کولو د خصم، چې څوك قائل دی په دي چې قران کې شك شته دی، چې دا من عند غیر الله نه دی، والزامه لپاره د الزام کولو په خصم باندې، چې تا اِنْ وویل نو هغه به شور نه جوړوي، ځکه هغه به وائي چې د ده په دي وجود د ریب او عدم د ریب کې شك دی، نو چپ به شي او غوږ به درته کیدي، نو ته به وائي چې هلکه بالفرض والتقدیر که چیرته په دي قران کې شك وی چې دا من عند غیر الله نه

دی، نو فاتوا بسورة من مثله، نو د دې دعوی نه عاجز شو، مثل خو نه شي راوړی نو چې عاجز شو
الزام پرې راغلی، چې دا قران من جانب الله دی، او هیڅ شك په کې نشته دی، اوس شارح بل مثال ذکر
کوي کقوله تعالی: فان امنوا که ایمان را اوړی وی یهودو بمثل ما په مثل د هغه شي چې امنتم به
ایمان را اوړی دی تاسو صحابو په هغې باندې، خو دا مثال د شارح بناء دی په هغه توجیه باندې چې
دا باء او مثلُ زائد نه شي، او که زائد شي نو بیا د شارح دا خبره نه صحیح کیږي، نو اوس ګورو دا
امنتم د صحابو قران او حدیث وو، اوس دقران او حدیث مثل موجود نه دی، چې ایمان را اوړی وی
دي یهودو په مثل د هغه قران او د حدیث باندې چې تاسو پرې ایمان راوړي دی ای صحابؤ په دې ما
باندې، د هغې مثل باندې دوی ایمان را وړی وي، نو مثل د قران او حدیث موجود کیدل محال دی،
نو ایمان به یهود څه راوړي، خو دلته کې مونږ په فرض سره وویل، ځکه مثل د قران او حدیث خو
محال دی، نو مونږ به فرض کوو، چې هلکه که ومنو چې د قران او د حدیث مثل شته دی، او دې
یهودو په هغه مثل باندې ایمان راوړو، نو فقد اهتدوا نو دوی به صحیح لار بیامومي، نو اوس دا مونږ
فرض کړو نو هغوی به چې شي شور به نه کوي، چې یره ځئ په دې زمونږ قران او حدیث باندې ایمان
مه را وړئ، خو د دې په مثل راوړئ، نو تاته به غوږ ایږدي، او که مونږ ورته ووایو چې په دې باندې
ایمان راوړئ، نو شور به جوړ کړي، بل مثال ښائي، چې دارنګه په قل ان کان للرحمن ولد کې، مهربان
بادشاه لپاره ولد کیدل خو محال دي، نو ځای د اذا وو، خو هغوی غوږ نه اږدي نو ته اِن راوړي چې
هلکه که فرض وکړو چې که د مهربان بادشاه لپاره ولد وي نو **فانا اول العابدین والتغلیب**: یو شی په بل
غالب کول، **باب واسع**: دا یو نوع ده فراخه، داسې چې یجري في فنون کثیرة في تراکیب کثیرة، یو مثال
کقوله تعالی وکانت من القانتین دي، دا حضرت مریم د عاجزي کوونکو نه وه، دا مثال مطابق د
ممثل سره دی غلب الذکر علی الانثی داسې بان اجري الصفة المشترکة، چې هغه صفت مشترکه
قنوت دی، بینهما علی طریقة اجرائها علی الذکور خاصةً، نو دلته او د قانتین داهیئت د مذکرینو
لپاره دی، مشترك نه دی، نو دلته کې تغلیب په اعتبار د هیئت سره شو، مادي سره نه شو، ماده خو د
دواړو لپاره یو ده **لم یقل الشیخ ذلك بل قال ذلك سرعة** خو دا هیئت د قانتین لپاره د جمع مذکر سالم دی د
ذکور لپاره دی، نو تغلیب د ذکور په اُنثی باندې شو، نو ټول ذکور شو، او فان القنوت مما یوصف به
الذکور والاناث جمیعاً قلتُ ولکن لفظ قانتین انما یجري علي الذکور فقط، ځکه دا د جمع مذکر
سالم هیئت دی، بل مثال ماتن ښائي، ونحو قوله تعالی بل انتم قوم تجهلون دا مثال هم مطابق د
ممثل سره دی ځکه غلب جانب المعنی علی جانب اللفظ ځکه جانب د معنی کې دوی مخاطبین وو،
او جانب د لفظ کې وائي قوم اسم ظاهر وو، او اسم ظاهر غائب وي، نو یجهلون ویل په کار وو، نو غلب
جانب المعنی علی جانب اللفظ، لان القیاس یجهلون بناء الغیبة لان الضمیر عائد الی قوم، ولفظه

الغائب، لكونه اسماً مظهراً، لكنه في المعنى عبارة عن المخاطبين، فغلب جانب الخطاب على جانب الغيبة، نو يجهلون يې وويل.

ومنه اى ومن التغليب ابوان للاب والام، ونحوه كالعمرين لابي بكر وعمر، والقمرين للشمس والقمر، دواړو لپاره، اوس دلته كې هلكه تغليب به څنګه كوي؟ تغليب د اب به كوي په ام باندې نو ابوان به واني، نو څنګه تغليب به كوي؟ نو تاسو وايئ چې دلته تغليب اسان دى چې مور نه جامه د مور والي اوباسو چې اُم اسم دى، او جامه د اب ورته اغوندوو، چې ورواغوسته نو ابوان جوړ شو او عمرينو كې داسې چې ابوبكر نه جامه د ابوبكر لرې كړه او جامه د عمر ورته واغونده، مسمى بعمر يې واخله، نو عمرين جوړ شو، قمرين كې داسې چې دې شمس ته جامه د قمر واغوندوه، نو قمرين ترې جوړ شو، **وذلك**: او هغه دا دى چې **بان يغلب احد المصاحبين** لكه ابوبكر او عمر كې چې ابوبكر ته جامه د عمر واغوندوه، او **المتشابهين**: چې شمس او قمر چې شمس ته جامه د قمر واغوندوه **على الاخر**، **بان يجعل الاخر متفقاً له في الاسم**، دا اسم جامه ده، ابوبكر ته د عمر نوم كيده، نو عمرين شو، شمس ته د قمر نوم كيده نو قمرين شو، ثم يثني ذلك الاسم، ويقصد اليهما جميعاً، **فمثل ابوان**: سره دې شارح په بعضو باندې رد كوي، بعضو ويلي وو چې د ابوان په دي تغليب كې او د قانتين په تغليب كې هيڅ فرق نشته دى، دايو شانتې دي، نو شارح په هغه باندې رد كوي چې په دي كې د زمكي او د اسمان فرق دى، ځكه قانتين كې تغليب په اعتبار د هيئت راغلى دى، او په ماده كې تغليب نشته دى، او ابوان كې تغليب په اعتبار د مادي سره راغلى دى، هيئت كې څه تغليب نشته دى، خو ماده كې تا اُم ته جامه د پلار واغوسته، د پلارم نوم اب دې ورله كېښوده او ام نوم دې ورنه اول كتې كړل نو اب دې ورته بيا وويل، نو ماده بدله شوه، نو اب اب نه ابوان جوړ شو، نو دا تثنيه د دواړو مذكر نه شوه، نو د هيئت نه په كې څه تغليب نه دى راغلى، نو دي كې د زمكي او د اسمان فرق شو، نو وائي فمثل ابوان ليس من قبيل قوله تعالى وكانت من القانتين كما توهم بعضهم، **لان الأبوة ليس صفة مشتركة بينهما كالقنوت**، نو فالحاصل دا **شوان مخالفة الظاهر في مثل القانتين من جهة الهيئة والصيغة**، او مادي په اعتبار نه دى، وفي مثل ابوان من جهة المادة وجوهر اللفظ والكلمة بالكلية، دا تاكيد دى، يعنې ماده كې راغلى، ولكونهما دا تعيين د مرجع كوي چې اى انْ و اذا ويل د وجې دكيدو د انْ او د اذا نه لتعليق امر لپاره د زورندولو د يو امر، شارح تعيين مصداقي د امر كوي، چې هغه حصول مضمون الجزاء، دى دا امر زورندوي بغيره د غير تعيين مصداقي كوي يعنې **حصول مضمون الشرط في الاستقبال** دا متن دى، شبه: يا هلكه دا في الاستقبال ظرف مستقر شو، كه ظرف لغو شو، نو شارح جواب كوي چې دا ظرف لغو دى متعلق بغيره دا غير چې شرط دى دا به په استقبال كې وي، معترض راغلى شبه يې وكړه چې يا هلكه ظرف خو متعلق كيږي يا فعل پورې يا شبه فعل پورې، او غير خو نه فعل دى او نه شبه فعل دى نو دې

پوري خوتعلق صحيح نه دی، نو شارح علی معنی سره جواب کوي، چې دلته کې مراد د غير نه حصول د غير دی، حصول د شرط دی، او حصول د شرط شبه فعل دی نو تعلق د دې في الاستقبال ور پورې صحيح شو، نو ځکه وائي چې علی معنی انه يجعل حصول الجزاء مترتباً، دا يې معنی د تعلق وکړه ومتعلقاً علی حصول الشرط، د غير نه يې تعبير په حصول الشرط سره وکړو، خو دا حصول الشرط به في الاستقبال کې وي، معترض راغلی شبه يې وکړه، چې يا هلکه ته دا في الاستقبال د تعليق پورې ولې نه متعلق کوي؟ ځکه چې غير شبه فعل شو تاويلاً او تعليق شبه فعل دی صراحةً، نو متعلق په شبه فعل صراحةً پورې اولی دی د شبه فعل تاويلاً نه، نو شارح جواب کوي، ولا يجوز ان يتعلق بتعليق امر، **لان التعليق انما هو في زمان التكلم لا في الاستقبال** تعليق خو اوس تا وکړو په استقبال کې خو نه دی، الا تری مثال جزئي سره مونږه او تاسو پوهه کوي، ويل ته په سترګو سره نه وينې؟ چې انك اذا قلت ان دخلت الدار فانت حر خپل مرئي ته تا وويل، نو فقد علقت في هذه الحالة، تا معلق کړو په دغه حالت د تكلم کې حريته ای العبد علی دخول الدار او دخول د دار في الاستقبال دي، او تعليق في الاستقبال نه دی، نو کان کل من جملتي کل منهما دوه کلان راغلل، نو من سره د کل ثاني بيان کوي، چې کل منهما، ای من انْ واذا دی، يعني سره د کل اول بيان کوي يعني الشرط والجزاء فعلية استقبالية، فعل به وي او په فعل کې بيا استقبال به وي او ماضي به نه وي، اما الشرط به ځکه وي، اوس فعل به ولې وي د هغې لپاره يې دليل نه دی ويلی، د هغې لپاره دليل د بهر نه ووايئ، نو فعل به ځکه وي، ځکه چې شرط او علت او سبب دا د قبيلې د اوصافو نه دی، او وصف باندې دلالت فعل کوي، نو د فعل کيدو دليل ظاهر وو، نو ځکه شارح نه دی ويلی او شرط به ځکه وي چې فلانه مفروض الحصول في الاستقبال، نو هر کله چې د ده حصول په استقبال کې شرط شو نو فيمتنع ثبوته ومضيه نو ممتنع شو ثبوت د دې في الحال او مضی د دې چې مخکې وي، واما الجزاء او جزاء به فعليه وي ځکه چې دا معلق بالوصف شوه او معلق بالفعل فعل وي، نو دا به فعل وي، ځکه بدله د فعل فعل وي او جزاء بدله وي، او استقباليه به وي فلان حصول ځکه حصول د دې جزاء معلق علی حصول الشرط في الاستقبال، او حصول د شرط په استقبال کې معلق عليه شو ويمتنع تعلق حصول الحاصل الثابت علی حصول ما يحصل في المستقبل چې يو شی اوس حاصل وي او موجود وي، نو هغه ته نه شي زوړنده ولی په حصول او وجود د هغې شي پورې چې هغه مستقبل کې وي، ځکه بيا خو تحصيل د حاصل راځي، بله مسئله کوي ماتن ولا يخالف ذلك ويل خلاف نه شي کولی د دې فعليت استقباليت نه، لفظاً الا النكتة شارح دليل وائي د متن لپاره چې ځکه چې لامتناع مخالفة مقتضى الظاهر من غير فائدة او فائده نکته ده، چې نکته وي نو کولی شي، معترض راغلی شبه يې وکړه چې يا هلکه دا لفظاً تا ولې زيات کړو، دا کافي وو، مبنی د متونو په اختصار ده چې **ولا يخالف ذلك الا لنكتة** لفظاً ته حاجت نه وو، دي

جواب کوي چې **وقوله لفظاً اشارة الى ان الجملتين، ان جعلت كلتاهما او احدهما اسمية او فعلية ماضية فالمعنى على الاستقبال، حتى ان قولنا ان اكرمتني الان**، نو شرط حالي شو فقد اكرمتك امس، جزاء ماضي شوه، ما ستا پرون اکرام کړی وو، جزاء ماضي شوه، خو دلته معنی به د استقبال کوي داسې چې **معناه ان تعتد باكرامك اياي الان**، که ازباتي خپل اکرام په ما باندې اوس، وروستو به ازباتي، نو فاعتدباکرامي اياك امس نو شمیره زما اکرام هغه چې ما پرون ستا کړی وو، نو شمیرل د تکلم نه مستقبل شو اوس وقد يستعمل سره شارح دفع د اعتراض کوي دماتن نه، ماتن باندې شبه راغله چې یا هلکه ته وائي چې د دې نه خلاف نه کیږي لفظاً الالنکتة، او معنی کې د سره خلاف نه شي کیدای، معنی د مستقبل به وي، نو ستا قاعده منقوضه شوه په **ان كنتم في ريب** باندې، ځکه دلته کې اِنْ راغلی دی، او دا شرط خو لفظاً معناً ماضي سره دی،لکه اوس د مبرد او زجاج قول لاړو، چې اِنْ قلب د کان مستقبل نه نه شي کولی، نو دلته کې خو لفظاً او معناً دواړه په معنی د ماضي سره دي، نو لفظاً قید ته حاجت رانغلی، دارنګه چې کوم ځای کې اِنْ وصلیه راشي چې هلته کې تعلیق مقصود نه وي، نو هلته هم په ماضي باندې داخلیږي لفظاً او معناً، لکه زید **وان كثر ماله بخيل وعمرو وان اعطى جاهاً للئيم** نو شارح جواب وکړو چې وقد يستعمل، قد يې داخل کړو په مستقبل باندې تقلیل فائده کوي، چې هلکه دا کله کله داسې کیږي، د دې لپاره اعتبار نشته دی، نو وائي **وقد يستعمل ان في غير الاستقبال لفظاً او معناً**، دواړه خو دا دوه قسمه دي،یو قیاس مطرداً، یعنې په دلیل سره چې هغه شامل وي هري مادي ته مع کان قیاساً مطرداً نه مطلب په دلیل سره، یعنې هر چیرته چې کان موجود شي، او اِنْ پرې داخل شي نو هغه کان لفظاً او معنیً په معنی د ماضي سره به وي، یعنې داسې قیاس چې مطرد دی د کان سره هر ځای کې، نحو وان كنتم في ريب ای وان کنتم في شك کما مر، اوس دا تفسیر یې ولې وکړو چې وان کنتم في شك نو تاسو وایئ چې دا یې د دفع د توهم لپاره وکړو، هغه دا دی چې ریب خاص دی، او شك عام دی، او قانون دا دی چې په انتفاء د خاص سره انتفاء د عام نه راځي؛ نودلته کې الله دا وویل چې که یئ تاسو په شك کې مما نزلنا على عبدنا نو فاتوا بسورة من مثله، خو تالي باطل دی، اتیان بسورة تاسو نه شئ کولی، نو مقدم یې مثل شو چې ریب هم په قران کې باطل شو، نو هلکه دي سره خوثابت شو نفي د ریب د قران نه چې خاص دی او نفي د خاص سره نفي د عام لازمه نه ده، نوشك دي په قران کې وئ کنه، نوبیا خو شك په قران کې ثابت پاتې شو،نو شارح په دي تفسیر سره د دې اعتراض دفع وکړه چې دلته کې ذکر د خاص دی او مراد ترینه عام دی، چې ان کنتم في شك، نو فاتوا، خو فاتوا راوړل باطل دی نو شك هم باطل شو او انتفاء د عام سره انتفاء د خاص راغله.

اوس که دا خبره ستاسو ذهن ته راځي چې ریب څنګه خاص دی او شك عام دی؟ نو ریب عبارت دئ د استواء د امرینو نه خو سره د تهمت نه شك کوي په یو شي کې خو سره د تهمت نه، تهمت پې هم دپاسه

کوي، طعن پرې لګوي، او شك عبارة دی د استواء د امرینو نه مطلقاً چې تهمت په کې ما یرتاب فیه باندې لګوي او که نه نه کوي، نو دا عام شو، **وکذا**: یستعمل ان في غیر المستقبل، اذا جئ بها ای ان في مقام التاکید بعد واو الحال لمجرد الوصل والربط لپاره د مجرد یو خای کولو د یو شي د بل شي سره، یو حکم د بل حکم سره، نو هغه جزاء غواړي، او ربط، دون الشرط نحو زید وان کثر الخ دلته لمجرد الوصل والربط لپاره راغلی دی، ویل زید سره مال ډیر دی او بخیل دی او چې مال نه وی نو په طریق اولی سره بخیل شو، ربط دا شو، وعمرو وان اعطی جاهاً لئیم معترض راغلی شبه یې وکړه چې یا هلکه ان فاتني بك سابق من الدهر، دلته کې لفظاً او معنیً ماضي ده، او کان باندې نه دی داخل شوی او د مجرد وصل او ربط لپاره هم نه دی؟ دواړه نشته او فاتني دلته کې لفظاً او معناً په معنی د ماضي سره دی، نو شارح وویل دا شاذ دی، **ابی یابی شاذ قال الشیخ سخریة**، ویل وفي غیر ذلك قلیلاً، دی، ویل علاوه د دې مذکوز نه چې په غیر مستقبل کې مستعملیږي، اګر که شرطیه وي دا قلیلاً دی، او قلیل لپاره اعتبار نه وي، کقوله: لکه دا قول د ابي العلاء شو، فیا وطني ان فاتني بك سابق من الدهر، فلینعم لساکنك البال، ویل ای زما وطنه که فوت کړی وو ما لره پاتې کړی وو ما لره بك معنی سکونت په تا کې تیرې شوې زماني پاتې کړی ووم، یعني: زه په تیره شوي زمانه کې تا نه تللی ووم، او هجرت ما کړی دی، او تا کې سکونت مانه پاتې شوی دی، نو جزاء محذوف ده چې فلا لوم علي ویل په ما باندې څه ملامتیا نشته، ځکه چې ته ما پریښی وي نو د دې وجې نه نه چې تا کې څه نقصان وو، یا د څه حسد د وجې نه نه، تا کې څه نقصان وو چې تا کې فصل نه کیدو، یا باغات نه وو، سرسبز او شاداب نه وي، صرف شګي او کاږ وودرکښي یاستا د اوسیدونکو سره زما حسد وو، خو د الله تقدیر ویل دغسې وو، نو ویل اوس زما دعا ده چې څوك تا کې اوسیږي خوشحاله دې شي، د هغوی زړه دې الله خوشحاله کړي.

ثم اشار سره شارح اشاره کوي ربط ته د دې وروستوني متن د دې مخکښیني متن سره، چې ثم اشار، ای الماتن الی تفصیل النکتة الداعیة الی العدول، ځکه الانکتة یې ویلی دی، نو اوس وائي چې هغه نکته دا ده چې د عدول لپاره باعث ده د عدول د لفظ د فعل مستقبل نه ماضي ته، بقوله کابراز غیر الحاصل، ویل هغه نکته دا ده چې لکه ظاهرول د متکلم دی غیر حاصل شي لره في معرض الحاصل په صورت د حاصل کې، هغه صورت غیر حاصل په مستقبل کې راځي خو متکلم ترې تعبیر کوي په ماضي سره، د دې لپاره چې هلکه دا راتلونکی شی داسې دی کنه لکه چې حاصل شوی دی، مخکې، ځکه **لقوة الاسباب المتاخذة في حصوله** د وجې د قوت د هغه اسباب نه چې شروع کوونکی دی په حصول د دغه شي کې **نحو ان اشترینا کان کذا** نو دلته اوس په کار داسې وو چې ان نشتر کا کذا یکونُ کذا خو دلته یې په ماضي سره تعبیر وکړو، ځکه چې مبیعه شته چې مثلاً دا شړی ده، او ثمن هم شته تا لاس کې نیولي، پانچ هزار روپی او مجیب، ایجاب کوونکی هم شته دی، چې ته یې یا زه یم، او قبول،

کوونکی هم شته دی، چاراګان نه یو، خولې مو بندې نه دي، او زه او ته دا بحث دا بحث کوو چې زه دا
ګړي خرڅوم او ته بس وائي چې زه اخلم، او روپۍ دا زما لاس کې دي، نو دا شراء داسې ده لکه حاصل
شوه، نو مونږ وایو مخکې نه چې **ان اشترینا کان کذا** که مونږ دا واخیسته نو داسې به کیږي، یعنې چې
یخنې نه به بچ کیږو، او زینت او ډول به حاصل شي، حال انعقاد اسباب الاشتراء، اوس بل دا ابراز د
غیر حاصل په معرض د حاصل کې کوي یو نکته خو لقوة الاسباب شوه، دویمه نکته چې ابراز د غیر
حاصل کیږي په معرض د حاصل کې او کون ما هو للوقوع کالواقع، یعنې هغه شی چې وروستو واقع
کیدونکی دی نومتکلم وائي کالواقع فرض کړي، نو ابراز د غیر حاصل په معرض د حاصل کې کوي،
اوس شارح وائي چې هذا عطف علی قوة الاسباب هلته کښې هغه علت لپاره د ابراز د غیر حاصل په
معرض کې د حاصل لپاره وو، نو دا هم د هغې لپاره شو دغسي، شارح وائي وکذا المعطوفات، غرض
په دې سره رد دی په بعضو چې دغسې نور معطوفات هم چې **او التفاؤل او اظهار الرغبة** دا دوه معطوفات
چې وروستو را روان دي، بعد ذلك، دا هم عطف دی په دي قوة باندې، ځکه لاتها کلها علل لابراز غیر
الحاصل في معرض الحاصل، ځکه علی ما اشار الیه، یو خو دا چې ماتن اشاره ورته کړي ده، في
اظهار الرغبة کې، وروستو را روان دی، اوس شارح وائي چې زما غرض د دې نه رد دی، په بعضو
باندې، چې ومن زعم انها دا معطوفات کلها عطف علی ابراز غیر الحاصل في معرض الحاصل فقد
سها سهواً ظاهراً، یو وجه دا ده چې دا خلاف دی د ما اشار د مصنف په اظهار الرغبة کې، ځکه
وروستو د عطف د مصنف نه په اظهار الرغبة کې معلومیږي چې دا عطف دی په قوة الاسباب باندې او
علت لپاره د ابراز د غیر حاصل په معرض د حاصل کې، هغې باندې عطف نه دی، دویمه دا ده چې
یا استدراك لازمیږي، ځکه چې ابراز د غیر حاصل په معرض د حاصل کې دی وروستو راتلونکو
څلورو واړو ته شامل دی، نو چې څلورو واړو ته شامل شو نو د دې ذکر د دې نه مخکې او قسیم
ګرځول باطل شو، ذکر هم وروستو د هغې نه مستدرك شو، او قسیم ګرځول باطل شو، ځکه قسیم د
شئ مباین وي د شئ نه، هغه هغه شي ته شامل نه وي، دریمه وجه دا ده چې وروستو په دي معطوفاتو
کې یو التفاؤل دی، نو تفاؤل په مجرد مخالفت سره نه راځي، بلکه تفاؤل هله راځي چې ته ابراز د غیر
حاصل په معرض د حاصل کې وکړي، او په مجرد اختلاف سره تفاؤل نه راځي.

والتفاؤل یا ابراز د غیر حاصل کولی شي په صورت د حاصل کې لپاره د نیك فالی نیولو، خوشحالولو د
سامع، او **اظهار الرغبة** یا ابراز د غیر حاصل کولی شي په معرض د حاصل کې لپاره د ښکاره کولو د
متکلم خپلې مینې لره په وقوع د شرط کې، مثال لکه ان ظفرت بحسن العاقبة فهو المرام، شبه: یا
هلکه که دا مثال وي د دې تفاؤل لپاره نو اظهار الرغبة بلا مثاله پاتې شو، او که دا مثال وي د اظهار
الرغبت لپارهٔ نوتفاؤل بلا مثاله پاتې شو؟ نو شارح جواب وکړو په اختیار د شق ثالث سره، چې **هذا**

يصلح مثالاً للتفاؤل ولاظهار الرغبة د دواړو لپاره دی کليهما خو که د تفاؤل لپاره شي نو بيا به داسې وايئ ان ظفرتَ بالخطاب بحسن العاقبة. الخ، نو په کار دلته کې اِنْ تظفر وو، ليکن د اِنْ تظفر نه متکلم تعبير وکړو په اِنْ ظفرت. الخ، سره چې ته کامياب شوی ئې، پرواه مه کوه، نو ته به خوشحاليږې. او که دا مثال د اظهار الرغبة شي نو بيا اِنْ ظفرت بالتکلم، به وائي، چې که زه کامياب شوم نو دغه به زما مقصود وي، نو دلته کې په کار خو اِنْ اظفر وو، خای د مضارع وو، يعنې که زه وروستو چيرته کامياب شوم، خو په خای د اِنْ اظفر کې يې اِنْ ظفرتُ ذکر کړو د رغبت لپاره، چې متکلم وائي چې دا کاميابي زما ډير مرغوب ده، زه دي کاميابي ته ډير خوښ يم، ولما کان سره شارح دفع د اعتراض د کوي د ماتن نه، چې ای هلکه ستا مقصود خو نکته بيانول وو، د ابراز د غير حاصل په معرض د حاصل کې او د هغې مثال بيانول وو، نو هغه خو تا مخکې بيان کړل، نو په دې راتلونکي متن کې چې فان الطالب په دې کې اشتغال خو لايعنې شو، نو شارح مخکې نه جواب کوي چې **ولما کان اقتضاء اظهار الرغبة**، اظهار د مينې غواړي، ابراز غير حاصل في معرض الحاصل، د قبيلې د اقتضاء د سبب نه مسبب لره، خکه چې دا اظهار الرغبة سبب دی، او ابراز د غير حاصل په معرض د حاصل کې مسبب دی، دا يحتاج جواب د لما دی، دا يحتاج وو الی بيان ما، يو معمولي بيان ته محتاج وو، هسې پرې هر سړی نه پوهيدو نو اشار اليه، ماتن ورته اشاره وکړه، چې يو شی ستا مرغوب شي نو د هغې نه په ماضي سره تا تعبير وکړو، نو هغې کې اظهار د رغبت داسې راځي، نو ماتن خکه وويل بقوله چې فان الطالب خکه چې طلب کوونکی سړی يو خبري مرغوبي لره، اذا عظمت رغبته في حصول امر يكثر تصوره، چې که اودس کوي نو بيا تصور کوي، که مونځ کوي بيا، چې هلکه دا کار به کله ما ته حاصل شي، نو کله کله دي چې دا تصور يې ډير شي نو خيال کې دي وائي چې داشی ما ته حاصل شوی دی، نو فربما يخل، نو ډير واړي واقع کيږي په خيال د ده کې دا امر اليه ای الی ذلك الطالب، حاصلاً نو فيعبر عنه بلفظ الماضي، ماتن وائي: وعليه، شارح تعيين د مرجع کوي، **ويل على استعمال الماضي مع ان لاظهار الرغبة في الوقوع ورد قوله تعالى ولا تكرهوا فتياتكم على البغاء** چې مه مجبوره کوئ خپلې لونې، وينځې، خويندې په زنا باندې، د اجرت د وجې نه، چې مونږ ته پيسې ميلاؤ شي، نو هغوی تاسو مجبوره کوئ او که چيرته يې بوځئ، او زنا باندې پيسې کټې، خو کله مه مجبوره کوئ؟ ان اردن تحصناً که هغوی اراده د پاکدامنۍ کوي، يو ترجمه داشوه، چې تاسو پرې په زوره زنا کوئ د اجرت لپاره او د هغوی خوښه نه وي، حضرت شاه صاحب دا ترجمه کوي چې ولاتکرهوا فتياتكم چې مه مجبوره کوئ خپلې وينځې لونې، خويندې على البغاء، په سبب د زنا باندې ان اردن تحصناً چې هغوی اراده د پاکۍ کوي چې خاوند کول دي، هغوی وائي چې دا پلار مونږه چيرته ورکړي په نکاح صحيحه سره، ديندار خای وي، او پلار وائي چې نه چې موتر نه وي بنګله نه وي، پولاؤ بيګا او صبا نه وي، ډبل

بيدې نه وي، ښاريه نه وي، زه دا هر چاته نه ورکوم، نو چې نه ورکوئ د هغې عمر دلته پاتې شي نو د زنا نه بيا نه پاتې کيږي، نو دا د زنا سبب شو، خکه هغه به لاره د زنا کوري، نو دا د زنا سبب شو، د دې وجې نه د ترمذي حديث دی **اذا خطب اليكم من ترضون دينه وخلقه فزوجوه والا تكن فتنة وفساد عريض، وفي رواية وفساد كبير**، که تاسو موتر وغيره، والا کورئ نو تکن فتنة...الخ، کوره پيغمبر وائي دين ته يې وکورئ بس، بيا ورکوئ، کور او موتر ته مه کورئ...الخ، حضرت شعيب عليه السلام همدغسي کړي وو، د حضرت موسى عليه السلام څه نسب نه وو، پيژندلو يې نه، رسول الله فرمائي افرس الناس ثلث بو د حضرت شعيب لور چې هغې د خپل پلار نه د خپلي کوژدني په خپله مطالبه وکړه، قالت يابت استاجره ان خير من استاجرت القوي الامين، هغې ته پته وه چې حضرت موسى عليه السلام سره هيڅ نشته دی، اوږی وو، مسافر وو، صرف يو جامي کرتي ورسره وي، نو کوره رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل افرس الناس ثلث نو هغه دا ترجمه کوي، اوس کورئ اوس **حيث لم يقل ان يردن** کنې ان يردن په کار وو، فان قيل سره دي اوس شبه کوي، چې دلته کې دا اراده د تحصن يې معلق کړه په عدم اکراه پورې، قلت بلکه عدم اکراه يې معلق کړه په ارادي د تحصن پورې فافهم، **وكان الشيخ اليوم مريضا فقال، ذلك لغلبة السهو وشدة التكليف** خو دا اعتراض په شوافعو واردیږي، چې هغوی مفهوم مخالف باندې قائل دي احنافو باندې نه واردیږي، نو دلته کې دا عدم اکراه يې معلق کړه په ارادي د تحصن پورې، نو اراده د تحصن که وي نو اکراه پې مکوئ، اوکه اراده د تحصن نۀ وي نو بيا اکراه جائز ده او کوئ، او شته خو نه اکراه خو بيا هم جائز نه ده، نو دغه شبه کوي چې تعليق النهي عن التحصن...الخ، بالشرط، د شوافعو په نږد باندې، نو د دې نه هغوی دوه جوابونه کوي، يو جواب دا کوي چې **بان القائلين اى الشوافع** چې **بان التقيد، اى تقييد الشئ بالشرط يدل على نفي الحكم**، حکم چې جزاء ده حکم نه مراد جزاء يعنې قضيه چې جزاء ده، عند انتفائه اى الشرط، انما يقولون به اى بهذا التقيد اذا لم يظهر للشرط، د تعليق بالشرط لپاره فائده اخرى، او دلته کې فائده شته چې هغه مبالغه ده، چې که دوی اراده د تحصن نه کوي نو اکراه کول خو حرام کرتي دي، خو که دوی اراده د تحص کوي نو اکراه په طريق اولى سره حرام دی، نو مبالغه شوه، نو وائي يجوز ان يكون فائدته، اى فائدة التقيد في الاية المبالغة في النهي عن الاكراه، يعني انهن اى الفتيات اذا اردن العفة فالمولى احق بارادتها، اى بارادة العفة، نو کوره تعليق بالشرط مستلزم دی انتفاء د جزاء لره په وخت د انتفاء د شرط کې هله چې هغه تعليق لپاره بله فائده نه وي، او که بله فائده وي نو بيا نه دی مستلزم، وايضاً سره دويم جواب کوي، ويل دلالة الشرط على انتفاء الحكم انما هو بحسب الظاهر، دا خو د مفهوم ظاهر په اعتبار سره دی، او **والاجماع ثابت على حرمة الاكراه مطلقا** چې اراده د تحصن کوي او که نه کوي، نو دغه اجماع قاطع قد عارضه دا معارض شوي ده، د دې ظاهر سره، او **والظاهر يدفع بالقاطع** قال السكاكي: اوس دا قول د

سکاکي چې رانقل کوي نو د دې وجه په خپله وروستو شارح بيانوي، نو ماتن وويل قال السکاکي او للتعريض، نو غرض د سکاکي دا دی چې بله نکته وائي، د ابراز دغير حاصل لپاره په معرض د حاصل کې، او غرض د ماتن د نقل کولو د قول د سکاکي نه څه دی هغه به وروستو شارح وائي، ای دې کې اشاره کوي بلې نکتې لپاره د ابراز...الخ، نو وائي ای ابراز غير الحاصل في معرض الحاصل اما لما ذکره، چې هغه لقوة الاسباب او التفاؤل او اظهار الرغبة، دا دې شو واما للتعريض ويل يا لپاره د تعريض، تعريض څه ته وائي؟ تعريف کوي د تعريض چې بان ينسب الفعل الى احد لکه راتلونکی ايت کې نسبت د شرک رسول ته شوی دی و المراد غيره د دې نسبت نه د دې فعل غير وي لکه چې هغه مشرکان دي، لکه د پښتو متل دی چې لوري وايم تا ته او انګوري ته يې اوره، **نحو قوله تعالى ولقد اوحي اليك والى الذين من قبلك لئن اشركت ليحبطن عملك** دا مثال مطابق د ممثل سره دی، خکه فالمخاطب هو النبي صلى الله عليه وسلم **وعدم اشراكه مقطوع به** نو دلته کې ځای د مستقبل وو، ځای د ماضي نه **وو لئن تشرك** په کار وو، **خو لکن جئ بلفظ الماضي ابرازاً للاشراك الغير الحاصل في معرض الحاصل على سبيل الفرض والتقدير** چې بالفرض والتقدير که تا نه شرک حاصل شي، نو هغه سبب لپاره د حبط د ستا د عمل ګرځي، دا څکه تعريضاً لمن صدر عنهم الاشراك لپاره د اشاري کولو-الخ، چې هغه مشرکان دي، داسې چې بانه قد حبطت اعمالهم د دې مثال دا دی کما اذا شتمك احد فتقول والله ان شتمني الامير لضربته نو بادشاه خو څوك نه شي غربولی، لکه مونږ نن سبا مشرف نه شو غربولی، خو مطلب دا دی چې لضربته زه به تا ووهم، دا تعريض شو په دي چې بادشاه ماته نه ټينګيږي، نو ته به ما ته څنګه پاتې شي **ولا يخفى** خلخالي په سکاکي باندې دوه شبهې کړي دي، يو يې دا کړې وه چې دا تعريض دی په هغه چا باندې چې د هغه نه شرک صادر شوی وي، او په هغه چا باندې هم چې هغه نه شرک نه وي صادر شوی خو وروستو مستقبل کې ترې به صادريږي، نو وائي چې ای سکاکي ستا دا تخصيص بمن صدر عنه الاشراك صحيح نه شو، څکه دا ايت خو تعريض دی لمن صدر عنهم الشرك ولمن لم يصدر عنه، او تا تخصيص وکړو چې دا تعريض دی په هغه چا باندې چې هغه نه شرک صادر شوی وي، نو ويل سکاکي ستا دا تخصيص خطاء دی، نو شارح په دې باندې رد کوي په خلخالي باندې، ويل ولا يخفى انه لا معنى للتعريض بمن لم يصدر عنهم الشرك، په هغوی باندې څنګه تعريض کوي، څکه چې حبط العمل يې معلق کړی دی په شرک پورې، نو تعليق د يو شي په بل شي پورې تقاضه د وجود د معلق عليه کوي، نو چې شرک يې کړی لاندې نو په هغه باندې څنګه حبط د عمل راغلی، نو ويل خلخالي ستا دا خبره خطاء ده د دې هيڅ معنى نشته دی، لکه چې يوسړی دی موجوده خلکو ته وائي چې ستاسو ټول اعمال بربادیږي، څکه چې وروستو به تاسو شرک کوئ، دويمه شبه خلخالي په سکاکي باندې دا کړي وه، چې هلکه دغه تعريض څنګه چې په ماضي سره کيږي دغسې دا په مضارع سره هم

کيږي، لئن يشركوا ليحبطن عملكم نو ته دلته وائي عدول کړی ماضي ته،ويل دا نکته ستا خطاء ده، نو شارح د دې نه هم جواب کوي چې ای خلخالي ته پوهه شوی نه ئي، تعريض خلاف الظاهر دی، ځکه چې نسبت د فعل يو ته کوي او مراد ترينه بل وي، نو د دې لپاره لفظ هم خلاف الظاهر په کار دی، نو چې ته لفظ د مضارع راوړي نو هغه خو خلاف الظاهر نه شو، او چې ماضي دي را وويسته نو هغه خلاف الظاهر ده، ځکه د مستقبل په ځای تا ماضي راوړله، نو دا خلاف الظاهر به دلالت وکړي په تعريض باندې، او چې لفظ موافق الظاهر وي نو هغه دلالت په تعريض باندې نه کوي، نو هغه دويمي شبهې باندې داسې رد کوي چې **وان ذكر المضارع لا بقيد التعريض** ځکه چې تعريض خلاف الظاهر دی، او خلاف الظاهر لپاره لفظ هم خلاف الظاهر په کار دی، بكونه ای المضارع على اصله

ولما كان سره شارح د ماتن نه دفع د اعتراض کوي، چې يا هلکه دا مخکې خبري ټولي سکاکي کړي دي: ١ لقوة الاسباب. ٢ تفاؤل. ٣ اظهار الرغبة، نو د دې څلورمي خبري ته په سکاکي باندې حواله ورکوي چې قال السكاكي او للتعريض، او د دې مخکښينو خو تا په سکاکي باندې حواله نه ده ورکړې، او حالانکه دا ټولې خبرې د سکاکي دي شارح جواب وکړو چې ولما كان في هذا الكلام نوع خفاء، يعني باريكتيا، ځکه دوه اعتراضونه د خلخالي پرې وارد وو، اګر که مجاب دی، نو نسبه نسبت يې وکړو ماتن الى السكاكي، ويل آلَا بَلَا بر ګردن مولا، ما ويل چې بر ګردن سکاکي نوشيخ وفرمايل چې بر ګردن سکاکي، والا که دا تاويل نه شي فقد ذكر جميع ما تقدم، ثم قال بيا سکاکي ويلي چې ونظيره تعين د مرجع کوي، ای نظير لئن اشركت في التعريض، نو ګوره ما له النظير، لئن اشرکت شو، او نظير ومالي لا اعبد الذي شو او وجه د شبه في التعريض شو، لا سره د دې في التعريض قيد فائده وائي، چې د دې في التعريض ماتن ولې تخصيص وکړو، ويل دا يې ځکه وکړو چې **لا في استعمال الماضي مقام المضارع في الشرط للتعريض** په هغې کې نظير نه دی صرف په تعريض کې نظير دی، هغه قول د الله دا دی چې وما لي لا اعبد الذي فطرني اصل کلام داسې وو، وما لكم لا تعبدون الذي فطركم، بدليل واليه ترجعون، هغه خطاب دی ترجعون کې صاحب ياسين دلته تعريض ځکه وکړو چې لولا التعريض لكان المناسب ان يقال واليه ارجع على ما هو الموافق للسياق قال الشيخ للسباق نه دی؟ طلباء وويل للسياق دی، شيخ صاحب وفرمايل چې للسياق خطاء دی، سياق راتلونکي ته وائي، او دلته کې ومالي مخکې دی راتلونکی نه دی، للسياق صحيح نه دی، للسباق وليكن، قلت الصحيح للسياق والمراد به قوله تعالى واليه ترجعون، بل قوله تعالى ءاتخذ من دونه.. الخ، لا ومالي. ويؤيد ذلك قول الناكت والمحشي الشيخ الدسوقي، فافهم، اوس ماتن د دې تعريض وجه حسن ذكر کوي، ويل ووجه حسنه، ای حسن هذا التعريض، اسماع المتكلم شارح اشاره کوي چې دلته کې د اسماع اضافت مفعول ته دی، اورؤل د متكلم دی، چې صاحب ياسين دی المخاطبين الذين هم

اعداؤه، اوروي ورته الحق هو المفعول الثاني للاسماع على وجه لايزيد ذلك الوجه غضبهم وهواي ذلك الوجه هغه وجه داده چې **ترك التصريح بنسبتهم الى الباطل** اوس كه هغه داسې ويلى وى چې اى هلكه تاسو باندې څه چل دى؟ خنزيرانو حراميانو مشركانو چې تاسو عبادت نه كوئ، د هغه الله چې تاسو يې پيدا كړي يئ، نو جگړه جوړه شوه، هغوى به ويلى وى چې ته حرامي يې خنزير، نو جگړه جوړه شوه مسئله خوره نه شوه، او تا په ابتداء كې تلطف او نرمي وكړه چې اى ورونو ما او تاسو كې يو مرض موجود دى،، هغوى به تاته ښه متوجه شي چې يره څه مرض دى؟ نو تا وويل چې مرض دا دى چې مونږه د غير الله عبادت كوو، شرك كوو، او شرك كفر دى، سړى پرې الله جهنم ته غورځوي، نو جگړه به نه جوړيږي، هغوى به وائي مولوى صاحب زمونږه توبه ده، يو يو به پاسي او د شرك نه به توبه اوباسي، ديته حكمت عملي وائي، **ادع الى ربك بالحكمة والموعظة الحسنة** او د واغلظ لپاره څان له مقام دى، ولاتنيا في ذكري لپاره څان له مقام دى، چې ته پوهه شوي چې دا عنادي دي، منت ورته كوي او نه مني نو بيا پرې فتوى ولگوه[1]، اول فتوه مه لگوه، څكه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي چې **خصلتان احب الى الله السخاء وحسن الخلق** بل روايت **ان الله يعطي على الرفق ما لا يعطي على العنف**، ښه ويعين على قبوله او امداد كوي دغه وجه په قبلؤلو د حق باندې، د دې متن په مينځ كې شرح د شيخ نه سهواً پاتې شوه **لكونه**: اى لكون ذلك الوجه، ادخل في امحاض النصح، ډيره مؤثره ده په خالص نصيحت كې څكه **حيث لا يريد المتكلم لهم الا ما يريد لنفسه** څكه حديث كې راځي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په يو مجلس كې وويل چې **من ياخذ عني هؤلاء الكلمات اى الكلمات الاربع**، ابو هريرة فرمائي چې ما خپله كمبله وروستو وغورځوله، او پاڅيدم چې حضرت زه تيار يم، قال الشيخ بكاءً، څكه ابوهريرة فرمائي چې يو زه ووم او يوه زما كمبله، نه زما باغات وو او نه پتې وو نه بل څه، نو چې كوم خاى كې به رسول الله صلى الله عليه وسلم ناست وو زه به ورسره ووم، لازم ملزوم، نووېل ما ته څكه احاديث ډير ياد دي، بعضې صحابه ؤ پرې تهمت كولو چې ابوهريرة دا حديث د كوم خاى نه راوړى دا دومره، نو هغه وائي زه يې څكه دومره راوړم چې يو زه ووم او يو زما كمبل وو، نو چې چيرته به رسول الله صلى الله عليه وسلم كښيناسته نو زه به ورسره وومه، نو چيرته به حديث راتلو نو هغه به ما ياد كړو، نو ويل څكه زما ډير احاديث ياد دي، چې طالب غير حاضري نه كوي نو هغه ته د اول نه تر اخره پورې كتاب زده شي، او چې غير حاضري كوي، يو سبق ترې لاړ شي نو بيا د كتاب نه په خپو پوهيږي او نه په سر، په هيڅ بيا پوهه نه شي، او د يو سبق تلل داسې دي لكه تول كتاب تلل، دغسې فرض كوئ، نو ابوهريرة رضي الله تعالى عنه ويل چې حضرت زه يې اخلم، زه يم، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته شمار كړل **قال اتق**

---

١ - چې ته لعنتي ئې، (اني لاظنك يا فرعون مثبورا).

المحارم حرام نه مراد چې ترک يې حرام دي که فعل يې حرام وي، نو ماموراتو او منهياتو ټولو ته شامل شو، د ماموراتو ترک حرام دی او د منهياتو فعل حرام دی، تکن اعبد الناس بيا به ته د خلکو نه ډير عابد شي، دويم يې ورته وويل **ولاتؤذي جارك**، **والصاحب بالجنب من القران لامن الحديث فافهم تكن مسلما** بيا به ته مسلمان شي، دريم يې ورته وويل **وان تحب للناس ما تحب نفسك**، **تكن مؤمنا** څلورمه خبره دا ده چې ولاتكثر الضحك ويل ځکه **فان كثرة الضحك تميت القلب**، نو ما تاسو ته د دې لپاره وويل چې **لايريد المتكلم لهم الا ما يريد لنفسه** نو **ان تحب للناس ما تحب لنفسك**.

ادوات ثلاثه ؤ کې بل لو وو، نو ماتن وويل چې ولو للشرط، شارح د شرط تعريف کوي، ای لتعليق حصول مضمون الجزاء بحصول مضمون الشرط، شارح باندې شبه راغله چې يا هلکه ستا کلام او د ماتن په کلام کې تدافع راغله، ځکه ماتن ويلي دي چې مع القطع بانتفاء الشرط چې شرط به نه وي، په راتلونکي متن کې، او تا وويل چې مضمون د جزاء به مونږه زورند ؤو په حصول د مضمون د شرط پورې، نو معلق عليه وجود غواړي، نو ستا د کلام نه معلومه شوه، چې شرط به موجود وي، او د ماتن د کلام نه معلومه شوه چې شرط به منتفی وي، نو ستا او د ماتن په کلام کې تدافع راغله، شارح جواب وکړو چې فرضاً، دا فرضاً لګوئ د حصول د مضمون د شرط سره، په حال کون د دې حصول د وجود د مضمون د شرط کې چې دا فرضاً وي، في الماضي په ماضي کې، او ماتن چې ويلي چې مع القطع بانتفاء الشرط، هغه په نفس الامر کې، په نفس الامر کې به شرط نه وي، منتفی به وي، نو هر کله چې شرط منتفی شو نو **فيلزم انتفاء الجزاء** مثال داسې شو کما تقول لوجئتني لاکرمتك په حال کون د ستا کې چې **معلقاً للاكرام بالمجئ مع القطع بانتفاء المجئ**، چې مجئ نشته دی حساً، چې زيد نه دی راغلی، نو فيلزم انتفاء الاکرام، نو اکرام هم منتفی شو، نو دا پرې تفريع شو، چې فهي ای کلمة لو راځي لپاره لامتناع الثاني، شبه: يا هلکه شرط ته هم ثاني وائي په نسبت سره جزاء ته، دي تعين کوي اعنی الجزاء، لامتناع الاول، يا هلکه جزاء ته هم اول وائي چې که شرط مؤخر شي، نو تفسير کوي اعني الشرط، يعني سره شارح ښه وضاحت کوي چې ان الجزاء منتف بسبب انتفاء الشرط، نو انتفاء الشرط سبب شو او انتفاء د جزاء مسبب شو، سائل سوال وکړو چې دغه مذهب اتفاقي دی که اختلافي دی، نو شارح جواب کوي چې **وهذا هو المشهور بين الجمهور** دي کې اختلاف دی، دا لو چې امتناع د ثاني کوي نو د وجې د امتناع د اول نه کوي، دا مشهورين الجمهور دي، سائل سوال وکړو چې د جمهورو دا مسلك به حق وي؟ ويل نه! واعترض عليه ابن الحاجب دي حق نه دی، حق زه ويل ورته نه شم ويلی، ابن حاجب پرې اعتراض کړی داسې چې بان الاول سبب والثاني مسبب دی، چې جزاء ده، **وانتفاء السبب لا يدل على انتفاء المسبب**، ځکه چې **لجواز ان يكون للشئ اسباب متعددة**

نو يو سبب منتفي شو نو بل سبب دي وي کنه، بل الامر بالعکس چې انتفاء د مسبب سره انتفاء د سبب راځي، ځکه راځي چې **لان انتفاء المسبب يدل علي انتفاء جميع** اسبابه چې هلکه څه ځکه منتفي شوي يم چې زما ټول اسباب منتفي دي. نو دا د ابن الحاجب په مذهب باندې تفريع شوه چې **فهي اي کلمة لولا امتناع الاول لامتناع الثاني**، بالکل عکس شو مذهب د ابن الحاجب د مذهب د مشهورينو سره الاتر سره دليل تنويري ذکر کوي. وائي ته نه وينې په سترګو سره؟ چې **ان قوله تعالى لو کان فيهما الهة الا الله لفسدتا**، نو دلته کې انتفاء د فساد مونږ ته معلوم ده حسا او انتفاء د تعدد مونږ ته معلوم حسا نه ده، نو دلته معني به دا کوو چې: **انما سيق هذا الکلام ليستدل بامتناع الفساد** چې هغه مونږ ته معلوم دي حسا، **علي امتناع تعدد الالهة دون العکس**، ځکه چې قانون دادي چې استدلال په معلوم سره په مجهول باندې کيږي، استدلال په مجهول سره په معلوم باندې نشي کيدي.

واستحسن المتاخرون سره شارح اشاره کوي چې متاخرينو هم د ابن الحاجب ډله کړيده، وائي ښه ګڼلې ده متاخرينو راى **ابن الحاجب حتي کادوا اي المتاخرون يجمعون علي انها اي کلمة لو لامتناع الاول لامتناع الثاني**، دليل پرې دا دي چې **اما لما ذکره**، چې يا د هغې دليل د وجې نه چې ذکر کړيدي هغې لره ابن الحاجب، **واما**: او يا دا متاخرين بل دليل هم وائي، يا د دې وجې نه چې **لان الاول ملزوم والثاني لازم**، او جزاء خو لازم ده، او قانون دا دى چې **انتفاء اللازم يوجب انتفاء الملزوم** ځکه لازم عام وي او انتفاء د عام مستلزم ده انتفاء د خاص لره **من غير عکس**، انتفاء د ملزوم سره انتفاء د لازم نه راځي، ځکه ملزوم خاص دي، او په انتفاء د خاص سره انتفاء د عام نه راځي **لجواز ان يکون اللازم اعم**. د شارح نه سائل راغې سوال يې وکړو چې تا خو يو مذهب د جمهورو بيان کړو، او يو مذهب د متاخرينو، ته په خپله کوم طرفته ئې، ستا پته خو مونږ ته رانغله؟ ته د جمهورو د ډلې نه يې که د متاخرينو د ډلې نه؟ نو شارح جواب کوي په **اقول** سره، چې زه په دې دواړو کې حکم يم، نه د جمهورو ډله کوم اونه د متاخرينو ډله کوم، زه دې کې حکم يم، فيصله کوم چې تاسو دواړه په خطا باندې يئ. فيصله دا ده چې يو انتفاء د جزاء او شرط ده په خارج کې، زما او ستا علم په دې انتفاء باندې وي او که نه نه وي، نو که انتفاء عين په خارج کې وي چې هغې ته لو شرطيه وائي. نو ماقال د مشهورينو حق دي، ځکه چې انتفاء د جزاء په خارج کې د وجې د انتفاء د شرط نه ده په خارج کې. ځکه چې: **لو جئتني لاکرمتک**: دا انتفاء د اکرام په خارج او نفس الامر کې، قطع نظر د زما او ستا د علم نه، د دې لپاره سبب انتفاء د مجيء ده، ديته لو شرطيه وائي، او ما قال د مشهورينو حق دي په دې اعتبار.

او يو انتفاء علمي ده چې علم زمونږ راشي په انتفاء د شرط باندې. او علم زمونږ راشي په انتفاء د جزاء باندې. نو بيا ما قال د متاخرينو حق دي. ځکه چې هغې ته لو استدلاليه وائي. نو زمونږه علم په انتفاء د

شرط باندې هله راځي چې علم په انتفاء د جزاء باندې راشي چې سبب دي او لازم دي. يو انتفاء خارجي وه هغې کې چې کوم لو استعماليږي هغې ته لو شرطيه وائي. او يو انتفاء علمي ده هغې ته لو استدلاليه وايي. نو وائي دا اي جمهورو او متاخرينو ګډوډئ مه. دا يو شي نه دي په دې کې لوی فرق دی نو ما قال د متاخرينو من وجه هم ټيك شو. او ما قال د مشهورينو هم من وجه ټيك شو.

وائي **وانا اقول ـ التامل**، دوی د لو په معانيو کې فرق نه دي کړي چې لو څو قسمه دي، **لانه اي الشان ليس معنى قولهم اي الجمهور چې لولا امتناع الثاني لامتناع الاول**، دا معنى يې نه ده چې **انه يستدل بامتناع الاول على امتناع الثاني** ځکه چې استدلال په اعتبار د علم سره وي. او علم په انتفاء د سبب باندې هغه دليل لپاره د علم په انتفاء د مسبب باندې نشي کيدي. او علم په انتفاء د ملزوم باندې هغه دليل لپاره د انتفاء د لازم باندې نشي کيدي. حالانکه اوس هغوی وويل: **حتى يرد عليه ان انتفاء السبب او الملزوم لا يوجب انتفاء المسبب او الملزوم، بل معناه اي قول الجمهور چې انها: اي كلمة لو للدلالة على ان انتفاء الثاني في الخارج انما هو بسبب انتفاء الاول في الخارج** و نفس الامر کې قطع نظر زما او ستا د دليل نه او علم نه. نو ديته لو شرطيه وائي. نو اوس راشه: **فمعنى لو شاء الله لهداكم**: دا لو شرطيه دي، د دې معنى دا ده په نفس الامر کې چې **ان انتفاء الهداية**، په نفس الامر او خارج کې: **انما هو بسبب انتفاء المشية اي مشية الله تعالى**. دا ټيك ده. **يعني انها اي كلمة لو تستعمل للدلالة على ان علة انتفاء مضمون الجزاء في الخارج**، په علم کې نۀ، **هي انتفاء مضمون الشرط**، په خارج کې، قطع نظر زما او ستا د علم نه، لکه شارح په خپله وائي: **من غير التفات بغير** د کتونه: **الى ان علة العلم بانتفاء الجزاء ماهي**: د دې نه به نظر بنکته کوي، خو نفس الامر او خارج ته به ګوري: **الا ترى** سره شارح دليل تويري ذکر کوي. وائي ته په ستر ګو نۀ وينې؟ بلکه وينې چې: **ان قولهم اي قول العرب** چې **لولا لامتناع الثاني لوجود الاول**: لولا راځي لپاره د امتناع د ثاني د وجې د وجود د اول نه، **نحو لولا علي لهلك عمر، معناه ان وجود علي سبب لعدم هلاك عمر رضي الله عنهما**، دغه معنې شوه په خارج کې چې وجود د علي دا سبب وو لپاره د عدم هلاك د عمر، نفس الامر کې، او دا څوك نۀ وائي چې دا وجود د علي دا دليل دي چې عمر نه دي هلاك شوي. داسې څوك نشي ويلي ځکه چې عمر د علي نه مخکې وفات شوي دي. نو کله وجود د علي دليل وي په عدم هلاك د عمر باندې نو بيا خو وفات د عمر د علي نه روستو پکار دي کنه. او عمر د علي نه مخکې وفات شوي دي. **لا ان وجوده دليل على ان عمر لم يهلك**

اوس دويم دليل وائي چې ګوره منطق کې تاسو ويلي چې قياس استثنائي کې رفع د مقدم نتيجه رفع د تالي نۀ ورکوي ځکه چې رفع د مقدم رفع د ملزوم ده، او رفع د ملزوم مستلزم رفع د لازم لره خو نۀ ده. ځکه انتفاء د خاص سره انتفاء د عام نۀ راځي. او شارح وائي چې په لو شرطيه کې دا قانون کيدي شي. لو استدلاليه کې هغه قانون نشي کيدي. او لو شرطيه کې دا کيدي شي، نو وائي: **ولهذا صح مثل قولنا: لو**

جنتني لاكرمتك: نو اوس ګوره رفع د مقدم يې وکړه **لكنك لم تجئني فلم اكرمك:** نو رفع د تالي سببه وکړه، **اعني عدم الاكرام بسبب عدم المجئ،** نو دلته کې د ملزوم رفع علمي نشوه، ملزوم رفع علمي مستلزم رفع د لازم لره نه ده، او د ملزوم رفع يې نفس الامري مستلزم کيدي شي رفع د لازم لره شارح ته چا وويل چې دا مثال به ستا هسې مصنوعي مثال وي، تابه د ځانه جوړ کړي وي چې **لو جئتني لاكرمتك لكنك لم تجئني فلم اكرمك** عندي مثال به وي دا مونږ نه قبلوو، نو شارح وويل **قال الحماسي:** وائي څه دا زما مصنوعي دي؟ نو څه حماسي ته وګوره هغه دلته کې رفع د مقدم کړيده: **ولو طار ذو حافر قبلها لطارت ولكنه لم يطر:** دي د خپل اس مدحه کوي چې که چرته الوتي وي يو خاوند د کرشنې ويل اس مخکې دده نه، نو دي به هم الوتي وي ليکن مخکې بل يو اس نه دي الوتي، نو **فلم يطر:** دا هم نه دي الوتي نو دا مثال مطابق د ممثل سره دي ځکه يعنې قصد کوي دا شاعر چې **ان عدم طيران تلك الفرس بسبب انه لم يطر ذو حافر.**

او دا قران کې هم شته، لکه: **ولو ان قرانا سيرت به الجبال او قطعت به الارض او كلم به الموتى،** نو دا دلته کې د دې قبيلې نه دي، خو د قران نه يو مقروء کتاب واخلئ، که چيرته يو مقروء کتاب مخکې د قران نه د هغې سره غرونه الوتلي وي يا زمکه پريکړې شوي وي او يا مړو خبري کړي وي نو: **لكان القران ايضا كذلك،** لکن مقدم خو لازم نه دي، مخکې مقروء کتابونو داسې نه دي کړي، قران هم ونه کړل، يو توجيه هلته کې د دې قبيلې نه ده، دارنګه بل ځای کې په قران کې دي چې: **ولو اراكهم كثيرا لفشلتم:** که الله ښودلي وي تاسو ته دا کافر ډير نو تاسو به کمزوري شوي وئ، سست شوي به وئ، ليکن ډير يې ونه ښودل نو تاسو سست هم نه شوئ نو دلته کې يې هم انتفاء د مقدم وکړه، شرطيه قران کې هم شته دي، نو دلته کې هم ترجمه داسې شوه.

بيا شارح باندې چا سوال وکړو چې د حماسي خو دا يو شعر دي، او يو شاهد په شريعت کې منظور نه وي، نو يو حماسي شعر سره مونږه دا نه منو، نو وائي چې ته نه مني نو بل شاهد به پيش کړو، **قال المعري،** وائي ابو العلاء المعري ته دي وګوره، وائي: **ولو كانت الدولات كانوا كغيرهم رعايا ولكن مالهن دوام،** دی د خپلې زمانې د بادشاه صفت کوي، وائي که چرته هميشه وي بادشاهي په دنيا کې، او مرګ پرې نه راتللي، نو **كانوا** نو وي به دغه بادشاهان **كغيرهم** پشان د نورو عوامو خلکو: **رعايا:** رعايا د ممدوح لپاره، د ممدوح لپاره به هغوی هم د رعيت پشان وسيدل دبادشاهت په طريقې سره به نشو وسيدلې نو اوس ګوره رفع د مقدم يې وکړه: لكن مالهن دوام. ليکن اهل دولات لپاره دوام خو نشته دي، نو

هغوی د ممدوح لپاره رعایا هم نشو، نو ګوره که اوس دلته چري استدلال مطلب وي نو استدلال کې رفع د تالي نتیجه مقدم نۀ ورکوي

شارح باندې چا شبه وډزوله چې یاهلکه بیا منطقیان ولې وائي چې رفع د مقدم نتیجه رفع د تالي باطل دي، دا نۀ ورکوي او تا خو ثابت کړه رفع د مقدم نتیجه رفع د تالي ورکوي نو دي وائي ستر ګي بیرته کړه هغه د منطقیانو مذهب دي او دا د اهل عربیه وو مذهب دي، وائي: **واما المنطقیون فقد جعلوا ان ولوادات اللزوم وانما یستعملونها في القیاسات لحصول العلم بالنتائج**، فهي: دا کلمه **دلوعندهم للدلالة علي ان العلم بانتفاء الثاني علة للعلم بانتفاء الاول ضرورة انتفاء الملزوم بانتفاء اللازم من غیر التفات الي ان علة انتفاء الجزاء في الخارج ما هي.**

اوس مخکې معترض په مثال کې ښودلي وونو د هغې نه جواب کوي: **وقوله تعالي**: لوکان فیهما الهة الا الله لفسدتا، دا لو استدلالیه دي، دا شرطیه نۀ دي، **وارد علي هذه القاعدة** شبه یا هلکه چې دا په دي قاعده باندې وارد شو نو بیا د منطقیانو مذهب خو حق شو کنه؟ ځکه د هغوی قاعده قران سره موافق شوه، نو شارح جواب کوي: **لکن الاستعمال علي قاعدة اللغة هو الشائع المستفیض**

شارح وائي: وتحقیق **هذا البحث علي ما: علي طریق ذکرنا من اسرار هذا الفن**، د بل فن نه دا تاسو نۀ دي اوریدلي، په دې فن کې پرې تاسو پوهه شوئ او د طالبانو شوق لپاره شارح نور لاوویل چې **وفي هذا المقام مباحث اخري**، شبه وائي هغه نور هسې فضولیات غوندې دي؟ وائي: نه نه **شریفة** شبه نو تا راوړل ولې نه؟ **اورد ناها في الشرح**: او دلته کې ما دا ټول ځکه رانۀ وړل چې ما اول کې وعده کړې وه چې دا مختصر دي، ځکه بیا به طالبانو ویلي چې شارح د خپلې وعدې نه خلاف وکړو.

ماتن په متن کې فرمائلي دي چې **فیلزم عدم الثبوت**: شارح د دې نه مخکې په شرح کې ورسره زائد کلام راویستي دي چې **فاذا کان لو للشرط في الماضي** د دې نه غرض د شارح دا دي چې فیلزم جزاء ده، شرط په دې مخکې متن کې مذکور دي خو د هغه شرط نه بعد شارح اوږده شرحه ذکر کړه نو د دې وجې نه یې بیا رامعاد کړه چې دا راتلونکي متن هم د هغه مخکې متن سره لګي او غرض د ماتن د دې خپل عبارت نه دا دی چې هرکله لو راځي لپاره د شرط في الماضي، نو په لو کې دوه خبري دي یو دا چې دي د شرط او د تعلیق لپاره راځي، او دویم دا چې په ماضي کې د شرط لپاره راځي، نو چې شرط لپاره راځي نو منافي د شرط ددۀ سره نشي راتلي، د دې وجې نه د دې نه بعد جمله اسمیه نشي راتلي ځکه لو دلالت کوي په تعلیق او په عدم ثبوت چې دا شي لاموجود شوي نه دي بلکه وجود ددۀ معلق دي، او جمله اسمیه دلالت په وجود او حصول باندې کوي، او په مابین د تعلیق او د ثبوت او حصول کې منافات دي او بل دا چې هرکله دي په ماضي کې د شرط لپاره راځي نو لازم دي د ماضي سره چې ددې نه روستو به فعل ماضي راځي، مضارع نشي راتلي، ځکه مضارع چې دلالت کوي په استقبال نو منافي ده د ماضي سره

شارح ورپسې فرمائي چې **اذ الثبوت ينافي التعليق والاستقبال ينافي المضي**، غرض د شارح د دې عبارت نه دا دي چې دليل وائي لپاره د متن چې لو لازم دي د عدم ثبوت سره ځکه چې دي مستعملیږي د تعليق لپاره ثبوت منافي دي د تعليق سره نو ددۀ نه روستو داسې شي پکار دي چې هغه دال په عدم ثبوت يعني تعليق باندې وي، او دارنګ چې دي مستعملیږي د شرط لپاره په ماضي کې نو استقبال ددۀ سره منافي دي لهذا ددۀ نه بعد مضارع چې په استقبال دلالت کوي، نشي راتلي.

فلا يعدل في جملتها عن الفعلية الماضوية الا لنكتة: غرض د شارح د دې عبارت نه دادي چې تفريع کوي په دې مخکې شرطينو د استعمال د کلمې د لو، يعني چې هرکله کلمه د لو لپاره د شرط او تعليق په ماضي کې مستعملیږي او ثبوت منافي د تعليق دي او استقبال منافي د ماضي والي دي نو بيا به د لو په شرط او جزاء دواړو جملو کې جملي فعليي ماضويي راوړي شي او د دې نه به عدول مضارعي ته نشي کيدلی هو! مګر د څۀ خاص نکتي لپاره، يعني اصل خو په لو کې هم داده چې ماضي دي ددۀ نه روستو وي خو بالفرض که چرې مضارع واقع شي ددۀ نه روستو هسې لفظا اګر که معنا به ماضي وي نو هغه به د څۀ خاص نکتي لپاره وي، او دخاص نکتي د وجې نه عدول د ماضويت نه مضارعيت ته صحيح دي او واقع دي.

ومذهب المبرد انها يستعمل في المستقبل استعمال ان: غرض د علامه تفتازاني رحمه الله د دې عبارت او شرح نه دا دي چې کلمه د لو مستعمل شي په مستقبل کې يعني د لو نه بعد اګر که اصل داده چې ماضي دي وي ليکن بعض اوقاتو کې که چرې مضارع واستقبال واقع شي نو د جمهورو مذهب دادي چې دا به لفظا مضارع و مستقبل وي او معني به ماضي وي او دا عدول به د څۀ نکتي د وجې نه شوی وي، ليکن د مبرد مذهب دادي چې مستقبل کې چې کلمه د لو مستعمل شي نو بيا دا پشان دا ان استعماليږي. يعني بيا څۀ نکتي ته محتاج نۀ وي. نو حاصل الفرق په مابين د مذهب د جمهورو او د مبرد کې دا شو چې جمهور وائي چې مضارع چې واقع شي بعد لو نو په ما بعد کې به تاويل وي چې لفظا به مضارع وي او معنا به ماضي وي. او مبرد فرمائي چې په کلمه د لو کې تاويل دي چې دا پشان د ان مستعمل شوه.

وهو مع قلته ثابت نحو قوله عليه السلام: اطلبوا العلم ولو بالصين وانى اباهي بكم الامم يوم القيامة ولو بالسقط: دا عبارت دليل د امام مبرد دي، فرمائي چې لو کله په مضارع داخل شي او په معني د ان سره شي نو داسې کيدل د لو اګر که ډير کم دي ليکن سره د دې نه واقع دي او ثابت دي. په مثال کې يې دوه حديثونه نقل کړه. حديث اول متعلق ناکت ذکر کړي دي چې ابن حبان رحمه الله ويلي دي چې: لا اصل له. او دويم حديث په دي الفاظو سره دي چې: **اني مكاثر بكم الامم** اود: **ولو بالسقط** جمله يې ثابت نۀ ده، مصحح

امام مبرد دليل نيولى دى د دې نه چې اول مثال کې اطلبوا په حيز او په ارخ کې لو مستعمل شوى دى چې اطلبوا ولو بالصين او طلب په صيغې د امر سره په مستقبل کې دي نو کلمه د لو مستعمل شوه په مستقبل کې نو په شان د ان ده، هيڅ نکته نه غواړي چې دا خو مستعملېږي په ماضي کې او دلته مستعمل شويده په مضارع کې نو عدول د ماضي نه مضارع ته د څۀ نکتي لپاره شوي. بلکه هيڅ نکته نۀ غواړي لکه ان چې مستعمل شي په مضارع کې او څه نکته نه غواړي، بلکه په خپل اصل مستعمل وي.

او په دويم مثال کې په لفظ د يوم القيامة باندې دليل نيسي چې دا استقبال کې را روان دي لو مستعمل شو په استقبال کې. د مبرد په مذهب باندې اعتراض شويدي چې دلته کې په مثالينو کې دا لو لپاره د ربط د جملي حاليي دي او دا شرطيه نۀ دي او کلام زمونږ په لو شرطيه کې دي. او دليل په دې باندې دا دى چې دلته کې د دې لپاره جواب مذکور نه دي نو لهذا په دې مثالينو سره مثال ورکول صحيح نۀ دي، ليکن د دې سوال نه جواب شوى دى چې مبرد وايي چې جواب د دې مذکور دى تقدير د عبارت داسې دي چې **ولو يكون الطلب بالصين فاطلبوه، ولو تكون المباهاة بالسقط فاني اباهي به.**

ادخولها على المضارع في لو يطيعكم في كثير من الامر لعنتم: غرض د ماتن د دې عبارت نه دادي چې دا مخکې نو ما هو الاصل د لو يې ذکر کړو. اوکه عدول راشي د دې اصل نه خلاف الاصل د لو ته نو هغه د څه نکتي لپاره دي. نو د دې ځای نه هغه نکات د عدول ذکر کوي، فرمائي چې لو داخليږي په ماضي باندې نو اوس ددې لو داخليدل په مضارع چې په مضارع لفظا داخل شوي وي لکه په دې قول د الله تعالى کې چې: **لو يطيعكم الخ**. نو معنا دلته هم اگرچې دا اطاعت په معني د ماضي دي ليکن لفظا مضارع راغلى دى د يو خاص نکتې لپاره چې هغه شارح بيانوي په دې قول سره چې: **لقصد الاستمرار فيما مضي وقتا فوقتا**، يعني مضارع چونکه په استمرار تجددي باندې دلالت کوي نو د دې وجې نه د لو نه بعد فيطيعكم لفظا مضارع ذکر شوه ځکه مقصود د باري تعالى د دې اطاعت استمرار دي. يعني که دې پيغمبر ستاسو هميشه اطاعت کولى په ډيرو کارونو کې نو تاسو به په سختيا يا هلاکت کې واقع شوي وي. خو ستاسو دا په مشقت کې نه واقع کيدل په دي وجه دي چې دي پيغمبر ستاسو په اطاعت هميشه والي نه دي کړي. شارح چې دا اوويل چې **لوقعتم في جهد وهلاك** نو دي سره يې تفسير د غير مشهور بالمشهور وکړو. او وهلاك کې واو په معني د او دي ځکه چې د لفظ واحده نه اراده د معنيينو مختلفينو صحيح نه ده، **لقصد استمرار الفعل الخ**. مراد مخکې په تشريح او توضيح کې ذکر شو، فافهم.

والفعل هو الاطاعة: د دې ځای نه غرض د شارح دادي چې په ايت کريمه کې د کلمي د لو په اعتبار دوه احتمالين ذکر کوي. او دليل ذکر کوي د تطبيق د مثال بالمثل لپاره. نو حاصل د دې ځای نه دادي چې دلته دوه څيزونه دي. يو نفي ده چې مستفاد وه د کلمي د لو نه ځکه لو راځي لپاره امتناع د ثاني د وجې د امتناع د اول نه، او امتناع او نفي يو شي دي. او دويم ورسره قيد دي چې استمرار دي چې

مستفاد دي د مضارع نه، نو داهم جائز ده چې نفي د قيد معتبر شي يعنې د استمرار نفي معتبر کړې شي يعنې دا استمرار مقتضي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ستاسو په اطاعت هميشه ګيري نۀ ده کړي، يعنې اطاعت خو يې کله کله کړي خو هميشه ګيري يې په اطاعت نۀ ده کړي، او داهم جائز ده چې نفي د تقييد معتبره کړي شي، يعنې دا نفي او امتناع د نبي صلي الله عليه وسلم مستمره ده، يعنې په دې امتناع مستمره سره تاسو د جهد يا هلاک نه بچ شوي يئ. يعنې دا عدم اطاعت د نبي عليه السلام مستمر وو. يعنې هميشه يې ستاسو اطاعت نه دي کړي، نو دي هميشه اطاعت نه کولو په وجه تاسو د هلاک او جهد نه بچ شوي يئ. نو فرمائي چې فعل اطاعت دي، او قيد د دې فعل استمرار دي. ځکه فعل مضارع په استمرار تجددي دلالت کوي، او کلمه د لو پرې داخله شوي او هغه راځي لپاره د امتناع د ثاني د وجې د امتناع د اول نه. او امتناع نفي ده نو نفي د استمرار شوه يا دا نفي قيد د دې استمرار شوه نو امتناع استمراري مراد شوه **يعنې ان امتناع عنتكم**: سره حاصل المعني ته اشاره کوي او بنا په احتمال اول چې نفي د قيد ده يعنې نفي د استمرار ده د دې احتمال سره موافق مراد بيانوي. او اشاره کوي دليل د تطبيق د مثال بالممثل ته، فرمائي چې: **ان امتناع عنتكم بسبب امتناع استمراره علي اطاعتكم**

اوس **فان المضارع يفيد الاستمرار**: سره د استمرار ثبوت لپاره دليل ذکر کوي چې مضارع مفيد د استمرار ده. **ودخول لو عليه يفيد امتناع الاستمرار**، د دې سره نفي او امتناع د استمرار ثابتوي چې هغه دخول د لو دي، ځکه لو راځي لپاره امتناع د ثاني د وجې د امتناع د اول نه. او امتناع نفي ده، نو نفي د استمرار ثابت شوه، نو چې لو په مضارع داخل شو او مضارع دلالت په استمرار کولو او لو په امتناع نو هغه استمرار يې نفي کړو، په دې توجيه سره فعل مثبت دي او لابيا نفي شوه.

ويجوز ان يكون الفعل امتناع الاطاعة: د دې ځای نه دويم احتمال بيانوي چې دا هم جائز ده چې فعل منفي شي چې امتناع الاطاعة يعنې نفي کيدل د اطاعت يعنې سره د دې توضيح کوي فرمائي: **يعنې ان امتناع عنتكم بسبب استمرار امتناعه عن اطاعتكم**: يعنې ستاسو په جهد يا هلاک کې نه واقع کيدل په دې وجه دي چې دې پيغمبر هميشه ګيري کړې ده په دې نۀ کولو د اطاعت باندې. يعنې ستاسو په اطاعت نۀ کولو باندې يې په ډيرو کارونو هميشه ګيري کړي. يعنې هيڅ کله يې هم ستاسو اطاعت نه دي کړي نو فرق په ما بين د احتمالينو کې دا شو چې مخکې مراد دا را اووتو چې ستاسو په اطاعت يې هميشه ګيري نۀ ده کړي، بلکه کله يې اطاعت کړي او کله يې نه دي کړي، او بنا په دويم مراد دا شو چې په دې عدم اطاعت يې استمرار کړي يعنې دا منع کيدل يې هميشه وو يعنې هيڅ کله يې ستاسو اطاعت نه دي کړي، اوس چې فعل عدم اطاعت شو يعنې فعل منفي شو او په دې کې استمرار هم دي د دې لپاره دليل وائي چې مضارع خو په استمرار تجددي دلالت کوي خو ايا منفي هم کوي او که نه. نو وائي چې مضارع منفي په استمرار د نفي باندې دلالت کوي. نو دليل کې فرمائي چې دا هم جائز دي ځکه چې

لانه كما ان المضارع المثبت يفيد استمرار الثبوت بجواز ان يفيد المنفي استمرار النفي. والداخل عليه لو يفيد استمرار الامتناع اوس كما سره نظير پيش كوي. مضارع مثبت مفيد د استمرار الثبوت ده نو مضارع منفي دي مفيد د استمرار النفي شي لكه جمله اسميه مثبته مفيد د تاكيد د ثبوت او د دوام ده او منفي مفيد د تاكيد د نفي د دوام ده نو فرمائي: **كما ان الجملة الاسمية المثبتة تفيد تاكيد الثبوت ودوامه والمنفية تفيد تاكيد النفي ودوامه لا نفي التاكيد والدوام** يعني چې اصل موجود دي خو دا تاكيد يې منفي دي، بلكه د دې نفي تاكيد كوي چې دا نفي په طريقي د تاكيد ده، كقوله تعالى سره مثال پيش كوي چې جمله اسميه منفيه تاكيد د نفي كوي لكه په دي قول د الله تعالى كې چې: وماهم بمؤمنين: په دي كې په دي باء زائدي سره تاكيد د دې نفي شويدي چې كوم په كلمي د ما سره مستفاد دي، او دا تاكيد د نفي شويدي: **ردا لقولهم انا امنا**: لپاره د رد كولو د باري تعالى قول د دې منافقانو چې دوى په تاكيد سره وائي چې **انا امنا**: رد يې كړو په ابلغ وجه ځكه هغوى جمله اسميه مثبته په تاكيد سره ويلي وه نو الله پاك ورله په جمله اسميه منفي سره تاكيد د نفي وكړو چې ستا د دې عدم ايمان دا عدم مؤكد او يقيني دي. مخكې ماتن فرمايلي وو چې لو خو داخليږي په ماضي باندې خو كله كله چې مضارع داخل شي لكه په: **ويطيعكم ـ الخ**، نو دا د قصد د استمرار لپاره ځكه مضارع دلالت په استمرار كوي. نو اوس مثال پيش كوي د دې لپاره چې مضارع دلالت په استمرار كوي نو فرمائي **كما في قوله تعالى**: الله يستهزئ بهم: نو دلته يستهزئ مضارع سره الله تعالى تعبير كړي دي، د استمرار د قصد د وجې نه شارح دليل وائي لپاره د تطبيق المثال بالممثل نو فرمائي: **حيث لم يقل الله مستهزئ بهم**: د دې وجې الله پاك مستهزئ بهم په اسم فاعل سره ونه ويلو بلكه مضارع سره يې تعبير وكړو، **قصدا الى استمرار الاستهزاء وتجدده وقتا فوقتا**: يعني د دوى استهزاء سزا الله تعالى دوى ته هميشه وخت په وخت د وركولو اراده لري چې دوى كله هم استهزاء كوي نو الله هم اراده كړي ده چې دوى ته به هر ځل يعني هميشه وخت په وخت سزا د دې استهزاء وركوي. **دخولها على المضارع في نحو**: غرض د ماتن دا دى چې بل مقام ذكر كوي چې هلته لو په مضارع داخل شوي وي او نكته د هغې ذكر كوي، نو فرمائي: **وفي**: شارح د واو او د دې في په مينځ كې دخولها على المضارع را اوويستلو په دي كې يې قاعدي د عطف ته اشاره وكړه، ځكه ما قبل د معطوف عليه كالمعاد وي په معطوف كې نو هغه يې را اوويستو نو ماتن فرمائي چې د لو داخليدل په مضارع په دي قول د الله تعالى كې چې: ولو ترى اذ وقفوا على النار: دا لپاره د نازلولو د مضارع دي په منزله د ماضي كې يعني نكته ورله تنزيل المضارع منزلة الماضي ده.

او الخطاب لمحمد صلى الله عليه وسلم، غرض د شارح د دې عبارت نه دادي چې احتمالين بيانوي په خطاب د لفظ ترې كې چې يا مخاطب په دې باندې محمد صلى الله عليه وسلم دي يعني خطاب هغوى ته

شوی دی. نو بنا په دې احتمال بیا ایت کې تسلي ده نبي علیه السلام ته، او یا دویم احتمال دا دی چې دا خطاب دي لکل من یتاتي منه الرؤیة، یعنې هر هغه چاته خطاب دي چې رؤیت د هغه نه ممکن دي، نو بیا مقصود ترهیب دي

اي اروها حتي یعاینوها: غرض د شارح د دې خای نه دا دی چې د دې تفسیر ذکر کوي د دې لفظ د وقوف لپاره. یو **اروها**: یعنې دوی ته دا جهنم وښودلی شي تردې چې دی یې وویني، یعنې وقوف نه مراد لیدل دي. دویم: **اواطلعوا علیها اطلاعا هي تحتهم**: چې دي تري خبر شي هغه د دوی دلالتدي، یعنې وقوف په معنې د اطلاع او دویم او ادخلوها یعنې وقوف په معنې ددخول، لیکن ناکت ذکر کړي د تجرید نه چې وقوف په معنې د دخول نۀ دي وارد په کلام د عربو کې لهذا په دي تفسیر ثالث کې مسامحه ده. **فیعرفوها**: دا کلام مرتب دي په دي مخکې دریواړو تفسیرونو باندې، یعنې چې دوی یې اوپیژني او پوهه شي په مقدار د عذاب د دې جهنم باندې

وجواب لوسره اعتراض ته اشاره کوي چې هرکله دا لو شرطیه داخل شوي په مضارع باندې نو شرطي خو جواب د جزاء غواړي او هغه خو دلته نشته، نو معلومه شوه چې دا لو شرطي نۀ دي بلکه وصلیه دي چې جواب نۀ غواړي، بلکه ربط لپاره راځي د حال د ذو الحال سره، نو مثال په دي ایت کریمه سره **اي لرایت امرا فظیعا**، دائې صحیح نشو، شارح جواب کوي چې محذوف چې جواب شرط محذوف دي، **لتنزیله**: دا دلیل او علت دي لپاره د دخول د لوپه هغه محذوف جواب راویستلو چې هغه دادي: مضارع باندې، یعنې لو داخل شوي په دي ایت کې په مضارع باندې ځکه چې دلته دا مضارع چې تري دي نازل کړي شوي منزلة الماضي او په عین ماضي لو داخلیږي نو په بمنزلة الماضي هم داخل شو. نو دا مضارع نازل ده په منزله د ماضي کې، لکه څنګه چې یو شي په ماضي کې واقع وي او یقیني وي نو دغسې د اکلام د باري تعالی هم یقیني دي لکه چې واقع دي، نو واقع اګرچې نه دي خو په منزله د واقع دي د وجي د یقین نه. **اي المضارع** سره غرض د شارح تعیین د مرجع کوي. **لصدوره** اوس د انازل کړي شو په منزله د ماضي ځکه لصدوره شارح ورسره لګوي **اي المضارع او الکلام** دي کې اشاره کوي تعیین د مرجع ته چې په مرجع د دې ضمیر غائب کې احتمالین دي یا راجع مضارع ته دي او یا الکلام ته چې مستفاد دي د دې مخکې کلام نه چې صادر دي **عمن لا خلاف في اخباره**. او په دي لصدوره کې دویم قول د شارحینو دادي چې علت لپاره د تنزیل نۀ دي بلکه دا علت د مقدر لپاره دي ځکه روستو کلام د شارح په دي دلالت کوي چې دا لصدوره د دې تنزیل لپاره علت نۀ دي. بلکه دا احتمال بعید دي دما قال د شارح نه په ما بعد کې ځکه چې په دي مخکني احتمال اعتراض راځي هغه داچې هر کله دا معني استقبالي چې د تري نه مستفاد ده او حقیقت کې هم دا رؤیت په استقبال کې دي یعنې قیامت

کې خو هر کله چې دا نازل کړي شو په منزله د ماضي کې نو پکار ده جه د دې نه اوس په ماضي سره تعبير شوي وي، د دې وجې دا لصدوره د دې تنزيل لپاره علت نۀ دي بلکه مقدر لپاره دي او هغه دادي **چې لم يعبر عن ذلک المعني الاستقبالي بعد تنزيله منزلة الماضي بصيغة الماضي لصدور ذلک عمن لا خلاف في اخباره.** يعني هر کله چې دا مضارع نازل کړي شوه په منزله د ماضي نو پکار داوه چې بيا د دې نه په ماضي سره تعبير شوي وي او لو پرې داخل شوي وي، خوددي تنزيل نه بعد هم په مضارع سره د دې معني استقبالي نه تعبير اوشو او د لفظ د ماضي نه عدول مضارع ته اوشو، او په صيغې د ماضي سره ترې اونه شو ځکه چې که په مضارع سره هم شوي خو دا کلام د هغه چا نه صادر دي چې د هغه په کلام کې تخلف د سره نشته، نو دا مضارع په تعبير د مضارع سره هم داسې ده لکه ماضي په تحقق الوقوع کې.

فهذه الحالة: سره غرض د شارح دادي چې دليل بيانوي لپاره د تطبيق المثال بالممثل چې دا حالت د کافرو په قيامت کې دي، نو ترې مضارع ده او لو پرې داخل شوي دي، حالانکه دا داخليږي په ماضي، **لكنها جعلت_الخ** ليکن دا حالت بمنزله د ماضي متحققې ګرځولي شوي، يعنې تاويلا ماضي ده. په داسې شان چې ځنګه ماضي متحقق الوقوع وي نو دارنګ دا مضارع عند الله تعالى متحقق الوقوع ده. نو د تحقق الوقوع تاويل د وجې نه بمنزلة الماضي ده اګرچې لفظا ومعنا دا مضارع ده. نو هر کله چې بمنزلة الماضي المحقق ده او په غير ماضي خو لو داخليږي نو **فاستعمل فيها لو واذا المختصان بالماضي:** نو مستعمل شو په دې حالت کې لو او لفظ د اذ چې اذ وقفوا دي چې دا دواړه مختص دي د ماضي سره، **لكن عدل عن لفظ الماضي** سره دفع د يو وهم کوي، وهم دا اوشو چې هر کله دا بمنزلة الماضي شو نو بيا ترې تعبير هم په لفظ د ماضي سره کول پکار وو، حالانکه تعبير خو په مضارع سره دي د ماضي سره نۀ دي، نو شارح دفع د وهم کوي چې ليکن عدول اوشو د لفظ د ماضي نه او داسې اونۀ ويل چې لو رايت د دې لپاره چې دا شان شي چې دا د هغه چا کلام دي چې د هغه په خبر ورکولو کې هيڅ تخلف نۀ راځي، او مستقبل به هم د هغه په نزد باندې پشان د ماضي متحققي دي په تحقق الوقوع کې. نو **فهذا الامر:** دا مذکور رؤيت د دې په حقيقت مستقبل دي ماضي ده په اعتبار د تاويل نو ګويا چې داسې ويلی شوي چې **قد انقضى هذا الامر لكنك ما رايته ولو رايته لرايت امرا فظيعا.**

کما عدل عن الماضي د دې ځای نه غرض د ماتن دادي چې نظير پيش کوي د دې لپاره چې کله کله دخول د لو کيږي په مضارع د وجې د تنزيل د مضارع نه منزلة الماضي لپاره، يعني لکه ځنګه چې په ولو ترې کې لو داخل شوي وو د وجې د تنزيل د مضارع نه بمنزلة الماضي او عدول د اصل د لو نه شوي وو چې داخليدل د لو دي په ماضي نو دغسې عدول د ماضي نه شوي مضارع ته په دې قول د الله تعالى کې هم چې **ربما يود الذين كفروا،** د وجې د تنزيل د مضارع نه بمنزلة الماضي او ماضي نه ده ذکر کړی شوي بلکه عدول د ماضي نه شوي مضارع ته چې بود دي، لتنزيله دا علت دي د دې عدول

لپاره، او ضمير په کې راجع دي مضارع ته چې يود فعل دي، **لصدوره عمن لا خلاف في اخباره**، دا دليل د دې تنزيل دي **وانما كان الاصل** سره غرض د شارح دادي چې دليل بيانوي لپاره د تطبيق د مثال بالممثل چې دلته کې اصل ماضي ده خو بيا مضارع ذکر کړي شوي د دې په ځای باندې، نو دلته هم عدول د ماضي نه مضارع ته د وجي د دې تنزيل مذکور نه د دې اصل په وجه سره دي، يعنې اصل او راجح په رُب کې هم داده چې داخليږي په ماضي او دلته چې په مضارع داخله ده د وجي د دې تنزيل نه ده. نو فرمائي چې دا مثال د ممثل سره مطابق دي ځکه چې **وانما كان الاصل ههنا هو الماضي، لانه** سره غرض د شارح دادي چې د دې اصل لپاره دليل وائي چې اصل دلته په رب کې داخليدل د دې رب دې په ماضي ځکه شان دا دی چې **قد التزم ابن السراج وابو علي في الايضاح ان الفعل الواقع بعد رب المكفوفة بما يجب ان يكون ماضيا**، چې ابن سراج او ابو علي په ايضاح نومي کتاب کې لازم ګڼلي چې کوم فعل چې واقع وي پس د رب نه چې هغه بند کړي شوي وي د عمل نه په کلمي د ما سره نو واجب دي چې دا فعل به ماضي وي، يعنې کوم لفظ د رب چې په کلمي د ما سره د عمل نه په ما بعد کې بند کړي شوي وي نو د دې نه بعد به فعل ماضي راځي مضارع نشي راتلي، خو هر کله چې دلته په ربما يود کې مضارع راغلي ده نو دا د وجي د تنزيل المضارع بمنزلة الماضي د وجي نه ده، **لانها** سره غرض دليل بيانوي د دې لپاره چې دا فعل به پس د رب مکفوفه نه ماضي ځکه وي چې **لانها للتقليل في الماضي**، ځکه چې دا رب مکفوفه راځي لپاره د لږ والي ښکاره کولو په ماضي کې، نو مناسب د دې سره په ما بعد کې ذکر د ماضي دي، د دې وجي نه دا په ماضي داخليږي، ومعني التقليل سره غرض د شارح رحمه الله دفع د اعتراض ده، اعتراض دا راځي چې کافر خو د اسلام د محبت ډيره تمني کوي او دا تمني خو د دوی نه ډيره حاصليږي او موجوديږي يعنې په ډيرو احوالو او اوقاتو کې نو بيا دلته د تقليل نه څه مراد؟ دلته **ومعني التقليل**: مراد د تقليل څنګه جوړيږي نو شارح راځي او دفع د دې سوال او اعتراض کوي چې: **انه قد يدهشهم** ـ الخ چې هيبتناك حالتونه د قيامت به دوی بيهوشه کړي نو دوی به متحير شي حيران به شي نو که چرته د دوی نه لږه شان خودي يعنې په خود کيدل بيامونديشي نو په دې لږ خود کيدو به دوی د اسلام تمنا کوي او اسلام به خوښوي دا معني او مراد د تقليل دي **وقيل هي مستعارة للتقليل**: د دې عبارت نه غرض د شارح دادي چې په کلمي د رب کې نور اقوال ذکر کوي چې رب خو د تقليل في الماضي لپاره راځي اصل په دي کې هم داده ليکن دوه قوله په کې نور هم شته چې بعضې وائي چې رب مستعار او منقول ده د معني د تکثير لپاره او تقليل لپاره نه ده بلکه اوس دلته مجازا په تکثير کې مستعمل ده او بعضې وائي چې داد تحقيق لپاره ده د تقليل لپاره نه ده، و **مفعول يود محذوف** دا دفع د يو سوال ده چې يود فعل متعدي دي نو د دې مفعول کوم دي؟ نو شارح

جواب وکړو چې د دې مفعول محذوف دي، او د دې په حذف باندې قرینه لفظیه موجود ده چې **یود الذین الاسلام یا کونهم مسلمین. لدلالة لوکانوا مسلمین علیه**: دا د دې تعیین د مفعول محذوفه لپاره قرینه لفظیه او دلیل ذکر کوي چې اسلام او کونهم مسلمین د دې مفعول محذوف څکه دي چې دا روستو سیاق د ایت چې لو کانوا مسلمین دي هغه په دي محذوف باندې دلالت کوي، او بنا په دي توجیه لو د تمني لپاره دي لپاره د حکایت د محبت د دوي، لو چې تمني لپاره دي او شرطي نه دي نو جواب نه غواړي، او پاتې شو په راي د هغه چا چې هغوی لو د تمني لپاره یو حرف مصدري ګرځوي نو بیا مفعول د یود هم دا قول دي چې: **لوکانوا مسلمین**. څکه دا ما بعد جمله به په تاویل د مصدر سره ګرځوي نو دا به بیا مفعول شي د دې یود لپاره.

ولاستحضار الصورة: شارح ورسره لګوي: **عطف علي قوله لتنزیله**: غرض د شارح د دې نه دادي چې په دي کلام کې حرف عطف او راغلي نو د دې وجې تعیین د معطوف علیه کوي، او لتنزیله خو علت وو لپاره د عدول د ماضي نه الي المضارع ته په: ولو تري کې، چې لو داخلیږي په ماضي او دلته داخل شوي په مضارع یعنې عدول د ماضي نه دلته مضارع ته شوي لتنزیله الخ. نو دا لتنزیله د دې لپاره یو علت وو اوس ماتن هم د هغې لپاره بل علت ذکر کوي، یعنې د ماضي نه د عدول الي المضارع لپاره یا علت تنزیل دي او یا استحضار الصورة دي، یعنې ان العدول الي المضارع: غرض د شارح مدعي ذکر کول دي چې دا لاستحضار د هغې لپاره دلیل او علت او نکته ده، نو فرمائي چې قصد کوي ماتن داچې عدول د ماضي نه مضارع ته په مثل د: ولو تري یا خو د هغه نکتي د وجې نه دي چې مخکې تیره شوه چې هغه تنزیل مضارع بمنزله ماضي وو، او یا ورله نکته استحضار د صورت او هیئت د رؤیت د کافرانو دي چې اودرولي شوي وي په اور باندې، اوس مضارع دلالت په استحضار باندې کوي څکه چې: **لان المضارع لما یدل علي الحال الحاضر الذي من شانه ان یشاهد**: څکه چې مضارع د هغه قبیلي نه ده چې هغه دلالت کوي په حاضر حال باندې داسې حال چې د شان د هغه نه داوي چې مشاهده کړي شي اولیدلي شي، **فکانه یستحضر بلفظ المضارع**، نو ګویا چې په لفظ د مضارع سره مستحضر کیږي دغه صورت د دې لپاره چې دا سامعین یې مشاهده وکړي.

ولا یفعل ذلک: سره غرض د شارح دادي چې د استحضار لپاره محل بیانوي چې دا استحضار نشي کیدی مګر صرف په هغه امر کې چې د هغې مشاهده یو مهتم بالشان څیز وي د غرابت او نادروالي د وجې یا د فضاعت یعنې شناعت د وجې او یا د دې په مثل لکه د لطافت د وجې. **کما قال الله تعالی: فتثیر سحابا**: غرض د ماتن نظیر پیش کول د مضارع لپاره چې دلالت کوي په استحضار الصورة باندې، یعنې چې مضارع مستعمل شوي وي د استحضار الصورة لپاره نو فرمائي چې لکه څنګه چې

فرمايلي دي الله تعالي **فتثير سحابا**: چې تثير يې په لفظ د مضارع سره ويلي پس د دې قول د الله تعالى چې **الله الذي ارسل الرياح** يعني مخکې د دې مضارع نه ماضي ذکر ده چې ارسل ده او هغې نه بعد هم ماضي پکار وه خو مضارع سره تعبير شوي لپاره د استحضار د دغه صورت بديعه د وريځو چې دلالت کوي په غالب قدرت د الله، **يعني** سره غرض د شارح دادي چې **الصورة البديعة** تعيين کوي چې صورت بديعه څه شي دي نو فرمائي چې قصد کوي ماتن صورت د اثارت د بادونو وريځو لره چې مسخر دي په اسمان او مزکه کې په مخصوص کيفيت او په انقلاباتو مختلفو سره چې بعضې يو ځای وي او بعضې بعضي جدا جدا کوي، بعضې ګوري ګوري وي او بعضې کمي کمي وي وغيره وغيره.

واما تنكيره تعين د مرجع کوي شارح چې ای المسند وائي **فلاردة عدم الحصر** د وجې د اراده کولو د متکلم نه په تنکير سره عدم حصر، مقصود د اراده د متکلم حصر د مسند د مسند اليه پورې نه وي او د وجې د عدم ارادې د عدم عهد نه **والعهد** داسې عهد چې دال دې په دې باندې، په دې حصر وعهد باندې **تعريف** اوس د تنکير ضد تعريف دې نو تعريف ئې که کړې وي نو د تعريف نه مقصود يا حصر وي اويا عهد وي هغه دواړه مراد د متکلم نه وو نو تنکير کوي **كقولك زيد كاتب وعمرو شاعر** نو اوس ګوره **زيد كاتب** دلته کې مقصود د متکلم صرف خبر ورکول دي په کتابت سره اوپه شعر سره په کتابت سره خبر ورکوي د زيد نه اوپه شعرسره خبر ورکوي دعمرو نه دغه ئې مقصود دې او دا مقصود د متکلم نه دې چې کتابت مقصور دې په زيد پورې او شعر مقصور دې په عمرو پورې داهم دمتکلم مراد نه دې چې د کتابت نه مراد يو کتابت معهوده دي چې يا رسم الخط په عربئ سره يا رسم الخط په فارسئ سره يا په پښتو سره يا په اردو سره، شعر نه مراد هم يوشعر معهود نه دې چې خوش اوازئ سره يا غيرخوش اوازئ سره بلکه مطلق مراد دي، نود دې وجې ئې نکره وويله، نکره ئې ذکر کړه.

او للتفخيم: يا تنکير د مسند کولې شي لپاره د تعظيم د مسند **نحو هدىً للمتقين** معترض راغلو شبه ئې وکړه چې دا مثال خو نه صحيح کيږي ځکه چې دا **هدىً** يا حال دې د کتاب نه او يا هدى مسند اليه دې او للمتقين ورله خبردې نو دۀ شارح جواب وکړو چې دا مثال **بناء على انه** چې دغه هدىً **خبر مبتداء محذوف** چې **هو هدى** چې دا قران د هدايت نه داسې مرتبې ته رسيدلې دې چې دهغې کنه مونږه نه شو معلومولې او يا خبر د **ذالك الكتاب** شو **ذلك الكتاب هدىً** نو دا تنکير لپاره د تفخيم شو چې قران کريم په هدايت کې دومره حدته رسيدلې دې چې دهغې کنهه مونږه نه شو معلومولې اونه مونږ ته معلومه ده.

او للتحقير: يا تنکير د مسند کولې شي لپاره د تحقير د مسند لکه **نحو مازيد شيئا** يعني زيد هيڅ شئ نه دې **واما تخصيصه** وائي هرچې دې تخصيص د مسند **بالاضافة**، چې د مسند اضافت بل چاته کيږي **نحوزيد غلام رجل اوالوصف** يا په وصف سره لکه **نحوزيد رجل عالم** نو دا ځکه چې **فلكون الفائدة اتم** وائي د

وچې د کیدلو د فائدې نه په دې اضافت او تخصیص سره تام کامل دا اتم ولې کیږي؟ دا **لما مر** سره دلیل وائي لپاره د دلیل تدقیق کوي وائي **لما** لوجې د هغه نه **مر** چې تیر شوي دي چې **من ان زیادة الخصوص** چې زیادة قید والې، خصوص نه مراد قید والې دې **توجب اتمیة الفائدة** دا ثابتوي کمال فائدې لره ځومره چې په کلام کې قیودات زیات راشي نوهلته کې فائده مخاطب ته زیاته وي.

واعلم: نه غرض د شارح دفع د اعتراض کوي اعتراض دا وارد شو چې هلکه د مسند تقید په حال سره هم کیږي په مفعول سره هم کیږي او د مسند تقید په اضافت سره هم کیږي په توصیف سره هم کیږي نو دا څه وجه ده چې ماتن هلته کې تقید د مسند په حال یا په تمیز کې یا په مفعول سره چې وي نو هغې ته ئې تقید وویلو اوچې په اضافت اوپه وصف سره وشي نو دیته ئې تخصیص وویلو؟

نو ټول ټال عبارتونه دلته کې څلور قسمه جوړیدل یو داچې په دواړو کې ئې **واما تقیده** ویلې وې دویم داچې دواړو کې ئې تخصیصه ویلې وې او دریم داچې په اول کې ئې **واما تخصیصه** ویلې وې او په اضافت او توصیف کې ئې **واما تقیده** ویلې وې او څلورم دادې چې کوم ماتن ویلي دې چې هلته په حال وتمیز واستثناء کې ئې واما تقیده ویلې وې او دلته کې ئې په توصیف او اضافت کې ئې تخصیص ویلې وې نودا ولې؟

نوشارح جواب کوي په **واعلم** سره چې دا بناء دې په اصطلاح د دوی باندې او ولا مشاحة فی الاصطلاحات نو وائي **واعلم ان جعل معمولات المسند** هغه معمولات د مسند دادي **کالحال ونحوه من القیدات وجعل الاضافة والوصف من المخصصات انما هو مجرد اصطلاح** دا مجرد اصطلاح دې د څه نکتې نه یعنې ددې خلکو اصطلاح په دې باندې جاري شوې ده او ولا مشاحة فی الاصطلاح اوپه اصطلاحاتو کې مناقضه ومضائقه نه وي.

وقیل: غرض د قیل دادې چې دې وجه وائي چې هلته کې په معمولاتو د مسند کې ئې تقیید وویلو او په اضافت او وصف کې ئې تخصیص وویلو دا ولې؟ نو دا قیل وجه وائي غرض د شارح د رانقل کولو ددې قول د قیل نه دادې چې په دۀ باندې شبه کوي چې د قیل دا خبره ټیک نه ده ټیک خبره هغه ده چې کومه ما کړې ده نووائي چې **وقیل** ویلې شوي دي چې **لان التخصیص عبارة عن نقص الشیوع** ای العموم تخصیص عبارت دې د کمولو د عموم نه لکه اوس مثلا غلام کې عموم وو غلام غلام د امرءة او رجل دواړو ته شامل وو نو رجل سره غلام د امرءة خارج شو دارنګه غلام کې تعمیم وو عالم وجاهل دواړو ته شامل وو عالم سره جاهل ترې خارج شو.

او معمولات چې ذکر کیږي د مسند لپاره نوهله چې مسند فعل وي ځکه چې معمول د فعل لپاره وي دبل څه شي لپاره معمول نه وي او **ولا شیوع للفعل** او دفعل لپاره شیوع عموم نشته دې ځکه نشته دې

لانه انما يدل وائي ځکه دا فعل دلالت کوي په مجرد مفهوم باندې مجرد حدث باندې مفهوم نه مراد حدث واخلئ مجرد حدث داسې، چې خالي وی د تعددنه ضرب دلالت کوي په هغه ضرب باندې چې هغه خالي دې د تعدد او د عموم نه عموم په کې نشته دې

والحال اوحال چې معمول دې **تقيده** مقيد کوی دې لره **والوصف يجئ فی الاسم** او وصف او اضافت راځي په هغه اسم کې **الذی فيه الشيوع فيخصصه** نو پس خاص کوي دا وصف دې اسم لره نوهلته کې ئې تخصيص ځکه وويلو نوحاصل د خبرې د قيل داشو د نکتې حاصل ئې دا شو چې ګوره وجه په دې کې داده چې تخصيص عبارت دې د نقص الشيوع نه د کمولو د عموم نه اوکمول د عموم عموم غواړي اوپه فعل کې عموم نشته دې نوهلته کې ئې تقييد وويلو اوپه خلاف د اسماؤ کې هغې کې عموم شته دې نو دلته کې ئې تخصيص وويلو ځکه اضافت او وصف په اسماؤ کې راځي.

ليکن شارح وويل **وفيه نظر** په دې ماقال د قيل کې نظردې اعتراض دې هغه اعتراض شارح په شرحه کې مختصر کې نه دې بيان کړې دلته کې ئې پدې مقام کې ئې په مطول کې بيان کړې دې هغه دادې چې عموم دوه قسمه دې نوزه تانه تپوس کوم يوعموم شمولي دې چې ټولو ته شامل دې نو بيا ستا قاعده منقوض شوه په نکره موجبه کې په نکره موجبه کې عموم شمولي نشته دې او دهغې توصيف کيدلې شي اوته وائې چې تخصيص نقص الشيوع ته وائي نقص العموم ته وائي اوکه ته دعموم نه عموم بدلي اخلې نوعموم بدلي خوپه فعل کې شته دې ځکه چې په اسم کې شته دې داسې عموم بدلي چې لکه ته ووائې **جاء نی زيد** نودې کې احتمال شته دې چې زيد راغلې وي په طريقې د رکوب سره يا راغلې وې په طريقې د مشي سره يا راغلې وي په سرعت سره يا په بطؤت سره نو عموم بدلي خو په دواړو کې شته دې نووجه د نظر داشوه دا يوه وجه شوه.

دويمه وجه د نظر داده چې عموم بدلي څنګه چې په اسم کې راځي دارنګې په فعل کې هم راځي لکه **طاب زيد نفسا** زيد پاک دې نو پاکوالې د زيد په اعتبار دنفس سره به وي په اعتبار د مال سره وي په اعتبار د مکان سره وي په اعتبار د بښې سره وي نو تا وويل چې نفساً نوداهم کيدلې شي نو دا شارح د طرفنه رد شو.

البته په مطول کې ئې جواب کړې دې چې مونږ دعموم نه مراد عموم شمولي اخلو خو قيل وائي زما مطلب دادې چې عموم شمولي په اسم کې راتلې شي من جمله اګر که په کل اسم کې نه راځي اوعموم شمولي په فعل کې دسره نه شي راتللې دعموم نه مراد عموم شمولي شو ليکن عموم شمولي په اسم کې من جمله راځي اګر چې په بعضې اسماؤ کې هم نه راځي لکه نکره موجبه شوه په خلاف د فعل نه په فعل کې دسره عموم شمولي راځي نه

واما ترکه ای ترک تخصیص المسند بالاضافة والوصف **فظاهرمما** دهغه دلیل نه **سبق** چې وړاندې تیرشوې دې **فی ترک تقیید المسند** هغه څه دې؟ **لمانع من تربیة الفائدة**

واما تعریفه تعریف د مسند څکه کوي **فلافادة السامع** د وجې د فائدې ورکولو نه دمتکلم سامع لره **حکما** د یو حکم دیومحکوم به اودغه محکوم به واقع وي **علی امر** په یو امر باندې **معلوم له** چې معلوم وي دې سامع ته ده ته معلوم وي **باحدی طرق التعریف** په یوې طریقې سره د طرق د تعریف نه دهغه شپږو طریقو د تعریف نه څکه مثلا طریقې د تعریف علمیت دې اضمار دې موصولیت دې اسم الاشارت دې اضافت دې

یعنی نه غرض دشارح یو ددې متن تشریح کوي اودویم غرض دشارح د **یعنی** نه دادې چې ددې **علی امر معلوم** فائده بیانوي چې علی امر معلوم له ئې ولې وویلو دریم غرض د شارح دادې چې دفع د اعتراض کوي اعتراض دا وارد شو چې هلکه بنا د متونو په اختصار باندې ده نو ماتن داسې ولې اونه ویل چې **علی امر** دې معلوم ته لاځه حاجت وو؟ هغه کافي وو.

نو شارح جواب کوي چې په دې کې ماتن دیته اشاره وکړه چې ګوره کله مسند معرفه شي نو مسند الیه نکره نه شي کیدلي نو ددې وجې نه معلوم له ئې ورسره ولګولو **یعنی** قصد کوي ماتن **انه** شان دا دی چې **یجب عند تعریف المسند تعریف المسندالیه** څکه **اذ لیس فی کلامهم** ای العرب **مسندالیه** نکرة والمسند معرفة نوچې داسې نشته نو ددې وجې نه ئې ورسره علی امر معلوم له ولګولو خوداپه **فی الجملة الخبریة** دې سره احتراز وشو د جملې انشائیه نه جمله انشائیه کې که چرې مسند الیه نکره شي او مسند معرفه شي نوهیڅ باك نشته دې

باخرمثله شارح ورسره لګوي **ای حکما** دې کې ئې اشاره وکړه ربط ته چې دا باخر متعلق دې **حکما** پورې نومعنی داچې **ای حکما علی امر معلوم** لپاره د فائده کولو د حکم په یو امر معلومه باندې حکم کوي **بامر اخر** په بل امر سره **مثله** چې مثل ددې امر وي مثل وې **فی کونه معلوما للسامع باحدی طرق التعریف** معترض راغلو شبه ئې وکړه چې ستا مثال مطابق دممثل سره نه شو څکه چې تشبیه په دې کې شوه چې دابه معلوم وي سامع ته په یوطریقې سره د طرقو د تعریف نه نو طرق د تعریف به متحد وي؟ نو زید اخوك کې هلته زید کې تعریف خو د علمیت د وجې نه دې او **اخوك** کې د اضافت د وجې نه شوې دې او **عمرو المنطلق** کې عمرو کې تعریف د وجې د علمیت نه دې او المنطلق کې تعریف د الف لام د وجې نه دې نو هلته کې طریقه د تعریف یو نه ده نو دۀ جواب وکړو چې **سواء یتحد الطریقان نحو الراکب هوالمنطلق** نو دلته کې دواړه معرفه باللام دي **او یختلفان نحو زید هوالمنطلق** نو حاصل د جواب داسې شو چې دا تشبیه په مطلق تعریف کې ده په طریقه د تعریف کې اتحاد په کې شرط نه دې **او لازم حکم**

دا اودیته اشاره کوي چې دا عاطفه دې وائي **عطف علی حکما** نو تعریف د مسند کولې شي د وجې د فائده ورکولو نه سامع ته لازم د حکم **کذلك** د کذلك دا معنی چې **ای علی امر معلوم باخرمثله** یعنې دې خپل علم سامع ته ښائي، متکلم وائي چې څنګه ته په دې مسند او مسند الیه باندې عالم ئې نو دغسې زه هم عالم یم.

وفی هذا تنبیه: ددې نه غرض د شارح ددې متن فائده وائي دماتن غرض ددې متن نه څه دی هغه را نقل کوي چې **واما تعریفه** چې د ماتن غرض ددې واما تعریفه نه څه دې؟ او دا عبارت ئې ولې وویلو یو غرض دا شو دویم غرض د شارح دفع د اعتراض کوي چې اې هلکه که چرته مسند الیه هم معرفه شو او مسند هم معرفه او معلوم شو سامع ته نو بیا په حکم کې څه فائده رانغله بیا خو حکم لغوه شو، نو دې جواب کوي چې لغوه نه لازمیږي ځکه چې سامع ته نسبت ددې مسند دې مسند الیه ته مجهول وو نو د نسبت په اعتبار سره فائده راغله نو وائي **وفی هذا** او په دې قول د ماتن کې چې واما تعریفه دې **تنبیه** ده **علی** په دې باندې چې **ان کون المبتداء والخبر معلومین** لاینافی افادة الکلام للسامع فائدة مجهولة لان العلم بنفس المبتداء والخبر لایستلزم العلم بانتساب احدهما الی الاخر د نسبت په اعتبار سره مجهول وو، نو چې مبتداء او خبر معرفه شو نو دا منافي د افادې سره نه دې.

نحو زید اخوك وعمرو المنطلق دا مثال د فائدة الحکم لپاره هم صحیح کیږي او لازم د فائدة الحکم لپاره هم صحیح کیږي که ستا سامع او مخاطب زید پیژندلو خو دا ئې نه پیژندلو چې په دې زید کې وصف د اخوت د مخاطب لپاره دې اوکه نه نه دې؟ نو تا وویل **زید اخوك** نو فائدة الخبر راغلې اوکه ستا مخاطب دواړه پیژندل زید هم او اخوت د زید دخپل ځان لپاره هم پیژندلو نو تا وویل **زید اخوك** نو دا لازم د فائدة الخبر شو یعنې متکلم خپل علم خپل مخاطب ته ووښودلو دغه رنګ په **عمرالمنطلق** کې هم دغسې دې چې که مخاطب عمرو پیژندلو خو دا ورته پته نه وه چې موصوف بالانطلاق زید دې که بکر دې نو تا وویل **عمرالمنطلق** نو دا ورته فائدة الخبر راغلې اوکه سامع عمرو هم پیژندلو او اتصاف د عمرو یې په انطلاق سره هم پیژندلو نو بیا تا وویل چې عمرٌ المنطلق نو لازم د فائدة الخبر دی تا ورته خپل علم ووښودلو.

اوس متن داسې دې **باعتبار تعریف العهد اوالجنس** شارح ورسره مخکې د متن نه لګوي **حال** دې کې ئې اشاره وکړه چې دا **باعتبار تعریف العهد اوالجنس** په ترکیب کې حال واقع شوې دې دویم تعین د ذوالحال کوي چې ذوالحال ددې **المنطلق** دې او دریم تعین د هغه متعلق کوي په **معرفا** سره نو حال کې ئې اشاره وکړه ترکیب ته چې په ترکیب کې دا عبارت حال واقع شوې دې **کونه** کې اشاره وشوه تعیین د ذوالحال ته چې ذوالحال ددې **المنطلق** دې او **معرفا** کې اشاره وشوه متعلق د جار مجرور ته چې متعلق

دې **معرفاً** پورې نو په حال کون ددغه منطلق کې چې دا معرفه وي په اعتبار د تعريف العهد سره يا په اعتبار د جنس سره يعني المنطلق کې الف لام عهد خارجي دي يا الف لام جنسي دي.

اوس که څوک شبه وکړي چې بيا خو دا حال واقع شو دخبر نه اوحال واقع کول د خبر نه د هيڅا مذهب نه دی نودا حاليت څنګه صحيح کيږي؟ نو تاسو به جواب وکړئ چې دغه **المنطلق** په معنې کې فاعل دې داسې چې المنطلق نه مراد دادې چې **المنطلق منسوب حال کونه معرفا باعتبار تعريف العهد اوالجنس** نو ګوره منسوب کې ضمير راجع شو المنطلق ته نو هغه نائب فاعل وو نو دهغې نه حال واقع شو نو په دې اعتبارسره ددې حاليت صحيح شو د تعريف العهد دا معنی چې د انطلاق نه مراد يو انطلاق خاص واخلئ چې رکوب سره تلل يا په مشی سره يومعهود معين انطلاق اود جنس دا معنی چې جنس انطلاق شي او تعين په کې وونه شي.

وظاهر لفظ الكتاب ددې نه غرض د شارح دادې چې تدافع ثابتوي په تلخيص اوپه ايضاح کې اولاً بيا رفع د تدافع کوي ثانياً ووجه التوفيق سره دغه دوه غرضونه شول تر **وعكسها** پورې راتلونکي متن پورې ۱: نقل التدافع بين كلامي المصنف ههنا وفی الايضاح اولا ۲: ورفع التدافع بينهما ثانيا بقوله ووجه التوفيق ماذكره بعض المحققين نو دا دوه غرضونه شو،

نو وائي **وظاهر لفظ الكتاب** ظاهر عبارت د کتاب، کتاب نه مراد تلخيص، لفظ نه عبارت واخلئ نو ظاهرعبارت د تلخيص، ظاهر عبارت د تلخيص داچې **باخرمثله** دې حکم وکړي په بل سره چې مثل ددې مخکې امر وي په تعريف کې ددې د ظاهر نه دا معلوميږي چې **ان نحوزيد اخوك** دا انما يقال لمن يعرف ان له اخاً شته دې چې زيد دې چې زيد هم پيژني او دزيد ددې مخاطب لپاره اخوت هم پيژني، ځکه چې وبې پيژني نو هغه مثله شو کنه په تعريف کې هسې خو **مثله** نه کيږي نو ګوره تلخيص نه دا معلوم شو چې **زيد اخوك** په هغه ځای کې ويلې کيږي چې مخاطب زيد هم پيژني او اخوت د زيد د خپل ځان لپاره هم پيژني ځکه **مثله** ئې ويلې دې او مماثلت هسې بغير ددې نه نه راځي اوس که مخاطب زيد پيژني او اخوت دخپل ځان د پاره د زيد نه پيژني نو دا بيا نکره شوه معرفه نه شوه نو د تلخيص نه دامعلوم شو.

او **والمذكور فی الايضاح** چې هغه شرحه ده ددې تلخيص لپاره چې **انه** دغه قول چې زيد اخوك دې **يقال لمن** هغه سامع ته **يعرف زيدا بعينه** چې زيد دغه شخص معين دغه مسمی باسم معين سره دې **سواء يعرف ان له اخا اولم يعرف** نو دا تدافع راغله.

اوس دی وائي **ووجه التوفيق ما ذكره بعض المحققين** وائي وجه د توفيق په مابين د تلخيص او د ايضاح کې هغه دې چې ذکر کړې دې بعضې محققينو چې شارح رضی دې د نحاتونه هغه دا ذکر کړې دي

چې **ان الاصل وضع تعريف الاضافة** چې د اضافت د وجې نه تعريف راځي ددې تعريف نسبت اضافت اضافت ته دا اضافت دمسبب دې سبب ته الصحيح عندی اضافت د مسبب دې سبب ته ځکه اضافت سبب د تعريف لپاره دې کما يدل علی ذلك هذا الدليل فافهم معنی اصل وضع د تعريف د اضافت يعنې چې د اضافت د وجې نه شئ معرفه کيږي نو اصل په اضافت کې **اعتبارالعهد** چې دغه اضافت لپاره د عهد خارجي به وي اوس د تعريف العهد لپاره به ځکه وي دليل پرې دادې چې يعنې د اضافت د وجې نه کوم شئ چې معرفه کيږي نو اصل په هغې کې دادې چې عهد خارجي به وي وائي **والا** که چرې اصل وضع د تعريف الاضافت اعتبار العهد نه شي نو **لم يبق فرق** دا **والا** مقدم د قياس شو او **لم يبق فرق** تالي دې پاتې به نه شي فرق **بين غلام زيد وغلام لزيد** کې فرق به پاتې نشي مقدمه استثنائيه ټل کړئ **لكن التالی باطل** لم يبق باطل دې نو مقدم ئې مثل شو اصل وضع د تعريف الاضافت د اعتبار العهد لپاره نه کيدل هم باطل شو هرچې دې دليل لپاره د بطلان التالي **لم يبق فرق** ولې باطل دې غلام زيد او غلام لزيد کې وائي ځکه چې فرق خو خلکو ويلې دې داسې چې غلام زيد کې خلکو دې غلام ته معرفه ويلې ده چې د غلام نه مراد يو مخصوص غلام مراد دې او **غلام لزيد** کې خلکو دا نکره ويلې ده نو لم يبق باطل شو ځکه يبق حق دې **فلم يكن احدهما معرفة** چې **غلام زيد** دې **والاخر نكرة** چې غلام لزيد دې او فرق شته نو پته ولګيدله چې لم يبق باطل شو نو يبق پاتې شو اوس **غلام زيد** معرفه شو نو د غلام نه مراد يو غلام مشخصه يو خاص غلام، يو به اراده کولې شي غلام لزيد نه مراد جنس غلام د زيد دې معنی نکره دې نوتدافع نشته دا لاتول تمهيد دې نو اوس ددې نه معلومه شوه چې اصل وضع د تعريف الاضافت د اعتبار العهد لپاره ده يعنې د مضاف نه به ته يو شخص معهود يوفرد مشخصه به ته اراده کوې **لكن كثيرا ما يقال جاءنی غلام زيد من غير اشارة الی معين** يو معين غلام ته اشاره نه وي،نودا خلاف الاصل شو، خلاف دا اصل وضع نه شو، اوس **غلام زيد** کې اصل وضع داوه چې غلام نه يو فرد معين يو فرد مشخصه ته اراده کړې او ډير کرتې اراده کيږي غلام زيد نه مطلق غلام غلام غيرمعين نو دا معنی مجازي شوه معنی اصلي وضعي نه شوه **كالعرف** دا هم تمهيد دې وائي حال د اضافت په شان د الف لام دې لکه نحوه کې مونږه اوتاسو زوت کړي حال د اضافت په شان د الف لامو دې داسې چې الف لام وضع شوې دې لپاره د تعيين د مدخول لپاره، اصل وضع د الف لام د تعيين د مدخول لپاره شوې او کله کله الف لام سره اشاره کيږي غير معين ته نو دا خلاف د اصل وضع نه شوه لکه **ولقد امر علی اللئيم** کې د اللئيم نه مراد يو فرد معين د لئيم نه شو بلکه مطلق لئام شو، وائي **كالعرف باللام** د معرف باللام اصل وضع شوې ده د اعتبار العهد لپاره او کله کله دې سره اشاره کيږي بې دفرد معين او بې د عهد نه په دې سره **وهو خلاف وضع الاضافة** او دا

غير اشاره معين ته داخلاف دې د وضع د اضافت نه، هغې سره ولګوئ. اوس تر دې خای پورې نمهيد وو اوس دلته کې راشه دفع د تدافع کوي

وائي **فما فی الکتاب** وائي کومه خبره چې په تلخيص کې وه چې **زید اخوك** هغه سامع ته په هغه خای ويلې کيږي چې پيژنې اخوت د زيد خپل خان لپاره نو هغه **ناظر الی اصل الوضع** ځکه **اخو** مضاف دې **ك** ته او اصل وضع د اضافت د عهديت لپاره ده او **ومافی الایضاح** او هغه چې په ايضاح کې ماتن ويلي دي الی خلافه هغه خلاف دې د وضع د اضافت نه چې هغه مخاطب اخوت د خان لپاره پيژني او که نه نه پيژني

وعکسهما شارح ورسره لګوي **ای نحو عکس** دې کې ئې اشاره وکړه چې دا **عکس** عطف دي په **زید اخوك** باندې هغه مجرور وو مضاف اليه د **نحو** لپاره وو نو **عکسهما** هم مجرور شو د **نحو** لاندې داخل شو ای **نحو عکس المثالین المذکورین** المثالين المذکورين کې ئې تعيين د مرجع وکړو چې عکس د مثالينو مذکورينو وهو سره دا بيان د عکس کوي وائي **وهو** دا عکس د مثالينو مذکورينو دادي چې **وهو اخوك زید** دې والمنطلق عمرو دې دهغې عکس دادې او بله ئې اشاره وکړه چې د عکس نه مراد عکس لغوي دې عکس منطقي نه دې مراد.

والضابطة نه غرض د شارح دادې يو ضابطه بيانوي شارح يو قاعده کليه بيانوي ددې خبرې لپاره چې مبتداء او خبر دواړه معرفه شي په يو صفت سره نو مبتداء به کوم يو ګرځي او خبريه کوم ګرځي ددې لپاره يو ضابطه او قاعده کليه بيانوي دويم غرض د شارح دادې چې سر اولم بيانوي د نحاتو ددې قول لپاره چې مبتداء اوخبر کوم وخت کې دواړه معرفې شي نو بيا واجب دې تقديم د مبتداء په خبر باندې چې **او کانا معرفتین** چې يا مبتداء وخبر دواړه معرفې شي نو **وجب تقدیمه** تقديم د مبتداء په خبر باندې واجب دې او دريم غرض د شارح د والضابطة نه دادې چې دفع د اعتراض کوي چې هلکه ظاهر کې ستا دا قول خو د نحاتو نه خلاف شو ځکه چې نحات وائي چې مبتداء وخبر دواړه معرفه شي نو تقديم د مبتداء واجب دې نو **زید اخوك** شو **عمر المنطلق** شو دواړه معرفه دي نو دغه اصل صحيح دې اوعکس دسره صحيح دي نشي کنه؟ ځکه بيا د نحاتو قاعده ورانيږي

نو دې راځي جواب کوي چې دا دواړه صحيح دي اصل هم صحيح دې او عکس هم صحيح دې اود نحاتو د قول مطلب دادې چې هغوی وائي چې کوم شئ چې تاته معلوم وي په يو صفت سره نو هغه متعين دې چې دا به ته مبتداء ګرځوې او کوم شئ چې تاته معلوم نه دې په بل صفت سره نو هغه به ته خبر ګرځوې نو د نحاتو د قول نه دا خلاف نه دې ځکه د هغوی مطلب دادې چې کوم شي کې دوه صفتونه راغلي وي نو اوس چې کوم صفت سره تا ته هغه شئ معلوم دی نو هغه متعين دې د ابتدائيت لپاره او کوم صفت سره چې تاته معلوم نه دې نو هغه متعين دې د خبريت لپاره نو وائي

والضابطة فی التقدیم قاعده کلیه په تقدیم د مبتداء کې په خبر باندې داده چې **انه** شان دادې چې **اذا کان للشئ** په واقع کې **صفتان** لکه دلته کې شئ **زید** دی ددې لپاره دوه صفتونه دې چې یو اخوت او دویم صفت مسمی بزید او دا دواړه صفتونه **من صفات التعریف** دې ځکه چې مسمی بزید هم معرفه دې او اخوت د زید د مخاطب لپاره داهم معرفه دې **وعرف السامع اتصافه** ای اتصاف ذلك الشئ **باحدهما** په یو ددې دواړه صفتینو سره **دون الاخری** نه په بل صفت سره دغه شئ په یو صفت سره معلوم دې سامع ته او په بل صفت سره معلوم نه دې نو **فایهما** نو پس کوم یو په دې دواړه صفتینو کې **کان** چې موجود شي **بحیث** په داسې شان سره چې **یعرف السامع اتصاف الذات** چې موصوف دې **به** په دې وصف سره او دې **کالطالب بحسب زعمك** ای متکلم چې **ان تحکم** ته حکم وکړې **علیه** په دې باندې **بالاخر** په هغه وصف اخر سره نو **یجب ان تقدم اللفظ الدال علیه** ای علی الوصف چې سامع ئې پیژني وتجعله مبتداء وایهما ای الصفتین **کان** ای وجد **بحیث** په داسې شان سره **یجهل** چې مجهول وې سامع ته **اتصاف الذات د** موصوف **به** په دې وصف سره او دغه سامع وهو **کا الطالب بحسب زعمك ان تحکم بثبوته** په ثبوت ددې وصف سره **للذات** په موجبه کې **او انتفائه** یا انتفاء ددې وصف **عنه** ددې ذات نه په سالبه کې نو **یجب ان تؤخر اللفظ الدال علیه** په دې وصف باندې **وتجعله خبرا** اوګرځوې به دې لره خبر.

اوس مثال جزئي سره مونږه پوهه کوي لکه مثال داسې شو چې **فاذا عرف السامع زیدا** بعینه واسمه چې دغه شخص معین دې اسم ئې هم پیژندلو نو دغه صفت سامع ته معلوم وو خو **لایعرف** ای السامع **اتصافه** ای اتصاف زید **بانه اخوه واردت** ایها المتکلم ان **تعرفه ذلك** چې دا زید ستا ورور دې نو **قلت زید اخوك واذا عرف** ای السامع **اخا له** ای لنفسه چې یو ورور زما شته دې **ولا یعرفه** ای الاخ **علی التعین** چې هلکه ورور خو زما څوك شته دې خو چې زید دې که عمرو دې که بکر دې دا پته نشته دې **واردت ان تعینه عنده** سامع ته نو **قلت اخوك زید**، او په دې صورت کې **ولایصح زید اخوك.**

ویظهر ذلك په دې سره غرض د شارح دادې چې نظیر پیش کوي چې کوم شئ سامع ته معلوم وي نو هغه به مبتداء ګرځوي او کوم چې نامعلوم وي نو هغه به خبر ګرځوي نو ددې لپاره نظیر ذکر کوي نو وائي **ویظهر ذلك** وائي ظاهریږي دغه ضابطه دغه قاعده دغه اصل **فی قولنا رایت اسودا غابها الرماح** نو اسود نه مراد رجال شجاع دې یعنې مالیدلې وو رجال شجاع چې د هغوی ځای د وسیدلو نیزې وې **غاب** ویلې شي د اوسیدلو ځای ته مسکن ته کورته اوس دلته کې **غاب** ئې مبتداء وګرځوله او **رماح** ئې خبر وګرځولو ځکه ازمری چې سړې پیژني نو په ځای د وسیدلو سره ئې سړی پیژني چې په ځنګلو کې اوسیږي سمځو او غارونو کې اوسیږي نو مطلب د ازمرو پیژندګلی خلکو ته په اعتبار د غاب سره ده او په اعتبار د رماح سره نه ده نو ځکه غابها الرماح ئې وویلو او **ولا یصح** چې داسې ووائي چې

رماحها الغاب چې نيزې ددې ازمرو غاب وو. خو حاصل دا چې اسود نه مراد بهادر خلك دي چې ما ليدلي وو بهادر خلک چې ځای د اوسيدلو د هغوی نيزې وې.

والثانی يعنې سره شارح تعيين د ثاني کوي دويمه دفع د اعتراض کوي چې د الثانی نه مراد مثال ثاني دي؟ چې عمرو المنطلق دې نو دۀ جواب وکړو چې نه نه **والثانی** نه مراد مثال ثاني نه دي يعنې **اعتبار تعريف الجنس** د ثاني نه مراد دې المنطلق کې دوه اعتبارونه وو يو احتمال د تعريف العهد اوبل اعتبار د تعريف الجنس دلته کې مراد اعتبار د تعريف الجنس دې **قد يفيد** کله کله فائده کوي **تصر الجنس على شئ** هغه شئ عام دي چې مسند اليه وي اوکه مسند وي لکه وروستو مثالونو کې به راشي چې دغه جنس بند دې په يو شي باندې اوس دغه قصر دوه قسمه دې **تحقيقا** يعنې حقيقي وي په واقع کې وي يعنې بې د اعتبار د معتبر نه بې د فرض د فارض نه نفس الامر کې دغه جنس بند وي په دغې شي پورې لکه **نحو زيد ن الامير** نو جنس امارت مقصور دې په زيد پورې خودا هله **اذا لم يكن امير سواه** نو دا قصر د جنس امارت په زيد پورې تحقيقا شو **او مبالغة** يا به دا قصر ددې جنس په دې شي پورې شئ عام دې چې مسند اليه وي که مسند وي مبالغةً به وي ځکه **لكماله فيه** تعيين د مرجع د لکماله او فيه کوي او دويم بيان د احتمالينو کوي په مرجعينو کې اول احتمال اې **لكمال ذلك الشئ فى ذلك الجنس** نو کماله کې ضمير راجع شو هغه شي ته چې مقصور عليه دې او **فيه** کې ضمير راجع شو جنس ته **او بالعكس** اشاره کوي بل احتمال ته چې يا په عکس سره چې ياد کمال ددې جنس نه په دې شي کې، شي وائي يو دې چې احتمال اول شي اوکه ثاني ضرور باشد روا باشد روا باشد ضرور باشد لکه **نحو عمرو الشجاع** شو نو معنی دا شوه چې جنس شجاعت مقصور دې په عمرو پورې اې **الكامل فى الشجاعة** عمرو دې نورهم په دنيا کې شجاع خو شته دې خو **كانه لا اعتداد بشجاعة غيره** ځکه **لقصورها** اى الشجاعة عن رتبة الكمال ددې نورو شجاع ګانو اوس په متني مثال کې خو قصر د جنس وشو شي پورې خو مسند اليه پورې وشو اوس دهغې عکس ذکر کوي چې قصر د جنس په مسند پورې هم صحيح کيږي وائي **وكذا** هم دغسې فائده کوي قصر د جنس اذا جعل المعرف بلام الجنس مبتداء نحو الامير زيد والشجاع عمرو ولاتفاوت بينهما په دې دواړو کې تفاوت نشته دې **وبين ماتقدم** چې زيد الامير وعمرو الشجاع کې تفاوت نشته **فى افادة قصر الامارة على زيد والشجاعة على عمرو** چې فرق په کې نشته دې هسې دا فرق خو شته دې چې متني مثال کې قصر د مسند راغلو په مسند اليه پورې اود شرحې په مثال کې قصر د مسند اليه راغلو په مسند پورې خو قصر د جنس کې څه فرق نشته دی

والحاصل نه غرض د ماتن يو دادې چې حاصل او خلاصه ددې مخکې کلام او متن ذکر کوي دويم غرض د ماتن دادې چې تعميم ته اشاره کوي، چې کله جنس به مطلق وي او کله به جنس مقيد وي نو

تعميم ته اشاره کوي چې کله دا جنس به مطلق وي لکه متني مثال کې شو او که جنس مقيد وي لکه راتلونکي مثالونو کې شو نو يو غرض د شارح داشو چې حاصل ددې مخکې متن بيانوي دويم غرض په جنس کې تعميم کوي چې جنس مطلقه وي او که جنس مقيده وي نو قصر د دواړو کيدلې شي دريم غرض د شارح دادې چې د **وقد يفيد** فائده بيانوي څکه چې **قد** داخل شوې دې په مضارع باندې او قد چې داخل شي په مضارع باندې نو تقليل فائده کوي نو ددغه قيد فائده بيانوي چې کله کله دا فائده کوي قصر د جنس او کله نه فائده کوي نو ددې قد دخول په يفيد ، د دې قيد فائده بيانوي چې ماتن قد په دې يفيد ولې داخل کړو نو دري غرضونه شو

اول غرض ګورئ وائي **والحاصل** حاصل د متن داشو چې **ان المعرف بلام الجنس ان جعل مبتداء** لکه ته ووائي چې الامير زيد الشجاع عمرو نو **فهو مقصور على الخبر سواء كان الخبر معرفة** لکه الامير زيد او الشجاع عمرو شو **اونكرة** لکه **الامام من قريش** شو او **وان جعل** دغه معرفه بلام الجنس **خبرا** نو فهو مقصور على المبتداء لکه زيد الامير عمرٌ الشجاع شو ، اوله فائده ئې بيان کړه

اوس هغه دويم غرض بيانوي **والجنس قد يبقى** تعميم ته اشاره کوي چې جنس کله کله ثابتيږي پخپل اطلاق باندې يعنې مقيد په مفعول سره يا په حال سره يا په ظرف سره نه وي شوې خو جنس به مطلق وي **كما مر** په مخکې مثالونو کې تيرشو ، نو الامير زيد الشجاع عمرو دلته کې جنس امارت، امارت مطلقه جنس شجاعت، شجاعت مطلقه مقصور شو زيد پورې **وقد يقيد** او کله کله مقيد کيږي دغه جنس **بوصف** يعنې جنس مقيده مقصور وي په يو شي پورې **اوحال** او ظرف او نحو ذلك په مفعول فيه له اومعه سره به وي نحو ذلك داشو مثالونه داسې شو **نحو هوالرجل الكريم** ګوره جنس رجليت مقصور په **هو** پورې نه شو بلکه رجليت کريمه مقصور شو په **هو** پورې نو دا مثال شو د تقيد بوصف لپاره **وهو السائر راكبا** نو دلته کې قصر د جنس سائر په **هو** په دې زيد پورې دا د حال مثال شو بل **وهو الامير في البلد** دا د ظرف مثال شو وائي دغه زيد امير دې په کلي کې نو دلته کې قصر د امارت في البلد شو په دې **هو** پورې **ونحوذلك** مثال ښائي **وهو الواهب الف قنطار** وائي دغه زيد ورکونکي دې زرګونو روپو لره نو اوس ګوره دلته کې قصر د جنس واهبيت اونه شو بلکه هغه واهبيت د الف قنطار مقصور شو په **هو** پورې نو دا د مفعول به مثال شو اوس **الف قنطار** څوك وائي چې دا هغه پيسو ته وائي چې په مقدار د دې والي د څرمنې د غوا وي او څوك وائي الف قنطار عبارت دې د مال کثير نه او څوك وائي الف قنطار عبارت دې د يو لاکهو دينارو نه هرڅنګه چې وي خو معنى داچې ډير شي ورکوي

اوس دليل څه دى چې کله قصر د جنس مطلق کيږي او کله قصر د جنس مقيده کيږي وائي **يعلم ذلك معلوم بالاستقراء وتصفح تراكيب البلغاء .**

اوس هغه دريمه خبره کوي دريمه خبره داده چې فائده د **قد** بيانوي چې په يقيد باندې ئې داخل کړې دي وائي وقوله او دا قول د ماتن چې **وقد يقيد بلفظ قد** دا قول **اشارة** دي **الى انه** چې دا معرف بلام الجنس **قد لايفيد القصر** دهغې مثال داسې شو **كقول الخنساء** په مرثيه دخپل ورور کې چې صخر دې **نحر اذا قبح البكاء على قتيل** رايت بكاءك الحسن الجميلا کله چې بد وي ژړا په وژلې شوي باندې په زوره باندې خو دا وائي دخپل ورور په باره کې خطاب کوي چې ليکن وائي زه وينم ژړا کول زما په نا باندې اې وروره ډيره ښائسته چې زما ژړا په نا باندې دا ډيره ښائسته ده دا قبيحه نه ده دا د نباحت نه وتلې ده اوس دلته کې خبره په **الحسن الجميلا** کې ده ځکه چې دا معرف بلام الجنس دې او **بكاءك** دهغې لپاره په معنى کې خبر دې ځکه مفعولين د رويت په اصل کې مبتداء وخبر وي نو اوس دلته کې معنى د قصر نده مراد ګورئ ځکه شارح وائي **فانه يعرف بحسب الذوق السليم** چې هغه سليم وي د مغالبې د وهم نه او دا رنګې سليم وي د غلبې د خيال نه **والطبع المستقيم** چې برابر وي مضطرب نه وي **والتدرب فى كلام العرب** چې **ان ليس المعنى ههنا على القصر** ځکه قصر نه دې ځکه چې دې وويل **اذا قبح البكاء على قتيل** نو متوهم توهم وکړو چې په دې مرثى باندې چې صخر دې په دۀ باندې به هم ژړا قبيح وي؟ ځنګه چې په هريو مرثى باندې ژړل قبيح وي نو په دۀ به هم دارنګ قبيح وي نو دې خنساء په دۀ باندې ژړا کول د قباحت نه خارج کړه او توهم ئې دفع کړو چې نه په دغه مرثى باندې ژړا قبيح نه ده بلکه دۀ باندې حسن دې نو دلته کې مقصود صرف ويستل ددې بکاء دي د قباحت نه حسن ته قصر مقصود نه دې ځکه دا کلام په هغه ځاى کې ذکر کيږي چې هلته کې مقصود ويستل د بکاء وي په مرثى باندې د قبح نه حسن ته.

اوس قصر دلته کې نه صحيح کيږي ځکه که قصر افراد وائې نو هغه خو شرکت غواړي نو اوس مخاطب کې خو داسې څوك نشته چې عقيده ساتي د حسن د بکاء په دې مرثى کې او په غير ددې مرثى کې هم چې دواړه په حسن کې شريك دي چې دۀ وويل چې نه **رايت بكاءك .....الخ** دويم قصر قلب دې قصر قلب ديته وائي چې هلته کې سامع عکس دحکم د متکلم عقيده ساتي نو دا خو هم څوك نه وو په سامعينو کې چې هغه دعوى کوله چې غير ددې مرثى نه په بل يو مرثى باندې بکاء حسن دې اوپه يو مرثى بکاء حسن نه دې چې خنساء ووائي چې **رايت بكاءك الحسن الخ** نو وائي چې دا هم نه وو نو دلته کې بې د قصر نه مقصود شو.

وان امكن ذلك اى ذلك القصر بتكلف بحسب النظر الظاهر والتامل القاصر هغه داسې لکه مخکې خنساء وويل چې اذا قبح البكاء على قتيل نو متوهم توهم وکړو چې اې هلکه په دې قباحت کې دا مرثى او غير ددۀ ټول به په دې قباحت کې شريك وي نو دې وويل چې نه دي، په دې قباحت کې شريك نه دې

نو قرینه په دې نشته دې هسې ظاهرې د خولې خبره شوه او مقصود د عربو په داسې کلام د مخکښې نه دا وروستوني کلام خارجوي، د قبح نه ئې حسن ته خارجوي قصر مقصود نه وي **وقیل** قائل امام رازي صاحب دې هغه وائي په نحوزید المنطلق کې او المنطلق زید کې چې **الاسم متعین للابتداء** اسم چې زید دې متعین دې ابتداء له پاره **تقدم** وې لکه زید المنطلق ووائي یا **تاخر** وې لکه المنطلق زید ووائي ځکه **لدلالته** ای الاسم **علی الذات والصفة متعینة للخبریة** تقدمت او تاخرت تقدمت داسې لکه المنطلق زید تاخرت داسې چې زید المنطلق **لدلالتها علی امر نسبی** او کوم شې چې په امر نسبي باندې دلالت کوي هغه خبر وي **لان معنی المبتداء المنسوب الیه ومعنی الخبر المنسوب** والذات هی المنسوب الیه والصفة هی المنسوب فسواء قلنا زید المنطلق او المنطلق زید نو یکون زید مبتداء والمنطلق خبراً اوس دا تعیین ددې قائل ددې قیل کوي وائي وهذا رای الامام الرازي نو دې سره په وعکسها دماتن باندې رد اوشو

اوس دی وائي ماتن **ورد** ما قال القیل چې هلکه مونږه دا ذات چې خبر ګرځوو نو دانه چې هغه ذات سره د لحاظ د ذاتیت نه مونږه خبر ګرځوو او هغه صفت سره د لحاظ د صفتیت نه مونږه مبتداء ګرځوو. بلکه مونږ د ذات نه چې خبر ګرځوو نو دې ذات ته جامه د خبر اغوندوو نو بیا ئې خبر ذکر کوو د دې صفت نه چې مبتداء ګرځوو نو دې صفت ته جامه د ذات اغوندوو او مبتداء ئې ګرځوو وائي **بان المعنی الشخص الذی له الصفة** المنطلق زید معنی داده چې هغه شخص چې دهغه لپاره صفت د انطلاق دی **صاحب الاسم** نو صاحب الاسم وصف شو **یعنی** ای الماتن **ان الصفة** چې **المنطلق** دې **تجعل دالة علی الذات ومسندا الیها والاسم تجعل دالا علی امر نسبی ومسندا.**

ماتن بله مسئله کوي **واما کونه** تعین د مرجع ته ئې اشاره وکړه ای المسند **جملة** مسند به جمله ولې وي؟ وائي **فلتقوی** پس لپاره د تقویت د حکم هغه حکم، چې هغه عبارت دې د ثبوت نه په قضیه موجبه کې او د سلب نه په قضیه سالبه کې دهغې د تقویت لپاره، د تقویت مثال داسې شو **نحوزید قام** دا په موجبه کې یا **ما زید قام** شو دا په سالبه کې او یا سبب د کیدو د مسند د جمله کیدلو دادې چې **اولکونه سببیا** او یا دا مسند مسند سببي وي لکه **نحوزید ابوه قائم** نو دلته کې دا مسند چې جمله واقع شوې مسند سببي دي ګوره د مسند د جمله کیدلو لپاره دا هر یو مستقل سبب شو. تقویت ځان له سبب دې لپاره د کون د مسند جمله او سببي ځان له علت دې لپاره د کون د مسند جمله او د افراد لپاره چې دا علت ګرځي نو مجموعه من حیث المجموع یعنی انتفاء د دواړو چې **سببیت** منتفي شي سره د تقویت نه نو د دې مجموعه انتفاء علت لپاره د افراد. دې ماتن وویل **کما مر** لکه چې تیر شوي دي.

من سره شارح تعیین د **مامر** کوي ځکه ما مر خو ددې ځای نه واخلې ټول کتاب دې تر بسم الله پورې

نو ټول خو ندې مراد؟ نو تعیین د **ما مر** کوي وائي **من هغه** دادې چې **ان افراده** افراد د مسند **یکون لکونه غیر سببی مع عدم افادة التقوی** نو وبضده تتبین الاشیاء شو، غیر سببي سره د عدم افاده د تقویت سبب لپاره د افراد شو، نو سببیت او تقویت سبب د جملې شو.

اوس د وسبب التقوي نه تر اخر پورې څلور اغراض دي یو طریقه ښائي د تقویت په **زید قام** چې دلته کې مسند جمله ذکر کولو سره تقویت څنګه راغلو نو یو دا طریقه د تقویت بیانوي دویم غرض اختلاف بیانوي په طریقې د تقویت کې چې په **زید قام** کې په طریقه د تقویت کې دوه مذهبونه دي یو مذهب د سکاکي دې او بل مذهب د شیخ عبدالقاهر دې نو د سکاکي په نزد باندې طریقه د تقویت داده او د شیخ عبدالقاهر په نزد باندې طریقه د تقویت دا بله ده دریم غرض د شارح دادې چې ترجیح ورکوي مذهب د سکاکي ته په مذهب د شیخ باندې او دغه ترجیح معلومه شوه ددې تقدیم د وجې نه ځکه مذهب د سکاکي ئې مقدم کړې دې په بیان د طریقه د تقویت کې په شیخ عبدالقاهر باندې نو مذهب د سکاکي غوره شو د شیخ عبدالقاهر نه ځکه تقدیم د اسبابو د ترجیح نه دې. او څلورم غرض د شارح دادې چې په اخر کې دفع د اعتراضینو کوي. په اخر کې دوه اعتراضین وارد ږي نو دهغې دفع کوي نو څلور غرضونه شو. الغرض منه امور بیان طریقة تقویة فی زید قام اولاً والثانی بیان الاختلاف فی طریق التقوی بین السکاکي والشیخ عبد القاهر والثالث ترجیح مذهب السکاکي علی مذهب الشیخ عبدالقاهر وهو یعلم من التقدیم لان التقدیم من اسباب الترجیح والرابع تمهید لدفع الاعتراضین الاتیین

نو وائي **وسبب التقوی فی مثل زید قام علی ما** په هغه طریقې سره **ذکره صاحب المفتاح هو هغه ما** داده چې ان المبتداء لکه زید شو مثلا په مثال مذکور کې **لکونه مسندا الیه** دغه مبتداء ته مسندالیه ورته وائي نو دا وصف د مسندالیه دې له هله ورځي چې ددې په مقابله کې وصف د مسند وي **یستدعی** نو دا مبتداء په وصف د مسندالیه سره غواړي **ان یسند الیه شئ** ځکه چې دا مسندالیه وصف دې مبتداء ته هله ورځي چې ددې په مقابله کې دیته څه شي مسند شوې وي نو **فاذا جاء بعده** وروستو ددې مسند الیه نه چې زید دې **ما هغه لفظ یصلح** چې هغه لفظ صالح کیږي **ان یسند الی ذلک المبتداء** لکه تا د زید نه وروسته اوس حجر ذکر کړو نو حجر اوس صالح لپاره د اسناد د زید ته نه دې یا د زید نه وروستو تا ذکر کړو **فرس یا حمار** نو هغه صالح لپاره د اسناد دې مبتداء ته نه دي او که نه تا د زید نه وروستو **قام** ذکر کړو نو **قام** صالح لپاره د اسناد دې مبتداء ته دې، زید ته دې ځکه زید او دریدلې شي نو **فاذا جاء** نو **صرفه المبتداء الی نفسه** نو اړوي دغه **قام** مثلا مبتداء ئې خپل ځان ته چې ته زما مسند ئې ما پورې قائم ئې ځکه چې زه مسندالیه یم او مسندالیه بغیر د مسند نه نه شي راتللې زه مسندالیه یم

مسند غواړم نو ته زما مسند ئې ماته ستا اسناد شوې دې اوس **سواء کان** برابره خبره ده چې دغه مسند **خالیا عن الضمیر** خالي وي د ضمیر نه لکه ته **زید حیوان** ووائې نو دلته کې حیوان خو زید خان ته راواړولو ،خوليکن څه تقویت نه دې راغلې **او متضمنا له** او یا متضمن وي دې ضمیر لره لکه **زید قام** شو نو **فینعقد بینهما** نو موجودیږي په مابین ددې مسند او مسند الیه کې **حکم** یعنې نسبت ثبوتي یا نسبت سلبي خو نفس نسبت سلبي یا ثبوتي څه تاکید ماکید په کې نشته دې

اوس **ثم اذا کان متضمنا** وائي پس د هغه نه کله چې وو دغه مسند متضمن **لضمیره** لپاره د ضمیر راجع مبتداء ته لکه **قام** کې، **قام** کې ضمیر دي او بیا راجع دې مبتداء ته چې زید دې معترض راغلو شبه ئې وکړه چې هلکه ضمیر خو په **زید قائم** کې هم شته دې حالانکه هلته کې خو تقویت نشته دې نو ده جواب وکړو چې داسې ضمیر چې **معتد به** وي المعتد به چې د ضمیر نه مراد ضمیر معتد به مراد دې اوپه **زید قائم** کې دا ضمیر غیر معتدبه دې اوس معتد به څه ته وائي او غیر معتدبه څه ته وائي وائي معتد به ضمیر هغه ته وائي چې هغه مشابه د خالي سره نه وي اوغیر معتدبه ضمیر هغه ته وائي چې هغه مشابه دخالي سره وي نو د معتد به تفسیرئې وکړو چې **بان لایکون مشابها للخالی عن الضمیر فی زید** قائم ځکه **زید قام** مشابه دخالي عن الضمیر چې زید رجل دې دهغې سره نه دې په تغیر کې په احوال ثلاثه ؤ کې بلکه داسې ویلې کیږي چې **زید قائم** انا قائم انت قائم نه بدلیږي یو شانتي وي دا مثال کمافی زید قائم د منفی لپاره ګرځوي چې مشابه د خالي عن الضمیر سره وي لکه په **زید قائم** کې نو دې زید قائم کې هم ضمیر شته دې خو دا غیر معتدبه دې ځکه دې مشابه د خالي عن الضمیر سره دې ځکه دلته کې ویلې کیږي زیدقائم انت قائم انا قائم مغایر کیږي نه اوهلته کې مغایر کیږي داسې چې زید قام انا قمت انت قمت نو معتدبه ضمیر هغه شو چې هغه مشابه د خالي عن الضمیر سره نه وي په تغیر کې په احوال ثلاثه ؤ کې او غیر معتدبه هغه ضمیر شو چې هغه مشابه دخالي عن الضمیر سره وي په تغیر کې په احوال ثلاثو کې نو **صرفه** دا جزاء شوه د **ثم اذا کان** له پاره چې کله چې وو دغه مسند متضمن ضمیر معتدبه لره نو **صرفه** اړوي دې مسند لره **ذلك الضمیر الی المبتداء ثانیا** دا مسند بیا مبتداء ته راګرځي نو تکرار د اسناد راغلو یو ځل **قام** مسند شو زید ته بیا د ضمیر په واسطې سره بیا مسند شو زید ته نو **فیکتسي الحکم** نو پس حاصل کړو دې حکم دې نسبت ثبوتي **قوة** ځکه چې **کلما تکرر تقرر** شو نو قوت راغلو نو **فعلی هذا** نو پس بنا په ما قال د سکاکي باندې **یختص التقوی** غرض ددې نه تفریع ده په مذهب د سکاکي باندې خاص شو تقوی **بما** په هغه مسند پورې **یکون** چې وي دغه مسند **مسندا** الی ضمیر المبتداء یعنې په دې مسند کې ضمیر به وي راجع به وي مبتداء ته هله تقویت راځي **ویخرج عنه** او خارج شو ددې تقویت نه **نحو زید ضربته** دا خارج شو

څکه دلته کې مسند جمله ده خو په دغه جمله کې ضمیر راجع مبتداء ته نه دې، د عمده ضمیر یو خو ضمیر دې خو داد فضلې دې عمده ضمیر مراد دې.

شبه دې وائې هلکه نو بیا دلته کې مسند جملې لپاره سبب څه شې شو؟ چې دلته کې مسند جمله خو ده خو چې د تقویت لپاره نه ده نو سبب ئې څه دې؟ وائې **ویجب ان یجعل سببیا** دلته کې مسند جمله ذکرکولو لپاره علت سببیت دې دا مسند سببي شو اود تقویت لپاره نه دې.

واما علی ما ذکره الشیخ دا اوس هغه مذهب د شیخ بیانوي هغه دویمه طریقه د تقویت په زید **قام** کې چې هغه څنګه وه؟ وائي هرچې ده په هغه طریقه باندې چې ذکر کړې ده شیخ **فی دلائل الاعجاز وهو** او هغه خبره دشیخ داده چې **ان الاسم لایؤتی به** وائي اسم چې مبتداء ده راتلل نه شي کولې په دې سره په حال کون ددغه اسم کې **معری عن العوامل** چې خالي وي د عوامل لفظیه نه **العوامل** کې الف لام عهد خارجي دي معهود ترې نه عوامل لفظیه دې وائي اسم چې مبتداء ده اتیان نه شي کولې په دې سره حال کونه معری عن العوامل **الا لحدیث** مګر د مسند لپاره، حدیث نه مسند مراد دې او مسند ته حدیث څکه وائي چې دانوې پیدا کیږي د مسندالیه دوجې نه څکه چې دا مسند چې پیدا کیږي نو د مسندالیه د وجې نه پیدا کیږي نو ددۀ لپاره سبب ښکته مسندالیه شو.ددې وجې نه دیته حدیث وائي. اوس شبه راغله چې یا هلکه دا دلیل خو اخوا په مسند مفرده او مسند جمله دواړو کې جاري شو او زمونږ کلام خو ددې لپاره دې چې مسند جمله لپاره سبب وایو چې زید قام، دا جمله چې مسندواقع شوې په دې کې طریقه د تقویت څنګه ده او په دې دلیل د شیخ کې خو دۀ حدیث ویلې دې نو حدیث خو مسند ته وائي او مسند خو شامل مسند مفرده او جملې دواړو ته دې.

نو تاسو ترې نه جواب وکړئ چې ددې حدیث نه مراد هغه کلام مسندبه دې کلام مسنده دې مطلق حدیث مراد نه دې اوکلام مسنده جمله وي مفرد ته نه دې شامل.

نو بیا شبه راغله چې بیا خو ددې نه دا معلوم شو چې مبتداء خالي د عوامل لفظیو نه به هله راځي چې بره مسند جمله وي کلام مسنده وي اوکه مسند مفرد وي نو هلته کې مبتداء خالي د عوامل لفظیو نه به نه وي نو دا د شیخ په مذهب باندې بله خرابي راغله څکه شیخ خپل کلام په ادواتو د حصر سره ویلې دې نو بیا معنی دا شوه چې اسم **لایؤتی به** حال کون ذلك الاسم معری عن العوامل اللفظیة الا لحدیث، مګر د کلام مسنده لپاره نو اوس که مسند مفرده وي نو هلته مبتداء معری د عوامل لفظیونه به نه وي او دا خو صحیح نه ده. نو تاسو جواب وکړئ چې دلته کې عبارت کې یو ټکې حذف دې چې الالحدیث مګر د کلام مسند لپاره **فیما نحن فیه** کې، دا ټکې کیږدئ فیما نحن فیه په **زید قام** مثال کې، فیما نحن فیه دا چې زید قام دې مثال کې دغه زید معری د عوامل لفظیونه

نه دې شوې مګر د **قام** ذکر کولو لپاره معرى شویدى چې کلام مسنده دې لیکن داهسې مونږ شیخ ته پرتوګ جوړکړو، په واقع کې د شیخ مذهب خراب دې دا هسې شلیدلي پرتوګ ته توتې لګول دي **ولن یصلح العطار ما افسده الدهر** چې یو سړې د امتداد زمانې د وجې نه بوډا شي بوئي لګولو خوشبوي سره هغه نه صحیح کیږي که ته ورته ډیر پالش ولګوي ورکړې خوشبو ولګوې خو هغه خوانیږي نه هغه بوډا شوې وي نو د شیخ مذهب ضعیف دې خو مونږ په کې توتې د مانحن فیه لګوو.

الا لحدیث مګر د کلام مسند به لپاره فیما نحن فیه **قد نوی اسناده الیه** وائي یقیناً نیت شوې دې د اسناد ددې حدیث دې اسم ته چې مبتداء ده نو اوس تا زید وویلو نو اجمالاً زړه ته راغلل چې یا هلکه د زید نه وروستو یو کلام به ذکر کیږي هغه به دهٔ ته مسند وي نو وروستو تا تفصیل وکړو، **قام** دې وویلو نو دا حصول د شې بعد الاشعار او حصول د شې پس د اشنائیت نه راغلو پس د مانوسیت نه راغلو او حصول د شې بعد المانوسیت اقوی وي نو قوت په کې راغلو نو تقویت د حکم په کې راغلو، نو **فاذا قلت زید** نو اشعرت **قلب السامع** داسې چې **بانك ترید الاخبار عنه** ای عن زید نو **فهذا** پس دغه اتیان په زید باندې چې خالي دې د عوامل لفظیونه، **توطیة** واسطه شوه **له** ددغه اخبار لپاره **وتقدمة** مقدمه شوه وسیله شوه **للاعلام به** په دې اخبار سره نو **فاذا قلت قام** نو **دخل** داخل شو اسناد **فی قلبه** ای قلب السامع **دخول المانوس** په شان د داخلیدلو د اشنا شي او اشنا ځای ته سړی بلا تحاشا او بلاخوفه ځي قوي زړه سره ځي **وهذا اشد** او دا دخول فی قلب السامع دخول المانوس دا اشد دې ډیر سخت لپاره د ثبوت د محکوم به محکوم علیه لره **وامنع من الشبهة والشك**.

سوال: یا هلکه د شیخ په مذهب باندې مونږه پوهه نه شو چې د شیخ څه مطلب شو؟ نو شارح وائي چې پوهه نه شوئ نو زه تاسو پوهوم **وبالجملة** وائي اقول بالکلام المجمل **لیس الاعلام بالشئ بغتة مثل الاعلام به** ای بذلك الشئ **بعد التنبیه علیه** ای علی ذلك الشئ **والتقدمة** او پس د وسیلې او مقدمې نه په دې باندې **فان ذلك** وائي ځکه پس دغه اعلام پس د تنبیه او پس د تقدمې نه **یجری مجری تاکید الاعلام فی التقوی والاحکام** اوس د سکاکي اود شیخ په مذهب کې فرق ته اشاره کوي د سکاکي په نزد باندې **زید ضربته او زید مررت به** د تقویت نه خارج وو او سببیت کې داخل وو مسند ئې جمله وو د سببیت د وجې نه.

او بنا په مذهب د شیخ باندې فیدخل فیه نحو زید ضربته ومررت به دا هم په کې داخل شو.

اوس هغه اخري څلورمه خبره کوي دفع د اعتراضینو دا اول اعتراض راغلو چې یا هلکه ته وائي چې مسند چې جمله ذکر کیږي نو د دوو علتونو د وجې نه یا د تقویت د وجې نه او یا د سببیت لپاره زه به درته اوښایم چې مسند به جمله وي اونه به په کې مقصود سببیت وي اونه به تقویت وي هغه لکه ضمیرشان کې **هو زید عالم** هو مبتداء شوه او زید عالم ئې خبر مسند جمله ده نه دلته کې تقویت شته

دې اونه سببیت دې نودا خارج شو دغه شبه کوي نووائي **ومما** او بعضې د هغه کلام نه **یکون المسند فیه** په دې کلام کې **جملة لا للسببیة ولا للتقوی** هغه **خبر ضمیرالشان** دې نو خبر مسند هلته کې جمله شوه او علت په کې نه تقویت دې اونه سببیت دې

دا جواب کوي **ولم یتعرض** ای الماتن **له** ای لذکره **لشهرته** ځکه دا مشهور وو ددې وجې نه ماتن ذکر نه کړه ورنه داسې ویل پکار وو واما کونه جملة فلتقوی اولکونه سببیا اولکونه تفسیرا لضمیرالشان دویم جواب **وکونه معلوما مما سبق** او بل دا معلوم وو د مما سبق نه په بحث د ضمیرالشان کې چې مخکې ماتن ویلي وو چې کله کله کلام خارجیږي خلاف د مقتضی د ظاهر نه نو بیاني دهغې په مثال کې هو زید عالم هی زید عالم نبودلې وو.

واما صورة التخصیص دا دفع د بل اعتراض کوي چې یا هلکه زه به تاته وښایم چې مسند به جمله وي اونه به د سببیت لپاره وي اونه به د تقویت لپاره وي بلکه د تخصیص اود قصر لپاره به وي لکه **انا سعیت فی حاجتك** دا رنګه **رجل جاءنی** کې دلته کې مسند جمله دې اونه په کې سببیت شته دې اونه تقویت شته دې نو داسې ویل پکار وو چې اما کونه جمله فللتقوی اولکونه سببیا اوللتخصیص نو او للتخصیص هم ویل پکار وو چې داهم داخل شوې وې نو دې جواب کوي چې **واما صورة التخصیص** لکه **نحوانا سعیت فی حاجتك ورجل جاءنی داخلة فی التقوی علی مامر** ځکه چې اګرچې مقصود دلته کې قصر دې خو تقویت ترې نه حاصل دې ځکه مخکې ئې تاسوته ویلي وو چې **فرق بین ان یکون الشئ مقصودا من الشئ وبین ان یکون الشئ حاصلا من الشئ** نو تقویت اګرچې مقصود ددې د ترکیبونونه نۀ دې. لیکن حاصل ترې نه دې، تخصیص سره تقویت راځي.

واسمیتها او اسمیت ددغه جملې اوس ګوره مسند خو جمله کیږي د سببیت د وجې نه اوس جمله ځان له څلور قسمه ده چې اسمیه فعلیه شرطیه او ظرفیه، د هغې نکتې څه دي؟ وائي **واسمیتها**: اسمیت د دغه جملې **وفعلیتها وشرطیتها لما مر** د وجې د هغه دلائلو نه دي چې مخکې تیرشوي دي یا هلکه **ما مر** خو ټول کتاب دې نوکوم مرا دي؟ او دویم تعیین د مامر کوي یعنې ان کون المسند جملة للسببیة والتقوی دا خو مخکې لاړ، دې سره ئې ربط ته اشاره وکړه چې دا هغې سره لګي چې یعنې ان کون المسند الخ **وکون تلك الجملة اسمیة** د **مامر تعیین للدوام والثبوت وکون فعلیة للتجدد والحدوث** والدلالة علی احد الازمنة الثلاثة علی اخصر وجه مخکې تیرشوي دي **وکونها شرطیة** ځکه للاعتبارات المختلفة الحاصلة من ادوات الشرط لکه ان په هغه ځای کې ویلې کیږي چې د هغه شرط په راتلونکي زمانه کې مشکوك الوقوع وي اذا ویلې کیږي په هغه شرط کې چې هغه مضمون د شرط په راتلونکي زمانه کې متیقن الوقوع وي هکذا.

وظرفيتها لاختصار الفعلية ځکه زيد فی الدار دا مختصر دي د زيد ثبت فی الدار نه نو ظرفيت ددي جملې لپاره د اختصار د جمله فعليه د وجې نه دي وائي **اذهی** ای الظرفية ضمير د هی ظرفيت ته راجع دي **مقدرة بالفعل** دا مؤول دي په فعل سره په مذهب اصح باندې چې مذهب د بصريانو دي، مقدر معنی مؤول دي په فعل پورې په مذهب اصح باندې دليل د اصح دادي وائي لان الفعل هو الاصل فی العمل دليل کې اختصار دي وائي ځکه چې متعلق عامل وي په متعلق کې او اصل په عمل کې فعل دي نو ددي د وجې نه متعلق د ظرف به فعل وي.

وقيل سره د اصح مقابل ذکر کوي چې قيل دي، مذهب د کوفيانو **وقيل** دا ظرف مقدر دي **باسم الفاعل** ثابت پورې زيد ثابت فی الدار دي ځکه چې **لان الاصل فی الخبر ان يكون مفردا** او افراد باندې دلالت اسم فاعل کوي. اوس دي ترجيح ورکوي مذهب اول ته چې **ووجح الاول** وائي ترجيح ورکړئ شوې ده مذهب اول ته **بوقوع الظرف صلة للموصول** کله کله ظرف صله لپاره د موصول واقع کيږي نو هلته کې تعلق اسم فاعل پورې صحيح دي ځکه صله د موصول نه وي مګر جمله لکه په **نحو الذی فی الدار اخوك** نو اوس دلته کې **ثابت فی الدار** نه شي ويلې دلته کې متيقن دي چې الذی **ثبت** فی الدار اخوك اوس کوفيان ددې نه جواب کوي **اجيب** شارح وائي په کوفيانو باندې دغه دليل سبب د ترجيح نه شي کيدلې ځکه کوفيان وائي چې کوم ظرف چې صله واقع شي هلته کې مونږ متفق يو چې هلته هغه به متعلق وي فعل پورې خو کوم ظرف چې خبر واقع شي په هغې کې مونږ کلام کوو نو دا دليل اوسبب لپاره د ترجيح په مذهب د کوفيانو نه شي کيدلې وائي **واجيب** جواب ترې کړې شوې دي چې **ان الصلة عن مظان** د مواضعو د ګمان د جملې نه دي او په خلاف د خبر نه زمونږ کلام په خبر کې دي.

اوس دي شارح شبه کوي په ماتن باندې او ځان له ځي خو شبهې دوه دي يو شارح په کې کړې ده او يوه د بهر نه ده په کې چې کومه شارح شبه کړې ده نو هغه داده چې **اذهی** کې ضمير د هی ظرفيت ته راجع دي نو ظرفيت وائي هغه ظرف ته سره د فعل نه نو اوس ترجمه وکړه **اذهی** وائي دغه ظرفيت چې ظرف سره د فعل نه دي مؤول دي په فعل پورې په مذهب اصح باندې نو دوه اعتراضونه وارد شو يو اعتراض داچې بيا په مذهب غير اصح باندې دا **ثبت** فی الدار دغه ظرفيت به متعلق وي **ثابت** پورې او دا خو مذهب غير اصح نه دي ځکه چې متعلق په ثابت پورې فی الدار فقط دي ثبت فی الدار نه دي ثبت فی الدار هغوی د ثابت پورې متعلق نه وائي نو وائي چې **اذهی** نه وو پکار **اذهو** پکار وو چې ماتن ويلې وي نو چې **هوئي** ويلې وي نو **هو** ضمير به ظرف ته راجع وو نو دغه فعل ظرف مقدر دي په فعل پورې په مذهب اصح باندې او غير اصح وائي نه شبه فعل پورې دي ولو قال الماتن **اذا الظرف** يعني **اذا الظرف** اسم ظاهر سره ئې ويلې وي مقدر بالفعل على الاصح لکان اصوب نو دا قول به ډير

اصوب وو ځکه **لان ظاهر عبارته** ای الماتن **یقتضی ان الجملة الظرفیة** ځکه هی ضمیر خو جمله ظرفیه ته راجع دې او جمله ظرفیه داده چې ظرف سره د فعل نه دا جمله ظرفیه مقدر ده په اسم فاعل پورې **علی القول الغیرالاصح ولا یخفی فساده** او دا مذهب د قول غیر اصح نه دې

دویمه شبه د بهر نه دا واردیږي چې **اذهی** کې تا ضمیر ظرفیت ته راجع کړو او مراد د ظرفیت نه جمله ظرفیه شوه جمله ظرفیه دیته وائي چې فعل سره د ظرف نه نو دا ظرفیت مؤول دې په فعل پورې؟ نو بیا خو ظرف لپاره په مذهب اصح باندې دوه فعلونه پکار شو او حالانکه دا خو مذهب اصح نه دې چې ظرف متعلق کیږي دوو فعلینو پورې نوولې یو فعل کافي نه دې

نو تاسو جواب وکړئ چې دلته کې مجاز دې ذکر د کل دې مراد ترې نه جزء دې **اذهی** دغه ظرفیت خو کل شو چې ظرف سره د فعل نه مراد ترې نه صرف ظرف دې جزء.

واما تاخیره تعیین د مرجع کوي هر چې دې تاخیر د مسند وائي **فلان ذکر المسند الیه اهم** وائي دا د دې وجې نه چې ذکر د مسند الیه اهم وي او اهم مقدم وي نو مسند الیه به ته مقدم کوې نو چې مقدم دي کړو نو مسند خود بخود مؤخر پاتې شو، او ذکر د مسند الیه اهم وي ځکه **کما مر** لکه مخکې تیر شوي دي په نکته د تقدیم د مسند الیه کې.

واما تقدیمه هرچې تقدیم د مسند کوي ځکه کوي **فلتخصیصه بالمسند الیه ای لقصر**، شارح اشاره کوي چې دلته کې تخصیص په معنی د قصر سره دې اوبل اشاره کوي چې تخصیص او قصر دواړه مترادفین دي اودریم اشاره کوي چې دلته کې باء داخله ده په مقصور باندې په مقصور علیه باندې نه ده داخله نو مسند الیه مقصور شو او مقصور علیه نه شو نووائي ای **لقصر المسند الیه علی المسند** سوال هلکه بندیدل د مسند الیه په مسند باندې څنګه به کیږي؟ وائي **علی ما** په هغه طریقې سره **حققناه** چې مونږه ثابته کړې ده دا طریقه په ضمیر فصل کې لکه **زید هو القائم** ددې معنی دا چې دا زید مقصور دې په قیام پورې متجاوز نه دې د قیام نه قعود ته دا معنی ده هلته کې تیره شوې ده اوس دا دلیل وائي د دې مخکې دعوې لپاره چې قصر د مسند الیه په مسند باندې ولې کیږي؟ څنګه راځي وائي: **لان معنی قولنا تمیمی انا** اوس دلته کې تمیمی مسند مقدم شو په انا مسند الیه باندې نو ددې مطلب دادې چې **هو** دغه متکلم **مقصور علی التمیمیة لایتجاوزها** نه دې متجاوز ددې تمیمیت نه **الی القیسیة** نو یا قصر افراد دی او یا په کې قصر قلب دې که مخاطب عقیده د شرکت ساتلې وه نو قصر افراد شو اوکه قیسیت ئې ساتلی وو نو قصر قلب شو. مثال داسې چې تقدیم شوي وي د مسند لپاره د قصر د مسند الیه په مسند پورې وائي: **نحو لافیها غول** نو **فیها** دا مسند مقدم شو او **غول** مسند الیه مؤخر شو، نو معنی دا شوه چې دا عدم غول مقصور دې په خمور الجنة پورې نه دې متجاوز بل هیڅ شي ته او ماتن چې

ورسره دا لګوي چې ای **بخلاف خمورالدنیا** ددې نه غرض یو دا دې چې ماتن اشاره کوي چې دا قصر حقیقي نه دې اضافي دې یعني عدم غول مقصور دې په خمورو د جنت پورې متجاوز نه دې د خمور الجنة نه خمور د دنیا ته بلکه خمورو د دنیا ته غول متجاوز دې نو یوئې **ای** سره دیته اشاره وکړه چې قصر اضافي دې حقیقي نه دې په نسبت سره کل ماعدا ته نه دې بلکه بعضې ماعداته دې چې خمورد دنیا دي دویم غرض د ماتن **ای** سره دفع د اعتراض کوي اعتراض دا وارد شو چې یا هلکه تا دا وویل چې دلته کې دا عدم غول مقصور دې په خمور د جنت پورې متجاوز نه دې د خمورو د جنت نه عدم غول متجاوز نه دې بل هیڅ مشروب ته نو بیا خو نورو مشروباتو د جنت کې خوبه غول وي نو سردردي به وي التې به وي حالانکه نورو مشروباتو د جنت کې هم عدم غول دې؟ نو دۀ جواب وکړو چې دلته کې قصر حقیقي نه دې قصر اضافي دې، **بخلاف خمور الدنیا** خلاف لپاره دلیل وائي چې دا په خلاف د خمورو د دنیا دې **فان فیها غول**.

فان قلت سره شارح شبه کوي ښکاره شبه د شبهې حاصل داچې هلکه کوم چې مسند دې نو هغې پورې قصر د مسند الیه نه دې راغلې او کوم پورې چې قصر د مسند الیه راغلې دې نو هغه مسند نه دې هغه جزء د مسند دې وائي ځکه چې مسند **فی** چې جار دې سره د مجرور نه چې **ها** ضمیر مجرورہ دې دا مجموعه مسند دې او دې پورې خو قصرد عدم غول نه دې شوې او قصر دعدم غول چې شوې دې نو **ها** پورې شوې دې چې راجع دې خمورو د جنت ته او هغه خو مسند نه دې هغه جزء د مسند دې نو کوم چې مسند وو هغې پورې قصر د مسند الیه نه دې راغلې او کوم پورې چې قصر د مسند الیه راغلې دې نو هغه مسند نه دې بلکه جزء د مسند دې نو وائي چې **فان قلت المسند هوالظرف** شبه هلکه ظرف نه کوم مراد دي **ها**؟ وائي نه نه **اعنی فیها** دا مجموعه **والمسند الیه لیس بمقصور علیه** او مسند الیه په دې مجموعه پورې نه دې مقصور **بل علی جزء** بلکه په یو جزء باندې مقصور دې **منه** ددې ظرف نه **اعنی الضمیر المجرور الراجع الی خمورالدنیا** نو مثال مطابق د ممثل سره نه شو.

قلت سره شارح جواب کوي حاصل د جواب په منع سره کوي چې یا هلکه په دې **لا غول فیها** کې دوه احتمالین دي، یو خو دا قضیه معدوله ده خو په دې معدوله کیدلو کې دوه احتمالین دي، یا دا معدولة الموضوع ده، او یا دا معدولة المحمول ده که معدولة الموضوع شي نو دا حرف نفي چې **لا** دې جزء شو د غول نه نو بیا موضوع عدم غول شو او یا دا معدولة المحمول ده، یعني دا **لا** جزء دې د دې **فیها** نه نو بیا مسند الیه **غول** شو او مسند عدم حصول د غول فی خمور الجنة شو، بهر حال دې دواړو باندې قصر صحیح دې که معدولة الموضوع شي او که معدولة المحمول شي، نو وائي: **قلت المقصود ان عدم الغول** دا بناء شوی دی چې دا معدولة الموضوع شي دا عدم غول **مقصور علی الاتصاف**

مقصور دي په متصف کولو سره بنفي خمورالجنة سره نو دا مجموعه مسند پورې مقصور شو عدم غول مقصور شو او اتصاف يعني خمورالجنة دا مقصور عليه شو، **لايتجاوزه** نه متجاوز کيږي دا عدم غول د دې اتصاف يعني خمورالجنة نه **الى الاتصاف يعنى خمورالدنيا** ته بلکه هغې ته غول متجاوز دې. **وان اعتبرت النفى** دويم احتمال د جواب بيانوي که ته معتبر کړې نفى **فى جانب المسند** نو دا معدولة المحمول شوه، نو بيا **فالمعنى** معنى دا شوه چې **ان الغول** مسندالیه بيا غول شو چې غول بيا **مقصور على عدم الحصول فى خمور الجنة لايتجاوزه** نه متجاوز کيږي ددې عدم حصول فى خمورالجنة نه **الى عدم الحصول فى خمور الدنيا** ته نو دائې تفريع وکړه د جواب نه وروسته **فالمسند اليه** چې عدم غول دې په احتمال اول کې يا غول دې په احتمال ثانى کې **مقصور على المسند قصرا غير حقيقى** په قصر غيرحقيقي سره هغه خو ماتن هم ويلې دي نو اضافي شو.

وكذا شارح وائي په شان ددې قول مذکوره ايت مذکوره **القياس فى قوله تعالى** هم تقديم لپاره د قصر دې چې **لكم دينكم ولى دين** يعني **دينكم مقصور بكم لا يتجاوز الى او ولي دين**، يعني **دينى مقصور بى لايتجاوز اليكم** نو دلته کې هم قصر شو او تقديم د مسند شوې دې.

ونظيره او نظير ددې قصر د موصوف على الصفة دې نه تقديم د مسند په مسندالیه باندې ځکه چې راتلونکي ايت کريمه کې قصر د وجې د تقديم د مسند نه په مسندالیه باندې نه دې شوې بلکه قصر خو د **ان اود الا د** وجې نه راغلې دې د تقديم د وجې نه نه دې راغلې نو دا صرف نظير په قصر د موصوف على الصفة کې شو لکه څنګه چې په راتلونکي ايت کريمه کې قصر د موصوف على الصفة دې نو دارنګه په دې مخکښې ايت کې هم قصر د قبيلې د قصر د موصوف نه په صفت باندې دې مافيه النظير داشو نو هغه نظير ددې دادې **ماذكره صاحب المفتاح فى قوله تعالى ان حسابهم الا على ربى من ان المعنى حسابهم** حساب د دغه مؤمنانو **مقصور على الاتصاف بعلى ربى** په متصف کيدلو سره بعلى ربي **لا يتجاوزه الى الاتصاف بعلى غيره** نو بيا ئې تفريع وکړه چې **فجميع ذلك** پس ټول ددې مذکور امثلو ثلاثونه چې په متن کې شو او دوه په شرحه کې شو **من قصرالموصوف على الصفة** دا د قبيلې د قصر د موصوف على الصفت نه دې موصوف غول شو مثال اول کې **دين** شو دويم کې او حسابهم شو او صفت هغه کون محکم او کون لى او کون على ربي دا ټول صفتونه شول **دون العكس** وائي عکس ګورې نشته دې کما منفي سره لګوئ لکه توهم کړې دې ددې عکس **بعضهم** بعضې ددې علماؤ نه چې خلخالي دې ځکه چې په دې ټولو کې قصر د موصوف على الصفت دي. قصر د صفت على الموصوف نه دې اوس **ولهذا** سره دليل اني وائي په دې خبره باندې چې تقديم د مسند فائده کوي قصر وائي: **لان التقديم يفيد التخصيص** تعيين د مشارالیه کوي وائي: ځکه چې تقديم د مسند فائده کوي تخصيص د مسند

اليه په مسند پورې او قصر د مسند اليه په مسند پورې نو **لم يقدم الظرف** الذی هو المسند **علی المسند اليه فی** په دې قول د الله تعالی کې چې **لاريب فيه** دې که تقديم ئې کړې وې نو داسې به يې ويلې **ولم يقل لاريب** الله داسې نه دي ويلي ځکه **للا يفيد تقديمه** ای تقديم المسند **عليه** په دې مسند اليه باندې **ثبوت الريب فی سائر کتب الله تعالی** چې نورو کتابونو د الله کې ريب به وي نو ځکه **بناء** بناء په دې باندې چې **علی اختصاص عدم الريب بالقران** پورې راغلو، نو ددې نه معلومه شوه چې دا عدم ريب مقصور دې په قران پورې متجاوز نه دې د قران نه بل کتاب د الله ته نو هلته ريب متجاوز شو ريب ثابت شو.

معترض راغلو شبه ئې وکړه چې ماتن **فی سائر کتب الله** ولې وويل **فی سائر الکتب** ئې ولې ونه ويل چې نسبت ئې الله ته په کې وکړو چې اضافت ئې الله ته وکړو نو دې جواب کوي چې **وانما قال** ای الماتن **فی سائر کتب الله تعالی لانه** ځکه دا باقي کتب **المعتبر فی مقابلة القران کما ان المعتبر الخ** لکه معتبر په مقابله د خمور د جنت کې خمور د دنيا دي مطلق مشروبات نه دې دغسې دلته کې **وغيرها** او غير ددې مشروباتونه چې مطعومات دي.

اولتنبيه دې کې اشاره کوي شارح چې دا **اوعاطفه** دې **عطف علی تخصيصه** چې تقديم د مسند کيږي لپاره د تخصيص د مسند اليه يا د تقديم د مسند کيږي لپاره د تنبيه **من اول الامر** د اول الوهلة نه **علی انه** چې دغه مسند **خبر** دې او نعت نه دې.

سوال: هلکه تقديم سره ولې معلوميږي؟ او څنګه معلوميږي چې دا خبر دې او نعت نه دې وائي ځکه **اذا النعت لا يتقدم علی المنعوت** او دلته کې داخبر مقدم شوې دې نو دا معلوم شو چې دا خبر دې اونعت نه دی معترض راغلو شبه ئې وکړه په ماتن باندې چې بناء د متونو په اختصار باندې ده نو دا **من اول الامر** دې ولې ذکر کړو دې له څه حاجت وو؟ دا کافی وو چې **اوالتنبيه علی انه خبر لا نعت** نو شارح وائي **وانما قال** ای الماتن **من اول الامر لانه** ای الشان **ربما يعلم ان** ای المذکور **خبر لانعت بالتامل فی المعنی والنظر الی انه لم يرد فی الکلام خبر المبتداء** نو خود بخود به معلومه شي چې دا خبر دې ځکه بل خبر شته دې نه خو دا توهم د اول الامر نه راځي کقوله ای قول حسان بن ثابت رضی الله عنه **له همم لا منتهی لکبارها.....** وهمته الصغری اجل من الدهر وائي: د رسول الله صلی الله عليه وسلم لپاره همتونه وو ارادې او قصدونه وو چې نه وه انتهاء د لويو ددې ارادو لپاره او قصد او اراده د رسول الله صلی الله عليه وسلم وړوکې غونده هغه لويه وه د ټولو اهل زمانه د همتونونه او ارادو نه.

اوالتفاؤل او يا تقديم د مسند کولې شي د خوشحالولو د سامع لپاره **نحو: شعر**

سعدت بغرة وجهك الايام　　وتزينت ببقائك الاعوام

وائي کامياب شوي دي د ستا د مخ د سپين والي سره ورځې او عوام خلق د ستا په پاتې کيدلو سره

ښائسته دي سعدت الايام ئې وويل سعدت ئې مخکې کړو اوکه الايام سعدت ئې ويلې وې نو نه خوشحاليده نو دلته ئې مسند مقدم کړو سعدت الايام ئې وويل

او **التشويق** يا تقديم د مسند اليه کولې شي لپاره د شوق پيدا کولو د سامعينو **الى ذكر المسند اليه** سوال يا هلکه تقديم د مسند سره څنګه شوق د سامعينو پيدا کيږي ذکر د مسند اليه ته کوې تقديم د مسند او وائې چې شوق د سامعينو به ذکر د مسند اليه ته پيدا شي؟ نو دې دهغې لپاره صورت جوړوي **بان يكون فى المسند المتقدم طول** داسې طول **يشوق النفس** پيدا کوي دا طول نفس لره شوق **الى ذكر المسند اليه فيكون له** اى للمسند اليه **وقع** واقع کيدل په نفس کې **ومحل من القبول** او ځای د قبول نه، سامع به دا ښه قبول کړي وائي: **لان الحاصل بعد الطلب اعز** عزتمند وي من **المنساق** دهغه شي نه چې هغه ډولې شوې وي **بلا تعب كقوله** اى الشاعر ع **ثلاثة** تطبيق د مثال د ممثل سره کوي چې دا مثال د ممثل سره مطابق دې ځکه چې **هذا هو المسند المتقدم** دا ثلاثه، نو دائې مقدم کړو معترض شبه وکړه چې دا **تشرق** په ترکيب کې څه واقع شو نو دۀ جواب وکړو **الموصوف بقوله تشرق**، يا هلکه **تشرق** د **اشرق** نه ماخوذ دې که د **شرق** نه دي؟ وائي: **من اشرق** هلکه د اشرق نه شو نو دا همزه د تعديت لپاره شو که نه د صيرورت لپاره؟ وائي: نه **بمعنى صار مضيئا** نو لازمي شو يعنې روښانه کوي دنيا ګرځي دنيا روښانه دنيا فاعل شو ددې تشرق لپاره معنى دا شوه چې درې څيزونه دي داسې درې چې روښانه کيږي دنيا **والعائد** راجع **الى الموصوف هو الضمير المجرور فى ببهجتها** اى بحسنها ونضارتها يعنې پخپل حسن سره او تازګۍ خپلې سره اى **تصير الدنيا** ګرځي دنيا **منورة ببهجة هذه الثلاثة وبهائها** والمسند اليه **المتاخر هو** قوله شمس الضحى وابو اسحاق والقمر وائي: يو نمر دې د غرمې او بل ابو اسحاق دې او بل قمر دې نو اوس خپله د سړي شوق پيدا کيږي چې مخکې وويلې شي چې درې څيزونه دي چې ګرځي دنيا روښانه په حسن وتازګۍ ددې سره نو ستاسو پخپله شوق پيدا کيږي چې هغه درې څيزونه کوم کوم دي نو ووائې چې شمس الضحى الخ

تنبيه

هذا دا ماسياتي تر يو حده پورې چې احوال د متعلقات دفعل دي **تنبيه** دې تنبيه کې دا وائي چې **كثير ما ذكر فى هذا الباب** يعنې باب المسند **والذى** او هغه څه چې تيرشوي دي **قبله** مخکې د دې باب نه يعنې **باب المسند اليه** کې نو دغه **كثير غير مختص بهما** اى بالمسند والمسند اليه هغه کثير دادې **كالذكر والحذف وغيرهما من** التعريف والتنكير الخ وغير ذلك مما سبق بلکه دغه کثير څنګه چې په مسند مسند اليه کې راځي نو دارنګه په غير کې هم راځي

وانما قال سره شارح ددې **كثير** لفظ فائده وائي نو ددې نه وروستو يو شارح د کثير فائده وائي من **عند نفسه** اولا بيا نقل د قول د قيل کوي په فائده د **كثير** کې ثانياً **وقيل** سره، بيا رد کوي په دې بيان

د فائدې ددې قیل باندې ثالثا وفیه نظر سره نو د شارح درې اغراض شو ۱ بیان فائدة قوله کثیر من عند نفسه اولا ۲ ونقل قول القیل لبیان فائدة قول الماتن ثانیاً ۳ والرد علی قول القیل ثالثاً نووائي وانما قال کثیر **لان بعضها** ای الاحوال **مختص بالبابین** کضمیر الفصل المختص بما بین المسند والمسند الیه هغه په نورو کې نه شي راتلې دارنګه وککون المسند فعلا فانه مختص بالمسند اذکل فعل مسند دائما داخو شارح بیان د فائدې د کثیر وکړو.

وقیل مولانا قیل داسې وائي اول دغسې بهر په خله باندې اووائي بیا په کې لګوئ قیل وائي چې که کثیر ئې نه وې ویلې نو بیا به دا معنی وه چې **جمیع مما ذکر فی هذا الباب والذی قبله** کې چې مسند اومسند الیه دې دا جمیع مختص په دې دواړو پورې نه دې، بلکه دا جمیع جاري کیږي په غیر ددې دواړو کې او جاري کیدل ددې جمیع په غیر ددې دواړو کې دا نه صحیح کیږي ځکه چې جمیع کې یو تعریف دې په ټولو احوالو کې، تعریف په حال کې نه شي راتلې او حال غیر د مسند اومسند الیه نه دې دارنګه په جمیع احوالو کې یو تقدیم دې او غیر د بابینو نه یو مضاف الیه دې نو تقدیم مضاف الیه کې نه شي راتلې نو ځکه ئې کثیر وویلو او جمیع ذلك ئې اونه وویلو نو وائي وقیل **هو اشارة الی جمیعها** ای جمیع تلك الاحوال **لایجری** فی غیر البابین کالتعریف فانه لا یجری فی الحال والتمیز، وکالتقدیم فانه لایجری فی المضاف الیه لیکن شارح وائي **وفیه نظر** دا نکته څه نکته نه ده ځکه دلته کې خودا معنی شوه چې جمیع مختص نه دې په دې دوو بابینو پورې نودا څه لازم نه ده چې دا جمیع به په جمیع غیر ددې بابینو کې جاري کیږي جائز ده چې دا جمیع دې په بعضو کې دې راځي او بعضو کې دې نه راځي وائي وفیه نظر لان قولنا جمیع ماذکر فی البابین غیر مختص بهما لایقتضی څه کثیر تا اونه ویلو تا جمیع وویلو نو لا یقتضی دا تقاضه نه کوي **ان یجری شئ من المذکورات** چې احوال دي فی کل واحد من الامور اللتي هی غیر المسند الیه والمسند د یو حالت راتلل په غیر کې ضروري نه دې **فضلا عن ان یجری کل منها فیه** ای کل من المذکورات فی ذلك الغیر ځکه **اذ یکفی لعدم الاختصاص بالبابین ثبوته فی شئ** ای ثبوت کل واحد فی شئ **مما یغایرهما** ای البابین فافهم

ځکه زمونږ مقصد دلته کې رفع د ایجابِ کلي ده جمیع رفع کول دي او رفع د ایجابِ کلي په سلب کلي سره هم راځي او رفع د ایجابِ کلي په سلب جزي سره هم راځي **فافهم** نو دقیل دا خبره صحیح نه شوه ځکه چې که دلته کې جمیع وې نو بیا دلته کې معنی خو دا شوه چې جمیع په دې بابینو پورې مختص نه دې نو ددې سره دا لازم نه ده چې دا جمیع په جمیع مغایر ددې بابینو کې به جاري کیږي ځکه عدم اختصاص لپاره کافي دی چې ددې احوالو نه یو حال په دې بابینو کې راغلو نو عدم اختصاص راغلو **والفطن** او زیرك سړی **اذا اتقن** کله چې محکم کړي **اعتبار ذلك** اعتبار ددې کثیر **فیهما** ای فی البابین **لا یخفی علیه اعتباره** ای الکثیر **فی غیرهما من المفاعیل والملحقات** کالمجرور والحال والتمیز **والمضاف الیه**.

احوال متعلقات الفعل

احوال متعلقات الفعل دا خبر د مبتداء محذوفې دې يعنې باب رابع د ابواب ثمانيو د فن اول نه په احوالو د متعلقاتو د فعل کې دې **متعلقات** جمع د متعلق ده او متعلق په معنى د معمول سره دې يعنې په معمولاتو د فعل کې **قد اشير** سره شارح اعتراض کوي او وروستو **لكن ذكر فى هذا الباب** سره جواب کوي د اعتراض حاصل داچې هلکه ماتن پرون په تنبيه کې وويل چې **كثير مما ذكر فى هذا الباب والذى تبله غير مختص بهما** نو دهغې نه معلوم شو چې معمولات دفعل کې دغه احوال مذکوره جمع کيږي نو انعقاد ددې باب بلا فائده شو مستدرك شو ځکه تنبيه کې خو ماتن ويلي وو چې کوم احوال په دې بابينو کې ذکر شوي دي نو هغه په معمولاتو دفعل کې هم جاري کيږي نو چې جاري کيږي نو انعقاد ددې باب بيا مستقل مستدرك شو نو دغه شبه کوي نو وائي **وقد اشير فى التنبيه الى ان كثيرا من الاعتبارات السابقة** اعتبارات سابقه او مقتضيات د احوالو يو څيز دې **يجرى فى متعلقات الفعل** ځکه هلته کې ئې غير مختص بهما ويلې دې نو هغه کې متعلقات د فعل هم داخل دي نو دا ذکر کول مستدرك شو دې باب ته حاجت نه وو، نو شارح جواب کوي چې هغه خبره دې ټيك ده حاصل د جواب دا چې دا خو ماتن هغه امور په دې باب کې ذکر کړي دي چې دهغوى لپاره زيادة علاقه ده د دې معمولاتو دفعل سره هغه د تنبيه نه نشي معلوميدلى د دې وجې نه هغه داباب ذکر کړي دې **لكن ذكر اى الماتن فى هذا الباب تفصيل بعض من ذلك** تفصيل د بعضو ددې کثير نه او تفصيل د بعضو ځکه کوي **لاختصاصه بمزيد بحث** د وجې د اختصاص ددغه بعضو نه په زيادت تفتيش وتلاش سره زيادت تفتيش وتلاش ته محتاج وو نو ددې وجې نه ماتن په هغې کې شروع وکړه

ومهد لذلك مقدمة دې سره دفع د اعتراض کوي اعتراض وارد شو چې ددې باب مطالب خو درې دي اول نکات د حذف د مفعول به دويم نکات د تقديم د مفعول به په فعل باندې او دريم نکات د تقديم د بعضې معمولاتو د فعل په بعضو باندې نو مطلب اول خو وروستو ددې ځای نه شروع کيږي چې **لماذا لم يذكر المفعول به معه** اول د ۱۲۸ متن او مطلب ثاني وروستو راځي مطلب ثالث دهغې نه وروستو راځي نو اشتغال د ماتن په دې مخکې عبارت کې بحث کې چې **الفعل مع المفعول** ددې ځای نه تر **انا لم يذكر** پورې، دا اشتغال بمالايعنى شو ځکه مطالب خو هغه دي په هغې کې شروع کول پکاروو نو په دې کې شروع بمالايعنى دي

نو شارح جواب وکړو د ماتن د طرفنه چې **ومهد** اى الماتن **لذلك** ددې بحث لپاره **مقدمة** وائي: دا بطور مقدمه ممهده دې دا څه مقصود بالذات نه دې نو **فقال** الماتن **الفعل مع المفعول** كالفعل مع الفاعل نو الفعل مع المفعول مشبه شو او الفعل مع الفاعل مشبه به شو او اله د تشبيه په کې کاف شو وجه د

شبه فی الخ ماتن بیانوي چې **ان الغرض من ذکره معه** شارح ورسره لګوي اې دې کې اشاره کوي ابراز د مرجعینو ته چې د **ذکره** ضمیر چاته راجع دې او د **معه** ضمیر چاته راجع دې دویم غرض د شارح بیان د احتمالینو کوي په دې مرجع ګانو کې او دریم غرض د شارح دفع د اعتراض کوي چې هلکه د **ذکره** ضمیر مفرد دي او فاعل او مفعول دوه دي که د **ذکره** ضمیر هغې ته راجع کوې او که د **معه** ضمیر راجع کوې هغې ته نو هغه تثنیه دي اود معه ضمیر مفرد دې نو شارح جواب وکړو په **کل** سره نو د تفسیر درې غرضونه شو ای **ذکر کل من الفاعل والمفعول مع الفعل** دا اول احتمال شو او **ذکر الفعل مع کل منهما** دا دویم احتمال شو نو غرض څه دي؟ الغرض کې چې کوم ذکر دې هغه دادې چې **افادة تلبسه به ای** سره غرض د شارح دادې چې تعیین د مرجعینو کوي چې د **تلبسه** ضمیر چاته راجع دې او د **به** ضمیر چاته راجع دې او دفع د اعتراض هم کوي چې د **به** ضمیر خو مفرد دې او فاعل او مفعول خو دوه دي نو جواب ئې وکړو چې ای تلبس الفعل **بکل منهما** ای الفاعل والمفعول

معترض راغلو شبه ئې وکړه چې هلکه په دې تلبس کې څه فرق به نه وي؟ نو چې تلبس کې فرق نه شو نو بیاته یوته فاعل او بل ته مفعول ولې وائې؟ نو شارح جواب وکړو چې طریقه د تلبس کې فرق شته دې وائي: **اما بالفاعل** هرچې دې تلبس د فعل د فاعل سره نو **فمن جهة وقوعه عنه** نو پس په جهت د وقوع ددې فعل دې ددې فاعل نه

واما المفعول فمن جهة وقوعه علیه لا افادة وقوعه مطلقا شارح ورسره لګوي ای **لیس** دې کې ئې اشاره وکړه چې دا لا په معنی د لیس سره دې یعنې لامشابه بلیس دې اودائې چې وسره ولګولو چې **الغرض من ذکره معه** دې کې ئې اشاره وکړه چې اسم د **لیس** محذوف دې اود **لا** محذوف دې ای **لیس الغرض من ذکره معه** نه دې غرض د ذکر ددې فعل نه یا ذکر د هرواحد ددې نه د فعل سره **افادة وقوع الفعل** دې کې ئې ابراز د ضمیر ته اشاره وکړه د ضمیر د **افادة وقوعه** د متن وقوع د فعل څه معنی؟ **وثبوته** ثبوت د **فعل فی نفسه** دائې غرض نه دې چې ته ذکرد فعل سره د فاعل او مفعول وکړې او غرض ستا وقوع د فعل او ثبوت دفعل فی نفسه وي **مطلقا** ترجمه کوي چې دلته کې مطلقا په معنی د خالیا سره دې په معنی د مجردا سره دې هغه دا چې **من غیر ارادة** بغیر د اراده کولو ددې نه چې **ان یعلم** چې معلوم کړي سامع **ممن وقع وعلی من وقع** ددې نه به خالي وي نو دا غرض نه دې ګورې چې ته ذکر د فعل سره د فاعل او مفعول وکړې ددې لپاره چې صرف د فعل وقوع وثبوت فی نفسه لپاره او مقصود ستا بیان د **من وقع او علی من وقع علیه** نه وي

اوس شارح د متن لپاره دلیل وائي چې دا غرض ولې نه دې، د لیس او **لا** لپاره دلیل وائي نفي لپاره وائي ځکه **اذ لو اريد ذلك** که ذکر د فعل سره د فاعل اومفعول نه ته کوې ددې غرض لپاره چې فعل

ثابت دي في نفسه فعل واقع دي في نفسه، نو بيا داسي ويل پكار وو **لو اريد ذلك يقول وقع الضرب او وجد او ثبت** نو بيا دا كافي وو چې وقع الضرب او وجد الضرب او ثبت الضرب بيا فاعل او مفعول ته څه ضرورت وو **من غير ذكر الفاعل اوالمفعول** وائي اذلو اريد ذلك لقيل وقع الضرب او وجد الضرب او ثبت الضرب من غير ذكر الفاعل او المفعول نو مقدمه استثنائيه تالي كوئ لكن التالي باطل دا قيل باطل دي په وخت د ذكر د فاعل كې او ذكر د مفعول كې **وقع الضرب** او وجد الضرب او ثبت الضرب څوك نه وائي نو مقدم ئې مثل شو، دا اراده كول هم باطل شو نو دليل د ملازمې دادي يعنې دا څه لازم دي چې كه دا اراده اوشي نو ته بيا وائي چې لوقع الضرب او وجد الضرب الخ نو دليل د ملازمې داشو **لكونه عبثا** وائي د وجې د كيدلو د ذكر د فاعل او مفعول نه عبث هغه عبث شو او ذكر د فاعل او مفعول بلا فائدې شو ځكه بيا هغه ته څه حاجت نه راځي.

اوس د تمهيد نه فارغه شو نو اوس په هغه مطلب اول كې شروع كوي وائي **فاذا لم يذكر المفعول به** كله چې مفعول به ذكر نه كړې شو **معه** تعيين د مرجع كوي سره د فعل نه مع الفعل معترض شبه وكړه چې يا هلكه د فعل نه مراد فعل لازمي به وي او فعل لازمي سره خو د مفعول به ذكر نه كيږي نو كلام د ماتن لغوه شو نو شارح جواب وكړو **المتعدى** د فعل نه مراد فعل متعدي دي بيا معترض شبه وكړه چې كله ذكر نكړې شو مفعول به سره د فعل متعدي نه يا هلكه مفعول به، به ئې ځكه نه وي ذكر كړې چې فاعل به ئې نه وو ذكر كړې؟ نو مفعول به ئې هم ذكر نه كړه كنه ځكه چې ذكر د مفعول به فرع د ذكر د فاعل ده او ذكر د مفعول به بناء دي په ذكر د فاعل باندې نو چې فاعل ذكر نه شو نو مفعول به ئې هم ذكر نه كړو جواب ئې وكړو **المسند الى فاعله** هغه فعل متعدي چې مسند فاعل ته وي.

نو اوس گورو مونږه **فالغرض** پس غرض چې فعل متعدي مسند فاعل ته وو او متكلم مفعول به نه ذكر كوي نو **فالغرض ان كان اثباته** تعيين د مرجع كوي **اى اثبات الفعل** نو پس غرض كه چرته وو اثبات د فعل **لفاعله** خپل فاعل ته دا په كلام موجب كې **اونفيه** اى نفى الفعل عنه اى عن الفاعل په كلام سالب كې **مطلقا اى من غير** دي سره شارح يو د مطلقا ترجمه كوي چې دلته كې مطلقا په معنى د خالیا سره دي په معنى د مجردا سره دي دويم غرض د شارح په **اى** سره دلته كې تجريد اوخلوه د دوو څيزونو نه مراد ده نوهغه ذكر كوي اول ته ئې اشاره وكړه **اى من غير اعتبار عموم فى الفعل** سوال يا هلكه عموم فى الفعل څه ته وائي وائي **بيان يراد جميع افراده** وائي چې اراده وكړې شي ټول افراد د فعل دا عموم د فعل شو، او **خصوص** او يا د خصوص د فعل نه داسي **بان يراد بعضها** اى بعض افراد الفعل لكه ته ووائي **فلان يعطى** نو دلته كې **يعطى** فعل متعدي دي تا دا ذكر كړو مسند دي كړو فاعل ته چې ضمير دي راجع دي فلان ته نو دلته كې مقصود اثبات د اعطاء دي فلانكي ته بغير د عموم نه په افرادو د اعطاء كې عموم په كې

نشته چې عموم د جميع اشياء دارنګه خصوص هم په کې نشته چې اعطاء د دنانيرو يا د بل څه دا هم په کې نشته دې خو صرف فلانکي ته اعطاء صفت ثابتول دي چې فلان يعطي چې يعطي فعل دي مسند دې ضمير ته چې راجع دې فلانکي ته اوس د اعطاء د بعضو افرادو نه هم خالي دې چې د دنانير دراهم دا هم په کې نشته دويم تعميم په مطلقا کې دادې **ومن غير اعتبار تعلقه** اى تعلق ذلك الفعل **بمن وقع عليه** من وقع عليه ورسره ذکر شوې نه دې دې ور پورې متعلق نه دې **فضلا عن عمومه وخصوصه** ځکه عموم و خصوص دا فرعه ده د من وقع عليه د تعلق لپاره نو چې هر کله هغه فعل متعدي متعلق د **من وقع عليه** پورې نه شو نو عموم و خصوص په کې په طريق اولى سره رانغلو نو چې هر کله داسې شو نو **نزل الفعل المتعدي منزلة اللازم** نو دغه فعل متعدي نازل کړې شو په منزله د لازم باندې شبه هلکه دا په منزله د لازم شو، نو په لفظ کې دې نوې مفعول مقدر دې وي کنه؟ وائي: نه **لم يقدر له مفعول** وائي مفعول د دې لپاره مقدر کولې نه شي ځکه **لان المقدر كالمذكور** نو مقدر مشبه شو او مذکور مشبه به شو او کاف په کې اله د تشبيه شوه وجه د شبه ماتن نه وه بيان کړې هغه شارح بيانوي چې **فى ان السامع يفهم منهما** اى من المقدر والمذكور **ان الغرض الاخبار بوقوع الفعل عن الفاعل باعتبار تعلقه بمن وقع عليه** دواړو کې دغه غرض دې اوس په مثال جزئ سره مونږه اوتاسو پوهه کوي چې **فان قولنا فلان يعطى الدنانير** نو دلته کې مفعول قولنا او دا دليل هم دې د **ان السامع يفهم** لپاره وائي: **فان قولنا فلان يعطى الدنانير** نو دلته کې مفعول مذکور شو نو **يكون لغرض بيان جنس مايتناوله الاعطاء** کيږي دغه کلام لپاره د غرض د جنس دهغه شي چې متناول دې هغې لره اعطاء چې فلانکې ورکول کوي خو د دنانيرو ورکول کوي يعنې اشرفئ ورکوي **لا لبيان كونه معطيا** دلته کې غرض بيان د کون د معطي نه دې او دا غرض که ته د نانير په لفظ کې ذکر کړې که مقدر کړې دواړو کې دا فهميږي چې فلان يعطي الدنانير او ووائې يا فلان يعطي خو ستا مراد او نيت کې دنانير دي نو دې کې څه فرق نشته دې او چې ته داسې ووائې چې **فلان يعطى** او دنانير نه په لفظ کې وو اونه په نيت کې وو دواړو کې نه وو نو هلته کې بيا غرض ثبوت د اعطاء فلانکي ته دې بيا بيان د جنس ماتناوله الاعطاء نه دې **ويكون** دا کلام چې فلان يعطي **كلاما مع من** سره د هغه سامع نه **اثبت له الاعطاء** چې ثابت دې هغه فلانکي صفت د اعطاء خو غير د دنانيرو نه چې يو سړي اووېل چې فلانکې چې **زيد** دې هغه ورکول کوي خو دراهم ورکوي تا ورته وويل چې نه نه خطاء شوې ئې هغه ورکول د دراهمو نه کوي هغه ورکول د دنانيرو کوي **لا مع من** دا کلام دهغه چاسره نه کيږي **نفى ان يوجد منه الاعطاء** نو ګوره اوس لوى فرق راغلو **فلان يعطى الدنانير** نو مفعول ته ذکر کړې يا نيت کې مراد کړې نو په دغه وخت کې متکلم دا کلام به دهغه سامع سره کوي چې هغه فلان ته د اعطاء صفت ثابتوي خو غير د دنانيرو نه چې دراهم دي نو ته ورته ووائې چې **فلان يعطى الدنانير**

اوچې ته ووائې فلان يعطي چې مفعول نه په لفظ کې ذکر کړې اونه دې په نيت کې مراد وي نو بيا دا کلام د هغه سامع سره به وي چې هغه د فلانکي نه نفی د اعطاء کوي نو ته ورته وائې چې نه **فلان يعطي** اعطاء ورله ثابت دې نو فرق راغلو **وهو** ای هذا القسم الذی نزل منزلة اللازم **ضربان** ځکه **لانه اما ان يجعل الفعل حال كونه** کی اشاره کوي چې دا **مطلقا** حال دې ددې فعل نه په حال کون د دغه فعل کې **مطلقا** دلته کې هم مطلقا په معنی د خالیا مجردا سره دې او بل اشاره کوي چې دلته کې تجريد اوخلوه د دوو څيزونو نه ده هغه يو دا دې چې **من غير اعتبار عموم او خصوص فيه** په دغه فعل کې او بل **ومن غير اعتبار تعلقه بالمفعول** څه ګرځولې شوې **كناية عنه ای عن ذلك الفعل** ليکن **حال كونه** ای الفعل په دې حال کون کې ئې اشاره وکړه چې **متعلقا** حال دې چې متعلق وي **بمفعول مخصوص** په مفعول مخصوصه پورې داسې مفعول مخصوصه چې **دلت عليه قرينة** چې دلالت کوي په دې مفعول باندې قرينه چې د غه فعل چې خالي دې د اعتبار د عموم و خصوص نه او خالي دې د تعلق بالمفعول نه دا به کنايه شي د دغه فعل نه چې هغه متعلق **بمفعول مخصوص** به وي نو دا مطلقا فعل دا خالي فعل د مفعول نه ملزوم به شي او تعلق ددغه فعل ددې مفعول سره دا به لازم شي نو انتقال د ملزوم نه لازم ته راغلو ديته کنايه وائي ای دا فعل خالیه د اعتبار د عموم وخصوص نه به ملزوم شي او خالي د اعتبار د تعلق بالمفعول نه دا به هم ملزوم شي اولازم به ددۀ سره دغه فعل وي چې متعلق په مفعول مخصوصه پورې وي لکه وروستو په مثال کې تشريح به راځي **او لا يجعل كذلك** او يا داسې کنايه نه وي ګرځولې شوي بلکه دغه فعل متعدي لازم شوې وي په منزله د لازمي کې بس

الثانی مثال دا شو **كقوله تعالى قل يستوى الذين يعلمون والذين لا يعلمون** نو اوس دلته کې علم فعل متعدي دې او الله مفعول نه دې ذکر کړې نو نه دلته کې مفعول په لفظ کې دې اونه په نيت کې دې دواړو کې نشته دې او کنايه هم دچانه نشته دې، د فعل مقيده بمفعول نه کنايه هم نشته دې نو چې نه شو نو ددې ترجمه داسې شوه مطلب **ای لا يستوى من يوجد له حقيقة العلم ومن لا يوجد فيه** نو دې کې مقصود د الله مدحه دعلم شوه چې علم ممدوح دې اوجهل مذموم دې معلوم هرڅه چې وي خو جاهل وعالم دواړه برابر نه دي معلوم ګرنت د هندوانو ولې نه وي خو علم ممدوح او جهل مذموم دې ځکه د هندوانو کتاب د شيعو معتزلۀ کتاب ته ګورې دې لپاره چې دهغوی مذهب معلوم کړې بيا پرې رد وکړم نو دې کې ثواب دې.

وانما قدم الثانی شبهي دې سره شارح شبه کوي او د شبهې نه وروستو جواب کوي **انما قدم الثانی شبهي** اشاره اوشوه چې دلته هلکه تا مثال کې ثاني مقدم کړو او ممثل کې دا خو مؤخر وو **او لا يجعل** کذلك خو مؤخروو نو ددې مثال تا ولې مقدم کړو پکار داوه چې د اول قسم مثال دې مخکې ذکر کړی وی او

ددې دې وروستو ذکر کړی وی نو دی جواب کوي چې **لانه بکثرة وقوعه** وائي: دغه ثاني په اعتبار د کثرة وقوع سره **اشد اهتماما بحاله** زیات دې په اعتبار د احترام کولو سره په حال ددې باندې دویم جواب دا چې د ثاني مثال د قران نه وو او د اول مثال د شاعر د قول نه دې نو د قران کریم د احترام واکرام لپاره ددې ثاني مثال ئې مقدم کړو او د اول مثال ئې وروستو کړو

اوس متن دادې چې **السکاکی** معترض شبه وکړه چې هلکه **السکاکی** خو مفرد دې او مفرداتو کې خو افاده او استفاده نه وي **السکاکی** څه څیز شو؟ جواب ئې وکړو **ذکر** اې هلکه السکاکي مبتداء ده او خبر ورله محذوف دې

او د شارح غرض د **فی بحث افادة اللام** نه دادې ۱ تعیین د محل د ماذکر د سکاکي کوي چې هغه کوم څیز چې ذکر کړې دې سکاکي دهغې محل څه دې؟ کوم ځای کې ئې ذکر کړې دې؟ دویم غرض د شارح دادې بیان د محلینو دې د ماذکر د سکاکي لپاره چې سکاکي چې دا خبره ذکر کړې ده نو په دوو ځایونو کې ئې ذکر کړي یو په بحث د افاده د لام استغراق سره او دویم په بحث د حذف د مفعول به کې نو یو غرض تعیین د محل دهغه ذکر د سکاکي کوي او دویم بیان د محلینو کوي چې د هغه ما ذکر د سکاکي لپاره چې سکاکي چې دا کلام ذکر کړې نو په دوو ځایونو کې ئې ذکر کړې دې دریم غرض دادی چې ماتن ویلې دي چې **السکاکی ثم اذا کان المقام خطابیا** شبه اې هلکه **ثم** خو تراخي غواړي د تراخي لپاره راځي او تراخي **مترخ عنه** غواړي نو ددې مترخ عنه د سکاکي په کلام کې کوم ځای کې دې؟ نو شارح مترخ عنه ذکر کوي چې دا کوم بحث چې سکاکي ذکر کړې دې په لام استغراق کې هغه مترخ عنه دې او کوم کلام ئې چې ذکر کړې دې په بحث د مفعول به کې مترخ معطوف دې نو **ثم** صحیح شو ځکه بحث اول مترخ عنه شو او بحث ثاني مترخ الیه شو نو درې غرضونه شو په بحث د افاده د لام کې استغراق لره یو په افاده د لام استغراق کې سکاکي ویلي دي چې **انه** شان دادې **اذا کان المقام خطابیا** خطابي معنی ظني یعنې داسې مقام چې هلته کې فائده کوي ظن په مدعی باندې نه یقین **لااستدلالیا** نه وي مقام استدلالي چې فائده کوي یقین لره په مدعی او نتیجه باندې مثال بیا سکاکي دا ذکر کړې دې کقوله علیه السلام **المؤمن غر کریم** مؤمن سپین ډاګي دې هره خبره په ډاګه کوي زړه کې څه پټوي نه چې څه ئې په زړه کې وي هغه په خله راؤباسي او منافق دوه لیشتي بنکته ډوب وي او **کریم** بنه اخلاقي وي معزز اخلاقو والا وي **والمنافق خب لئیم** او منافق دهوکه باز وي خله باندې یوه وائي او زړه کې ئې بله وي نو دا دهوکه شوه **لئیم** بد اخلاقه وي نو **المؤمن** کې دا لام استغراقي شو او المنافق کې لام استغراقي شو او دا مقام مقام خطابي دې ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې دا خبره کړې ده نو د مؤمن په تندي باندې پورې لیکلي نه دي چې

غير كريم د منافق په تندي باندې ليکلي نه دي چې خب لئيم خو دا خبره رسول الله صلى الله عليه وسلم چې وکړه نو د حسن ظن د وجې نه او حسن ظن مفيد لپاره د ظن دې د يقين نه دې نو سکاکي وويل. چې حمل حمل کولې شي په دې مقام کې المعرف باللام مفردا وي کان لکه المؤمن او المنافق کې او جمعا وي لکه المؤمن احق بالاحسان علي الاستغراق په استغراق باندې به حملېږي معنى المؤمن نه هر فرد د افرادو د مؤمن نه مراد شو المنافق نه مراد هر فرد د افرادو د منافق نه مراد شو ځکه بعلة ايهام په سبب سره او په علت د غورځولو د متکلم سره په وهم د سامع کې چې ان القصد الى فرد چې قصد کول يو فرد ته چې يو مؤمن دون اخر بل ته نه يا يو منافق بل ته نه مع تحقق الحقيقة د حقيقت د ايمان او د نفاق نه يعنې الحقيقة کې الف لام عوض د مضاف اليه دې حقيقة الايمان الخ فيهما په دې دواړه فردينو کې ترجيح لاحد المتساويين على الاخر دې وجې نه ئې په استغراق باندې حملوؤ چې ترجيح بلامرجح لازم نه شي نو المؤمن نه مراد هر فرد د افرادو د مؤمن شو او المنافق نه هر فرد دهغه افرادو د منافق شو.

اوس هغه دويم محل ذکر کوي ثم ذکر اى السکاکي فى بحث حذف المفعول انه اى الشان قد يكون القصد الى نفس الفعل مقصود د متکلم نفس فعل وي بې د ممن وقع عليه نه د مفعول نه لتنزيل المتعدى د وجې د نازلولو د فعل متعدي نه منزلة اللازم په منزله د لازم کې په حال د کون د متکلم کې ذاهبا ذهابا چې دى تلونکى دى دا ذاهبا ذهابا حال شو د فاعل د تنزيل نه د تنزيل فاعل متکلم وو مونږ دهغې نه حال وويلو فى نحو فلان يعطى مفعول ئې نه دې ذکر کړې او فعل متعدي دې الى معنى يفعل الاعطاء ويوجد هذه الحقيقة وائي: فلانکې کار د ورکولو کوي او دا د ورکولو حقيقت ترينه موجوديږي وائي: قصد به دينه ځکه وائي: ايهاما ما للمبالغة لپاره د غورځولو په وهم د خلکو کې مبالغې لره داسې چې فلانکى ګورى هر شى ورکوي د څه شي تعيين نشته چې څه لاس ته راغلل نو هغه ورکوي بمبار دې بالطريق المذكور په سبب مذکوره سره ځکه که دلته کې مقصود اعطاء د يوشي شي دون اخر نو بيا ترجيح د احد المتساويين په اخر باندې راځي بس فلان يعطى بس فلانکې کار د اعطاء کوي فى افادة اللام الاستغراق نو فجعل المصنف قوله دا قول دا قول د سکاکي بالطريق المذكور اشارة الى قوله ثم اذا كان المقام خطابيا ابتداء ته ئې اشاره وکړه نو ثم اذا کان المقام خطابياً لااستدلاليا نو حمل المعرف باللام على الاستغراق واليه اشاربقوله ثم نو ثم صحيح شو اى بعد دې کې اشاره کوي هغه مدخول د ثم ته اى بعد كون الغرض ثبوت اصل الفعل وتنزيله منزلة اللازم من غير اعتبار كناية اذا كان المقام خطابياً د خطابي تفسير کوي يکتفي فيه بمجرد الظن لااستدلاليا يطلب فيه اليقين البرهانى دائې د استدلالي تفسير وکړو يعنې هغه يقين چې منسوب بسوئې دليل او برهان ته وي نو افاد تعيين د مرجعينو کوي په ضمير ددې افاد کې چې المقام او الفعل ذلك تعيين د مشار اليه کوي اى كون الغرض ثبوته اى ثبوت الفعل لفاعله او نفيه عنه

مطلقا چې خالي وي د عموم اوخصوص نه او دارنګه خالي وي د تعلق بالمفعول نه **مع التعميم فی افراد الفعل** ځکه **دفعاً للتحکم** اللازم **من حمله** ای من حمل ذلك الفعل علی فرد دون اخر تحکم ترجیح بلامرجح، ترجیح د احد المتساویینو په اخر باندې راځي.

شارح ورسره ولګول **وتحقیقه** د تحقیقه نه یو غرض د شارح دادې چې ددې متن لپاره دلیل وائي چې دغه مقام یا فعل ولې فائده کوي دغه ثبوت فاعل ته یا نفي ددۀ نه مطلقا سره د تعمیم نه په افرادو د فعل کې دویم غرض د شارح د تحقیقه نه دا تمهید اړدي ددې راتلونکې اعتراض لپاره چې **لایقال** سره ئې ذکر کوي. نو وائي وتحقیقه تحقیق ددې افادۀ مذکوره دادې چې ان معنی **یعطی** چې فلان یعطي ته ووائي **حینئذ** په وخت د کیدلو د غرض کې ثبوت فاعل ته یانفي دفاعل نه دې هغې داشوه چې **یفعل الاعطاء** یعنې فلانکې کار د ورکولو کوي،نو فلان یعطي په معنی د فلان یفعل الاعطاء سره شو چې دا د اعطاء صفت فلانکي ته ثابت دې نو **فالاعطاء** چې مصدر د یعطي دې **المعرف بلام الحقیقة یحمل** دا حملولې شي **فی المقام الخطابی علی استغراق الاعطاءات** په شمول د ټولو اعطاءاتو باندې یعنې د هرڅه شي ورکول کوي دراهم، دنانیر ثوب، حدید ،د هرشي ورکول کوي اومقام خطابي دې ځکه چې یو سړې چاته چې اووائي چې **فلان یعطی** نو د حسن ظن د وجې نه وائي چې فلانکې ډیر سخي دې اګر که دهغه په مخکې ئې چاته څه ورکړي نه وي خو په هغه باندې د حسن ظن د وجې نه وائي یاد مینې د وجې نه وائي نوچې د حسن ظن د وجې نه وائي نو دا مقام خطابي شو برهاني نه دې ځکه الله دهغه په تندي باندې نه دي لیکلي قدرتی چې دا فلانې سخي دې ما دې سخي پیدا کړې دې خود حسن ظن د وجې نه وائي نومقام خطابي شو **وشمولها** او ځکه **مبالغة** لپاره د قصد د مبالغې په مدحه د فلانکي کې ځکه چې یو سړې صرف دراهم دنانیر ورکوي نو دهغه دومره مدحه نه ده اوچې هرڅه ورکوي نو دا په مدحه کې مبالغه شوه اوس دا ځکه، د تحکم ترجمه کوي **دفعاً للتحکم** ماتن چې ویلې وو چې تحکم عبارت دې د ترجیح بلامرجح نه، وائي **للایلزم ترجیح احد المتساویین علی الاخر** ځکه دلته کې مقصود فلانکي ته اعطاء ثابتوئل دي اوچې اوس ته د اعطاء نه اعطاء الدراهم یا د نانیر اخلې نو دا ترجیح بلا مرجح دې.

اوس یې تمهید کښودلو او دلیل ئې وویلو نو اوس **لاتړې لرې کوئ یقال** سره شبه کوي چې یا هلکه ستا کلام کې تدافع راغله تا د مطلقاً ترجمه دا کړې ده چې خالي وي د تعمیم نه په افرادو د فعل کې او متن کې تا دا وویل چې **مع التعمیم فی افراد الفعل دفعا للتحکم** نو تدافع راغله مخکې مطلقا په متن کې خو تا ترجمه داسې کړې ده چې خالي وي د تعمیم نه د تعمیم نه به خالي وي **مطلقا من غیر اعتبار عموم وخصوص فیه ومن غیر اعتبار تعلقه بالمفعول** ص۱۲۸ اخر سطر ۳ د لاندې طرفه او دلته کې تا وویل مع

التعميم فی افراد الفعل داخو ډارك تدافع ده نو وائي: **يقال** ويلې شوي دي په اعتراض کې چې **افادة التعميم** فائده ورکول د تعميم په افرادو د فعل کې **ينافی کون الغرض الثبوت والنفی مطلقا** د مطلقا ترجمه داده چې من غير اعتبار عموم ولا خصوص نو دا خو د هغې سره منافي شو نو اوس شارح وويل چې دا د يقال والا اعتراض لايقال دې ځکه **لانا نقول** وائي: ځکه مونږه وايو **لانسلم ذلك** مونږه دا منافات نه منو ځکه منافات کې دا شرط دې چې محل د اثبات اومحل د نفي يو وي او دلته کې محل د اثبات او د نفي يو نه دې جدا جدا دې خالي د تعميم نه به وي ددې مطلب دادې چې معنی تبعا تبعا به تعميم حاصل شوې وې نو د اثبات محل تعميم تبعي شو او د نفي محل تعميم قصدي شو او قانون دادې چې محل د اثبات او د نفي جدا جدا شي نو هغې ته ځوك منافات، اجتماع د متنافيينو نه وائي نو د **مطلقا** دا معنی چې متکلم قصد د تعميم نه دې کړې قصد ئې صرف د ثبوت اود نفي دفاعل نه کړې دې ها تعميم تبعا راغلې دې مبالغې لپاره نو محل د نفي تعميم قصدي شو اومحل د اثبات تعميم تبعي شو، وائي: لانا نقول لانسلم ذلك ای ذلك المنافات ځکه منافات کې شرط داې چې محل د اثبات اود نفي به يو وي اودلته کې يو نه دې **فان عدم کون الشئ** چې تعميم دې دلته کې **قصدا فی الغرض** غرض دا چې ثبوت فاعل ته يا نفي د فاعل نه **لا يستلزم عدم کونه مفادا من الکلام** بالتبع نو **فالتعميم** داتفريع شو چې فالتعميم مفاد غير مقصود نو تعميم مفاد تبعاً شو او مقصود مطلوب قصدا نه دې نو تدافع رانغله لکه داسې تاسو ته مخکې هم تيرشوي دي چې هلکه **انا سعيت فی حاجتك** ته وائي چې دا د تخصيص لپاره دې نو دې کې تقويت خو هم شته دې نو هلته کې شارح ويلي وو چې فرق عظيم بين ان يکون الشئ حاصلا من الشئ وبين ان يکون الشئ مفهوما من الشئ نو انا سعيت فی حاجتك کې اګر که تقويت شته دې ليکن قصدا نه دې بلکه تبعاً حاصل دې.

اوس ددې تلخيص نور دوه شارحان دي شارح تفتازاني رحمه الله په هغوی باندې رد کوي **وليعضهم** او د بعضې شراحو لپاره **فی هذا المقام تخييلات فاسدة** خيالات فاسدة دي يا هلکه هغه بيانول پکار دي کنه اوپه هغه باندې رد کول پکار دي وائي: **لا طائل تحتها** د هغې د لاندې څه فائده نشته دې نو ما نقل کړي نه دي **فلم تتعرض لها** نو مونږه هغې لپاره تعرض نه دې کړې قال الشيخ نور الله حفظه الله **فلم تتعرض** ووايئ ای بصيغة المتکلم مع الغير قلت ويصح ذلك ان قيل هذا بصيغة المؤنث الغائب **تتعرض** والضمير فيه يرجع علی التخييلات ولاضير فيه

والاول اول مثال اوس بنائي **وهو** سره شارح تعيين د اول کوي دويم دفع د توهم کوي چې هلکه د اول نه مراد مقام خطابي شو ها؟ وائي: نه نه **وهو ان يجعل الفعل مطلقا** چې خالي وي د مفعول او د عموم اود خصوص نه **کناية عنه** کنايه ددې فعل نه خو په حال کون ددغه فعل کې چې متعلق وي په مفعول

مخصوصه پورې نو دا فعل مطلقا **مكنى عنه** ملزوم به وي او دا فعل متعلقه بمفعول مخصوص كنايه او ورسره لازم به وي نو انتقال دملزوم نه لازم ته راغې

كقول البختری تعيين د شاعر ماتن پخپله كړې دې غرض د شاعر دادې چې: في المعتز بالله اى مدحه، چې دى قابل د امامت اود بادشاهى دى **تعريضا بالمستعين بالله** او په حال كون ددې بختري كې چې دى تعريض كوي په مستعين بالله باندې چې هغه قابل د امامت اود بادشاهئ نه دې اگر كه دواړه وروڼه وو ليكن د الله قانون دې چې دا يو قابل د بادشاهئ او مشرئ وو او دا بل نه وو.

شجو حساده غيظ عداه ان يرى مبصرويسمع واع

وائي: دا خفگان دى د حاسدانو د ممدوح چې ممدوح معتز بالله دې د ممدوح حاسدان خفه دي او غصه د دښمنانو د ممدوح چې خفه دي او ددۀ دا دښمنان چې غصه دي ددې وجې نه نه دي دا خبر دې ان يرى الخ وائي: ځكه وينې يو ليدونكې محاسن د ممدوح، اوري يو ساتونكې د خبرې اخبار د ممدوح وائي: وجه ئې داده چې چرته په دنيا كې څه څيز چې ليدلې كيږي هغه ټول محاسن د ممدوح دي نو د ۀ په حاسدانو او دښمنانو باندې اور لګيدلې دې چرته چې سړې په دنيا كې څه اخبار لولي نو د معتز بالله اخبار دې نو په دښمنانو اور لګيدلې چې هلكه زمونږ هيڅ بحث نشته ټول ددۀ بحث دى.

اى ان يكون دې سره دفع د اعتراض كوي چې يا هلكه **ان يرى** خو خبر دې د **شجو** لپاره نو دا خو حمل د مبدئې راغلو په مبدئې باندې او دې كې خو ترادف هم نشته دې ځكه **شجو** او رؤيت كې ترادف خو نشته دې او حمل د مبدې په مبدې باندې هله صحيح كيږي چې دواړه مترادفين وي يا يو مبداء فرد حسي دبل لپاره وي هغه هم نشته دې نو دې وائي چې يا هلكه دلته كې حمل اشتقاقي دې موطاتي نه دې **اى ان يكون ذو رؤية وذوسمع** وائي: موجود شي خاوند د ليدلو او خاوند د اوريدلو نو **فيدرك بالبصر محاسنه** نو دا مفعول د **يرى** لپاره شو وبالسمع **اخباره الظاهرة** او په غوږونو سره اخبار د ممدوح چې ظاهردي او دال دي په استحقاق ددې ممدوح باندې امامت لره **دون غيره** نو **فلايجد** متوهم توهم وكړو چې **فلايجد** كې دا فاء فاء فصيحيه به وي جزاء د شرط محذوفه به وي ځكه جزم شويدي نو دۀ جواب وكړو چې نه **نصبا يا نصب عطفا** معطوف دې **على يدرك المنصوب** هغه د عطف د وجې نه په يكون باندې منصوب وو نو دا هم منصوب شو **اى فلا يجد** دې كې اشاره كوي چې **فلا يجد** كې ضمير چاته راجع دې وائي: **اعداءه و حساده** يعنې اعداء اوحسادو ته پس نه بُه مومي دا دښمنان د ممدوح او حاسدان د ممدوح هغه كسان چې هغوى ارمان د امامت كوي **الى منازعته** منازعت د ممدوح ته **سبيلا** څه لار.

فالحاصل سره شارح تطبيق دمثال د ممثل سره كوي وائي: حاصل داشو چې **انه** وائي: بختري شاعر نزل يرى ويسمع ځكه دا دواړه افعال متعديه دي دا دواړه ئې نازل كړي په **منزلة اللازم** كې داسې چې د

يرى نه دا مراد دي چې اى من يصدر عنه الرؤية اود يسمع نه من يصدر عنه السماع دا معنى لازمي ده **من غير تعلق بمفعول مخصوص ثم جعلهما** بيا گرځولې دې شاعر دا دواړه يرى يسمع **كنايتين عن الرؤية والسماع** داسې رؤيت او سماع **المتعلقين بمفعول مخصوص** هغه دادي چې **وهو محاسنه** د يرى لپاره مفعول مخصوص محاسن او د يسمع لپاره **واخباره** او داسې چې **بادعاء اللازمة** دا نزول ئې په ادعاء د ملازمې سره کړې دې **بين مطلق الرؤية ورؤية اثاره ومحاسنه وكذا بين مطلق السماع وسماع اخباره** نو دا مطلق رؤية او رؤية د محاسنو لازم ملزوم شو دارنګه دا مطلق سماع او سماع د اخبارو هم لازم وملزوم شو نو انتقال د ملزوم نه لازم ته راغلو او دا دعوى ئې کړې ده **للدلالة على انه اثاره واخباره** اى اثار الممدوح واخباره **قد بلغت من الكثرة والاشتهار الى حيث** هغه مقام ته **يمتنع خفاءها** چې ممتنع وي پټ والې ددې **نيبصرها** اى الاثار والاخبار **كل راء يسمعها كل واع**، واع هغه ته وائي چې يو خبره واوري بيا دځان سره اوساتي **بل** د ترقئ لپاره بل لايبصر الرائي **الا تلك الاثار** اى اثار الممدوح **ولا يسمع الواع الا تلك الاخبار** نو نذكر اى الشاعر الملزوم چې مطلق رؤية اوسماع دي **واراد اللازم** چې رؤية د اثارو او سماع د اخبارو ده **على ماهو طريق الكناية**.

نو اوس راشه ففى ترك المفعول والاعراض عنه اشعار من جانب الشاعر بان **فضائله** احسنانات د ممدوح صفات كماليه د ممدوح **قد بلغت من الظهور والكثرة الى حيث** اى الى مقام چې **يكفى فيه مجرد ان يكون ذو سمع وذو بصر حتى كل ذوسمع وذو رؤية يعلم انه المتفرد بالفضائل** اى بالكمالات **ولا يخفى انه يفوت هذا المعنى عند ذكر المفعول او تقديره** چې ته دا مفعول ذكر کړې يا مقدر کړې نو بيا دا مدحه او دا معنى نه راځي.

والا اى **وان لم يكن** دې کې اشاره کوي چې دا الا استثنائيه نه ده بلکه دا مخفف ده د **ان لم يكن** نه وائي که الا استثنائيه شي نو حرف استثناء او مستثنى کې واو نه راځي نو **وجب** کې واو ځنګه راغلو دا رنګه مستثنى خو اسم وي او **وجب** خو فعل دې فعل مستثنى نه شي کيدلې نو وائي **وان لم يكن الغرض عند عدم ذكر المفعول مع الفعل المتعدى المسند الى فاعله اثباته لفاعله او نفيه عنه مطلقا** بغير د قصد نه تعلق د مفعول پورې **بل قصد تعلقه بمفعول** غير مذكور **وجب التقدير بحسب القرائن** داسې قرائن الدالة على تعيين المفعول يعنې د قرائنو اثر به داوي چې هغه به دلالت کوي په تعيين د مفعول باندې داسې **ان عام فعام** که دغه **مدلول عليه** د قرائنو عام وو نو **فعام** اى فمفعول عام لكه **والله يدعو الى دارالسلام** نو دلته که دغه **مدلول عليه** د قرائنو خاص وو نو **فخاص** پس کې **والله يدعو جميع عباده الى دار السلام وان كان خاصا** که مدلول عليه د قرائنو خاص وو نو **فخاص** پس مفعول به هم خاص وي لكه **مارايت منه ولا راى منى** اى **العورة** ما او رسول الله صلى الله عليه وسلم به د يو لوبې نه غسل کولو نه ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم عورت ليدلې وو اونه رسول الله صلى الله عليه وسلم زما عورت ليدلې وو نو دلته کې دا قرينه شوه دا **نغتسل** قرينه شوه چې مفعول خاص دې

چې عورت مراد دې ټول حدیث دادی **کنت اغتسل ورسول الله صلی الله علیه وسلم من اناء واحد ما رایت منه ولا رای منی ای العورة، ان عاما فعام وان خاصا فخاص** دا ددې قبیلې نه دې چې ان شرا فشر وان خیرا فخیر کافیه کې تاسوته تیر شوې دې

ولما وجب التقدیر دې سره شارح دفع د اعتراض کوي چې یا هلکه هرکله چې تقدیر واجب شو نو بیا **ثم الحذف اما للبیان** کی اشتغال دا بما لا یعني شو دا اشتغال ماتن بیا ولې کړې دې؟ نو شارح جواب کوي چې دا مالایعني نه دې دا یعني دې دا نکات د تقدیر اود حذف لپاره وائي نو وائي **ولما وجب التقدیر** نو **تعین انه مراد** نیت کې به مراد وي **وحذف** او محذوف به وي **من اللفظ لغرض** اوس لفظ نه ئې څکه غورځوو غورځوي نو فاشارالی تفصیل الغرض بقوله چې د لفظ نه ئې څکه غورځوو

اوس د حذف د مفعول لپاره ماتن نکات وائي یونکته ئې دا وویله چې **ثم الحذف** پس د هغې نه حذف د مفعول **اما للبیان بعد الابهام** چې ته حذف د مفعول وکړې نو بیان بعد الابهام راځي اوکه ذکر وکړې نو بیان بعد الابهام نه راځي نو ددې وجې نه متکلم مفعول حذف کوي چې بیان بعد الابهام راشي څکه چې ابهام بعد البیان اوقع فی الذهن دې ابهام نه مراد اجمال دې بیان نه مراد تفصیل دې هغه راځي **کما فی فعل المشیة** نو حذف د مفعول چې راځي لپاره د بیان بعد الابهام نو دهغې لپاره دوه شرائط دي دوه شرطونه وجودي دي او یو شرط عدمي دې یو شرط ماتن ذکر کړو چې فعل د مشیت ونحوها به وي چې محبت دې دا شرط وجودي شو. دویم شرط وجودي شارح ذکر کوي ماتن نه وو ذکر کړې هغه دا دی چې **اذا وقع** کله چې واقع شي دا فعل د مشیت **شرطا** دا هم شرط وجودي شو خو شارح ذکر کړو چې دا فعل د مشیت وي او بل دې شرط واقع شوې وي. ددې شرط لپاره شارح دلیل وائي ددې خپل شرط لپاره چې دا فعل د مشیت شرط به ولې واقع شوې وي؟ وائي څکه چې **فان الجواب** څکه چې هغه جزاء دلالت کوي په دې مفعول محذوفه باندې دا ترجمه د عبارت ده چې یدل علیه څکه چې فعل د مشیت شرط شو نو شرط جزاء غواړي هغه جزاء به قرینه شي او بیان به شي ددې مفعول لپاره **یدل علیه وبینه** نو وجودي دوه شرطونه لاړل دریم شرط عدمي وو هغه ماتن ذکر کوي **لکنه** لیکن دغه مفعول **انما یحذف** حذف کولې شي خو **مالم یکن تعلقه به** تعیین د مرجعګانو کوي ای تعلق فعل المشیة بالمفعول غریباً ترڅوپورې چې نه وو تعلق د فعل د مشیت په مفعول پورې غریبا غریب ناشنا ممتنع نه وي نو هله، دریم دا شرط عدمي شو مثال داسې شو **نحو فلو شاء لهداکم اجمعین** ای سره شارح هغه مفعول محذوفه ته اشاره کوي **ای لو شاء هدایتکم لهداکم اجمعین** نو هدایتکم مفعول حذف شو اوس دا مثال مطابق د ممثل سره دې یعني بیان بعد الابهام په دې کې راځي **فانه لما قیل** څکه چې پس شان دادې چې هرکله چې وویلې شو **لوشاء** متکلم وویل **علم السامع ان هناك شیئاً علقت المشیئة علیه**

دلته کې یو شې دې چې مشیت په هغې پورې معلق شوې دي واقع شوې دي **لکنه** لیکن هغه شې **مبهم** مبهم دې ځکه متکلم ذکر کړې نه دې **فاذا جی** پس کله چې راتلل وکړې شو **بجواب الشرط** چې **لهداکم اجمعین** نو **صار مبیناً** نو هغه شې معلق علیه بیان کړې شو **وهذا** او دا حصول **بعد الابهام** دا رنګه دا حاصل بعد الطلب **اوقع فی النفس** ځکه سامع ورته منتظر وي

بخلاف ما د شرط ددې قید فائده وائي چې **لم یکن تعلقه به غریباً** چې کوم ځای کې غریب وي نو هلته کې بیا دا مفعول د مشیت نه حذف کیږي **بخلاف ما** په خلاف د هغه نه چې **اذا کان** تعلق الفعل بالمشیة **غریباً** وي خلاف په څه کې دې؟ وائي: په دې کې چې **فانه لا یحذف حینئذ** وائي: ځکه دا مفعول نه حذف کیږي په وخت د غرابت دفعل د مشیت په مفعول پورې دهغې مثال داسې شو **کما فی قوله شعر ولو شاء ان ابکی دما لبکیته علیه** دا شاعر نه دې ذکر کړې دا هسې شارح ذکر کړې دې **لکن ساحة الصبر اوسع** وائي: که زه اراده وکړم چې ژړا وکړم د وینو نو مابه ژړا کړې وې ددې وینو په دې مرثی باندې لیکن وینې د سترګونه نه غورځوم ځکه چې میدان د صبر فراخه دې نو صبر کوم **فان تعلق** اوس دا ددې خلاف لپاره دلیل وائي وائي: ځکه چې **فان تعلق فعل المشیة ببکاء الدم غریب** ځکه څوک اراده او مشیت د ژړا د وینو نه کوي د اوښکو اراده خلق کوي خو د سترګو نه د وینو د ژړا اراده څوک نه کوي چې زه د سترګونه وینې بهکته اوغورځوم او ژړا وکړم دا څوک نه کوي **فذکره** پس ذکر کړل متکلم چې شاعر دې دې مفعول لره **لیتقرر فی نفس السامع** چې دا متقرر شي په نفس د سامع کې نو **فیانس به السامع** نو الفت به نیسي په دې مفعول پورې سامع اشنابه شي ځکه **کلما تکرر** نو **تقرر**: اوس په دې راتلونکي شعر کې هم مفعول د مشیت ذکر شوې دې شعر دادې چې وائي:

فلم یبق منی الشوق غیر تفکری فلوشئت ان ابکی بکیت تفکراً

نو دلته کې هم مفعول د مشیت مذکور دې نو صدر الافاضل وائي چې دلته کې هم د غرابت د وجې نه ذکر شوې دې نو ماتن پرې رد کوي چې نه دلته کې بله وجه ده د غرابت د وجې نه نه دې ذکر شوې نو د رد لپاره ئې وویل چې **واما قوله** هر چې دا قول د شاعر دې چې **فلم یبق منی الشوق** وائي: نه دې پاتې شوې زما نه شوق زما شوق ندې پاتې شوې د ژړا **غیر تفکری** بغیر د فکري ژړا وائي: تراوسه پورې ما زما نه شوق زما شوق ندې پاتې شوې د ژړا راته راځي او اوښکې وائي نه دې پاتې شوې دومره زما سترګې خوارې نو هسې فکري ژړا وې ژړا راته راځي او اوښکې وائي نه دې پاتې شوې بالکل اوچ کړس شوې یم شوې دي زه دومره خوار شوې یم چې ما کې ماده د رطوبت نه ده پاتې شوې بالکل اوچ کړس شوې یم نو اوس چې ژړا کوم نو په ځای د اوښکو کې هسې سوچ اوفکر راځي سوچونه، **فلوشئت ان ابکی** نو اوس چې ژړا کوم نو په ځای د اوښکو کې **بکیت تفکرا** نو ماتن رد وکړو چې **فلیس منه** شارح تعیین د مرجع کوي دا قول نه دې **ای لما ترک فیه حذف**

مفعول المشية چې پريښودلې شوې دې په کې حذف د مفعول د مشيت، پريخو دلی شوې دې دا معنی ذکر شوې دې، حذف ئې چې پريښودلو نو ذکر شو د څه وجې نه؟ **بناء على غرابة تعلقها به** ددې قبيلې نه نه دې بنا په دغه غرابت د تعلق د مشيت په دې مفعول پورې ددې وجې نه ترک د حذف نه دې شوې بلکه ترک د حذف وروستو شارح به وجه وائي چې ددې وجې نه شوې دې

على ما ذهب اليه دا منفي سره لګوئ چې دې باندې څوک قائل شته دې ها؟ چې دلته کې ترک د حذف د غرابت د وجې نه دې؟ وائي: او **على ما ذهب اليه صدر الافاضل** نو دوو خبرو ته ئې اشاره وکړه: يو داچې دا ترک د حذف د غرابت د وجې نه دا مذهب د صدر الافاضل دې او دويم ئې اشاره وکړه چې د ماتن غرض دادې چې په دې صدر الافاضل باندې رد دې غرض د ماتن ته ئې هم اشاره وکړه **فی ضرام السقط** ضرام السقط د صدر الافاضل کتاب دې هغه داسې ويلي دي چې دلته غرابت داسې راغلو چې ان ابکی نه مراد **بكاء فكرى** دې او تعلق د مشيت بکاء فکري پورې غريب دې لکه څنګه چې تعلق د مشيت په بکاء د دم پورې غريب دې دغسې په بکاء د فکر پورې هم غريب دې وائي: **من ان المراد لو شئت ان ابكى تفكرا بكيت تفكرا** نو ددې **ان ابكى** نه مراد بکاء فکري شو، نو وائي: دې پورې تعلق غريب دې نو فلم يحذف اى الشاعر **مفعول المشيئة ولم يقل لو شئت بكيت تفكرا** ځکه **لان تعلق المشية ببكاء التفكر غريب كتعلقها** په شان د تعلق د مشيت **ببكاء الدم** په مخکې شعر کې

اوس **لان المراد** دې راتلونکې متن کې دا دليل دې متن کې ددې مدعی کومه شوه؟ نو شارح اشاره وکړه چې مدعی ددې **فليس منه** دې چې مخکې متن کې تيرشو اى **وانما لم يكن من هذا القبيل** وائي: دا قول د شاعر نه کيږي ددې قبيلې چې ترک د حذف د مفعول د مشيت د غرابت د وجې نه دغې نه نه دې ځکه **لان المراد بالاول** چې لو شئت ان ابکی دې دا اول دې دادې **البكاء الحقيقى** بکاء حقيقي ترې مراد دې **لا البكاء الفكرى** لکه صدر الافاضل چې وائي

اوس دوه دعوې شوې چې د اول نه بکاء حقيقي مراد ده او فکري نه ده مراد دليل پرې دادې چې دا د ارادې د شاعر نه خلاف دې ځکه چې بکاء حقيقي نه اخلې نو د ارادې او قصد د شاعر سره موافق دې او که بکاء فکري اخلې نو د شاعر د ارادې او قصد نه خلاف دې وائي: **لانه** دې شاعر **لم يرد ان يقول** لو شئت ان ابکی تفکرا بکيت تفکرا دا مطلب نه دې **بل اراد الشاعر ان يقول افنانى النحول** برباد کړې دې ما لره خوار والي نحول خورو الې نري توب ته وائي اوچ کړس لرګې پاتې شوې يم ما ژړا کړې ده اوچ شوې يم نو رطوبت وائي: بالکل په ماکې ختم دې څومره رطوبت چې وو هغه ټول رابسکلې شوې دې او بهر ته راوتلې دې نو **فلم يبق منى غير خواطر** پس نه دې پاتې شوې زما نه بغير د سوچونو نه **تحول فى** چې هغه سوچونه ځي او راځي په ماکې سړې چې ډير ضعيف شي نو په هغه باندې بيا وهمي بيماري

غالبه کیږي نو بیا سوچونه شروع شي **حتی لو شئت البکاء الحقیقي لو شئت ان ابکی** نه ګورئ بکاء حقیقي مراد ده چې بکاء د دموع ده نو فمریت جفوني زه مرورم او نچورم دا زیزمې او بره نه ئې داسې زور کوم چې د بره نه څه اوښکي اوځي **وعصرت** او زه نچورم **عینی یسیل منها دمع لم اجده وخرج منها بدل الدمع التفکر** نو **فالبکاء الذی** دا تفریع شو، پس بکاء هغه ترجمې د شعر نه اوس دا معلومه شوه **فالبکاء الذی اراد** الشاعر ایقاع المشیة علیه بکاء مطلق مبهم هغه غیر معدی الی التفکر **البتة** لکه چې څنګه صدر الافاضل وائي داسې نه ده چې د ابکی نه مراد تفکرا دې دهغې تعدیت دسره تفکر ته شوې نه دې **والبکاء الثانی** په بکیت تفکرا کې **مقید معدی الی التفکر** چې هغه جزاء ده نو **فلا یصح تفسیرالاول** جزاء، تفسیر د اول نه شي کیدلې نو ددې وجې نه حذف نه دې شوې وبیانا له وائي: ددې مثال داسې دي **کما اذا قلت لو شئت ان تعطی درهما اعطیت درهمین** نو دلته کې اوس ګوره مفعول د مشیت ئې ذکر کړې دې پکار خو داسې وه داسې ویل پکار وو لوشئت یا لو شئت ان تعطی اعطیت درهمین ځکه قانون خو ټول موجود دې فعل د مشیت دې شرط واقع شوې دې تعلق د مشیت هغې پورې غریب نه دې خو دلته کې ترک الحذف شوې دې ددې وجې نه چې دا جزاء بیان دهغه مفعول نه شي کیدلې ځکه درهمین بیان د درهم نه شي کیدلې **کذا فی دلائل الاعجاز**.

ومما نشا نه شارح په یو قیل باندې رد کوي په یو شارح د تلخیص باندې هغه ویلي دي چې د ماتن کلام د **ان ابکی** په مفعول کې دې د **شئت** په مفعول کې وائي: نه دې شارح ورته وائي چې وهم دې کوم ځای او ډب دي کوم ځای نه خیژي زمونږ کلام په مفعول د مشیت کې دې او دې وائي چې نه ابکی کې کلام دې خروج د بحث نه راغلو دده په قول باندې نو وائي **ومما نشا فی هذا المقام** وائي: بعضې دهغه خبرې نه چې پیدا شوې ده په دې مقام کې **ما قیل** دا ورپسې متصل عبارت مو وروستو وویلو د لګولو د عبارت لپاره فافهم یا هلکه سبب د فساد ددې ماقیل لپاره څه دې؟ وائي: سبب دادې چې **من سوء الفهم** یو د وجې د بدوالي د فهم نه چې ددې فهم اوادراك د ماتن کلام ته ندې رسیدلې دویم **وقلة التدبر** دا سم سوچ فکر نه دې کړې د ماتن په کلام کې دې ماقیل هغه ماقیل دادې چې **ان الکلام فی مفعول ابکی** کلام د ماتن په مفعول د ابکی کې دې نو هغه ماقیل اوس دمتن ترجمه دا کوي **والمراد** او مراد د ماتن دادې چې **ان البیت لیس من قبیل ما حذف فیه المفعول للبیان بعدالابهام** دلته کې حذف د مفعول لپاره د بیان بعد الابهام نه دې **بل انما** ابکی د ابکی مفعول، نو اصل کې داسې شو، ولوشئت ان ابکی تفکرا بکیت تفکرا نو دلته کې ان ابکی تفکرا بکیت تفکرا دلته کې ان ابکی مفعول محذوف دې لپاره د بیان بعد الابهام نه دې **بل انما حذف لغرض اخر** بلکه دا حذف شوې دې د بل غرض لپاره هغه غرض اخر دا دې لکه اختصار لنډوالي لپاره خو شارح وویل دغه قیل د سوء الفهم د وجې نه او د قلة التدبر د وجې نه دې دا د دوو وجونه بو

خروج عن البحث لازميږي څکه بحث د کلام د ماتن په مشيت کې دی، په مفعول د ابکی کې نه دې
دويم دادې چې ماتن داقول چې **فلم يبق منی الشوق** دائې په رد کې ذکر کړې دې په صدرالافاضل باندې
او صدرالافاضل کلام په مفعول د مشيت کې کړې دې د **ابکی** کې ئې نه دی کړی
وقيل يحتمل اوس ګورئ ددې اهمه خبره يو دا اوپيژنئ چې دې قيل او صدرالافاضل کې فرق څه دې؟
نو څوک وائي چې دې قيل او صدرالافاضل کې فرق دادې چې صدرالافاضل وائي چې ددې اول بکاء
نه مراد بکاء فکري دې قطعا او دغه قيل وائي چې بکاء فکري دې خو احتمالا داسې چې د بکاء
فکري هم احتمال دې او د بکاء دمعي هم احتمال دې نو وائي: د ماقال د صدرالافاضل هم احتمال
دې اود ماقال د ماتن هم احتمال دې دې وائي دواړه صحيح دي يو بل باندې ردونه مه ګوئ يوفرق
دادی دې وجې نه شارح په **يحتمل** سره ذکر کړې دې څوک وائي فرق په دې کې دادې چې
صدرالافاضل **لوشئت ان ابکی تفکرا** وائي خو اخوا ماده د دموع په کې پاتې شوي دي او که نه وي
پاتې شوي او دغه قيل وائي چې **ان ابکی تفکرا** و وائي: ددې وجې نه چې ماده د اوښکو په کې پاتې
شوې نه ده لکه ويلي ئې دي چې **لم يبق مادة الدمع فی**، اوصدرالافاضل دا شرط نه دې اينسودلې نو
صدرالافاضل ددې اول نه بکاء فکري اخلي خو شرط په کې عدم بکاء د ماده دموعو نه اردي اودا
قيل شرط ږدي چې ان ابکي تفکرا هله دې چې ماده د دموع په کې پاتې شي
ليکن ښه خبره داده چې دا هسې پرتوګ غوندې جوړول شو ددې قيل اود صدرالافاضل لپاره دغه
قيل او صدرالافاضل يو شې دې حقيقتاً ومالاً سوال يا هلکه يو شې دې نو بيائې ولې معاد کړه
داقول د قيل نو تاسو وائي معاد کړي يې دې دي لپاره **وفيه نظر** شبهې لپاره نو وائي وقيل الخ ليکن
شارح اوس په دې باندې رد کوي **وفيه نظر** په دې کې نظر دې **لان ترتب هذا الکلام** وائي: څکه دا دويمه
مصرع مرتب ده په اول باندې، په فاء سره دې، فلو شئت ان ابکی بکيت تفکرا نو په فاء سره متفرع
دې نو ترتب ددې کلام چې دويمه مصرع ده **علی قوله لم يبق منی الشوق** باندې **يابی هذا المعنی عند التامل**
الصادق يابی څکه دې لان القدرة علی بکاء التفکر لايتوقف علی ان لا يبقی فيه غير التفکر څکه بکاء
فکري موقوف نه دې په عدم بکاء د ماده د دمع پورې، ماده د دمع دي وی بياهم بکاء فکري کيدلې
شي او که ماده د دمع نه وي نو بيا هم بکاء فکري راتلې شي نو دا موقوف کول چې دا بکاء فکري
څکه دې چې ماکې ماده د دمع نه ده پيدا شوې دانه صحيح کيږي فافهم کې اشاره شوه دقة المقام ته
واما لدفع توهم ارادة غيرالمراد يا حذف د مفعول کولې شي لپاره د دفع د توهم د اراده د غير مراد که ته
مفعول ذکر کړې نو هغې کې توهم د غير مراد شته دې اوچې تا حذف کړو نو هغه توهم د غير مراد به
حذف شي يا هلکه دا واو په واما کې خو عاطفه دې معطوف عليه غواړي په چاباندې عطف دې

وائي: **عطف اما للبيان** هغه يوه نكته وه د حذف لپاره او دا بله نكته شوه **ابتداء** يا هلكه دا ابتداء ظرف دي د چا لپاره **متعلق بتوهم** دا توهم ابتداء راځي وروستو ثاني الحال کې توهم نشته دي وروستو به ته معلوم کړې چې مراد دغه دي خو ابتداء دغه توهم راځي مثال داسې شو لکه دا قول د شاعر:

وكم ذدت عني من تحامل حادث وسورة ايام حززن الى العظم

وائي: څو دفع کړي دي تا، که کم استفهاميه شي يا ډير دفع کړي دي ما دخپل ځان نه **ای دفعت** دائې تفسير د غير مشهور په مشهور سره وکړو **عنی** دخپل ځان نه د ظلم نه چې پيدا شوې دي د اهل زمانو نه **تحامل** معنی ظلم **يقال** سره ددې تحامل لفظ تشريح کوي او تحقيق کوي لغوي تحقيق کوي په دې کې او تفسير د غير مشهور په مشهور سره کوي ځکه تحامل برداشت ته هم وائي **تحامل** حمل پيتې ته هم وائي دلته کې تحامل په معنی د ظلم سره شو نو دغې لپاره استشهاد ذکر کوي وائي: **يقال تحامل فلان على** دا هله **اذا لم يعدل** نو چې عدل اونکړي نو ظلم وکړي کنه نو د تحامل معنی ظلم شو.

شبه وائي: هلکه کم کې استفهاميه غوره دي که خبريه غوره دي؟ وائي: کم خبريه ښه دي نو چې خبريه شو نو تميز غواړي لکه څنګه چې استفهاميه تميز غواړي **مميزها قوله من تحامل** دې شبه يا هلکه دا **من** بيا د کوم ځای نه راغلو په تميز باندې دا من ئې بيا د کوم ځای نه راوستلو وائي: **قالوا** ای العلماء چې **واذا فصل بين كم الخبرية ومميزها بفعل متعد وجب الاتيان بمن** ځکه **لئلا يلتبس بالمفعول** ددې لپاره چې د تميز التباس د مفعول سره رانه شي نو دلته کې د کم خبريه او په تميز کې فعل متعدي راغلې دي چې **ذدت** دې نو **من** ئې دلته کې ځکه زيات کړو او کافيه کې تاسو ويلي دي چې **ويدخل من فيهما** فيهما کې حذف د مضاف دي **في مميزهما** شبه اوس يا هلکه دا کم سره دخپل تميز نه اعراب کې کوم مقام کې واقع شو.

ومحل كم النصب على انها مفعول ذدت مجموعه کم سره د خپل تميز نه مفعول د ذدت دی.

وقيل مولانا قيل صاحب وائي چې المميز محذوف ای کم مرة **ومن في من تحامل زائدة** او مفعول باندې **من** زياتي راځي ليکن شارح وائي دا قيل خطاء دي په دې باندې رد کوي **وفيه نظر للاستغناء عن هذا الحذف والزيادة لما ذكرنا** د وجې د بې پرواهئ نه د حذف د دغه مميز نه او زيادت د من نه د هغې وجې نه چې مونږه ذکر کړې ده ځکه چې بله وجه د صحت شته دي نو حذف د مميز او زيادت د **من** ته حاجت رانغلو.

وسورة ايام دا تفسير د غير مشهور په مشهور سره کوي **ای شدتها وصولتها** وائي: سختئ ددې ورځو او حمله ددې ورځو اضافت د حملو ورځ ته مجازا دي يعنې اهل د ايام **حززن** تفسير د غير مشهور په مشهور سره کوي **ای قطعن اللحم** نو اللحم هم مفعول محذوفه شو پريکړې دي دې ورځو دا غوښه **الى العظم** تر هډو کې پورې نو **فحذف المفعول اعنى اللحم** دا مثال اوس مطابق د ممثل سره دي ځکه وائي: **اذ لو**

ذكر اللحم لربما توهم قبل ذكر ما بعده ای مابعد یعنی الی العظم چې **ان الحز لم ينته الى العظم** دا قطع هډوکي ته نه ده رسیدلې **وانما كان** دا **حز في بعض اللحم** نو فحذف اللحم **دفعا لهذا التوهم.**

ماتن بله نکته ذکر کوي **واما** او یا حذف د مفعول کولې شي **لانه** ای الشان **اريد ذكره** ای ذکر ذلک المفعول **ثانيا** متکلم اراده کړې دې خو داسې دویم پیرې **على وجه** په داسې طریقې سره **يتضمن** چې نیولې دې دې وجې **ايقاع الفعل** د فعل ثاني **على صريح لفظه** په صریح لفظ ددې مفعول باندې **لا على الضمير** العائد اليه چې عائد دی دې مفعول ته نو اوس که مفعول اول لپاره متکلم مفعول ذکر کړی نو دفعل ثاني لپاره به ضمیر راوړي نو دا بیا د ارادې د متکلم نه خلاف راځي ځکه متکلم دا اراده کړې ده چې فعل ثاني په دې صریحي لفظ د مفعول باندې واقع کوم او ضمیر باندې ئې نه واقع کوم نو اول فعل لپاره به مفعول حذف شي نو چې حذف شو نو فعل ثاني به واقع شي په صریحي لفظ د مفعول باندې نو مراد د متکلم به حاصل شي اودا فعل ثاني ځکه واقع کوي په صریح لفظ باندې وائي: **اظهارا لكمال العناية** لپاره د ظاهرولو د متکلم کمال مقصود منډی لره **بوقوعه** په وقوع ددې فعل ثاني سره **عليه** ای المفعول باندې متکلم وائي دا مفعول ثاني زما دومره مقصود مهتم بالشان دې چې دا فعل واقع په صریح لفظ ددې باندې دې خالص په دۀ مفعول باندې او ضمیر باندې نه دې ځکه ضمیر کې خو ابهام دې **هوزيد** هم کیدلې شي عمر هم کیدلې شي بکر هم کیدلې شي او چې زید تا وویلو نو په دې کې څه ابهام نشته دې **حتى كانه** تردې چې دغه متکلم **لايرضى** نه راضي کیږي **ان يوقعه** چې واقع کړي دغه فعل ثاني **على ضميره** په ضمیر ددې مفعول باندې **وان كان كناية عنه** اګر که دا ضمیر هم کنایه ده او اشاره ده ددې مفعول نه لیکن ابهام په کې شته دې او صریحي لفظ کې ابهام نشته دې **كقوله** لکه دا قول د بختري شو **قد طلبنا فلم نجد لك في السودد والمجد والمكارم مثلا** وائي: مونږه طلب کړې دې نو دلته کې د **طلبنا** مفعول حذف شو چې هغه **مثلا** دې یعني قد طلبنا لك مثلا اوس که ته ددې **طلبنا** مفعول ذکر کړې چې **قد طلبنا مثلا** نو وروستو بیا **فلم** نه به وائې نو عدم وجدان به واقع شي په ضمیر باندې اوس د **طلبنا** مفعول **مثلا** تا حذف کړو نو وروستو فلم نجد لك مثلاً دي وویلو نو دا مثلاً مفعول شو د **فلم نجد** لپاره وائي: مونږه طلب کړې دې پس نه دې موندلې مونږه ستا لپاره مثال اې ممدوح **في السودد** په سرداري کې او په مشرئ کې السودد د سیادة نه دې سر داري ته وائي **ذو المجد والمكارم مثلا** خاوند د شرافت او خاوند د عزت ستا په شان مونږه نه دې لیدلې ندې موندلې ی **قد طلبنا لك مثلا** دائې هغه تفسیر د مفعول ته اشاره وکړه چې طلب کړې دې مونږه تا لپاره مثل **فحذف مثلا** دا مثال مطابق د ممثل سره دې فحذف مثلا ځکه **اذ لو ذكره لكان المناسب فلم نجده** نو **فيفوت الغرض** غرض څه وو؟ اعني ایقاع عدم الوجدان **على صريح لفظ المثل** ماتن دویمه وجه وائي د حذف د مفعول

طلبنا لپاره وائي: **ويجوز ان يكون السبب** فی حذف مفعول طلبنا **ترك مواجهة الممدوح بطلب مثل له** پريښودل د متوجه کيدلو ممدوح ته په طلب د مثل سره ممدوح لپاره ځکه چې تا دا وويل چې قد طلبنا لك مثلاً نو ته به ممدوح ته خطاب کوې چې ای ممدوحه تا لپاره مونږ طلب کړې دي نو په دې کې د ممدوح بې ادبي راغله ځکه طلب دهغه شي کيږي چې دهغې وجود جائز وي نو دا معنی چې ستا لپاره مثل جائز دې ممکن دې او مونږه طلب کړې دې موندلې مونږه نه دې نو دې کې د ممدوح بې ادبۍ شوه اوچې دا تا وويل چې قد طلبنا مونږه طلب کړې دې **فلم نجد لك مثلا** نو دې کې څه بې ادبي نشته دې **قصدا** دا مفعول له دې د ترك لپاره دا ترك د مواجهة د ممدوح کله کيږي **قصدا للمبالغة** لپاره د قصد کولو مبالغې ته فی التاديب چې ادب د ممدوح کې **حتى كانه** تر دې چې شان دادې چې **لايجوز وجود لثل له ليطلبه** جائز نه دې وجود د مثل دې ممدوح لره چې طلب اوکړې شي ددې مثل د حذف نه دا معلومه شوه چې د سرنه د ممدوح مثل نشته چې مونږه دهغې طلب وکړو ځکه **فان العاقل لايطلب الا مايجوز وجوده** ځکه عاقل طلب دهغه شي کوي چې دهغې وجود ممکن وي چې د کوم شي وجود معدوم وي او يا ممتنع وي د هغې څوك طلب نه کوي چې ددې طلب څوك کوي خلک ورته ليونی وائي لکه د عنقاء طلب کوي غرونو کې ګرځي خلک هغه ته ليونی وائي.

وما للتعميم او يا حذف د مفعول کولې شي لپاره د تعميم فی المفعول کې، معترض شبه وکړه چې يا هلکه راتلونکي مثال کې تعميم خو د لفظ نه معلوميږي ځکه چې هلته کې **كل احد** دې نو كل احد كه ته ذکر کړې او که حذف کړې دواړو کې تعميم حاصليږي نو حذف ته حاجت رانغلو نو ماتن جواب وکړو **مع الاختصار** يا هلکه دلته کې نکته ددې حذف لپاره د تعميم سره د اختصار نه ده دا په حذف سره راځي او تعميم په ذکر سره خو راځي خو اختصار نه راځي نو وائي **كقولك قد كان منك** وائي: په تحقيق سره موجود شوې وو ستا نه **ما** هغه څيز **يولم** چې درد ئې رسولو دې څيز چاته؟ ای كلّ احد وائي: ستانه داسې ضرب او ګذار شوې وو چې هر سړي ته درد اورسيدلو **بقرينة ان المقام مقام المبالغة** يعنې مبالغه کوي په ايصال د ايلام کې چې ستا ددې ګذار درد هر چاته رسيدلې دې نو ددۀ دا ګذار ډير شديد او ډير سخت شو چې هرچاته ئې درد اورسيدلو **وهذا التعميم وان امكن ليستفاد من ذكر المفعول بصيغة العموم لكن يفوت الاختصار حينئذ** لکه په خلې باندې ماتاسو ته ووېل **حينئذ** په وخت د ذکر د مفعول کې **وعليه** ای وعلی حذف **المفعول للتعميم مع الاختصار** ورد قوله تعالى **والله يدعوا الى دارالسلام** الله بلي کور د سلامتيا ته څوك بلي؟ وائي **جميع عباده** ټول مخلوق ته وائي چې راځئ د سلامتيا کورته، خلق نه راځي شبه يا هلکه دې دواړو مثالينو کې هيڅ فرق نشته دې ها؟ نو چې هيڅ فرق نه وي نو بيا مثال ثاني مستدرك شو يا اول يا ثاني مستدرك کيږي دوو ته بيا څه حاجت نه وو، شارح راغلو

جواب ئې وکړو چې فرق شته دې چې **فالمثال الاول يفيد العموم مبالغة** مبالغه هسې ادعاءً عموم راغلو ځکه چې ایلام د ضرب د شخص واحد تمامې دنیا احادو ته رسیدل دا دروغ دي حقیقت کې دانشته او **والثانی تحقیقا** او وائي ثاني مفید لپاره د عموم دي تحقیقا ځکه چې نفس الامر کې واقع کې الله ټول مخلوق جنت ته رابلي اوپه حدیث کې راځي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي چې زما مثال چې زه الله خلکو ته لیږلې یم داسې دې چې یو سړې یو ابادې یو بنګله جوړه کړي او بیا په هغه بنګله کې دسترخوان خور کړي او هغه دسترخوان باندې قسما قسم خوراکونه کیږدي او خلق اولیږي چې نورو خلکوته دعوت ورکړي چې هلکه راځئ بنګله کې ډوډۍ ده خورئ اوځئ نو څوک چې هغه بنګلې ته داخل شو دهغه داعي اجابت ئې وکړو نو هغه به بنګلې ته داخلیږي ډوډۍ به اوخوري اوځي به چا چې اجابت قبول نه کړو نو هغه د بنګلې د دخول او ډوډۍ خوراک نه محرومه شو، وائي دغسې مثال زما دې زه الله لیږلې یم زه د الله داعي یم او الله حقیقت کې دسترخوان غوړولې دې مالک د جنت الله دې زه ئې رالیږلې یم چاچې زما دعوت قبول کړو جنت ته به داخلیږي دهغې نعمتونه به حاصلوي، او زما دعوت چا قبول نه کړو د جنت نه به محرومه شي دائې تشبیه د معقول ورکړه د محسوس سره لپاره د توضیح اوضاحت د معقول.

واما لمجرد الاختصار یا حذف د مفعول کولې شي لپاره د مجرد اختصار، مجرد د تعمیم نه، بس اختصار لپاره صرف حذف شوې وي د مجرد ترجمه کوي چې د چانه به مجرد وي **من غیر ان یعتبر معه فائدة اخری** بغیر د معتبرولو سره ددې اختصار نه بله څه فائده هغه بله فائده داده **من التعمیم وغیره** غیرلکه تخصیص دابه نه وي.

اوس شارح د تلخیص بله نسخه بیانوي یو خود تلخیص دانسخه ده چې دې مختصر کې مکتوب ستاسو مخې ته پرته ده چې **واما لمجرد الاختصار** بل څه په کې نشته دې دویمه نسخه داده چې **عند عدم قیام قرینة** اوس په دې نسخه باندې شبه راغله دا وروستو شبه **ولا حاجة الیه** یا هلکه دیته حاجت نشته دې ځکه داخو مخکې نه معلومیږي چې **والا وجب التقدیر بحسب القرائن** نو عند قیام قرینة ته حاجت رانغلو دا شبه شوه نو شارح جواب مخکې کړې دې **هو تذکرة لما سبق** چې هلکه دائې د تذکیر د ماسبق لپاره ذکر کړې دې نو **ولا حاجة الیه** دا اعتراض وروستو شو او وهو تذکرة دا جواب مخکې شو دې نسخې نه.

د وما یقال غرض دادې چې دې جواب کوي ددې اعتراض نه چې **ولا حاجة الیه** چې استدراک نشته دې او غرض د شارح دادې چې په ده باندې رد کوي چې ددۀ جواب پریږده دا ما چې کوم جواب وکړو دا ټیک دی، **وما یقال** او هغه اعتراض چې ویلې شوې دې د جانب د مصنف نه د ماتن نه چې چا جواب کړې دې چې استدراک نشته چې **من ان المراد عند قیام قرینة دالة علی ان الحذف لمجرد الاختصار** دلته کې عند

قيام قرينة نه قرينه داله على المفعول نه دې هغه خو د مخکې نه معلومه شوې ده چې قرينه به وي دلته کې مراد عند قيام قرينة دالة على ان الحذف لمجرد الاختصار دې چې حذف به د مجرد اختصار لپاره به وي دې باندې قرينه پکار ده او دائې مخکې نه دي ويلي مخکې چې ئې ويلي دي چې **وجب التقدير بحسب القرائن** نو قرائن داله په حذف د مفعول باندې او دلته قرائن په دې شو چې حذف لمجرد الاختصار دې نو استدراك لازم نه شو شارح وويل څه دليل او قيد ته حاجت نشته دې دا خو هم معلوميږي د قرينې نه چې دلته کې حذف شوې دې لپاره د مجرد اختصار يا اختصار مع التعميم يا تخصيص شارح پې دريم رد کوي **ومع هذا** او سره ددې نه چې دا **معلوم** دې **جار في سائر الاقسام** دا په نورو اقسامو کې هم جاري کيدل او نورو کې ماتن نه دې جاري کړې نو فلاوجه لتخصيصه بمجرد الاختصار بيا نورو کې هم دغسې ويل پکار وو چې واما لدفع توهم ارادة الغير عند قيام قرينة ۱۷۴ متن دارنګه **واما لانه** اريد ذكره ثانيا على وجه الخ عند قيام قرينة ۱۷۵، يا **توضيح بعد الابهام** لپاره **عند قيام قرينة للبيان بعد الابهام** كما في ۱۷۲ دا خو ئې نه دي ويلي.

نحو اضفيت اليه وائي: ما ايښى وو فلانكې ته څه ايښي وو؟ **اى اذنى** دلته کې اذني حذف شو اصغاء هم غوږ ايښودلو ته وائي خو تجريد وکړئ وائي: ما غوږ ايښى وو دې فلانکي ته **وعليه** ماتن وائي په دې حذف باندې لپاره د مجرد اختصار قوله تعالى **رب انى انظر اليك** نو دلته کې مفعول محذوفه دادې چې **اى ذاتك** ربه وښايه ماته خپل ذات چې زه ګورم تاته **وههنا بحث** سره شارح شبه کوي په **واما للتعميم مع الاختصار** باندې **وههنا** او دلته په دې مقام کې په قول د ماتن کې شبه ده **وهو هغه** شبه داده بحث دادې چې **ان الحذف للتعميم مع الاختصار** چې حذف کيږي لپاره د تعميم مع الاختصار لکه **قد كان منك ما يولم** اې کل احد کې چې حذف شوې دې زه تپوس کوم چې **ان لم يكن فيه قرينة دالة على ان المقدر عام** نو فلا تعميم اصلاً نو بيا د سره تعميم رانغلو اصلا نه په حذف سره اونه په ذکر سره که ذکر کوې بيا تعميم نشته اوکه حذف کوې نو بيا **وان كانت اى القرينة** چې دا مقدر عام دې نو **فالتعميم من عموم المقدر** نو تعميم د عموم د مقدر نه راغلو قرينې ته بيا حاجت رانغلو **سواء كان حذف اولم يحذف** نو **فالحذف لايكون لامجرد الاختصار** نو شبه داشوه چې **واما لمجرد الاختصار** ذکر کول پس د واما للتعميم مع الاختصار نه **مستدرك** شو ځکه حذف کيږي **لمجرد الاختصار.**

نو تاسو جواب وکړئ په اختيار د شق اول سره چې دلته کې قرينه داله به په دې نوي چې مقدر عام دې نو چې قرينه نوي نو تعميم رانغلو يا هلکه قرينه لفظي اومعنوي به نه وي او مقام به قرينه وي مقام خطابي چې دلته کې مقدر عام دې ځکه چې مقام مقام د مبالغې دې او مبالغه هله راځي چې ته مفعول کل احد ووائې اوکه ته مفعول خاص کړي نو مبالغه په ايلام کې نه راځي نو دغه تعميم باندې

اګر که قرینه نشته دې چې حذف لپاره د تعمیم دې خو مقام خطابي تعمیم غواړي نو دا مقام خطابي قرینه شوه د حذف او د تعمیم دواړو لپاره نو چې قرینه شوه نو **فلا تعمیم اصلا** صحیح نشو لکه شارح وائي نو قرینه په حذف باندې او تعمیم باندې مقام خطابي شو جواب وشو

واما للرعایة یا حذف د مفعول کولې شي لپاره د محافظت ساتنې **علی الفاصلة** په اخري حصې د ایاتونو د قران کریم باندې فاصلې موافق کولو لپاره چې فاصله محفوظه شي نحو قوله تعالی **والضحی والليل اذا سجی ما ودعك ربك وما قلی** نو دلته کې د **قلی** مفعول حذف شوې دې **ای ما قلاك** ځکه چې د نورو ایاتونو اخري حرف فاصله الف مقصوره دې نو اوس که **ما قلاك** که ته ووائې نو بیا فاصله خرابیږي نو مفعول د قلی ئې حذف کړو.

و حصول الاختصار ایضا ظاهر دې کې حذف د مفعول للفاصلة کې اختصار هم شته دې **واما لاستهجان ذکره** یا حذف د مفعول کولې شي د وجې د قبیح ګڼلو د متکلم نه **ذکر المفعول** ای متکلم ذکر د مفعول ښه نه ګڼي **کقول عائشة** ما رایت منه تول حدیث دادې **کنت انا ورسول الله صلی الله علیه وسلم** اغتسل من اناء واحد ووِمه زه او رسول الله صلی الله علیه وسلم چې مونږه غسل کولو د یو لوښي نه **ما رایت منه** مانه وو لیدلې درسول الله صلی الله علیه وسلم نه **ولا رای منی** اونه لیدلې رسول الله صلی الله علیه وسلم زما نه څه؟ **ای العورة** د یو بل عورت مونږه نه وو لیدلی

واما لنکتة اخری یا حذف د مفعول کولې شي لپاره د نکتې اخری د بلې څه نکتې لپاره حذف کولې شي هغه څه **کاخفائه** لکه پتول ددې مفعول شو د سامع نه اوس زه تاته وایم چې یا هلکه ما زید لیدلې وو که زه تاته ووایم **رایت زیدا** نو دې مثلا عمرو د زید د ښمن دې بیا زید وژني نو زه تاته وایم چې **رایت** اشارې سره چې رایت زما مطلب تاته دادې چې زید مراد دې خو ذکر کوم نه لپاره د پتولو

او التمکن یا حذف د مفعول کولې شي د پاره د قادریدلو **من انکاره** د انکار کولو لپاره ددې دده نه مفعول نه **ان مست الیه حاجة** که دې انکار کولو ته حاجت پیش شي لکه دې مجلس کې اوس ته وائې چې **لعن الله** نو یو زید به پاسي هغه به وائي چې هلکه تا ماته وویل تا زه یاد کړم چې **لعن الله** تا وویل نه سړیه ما عمرو ته ویلي دي تاته ما نه دي ویلي **لعن الله** ځان له کینه اوکه ته ورته ووائې **لعن الله زیدا** او

او لعینه حذف د زید ناست دې هغه به وائي په تاباندې دې الله تعالی لعنت وکړي جګړه جوړه شوه، مفعول کولې شي د وجې ددې مفعول نه **حقیقة** حقیقة متعین وي بې د فرض د فارض د اعتبار د معتبر نه لکه **نحمد ونشکر** نحمد ونحمَد دواړه صحیح دي اې هلکه دچا حمد او شکر اوباسئ وائي: د الله کنه حقیقت کې منعم او محمود بغیر د الله نه بل څوك شته نه **او ادعاء** یا ادعاء وي لکه ته وائې **نخدم ونعظم** هلکه د چا نخدم اونعظم د مشرف **الامیر** چې مشرف دې داهسې ادعاء تعیین دې که نه نو

د مشرف نه علاوه نور څه کم دي نور بادشاهان په دنيا کې او **نحو ذلك** لکه ايهام د ساتلو د خپلې ژبې شو د مفعول نه متکلم وائي چې زما ژبه ده اودا مفعول ډير عظيم الشان ذات دې زه دا په خپلې دنې ژبې باندې نشم راوړې لکه ته ووائې **نمدح ونعظم** محمدا صلى الله عليه وسلم مونږ خدمت کوو لوی ګنهو محمد صلى الله عليه وسلم چې لويه هستي ده د الله په مخلوق کې لوی مخلوق دی يا هغه مفعول ساتي د خپلې ژبې نه ځکه هغه قبيح وي لکه ته ووائې **لعن الله** ای الشيطان شيطان ذکر کوې نه ځکه يره دا شيطان په ژبې باندې ذکر کول په ژبه باندې ماته قبيح ښکاره کيږي زه دا خپله ژبه د شيطان نه ساتم نو هغه شيطان کټ کوي وائي **لعن الله**.

دربند کې يو جلد ساز وو. دا په جامد تقليد باندې باباجي د چلاس ذکر کړي، نو خلکو به هغه ته قران راوړلو هغه به مجلد کولو، قران ته به ئې ګټې لګولې نو هغه جلد ساز په کې د فرعون نوم اوليدو نو ويلې ددې فرعون داسې داسې وکړم ددې د خر بچي په قران کې زه نوم پريږدم؟ د هغه په ځای ئې د خپل پلار نوم وليکلو اوچې د شيطان نوم چې به راغلو نو وبل به ئې د شيطان داسې داسې اوکړم دا پليت په قران کې څه کوي؟ نو د هغه په ځای به ئې دخپل نيکۀ نوم په کې اوليکلو هغه به ئې کټ کړو. خلکو چې اوکتل نو هغه جلد ساز دا کار کوي قران خرابوي نو خلکو ترې جلدسازي بند کړه نو د هغه د تجارت دنده بنده شوه نو خلکو ته ئې اعلان وکړو چې زما بس زما توبه ده بيا به دا کار نه کوم. او تاسو دا قرانونه راوړئ چې زه ئې مجلد کوم خلکو بيا شروع کړه خو العادة لاتزول الا بالموت ووکنه، نو بيا هغه شروع کړل په دې باندې ويلې يره دا شيطان زه نه شم پريښودلې په قران کې اونه د فرعون نوم پريښودلې شم هغه به ئې کټ کړل د هغې په ځای به يې د خپل پلار نوم ليکلو. نو هغه بابا وائي: ديته تقليد جامد وائي، دا مذموم تقليد دی، مشرکانو به دا کولو.

اوس ددې باب هغه دريم مطلب بيانوي چې تقديم د بعضې معمولاتو په بعضو باندې نو وائي و **تقديم مفعوله** تعيين د مرجع کوي وائي: ای **تقديم مفعول الفعل ونحوه** تعين د مرجع کوي ای **نحو المفعول** نحوه د مفعول دادې چې **من الجار والمجرور والظرف والحال وما اشبه ذلك** او هغه چې مشابه وي ددې سره چې نور معمولات د فعل دي لکه مفعول له معه فيه تميز، دا بل بترونه، **عليه** په دې فعل باندې ای على الفعل په دې فعل باندې ځکه مقدم کيږي **لرد الخطاء** لپاره د رد کول د متکلم خطاء د سامع **فی التعيين** په تعيين کې چې متکلم وائي چې اې سامع ته په دې تعيين کې خطاء شوې ئې لکه مثال داسې شو **کقولك زيدا عرفت** دا **لمن** دا تا هغه سامع ته ووائې **اعتقد** چې هغه عقيده ساتي **انك** تا اې متکلمه **عرفت انسانا** چې ته پيژنې يو انسان لره **واصاب فی ذلك** او سامع په دې کې رسيدلې دې او دا ټيک دې **واعتقد** او عقيده اوساتله دې سامع چې **انه** دغه معروف انسان **غير زيد واخطا فيه** او په دې کې خطاء شوې دې

لکه اوس تا په ما باندې ګمان وو چې دا مولوي صیب یو انسان پیژني، نو دي کې ته حق بجانب ئې، خو دویمه عقیده تا داسې اوساتله چې دغه انسان چې مولوي صاحب ئې پیژني دا **عمرو** دې نو زه تاته ووایم چې ته دې کې خطاء شوې ئې زه چې کوم انسان پیژنم هغه عمرو نه دې **زیدا عرفت** خاص زید زه پیژنم عمرو زه نه پیژنم نو تقدیم پکار دې نو واخطاء فیه

وتقول او ته به وائې **لتاکیده** لپاره د تاکید د دغه او تقدیم سره به یې وائې **زیدا عرفت لاغیره** تاکید شو ځکه تقدیم سره خو تاکید راغلې وو نو **لاغیره** نص شو په تاکید کې داخو په قصر قلب کې شو اوس د قصر افراد مثال ښائي هغه دادې چې تا په دې باندې ګمان وکړو مثلاً پیښور مولا باندې چې پیښور مولا یو سړې پیژني دا یو انسان نو دې کې ته **اصاب** شوې خو تا وویل چې دې چې کوم سړې پیژني نو هغه یُو نه دې دوه دي یو زید او بل عمرو دې دا دواړه وائي: پیژني نو دې تاته ووائي چې **زیدا عرفت** زه زید پیژنم عمرو نه پیژنم نو قصر افراد شو **وقد یکون لرد الخطاء فی الاشتراك** او کله کله کیږي دا تقدیم لپاره د رد د خطاء په اشتراك کې **کقولك زیدا عرفت لمن اعتقد** لپاره د هغه سامع چې عقیده ساتي چې **عرفت زیدا وعمرا** دواړه **وتقول** او ته به وائې **لتاکید** لپاره د تاکید ددې **رد: زیدا عرفت وحده** ځکه دا **وحده** نص دې په نفي د اشتراك کې مخکې هغه **لاغیره** نص وو په نفي د معرفت د غیر کې **وکذا** سره دفع د توهم کوي چې یا هلکه دا تقدیم د مفعول صرف جمله خبریه پورې خاص به وي؟ وائي: نه انشاء کې هم راتلې شي انشاء کې هم تقدیم لپاره د قصر کیږي وائي: **وکذا فی نحو زیدا اکرم وعمرا لا تکرم** په هغې انشاء کې وائي: هم راتلې شي خبر پورې دا خاص نه دې قصر قلب وې که افراد وي څنګه چې په خبر کې راځي دغسې په انشاء کې هم راځي اوس ګوره یو سړي دا عقیده اوساتله چې د چې دا متکلم ماته امر کوي په اکرام د عمرو سره نه د زید سره نو متکلم تاته ووائي **زیدا اکرم** چې د زید د اکرام سره امر کوم نو قصر قلب راغلو او که سامع دا خیال کولو چې دا متکلم ماته امر کوي په اکرام د زید اوعمرو دواړو سره نو متکلم تاته ووائي چې **زیدا اکرم** نو قصر افراد راغلو

وعمرا لاتکرم کې هم دغسې ده که سامع دا خیال وکړو چې متکلم ماته نهي کوي د اکرام د زید نه او د عمرو د اکرام نه نهي نه کوي نو ته ورته ووائې چې **عمرا لاتکرم** نو قصر قلب شو او که سامع دا خیال کولو چې متکلم مامنع کوي د اکرام د زید او عمرو د شرکت نه نو ته ووائې چې **وعمرا لاتکرم** ته ووائې شرکت نه منع کوم نو قصر افراد شو **امرا ونهیا**.

اوس شارح په ماتن باندې شبه کوي چې دا **لرد الخطاء فی التعیین** دا ویل پکار نه وو ځکه لرد الخطاء فی التعیین خو په کلام خبري کې راځي داسې ویل پکار وو **فکان الاحسن ان یقول لافادة الاختصاص** تقدیم کیږي لپاره د فائده کولو د قصر او حصر او اختصاص لپاره احسن دغسې وو وائي: ددې

لپاره چې داخل شي په دې کې قصر په انواع ثلاثه ؤ سره. لیکن تاسو ووایئ چې دا قصر وحصر واختصاص په خبر کې راتلل په خبر کې اصل دي او په انشاء کې راتلل فرع دي نو ماتن هغه اصل ذکر کړو او فرع ئې مقایسة پرینبسودله لکه مخکې په متن کې قصرقلب ئې ذکر کړې دې او قصر افراد ئې مقایسة پریخې دې دغسې دلته کې هم.

اوس **ولهذا** سره دلیل انې ذکر کوي چې کوره چې هرکله مقصد ددې تقدیم نه حصر و اختصاص شو نو دا راتلونکي درې واړه مثالونه صحیح نه شو په تقدیم سره وائي: **ولهذا** ددې وجې نه شارح تعیین د مشارالیه کوي **ای ولان التقدیم** تقدیم د مفعول یا تقدیم د معمول د فعل **لرد الخطاء فی تعیین المفعول مع الاصابة** سره د رسیدو د مخاطب نه **فی اعتقاد وقوع الفعل** علی مفعول ما په اعتقاد د وقوع د فعل په مفعول ما باندې دې کې اصاب دې نو **لا یقال** نه شي ویلې په طریقه صحیح سره چې **ما زیدا ضربت ولاغیره** دا نه شي ویلی په طریقه صحیح سره هسې خو تلفظ کولې شي لیکن غیر صحیح، دلیل وائي متن لپاره چې دا ولې **لا یقال** دې وائي: **لان التقدیم** تقدیم د زید په ضربت باندې **یدل** دلالت کوي په اعتبار د مفهوم سره **علی وقوع الضرب علی غیر زید** باندې چې هلکه زما عدم ضرب مقصور دې په زید پورې متجاوز نه دې بل چاته بل چاته متجاوز ضرب دې **تحقیقا لمعنی الاختصاص** ځکه حصر وقصر دیته وائي لپاره د ثابتولو معنی د حصر وقصر **وقولك** او دا قول ستا دې متکلمه چې **ولا غیره ینفی ذلك** دا نفي کوي وقوع د ضرب په غیر د زید باندې نو مفهوم د **ما زیدا ضربت** او منطوق د ولا غیره کې تناقض دې نو فیکون **مفهوم التقدیم مناقضا لمنطوق لاغیره نعم** او دا منم نعم سره شارح تصحیح ددې ترکیب ته اشاره کوي چې ددې ترکیب تصحیح ممکن ده خو د قصر په طریقې سره نه، په بلې طریقې سره ممکن دې **نعم منم لوکان التقدیم** که چرته وي تقدیم د **زیدا** په دې **ضربت** باندې **لغرض اخر** غرض اخر لپاره لکه اهتمام شو **غیر التخصیص** بغیر د تخصیص نه نو **لجاز** بیا جائز دې **ما زیدا ضربت ولاغیره** ځکه دلته کې بیا څه تناقض نه راځي زیدا د قصر لپاره خو نه دې مقدم شوې دا اهتمام لپاره مقدم شو دې. **وکذا** او دغسې څنګه چې تصحیح هذا الترکیب په منفي کې جائز دې نو مثبت کې هم جائز دې **وکذا** زیدا ضربت وغیره اوکه د حصر لپاره ته زیدا ضربت وائي نو **غیره** بیا نه صحیح کیږي، بیا د زیدا ضربت مفهوم دلالت کوي چې د زید نه علاوه بل څوك زما مضروب نه دې او منطوق **وغیره** دلالت کوي چې نور هم زما مضروبان دي نو تناقض راځي اوچې د اهتمام لپاره شي نو جائز دې.

دویم داترکیب هم وائي: جائز نه دې **ولا ما زیدا ضربت ولکن اکرمته** ځکه جائز نه دې دلیل شارح وائي **لان مبنی الکلام** ځکه مبنی ددې کلام بناء ددې کلام **لیس علی ان الخطاء واقع فی الفعل** فعل کې خو **اصاب** دې کنه چې ته ضارب د چا ئې؟ دې کې اصاب دې **بانه دا فعل الضرب** ضرب دې چې سامع خیال وکړي

چې دا فعل د متکلم ضرب به وي **حتی ترده** تردې چې ته رد کوې متکلم دغه فعل **الی الصواب بانه الاکرام** اوفعل کې خطائي نشته دې **وانما الخطاء فی تعیین المضروب** نو **فالصواب** داسې ویل پکار وو حق داوو چې **ان یقال ما زیدا ضربت ولکن عمرا** چې تا ګمان کړې وو په دې باندې چې ستا مضروب زید دې نو تا وویل چې هلکه زما مضروب زید نه دې زما مضروب عمرو دې نو قصر قلب شو

دا مخکې خبرې اترې خو په هغه مفعول کې شوي چې وروستو هغه فعل **مشتغل عنه** بضمیره نه وي اوس که یو مفعول د فعل نه مخکې راشي او هغه فعل **مشتغل عنه** بضمیره وي نو ددې به څه حکم وي؟ نو هغه بیانوي وائي **واما نحو زیدا عرفته** نو دلته کې تقدیم د مفعول وشو او وروستو فعل مشتغل عنه بضمیره دې وائي: دلته کې دا عبارت د قصر او تاکید دواړو لپاره محتمل دې **فتاکید** دا تاکید دې خو هله **ان قدر الفعل المحذوف المفسر** که مقدر کړې شو فعل محذوفه چې تفسیر ئې کړې شوې دې په فعل مذکوره سره **قبل المنصوب** او داسې ته ووائې ای **عرفت زیدا عرفته** نو بیا دا تاکید شو قصر مصرر انه غلو ځکه قصر خو تقدیم د مفعول سره راځي او دلته کې تقدیم د مفعول په خپل فعل باندې نه دې شوې

والا او که تقدیر د مفسر د منصوب نه مخکې نه وي شو بلکه وروستو کړې شوې وو نو **فتخصیص** داسې به وائې **ای زیدا عرفت عرفته** اوس په دې دواړو مثالینو کې شارح جمع بین المفسر والمفسر وکړه حالانکه جمع بین المفسر والمفسر خو ناروا ده مخکې کې ئې وویل چې **عرفت زیدا عرفته** روستني کې ئې وویل چې **زیدا عرفت عرفته** او جمع بینهما جائز نه دې ځکه بیا خو استدراك راځي نو تاسو وائي چې دا جمع شارح په طور د مثال اود فرضو سره کړې دې نه مطابق د قانون نحوي سره دویم جواب یا دا وکړئ چې جمع په مفسر او مفسر کې ناروا ده په هغه ځای کې چې هلته کې هغه تفسیر ناشي وي د حذف د مفسر نه او کوم تفسیر چې ناشي وي د جهالت او نکارت د مفسر نه نو هلته کې جمع جائز ده او دلته کې دا تفسیر ناشي دې د جهالت نه چې یا هلکه هغه فعل محذوفه به څه وي وائي: **عرفته زیدا عرفته** هغه وروستو فعل محذوفه به څه وي؟ وائي: ای زیدا عرفت عرفته شو نو دلته دا د حذف د مفسر نه نه دې حذف د مفسر خو معلوم دې ځکه وروستو فعل **مشتغل عنه** بضمیره دې بلکه د جهالت د مفسر نه ناشي دې وائي: **لان المحذوف** دلیل وائي چې دا تخصیص ناشي ولې فائده کوي ځکه محذوف ومقدر کالمذکور دې اوچې ته ئې مذکور کړې چې **زیدا عرفت** ووائې چې نو قصر وو نو مقدر کې هم راغلو نو **فالتقدیم علیه** نو پس تقدیم ددې مفعول په دې فعل باندې داسې دې، په دې فعل مقدر باندې داسې دې **کالتقدیم علی المذکور فی افادة الاختصاص** نو تقدیم په فعل مقدره باندې دا مشبه شو او **کالتقدیم علی المذکور** مشبه به شو کاف اله د تشبه شوه وجه د شبه

فی افادة الاختصاص شو **کما فی بسم الله** سره نظیر ښائي مثال نه دي چې لکه په بسم الله کې نو بسم الله کې دلته دا جار مجرور مقدم شوې دي پخپل عامل باندې د قصر او د حصر لپاره، خاص په نوم د الله سره زه شروع کوم نه په نوم د غیر الله سره نو دائې تفریع وکړه **فنحو زیدا عرفته** محتمل **للمعنیین** دا سې محتمل د معنییینو شو چې د تاکید هم په کې احتمال شته دي اود تخصیص په کې هم احتمال شته دی **سوال** یا هلکه مونږه به څه پیژنو چې دلته کې مقصود تاکید دي که نه تخصیص دي قصر دي نو شارح جواب وکړو چې تاته به پته په قرائنو سره راځي باچا ګله وائي **والرجوع فی التعیین** او رجوع په تعیین د کیدلو د تقدیم کې لپاره د تاکید یا د تخصیص لپاره **الی القرائن** قرائنو ته به رجوع کوې قرائنو ته به داسې رجوع کوې چې تا **زیدا عرفته** وویلو او ستا مخاطب عقیده ساتي چې ستا هغه معروف معلوم تاته عمرو دي او زید نه دي یا عمرو او زید دواړه دي نو بیا دلته کې هغه فعل مفسره مؤخر اوباسه داسې وایه چې زیدا عرف عرفته اوکه ستا مخاطب منکر وو چې ددې متکلم معلوم ومعروف زید نه دی وائي نه منم چې معلوم ومعروف ددۀ لپاره زید دي نو بیا مؤخر اوباسه داسې ووایه زیدا عرفت عرفته یا هلکه خامخا ماته معلوم ومعروف زید دي بل څوک نه دي قرائن دادي چې سامع ومخاطب ته به ګوري.

اوس وعند قیام القرینة الدالة **علی انه** ای ذلك المثال ای زیدا عرفته انه ضمیر مثال ته راجع کوي چې زیدا عرفته دي چې دغه مثال **للتخصیص** لپاره د تخصیص دي او زیدا عرفت عرفته دي نو **یکون اوکد** نو دا ډیر اوکد او محکم کیږي **من قولنا زیدا عرفت** ځکه محکم دي **لما فیه من التکرار** ځکه دلته کې تکرار د اسناد راغلو د **عرفت** اسناد وقوعي زید ته دوه ځله شو او زیدا عرفت چې غیر مشتغل عنه بضمیره وي هلته کې دا اسناد نشته دی.

وفی بعض النسخ دي کې شارح اشاره کوي د تلخیص دوو نسخو ته چې د تلخیص دوه نسخې دي یو نسخه داده چې **واما ثمود فهدیناهم** په کې نشته دي چې نشته نو خیرواخلاص مونږ باندې تحقیق اوځه بیان ضروري نه دي اوپه بعضې نسخو کې شارح وائي چې دا شته دي چې شته نو د څه غرض لپاره ماتن دا وویل نو دا د دفع د توهم لپاره چې هلکه **زیدا عرفته** کې هغه محتمل د تاکید اود تخصیص دواړو وو نو اما ثمود بقراءة النصب فهدیناهم به هم محتمل لپاره د معنییینو وي چې تاکید او تخصیص؟ نو ماتن دغه توهم دفع کړو چې نه دلته کې تخصیص متعین دي قصر متعین دي نو وائي **واما ثمود فهدیناهم فلا یفید الا التخصیص** او تاکید نه فائده کوي دلیل وائي چې ځکه دا د زید عرفته نه ولې خلاف شو حالانکه دا او هغه یو دي نودې دلیل وائي: **لامتناع ان یقدر الفعل مقدما** دلته کې هغه فعل مفسره مقدم ویستل ممتنع دي ځکه چې مقدم اوباسې نو داسې به وائې چې **واما فهدیناهم ثمود**

نو بيا اتصال راغلو په ادواتو د شرط او ادواتو د جزاء کې او دا جائز نه دي دامتنع دي **لالتزامهم** وائي د وجې د لازمولو ددې علماؤ نه نحاتو نه **وجود فاصل** وجود د جدائي راوستونکي **بين اما** چې د ادواتو د شرط نه دې والفاء او په مابين دفاء کې چې د ادواتو د جزاء نه ده **بل التقدير** نو دلته کې تقدير دعبارت دادې چې مفعول مقدم به را اوباسې نو چې مقدم دې راوويستلو نو تخصيص راغلو **بل التقدير** دلته کې متعين دې چې **واما ثمود فهدينا فهديناهم بتقديم المفعول.**

اوس شارح شبه کوي په متن باندې وائي: **وفي كون هذا التقديم للتخصيص نظر:** اعتراض دې او نظر دې نظر په دوو طريقو سره دې، يو نظر او اعتراض د بهر نه دی او يو نظر شارح په کې کړی دی بهر نه نظر مخکې وائي هغه دادې چې اې هلکه تخصيص شو نو معنی دا شوه چې واما ثمود فهديناهم دا هدايت زمونږ مقصور دې ثموديانو پورې دا نبودنه د حق لارې دا مقصور ده په ثموديانو پورې نه ده متجاوز د دوی نه نورو کافرانو ته حالانکه الله تعالی **ولكل قوم هاد** ويلي دي حقه لار خو الله هرچاته ښائي نو دلته کې قصر خو صحيح نه شو ځکه چې معنی دا شوه چې دا نبودنه زمونږه د حقې لارې مقصور ده په ثموديانو پورې نه ده متجاوز د ثموديانونه نورو کافرانو ته حالانکه ټول کافرانو ته الله تعالی لار نبودلې ده **وما كنا معذبين حتى نبعث رسولا** غير د ثموديانو نه نورو کافرو ته هم الله لار نبودلې ده.

دويم نظر شارح وائي: **لانه** وائي: دغه تقديم **قد يكون مع الجهل بثبوت اصل الفعل** دا تقديم د اما سره چې ذکر شي نو دا کله کله کيږي سره د جهل نه په ثبوت د اصل فعل باندې چې هغه سامع د اصل فعل نه جاهل وي نو متکلم تقديم وکړي په اصل فعل باندې سامع عالمؤلو لپاره نو دا تقديم لپاره د اصلاح شو، د تقديم لپاره نه شو مثال داسې شو **كما اذا جاءك زيد وعمرو** لکه زه دلته کې خبر شوم چې د مختار احمد خوا ته زيد او عمرو مسجد قبا ته راغلي دي نو اوس مختار احمد د زيد وعمرو سره څه فعل وکړو داماته پته نه وه چې دۀ ورته چائ ورکړې يا ډوډئ يا پلاؤ اوکه نه هسې ئې اوغربول او اهانت ئې ورله وکړو او واپس ئې کړل نو زه مازيګر وخت کې چوک ته لاړم ما ددۀ نه تپوس وکړو **ثم سئلك سائل ما فعلت بهما** نو دلته کې زه جاهل د اصل فعل نه يم نو **فتقول** وائي: ماته په جواب کې وائي **اما زيدا فضربته** چې مولوي صاحب هرچې زيد دې نو ما اوغربؤلو هغه لره، او ويلي **واما عمرا** هغه عالم سړې وو متواضع متقي **فاكرمته** هغه ته ما چرګه حلاله کړه پلاؤ مې پوخ کړو د هغه عزت مې وکړو نو اوس دلته کې تقديم د تخصيص لپاره نه شو بلکه د اصلاح د ترکيب اولفظ لپاره شو چې توالي رانه شي په مينځ د ادواتو د شرط وجزاء کې ديته وائي تقديم لپاره د اصلاح د لفظ چې توالي په ادواتو د شرط وجزاء کې رانه شي تقديم وتخصيص لپاره نه صحيح کيږي.

تاملیتامل دې کې شارح اشاره وکړه جواب ته د نظر اول نه هم او د نظر ثاني نه هم د نظر اول نه جواب راسې دی چې یا هلکه دلته کې دا قصر د اراءة د طریق موصله اراءة د حق دا مقصور دې په ثمودیانو پورې خو پخپله زمانه کې واما ثمود فهدیناهم فی زمانهم او نورو کافرو ته الله اراءة الطریق کړې دې خو په زمانه د ثمودیانو کې نورکافر نه وو نو په زمانه د ثمودیانو کې اراءة الطریق منصور دې په ثمودیانو پورې لکه **وانی فضلتکم علی العالمین** بني اسرائیلو ته الله وائي خو په ټول مخلوق باندې خو بني اسرائیل غوره نه وو نو جلالین جواب کوي یو جواب دادې چې غوره والی درکړی تاسوته علی زمان العالمین په مخلوق د خپلې زمانې نو دلته کې هم د قصر دا معنی شوه.

دویم نه جواب دا کوي چې دلته کې دا ماتن چې ویلي دي چې **واما ثمود فهدیناهم** دا په هغه ځای کې دې چې ددې سامع او مخاطب علم په اصل فعل باندې وي دا مقید دې په قید چې د سامع او مخاطب علم په اصل فعل باندې وي چې هدایت خو الله کړې دې په زمانه د ثمودیانو کې الله اراءة الطریق خو کړې دې دا ماته معلوم دې خو دا ماته پته نشته چې ثمودیانو ته الله کړې دې که نه غیر ته ئې کړی دی، دارنګه ثمودیانو سره نور څوک شریک دي که نه ندي نو تخصیص راغلو چې خاص ثمودیانو ته د هغوی په زمانه کې هدایت شوې دې په هغوی پورې خاص دې بل چاته ئې نه دې کړې.

اوس **هغه مخکې وغیرهائې** ویلي وو نو **وکذلك** وائي: ای ومثل زیدا عرفت اوس ګوره دا زیدا عرفت دا مشبه به شو او **قولك مررت بزید** دا مشبه شو او دا **کاف** او مثل دا اله د تشبیه شوه وجه د شبه شارح بیانوي **فی افادة التخصیص** نو **قولك بزید مررت** دا **فی المفعول بواسطة من** سره نو دا **لمن اعتقد انك مررت بانسان وانه غیر زید** نو چې ته **مررت بانسان** ئې نو دې کې **اصاب** شو او **انه غیر زید** دې نو دې کې **اخطاء** شو نو ته ووائې **بزید مررت** نو قصر قلب شو دارنګه **وکذلك یوم الجمعة مررت** تا دا عقیده ساتله چې مرور خو دې متکلم کړې دې خو یوم السبت کې به یې کړې وي یا په **یوم الاحد** کې به یې کړې وي ته ماته وائې **یوم الجمعة مررت** زما دا تلل مقصور دي یوم الجمعة پورې **وفی المسجد صلیت** ستا داخیال وو په ماباندې چې دومنځ خو کړې دې خوپه کور کې دکان کې به ئې کړې وي ما وویل **فی المسجد صلیت** ما خاص په جمات کې کړې دې **وتادیبا ضربته** ستاپه یو طالب باندې خیال وو چې یا هلکه دې دا چې وهي خو اهانت لپاره د بې عزتی لپاره هغه طالب تاته وائي چې **تادیبا ضربته** چې ادب لپاره وهلی دی د اهانت او بې عزتی لپاره ما نه دی وهلی **وما شیا حججت** حال کې ګوره اوس ستا په چا دا عقیده وه چې حج خو ئې کړی دی، دې کې ته **اصاب** شوی خو راکبا به ئې کړې وي په سورلی په جهاز باندې هوائي یا بحري باندې نو هغه متکلم ورته وائي **ماشیا حججت** زما دا حج مقصور دې په مشي پورې.

والتخصيص لازم للتقديم غالبا اوس دا بله مسئله کوي، چې تخصيص د تقديم سره لازم دې غالباً شارح ورسره لګوي اې **لا ينفك** ددې نه قصد د شارح ترجمه د لازم کوي چې دلته کې د لازم څه معنی؟ نو وائي چې **اي لا ينفك** چې نه جدا کيږي دا تخصيص من تقديم المفعول ونحوه څنګه چې لازم د ملزوم نه نشي منفك کيدلې د لازم دا معنی د **غالبا** ترجمه کوي چې دې و وائي **وفي اكثر الصور** د غالباً دا معنی چې په اکثر صورتونو کې دليل وائي د متن لپاره چې دليل دادې چې **بشهادة الاستقراء وحكم الذوق** وائي په شهادت دا ستقراء اوتتبع د کلام القوم سره مونږ د کلام القوم تتبع واستقراء کړې ده نو چېرته چې تقديم د معمول شوې دې نو تخصيص په کې شته دې، يو دليل دا شو

دويم دليل داچې **وحكم الذوق** ځکه چې ذوق د سړي هم دلالت کوي چې يو معمول مقدم کيږي په يو عامل باندې نو مقصور قصر وتخصيص وي که دا مقصود نه وي نو هسې تقديم بلا فائدې کيږي اوس د غالبا قيد فائده وائي چې ماتن دا ولې زيات کړو، وائي: **وانما قال غالبا** وائي: ماتن غالبا ويلې دي، وائي: **لان اللزوم الكلي غير متحقق فيه** اې في التقديم لزوم کلي په دې تقديم کې نشته دې کله کله به **اذا التقديم قد يكون لاغراض اخر** ځکه تقديم کله کله کيږي د نورو تقديم وي او تخصيص به نه وي **لمجرد الاهتمام** لکه مجرد اهتمام لپاره چې د هغه مقدم ته عزت غرضونو لپاره هغه نور غرضونه څه دي **والتبرك** او کله کله تقديم د مفعول د تبرك لپاره کوي تخصيص مخصيص مقصود نه وي عزت لپاره **محمدا احببت صلي الله عليه واله وسلم والاستلذاذ** کله کله تقديم کيږي د وجې د موندلو د متکلم کيږي لکه **ليلي احببت** کله کله **وموافقة السامع** کله کله تقديم کيږي د موافقت د کلام د سامع نه دي مقدم لره لذيذ لکه **من اكرمت** نو سامع مفعول مقدم کړې دې نوته جواب کې وائې چې سره لکه تانه سامع سوال وکړي چې **زيدا اكرمت** تا هم مقدم کړو نو موافقت لپاره شو کله کله د **ضرورة الشعر** د ضرورت شعري د وجې نه تقديم کيږي او تخصيص نه وي **والسجع** او کله کله د پاره د موافقت د سجعې په غير دقران کې **والفاصلة** او کله کله لپاره د موافقت د فاصلې تقديم کيږي په قران کې فاصله په قران کې او سجعه په غير القران کې اوس د فاصلې مثال پخپله بنائي **ونحو ذالك** ياتعجيل د مسرت سامع ته خو شحاله وې يا **مساءة** سامع خفه کوي اوس د فاصلې مثالونه بنائي دا مثالونه د فاصلې دي وائي: **قال الله تعالى خذوه** خزانيانو د جهنم ته الله به فرمائي چې نيسئ دې مجرم لره دې کې اشتهاد نشته دې **فغلوه** طوق ورله وغورځوئ، غاړې ته ورته زنځير وغورځوئ" غټ زنځير چې څټ ئې داسې نيولی وې ايسته اورته او بنکته ئې نه شي کولې **لا يرتد اليهم طرفهم وافئدتهم هواء. ثم الجحيم صلوه** دې کې يو شاهد راغې **ثم الجحيم** دا مفعول مقتضي رؤسهم مقدم شو په **صلوه** باندې لپاره د رعايت د فاصلې که داسې ئې ويلې وې چې **ثم صلوه الجحيم** نو فاصله نه برابريدله دويم **ثم في سلسلة** بيا اوترئ ده لره په يو زنځير کې دې کې هم شاهد دې ځکه که داسې ئې ويلې وې چې ثم ذرعها سبعون ذراعا في سلسلة نو برابرتيا نه راځي نو **فاسلكوه**

فاصله برابره شوه اوکه داسې وائي: **فاسلکوه في سلسلة** نو نه برابريدله بل مثال ښائي په قران کې **وان علیکم لحافظین** نو دلته کې تقديم د خبر د ان شو په اسم د ان باندې دا لپاره د موافقت د فاصلې ځکه د دې سورت اکثر اخر د اياتونو کې ماقبل تري يا يا واو دې نو دلته هغه خرابيده نو شبه وارد نه شوه چې هلکه زمونږ کلام خو په تقديم د معمول د فعل کې وو او دلته کې عليکم معمول د فعل خو نه دې تاسو ووايئ چې معمول د ان نو معمول د ان دې وي بل مثال ښائي وقال الله تعالى **فاما اليتيم فلا تقهر** نو فاصله برابر شوه ځکه فاصله ټول په راء باندې ده د **اماالسائل فلاتنهر** د تقديم د مفعول سره فاصله برابره شوه که تقديم اونکړې نو فاصله نه برابريږي بل مثال وقال الله تعالى **وما ظلمناهم ولكن كانوا انفسهم يظلمون** اوس ګوره انفسهم ئې په يظلمون باندې مقدم کړو د فاصلې لپاره که داسې ئې ويلې وې ولکن کانوا يظلمون انفسهم فاصله نه برابريدله، نو ځکه ئې مقدم کړو **الى غير ذلك** علاوه ددې نه وائي: نور خايونه ګوره **مما لا يحسن فيه اعتبارالتخصيص** او دا اعتبار د تخصيص څوك ښه پيژني؟ **عند من له معرفة باساليب الكلام** لپاره دهغه چا چې هغه لره پوهه وي په طريقو د کلام هرکس نا کس ته نه چې هغه پخپل ذوق سره معلوموي چې دلته کې تخصيص حسن دې او دلته کې غير حسن دې.

ولهذا سره اوس دليل اني ذکر کوي ماتن چې تخصيص لازم دې د تقديم سره غالبا تعين د مشارالیه کوي شارح اې **لان التخصيص لازم للتقديم غالبا يقال** ويلې شوي دي ويونکي مفسرين دي: **فی ایاك نعبد وایاك نستعين** کې دلته کې تقديم د مفعول شوې دې په دواړو کې نو تخصيص ورسره لازم دی راغلی دی نو مفسرينو ددې معنی کړې ده **معناه** معنی ددې قول د الله تعالى داده چې **نخصك بالعبادة والاستعانة** باء داخله ده په مقصود باندې يعنې عبادت مقصور دې په تا پورې نه دې متجاوز تانه بغير هيچا ته استعانت مقصور دې په تا پورې متجاوز نه دې تانه بل هيچا ته **بمعنى** کې شارح اشاره کوي چې باء په مقصور باندې داخله ده **بمعنى نجعلك** مونږ ګرځوو تالره اې الله **من بين الموجودات** په مابين د ټولو موجوداتو کې **مخصوصا** مقصور **بذلك** په دې عبادت واستعانت سره **لانعبد لا نستعين غيرك** نو باء داخله په مقصور باندې شوه.

د جارمجرور مثال ښائي **وفی لاالى الله تحشرون** نو دا جار مجرور په تحشرون باندې مقدم شوې دې **معناه اليه** خاص دې الله ته به تاسو راجمع کړي شئ، **لا الى غيره ونعبد** تعين د مرجع کوي وائي: **التقديم**، وائي: فايده کوي دغه تقديم **فی الجميع** شارح ورسره لګوي اې **فی جميع صور التخصيص** دې کې ئې اشاره وکړه چې په الجميع کې الف عوض دې د مضاف اليه نه يا الف لام عهد خارجي دې معهود په دې سره ټول صورتونه د تخصيص دي يا هغه مضاف اليه دادې چې ټول صورد تخصيص دي دا تقديم فائده کوي په دې ټولو صورو د تخصيص کې **وراء التخصيص** اوس وراء د مخکې په معنى سره هم راځي او وراء د وروستو په معنى سره هم راځي ځکه دې د اضدادونه دې نو پته رانغله چې دلته کې وراء په معنى د

امام سره دې او که د بعد سره دې نو شارح تعین وکړو **ای بعده** یعنې پس ددې تخصیص نه فائده کوې **اهتمام بالمقدم** مقصود مندي په هغه مقدم پورې چې دا مقدم مقصود دې د متکلم متن لپاره دلیل وائي چې دا تقدیم علاوه د تخصیص نه اهتمام د مقدم ولې فائده کوي وائي: **لانهم** ځکه چې دغه عرب **یقدمون الذی شانه اهم** دي مخکې کوي هغه شئ چې شان دهغې اهم وي **وهم** دغه عرب **ببیانه المعنی** په بیان ددې سره ډیر قصد کونکي دي نو ددې وجې نه مقدم اهم وي اوس شارح ددې لپاره دلیل انې ذکر کوي **ولهذا** او ددې وجې نه چې تقدیم فائده کوي اختصاص نه اهتمام د مقدم **یقدرالمحذوف** مقدرکولې شي هغه محذوف متعلق اوفعل **فی بسم الله مؤخرا** دا لپاره د اهتمام د اسم د الله چې اسم د الله مهتم بالشان دې نو دا معنی مخکې کوي نو داسې وائي **بسم الله افعل کذا** دا مؤخر کوي **لیفید مع الاختصاص** یو خو اختصاص به راشي چې خاص په نوم د الله باندې دا کار زه کوم او سره د اختصاص نه **الاهتمام** اهتمام به هم راشي چې اسم د الله مهتم بالشان دې وجه په دې کې داده چې اهتمام سره د اختصاص نه مقصود ځکه دې دمؤحد اود مؤمن ځکه بسم الله مؤحد او مؤمن وائي، وائي: ځکه **لان المشرکین یبدءون باسماء الهتهم** نو فیقولون باسم اللات وباسم العزی نو **فقصد المؤحد تخصیص اسم الله بالابتداء للاهتمام والرد علیهم ای علی المشرکین.**

اوس په دې باندې اعتراض کوي ماتن نو وائي **واورد** وارد کړي شوې دې اعتراض په دې باندې په **اقراء باسم ربك** سره شبه یا هلکه محل داعتراض او دایراد کوم ټکې شو محلونه خو ډیر دي محل د ایراد داشو چې تقدیم لپاره د تخصیص نه صحیح کیږي یا محل دا ایراد دا شو چې تقدیم لپاره د اهتمام د مقدم نه کیږي فقط فقط، نو شارح تعین د محل د ایراد کوي نو وائي **یعنی ای الماتن لوکان** مفید لپاره د قصر **والاهتمام التقدیم** که چرته وي تقدیم د معمول د فعل په فعل باندې **مفیدا للاختصاص** د مقدم د قیاس شو نو د محل تعین ئې وکړو نو **لوجب ان یؤخر الفعل** نو واجب دي چې مؤخر کړې به ئې وې فعل چې **اقراء** دې **ویقدم باسم ربك** لکن التالی باطل فالمقدم مثله لوجب خو باطل دې حساً مونږه وینو چې اقراء مخکې دې په **اسم ربك** باندې او اسم ربك مخکې نه دې او دلیل د ملازمي څه دې؟ چې که تقدیم مفید لپاره د اختصاص او اهتمام دې نوواجب به وو چې مؤخر کړې ئې وې فعل چې اقراء دې او مقدم کړې به ئې وې باسم ربك وائي: ځکه چې **لان کلام الله تعالی احق برعایة ما یجب رعایته** وائي: ځکه کلام د الله تعالی ډیر لائق دې په رعایت دهغه نکتو سره چې واجب دې رعایت د هغې نکتې په بلاغت کې نو هلته کې نکته خو تخصیص شو سره د اهتمام نه نو مقدم کول پکار وو نو په دې کې شارح یو تعین د محل د ایراد وکړو او دویم تقریر د اعتراض ئې وکړو نو دوه غرضونه شو چې نمط او تقریر د اعتراض په طریقې دنمط د قیاس استثنائي رفعي سره دې.

اوس **واجيب** دې سره دوه جوابونه کوي ماتن دا جواب اول د صاحب الکشاف دې وائي جواب کړي
ئوی دی چې **بان الاهم** چې اهم په **اقراء باسم ربك** کې **القراءة** قراءت دې ددې د وجې نه مقدم شوې دې
راءت ځکه اهم دې وائي **لانها اول سورة نزلت** نو فکان الامر **بالقراءة اهم باعتبار هذا العارض** په اعتبار ددې
عارض سره چې اول سورت وو **وان كان ذكر الله اهم فى نفسه** نو اقتضاء ذاتي غواړي تقديم د اسم د الله
او اقتضاء مقامي غواړي تقديم دقراءة،نو مونږه ترجيح ورکړه اقتضاء مقامي ته نه اقتضاء ذاتي ته
ځکه بلاغت ويلې شي مطابقت د کلام د مقتضى الحال ومقام سره مطابقت د مقتضى دذات سره ديته
څوك بلاغت نه وائي دا تعين ددې مجيب کوي چې دا مجيب څوك دی؟ وائي: **جواب صاحب الكشاف.**

اوس په دې ځای کې اعتراض راځي ځني احاديثو کې راځي چې اول سورت چې نازل شوې دې نو دغه
سورت اقراء دې او په بل حديث کې راځي اول سوت چې نازل شوې دې نو سورت المدثر دي په دريم
حديث کې راځي چې اول سورت چې نازل شوې دې نو سورت الفاتحه دې نو درې واوړه قسمه
احاديثو کې تدافع وتعارض راغله نو تاسو به دفع د تدافع وکړئ چې کوم حديث کې چې راځي چې
دغه سورت اقراء اول سورت دې چې نازل شوې دې نو په مقدار د پنځو اياتونو ټول سورت نه چې دا
اول نازل شوې دې اوچې کوم حديث کې راځي چې اول سورت چې نازل شوې دې نو سورت الفاتحه
دې نو تمام سورت من اوله الي اخره اول چې نازل شوې دې نو سورت الفاتحه دې، په دريم حديث کې
چې کوم راځي چې اول سورت چې کوم نازل شوې دې سورة المدثر دې نو پس د فترة الوحي نه پس د
قطع کيدلو د وحي نه رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې اول خو وحي وشوه بيا درې مياشتې وحي
بنده وه نو بيا غارحراکې وحي شروع شوه **يا ايها المدثر قم فانذر وربك فكبر** نو تدافع داسې شوه.

دويم جواب کوي **وبانه** ای باسم ربك دې سره تعين د مرجع کوي **متعلق باقراء الثانى** نو تقديم په عامل
باندې تقديم راغې. **ای هو مفعول اقراء الذى بعده** يا هلکه متعلق په اقراء ثاني پورې څه معنی؟ دا باسم
ربك مفعول دې د اقراء هغه چې پس ددې نه دې نو معترض راغې شبه ئې وکړه چې بيا اقراء اول بلا
مقروء پاتې شو که نه؟ وائي: **ومعنى اقراء الاول اوجد القراءة** نو فعل متعدي چې قراءة نازل دې په منزله د
لازمي کې **اوجد القراءة** څه معنی من غير اعتبار تعديته **الى مقرؤبه** شبه يا هلکه چرته فعل متعدي نه
لازمي راتللې شي؟ وائي: او، **كما فى فلان يعطى** نو دلته کې **يعطى** فعل متعدي دې مفعول ئې نه دې
ذکر شوې ځکه مقصود د متکلم صرف اثبات د اعطاء دې فلانکي ته او مقصود تعين د جنس دهغه
ما يعطى به نه دې چې څه شئ ورکوي هر څه ورکوي شبه يا هلکه دا مجيب څوك دې وائي: **كذا فى**
الفتاح دا جواب په مفتاح کې سکاکي بابا ويلې دې تعين د مجيب ئې وکړو.

اوس هغه دريم مبحث ددې باب ذکر کوي هغه داچې تقديم د بعضې معمولاتو د فعل په بعضو باندې نو وائي **وتقديم بعض معمولاته** ای معمولات الفعل **على بعض** په بعضو باندې کيږي لکه مثلاً تقديم د مفعول په فاعل باندې کيږي ځکه کيږي **اما لان اصله ای اصل ذلك البعض التقديم** تقديم دې **على بعض الاخر** معترض راغې شبه ئې وکړه چې دا قاعده ستا منقوضه شوه په واذابتلى ابراهيم ربه باندې دارنګې منقوضه شوه په ضرب زيدا غلامه باندې دلته کې اصل دفاعل تقديم خو نه دې جواب ئې وکړو چې **ولا مقتضى للعدول عنه** وي عن ذلك الاصل اوهلته مثالين مذکورين فى الاعتراض کې ښکته دې چې اضمار قبل الذکر لازميږي هغه معمول د فعل چې تقديم د هغې په نوروباندې اصل دې هغه **کالفاعل فى نحو ضرب زيد عمرا** کې ګورئ اوس فاعل کې اصل تقديم ځکه دې **لانه عمدة فى الكلام** او مفعول فضله وي او عمده مقدم وي په فضله او دويمه دويمه وجه داچې **وحقه ان يلى الفعل** اوس ددې تخصيص ددې مثال فائده وائي شارح چې شارح دا مثال وښودلو چې په نحو ضرب زيدا عمرو کې او داسې ئې اونه ويل چې **ضرب زيدا غلامه** نو ددې فائده وائي د تخصيص د مثال لپاره فائده وائي نووائي وانما قال فى نحو ضرب زيدا عمرو چې اتصال د ضمير نه مفعول پورې شوې دې اونه فاعل پورې دا مثال ئې ځکه خاص کړو **لان فى ضرب زيدا غلامه مقتضيا للعدول عن الاصل.**

والمفعول الاول فى نحو اعطيت زيدا درهما نو د اعطيت دا مفعول اول تقديم په مفعول ثاني باندې اصل دې اعطيت نه هر هغه باب چې متعدي وي دوو مفعولينو ته شبه ياهلکه دوو مفعولينو ته متعدي خو علم هم دې نو تاسو بل قيد کيدئ هر هغه باب چې متعدي وي دوو مفعولينو ته اوثاني غير وي د اول نه په مصداق کې **او علمت زيدا فاضلاً** کې فاضلاً غير د زيدنه په مصداق کې نه دې اوس **فان اصله** سره دليل وائي د متن لپاره وائي **فان اصله** اصل ددې مفعول اول تقديم دې په مفعول ثاني باندې ځکه **لان فيه من معنى الفاعلية** ځکه په دې مفعول اول کې معنى د فاعليت ده اودويم کې معنى د مفعوليت ماخوذيت ده ځکه په کې معنى د فاعليت ده چې وائي: **وهو واو**، په معنى د اذ سره کوئ **اذهو** ځکه دا مفعول اول چې **انه عالم** تفسير د غير مشهور په مشهور سره کوي **ای اخذ للعطاء** او ثاني ماخوذ دې نو هغه کې معنى دفاعليت ده او ده کې معنى د مفعوليت راغله.

او **لان ذكره** ياتقديم د يو معمول کولې شي په بل ځکه چې ذکر ددې بعضې چې مقدم شو اې **اهم** وي اوس معترض راغې شبه ئې وکړه په خله واورئ وړده شبه ده ددې ځای نه **جعل الاهمية** نه شروع ده تر **فمراد المصنف** هغې سره جواب دې حاصل دشبهې دادې چې مخکې په مسندالیه کې تا اهميت مقسم ګرځولې دې او اصل په مسندالیه کې تقديم تا قسم ګرځولې دې يا د پاره دتمکن د خبر په ذهن د سامع کې بل قسم يا تعجيل د مسرة يا تعجيل د مساءة دا تا اقسام د اهميت ګرځولې دي نوهلته کې

يا اهميت مقسم گرځولې دې شامل دې تولو اقساموته. نو يو په اقسامو د اهميت کې دادې چې اصل تقديم دې يا تمکين الخبر په ذهن د سامع کې يا **تعجيل المسرة** يا **تعجيل المساءة** دا قسام دي اولته کې تا اهميت قسيم او مقابل د اصل التقديم لپاره او گرځولو نو لازم شو مقسم د شي نه قسيم د شي او مقسم د شي قسيم د شي نشي کيدلې ځکه مقسم شامل وي هغه شي ته، اقساموته او قسيم مبائن وي د بل قسيم نه نو وائي وجعل الاهمية او گرځولو ماتن اهميت **ههنا** په دې ځای کې **قسيما** مقابل او ضد **لكون الإصل التقديم** لپاره ځکه او سره ئې ذکر کړې دې **وجعلها** ای وجعل الماتن تلك الاهمية **شاملا** يعنې مقسم ئې گرځولې دې **له** ددې الاصل التقديم لپاره **ولغيره** من الامور القضية **للتقديم** چې تمکين د خبر په ذهن د سامع کې يا تعجيل د مسرة يا تعجيل د مساءة اوس ددې لپاره ذوه تائيدونه ذکر کوي يو د سکاکي کلام سره وو او يو د شيخ عبد القاهر کلام سره وو ددې لپاره چې د مسند اليه په بحث کې تا اهميت مقسم گرځولې دې دا صحيح دې ځکه چې سکاکي په مفتاح کې هم دغسې ويلي دي او شيخ عبد القاهر هم دغسې ويلي دي **وهو** او دغه جعل د اهميت شامل لپاره د کون الاصل التقديم او د غير لپاره دا **الموافق** موافق دې **للمفتاح** يو غټ سړي سره موافق شو دويم **ولما ذكره الشيخ عبد القاهر** دهغه سره هم موافق دې هغه هم غټ سړي دې **حيث قال**، شيخ عبد القاهر هم ويلي دي انا لم نجد هم مونږ نه دې موندلې دې علماؤ د علم المعاني لره **اعتمدوا** ای ذلك العلماء **فی التقديم شيئا**، په يو شي باندې چې **يجرى مجرى الاصل غير العناية والاهتمام** چې جاري کيږي داشئ دا په مجرى د قاعدې کليې باندې په يو دليل باندې غير العناية الخ وائي دوی دا وائي چې **قدم المسند اليه** لانه مقصود قدم المسند اليه لانه مهتم بالشان دغه کرتې وائي او ددې د تقديم لپاره ئې څه قاعده کليه نه ده گرځولې.

ليکن شيخ وائي زما پرې اعتراض دې هغه دادې چې **لكن ينبغى ان يفسروجه العناية بشئ** چې دا مسند اليه مقصود د څه د وجې نه شو د څه سبب د وجې نه مقصود دې **ويعرف له معنا** او وپيژندلې شي ددې شي لپاره مزيت واعتبار، دا شيخ رد کوي په بعضې خلکو باندې **وقد ظن كثيرمن الناس انه يكفى ان يقال قدم اى المسنداليه للعناية او قدم المسند اليه لكونه اهم** وائي دا خلق خطاء دي ځکه خطاء ارم دي چې هلکه ددې عنايت لپاره سبب څه دې عنايت د څه نه راغې ددې اهميت لپاره سبب څه دې د څه د وجې نه راغې **من غيران يذكر** بغير ددکر ددې کثيرنه **من اين كانت تلك العناية وبم كان اهم** دا ورسره نه ذکر کوي نو د شيخ د کلام نه بهر حال معلوم شو چې مسند اليه کې اهميت مقسم دې شامل دې کون الاصل التقديم ته هم او غيرته هم او دلته کې ماتن قسيم وگرځولو نو تدافع د ماتن کلام کې راغله د سکاکي اود شيخ په کلام کې څه تدافع نشته دې.

نو اوس شارح د ماتن د طرفنه جواب کوي نو دې وائي گوره اهميت دوه قسمه دې يو اهميت ذاتي

دې يو اهميت عارضي دې يعنې يو اهميت عارضي دې او بل اهميت مطلقه دې لنډه خبره ده اهميت مطلقه چې هله ذاتي وي که عارضي وي نوښکته په مسند اليه کې چې ماتن اهميت مقسم کړځولې دې نو اهميت مطلقه چې دا اهميت د وجې د ذات د مسند اليه نه وي او که نه د وجې د عارض نه وي د ذات د وجې نه وي **لكونه الاصل** عارض د وجې نه وي تمكين الخبر او لتعجيل المسرة او تعجيل المساءة دغسې ئې ذکر کړل نو هلته کې مقسم اهميت مطلقه شو چې دا اهميت د وجې د ذات د مسند اليه نه يعنې ذات د مسند اليه غواړي تقديم که نه عارض د وجې نه وي اودلته کې دا اهميت چې ئې قسيم کړځولې دې دااصل لپاره نو دا اهميت عارضي دي يعنې متکلم قصد کړې دې چې دا اهم دې اود متکلم د قصد سره چې کوم اهميت راشي نو هغه عارضي وي دارنګې د سامع د قصد سره چې راشي نو هغه اهميت عارضي وي نو فمراد المصنف بالاهمية ههنا الاهمية العارضة بحسب اعتناء المتكلم او السامع بشانه **والاهتمام بحاله** ای بحال ذلك المعمول **لغرض من الاغراض** لکه وروستو هغه غرض راروان دې شارح ئې ذکر کوي هغه غرض د اغراضونه دادې چې دا مقصود د متکلم دې يا مقصود د سامع دې مثال داسې شو کقولك قتل **الخارجي فلان** نو اوس دلته ئې مفعول مقدم کړوپه فاعل باندې دا مثال مطابق د ممثل سره دې ځکه لان الاهم فی تعلق القتل هو الخارجي المقتول ځکه مقصود د متکلم قتلول ددې خارجي دي چې مقتول دې ځکه **ليتخلص الناس من شره** قاتل مقصود نه دې قاتل مسلمان وي که يهودي وي که نصراني وي که هند وي که منافق وي که مشرك وي هرڅوك چې وي خودې زما مقصود دا خارجي قتلول دي چې خلق دده د شر نه خلاص شي.

اولان فی التاخير اخلالاً ببيان المعنى تقديم د معمول کوي د بعضې په بعضو باندې ځکه چې وائي په تاخير کې نقصان وي په بيان د معنی سره نو په تاخير د يو معمول سره د بل نه نقصان راځي په معنې کې اوپه تقديم سره هغه نقصان ختميږي ددې وجې نه تقديم کوي **نحو وقال رجل مؤمن من ال فرعون يكتم ايمانه** دليل التطبيق **فانه** الشان **لو اخر قوله** ای قول الله من **ال فرعون** او ايمان پټول خو حرام دي نو **فلم يفهم انه** ای ذلك الرجل **كان منهم ای من ال فرعون** نه وو او که نه د نبي اسرائيلو نه وو او چې تا وويل چې وقال رجل مؤمن خودا د من ال فرعون نه وو او خپل ايمان ئې ساتلې وو چې د ضرورت په وخت کې به زه چغه کوم اوس وائي موقع نه ده نو چې ضرورت راغې نو چغه ئې وکړه قال يقوم مالي ادعوكم الى النجاة وتدعونني الى النار اتقتلون رجلاً ان يقول ربي الله دانه چې همېشه ئې ايمان پټ ساتلې وو ګوټ کې دننه ئې ځان له شيخي کوله خو موقع شناس وو چې اوس د چغې موقع نه ده چې موقع راغله ميدان ته راووتلو نو اخر نوبت ديته راغې چې ځان ئې شهيد کړو قتل شو فستذكرون ما اقول لكم وافوض امري الى الله يوتن وو ان ابراهيم كان امة كانتا لله حنيفا خو الله وائي بهادر وو کنه نو

فرعونیان فرعون د ټول مصر بادشاه وو جابر متمرد وو دهغه په مخکې ودریدلو او تقریر ئې ورته وکړو او هغه سره ئې مناظره کړې ده سورت المؤمن ټول په دې باندې روان دې

والحاصل سره شارح یو حاصل ددې متن ذکر کوي او بل دا ذکر کوي چې ددې **رجل** لپاره الله په قران کې درې اوصاف ذکر کړي دي اودریم غرض د شارح دادې چې وجه ذکر کوي د بعضې اوصافو په بعضو باندې نو وائي حاصل دادې **انه ذکر الرجل** ددې رجل مؤمن لپاره **یا انه ذکره** شان دادې ذکر کړي دي الله **یا انه** الله ذکر کړي دي ددې رجل مؤمن لپاره **ثلاثة اوصاف** یوصفت د ایمان **قدم الاول** په نورو باندې **اعنی مؤمن لکونه اشرف** ځکه ایمان په ټولو اوصافو کې اشرف صفت دې **ثم الثانی** بیا ئې مقدم کړې دې ثاني وائي: **لئلا یتوهم خلاف المقصود** که اوس متن کې لاړو نو ثالث بس اخر ته پاتې شو نو چې هغه **یکتم ایمانه** دریم دا شو

او لان فی التاخیر اویا په تاخیر د معمول کې **اخلالا** وائي: نقصان وي **بالتناسب** په تناسب د رؤوسو د ایاتونو کې نقصان راځي **کرعایة الفاصلة نحو فاوجس فی نفسه خیفة موسی** نو خیفةً مفعول ئې مقدم کړو په موسی باندې چې فاعل دې ولې وائي: **بتقدیم الجار والمجرور فی نفسه** یو **والمفعول** چې خیفةً **علی الفاعل** ځکه **لان فواصل الایة علی الالف المقصور** وائي: ځکه چې فواصل د ایاتونو په الف مقصوره باندې دي نو که اوس داسې وائې چې فاوجس موسی فی نفسه خیفة نو دفاصلې موافقت نه راځي نو تقدیم د فی نفسه ئې وکړو او خیفةً ئې وکړو په موسی باندې چې فاصله موافق شي ځکه ددې ټول ایاتونو اخر په دې فاصله چې الف مقصوره باندې دي دلته کې هم د فاصلې د رعایت لپاره دي

دیته امتزاج د شارحینو وائي چې یو متن د بل متن څخه ممتزج کول دي ممتزج دیته وائي چې اول بحث په داسې لفظ باندې ختم کړي چې بل بحث په هغه لفظ باندې شروع کړي نو شارح اول بحث ختم کړو په **لان فواصل الای القصر** وائي: فواصل د ایاتونو په الف مقصوره دي نو وائي: **القصر**

القصر

ماتن وويله چې **القصر** وائي پنځم باب د اتو ۸ بابونو د فن اول نه قصر دي
ماتن د قصر معنی لغوي او اصطلاحي نه وه بيان کړي، شارح يې بيانوي. ماتن نه وه بيان کړي خکه مبنی د متونو بناء بر اختصار وي، او شارح يې بيانوي خکه شارح ذمه واري اخستي ده د توضيح او تشريح د متن، نو وائي **في اللغة الحبس** قصر په لغت کې بندولو ته وائي، خکه قران کې راځي احور مقصورات في الخيام مقصورات معنی محبوسات في الخيام. **وفي الاصطلاح** او په اصطلاح کې قصر وائي **تخصيص شئ بشئ بطريق مخصوص** بندول د يو شي دي په بل شي پورې، نو دلته کې عام دي، د شئ اول نه موصوف واخلئ او شئ ثاني نه بشئ کې صفت واخلئ، لکه دا په قصر د موصوف على الصفة کې شو، يا د شئ اول نه صفت واخلئ او د **بشئ** نه موصوف واخلئ، دا په قصر د صفة على الموصوف کې شو، دواړه قسمه اخستل جائز دي. اوس شبهه راغله چې هلکه بناء په دې باندې **زيد مقصور على القيام** دلته کې تخصيص شئ بشئ راغلي دي حالانکه ديته څوك قصر نه وائي، نو شارح جواب وکړو **بطريق مخصوص** يا هلکه په طريقه مخصوصه سره چې هغه څلور طريقي دي چې وروسته راروانې دي **له اربع طرق** د قصر لپاره څلور طرق دي، او په زيد مقصور على القيام کې د هغه څلورو طريقو نه يوه طريقه هم پکې نشته دي.
اوس صرف دومره شبهه کيږي چې د نحوي قانون دا دي چې دوه جارين د جنس واحده نه په يو فعل پورې نشي متعلق کيدي، دوه جارين چې لفظ هم يو وي او معنی هم يوه وي او يو فعل پورې متعلق شي دا نشته دي، دا جائز ندي، په شريعت نحوي کې، او د شارح په کلام کې خو راغلل، خکه **بشئ** کې دا باء هم متعلق ده په **تخصيص** پورې او **بطريق** کې دا باء هم متعلق ده په تخصيص پورې، نو تعلق د دوو جارينو راغي په عامل واحده پورې او دا لايجوز دي، خو تاسو به جواب وکړئ چې هلکه دا دوه جارين اګر که لفظ کې دواړه متحد دي خو معنی کې متحد ندي، خکه وائي **بشئ** کې باء د تعديت او د الصاق لپاره ده او **بطريق مخصوص** کې دا باء لپاره د استعانت ده، نو دا دواړه جارين د جنس واحد نه نشو، د لفظ په اعتبار سره يو شو خو معنی کې يې فرق دي بون بعيد دي.
اوس شارح تقسيم کوي **وهو حقيقي وغير حقيقي** وائي دا قصر يو حقيقي دي او بل غير حقيقي دي، اوس غرض د شارح د **لان** نه تر راتلونکي متن **وكل منهما** پورې دا دي چې دليل وائي د حصر لپاره چې قصر په دوه قسمه حقيقي او غير حقيقي کې ولې منحصر دي؟ دويم غرض د شارح دفع د توهم کوي چې يا هلکه حقيقي نه مراد هغه مقابل د مجاز به شي؟ او د غير حقيقي نه مراد مجازي به شي؟ نو دا خو بيا نه صحيح کيږي خکه قصر خو په دواړه قسمينو سره حقيقي دي، مجازي خو پکې نشته دی،

نو شارح راغي **لان تخصيص الشئ بالشئ** سره جواب کوي چې حقيقي دلته کې مقابل د مجازي ندي، او غير حقيقي مجازي ندي بلکه حقيقي او غير حقيقي قصر کې په بله معنى سره دي، دريم غرض د شارح دا دي چې توضيح کوي د قصر حقيقي او غير حقيقي په مثال سره، او تعريف کې د هر يو لپاره، يعني تعريف د هر يو او توضيح بالمثال کوي، څلورم غرض د شارح اخير کې دفع د اعتراض کوي و **انقسامه** سره په ماتن باندې يو اعتراض واردیدو هغه په **وانقسامه** سره دفع کوي، دا څلور اغراض شو د شارح، نو فرمائي چې **لان تخصيص الشئ بالشئ** وائي: قصر د يو شي په بل شي پورې **اما ان يكون بحسب الحقيقة** يا به په اعتبار د حقيقت سره وي **وفي نفس الامر** في نفس الامر يې څکه ولګولو، ناکت ليکلي دي **عطف تفسير** دا عطف تفسير دي.

شبهه: د عطف تفسير نه غرض څه دي؟ عطف تفسير يې ولې وکړو، د دفع د توهم لپاره چې **بحسب الحقيقة** مقابل د مجاز به وي؟ چې **اما بحسب الحقيقة** معنى په اعتبار د حقيقت سره يعني مجاز به نه وي، دا معنى به وي، نو عطف تفسير يې وکړو چې **ان يكون في نفس الامر** حقيقت دلته کې مقابل د مجاز ندي، حقيقت دلته کې په معنى د نفس الامر سره دي، څکه حقيقت په معنى د شئ ثابته في نفس الامر سره راځي: لکن په دې باندې اشکال واردیږي چې دا تفسير شارح غلط ګرځولي دي، څکه چې په نفس الامر کې څنګه چې **تخصيص شئ بشئ** چې په قصر حقيقي کې دي نو داسې په قصر غير حقيقي کې هم دي په نفس الامر کې کنه، لکه ته راتلونکي مثال کې ګوره چې زيد مقصور کړي په قيام پورې متجاوز د قيام نه قعود ته ندي، نو دا هم په نفس الامر کې دي، نو **في نفس الامر** قيد دا مخل شو دا بنه قيد ونشو، څکه نفس الامر کې خو دواړه دي، نو تاسو به ترينه جواب وکړئ چې خبره دي ټيک ده چې په نفس الامر کې په دواړو کې تخصيص شئ بشئ په نفس الامر کې دي، خو وجه په دي کې بله ده، چې قصر حقيقي کې تخصيص شئ بشئ په نفس الامر کې فقط دي، د مخاطب د حال لحاظ ندي شوي، لکه اوس متکلم ووائي چې **ما زيد الا قائم** زيد مقصور دي په صفة القيام پورې متجاوز بل هيڅ صفت ته ندي، نو دلته کې د مخاطب څه لحاظ ونشو، او په قصر غير حقيقي کې تخصيص شئ بشئ په نفس الامر کې دي سره د لحاظ د حال د مخاطب نه، فقط ندي، که ته وائي چې يا هلکه **ما زيد الا قائم** زيد مقصور دي په قيام پورې اي مخاطبه متجاوز د قيام نه قعود ته ندي بل يو صفت ته متجاوز ځانله دي کې وي، نو په قصر حقيقي کې په نفس الامر کې فقط شو تخصيص شئ بشئ، او په غير حقيقي کې نفس الامر کې شو سره د رعايت د حال د مخاطب نه، داسې **بان لا يتجاوزه** نه تيروځي دغه شئ اول **الى غيره اصلا** غير ته نه ورځي يعني نه کل اغيارو ته او بعضې اغيارو ته **وهو الحقيقي** او ديته قصر حقيقي ويلي شي لکه **ما خاتم الانبياء الا محمد** صلى الله عليه وسلم، ختم الانبياء مقصور دي په محمد صلى الله عليه وسلم پورې متجاوز د ده نه بل بعضې نبي ته هم ندى او کل انبياؤ ته هم ندى.

او بحسب الاضافة يا په اعتبار د اضافت سره شي اخر ته، يعني دغه شئ مقصور په دې پورې دي خو لکن په نسبت سره ده ته دا پکې نشته، متجاوز ده ته ندي، بل يو له ځانله دي، داسې **بان لا يتجاوز** چې نه تير اوځي دغه مقصور **الى ذلك الشئ** دي شئ معين ته نه ورځي، لکه **ما زيد الا قائم** يا هلکه مقصور دي قيام پورې شي معين ته متجاوز ندي چې قعود دي **وان امكن ان يتجاوزه** اګر که ممکن دي چې متجاوز شي دغه مقصور شئ اخر ته **في الجملة** يعني په بعضې امثلو کې، داسې چې **ما زيد الا قائم** زيد مقصور دي قيام پورې متجاوز قعود ته ندي، ضحك، كتابت، صفت پکې نشته دي، اكل، شرب پکې شته دي **وهو غير حقيقي** او ديته غير حقيقي ويلي شي **بل اضافي** بلکه ديته اضافي ويلي شي، اوس مثال بنائي **كقولك ما زيد الا قائم** د دې معنى **بمعنى انه لا يتجاوز القيام الى القعود** د دې معنى دا ده چې نه تيروځي د قيام نه قعود ته، دا معنى شوه، نور صفات دي وي پکې، نورو نه دي تيروتي وي **لا بمعنى انه لا يتجاوزه الى صفة اخرى** په دي معنى سره نه چې دغه زيد نه تيروځي د دې قيام نه بل صفت ته **اصلا** نه بعضې صفاتو ته نه کل ته **وانقسامه** سره دا دفع د اعتراض کوي، اعتراض په ماتن باندې وارد شو، اعتراض دا وارد شو چې اي هلکه تا د حقيقي نه مراد غير اضافي واخستلو، او غير حقيقي نه تا اضافي واخسته، نو قصر خو دي اضافي، مقسم خو اضافي دي، ځکه و قال فيما بعد **الاضافة** ځکه اضافي ديته وائي چې د هغې تعقل موقوف وي د تعقل د غير پورې، نو تخصيص شئ بشئ کې دا اضافي دي، د تخصيص تعقل موقوف دي د تعقل د مقصور او مقصور عليه پورې، نو قصر مطلقًا اضافي شو، نو تقسيم د دې قصر غير حقيقي ته الى نفسه شو او حقيقي ته الى غيره شو، هر تقسيم چې شان يې دارنګه وي، باطل وي، نو دا تقسيم هم باطل شو

نو **وانقسامه** سره شارح جواب کوي چې ته پوهه شوي نه يې کنه، دلته کې اضافتونه دوه دي، يو اضافت د قصر دي مقصور، مقصور عليه ته چې تخصيص شئ بشئ دي، يو دا اضافت دي، دا اضافت زه مقسم نه ګرځوم، ځکه دي خو دي اضافي نو دي غير اضافي نشي کيدي، دا زه مقسم نه ګرځوم چې تخصيص شئ بشئ دوه قسمه دي يو حقيقي دي او بل غير حقيقي دي، ځکه بيا شبهه راځي چې دا تخصيص شئ بشئ خو دي اضافي نو د دې تقسيم غير حقيقي ته الى نفسه شو او حقيقي ته الى غيره شو، مقسم دا ندي، بل کې زه د حقيقي او د غير حقيقي مقسم بل اضافت ګرځوم، چې که دغه مقصور متجاوز د مقصور عليه نه بعضې صفت ته وي او بعضې ته نه وي، دا اضافي او غير حقيقي دي، نو د حقيقي معنى دا چې په اضافت او په نسبت سره کل ما عدا ته وي، غير حقيقي معنى دا چې په اضافت سره بعضې ما عدا د مقصور عليه ته وي، نو ځکه وائي چې **وانقسامه** او تقسيم د دغه قصر **الى الحقيقي والاضافي بهذا المعنى** چې کومه معنى تيره شوه، هغه عدم تجاوز مقصور دي د مقصور عليه نه کل ما عدا ته نه وي نو حقيقي شو او عدم تجاوز د مقصور د مقصور عليه نه يعني ما

عدا ته شي نو هغه غير حقيقي شو، نو په دي معنى سره **لا ينافي كون التخصص** كون د تخصيص او د قصر **مطلقا**: چې حقيقي وي كه اضافي وي **من قبيل الاضافات** ځكه اضافت ديته وائي چې تعقل د هر واحد موقوف د تعقل د بل پورې وي.

وكل منهما اي من الحقيقي و غيره، هر واحد د دې حقيقي او غير حقيقي نه **نوعان** نو څلور قسمه شو، يو دا دي **قصر الموصوف على الصفة** اوس قصر الموصوف على الصفة تعريف كوي وائي هغه مقصور **هو ان لا يتجاوز الموصوف** چې مقصور دي **من تلك الصفة الى صفة اخرى** بل صفت له د سره متجاوز نه وي **لكن يجوز ان تكون تلك الصفة لموصوف اخر** هان دا صفت د بل موصوف هم كيدي شي، خو دغه موصوف په دي صفت پورې خاص دي، دويم قسم **و قصر الصفة على الموصوف و هو** او هغه دا دي **ان لا يتجاوز تلك الصفة** چې متجاوز نشي نو قصر حقيقي شو، كه بعضې ته شو نو اضافي شو **لكن يجوز ان يكون لذلك الموصوف صفات أخر** دي وي، اوس دا صفت صفت پكې راغي، نو د صفت نه مراد صفت نحوي به وي؟ نو دا جواب كوي **و المراد بالصفة** چې مراد په صفت سره **المعنوية** شبهه راغله چې په توابعو كې د صفت نه مراد خو معنوي نشي كيدي، نو ده جواب وكړو چې **ههنا** وائي: مراد په صفت سره په دي باب القصر كې صفت معنوي دي، د صفت معنوي تعريف كوي **اعنى المعنى القائم بالغير** المعنى مقابل د لفظ نده، معنى هغه عرض چې قائم وي غير پورې **لا النعت النحوي** نعت نحوي دلته كې مراد ندي **اعني** سره د نعت نحوي تفسير كوي په طور د شارح رضي باندې نه په طور د ابن حاجب باندې، نعت نحوي ديته وائي **اعنى التابع الذي يدل على معنى** هسې معنى چې كائن وي **في متبوعه** ابن حاجب اوس مطلقًا ويلي دي شارح رضي **غير الشمول** سره تاكيد خارج كړي دي، لكه اوس جاءني رجل عالم شو نو دا عالم يو تابع دي يو صفت دي دلالت يې وكړو په يوه معنى باندې چې علم دي د غه علم كائن په رجل كې دي، او شمول پكې نشته دي، كل، اجمع، دا بلا بترونه پكې نشته دي.

سائل سوال وكړو: چې هلكه صفت نحوي او صفت معنوي كې څه نسبت دي؟ تباين دي كه مساوات دي، كه عموم خصوص من وجه دي كه عموم خصوص مطلق دي، نو شارح جواب وكړو چې **وبينهما** وائي: په ما بين د صفت معنوي او نحوي كې **عموم من وجه** دي، عموم خصوص من وجه دي، مساوات نشته، مباينت نشته، عموم خصوص مطلق نشته دي، يا هلكه عموم خصوص من وجه دري مادي غواړي يوه ماده د اجتماع دوه مادي د افتراق، وائي: ماده د اجتماع **لتصادقهما في مثل اعجبني هذا العلم** نو العلم د هذا لپاره صفت نحوي هم دي معنوي هم دي ځكه علم قائم په عالم پورې دي، **و تفارقهما** او جدا كيدل د دې دواړو **في مثل العلم حسن** نو العلم مبتداء حسن خبر دي، نو حسن دا صفت معنوي دي ځكه حسن قائم وي په علم پورې، او حسن صفت نحوي ندي دا ماده د افتراق شوه د جانب د معنوي نه و **مررت بهذا الرجل** دا ماده افتراقي ده د صفت نحوي د جانب نه، ځكه الرجل صفت نحوي د هذا لپاره دي

او صفت معنوي ندي ځکه رجل قائم بالغير خو ندي معترض راغی شبهه يې وکړه چې يا هلکه حصر د قصر په قسمينو کې نه صحيح کيږي چې قصر د موصوف على الصفة او صفة على الموصوف، دا نه منم، ځکه په دې امثله ؤ راتلونکو ثلاثه ؤ کې چې **ما زيد الا اخوك** او **وما الباب الا ساج** او **وما هذا الا زيد** دا قصر دی او نه قصر د موصوف دی په صفت پورې، ځکه که قصر الموصوف شي نو اخوك خو صفت ندی هغه خو ذات دی، دارنګه ساج خو ذات دی، دارنګه زيد ذات دی، نو قصر د موصوف على الصفة خو نشو، او نه قصر د صفة على الموصوف دي، ځکه زيد صفت ندي باب صفت ندي، هذا صفت ندي، دې سره ذات ته اشاره کيږي، نو په دي امثلو ثلاثه ؤ کې قصر راغلی دی، او نه قصر د موصوف على الصفة دي او نه قصر د صفت على الموصوف، نو شارح جواب وکړو چې هلکه دلته کې قصر د موصوف على الصفة دي خو صفت اګر که حقيقةً ندي خو تاويلاً، تقديراً دي، تقديراً نه مراد تاويلاً، مونږ تاويلاً صفت ترينه جوړوو، وائي: **واما نحو قولك ما زيد الا اخوك وما الباب الا ساج وما هذا الا زيد فمن قصر الموصوف على الصفة** دي خو تقديراً يعنې تاويلاً دي تاويلاً صفت به راولو **اذ المعنى انه** اي موصوف مقصور على الاتصاف بكونه اخًا او ساجًا [ساج شوي ته وائي] او زيداً يعنې بكونه اخًا بكونه ساجًا، بكونه زيداً منه، نو دا تاويلاً صفت شو، نو قصر الموصوف على الصفة راغي.

والاول او اول، شبهه: يا هلکه اول نه مراد اول هغه ښکته تقسيم به وي، قال بعد قولًا حيث يعلم انه لا ذلك و قال نه تعين د اول کوي چې اول څوك دي وائي: **اي قصر الموصوف على الصفة من الحقيقي** مثال داسې شو **نحو ما زيد الا كاتب اذا اريد انه اي زيد لا يتصف بغيرها** اي غير الكتابة **وهو** دغه قسم **لا يكاد** قريب ندي **يوجد** چې موجود شي، نو چې وجود ته قريب نه شو نو وجود په طريق اولى سره نشته دي يعنې ممتنع شو، وائي: **لتعذر الاحاطة بصفات الشئ** ځکه ټول صفات د زيد متكلم ته معلوم ندي، چې ته ووائي چې نور ټول صفات نشته دي په ده کې سوا د کتابت نه **حتى يمكن** دا تفريع شوه وي تر دي چې ممكن شي **اثبات شئ منها** اي من تلك الصفات چې کتابت دي **ونفي ما عداها بالكلية بل** دا اضراب دي د دې متن نه، دا قريب ندي وجود ته ـ لايكاد يوجد ـ اي هلکه قريب وجود ته درکنار **بل هذا محال** دي، دويم دليل شارح وائي محال لپاره [د عدم وجود د دې لپاره، فافهم لانه لم يذكر الدليل الاول للمحال حتى يذكر الثاني] وائي: **لان الصفة المنفية نقيضا وهو من الصفات التي لا يمكن نفيها** ځکه نقيض پورته شي نو دا صفت نشي پورته کيدي ځکه بيا خو ارتفاع د نقيضينو راځي **ضرورة امتناع ارتفاع النقيضين** مثلًا مثال په طور سره مونږ تاسو پوهه کوي **مثلا اذا قلنا ما زيد الا كاتب واردنا انه** اي زيد **لا يتصف بغيرها** اي الكتابة، نو **لزم ان لا يتصف بالقيام ولا بنقيضه وهو محال** ارتفاع د نقيضينو راغله.

والثاني شارح تعين مصداقي د ثاني کوي اي قصر الصفة على الموصوف من الحقيقي **كثير** وائي: دنيا ډکه ده **نحو ما في الدار الا زيد** معترض راغي شبهه يې وکړه چې هلکه مثال مطابق د ممثل سره نه

شو، څکه ممثل خو قصر د صفت على الموصوف دي او دا خو صفت ندي دا خو ذات دي، ديته خو څوك صفت نه وائي، نو شارح راغي جواب يې وکړو چې اي هلکه صفت عام دي چې صفت حقيقةً وي که تاويلاً وي نو دلته کې اګر که صفت حقيقي نشته دي خو صفت تاويلي شته دي **على معنى ان الحصول في الدار المعينة** دا اوس صفت شو، حصول په دار معينه کې، معينه کې يې اشاره وکړه چې دار کې دا الف لام عهد خارجي دي **معهود** ترينه دار معينه دي **مقصور** يعني دا حصول مقصور دي **على زيد** په زيد پورې.

وقد يقصد به اي بالثاني چې قصر الصفة على الموصوف په قصر حقيقي سره **المبالغة** دروغ، وي څکه **لعدم الاعتداد بغير المذكور** د وجې د عدم اعتماد نه په غير مذکور باندې، متکلم وائي چې **هغه** غير مذکور کان لم يکن دي، هيڅ شي ندي، لکه اوس په کور کې زيد هم وي، لسم زيد او نهه کسان نور پکې وي، خو ټول دا نهه واړه لالاګان وي **هسې** سړي کرتي وي، صورت د سړو، ورنه نو پکې **هو كل على مولاه** ټول لالاګان وي، نو ته وائي چې **ما في الدار الا زيد** په دي دار کې هيڅ څوك نشته سوا د زيد نه، يا هلکه هغه نور خو شته دي کنه نو دروغًا مبالغةً يې وويله چې نه، د هغوی شته والي داسې دي لکه نشتوالي، د هغوی شته والي او نشتوالي يو شانته دي **كما يقصد بقولنا ما في الدار الا زيدان جميع من في الدار ممن عدا زيدا في حكم العدم فيكون قصرا حقيقيا ادعائيا** نو قصر حقيقي نفس الامري شو، او دا قصر حقيقي ادعائي شو، متکلم دعوى وکړه چې دا نهه کسان مقابله د زيد کې ګڼ لم يکن دي نو **ما في الدار الا زيد** قصر صحيح شو.

دې راتلونکي عبارت سره دفع د اعتراض کوي چې يا هلکه دا قصر ادعائي په قصر غير حقيقي کې به نه راځي؟ نو وائي: نه، نه دفع د توهم کوي چې دا قصر ادعائي به په قصر غير حقيقي کې به هم راځي وائي: نه هلته کې نشي راتلي، وائي: اما في القصر الغير ــ الخ، بعضې ما عدا ته شو.

والاول شارح تعين مصداقي د اول کوي، څکه چې مخکې په عنون د اول او ثاني سره ندي تير شوي **اقسام د غير حقيقي** نو شارح تعين مصداقي کوي، څکه چې په دي عنوان سره مخکې تير نه شو نو اول خو قصر د موصوف على الصفة ته هم وائي او قصر د صفة على الموصوف ته هم ويلي شي، څکه هلته کې خوئي صرف دا ويلي دي چې **وكل منهما نوعان** اول او ثاني نشته، دا دي قصر الموصوف على الصفة و قصر الصفة على الموصوف، نو صراحةً مخکې عنوان د اول او ثاني ذکر ندي نو چې صراحةً مخکې ذکر نه شو نو اوس شارح يې تعين کوي، نو تعين ته هم حاجت راغي، هغه دا دي چې **قصر الموصوف على الصفة** دي، خو دا اول يو د حقيقي نه وو او بل د غير حقيقي نه نو دلته کوم يو وائي نو وائي: **من غير الحقيقي** وايم، نو حقيقي مخکې تير شوی دی، اوس غير حقيقي څه ته وائي؟ **تخصيص امر خاص كول**، قصر کول د موصوف دي **بصفة** په يو صفت سره **دون صفة اخرى** دا په قصر افراد کې، څکه چې قصر افراد دي که قصر قلب که قصر تعيين دا په قصر غير حقيقي کې راځي دا په حقيقي کې نه راځي، او يا

تخصيص د يو امر دي يو موصوف دي په يو صفت پورې **مكانها** په ځای د صفت اُخری کې، دا په قصر قلب کې **اي تخصيص امر** دا عطف ته اشاره کوي چې دا مکانها عطف دي په **دون** باندې، نو ما قبل د معطوف عليه نه کالمعاد وي په معطوف عليه کې، نو هغه قاعدې ته اشاره کوي **اي تخصيص امر** چې موصوف دي **بصفة مكان صفة اخرى** او تعين د مرجع يې هم وکړو چې **مكانها** کې ضمير، صفت ته راجع دي

والثاني ثاني چې قصر الصفة على الموصوف من غير الحقيقي نه، تعين د ثاني يې وکړو **تخصيص صفة** بندول د يو صفت دي **بامر** په يو موصوف پورې **دون امر اخر** نه موصوف اخر پورې، دا په قصر افراد کې، يا **او مكانه** يا په ځای د امر اخر کې، دا په قصر قلب کې

وقوله دون اخرى د دينه غرض د شارح دا دي چې دلته کې د **دون** معنی مراد بيانوي او وروسته چې بيانوي چې **و معنى دون** [د لاندې طرفه دويمه کرخه] نو هغه معنی لغوي اصلي بيانوي، او دلته کې د **دون** په دې ځای کې معنی مراد بيانوي چې دلته کې دون په څه معنی سره مستعمل ده، دويم غرض د شارح دا دي چې ترکيب ته اشاره کوي چې دون په ترکيب کې څه واقع شو، وائي: دا حال واقع شوي دي په معنی د **متجاوزاً** سره، نو وائي **وقوله اخرى معناه متجاوزاً** په حال کون د دغه امر کې چې تيروتونکي وي **عن الصفة الاخرى** د صفت اُخری نه، او د صفت اُخری نه به ځکه تيرووځي چې **فان المخاطب اعتقد اشتراكه** وائي: ځکه مخاطب عقيده د اشتراك د موصوف ساتلي وه **في صفتين** په دواړو صفتينو کې **والمتكلم يخصصه باحداهما** او متکلم خاص کوي دغه موصوف په يو د دې دواړو پورې، **ويتجاوز عن الاخر** او متجاوز کوي يې د بل نه، نو دلته کې دون په معنی د متجاوزاً سره شو، او ترکيب کې حال واقع شو د **امر** نه چې هغه مضاف اليه د تخصيص دي او مضاف اليه د مصدر فاعل وي يا مفعول وي، نو حال ترينه صحيح شو، **و معنى دون** دي سره غرض د شارح دا دي چې د دون معنی اصلي ذکر کوي لغوي، چې معنی مراد د دون خو په معنی د متجاوزاً سره شو، تجاوز سره شو، نو اصل معنی د دون وائي: هم دغه دي؟ وائي: نه نه، اصل بله ده، يو ديته اشاره کوي، دويم اشاره کوي چې دون کې دوه ټکه راغلي دي، يو نه دی، نو وائي **و معنى دون في الاصل** په اصل لغت کې ويلي شي **ادنى مكان من الشئ** يعني محسوساتو کې مستعملېږي، بنکته کيدل د يو مکان دي د بل مکان نه، لکه: هذا البيت دون ذاك البيت، دغه کور بنکته دي د دې بل کور نه، ويلي شي نو دا په محسوساتو کې مستعملېږي **يقال هذا دون ذاك** وائي: دغه شي بنکته دي د دې بل نه، هغه **اذا كان احط منه قليلا** کله چې وي دغه شي بنکته په حسن د دې بل نه لږ غوندې بنکته، نو دا دون په اصل معنی کې په بنکته والي کې مستعملېږي خو په حسي بنکته والي کې، نه په رتبې کې، نو اجسامو کې راځي **ثم استعير** بيا نقل کړي شوي دي دا لفظ د دون **للتفاوت** لپاره د امتياز او فرق په دوو څيزونو کې **في الاحوال والرتب** او احوال او رتب [جمع د رتبة] د محسوساتو نه نه دي، لکه اوس ته ووائي چې **زيد دون عمرو في** العلم، و الجود، و الفقه، في العقل، يعني زيد د عمرو نه لاندې دي په رتبه

کې په صفاتو کې، چې هغه صفت د علم دي عقل دي جود دي و غیره، نو د مخکنۍ معنی نه دون لږ غوندې عام شو، منقول عنه لږ دا منقول الیه عام شو، ځکه چې دا په محسوس او غیر محسوس دواړو کې راغی، دویم نقل په دې کې شوي دي **ثم اتسع فیه** بیا د دینه په دې کې فراخي شوي ده، نو بیان د فراخۍ کوي **فاستعمل** پس مستعمل کړي شوي دي دغه لفظ د دون في کل تجاوز حد الی حد و تخطي حکم الی حکم، په هر هغه شي کې چې متجاوز شي د یو حد نه بل حد ته، د یو حکم نه بل حکم ته، لکه مخکښې دا موصوف مقصور دي په دي صفت کې او متجاوز ندي د دې صفت نه دي بل ته ندي تلي [شیخ سلمه الله په کتو سره اشارات وفرمائیل] نو دا د هغې نه عام شو، اوس په احوالو کې وي په رتبو کې وي که په ذواتو کې وي که په صفت موصوف کې، هر څنګه چې وي نو عام شو.

اوس **و لقائل ان یقول** سره دا شبهه کوي او ځانله ځې جوابونه موابونه نه کوي، نو وائي **و لقائل** شته دي یو ویونکي لپاره **ان یقول** چې هغه ووائي په اعتراض کې چې **ان ارید بقوله** که اراده وکړي شي په دي قول د ماتن سره په قصر د موصوف علی الصفة کې او غیر حقیقي نه په دې ځای کې چې **دون أخری** او په قصد د صفة علی الموصوف کې **دون اخر** دا اراده کړي چې **دون صفة واحدة أخری و دون امر واحد اخر** دون نه دغه صفت واحده أخری وکړي شي او دون د امر واحد اخر وکړي، که دا اراده کوي نو بیا تعریف د دې قصر د موصوف علی الصفة وي او که قصر د صفت علی الموصوف وي جامع نه شو خپلو افرادو ته **فقد خرج عن ذلك** خارج شوي د دې نه **ما** هغه قصر **اذا اعتقد المخاطب اشتراك** کله چې عقیده ساتله مخاطب د اشتراك د موصوف په صفت کې، اشتراك د صفت په موصوف کې **ما فوق الاثنین** نه، چې د دوو نه بره وي په دریو کې یې [عقیده د] اشتراك ساتله، لکه **کقولنا ما زید الا کاتب** ته ووائي په قصر د موصوف علی الصفة کې **ممن** د هغه مخاطب لپاره چې **اعتقده** هغه عقیده ساتي په دي زید باندې د **کاتبا و شاعرا و منجما** په دریو کې یې اشتراك وکړو، نو اوس دلته کې ستا دا تعریف ورله ورځي؟ وایه نه، اوس وایه چې مونږ دلته کې تخصیص د زید وکړو په کاتب پورې نه په صفت أخری پورې، نو صفت أخری خو یو ندي، صفة واحدة أخری خو ندي بلکه دوه صفات دي نو **دون صفة واحدة أخری** نشي ویلي، او قصر د صفت علی الموصوف کې به داسې وائي چې **و قولنا ما کاتب الا زید** ته ووائي **لمن** د هغه مخاطب لپاره چې **اعتقد** چې هغه عقیده ساتي **الکاتب** د زیداً و عمراً **وبکرا** د دریو کسانو، نو اوس تا تخصیص د صفت وکړو چې کاتب دي په زید پورې **دون امر واحد اخر** نو **دون امر واحد اخر** خو ندي دوه دي اي چې عمرو او بکر دي، نو یو شق [د اعتراض] خو دا شو، او **و ان ارید اعم من الواحد و غیره** چې هلکه **دون صفة أخری** وایم چې یو وي که ډیر وي **دون امر اخر** عام دي چې یو وي که ډیر وي، نو بیا تعریف د قصر مانع نه شو د دخول د غیر نه **فقد دخل في هذا التفسیر القصر الحقیقي** ځکه قصر حقیقي هم دغه دي کنه چې دون صفة اخری، دون امر اخر عام دي چې یو وي که ډیر وي، **و کذا الکلام** دغسې اعتراض دي **الکلام** نه مراد اعتراض دي **علی**

مكان اخر په قصر د موصوف على الصفة على مكانٍ اخر باندې هم دا وي، کـه تـه مکان أخرى او مکان اخر نه صفت واحد اخلي نو بيا جامع نه شو خارج شو هغه چې هلته د مخاطب عقيده دوو، دريدو، څلورو کې ساتي، او که نه ته عام اخلي نو قصر غير حقيقي مانع نشو د دخول: حيرِ نه داخل شو په کې قصر حقيقي، يعني اعتراض په قصر افراد او قصر قلب دواړو باندې وارد برې. نو تاسو به جواب وکړئ، په اختيار د شق ثاني سره، چې زه دون أخرى نه مراد عام اخلم، خو قصر حقيقي پکې نه داخليږي خکه چې دا عام به تفصيلاً وي معلوم به وي او قصر حقيقي کې ما عدا معلوم ندي، هغه اجمالًا دي، اوس تا دا وويله **ما زيد الا كاتب** زيد کاتب شاعر او منجم ندي، نو دا قصر حقيقي نشي کيدی دا غير حقيقي شو، اضافي شو، حقيقي دا دي چې **ما زيد الا كاتب** زيد مقصور دي په صفت د کتابت پورې بل هيڅ صفت ته متجاوز ندي، نو دا پکې اجمالًا معتبر شو، نو اختيار د شق ثاني سره يې جواب وکړو چې زه دون نه عام اخلم چې صفت واحده وي که نه متعدد وي خو که متعدد وي نو تفصيل شرط دي، او قصر حقيقي پکې نه شاملیږي خکه هلته متعدد اجمالًا کرتي دي، تفصيلاً پکې نشته دي

فكل منهما نو شارح **اي فعلم** سره اشاره کوي چې دا فاء تفريعيه ده، نو د هغه متفرع عليه بيان کوي او د هغې تعيين کوي، دا يو غرض شو، دويم شارح په **اي فعلم** سره مناسبت ذکر کوي په ما بين د متفرع او متفرع عليه کې، چې وائي: مناسبت دا دي چې **اي فعلم من هذا الكلام** معلومه کړي شوي ده د دې تير شوي کلام نه چې هر يو د دې دواړو نه **ضربان** دي، قصر حقيقي هم دوه ضربه شو، او قصر غير حقيقي هم دوه ضربه شو، نو دي کې يې اشاره وکړه متفرع عليه ته، امر اول ته، خکه چې د دې مخکني کلام نه چې **وكل منهما** مخکې بغير د فاء چې مخکې يې ويلي چې **وكل منهما نوعان** اص ١٨٣ باندې متن کې انو د وكل منهما نه معلومه شوه، متفرع عليه دغه دي، اوس مناسبت ته اشاره کوي، چې د دې متفرع د دې متفرع عليه سره مناسبت څه دي؟ وائي: **ومن استعمال لفظ او، فيه** او د استعمال د لفظ د او نه په دي کلام کې خکه هغه مخکې کلام کې استعمال د لفظ د او شوي دي، او لفظ د او د احد الامرين لپاره راځي، خکه هلته کې يې داسې ويلي دي چې **تخصيص امر بصفة دون صفة اخرى او مكانها** نو او د تنويع، احد الامرين لپاره راځي، نو نوعان شو، نو مناسبت دا شو، اوس هغه متفرع ته اشاره کوي، دا معلوم شوه چې **ان كل واحد من قصر الموصوف على الصفة وقصر الصفة على الموصوف ضربان** دي، قصر د موصوف على الصفة هم دوه قسمه، قصر افراد او قصر قلب او قصر د صفة على الموصوف هم دوه قسمه، قصر افراد او قصر قلب، نو څلور قسمه شو، خو د غير حقيقي نه، نو وي يې ويله چې **الاول** اول دا دي چې وائي: **التخصيص** دي سره تعيين د اول کوي او دويم دفع د اعتراض کوي چې دا خو ثاني ته هم اول ويلي شي په نسبت سره ثالث ته چې بره نه شماري نو ثاني اول دي په نسبت سره ثالث ته، وائي: جواب کوي چې د اول نه مراد اول حقيقي دي **التخصيص بشئ دون شئ والثاني التخصيص بشئ مكان شئ** نو

اول قصر افراد او دويم قصر قلب شو، نو دا دوه شو نو **والمخاطب بالاول من ضربي كل** كل كې شارح دا اوروستو شرح کې ابیان د کل کوي چې **كل من قصر الموصوف على الصفة و قصر الصفة على الموصوف** دا بیان د ضربي هم وشو او د کل هم وشو، اول څوك دي **ويعنې بالاول التخصيص بشئ دون شئ.**

من يعتقد الشركة اي شركة صفتين في موصوف واحد دي کې يې اشاره وکړه چې **الشركة** کې الف لام عوض دي د مضاف اليه نه يا عهد خارجي دي، چې شرکت د صفتينو په موصوف واحده کې في قصر الموصوف على الصفة کې **و شركة موصوفين في صفة واحدة في قصر الصفة على الموصوف** او مثال جزئي سره مونږ تاسو پوهه کوي نو وائي **فالمخاطب بقولنا** چې **ما زيد الا كاتب** دي **من هغه څوك** به وي **يعتقد اتصافه** اي زيد **بالشعر و الكتابة** يعني د شرکت عقيده لري **وبقولنا** دا په قصر الصفة على الموصوف کې **ما كاتب الا زيد** سره به مخاطب هغه څوك وي **من يعتقد اشتراك زيد و عمرو في الكتابة و سمي هذا القصر قصر افراد** وجه د تسميې دا ده **لقطع الشركة التي اعتقدها** اي الشركة **المخاطب و المخاطب بالثاني** ثاني څوك دي، **اعني التخصيص بشئ مكان شئ من ضربي كل من القصرين** قصر د موصوف، د قصر د صفة **من يعتقد العكس** العكس کې الف لام عوض دي د مضاف اليه نه يا عهد خارجي اي عکس الحکم الذي **اثبته** چې ثابت کړي دي حکم لره **المتكلم** مخاطب د هغې د عکس عقيده ساتي، مثال جزئي سره پوهه کوي **فالمخاطب بقولنا** چې **ما زيد الا قائم من هغه** څوك دي چې **اعتقد اتصافه** اي زيد **بالقعود دون القيام** نو متکلم وويله چې نه قعود ندي قيام دي، نو عکس يې وکړو **وبقولنا** په قصر د صفت على الموصوف کې **ما شاعر الا زيد من هغه** څوك به وي مخاطب **اعتقد ان الشاعر عمرو لا زيد و يسمى هذا القصر قصر قلب** ځکه **لقلب حكم المخاطب** د وجې دا رولو د متکلم نه حکم د مخاطب لره **و تساويا عنده** او يا به برابر وي په نزد د مخاطب باندې، شارح او د ماتن په نزد باندې قصر تعين، دا داخلوي په قصر قلب کې، نو هغه شان عطف کوي نو وائي **عطف على قوله يعتقد العكس** نو ترجمه دا شوه: و المخاطب بالثاني من يعتقد العكس، او، و المخاطب بالثاني من تساويا عنده، هغې باندې عطف شو، معترض راغې شبهه يې وکړه په شارح باندې چې توجيه د کلام د متن يې وکړه جائز ده چې ماتن دي پرې راضي نه وي، او تا خو قصر تعين داخل کړو په قصر قلب کې، ده جواب وکړو چې لايرضى ندي **على ما يفصح** بنا په هغه باندې چې ظاهريږي **عنه** د دې عطف نه **لفظ الايضاح** نو اوس ترجمه دا شوه چې **اي المخاطب بالثاني اما من يعتقد العكس** عکس الحکم الذي اثبته المتكلم، د هغې عقيده به ساتي، **و اما من تساويا عنده الامران** کوم امران **اعني الاتصاف بالصفة المذكورة** و غيرها في قصر الموصوف کې، دارنګه **و اتصاف الامر المذكور و غيره بالصفة في قصر الصفة** مثال جزئي سره اوس پوهه کوي **حتى يكون المخاطب بقولنا ما زيد الا قائم من هغه** څوك به وي **يعتقد اتصافه** اي زيد **بالقيام او القعود من غير علم بالتعين** تعين نشته وائي زما شك دي، برابر دي دواړه چې زيد متصف په قيام سره دي که نه قعود سره دي، تعين نشته، لاعلى التعين؛ او په يو باندې جزم هم نشته، او نه په شرکت

القصر

باندې دي، جزم نشته تردد دي، **وبقولنا** په قصر د صفت على الموصوف کې **ما شاعر الا زيد من عنده** څوك به مخاطب وي يعتقد أن الشاعر زيد او عمرو من غير ان يعلمه على التعين، **ويسمى هذا القصر** قصر تعيين **لتعيينه** د وجي د متعين کولو د متکلم نه حکم لره **ما هغه حکم هو غير معين عند المخاطب** **فالحاصل** سره اوس غرض د شارح دا دي چې د دې متن حاصل بيانوي د **فکل منهما** نه چې کوم متن شروع دي تر دي ځای پورې د دې ټول حاصل بيانوي، دويم غرض د شارح دي حاصل بيانولو سره تمهيد وکړي لپاره د راتلونکي اعتراض چې **وفيه نظر** دويم غرض دا دي چې سبب بيانوي چې ماتن د قصر تعين داخل کړي دي په قصر قلب کې، او سکاکي داخل کړي دي په قصر افراد کې، نو د سکاکي خلاف سبب څه دي؟ وروستو **ولهذا جعل السکاکي** سره، وائي سبب دغه اعتراض دي په ماتن باندې نو په سکاکي باندې اعتراض وارد شو، نو سکاکي دا په عين قصر افراد کې داخل کړو، نو وائي **فالحاصل** ان التخصيص بشئ دون شئ قصر افراد شو، او و التخصيص بشئ مکان شئ، دا دوه قسمه شو، ان اعتقد المخاطب فيه العکس، نو **قصر قلب** شو **وان تساويا عنده** نو **قصر تعين** شو، د ماتن په نزد، نو د ماتن په نزد باندې د قصر غير حقيقي او اضافي درې اقسام شو، لکن شارح وائي **وفيه نظر** په دې ما قال د ماتن کې نظر دي، ځکه **لانا لو سلمنا** دي کې يې اشاره وکړه چې اول خو مونږ دا نه منو چې په قصر تعين کې تخصيص شئ مکان شئ فقط شته دي، بلکه څنګه چې په قصر تعين کې تخصيص شئ مکان شئ دي نو دغسې په قصر تعين کې تخصيص شئ دون شئ اخر هم شته دي، نو هر کله چې احتمال د دواړو راغې نو ته يې داخلوي په قصر قلب کې نه په قصر افراد کې نو دا ترجيح بلا مرجح شوه، او که بالفرض والتقدير **سلمنا** اي که ومنو مونږ چې **ان في قصر التعيين** تخصيص شئ بشئ مکان اخر دي نو فلا يخفى چې **ان فيه تخصيص شئ بشئ دون اخر** دي، دا هم شته دي، ځکه هغه متردد وو **فان قولنا** ځکه دا قول زمونږ چې **ما زيد الا قائم مقولنا لمن** په حال کون د دې قول کې چې دا مقول وي د هغه چا لپاره **يردد بين القيام و القعود** چې هغه شک کوي په مابين د قيام د زيد او د قعود د زيد کې، نو **تخصيص له بالقيام دون القعود.**

اوس د سکاکي د عدول لپاره سبب ذکر کوي، دغه وجه ده چې سکاکي وويله چې د قصر غير حقيقي، اضافي اقسام درې ندي بلکه دوه دي، بس يو قصر قلب دي او بل قصر افراد دي، پاتې شو قصر تعين هغه عين قصر افراد دي، هغه ځانله قسم مستقل براسه ندي **ولهذا**: او د وجي د دغه ورود او اعتراض نه **جعل السکاکي التخصيص بشئ دون شئ مشترکا** بين قصر الافراد القصر الذي [قال الشيخ و القصر اي مع واو] **سماه المصنف قصر تعين و جعل التخصيص بشئ مکان شئ قصر قلب فقط** دا شارع اعتراض وکړو په ماتن باندې ځانله لاړو، تاسو به جواب وکړئ چې باچا ګله دا اصطلاحات دي **ولا مشاحة في الاصطلاحات** د سکاکي دي دا اصطلاح وي او د ماتن دي دا اصطلاح وي

اوس ماتن شرطين ذکر کوي د قصر قلب او قصر افراد لپاره، نو وائي **وشرط قصر الموصوف على الصفة** خو **افرادا** دا دي چې **عدم تنافي الوصفين** چې دا وصفين په دې موصوف کې منافيين به نه وي نقيضين به نه وي، شارح د متن لپاره دليل وائي، وائي ځکه **ليصح** د دې لپاره چې صحيح شي **اعتقاد المخاطب اجتماعهما** د اجتماع د وصفينو په موصوف کې، ځکه قصر قلب شرکت د عقيدې د مخاطب غواړي، اوشرکت په متنافييونو کې نشي راتلې **حتى** سره مونږ او تاسو په مثال جزئي سره پوهه کوي **حتى تكون الصفة المنفية في قولنا** چې **ما زيد الا شاعر** دا به شي چې **كونه كاتبا او منجما** چې زيد کې د کتابت صفت نشته دي د منجميت صفت نشته دي، او شاعر او کتابت او منجم جمع کيدې شي **لا** دا به نه وي چې **كونه مفحما** مفحم څه ته وائي؟ **اي غير شاعر** وائي **لان الافحام هو وجدان الرجل غير شاعر** او هغه ينافي الشاعرية، نو عقيده د مخاطب د جمع نه صحيح کيږي، **وقلبا** دي کې اشاره کوي چې دا **قلبا** عطف دي په **افرادا** باندې، د هغې نه مخکې شرط وو نو هغه را اوباسي ځکه ما قبل د معطوف عليه کالمعاد وي په معطوف کې، نو شرط د **قصر الموصوف على الصفة قلبا** څه دي؟ **تحقق تنافيهما** تعين د مرجع کوي تحقق د تنافي د وصفينو، **حتى** مثال جزئي سره مونږ پوهه کوي **حتى يكون المنفي** تر دي چې شي به منفي **في قولنا** په دې قول زمونږ کې **ما زيد الا قائم** دا به شي **كونه قاعدا او مضطجعا او نحو ذلك** لکه **مستلقيا** نو قائم او قاعد نشي جمع کيدې، قائم او مضطجع نشي جمع کيدې، منافات دي دي کې، دارنګه قائم او مستلق کې منافات دي **مما ينافي القيام**.

اوس شارح د سکاکي صفت کوي **ولقد احسن** سره او ماتن باندې اعتراض کوي چې ماتن په دې قصر قلب کې چې دا کوم شرط د تنافي کېښودو، نو ماتن خطا شوې دي، ښه کار دي سکاکي کړې دي نو وائي **ولقد احسن صاحب المفتاح في اهمال** اي ترک **هذا الشرط** [الصحيح الاشتراط] هغه په قصر کې [عدم] تنافي د وصفينو ندي شرط کړې [كما اشترطه الماتن فافهم، ذكر لفظ العدم هنا] ځکه يې ندي کړې چې **لان قولنا ما زيد الا شاعر لمن** د هغه مخاطب لپاره **اعتقد** چې هغه عقيده ساتي **انه** چې **زيد كاتب** نو تا دا وويله چې ما زيد الاشاعر، کاتب ندي نو **قصر قلب** نو دا قصر قلب دي هر څوک يې منې **على ما صرح به في المفتاح** او سکاکي هم تصريح په مفتاح کې کړې ده **هي عدم تنافي الشعر والكتابة** او شعر او کتابت کې منافات نشته دي. معترض راغې شبهه يې وکړه چې يا هلکه دادي قصر افراد وي کنه [قلب دي نه وي] يا قصر تعين دې وي، دا جواب کوي **ومثل هذا خارج عن اقسام القصر** د قصر اضافي نه **على ما ذكر المصنف** ځکه دي کې قصر شته دي، او قصر افراد نشته دي، ځکه هلته کې عقيده د شرکت شرط ده، قصر تعين نشته ځکه هلته کې تردد شرط دي، او قصر قلب هم نشو ځکه تا تنافي شرط کړې دي او دې شعر او کتابت کې خو منافات نشته دي، نو ستا په نزد باندې دا بيا خارج پاتې شو، نو حصر د قصر اضافي په دې اقسام ثلاثه ؤ کې صحيح نه شو.

لا ترې لرې کوئ **يقال** سره يو سړی راغی د ماتن د طرف نه جواب کوي، وائي: **يقال** ويلي شوي دي د ماتن د طرف نه په جواب کې، چې **هنا** چې دا تحقق د تنافي چې ماتن ايخودي دي دا **شرط الحسن** دي، دا شرط د اصل ندي، اصل قصر قلب سره د تنافي نه هم راځي او بې د تنافي نه هم راځي، خو کوم قصر قلب چې حسن وي نو هغه په دي سره راځي چې منافات [بين الوصفين] نه وي يو تصحيح د ماتن وشوه، دويمه تصحيح کوي د يقال والا **او المراد** يا مراد د ماتن **التنافي** د تنافي نه **في اعتقاد المخاطب** کې تنافي ده، چې د مخاطب په عقيده کې به منافات وي، او په صفتينو کې منافات هيڅو نه وي، يا به وي يا به نه وي عام دي نو اوس ګوره د دې شاعر او کاتب په څان کې منافات خو نشته دي، خو مخاطب چې عقيده د کاتب ساتي او د شاعر نه ساتي نو د هغه په عقيده کې منافات دي، شارح په دي دواړو تصحيح ګانو باندې رد کوي، چې دا دواړه تصحيحا ګاني خطا دي، دا دواړه **لا يقال دي لانا نقول اما الاول** اول باندې دوه ردونه کوي **فلانه لا دلالة للفظ عليه** ځکه چې نشته دي دلالت د عبارت د متن په دي باندې ځکه هلته کې خو يې مطلق ويلي دي چې **و شرط قصر الموصوف على الصفة قلبا تحقق تنافيهما** او مطلق جاري کيږي په خپل اطلاق باندې، نو ته اوس دا شرط [شرط] د حسن ګرځوي، نو څه قرينه ده په دي باندې، نو چې قرينه پرې نه شوه نو دا قول د ماتن ما لا يرضى به قائله شو، دويم رد پرې کوي **مع انا لا نسلم عدم حسن قولنا** چې **ما زيد الا شاعر** لمن اعتقده **كاتبا غير شاعر** دي کې د عدم حسن څه وجه ده؟ که څه وي مونږ ته يې پيش کړه چې ته ورته حسن نه وائي غير حسن ورته وائي، نو څه وجه ده؟

و اما الثاني هر چې دي دا ثاني چې ته وائي چې منافات په عقيده د مخاطب کې دې وي، وائي: **فلان التنافي بحسب اعتقاد المخاطب معلوم مما ذكره** اي الماتن **في نفس تفسيره** اي تفسير القلب، هلته ماتن داسې ويلي دي چې **ان قصر القلب هو الذي يعتقد فيه المخاطب العكس** نو چې عکس شو نو د مخاطب په عقيده کې عکس معلوم شوي دي کنه، د تفسير نه معلومه شو، نو **فيكون هذا الاشتراط** شو کېښودل د دې شرط **ضائعا**.

و ايضا سره په تصحيح ثاني باندې دويم رد کوي **لم يصح قول المصنف** مصنف په ايضاح کې په سکاکي باندې رد کړی دی او تعريض يې کړی دی، داسې چې **ان السكاكي لم يشترط في قصر القلب تنافي الوصفين** او دا يې ندي ويلي چې سکاکي ندي شرط کړي په قصر قلب کې **تنافي الوصفين في اعتقاد المخاطب** دا ويلي دي ماتن، داسې ندي ويلي، بلکه هغه داسې ويلي دي چې دا مخکې تير شو، نو د دينه معلوميږي چې تنافي الوصفين په نفس الامر کې وي، د مخاطب په عقيده کې مراد ندي، د دينه مخکې خو شارح رد وکړو د ماتن په مدعى باندې، چې دا مدعى د ماتن خرابه ده، چې قصر قلب کې تنافي د وصفينو شرط دي، دغه مدعى د ماتن فاسده ده، اوس د ماتن دليل را نقل کوي په هغې باندې رد اجمالي کوي، چې کوم دليل چې ماتن د منافات لپاره ويلي دي، هغه دليل هم خطا دي، نو وائي **و علل المصنف** دليل نيولي دي مصنف **اشتراط تنافي الوصفين** بقوله په ايضاح کې چې **ليكون اثبات الصفة مشعرا بانتفاء غيرها**

وائي: منافات ما څکه شرط وويله چې د دې لپاره چې شي اثبات د صفت مشعر په انتفاء د غير باندې، څکه چې يو منافي ثابت شي نو هغه بل به منتفي کيږي، شارح وائي دا دليل هم د دې خطا دي **وفيه نظر** په دي دليل د ماتن کې نظر دي **بين في الشرح** بيان کړي شوي دي په دي شرحه کې، هغه نظر دا دي چې **اثبات** مصدر دي مضاف شوي دي مفعول ته، ته د دې فاعل څوک وائي، **اثبات الصفة** نو اثبات مصدر دي مضاف شوي دي مفعول ته چې صفت دي نو د دې اثبات فاعل اوس ته څوک ګرځوي، که د دې اثبات فاعل ته متکلم ګرځوي نو بيا ترجمه دا شوه د دې لپاره چې شي اثبات د متکلم صفت لره مشعر په انتفاء د غير د دې صفت باندې، نو اثبات نه مراد اثبات د متکلم شو، نو هغه خو د په ادواتو د قصر سره راځي، هغه په متکلم سره نه راځي، **ما و الا** سره راځي، او که ته د اثبات فاعل مخاطب ګرځوي نو بيا ترجمه دا شوه چې **ليكون** اثبات د مخاطب يو صفت لره چې شعر دي مشعر په انتفاء د غير باندې، نو دا هم نه صحيح کيږي، څکه چې اثبات د مخاطب صفت د کتابت زيد ته، دا مشعر په نفي د غير باندې ندي، چې هغه کتابت دي، يا اثبات د مخاطب صفت د قيام مشعر په نفي د قعود باندې ندي، اثبات د مخاطب خو ندي، نفس الامر کې نفي د قعود راځي، او په دي اثبات د مخاطب سره خو نفي د قعود نه راځي، بلکه نفس الامر کې چې قيام راشي نو نفي د قعود کيږي اثبات د مخاطب وي او که نه وي، بهر حال شارح متن بلکل وران کړو، متن صحيح نشو غلط شو، نو اخير پرتوګ تاسو د ماتن لپاره جوړ کړئ، داسې چې هلکه ماتن چې دا قيد او دا شرط ايښي دي نو دا شرط اتفاقي دي احترازي ندي، هسې اتفاقي يې دا شرط ايښي دي، احترازي ندي چې کوم وخت کې تنافي د وصفينو عقيده نوي نو هلته کې ګڼي قصر قلب ندى، داسې نه ده.

وقصر التعيين اعم من ان يكون الوصفان متنافيين فيه او لا، يا متنافيين نه وي، هلکه مثال؟ وائي: مثال هغه د قصر افراد او د قلب هغه د قصر تعيين لپاره هم صحيح کيږي، وائي: **فكل مثال** پس هر مثال يصلح لقصر الافراد او القلب يصلح لقصر التعيين من غير عكس، څکه دا عام شو.

وللقصر طرق د قصر لپاره طرق سته دي، معترض راغى شبهه يې وکړه چې هلکه د قصر لپاره طرق سته وو؟ نو دلته کې شارح شبهې ته اشاره کوي چې قصر لپاره طرق سته وو او **والمذكور هنا** خو **اربعة** دي، نو دا قول د ماتن د نفس الامر سره خو موافق نه شو، نفس الامر کې د قصر لپاره شپږ طريقې دي، او ماتن دلته کې څلور ذکر کړي دي؟ نو شارح جواب وکړو **وغيرها قد سبق ذكره** وائي: غير د دې اربعو نه د هغې ذکر مخکې تير شوي دې، د دوو چې يو د ضمير فصل باب او دويم خبر معرف باللام، دا دواړه مخکې تير شوي دي.

فالاربعة المذكورة هنا منها العطف بعضې د دې طرقو نه عطف دي **كقولك في قصره** اي قصر الموصوف على الصفة کې **افرادا** داسې به يې ويلي وي **زيد شاعر لا كاتب** لاعاطفة شو، او **ما زيد كاتبا بل شاعر بل**

عاطفه شو، شبهه کوي شبهي نه وروسته جواب کوي، شبهه داسې کوي **مثل** اي الماتن **بمثالين** او حالانکه مثال نه مقصود توضیح د ممثل دي، او توضیح د ممثل په یو مثال سره راځي دوو ته حاجت نه وو. نو **اولهما** سره جواب کوي چې وائي: اول د دې دواړو مثالونه **الوصف المثبت فيه معطوف عليه والمنفي معطوف زيد شاعر او كاتب و الثاني بالعكس** وصف منفي معطوف علیه دي او مثبت معطوف دي، دوه مثالونه یې ځکه وویل.

و قلبا زيد قائم لا قاعد دا هم د مثبت شو، او **ما زيد قائما بل قاعد** دا د منفي مثال شو **فان قلت** سره شبهه کوي، او وروسته جواب کوي، که ته ووائي په اعتراض کې **اذا تحقق** تنافي الوصفين في قصر القلب، د ماتن په نزد باندې دا شرط دي **فاثبات احدهما** نو پس اثبات د یو د دې دواړو نه چې مثلًا قیام دي **يكون مشعرا بانتفاء الغير** چې قعود دي نو **فما فائدة نفي الغير و اثبات المذكور بطريق الحصر** بیا لاقاعد ته حاجت نشته، **قلت** دا وائي چې زه جواب کوم چې: الفائدة فيه التنبيه على رد الخطاء، په رد د خطائي د مخاطب باندې چې اي مخاطبه ته خطا شوي وي، تا په زید کې د قعود عقیده ساتلي وه نه زید کې قیام دي ته خطا شوي یې **اذ المخاطب اعتقد العكس** لکه مثال جزئي داسې چې **فان قولنا زيد قائم** و ان دل على نفي القعود، چې زید کې قعود نشته دي، ځکه متنافیین دي، لکن دا پته نه راځي چې مخاطب عقیده د قعود ساتلي ده که نده، دا پته نه راځي **لكنه** لکن دا قول زمونږ **خال عن الدلالة** على ان المخاطب اعتقد انه قاعد.

وفي قصرها اي قصر الصفة على الموصوف افراداً و قلبًا، دواړو لپاره یو مثال صحیح دي، سوال: یا هلکه فرق به څنګه کوو؟ وائي: **بحسب المقام** فرق به په اعتبار د مقام سره کوئ، د مخاطب عقیده د شرکت وه د دې صفت په دوو موصوفینو کې د ساتلو، دا قصر افراد شو او که عقیده د عکس یې ساتله نو قصر قلب شو **نحو زيد شاعر لا عمرو** او **ما عمرو شاعر بل زيد و يجوز** او دا هم جائز دي چې **ما شاعر عمرو بل زيد** بتقديم الخبر، چې خبر مقدم کړي په دې دویم مثال کې، لکن صرف فرق دا دي چې **لكنه يجب حينئذ رفع الاسمين** خو بیا رفع د اسمینو واجب ده **لبطلان العمل** د وجې د بطلان د عمل د ما نه ځکه ما ضعیف العمل دي دا عمل سره د ترتیب نه کولي شي بې د ترتیب نه یې نشي کولي، نو بیا به داسې ووائي چې ما عمرو شاعراً، او که تا داسې وویله چې ما شاعراً عمرو نو خطا شو، بلکه ما شاعر عمرو به وائي، او د کافي په مجرور اتو کې تاسو ته راغلیدي چې ما مشابه بلیس باندې خبر مقدم شو نو بطل العمل. معترض راغي شبهه یې وکړه په ماتن باندې چې یا هلکه دا څه وجه ده؟ چې د قصر د موصوف على الصفة لپاره د قصر افراد لپاره تا څانله مثالونه ذکر کړل، د قصر قلب لپاره څانله مثال، او د قصر صفت على الموصوف کې دواړو لپاره دي یو مثال ذکر کړو؟ نو شارح راغي د ماتن د طرف نه جواب کوي چې وائي: وجه په وجه کې ده، و لما لم يكن في قصر الموصوف مثال الافراد صالحًا للقلب، د ماتن په نزد ما ځکه

لاشتراط عدم التنافي في الافراد و تحقق التنافي في القلب على زعمه اي الماتن، نو **اورد للقلب مثالا يتنافي فيه الوصفان**، بخلاف قصر الصفة على الموصوف **فان مثالا واحدا يصلح لهما.**

معترض راغي شبهه يې وګړوله په ماتن باندې چې هلکه د قصر تعيين مثال ولې ماتن ذکر نه کړو؟ او د قصر افراد او د قلب مثالونه په متن کې ذکر کوي؟ شارح وائي چې هغه **بالمقايسة** معلوميږي نو ذکر کولو ته يې څه حاجت دي، وائي **ولما كان كل ما يصلح مثالا لهما** د قلب او افراد لپاره **يصلح مثالا لقصر التعيين** نو **لم يتعرض لذكره.**

شارح قياس د لاحق کوي په سابق باندې وائي و هكذا سائر الطرق، وروسته راتلونکي طرقو کې هم دغسې ده، په قصر قلب د قصر موصوف على الصفة لپاره او افراد لپاره ځانله ځانله مثالونه ذکر کوي، او قصر د صفة على الموصوف کې دواړو لپاره يو مثال ذکر کوي او قصر تعيين لپاره د سره مثال نه ذکر کوي، هغه مقايسةً پرېږدي، هغه چې هلته کې تردد وي.

ومنها النفي و الاستثناء او بعضې د دې طرقو د قصر نه نفي او استثناء دي **كقولك في قصره** اي قصر الموصوف **افرادا** کې **ما زيد الا شاعر و قلبا ما زيد الا قائم و في قصرها** اي قصر الصفة کې **افرادا و قلبا** اوس تاسو ته لاړ **ما شاعر الا زيد و الكل يصلح مثالا للتعين، و التعين انما هو بحسب اعتقاد المخاطب** که مخاطب عقيده د شرکت ساتله نو قصر افراد او که عکس يې ساتله نو قصر قلب که متردد وو تعيين شو.

ومنها او بعضې د طرقو د قصر نه انما دي **كقولك في قصره** اي قصر الموصوف على الصفة **افرادا انما زيد كاتب و قلبا انما زيد قائم** و في قصرها افراداً و قلبًا انما قائم زيد.

و في دلائل الاعجاز يعني و قال الشيخ **في دلائل الاعجاز** کتاب کې چې **ان انما، و لا العاطفة انما يستعملان في الكلام المعتد به** په کلام بليغه کې، **لقصر القلب** لپاره د قصر قلب **دون الافراد** د افراد لپاره نه مستعملېږي، البته د شارح غرض د نقل کولو د کلام د شيخ نه يا مقصد اصطلاح اخر بيانوي په انما کې، د ماتن د اصطلاح نه خو عموم معلوم شو، چې انما ده او که لاعاطفه ده دا په قصر افراد او قلب دواړو کې راځي، او د شيخ د کلام نه دا معلوميږي چې انما او لاعاطفه سره قصر د قلب لپاره راځي کلام بليغه کې د افراد لپاره نه راځي، او وَلامشاحةَ في الاصطلاحات، د شيخ دا اصطلاح ده او د ماتن اصطلاح دا ده، نو شارح اصطلاح اخر بيان کړه نو خير او خلاص.

يا غرض د شارح **و في دلائل الاعجاز** کې شبهه کوي په ماتن باندې چې ستا کلام مدافع دي د شيخ سره، شيخ ويلي دي چې انما او لاعاطفه چې کلام بليغه کې مستعملوي نو قصر قلب لپاره د افراد لپاره نه راځي، او ستا کلام نه معلوميږي چې مطلقًا راځي، نو ستا دا کلام خلاف شو د عمده نه او کلام چې د عمده نه خلاف وي نو هغه خطا وي، نو ستا کلام هم خطا شو، نو دا په ماتن باندې اعتراض شو، نو اوس جواب مواب شارح ندي کړي، اعتراض يې کړي دي او ځانله تلي دي، جواب تاسو بهر نه کوئ،

چې يا هلکه دا اصطلاحات دي او اصطلاحاتو کې مضايقه او مشاحة نه وي، نو ماتن په دي امورو کې خانله مستقل بنفسه سړي دي د چا مقلد ندي، د ده په نزد باندې دا عام دي په دواړو کې راځي، په دي کې دا د شيخ تقليد نه کوي.

واشار سره شارح دفع د اعتراض کوي چې هلکه ستا مقصود خو دا وو چې انما مفيد لپاره د قصر دي هغه خو مخکې مثال سره ختم شو، اوس اشتغال په دي کې چې **لتضمنه معنى ما والا** دا اشتغال بما لا يعني شو، نو شارح جواب وکړو چې لايعني ندي **واشار** اي الماتن **الى سبب افادة انما القصر** سبب او علت ته يې اشاره کړې ده، **بقوله لتضمنه** د وجې د نيولو د دې انما نه معنى ما و الا لره، نو **انما** متضمن شو او دا معنى د ما و الا متضمَن شوه، او متضمَن خو مفيد لپاره د قصر وو نو متضمِن هم مفيد لپاره د قصر شو چې انما دي معترض راغي شبهه يې وکړه په ماتن باندې چې هلکه مبنى د متونو بناء بر اختصار ده نو ماتن داسې ولې ونه ويل چې **لانه بمعنى ما والا** وائي: نو دا لتضمنه يې پکې ولې وويله؟ نو شارح راغي جواب يې وکړو د ماتن د طرف نه چې **واشار** اي الماتن بلفظ التضمن **الى انه** اي لفظ انما **ليس بمعنى ما والا** چې يو شي نو څه به شي وائي: **حتى كانهما لفظان مترادفان** به شي، چې په معنى د ما و الاشي نو دا او هغه به مترادفان شي.

اذ فرق اوس د ا دليل وائي چې ليس بمعنى ما و الا چې مترادفين شي ځکه چې **اذ فرق** اي فرق عظيم بين ان يكون في الشئ چې انما دي معنى الشئ چې ما و الادي، نو شئ اول متضمِن او ثاني متضمَن و **ان يكون الشئ الشئ** مترادفين شو، وائي: ځکه چې فرق عظيم دي په ما بين د کيدو د دې کې چې شئ چې انما دي په معنى د شئ شي چې **ما والا** دي، نو بيا انما متضمن شو او ما و الا متضمن شو، او په ما بين د ان يكون الشئ چې عين شي چې ما و الاشي **على الاطلاق** نو هغه خو بيا مترادفين دي.

شبهه: نو وائي مترادفين دي شي کنه څه دنيا ورانيږي؟ نو دا جواب کوي چې مترادفين شو نو بيا دا معنى شوه چې کوم ځای کې چيرته چې انما سره قصر کيږي نو هلته کې په ما او الا سره به هم کيږي، او چيرته چې په ما او الا سره کيږي نو هلته کې په انما سره به هم کيږي، او دا چيرته هم نشته د چا په کلام کې، فليس كل كلام يصح فيه ما و الا يصح فيه انما

شبهه: هلکه دا به ته ځان نه وائي ته به متفرد يې په دي کې هن؟ وائي نه **انما صرح بذلك الشيخ في دلائل الاعجاز** نو په ترادف باندې قول مضر شو، نو چې مترادفين شو نو بيا هر هغه کلام چې صحيح وي هغې کې ما او الا نو هلته کې انما به هم صحيح کيږي، او دا خو ندي.

ولما اختلفوا سره شارح دفع د اعتراض کوي د ماتن نه، اعتراض په ماتن باندې دا وارد شو، چې هلکه ستا مقصود دا وو چې انما مفيد لپاره د قصر دي پشان د ما او الا، نو هغه په دي مخکني کلام سره خو ختم شو. اوس اشتغال **لقول المفسرين** وروسته **و لقول النحاة** او وروسته **و لصحة انفصال الضمير** کې اشتغال

بما لايعني شو، نو شارح د ماتن د طرف نه جواب کوي چې **وانما اختلفوا** وائي هر کله چې مختلف شوي وو دغه علماء **في افادته** په فائده کولو د لفظ د انما کې **القصر** قصر لره چې **انما** مفيد لپاره د قصر دي اوکه نه نه دي. وفي تضمنه اي انما معني ما والااختلاف داسې کړي وو چې بعضو ويلي وو چې انما مفيد لپاره د قصر دسره نه دي، بعضو ويلي وو چې انما مفيد لپاره د قصر دي خو عرفا دي، او متضمن معنى د ما او الا لره ندي، او دريم مذهب دا وو چې دا انما مفيد لپاره د قصر عرفًا هم دي او استعمالاً هم دي، نو د مذهب ثالث د ثابتولو لپاره ماتن دا دلائل ذکر کړل نو **بينه** اي بين الماتن ذلك المذکور ان افادة انما القصر **بثلاثة اوجه** په دريو وجوهو سره يې ثابت کړه، چې انما د قصر لپاره راځي، يو **لقول المفسرين** يو وجه د دې قول د مفسرينو نه چې **قوله تعالى**: انما حرم عليكم الميتة خو دا قول المفسرين بناء دي **بالنصب** په نصب د الميتةَ باندې، نو **معناه** دا شوه چې **ما حرم عليكم الا الميتة** نو دغه انما متضمن معنى د ما او الا لره شو، بيا وروستو مفسرينو ويلي دي چې **وهذا المعنى** دا معنى چې د نصب ده **هو المطابق لقراءة الرفع** مطابق دي په افاده د قصر کې، په دي افاده د قصر کې قراءة د رفع او د نصب موافق دي. شارح ورسره لګوي **اي رفع الميتة** دي کې يې اشاره وکړه چې دا الف لام عوض دي د مضاف اليه نه يا الف لام عهد خارجي دي مراد د رفع نه رفع د الميتة دي.

وتقرير هذا الكلام د دې نه غرض د شارح دا دي چې وائي چې په دي ايت کې درې قراءتونه دي، او د سر نه تفصيل کوي تر اخيره پورې، مونږ او تاسو ته ټول تفصيل کوي، او د متن توضيح کوي، او د متن ابهام رفع کوي، او د مطابقت معنى کوي، وائي تقرير د دې کلام دا دي چې **ان في الاية ثلاث قراءات** ۱: حرّم کې **مبنيا للفاعل مع نصب الميتة** ۲: دويم قراءت **ورفعهما** اي رفع الميتة **حرم** هغسې مبني للفاعل دي، ۳: دريم قراءت **و حرم مبنيا للمفعول مع رفع الميتة** تائيد لپاره يې وويله كذا في تفسير الكواشي، اوس راشه فعلى القراءة الاولى، چې حرم مبني للفاعل شي او نصب د ميتة شي نو **ما** [حكم د ما] **في انما كافة** دا کافه شوه ځکه دا منع کوي د عمل نه ان لره، د کفوف نه ماخوذ دي، شبهه: يا هلكه کافه ولې وائي موصوله ولې نه کوي؟ وائي **اذ لو كانت موصولة** که ما موصوله شي، نو **لبقي ان بلا خبر** بيا د ان لپاره خبر نشته دي، ځکه بيا معنى دا شوه چې ان الذي حرم عليكم الميتةَ، دا موصول سره د صلي نه خو اسم د ان شو، نو خبر چيرته دي، نو ان بلا خبره پاتې کيږي، دويمه بدي دا ده چې که موصوله شي و **الموصول بلا عائد** بلا عائد دا معنى چې حذف د عائد ته به حاجت راځي، ځکه چې بيا داسې شو چې **ان الذي حرم عليكم الميتة** او حذف د ضمير خو نه صحيح کيږي، ځکه حرم يو مفعول غواړي نو **الميتة** خو يو شته دي نو بل عائد څه له را اوباسي، نو حاصل دا چې موصول بلا عائده پاتې کيږي.

وعلى الثانية اي و على القراءة الثانية، چې حرم مبني للفاعل شي او الميتة مرفوع شي نو بيا دا ما موصوله ده، نو موصول سره د صلي نه اسم د ان شو او الميتة خبر د ان شو **ليكون الميتة خبرا** شبهه: دي

وائي هلكه الميتة خبر د ان ولي ګرځوي، الميتة فاعل د حرم ولي نه ګرځوي؟ نو جواب وکړو شارح چې **اذ لا يصح ارتفاعها** ځکه صحيح ندي رفع ورکول الميتة لره **بحرم** په حرم سره **المبني للفاعل** چې حرم مبني للفاعل شي **على ما لا يخفى** ځکه چې محرم الله دي، هلته کې ضمير راجع الله ته دي، محرم او محلل الله دي، نو معنى د قراءة د رفع دا شوه چې **والمعنى ان الذي حرمه الله عليكم الميتة** او دويم په المعنى کې اشاره کوي چې عائد د موصول محذوف دي، وائي هغه شي چې الله حرام کړي دي په تاسو باندې هو الميتةُ دي، نو قراءت د رفع کې قصر هم راغي **وهذا** او دغه معنى **يفيد القصر** ځکه **لما مر** د وجي د هغه دليل نه چې تير شوي دي په **في تعريف المسند** من ان نحو المنطلق زيد و زيد المنطلق **يفيد حصر الانطلاق على زيد** نو دلته کې يې هم فائده کړو حصر د حرمت په ميتي پورې، لپاره د رد د زعم د کافرو چې ميته حلاله ده، هغوى ويل چې تاسو په خپل لاس سره د ځاروي نه روح وويستو نو هغه حلاليږي او چې الله روح ترينه وويستو نو وائي چې حراميږي؟ نو مونږ ستاسو منو؟ نو الله پرې رد وکړو په دي ايت سره، نو **فاذا كان انما متضمنا معنى ما و الا** اوس قراءة د نصب کې انما متضمن شو معنى د ما و الا له، نو **كان معنى القراءة الاولى** دلته عبارت شيخ دغسې ولګولو لکن شرحه کې **وكان** مع الواو دي فافهم، **ما حرم الله عليكم الميتة** شو، نو **كانت مطابقة للقراءة الثانية** مطابقت په افاده د قصر کې شو.

او که اوس انما متضمن معنى د ما او الا له نه وي نو بيا قراءة اولى مطابق د قراءة ثانيه سره په افاده د حصر کې نه کيږي، بيا دا تشبيه صحيح نده، **والا** او که چيرته دا انما متضمن معنى د ما و الا له نشي نو **لم تكن** اي القراءة الاولى **مطابقة لها** اي بالثانية، ولې؟ **لافادتها القصر** د وجي د فائده کولو د قصر د قراءة ثانيه نه، او قراءة اولى کې خو بيا قصر رانغي، نو بيا تشبيه ورکول چې **وهذا المعنى هو المطابق لقراءة الرفع** صحيح نشو، نو اوس شارح دا تفريع وکړه چې **فمراد السكاكي و المصنف بقراءة النصب و الرفع** دا قراءتونه دي چې **هي القراءة الاولى و الثانية** دا ځان کې مطابق دي په افاده د قصر کې **و لهذا لم يتعرضا** دي سره دليل وائي چې د سکاکي او د مصنف مراد دا قراءة د نصب او رفع ځکه دي چې وائي د دې وجي نه دي دواړو تعرض ندي کړي [سکاکي او مصنف] **للاختلاف في لفظ حرم** حرم يو شان مبني للفاعل يې ګرځولي دي **بل** بلکه دوى تعرض کړي دي اختلاف ته **في لفظ الميتة رفعا و نصبا** قراءة اولى کې يې نصب لوستلي دي او قراءة ثانيه باندې يې رفع لوستلي ده، شبهه دا وائي چې هلکه په قراءة ثالثه کې بيا څه شي شو قصر راغلو که رانغي؟ نو دا وائي **واما على القراءة الثالثة** اعني رفع الميتة، چې رفع د ميتة دي او **حرم مبني للمفعول** واخلي نو **فيحتمل ان يكون ما كافة** نو بيا قصر راغي، نو تقدير داسې شو **اي ما حرم عليكم الا الميتة** او الميتةُ نائب فاعل د حُرم شو **وان تكون موصولة** او دا هم احتمال لري چې ما موصوله شي، نو معنى بيا دا شوه چې **اي ان الذي حرم عليكم هو الميتة** نو بيا هم قصر راغي، د تعريف د مسند او مسند اليه د وجي نه **و يرجح هذا** او ترجيح ورکولي شي دي کون د ما ته موصوله **ببقاء ان عاملة على ما هو**

اصلها بناء په پاتې کیدو د ان سره عامله بناء په هغه باندې چې اصل د دې ان دي، څکه اعمال اولی دي د اهمال نه، نو په قراءة د مبني للمفعول باندې قصر هم راځي هله چې ما موصوله وي که کافه وي.

نو دا وائي **وبعضهم** اي العلماء **توهم ان مراد** سکاکي **والمصنف بقراءة الرفع هذه القراءة الثالثة** قراءة ثانیه ندي مراد، بعضو دا ویلي دي، نو **فطالبهما** نو مطالبه کړي ده دي بعضو د دې سکاکي او د مصنف نه **بالسبب** په سبب سره **في اختيار كونها** اي كلمة ما **موصولة مع ان الزجاج اختار انها كافة** دا اعتراض بیا په سکاکي او ماتن باندې واردیږي چې تاسو د قراءة د رفع نه قراءة ثالثه اخلئ نو دي بعضو بیا مطالبه کړي ده د دوی نه چې دلته کې اختیار د ما موصوله بیا ولې شو، سره د دینه چې زجاج تصریح کړي ده چې ما کافه ده، نو د هغې نه بیا جواب دوی دا کړي دي چې هلکه ما موصوله څکه شوه چې ما موصوله ووائي نو ان عامله پاتې کیږي او چې ما موصوله ونه وائي نو ان مهمل د عمل نه پاتې کیږي، او اعمال اولی دي د اهمال نه، دغه جواب دي.

دویم دلیل وائي [دویمه وجه] چې **ولقول النحاة** د وجي د دې قول د نحاتو نه چې انما چې راځي نو **لاثبات ما يذكر بعده** اثبات کوي د هغه حکم چې ذکر کیږي وروسته د دینه **ونفي ما سواه** او نفي د ما سوا د ما یذکر بعده نه کوي، داسي، اوس مثال جزئي سره مونږ او تاسو پوهه کوي **اما في قصر الموصوف** کې داسې به وائي **نحو انما زيد قائم** نو د دې لپاره راځي **واما في قصر الصفة نحو انما يقوم زيد فهو** لاثبات قیامه الخ، او دا معنی د قصر ده، دویم دلیل دا قول د نحاتو شو، نو د دینه معلومه شوه چې انما مفید لپاره د قصر استعمالًا ده او عرفًا یواځې نده.

دریم دلیل وائي **ولصحة انفصال الضمير منه** تعیین د مرجع کوي **مع انما** انما نه وروسته ضمیر مرفوعه راشي نو هغه منفصل ذکر کیږي، لکه داسې ویلي شي **نحو انما يقوم انا** داسې نه ویلي کیږي چې **انما اقوم** نو انما یقوم انا ویلي کیږي څکه کافیه کې تاسو ویلي دي و لایسوغ المنفصل الاعند تعذر المتصل، نو وائي **فان الانفصال انما يجوز عند تعذر الاتصال و لا تعذر ههنا** د هغه پنځو ځایونو د تعذر نه یو نشته دي نو بیا خو دلته **انما يقوم انا** ولې وائي بیا خو انما اقوم ووایم، نو **و لا تعذر ههنا الا بان يكون المعنى ما يقوم الا انا** نو بیا تعذر شته دي، هغه تعذر دا دي چې **فيقع بين الضمير** چې انا دي **وعامله** چې یقوم دي **فصل لغرض او بالفصل لغرض** کافیه کې شته دي، هغه غرض دلته کې حصر دي.

اوس معترض راغي شبهه یې وکړه په دي ماتن باندې چې هلکه **انما يقوم انا** دا مثال ستا مصنوعي دي وائي مسموعي دي نه وي، بلکه مسموع **انما اقوم** دي وي؟ ته چې وائي انما یقوم انا په انفصال د ضمیر سره نو دا مثال تا څان نه مصنوعي ذکر کړي دي، مسموع د عربو نه دي نه وي؟ نو ماتن شعر پیش کړو په جواب د دغه اعتراض کې چې ښه **انما يقوم انا** زما مصنوعي شو نو د فرزدق قول خو مصنوعي ندي کنه، هغه د انما نه وروسته ضمیر منفصل ذکر کړي دي، وائي **ثم استشهد** استشهادٌ او دلیل ونیولو

ماتن **على صحة هذا الانفصال ببيت من هو ممن يستشهد بشعره** فصيح بليغ دي، **و لهذا** او د دې وجې نه چې دغه مستشهد او شاهد د دغه قبيلې نه دي چې د ده په قول سره دليل نيولې شي **صرح به اسمه فقال اي** الماتن **قال الفرزدق** شعر: **انا الزائد** زائد د اسم فاعل صيغه ده هر مشتقي مشتق منه غواړي، نو مشتق منه د دې وائي **الذود** دي، دا تفسير د غير مشهور په مشهور سره کوي **و هو الطرد** ذود دفع کولو شړلو ته وائي کما في قوله تعالى و من دونهم امراتين تذودان پس کولو ئې، شړلي يې خپلې ګډې بيزې، منع کولي يې د اوبو نه، نو معنى دا چې زه دفع کوم، شړم لري کوم تکاليف مصائب د خپلو ملګرو نه، او **الحامي الزمار** وائي زه حافظ د وعدې يم، پالونکي د وعدې يم **اي العهد** دي کې شارح اشاره وکړه معنى لغوي د ذمار ته، چې ذمار په لغت کې وعدې ته ويلې شي **و في الاساس** نه يې غرض دا دي چې اشاره کوي معنى مرادي ته، لکه عرب وائي **فلان حمى ذماره** اي وفي بعهده، او في الاساس سره معنى عرفي بيانوي چې د ذمار معنى عرفي، اصطلاحي او مراد څه معنى ده، نو وائي **و في الاساس** په اساس کتاب کې، چې د لغت کتاب دي **هو الحامي الذمار** وائي دا فلانکي حافظ دي د ذمار چې اذا حمى په معنى سره، کله چې دا ساتي هغه څيز لره، هر څيز چې وي وعده وي که غير وعده وي **هو الحامي الذمار هله** وائي **اذا حمى** کله چې دا وساتي هغه څيز لره **لولم يحمه** که چيرته دا نه ساتي هغې لره **لئيم** ملامت کيدي شي، ملامتيا پرې راځي، نو اوس وعدې ته هم شامل شو او غير وعدې ته هم شامل شو، تا اوس ما سره وعده وکړه اوس تا هغه ونه ساتله نو ملامتيا درباندې راځي، يو شي ما درسره امانت کېښوده تا هغه ونه ساتلو ملامتيا در باندې راځي، دې ټولو ته شامل دي عام شو، **و عنف** او سختي پرې کيدي شي **من حماه** دا ماخوذ دي د دينه چې ساتلي يې وو دي شي لره **و حريمه** دا د عطف د خاص نه دي په عام باندې، حريم د شي ويلې شي حق د شي ته، حريم الشئ حق الشئ ته ويلې شي، لکه يو سړي زمکه موات کې يو کوهي راوويستو يو کوهي وکنستو، نو دا کوهي د هغه شو، هغه سړي حافر شو، اوس د دې کوهي نه څلويښت ګزه داسي، څلويښت ګزه داسي، څلويښت ګزه داسي، څلور واړو طرفونو ته هم د دې حافر دي، يعنې په دي څلويښت ګزو مقدار کې بل سړي کوهي نه شي کنستلي، نه څوک تصرف کولې شي، ځکه چې د دې حافر د کوهي حريم شو، حق شو، چې اوبه مبو ورته زيم کيږي ګير چاپيره زمکه کې نو هغه به هلته کې ځي، د کوهي نه خشاک مشاک اوباسي کوهي صفا کوي نو په دي خاى کې به غورځوي، خوا کې به ډوغل وکني هغې کې به يې غورځوي، يا اوبه پليتي شوي نو خوا کې به بل کوهي وکني چينه دار کوهي وي، نو دا لوبه به هلته کې اړوي، نو دا کوهي به پرې صاف کړي، بيا به يې بند کړي، ديته حريم وائي، حريم د شي حقوق د شي ته وائي، نو دلته کې د دې کوهي سره خپل حق حفاظت راځي، په ارض الموات زمکه کې کوهي کنستلو سره. نو دا حفاظت خاصه دي، او مخکې دا حفاظت د مطلق شي دا عام دي که د وعدې وي که د امانت وي که د وديعت وي، نو هغه

عام شو، نو دا حريمه عطف د خاص په عام باندې شو. موضع د استشهاد په دې کې دی چې **وانما يدافع** وائي دفع کوي **عن احسابهم** د عزتونو د دې قوم نه، د ابرو د دې قوم نه، **انا** زه **او مثلي** او يا زما غوندې ځوان، بل څوک يې نشي دفع کولي، نو د قوم عزتونه او ابرو چې ساتلي شي نو زه يې ساتمه، زه د خپل او د نورو قومونو پوره حمايت کوم، يا چې زما پشان څوک ځوان وي.

اوس دا مثال مطابق د ممثل سره دي **لما كان غرضه** اي الشاعر **ان يخص المدافع** چې دا بند کړي مدافع، چې دا مدافعت مقصور دي په ما پورې ندي متجاوز زما نه بل چاته، نو اوس مقصور مدافعت شو، مقصور عليه انا شو **لا المدافع عنه** او د ده مقصود [غرض] مقصور کول د مدافع عنه ندي چې هغه احساب د قوم دي، ځکه بيا خو ترجمه دا شوه چې دا مدافعت د احسابو د قوم ما پورې مقصور دي، متجاوز ندي احساب د غير د قوم خپل ته.

اوس دا دليل وائي چې غرض د ده ولې خاص کول د مدافع دي د ځان پورې نه مدافع عنه دا ولې؟ وائي وجه دا ده چې د ده غرض خپله مدحه ده او مدحه په دې کې راځي چې مدافعت په ده پورې خاص شي هيله مدافعت د احسابو د خپل قوم کوي او که د پردي قوم کوي، نو مدحه راغله، اوس که مدافع عنه ورپورې قصر کوي نو بيا خو معنی دا شوه چې مدافعت د احسابو د خپل قوم ما پورې مقصور دي د نورو نه، نو دي کې څه مدحه نشته دي، د خپل قوم خو هر سړي مدافعت کوي، نو **فصل الضمير** ده جدا کړو ده ضمير **عن عامله واخره** وائي **اذ لو قال وانما ادافع** که متصل ضمير ده ويلي وي **عن احسابهم** نو بيا خو قصر د مدافع عنه راځي، بيا خو معنی دا شو **لصار المعنى انه يدافع عن احسابهم لا عن احساب غيرهم وهو ليس بمقصود** ځکه په دې کې مدحه نشته دي.

اوس دلته کې يو سړي راغي چې يا هلکه دلته کې انفصال د دې وجې نه دي نه وي چې انما په معنی د ما و الاسره دي، دلته کې انفصال د ضرورت شعري د وجې نه دي وي کنه؟ نو شارح جواب کوي **ولا يجوزان يقال** لانه الخ، ان يكون تاكيداً، نو ضرورت شعري هم پوره شو، تاکيد هم پکې راغي، معترض راغی شبهه يې وکړه چې هلکه دلته کې ما موصوله دي وي کنه؟ نو چې موصوله شوه او کافه نه شوه نو انما په معنی د ما او الاسره خو بيا نشي راتلي، نو ده جواب وکړو چې **وليست ما موصولة وانا خبرها** ځکه اذ لاضرورة في العدول عن لفظ عَن چې د ذوي العقول لپاره وي الى لفظ ما ځکه دلته کې ذوي العقول دي نو بيا مَن ويل پکار وو، بيا يې ما ولې ذکر کړي، خو چې دا ما يې ذکر کړي ده نو د دينه معلومه شوه چې دلته کې مقصود ما کافه ده، ما موصوله نده، که موصوله وي نو بيا مَن ذکر کول پکار وو، ځکه ذوي العقول لپاره مَن راځي.

ومنها التقديم او بعضې د طرقو د دې حصر نه تقديم دي **اي تقديم ما حقه التاخير** دي کې يې اشاره وکړه چې التقديم کې الف لام عوض دي د مضاف اليه نه يا الف لام عهد خارجي دي **كتقديم الخبر على**

المبتدا، او يا تقديم المعمولات على الفعل، دا هم قصر فائده كوي **كقولك في قصره** اي قصر الموصوف **تميمي انا** يعني زه بند يم تميميو پوري متجاوز نه يم د تميمي نه قيسي ته اوس دا شبهه كوي په ماتن باندې ځانله خي، وائي **وكان الانسب ذكر المثالين** دلته كې دوه مثالين ذكر كول پكار وو **لان التميمية والقيسية ان تنافيا** په خپل مينځ كې يو بل سره متنافي وي نو **لم يصلح هذا مثالا لقصر الافراد** ځكه هلته كې شرط عدم تنافي دي، چې د شركت عقيده پكې صحيح شي **والا** او كه دا تميميت او قيسيت په خپل مينځ كې متنافيين نه وي نو **لم يصح** دا مثال **لقصر القلب** نو دوه مثالونه پكار وو، تاسو وائي چې دلته كې دواړه صحيح كيږي، ځكه چې تميميت او قيسيت دوه قسمه دي، يو تميمي او قيسي هغه دي چې د يو بل حليف وي د يو بل سره يې دوستانه كړي وي، او د يو بل د امداد يې وعده كړي وه، يو تميمي او قيسي هغه دي چې د يو بل سره دشمنان وي، عداوت يې وي، نو كه د تميمي او د قيسي نه مراد هغه د يو بل حليف واخلي نو بيا دا مثال د قصر افراد شو، ځكه د شركت عقيده صحيح شوه، او كه د قيسي او تميمي نه مراد هغه عدو واخلئ نو بيا دا مثال د قصر قلب شو.

و في قصرها انا كفيت مهمك وائي ستا مقصود ما پوره كړي دي يواځې، ما سره بل څوك ټل نه وو، افراد او قلب او تعيين بحسب اعتقاد المخاطب

ماتن په متن كې ويلي وو **وهذه الطرق الاربعة تختلف** دا طرق اربعه په دي راتلونكو وجوهو سره مختلف كيږي، شبهه نو دا وائي يا هلكه ما به الاختلاف او ما به الامتياز ما به الاشتراك غواړي، نو د دې طرقو اربعو ما به الاشتراك په څه كې راغي؟ نو شارح ما به الاشتراك ذكر كوي ځكه هر ما به الامتياز او ما به الافتراق بغير د ما به الاشتراك نه نشي راتلي، نو وئي ويله چې **بعد اشتراكها في افادة القصر** پس د اشتراك د دينه نه په فائده كولو د قصر كې **تختلف** مختلف كيږي **من وجوه** د يو څو وجوهو نه، چې وجوه اربعه دي يوه وجه دا ده چې **فدلالة الرابع** د رابع تعيين مصداقي كوي **اي التقديم** چې تقديم دي **بالفحوى** دا رابع تقديم يو طرف ته كوه او دا دري نور بل طرف ته كوه، نو د دې رابع دلالت په قصر باندې په فحوى سره دي، د فحوى دا معنى، تفسير د غير مشهور په مشهور سره كوي **اي بمفهوم الكلام** فحوى معنى مفهوم د كلام، لكن مفهوم نه مفهوم التزامي واخلئ، مفهوم مطابقي نه، ځكه تميمي انا يا قيسي انا، دلته كې خو مفهوم مطابقي څه دي تميمي يا قيسي دي د ځان لپاره، قصر ندي په مفهوم مطابقي سره، نو د مفهوم نه مفهوم التزامي واخلئ نو ځكه شارح تفسير كوي **بمعنى انه** اي الشان اذا تأمل **صاحب الذوق السليم فيه** اي في ذلك التقديم **فهم القصر** نو هغه فهموي قصر لره **وان لم يعرف اصطلاح البلغاء في ذلك** اي في ذلك الافادة القصر، اگر كه ورته معلوم نه وي، لكن صاحب د ذوق سليمه ته چې ته ووائي **تميمي انا قيسي انا** بصري انا، كوفي انا، نو صحاب د ذوق سليمه پخپله معلوموي چې دلته كې تقديم شوي دي چې قصر لپاره شوي دي بله څه وجه خو د قصر لپاره نشته، دغه معلوموي.

و دلالة الثلاثة الباقية چې عطف دي نفي و استثناء او انما دي نو دا په **بالوضع** په وضع سره دي، د دريو دلالت په قصر باندې په وضع سره دي په مفهوم التزامي سره ندي، داسې چې **لان الواضع وضعها** اي تلك الثلاثة **لمعان تفيد القصر.**

دويمه وجه د ما به الاختلاف بيانوي، وائي **و الاصل اي الوجه الثاني من وجوه الاختلاف** هغه دا ده چې **ان الاصل في الاول** اول څوك دي **اي طريق العطف** چې طريقه د عطف ده، **النص** تصريح ده **على المثبت و المنفي** په مثبت او منفي دواړو باندې لكه **زيد قائم لا قاعد ما زيد قائم بل قاعد كما مر** مخكې تير شوي دي، نو **فلا يترك النص عليها** نو نشي پريښودي تصريح په دي دواړو مثبت او منفي باندې **الا لكراهة الاطناب** مګر د دوجي د بد ګڼلو د اوږدوالي نه، تصريح په مثبت او منفي باندې به نه پريښودلي کيږي، هان په هغه ځای کې به پريدو چې اطناب راځي، لكه د هغې مثال داسې شو چې د اطناب د وجي نه تصريح پريښودلي شوي وي **كما اذا قيل زيد يعلم النحو و التصريف و العروض** د يو مخاطب دا عقيده وه چې زيد عالم په نحوه په صرف په عروض باندې وو، دا قصر د موصوف على الصفة کې شو، د شركت عقيده يې وساتله، يا دا چې **او زيد يعلم النحو و عمرو و بكر** يا هلكه په نحوه کې زيد عمرو بكر شريك دي، هم يې د شركت عقيده وساتله، دا په قصر د صفت على الموصوف کې، نو ته په جواب کې به داسې وائي **فنقول فيهما** نو ته به وائي په دي دواړو مثالينو کې **زيد يعلم النحو لا غير** نو تفصيل سره يې ذكر نكړو، پكار خو دا وه چې **زيد يعلم النحو لا التعريف و العروض** داسې ويل پكار وو خو اطناب راځي، نو تا وويله **زيد يعلم النحو لا غير** په دويم کې داسې ويل پكار وو **زيد يعلم النحو لا عمرو و لا بكر** خو د دې په ځای باندې ته ووائي **زيد يعلم النحو لا غير** د كراهيت د اطناب د وجي نه **اما في الاول فمعناه لا غير** اي لا التصريف و لا العروض، مضاف اليه د غير د لفظ نه وغورځولي شو او مراد په نيت کې شو نو **لا غير النحو** دا دي **اي لا التصريف و لا العروض و اما الثاني فمعناه** و لا غير زيد اي لا عمرو و لا بكر، نو دا واو په معنى د فاء سره کوي **فحذف المضاف اليه** حذف کړي شو مضاف اليه د غير نه، اول کې مضاف اليه تصريف او عروض وو دويم کې عمرو او بكر وو **و بني** او بناء کړي شو غيرُ **على الضم تشبيها بالغايات** د وجي د مشابه کيدو د غيرُ نه د غاياتو سره، چې **قبل و بعد** دي، نو اوس ګوره غيرُ مشبه شو او حروف غايات مشبه به شو او اله د تشبيه د **تشبيها** نه فهميږي، او وجه د شبه ابهام او كثرت استعمال دي، دواړو کې ابهام دي، غير کې هم ابهام دي او قبلُ او بعدُ کې هم او كثرت د استعمال دي.

و ذكر بعض النحاة دا بله خبره ذكر كوي چې ذكر کړي دي بعضې نحاتو چې شارح الرضي دي چې **ان لا في لا غير ليست عاطفة بل لنفي الجنس** دي، نو اول کې به وائي خبر د لا محذوف دي **لا غير زيد لا غير عالم** به وائي، هغه دليل دا وائي چې دلته کې لا عاطفه خكه ندي خكه چې لا عاطفه کې نص په مثبت او منفي باندې ضروري وي، دلته کې نص ندي شوي، نو د دې وجي هغه وائي چې دلته کې لا عاطفه نده بلكه

لالنفي الجنس ده **او نحوه** يا مثل د لاغير **مثل لا ما سواه** لکه ما سواه وائي **و لا من عده** وائي **و ما اشبه ذلك**. **و الاصل في الثلاثة الباقية النص على المثبت فقط** د فقط ترجمه کوي، اي دون المنفي **و هو ظاهر** ځکه ما زيد الا قائم صرف مثبت باندې [نص] دي **انما زيد قائم** صرف مثبت باندې دي، تميمي انا، قيسي انا، صرف مثبت باندې دي، منفي نشته دي.

و النفي دريمه وجه د وجوهو د اختلاف نه **اي الوجه الثالث من وجوه الاختلاف** دا ده چې ان النفي بلا العاطفة **لا يجامع الثاني** نفي په لا عاطفه نه جمع کيږي د ثاني سره، ثاني دا دي چې **اعني النفي و الاستثناء** نو **فلا يصح ما زيد الا قائم لا قاعد.**

اوس شبهه راغله په شارح باندې چې ته وائي چې صحيح ندي او صاحب د کشاف په کلام کې خو جمع شوي دي، داسې چې صاحب د کشاف د دې ايت د لاندې ليکلي دي چې **قوله تعالى**: فاذا عزمت فتوكل على الله د دې لاندې هغه ليکلي دي چې فلأن الاصل هلك لا يعلمه الا الله لا انتَ، نو صاحب د کشاف خو دلته کې جمع کړيده په والا ولاکې، نو دا وائي چې هلکه صاحب کشاف خو يو سړي دي د هغه په کلام کې راغليدي، د کشاف کلام څه قران او حديث ندي، او زما مقصد دا دي چې د کلام الله او کلام الرسول او د بلغاء کلام کې دا نه راځي، او کشاف خو يو سړي دي ځانله لاړ دي شي کنه، د هغه قول قابل د استدلال ندي، وائي **و قد يقع مثل ذلك** اي مثل ذلك الجمع **في كلام المصنفين** لکن کلام الله او کلام الرسول، او کلام البلغاء کې نشته دي، او کشاف د بلغاؤ نه نه دي، نو که څوک شبهه وکړي چې هلکه صاحب کشاف لپاره خو نحوه کې ډير اقدام حاصل دي، څومره چې ده د قران کريم نحوي خدمت کړي دي، دارنګه يو مفسر ندي، علامه سيوطي باندې قابل دي، دا شعرونه علامه سيوطي په خپل کتاب کې د صاحب کشاف رانقل کړي او خپل تفسير کشاف باره کې نو وروسته خلکو د امام سيوطي نه رانقل کړي د ده د مدحي لپاره اصلًا شعرونه د صاحب الکشاف دي، کذا رايت مکتوبًا على الکشاف فافهم، علامه سيوطي وائي:

ان التفاسير في الدنيا بلا عدد ... وليس فيها مثل الكشافي

ان كنت تبغي الهدى فالزم قراءته ... فالجهل كداء و الكشاف كالشافي

نو تاسو جواب وکړئ چې د کشاف قول هله معتبر دي چې د جمهورو نه خلاف نه وي په نحوه کې، او چې د جمهورو نه خلاف وي قول د کشاف نو مونږه يې نه سکته سين ته غورزوو، او دا خبره ددې د جمهورو نه خلاف ده، ځکه د جمهورو مسلك په دي باندې چې لاعاطفه د ما او الا سره نه جمع کيږي. دا وائي **لان شرط المنفي** بلا العاطفة دا دي چې **ان لا يكون** ذلك المنفي **منفيا** قبلها مخکې ددينه **لانه** دا شرط دي، او ما و الا کې هغه منفي مخکې منفي وي **بغيرها** په غير د دې لاسره، شارح ورسره ولګوه **من ادوات النفي** د دې قيد فائده شارح وروسته پخپله وائي، چې دا منفي، منفي مخکې د لانه به نه وي په

غیر د دې لانه په ادواتو د نفي نه، دلیل د متن لپاره وائي خکه وائي **لانها** خکه دا لا **موضوعة** وضع کړي شوي ده **لان تنفي** چې نفي کړي شي **بها** په دي لاسره **ما** هغه حکم **اوجبته** چې تا ثابت کړي وي هغه لره **للمتبوع** د متبوع لپاره، کوم حکم چې تا ثابت کړي دي اي متکلمه نو په لاسره هغه حکم به نفي کیږي د متبوع نه **لا** لاد دې لپاره نده وضع شوي چې **لان تعيد بها النفي في شئ قد نفيته** چې ته دي وکړي په دي لا سره نفي په یو شي کې چې تا نفي کړي وي هغې لره، مخکې تا یو ځل نفي کړي وي، خکه بیا تحصیل د حاصل راځي **وهذا الشرط مفقود في النفي والاستثناء** او دغه شرط په نفي او استثناء کې ورک کړي شوي دي، هلته کې خو مخکې نفي شته دي مفقود خکه دي د مفقود لپاره دلیل دي وائي **لانك اذا قلت ما زيد الا قائم** نو **فقد نفيت عنه كل صفة وقع فيها التنازع، حتى كانك قلت ليس هو بقاعد ولا قائم ولا مضطجع ونحو ذلك** مستلق هم ندي **فاذا قلت** پس چې بیا تا وویله **لا قاعد فقد نفيت بلا العاطفة شيئا هو منفي قبلها بما النافية** نو تکرار لازم شو، نفي د منفي وشوه، نو تحصیل د حاصل، تکرار لازم شو.

وائي دا خو ما تاته مثال وخودو په قصر د موصوف على الصفة کې، دارنګه قصر د صفت على الموصوف کې **وكذا الكلام في ما يقوم الا زيد** ما یقوم الازید تا وویله نو دلته کې نفي د قیام د عمرو بکر، خال، والد نه راغله، اوس ته بیا وائي لابکر، یا لاعمرو، نو دا تا مخکې نفي کړي، نو دا تا د منفي نفي وکړه بیا دي معاد کړه.

اوس مخکې چې ما تاسو ته ویلي وو چې شارح هلته کې د **بغيرها** تفسیر کړي وو په **من ادوات النفي** سره نو ما ویل د دې قید فائده به پخپله شارح ذکر کوي، هغه دلته کې ذکر کوي، **وقوله** اي الماتن چې **بغيرها** دي یعني الماتن قصد کوي ماتن بغیرها سره **من ادوات النفي** ادوات د نفي مراد دي، شبهه یا هلکه شارح ته په دي تفسیر کې متفرد به ئې؟ وائي نه نه، متفرد نه یم **على ما صرح به في المفتاح** دا په مفتاح کې شته دي، او بما لا یرضی هم نشو، خکه تلخیص د مفتاح نه ماخوذ دي، چې مفتاح کې شو چې منقول عنه دي نو منقول کې هم ضروري دي، او په دي ماتن راضي دي.

اوس د دې قول فائده بیانوي، وائي فائده د دې تقیید چې من ادوات النفي نه مخکې به منفي نه وي **الاحتراز** احتراز دي **عما** د هغه کلام نه، یا د هغې منفي نه **اذا كان** کله چې وي دغه متبوع **منفيا** منفي **بفحوى الكلام** په فحوی او تقدیم د کلام سره، یعني په مفهوم د کلام سره، لکه ته وائي چې **تميمي انا لا قيسي** دا جائز دي، خکه چې تمیمي انا کې نفي د قیسي په مفهوم د کلام سره وشوه، نو دلته کې لا قیسي جائز دي، یا قیسي انا لاتمیمي جائز دي، دویم صورت او **علم المتكلم** یا دا متبوع منفي وي په اعتبار د علم د متکلم سره، علم د متکلم سره داسې چې زه عالم وم چې ضارب زید دي او عمرو ندي. او ستا علم ستا د علم نه برعکس شو، ته عالم یې چې ضارب عمرو دي او زید ندي، نو اوس ما تاته وویله چې **انما ضرب زيد لا عمرو** نو انما ضرب زید دلته کې نفي د ضرب د عمرو نه زما په علم کې خو

راغلي وه چې ضارب زيد دي عمرو ندي، ما ورسره ټل کړو لاعمرو، نو دا جمع جائز ده، ځکه چې مخکې په اعتبار د علم د متکلم سره شو **او السامع** يا په اعتبار د علم د سامع سره، هغه مثال هم دغه دي **او نحو ذلك** يا مثل د دي، لکه وروسته راځي چې يو فعل کې معنى د امتنع وي، يا کف وي يا دا بې معنى وي، نو دا ټول دلالت په نفي باندې کوي، خو دا د ادواتو د نفي نه ندي، صراحةً نه کوي، نو دې سره لاجمع کيدي شي، وائي **كما سيجئ** لکه وروسته په متن کې راځي چې **كما يقال امتنع زيد عن الجري لا عمرو** [مختصر ١٩٧\٢] هلته کې جائز دي، كما سيجئ في انما

لاتري لري کوئ **يقال** سره دا شبهه کوي، وائي ويلي شويدي چې **هذا** دا ما ذکر د ماتن چې **بغيرها** دي **يقتضي جواز ان يكون منفيا قبلها بلا العاطفة الاخرى** د دينه خو دا معلوم شو چې که دا منفي، منفي وي په بلې لاعاطفه سره نو دا بيا جائز ده، خو د لاعاطفه نه علاوه په بل حرف نفي سره منفي، منفي جائز ندي، ځکه **بغيرها** يې ويلي دي، نو بناء په دي خو نحو جاءني الرجال لاالنساء لاهند، دا خو جائز شو؟ ځکه په دي باندې صادقيږي چې دغه منفي چې هند دي منفي ندي په غير د ادواتو د نفي نه، بلکه په ادواتو د نفي سره منفي دي چې لادي، او په دي جواز باندې خو څوك قائل ندي؟ اتفاقًا خلق وائي چې دا جائز ندي، نو ده وويله چې دا اعتراض د يقال والالايقال دي ځکه **لانا نقول** مونږ وايو **الضمير لذلك المشخص** وائي **بغيرها** کې دا ضمير راجع دي دي شخص د لاته، نوع د لاته ندي چې دغه د لادا شخص چې دا لام داسې [اوږد ولاړ] او ورسره الف داسې نيغ ولاړ او په دي مخصوص شکل باندې دا مشخص لاچې وروسته په معطوف کې دي، په دي مشخص لاسره مخکې منفي، منفي نه وي، او نوع د لاته ندي راجع چې نوع د لاسره بيا جائز شو، **اي بغير لا العاطفة** اللتي نفي بها ذلك المنفي

معترض راغي شبهه يې وکړه چې بيا خو د دينه دا معلومه شوه چې د دې لامشخص نه په غير سره په مخکې منفي به منفي نه وي او که دي لامشخص سره مخکې منفي، منفي وي نو هغه جائز دي، او دا خو ممکن ندي لامشخص سره خو هم جائز ندي، ځکه چې تا وويله چې **بغيرها** ضمير دي شخص د لاته راجع شو نو مطلب دا دي چې دي لامشخص د غير سره دا مخکې منفي به منفي نه وي، نو که دا لا مشخص سره مخکې منفي منفي وو نو هغه بيا جائز شو؟ او هغه خو جائز ندي

نو اوس شارح د دې اعتراض نه جواب کوي **و معلوم** سره، شارح وائي چې دغه لامشخص دلته کې دا بره چې په معطوف کې دا د معطوف نه مخکې قبل التلفظ دي نشي راتلي، نو په دي باندې مخکې تلفظ ندي شوي نو مخکې د دې راتلل په منفي کې محال دي، ځکه چې تشخص د لاخو په تلفظ سره کيږي، نو تلفظ په دي باندې شوي دي بره په جانب د معطوف کې نو د تلفظ نه مخکې خو دغه مشخص راتلي نشي، نو چې رانغي نو د ده مخکې راتلل محال دي د دې مشخص لا، نو ځکه وائي چې **و معلوم انه يمتنع نفيه** اي المنفي **قبلها** مخکې د لامشخصه نه **بها** په دي لاسره ځکه لامتناع ان ينفي

شيئاً بلا قبل الاتيان بها، څکه لامشخص خو په تلفظ سره متحقق کيږي، او د دينه مخکې تلفظ ندي شوي نو لابه څنګه راشي، لامشخصه سره جواز د نفي نشي کيدي، د دې لپاره د مثال سره يې اوس ښه واضح کوي نو وائي **وهذا** او دا قول د مصنف چې **بغيرها** دا داسې دي **كما يقال** نظير د دې لپاره ذکر کوي **هغه ما يقال** دا دي چې ته ووائي چې **داب الرجل الكريم ان لا يؤذي غيره** وائي عادت د سخي سړي دا دي چې دا تکليف نه رسوي غير خپل ته، نو اوس دلته ګوره **غيره** کې دوه احتماله دي **غيره** کې ته راجع کړي ضمير نوع ته، نو د ده نوعه کريم دي، او غير د ده د نوع بخيل دي، نو معنى دا شوه چې دا بخيل ته ضرر نه رسوي، نو په دې کې مدحه رانغله، چې بخيل ته ضرر نه رسوي او کريم ته يې رسوي خپلې نوعي ته، او که غيره کې تا ضمير راجع کړو شخص د رجل کريم ته چې دا کوتك ناست دي، وائي عادت د رجل کريم دا دي چې دا ضرر نه رسوي غير د خپل شخص ته، د دې خپل ختکي نه غير ته ضرر نه رسوي، هغه غير هېله کريم وي که بخيل وي، اوس مدح کامل راغله، دا د هغې لپاره نظير شو.

فان المفهوم منه الخ و يجامع النفي بلا العاطفة **الاخيرين** اخيرين کوم دي **اي انما و التقديم** فيقال **انما انا تميمي لا عمرو** دا اولني مثال د قصر د موصوف على الصفة شو، او وروستي د قصر د صفت على الموصوف شو، وائي څکه **لان النفي فيهما** اي في الاخيرين **غير مصرح به** دي، تصريح پرې نده شوي او ما مخکې ويلي دي چې **من ادوات النفي** قيد مي ايښي دي **كما في النفي و الاستثناء** لکه مصرح دي په نفي او استثناء کې، کما منفي سره لګوئ، نو فلا يكون المنفي الخ، **وهذا** دا تشبيه ورکوي، وائي دا ما ذکر د مثالينو چې **انما انا تميمي لا قيسي** او **و هو ياتيني لا عمرو** دا مشابه دي **كما يقال امتنع زيد عن المجئ لا عمرو فانه يدل على نفي المجئ عن زيد** دا کوي **لكن لا صريحا** صراحةً نه کوي **بل ضمنا** ضمناً کوي صراحةً خو دا ده چې ثبوت د امتناع د مجئ ده زيد ته، معنى مطابقي د دې داده، و انما معناه الصريح ايجاب امتناع المجئ عن زيد، نو **فيكون لا نفيا لذلك الايجاب** کلمه د لاکما في الحاشية فافهم، اي تکون کلمة لانافياً لذلك الايجاب المتضمن للنفي، نو لاد ايجاب لپاره نفي شو [نافي شوه] خو دغه ايجاب متضمن دي نفي لره، او حقيقة نشته دي [نفي] معترض راغي شبهه يې وکړه چې تا د دې مخکيني مثالونو تشبيه د **امتنع زيد عن المجئ لا عمرو** سره ورکړه نو دا نه صحيح کيږي، څکه ښکته په دي **انا تميمي** کې نفي د قيسي وو، **و هو ياتيني** کې نفي د عمرو وه، او **امتنع زيد عن المجئ** کې نفي د عمرو نشته چې ته وائي لاعمرو، نو دا تشبيه صحيح نشوه، يعني د دې مخکنيو مثالونو تشبيه د دې **امتنع زيد عن المجئ لا عمرو** سره نه صحيح کيږي څکه هغوى کې نفي د صفت نه مخکې وه، قصر د موصوف على الصفة کې، او دلته کې امتناع د مجئ د زيد نه په دي سره نفي د عمرو نه خو نشته دي، نو تشبيه صحيح نشوه.

نو شارح جواب کوي چې تشبيه په کل امورو کې نه وي، وائي تشبيه زه صرف په دي کې ورکوم چې د نفي صريحي او ضمني حکم يو ندي، نفي صريحي سره لاعاطفه نشي جمع کيدي او نفي ضمني سره

جمع کيږي، نو تشبيه صرف په دي کې ورکوم، نو ځکه وائي چې **والتشبيه بقوله امتنع زيد عن المجئ من** جهة ان النفي الضمني ليس في حكم النفي الصريحي، ځکه نفي ضمني سره لاجمع کيږي او صريحي سره نه جمع کيږي **لا من جهة** تشبيه په دي جهت کې نده چې **ان المنفي بلا العاطفة منفي قبلها** به وي **بالنفي الضمني** او په نفي د ضمني سره شته دي **كما في انما انا تميمي لا قيسي** کې، ځکه انا تميمي سره نفي د قيسي راغله **و لا من جهة** د نفي لپاره دليل وائي **اذ لا دلالة لقولنا امتنع زيد عن المجئ على نفي مجئ عمرو لا ضمنا و لا صريحا** دواړه نفي نشته دي

قال السكاكي شرط مجامعته تعيين د مرجع کوي **اي مجامعة النفي بلا العاطفة للثالث** د ثالث سره، ثالث **انما** چې انما دي [دا دي] **ان لا يكون الوصف مختصا بالموصوف** کوره لاعاطفه چې د انما سره جمع کيږي په قصر د موصوف على الصفة کې، نو سکاکي وائي چې شرط دا دي چې دا صفت به مختص د موصوف سره به نه وي، وائي ځکه چې که وصف مختص موصوف پورې شو، بيا ته نفي کوي نو څه فائده راغله، وائي **لتحصيل الفائدة** سکاکي دا دليل وائي: مثال داسې شو، مثال د منفي لپاره دي کما في الحاشية، لکه **نحو قوله تعالى: انما يستجيب الذين يسمعون** دا قصر د موصوف على الصفة دي، استجابت بند دي په هغه چا پورې چې هغوی قران اوري، نو چې مني يې نو قبولتيا د هدايت هغوی کوي، نو دا قصر د موصوف على الصفة دي، نو اوس دا استجابت صفت مختصه د الذين يسمعون لپاره دي، اوس دي سره نفي د لاالذين لايسمعون ته حاجت نشته دي، ځکه هغه هسې صفت مختصه دي [نو نفي د سره څه فائده نشته نفي کيږي نه] **فانه يمتنع ان يقال لا الذين لا يسمعون** دليل وائي **لان الاستجابة لا تكون الا ممن يسمع. بخلاف انما يقوم زيد لا عمرو** هلته کې حاجت شته دي، ځکه قيام صفت مختصه د زيد ندي **اذ القيام ليس مما يختص بزيد.**

نو سکاکي وائي دا شرط شته دي چې لاعاطفه چې جمع کيږي د انما سره په قصر د صفت على الموصوف کې، نو دا شرط دي چې دا صفت به صفت مختصه د موصوف به نه وي، که صفت مختصه وي نو نفي که وروسته په لاسره راغله نو نفي بلا فائدي کيږي

و قال عبد القاهر لا تحسن وائي دا جمع ښه نده، **اي مجامعته للثالث في الوصف المختص كما تحسن في غيره** سکاکي وائي چې دا شرط د اصل مجامعت لپاره دي، شيخ وويل چې دا شرط د حسن لپاره دي، اصل لپاره ندي، ماتن شيخ ته ترجيح ورکوي **وهذا اقرب الى الصواب** وائي دا ما قال د شيخ ډير نزدې دي صواب ته **اذ لا دليل على الامتناع** شبهه: هلکه په امتناع باندې ولې دليل نشته دي **لتحصيل الفائدة** خو سکاکي دليل ويلي دي، تحصيل د حاصل خو ممتنع دي؟ جواب دا وائي هلکه تحصيل د حاصل نه راځي **عند قصد زيادة التحقيق و التاكيد** په وخت د قصد کولو د زيادت تحقيق او تاکيد کې تحصيل د حاصل نه راځي

څلورمه وجه د فرق بیانوي په دي وجوه اربعو کې، نو وائي **واصل الثاني** شبهه: یا هلکه د دې عبارت نه څه غرض شو؟ نو شارح د غرض ابراز کوي چې دا څلورمه وجه د اختلاف وائي، نو شارح وائي **اي الوجه الرابع** څلورمه وجه **من وجوه الاختلاف** نه په دواتو کې په دي طرقو کې دا ده چې **ان اصل النفي والاستثناء** وائي راجح او اولی په نفي او استثناء کې دا ده چې **ان يكون** چې وي به هر یو د دې نفي او د استثناء نه، وي به هغه حکم **استعمل له** چې مستعمل کړي شوي دي د غه نفي او استثناء د دې حکم لپاره، شارح ورسره لګوي **اي الحكم** دي کې یې اشاره وکړه چې ما عبارت دي د حکم نه، **الذي** کې یې اشاره وکړه چې ما موصوله ده **استعمل** کې یې اشاره وکړه چې اعاده د موصول بې د صلي نه ناروا ده، نو موصول خو یې معاد کولو نو صله یې ورسره هم معاد کړه، **فيه النفي والاستثناء** دي سره یې تعیین د مرجع وکړو، چې **له** ضمیر نفي او استثناء ته راجع دي، او بله یې اشاره وکړه چې دا لام په له کې په معنی د في سره دي، هغه حکم **مما** د هغه قبیلي نه وي چې **يجهله المخاطب وينكره** جاهل وي د دینه مخاطب او انکار کوي د دې نه نو ما او الا په هغه ځای کې مستعملیږي چې مخاطب ته هغه حکم مجهول هم وي او هغه انکار ترینه هم کوي **بخلاف الثالث** اي انما، چې انما دي **فان اصله** څکه اولی او راجح د هغې دا دي چې **ان يكون الحكم المستعمل هو** اي انما **فيه** اي الحكم **مما يعلمه المخاطب ولا ينكره** شبهه: یا هلکه ته خو توضیح او توجیه د متن کوي، جائز ده ماتن دي راضي پرې نه وي؟ جواب: وائي راضي دي، دغه ماتن په ایضاح کې ویلي دي، نو ما لایرضی نشو. شبهه: یا هلکه ایضاح کې چې ماتن دا خبره کړیده نو ایضاح کې ماتن ناقل دي د چا نه که نه په خپل ذوق او د ذهن نه یې کړي ده؟ وائي نه نه، **نقلا عن دلائل الاعجاز** دلائل الاعجاز نه یې نقل کړي دي، ناقل دي.

وفيه بحث اوس اعتراض کوي په **بخلاف الثالث** باندې چې دا خبره خطا ده چې انما سره قصر په هغه ځای کې کیږي چې مخاطب ته هغه حکم معلوم وي او انکار ترینه نه کوي بیا قصر کې څه فائده راغله؟ و **فيه بحث لان المخاطب اذا كان عالما بالحكم** اي بالنسبة **ولم يكن حكمه** اي حكم المخاطب **مشوبا** اي مخلوطا **بخطإ** نو بیا **لم يصح القصر** هر قصر چې وي نه قصر قلب او نه قصر افراد **بل لا يفيد الكلام سوى لازم الحكم** څکه مخاطب هم عالم شو متکلم هم عالم شو، خو متکلم خپل علم مخاطب ته بنائي، نو فائدة الخبر د سره رانغله بلکه لازم د فائدة الخبر راغي، چې متکلم خپل علم مخاطب ته بنائي، قصر ته بیا څه ضرورت دي؟ څکه قصر خو که قصر قلب وي که قصر افراد وي ملته کې هغه په مقام د انکار کې کیږي، دلته کې انکار شته دي؟

وجوابه دا وائي چې جواب د دې سوال نه دا دي چې ته پوهه شوي نه یې، علم او عدم انکار تا بالفعل اخستي دي اي معترضه، هغه دلته کې زمونږ مراد ندي، زمونږ مراد د علم نه او عدم انکار نه بالقوة مراد دي، نو قصر ته حاجت راغي چې مخاطب د شان نه علم وي، د شان نه عدم انکار وي، یعني

بالقوة علم او بالقوة عدم انكار وي، بالفعل به انكار او جهل به وي، نو قصر كې فائده راغله، نو د معترض اعتراض بنا شوي دي باندې چې د ده د علم او د عدم انكار نه بالفعل اخستي دي، او د مجيب جواب بنا دي په دي باندې چې د علم او د عدم انكار نه بالقوه مراد دي، نو دا جواب هم شو، او منشا د غلطيا د و فيه بحث والا [لپاره] هم شوه، نو وائي **و جوابه ان مرادهم** اي العلماء دا دي چې **ان المخبر يكون لخبر من شانه ان لا يجهله المخاطب** چې مخاطب ته هغه مجهول نه وي يعني ظاهر وي، او بالفعل مجهول ورته وي او منكر ورنه وي **و لا ينكره** چې هر كله د شان د ده نه عدم انكار او عدم جهل شو حتى **ان انكاره يزول بادنى تنبيه** او ادنى تنبيه په انما كې ده، ځكه **لعدم اصراره** اي المخاطب **عليه** اي على الجهل و الانكار **و على هذا** شبهه وائي دي جواب كې ته متفرد به يي، دا بل چا به نه وي كړي؟ وائي على هذا بناء په دي تاويل باندې **يكون موافقا** دا ما في الايضاح **موافق لما في المفتاح** سره، موافقت هم راغې د منقول د منقول عنه سره.

كقولك لصاحبك وائي دا قول ستا خپل ملگري ته، حال دا دي **و قد رايت شبحا من بعيد** پورې په دي سړك كې يو شكل ما وليدو نو ما ويل چې هلكه دا شكل د زيد دي، تا ويل نه دا خر دي مولوي صيب، ما ويل چې نه زيد دي، تا ويل نه دا خر دي، نو ته په خپل انكار باندې مُصِر يي، چې نه منم چې دا زيد دي، دا خر دي، نو دي كې زه اوس تاته قصر كولي شم چې **ما هو الا زيد** خو هله **اذا اعتقده** اي اعتقد ذلك الصاحب لذلك الشبح **غيره** تعين د مرجع گانو كوي **اي اذا اعتقد صاحب ذلك الشبح غير زيد مصرا على هذا الاعتقاد**

و قد ينزل المعلوم منزلة المجهول اي په يو ځاى كې يو حكم مخاطب ته معلوم وو د شان د هغه نه علم وو، عدم جهل او عدم انكار دي، نو هلته كې ځاى د انما وو، لكن متكلم لگيدلي وي هغه معلوم حكم يې نازل كړى وي په منزله د مجهول كې، نو هلته كې يې ما او الا مستعمل كړي دي، او په منزله د مجهول يې ولې نازلوي، متكلم يې په زور سره د څټ نه نيولي شي؟ وائي نه نه **لاعتبار مناسب** د وجي د اعتبار مناسب نه، چې د اعتبار مناسب د وجي نه يې نازلوي، نو دلته كې اوس انما مستعملول پكار وو، خو د تنزيل نه وروسته **فيستعمل له** مستعملوي متكلم **لذلك المعلوم الثاني** ثاني څوك دي؟ اي النفي و الاستثناء دي **افرادا** يا هلكه افراداً منصوب دي، نصب بنا بر څه؟ وائي **حال كونه** حال دي **قصر افراد** په حال كون د دې ثاني كې چې **قصر افراد** سره راځي، اشاره يې وكړه چې دا حال دي خو په حذف د مضاف سره، چې قصرَ افرادٍ دي، مثال داسې شو **و ما محمد الا رسول قد خلت من قبله الرسل** اي مقصور على الرسالة، ندي محمد صلى الله عليه و سلم مگر مقصور دي په رسالت باندې، دائي ترجمه د قصر وكړه، شبهه راغله چې هلكه ندي محمد صلى الله عليه و سلم مگر مقصور دي په رسالت باندې متجاوز ندي بل هيڅ صفت ته، نو دا خو نه صحيح كيږي؟ جواب وكړو ماتن چې **لا يتعداها الى التبرء من الهلاك** چې يا هلكه قصر حقيقي ندي قصر اضافي دي، وائي نه متعدي كيږي د دې رسالت نه تبري

من الهلاك ته بلکه هلاکیږي به [وفات کیږي به] دا مثال مطابق د ممثل سره دي، خکه **فالمخاطبون** چې صحابه دي **و هم الصحابة رضي الله عنهم کانوا عالمين بکونه** اي بکون محمد صلى الله عليه و سلم **مقصورا على الرسالة غير جامع بين الرسالة و التبرء عن الهلاك** صحابه په دي باندې هم عالم وو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم رسول دي او مبرء عن الهلاك ندي، بلکه هلاکیږي هم، هغوی ته پته وه **لکنهم** اي الصحابة **لما کانوا يعدون هلاکه** اي رسول الله صلى الله عليه و سلم **امرا عظيما** دا اعتبار مناسب شو، چې هغوی هلاک د رسول الله صلى الله عليه و سلم امر عظيم شمارلو **نزل استعظامهم** نازل کړي شو لوی ګڼل د صحابو **هلاکه** مړ کیدل د رسول الله صلى الله عليه و سلم **منزلة انکارهم** اي الصحابة **اياه** اي الهلاک، نو فاستُعمل له النفي و الاستثناء **و الاعتبار المناسب هو الاشعار بعظم هذا الامر** خبرداري ورکوي الله په لوی والي د دې امر سره چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د دنيا نه رخصت کیده، دا لوی امر وو **في نفوسهم، و شدة حرصهم** اي الصحابة **على بقائه صلى الله عليه و سلم** باندې

د دې وجې نه د رسول الله صلى الله عليه و سلم د مرګ نه وروسته صحابه درې ډلي شوي وو، یوه ډله داسې چې بلکل خبري يې نه شوې کولی بس ګونګیان شوي وو، بدن حرکت نه کولو، خوله چارا شري وه لکه حضرت علي رضي الله عنه او عثمان و غيرهما رضي الله عنهما، دویمه ډله د صحابو داسې وه چې توره يې ونیوله او بهر ته را ووتل چې هلکه چا چې دا خبره وکړه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم مړ دي سر ترې پرې کوم ګوري، حضرت عمر و غیره شو! هغوی ویل چې رسول الله صلى الله عليه و سلم مړ ندي، چا چې د مرګ خبر ورکړو هغه سړي زمونږ دشمن دي، دریمه ډله د صحابو حليم الطبع، بردبار، حضرت ابو بکر، هغه نه وو، باندې کې وو، خبر راغې چې رسول الله صلى الله عليه و سلم مړ شو، نو هغه باندې نه راغې، نبي عليه السلام د هغه د لور کور کې وو، حضرت عائشې، دننه لاړو، څادر يې پورته کړو واقعي مړ وو، نو بهر ته را ووتلو نو د صحابو حالت خراب دي، ګډ وډ دي، نو ټول يې جماعت ته را وبلل په منبر باندې وختو **و ما محمد الا رسول قد خلت من قبله الرسل افائن مات او قتل انقلبتم على اعقابكم** د ده مړه کیدو سره دين نه ختميږي، د ده مشن نه ختميږي، وائي د ده دا مشن تر قيامته پورې به جاري وي، وائي مونږ او تاسو اوس دي له ملا به ترو، د ده مړ کیدو سره د ده مشن نه ختميږي، کار نه ختميږي، دا خو لاړو، خو اوس مونږ او تاسو به د ده د وراثت غور کوو.

حضرت عمر فرمائي چې زما خيال کې راغله چې دا ايت اوس نازل شو، وائي د سره زما د ذهن نه وتلي وو، پريشاني د علم لپاره لوی افت دي، پريشاني او خفګان بس د علم نسيان دا لازم او ملزوم، پريشاني او خفګان او د علم نسيان، حضرت عمر وائي چې د پريشانئ د وجې نه زما دا خيال وشو چې دغه ايت اوس نوي نازل شو.

او قلبا عطف على قوله افرادا، يعني قصر قلب يا قصر قلب سره به وي **نحو قوله تعالى**: ان انتم الا بشر مثلنا.

دا مثال مطابق د ممثل سره دي **فالمخاطبون و هم الرسل صلوات الله عليهم لم يكونوا جاهلين بكونهم** اي بكون انفسهم **بشرا و لا منكرين لذلك البشرية** نو اوس دا کافرو ما او الاوويله؟ **لكنهم** اي الرسل **نزلوا منزلة المنكرين** کافر نازل کړي شول، متکلمين کافر دي، ځکه **لانتقاد القائلين و هم الكفار** چې **ان الرسول لا يكون بشرا مع اصرار المخاطبين** چې رسولان دي **على دعوى الرسالة** چې مونږ پيغمبران يو، مونږ پيغمبران يو، نو کافرو دا خيال وکړو چې دوی د خپل بشريت نه منکر دي کنه، ځکه بشريت او رسالت نه جمع کيږي في اعتقادهم **فنزلهم القائلون** اي فنزل الرسل القائلون **منزلة المنكرين للبشرية، لما يا لما اعتقدوا اعتقادا فاسدا من التنافي بين الرسالة و البشرية** نو **فقلبوا هذا الحكم** پيغمبرانو خو ويله مونږ رُسل يو، هغوی ويله نه تاسو رسولان نه ياستئ بشر يي، نو قصر قلب ؤو، نو **فقلبوا هذا الحكم و قال ان انتم الا بشر مثلنا** د قصر ترجمه کوي اي **انتم مقصورون على البشرية ليس لكم وصف الرسالة تدعونها.**

و لما كان ههنا مظنة سؤال دي کې اشاره کوي ماتن چې دا راتلونکي متن جواب دي د سوال مقدره نه، بل دفع د اعتراض کوي چې ستا مقصود مثال وو د قصر افراد، د ما او الاپاره مثال وو د قصر قلب، نو هغه مثال خو ختم شو، اوس وروسته **و قولهم ان نحن الا بشر مثلكم** کې اشتغال بما لايعني راغي، ځکه دې لره په مثال کې خو څه دخل نشته دي، نو شارح جواب وکړو چې دا جواب دي د سؤال مقدره نه **ولما كان ههنا** اي في هذا المقام **مظنة سؤال** اي موضع ظن السؤال **و هو ان القائلين** و هم کفار **قد ادعوا التنافي بين البشرية و الرسالة و قصروا المخاطبين** چې پيغمبران دي **على البشرية** لکن **و المخاطبون قد اعترفوا بكونهم مقصورين على البشرية حيث قالوا ان نحن الا بشر مثلكم** نو **فانهم** اي الرسل **سلموا انتفاء الرسالة عنهم** اي عن انفسهم، او د کافرو سره يې موافقت رد کړو، نو **اشار** اي الماتن **الى جوابه بقوله و قولهم** اي قول الرسل المخاطبين **ان نحن الا بشر مثلكم من باب مجاراة الخصم** دا د باب د تلو نه دي په هغه لاړ باندې چې خصم هم کومه لاره باندې خي، چې ستا د مناظر او مقابل په کومې لاړي باندې خي، په هغه لاړي باندې ته هم روان شي ورسره، چې هغه خوشحاله شي، چې يا هلکه دا سړي زما ملګري شو **و ارخاء العنان اليه** او سستول د واګې دي دي خصم ته **بتسليم بعض مقدماته** نو هغه به خوشحاله شي چې که خير وي دي ماته لږ مائل شو حالانکه ته هغه چپ کړي چې شور ونکړي، او بيا دپاسه پرې اتم بم راخلاص کړي **ليعثر** د دې لپاره چې وخوبيږي دا خصم **ليعثر** که د عثور نه شي نو ويلي شي اطلاع ته، خبرو ته، او که د عثار نه شي نو بيا ويلي شي خويدلو ته، ډير بابونه دي چې هغې کې فرق په اعتبار د مادي او مصدر سره وي **من العثار و هو الزلة** چې خصم په خپه کې وخويږي، ارتاؤ کړي **و انما يفعل ذلك** وائي کيږي دا مجارات او مماشاة **حيث يراد تبكيته** دا په هغه ځای کې چې ستا خصم شور کوي، خبري ته غوږ نه ږدي، دليل ته تدبر نه کوي، نو ته ورسره هنر کوي چې راشي زما خبره واوري او چې زړه ته يې چيرته پريوځي نو، تبکيت نه اي اسکات الخصم و الزامه. **لا لتسليم انتفاء الرسالة** نو **فكانهم قالوا** اي الرسل، چې اي هلکه تاسو غوږ

کیږدئ لکوتي، نو هغوی به ورته غوږ کیدي، نو پیغمبرانو ویل **ان ما ادعیتم من کوننا بشرا فحق لا ننکره** نو شور به نه جوړوي خوشحاله به شي چې زمونږه خبره یې ومنله، نو دا **لکن** پرې دپاسه اتم بم شو چې و **لکن هذا لا ینافي** وائي لکن دغه کیدل زمونږ بشر دا منافي ندي د دې سره چې الله احسان وکړي په مونږ باندې په رسالت سره، ولې په تاسو اور لګیدلي دي، وائي نبي څه ممانعت نشته دي **فلهذا** پس د دې عدم تنافي د وجې نه **اثبتوا البشریة لانفسهم** معترض راغي شبهه یې وکړه چې یا هلکه بیا پیغمبرانو قصر ولې کړي دي؟ بیا خو بې د قصر نه ویل پکار وو کنه چې **نحن بشر مثلکم** نو قصر ته بیا څه حاجت وو؟ جواب کوي **و اما اثباتها** البشریة **بطریق القصر** وائي دا خو **فلیکون علی وفق کلام الخصم** کنه، هغوی داسې ویلي چې **ان انتم الا بشر مثلنا** نو دوی ویله **ان نحن الا بشر مثلکم.**

وکقولك عطف علی قوله کقولك لصاحبك، شبهه دا وائي چې په هغې باندې عطف شو نو دا دویم مثال شو، او مثال نه مقصود توضیح د ممثل وي، نو یو کافي وو، دویم ته څه حاجت نشته دي، نو دي جواب کوي **و هذا مثال لاصل انما** یا هلکه تعدد د مثال په اعتبار د تعدد د ممثل سره دي، ممثل دوه وو، یو انما بل ما او الا، نو مخکې دوه ایات کریمه د ما او الامثالونه شو، دا د انما مثال اوس ښائي، وائي **ای الاصل في انما ان یستعمل فیما** اي في حکم لاینکره المخاطب **کقولك انما هو اخوك** یو طالب دي د هغه سره یو وړوکي ورور دي ورسره چغې دي، نو هغه مشر ځانله هغه ورور ضربوي او همیشه یې وهي، نو اخوا نه بل طالب ورته ووائي چې یا هلکه **انما هو اخوك** ترس پرې وکړه، نو هغه طالب ښه پوهه دي چې دا زما ورور دي، ماسره چغې راغلي دي، سبق وائي **لمن یعلم ذلك** دا اخوت **و یقر به** لکن ته ورته په قصر سره وائي ځکه چې که ستا ورور وي نو ترس پرې وکړه، ته یې دومره ضربوي، نو معلومیږي دا چې دا ستا ورور ندي، ته ترینه انکار کوي، ستا د شان نه انکار او جهل دي د اخوت نه **وانت ترید ان ترفقه علیه** اي تجعل من یعلم ذلك رفیقًا مشفقًا علی اخیه.

شارح په دې باندې اعتراض کوي، ځانله ځي، جواب مواب نه کوي، وائي **و الاولی علی ما ذکرنا** چې اصل د انما کې دا ده چې هغه به مستعملیږي د هغه خبر لپاره چې د شان د هغې نه جهالت وي او اصل د ما او الا دا دي چې هغه به مستعملیږي هغه حکم لپاره چې مخاطب د هغې نه منکر وي او ورته مجهول وي، اوس دلته کې **انما هو اخوك** کې خو مخاطب ته اخوت معلوم وو او اقرار یې هم کولو، نو قصر ته حاجت نه وو، تا قصر وکړو نو دا اخراج د کلام خلاف د مقتضی د ظاهر نه شو، نو دیته دا ویل پکار وو چې اخراج د کلام د خلاف د مقتضی د ظاهر نه، دا نوم ورته اینبودل پکار وو، وائي **و الاولی ان یکون هذا المثال من الاخراج لا علی مقتضی الظاهر.**

نو تاسو ووائي چې دا هم کیدي شي او دا بل هم کیدي شي، دواړه جائز دي، دیته دا هم ویلي شي چې دا اخراج د کلام دي چې مخاطب دي د مقتضی د ظاهر نه، ځکه مقتضی د ظاهر عدم قصر وو ځکه

مخاطب عالم وو په اخوت او اقرار يې هم کولو، نو قصر ته حاجت نه وو، لکن ده پرې رحم او ترس نه کولو نو د دې وجې نه متکلم قصر وکړو چې دا پرې ترس او ترحم وکړي، نو اوس ته ديته خلاف د مقتضى د ظاهر نه هم ويلي شي، او دا هم ويلي شي چې دلته کې انما سره قصر شوي دي په هغه خاى کې چې د مخاطب د شان نه علم او انکار دي، دواړه ورته ويلي شي

وقد ينزل المجهول اي په يو خاى کې يو حکم مجهول وي مخاطب نو هلته کې ما او الاپکار وو لکن متکلم هلته کې هغه مجهول نازل کړي وي په منزله د معلوم کې نو انما پکې مستعملوي **منزلة المعلوم لادعاء** اي لادعاء المتكلم **ظهوره** اى ظهور ذلك الحكم **فيستعمل له الثالث** اي انما **نحو قوله تعالى حكاية** اي حال كون الله تعالى حكايةً **عن اليهود** قوله تعالى انما نحن مصلحون دا مثال مطابق د ممثل سره دي، ادعوا ان كونَهم مصلحين ظاهر من شانه **ان لا يجهله المخاطب** چې مؤمنان دي **و لا ينكره** يهودو وويل چې اي مسلمانانو تاسو مونږ ته وائي چې تاسو فسادیان يې، فساد مه کوئ مونږه خو مقصور يو په اصلاح پورې متجاوز د اصلاح نه فساد ته نه يو، او زمونږ اصلاح تاسو ته معلومه ده او نه ترينه تاسو انکار کوئ **ولذلك** او د دې ادعاء د وجې نه، نو يهودو خو دا دعوه وکړه د اصلاح، چې دوی ويل چې د شان د هغې نه عدم جهل او عدم انکار دي، حالانکه مؤمنان د دې اصلاح د دوی نه منکر وو، او اصلاح يې مؤمنانو ته معلومه نه وه، فساد يې معلوم وو **ولذلك جاء** په رد کې **الا انهم هم المفسدون للرد عليهم مؤكدا بما ترى** څومره مؤكدات دي؟ ١ من ايراد الجملة الاسمية الدالة على الثبات ٢ و تعريف الخبر الدال على الحصر ٣ و توسيط ضمير الفصل المؤكد للعطف اي الحصر ۴ و تصدير الكلام بحرف التنبيه الدال على ان مضمون الكلام مما له خطر و به عناية ۵ و تاكيده بان ۶ ثم تعقيبه بما يدل على التقريع و التوبيخ و هو قوله و لكن لايشعرون، چې هلکه د دې خلکو لپاره شعور هم نشته دي، په محسوساتو باندې يې هم علم نشته دي، ځکه چې د دوی دا فساد محسوس دي او دوی وائي چې مونږ مصلحين يو، نو دوی سره شعور هم نشته دي چې فساد ته اصلاح وائي، وائي دوی د عين نه غين جوړوي، ګټې نه لوټه او د لوټې نه ګټه جوړوي

و مزية انما على العطف يعني انما سره قصر کول غوره دي په نسبت سره عطف ته، نو غوره والي د انما په عطف باندې دا دي چې **انه يعقل منها** اي من انما **الحكمان معا** اعني الاثبات للمذكور و النفي عما عداه **معا** يو خاى فهميږي، بخلاف العطف فانه يفهم، او انما نه معًا معلوميږي لکه **انما زيد قائم** يعني زيد مقصور دي په قيام متجاوز ندي قعود ته، دواړه د دې انما نه فهم شو

و احسن مواقعها کې شارح اشاره کوي ديته چې يا هلکه انما کې هميشه قصر مقصود ندي، بلکه کله کله پکې مقصود تعريض هم وي، او هغه تعريض د انما د احسنو مواضعو نه دي، نو وائي **واحسن مواقعها** اي مواقع انما، غوره خايونه د دې انما **التعريض** تعريض کول دي په چا باندې، تعريض: په لغت

کې اشاري ته وائي، او په اصطلاح کې تعريض ديته وائي دلالت د يو کلام دي په يو معنى باندې چې نه وي دغه کلام مسوق دي معنى لپاره، لکه راتلونکي **انما يتذكر اولوا الالباب** دي کې سوق د کلام دى معنى لره شوى دى چې وعظ او نصيحت نه فائده عقلمند اخلي، او په دي کې تعريض شو په کافرو باندې چې کافر د وجي د جهل او د کفر نه عقل نه خالي دي، او عقل نه خالي ډنګر دي نو دوى پشان د ډنګرو دي، نو د دوى نه طمع د نظر او د وعظ او د نصيحت نه فائده حاصلول داسې دي او طمع لکه د چارپايانو نه طمع کول، نو نحو الباب، نو دلته کې صرف قصر مقصود ندي، چې وعظ او نصيحت مقصور دى عقلمندو خلکو پورې، بلکه تعريض دي، فانه تعريض **كالبهائم** زه عقل ورسره نشته دى، نو **فطمع النظر منهم كطمعه منها** تعين د مرجع ګانو کوي اي كطمع النظر من البهائم.

ماتن وويله **ثم القصر كما يقع بين المبتداء والخبر على ما مر** بناء، په هغه امثلو باندې چې تير شو نو يقع بين الفعل و الفاعل، لکه **نحو ما قام الا زيد** نو قيام مقصور شو زيد پورې، **وغيرهما** او په غير د فعل او فاعل کې هم قصر راځي، لکه **كالفاعل والمفعول** مثال داسې شو **نحو ما ضرب زيد الا عمرا** ضاربيت د زيد مقصور دى په عمرو پورې، او مضروبيت د عمرو مقصور عليه دى، او قصر د مفعول په فاعل باندې لکه ما ضربَ عمرو الازيداً، يعني مضروبيت د عمرو مقصور دي زيد پورې او زيد مقصور عليه شو، دارنګه **والمفعولين** او قصر په مفعولينو کې هم راځي لکه **نحو ما اعطيت زيدا الا درهما** نو اعطاء د زيد مقصور ده په درهمو پورې **وغير ذلك من المتعلقات** لکه حال شو لکه ته ووائي چې قصر د حال کوي په خپل صاحب باندې چې **ما جاء راكبا الا زيد** او قصر د ذو الحال په حال پورې **ما جاء زيد الا راكبا** دارنګه تميز کې شو، دا بلا بترونه نو اوس هر کله چې قصر په فعل او فاعل او مفعول کې راغي نو **ففي الاستثناء** نو په ما او الا کې **يؤخر المقصور عليه مع اداة الاستثناء** بس الاسره د مقصور عليه نه به اخير کې وي، نو ما يليَ و الا هميشه به مقصور عليه به وي، خو الاسره د مقصور عليه نه په اخير د کلام کې به وي، دا قرينه شوه.

يعني **حتى** دا تفريع کوي چې **لواريد القصر على الفاعل** فائده دا شوه چې که اراده وکړي شوه د قصر په فاعل باندې نو **قيل** ويلي شويدي اويلي به شي! چې **ما ضرب عمرا الا زيد** نو **ما يلي** د الازيد دي، دغه مقصور عليه شو، **ولو اريد القصر على المفعول قيل ما ضرب زيد الا عمرا** نو عمراً مقصور عليه شو.

معترض راغى شبهه يې وکړه چې يا هلکه مونږ مخکې ويلي دي چې قصر دوه قسمه دي قصر د موصوف على الصفة، قصر د صفت على الموصوف، نو دلته کې زيد او عمرو خو صفت او موصوف ندي، دوارې ذات دي، نو نه دلته کې قصر د صفت على الموصوف راغلي او نه قصر د موصوف على الصفة ځکه صفت دلته کې شته دي نه.

نو شارح جواب وکړو چې **واما معنى قصر الفاعل على المفعول مثلا** معنى د دې دا ده چې قصر الفعل المسند الى الفاعل على المفعول، ضاربيت د زيد مقصور دي عمرو پورې متجاوز ندي د ضاربيت د ال

مضروبيت] عمرو نه بل چا ته، او عمرو مضروب د زيد هم دي او د بل چا دي هم وي **وعلى هذا قياس البواقي** باقي قياس کوه، قصر د مفعول په فاعل باندې ديته وائي چې قصر د هغه فعل چې هغه واقع شوی دی په مفعول باندې، فاعل پورې [مسند دي فاعل ته] نو دا قصر د صفت موصوف ته راجع شو، نو **فيرجع الى قصر الصفة على الموصوف او العكس** دواړه صحيح دي، و يكون حقيقيًا و غير حقيقي افرادًا و قلبًا و تعيينًا **و لا يخفى اعتبار ذلك.**

اوس ځان پوهه کړئ په دې مقام کې درې صورتونه دي، يو اكثر صورت دا دي چې الّا سره د مقصور عليه نه مؤخر وي دا خو ماتن ذکر کړو، دويم صورت دا دي چې الّا سره د مقصور عليه نه مقدم شي، لکه ګوره اوس ته قصر د فاعل په مفعول باندې وائي داسې به وائي چې **ما ضرب زيد الا عمرًا** الا عمرًا زيد، چې عمرو مقصور عليه ووائي او زيد مقصور ووي، نو دا دويم صورت شو ماتن يې ذکر کوي، نو دا جائز دي خو **على قلة** يعني جائز دي خو ډير کم کوز، دريم صورت دا دي چې ته مقصور عليه مقدم کړي بې د الانه، لکه اوس قصر د فاعل على المفعول، چې داسې وو چې ما ضربَ عمرًا الا زيد، اوس ته عمرو مقدم کړي بې د الانه، او داسې ووائي چې ما ضربَ عمرًا الا زيد، دا صورت له سره جائز ندي، ځکه دلته کې عكس المطلوب او قلب المقصود راځي، ځکه ستا مقصود قصر د ضاربيت د زيد وو په عمرو پورې، او بناءً على هذا قصر د مضروبيت د عمرو شو په زيد پورې، نو دا د سره جائز نه دي، شرح جامي دې ويلې ده، خو چا چې يادې کړې وي

نو ماتن اوس هغه دويم صورت ته اشاره کوي **وقل** د قلّ ترجمه کوي **اي جاز على قلة تقديمهما** تعيين د مرجع ګانو کوي، اي تقديم المقصور عليه و اداة الاستثناء على المقصور **حال كونهما** کې اشاره کوي چې **بحالهما** دا په اعتبار د متعلق سره حال دي د دې **تقديمهما** د غير نه، وائي په حال کون د دې مقصور عليه او اداة استثناء کې چې په خپل حالت باندې وي، نو دا دي چې **ان يلي المقصور عليه** الاداة، لکه ته ووائي په قصر د فاعل على المفعول کې **ما ضرب الا عمرًا زيد** نو د الّا عمرًا مقصور عليه شو او زيد مقصور شو، نو هغه مقصور عليه تاسره د الّا نه مقدم کړو، دويم مثال ښائي په قصر د مفعول على الفاعل کې **و ما ضرب الا زيد عمرًا** في قصر المفعول على الفاعل، نو فاعل مقصور عليه وو هغه تاسره د الّا نه مقدم کړو په مفعول باندې، اوس دا وائي چې **بحالهما** يې ځکه وويله چې په دې سره احتراز وشو د هغه دريم صورت نه، چې هغه د سره جائز ندي، **وانما قال** اي الماتن **بحالهما احترازًا عن تقديمهما** د تقديم د دې مقصور عليه او اداتو نه **مع ازالتهما** عن حالهما، د حالت نه ازاله به داسې کوي چې **بان تؤخر الاداة عن المقصور عليه** لکه داسې ته ووائي **كقولك** په قصر د مفعول على الفاعل کې چې **ما ضرب زيد الا عمرًا** او په قصر د فاعل على المفعول کې داسې وويل، ما ضربَ عمرًا الا زيد، مقصور عليه مقدم کړي بې د الّا نه **فانه لا يجوز** ځکه **لما فيه من اختلاف المعنى** ځکه مقصور عليه مقصور عليه جوړ شو او مقصور عليه نه مقصور **و انعكاس المقصود.**

اوس **وقل** کې دوه دعوي شوي، يو دعوه دا چې دا تقديم د مقصور عليه سره د اداتو نه جائز دي، دويمه دعوه دا شوه چې دا تقديم د مقصور عليه سره د اداتو نه قليل دي. اوس د خُلي دي دويم دعوی لپاره ماتن په متن کې دليل ويلي دي، چې قليل ولې دي؟ نو شارح هغه دعوی ته مخکې اشاره کوي چې متن کې چې دا کوم دليل دي نو دا د **قل** لپاره دي د **جاز** لپاره ندي، قليل ولې دي؟ وائي **وانما قل تقديمهما** اي المقصور عليه مع الاداة چې په خپل حالت باندې وي **لاستلزام قصر الصفة قبل تمامها** ځکه دا مستلزم دي قصر د صفت لره مخکې د تماميدو د دې صفت نه. شبهه: يا هلکه دلته کې څنګه قصر الصفة قبل تمامها راغي، په دي دليل باندې اکتفاء کيدي شي؟ نو شارح تدقيق کوي، دليل لپاره دليل وائي، نو تدقيق ته حاجت شته، ځکه په دي مخکني دليل سره اثبات د مدعی نه کيږي، هغه مجمل دي، داسې وائي **لان الصفة المقصورة على الفاعل مثلا هي الفعل الواقع على المفعول لا مطلق الفعل** مطلق ضرب مقصور په فاعل پورې ندي، بلکه هغه ضرب مقصور دي چې واقع په عمرو باندې وي، هغه مقصور په زيد پورې دي، او مطلق ضرب ندي، نو تا لاعمرو ندي ذکر کړي او ته مخکې ضرب په زيد پورې مقصور کوي، ته وائي **ما ضرب زيد الا عمرا** نو تا ضرب زيد پورې مقصور کړو او لاهغه تام شوي ندي، ځکه تاميږي په ذکر د مفعول سره، او هغه ذکر شوي ندي، نو **فلا يتم المقصود** قبل ذكر المفعول، نو **فلا يحسن قصره وعلى هذا فقس** وائي په دي باندې قياس کړه بيان مذکوره د صفت مقصوره په فاعل باندې، چې صفت چې مقصور کوي په مفعول پورې هغه هم دغسې دي، ځکه چې مفعول باندې مطلق ضرب مقصور خو نه وو بلکه هغه ضرب وو چې هغه صادر وي د فاعل نه، او فاعل خو وروستو ذکر کيږي، لاتا ذکر کړي ندي، نو يوه دعوه ثابته شوه چې دا تقديم **قل** دي، کم دي، اوس **جاز** لپاره دليل ماتن نه دی ويلی، نو د دې لپاره دليل شارح وائي، وائي: و انما جاز الخ، هغه متعلق خو وروسته ذکر کيږي، چې مفعول دی يا فاعل دی، مفعول دی په قصر على الفاعل کې يا فاعل دي په قصر على المفعول کې.

ووجه الجميع شبهه: يا هلکه وجه خو عضو مخصوص ته وائي، مخ ته وائي، نو د هغې اضافت خو انسان ته کيږي، جميع ته خو نه کيږي؟ ده جواب وکړو چې دلته کې وجه په معنی د سبب سره ده **اي السبب شبهه**: يا هلکه سبب مسبب غواړي، وجه په معنی د سبب سره شوه نو مسبب يې څوک شو؟ وائي **وفي افادة النفي والاستثناء القصر** دي کې يې هغه مسبب ته اشاره وکړه، يعني سبب د فائده کولو د نفي او استثناء قصر لره، شبهه: يا هلکه جميع نه مراد څه شي شو؟ د جميع بيان کوي، وائي فيما بين المبتدا و الخبر و غير ذلك، لکه حال او صاحب د دي، مفعول ثاني او اول په اعطيت کې، دا شو، نو سبب د فائده کولو د قصر د ادي چې **ان النفي في الاستثناء المفرغ** د استثناء مفرغ تعريف ماتن په متن کې نه وو کړي اختصاراً او شارح يې کوي **الذي** هغه استثناء مفرغ **حذف فيه المستثنى منه، واعرب ما بعد الا بحسب العوامل** که عامل رافعه وي نو مستثنى به مرفوع وي که ناصبه وي نو منصوب، که عامل جاره

وي نو مجرور به وي شبهه دا وائي چې دا خو مستثنى مفرغ نه شوه دا خو مفرغ فيه شوه کنه؟ جواب تاسو وائي **فيه** يکې حذف دي، نو نفي په استثناء مفرغ کې **يتوجه الى مقدر** هغه مقدر څوک دي **وهو مستثنى منه** خکه وائي **لان الا للاخراج** دا دليل د متن لپاره وائي، و الاخراج يقتضي مخرجًا منه، نو مخرج منه چې عام به ولې وي؟ د دې لپاره **ليتناول المستثنى وغيره نو فيتحقق الاخراج** نو اخراج د مستثنى به صحيح شي، خکه مستثنى په مستثنى منه کې تعدد غواړي، دويم شرط هسې مقدر **مناسب** للمستثنى في جنسه چې دغه مقدر به مناسب وي د مستثنى سره په جنس کې چې مستثنى متصل شي، خکه اصل په مستثنى کې مستثنى متصل ده، مثال داسې شو **بان يقدر في نحو ما ضرب الا زيد** کې داسې به وايو **ما ضرب احد** الا زيد، خکه زيد د جنس د احد نه دي، او دلته کې ته اوس ثوب نشي ويستلي، خکه زيد د جنس د ثوبي نه خو ندي، او **ما كسوته الا جبة** کې به داسې وايو چې ما کسوته، لباسًا الا جبةً، خکه جبة د جنس د لباس نه ده، د زيد نه نده **وفي نحو ما جاء الا راكبا** کې ما جاء کائنًا على حال من الاحوال الا راكبًا، خکه چې رکوب يو حال دي د احوال د مجيء نه **ما سرت الا يوم الجمعة** دلته کې جنس دا دي چې **ما سرت** في وقت من الاوقات الا يوم الجمعة **وعلى هذا القياس** وائي څومره به تاته ضبطوم.

دريم **وفي صفته** يعني دا مقدر به مناسب وي د مستثنى سره که صفت فاعل وي نو دا به هم فاعل وي که مفعول وي دا به هم مفعول وي که حال وي دا هم حال که ظرف نو دا هم ظرف، نو اوس **واذا كان** دا تتمه د دليل کوي، وائي و اذا كان النفي متوجهًا الى هذا المقدار، نو **فاذا اوجب منه** کله چې ثابت کړي شو د دغه مقدر نه يو شي په الّا سره نو **جاء القصر** قصر پخپله راغي، خکه ضرورة بقاء ما عداه على صفة الانتفاء، هغه قدر د مستثنى ثابت شو او ما بقي په صفت د نفي باندې پاتې شو.

وفي انما يؤخر المقصور عليه اي انما کې هميشه دا ده چې مدخول د انما به مقصور وي او ما بعد د مدخول نه به مقصور عليه وي، لکه **انما نحن مصلحون** نو مدخول د انما نحن دي او ما بعد ترينه مصلحون، دا نحن مقصور شو مصلحون پورې، منافقينو وويل مونږه مقصور يو په اصلاح پورې، متجاوز د اصلاح نه نه يو افساد ته، لکه دلته کې **تقول انما ضرب زيد عمرا** نو دلته کې مدخول د انما ضرب د زيد شو، او مؤخر عمرو دي، نو دا **فيكون القيد الاخير** چې عمرو دي **بمنزلة الواقع بعد الا** شو، نو فيكون هو المقصور عليه، اوس دلته کې تقديم جائز ندي، دلته کې د مقصور عليه تقديم د سره جائز ندي، خکه هلته الّا سره جائز وو، هلته قريني سره وو چې الّا دي، او چې دلته کې يې ته مقدم کړي نو قرينه نشته دي، پته به نه لګي چې ته اوس قصر د فاعل على المفعول کوي، داسې ويل پکار وو **انما ضرب زيد عمرا** نو چې اوس ته يې مقدم کړي نو وائي به **انما ضرب عمرا زيد** به شي، نو پته به نه لګي چې هلکه دا عمراً مقصور عليه مقدم شوي دي که نه مقصور دي **ولا يجوز تقديمه** اي تقديم المقصور عليه بانما على غيره **للالتباس** و كما اذا قلنا **في انما ضرب زيد** عمراً انما ضرب عمراً زيد، او وائي **بخلاف النفي والاستثناء** هلته

کې **فانه لا التباس فيه اذ المقصور عليه هو المذكور بعد الا** سواء قُدم او اُخر **وههنا ليس الا** مذکوراً في اللفظ بل تضمناً دي، ځکه چې انما په معنی د ما او الاسره دي.

بله مسئله کوي **وغير** او لفظ د غير **كالا** پشان د الادي **في افادة القصرين** کوم قصرين؟ قصر الموصوف، و قصر الصفة افراداً الخ، ټول راځي، خو صرف فرق دا دي چې الاکي اعراب په ما بعد باندې به ظاهريږي، او غير کې اعراب په غير باندې پخپله به څرګندیږي، ځکه غيرُ محل قابل د اعراب دي، او الا حرف دي قابل د اعراب ندي، او دويم **وفي امتناع مجامعة** لاالعاطفة، لکه ما او الا د لاسره نه شو جمع کيدي نو غيرُ سره هم نه شي جمع کيدي **لما سبق** نو **فلا يصح ما زيد غير شاعر لا كاتب** دا ته نشي ويلي دا قصر د موصوف على الصفة کې دارنګه **ولا ما شاعر غير زيد لا عمرو** هم نشي ويلي.

الانشاء

ماتن وويل **الانشاء** دا خبر د مبتداء محذوفې دی، يعنې باب سادس د اتو بابونو د فن اول نه انشاء ده، **اعلم** نه شارح تر دي وروسته متن پورې چې **ان كان طلبا** دي، يو غرض د شارح دا دي چې ذکر د معنيينو کوي د انشاء لپاره، چې د انشاء لپاره دوه معنيين دي، دويم غرض د شارح دا دي چې دفع د استبعاد کوي، چې دا دوه معنيين د انشاء لپاره مستبعد ندي ځکه چې د اخبارو لپاره هم دغه دوه معنيين دي **كما ان الاخبار كذلك** تاسو وليدو؟ دريم غرض د شارح تعيين د ما هو المراد کوي ههنا، چې هلکه هر کله د انشاء لپاره دوه معنيين شو نو دلته کې مراد د ماتن کومه يوه معنی ده؟ نو تعيين د ما هو المراد کوي په دي تکي سره چې **والاظهر ان المراد ههنا هو الثاني** ځلورم غرض د شارح دا دي چې تقسيم د انشاء کوي دوه قسمينو ته چې انشاء دوه قسمه ده، يو انشاء طلبي او بله غير طلبي، هغه په دي تکي سره چې **فالانشاء ان لم يكن طلبا** پنځم غرض د شارح دفع د اعتراض کوي چې هلکه هر کله انشاء دوه قسمه شوه، طلبي او غير طلبي، نو ماتن لپاره څه وجه ده؟ چې دي د انشاء طلبي نه بحث کوي او غير طلبي نه يې بحث نه دي کړي، نو شارح د هغې نه دوه جوابونه کوي، دوه وجې بيانوي، يو وجه دا چې انشاء غير طلبي کم کوز وو، قليل وو، تو د هغې نه ماتن بحث ونکړو، دويمه دا وجه بيانوي چې انشاء غير طلبي اصل کې اخبار وو خو نقل شوي ده انشاء ته، نو هغه په خبر کې داخل دي.

نو وائي چې **واعلم** پوهه شه چې **ان الانشاء قد يطلق على نفس الكلام** اضرِب باندې، لاتضرِب باندې، يا زيدُ باندې، داسې کلام **ليس لنسبته خارج تطابقه او لا تطابقه** په دي باندې هم د انشاء اطلاق کيږي، نو بنا په دي باندې انشاء ذات شو، **وقد يقال** او کله کله اطلاق کيږي د انشاء **على ما** په هغې معنی باندې **هو فعل المتكلم** نو فعل د متکلم حدث وي، **هغه اعنی** قصد کوم په دي فعل د متکلم سره **القاء مثل هذا الكلام** غورځول د متکلم مثل د دې کلام، د دې کلام مثل چې **ليس لنسبته خارج تطابقه او لا تطابقه او**

القاء په معنی مصدري سره دي اوس دويم غرض ته اشاره کوي چې دا مستبعد مه ګڼړه، دا اطلاق په دي دوو معنيينو باندې کيږي، د خبر اطلاق په دې معنی باندې هم کيږي چې د ده د خارج لپاره تطابقه او لاتطابقه وي، او د خبر اطلاق په هغه غورځولو د متکلم باندې داسې کلام لره هم کيږي چې متکلم وغورځوي داسې کلام چې د هغه د نسبت لپاره خارج تطابقه او لاتطابقه وي.

اوس هغه دريم غرض ذکر کوي چې دلته کې د ماتن کومه معنی مراد شوه؟ وائي **والاظهر ان المراد ههنا هو الثاني** مراد دلته کې د معنيينو د انشاء نه معنی ثاني ده، يعنې القاء المتکلم داسې کلام چې خارج کې د هغې لپاره تطابقه او لاتطابقه نه وي.

شبهه: يا هلکه د اظهر لپاره دليل څه دي؟ وائي يو دليل دا چې **بقرينة تقسيمه** اي تقسيم الماتن الانشاء **الى الطلب و غير الطلب** په قريني د تقسيم د مصنف سره انشاء لره طلب او غير طلب ته، او طلب او غير طلب نسبت د طالب دي، او طالب متکلم دي، او د متکلم صفت القاء دي، طلب او غير طلب خو په نفس ذات الکلام کې نشي راتلي، طلب او غير طلب په طالب کې راځي، دا صفت د طالب دي، او طالب متکلم دي، او د متکلم صفت القاء دي، بيا دويمه قرينه ذکر کوي **و تقسيم الطلب الى التمني و الاستفهام و غيرهما** امر او نهي ته، بيا د طلب تقسيم کړي دي ماتن تمني او استفهام او غيرهما ته، نو معترض شبهه وکړه چې دا اوله قرينه خو صحيح شوه، تقسيم د انشاء د طلب او غير طلب ته دا قرينه ګرځول خو صحيح شو، ځکه طلب صفت د طالب دي، طالب متکلم دي او صفت د متکلم القاء دي، خو تقسيم د طلب تمنی او استفهام او غيرهما ته دا څنګه قرينه شوه چې دلته کې مراد د انشاء نه القاء ده او نفس کلام ندي، نو شارح جواب وکړو و المراد، دا واو په معنی د اذ سره کوي، چې دا قرينه کيدي شي **اذالمراد بها** ځکه مراد په دي امورو سره چې تمني او استفهام و غيرهما دي **معانيها المصدرية** د دې معاني مصدريه مراد دي، نو معاني مصدريه د دوی القاء د داسې کلام ده چې مشتمل دي په استفهام باندې، او تمني، او القاء معنی مصدري ده **لا الکلام المشتمل عليها** نه هغه کلام چې مشتمل وي په دي امورو باندې، ذات د کلام مراد ندي، ځکه **بقرينة قوله و اللفظ الموضوع له کذا و کذا** وائي لفظ موضوعه د تمنی لپاره ليت دي لفظ موضوع له د استفهام لپاره هَل او آ دي او فلان دي، دا دليل لپاره دليل دي **لظهور ان لفظ ليت** مثلًا مستعمل لمعنی التمني، او معنی د تمنی مصدري ده چې ارزو ده **لا لقولنا ليت زيدا قائم** د دې لپاره ندي، لفظ د ليت وضع شوي دي د معنی د تمنی لپاره چې معنی مصدري ده، لفظ د ليتَ د زيد قائم لپاره ندي وضع شوي، ذات الکلام لپاره ندي وضع شوي، **فافهم** کې اشاره وشوه چې فکر وکړه دا مقام دقيق دي، يعنې دقة المقام ته.

اوس هغه څلورم غرض بيانوي چې تقسيم د انشاء دي طلب او غير طلب دي، وائي **فالانشاء ان لم يکن طلبا کافعال المقاربة** لکه کادَ، و عسَى و غيره او **و افعال المدح و الذم** لکه نعمَ و بئسَ **و صيغ العقود** لکه بعتُ و

اشتريتُ شو، تزوجتُ شو **والقسم** و رب **و نحو ذلك** لكه فعلين د تعجب شو.

فلا يبحث عنها هغه پنځم غرض بيانوي چې د هغې نه ماتن ولې بحث نه کوي؟ وائي **فلا يبحث عنها ههنا** د دوو وجو نه، يوه وجه دا ده **لقلة المباحث البيانية** د وجې د کموالي د مباحثو د علماء د علم بيان نه چې **المتعلقة بها** اي بهذه الامور، هغوی د دينه دومره بحث نه کوي، ځکه دا [کم] کوز دي، دويم **و لان اكثرها في الاصل اخبار نقلت الى الانشاء.**

نو ان كان اي الانشاء **طلبا استدعى مطلوبا** داسې مطلوب **غير حاصل وقت الطلب** ولې به حاصل نه وي، د متن لپاره د شارح دليل وائي **لامتناع طلب الحاصل** نو اوس معترض شبهه وکړه چې بعضې ځايونو کې خو هغه مطلوب حاصل وي نو هلته کې ته څه کوي، نو جواب کوي **فلو استعمل صيغ الطلب لمطلوب حاصل** نو **امتنع اجراؤها** ممتنع به وي جاري کول د دې صيغو **على معانيها الحقيقية** بيا به يې په معنی حقيقي باندې نه حملوو **و يتولد منها** وائي پيدا کيږي به د دغه صيغو نه **بحسب القرائن ما يناسب المقام** لكه وروسته دا ټول راروان دي.

و انواعه اي انواع الطلب **كثيرة** ماتن دلته کې د هغې ډيرو نه پنځه ذکر کړي دي **منها** بعضې د دې انواعو د طلب نه **التمني** تمني دي، د تمني تعريف ماتن نه وو کړي [اختصاراً] شارح يې کوي، ديته وائي چې **هو طلب حصول الشئ على سبيل المحبة** چې متکلم طلب کوي حصول د شي په طريقي د مينې سره و **اللفظ الموضوع له ليت** او لفظ موضوع د دې تمني لپاره لفظ د ليتَ دي.

اوس معترض راغي شبهه يې وکړه چې هلکه بيا خو په تمني او ترجي کې فرق رانغي؟ ځکه ترجي هم طلب د حصول د شي دي علىٰ سبيل المحبة، نو بيا فرق څه دي؟ نو ماتن جواب وکړو چې **و لا يشترط امكان المتمنى بخلاف الترجي** هلته کې امکان د مترجی شرط دي، نو ګوره **ليت الشباب يعود** ويلي شي، او **لعل الشباب يعود** نه شي ويلي **تقول ليت الشباب الخ.**

معترض راغي شبهه يې وکړه چې هلکه په هغه وقت کې چې هغه متمنی هم ممکن وي او مترجی هم ممکن وي نو هلته کې بيا څه فرق دي؟ دا فرق خو هله راغي چې متمنی ممتنع وي، او مترجی ممکن وي نو فرق راغي، لکن متمنَی خو عام دي کله به ممکن وي او کله به ممتنع وي، نو که اوس متمنَی ممکن وو نو بيا فرق څه دي په ما بين د تمني او ترجي کې، نو دا وائي چې **و لكن اذا كان المتمنى ممكنا** لکه څنګه چې مترجی ممکن دي نو بيا فرق دا دي چې **يجب ان لا يكون لك توقع و طماعية في وقوعه** وي خو به تمنی لکن څه اسباب به نه وي د واقع کيدو، **والا** او که ستا لپاره توقع او طمع وي د واقع کيدو نو **لصار ترجيا** هغې ته بيا ترجي ويلي شي، لکه يو سړي دي مثلًا اسباب د حج ورسره نشته دي، زاد راحله نشته، هيڅ نشته، او هغه وائي **لعلي احج فازورك** نو **لعل** صحيح ندي ليت سره به وائي **ليت ان احج فازورك** ځکه اسباب نشته دي، خو هسې ځانله د يو افسوس اظهار کوي، که زاد راحله او د اني جاني

تیکټ او هر څه وي نو هلته کې بیا لعل به وائي، لیتَ به نه وائي.
بله مسئله کوي **وقد یتمنی بهل** هل خو د استفهام لپاره وضع شوي دي، د تمني لپاره ندي وضع شوي خو کله کله په هل سره تمنی کیږي، لکه دا قول شو نحو **هل لي من شفیع** شبهه: یا هلکه دلته کې قرینه څه ده؟ چې هَل دلته کې د تمنی لپاره دي، چې کاش که زما لپاره سفارشي وي، نو وائي قرینه دا ده چې **حیث یعلم ان لا شفیع له** دا په هغه ځای کې چې متکلم ته پته وي چې د ده لپاره شفیع نشته دي، نو استفهام نه صحیح کیږي، نو چې صحیح نه شو نو په تمنی باندې حمل شو **لانه حینئذ** وائي ځکه چې دغه کلام په وخت د عدم علم د متکلم په شفیع باندې **یمتنع حمله علی حقیقة الاستفهام لحصول الجزم بانتفائه** اي انتفاء الشفیع، استفهام کې طلب د فهم کوي، او علم خو د ده شته دي چې ما لره شفیع نشته دي.
والنکتة سره دفع د اعتراض کوي، چې هلکه دا تمنی په هل سره ولې کوي؟ په خپل لفظ موضوعه سره یې ولې نه کوي چې لیتَ دي، چې تمنی ته په هَل سره کوي او په خپل لفظ موضوعه سره یې نه کوي، نو دا وائي چې و النکتة في التمني العدول عن لیتَ هغه دا دي چې **هو ابراز المتمنی** هغه ابراز ظاهرول د متمنی دي چې وجود د شفیع دي **لکمال العنایة** د وجي د کمال مقصود مندئ د متکلم نه **بحصوله في صورة الممکن** چې گویا که دغه شفیع زما لپاره حاصل شوي دي، ځکه استفهام کې مستفهم عنه ممکن وي، نو د دي وجي نه یې هل سره کوي **في صورة الممکن الذي لا جزم بانتفائه.**
وقد یتمنی بلو لو خو وضع شوي دي د شرط لپاره خو کله کله د تمنی لپاره راځي، نحو **لو تاتیني** کاش که ته راغلي وي زما خوا ته **فتحدثني** تا حدیث بیان کړي وي ماته **بالنصب** په نصب د تحدثَني **علی تقدیر فان تحدثني** دلته کې قرینه څه ده؟ وائي **فان النصب قرینة علی ان لو لیست علی اصلها** ځکه د لو نه وروسته مضارع منصوب کیږي نه، اذ لا ینصب المضارع **بعدها** اي بعد لو **باضمار ان و انما یضمر بعد الاشیاء الستة و المناسب ههنا التمني** نو دلته کې لو تمنیه شو.
قال السکاکي په سکاکي باندې یې حواله ولې ورکړي د دې جواب وروسته شارح پخپله کوي ځکه چې په دي کې لږ غوندې ضعف وو، نو د ضعف د وجي نه وائي آلَا بلَا بر گردن سکاکي، او **کان** سره یې ولې [وائي] کوي ځکه ماتن وائي چې زما پرې جزم نشته دي [دا دواړه خبري مختصر ۳۹ راتلونکي شرحه کې پخپله راځي] نو ځکه یې د **کان** سره وویل، وائي **کان حروف التندیم** حروف تندیم دیته وائي چې هغه مخاطب لره پښیمانه گرځي په هغه کړلي شوي کار باندې **و التحضیض** حروف تحضیض دیته وائي چې هغه تیزي ورکوي مخاطب ته په کولو د یو کار باندې په راتلونکي زمانه کې، هغه نحو هلَا و الَا دي، لکن الَا منقلب دي د هلَا نه **بقلب الهاء همزة** هلَا کې تا هاء په همزه باندې بدله کړه نو الَا ترې جوړ شو، دوه نور دي چې **و لولا و لوما ماخوذة منهما** دا ماخوذة خبر کَان **اي کانها** گویا که دا حروف ماخوذ دي د **من هل و لو** کوم هل او لو؟ **اللتین هما مرکبتین مع لا** لا په لولا کې، **وما** ما په لوما کې

هسې لااو ما **المزيدتين** چې زائد دي **لتضمينهما** د وجې د نيولو د دې دواړو نه، يا هلکه دا په متن کې څه واقع شو دي **علة** دا دليل دي **لقوله مركبتين** اوس د تضمين معنى کوي **والتضمين جعل الشئ في ضمن الشئ** د خول د شي دي چې متضمَن دي په بغل د بل شي کې چې متضمن دي، محاوره د عربو ذکر کوي لکه: تقول ضمنت الكتاب كذا بابًا بابًا، نو کتاب متضمن شو او بابًا بابًا متضمَن شو، معنى دا شوه **انا جعلته** اي ذلك الكتاب **متضمنا لتلك الابواب يعنې** سره اوس تطبيق د علت کوي د معلول سره يعنې **ان الغرض والمطلوب من هذا التركيب والتزامه هو جعل هل ولو متضمنتين** متضمِن به وي **معنى التمني** نو دا هل او لو متضمن شو او دا معنى د تمني متضمَن شوه، او دا تضمين علت شو د ترکيب لپاره، هسې تضمين نه کيدو **ليتولد** وائي دا **علة لتضمينهما يعنې ان الغرض من تضمينهما معنى التمني ليس افادة التمني بل ان يتولد** منه بلکه پيدا به شي د دې معنى د تمنى نه **المتضمنتين هما اياه** نيونکي دغه لو او هل دي معنى د تمنى لره، چې په ماضي کې تنديم فائده کړي، مخاطب پښيمانه کړي **نحو هلا اكرمت زيدا** اي هلکه پښيمانه شه تا پرون د زيد اکرام ولې ونکړو **ولو ما اكرمته** على معنى الخ، **وفي فعل المضارع التحضيض نحو هلا تقوم** و لو ما تقوم على معنى ليتك تقوم قصداً.

اوس **والمذكور في الكتاب** سره شارح شبهه کوي په ماتن باندې **لكنه** سره جواب کوي، شبهه داسې کوي چې **والمذكور في الكتاب ليس عبارة السكاكي** نو ماتن افتراء وکړه سکاکي باندې، او افتراء په غير باندې اثم کبير وي، دا خو د سکاکي په عبارت کې نشته دي، او ماتن مخکې حواله ورکوي چې قال السكاكي، نو شارح جواب کوي چې **لكنه حاصل كلامه** لکن هلکه دا ماتن اګر که د سکاکي کلام بعبارته نه دي نقل کړي، بحاصله يې ذکر کړي دي، عبارت دي نه وي خو مطلب د کلام د ماتن او د سکاکي يو دي، نو افتراء رانغله، بهتان په سکاکي باندې نه شو.

اوس دلته کې شارح د تلخيص دوه نسخې بيانوي او ترجيح ورکوي د يوې نسخې په بلې نسخې باندې، نو وائي چې دلته کې د تلخيص دوه نسخې دي او دا يوه په بلې باندې غوره ده، يوه نسخه دا ده چې **وقوله لتضمنها** وائي، باب تفعيل دي، ضَمّن يضمِن تضمينًا، صرفَ يصرفُ تصريفًا، نو **مصدر** دا تضمين مصدر شو **مضاف الى المفعول الاول** چې مفعول اول **هما** وو چې راجع وو هل او لو ته او دويم مفعول و **معنى التمني مفعوله الثاني** او فاعل متكلم شو، [معنى دا شوه چې] د وجې د نيولو د متكلم نه دي لو او هل کې معنى د تمنى لره، نو بناء په دې نسخې باندې دا لو او هل متضمِن شو خو بالواسطه شو، په واسطې د متكلم سره شو، او متكلم لره دخل راغى. دويمه نسخه بيانوي **وقد وقع في بعض النسخ** د نسخو د تلخيص کې **لتضمنهما** على لفظ التفعل، تضمّن يتضمّنُ تضمنًا دي باب تفعل سره، او باب تفعل لازمي دي، نو بناء په دې باندې دغه هما فاعل شو د دې تضمن لپاره او معنَى التمني مفعول شو، [معنى به دا شي] د وجې د نيولو د دې هَل او لَو نه معنى د تمنى لره، اوس دا هل او لو متضمِن

بالذات شو نه بالواسطه او څه دخل او اختيار او قصد د متكلم لره څه دخل رانغي

اوس ترجيح وركوي **اولى** نسخي ته **وائي وهو** دا دويمه نسخه **لا يوافق معنى كلام المفتاح** نو بيا په دويمه نسخي سره حواله په قال السكاكي سره نه صحيح كيږي، ځكه سكاكي هلته داسې لفظ ذكر كړي دي، اچې د هغې نه معلوميږي چې اختيار او قصد د متكلم لره دخل شته دي، او اختيار د قصد د متكلم لره دخل په تضمين كې دي نه په تضمن كې.

شبهه دا وائي هلكه **كان** خو د شك لپاره راځي نو ماتن دا په كاڼ سره ولې ذكر كړو **وانما ذكر** اي السكاكي **هذا** دا كلام **بلفظ كان** لعدم القطع بذلك، ځكه احتمال شته دي دا هلا او الا او لولا او لوما دا دي حروف براسها شي، چانه منقلب او منقلب عنه دي نه وي، څه دليل قطعي پرې نشته دي

وقد يتمنى بلعل لعل وضع شوي دي د ترجي لپاره خو كله كله دا په تمني كې مستعمليږي نو **فيعطى له حكم ليت** د ليت حكم دا دي چې په جواب د ده كې مضارع منصوب وي په اڼ مضمره سره، نو دلته كې به هم مضارع منصوب وي **وينصب في جوابه المضارع على اضمار ان، نحو لعلي احج فازورك** كاش كه چې زه حج وكړم نو ستا ملاقات به وكړم **بالنصب** [په نصب د ازورك باندې] قرينه په دي باندې دا ده چې دلته كې لعل د ترجي لپاره ندي بلكه د تمنى لپاره دي، ځكه وائي **لبعد المرجو عن الحصول** خوار پرك وي ورسره د اني جاني تيكټ نه وي، خرچې د اهل عيال نه وي، او وائي **لعلي احج فازورك** نو دا د دې نه معلوميږي چې دا حج كول ډير لري دي، نو چې لري دي نو د لري والي معنى په تمنى كې ده **وهذا** او دا سبب د بعد د مرجو **يشبه المحالات** او محالاتو كې ليت مستعمليږي دارنګه **والممكنات التي لا طماعية في وقوعها** نو فيتولد منه معنى التمني.

ومنها اي و من انواع الطلب **الاستفهام** [تعريف د استفهام كوي چې] **وهو طلب حصول صورة الشئ في الذهن** متكلم طلب كوي د مجيب نه حصول د صورة د مسؤول عنه، په ذهن كې، متكلم وائي چې اي مجيبه دا صورة د مسئول عنه زما ذهن ته وغورځوه، نو اوس دا مطلوب به خالي نه وي **فان كانت** اي تلك الصورة **وقوع النسبة** بين امرين او لاوقوعها، وقوع په نسبت ايجابي كې، او لاوقوع په سلبي كې، نو **فحصولها** اي فحصول تلك الصورة چې وقوع لاوقوع **هو التصديق** تصديق ورته ويلي شي، **والا** او كه چيرته وقوع النسبة يا لاوقوع صورة نه وي بلكه بغير وي نو **فهو التصور**.

والالفاظ الموضوعة له اي للاستفهام الهمزة و هل دي، **فالهمزة** اوس دا تفصيل كوي همزه راځي **لطلب التصديق** يعني همزي سره سائل غواړي د خپل مجيب نه تصديق په مسؤول عنه باندې، اوس تصديق څه ته وائي؟ **اي انقياد الذهن** تسليمول د ذهن **واذعانه** او اذعان كول د ذهن **بوقوع نسبة تامة بين الشيئين كقولك اقام زيد** ايا زيد قائم دي؟ زما مطلب دا دي چې هلكه زما تصديق راوله په نعم سره چې نعم قام زيد، يا ووايه چې لا **في الجملة الفعلية** سوال هلكه دوه مثالونه يې ولې ذكر كړل وائي دا يو په جمله

فعليه کې وا **زيد قائم** دا په في الجملة الاسمية، نو تعدد د امثلو بناء دي په تعدد د ممثل باندې او **لطلب التصور** يا دا همزه راځي لپاره د طلب د تصور، يعنې سائل د خپل مجيب نه غواړي چې زما په دې مسؤول عنه باندې تصور راوله، ماته د غه نسبت د صورة بيان وکړه، چې دا کوم صورت دي، چې د زيد دي د عمرو دي د بکر دي، وروسته ماتن دې مثالونه ذکر کړي دي، يا هلکه دې مثالونو ته څه حاجت وو وائي دا تعدد د امثلو بناء دي په تعدد د ممثل باندې **كقولك** في طلب تعدد المسند اليه **ابيض في الاناء ام علي** ايا شيره د انګورو ده په دي لوښي کې که نه ګډين دي، حال کون د دغه سائل کې چې **عالما بحصول شئ في الاناء** نو طلب د تعيين کوي [طالبًا لتعينه] چې يا هلکه په دي لوښي کې څه شي خو شته دي ماته پته ده خو شيره د انګورو ده او که ګډين دي دا ماته پته نشته دي، و في طلب تصور المسند ا **في الخابية دبسك ام في الزق** ايا په خُم کې شيره د انګورو ستا ده که نه په ګوډې کې، عالمًا بکون الدبس الخ، **و لهذا** اي لمجئ الهمزة **لطلب التصور**، اوس دليل اني ذکر کوي، تعين د مشار اليه کوي، وائي او د دې وجې نه چې همزه راځي لپاره د طلب د تصور، همزې سره طلب د تصور هم کيږي لکه څنګه چې د تصديق کيږي **لم يقبح** في طلب تصور الفاعل ا **زيد قام** يعنې قائم خو څوک شته دي ماته پته ده چې قيام چاته ثابت دي، تصديق زما شته دي، خو دا قائم زيد دي که عمرو دي که بکر دي، دي کې زما شک دي **كما قبح هل قام زيد** و لم يقبح في طلب الخ **اعمرا عرفت** كما قبح **هل عمراً عرفت**، هل سره دا دواړه قبيح دي، نو ګوره همزې سره دا دواړه قبيح نشو او هل سره دواړه قبيح دي، اوس متن لپاره دليل وائي، نو دعوي دوه شوي يوه دعوه دا چې دا دواړه مثالين په همزې سره **لا يقبح** د دا دعوى سلبي شوه، دويمه دعوى دا چې دا دواړه مثالين په هل سره **يقبح** دا دعوه ايجابي شوه، اوس دعوى ايجابي لپاره **وذلك** سره دليل وائي، وائي و ذلك او دا قباحت دي هل سره ثابت دي **لان التقديم** اي تقديم الفاعل في المثال الاول و تقديم المفعول في المثال الثاني **يستدعي حصول التصديق بنفس الفعل** چې نفس قيام باندې زما علم خو شته دي خو تپوس او سوال تانه د تعين د قائم او د معروف کوم، په مثال اول کې تعين د قائم او په ثاني کې تعيين د معروف، نو اوس ته هل سره بيا وائي، نو هل خو طلب د تصديق لپاره راځي، نو تحصيل د حاصل راغي، نو **فيكون هل لطلب حصول الحاصل و هو محال**.

دعوى سلبي لپاره دليل وائي چې د همزې سره دا لا يقبح دي چې **بخلاف الهمزة فانها تكون لطلب التصور و تعين الفاعل او المفعول و هذا ظاهر** شارح وائي دا استدعاء د تقديم حصول د تصديق په **نفس فعل** باندې، دا دليل ظاهر دي په **عمرا عرفت** کې ځکه چې هلته کې تقديم د مفعول په فعل باندې د اختصاص لپاره کيږي، او دا دليل ستا په **ا زيد قام** کې نه چليږي، وائي ځکه نه چليږي **فليتامل** نو دې کې اشاره وشوه **لا ان زيد قام** ته، ځکه تقديم د مرفوع په فعل باندې دا د اختصاص لپاره نه وي، کله کله د اهتمام لپاره کيږي، نو چې اوس **ا زيد قام** کې د اختصاص لپاره نشو بلکه د اهتمام لپاره شو، نو هلته کې بيا په

اصل فعل باندې تصديق حاصل نه شو، نو بيا هل سره هم صحيح کيږي
نو **فليتامل** کې بيا شبهې ته اشاره وشوه چې هلکه څنګه چې تقديم د مرفوع په فعل باندې کله لپاره د
اختصاص کيږي نو کله لپاره د اهتمام نو تقديم د مفعول هم دغسې کيږي کنه، د شارح په شبهه
باندې شبهه راغله، نو جواب وکړئ چې هلکه دلته کې اعتبار غلبې لره دي، تقديم د مفعول په فعل
باندې غالبه دا ده چې د اختصاص لپاره وي، د اهتمام لپاره کم کوز وي تقديم د مرفوع په رافع باندې
[فعل باندې] لپاره د اهتمام وي لپاره د اختصاص کم کوز دي، بهر حال احتمال د اختصاص په دواړو
کې راغې، اګر که په مفعول کې غالب دي او فاعل کې مغلوب دي، نو اصح اختصاص راغې نو
اختصاص غواړي تصديق په نفس فعل باندې، اوس که هل سره ته ووائي نو طلب د حصول د حاصل
راځي، او همزې سره نه راځي
والمسؤول عنه بها تعين د مرجع کوي وي **هغه شي** چې سوال کړي شوي دي د هغه نه په دي همزې سره **هو**
يليها د همزې سره ما يلي د همزې به هميشه مسؤول عنه وي، د هغې نه به سوال کيږي، **هغه کالفعل في**
ضربت زيدا کې هله **اذا كان الشك في نفس الفعل** نفس فعل کې شک داسې **اعني الضرب الصادر من المخاطب الواقع**
على زيد نو مستفهم وائي چې زما شک دي، چې اي مخاطبه ستانه ضرب واقع په زيد باندې دي او که نه
دي؟ نو مسؤول عنه ضرب شو **واردت بالاستفهام ان تعلم وجوده** اي وجود ذلك الضرب، نو فيكون شي به دا
لفظ د همزې **لطلب التصديق** ځکه دلته کې ثبوت د ضرب مخاطب ته شو **ويحتمل** سره شارح په دي مثال
مذکور کې دويم احتمال بيانوي، يو احتمال خو دا شو چې **اضربت زيدا** کې دا همزه لپاره د طلب د تصديق
شوه، چې اي مخاطبه تاته ضرب ثابت دي که نه نه دي؟ ضاربيت تاته ثابت دي که نه ندي **ويحتمل** او
احتمال دا هم شته دي **ان يكون لطلب تصور المسند** طلب د تصور د مسند لپاره چې دغه ضرب دي، چې في
نفسه ضرب موجود دي که نه نه دي، تانه صادر وي او که نه نه وي، زما شک وي په دي ضرب نفس فعل
کې دي، ته ضارب يې که نه نه وي، ته خانله ضارب شه، خو زما شک په دي ضرب کې دي چې دا ضرب
موجود دي که نه نه دي، نو شک مسند کې شو **بان تعلم انه تعلق فعل** چې ته عالم يې سائله چې شان دا دي
چې متعلق شوي دي يو فعل **من المخاطب بزيد** چې د مخاطب په زيد پورې يو فعل متعلق شوي دي، خو
ماته پته نشته دي چې دا فعل چې زيد پورې متعلق شوي دي ضرب دي او که اکرام دي، شک په دې کې
دي **لكن لا تعرف** اي انت چې **انه ضرب او اكرام** چې دا فعل متعلقه ضرب دي که نه اکرام دي
والفاعل او لکه فاعل شو لکه **في ء انت ضربت زيدا اذا كان الشك في الضارب والمفعول في ازيدا ضربت** کې اذا
كان الشك في المضروب، چې هلکه ضارب خو ته ئې، ضرب تانه صادر شوي دي خو ستا مضروب
زيد دي که عمرو؟ **وكذا قياس سائر المتعلقات لكه في المسجد صليت** مونځ خو تا کړي دي ماته پته ده خو کور
کې دي کړي دي، دکان کې دي کړيدي، که جماعت کې دي کړي دي؟ **ابزيد مررت** ماته پته ده چې ستا

مرور خو شوي دي، خو په زيد باندې شويدي که عمرو باندې که بکر باندې، و کذا سائر، او همدارنګه ټول معمولات د فعل، متعلقات معنی معمولات.

وهل لطلب التصديق فحسب فقط، هل د طلب د تصور لپاره نه راځي بلکه فقط د طلب د تصديق لپاره راځي، اوس وروسته ماتن دوه مثالونه ذکر کوي، شارح اد دوو مثالونو راوړلو لپاره وجه وائي، وائي **و تدخل على الجملتين** يعني جمله فعليه باندې هم داخليږي او په جمله اسميه باندې هم، د اولي مثال **نحو هل قام زيد** د دويمي **و هل عمرو قاعد** اذا كان المطلوب اي مطلوب سائل **حصول التصديق** بثبوت القيام لزيد و القعود لعمرو.

ولهذا سره دليل اني وايي [دي لاختصاصها سره] سره تعيين د مشار اليه کوي، وائي **و لاختصاصها** اي کلمة **هل** لطلب التصديق، دا باء دلته کې په مقصور عليه باندې داخله ده، دا اضافت د اختصاص مقصور ته دي، يعني دا **هل** مقصور دي په طلب د تصديق پورې متجاوز ندي د طلب د تصديق نه طلب د تصور ته، نو **امتنع** ممتنع دي دا قول چې [هل زيد قام ام عمرو دغه ترکيب په هل سره ممتنع شو، اوس دليل د امتناع لپاره وائي چې ځکه ممتنع شو چې **لان وقوع المفرد** وقوع د مفرد چې زيد دي **ههنا** په دي کلام کې **دليل على ان ام متصلة** ام منقطعة بمعنى بل سره ندي، ځکه ام منقطعه په هغه ځای کې راځي چې ما بعد د دې نه جمله راغلي وي، لکه **هل زيد قام ام عمرو قاعد** نو نه دي **بل عمرو قاعد** نو ام په معنى د بل سره شو، او معنى کې مفرد دي **وهي** اي کلمة ام **لطلب** تعيين احد الامرين **مع العلم** اي مع علم المتكلم **بثبوت** اصل الحكم، اصل حكم چې تصديق دي [يعني] يا هلکه زما تصديق شته دي چې قيام خو شته، قيام کې زما شك او شبهه نشته دي، قيام ثابت دي زما پرې تصديق دي، خو دي ما قام به کې زما شك دي، چې ما قام به زيد دي، که عمرو دي، او زيد او عمرو مفرد دي، او مفرد پورې تصور متعلق کيږي **اصل الحكم و هل انما يكون لطلب الحكم** و لو قلت **هل** زيد **فيقبح** دا بيا قبيح دي او ممتنع ندي، البته قبيح دي **و لا يمنع** او قبيح دي **لما سيجئ** د وجي د هغه دليل نه چې وروسته به راشي، اوس راروان دي، وائي **ولهذا** او د دغه اختصاص مذكوره د وجي نه **ايضا** پشان د دغه مخكني مثال **قبح هل زيدا ضربت** ځکه قبيح دي **لان التقديم** تقديم د مفعول **يستدعي حصول التصديق بنفس الفعل** ځکه چې تقديم د مفعول لپاره د اختصاص دي، نو معنى دا چې دا ضرب ستا مقصور دي په زيد پورې، نو ضرب په زيد پورې هله مقصور کيږي چې ستا علم په نفس ضرب باندې وي کنه، هسې خو نشي کيدي، نو **فيكون هل لطلب حصول الحاصل هو محال** معترض راغي شبهه يې وکړه چې هلکه دا دليل ستا مطابق د دعوي سره نه شو ځکه دعوه ستا قباحت دي، يعني جواز سره د قبحي نه او دليل سره ثابت شوه امتناع، ځکه حصول د حاصل ممتنع دي، دا جواب کوي **وانما لم يمنع** وائي ممتنع ندي ځکه لاحتمال ان يكون زيداً مفعول فعلٍ محذوف، دا د ما اُضمر عامله د قبيلي نه دي وي، دا مفعول د فعل

محذوفه دي وي، چې ضربت زيداً ضربته، او د دويم فعل لپاره مفعول دي محذوف وي، او واذا جاء الاحتمال بطل الامتناع **او يكون التقديم لا للتخصيص** او يا تقديم د تخصيص لپاره دي نه وي، مجرد اهتمام لپاره دي وي، معترض راغي شبهه يې وکړه چې بيا قبيح خو هم نه شو کنه، ځکه چې دا دوه احتمالين چې يکې د صحت وشو نو بيا ورته قبيح ولې وائي؟ نو وائي جواب کوي **لكن ذلك** اي ذلك المذكور من الاحتمالين، لکن هر واحد د دې احتمالينو نه **خلاف الظاهر** خلاف الظاهر دي، نو د دې وجې نه دا قبيح شو، ځکه ظاهر او متبادر دا دي په **ازيدا ضربت** کې چې وروسته فعل مشتغل عنه بضميره ندي، نو دا د ما اضمر عامله د قبيلي نه ندي، بلکه دا مفعول د فعل مذکوره دي، او مقدم شوي دي، او دا دويم احتمال خلاف الظاهر ندي، ځکه چې غالب په استعمال کې، غالب الاستعمال او متبادر تقديم د منصوب چې په فعل باندې کيږي نو د تخصيص لپاره کيږي د اهتمام لپاره په خاص ځايونو کې کيږي، کم کوز **دون هل زيدا ضربته** دا قبيح ندي، ځکه وروسته فعل مشتغل عنه بضميره شو، نو دا قبيح هم ندي، هلکه دونَ ولې **فانه لا يقبح** ځکه لا يقبح دي **لجواز** تقدير المفسّر قبل زيد **اي هل ضربت زيدا ضربته.**

د سکاکي يو قول ذکر کوي بيا په هغې باندې رد کوي، وائي **وجعل السكاكي قبح هل رجل عرف لذلك** ذلك څوك دي؟ **اي لان التقديم يستدعي حصول التصديق** بنفس الفعل **لما سبق من مذهبه** چې **من ان الاصل، عرف رجل على ان رجلا يدل من الضمير في عرف قدم للتخصيص.**

لكن دي په سکاکي باندې رد کوي وائي **ويلزمه** اي السكاكي **ان لا يقبح هل زيد عرف** ځکه دي قبيح نشي چې دليل د ملازمي دا دي، وائي **لان تقديم المظهر المعرفية ليس للتخصيص عنده** هغه وائي نکره کې تقديم شته دي ځکه چې مبتداء نکره محضّه نشي او دلته کې تقديم د تاخر ته حاجت نشته دي **حتى** دا منفي سره لګوي چې که د تخصيص لپاره وي نو **يستدعي حصول التصديق بنفس الفعل** تالي چې ان لا يقبح دي باطل دي، ځکه چې **مع انه قبيح باجماع النحاة.**

شارح د سکاکي دله کوي چې د سکاکي خبره ټيك ده، او دا څه لازم ده چې هل رجل عرف قبيح شو د تخصيص د وجې نه، نو هل زيد عرف دي هم قبيح شي د تخصيص د وجې نه، هغه دي د بل علت د وجې نه وي کنه، دا ملازمه په سکاکي باندې نه واردیږي، نو وائي **وفيه** اي في هذا اللزوم **نظر** اعتراض دي په ماتن باندې **لان ما ذكره** اي الماتن من الدليل من اللزوم ممنوع، ځکه **لجواز ان يقبح لعلة اخرى.**

اوس **وعلل غيره** سکاکي خو هل رجل عرف، او هل زيد عرف لپاره خو علتونه جدا جدا وويل خو اوس قوم څه وائي؟ نو وائي و علل غيره اي غير السكاكي **قبحها** تعين د مرجع کوي قبح هل رجل عرف، و هل زيد عرف لپاره چې **بان هل بمعنى قد في الاصل واصله** او اصل د دې هل اَهل وو، همزه او هل دواړه وو، خو **وتركت الهمزة قبلها لكثرة وقوعها في الاستفهام** ځکه دا کثير الاستعمال وو، او کثرت د استعمال تقاضا د تخفيف کوي، نو مونږ تخفيف وکړو په حذف د همزې کې **وتطفلت** او تابع شو دغه هل د دې

همزې نه په استفهام کې، ځکه حکم د نائب او د منوب یو وي، تتمه د دلیل وکړئ چې هل اصل کې قد وو. **وقد من خواص الافعال** نو فکذا **ما هغه ځیز هي بمعناه** چې هل دي نو هغه هم د خواصو د افعالو نه شو، معترض راغي شبهه یې وکړه چې بیا **هل زید قائم** دي هم قبیح شي کنه؟ ځکه چې قد خو د خواصو د افعالو نه دي، او دلته کې خو په فعل باندې ندي داخل، نو دا وائي: **وانما لم یقبح هل زید قائم لانها** ځکه دا کلمه د هل **اذا لم تر الفعل في حیزها** خپل اشنا او خپله معشوقه ونه وینې نو **ذهلت عنه** نو بیا د هغې نه غافله کیږي، هغه وائي زه څه کوم اشنا زما نشته دي، نو چې اشنا نه وي نو سړي نا اشنا سره شپه کوي، وائي زه په **زید قائم** دي زه داخل شم، **ونسیت** او هغه معشوقه ترې هیره شي، **او بخلاف ما اذا راته** او وینې دا هل دي فعل لره **فانها تذکرت العهود** نو دغه کلمه د هل یادوي وعدي لره، چې هلکه ما خو وعده کړي وه چې زه به په فعل باندې داخلیږم، اشنا سره به کینم پاسم، نو دلته کې په نا شنا باندې ځنګه داخلیږمه **وجنف الی الالف المالوف** او هغه کاملي مینې ته مائل کیږي، نو **فلم ترض بافتراق الاسم بینهما** اې بین هل و الفعل دا وائي چې اې زیده لري شه ته طهر متخلل ئي، زما دا اشنا ماته پریده زه په ده باندې داخلیږم، نو ځکه قبیح نه شو، او هل زید عرف او هل رجل عرف قبیح د دې وجې نه شو.

وهي اي هل تخصص المضارع بالاستقبال مضارع خو حال او استقبال کې مشترک وه لکن هل چې په مضارع باندې داخل شو نو مضارع خاص کوي په استقبال پورې، د حال نه یې اوباسي، دلیل وائي، متن لپاره **بحکم الوضع کالسین و سوف** وائي دا واضع وضع کړي د دې لپاره دي لکه سین او سوف چې په مضارع باندې داخل شي نو خاص کوي د استقبال پورې، نو **فلا یصح هل تضرب زیدا** معترض راغي شبهه یې وکړه چې هلکه دا **وهو اخوك** جمله تا اې ماته، ولې ذکر کړه خو مثال دومره کافي وو کنه چې **هل تضرب زیدا وهو اخوك** ته حاجت نه وو، نو شارح جواب کوي چې دا و هو اخوك قرینه ده چې دلته کې هل تضرب زیداً کې انکار دي د دې ضرب نه، حالًا نه په مستقبل کې، ځکه اخوت د زید د دې مخاطب لپاره حالًا دي، نو انکار د ضرب نه هم حالًا شو، چې حالًا شو نو هل صحیح نشو، نو په دي اعبارت کې چې في ان یکونَ کې اشاره کوي چې دا و هو اخوك ماتن ذکر کړي دي لپاره د قرینې په دي خبره باندې چې انکار د دې ضرب حالي نه دي استقبالي نه ندي مراد، في ان یکون الخ، من قوله وهو اخوك ځکه اخوت في الحال دي نو انکار د ضرب نه هم في الحال شو **کما یصح أ تضرب زیدا وهو اخوك** چې همزي سره دا صحیح دي، او ځکه وائي **قصدا الی انکار الفعل** چې فعل ضرب دي الواقع في الحال، او انکار داسې کوي چې بمعنی **انه لا ینبغي ان یکون** ندي پکار چې موجود شي دغه ضرب اوس متن کې دوه دعوی شوي، یو دعوه دا چې دا مثال مذکور په **هل** سره قبیح شو، صحیح نشو او مثال مذکور په همزي سره صحیح دي، د اولي دعوی لپاره دلیل وائي چې په هل سره ولې ندي صحیح نو وائي **وذلك** وائي دا خبره ثابته ده، چې عدم صحت په هل سره او صحت په همزي سره **لان هل تخصص**

المضارع بالاستقبال نو **فلا يصلح لانكار الفعل الواقع في الحال** نو اوله دعوى ثابته شوه.

بخلاف الهمزة همزه تخصيص د مضارع په استقبال پورې نه کوي، هغه انکار د مضارع حالي نه هم کولي شي او د استقبالي نه هم کولي شي.

و قولنا في ان يكون الضرب شارح د خپل دي مخکني قيد فائده وائي، يو غرض د شارح دا شو، دويم غرض د شارح دفع د اعتراض کوي، اعتراض دا وارد شو چې هلکه دا عدم صحت په هل سره او صحت په همزي سره دا دي د خصوصيت د مادي د وجي نه وي کنه، يعنې په دغه ماده کې په هل سره صحيح ندي او په همزي سره صحيح دي، نو خصوصيت د مادي لپاره به دخل وي، نو شارح وويل چې نه د خصوصيت د مادي لپاره دخل نشته دي، چيرته چې قرينه موجوده وي، چې هغه فعل منکره حالي دي استقبالي ندي نو هل سره صحيح ندي او په همزي سره صحيح دي، هپله دا فعل مضارع عامل په دې جمله حالي کې وي او که نه وي، نو وائي و قولنا في ان يكون، قرينه داسې قرينه: تدل الخ، کقولك أ تضرب زيداً و هو اخوك، نو دا و هو اخوك حال دي د دې زيد نه او عامل پکې دا أ تضرب فعل دي او لا او يا عامل نه وي، قرينه وي خو عامل نه وي، کقوله تعالى ـ نو دلته کې مقصود، قرينه زجر دی، ګورئ د دې او لا دوه ترجمې دي: يو خطا يو صحيح، که دا ترجمه تاسو وکړئ چې او لا او يا دا مضارع عامل په جمله حاليه کې نه وي، نو څه معنى، جمله حاليه به وي خو مضارع به پکې عامل نه وي، دا ترجمه خطا ده، ځکه بيا وروسته ايت کريمه مثال د مخکې ممثل سره نه برابريږي، ځکه مثال چې ايت کريمه دي هغې کې جمله حاليه نشته دي، نو د او لا ترجمه دا کوئ يا دا مضارع عامل په جمله حاليه کې نه وي، ځکه چې جمله حاليه نه وي موجود، لکه مثال داسې شو أ **تقولون** نو جمله حاليه شته دي نه نو عمل په څه کې وکړي، اوس دلته کې قرينه انکار د قول نه في الحال دي، قرينه زجر دي، ځکه الله زورنه ورکوي چې کوم خلق چې تقول على الله کوي نو الله هغوى ته زورنه ورکوي، نو زورنه في الحال ورکولي کيږي دا نه چې صباله ورځ به يې ورکوي، بل مثال ذکر کوي چې **کقولك** أ **تؤذي اباك و تشتم الامير** مطلب دلته کې ويرول دي، ويرول في الحال مقصود وي نه په مستقبل کې.

و لا يصح وقوع هل في هذه المواضع: او همزه صحيح کيږي، ځکه الله په قران کې په همزي سره ويلي دي.

و من العجائب اوس د دينه غرض د شارح دا دي چې قول د علامه شيرازي نقل کوي اولا، بيا د ده په قول باندې رد کوي په لفظ د **و لعمري** سره ثانيًا، بيا دلائل د رد وائي ثالثًا، مثل سيجئ زيد راكبًا الخ، منشا د غلطيا د علامه شيرازي ذکر کوي رابعًا، چې دا په دي خبره کې غلط شوي نو منشا يې دا ده نو څلور غرضونه شو، ١ نقل قول العلامة الشيرازي اولًا، بقوله و من العجائب ٢ و الرد عليه ثانيًا بقوله و لعمري، ٣ و دلائل الرد عليه ثالثًا بقوله مثل سيجئ زيد الخ ۴ و بيان منشا الغلط رابعًا و العجب من هذا الخ.

نو وائي و من العجائب **لبعضهم** اي العلماء **هذا الموضع** چې په دي امثلو مذکورو کې هل ولې ممتنع دي، نو هغه دليل ويلي دي، وائي **من ان هذا الامتناع** بسبب، په دي سبب سره دي **بالحال** په حال نحوي سره نه صحيح کيږي **واعماله** اي و اعمال ذلك الفعل المستقبل **فيها** اي في الحال النحوي وائي هغه دا دليل ويلي دي. نو چې هل يې وويله نو مستقبل به شي [فعل مدخوله] او وروسته **وهو اخوك** حال دي او فعل مستقبل عمل په حال نحوي کې نه کوي، د فعل مستقبل تقييد وي په حال نحوي سره صحيح ندي.

شارح وويل **ولعمري** قسم دي وي په مُبقي د عمر زما باندې، دارنګه قسم دي وي په واهب د عمر زما باندې چې الله دي، ځکه عُمر باندې قسم خوړل نشته دي ځکه [من حلف بغير الله فقد اشرك] چې **ان هذا لغرية** وائي يقيناً دا مقام دروغ دي، شبهه: يا هلکه په دي دروغو کې څه شك غوندې به وي، قطعي دروغ به نه وي، وائي نه نه **ما فيه مرية** نشته دي په دي دروغو کې څه شك، دا يقين وساته چې دا خالص دروغ دي، سور دروغ چې ورته وائي، سور دروغ دا چې د صدق شائبه پکې د سره نه وي، وائي ځکه اذ لم ينقل عن احدٍ من النحاة، وائي اوس تاته مثالونه ښايم زه به تاته ښايم چې فعل مستقبل به وي او حال نحوي کې به يې عمل کړي وي او تقييد به په حال نحوي سره شوي وي، وائي **مثل سيجئ زيد راكبا** نو سيجئ مضارع مستقبل دي، او عمل يې په راكبًا حال نحوي کې کړي دي، او مقيد هم هغې سره دي **و ساضرب زيدا و هو بين يدي الامير** معترض راغي په شارح باندې يې شبهه وکړه چې دا ستا مثال مصنوعي دي وي کنه؟ مسموع دي نه وي، نو شارح وويله چې دا زما مصنوعي دي؟ قران خو زما مصنوعي ندي کنه، قران کې زه تاته ښايم **كيف وقد قال الله تعالى سيدخلون جهنم داخرين** نو سيدخلون مستقبل دي او داخرين حال نحوي دي نو تقيد په حال نحوي سره شوي دي او عمل مستقبل په حال نحوي کې کړي دي، شبهه: يا هلکه مثال خو په منزله د شاهد وي نو دا خو يو مثال شو يو شاهد نو دويم کوم دي، نو شارح وائي هغه دويم درته ښايم **وانما يؤخرهم ليوم تشخص فيه الابصار مهطعين** نو يؤخرهم مستقبل دي او مهطعين ترينه حال نحوي واقع شوي دي او عمل يې هم پکې کړي دي

شبهه: يا هلکه قران کې خو راغلي دي خو قول د فصحاؤ کې دي نه وي راغلي کنه او د ده، مراد دا دي چې قول د فصحاؤ کې نشته دي؟ شارح وائي د حماسه نه بل څوك فصيح شته؟ **وفي الحماسة شعر: ساغسل عني العار بالسيف جالبا ـ على قضاء الله ما كان جالبا** وائي زه به لري کوم د ځان نه شرم، په استعمالولو د توري سره، په حال کون زما کې جالبًا حال دي د ضمير د ساغسل نه په حال کون زما کې چې راخکونکي به يم په ځان باندې فيصله د الله چې راخکونکي وي، وائي نوره د الله قضاء او قدر، چې زه مې کيږم او که پاتې کيږم هغه د الله فيصله ده، خو ځان باندې عار او شرم او عيب په ځان باندې د چا نه پريږدم. شارح وائي څومره به تاسو ته ضبطوم خو **وامثال هذه اكثر من ان تحصى**.

اوس هغه څلورمه خبره کوي چې علامه شيرازي يره دومره غټ سړي دي د ده منشا د غلطيا څه ده؟

وائي منشا د غلطيا د ده دا ده چې ده د عين نه غين جوړ کړي دي **واعجب من هذا** وائي د دې مخکې خبري نه ډيره عجيبه دا ده چې **انه** دا بعضو **لما سمع قول النحاة انه الخ** نحاتو دا خبره وکړه چې جمله حاليه به له اوله سره د علامې د استقبال نه به خالي وي، دليل نحاتو دا ويلي وو **لتنافي الحال و الاستقبال بحسب الظاهر** سره دفع د اعتراض کوي چې هلکه منافات خو په زمانه استقبالي او زمانه حالي کې دي او دلته کې حال نحوي دي، حال نحوي او استقبال زماني کې خو څه منافات نشته دي، نو دا جواب کوي چې **بحسب الظاهر** په دي ټکي د حال او استقبال کې بحسب الظاهر منافات دي، نو د دې وجې نه نحاتو وويله چې کومه جمله چې حال واقع شي، نو د هغې په سر د جملې کې به علامه د استقبال نه راځي، د جمله حاليه په سر کې، علامه د استقبال به نه راځي، نو ده د عين نه غين جوړ کړو **على ما سنذكره** چې وروسته مونږ به ذکر کوو، حتّى لايجوز الخ، نو فهم اي ذلك البعض منه د دې قول د نحاتو نه چې **انه يجب تجريد الفعل الخ** نو د عين نه غين جوړ کړو، ښکته کوم فعل چې عامل دي په دي حال کې دا به خالي وه د علامې د استقبال نه، حتّى لايصح تقييد مثل الخ **واورد** اي العلامة الشيرازي **هذا المثال** دليلًا، دا مثال چې ياتيني زيد سيركب او لن يركب **دليلنا على ما ادعاه** نو يا هلکه دلته کې وهم د کوم ځای او ډب دي کوم ځای نه خيژي، دا خو علامه د استقبال جمله حاليه کې ده، او مدعي ستا دا ده چې ښکته کوم فعل چې عامل دي په حال نحوي کې هغه به خالي وي د علامې د استقبال نه **ولم ينظر الى صدر هذا المثال، انه الخ.**

ماتن وويله چې **و لاختصاص التصديق بها** شارح ورسره لګوي **اي لكون** دي کې يو مقصد د شارح تعين د مرجع کوي چې **بها** ضمير راجع دي کلمې د هل ته، مؤول په تاويل د کلمې سره، دويم غرض د شارح دا دي چې اشاره کوي چې باء داخله ده په مقصور باندې، په مقصور عليه باندې نده، يعني هل مقصور دی تصديق پورې متجاوز ندي د تصديق نه تصور ته، او دريم غرض دا دي چې اختصاص کې دوه جزء دي، يو جزء ايجابي او بل جزء سلبي نو په هغې باندې تصريح کوي، نو اوس ګوره جزء ايجابي ته يې اشاره وکړه چې **اي لكون هل مقصورة على طلب التصديق** او جزء سلبي ته يې اشاره وکړه چې **و عدم مجيئها لغير التصديق** يعني عدم راتلل د دې هل د غير تصديق لپاره **كما ذكر** اي الماتن **فيما سبق** کې چې **هل لطلب التصديق فقط** يا كما ذُكر [بالمجهول] **فيما سبق** کې [مخکې يو علت ماتن بيان کړو چې و لاختصاص التصديق بها] دويم علت دا دي چې **و تخصيصها المضارع** يعني و لتخصيصها، هغې مخکې اختصاص باندې عطف دي، هغه [انه مخکې چې کوم لام وو] هغې لاندې داخل دي، او بل د وجې د خاص کولو د هل نه مضارع لره په استقبال پورې، دلته کې باء داخله ده په مقصور عليه باندې، دلته کې استقبال مقصور عليه دي، هل مقصور دي کون د مضارع مستقبل پورې، نو دا دوه علتونه مخکې شو **اذ كان لها مزيد اختصاص** دا معلول مؤخر شو، نو کيږي د دې هل لپاره زيادت اختصاص،

زيادة علاقه **بما كونه زمانيا اظهر** په هغه شي پورې چې زمانيت د هغه ډير ظاهر وي، اوس د دې متن ترکيب مغلق وو ګران وو، نو شارح مونږ او تاسو ته د دې متن ترکيب کوي چې ترکيب هم حل شي او معنی هم ظاهره شي نو وائي **ما** لفظ د ما په بما کې **موصولة** دي **وكونه** مبتداء، او د کون مبتداء ده، يعنې کون سره د اسم او سره د خبر نه دا مبتداء شوه، خبر د دې وروسته **اظهر** دي، او دا **زمانيا** خبر لپاره د کون دی، اوس د متن ترجمه دا شوه چې **بما** اي بالشئ الذي، کيږي د دې هل لپاره زيادة اختصاص په هغه شي پورې چې زمانيت د هغې اظهر ... اي **بالشئ الذي زمانيته اظهر** هغه شي چې د هغه زمانيت اظهر وي هغه لکه **كالفعل** لکه فعل شو **فان** سره دليل وائي چې دي فعل کې زمانيت ځکه اظهر دي چې **فان الزمان جزء من مفهومه** ځکه چې زمانه جزء دي د مفهوم د فعل نه، ځکه فعل حدث، نسبت، زماني ته ويلی شي. معترض شبهه وکړه چې هلکه زمانه خو د مفهوم د اسم نه هم جزء کيدي شي لکه **زيد ضارب غدا** يا الان يا الامس، نو ده جواب وکړو چې **بخلاف الاسم فانه يدل عليه** اي على الزمان **حيث** په هغه ځای کې **يدل** اي ذلك الاسم **بعروضه له** اي لذلك الزمان.

اوس شارح په دي عبارت سره چې **اما اقتضاء تخصيصها المضارع بالاستقبال** تطبيق د معلول کوي علتينو پورې، ديته وائي دليل لپاره د تطبيق المعلول للعلتين

اوس دا **كان لها مزيد اختصاص بما كونه زمانيا اظهر** دا يو معلول شو د دې لپاره دوه علتونه شو ۱ علت دا چې دا هل مقصور دي په تصديق پورې، نو دا هل مقصور کيدل تصديق پورې دا علت شو د دې لپاره چې هل لپاره د زيات اختصاص دي په فعل پورې، دويم علت دا شو چې خاص کول د دې هل مضارع لره په استقبال پورې، دا علت شو لپاره د اختصاص د هل په فعل پورې، نو د دې دواړو علتينو تطبيق کوي د دې معلول سره، يو غرض دا شو، دويم علت لپاره علت وائي، نو تدقيق شو، چې هل خاص شو طلب د تصديق پورې نو دا د فعل پورې ولې خاص دي؟ نو د دې لپاره دليل وائي، دارنګه هل تخصيص د مضارع کوي په استقبال پورې، نو دي فعل پورې ولې خاص شو، د دې لپاره دليل وائي نو دا تدقيق هم شو، نو وائي چې دا دويم علت او معلول ظاهر دي، داسې چې وائي **واما اقتضاء تخصيصها** هر چې دي غوښتل د تخصيص د دې هل **المضارع بالاستقبال** د چا لپاره اقتضاء **لمزيد اختصاصها بالفعل فظاهر** دي، ځکه چې استقبال او حال نه راځي مګر په فعل کې راځي **واما اقتضاء كونها** هر چې دي غوښتل د کيدو د دې هل **لطلب التصديق فقط** اقتضاء د چا لپاره **لذلك** لپاره د زيادت اختصاص بالفعل پورې د دې دليل څه دی؟ نو وائي د دې دليل دا دی چې **فلان التصديق هو الحكم بالثبوت او الانتفاء** تصديق عبارت دي د حکم نه په ثبوت باندې په قضيه موجبه کې يا انتفاء په قضيه سالبه کې، دا **صغرى** شوه **و النفي و الاثبات انما يتوجهان الى المعاني و الاحداث** دا کبرى شوه، نتيجه دي نه را اوباسي، فالتصديق والحكم يتوجهان الى المعاني و الاحداث، اوس دا راوتلي نتيجه به تاسو صغرى کوئ او دي سره بله کبرى تل

کړئ، داسې به وائي چې **التصديق و الحكم يتوجه الى المعاني و الاحداث و المعاني و الاحداث مدلولات الافعال** نو نتيجه دا را ووتله چې تصديق او حكم مدلولات د افعالو شو، دويمې کبرى ته يې اشاره وکړه چې اللتي هي مدلولات الافعال لاالى الذوات اللتي هي مدلولات الاسماء، هغې ته نه متوجه کيږي.

و لهذا شارح تعين د مشار اليه کوي چې **اي و لان لها** اي لكلمة **هل مزيد اختصاص بالفعل** نو **كان فهل انتم شاكرون** چې قران کې شته دي **ادل على طلب الشكر** ډير دلالت کونکي دي په طلب د شکر د مخاطبينو نه، اډير ادل دي دا د دې دوو ترکيبينو نه چې **فهل تشكرون** يو، دويم **فهل انتم تشكرون له مع انه** سره د دې نه چې دا دويم قول چې **فهل انتم تشكرون** دي **مؤكد بالتكرير** نو ګويا چې فهل انتم تشکرون داسې شو چې فهل تشکرون تشکرون، ځکه **اذ انتم فاعل فعل محذوف** دي، نو سره د دينه چې دا مؤکد دي په تکرير سره خو فهل انتم شاکرون ډير ادل دي په طلب د شکر باندې وائي ځکه ادل دي چې **فهل انتم شاكرون** کې تا ابراز د **ما سيتجدد** وکړه په معرض د ثابت کې وکړو، چې هل خو وضع شوي وو چې تخصيص د مضارع يې بالاستقبال پورې کولو، هغې نه الله عدول وکړو چې دا شکر اوس ستاسو نه غواړم، نو دا ډير ادل شو، نو **فهل انتم تشكرون** ويل پکار وو يا فهل انتم تشکرون ويل پکار وو، تاسو به وروسته زماني کې شکر کوئ هغه درنه غواړم، هغه يې پريښودو جمله اسميه ته يې عدول وکړو چې **فهل انتم شاكرون** نو مطلب دا شو چې اوس تاسو نه غواړم، استقبال پورې نشته دي، نو دا ډير ادل شو، نو وائي: لان ابراز ما في معرض الثابت ادل على كمال العناية بحصوله اي بحصول ذلك الشئ من ابقائه على اصله كما في تشكرون، لكه فهل تشكرون کې په خپل اصل باندې دي، مضارع شته دي، دارنګه و هل انتم تشكرون نه **لان هل** في هل تشكرون و هل انتم تشكرون على اصلها دي چې استقبال دي، لكونها داخلةً على الفعل تحقيقًا في الاول و تقديراً في الثاني.

و فهل انتم شاكرون ادل دي کې شارح اشاره کوي چې دا **افانتم شاكرون** عطف دي په فهل تشکرون او فهل انتم تشکرون باندې، نو د هغې نه مخکې ادل وو، دغسې دلته کې را اوباسئ، وائي **و فهل انتم شاكرون ادل على طلب الشكر من افانتم شاكرون** ايضًا، چې همزې سره يې ووائي بيا هم هل سره چې يې ووائي هغه پرې د دې همزې نه هم ډير دلالت کوي **وان كان للثبوت ادعى** ځکه هل ډير قوي دي په غوښتلو کې **للفعل من الهمزة** نو **فتركه** اي فترك الفعل معها اي مع الفعل **ادل على ذلك** اي كمال العناية الخ.

و لهذا اي و لان هل **لا يحسن هل زيد منطلق** جمله اسميه سره ويل ښه ندي **الا من البليغ** بليغ سړي هل زيد منطلق ويلي شي او غير بليغ يې نشي ويلي ځکه **لانه** اي البليغ **الذي** هغه سړي دي **يقصد به الدلالة على الثبوت و ابراز ما سيوجد في معرض الموجود** او غير بليغ په دې نکتو باندې نه پوهيږي، هغه لپاره هل زيد منطلق او هل زيد ينطلق يو شي دي.

و هي اي هل **قسمان** يو **بسيطة** تعريف د هل بسيطه کوي، هل بسيطه ديته وائي چې **و هي اللتي يطلب بها**

وجود الشئ چې طلبوي په دي سره هغه سائل وجود د شي في نفسه **او لا وجوده** دي کې شارح اشاره وکړه چې کلام د متن په حذف د معطوف سره دي، يا وجود د شي في نفسه يا لاوجود في نفسه، مثال **کقولنا هل الحرکة موجودة** يا هل الحرکة لاموجودة.

و مرکبة او دويم هل مرکبه دي **و هي اللتي يطلب وجود شئ لشئ** نو دلته کې شئ اول او شئ ثاني دواړه نکرې دي، او نکره چې معاد شي نکره ثانيًا نو ثاني غير وي د اول نه، نو مراد د شئ ثاني نه صفت متاخره عن الوجود شو، معنی ثبوت د يو شئ بل شئ ته، دا په موجبه کې **يا لا وجود** کلام د ماتن په حذف د معطوف سره دي يا عدم ثبوت د دې شئ ثاني دي شئ اول ته **کقولنا هل الحرکة دائمة او لا دائمة** نو ته به وائي نعم يا به وائي چې لا اوس فان سره شارح دليل وائي د دې لپاره چې دي اول ته بسيط او دي دويم ته مرکبه ولې وائي؟ يو غرض دا شو، دويم غرض د شارح دفع د اعتراض کوي چې هلکه دي اول ته چې بسيط وائي، او دي دويم ته چې مرکب وائي، نو د بسيط او د مرکب بله معنی خو نه صحيح کيږي خو بسيط په معنی د قلة الاجزاء سره دي، او مرکب په معنی د کثرة الاجزاء سره دي، نو دا معنی د بساطت او د ترکيب خو صحيح ندي، نو اوس ته دا قلة الاجزاء او کثرة الاجزاء که ته په اعتبار د هل سره وائي، نو هل کې خو په دواړه صورتونو کې دوه حرفه دي، يو هاء او بل لام دي، يو کې اجزاء کم او بل کې زيات خو نشته دي، او که ته قلت او کثرت په اعتبار د مسؤول عنه سره وائي چې حکايت دي مسؤول عنه، نو ښکته هل الحرکة موجودة يا هل الحرکة لاموجودة کې هم دري اجزاء دي موضوع، محمول، نسبت تام خبري، اوروستي کې **هل الحرکة دائمة** يا **هل الحرکة لا دائمة** کې هم دري اجزاء دي چې موضوع، محمول، نسبت تام خبري، نو قلت او کثرت خو رانغي.

نو شارح راغی **فان المطلوب** سره جواب کوي په اختيار د شق ثالث سره چې دا بساطت په معنی د قلت الاجزاء او ترکيب په معنی د کثرة الاجزاء سره نه په اعتبار د لفظ د هل سره دي، نه په اعتبار د حکايت سره دي، بلکه دا په اعتبار د مخکې عنه سره دي، په محکي عنه د **هل الحرکة موجودة** کې دوه څيزونه راغلل، يو حرکت او بل وجود، په محکي عنه د **هل الحرکة لا موجودة** کې دوه څيزونه راغلل، يو حرکت بل عدم حرکت، او په محکي عنه د **هل الحرکة دائمة** کې دري څيزونه راغلل حرکت، وجود حرکت او دوام، نو څکه وائي **فان المطلوب** په دي دويم کې **وجود الدوام للحرکة او لا وجود لها** اي للحرکة **و قد اعتبر في هذه شيئان غير الوجود** چې يو حرکت او بل دوام او بل وجود نو دري شو [کتاب کې دوه دي او شيخ دري جوړ کړه فافهم] **و في الاولى شئ واحد** چې شئ او وجود، فکانت مرکبة بالنسبة الى الاولى **و هي** او دا اولى **بسيطة اليها** دې ثاني ته.

والباقية من الفاظ الاستفهام **تشترك** تول شريك دي **في** په دي کې چې **انها** دا تول **لطلب التصور فقط** د تصديق لپاره نه راځي، صرف د طلب د تصور لپاره راځي، نو اوس ګوره همزه د طلب د تصور او

تصديق دواړو لپاره راځي، هل د طلب د تصديق لپاره راځي، فقط. باقي الفاظ د استفهام صرف د طلب تصور لپاره راځي فقط، نو معترض راغي شبهه يې وکړه چې هلکه بيا خو په باقي الفاظو د استفهام کې فرق رانغي، چې ټول د طلب د تصور لپاره شو نو ده جواب وکړو **و تختلف من جهة** اي من سبب **ان المطلوب بكل منها تصور شئ اخر** د مطلوب لحاظ سره يو بل نه جدا جدا دي، نفس طلب د تصور کې ټول شريك دي خو مطلوب کې يکې فرق شته دي **العل المراد بالفرق في حصول المطلوب** اي في الكيفية نو **قيل** ويلې شوي دي، دا قيل لپاره د ضعف ندي، قيل د دې لپاره دي په مجهول سره يې ځکه وويله چې قائل معلوم نه وو متعين ماتن ته، نو قيل سره يې وويله، ځکه دا راتلونکي خبره ضعيفه نده بلکه قوي خبره ده، د ټولو اتفاقي خبره ده، نو وائي **قيل فيطلب بما شرح الاسم** ما سره سائل واني چې زما د دې مسؤول عنه اسمي تشريح وکړه، د دې لفظ مفهوم ماته بيانوه، د ده په وجود خارجي باندې زما علم نشته دي **كقولنا** لکه دا قول زمونږ شو **ما العنقاء** عنقاء څه شي دي؟ **طالبا** اي حال کوونکي طالبين **ان يشرح هذا الاسم** د لفظ د عنقاء چې د دې مفهوم څه دي او وجود خارجي د دې باندې زمونږ علم نشته دي **و يبين مفهومه** او بيان کړي شي مفهوم د دې نو **فيجاب بايراد لفظ اشهر** نو جواب ورکولي شي په راوړلو د لفظ مشهور سره، ته به وائي چې **طائر عجيب** يا **طائر لو وقع على الجبل** نو **لرفع الجبل** د غر نه به اوچت وي، يا **طائر لو وقع على الجبل لرفع الجمل** اوښ نه به هم اوچت وي.

دا عنقاء په زمانه د حضرت حنظلة بن صفوان رضي الله تعالى عنه کې ښکاره شوي وه، نو دا راغله او د خلکو په وړو تختولو باندې يې شروع وکړه، ځکه وړې شو څه ښکار ښکار ورته ملاؤ نه شو، جړې وه اړه دي ورځ هم باران وو په غرونو ښه واوره شوي وه نو راغله او د ابادۍ نه يې د خلکو په وړو تختولو شروع وکړه، او د خلکو د قابو نه بهر وه، نو دوی راغلل حضرت حنظلة بن صفوان رضي الله تعالى عنه ته يې درخواست وکړه چې ته الله ته سوال وکړه چې دغه شي ختم شي، دا خو لوی مصيبت کې مونږ لاړو، زمونږ واړه تختوي، وړي يې، نو حضرت حنظلة بن صفوان رضي الله عنه دعا وغوښته الله نه، الله د عنقاء نسل ختم کړو، نو اوس عنقاء هسې يو مفهوم بلا مصداقه پاتې شو، د دې مصداق خارجي نشته دي

او ماهية المسمى يا طلبولي شي په دي ما سره ماهيت د مسمى، يعنې ماهيت دهغه مفهوم، معترض راغي شبهه يې وکړه چې ما شارحه او ما حقيه کې بيا فرق رانغي؟ ځکه چې ماالعنقاء سره هم ماهيت د مسمى وو کنه، ده جواب وکړو اي **حقيقته التي هو بها هو** حقيقت د دغه مسمى، هغه حقيقت چې دغه مسمى په دغه حقيقت سره **هو** دغه مسمى کيږي، يعنې موجوديږي په خارج کې، نو جواب داسې وشو چې دلته کې ماهيت د موجود خارجي مراد دي، چې يا هلکه د دې شي په وجود خارجي باندې زما علم شته دي خو کنه تفصيل يې ماته ندي معلوم هغه ماته بيان کړه، نو فرق راغي، مثال داسې شو لکه **ما الحركة** يا هلکه حرکت خو موجود دي په خارج کې چې خلق د دې ځای نه حرکت کوي بره

جماعت ته، پورې يو ځای ته بل ځای ته، حرکتونه کوي، خو د دې کنهه تفصيلي ماته پته نشته چې حرکت څه ته وائي؟ نو ته به جواب کوي چې **کونين في اين في زمانين** يا انتقال من اين الى اين ته وائي، د يو مکان نه بل مکان ته انتقال وائي **اي ما حقيقة مسمى هذا اللفظ** څه کنه، مسمى د دې لفظ [دا جمله شيخ سمه نده ويله] **فيجاب بايراد ذاتياته** چې کونين في اين، يا **انتقال من اين الى اين** ته وائي

وتقع هل البسيطة في الترتيب يعنې په نظم طبعي کې **بينهما** تعين د مرجع کوي **اي بين ما شرح الاسم** او **واتى لطلب الماهية** ترتيب کې د دې په مينځ کې واقع کيږي، يا هلکه مينځ کې معنى څه؟ **يعنې ان مقتضى الترتيب الطبيعي** يعنې د سره يو خو د ترتيب ترجمه کوي [راتلونکي يعنې سره] دويم دفع د اعتراض کوي چې يا هلکه ما خو حقيقيه وي که شارحه وي هغه خو طلب د تصور لپاره راځي، او هل خو د طلب د تصديق لپاره راځي، نو دا يې په مينځ کې څرنګه واقع کيږي؟ نو دا وائي د واقع کيدو دا مطلب دي يعنې **ان مقتضى الترتيب الطبيعي** طبعي عقلي دا غواړي چې **ان يطلب اولا شرح الاسم ثم وجود المفهوم** وجود د شي **في نفسه** نو دا مطلب د هل بسيطه شو **ثم ماهيته وحقيقته** بيا د شي کنهه تفصيل او بيا د شي حقيقت تفصيل طلب به کوي، چې دا مطلب ما حقيقيه دي، نو اول ما شارحه راځي، دويمه مرتبه کې هل بسيط، دريمه مرتبه کې ما حقيقيه راځي، نو هل بسيط په مينځ کې واقع شو.

اوس دليل د متن لپاره وائي چې هل بسيط دا په مينځ کې ولې غواړي؟ وائي **لان من لا يعرف** مفهوم اللفظ، د عنقاء مفهوم مثلًا نه پيژني **استحال منه ان يطلب وجود ذلك المفهوم** هل پسې يې ته طلبولي شي؟ و **من لا يعرف انه** چې راشي **موجود** وجه يې نه پيژني نو **استحال منه ان يطلب حقيقته و ماهيته** کنهه او حقيقت شي طلبولي، ځکه **اذ لا حقيقة للمعدوم و لا ماهيته.**

والفرق سره دا دفع د اعتراض کوي، چې هلکه د شي حد تفصيلي، کنهه تفصيلي بيانول مستدرک ده، لکه ما وويله چې **ما الانسان** نو ته ووائي **حيوان ناطق** نو دا استدراک دي، ځکه انسان او حيوان ناطق خو يو شى دى، نو اوس ما وويله ما الانسان نو تا په جواب کې وويله چې **حيوان ناطق** نو څنګه چې د **ماالانسان** په جواب کې انسان ويل مستدرک وو نو دغسې په جواب د ماالانسان کې حيوان ناطق هم مستدرک دي، ځکه انسان او حيوان ناطق خو يو شي دي

نو دا جواب کوي چې **والفرق بين المفهوم من الاسم** وائي فرق په ما بين د هغه شي کې چې فهم شوي دي د اسم نه لکه ماالانسان شو **بالجملة اجمالاً وبين الماهية التي تفهم من الحد بالتفصيل** دغه فرق **غير قليل** يا هلکه تپوس چې ما کړي وو د مفهوم اجمالي نه، چې **ماالانسان** د دې مفهوم اجمالي، کنهه تفصيلي څه ده؟ د دې لفظ، او چې حد وشو نو په کنهه تفصيلي سره وو او جواب ماته وشو په کنهه تفصيلي بيانولو سره، دا فرق مستدرک ندي، دا څه کم فرق خو ندي، وائي چې **فان كل من خوطب باسم فهم فهما ما** ما تاته وويله او نه عالم په وضع د لغت باندې وي چې **ماالانسان** نو ته د دې انسان نه دا خو فهموي کنه چې دا انسان فقط

موضوع دي د څه معنى لپاره مهمل خو دا نه دي، اجمالاً تا معلومه کړه، اوس وروسته ما تاته وويله **حيوان ناطق** نو تفصيلاً پته تاته راغله، وائي **ووقف على الشئ الذي يدل عليه الاسم** وائي يا هلکه يو سړي عالم باللغة نه وي نو هغه خو نشي خبريدي په هغه شي موضوع له باندې، وائي نه **اذا كان عالما باللغة** نو اجمالي بديهي شو، هر چاته چې ته ووائي چې **ماالانسان** نو هر څوک پوهيږي چې دا انسان د څه شي لپاره وضع شوي دي **فرس** دا هم تاته بديهي دي چې دا يو لفظ موضوعه دي، حمار ته ووائي دا يو لفظ موضوعه دي **مفاهيم اجمالية** کلها بديهيات شو، بديهيات په دي معنى چې هر سړي عالم باللغة وي دا معلومولي شي چې دا لفظ څه معنى لپاره وضع شوي دي، تپوس ته حاجت نشته دي خو چې عالم باللغة قدري وي

واما الحد هر چې دي کنهه تفصيلي د شي مخصوص معين نو **فلا يقف عليه** وائي نه خبريږي په دې حد باندې **الا المرتاض**: هغه سړي چې څريدونکي وي **لبضاعة المنطق** مرتاض څريدونکي، رياضي ته رياضي ځکه وائي چې رياضي اکثر تعلق لري د قوت خيالي سره، او د ورو قوت خيالي زيات وي په نسبت سره قوت عاقله ته، قوت عاقله د هغوی کمزوري وي، نو دي حکماؤ او په خپلو وړو به رياضي ووائي، ځکه چې د وړو قوت خيالي زيات وي، او منطق به يې پرې وروسته ويلو، ځکه هغه کاسب غواړي، چې جنس به مخکې کوي، فصل به وروستي کيږي ترتيب طبعي به په مينځ کې به ورکوي

فالموصولات سره يو غرض دا دي چې دا تفريع شو، متفرع عليه دا مخکني تکي شو چې **لان من لا يعرف مفهوم اللفظ استحال منه ان يطلب وجود ذلك المفهوم** نو د تفريع مقصد دا راووته چې د کوم شي چې علم ستا په وجود خارجي باندې وي او د هغې حد وشو نو هغې ته حد حقيقي بحسب الحقيقة وائي، کوم شي چې ستا علم د هغې په وجود خارجي باندې نه وي د هغې حد وشو نو هغې ته حد حقيقي بحسب الاسم وائي، نو ګوره اوس د دينه معلومه شوه چې کوم شي چې واقع شي په جواب د ما شارحه کې نو دينه حد حقيقي بحسب الاسم ورته وائي، او کوم شي چې واقع شي په جواب د ما حقيقيه کې نو هغې ته حد حقيقي بحسب الحقيقة وائي، نو د تفريع نه غرض دا شو.

دويم غرض د شارح **فالموجودات** نه دفع د اعتراض کوي، اعتراض دا وارد شو چې اي هلکه تا مخکې وويله چې **اذ لا حقيقة للمعدوم ولا ماهية** نو ستا کلام کې تدافع راغله مخکې وائي عنقاء معدوم ده، هغې لپاره ماهيت او حقيقت شته دي چې **طائر عجيب** طائر لو وقع على الجبل لرفع الجبل، او لرفع الجمل، او وروسته وائي چې د معدوم لپاره حقيقة او ماهيت نشته دي؟ نو تدافع راغله

نو شارح فالموجودات سره جواب کوي چې ته پوهه شوي نه يې کنه، د عنقاء چې تعريف کيږي نو حد حقيقي بحسب الاسم کيږي او وروسته چې زه نفي کوم چې اذ لاحقيقة للمعدوم ولا ماهية نو حد حقيقي بحسب الحقيقة ځکه نفي کوم، ۲ د معدوماتو لپاره حد حقيقي بحسب الحقيقة نشته دي، او معدوماتو لپاره حد حقيقي بحسب الاسم شته دي، نو تدافع نشته، نو ځکه وائي **فالموجودات حقيقية و**

اسمية دواړه حدونه ورله راځي، خو صرف فرق دا چې ستا علم د هغې په وجود خارجي باندې وو نو هغه حد حقيقي شو او که نه وو نو حد اسمي شو، حقيقي بحسب الاسم شو، و اما المعدومات فليس لها، حتّى فائده دا شوه چې **ان ما يوضع في اول التعاليم** په اول د تراجمو کې من حدود الاشياء اول د تراجمو کې څه؟ حدود د اشياؤ **اللتي برهن عليه** الخ، يا هلکه دا خان نه نه وايم **و جميع ذلك مذكور في الشفاء** لکه اوس ګوره کافيه کې تا وويله **المرفوعات** اول ترجمه او عنوان کې تا المرفوعات کښنودل اوس تا تعريف وکړو چې **هو ما اشتمل على علم الفاعلية** دا حد اسمي شو، ځکه مرفوعاتو په وجود خارجي باندې [لاتر اوسه] زمونږه علم نشته دي چې څو دي او کوم کوم دي، نو دا حد حقيقي بحسب الاسم شو، او وروسته تا شمار وکړو چې منها الفاعل و منها المبتداء، و منها الخبر الخ، اته قسمه مرفوعات تا بيان کړل، نو ستا علم اوس په وجود خارجي باندې راغې، اوس هغه زور حد د مرفوعاتو هغه د اسمي نه بدل شو په حد حقيقي باندې، د علم بالوجود نه وروسته دور نه په نورو کې هم، لکه **كتاب الطهارة** کيدي، کتاب الايمان کيدي، ټولو کې داسې دي.

ويطلب بمن ولې طلبولي شي په **من** سره **العارض المشخص** هغه عارض چې تعين کونکي دي مسؤول عنه لره من سره سائل سوال کوي مجيب نه غواړي چې د دې مسؤول عنه داسې عارض نه پيش ذکر کوه چې هغه مسؤول عنه معين کړي د ما عدا نه، جدا کړي او معين کړي، اوس شارح ورسره لګوي اې **الامر** دي کې يې اشاره وکړه چې دا **العارض** اسمي صفتي دي موصوف غواړي، موصوف يې ورله کښنودو **الامرالذي** کې شارح اشاره ذکړه هغه مشهور قاعدي ته چې اسم فاعل او اسم مفعول باندې الف لام داخل شي نو هغه الف لام په معنى د الذي به وي، اسم فاعل او اسم مفعول په معنى د يَعرض او يُعرض به وي [مضارع معلوم او مجهول وي] هغې ته يې اشاره الف لام نه يې تعبير په الذي سره وکړو او **عارض** نه په **يعرض** سره وکړو، لکن دغه عارض چې تعين کونکي وي د مسؤول عنه نو د چا عارض به وي **لذي العلم** د ذي العلم لپاره، يعنې د ذي علم او ذي عقل لپاره به عارض وي، يو عارض د غير ذي عقل دي، دلته داسې عارض چې د ذي عقل وي، لکه ما وويله چې **من في الدار** نو کور کې ذي عقل اوسيږي نه چې حيوانات نو ته په جواب کې به وائي چې زيد، عمرو، داسې شي به ذکر کوي چې هغه مفيد لپاره د تشخص او د تعين وي **فيفيد** نه غرض د شارح دا دي، چې اثر مرتبه د دې طلب ندي بيا څه شي شو؟ چې دي طلب د عارض مشخصه کوي نو اثر مرتبه پرې څه شي شو، وائي **فيفيد تشخيصه** وائي پس فائده کوي به دغه عارض مشخصه تعين د دغه مسؤول عنه **تشخيصه و تعينه** او تعين د دغه مسؤول عنه **كقولنا من في الدار** فيجاب بزيد الخ.

وقال السكاكي اوس د سکاکي قول ذکر کوي، نور کلام د سکاکي بلکل ټيك ټاك دي خو يو خبره کې دا خطا شوي دي، نو ماتن د ده قول رانقل کوي لپاره د ورکولو په ، کې دا خطا دي **وقال السكاكي**

يسال بما عن الجنس د جنس د مسؤول عنه نه، چې دا مسؤول عنه د کوم جنس نه دي **نقول ما عندك** وائي اي اي **اجناس الاشياء عندك** کوم يو د اجناسو د اشياء نه تاسره دي **و جوابه** جواب د دې به کوي **کتاب** چې يا هلکه ماسره د جنس د کتاب نه دي يا د فرس نه يا د حمار نه دي

شبهه نو دا وائي چې مخکې تا ويلي وو چې ماسره سوال د ماهيت نه کيږي، نو دا وائي **فيدخل فيه** وائي داخليږي په دغه سوال عن الجنس کې السؤال عن الماهية و الحقيقة، د ماهيت چې ما شارحه ده، حقيقت نه چې ما حقيقيه دي، هغه په دې کې داخل دی **نحو ما الكلمة** اي اي اجناس الالفاظ. کذا کوم جنس دي د اجناسو د الفاظو نه **و جوابه** لفظ موضوع مفرد **او عن الوصف** يا سوال به کيږي د ما سره د وصف نه، دا اصطلاح د اهل معانيو ده، او هغه مخکې تقسيم د ما، ما حقيقيه او اسميه ته هغه اصطلاح د منطقيانو وه، تقول ما زيد جوابه الكريم و نحوه كالشجاع **و يسال بمن** دې کې سکاکي خطا شوي دي وائي **و يسال بمن عن الجنس** خو دا جنس **من ذوي العلم** نه به وي **تقول من جبريل** نو معنى **اي ابشر هو ام ملك ام جني** د بشر د جنس نه دي که د ملك که جني دي، نو ماتن وائي په دي کې سکاکي خطا شوي دي، من سره سوال د جنس د مسؤول عنه نه نه کيږي، **وفيه نظر** په دي ما قال د سکاکي کې نظر دي اذ لانسلم **انه** دا لفظ د مَن للسؤال عن الجنس، او دا هم نه منو **وانه يصح في جواب من جبريل ان يقال ملك داهم** يواخې نشي ويلي، بلکه داسې شي به ذکر کوي چې هغه تشخيص د جبريل فائده کوي، هغه څه دي؟ **بل جوابه ملك ياتي بالوحي كذا وكذا** يعني انبياؤ ته د الله د طرف نه **مما يفيد تشخيصه** او **ملك** يائي بالوحي من الله الى الانبياء، دا د جبريل نه علاوه په بله فرشته باندې نه صادقيږي، تشخيص فائده کوي

و يسئل باي کله يطلبُ او کله يُسئل دا تفنن في العبارة دي **عما** د هغه ځيز نه **يميز به احد المتشاركين** متشارکين وي **في امر** کې **يعمهما** چې شامل دي دا امر دي دواړو ته **وهو** او هغه امر چې دا دواړه متشارکين په هغې کې شريك دي هغه **مضمون ما اضيف اليه** اي حاصل د هغه شي، مضمون د هغه شي دي چې د اي اضافت هغې ته شوي دي، نو اي سره غرض د سائل دا دي چې هلکه د اي په مضاف اليه کې دوه ځيزونه چې شريك دي، دي کې مالره ما به الامتياز ذکر کوه چې د يو بل نه په څه سره د دې ممتاز دي **نحو اي الفريقين خير مقاما اي انحن ام اصحاب محمد صلى الله عليه وسلم** اوس دا مثال مطابق د ممثل سره دي، فالمؤمنون و الكافرون، دا دواړه **قد اشتركا** في الفريقية، او فريقيت مضاف اليه د اي دي **و سالوا** اي المشركون و اليهود **عما يميز احدهما عن الاخر** د هغې شي نه، چې ما به الامتياز دي کې څه دي؟ فريقيت کې خو دواړه شريك دي، نو **مثل كون الكافرين القائلين لهذا القول** چې بعث بعد الموت نه مني او **و مثل كون المؤمنين اصحاب محمد صلى الله عليه وسلم** ما به الامتياز به دا ذکر کوي

و يسال بكم عن العدد اي عن عدد المسؤول عنه، يا هلکه د دې مسؤول عنه شمار څه دي؟ لس دي، يوولس دي، شل دي، لاك دي، کرور دي، نو **سل بني اسرائيل كم اتيناهم من اية من بينة اي كم اتيناهم** دي

کې شارح اشاره دیته وکړه چې دا **من اية** تمیز د دې کم دي او من زائد دي **اي کم اية اتيناهم** اعشرین ام ثلاثین **فمن اية مميزكم بزيادة من** من خکه زیاتي کوي، وائي مخکې تاسو ته تیر شویدي، لما وقع من الفصل بفعل متعد بین کم و ممیزه کما ذکرنا، په **وكم ذدت عني من تحامل حادث** کې تاسو ته تیر شویدي في الخبرية معترض راغی شبهه یې وکړه د شبهې حاصل دا دي چې **فكم ههنا للسؤال عن** دا شبهې ته اشاره وشوه چې کم دلته کې سؤال دي د عدد نه، او سائل الله دي، نو سوال خو هغه څوک کوي چې د هغه پرې علم نه وي، او الله خو عالم دي په هر څه باندې، نو سوال ته حاجت رانغي، نو **لكن** سره جواب کوي **لكن الغرض من هذا السؤال** غرض د دې سوال نه ځان پوهه کول د سائل ندي چې الله دي **بل هو التفريع والتوبيخ** یهودو ته زورنه ده چې دا خنزیرانو ته مونږ څومره معجزي ورکړیدي، بیا هم تاسو د موسی علیه السلام معجزه غواړئ، او وائي **ارنا الله جهرة**.

وبكيف او سوال کولي شي په کیف سره د حال نه چې حال د مسؤول عنه ماته بیا نه کړه چې **كيف زيد** زید صحیح دي که سقیم دي **و باين عن المكان** چې این زید في المسجد ام في السوق، یا في البیت دي **وبمتى عن الزمان** شبهه: یا هلکه په متی سره هم د زماني نه نو بیا خو ایان او متی کې فرق رانغي، نو فرق ته اشاره کوي چې **ماضيا كان او مستقبلا وبايان عن الزمان المستقبل** قیل سره اوس فرق کوي چې کوم ځای کې متی سره هم سوال وشي د مستقبل نه او ایان سره سوال وشي د مستقبل نه نو بیا فرق څه دي، بیا خو فرق رانغي، نو دي دواړو کې فرق کوي وائي **و قيل يستعمل** وائي مستعملیږي دغه ایان **في مواضع التفخيم** په مواضع د تعظیم کې، امور معظمو کې ایان مستعملیږي **مثل ايان يوم الدين** او خلاف د متی نه، متی په امور حقیرو کې هم مستعملیږي لکه **متى يطير الذباب** ویلي شي، ایان یطیر الذباب نشي ویلي **وانى تستعمل تارة بمعنى كيف** شبهه: هلکه مونږ به څه پوهیږو چې انی دلته کې په معنی د کیف سره دي، قرینه به څه وي، نو شارح قرینه اشاره کوي وائي **و يجب ان يكون بعدها فعل** وائي بس دي چې د انی نه وروسته فعل راشي نو پوهه شه چې دلته کې انی په معنی د کیف سره دي **نحو فاتوا حرثكم انى شئتم** راځئ خپل فصل ته څنګه چې ستاسو خوښه شي، نو دلته کې په معنی د کیف سره دي **اي على اي حال شئتم و من اي شق اردتم** د هر طرف نه چې تاسو اراده وکړئ، د وروسته طرف نه، مخکې طرف نه، هر څنګه چې وي، خو شرط دا دي چې حرث ته به راځي، او د محل د فرث نه به ځان ساتئ **بعد ان يكون الاتي** پس د دینه چې وي هغه ځای د راتلو **موضع الحرث** به وي.

حضرت شیخ محمد طاهر رحمه الله قصه کوله چې یو ځل ما درس کولو، نو غیر مقلد زما په درس کې ناست وو، وي جي الله خو وائي **انى شئتم** چې څنګه چې تاسو خوښه شي، نو دا احادیثو کې هسې راځي چې د شا طرف نه راتلل ناروا دي حرام دي، چې ان الله لاينظر من اتى الخ، او قران کې خو راځي چې **انى شئتم** نو وې ما ورته وویله چې هلکه قران کې حرث راغلی دی، اوس دا حرث کومه لار ده؟ مخکنی ده

که ورر ستنی ده؟ او ما ورته وویله چې ته د وروسته طرف نه پیدا یې که د مخکې نه د خپلې صورت ک
ته وروسته طرف نه پیدا یې نو حرث وروسته طرف شو ټیک ده، او که نه مخکې نه پیدا یې نو حرث دا
مخکښې دي، هغه چې وي غلی شو، بیا زما درس ته د راتلو نه یې هم بس کړل، بیا درس ته نه راتلو و
لم یجئ انی زید بمعنی کیف هو خکه وروسته فعل نشته دی

و اخری **بمعنی من این** او دویم انی په معنی د من اینۍ سره راځي **نحو انی لك هذا** ای **من این لك هذا** الرزق الاتی فی **کل یوم** بې موسمه هر وقت کې، مریم وویله چې دا زما څه کمال ندي یا زما څه اختیار ندي، معجزه د ولې په اختیار کې نه وي [کرامت] **قالت هو من عند الله** مریمي دا ونه ویله چې دا زما کمال دي او زه ولیه یم، واني زما هیڅ کمال نشته زه مظهر د صرف معجزې یم، او ښکاره کوونکی زما په لاس باندې الله دي **قالت هو من عند الله** د دینه صاف معلومه شوه چې کرامت د ولې په اختیار کې نه وي

دا دوه خبرې زده کړئ ۱ کرامت د ولې لپاره کمال هم ندي، چې ولایت موقوف شي کرامت پورې، خکه مظهر د کرامت ولې دي، محل ولې دي، مظهر او مصدر الله دي، نو چې مصدر الله شو نو د ولې په کې څه کمال راغي؟ که الله ثابتوي خانله یې ثابتوي ګڼي نه یې ثابتوي، ۲ دویم دا چې کرامت د ولې په اختیار کې نه وي حضرت زکریا علیه السلام ترې عبرت واخسته چې یره الله حضرت مریمي ته بې موسمه میوي ورکولي شي نو ماته بې موسمه اولاد نشي راکولې؟ یره پکار ده چې زه هم چغه وکړم الله ته **هنالك دعا زکریا ربه، قال رب هب لي من لدنك ذریة طیبة انك سمیع الدعاء.**

اوس معترض راغي شبهه یې وکړه چې دې ماتن په دې انی کې تستعمل وویله او دا ئې ونه ویله چې و **اني وضعت تارة بمعنی کیف و تارة بمعنی من این** دا ولې؟ نو وائي **و قوله** ای الماتن چې **یستعمل** ویلي دي اشارة **الی انه** ای لفظ انی **یحتمل ان یکون مشترکا** بین المعنیین، نو چې مشترک شو چې مشترک لفظي شو، او دا هم احتمال شته **و ان یکون في احدهما حقیقة و في الاخری مجازا** په اخر بله معنی کې مجاز شي، اوس که **وضعت** یې ویلي وي نو بیا اشتراك متعین کیدو، نو د دې وجې نه یې تُستعمل وویله، نو استعمال شامل اشتراك ته هم دي او حقیقت او مجاز ته هم دي، اوس دي دویم احتمال کې دویم احتمال بیانوي، و في الاخری کې دویم احتمال ذکر کوي او دا دوه احتماله ذکر کوي **اخری** کې خو دا راغله چې دا انی په **من این** سره دي، یو احتمال دا دي چې انی مجموعه د من اینۍ سره به وي، او دویم احتمال دا دي چې دا انی این سره کرتي دي؟ من به ورسره ته د بهر نه د ځان نه ورسره ټل کوي، نو دا په دویم احتمال کې دویم احتمال بیانوي، وائي **و یحتمل ان یکون في الاستعمال یکون مع من ظاهرة کما في قوله** لکه په دې قول د قائل سره **من انی عشرون لنا** ای **من این عشرون لنا او مقدرة کقوله تعالی انی لك هذا** ای **من این علی ما ذکره بعض النحاة** دا یحتمل سره لګوئ چې لکه ذکر کړي دي دا احتمال بعض نحاتو، نو احتمال ثاني محتمل شو د دوو احتمالینو

ثم ان هذه الكلمات الاستفهامية كثيرا ما تستعمل في غير الاستفهام کې هم یا هلکه غیر استفهام کې کیف ما اتفق به مستعملیږي؟ وائي نه نه **مما يناسب المقام** چې دا غیر استفهامي معنی مناسب به وي د مقام سره یعني حال د مخاطب سره استفهام به مناسب نه وي بلکه غیر استفهام به مناسب وي، یا هلکه مونږه به څنګه معلوموو؟ چې دلته کې دا کلمه د استفهام لپاره ده او دلته کې د غیر استفهام لپاره ده؟ وائي **بحسب معونة القرائن** په اعتبار د امداد د قرائنو سره به مونږ معلوموو چې دلته کې استفهام نه صحیح کیږي، نو مونږ مناسب د مقام سره بله معنی به اراده کوو، لکن بله معنی داسې چې هغه مقابله وي د مقام او د حال د مخاطب سره، هر څنګه نه، لکه غیر د استفهام داسې شو **كالاستبطاء** کله تاخیر کول شو په جواب کې، یو څل ما تا پسې سړي ولیږلو چې هلکه دلته کې راشه، ته رانغلي، بیا ما ولیږلو درپسې چې هلکه راشه، ته رانغلي، دریمه پیره ما بیا طالب درپسې درولیږلو نو چې هلکه ایسته راشه ته رانغلي، څلورمه پیره ما درولیږلو نو ته رانغلي، نو ما تاته وویله چې هلکه **كم دعوتك** څومره ما راوبللي، نو دلته کې استفهام نه صحیح کیږي، ځکه چې هغه مرات د بللو خو ماته معلوم دي چې ماته څلور ځله بللی یې، نو استفهام څه معنی لري، بلکه دلته مراد استبطاء ده چې یا هلکه ما څلور ځله تا پسې طالب درولیږلو نو تا ولې تاخیر وکړو **والتعجب** او استفهام کله کله راځي لپاره د تعجب **نحو مالي لا ارى الهدهد**:

حضرت سلیمان علیه السلام چې هر کله چې وخت په وخت به لښکر یې چیرته دیره شو نو حاضري به یې اخسته د مارغانو **وتفقد الطير** نو د مارغانو حاضري یې واخسته نو چې وئي کتل نو ملا چرګك پکې نه وو، او ملا چرګك په ذمه باندې داسې ډیوټي حواله وه، چې د ټول لشکر نشو و نما په هغې باندې موقوف وه، ځکه چې په یو خای کې به لښکر دیره شو او اوبه به نه وي، نو د دې هدهد په دې منښوکه کې داسې مقناطسي طاقت وو چې اوبه به یې معلومولي چې دلته کې کوهي کنستل صحیح دي اوبه نږدې دي، نو بیا به یې پیریانو ته پهلوانانو ته حکم وکړو هغوی به یو ساعت کې کوهي و کنستلو او پریمانه اوبه به کویه کې راووتې، نو یو څل حضرت سلیمان علیه السلام حاضري واخسته نو چې وئي کتل نو هدهد نشته دی، نو ویل **مالي لا ارى الهدهد** نو اوس دا مثال مطابق د ممثل سره دي، دلته کې استفهام مراد ندي، ځکه مطابق دي ځکه **لانه** اي الهدهد کان لا يغيب بلا اذنه، ځکه بې اجازته نه غائب کیدو چې ده ته داسې ډیوټي حواله وه چې د ټول لښکر ژوند هغې پورې موقوف وو، فلما لم يبصره اي سليمان الهدهد **في مكانه** نو **تعجب عن حال نفسه** چې هلکه تعجب دی ما لره چې هدهد غیر حاضر دی او چیرته هغه غیر حاضر کیدو نه، وائي دا عجیبه او نا اشنا خبره پیښه شوه **في عدم ابصاره** ای سلیمان **اياه** اي الهدهد، نو استفهانم لپاره د تعجب شو.

ولا يخفى کې دا واو په معنی د اذ سره کوئ دا علت دي او د دې معلول محذوف دي، چې **لا يصح الاستفهام** معنی حقیقي د استفهام دلته کې صحیح نده ځکه **اذ لا يخفى انه لا معنى لاستفهام العاقل عن حال**

نفسه خکه سړي د خپل ځان د حال نه تپوس نه کوي، لکه زه ووایم چې هلکه زه وړي یم که نه یم؟ نو پرتې به خلق ورکړي چې وړي یې که نه یې تاته به پته وي کنه، مانه څه تپوس کوي زه تړي یم که نه یم؟ زه خفه یم که نه یم، داسې تپوس څوک نه کوي، د ځان نه، نو دلته کې که د استفهام معنی شي نو معنی به دا شي چې زه هدهد وینم که نه وینم، نو مونږ ته څه پته ده حضرت چې وینې یې که نه یې وینئ، تپوس داسې څوک نه کوي، نو استفهام صحیح نشو نو استفهام په معنی د تعجب سره شو

وقول صاحب الکشاف دا مبتداء ده او دا وروسته **لا یدل علی** یې خبر دي، اوس صاحب د کشاف زور لګولي دي چې دلته کې استفهام پخپله هغې حقیقي معنی باندې صحیح دي، تعجب ته حاجت نشته دي، هغه استفهام ځاسې صحیح کړي دي چې ګوره سلیمان علیه السلام اول ځای د هدهد ته وکتله، نو هغه په خپل ځای باندې نه وو، د هغه به د ودریدو یو خاص ځای وو د حاضرئ په وخت کې، نو سلیمان علیه السلام وویله چې هلکه زه هدهد نه وینم د نه لیدو دا معنی چې هدهد نشي لیدي **مالي لا اری الهدهد** یعنې **لا یراه** دائي بهر نه وویله نو بیا سلیمان علیه السلام متردد شو چې یا هلکه دا نه چې لیدلي کیږي څه د پردي شاته طرفته ولاړ دي کنه د سره غائب دي؟ نو استفهام صحیح شو، نو معنی دا چې زه یې اوس وینم نه نو اوس زما شک راغلي دي، استفهام په دي کې کوم چې دي د پردي نه شاته دي او که د سره غائب دي، واني که د پردي نه شاته یې اي هلکه هدهد نو ښکاره شه او که غائب وي نو **لاعذبنه عذابا شدیدا**.

نو **فقال مالي لا اراه** علی معنی انه لا یراه اي الهدهد، او حال دا دي و هو حاضر **لساتر ستره** د وجې د یوې پردي نه [ماته نه ښکاري] او پټ کړي یې دي ده لره **او غیر ذلك** یا ځمانه شا طرف ته دي **ثم لاح له** اي لسلیمان علیه السلام، چې **انه غائب. فاضرب عن ذلك** نو د دې تردد نه یې اضراب وکړو **واخذ یقول اهو غائب** ماته خو غائب ښکاري ایا دي رشتیا غائب دي، نو دا استفهام خپل نفس نه ونشو **کانه یسال عن صحة ما لاح له** یا هلکه ماته خو دا ښکاري چې هدهد غائب دي، ایا واقعي دي غائب دي، دا خبره صحیح ده؟ نو خلکو ویل او، نو شارح وائي، دا قول د صاحب د کشاف **لا یدل علی ان الاستفهام** دلته کې د مختصر دوه نسخي دي، یوې نسخه کې دا **لا په لا یدل** کې نشته دي بس خیرو خلاص څه شبهه نه واردیږي، نو معنی دا شوه، چې قول د صاحب الکشاف دلالت کوي چې **ان الاستفهام علی حقیقته** دي، او دویمه نسخه دا ده چې زمونږ او ستاسو مخي ته پرته ده چې لاپکې شته دي، نو بیا عبارت کې لږ غوندې حذف کوئ، معنی دا **لا یدل علی ان الاستفهام علی حقیقته قطعا و یقینا** چې دا استفهام قطعًا او یقینًا دلالت په استفهام باندې نه کوي احتمال د تعجب پکې شته دي، دواړه صحیح کیږي تعجب هم او استفهام هم

د ایت کریمه نه یو څو مسائل معلوم شو: یوه مسئله دا معلومه شوه چې حاضري اخستل د طالبانو نه دا د شریعت سره منافي ندي، چې هلکه ته ولې غیر حاضر وي؟ دویمه مسئله ترې ثابته شوه چې یو

طالب بلا عذر شرعي غير حاضري شو نو استاد هغه ته مناسب تعزير ورکولي شي، چې څه صوابديد د استاد وي مناسب هغه به ورته ورکولي شي، ځکه سليمان عليه السلام وويله **لاعذبنه عذابا شديدا او لاذبحنه، او ليأتيني بسلطان مبين** چې دا پرې به ترې نه پرې کړم او بره په هوا باندې به الوتي نشي يا به يې ذبحه کړم يا به ماته پوره د غير حاضرۍ عذر پيش کوي

دويمه مسئله دا معلومه شوه د سبق په دوران کې د حق په وينا کې شاګرد به د استاد خيال او لحاظ به نه ساتي، د حق د اظهار په دوران کې، هدهد، ملا چرګک راورسيدو **فمكث غير بعيد** دومره خس غوندې ملا چرګک دي، او سليمان دومره د تمامي دنيا بادشاه وو د الله پيغمبر هم وو، د هغه ادب يې ونه کړو، بلکه هدهد وويله **احطت بما لم تحط به** وائي ما هغه خبره معلومه کړې ده چې ستا علم ورته نه دی رسيدلی سليمانه، ته عالم الغيب نه يې، دا بې ادبي نه شوه، ادب شو، دا لوی ادب دي، د پيغمبر نه نفي د علم غيب کول دا د پيغمبر ادب دي، بې ادبه هغه دی چې پيغمبر ته د الله صفت ثابتوي، وائي ما معلوم کړي هغه چې ستا علم ورته ندی رسيدلی، زه هسې نه يم غائب شوي، ما لپاره عذر شته دی، هلکه څه چل دی؟ وائي **وجئتك من سبإ بنبإ يقين** وائي ما د ملك سبا نه تاته يقيني خبر راوړي دي، ستا په تمامي دنيا بادشاهي کې يوه حرامنه ښځه ده بادشاهي کوي، د سبا په مملکت باندې د هغې بادشاهي ده، او ته وائې د تمامي دنيا بادشاه زه يم، نو ته د تمامي دنيا څنګه بادشاه يې، هلته خو بلقيس هغه ښځه بادشاهنه ده، او تاته تراوسه پورې پته نشته دی

او دا وائي زما پير د غره نه هيله شي معلوموي، ستا پير په دي خپله ګيډه کې خپل غول نشي معلومولی، چې څه چيتاك دي، کلو دي، او که کم يا زيات به وي، ته اول ماته د خپلې خيټې حالت بيان کړه د غره نه اخوا شي لالړي خبره ده، مشرك بې وقوفه وي، الله ترې نه عقل سلب کړی وي، **ساصرف عن اياتي الذين يتكبرون في الارض** الله د خپل اياتونو فهم د مشرك نه سلب کوي هغه ته د خپلو ايتونو فهم نه ورکوي

والتنبيه على الضلال يا تنبيه شوه په ضلال خطا شي باندې، متكلم خبرداري ورکوي چې اي مخاطبه ته په خطا باندې يې **نحو فاين تذهبون** چيرته لاړئ، غلط لاړئ، دلته کې مراد استفهام ندي، ځکه الله چانه استفهام نه کوي **و الوعيد كقولك لمن يسئ الادب** لکه مثلًا يو چې دي هغه په تا باندې توکاني وغورځوي، تا باندې خاوري وغورځوي، ته ورته وائي **الم ءادب فلانا** ما فلانکي چې ضربولي نه وو؟ مراد دلته کې سوال ندي، مراد دا چې تا به هم دغسې وضربوم، قلار شه **اذا علم المخاطب ذلك و هو انك ادبت فلانا** هغه چې ته هم پته وي چې دۀ هغه بل چې سم غربولي دي، نو **فيفهم منه معنى الوعيد و التخويف، و لا يحمله على السؤال** او دا په سوال باندې نشي حملولي، ځکه سوال خو جهل غواړي، او دلته کې خو دي د فلانکي د وهلو نه جاهل ندي **و الامر** او يا استفهام د امر لپاره راځي لکه **نحو فهل انتم مسلمون** اي اسلموا، ځکه الله

پاك د چانه تپوس نه كوي چې تاسو ايمان راوړئ؟ معنى دا اسلام راوړئ **والتقرير** د تقرير دوه ترجمي دي، يو باعث كول د مخاطب په اقرار باندې، او دويم تقرير په معنى د تحقيق او تثبيت سره، نو شارح دلته ترجيح معنى اول ته وركوي، او وروسته دويمه معنى په قيل سره ذكر كوي **وقد يقال** سره، نو اشاره يې وكړه چې د تقرير دا معنى اول چې **حمل المخاطب على الاقرار** دي، دا شائع او كثير دي، او تقرير په معنى د تحقيق او تثبيت سره قليل دي اي **حمل المخاطب على الاقرار** خو اقرار **بما يعرفه** اقرار په هغه حكم چې مخاطب پيژني هغې لره، چې اي مخاطبه په دي باندې اقرار وكړه **والجانه** او مجبوره كول د دې مخاطب **اليه** دي اقرار ته، خو **بايلاء المقرر به الهمزة** هغه مقرر به همزې ته به نژدې وي اي **بشرط** كې اشاره كوي چې دا باء شرطيه ده اي **بشرط ان يذكر بعد الهمزة ما** هغه حكم يا هغه لفظ چې **حمل المخاطب على الاقرار به** په دي لفظ باندې **كما مر في حقيقة الاستفهام** من ايلاء المسؤول عنه الهمزة، څكه استفهام كې هغه مسؤول عنه همزې ته به نژدې وي **تقول اضربت زيدا** تا زيد وهلي دي؟ نو مطلب دا دي چې اقرار وكړه چې او ما وهلي دي **في تقريره بالفعل** تپوس نه كوي بلكه اقرار وكړه، څكه متكلم ته معلومه ده چې مخاطب ضرب د زيد كړي دي خو مطلب دا چې اقرار ترينه اخلي **وانت ضربت** دا **في تقريره الفاعل** اي تا ضرب كړي دي چې انا ضارب **وا زيدا ضربت في تقريره بالمفعول** چې ته اقرار وكړه چې زما مضروب زيد دى، **على هذا القياس** په دې باندې نور قياس كړه متعلقات او معمولات د فعل **ا في الدار زيد** اقرار وكړه چې په كور كې زيد شته دى **اراكبا جنت** اقرار وكړه چې سور راغلي يم

وقد يقال د تقرير دويمه معنى كوي چې **التقرير بمعنى التحقيق والتثبيت فيقال اضربت زيدا بمعنى انك ضربته البتة** خو مطلب يو دي څكه چې اقرار يې وكړو نو هم د هغه په نژد يې ثابتوي كنه **والانكار كذلك** وائي انكار هم پشان د دې اقرار دي **نحوا غير الله تدعون** نو دلته كې منكر اصل دعوت ندي، دعاء منكر ندي، بلكه دعاء د غير الله منكر دي، اصل دعاء منكر ندي، اوس ذلك كې اشاره وشوه اقرار ته نو انكار مشبه شو او اقرار مشبه به شو اله د تشبيه كاف شو وجه د شبهې ماتن نه وه ذكر كړي شارح يې ذكر كوي چې **اي بايلاء المنكر الهمزة كالفعل** لكه هلته كې مقرر به همزې ته نژدې وي نو دلته هغه منكر به نژدې وي همزې ته، هغه منكر به وي **كالفعل** لكه فعل شو په دي قول د امرؤ القيس كې:

اتقتلني و المشرفي مضاجعي ومسنونة ذرق كانياب اغوال

وائي ته وژنې ما په خب د سلمى كې حال دا دى هغه توره چې منسوب ده مشارف اليمن ته، مشارف اليمن د يو ځاى نوم وو هلته توري ښې جوړيدي، د تورو اهينګران د تورو ښه وو، وائي هغه زما په ډډه كې پرته ده، او هغه نيزه صافه او تيره، صافه خليدونكي پشان د بوا او بلا هم ماسره شته دي، نو ته ما وژلي شي، نشي وژلي نو آ تقتلني كې دلته دا معنى چې ايا ته وژنې ما، نه نشي وژلي، انكار كوي استفهام انكاري شو **والفاعل في قوله تعالى اهم يقسمون رحمت ربك** نو دلته كې منكر نفس قسمت نه دي،

قاسم خو الله دي، خو دلته کې منکر دا دي چې دا خلق قاسمين د الله د نبوت او رحمت ندي، الله د خپل نبوت او رحمت پخپله تقسيم کوي **والمفعول** في قوله تعالى **اغير الله اتخذ وليا** منکر دلته کې نفي د اتخاذ د ولايت ندي، د غير الله ولايت نفي منکر دي، معترض راغي شبهه يې وکړه چې تا جوړ همزه نيولي ده، چې همزه انکار لپاره او فلانکي لپاره او د دې لپاره، هغه نور ادات د استفهام خو تا هير کړل، ماتن باندې شبهه ويزيده، ستا د همزې سره څه اشنائيت؟ چې همزې د دې لپاره راځي او د دې لپاره راځي، او نور کلمات د استفهام تا بس هير کړل جوړي، نو شارح وائي **واما غير الهمزة فيجئ للتقرير والانكار لكن لا يجري فيه هذه التفاصيل** هغې کې دومره تفصيل نشته دي **ولا يكثر كثرة الهمزة** و لهذا لم يبحث [اي الماتن] **عنه** د دې غير نه، او همزه کثير الاستعمال ده.

ومنه اى من مجئ الهمزة للانكار [او بعضې د دې الخ] نه دا قول د الله دي **اليس الله بكاف عبده** دلته هم همزه لپاره د انکار ده، ځکه همزه انکاري شوه **اوليس** نفي شوه او نفي هم انکار وي، نو نفي نفي اثبات فائده کوي، نو معنى دا شوه چې **اي الله كاف** ځکه **لان انكار النفي نفي له و نفي النفي اثبات** دي، اوس ماتن وائي چې څوک چې وائي چې همزه په دې قول د الله تعالى کې د تقرير لپاره ده نو دا خبره صحيح شوه، وائي **وهذا المعني مراد من قال ان الهمزة فيه للتقرير** اي لحمل المخاطب على الاقرار، لكن اقرار **بما دخله النفي** و هو الله كاف لا بالنفي و هو ليس الله بكاف.

فالتكرير لا يجب سره دفع د اعتراض کوي شارح چې يا هلکه د ماتن په کلام کې تدافع راغله، ځکه چې ماتن مخکې وويله چې **بايلاء المنكر الهمزة** او دلته کې اليس الله کې ايلاء همزې ته نفي ده، او اقرار د نفي خو ندي شوى د منفي شوى دى، نو مخکې کلام اووي کلام د ماتن کې تدافع راغله، ځکه هلته کې وائي ايلاء د منکر همزې ته به وي او دلته کې ديلاء همزې ته نفي ده، او اقرار خو په منفي باندې شوي؟ نفي باندې ندي شوي؟ نو شارح جواب کوي چې **والتقرير** حاصل د جواب دا چې د ماتن دا مخکنئ خبره کليه نده اکثريه ده، اکثر دا ده چې منکر به نژدې همزې ته وي، کله کله به نژدې نه وي، اوس قاعده کليه دا ده چې مخاطب به اقرار کوي **بما يعرفه** باندې، نو اوس مونږ ته معلوم الله کاف دي نه ليس الله بكاف، نو د الله کاف اقرار مونږ نه الله اخلي، نو وائي **فالتقرير لا يجب ان يكون بالحكم** الذي دخلت عليه الهمزة **بل بما** بلكه تقرير واجب دي په هغه حکم باندې **يعرف المخاطب** من ذلك الحكم اثباتًا او نفيًا، چې مخاطب کوم حکم پيژني يا په طريقي د ثبوت سره يا په طريقي د نفي سره هغې باندې به اقرار کوي، اوس هغه همزې ته نژدې وي او که نژدې نه وي **و عليه قوله تعالى**: **ءانت قلت للناس اتخذوني و امي الهين من دون الله** نو اوس ګوره دلته کې هم همزه لپاره د تقرير ده، لکن تقرير د هغې خبرې لپاره چې کومه خبره عيسى عليه السلام ته معلومه ده چې د هغې اقرار وکړه، او معلوم حضرت عيسى عليه السلام ته عدم فعل دي نه قول، چې ما دا ندي ويلي، نو اقرار د دې خبرې شو **اي بما يعرفه عيسى**

عليه صلوات الله من هذا الحكم لا بانه قد قال ذلك چې حضرت عيسى عليه السلام دا خبره کړې ده

وقوله: والانكار كذلك د دينه دفع د اعتراض کوي شارح چې اي هلکه مخکې تا وويله چې تشبيه ستا مقصور وه د انکار د اقرار سره چې انکار **كذلك** پشان د اقرار دي په ايلاء د منکر سره همزي ته، وجه د شبه دا شوه، نو هغه خو تام شو نو وروسته په دي عبارت کې اشتغال چې **و لانكار الفعل صورة اخرى** دا اشتغال بما لايعني شو، نو شارح جواب کوي چې **والانكار كذلك دل على ان صورة انكار الفعل** ان يلي الفعل الهمزة، هغه تشبيه خو په دي کې شوه چې څنګه چې هغه مقرر به په اقرار کې همزي ته يلي وي نو انکار کې هغه فعل هم ټړدي به وي همزي ته، اوس ته وائي چې د اروستو اشتغال بما لايعني شو وايه دا اشتغال بما لايعني ندي **ولما كان له** اي لانكار الفعل **صورة اخرى** چې لايلي فيها الفعل الهمزة نو **اشار اليه بقوله** چې لانكار الفعل صورة أخرى

ماتن وويله **و لانكار الفعل صورة اخرى** يو صورت خو مخکې تير شو، هغه دا دي چې انکار د نفس فعل نه نه وي، بلکه انکار د وقوع د فعل نه يا د صدور د فعل نه وي، نو دا طريقه خو مخکې لاړه، نفس فعل خو شته دي لکن صادر د ده نه نه دي، نفس فعل شته دي خو واقع په دي مفعول باندې ندي، صورة اخرى نه مراد انکار د نفس فعل نه چې دا مستفهم متعلم انکار کوي د نفس فعل نه، د وقوع او صدور نه انکار نه کوي، خو وائي چې نفس فعل ندي شوي، متکلم وائي، لکه د هغې مثال داسې شو **نحوا زيدا ضربت ام عمرا** اوس اختر منير وائي چې زما مضروب خو زيد دي يا عمرو دي خو دي کې زه شکي يم پته ماته نشته دی، مضروب خو زما شته دی خو يا زيد دي يا عمرو دي، ستا دغه شک وو، ما تاته وويله هلکه **ازيدا ضربت ام عمرا** استفهام انکاري شو. نه ستا مضروب زيد دي او نه عمرودي، د سره تا ضرب کړي ندي، نو دلته مستفهم زه شوم ما انکار د اصل فعل نه وکړو، **ممن د هغه مخاطب لپاره يردد الضرب** اړوي را اړوي ضرب لره **بينهما** چې مضروب خو زما شته دي خو شک په دي کې دي چې اوس مضروب زما زيد دي که عمرو دي، زه ورته وايم چې ستا يو هم ندي

معترض راغي شبهه يې وکړوله چې اي هلکه دا مثال خو مطابق د ممثل سره نشو، ځکه ممثل انکار دي د فعل نه او دي مثال سره خو انکار د فعل نه نه راځي، ځکه ستا مضروب بکر دي وي کنه، نو مثال دلته مطابق د ممثل سره نشو، ځکه ممثل انکار دي د فعل نه او مثال کې انکار د فعل نه خو رانغي، خو دا راغي چې ستا محل د ضرب زيد او عمرو ندي، چې ندي نو بکر دي شي، نو انکار خو ما د دينه وکړو نو شارح جواب کوي، ښکته ګوري **من غير ان يعتقد تعلقه بغيرهما** يعني اختر منير دا عقيده ساتي چې زما دا ضرب منحصر دي په زيد او عمرو پورې، بل څوک زما مضروب نشته دي، خو اوس په دي کې شک دي چې په دي دواړو کې زما مضروب زيد دي که عمرو دي، ما ورته ووېلي **ازيدا ضربت ام عمرا** دواړه ندي، نو دا انکار د ضرب نه شو، ځکه د بل خو دي پخپله انکار کوي چې بل

مضروب خو زما شته دي نه، نو زما انکار ته څه حاجت رانغي، نو **فاذا انكرت تعلقه بهما** فقد نفيته **عن اصله** خکه بل محل خو شته دي نه بل محل خو نه مني **لانه لا بد له** اي للضرب **من محل يتعلق به** کنه، چې دا ضرب ورپورې متعلق شي

و الانكار اما للتوبيخ انکار لپاره د زورنې راځي، خو زورنه دوه قسمه ده، يا د ماضي په فعل باندې زورنه ورکول يا په راتلونکي فعل باندې زورنه ورکول، نو هغې ته اشاره کوي **اي ما كان ينبغي** نه وو پکار دا کار چې زمانه ماضي کې تا دا کړي دي، ان يكون ذلك الامر الذي **كان** چې موجود شويدي **نحوا فعصيت ربك** نو عصيان خو واقع دي لکن دلته کې زورنه مقصد دي، اي هلکه د الله نافرماني کول نه وو پکار، خکه ته به د الله د عذاب مستحق شي، نو **فان العصيان واقع** د هغې نه خو انکار نشي کيدي **لكنه منكر به** لکن تا دا منکر او ناروا کار وکړو

و ما يقال سره دا دفع د اعتراض کوي چې بعضې خلکو خو دلته په **فعصيت ربك** کې ويلي دي چې استفهام لپاره د تقرير دي، نو تقرير خو دا معنى چې حمل د مخاطب په اقرار باندې، نو بيا خو دا معنى شوه چې اقرار وکړه په عصيان باندې چې ما عصيان کړي دي، نو دا صحيح کيږي؟ نو دا جواب کوي چې **و ما يقال انه للتقرير** نو **فمعناه التحقيق و التثبيت** وي چې تقرير په معنى ثاني سره دي، پرون تير شوي دي، معنى اولي سره ندي، نو معنى دا شوه چې **افعصيت ربك** تانه متحقق شويدي، ثابت شوي دي عصيان د رب، لکن تا دا خبره نده کړې، غلط کار دي کړي، دا مطلب ندي چې ته اقرار وکړه په عصيان د رب باندې

يا توبيخ په زمانه مستقبل کې وي په يو فعل باندې **او لا ينبغي ان يكون** ندي پکار چې دا کار موجود شي **نحوا تعصي ربك**، **او للتكذيب** يا دا انکار راځي لپاره د تکذيب **في الماضي** متکلم مخاطب ته وائي چې په ماضي کې چې ته کومه خبره کړې ده، تا دا دروغ ويلي دي **اي لم يكن** په زمانه ماضي کې دا کار نه وو شوي **نحوا فاصفاكم ربكم بالبنين** نو دلته کې ګوره مشرکانو خبره تاسو دروغ وائي **اي لم يفعل ذلك**، **او في المستقبل** يا تکذيب په مستقبل کې کوي، چې اي مخاطبه ته چې په راتلونکي زمانه باندې کوم ګمان کوي، دي ګمان کې ته دروغژن يې ګوري دا نشته دي، اي لايكون **نحوا نلزمكموها** تعين د مرجع کوي **اي انلزمكم تلك الهداية** حضرت نوح عليه السلام وائي ايا زه دا هدايت تاسو پورې لازموم **او المحجة** يا حجت ته ضمير راجع کوي، د **نلزم** دا معنى ده **بمعنى انكرهكم على قبولها** ايا زه مجبوره کوم تاسو په قبول د دې هدايت او حجت باندې **و نقركم** نقر او نکره يو شي دي **و الحال انكم لها كارهون** يعني **لا يكون هذا الالزام** که تاسو وائي چې دا نوح په مونږ باندې زور کوي او الزام کوي، دا ګمان ستاسو دروغ دي، زه تاسو باندې الزام نه کوم، زه تاسو ته د الله خبره کرتي رسوم، او زور او الزام زما کار ندى، هغه د رب العالمين کار دى.

والتهكم وائي دا په چا عطف دي، وائي **عطف على الاستبطاء** ښکته سر باندې، او يا دلته کې نژدې باندې **على الانكار** باندې، اوس په عطف کې دا دوه احتمالونه شو ځکه وائي **وذلك** دا خبره ثابته ده. دا خبره چې احتمالين په عطف او تهکم کې، دا دوه احتمالين د عطف ثابت دي، ځکه شرح مائة عامل کې مونږ او تاسو ويلي دي چې ډير معطوفات راشي نو معطوف اخير د عطف په معطوف عليه اول باندې هم صحيح کيږي د اصالت د وجې نه او عطف د معطوف اخير په هغه اخيري اچې د ده نه مخکې وي! هغه باندې هم صحيح دي د قرب د وجې نه، نو **وذلك انهم اختلفوا** اي العلماء في انه اذا ذكر **معطوفات كثيرة ان الجميع معطوف على الاول** اصالت د وجې نه او **كل واحد على ما قبله** يليه باندې قوله تعالى **نحو**: اصلاتك تامرك ان نترك ما يعبد اباءنا ای شعيبه ستا دا مونځ تا ته دا حکم کوي چې پريږدو مونږ هغه طريقه چې عبادت کولو زمونږ مشرانو په هغې باندې، اوس دې ايت کې تهکم شته، د تطبيق د دې مثال د ممثل سره ثابت دي **وذلك** چې **ان شعيبا على نبينا و عليه السلام كان كثير الصلوات** په دي مونځ کې يو مقناطيسي طاقت دی نبه، څومره چې مونځ ډير وي نو ټوی پکې ډيره پيدا کيږي، د دې وجې نه حديث کې راځي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم دومره مونځونه وکړل چې خپلې خپې مبارکې به يې وپرسيدې، صحابه ؤ وفرمايل چې حضرت ته دومره ولې خان کړوي؟ ته خو مغفور مرحوم ئې؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم و فرمايل **افلا اكون عبدا شكورا**؟.

نو **وكان قومه اذا راوه يصلي تضاحكوا** فقصدوا بقولهم أصلاتك تامرك، ستا دا مونځ ستا دا شيخي تاته حکم کوي چې د خپلو مشرانو طريقه پريده اې شعيبه، وائي زمونږ خو په تا باندې حسن ظن وو چې ته به چيرته بنه سړي يې، نو تا د مشرانو طريقي ته لاس واچولو. د مشرانو بې ادبي دي شروع کړه **اصلاتك تامرك الهزء والسخرية** هزء او سخريه کې دا فرق دي چې هزء دا د منافقينو صفت دي **انما نحن مستهزءون** او سخريه مؤمنان هم کوي اګر که ګناه ده، خو داسې سخريه چې هلته کې اهانت د چا وي، يو سخريه هغه ده چې هلته کې مقصود اهانت نه وي خوش طبعي وي، خو کله کله، دا عادت به نه ګرځوي ګوري، نو بيا دا خوش طبعي جائز ده، لکه حديث کې راځي رسول الله صلى الله عليه و سلم يوي بوډۍ ته وويله چې بوډۍ ګانې به جنت ته نه ځي، هغه بوډۍ په ژړا باندې شروع وکړه، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وويله چې ته ولې ژاړې؟ ويل زه خو بوډۍ شوې يم، جنت ته به نه ځم، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وويله چې بوډۍ ګانې به جنت ته نه ځي، يعنې د بوډاتوب په حالت کې به نه ځي، وائي هلته کې به **عربا اترابا** ابکاراً به وي، وائي دا بوډاتوب مودا توب به ختم وي، هلته به تانه باکره جينۍ جوړه شي، بوډۍ وخاندل، خوشحاله شوه، دا به عادت نه ګرځوي، کله کله به رسول الله صلى الله عليه و سلم ګپ شپ ويشتو کله کله به يې صحابي ته ويله، يا ابا عمير ما فعل النُغير؟ اي ابو عمير تا هغه خپل مارغه څه کړو؟ عادت به نه ګرځوي، ځکه بل حديث کې راځي چې **ويل لمن يحدث**

فيضحك الناس ويل له ويل له ويل له دري خله نبي عليه السلام بد دعائي وکړه، مجلس کې ناست يې او سوکړي وهي او خلق خندوي، پيخي کوي او خاندي

لا حقيقة الاستفهام حقيقت د استفهام دلته کې ندي مقصود، ځکه چې د شعيب د مونځ نه خو دوی خبر وو کنه، نو د هغې تپوس نه کوي

والتحقير نحو من هذا وائي دا څوک دي؟ دا څه شي دي؟ **استحقارا بشانه** او دلته کې استفهام مقصد ندي **مع انك تعرفه** ځکه ته يې پيژني کنه چې دغه [مثلًا] ستا طالب دي نو ته وائي چې دا څوک دي؟

والتهويل او ويري لپاره کله کله استفهام راځي، کقراءة ابن عباس رضي الله عنه **ولقد نجينا بني اسرائيل من العذاب المهين من فروعن** په قراءة د مَن فرعون باندې، قراءة مشهوره **من فرعون** دي، بلفظ الاستفهام **اي من بفتح الميم و رفع فرعون** على انه مبتداء، دا فرعون **و من الاستفهامية خبره** لکه دا مذهب د اخفش صاحب دي **من ابوك** تاسو ته کافيه کې تير شوي دي، او تقديم د خبر شوي دي د صدارت لپاره، اوس دليل اخفش دا وائي چې که مَن مونږ مبتداء کړو او فرعون خبر جوړ کړو نو بيا به لازم شي نکارة د مبتداء او تعريف د خبر، او دا جائز نده، نو دي وجې نه مونږ وويله چې مَن خبر مقدم دي او فرعون مبتداء مؤخره ده، او تقديم د وجې د صدارت نه شو **واذا تضمن الخبر ما له صدر الكلام وجب تقديمه، كافيه** او سيبويه وائي چې نه دا مَن مبتداء ده او فرعون خبر دي، ځکه هغه وائي چې دا اګر که په لفظ کې نکره ده خو تاويلاً دا معرفه ده **اهذا فرعون ام ذاك ام ذاك** نو هغې کې طوالت وو، نو د هغې نه مونږ تعبير وکړو په مَن سره، نو معنًا دا معرفه شوه، او دويم دليل سيبويه دا وائي چې ته بيا مَن رجل کې څه وائي، هلته کې خو نه صحيح کيږي، من ابوك، او من فرعون کې خو وشوه خو مَن رجل کې ته څه وائي؟ نو دا مَن اګر که معرفه دي تاويلاً خو دائمًا دي او فرعون اګر که معرفه ده صراحةً خو احيانًا دي، او مبتداء معرفه دائمًا وي نه احيانًا، نو وائي **او بالعكس على اختلاف الرايين** فانه لا معنى لحقيقة الاستفهام ههنا و هو ظاهر، ځکه متکلم الله دي نو الله خو چانه تپوس نه کوي

بل المراد بلکه مراد دا دي چې بني اسرائيلو خو هسې هم غول کول د فرعون نه، نو الله ويرول نو ښه غول يې شروع کړه، نو بل المراد انه لمّا وُصف العذاب بالشدة، چې **من العذاب المهين و الفظاعة** او په ګبراهټ سره، نو بني اسرائيلو ته الله هغه ويره ښه زياته کړه چې **زادهم** وائي زاد الله بني اسرائيل **تهويلًا** ويره **بقوله من فرعون** نو چې من فرعون يې وويله نو بني اسرائيل رپيده بيا، چې د فرعون نوم يې واخسته نو هغوی به بيا رپيده، د من فرعون معنى دا چې **اي هل تعرفون من هو** في فرط عتوه و شدة الشكيمة، په زيادة سرکشئ خپله کې او په قوت د لښکر کې **فما ظنكم بعذاب يكون المعذب به مثله** اي مثل فرعون، د هغه نه ما تاسو خلاص کړي يې خو تاسو نمك حرامه يې، بيا وائي چې **اجعل لنا الها كما لهم الهة** خبيثانو ويل و **لهذا** او د دې تهويل د وجې نه **قال** الله وويله **انه كان عاليا من المسرفين** اي من المشركين، دا ځکه **زيادة**

لتعريف حاله اي حال فرعون **و تهويل عذابه.**

والاستبعاد او كله استفهام لپاره د استبعاد راځي **نحو انى لهم الذكرى** چيرته به وي دي مكي والو لپاره وعظ او نصيحت حاصلول **فانه** دا مثال مطابق د ممثل سره دي ځكه شان دا دي لايجوز حمله على حقيقة الاستفهام و هو ظاهر، ځكه الله د چانه استفهام نه كوي، بل المراد بقرينة قوله **و قد جاءهم رسول** شارح تفسير كوي اي كيف يذكرون، څنګه به دوی نصيحت حاصل كړي **و يتعظون** او وعظ حاصل كړي **و يوفون بما وعدوه** من الايمان **ربنا اكشف عنا العذاب انا مؤمنون** سورة الدخان كې راځي **عند كشف العذاب عنهم** و قد جاء هم ما هو اعظم و ادخل **في وجوب الاذكار** په وجوب د نصيحت حاصلولو كې **من كشف الدخان.**

كشف الدخان دا وو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم مشركينو د مكي ته دعوت وركړو چې توحيد قبول كړئ بلكه انكار باندې يې يواځې اكتفاء ونكړه بلكه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته يې ايذاء شروع كړه، نو نبي عليه السلام بد دعائي ورته وكړه **اللهم سنين كسني يوسف** الله دوی باندې قحط سالي راوله پشان د قحط سالئ د يوسف، نو قحط سالي راغله، دومره قحط سالي چې د مرداري هډوكي خوراك يې شروع كړه، د يو بل ګندګي ته يې انتظار كوه.

او قانون دا دی چې سړی ډير وږی شي كنه، نو دا فضاء سړي ته داسې لوږې ښكاره كيږي، نو دلته كې مراد د كشف الدخان نه دا ده چې دا فضاء ورته لوږې ښكاره كيده لړه، دوند، نو كشف الدخان يې ځكه وويله، په يو توجيه باندې، يو توجيه بله هم پكې شته دي

يا هلكه هغه اعظم او ادخل كومه معجزه وه؟ و هو ما ظهر البينات الخ، قران پخپله معجز وو الخ

و منها اي من انواع الطلب **الامر** د امر تعريف ماتن نه وو كړي شارح يې كوي **و هو طلب فعل** شبهه: يا هلكه طلب د فعل خو نهي كې هم شته دي، نو فرق خو رانغي په ما بين د امر او نهي كې، وائي **غير كف** شبهه: يا هلكه بيا خو امر كې دعاء او التماس داخل شو، وائي **على جهة الاستعلاء** ويلو سره يې دعاء او التماس خارج كړو

و صيغته سره غرض د شارح دا دی چې توطيه او تهيد وكړي د دې وروسته متن لپاره، ځكه چې امر كې د خلكو خلاف عظيم دي، چا ويله امر لپاره د وجوب، چا ويله امر لپاره د ندب، چا ويل د دواړو لپاره، څوك وائي قدر مشترك دي په دواړو كې، څوك وائي توقف دي، څوك وائي د اباحت لپاره دي، څوك وائي حقيقة دي په وجوب كې او مجاز دي په غير كې، دا ډير اختلاف دي، نو شارح وائي چې ماتن ښه خبره كړي ده، چې هلكه مونږ ته يې د حقيقت او مجاز پته نشته دي، خو بس په دي سره طلب د فعل كوي، متكلم د مخاطب نه، باقي هر څه چې وي په قرائنو سره به ته معلوموي چې دلته كې په معنى د وجوب سره دي يا اباحت سره دي يا تهديد سره دي، نو وائي **و صيغته تستعمل في معان كثيرة** تقريباً شپاړس معاني مولوی والا ذكر كړي دي **فاختلفوا** اي العلماء **في ـــ لها اي للحقيقة** لم يكن الدلائل،

دلائل د يو فريقي. **من ذلك** د دې اقوالو مذكور نه. نو **قال المصنف** خبره يې لنډه كړه چې و الاظهر ان صيغته من المقترنة باللام، چې هغې ته امر با لام وائي **نحو ليحضر زيد و غيرها** اي غير المقترنة باللام **نحو** اكرم عمراً و رويدَ بكراً.

شبهه: يا هلكه **رويد بكرا** خو مثال د امر خو ندي، ځكه دا خو اسم فعل دي. نو مثال مطابق د ممثل سره نه شو. نو شارح جواب كوي په فالمراد بصيغته ما دل. سره. **اسما** وي لكه رويدَ شو **او فعلا** وي لكه اكرمَ بابا شو. موضوعة لطلب الفعل استعلاءً. يا هلكه استعلاءً منصوب دي نصب بنا بر څه؟ شارح جواب وكړو **على طريق** چې نصب په نزع د خافض سره دي. نصب بنزع الخافض ديته وائي، چې يو شي په واسطي د حرف جر سره مجرور وي بيا حرف جر ته حذف كړي او د جر نه نقل شي نصب ته تخفيفًا، تخفيف لپاره. ديته نصب بنزع الخافض وائي. نو **على طريق** شو **طلب العلو** دي كې يې اشاره وكړه چې دي استعلاء كې د سين او تاء لپاره د طلب دي. شبهه: يا هلكه علو خو صفت د اعلاء دي. عالي خو نوم د الله دي، نو د هغې طلب كوي، جواب يې وكړو چې **وعد الامر نفسه عاليا** ځپل د امر نفس خپل اوچت، **سواء كان عاليا في نفسه** دي سره دفع د اعتراض كوي، چې اي هلكه دينه خارج شو امر د الله، ځكه الله خپل نفس خو عالي نه ګڼي، هغه خو په نفس الامر كې عالي دي، نو دا وائي نه تعميم دي **سواء كان عاليا في نفسه ام لا** يا هلكه بيا امر منحصر شو په الله پورې، ځكه **عد الامر نفسه عاليا** خو الله دي كنه، نو ده جواب وكړو **سواء كان عاليا في نفسه** لكه امر د الله شو **ام لا** لكه عباد يو بل لپاره كوي.

اوس ماتن د دې خپلې دعوي لپاره دوه دليلين وائي چې بس امر نه مقصود طلب الفعل دي ځكه **لتبادر الفهم** د وجي د زر راتلو د فهم نه **عند سماعها** اي سماع الصيغة په وخت د سماع د دې صيغې كې **الى ذلك المعنى** كومه معنى؟ تعين د مشار اليه كوي، اعني طلب الفعل استعلاءً، او وجوب شو. تهديد شو اباحت شو، هغه به ته د قرائنو د وجي نه معلوموي، تتمه د دليل كوي **والتبادر** الى الفهم من اقوى الخ. نو معنى حقيقي د امر طلب الفعل استعلاءً شو، دا يو دليل شو.

وقد تستعمل صيغة الامر **لغيره** اي لغير طلب الفعل استعلاءً، استعلاء والې پكې نه وي، لكه هغه **كالاباحة** نو اباحت معنى مجازي شوه **نحو جالس الحسن او ابن سيرين** د اباحت دا معنى چې **فيجوز له** اي للمامور ان يجالس احدَهما **اصلا** اي في وقت من الاوقات.

والتهديد كله كله امر لپاره د تهديد راځي، شارح ورسره ولګولو چې **اي التخويف** دي كې شارح اشاره وكړه چې تهديد او تخويف دواړه مترادفين دي، دويم غرض دا چې دفع د اعتراض كوي چې تا **والتهديد** وويله نو و التخويف دي ولې نه ويله؟ نو شارح جواب وكړو چې اي التخويف، دواړه يو شي دي، مترادفين دي، بيا شبهه دا وډزيده، چې هلكه تا **والانذار** ولې نه ويله؟ نو دا جواب كوي چې **وهو** دغه تخويف **اعم من الانذار** او انذار خاص دي، نو عام مثال خاص لره هم وي نو تخويف شامل [تهديد] انذار ته هم دي، او

خاص شامل ټولو افرادو د عام لره نه وي نو که انذار ما ويلي وي نو هغه هغه ټولو افرادو ته نه شاملیدو، اوس دلیل وائي چې دغه تخویف عام د انذار نه څکه دي چې **لانه** دغه انذار **ابلاغ** رسول دي د يوي خبرې **مع التخويف** سره د ويرې ورکولو نه، ديته انذار وائي، او تخويف ويرولو ته وائي، خبره د چا رسوي که نه يې رسوي عام دي د دې وجې نه انذار صفت د انبياؤ دي، او تخويف صفت د انبياؤ هم دي او د عامو خلکو هم دي، څکه انبياء الله خبره مخلوق ته رسوي سره د تخويف نه، **وانذر عشيرتك الاقربين و في الصحاح** دا تائيد لپاره ذکر کوي صاحب الصحاح چې امام اللغة دي امام جوهري ويلي دي چې **الانذار تخويف مع دعوة الى الحق** دا کار د انبياؤ دي نه د بل چا، مثال داسې شو **نحو اعملوا ما شئتم** نو دلته کې معنی د امر طلب د فعل نشي کيدي، څکه الله تعالى خو خلکو ته حکم نه کوي، چې هر څه چې کوئ کوئ، زنا هم کوئ، سرقه هم کوئ، ظلم هم کوئ، غصب هم کوئ، هر څه کوئ ازادي ده، سوشيليزم دی، دا حکم خو الله نه کوي، دا خو کفري قانون دي، وائي **لظهور ان ليس المراد الامر بكل عمل شاءوا** څکه دا دنيا خو دار الامتحان دي، او دار الامتحان کې الله اختيار ته عبد پرېښودي دي، دا امر نه کوي چې کوي هر څه کوئ، خو تهديد شو، ويره شوه چې کوئ چې څه ستاسو خوښه شي، تاسو سره به پوهيږم، لکه يو مولى خپل مريي ته وائي چې کوه چې څه ستا خوښه وي زه به بيا درسره پوهيږم

والتعجيز او کله کله امر راځي لپاره د عاجز کولو د مخاطب، يعني غرض د متکلم په امر سره مکلف کول د مخاطب نه وي، بلکه متکلم خلکو ته ظاهروي چې دا مخاطب عاجز دي د اتيان د مامور به نه، کله چې امر تعجيز لپاره راشي نو طلب مقصود نه وي، طلب د فعل من غير كف مقصد نه وي، بلکه خلکو ته ظاهرول مقصد وي چې دغه مخاطب دي مامور به کولو نه عاجز دي، طلب ترينه نه کوي، مثال داسې شو **نحو قوله تعالى**: فاتوا بسورة من مثله وائي راوړئ يو سورت د مثل د ما انزلنا نه، خو مثال مطابق د ممثل سره دي **اذ ليس المراد** څکه ندي مراد د الله تعالى په فاتُوا سره **اتيانهم** راوړل د دې خلکو **بسورة** په يو سورة سره **من مثله** د مثل د **نزلنا** نه، دا طلب ترينه الله نه کوي، څکه **لكونه محالا** څکه مثل د **ما نزلنا** محال دی، او محال سره څوك مکلف شي نو هغې ته تکليف بالمحال وائي، او الله چاته تکليف بالمحال نه ورکوي، قوله تعالى **لا يكلف الله نفسا الا وسعها** نو مثال مطابق د ممثل سره شو، دليل يې ووايه.

والظرف سره غرض د شارح دا دی چې په دي ظرف کې دوه احتمالين ذکر کوي، د ظرف لغوه احتمال هم ذکر کوي، او د ظرف مستقر هم ذکر کوي، نو وائي **والظرف** شبهه: يا هلکه ظرفونه خو دوه دي ۱ بسورة هم ظرف دي، ۲ او من مثله هم ظرف دي، کوم ظرف؟ نو تعين يې وکړو **اعني قوله** چې **من مثله** دي **متعلق بفاتوا** نو بنا په دي باندې ظرف لغو شو **او صفة** يا دا صفت دي په اعتبار د متعلق سره د **بسورة** لپاره، نو بناء په دې باندې ظرف مستقر شو، معنی به دا شي هسې سورت **كائنة من مثله** دويم غرض د شارح دا دي چې بيان د احتمالينو کوي په **من مثله** ضمير کې، نو اول احتمال ته يې اشاره وکړه چې

که دا ظرف لغوه شي نو بيا **والضمير لعبدنا** ضمير عبدنا ته راجع دي، دا اتيان د مثل د داسې عبد نه چې اُمي وي، طالبګري يې نه وي کړي، استاد نه يې سبق نه وي ويلي، مثل د داسې عبد نه، او دويم احتمال دا دي چې دا ضمير راجع شي **ما انزلنا** او **لعبدنا** دواړو ته هغه په هغه صورت کې چې ظرف مستقر شي **والضمير لما انزلنا او لعبدنا** شو، وائي هسې سورت چې کائن وي د مثل د ما انزلنا نه په فصاحت او بلاغت کې، په عدم تعارض کې، يا هسې سورت چې کائن وي د مثل د داسې عبد نه چې اُمي غير قاري، غير طالب، غير متکلم وي چانه يې څه زده کړي نه دي.

نو اوس د سړي ذهن ته شبهه خود بخود راځي چې دا څه وجه ده؟ چې دا ظرف لغوه شي او فَاتوا پورې متعلق شي نو بيا ضمير کې يو احتمال دي فقط چې عبدنا ته راجع دي، او که صفت د بسورةٍ شي نو بيا ضمير کې دوه احتماله دي، ما نزلنَا ته هم راجع کول صحيح کيږي او عبدِنا ته هم راجع کول صحيح کيږي، نو د سړي ذهن ته خود بخود دغه شبهه راځي، نو شبهه بنکاره شوه، نو وائي **فان قلت** په اعتراض کې **لم لا يجوز** بناء په **على** تقدير **الاول** اول باندې، چې دا ظرف لغوه شي او متعلق شي فَاتوا پورې، څه جائز ندي؟ **ان يكون الضمير لما نزلنا** لپاره، نو شارح جواب کوي چې **قلت** زه وايم چې که ضمير ما نزلنَا ته راجع شي نو دا جائز ندي ځکه **لانه يقتضي ثبوت مثل القران في البلاغة وعلو الطبقة** په اوچتوالي د مرتبې کې، ځکه چې بيا معنى دا شوه چې دا اتيان د مثل د ما نزلنا نه دي، نو دا معنى چې مثل د ما نزلنا خو شته دي، خو د اتيان نه دوی عاجز دي، او حالانکه د قران مثل نشته دي.

شبهه: دا وائي هلکه دا څنګه معلوميږي دا هډو معلوم دي نشي؟ مثل د قران هم دي نه وي، محال دي وي، او د اتيان نه دي هم دوی عاجز وي کنه، زه ضمير راجع کوم ما نزلنا ته، او ظرف لغوه شو، خو د قران مثل دي هم محال وي او دوی د اتيان نه هم عاجز دي.

نو شارح جواب وکړو چې ما او ته نه پوهيږو، ما زائد دي، ما او ته نه پوهيږو يعنې ته نه پوهيږي هر سړي پرې نه پوهيږي، دا د ذوق والا سړي معلوموي چې داسې کلام په هغه ځای کې ويلي کيږي چې هلته کې مثل وي خو مخاطب يې د راوړلو نه عاجز وي، ته به ځانله فرض کوي، خو د ذوق نه خلاف دي **بشهادة الذوق** ته ځانله فرض کولي شي، چې هلکه **مثله** کې زه ضمير ما نزلنا ته راجع کوم او د قران مثل هم محال دي او د اتيان نه هم دوی عاجز دي، خو د ذوق نه خلاف دي، کوم چې د عربيت ذوق دي، استعمال د بلغاء دي، د هغې نه خلاف دا خلاف دي، ځکه چې اوس ګوره **التي بجناح من مثل العنقاء** ماته راوړه يو وزر مثل د عنقاء، نو ذوق دا تقاضا کوي چې د عنقاء د وزر پشان مثل شته دي خو راوړي يې نشي، يا ما تاته وويله چې **التي ببيت من مثل الحماسة** ماته راوړه يو بيت په مثل د حماسي نه، نو ذوق د دې نه دا تقاضا کوي چې د حماسي مثل شته دي خو اتيان نه دا عاجز دي

معترض راغي شبهه يې وګرېوله چې هلکه بناء په دې باندې که ظرف مستقر شي نو بيا ضمير ما نزلنا ته راجع دي نشي کنه، ځکه بيا مثل د قران ثابتيږي؟ چې مثل د قران خو شته دي، نو هلته کې هم تعجيز په اعتبار د ماتی به سره دي کنه، چې د قران مثل خو شته دي خو دوی د اتيان د سورة د هغې نه عاجز دي، سورة نشي راوړي، نو بيا خو په دواړو احتمالينو باندې متعين شو چې ضمير لعبدنا ته راجع دي، نو تاسو وائي چې ته پوهه شوي نه يې کنه. هلته کې ټيک ده ماتی به هلته کې هم سورة دي. تعجيز په اعتبار د ماتی به سره دي چې سورة دي. لکن ذات د سورة سره ندي بلکه سورة موصوفه بصفة سره دي. ځکه په توجيه اول کې هلته کې من مثله خو صفت د سورة ندي، هلته کې تعجيز په اعتبار د ماتی به سره دي خو ذات د ماتی به سره دي قطع نظر د موصوفيت نه. او دلته کې تعجيز په اعتبار د ماتی به سره دي خو ذات د ماتی به سره تعجيز ندي، بلکه هغه ماتی به چې په لحاظ د اعتبار د ماتی به سره دي خو ذات د ماتی به سره تعجيز ندي، بلکه هغه ماتی به چې په لحاظ د موصوفيت سره دي، نو معنی دا چې دوی عاجز دي د اتيان د سورة موصوفه نه، نو دا معنی چې سورة هم نشي راوړي او مثل د دې سورة هم نشته دي، ځکه شيخ يو قانون اينبي دي چې کلام مثبت يا منفي کې يو قيد زائده راشي نو مقصود بالاثبات و النفي دغه قيد زائده وي، نو دلته کې دا کلام مثبت دي، دي کې قيد زائده راغی چې **کانئة من مثله** نو مقصود بالاثبات دغه سورة موصوفه په دې صفت سره دا مقصود شو، چې دوی عاجز دي د اتيان د دې سورة نه خو چې دا سورة موصوف په دې صفت سره وي چې من مثله دي، وائي **بخلاف ما اذا کان وصفا** کله چې وو دا ظرف وصف **لسورة** نو **فان** **المعجز عنه** معجز عنه څوک دي؟ **هو السورة الموصوفة** هغه صفت سورة موصوفه دي، نو **باعتبار انتفاء الوصف** چې هغه مثل د قران نشته دي

فان قلت سره بيا شبهه کوي، مخکې ته بيا لاړ، چې ته مخکني صورة کې وائي چې ظرف لغوه شي نو **انما يکون** په اعتبار د ماتی به سره دي، نو تعجيز په اعتبار د ماتی منه سره دي وي کنه، فليکن التعجيز ـ **الماتی منه** چې مثل دي په صورة اول کې چې ظرف لغوه شي

قلت شارح وائي ما تاته اجمالاً جواب کړي دي، تفصيلاً هم تاته بيا وايم چې دا احتمال عقلي دي د ذوق نه خلاف دي **احتمال عقلي** دا خو هسې عقلي احتمال دي، زه او ته يې وايو، او د ذوق د بلغاؤ او فصحاؤ نه دا خلاف دي، او د استعمال د فصحاؤ نه، وائي **احتمال عقلي لا يسبق الى الفهم و لا يوجد له مساغ** اي جواز **في اعتبارات البلغاء و استعمالاتهم** نو **فلا اعتداد به** ځکه ما تاسو ته وويله چې داسې کلام راشي چې **النفي بجناح من مثل العنقاء** يا **النفي ببيت من مثل الحماسة** دلته کې تعجيز په اعتبار د ماتی به سره دي

امام طيبي باندې رد کوي، وائي **و لبعضهم** اي لبعض المفسرين في حواشي الکشاف **هنا کلام الخ** او کومې چې د فائدې خبرې وي هغه ما کړي دي، شارح وائي

والتسخير کله کله امرا راځي لپاره د تسخير قوله تعالى **نحو: کونوا قردة خاسئين، والاهانة** او د اهانت لپاره هم راځي امر، طلب مقصود نه وي، قوله تعالى **نحو: کونوا حجارة او حديدا**، دا دواړه مثالين مطابق د ممثل سره دي، وائي **اذ ليس الغرض** ندي غرض د الله **ان يطلب منهم** د دې خلکو نه په دې اول کونُوا کې **کونهم قردة** او يا په دې دويم کونُوا کې چې **حجارة** دا مقصود د الله ندي، ځکه **لعدم قدرتهم على ذلك** ځکه خلک د ځان نه شادوګان او ګټې او اوسپني نه شي جوړولي، لکن اول کې مقصود تسخير شو او دويم کې مقصود اهانت دي

دا وائي تسخير او اهانت خو يو شي دي نو ذکر د اهانت پس د تسخير نه مستدرک شو، نو شارح جواب کوي چې **ولكن في التسخير يحصل الفعل** تسخير کې هغه فعل حاصليدي شي، ممکن وي **اعني صيرورتهم قردة** چې الله د دوی شکل بدل کړي په [شکل د] شادوګانو باندې **وفي الاهانة لا يحصل** اي الفعل، بلکه قلة المبالاة دي، [يعني الله وائي چې کله] که تاسو نه ګټې جوړې شي، اوسپنه جوړه شي، څه باک دی؟ ما باندې څه ګران ندي واپس کول، هيڅ باک نشته دي **اذ المقصود قلة المبالاة** چې ستاسو سړي کيدل، ګټې کيدل، په اعاده کې زما لپاره يو شانته دي، زه واپس کولي شم، ستاسو جسم وي، يا ستاسو د جسم نه اوسپنه جوړه شي ماته [په اعاده کې] يو شانته دي، هيڅ باک نشته دي، بيا واپس کولي شم

والتسوية او کله کله امر راځي لپاره د تسويې **نحو اصبروا او لا تصبروا** معترض راغې شبهه يې وکړه چې يا هلکه اباحت او تسويه خو يو شي دي، نو ذکر د تسويه پس د اباحت نه مستدرک شو، نو شارح فرق ته اشاره کوي **ففي الاباحة** وائي فرق په دې کې شته دي، پس په اباحت کې **كان المخاطب توهم ان الفعل محظور عليه** چې حسن يا ابن سيرين سره کيناستل به په ما باندې بندوي، نو **فاذن له** اي للمخاطب **في الفعل** چې جلوس دی [ادلته کې مثلًا] **مع عدم الحرج في الترك** چې هلکه ته کيناستی دې سره هم شي، دواړو سره هم شي او که نه کيني هم ستا خوښه ده، دا توهم مه کوه.

وفي التسوية اليه دې مخاطب ته، فرُفع ذلك الخ، چې **اصبروا او لا تصبروا** چې نه صبر ستاسو لپاره نافع او راجح دي او نه عدم صبر، دواړه يو شان دي، نفع مفع پکې نشته دی.

والتمني او کله کله امر راځي لپاره د تمنی، طلب د فعل مقصود نه وي بلکه تمنی وي ارمان وي **نحو شعر: الا ايها الليل الخ** ربنا وکړه، افسوس دي چې ته ربنا وکړي، مقصد دا دي **بصبح** صبا سره، بيا يې تصور وکړو چې يا هلکه چې صبا شو بيا هم دغه غم شته دي، صبا کې دا غم خو لرې کيږي نه، او که شپه وي نو بيا هم دا غم شته دي، فکر ته يې راغله، نو وئې ويله چې **وما الاصباح منك بامثل** ځکه په صبا سره غم نه لرې کيږي.

نو اوس خبره په **انجلي** کې ده، اوس انجلي لپاره د امر [طلب الفعل] لپاره نشي راتلي، ځکه د شپې نه سړي طلب د روشنايي او ربنا نشي کولی وائي **اذ ليس الغرض طلب الانجلاء من الليل** ځکه دا د شپې په وسع کې ندي

لكنه اي المتكلم **يتمنى ذلك** اي الانجلاء **تخلصا عما عرض له** لپاره د ځان خلاصولو د هغه شي نه چې پيښ شوي دي د متکلم ته په شپه کې **من تباريح الجوى** د شدائدو د ګرمئ نه، ځکه چې سړي سر پتوي د ګرمي نه پرې ساه وبي راځي **تباريح** شدائدو ته ويلي شي **الجوى** حرقة القلب ته ويلي شي، سوزش دل ته **ولاستطالته تلك الليلة** دا شپه اوږده شوي وه او ده باندې ساه ډوبي وه، نو دا وائي چې صبايي نوزه به لږ په ارام شي، نو کأنه لاطماعية له، دي سره دفع د اعتراض کوي، چې دا د ترجي لپاره ولې نه ورکوي چې د تمنی لپاره يې وائي؟ وائي په ترجي کې **طماعية** طمعي شرط دي، او دلته کې طمع د دې په انجلاء کې نشته دی، نو وائي **كانه لا طماعية له في انجلائها** اي الليلة، فلهذا يحمل على التمني دون الترجي.

والدعاء دعا دیته وائي، ای الطلب على سبيل التفرع نحو رب اغفر، **والالتماس** كقولك ممن يساويك بدون الاستعلاء و التضرع، ځکه چې استعلاء شي نو امر دي او چې تضرع شي نو هغې ته دعاء وائي، بيا ورته التماس نه وائي.

فان قلت شارح شبهه کوي وائي: ايُ حاجةٍ الى الخ، ځکه مخکې تا وويله چې **لمن يساويك** نو مساوي هغې ته وائي چې بدون الاستعلاء وي کنه، نو بيا بدون الاستعلاء ته حاجت رانغي **قلت** دا وائي زه جواب کوم چې قد سبق الخ ځکه استعلاء ترجمه هلته کې مونږ **عد الامر نفسه عاليا** مونږ ويلي ده، په واقع کې عالي وي که نه، نو فيجوزُ ان يتحقق من المساوي، نو استعلاء د مساوي نه هم راتلي شي چې يو مساوي د بل مساوي نه خپل ځان غټ وګڼي، نو استعلاء راغله **بل من الادنى** نه هم راځي ايضاً.

ثم الامر د دينه وروسته د سکاکي يو مذهب رانقل کوي بيا پرې رد کوي، وائي پس د دې نه امر سکاکي ويلي **حقه الفور** حق د امر فوراً ادا کول د مامور دي مامور به لره چې مامور هغه مامور به لره په اول الاوقات د امر کې ادا کړي، حق د امر دا دي، يعني پکې تاخير به نه کوي، سکاکي د دې لپاره دوه دليلين وائي، نو دليل دا وائي چې **لانه الظاهر من الطلب** وائي ځکه دا فور والي ظاهر دي د طلب نه.

معترض راغي شبهه يې وکړه چې هلکه ستا قاعده منقوضه شوه په **التي غدا** کې ځکه دلته کې خو فور ظاهر نۀ دي، سبا له راشه، نن مه راځه، جواب يې وکړو **عند الاطلاق** چې هلته کې غداً قرينه ده باچا ګله، چې دلته کې فوروالي مقصود د متکلم ندي، او زه چې وايم چې **حقه الفور** خو په وخت د اطلاق کې، اطلاق دا معنی چې په وخت د مجرد کيدو کې د قرائنو د تاخير نه، بل شارح قياس کوي **كما في الاستفهام** ګوره دي استفهام کې مستفهم جواب غواړي د هغه مخاطب نه نو في الحال يې غواړي، نه وروسته، وائي دغسې دلته [امر] کې وي.

دويم دليل سکاکي وائي **و لتبادر الفهم عند الامر بشئ بعد الامر بخلافه** الى تغيير الامر الاول، اوس مثلًا دلته کې يو مولى دي هغه خپل مريي ته ووائي اول چې **قم** پاسه، هغه غريب لاپاسيدلي نه وو ورته يې وويله **اضطجع حتى المساء** نو اوس دلته کې د دې قُم امر نه وروسته اضطجع امر راغي، نو دلته کې ذهن ته

متبادر دا دي چې دا امر د قُم منسوخ شو په امر د **اضطجع حتى المساء** سره، دا منسوخ ځکه شو چې اصل په امر کې فوريت وو، فوراً ده قيام ونکړو نو هغه منسوخ شو، نو که اوس اصل په امر کې فوريت نه وي نو دي د بيګاه پورې ډډه دې لګوي او بيا دې پاڅي، نو تراخي راغله، نو تراخي دې جائز دي، يا يو شيبه دې کيني، ډډه دې ولګوي او بيا دې پاڅي جمع دې وکړي په دواړو کې، ډډه دې ولګوي او بيا دي زر زر پاڅي، دا ذهن ته نه ورځي.

نو اوس ګوره دلته کې دري صورتونه دي، مولى مربي ته ووائي قُم، مري لاپاسيدلي نه وو او مولى ورته ووائي چې **اضطجع حتى المساء** نو دلته کې دري صورتونه دي، د دې صورت دا دي چې دا امر په قُم سره منسوخ شو او د اضطجع دا امر ورله ناسخ شو، دويم صورت دا چې دواړه جمع کړي چې اول پاسه او بيا فوراً ډډه ولګوه، دريم صورت دا دي چې تراخي ده، داسې چې اوس ډډه ولګوه تر بيګاه پورې او بيا پاسه، اوس سکاکي وائي په دي دريواړو کې متبادر صورت اولى دي، نو هغه وائي چې اول متبادر شو نو حق د امر فور شو.

دون الجمع بين الامرين او ارادة التراخي نو وائي، فانّ المولى اذا قال بعده قم الخ، لکن ماتن په دي باندې رد کوي چې **وفيه نظر** په دي ما حصل د سکاکي کې نظر دي، وائي **لانا لا نسلم ذلك** مونږه دا ظهور هم نه منو او دا تبادر هم نه منو، يا هلکه ظهور ته نه مني او تبادر نه مني نو دي مخکې مثال سره ته څه کوي [هغې نه څه جواب کوي هغه خو دليل پيش کړي دي په دي مثال سره فافهم] وائي **عند خلو المقام عن القرائن** زمونږه کلام په امر مطلق کې دي، چې قرائن نه وي د فوريت هلته کې مونږ وايو چې حق په امر کې فوريت ندي، او کوم چې تا په مثال کې ذکر کړي دي نو هلته کې خو قرينه شته دي چې حتى المساء دي، نو د دينه معلومه شوه چې دا امر بالقيام منسوخ شوي دي، هلته کې مساء قرينه ده، خالي د قرائنو نه ندي.

ومنها اي و من انواع الطلب **النهي** د نهي تعريف ماتن نه وو کړي شارح يې کوي **وهو طلب الكف عن الفعل** طلبول د منع کولو د فعل نه خو طلب الكف عن الفعل کوي خو استعلاءً **وله حرف واحد** او د دې نهي لپاره يو حرف دي **وهو لا الجازمة في نحو لا تفعل وهو اي النهي كالامر في الاستعلاء** لکه امر خپل خان غټ ګڼي نو ناهي يې هم غټ ګڼي، لانه المتبادر الى الفهم، په وخت د نهي کولو کې.

وقد يستعمل اي النهي **في غير طلب الكف عن الفعل** كما هو مذهب البعض او **طلب الترك كما هو مذهب البعض الاخر** څوک وائي چې دا نهي وضع شوي ده د طلب الكف عن الفعل لپاره، څوک وائي نهي وضع شوي ده طلب الترك عن الفعل لپاره، نو غير به دا وي چې د دينه علاوه بل شي کې به مستعملېږي، هغه غير لکه **كالتهديد** ويرولو کې، طلب د کف عن الفعل هم نه وي او طلب د ترك الفعل هم نه وي، ويرول مقصد وي، کقولك لعبد لا يتمثل امرك: لاتمتثل امري، وائي زما خبره مه منه، نو داسې څوک خپل

نوکر او زوی ته نه وائي چې ته زما خبره مه منه، څوک چې داسې خپل نوکر ته وائي هغه لیونی وي، روغ نه وي. مطلب دا دی چې ته زما خبره مه منه زه به تاسره پوهیږم عرف کې هم دغسې ده **کالدعاء** لکه غیر دعاء شو. کله کله نهي په دعا کې مستعملیږي، مقصد دعا وي، **والتماس** او کله کله مقصد په نهي کې التماس وي، یعني نهي د مساوي لپاره **وهو ظاهر وهذه الاربعة** کوم اربعه؟ یعني **التمنی والاستفهام والامر والنهي یجوز تقدیر الشرط بعدها** یعني فعل شرط سره د ادواتو د شرط نه به مقدر کوو، **وایراد الجزاء** او جائز دي راوړل د جزاء **عقیبها** وروسته د دې څلورو نه په حال کون د دې جزاء کې چې **مجزوما بان المضمرة مع الشرط** اوس مثالونو ته راشئ **کقولك في التمني: لیت لي مالا انفقه** نو دا جواب د تمنی مجزوم شو د ان د وجې نه. چې هغه مقدر دي، ای ان أرزقه انفقه، وائي که نصیب کړي شو ماته دغه مال نو زه به یې خرچ کړم، نو دا مال د ده مقصود بالذات نشو بلکه بالواسطه شو چې د انفاق لپاره دي تمنی د مال نه کوي چې مال زما مقصود بالذات دي، خو مال وسیله دي لپاره د انفاق او زما مقصود انفاق دي

والاستفهام: این بیتك ازرك ستا کور کوم ځای کې دی چې زه ستا ملاقات وکړم. دلته کې هغه ان سره د فعل شرط نه داسې مقدر دي **ای ان تعرفنیه** که ته اوښائي ماته دغه کور نو ازرك، نو دلته کې دا سوال د کور نه مقصود بالذات ندي چې زه ستا کور وویښم بلکه مطلوب زیارت او ملاقات دي، **وفي الامر اکرمني اکرمك** ای ان تکرمني اکرمك، نو مقصود دلته کې خپل اکرام د مخاطب نه ندي بلکه د مخاطب اکرام دي، وائي زما مقصود دا نه دي چې ته زما اکرام وکړي خو زما د اکرام وسیله دي ستا د اکرام، نو هغه زما مقصود دي **وفي النهي لا تشتم یکن خیرا لك** دلته کې تقدیر د حرف شرط سره د فعل شرط نه **ای ان لا تشتم یکن خیرا لك** لکه قران کې په قوله تعالی **لا تقربا هذه الشجرة فتکونا من الظالمین** کې ما تاسو ته اعتراض او جواب کړی وو اپه ترجمه کې نو دلته کې مقصود مطلوب په نهي سره عدم شتم ندي، مطلوب خیریتوالي ستا لپاره

اوس **وذلك** سره شارح د متن لپاره دلیل وائي، چې د دې څلورو څیزونو سره حرف شرط سره د فعل شرط نه مقدر کیږي ځکه چې وائي **وذلك** دا خبره ثابته ده، دا تقدیر د حرف شرط سره د فعل شرط نه ثابت دي، وائي **لان الحامل للمتکلم** ځکه باعث د متکلم لپاره **علی الکلام الطلبي** چې متکلم یو کلام طلبي کوي، یعني یو کلام انشائي طلبي کوي، نو باعث دا دي چې کون المطلوب مقصوداً للمتکلم لذاته، دا کم کوز دي، چې دا مطلوب د متکلم مقصود لذاته کیدل دا کم کوز دي **او لغیره** یا دا مطلوب د متکلم مقصود د وجې د غیر نه وي، دا زیات دي، ځکه خاتمه نفع خو هر سړي راکاږي خو بهادر هغه سړی دی چې هغه طلب د یو شي کوي د غیر لپاره، د غیر د وجې نه، **او لغیره** ځکه **لتوقف ذلك الغیر علی حصوله** ځکه چې دا غیر موقوف وي په حصول د مطلوب باندې لکه په دي مخکې مثالونو کې اوس ګوری، انفاق موقوف دي مال پورې، زیارت موقوف دي په تعرف د بیت پورې، اکرام د مخاطب

موقوف دي په اکرام د متعلم پورې، خیریت موقوف دي په عدم شتم پورې، دا ټول موقوف دي **وهذا** او دغه توقف **معنى الشرط** معنی د شرط ده، شرط هم دغه دي کنه چې جزاء موقوف وي شرط پورې، نو د شرط معنی راغله، نو **فاذا ذكرت الطلب** کلام طلبي چې **ليت لي مالا** دا یو کلام طلبي دي **وذكرت بعده** د دې کلام طلبي نه **ما هغه څیز** چې **انفقه** دي **يصلح توقفه** على المطلوب، څکه انفاق موقوف مال پورې دي، چې مال وي نو سړي انفاق کوي چې مال نه وي نو انفاق د څه شي کوي، نو **غلب من المخاطب كون المطلوب مقصودا لذلك المذكور** دا مال د ده مقصود لذاته ندي، د دې انفاق لپاره لالنفسه، نو **فيكون اذن معنى الشرط في الطلب** مع ذكر ذلك الشئ ظاهراً.

معترض راغي شبهه يې وکړه چې هلکه کوم اشیاء چې د هغې وروسته تقدیر د فعل شرط سره د ادواتو د شرط نه کیدو نو هغه خو پنځه وو، یو عرض وو، نو ماتن خو څلور ذکر کړه، نو د دې څلورو ذکر، تخصیص صحیح نشو، نو شارح وائي چې ماتن د هغې جواب ته اشاره وکړه، غرض د ماتن د دې راتلونکي متن نه دغه جواب دي د دغه سوال مقدره نه، **لما جعل النحاة الاشياء اللتي ـ واما العرض** عرض ویلی شي طلب د شي په طلب غیر مؤکده سره، چې هلکه ته زمونږ خوا ته راشي، څه محکم طلب ترینه نه کوي **كقولك الا تنزل بنا فتصب خيرا** نو **فمولد من الاستفهام** دا جواب دي **و ليس شيئا اخر براسه** لان الهمزة فيه للاستفهام دخلت على فعل منفي و امتنع حملها على حقيقة الاستفهام **للعلم** د وجې د علم د متکلم نه **بعد النزول** او چې یو سړي عالم وو نو هغه بیا استفهام نه کوي **و تولد عنه** اي عن ذلك الاستفهام **بمعونة قرينة الحال عرض النزول** على المخاطب و طلبه منه.

وائي **في غيرها** اي تعيين د مرجع کوي اي في غير هذه المواضع الاربعة، یعنې **و يجوز تقدير الشرط** دي کې يې اشاره وکړه قاعدي د عطف ته، وائي و يجوز الخ **بقرينة** داسې قرینه چې **تدل عليه** په دي شرط باندې، مثال داسې شو قوله تعالى نحوام اتخذوا من دونه اولياء وائي جوړ کړل دوی بې د الله نه خدایان، نور خدایان يې ونيول، وائي **فالله هو الولي** نو دلته کې دغه فاء جزائیه ده شرط د دې محذوف دي، څکه چې په دې ظاهر باندې د دې ترتب نه صحیح کیږي، وائي **اي ان ارادوا وليا بحق** نو فالله هو الذي يجب ان يتولى وحده، چې یو الله متصرف دي او بل څوک ددۀ په تصرف کې شریك نشته دي **و يعتقد انه المولى والسيد.**

قيل سره شارح شبهه کوي او د شبهې نه وروسته بیا جواب کوي، چې هلکه دلته کې شرط محذوف کولو ته هیڅ حاجت نشته دي، څکه **ام اتخذوا** کې دا استفهام انکاري دي، او استفهام انکاري په معنی د نفي کې دي، نو **فالله هو الولي** دا علت صحیح کیږي کنه، نو چې علت صحیح کیږي نو قول په حذف د شرط باندې ته حاجت رانغي، وائي قيل لاشك ان قوله اي قول الله قوله تعالى **ام اتخذوا** انکار توبیخ، دا انکار دي د زورني لپاره، یعنې دوی د الله نه علاوه نور خدایان جوړ کړل دا نه وو پکار **بمعنى انه لا ينبغي** ان يتخذوا من دونه اولياء او څکه پکار ندي چې **فالله هو الولي** نو فاء تعلیلیه شوه، نو ترتب

صحيح دي نو قول په حذف د شرط باندې ديته حاجت رانغي، وائي **وحينئذ** حين كون الاستفهام انكاريًا يترتب عليه قوله فالله هو الولي من غير تقدير شرطٍ، وائي دا داسې وي كما يقال لاينبغي ان يُعبد غير الله، ځكه **فالله هو المستحق للعبادة** نو هلته كې حذف د شرط لره حاجت نشته، نو دارنګه دلته كې هم حذف د شرط لره حاجت نشته دي، نو حاصل دا چې ماتن خطا شو.

نو شارح جواب كوي چې **وفيه نظر** په دي قيل كې نظر دي، ځكه چې يو استفهام انكاري په معنى د نفي سره دي، يو نفي صريحي ده، نو دغه ترتب په نفي صريحي كې صحيح دي او دا ترتب په استفهام انكاري كې نه صحيح كيږي، ځكه ماتن په حذف د شرط باندې قول وكړو، **اذ ليس كل ما** ځكه ندي هر هغه څيز لكه همزه د استفهام شوه **فيه** چې په هغې كې **معنى الشئ** معنى د شي وي چې نفي ده **حكمه** حكم د دغه ما **حكم ذلك الشئ** چې نفي دي.

والطبع المستقيم دا دليل وائي د **ليس كل ما** لپاره، چې يو شي وي په هغې كې معنى د نفي وي يو نفي صريحي وي، نو كوم شي چې هغه كې معنى د نفي ده د هغې حكم او كوم چې صريحي نفي ده د هغه حكم يو نه شي كيدى، نو همزه د استفهام باندې ترتب د دې دي صحيح نه وي، نو ځكه ده قول په حذف د شرط باندې وكړو، او صريحي لاباندې ترتب صحيح وو، نو **والطبع** كې دا واو په معنى د اذ سره كوي، او دا دليل دې لپاره د **ليس كل ما فيه معنى الشئ** لپاره وي **اذ الطبع المستقيم** المستقيم كې يې تعريض وكړو په دې [صاحب د] قيل باندې چې د ده طبيعت برابر ندي، ده چاى ندي څكلي، ډوډى نده خوړلي، دا خطاء شوي دي **شاهد صدق** گوره رشتيا دي **على صحة قولنا لا تضرب زيدا** وائي زيد مه وهه باچا گله، ځكه **فهو اخوك** ستا ورور دي، ترتب صحيح دي، بالفاء، او ورورولي تقاضا كوي چې دومره يې مه وهه، ترس پرې وكړه، او چې دې ځاى كې ووائي استفهام انكاري سره **أتضرب زيدا** اي ته وهي زيد، معنى مه وهه، نو دا وروسته ترتب نه صحيح كيږي چې **فهو اخوك** زما هم او ستا هم د هر چا طبيعت وائي چې دا علت نه صحيح كيږي، فهو اخوك، چې **فهو اخوك استفهام انكارِ** كړي **فانه لا يصح الا بالواو الحالية** داسې ويلي شي **وهو اخوك** او فهو اخوك، فاء تفريعيه تعليليه سره يې نشي ويلي.

ومنها اي و من انواع الطلب **النداء** نداء څه ته وائي **وهو طلب الاقبال** دا نداء طلبول د متوجه كيدو د منادى دي، يعنې منادي طلبوي توجه د منادى خپل ځانته، بحرف نائب مناب ادعو **لفظا** وي لكه يا الله او تقديراً لكه قوله تعالى **يوسف اعرض عن هذا.**

وقد تستعمل في غير معناه معنى څه وه و هو طلب الاقبال، غير څه دي؟ **كالاغراء** تيزول **في قولك لمن اقبل عليك يتظلم** چې هغه اظهار د خپل ظلم كوي [چې زه ډير مظلوم يم] ته ورته ووائي يا مظلوم، يو سړي دي، يو طالب دي هغه راشي يو سړي ته ووائي چې ما باندې فلاني ظلم وكړو، هغه سړي منافق قسم والا سړي وو، چې خلك يې يو بل سره جنګول، نو ته ورته ووائي چې **يا مظلوم** هلكه ته خوئي برباد كړي

يې، خپل انتقام واخله، د دې يا مظلوم نداء نه مقصود دا دي چې هغه تيز وي په انتقام باندې دلته کې **مطلوب اقباله** ندي، اقبال خو هسې هم هغه کړي دي. وائي **قصدا الى اغرائه** لپاره د قصد د تيزولو د دې مظلوم **وحثه على زيادة التظلم** او تيزول د ده په زيادة شکايت باندې د ده د ظلم نه **وبث الشكوى** او بسکاره کول او خوررول د شکوى دي، ځکه **لان الاقبال حاصل**.

والاختصاص کله کله صيغه د نداء مستعملېږي د اختصاص لپاره، يعنې متکلم ځان خاص کوي خپل ځان په يو فعل سره، هلته کې مطلوب اقباله نه وي، بلکه مقصد د متکلم خاص کول د يو فعل وي خپل ځان پورې، د اختصاص دا معنى، لکه ته ووائي في قولهم **انا افعل كذا ايها الرجل** دا مثال مطابق د ممثل سره دي **فقولنا ايها الرجل** اصله اصل کې دي کې دا دي چې تخصيص المنادى **بطلب اقباله** عليك، ايها الرجل نه اصل دا دي چې ته وائي چې اي سړيه ماته متوجه شه، ماته اوګوره، د دې معنى اصلي دا ده **ثم جعل** بيا ګرځولى شوى دى دا قول **مجردا عن طلب الاقبال** طلب د اقبال مقصود د متکلم ندي **ونقل الى تخصيص مدلوله** اي مدلول ايها الرجل، چې متکلم دي **بين امثاله** په ما بين د همزولو خپلو کې، او خپل مدلول خاص کوي **بما نسب اليه** په هغه فعل سره چې نسبت يې کړي شوي دي دي منادى ته، چې زه خاص يم په دې فعل پورې، مانه متجاوز بل چاته ندي **اذ ليس المراد باي ووصفه** چې الرجل دي **المخاطب** مخاطب مراد ندي ځکه مخکې قرينه انَا دي، چې مخاطب مراد ندي، انا افعل كذا ايها الرجل نه دي خپل ځان اخلي **بل ما دل عليه ضمير المتكلم** چې انا دي، نو **فايها مضموم** دا منادى مفرد مضموم شو، مبني بر ضمه شو **والرجل مرفوع** دي حملاً على لفظه [كافيه] لکه کافيه کې راځي ترفع و تنصب توابع المنادى المفردة المبني على الضمة ترفع و تنصب، نو ترفع حملاً على لفظه، و تنصب حملًا على محله **والمجموع في محل النصب على انه حال** اي دا **افعل** د ضمير نه حال دي، ما کړيدي دا کار **حال كون** زما کې **متخصصا من بين الرجال** نو حال شو، يعنې زه مخصوص يم په دي کار کولو پورې، يعنې دا کار مانه متجاوز بل چا ته ندي.

وقد تستعمل سره غرض د شارح دا دي چې څه نکتي د ماتن نه پاتې شوي وي، استعمال د صرف نداء په غير د طلب اقباله کې، نو شارح يې ذکر کوي وائي و قد تُستعمل، او دويم غرض دا دي چې دفع هم کوي د ماتن نه، چې اي هلکه کله کله صيغه د حرف نداء مستعملېږي په استغاثه کې، تعجب کې، ماتن هغه ولې ذکر نکړو، نو شارح جواب کوي **وقد** دا کم دي نادر وو، ځکه ماتن ندي ذکر کړي، وائي وَقد تستعمل صيغة النداء **في الاستغاثة** په طلب د امداد کې د الله نه، چې يو سړي د الله نه امداد غواړي مطلوب اقباله نه کوي **نحو يا لله** نو دلته کې مقصود مطلوب اقباله ندي، ځکه الله خو هسې هم متوجه دي په وقت د هر ان کې، مطلوب استغاثه ده، فريادي، او امداد غوښتل دي د الله نه **والتعجب** نحو يا لَلماء، ښکته دلته کې سيلاب روان دي، ته وائي يا لَلماء، نو څه معنى ماته متوجه شئ [اي اوبو] نو متوجه خو تاته دي، نور تاته څنګه متوجه شي؟ تعجب کوي چې اى اوبو تاسو د کوم ځاى نه راغلئ.

والتحسر او بنکاره کولو د خپل افسوس **والتوجع كما في نداء الاطلال** لکه اواز کول هغه اثار وته دا رد محبوبي ته، و المنازل. دارنګه کورونو د محبوبي ته **والمطايا** سورلی د محبوبي ته **وما اشبه ذلك** انغروته محبوبي ته اواز کوي. لکه [ايا منزلي سلمى سلام عليكما] نو دلته کې مقصود اقباله ندي، ځکه هغه خو کنډر دي هغه اقبال نشي کولي، اقبال خو ذوي الروح کوي، خو مقصد دلته کې، توجع او تحسر دي **ثم الخبر قد يقع** دا کله کله خای د انشاء وي نو کلام خبري ذکر کوي، د دې نکته دا ده چې **اما للتفاؤل** وائي د دې يو نکته دا ده چې نيك فالي نيولو لپاره، يعني مخاطب خوشحالوي، نو مخاطب انشاء سره نه خوشحاليږي او په خبر سره خوشحاليږي، نو ته د انشاء په خای خبر ذکر کړي، نو مخاطب خوشحاله شي **بلفظ الماضي دلالة على انه كانه وقع** دي مخاطب داسې خوشحاليږي چې دلالةً على انه كانه وقع، ماضي سره يې ځکه ذکر کړو چې دا کار چې دا کار شوي دي، خوشحاله اوسيږه، مبارك شه **نحو وفقك الله للتقوى** نو اصل پکار خو دا وه چې ليوفقك الله، لکن په دي باندې هغه نه خوشحاليږي، او چې ته ورته داسې ووايه چې توفيق درکړي دي الله تاته د تقوى لپاره، نو هغه بيا په جامو کې نه ځائيږي **او لاظهار الحرص** يا لپاره د بنکاره کولو د متکلم حرص **في وقوعه** په وقوع د دې شي کې، که انشاء سره يې ذکر کړي نو حرص د متکلم په وقوع د دې کار کې بيا نه معلوميږي، او چې خبر سره دي ذکر کړو نو دا معلوميږي چې متکلم ډير حارص دي په وقوع د دې مطلوب کې **كما مر** في بحث الشرط من ان الطالب اذا عظم رغبته في شئ، نو فيعدد **بلفظ الماضي، نحو رزقني الله** نو پکار دا وه چې داسې يې ويلي دي چې **ليرزقني الله لقائك** خو د ده نه د متکلم حرص نه معلوميږي، او چې داسې يې وويله چې نصيب کړي دي الله ماته ستا ملاقات، دينه پته لګي چې دا متکلم حکم کوي چې ماته حاصل شوي دي ستا ملاقات، نو دي ډير حريص دي زما ملاقات لپاره.

والدعاء بصيغة الماضي من البليغ كقوله رحمه الله په خای د ليرحمه الله **يحتملهما** اي التفاؤل، احتمال لري د تفاؤل هم **واظهار الحرص** هم، يا هلکه دا بليغ يې ولې وويله، وائي **واما غير البليغ فهو ذاهل عن هذه الاعتبارات او للاحتراز عن صورة الامر** يا خبر واقع کيږي په موقع د انشاء کې لپاره د خان ساتلو د متکلم د صورت د امر نه، متکلم وائي که زه انشاء سره ذکر کړم نو بې ادبي راځي، نو خبر سره ذکر وکړي د ادب لپاره، لکه مثلًا يو مجلس ناست دي، او خلق رائ ورکوي، نو پکې طالبان هم دي او علماء هم، د هغې استاذان هم پکې ناست وي، نو ما رائ ورکړه ده ورکړه، دي بل ورکړه، نو چې پکې بې ادبه طالب وي هغه وائي ماته ګورئ، خلق ټول حيران شي، هغه استاذان چې يا هلکه دا څه بې ادبه دي، دا د کوم خای نه د افلاطون بچي راغي، چې وائي چې ماته ګورئ، او چې ادبناك طالب وي نو هغه پاسي نو وائي چې جي که تاسو ماته وقت راکوئ نو زه به خپله رائ پيش کړم، نو ټول استاذان ترې خوشحاله شي چې پيش کوه، ده خو مثال په مرې کې ذکر کړي دي، يو شی دی ما تاسو ته په طالبانو کې ذکر کړو، کقول

العبد للمولى **لانه** ځکه دا **انظر في** صورة الامر **وان قصد به الدعاء والشفاعة** اګر چې مقصود د دې عبد خو دعاء ده يا سفارش دي، لکن صورت، صورت د امر دي چې ماته ګوره، دي وجي نه **ينظر المولى الى ساعة** وائي، دعا او شفاعت کې دا فرق دي، د خپل ځان لپاره که ته دعا کوي [څه غواړي] نو هغې ته د عاء وائي، او که د غير لپاره کوي نو هغې ته شفاعت وائي، شفاعت هم دعاء ده خو فرق صرف دا دي

او لحمل المخاطب يا خبر واقع کيږي په موقع د انشاء کې لپاره د باعث کولو د متکلم سامع لره **على المطلوب** په مطلوب باندې، اي که متکلم که په انشاء سره ووائي نو مخاطب د سامع مجبوره کيږي نه د هغه کار په کولو باندې، او خبر سره يې ذکر کړي نو هغه سامع او مخاطب مجبوره شي د هغه کار په کولو باندې، بيا يې خامخا کوي، او متکلم وائي چې دي دا کار وکړي نو بنه دي، داسې **بان يكون المخاطب ممن** لايحب **ان يكذب الطالب** چې هغه نسبت وکړي متکلم ته د کذب **اي ينسب الى الكذب** اشاره يې وکړه چې دلته کې باب تفعيل د نسبت لپاره دي، فسقته، کفرته، تيمتُه، د قبيلي نه دي. لکه **كقولك** لکه اوس ما تاته وويله چې زيده ته صبا زما خوا ته راشه، زما اراده وشوه چې زيد صباله خپلې خوا ته رابلم، نو ما ورته وويله چې **انتني غدا** نو ده باندې صباله راتلل لازم ندي، دا وائي که صباله زه لاړم نو لاړم، تعميل د امر به وکړم او که لانړم نو نه به ځم، او وائي په نه تلو سره مولوي صاحب په دي خبره کې دروغژن کيږي نه ځکه دا انشاء ده، او ما زيد ته وويله چې **تاتيني غدا** نو دي اوس مجبورتيا سره به راځي، ځکه که دا رانغلو نو زه په دې خبر کې دروغژن کيږم، او دروغو نسبت خو دا ماته نه خوښوي، نو صباله خامخا دي زما خواله به راځي **كقولك لصاحبك لحمله** اي لحمل المتكلم المخاطب بألطف وجه على الاتيان، هغه مخاطب پوهيږي که نه خو متکلم په باريکي وجي سره په راتلو باندې هغه باعث کړو، وائي **لانه ان لم ياتك غداً صرت كاذبا** ايها المتكلم، من حيث الظاهر، من حيث الظاهر يې ځکه وويله چې دلته کې دا تاتيني اګر که صورةً خبر دی خو معنًا خو بيا انشاء ده کنه، خو من حيث الظاهر کاذب ګرځي **لكون كلامك في صورة الخبر.**

تنبيه اى هذا تنبيه، دا تنبيه ده دي الفصل و الوصل پورې، وائي **الانشاء كالخبر في كثير مما** په ډيرو هغه امورو کې چې **ذكر في الابواب الخمسة السابقة** چې هغه يعني احوال الخ، **فليعتبره** قياس دي کړی دغه کثير اي ذلك الكثير، قياس دي کړي **الناظر** بنور البصيرة في لطائف الكلام، مثلًا الكلام الانشائي ايضًا اما مؤكد، لكه اضرِب اضرِب **او غير مؤكد** لكه اضرِب شو، و المسند اليه فيه اما محذوف الخ

تم الجز الاول و يليه الجزء الثاني، وأوله الفصل والوصل.

